# د نومیالي تاریخپوه
# پوهاند محمد حسن کاکړ
## تاریخي - علمي نیکات (میراث) ته کتنه



لیکوال

محمد اقبال وزیري

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نومیالي تاریخپوه
# پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ
## تاریخي- علمي نیکات (میراث) ته کتنه

**لیکوال: محمد اقبال وزیري**

هالنډ، دوردریخت، ۲۰۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library






دا کتاب د پښتون ژغورنې غورځنګ (PTM) مشر ډاکټر منظور احمد پشتین ته ډالۍ کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library






# د نومیالي تاریخپوه پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ تاریخي- علمي نیکات (میراث) ته کتنه

لیکوال: **محمد اقبال وزیري**

چاپکال: ۲۰۲۱ ز/۱۴۰۰

خپرندوی: **پښتانه مترقي لیکوال**

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

ډیزاین: **سپین سهار**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سرلیکونه


یادونه........ 20

سریزه........ 23

لومړی توک........ 36

پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ او د افغانستان تاریخ ........ 36

لومړی څپرکی........ 37

د پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ لنډه پېژندګلوي........ 37

کاکړ او د تاریخ لیکنې علمي میتود ........ 42

اي. ایچ. کار (E. H. Carr) «تاریخ څه ته وايي؟»........ 48

ټولنه او فرد........ 49

تاریخ، ساینس او اخلاق........ 52

په تاریخ کې علت میندنه........ 54

په تاریخ کې جبر او تصادف:........ 54

تاریخ د ترقۍ په حیث ........ 55

پراخېدونکې غاړې........ 58

دوهم څپرکی........ 61

کاکړ او د وطن تاریخ لیکنه ........ 61

کاکړ او د غبار «افغانستان در مسیر تاریخ»........ 66

کاکړ او د محمدصدیق فرهنګ کتاب «افغانستان در پنج قرن اخیر»........ 72

دریم څپرکی........ 82

کاکړ او د افغانستان لرغونی تاریخ........ 82

اریایان او د دوی ټاټوبی ........ 83

ساکا او سیتیان بیل ټبرونه وو........ 85

ساکا او هخامنشي امپراتوري ........ 86

اریانا او ایران:........ 87

زرتښت او اوستا اوپه اوستايي دوره کې د پښتنو څرک........ 88

ستر سکندر او پښتانه........ 96

پارتیا........ 100

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اریایانو دوهم ستر لېږد.......................... 100
څلورم څپرکی.......................... 102
کاکړ او د تاریخ په بهیر کې د پښتنو نومونه.......................... 102
پښتون:.......................... 102
د پښتنو اصل.......................... 104
۱- د تاریخ له اړخه:.......................... 107
۲- د ژبو د اصل او پرتله کولو له اړخه.......................... 110
۳- د نسب پوهنې له اړخه.......................... 113
کاکړ او د پښتنو شجره.......................... 114
افغان.......................... 116
پټان:.......................... 119
پنځم څپرکی.......................... 120
کاکړ او د تاریخ په بهیر کې د پښتنو د ټاټوبي نومونه.......................... 120
اریانا:.......................... 120
خراسان:.......................... 123
افغانستان:.......................... 124
پښتونخوا:.......................... 128
روه:.......................... 129
کابل، کافو:.......................... 131
پوروشاپورا یا پېښور.......................... 132
شپږم څپرکی.......................... 134
په هند کې د افغانانو امپراتورۍ.......................... 134
۱: د لودیانو امپراتوري.......................... 134
۲: په هند کې د سوریانو امپراتوري.......................... 137
په ختیځ هند کې د کرلاني پښتنو سلطنت.......................... 142
اوم څپرکی.......................... 146
افغانان او مغول.......................... 146
لومړۍ مرحله: په افغانستان کې د بابر په وړاندې د پښتنو مقاومت.......................... 146
دوهمه مرحله: د روښانیانو ملي ازادي غوښتونکی غورځنګ.......................... 148

(c) ketabton.com: The Digital Library



درېیمه مرحله: د خوشال خټک او ایمل خان مومند مبارزې......................................151
د خوشال خان خټک مبارزې ..........................................................................151
د ایمل خان مومند مبارزې.............................................................................152
د پښتنو د دغه ملي غورځنګ د ناکامۍ لاملونه ...............................................154
اتم څپرکی.......................................................................................................155
کاکړ: درانیان او په کندهار کې صفوي دولت..................................................155
نهم څپرکی......................................................................................................159
په کندهار کې د غلزیانو لومړی دولت..............................................................159
میرویس نیکه ...................................................................................................160
په فارس باندې د افغانانو واکمني.....................................................................164
د شاه محمود هوتک واکمني............................................................................164
د شاه اشرف هوتک واکمني.............................................................................169
په کندهار کې د شاه حسین هوتک واکمني.....................................................175
هوتکیان او پښتو ژبه........................................................................................177
لسم څپرکی ......................................................................................................182
د درانیانو په وخت کې افغان امپراتوري .........................................................182
احمدشاه بابا.....................................................................................................183
د احمدشاه بابا دوهمه جګړه:...........................................................................185
د احمدشاه بابا درېیمه جګړه............................................................................186
د احمدشاه بابا څلورمه جګړه:..........................................................................187
د احمدشاه بابا پنځمه جګړه: ...........................................................................188
د احمدشاه بابا شپږمه حګړه:...........................................................................189
د احمدشاه بابا اوومه جګړه:............................................................................189
د احمدشاه بابا اتمه جګړه یا د پاني پت جګړه: ..............................................191
د احمدشاه بابا نهمه جګړه:..............................................................................195
د احمدشاه بابا لسمه جګړه:.............................................................................195
د احمدشاهي پوځ جوړښت: ............................................................................
193
تیمورشاه..........................................................................................................202

(c) ketabton.com: The Digital Library




د عبدالخالق خان پاڅون ........ 205
د پېښور پاڅون ........ 205
زمان شاه ........ 206
د شاه محمود سدوزي واکمني ........ 209
د شاه شجاع لومړۍ واکمني ........ 210
د شاه محمود دوهم ځل واکمني ........ 214
پایله ........ 217
یوولسم څپرکی ........ 219
د محمد زیو واکمني ........ 219
د امیر دوست محمد خان لومړۍ واکمني ........ 220
د هرات کلابندي ........ 223
د افغان- انګلیس لومړۍ جګړه ........ 227
د غزني جګړه ........ 228
نیواک ........ 231
د کوهستان پاڅون او د بخارا نه د امیر دوست محمد خان راستنېدل ........ 232
د پاڅون زړي ........ 234
د کابل پاڅون ........ 235
د بي بي مهرو وروستۍ جګړه ........ 238
سیاسي خبرې ........ 240
وروستی عمل ........ 247
دولسم څپرکی ........ 252
کاکړ او د امیر دوست محمد خان دوهمه واکمني ........ 252
دیارلسم څپرکی ........ 258
کاکړ او د امیر شیرعلي خان لومړنۍ واکمني ........ 258
کاکړ او د امیر شیرعلي خان دوهمه واکمني ........ 260
کاکړ او د افغان- انګلیس دوهمه جګړه ........ 264
د امیر محمد یعقوب خان واکمني او د ګندمک تړون ........ 268
د امیر محمد یعقوب خان اقدامات ........ 269
د انګلیس پوځي حکومت ........ 270

(c) ketabton.com: The Digital Library




د لیټن له لوري د افغانستان د ټوټه کولو پلان .......... 270
د دسمبر عمومي پاڅون .......... 271
وطن ته د سردار عبدالرحمن راتګ .......... 273
د زمې غونډه .......... 277
د میوند تاریخي جګړه .......... 279
۱- د انګرېزي پوځ شمېر: .......... 281
۲- د افغان پوځ شمېر: .......... 282
د جګړې جریان .......... 283
د نوي نظم د طرحې ناکامي .......... 289
په کندهار کې د امیر عبدالرحمن خان او غازي محمد ایوب خان ترمنځ پرېکنده جګړه او
د افغانستان بیا یوالی .......... 291
څورلسم څپرکی .......... 294
کاکړ او د امیر عبدالرحمن واکمني .......... 294
امیر عبدالرحمن او د ختیځ افغانستان ارامښت .......... 298
مومند .......... 299
د کنړ پاچا .......... 300
شینواري .......... 302
اسمار .......... 304
باجوړ، دیر او سوات .......... 304
د غلجیو ستر پاڅون او د هغه څپل .......... 305
د سردار محمد اسحاق خان بلوا او د هغه څپل .......... 309
امیر عبدالرحمن او په شمالي افغانستان کې د سرحدي ولسوالیو ارامښت .......... 313
میمنه .......... 313
شغنان او روشان .......... 315
واخان .......... 319
امیر عبدالرحمن خان او د هزاره ګانو ارامښت .......... 321
د هزاره ګانو اصل .......... 321
تاریخي لرلید .......... 324
د هزاره ګانو پاڅون .......... 326

(c) ketabton.com: The Digital Library




د هزاره ګانو میشتېدل ........ 328

د پخواني کافرستان فتح کول ........ 329

جوړ جاړی او اسلام ته اوښتنه ........ 331

د برتانوي هند د حکومت سره د امیر عبدالرحمن اړیکې ........ 332

د افغانستان د پولو ټاکنه ........ 336

د ډېورنډ هوکړه لیک ........ 341

امیر عبدالرحمن خان او د روسیې سره اړیکې ........ 349

د روسیې له خوا د پنجدې نیول ........ 350

امیر عبدالرحمن او د پارس سره اړیکې ........ 351

امیر عبدالرحمن خان او د ترکیې سره اړیکې ........ 353

خپل زوي حبیب الله خان ته د امیر عبدالرحمن خان سپارښتنې ........ 354

پایله ........ 355

پنځلسم څپرکی ........ 359

د امیر حبیب الله خان واکمني ........ 359

شپاړلسم څپرکی ........ 366

کاکړ او د امیر امان الله خان واکمني ........ 366

د افغان- انګلیس دریمه جګړه ........ 369

د خیبر جبهې عملیات ........ 372

د چترال جبهه ........ 374

د پکتیا جبهه ........ 375

د کندهار جبهه ........ 377

د سولې تړون ........ 379

د تړون انګلیسي متن: ........ 380

د تړون متن ژباړه: ........ 382

امیر امان الله خان او د هېواد بهرنۍ اړیکې ........ 386

امیر امان الله او منځنۍ اسیا ........ 387

امیر امان الله خان او په افغانستان کې د شوروي روسیې کړنې ........ 392

د پاچا امان الله خان لومړني سمونونه ........ 404

سیاسي ډلګۍ او دسیسې ........ 408

(c) ketabton.com: The Digital Library




د خوست بلوا ........ 410

بهر ته د پاچا امان الله سفر ........ 413

**د پاچا امان الله وروستي سمونونه ........ 414**

له برتانویانو سره د پاچا امان الله اړیکې ........ 420

د پاچا امان الله نسکورېدل او د وطن نه وتل ........ 422

حبیب الله کلکاني او په کابل د هغه برید ........ 424

د کابل ښار استحکامات او د پاچا ناڅاپي استعفا ........ 428

د پاچا امان الله ځینې مهمې تېروتنې ........ 436

ایا د امیر امان الله په نسکورېدو کې انګرېزانو رول درلود؟ ........ 440

پایلیک ........ 447

حبیب الله کلکاني یا د سقاو زوی واکمني ........ 448

پکتیا ته د فرانسې نه د نادر خان راستنېدل او د هېواد خلاصون ........ 454

اولسم څپرکی ........ 458

د نادرشاه واکمني ........ 458

د نادرشاه بهرنۍ سیاست ........ 459

د نادرشاه کورنۍ سیاست ........ 461

د واک پر سر د نادرشاه پر ضد د امان الله خان مبارزه ........ 4664

د شامي پیر پېښه ........ 473

د «امان الله خان» او «تبت» عملیات ........ 475

اتلسم څپرکی ........ 478

د محمدظاهر شاه واکمني ........ 478

د رهبري شوي اقتصاد پیل ........ 479

د هند وېش او د پښتونستان موضوع ........ 480

پښتونستان او د ایپي فقیر ........ 492

حاجي میرزاعلي خان د ایپي فقیر ........ 493

په واکمنې کورنۍ کې تربوري ........ 496

نولسم څپرکی ........ 502

کاکړ او د چنګاښ کودتا ........ 502

د چنګاښ کودتا ........ 502

د افغانستان لومړی کودتایي حکومت ........ 505

(c) ketabton.com: The Digital Library




د میوندوال پر ضد دسیسه............................................507
محمد داود او اسلامي بنسټ پالان ............................................511
د محمد داود په کورني او بهرني سیاست کې بدلون............................................512
۱- کورنی سیاست............................................512
۲- بهرنی سیاست............................................515
شوروي اتحاد ته د محمد داود سفر............................................515
پاکستان ته د محمد داود سفر............................................517
ایران ته د محمد داود سفر............................................520
د امریکا سره د محمد داود اړیکې............................................521
د محمد داود تېروتنې ............................................523
کاکړ او د پاچا محمدظاهر او محمد داود پرتلنه ............................................524
شلم څپرکی............................................528
کاکړ او د ثور کودتا ............................................528
د ثور کودتا ............................................530
د میر اکبر خیبر ترور............................................531
**د افغانستان لومړی ایډیالوژیک حکومت............................................533**
د نور محمد تره کي واکمني............................................538
د سور بیرغ په اړه فرمان............................................540
د ګروی په اړه فرمان............................................541
د ښځو او ودونو په اړه فرمان ............................................542
د ځمکو د وېش فرمان ............................................543
د لیک او لوست کورسونه............................................545
بندي توب او جزاګانې............................................546
اګسا او اسدالله سروري............................................547
د حکومت پر ضد لومړني اعتراضونه ............................................550
د خلقي دولت پر ضد د خلکو پاڅونونه............................................551
د هرات پاڅون............................................552
د تره کي- امین دښمني او د اندروپوف شیطاني ............................................552
په کریملن کې خلقي او شوروي لویان............................................553

(c) ketabton.com: The Digital Library




د تره کي- امین د اختلاف پیل ..... 555
په افغانستان کې د شوروي اتحاد ځانګړي پلاوي ..... 557
تره کي په هاوانا کې ..... 558
تره کي په مسکو کې ..... 559
وطن ته د تره کي بېرته راتګ او د هغه پای ..... 560
یوویشتم څپرکی ..... 566
د حفیظ الله امین سل او درې ورځې واکمني ..... 566
له شوروي اتحاد سره اړیکې ..... 569
له امریکې سره اړیکې ..... 571
د پاکستان سره اړیکې ..... 574
دوه ویشتم څپرکی ..... 579
په افغانستان باندې د شوروي اتحاد وسله وال یرغل ..... 579
په افغانستان باندې د شوروي د یرغل پرېکړه ..... 582
شوروي اتحاد د وسله وال یرغل په درشل کې ..... 585
د امین پر ضد د کې جي بي ناکامه کودتا ..... 585
په افغانستان باندې د شوروي وسله وال یرغل ..... 587
د خلقي لویانو تېروتنې ..... 592
د شوروي تیري په وړاندې غبرګونونه ..... 597
د شوروي یرغل په وړاندې د افغانانو لومړني غبرګونونه ..... 602
د افغانستان ډموکراتیک جمهوریت یا د کارمل واکمني ..... 607
د شوروي یرغل او پاکستان ..... 610
د پېښور ممثله جرګه ..... 613
د پېشین جرګه ..... 614
درویشتم څپرکی ..... 616
د افغان- شوروي جګړه ..... 616
د شوروي اتحاد پوځ ..... 616
د کابل د رژیم پوځ ..... 618
د افغان مقاومت بنسټ ..... 620
قوماندان مولوي جلال الدین حقاني ..... 624

(c) ketabton.com: The Digital Library




قوماندان عبدالحق ........ 626
قوماندان احمدشاه مسعود ........ 629
کابل د جګړې په حال کې ........ 634
د جګړې مرحلې ........ 635
د مجاهدینو ټاکټیکي عملیات ........ 637
د پنجشیر په دره کې پوځي عملیات ........ 640
د خوست ژورې لومړي لوی عملیات ........ 642
د خوست د ژورې دوهم لوی عملیات ........ 644
د سټې د کنډو لوی عملیات ........ 647
د کاسکډ عملیات او د شوروي پټه استخباراتي جګړه ........ 649
د ګارباچوف بیا جوړونه او سمونونه ........ 652
د کارمل لیرې کول ........ 653
د ژینو خبرې ........ 655
کوردوویز او د ژینو خبري ........ 657
د نجیب الله لنډه واکمني ........ 667
د جنرال تڼي کودتا ........ 668
د نجیب الله د واکمنۍ پای ........ 671
څلورویشتم څپرکی ........ 674
کاکړ او افغان اسلامي تنظیمونه ........ 674
د اسلامي ګوندونو تاریخچه ........ 675
افغان اسلامي تنظیمونه او پاکستان ........ 680
د تنظیم واکې پیل ........ 684
پنځویشتم څپرکی ........ 689
کاکړ او اسلامي بنسټ پالنه ........ 689
اسلامي سلفي غورځنګ ........ 689
ابن تیمیه (۱۲۶۸-۱۳۲۸) ........ 690
محمد بن عبدالوهاب (۱۷۰۳-۱۷۹۱) ........ 691
په نولسمه پېړۍ کې مسلمانه نړۍ ........ 692
سید جماالدین افغان ........ 693

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد عبده (۱۸۴۹-۱۹۰۵)....695
د شلمې پېړۍ نيمايي او اسلامي نړۍ....696
حسن البنا (۱۹۰۶-۱۹۴۹)....697
ابوالعلي مودودي (۱۹۰۳-۱۹۷۹)....699
سيد قطب (۱۹۰۶-۱۹۶۶)....700
اسامه بن لادن، القاعده او افغان ملي جهاد....702
په افغان جهاد کې د اسامه بن لادن ونډه....703
القاعده....706
اسامه بن لادن په سوډان کې۱۹۹۲-۱۹۹۶....709
افغانستان او بن لادن....711
د امارت د مشرانو او د بن لادن اړيکې....715
اسامه بن لادن د نړۍ والې کشالې زړی....716
شپږويشتم څپرکی....723
کاکړ او طالبان....723
ملا محمد عمر....724
د افغانستان اسلامي امارت....725
اميرالمومنين....726
امارت په عمل کې....727
د طالبانو د مشرانو سره د کاکړ خبرې....730
د امريکې چاودنې او د امارت پای....731
پايليک....733
دوهم ټوک....736
کاکړ او نور موضوعات....736
اوويشتم څپرکی....737
کاکړ او پښتو ژبه....737
اته ويشتم څپرکی....750
جان سټوارټ مل په نوي دقيقو کې....750
د ازادۍ فلسفه، تجربي فلسفه، د ګټورتوب فلسفه....750
۱- د ازادۍ فلسفه....752

(c) ketabton.com: The Digital Library




۲- د امپیریزم فلسفه ........ 753
۳- د ګټورتوب فلسفه ........ 754
نهویشتم څپرکی ........ 761
جګړه او زموږ نړۍ ........ 761
دېرشم څپرکی ........ 770
د ډموکراسۍ واقعي نړۍ ........ 770
د ډموکراسۍ زاړې او نوې پولې ........ 771
د غیر لبرال ډموکراسۍ کمونیسي څانګه ........ 774
په پرمختلونکو هېوادو کې د غیرلبرال ډموکراسۍ څانګه ........ 776
لبرال ډموکراسي د قدرت د سیستم په څېر ........ 778
وروستۍ کچې ته د رسولو افسانه ........ 779
یودېرشم څپرکی ........ 782
کاکړ او لرغونی یونان ........ 782
د لرغونو یونانیانو دین ........ 783
پولیس یا ښاري دولت ........ 783
د سپارتا ښاري دولت ........ 785
د اتن ښاري دولت ........ 786
د پلي پونیز جګړه ........ 788
یونان د پلي پونیز د جګړې نه وروسته ........ 789
دوه دېرشم څپرکی ........ 791
د سوکرات، اپلاتون، ارستو، اپیکور او زینو په نظر ښه انسان ........ 791
سوکرات- کلاسیک ښه انسان ........ 793
اپلاتون (۳۸۴-۳۴۷) ........ 795
ارستو (۳۸۴-۳۲۲) ........ 797
اپیکور (۳۴۳-۲۷۰) ........ 799
زینو (اټکل ۳۶۴-۳۳۶) ........ 800
د ښه انسان د شخصیت ځانګړتیاوې ........ 800
۱- اعتدال (temperance) ........ 800
۲- زړه ورتیا یا مېړانه (andria) ........ 802

(c) ketabton.com: The Digital Library




۳- لوړهمتي ........ 803
۴- مدني وفا پالي (Peitharchia) ........ 804
۵- عدالت (Dikiosyne) ........ 805
۶- عقلمني (Sophia) ........ 809
پایلیک ........ 810
موږ ولې باید اخلاقي واوسو؟ ........ 811
درې دېرشم څپرکی ........ 812
د انسانتوب په اړه د اخلاق پوهنې پرنسیپونه ........ 812
د اخلاق پوهنې موضوع ........ 812
مثبت او معیاري علوم ........ 813
ښه او بد ........ 813
اخلاقي ښه توب ........ 814
انساني کړنه (عمل) ........ 814
جبر او اختیار ........ 816
ازاده اراده: ........ 816
جبر (Determinism): ........ 817
د انتخاب شته والي ازادي ........ 818
هغه اغېزونه چې عقلي قوه اغېزمنه کوي ........ 819
هغه لاملونه چې اراده اغېزمنه کوي ........ 820
اخلاقیات جوړیږي یا موندل (کشف) کیږي؟ ........ 821
د اخلاقیاتو معیارونه ........ 821
لومړی ډله: ........ 822
دوهمه ډله: نېغ درک پالنه ........ 823
د طبعیت پالنې ناسم توب ........ 823
د اخلاقي مفهوم تیوري ........ 823
دریمه ډله: ........ 824
د ټولنیز تړون تیوري ګانې ........ 825
د پیاوړي انسان اراده: ........ 826
ټولنیز فشار (عام نظر) ........ 826

(c) ketabton.com: The Digital Library




د هسک څښتن اراده:........ 826
څلورمه ډله........ 827
د عالمي توب پرنسیپ:........ 827
خوندپالنه (Hedonism):........ 828
د ګټورتوب فلسفه (Utilitarianism):........ 829
د ځان پېژندنې تیوري ګانې........ 830
د بالقوه استعدادونو بشپړتوب........ 830
اپلاتون........ 831
ارستو........ 831
سان توماس اکویناس........ 832
د حالت اخلاقپوهنه (Situation ethics):........ 833
د اخلاقیاتو د نورم د کتنې لنډیز........ 834
انساني طبعیت او تاریخ........ 835
له نورم سره د انساني عمل پرتله کول........ 836
د دوه ګون اغېز پرنسپ:........ 837
اخلاقي قانون........ 838
د قانون مفهوم:........ 838
د مثبتپال ځواب:........ 838
د وروستۍ موخې ځواب:........ 839
په تاریخ کې د طبیعي قانون ایډیا:........ 839
د انسان په طبعیت کې د اخلاقي قانون موندل........ 840
مثبت قانون:........ 841
د طبیعي قانون بدلون موندل یا بدلون نه موندل:........ 842
د طبیعي قانون پوهه:........ 843
د طبیعي قانون بندېزونه (تحریمونه):........ 844
حقوق........ 844
بشري حقونه:........ 844
د حقونو جوړښت:........ 845
اخلاقي قضاوت- وجدان........ 846

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وجداني قضاوت سم توب: ........ 847
د اخلاقو عندي معيار ........ 848
د وجدان ازادي ........ 848
اخځونه ........ 850

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یادونه

زما سره پخوا دا فکر پیدا شوی و چې د پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ ژوند لیک وکاږم او د ده اندونه خپلو وطنوالو ته د کتاب په بڼه وړاندې کړم. خو د یوه علمي شخصیت ژوند لیک د ده د ماشوم توب نه نیولې د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې د ده کړه وړه، د ده د نږدې خپلوانو او انډیوالانو سره اړیکې، د ده د زده کړې چاپېریال، د ده اثار، د ده په افکارو کې بدلون او ودې یون او نور څېړل کیږي تر څو د ده هر اړخیز شخصیت وسپړل شي او علمي پنځونې یې سمې وارزول شي.

د پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ ژوند لیک دا ډول څېړل د مهاجرت په شرایطو کې زما د وس نه وتلې خبره ده. له دې کبله زه د محترم کاکړ ژوند لیک د بلې زاویې نه څېړم هغه دا چې دی تر ټولو د مخه یو تاریخ پوه دی او د افغانستان او په ځانګړې توګه د افغانستان د معاصر تاریخ په اړه یې په زړه پورې څېړنې کړې دي. نوموړي د افغانستان تاریخ د تاریخ لیکنې د علمي میتود سره سم په یوه سیستم کې راوستلی دی. زه به د کاکړ هغه اثار چې زما په لاس کې دي د تاریخي پېښو د کرونولوژی پر بنسټ وڅېړم او دا به د افغانستان سیاسي تاریخ هم شي. «سیاسي تاریخ په واقع کې د ټولنې د ... فعالو خلکو د کړو او ټولنیزو پېښو او واقعیتونو بیان دی.»۱ خو محترم کاکړ صاحب یو هر اړخیز علمي شخصیت دی او ده په نورو موضوعاتو هم لیکنې کړې او هم یې ژباړې کړې دي نو دا موضوعات به هم وڅېړل شي. په دې ترتیب به دا لیکنه دوې برخې ولري چې یوه به لومړی ټوک «کاکړ او د افغانستان تاریخ» او بله به یې دوهم ټوک «کاکړ او نور موضوعات» په غبر کې ونیسي.

کاکړ یو نامتو تاریخ پوه دی چې نه یوازې په افغانستان، سیمه بلکې په نړۍ کې یې هم نوم ایستلی دی. محمد حسن کاکړ ته د یوې خوا طبعیت ښه وړتیا او استعداد ورکړی او د بلې خوا ټولنیز چاپېریال هم د ده د ښوونې او روزنې له پاره تر یوې اندازې برابر و. خو که د ده له پاره هر اړخیز ټولنیز چاپېریال موجود وای نو د ده تاریخي- علمي نیکات به لا بډای وای. خو د بده مرغه په مورنۍ ژبې د لوړو زده کړو، په پوهنتون کې په مورنۍ ژبه د درس ورکولو نه بې برخې او په رسمي او دولتي چارو کې د نورو پښتنو غوندې زیات وخت یې مورنۍ ژبه کارولی نه شوه یا لږه کارولی شوه. دی وایي چې «په دې برخه کې به خپله تجربه بیان کړم. زه اوس هم په انګرېزي یا فارسي ځان هغسې افاده کولی نه شم لکه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو کې چې کولی شم که څه هم په انګرېزي کې مې بې شمېره کتابونه لوستلي، څېړنې مې په کې کړې او یو شمېر کتابونه مې په کې کښلي دي، کله چې په پښتو کې څه لیکم کلیمات، افادې او اصطلاح ګانې د رضاکارو غوندې رامخته کیږي په داسې حال کې چې په انګرېزي کې زه ورپسې ګرځم. دا ځکه چې پښتو زما اولنۍ، مورنۍ او زما د شخصیت د تشکل د وختونو ژبه ده که ما تحصیلات او مکالمات په خپلې مورنۍ ژبه کړي وای ملکاتو به مې تر دې ډېر انکشاف کړی وای. په پښتو مطالعاتو کې زما د درک اندازه تر هغو نه چې په انګرېزي یا دري کې ده ډېره ده نو د خپلې تجربې نه ویلی شم چې ... د پښتنو حال به همدغسې وي، په داسې حال کې چې شمېر یې په خپل ملک کې تر نورو ډېر دی نه په خپلې ژبې کې لوړ تحصیلات کولی شي او نه یې ژبه دفتري شوې ده. دا یوه غټه بې عدالتي ده د دغې بېعدالتۍ په سبب د افغانستان اکثره خلک نه شي کولی خپلو استعدادونو ته هغسې انکشاف ورکړي، لکه هغه وخت یې چې ورکولی شي چې عالي تحصیلات په خپلې ژبې کې سرته ورسوي او په رسمي او دولتي چارو کې په خپله مورنۍ ژبه وګړیږي او لیکنې پرې وکړي.»۲ زه فکر کوم چې کاکړ د تحلیلي- تعمیمي طرز فکر لري. همدغه د ده فکري طرز دی چې دی یې د پېښو ژور تحلیل او د لوړې کچې تعمیم ور ګرځولی دی.

د دې لیکنې اصلي موخه دا ده چې لوستونکي د هېواد د نامتو او بې جوړې تاریخ پوه پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ د هغو علمي ژورو اندونو سره بلد او اشنا شي چې نوموړي د خپلو زده کړو او علمي څېړنو له مخې پیدا کړي او بیا یې د قلم په څوکه خپلو هېوادوالو ته په دې هیله په نیکات (میراث) پرې ایښي دي چې د هغو په مرسته خپله تولنه وپېژني، هېواد د اوسنۍ پېچلې او ستونزمنې وضعې نه وباسي او د پرمختګ او ودې په لوري یې بوزي تر څو د نورو پرمختللو هېوادو د سیالۍ جوګه شي.

دا لیکنه به د کاکړ پېژندنې په لاره کې لومړۍ او نیمګړې هڅه وي. خو زه باور لرم چې د دې لیکنې په مټ د کاکړ پېژندنې بنسټ پوخ ایښودل شوی او هیله من یم چې وطنوال به یې په راتلونکې کې د کاکړ پېژندنې مانۍ ورباندې ودانه کړي.

د محترم ډاکټر عبدالمحمد درمانګر نه ډېره مننه کوم چې د ډېرو بوختیاوو سره سره یې زما لیکنه ولوسته، سریزه یې ورباندې وکښله، چې په هغې کې یې د انسان پېژندنې په اړه نوي ژور مالومات وړاندې کړي او د دې کتاب منځپانګه یې لا نوره بډایه کړله، او هم یې ګټورې مشورې راکړې. د انجنر محمد ظاهر، زروالي افریدي، ډاکټر قادر زماني نه مننه کوم چې زما لیکنه یې ولوستله او ګټورې مشورې یې راکړې. د علي شاه احمدزي نه ډېره مننه کوم چې دوه مهم کتابونه: د ډاکټر علي احمد جلالي «د افغانستان پوځي تاریخ» او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحمت ربي زیرکیار «د ناپوهۍ تیارې او د پرمختګ ډیوې د افغاني کلتور په چوکاټ کې له عبدالرحمن نه تر اشرف غني احمدزي ۱۸۸۰ تر ۲۰۱۵» یې د کابل نه راولېږل او ما ورڅخه ډېره استفاده وکړه. د جنرال محمد ولي نه هم ډېره مننه کوم چې خپل دوه کتابونه: د قاضي عطاء الله خان «د پښتنو تاریخ»، او د غبار د «افغانستان در مسیر تاریخ» دوهم ټوک یې ماته د استفادې له پاره راولېږل. د شیرولي ورین نه ډېره مننه کوم چې ماته یې دوه کتابونه: د نصرالله سوبمن «پښتانه په هند کې» او د تیخونوف «نبرد افغاني استالین» د ګټې اخیستنې له پاره راکړل. همدارنګه د کاکړ د لور «خوارې کاکړ» نه ډېره مننه کوم چې د کابل نه یې د کاکړ کتاب «د امیر عبد الرحمن په واکمنۍ کې حکومت او ټولنه» راولېږه. په پای کې د بریالي وزیري او ننګیالي وزیري نه مننه کوم چې دکتاب مالي لګښت یې په غاړه واخیست.

محمد اقبال وزیري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر درمانګر
۲۰۲۰-۰۹-۱۴
سویټزرلنډ

# سریزه

که څه هم په دې شانته کتاب باندې، چې د پندونو، درسونو او پوهې څرګنده خزانه ده، سریزه لیکنه، د سیاست، ټولنیزو علومو او تاریخ پوهانو له قلم سره زیبي؛ دا چې د کتاب لیکوال، زما دوست او محترم ملګری محمد اقبال وزیري، د دې سریزې لیکنه په ما غوندې عادي انسان پیرزوینه کړې ده؛ زه یې د دې احسان له امله ځان پوروړی بولم.

لیکوال د خپلو څېړنو په رڼا کې، د واقعیتونو په هکله، د نومیالي تاریخپوه پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ هغو علمي کارونو ته چې د دې کتاب له موضوعاتو سره اړخ لګوي په ډېره امانت داری او عالمانه احتیاط اشارې کړې دي. ده د تېرې زمانې خوالې او ناخوالې د نورو عالمانو، سیاسي لاربښوونکو په شان، تربلر شانته بارجامه کې د حال زمانې انګړ ته راکش کړی او دلته یې په غور سره د عقلي قوت، دغه تر ټولو ستر قوت، او په فکر باندې د فکر کولو د تخنیک په مرسته حالات چڼ کړي، او د راتلونکې زمانې د مهندسي کولو، نبض پېژندلو او پوهېدلو په پېچلي کار کې یې مرسته کړې ده.

پېژندنه د یوې ستونزې نیمایي حل جوړوي. پوهه یوه توانایي ده چې د هغې په برکت د ښو او بدو د بیلولو کار، چې اخلاق نومیږي، اسانه کیږي. له همدې لارو انسان کولی شي هغه سپارښتنه په ځای کړي چې وایي: ته پرهېز له بدو وکړه څو دې لاس رسیږي ښه کړه په دغه راز اخلاقو ښایسته شوي انسان ته د ازادۍ نعمت، چې د ټولو نورو نعمتونو په سر کې ځای لري، ور په برخه کیږي؛ په دې شرط چې د بل چا د ازادۍ انګړ ته په زور ور د ننه نه شي. د ازادۍ لنډ تعریف هم نورو ته ضرر نه رسول جوړوي.

د دې کتاب په لوستلو سره زموږ د خلکو په ژوند کې د خوښیو، غمونو، رحماني او شیطاني پېښو په هکله داسې هر اړخېزه خبرتیا تر لاسه کیږي، چې تر اوسه له سترګو پټ پاته وو، او په نورو خپرونو کې یې چنداني څرک نه لیدل کیږي. په کتاب کې زموږ په هېواد باندې د بهرنیانو وحشتناکه خونړیو یرغلونو له لاسه، د وطن کنډو کنډو کېدو تر بریده، په خلکو باندې له ظلمونو نه پرده لرې شوې ده. دې زهرجن واقعیت ته هم اشاره شوې ده چې «موږ د بهرنیانو د ظلمونو په پرتله له خپلو ناپوهیو او تېروتنو نه زیات کړېدلي یو».

(c) ketabton.com: The Digital Library



که له یوې خوا «په یوه حکمرانه سیستم کې د فساد او ازار او ستم پایلې د بشر په تاریخ کې ښکاره دي او هر عاقل انسان کولی شي د نوموړي سیستم د پرزېدو او رسوایی وړاندلیدنه وکړي.»۱ له بلې خوا د پوهې کار ته شا اړول او په وار وار سره د تېروتنو تکرارول هم یوه لویه ګناه ده چې په اسانه سره د بښلو وړ نه ګرزي. له ډېرې پخوا زمانې راهیسې تر دا نن ورځې پورې فساد، ازار او ستم له ناپوهی او تېروتنو سره یوځای په وحدت کې میشته شوي دي.

په دې کتاب کې نغښتو مطالبو ته له پاملرنې سربېره لوستونکي ته د فکر کولو ضرورت هم مخې ته درېږي او د انسان د لا نورې پېژندنې اړتیا ته يې پام اوړي. لیکوال له لوستونکي سره د مرستې په توګه د هېواد او نړۍ د ځینو رڼو فکرونو خاوندانو او پخواني یونان د ځینو نامتو فیلسوفانو د فکري زېرمو د خزانو یو شمېر مهم مطالب راغونډ کړي دي، او له دې لارې د پوهېدلو نه مرېدونکې لوږه نوره هم زیاتوي.

د یوویشتمې پېړۍ انسان د یوه داسې نوي تمدن په جوړېدو لګیا دی چې سل کاله پخوا يې په خوب و خیال کې هم ځای نه شو لرلی.۲ په دې تمدن کې هر څه په ډېره چټکۍ سره داسې مخ په وړاندې روان دي چې هر ډول پر ځای هیلې او امید لرلو او پاللو ته يې د رسېدو شونتیا په یقین بدله کړې ده. په نولسمه پېړۍ کې د یوې نجلۍ منځنۍ عمر ۳۶ کاله و. خو اوس د اوسنۍ پېړۍ په پیل کې د زیږدلو نیمايي شمېر تر سلو کلونو پورې عمر کولی شي. د دې پېړۍ په بهیر کې به د عمر منځنۍ اندازه ۱۵۰ کلونو او د ځوانۍ کچه به ۵۵ کلونو ته لوړه شي،.سپوږمۍ او نورو ستورو ته به اوسېدونکي او سیلانیان تګ او راتګ کوي او مځکې سره د ورته کولو کارونو په پایله کې به هلته د هستوګنې امکانات ترلاسه شي. په دې توګه به د مځکې په سر، چې یوازې د درې میلیارده وګړو د میشته کېدو ظرفیت لري، د وګړو د له اوسني ظرفیت نه ډېر لوړ اوه میلیارده شمېر او په خطرناکه توګه د دغه شمېر د لا زیاتېدو عملیه، چې مځکه يې د شنډېدو او انسان د باساره کېدو له هیبت سره مخامخ کړې دی، یو څه مهار شي. تر اتو راتلونکو کلونو پورې د انسان د سر ماغزو ته، د موبایل ټیلیفون د چارجولو په شان، د مصنوعي عقل، هوښیارتوب د ور د ننه کولو امکانات برابر شوي دي او په دې توګه به د نورو شیانو د بازارونو په څنګ کې یو بل سوداګر بازار ورګډ شي. اوس تر زرو کلونو پورې د انسان د عمر د اوږدولو علمي او تخنیکي ستونزې حل شوې او یوازې د پوره پیسو نشتواله په دې لاره کې خنډ جوړ کړی دی. داسې روایت شته چې د هغه له رویه نوح علیه السلام ۹۵۰ کاله عمر وکړ.

د دې ټولو ذکر شویو او ذکر نه پاته شویو پرمختګونو سره سره له ۲۰۱۵ کال نه را

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دېخوا ځینې فیلسوفان او د طبعیت پوهان ان تر دا نږدې ۲۰۳۰م کاله پورې د اوسني تمدن د مانۍ د نړېدو خبرې کوي او د collapsology (نړېدنې) په نامه د پېښېدو له پاره دلایل راوړي:

-د انرجۍ هغه ځمکنۍ زېرمې چې د ټول بشریت مالکیت بلل کېږي، او د ۵، ۳ میلیارده کلونو په اوږدې مودې کې راټولې شوې دي، یوازې د تېر شوی څه کم دوه سوه کلونو په مهال د خودسره مصرف له امله مخ په تمامېدو دي.

-د نولسمې پېړۍ په پیل کې د نړۍ د وګړو شمېر یو میلیارد ته ورسېد. یواځې د تېرو دوه سوه کلونو په ترڅ کې دغه شمېر اوه میلیاردو ته لوړ شو او تر ۲۰۵۰م کاله پورې به ۹ میلیاردو ته ورسیږي. مځکه یواځې د درې میلیاردو خلکو له پاره د ژوند کولو ظرفیت لري او د سر ساحه یې د اقلیمي بدلون او له دې لارې د سمندرونو د اوبو د ناجو (سطحو) د لوړېدو له امله د تنګېدو په حال کې ده. ځکه نو نږدې راتلونکو مهالونو کې به د اجباري مهاجرت کچه په لوړېدو شي. په افریقا کې داسې په مخ روانې ډلې لېدلې شوې دي چې ویل یې «موږ خواریو په سر اخیستي یو او نه پوهېږو چې چېرته ځو، او کوم ځای ته به رسېږو». پوهنیز فقر، جګړې، د نفوسو زیاتېدنه، وچکالي او د پیسو غیر عادلانه وېش د روانو بدمرغیو ملامتي په غاړه لري.

-تر ټولو خطرناک عاقبت د ارادې او په زیات احتمال، د تصادف، غفلت او تېروتنې له امله د اتمي جګړې د اور بلول دي. که پرون په هیروشیما باندې (۱۹۴۵ کال د اګست د میاشتې پنځمه نېټه) د امریکا له خوا د اتم بم د ګزار له لاسه په لومړیو نهو ثانیو کې دوه لکه جاپانیان ووژل شول، نو د نن ورځې اتمي بمونه، چې د هیروشیما د بم پرتله سلګونه چنده زیات وژونکي او ورانونکي دي، خدای مکړه، د استعمال په صورت کې د مځکې په سر د ژوندانه د بشپړې تباهۍ لامل ګرځېدلی شي.

-د ۱۹۷۹ کال دسمبر میاشتې په ۲۷ نېټه د شوروي اتحاد سرو لښکرو په افغانستان باندې ناڅاپه نه اعلان شوې جګړې له لارې یوځې تیری سر ته ورساوه. د شوروي مشرانو د جګړې پرېکړه په داسې حال کې وکړه چې بریژنېف، حزبي او دولتي سرواکدار له زړبودی برسېره د الکولو د اعتیاد، سفلیس، زړه، رګونو، ینې او معدې په ناروغیو اخته و، یواځې د اتو دقیقو له پاره یې د اورولو او اورېدلو وسه درلوده.۳ اندروپوف د بډوډو په ناعلاجه ناروغي اخته و، چرننکو د خپلې دیارلسو میاشتو واکدارۍ په مهال نهه میاشتې په روغتون کې پروت و. د جګړې ټولې پلمې یواځې ښکرور دروغونه وو. سالم عقل په سالم بدن کې ځای لرلی شي دغه یوځې تیری د ناسالم عقل له رویه سرته ورسېد. امریکایانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په مقابله کې، د نړیوالو انرجي منابعو څانته ساتلو له پاره، داسې له افراطه ډک عکس العمل وښود، چې د هغه له امله د شوروي امپراتورئ د پرزولو تر څنګ د نړیوال اسلامي جهاد بنسټ هم کېښودل شو. شورویانو د خپل پوځ تر شا را روان، ببرک کارمل، دغه په الکولو او فحشا روږدی کس، په افغانستان کې د حزب او دولت بېواکه واکدار مقرر که. د شورویانو له لاسه افغانستان د یوې، تر اوسه ناپایه، جګړې په اور کې کښېوت. افغانانو ته زیات ځاني او مالي تاوان ورسېد. دولتي مشران، نورمحمد تره کی، حفیظ الله امین او ډاکټر نجیب الله د دوی په مستقیمه او غیر مستقیمه لارښوونه شهیدان شول.

-د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر د میاشتې په اوومه نېټه د امریکا په مشرئ د ناټو غړو هېوادونو په افغانستان باندې د طالبانو او د تروریزم د ختمولو، د هېواد ابادولو او ډموکراټیک نظام پښو درولو په پلمه پوځي تیری سر ته ورساوه. جورج ډبلیو بوش د تیري په مهال د امریکې جمهور رئیس په الکولو معتاد کس، اما د ده په وینا، له الکولو توبه ګار شوی او له الکولو بدتره په یوه دماغي خلل کې ښکېل و چې ویل به یې د خپلو پرېکړو الهام له اسمانه اخلي، په افغانستان د پوځي برید پرېکړه همدغه راز کس وکړه. په ۲۰۰۳ کال همدغه خللي انسان د انګلستان صدراعظم توني بلیر په ځان پسې راکش او د عراق په هېواد باندې یې پوځي یرغل سر ته ورساوه. عراق د ورانېدو علاوه په داسې بحران کې ډوب شو چې د راوتلو لاره ترې ورکه ده.

په ۲۰۱۱ کال کې د امریکې رئیس جمهور اوباما د فرانسې جمهور رئیس نیکولای سرکوزي او انګلستان صدراعظم ډیویډ کامرون په ځان پسې روان کړل او د لیبیا هېواد یې د پټرولو ذخایرو د لرلو په «ګناه» داسې وران ویجاړ کړ چې اوس یې د بیا په پښو درولو چارې په سترګو نه لیدل کیږي.

-د روسیې واکداري چې له ډېرې مودې راهیسې د پوتین په منګلو کې برمته ده، د ګرجستان هېواد یې د خپلو پوځي مټو په زور کنډو کنډو که. په اوکراین کې یې، د بدلون د بحران څخه په ګټه اخېستلو سره، د کریمیا له بیلولو ورپسې اوس لګیا دی چې د دغه هېواد ختیځه برخه تر خپلې واکدارئ لاندې راولي.

-چینايي واکداران چې د خپل چټک اقتصادي او ټولنیز پرمختګ له برکته په نړیوال نظم او ژوندانه د اصولو په ټاکلو کې د چینايي عناصرو په شاملولو ټینګار کوي، او وايي چې د نورو هېوادونو په کورنیو چارو کې لاس نه وهي او د ملتونو تر منځ د ګډو مرستو او سوله یز ژوند غوښتونکی دی. اما چینايي مشرانو د پاکستان په هکله د ټګی برګی کړنلاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوره کړې ده، ټولې دنیا ته ښکاره ده چې د پاکستان دولت د نړیوال تروریزم د پالنې او روزنې دنده په غاړه اخېستې ده. د اتومي وسلو د نه جوړولو او نه خپرونو په هکله یې نړیواله زمه واري تر پښو لاندې کړې ده. د اتومي وسلو د رمزونو په خرڅولو یې پیسې ګټلې او په افغان هېواد کې د اوسنیو روانو جګړو په ختمولو کې تر ټولو مهم خنډ دی. له دې ټولو سره سره هم چینایي مشران پاکستان خپل اسرایل بولي او په پاکستان باندې تیري ته په خپلو ځانونو باندې د تیري په سترګو ګوري. دغه راز چال چلن حیرانونکی دی. د نړۍ د اوسنیو زېرواکانو کړو وړو ته په کتلو سره د collapsology (نړېدنې) د نظر خاوندانو څرګندونې د پام وړ ګرځي.

د تاریخي یادونو د یادونې په مهال د خوږو یادونو په پرتله ترخه یادونه په زیاته پیمانه د انسان مخې ته درېږي. علت دا دی چې د سل زرو کلونو نه زیات تېر شوي مهال کې زموږ تېرو نسلونو د ژوند په چاپېریال کې د تیارو نعمتونو له شته والي سره تړلی و. دوی د خوراک څکاک او خپل مصؤنیت او دفاع په برابرولو کې له ډېرو ستونزو او خطرونو سره مخامخ کېدل. د ناخوالو تکرار، لکه هر بل تکرار چې معجزه جوړوي، د دې لامل شول چې تر ننه پورې زموږ پام د خوږو پر ځای ترخو یادونو ته ډېر تمایل پیدا کړي. د ښو او بدو پېښو په پېښېدلو کې، د طبعیت تر څنګه، اساسي لوبغاړی انسان دی.

دلته به د انسان په باره کې د هغو واقعیتونو یوه کمه، ولې مهمه برخه، د دې کتاب له ګرانو لوستونکو سره شریکه کړم چې د علمي څېړنو له امله نور نو د شک او ابهام په تروږمیو کې پټ پاتې نه دي: که څه هم ژوند له نن نه ۵، ۳ میلیارده کاله پخوا پیل شوی دی، خو د انسان تر ټولو پخوانیو نیکونو د ژوند پل، په اوس کې، د ۵۰۰ میلیونه کاله پخوا تر زمانې پورې وهل شوی ده، او په هرو تخمیناً ۱۰۰ میلیونه ورپسې کلونو کې له تېټ پوړه جګ پوړ ته ورختلی دی. ۱۵۰۰۰۰ کاله کېږي چې بدني جوړښت یې د قوارې او هیکل له مخې اوسني انسان ته ورته شوی، چې د HomoSapien یا عقل لرونکي انسان، په نامه یادیږي. ۵۰۰۰۰ کاله پخوا مودې راهیسې یې د سر د مغزو استوانه یي بڼه په پلنه کلچه یي بڼه واوښته او په همدې مهال ده چې د فکر کولو توان یې لا نوره وده وکړه، د سیمبولیک فکر کارول، د مړو خښول، د خوارکي شیانو او ښکار کولو په کارونو کې د وسایلو اغېزمنتوب لوړول او نورې فکري توانمندۍ تر لاسه کول د دې علت شول چې له نن نه ۱۵۰۰۰ کاله پخوا راهیسې انسان د مالدارۍ او کرنې پوهه پیدا کړه. تر دې ۱۲۰۰۰ کاله وروسته د خط او کتابت په اختراع کولو بریالی شو، او دا ده د پنځه زره کلونو راهیسې ډېرو لوړو او ژورو له تېرېدلو وروسته په ډېره لوړه تکنالوژۍ سنبال د یوویشتمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېړۍ تمدن يې په پښو ودراوه.۴

که د انسان ځينې ځانګړتياوې لکه د سر وېښتانو، سترګو او څرمنې رنګونه د څو نسلونو په تېرېدو سره بدلون نه پيدا کوي، اما د سر د ماغزو کړنې او جوړښت يې له بيولوژيکي هستۍ سره يوځای، چې د ده د تفکر، تجربو او چاپېريال د اعمالو محصول دی، ثبات نه مني او په دوامداره توګه د بدلون په حال کې دی. هغه مهال چې د مځکې په مخ د وګړو شمېر لږ او خوراکي نعمتونه پرېمانه وو يو شمېر انسانانو به له مړېدو وروسته د ښکار کولو او خوراکي موادو په راټولولو او خوړلو کې دمه کوله او د دمې کولو په وخت کې به د خپل نسل د زياتولو په اعمالو لګيا شول. دوی په خوراک کې د سپما او قناعت له برکته راتلونکو نسلونو ته د ژوندانه د دوام امکانات برابرول. دغه ډله انسانان په بيالوجيکي ادبياتو کې د endostatics په نامه يادېږي چې د قناعت او چاپېريال ته د پاملرنې له کبله نېکمرغي هم ور په برخه وه. د دوی په راتلونکو نسلونو کې د محافظه کارۍ، قناعت او روحانيت بهير وده وکړه او د معنويت فکري عقيدتي بهير زړې په همدې مهال کې رامنځ ته شول. د دغه راز انسانانو تر څنګه يو بل شمېر داسې انسانان موجود وو، چې له مړېدو وروسته به هم په خوراک کولو لګيا وو تر څو په خپلو ځانو کې د ضرورت له رويه خوراکي ذخيرې جوړې او له دې لارې د قحطيو او طبيعي افاتو په مهال د خپل نسل د ژوندانه د دوام امکانات برابر کړي. دوی په بيالوجيکي ادبياتو کې د exostatics په نامه يادېږي.۵ په چټکه د شتمنيو زياتول، د پرمختګ سره لېوالتيا مينه لرل، مادي پرستي د همدغو انسانانو نه راپاتې ميراث دی چې د ماديت فکري بهير زړې يې وکرل.

په دا وروسته مهالونو کې چې انسانانو د کرنې، مالدارۍ، پرېماني راوستلو او انګړونو کې د خوراکي موادو د ساتلو پوهه پيدا کړه، له مړېدو وروسته خوراک کولو، د ضرورت پر ځای، د خوند اخېستلو بڼه ونيوله چې په اوس کې د ژوندانه نورو اړخونو ته هم ورننوتله. سپورتي لوبې، موزيک، ګډا، ادبي او کلتوري غونډې، سياحت، جنسي سوداګري، نشې او داسې نور هغه واقعيتونه دي چې خوند ترېنه اخېستل يې ډېره مهمه برخه جوړوي.

د معنويت بهير په ډېره پراخه پيمانه څېړل شوې او څلور مليارده پالونکي ملاتړي لري. دوی د پخوا تېر شوو مهالونو د برم ساتنه په غاړه اخېستې او د اوسنيو مهالونو په پرتله په ډېرو ښېګڼو کې د نغښتو مهالونو په سترګو ورته ګوري. د دوی په مقابله کې د ماديت بهير پالونکي ولاړ دي چې د مادي شتمنيو د زياتولو په ضرورت ټينګار کوي او حرص و

(c) ketabton.com: The Digital Library



طمع په سر اخېستي، راتلونکو مهالونو ته يې پام اړولی او هغو ته د ګټونکو او بايلونکو انسانانو د ازموينې د ميدان په سترګو ګوري. دوی د انسان برم، عزت او خوشحالي د مادي ژوند په غنا کې لټوي.

د ذکر شويو دوه ګونو فکري بهيرونو تر منځ د نه تېرېدو پوله نشته. دوی د خپلمنځي خونړيو دښمنيو تر څنګ، د يرغلونو په مهال، يو د بل لاسنيوی هم کوي. له پخوا نه تر اوسه پورې يرغلګرو د خپلو او پرديو خلکو د غولولو له پاره خپلې څېرې په رنګ رنګ ډولونو سينګار کړې او په دې توګه يې خپل اصلي مرامونه چې د کمزورو خلکو د وينو زبېښل او مادي ګټو تامينول دي پټ ساتلي دي. تر پرونه پورې يې د اديانو او تمدنونو د خپرولو په پلمه، په دا نږدې تېر وخت کې د کمونيزم او پانګوال سيستم له منګولو نه د بشريت د ژغورنې په پلمه او نن يې د اسلامي تروريزم د نابودولو په پلمه، تاوتريخوالی او جګړې، چې د وسلو جوړولو او خرڅلاو له پاره لنګه غوا ده، په ټول بشريت باندې تپلې دی. د اوسنيو درې ګونو زبرواکو قدرتونو دولتي سروالان د بې ځايه غرور او کبر په لومه کې راګير پاته دي، او خپل ځانونه تر نورو لوړ او د ټول بشريت د هستۍ مالکان بولي. د دغه راز غرور او کبر د ماتولو کار د غفلت د خوبه پاڅېدل او د ژوندانه او انسان طبعيت ته پاملرنه کول غواړي: هغه طبعيت چې له پيله بيا تر اوسه پورې د بدلون په حال کې دی او په راتلونکې زمانه کې به هم حيرانونکي او نه پېژندونکي بدلونونه وويني. دلته د حضرت مولانا جلال الدين بلخي له مثنوی نه دا شعرونه د يادولو وړ بولم چې وايي۶:

امــــــده اول بـــــــه اقلــــــيم جمـــــاد
وزجمــــــــادی در نبــــــــاتی او فتـــــــاد

ســــــالها انـــــدر نبــــاتی عمـــــر کـــــرد
وز جمـــــــادی يــــــاد نــــــاورد از نبــــرد

وز نبــــاتی چـــــون بـــــه حيــــوان او فتــــاد
نامــــــدش حــــــال نبــــاتی هــــيچ يــــاد

بــــــاز از حيــــــوان ســـــوی انســــــانيش
مـــی کشـــــدان ان خــــالقی کــــه دانــــيش

(c) ketabton.com: The Digital Library



همچنـــــين اقلـــــيم تـــــا اقلـــــيم رفـــــت
تـــا شـــد اکنـــون عاقـــل و دانـــا و رفـــت

په ياد شوي شعر کې د بدلون او ارتقا مسله باندې، د ډاروين له نظر نه څو سوه کاله د مخه، په ډېره ښايسته صوفيانه توګه رڼا اچول شوې ده.نوموړي د انسان عقلي ارتقا ته هم دا لاندې مهمې اشارې کړې دي:

عقـــــل هـــــای اولیـــــنش یـــــاد نیســـــت
هـــم ازیـــن عقلـــش تحـــول کـــرد نیســـت

تـــا رهـــد زیـــن عقـــل پـــر حـــرص و طلـــب
صـــد هـــزاران عقـــل بینـــد بوالعجـــب

په دې بل شعر کې مولانا، دغه صوفي، متفکر او عالم، انساني ارتقا او اصل ته مخ راوړنه داسې بيانوي:

از جمـــــادی مـــــردم و نـــــامی شـــــدم
از نمـــــا مـــــردم بـــــه حیـــــوان ســـــر زدم

مـــــردم از حیـــــوانی و ادم شـــــدم
پـــس چـــه ترســـم کـــی ز مـــردن کـــم شـــدم

حملـــــه دیگـــــری بمیـــــرم از بـــــشر
تـــــا بـــــر ارم از مـــــلا یـــــک بـــــال و پـــــر

بـــــار دیگـــــر از ملـــــک پـــــران شـــــوم
انچـــــه انـــــدر وهـــــم نایـــــد ان شـــــوم

که څه هم «حقيقت د ګړنګ په تل کې پروت دی او ګړنګ تل نه لري»، د واقعيتونو په هکله د مولانا علمي او مستند بيانات حقيقت ته د نږدې کېدلو له هلو ځلو سره ډېره مرسته کولای شي. ده د معنويت فکري بهير ته داسې ښايست وربښلی دی چې انساني مينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کې ځليږي او د روحي ارامتيا تنده ماتوي.

۵۰۰۰۰ کاله پخوا کله چې د انسان دماغي کړنو وده وموندله، خپلو فکري توانمندیو ته په پاملرنې سره، له حيرت سره مخامخ شو او د همدې حيرت له امله د خپل ځان په پېژندلو کې پاتې راغی. له حيرت نه د راوتلو هڅو په پايله کې دا باور ورته پيدا شو چې انسان د بدن په نامه له يوې مادي او روح (اروا) په نامه له يوې غير مادي برخو جوړ شوی موجود دی. کتاب لرونکو اديانو لکه يهوديت تر ميلاده ۶۰۰ کاله د مخه، عيسويت له ميلاده راهيسې او اسلام ۵۵۰ کاله د ميلاده وروسته روح (اروا) دغه تر بدن نه ۱۰۰۰۰۰ کاله کشرې هستۍ موجوديت او استقلال ته قايل شول. دوی روح ته په بدن کې د ځای پر ځای شوي هويت او بدن باندې د څارنې د مسؤل په سترګو وکتل. د دوی د باور له مخې که چېرې روح د بدن د څارنې چارې په ښه توګه سر ته ورسوي، له مړينې وروسته به، چې د بدن څخه جلا کيږي، د جنت په راحت کې ځای ولري. او که چېرې د بدن هوسونو او ناروااوو ته تسليم شوی وي له مړينې وروسته به د دوزخ په لمبو، مارانو اولړمانو په انګړ کې ژوند کوي.

په شلمه پېړۍ کې د بيالوژي او سايکالوجي (اروايي) علومو هم د روح (اروا) موجوديت او استقلال ومانه. دا ځکه چې بدني هيکل د بيالوجی د وراثتي قواعدو له مخې جوړيږي او د فزيکي قوانينو په مرسته د اندازه کولو او پېژندلو وړ ګرځي. حال دا چې روح (اروا) پراخه ورشو لري، په چټکۍ سره بدليږي او د وراثتي او فزيکي قوانينو ته غاړه نه ږدي. ځکه نو غير مادي او د مستقل هويت خاونده ده. د يوويشتمې پېړۍ په سلګونو علمي څېړنو د شلمې پېړۍ بيولوجي متحجر او ثابت خصلت ته خوځېدونکی او دوام داره توګه بدلېدونکی خصلت ور په برخه کړ چې د روح (اروا) له خواصو سره، پرته له دې چې غير مادي او مستقل هويت يې تر پوښتنې لاندې راولي، اړخ لګوي. د يوويشتمې پېړۍ د بيولوژي له رويه د روح د زيرېدلو پته (ادرس) د بدن د سر په ماغزو کې ځای لري، او په نورو حيواناتو کې هم د نباتاتو په شمول، موجود دی.

ماضي پرستان او محافظه کاران په نشه اي موادو روږدي (معتاد) کسان د ارادې په کمزورتيا او روح په خلل اخته شوي ګنهګاران او مجرمان بولي. حال دا چې په لابراتواري تجربو کې مږو (غټو موږککو) ته د هيروينو په ورکولو سره د دې حيواناتو، لکه د انسانانو غوندې، لس سلنه برخه په هيروينو روږدي شول. د نشه ايي موادو معتادينو د سرونو په ماغزو کې د مضرو کارونو د نه تکرارولو ميکانيزم په ناغېږۍ او خلل اخته شوی وي. ځکه نو په هره ستونزه کې روح ته ملامتي په غاړه کې اچول مناسب نه برېښي. د ښځو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وړاندې د نارینه وو، د تور پوستو په وړاندې د سپین پوستو، خوارانو په وړاندې د بډایانو او نورو ژوندیو موجوداتو په وړاندې د انسانانو توپیري چلن د پوهنې په فقر او روحي دنیا په ناوړه تعبیر پورې تړلی چلن دی.

د Manus په نامه د ارام سمندر په جنوب او نوې ګیني په شمال کې یوه جزیره پراته ده چې د Anthropology (انسان پېژندنې) د پوهانو او زده کونکو د ډېر پام وړ ګرځېدلې ده. د دې جزیرې خلکو د لوېدیز تمدن ټولې برخې په یو واري او چټکه توګه په خپلو غېږو کې راونیولې او یوائې د یوه نسل د ژوندانه په اوږدو کې وتوانېدل چې له ډېرینې زمانې نه د شلمې پېړۍ زمانې ته ټوپ ووهي.Margret Mead دغه ټوپ وهنه د کلتوري ځان عیارونې یوه رېښتینه معجزه بولي او د هغې تاریخ یې «نوی ژوند د زاړه پر ځای» تر عنوان لاندې په خپل لیکلي څېړنیز اثر کې بیان کړی دی. نوموړې داسې باور لري چې د بدوي او شا ته پاتو خلکو له پاره لوېدیز تمدن ته د رسېدو په هیله د دغه تمدن جوړې شوې برخې په جلا جلا یو په بل پسې هغه هم په کراه کراره توګه هضمول له ستونزو ډک کار دی. دوی د نوموړي تمدن ټول اړخونه یو ځای او په بیړه سره د فکر او عمل میدان ته له د ننه کولو پرته بله چاره نه لري. لیکوالې په دې لاره کې د نوي او زاړه کلتور تر منځ د ټکرونو رامنځ ته کېدل یوه ناچاري بللې ده.

زموږ په هېواد کې هم د نوښت پال پاچا امان الله خان او د خلقیانو رژیمونو د هغه وخت لوېدیز او ختیځ تمدنونو قدمونو باندې د چټک تګ د پرمختللو اراده لرله. دوی د مادیت فکري بهیر سره روا مینې په سر اخیستي وو. د غفلت او ناپوهۍ عمومیت، د وطن پلورونکو جاسوسانو او ځینو روحانیونو هلې ځلې، د انګرېزانو، شورویانو او امریکایانو استعماري موخې او لاسوهنې د دې لامل شول چې د معنویت فکري بهیر له دواړو رژیمونو سره د مقابلې او نه پخلاینې خونړۍ لاره غوره کړي. د امان الله پاچا د سلطنت د نسکورېدو پسې د معنویت فکري بهیر په جامه کې، یو نهه میاشتینۍ له وحشت نه ډک رژیم او د خلقیانو د رژیم له نسکورولو پسې، د مادیت فکري بهیر په جامه کې، یو نهه کلن له شرم او زلت نه ډک بلواک رژیم، د لوبو د اصلي لوبغاړو له خوا په پښو ودرول شول. د ۱۹۹۲ کال د اپرېل د میاشتې له اته ویشتمې نېټې نه را په دې خوا یو ځل بیا د معنویت فکري واکداري پیل شوه تر څو چې له یوه لاس نه بل لاس ته د پرېوتلو وروسته د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر د میاشتې په اوومه نېټه د نړیوال پوځي تیري د بریدونو له امله رانسکوره او یوه بله، دا ځلې د مادیت او معنویت له خواوو پخلا شوې شانته، واکداري واک ته ورسول شوه. خدای خبر دی چې د دې واکدارۍ له امله را پیدا شوې د جګړو او غمونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لړۍ به تر کله پورې روانه وي.

که څه هم د معنویت او مادیت فکري بهیرونو د علمي او معنوي ژوند په برخو کې ډېرې نېکمرغۍ انساني ژوند ته ور په برخه کړې؛ په دا اوس کې د دواړو په انګړونو کې خطرناکو افراطي باورونو او جنون تورو هوسونو هم ځای نیولی دی. د امریکا په ځینو ایالاتو کې د ټولنیزو څېړنو پر مهال ډېر شمېر پوښتل شوو کسانو ویلي چې د الله اکبر کلیمې د مرګ په امریکا معنی لري. د اوزون حاجي په نامه د شمالي قفقاز د نقشبندیانو یو پیر په خپله یوه اعلامیه کې پر اسلامي شریعت ولاړ یو خلافت د جوړولو اعلان کړی دی، او وایي چې زه رسی (تناو) تاووم او ټول انجنران، محصلین او په عمومي ډول ټول هغه کسان غرغره کوم چې له چپ څخه ښی خوا ته لیکل کوي. (باري جهاني)

په اوسني وخت کې د معاصرو تعلیمي زده کړو کمبود او نیمګړتیا او همدارنګه د پیسو او وسلو واکداریو، د بشریت یوه مهمه برخه، د مادي او معنوي فقر له ستونزې سره مخامخ کړې ده. فقر د ازادۍ تر ټولو ستر دښمن او یوه داسې کرونده ده چې په هغې کې د نظر او عمل د افراط زڼي کرل کېږي. افراط، د خصلت له رویه په ښېګڼو مین، انسانان له غمونو سره مخامخ کوي. د نظرونو افراط د ذهني ګېریو او په روایت کې د درایت د نشتوالي محصول دی. یهودان ځانونه تر نورو لوړ بولي، ځکه چې د دوی په قوم کې ډېر پیغمبران تېر شوي دي. سپین پوستي اروپایان ځکه ټول بشریت د ځانونو پوروړی بولي چې د تمدن او نوي ژوند د لارو مهندسي یې کړې ده. عربان له دې امله مغروره او په نورو ځانونه لوړ بولي چې خدای تعالی (ج) خپل پیغمبر حضرت محمد (ص) د دوی له ټبر څخه غوره کړی دی او قران عظیم الشان یې په عربي ژبه رانازل کړی دی.

هغه لږ شمېر کسان چې د پیسو د قاروني ګنج او تباه کوونکو وسلو مالکان دي ځانونه تر نورو لوړ ګڼي او د دولتي واکداریو د جوړولو او نړولو تر کچې پورې لاس خلاصي دي. دوی د جګړې د اورونو په بلولو او خپلو پیسو د لا زیاتولو په کارونو کې له هیڅ ډول افراطه مخ نه اړوي. دوی ټول د انسان د ژوندون مزاج او طبعیت ته چې له پیله بیا تر اوسه پورې د بدلون په حال کې دی او په راتلونکې زمانه کې به هم حیرانونکي، او په دا اوس کې، نه پېژندونکي بدلونونه وویني، پوره پاملرنه نه کوي. د همدې غفلت له لاسه ځانونه تر نورو لوړ او د کامل عقل خاوندان ګڼي. که د لوړتوب د قضاوت زمینه د مځکې په سر دا لس میلیونو ژوندیو موجوداتو ته برابره شي، هر یو به ځان د تر ټولو لوړ مقام لرونکی وبولي. یوه بکتریا په څو ورځو کې له نوي چاپېریال سره ځان عیاروي شي. حال دا چې انسان د زرګونو کلونو په موده کې وشو کړلای چې له نوي چاپېریال سره ځان اعیار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي. یوه ونه په مستقله توګه د لمر د وړانګو په کارولو سره د ځان جوړونې او چاپېریال ته د ګټورتوب او ښکلا وربښلو په کارونو لګیا ده او د انسان په پرتله د قد و قامت او عمر د اوږدوالي له رویه برلاسې ده. د مځکې په سر د ژوندی کتلې ۸۲ سلنه له ونو او بوټو، ۱۳ سلنه د بکټریاوو، دوه سلنه له مرخېړیو، ۵، ۰ سلنه له حیواناتو او یوازې ۱ ،۰ ، ۰سلنه دا اوس شمېر له ۷ میلیاردو انسانانو نه جوړه ده.۸ د انسان د لوړتوب رمز د ده په علم او تخنیک کې ځای لري. دلته په اسلامي فکر کې دا روایت د یادولو وړ بولم چې وایي: شرافت الانسان با لعلم والادب، لا بالمال والنسب.

د خوشحال خټک هم دا فکر د پام وړ دی چې وایي:

نامرد فخر په نسب که
مرد نه مور لري نه پلار

معاصر انسان مجبور نه دی لکه د ۱۵۰۰۰ کلونو پخوا انسان په شان، چې تنها صورته ژوند یې درلود، او مجبور و چې د خپل څکاک، خوراک او دفاع بندوبست په خپله وکړي. د ټولنیز ژوند پرمختګ او کارونو د وېش له برکته د اوسني انسان دماغي پېټی لږ شوې او په ماغزو کې یې د حجم له رویه درې تر څلور سلنه ، او د وزن له رویه ۱۵۰ ګرامه کموالی راغلی دی. د سر ماغزه د انسان د بدن دوه سلنه برخه جوړوي. مګر د ټولې هغې انرجی چې وجود یې د خوارکي موادو د هضمولو په مرسته تر لاسه کوي شل سلنه برخه د سر د مغزو له خوا په مصرف رسیږي. د حجم او وزن په حساب کم شوي ماغزه د ۱۵۰۰۰ کاله پخواني انسان د مغزو په پرتله، لږه انرجي مصرفوي. د نن ورځې انسان دا سپما شوې انرجي د اختراعاتو، نوښتونو او فکرونو د لا نورې پیاوړتیا په مقصد کارولی شي.۹

د اوسنیو، په افراط کې ښکېلو، مادي او معنوي فکري بهیرونو تر منځ د اعتدال منځپاله (interstatic) فکري بهیر غوره کول، چې د خیرالامور اوسطها له اصل سره اړخ لګوي؛ په روانو جګړو باندې د سولې غلبه کول؛ ټولنیز ژوند کې د مادي او معنوي عدالت تامینول؛ په ټولنه کې د ابرو او عزت لرلو معیار د بشر د حقوقو او خیرالناس ما ینفع الناس د اصولو له رویه ټاکل؛ د اقلیم او چاپېریال ته د زیان رسولو د روانې لړۍ مهارول؛ د عقلانیت په مرسته د وګړو د خود سره او خطرناکه زیاتېدلو ته د منلو وړ نظم ورکول، د انسان دماغ، دغه د فکرونو، هیلو او هوسونو د جوړولو ماشین ته د اوسني پنځه سلنه د ظرفیت د لوړولو په لاره کې د خنډونو له منځه وړل؛ د دې ارت ناپایه جهان د ننۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځه سلنې پېژندلو ته پراختیا ورکول؛ د خدای تعالی لوړ مقام ته درناوی، انساني اصولو ته احترام او په دولت باندې د اختیار لرلو مالکیت، د څو محدودو عقیدتي او سیاسي ډلو د انحصار پر ځای د ټول بشریت مشروع حق ګڼل؛ هغه کارونه او فکرونه دي چې کولی شي انسانان په خوشالیو ماړه او یوویشتمې پېړۍ ته د نېکمرغه پېړۍ نوم وکړي.

د استاد اقبال کور دې ودان او عمر دېر وي چې د خپل دې لیکلي کتاب په لوستو یې فکر کولو ته وهڅولم او دا ده «چې تیار هغه د یار» او خپلې ډېرې محدودې او په هېڅ کې حساب پوهې په بنیاد مې دا سریزه ولیکله خدای دې وکړي چې د دې کتاب د ارزښتونو سره د غبرګېدو لیاقت ولري.

په درناوي

**لمن لیکونه:**

۱- علامه پوهاند حبیبي، شل مقالې دولسمه برخه ۱۴۸ مخ

2-Homobiologicus Piervincenzo Piazza. Editions Albin Michal 2019 Page 11

۳- ګرباچوف: د یوې پولنډۍ او روسۍ ژورنالستانو تاریخ او حقوق پوهانو مستند فلم

۴- Homobiologicus، ۳۳مخ

۵- همدا اثر ۲۰۵ مح

۶- علامه پوهان حبیبي، شل مقالې دولسمه برخه ۱۵۷ مخ

7-Alvin Toffler; Le Choc du future Editions Denoil 415 page

- ۸Homobiologicus، ۲۳۵مخ

۲۰۱۹/۹-۴ 7 Le cerveaue

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی ټوک

## پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ

## او د افغانستان تاریخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړی څپرکی

# د پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ لنډه پېژندګلوي

محمد حسن کاکړ په ۱۹۲۹ زېږدیز کال کې د لغمان د ښکلي ولایت د الیشنګ درې د پلوټې په کلي کې د میرزا فضل الحق کاکړ په کور کې زیږېدلی دی. د کاکړ په وینا د لغمان پخوانی نوم لمپاکا دی. لغمان له دوو پراخو درو څخه، چې یوه یې الیشنګ او بله یې الینګار نومیږي، جوړ دی. د لغمان په منځ کې دواړه درې په یوې پراخې درې بدلیږي او له دواړو راوتلي سیندونه سره یوځای کیږي او بیا له کابل سیند سره یوځای کیږي. په لغمان کې هر لغمانی په پښتو او دري پوهیږي خو «شاعري او ټنګ ټکور او عمومي کلتور د پښتنو دی.»۳

دی زیاتوي چې پلوټه د لغمان یو پخوانی کلی دی. د پلوټې بل نوم دېوه دی. دا دواړه پخواني نومونه دي. د یوه روایت له مخې پروت (Parwat) تر اسلام نه د مخه د کلي مشر و. دېوه (Deva) چې په سانسکرت کې څلېدونکي او په پښتو کې څراغ ته وایي د لرغونو وختو په اسطوره کې د رڼا او خوښی رب و. په هر حال پخوا له پلوټې نه یو ټینګ دېوال چاپېر و او یو لوی ور یې لاره. پلوټه اوس د ورو ځمکه والو، بزګرو، کسبګرو او غریبکارو کلی دی.

د دې ماشوم لا کال نه و پوره شوی چې پلار یې مړ شو او د خپلې پتمنې او مهربانې مور «خاتمه نیازي» په غېږ کې لویده. دی تنکی ځوان و چې خپلې خوږې مور یې د فاني نړۍ نه سترګې پټې کړې او د مورنی مینې نه هم بې برخې شو.

دغه یتیم ماشوم خپلې زده کړې د تېرګړیو په لوی جومات کې پیل او بیا یې د قلعه السراج په ښوونځي کې چې د کلي نه لیري پروت و دوام ورکړ. ده تر نهم ټولګي پورې زده کړې په لغمان کې پای ته ورسولې او بیا کندهار ته لاړ او هلته یې یو کال خپلې زده کړې د احمدشاه بابا په لیسې کې وکړې او د خپل نیایي اروابښاد عبدالمقیم نیازي په کور کې اوسېده. کاکړ دوه کاله خپلې زده کړې د کابل په دارالمعلمین کې وکړې او په ۱۹۵۰ کال کې د غازي لیسې نه په لومړۍ درجه بریالی شو. نوموړی په ۱۹۵۳ کال کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځي کې شامل او په ۱۹۵۷ کال کې د دې پوهنځي د تاریخ د څانګې نه فارغ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لومړۍ درجه بریالی شو. کاکړ د ادبیاتو د پوهنځي د فارغېدو وروسته په پښتو ټولنه کې مسلکي غړی او د کابل مجلې چلوونکی وټاکل شو. برسېره پردې ده د ادبیاتو په پوهنځي کې زده کړیالو ته درس هم ورکاوه.

محمد حسن کاکړ لا زده کړیال و چې د مایکل ستیوارټ کتاب «د برېتانيې سیاسي سیستم» یې د انګلیسي ژبې نه په پښتو وژباړه چې د دغه خدمت په خاطر په ۱۹۵۷ کال کې د ابن سینا جایزه ورکړل شوه. ده د «ماکسیم ګورکي د ادبیاتو په اړه» کتاب د انګلیسي نه په پښتو وژباړه چې پښتو ټولنې له خوا په ۱۹۶۹ کال کې خپور شو. کاکړ په ۱۹۵۸ کال کې د یوه رسمي پلاوي د غړي په توګه شوروي اتحاد او په بل کال امریکې ته سفرونه وکړل. نوموړی په ۱۹۶۱ کال کې د ډاکټر علي احمد پوپل په پاملرنې د لوړو زده کړو له پاره لندن ته واستول شو. هلته یې لومړی د کابل پوهنتون شهادتنامه د لندن د پوهنتون د لسانس انډوله کړه او بیا یې د امیر عبدارحمن واکمني وڅېړله او ماسټري ډیپلوم یې لاسته راوړ چې په ۱۹۷۱ کال کې «د افغانستان نني سیاسي انکشافات» په نوم په لاهور کې چاپ شو.

محمد حسن کاکړ په ۱۹۶۸ کال کې د لندن نه هېواد ته راستون او د کابل په پوهنتون کې د تاریخ د استاد په توګه دنده پیل کړه. ده د تدریس په جریان کې دوه کتابونه: «دموکراسی در جهان امروز» او «تاریخ څه ته وایي؟» د انګلیسي نه په ترتیب سره په فارسي او پښتو وژباړل چې وروستی یې د کابل پوهنتون له خوا په ۱۹۷۰ کال کې خپور شو. نوموړي همدارنګه د سډني پینټر کتاب چې «د منځنیو پېړیو اروپا» نومیږي وژباړه چې تر اوسه چاپ شوی نه دی.

کاکړ په ۱۹۷۲ کال کې د نورو زده کړو له پاره د فولبرایټ په سکالرشیپ د امریکا متحده ایالاتو ته لاړ او د پرنسټن په پوهنتون کې یې د امیر عبدالرحمن په دورې نوره څېړنه پیل کړه او په ۱۹۷۵ کال کې یې هغه د هارورډ په پوهنتون کې بشپړه کړه چې په ۱۹۷۹ کال کې د ډاکټرۍ تېزس «د امیر عبد الرحمن په واکمني کې حکومت او ټولنه» د امریکې د تکزاس د پوهنتون له خوا خپور شو. نوموړي په دغه اثر سره د لندن د پوهنتون نه د ډاکټرۍ شهادتنامه تر لاسه کړه او په ۱۹۷۶ کال کې وطن ته راستون او د کابل په پوهنتون کې د تاریخ د استاد په توګه خپلې دندې ته دوام ورکړ. نوموړی په ۱۹۸۱ کال کې د پوهاند درجې ته ورسېد. په ۱۹۷۸ کال کې د کابل پوهنتون له خوا د ده څېړنیز اثر «افغان، افغانستان و مختصرې از کوشش های افغان برای تاسیس دولت در هندوستان، ایران و افغانستان» خپور شو. دغه اثر دوه ځله د وفا له خوا خپور شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ په افغانستان باندې د شوروي اتحاد د یرغل وروسته د شورویانو او پرچمي رژیم پر ضد د سیاسي فعالیت له کبله بندي شو چې د نړیوال فشار په وړاندې د کابل رژیم اړ شو چې د پنځه کاله بند وروسته نوموړی ایله کړي. دی د بند نه د ایله کېدو وروسته بېرته په پوهنتون کې استاد شو، خو د همدغه کال په پای کې له خپلې کورنۍ سره پېښور ته لاړ او هلته یې د افغانانو په جهاد کې خپل قلمي ځواک په ډېر قوت سره وکاراوه. په ۱۹۸۹ کال کې دی د خپلې کورنۍ سره یوځای د امریکا متحده ایالاتو ته لاړ او د کالیفورنیا د ایالت په کانکرډ ښار کې یې ژوند کاوه.

پوهاند ډاکټر کاکړ په ۱۹۹۰ کال کې د هغه غورځنګ غړی او بیا مشر شو چې موخه یې د لویې جرګې له لارې د افغانستان د مسلې هواری و. ده د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د افغانستان د لانجې په اړه په غونډو کې لکه د استانبول، توکیو، اسلامي اسیا، یونسکو، اهوس او تاشکند په کنفرانسونو کې ګډون وکړ او بیانیې یې ورکړې. ده د استانبول په سیمینار کې چې د ۲۰۰۷ کال د جولایي د میاشتې د۱۱- ۱۳ نېټه دایر شوی و او د افغان مطالعاتو امریکایي موسسې او د پاکستان د مطالعاتو امریکایي موسسې له خوا تنظیم شوی و خپله وینا «د ډېورنډ کرښه، تاریخ، پایلې او راتلونکې» تر سر لیک لاندې وړاندې کړه. ده د توکیو په کنفرانس کې چې د جاپان د بهرنیو چارو وزارت له خوا د افغانستان په اړه جوړ شوی و وینا وکړه. کاکړ د اسلامي اسیا په کنفرانس کې چې په ۱۹۹۵ د اګست په میاشت کې د امریکې د جنګ د پوهنځي د بین المللي مطالعاتو او ستراتیژیک پروګرام له خوا جوړ شوی و خپله وینا «عرقي او نور ټکرونه» تر سرلیک لاندې وړاندې کړه. کاکړ د یونسکو په کنفرانس کې چې په کابل کې په۱۹۷۱ کال کې د کوشاني دورې په اړه جوړ شوی و خپله وینا واورله. ده د ډنمارک د اهوس د ښار په کنفرانس کې د هندوکش د کلتور په اړه چې د موزګارد موزیم له خوا دایر شوی و برخه واخېسته.ده په ۱۹۵۸ کال کې د تاشکند «د افریقایي او اسیایي کنفرانس» کې ونډه واخېسته. ده همدارنګه د هېواد نه د باندې په افغاني او نورو خپرونو کې د افغانستان د کشالې په اړه ډېرې لیکنې وکړې.

د کاکړ بل اثر چې «افغانستان، د داخلي سیاسي انکشافاتو بیان، ۱۸۸۶-۱۸۸۰» نومېږي په ۱۹۷۱ کال کې د لاهور عرفاني موسسې له خوا په انګلیسي ژبه خپور شو. د نوموړي بل اثر چې «د افغانستان په باب د ژینو جوړه» نومېږي په ۱۹۸۸ کال کې د وفا له خوا په پېښور کې چاپ شو. د کاکړ بل کتاب چې «جنګ دوم افغان- انګلیس» نومېږي د افغانستان اسلامي ملي محاذ له خوا په ۱۹۸۹ کال کې په پېښور کې چاپ شو. دغه اثر د سید نظیم سیدي او مجیب الرحمن امیري له خوا په پښتو اړول شوی او په لندن کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغان لیکوالو کلتوري ټولنې له خوا په ۲۰۰۸ کال کې خپور شو. ده په ۱۹۹۰ کال کې «افغانان د شپږ شپتم کال په پسرلي کې له روسانو سره د جنګ په حال کې» لیکلی چې د سپین غر د کتاب چاپولو ټولنې له خوا په جرمني کې خپور شو.

کاکړ په ۱۹۹۵ کال کې په انګلیسي ژبه «افغانستان، شوروي یرغل او د افغانو ځواب» کتاب بشپړ کړ چې د کالیفورنیا پوهنتون له خوا خپور شو. نوموړي وروسته یو بل اثر چې «رښا او دفاع» نومیږي تدوین کړ چې په ۱۹۹۹ کې د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز له خوا په پېښور کې چاپ شو او د ده د لیکنو برسېره د یو شمېر نورو لیکوالو لیکنې هم په کې خوندي دي. ده په ۲۰۰۵ کال «طالبان او اسلامي بنسټ پالنه» او بیا د «باچا امان الله واکمنۍ ته یوه نوې کتنه» کتابونه ولیکل چې د افغانستان کلتوري ټولنې له خوا چاپ شول. په ۲۰۰۶ کال کې د ده یو بل مهم اثر «د افغانستان سیاسي او ډیپلوماتیکي تاریخ» په انګلیسي ژبه په هالنډ کې خپور شو چې محترم سلیمي په پښتو ژباړلی او د چاپ لاندې دی.

په ۲۰۰۷ کال کې د کاکړ له خوا د هومر بالابانس لیکنه: «د سقراط، افلاتون، ارسطو، اپیکور او زینو په نظر ښه انسان» د انګلیسي نه په پښتو وژباړله او د افغانستان د کلتوري ټولنې له خوا چاپ شوه. همدارنګه ده د انګلیسي نه د محمود طرزي خاطرې په پښتو و ژباړلې چې د افغانستان د کلتوري ټولنې له خوا خپرې شوې.

په ۲۰۰۹ کال کې د ده بل اثر «د سرطان کودتا د افغانستان د اوږدې بې ثباتۍ پیلامه» د افغانستان کلتوري ټولنې له خوا خپور شو. په ۲۰۱۰ کال کې د کاکړ دوه نور اثار: «زما غوره لیکنې» او «د ثور کودتا او د هغې ژورې پایلې» د افغانستان د کلتوري ټولنې له خوا خپاره شول. د نوموړي بل کتاب چې «پښتون، افغان، افغانستان» نومیږي په ۲۰۱۱ کال کې د افغانستان د کلتوري ټولنې له خوا چاپ شو.

د پوهاند ډاکټر کاکړ بل اثر چې «د افغان- شوروي جګړه» نومیږي د «کاکړ تاریخي- علمي بنسټ» له خوا په ۲۰۱۵ کال کې خپور شو. د نوموړي دوې ژباړې: «جنګ او زموږ نړۍ» د جان کیګن لیکنه او «د انسانتوب په اړه د اخلاقپوهنې پرنسیبونه» د وارګا لیکنه د کاکړ تاریخي- علمي بنسټ له خوا په ۲۰۱۵ کال کې خپاره شوي دي.

د کاکړ یو لړ مقالې چې په انګریزي ژبه لیکل شوې او په بیلو بیلو خپرونو کې چاپ شوې دي.

کاکړ څلور لنډې لیکنې: د افغان- شوروي جنګ، د معاصر افغانستان لنډ تاریخ، طالبان او کابل په نومونو په انګلیسي کښلې دي چې د معاصرې نړۍ د اکسفورد

(c) ketabton.com: The Digital Library



دایرة المعارف په لومړي، څلورم او اووم ټوکونو کې د اکسفورد پوهنتون په ۲۰۰۸ کال کې خپرې کړې دي.

د کاکړ بله لیکنه چې د افغانستان د اساسي قانون تاریخ نومیږي په ۱۹۹۲ کال کې د ایرانیکا دایراة المعارف په لومړي ټوک کې د کولمبیا پوهنتون په نیویارک کې خپره کړې ده.

د کاکړ بله لیکنه چې «منځنۍ اسیا، د یوې سرېټې سیمې پرانېستل کېدلو پیل» په نوم یادیږي په انګلیسي کښلې او په ۱۹۹۳ کال کې د وفا له خوا خپره شوه.

د نوموړي بله لیکنه چې «ایا دوی د افغانستان کشاله هوارولی شي؟» په ۱۹۸۸ کال کې په نیویارک کې په وال سټریټ ژورنال کې نشر شوه. د ده بله لیکنه چې «په ۱۹۷۳ کې د افغان پاچایي نسکورېدل» نومیږي په ۱۹۷۸ کال کې د منځني ختیځ د مطالعاتو بین المللي ژورنال په نهمه شماره کې خپره شوې ده. بله مقاله یې چې «د افغانستان د هزاره ګانو ایلېدل» نومیږي په ۱۹۷۳ کال کې په نیویارک کې د اسیا ټولنې له خوا خپره شوه. د ده بله لیکنه چې «د معاصر افغانستان د تاریخ میلانونه» نومیږي د لویي دوپرې او لنین البرت له خوا په تنظیم شوي کتاب کې «افغانستان په ۱۹۷۰ لسیزې کې» د پریګر موسسې له خوا په ۱۹۷۳ کال کې خپره شوه.

د افغانستان بېرته متحد کېدل ۱۸۸۰-۱۸۸۴ په نوم د ده لیکنه په ۱۹۷۰ کال کې د افغانستان د تاریخ ټولنې د افغانستان مجله کې خپره کړه.

کاکړ د ننه په هېواد کې او هم د هېواد نه د باندې په پښتو او پارسو کې د افغان چلوونکو په ورځپانو او مجلو کې د روانو او تاریخي موضوع ګانو په اړه ډېرې لیکنې خپرې شوې دي چې یو شمېر یې د ده په هغه کتاب کې چې «زما غوره لیکنې» نومیږي را غونډې شوې دي او یو شمېر یې راټولې شوې نه دي باید راټولې او د یوه کتاب په بڼه خپرې شي. د ده څلور مهمې مقالې چې «د ډیورنډ کرښه باید ډېر د مخه باطله اعلان شوې وای»، افغانستان، پاکستان او پښتونستان د هغو مقالو په ټولګه کې چې د «ډیورنډ، د واحد ملت د بیلتون کرښه» نومیږي خپرې شوې دي. دا مقالې د «لپه» په نوم درې میاشتنۍ مجالې کې هم خپرې شوې دي.

نوموړی یو شمېر غیر اکاډمیک فعالیتونه کړي چې د ځینو نه یې لنډه یادونه کوو:

کاکړ د۱۹۹۹ راهیسې د افغان کلتوري ټولنې غړی و.

د ۱۹۹۰-۱۹۹۴ د افغانستان له پاره د یوه تمثیلي حکومت حرکت، چې په لاس انجلس کې جوړ شوی و، موسس غړی و.

۱۹۸۲-۱۹۸۷ کې د څرخي پله په بندیتون کې د بندي کېدو له کبله د بین المللي عفوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سازمان له خوا «د وجدان بندي» اعلان شو.

نوموړی د افغانستان د استادانو او محصلانو د اتحاديې موسس غړی و چې د شوروي د يرغل نه تر ۱۹۸۲ کال پورې په کابل کې د شورويانو او د کارمل مزدور حکومت پر ضد پټه مبارزه پر مخ بيوله.

ده د ازاد ژورنالېست، څېړونکي او ويناکونکي په توګه د بي بي سي راډيو له پاره په پښتو او پاړسو کې ليکنې او ويناوې برابرولې چې هغه بيا په افغانستان راډيو کې خپرېدې. په دغه لړ کې ده د انګرېزي ژبې د زده کړې له پاره ۱۵۰ درسونه په پاړسو تيار کړل چې د ۱۹۶۵-۱۹۶۸ په لندن کې خپاره شوي و.

د۱۹۵۰-۱۹۵۲ په کابل کې د امريکې د کتابتون معلوماتي سرويس د چلوونکي مرستيال و او په دغه مهال يې انګرېزي ژبې کورسونو کې افغان زده کړيالو ته انګليسي درسونه ورکول.

په دې توګه پوهاند کاکړ د خپل ژوند زياته برخه د يوه پرهېزګار او اصولي شخصيت په توګه د وطن او خلکو چوپړ ته وقف کړی او داسې اثار يې ليکلي او ژباړلي دي او په هغو کې يې داسې ژور علمي فکرونه وړاندې کړي چې افغانان به د هغو په مرسته خپل تېر مهال وپېژني، د هېواد اوسنی حالت به په خلاصو سترګو ووينې او د هېواد راتلونکې ودې له پاره به د دوی لاره رڼا کړي.

پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ د ۲۰۱۷ کال د جنوري د مياشتې په ۵مه نېټه د ۸۸ کالو په منګ د امريکا په کاليفورنيا ايالت کې د ورپېښې ناروغۍ له امله د فاني نړۍ نه سترګې پټې کړې اروا دې ښاده وي. کاکړ په لغمان کې د درندو مراسمو په ترڅ کې په خپلې پلرنۍ هديرې کې خاورو ته وسپارل شو. د کاکړ مېرمنې اغلې مريم کاکړ ما ته په ټليفون کې وويل چې فکر يې تر پايه کار کاوه او وروستۍ خبرې يې دا وې چې اوس افغانستان ته تر ټولو لوی ګواښ د پاکستان له لوري متوجې دی.

مېرمن مريم کاکړ خپل خاوند ته د کورني هوسا او ښه چاپېريال په برابرولو سره د ده په علمي ليکنو کې مرستندويه وه. کاکړ دوه زامن او درې لوڼه لري. مشر زوی يې کاوون او کشر زوی يې سباوون نوميږي. د کاکړ لوڼه پلوشه، وږمه او خواږه نوميږي.

## کاکړ او د تاريخ ليکنې علمي ميتود

کاکړ وايي چې تاريخ خلک د دې له پاره لولي چې د خپلو تېرو شويو د حالاتو نه خبر شي تر څو خپل هويت يا خپل ځان د تاريخ په رڼا کې وپېژني. خو تاريخ ليکل يو ډېر ګران

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار دی.

تاريخ ځينې ځانګړتياوې او اصول لري چې د تاريخ ليکلو او پوهېدلو کې د سرې سره مرسته کولی شي. د کاکړ په وينا «د تاريخ ستره ځانګړتيا دا ده چې له هغو انساني ډله يزو پېښو سره سروکار لري چې واقع شوې وي.»۴ په باسواده ټولنو کې افراد د يادښت په اخېستلو باندې روږدي دي. شخصي او سوداګرې موسسې او په تېره حکومتونه په هره سويه چې وي خپلې پرېکړې ليکي او د کره تاريخ ليکنې له پاره زمينه برابروي.

خو زموږ په هېواد افغانستان کې د ليکلو او يادښت کولو دود نه شته يا په لومړني حال کې دی. دلته د سياسي جنجالونو په اړه څه کوې ان د زيږېدو، ودونو، د مړينې او نورو پېښو په اړه کتابي يادښتونه نه وي يا ډېر لږ وي. نو په داسې ټولنې کې چې اساسي مالومات شتون ونه لري د تاريخ ليکل يې او د هغې په تاريخ پوهېدل بيا ګران شي.

د کاکړ په وينا د تاريخ ليکلو شرط هرو مرو دا دی چې د کره او سمو مالوماتو پر بنسټ وکښل شي. له دې امله د تاريخ پوه دنده دا ده چې کره او سم مالومات راټول کړي او بيا هغه داسې بيان کړي چې شخصي، قومي، ملي او سياسي کتنې په کې شاملې نه کړي تر څو خپل ځان د تاريخ نه ګوښه وساتي. خو څنګه چې تاريخ او تاريخ کښل اوږده مخينه لري او زرګونه کاله د مخه د يونان نامتو تاريخ پوه هېرودت نه پيل کيږي نو د تاريخ ليکلو هنر او شېوه ډېره کره شوې ده.

په دې ترتيب هغه کسان کره، افاقي او علمي تاريخ ليکلی شي چې د تاريخ ليکلو په هنر کې ځانګړي مالومات ولري او په خپله پرهېزګار او اصولي شخصيتونه وي ياني هغه څوک چې د تاريخ ليکلو په فن کې وارد وي او عمل پرې وکړي او له تاريخ نه يوازې او يوازې د رښتيا د رابرسېره کولو او د رښتيا د بيانولو له پاره ګټه پورته کړي. يوازې د دغسې تاريخ او دغسې تاريخ پوهانو له لارې کېدای شي چې انسانان خپل تېر مهال هغسې چې واقع شوی وي وپېژني او د دغې پېژندنې په رڼا کې خپل ژوند اعيار کړي. کوم ملت يا خلک چې د خپل تاريخ نه په واقعي ډول خبر نه وي هغه تېروتنې بيا بيا کوي او د تاريخ نه زده کړه نه کوي.

کاکړ وايي چې تاريخ په ظاهر کې اسان ښکاري. خو څنګه چې تاريخ کره معيارونه لري په اصل کې يو ګران مضمون دی. تاريخ بايد هغه ډله يزې انساني پېښې چې واقع شوې وې بيا د سره په کليمو کې راژوندي کړي چې دا کار د شوونتيا د پولو نه وتلی دی. تېر مهال لکه څنګه چې د تل له پاره تېر شوی دی او هېڅ ځواک نه شي کولی په بشپړ ډول يې بېان کړي. له دې کبله تاريخ پوه اړ دی چې تېرې شوې پېښې چې په بېلو بېلو بڼو او يا په مادي شواهدو کې په انتخابي توګه ثبت وي د هغو نه هغه پېښې وټاکي چې زيات اهميت ولري او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډېرو انسانانو پر ژوند یې اغېز شیندلی وي. دغه دوهمه عملیه د پېښو ټاکنه لا تنګوي. د بېلګې په توګه لومړۍ عملیه هغه وه چې د تاریخ پلار هېرودت په خپل تاریخ کې هغه پېښې انتخاب او ثبت کړې چې د ده په اند مهمې وې. خو یو افغان تاریخ پوه چې د هېرودت د تاریخ نه د خپل تاریخ د لیکنې له پاره پېښې انتخابوي دا دوهمه عملیه ده. افغان تاریخ پوهانو له پاره د هېرودت د تاریخ هغه پېښې مهمې دي چې د دوی سره د افغانستان د تاریخ لیکنې په برخه کې مرسته کوي. برسېره پردې د تاریخپوه ذوق، سویه، نړۍ لید او قضاوت هم اغېز لري. خو تاریخ پوه چې هر ډول پېښې ټاکي باید واقعي وي او په تېر وخت کې پېښې شوې وي او جعلي نه وي. د واقعي پېښو ټاکنه د تاریخ پوه اساسي فرض دي. تاریخ پوه چې هر ذوق، سویه، نړۍ لید، ټولنیز دریځ او شخصي قضاوت ولري مکلف دی چې یوازې واقعي پېښې روښانه او بیان کړي او یوازې د واقعیتونو پر بنسټ تعبیر او قضاوت وکړي. کاکړ وایي چې تاریخ پوه هغه څوک دی چې تاریخ په کره شېوه سره داسې بیان کړي چې یوازې په واقعیتونو ولاړ وي.

د تاریخ موضوع انسان دی او انسان په بیلو بیلو دورو کې تر بیلو فشارونو لاندې ژوند کوي او تاریخ یې هم ورسره بدلون کوي. نو تاریخ په اصل کې بدلون او پرمختګ دی.

کاکړ د تاریخ پوه هربر فیلد د نظر له مخې وایي چې د تاریخ سرچینه اول د خدایانو او د اتلانو کیسې دي چې د یوه پښت نه بل ته سینه په سینه وړل شوي او د لېږد په بهیر کې یې د افسانې د دود بڼه نیولې ده. هربر فیلډ لیکي: «تاریخ ته ډېر نږدې څیز ممکن هغه عنعنې وي چې په دربارونو او په واکمنو کرېو کې او په هر حال په واکمنو او اشرافي کورنیو کې انتقال کوي.»۵ د همدغه انتقال په بهیر کې خلکو ته د تېرو زمانو فکر پیدا شو او هغه وروسته د لیک په پیداښت سره تثبیت او عمومي شو.

عمومي عقیده ده چې یونانیان لومړني خلک وو چې له پېښو سره یې علمي سلوک وکړ او په دې وپوهېدل چې پېښې یا واقعیتونه باید د څېړنې اصلي موضوع وي. کاکړ لیکي: «د دغه فکر مخکښ تر څه حده د تاریخ پلار هېرودت او تر ډېره حده تاسیدایدز (Thucydides) و چې لومړني د تاریخ په نامه او وروستي د پولي پونیز جنګ په نامه اثر سره دغه فکر تثبیت کړ».۶

په لوېدیځې اروپا کې د اتلسمې پېړۍ په پای او د نولسمې پېړۍ په بهیر کې تاریخي څېړنه کره او دقیقه شوه او انتقادي تاریخ لیکنه واقعي شوه. د دغې تاریخ لیکنې د ښوونځي مخکښ جرمني تاریخ پوه لیوپولد فان رانکې (Leopold Fan Ranke) و. د رانکې په نظر «تاریخ پوه ته حتمي ده چې پېښو ته په دغسې حال کې نظر وکړي چې ځان یې د له موجودو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعصبونو نه پوره ازاد کړی او د تېرې زمانې پېښې هغسې بیان کړي چې په واقع کې پېښې شوې وي.»۷

د دغسې تاریخ لیکنې له پاره هغې سیانسي شېوې لاره پرانېسته چې د ۱۵۵۰ نه تر ۱۷۰۰ پورې نامتو سیانس پوهانو لکه ن. کوپرنیک، و. ګلبرګ، ج. کپلر، ګ. ګالیلې، ر. دیکارت، ا. نیوټن او نورو ایستلې او د بشریت د فکري ودې له پاره یې ډېره مرسته وکړه..په پای کې فرد د رنسانس او ریفارمېشن یا مذهبي سمونونو له برکته د عقیدې ازادي تر لاسه کړه او دولت د دین نه جلا شو، فرد د دغسې انتقادي او تجربوي شېوې څښتن شو چې د رښتیا موندلو ډېره ښه لار ګڼل کیږي. د دغو ټولو پرمختګونو له برکته فرد اوس په لوېدیځې نړۍ کې یوازې د قانون تابع دی او په نورو ساحو کې له هر ډول بندیز نه ازاد دی. په اصل کې د همدغې ازادۍ له برکته ده چې لوېدیځوال په حیرانوونکي ډول پرمخ تللي او تاریخ یې وده کړې ده.

خو تاریخ په اسلامي هېوادونو کې چې افغانستان یې یوه برخه ده د لوېدیځ غوندې پرمختګ نه دی کړی. د کاکړ په اند لامل یې «شاید دا وي چې فرد دلته تر بندیزونو لاندې ژوند کوي چې یو یې دیني بندیز دی او هغه پر فرد باندې ژوره اغېزه لرلې ده.»۸ دی وایي چې د دې اغېزې دلیلونه دوه دي:

یو خو دا چې عربانو د اسلام نه د مخه تاریخي شعور نه درلود، که څه هم د نسبي شجرو رواج یې ټینګ و دوهم دا چې په اسلامي دوره کې د تاریخ پوه دنده د قران مجید او د حضرت محمد ص د حدیثو مطالعه شوه او د حدیثو د تصنیف او ټولولو طریقو د قال قال یاني روایتي لړۍ له مخې په کې رواج ومونده. په دې ډول په دوی کې تاریخ لیکنه د اسلامي دورې د پیل سره د دین په چوکاټ کې محدوده شوه او دغه محدودیت دوام وکړ ځکه چې اسلام هم دین او هم دولت وګڼل شو.

په نهمې پېړۍ کې د عربو لومړي تاریخ پوه محمد بن جریر الطبري خپل اثار په همدغې شېوې ولیکل او په ځانګړې ډول د «الرسول والملوک» په نوم د هغه عمومي تاریخ او په قران مجید باندې تبصرې یې د پېړیو پېړیو له پاره سرمشق وګرځېدې.

په څورلسمې پېړۍ کې ابن خلدون د طبري په لار روان شو. دی که څه هم تر تاریخ پوه نه زیات د تاریخ فیلسوف و چې په خپل لوی اثر «مقدمه» کې یې د ټولنې او مدنیت په اړه نوي او ژور بصیرتونه وړاندې کړي دي. په دغه اثر کې هغه عرب د مدنیت دښمنان وګڼل. هغه لیکي چې عربان «یو بدوي ملت دی او له بدوي توب او له هغو څیزونو سره چې د دغو څیزونو مسبب کیږي، پوره روږدي شوي دي. بدوي توب د دوی ځانګړتیا او

(c) ketabton.com: The Digital Library



طبعیت ګرځېدلی دی. دوی ترې نه خوند اخلي ځکه چې مانا یې د واک له مقام نه خپلواکي او مشري ته غاړه نه ایښودل دي. دغسې میلان د مدنیت منافي او د هغه پر ضد دی.»۹

کاکړ د دې له پاره چې افغان تاریخ پوهان د تاریخ لیکنې د میتود سره ښه بلد او د هغه نه په تاریخ لیکنه کې ښه ګټه پورته کړي نو د اي. ایچ. کار اثر چې «تاریخ څه ته وایي؟» نومیږي په پښتو وژباړه چې د کابل پوهنتون له خوا په ۱۹۷۰ کال کې خپور شو. کاکړ د دغه اثر په ژباړې سره خپلو هېواد والو ته لوی خدمت وکړ او هم یې د پښتو په علمي کولو کې مهم ګام واخېست. اوس به د دغه مهم اثر اساسي ټکي لوستونکو ته وړاندې کړم.

دا کتاب په اصل کې د اي. ایچ.کار پنځه لېکچرونه دي چې کاکړ ژباړلي او هم یې سریزه ورباندې کښلې ده. زه به لومړی د کاکړ د سریزې او ورپسې به د ښاغلي کار د پنځو لېکچرونو مهم ټکي په ګوته کړم.

کاکړ په خپله سریزه کې وایي چې د هرې ټولنې که تېره وي که اوسنۍ وي د سمې پېژندنې له پاره د پلټنې د ځانګړو شېوو پر بنسټ ژوره او پرله پسې مطالعه اړینه ده. لیکوال باید د خپلې لیکنې د موضوع په اړه فلسفي نظر ولري. چېرته چې د نظریاتو د ظهور له پاره کوښښ کیږي هلته نظر او علم ښه پرمخ ځي. د متضادو او بیلو بیلو افکارو له ټکر نه نوي څه راوزي او وړاندې تګ دوام کوي. په اروپا کې په عمومي توګه او په انګلستان کې په ځانګړې توګه د تاریخ د ماهیت او فلسفې په اړه پرمختګ شوی دی.

کار وایي چې د ټولنې او فرد وده اوډه پر اوډه وړاندې ځي او یو پر بل اغېز کوي. دی د همدغه فکر په اساس د فرد په ډینامیزم او نوښتي او اخلاقي ارادې باور لري او په دې اړه د مارکس دغه نظر تاییدوي چې وایي «تاریخ هېڅ نه کوي، هغه زیاته شتمني په تصرف کې نه لري، هېڅ جنګونه نه کوي. دغه انسان، حقیقي ژوندی انسان دی چې هر څه کوي، تملک کوي او جنګونه کوي.»۱۰ خو دغه «حقیقي ژوندی انسان» په خپله د ټولنې زیږنده او په ټولنه کې داخل دی.

کاکړ په خپلې سریزې کې د پوهاند کار د جبر او ترقۍ په مفکورې رڼا اچولې او وایي چې د چانس او جبر په اړه دوه ټکي مهم ښکاري. لومړی دا چې ټولنیزې پېښې ولې پېښیږي؟ یا په نورو ټکو انسان په خپلو کړو کې څومره او څنګه ازادي لري؟ دا پوښتنه یوازې د تاریخ په فلسفې اړه نه لري بلکې د ټول انساني کردار سوال دی او د فلسفې مهمه موضوع جوړوي. پوهاند کار یوازې تر هغې اندازې د جبر په عقیدې دی چې وایي «... هر هغه څه چې پېښیږي علت یا علتونه لري او په بل ډول به پېښ شوي نه وای تر څو چې یې په علت یا علتونو کې یو بل څه پېښ شوي نه وای.»۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهم ټکی په تاریخ پورې اړه لري هغه دا چې مورږ د تاریخ نه څنګه خبرېږو؟ څنګه چې د تاریخي حقایقو ثبتول او د هغو تعبیر کول مورږ ته د تېر (ماضي) طرح او د حرکت لورې راښيي له دې امله ثبتونکی او تاریخپوه د تېر په معرفي کولو کې اساسي اهمیت لري. کاکړ وايي چې په دې کې شک نه شته چې د تېر وخت (ماضي) په اړه ټول تاریخي حقایق لاس ته راتلی نه شي او هغه څه چې لاس ته راتلی شي د ځانګړي نظر په رڼا کې ثبت شوي دي یاني عندي دي او عیني نه دي.

کاکړ زیاتوي چې دغه محدودیت په تاریخ کې هر وخت لیدل کیږي. خو د پورته پوښتنې ځواب د دغه سوال په ځواب کې موندل کېدای شي چې په دغسې حال کې د مورخ دنده څه ده؟ مورخ د حقایقو د تعبیر او توجیه نه وړاندې دا دنده لري چې د تاریخ لیکنې د عصري میتود په رڼا کې هغه سوري ډکې کړي چې د نیمګړو او محدودو حقایقو له امله پیدا شوي دي او دغه کار د نورو ټولنیزو علومو په مرسته وکړي. په دغه حساب یو مورخ باید:

۱- د تاریخ لیکنې یو منظم او کره شېوه او میتود تعقیب کړي.

۲- د تاریخ د ماهیت او فلسفې په اړه د یوه منسجم او منطقي نظر خاوند وي.

۳- د نورو بشري او ان تر څه اندازې د ساینسي علومو په اړه لږ تر لږه عمومي مالومات ولري.

۴- ذهین او نوښتي وي او د پایلو ایستلو پوره ځواک ولري.

پوهاند کاکړ د ترقۍ په عقیدې ټینګ ولاړ دی. دی په دنیایي او انساني چارو کې د عقل د پرله پسې او پراخېدونکي رول په اړه خوشبین دی او د نورو پام هم ورته اړوي. دا یو ستر او بېجوړې بدلون دی چې په دوو لورو یاني د ژورتوب او افق په لور روان دی. د ژورتوب په لور د تحول ممثل مفکران هیګل، مارکس او فروید دي چې هر یوه یې د عقل برخه ډېره کړې ده. انسان اوس زیار باسي چې د لومړي ځل له پاره هر څه، خپل کړه او ټولنه د عقل په رڼا کې په شعوري ډول له سره تنظیم کړي.

افقي بدلون د نړۍ مخ اوښتې بنه ده. مانا یې د ختیځ په لور د تمدن وړل دي. په ختیځ کې د بشر ډېر ګڼ ولسونه پراته دي چې د لوېدیځ تخنیک او ساینس په برکت د لومړي ځل له پاره په پراخه کچه په تفکر او سوچ کولو پیل کوي، سیاسي شعور په کې پیدا او پیاوړی کیږي، په تاریخ کې ننوزي او د نړۍ مخ اړوي. پوهاند کاکړ دغه انتقال د ودې په لور ترقي او پرمختګ ګڼي.

کاکړ هیله لري چې د دې کتاب په ژباړې سره به مرسته وکړي چې افغان تاریخ لیکونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاريخي نظريات د نورو مفهومونو په جمله کې طرح او تعميم کړي او دا واضحه کړي چې هغه يوازې په تتبع او د ځانګړو او مستندو حقايقو په بنا په استقرايي ډول قايم کړي. اوس به د پوهاند کار د پنځو لکچرونو مهم ټکي وړاندې شي.

## اي. ايچ. کار (E. H. Carr) «تاريخ څه ته و ايي؟»

د دې کتاب لومړی موضوع «مورخ او د هغه حقايق» نوميږي. زه دلته يوازې د يو څو تاريخ پوهانو نظرونو په ځرګندولو بسنه کوم چې ما ته مهم مالوم شول. پوهاند کار وايي چې تاسې لومړی تاريخ پوه مطالعه کړی او بيا حقايق مطالعه کړی. تاريخ د تعبير مفهوم لري. پوهاند بره کلف (Barraclough) وايي «که ښه ځير شو، هغه تاريخ چې موږ يې لولو، که څه هم په حقايقو مستند دی، حقيقي نه دی، بلکې د منل شويو قضاوتونو يو لړ دی.»۱۲ د ايټالوي تاريخ پوه کروسې (B. Croce) په عقيده ټول تاريخ «معاصر تاريخ» دی. مانا يې دا چې تاريخ په خپل اساس کې د اوس په سترګو او د اوسنيو مسايلو په رڼا کې د تېرې زمانې د ليکلو نه جوړ دی. د تاريخپوه دنده دا نه ده چې ثبت وکړي، بلکې ارزيابي يې وکړي، ځکه چې که دی ارزيابي ونه کړي، موږ به څنګه پوه شو چې څه شيان د ثبتولو وړ دي.۱۳

کالينګ ووډ (Colling Wood) ليکي چې ټول تاريخ د فکر تاريخ دی او «تاريخ د مورخ په ذهن کې د هغه فکر بيا ژوندي کول دي د کوم تاريخ چې دی لولي.»۱۴ د بيا تشکيلولو عمليه د حقايقو په غوره کولو او توجيه کولو کې اغېزمنه ده. په حقيقت کې همدغه عمليه ده چې له هغوی نه تاريخي حقايق جوړوي.

بل ټکی دا دی چې د تاريخ ليکل تر هغه شوني نه دي چې تر څو تاريخپوه د هغو خلکو له ذهن سره چې د هغه په اړه ليکل کوي يو ډول تماس پيدا نه کړي.

دريم ټکی دا دی چې موږ تېره زمانه د اوس په سترګه ليدلې او د هغې په اړه خپل پوهاوي ته پرې رسېدای شو. تاريخپوه په تېره زمانه پورې نه، بلکې په اوس پورې اړه لري. تاريخپوه بايد تېره زمانه د اوس د پېژندلو له پاره د يوې کيلي په حيث وپېژني او حاکميت پرې وکړي.

په پای کې اي. ايچ. کار وايي چې تاريخ د تاريخپوه او د هغه د حقايقو تر منځ د دوه اړخيز اغېز يوه پرله پسې عمليه او د اوس او تېرې زمانې تر منځ يوه نه تمامېدونکې مکلمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ټولنه او فرد

د اي ایچ کار بل لیکچر ټولنه او فرد جوړوي. کار وایي چې ټولنه او فرد سره نه بیلیدونکي دي یو بل ته اړین او یو بل بشپړوي. دا چې موږ وزیږو چار چاپیره نړۍ په موږ عملیه پیل کوي. د بیالوژیکي واحدونو نه مو په ټولنیزو واحدونو اړوي. هغه ژبه چې په کومه دی ګړیږي فردي میراث نه، بلکې د هغې ډلې نه چې دی په کې ژوند کوي، یو ټولنیز اکتساب دی. ژبه او چاپیریال دواړه د هغه د سجیې او فکر په ټاکلو کې رول لري. لومړني نظریات یې له نورو اخیستل کیږي. فرد به د ټولنې پرته نه ژبه او نه فکر ولري. د فرد او ټولنې وده لاس په لاس پرمخ ځي او یو پر بل اغیز کوي.

متمدن انسان هم د لومړني انسان غوندې د ټولنې له خوا هغومره په اغیزمن ډول بڼه او صورت غوره کوي لکه څومره چې ټولنه د هغه له خوا بڼه او صورت غوره کوي.

کار (Carr) وایي چې د فرد د لمانځنې ایین د رنسانس نه پیل شوی دی. وروسته دغه ایین د پانګوالۍ د اصل او د پروتیستانت د ظهور او د صنعتي انقلاب د پیل او د لیسه فر یا ازاد مارکیټ له نظریاتو سره تړاو ومونډ. د انسان او مدني افرادو حقونه چې د فرانسې انقلاب اعلام کړل د فرد حقوق وو. د فردي لمانځلو اصل د اولسمې پیړۍ د سترې فلسفې باني د ګټې د فلسفې د اصل بنسټ و.

مورلي (J. Morley) د فردیت اصل او د ګټې اصل د «انسان د نیکمرغۍ او سوکالۍ مذهب» وباله. د کار په نظر زیاتیدونکی فردي کیدل چې د معاصرې نړۍ له ظهور سره ملګری و د مدنیت په بیلو بیلو مرحلو کې یوه طبیعي عملیه وه. ټولنیز انقلاب نوې ټولنیزې ډلې د ځواک ډګرونو ته هسکې کړې. دغه انقلاب د تل په شان د افرادو په وسیله او د فردي ودې په لور د نویو دریځونو په موندلو سره کار وکړ او څنګه چې د سرمایه داري د اصل په لومړیو پوړونو کې د تولید او وېش واحدونه په زیاتې اندازې د واحدو افرادو په لاس کې وو، په ټولنیز نظم کې د نوي ټولنیز نظم ایډیالوژي په فردي نوښت ډیر زور واچوه. خو دا ټوله عملیه یوه ټولنیزه عملیه وه چې په تاریخي ودې کې یې یوه ځانګړې مرحله ښووله. دا مرحله د ټولنې په وړاندې د افرادو په پاڅون یا د ټولنیزو بندیزونو نه د فرد په ازادۍ تعبیریدلی شي.

هغه ایډیالوژي چې دغې ګټورې دورې زیږولې ده تر اوسه هم په لویدیځې اروپا او انګریزي ویونکو هیوادو کې یو برلاسی ځواک دی. کله چې موږ د ازادۍ او برابرۍ یا د فردي ازادۍ او ټولنیزې برابرۍ تر منځ خړپړتیاوې وینو دا له یاده باسو چې مجرد افکار په خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځ کې سره جګړه نه کوي، دا د افرادو او ټولنې تر منځ جګړه نه ده، بلکې د ټولنې د افرادو او ډلو تر منځ جګړه ده، داسې چې هره ډله زیار باسي هغه ټولنیز سیاستونه پرمخ یوسي چې په ګټه یې وي او هغسې ټولنیز سیاستونه شنډ کړي چې په تاوان یې وي. اوس به وګورو چې تاریخپوهان څومره شخصي افراد او څومره د ټولنې محصول دي؟

د کار په نظر تاریخپوه یو فردي انسان دی. د نورو افرادو غوندې دی هم یوه ټولنیزه پېښه ده. دی هم د هغې ټولنې چې ورپورې اړه لري محصول دی، هم د هغې شعوري یا غیرشعوريویاند دی. دی په همدې حیث سره د تاریخ د تېر وخت حقایقو ته وړاندې کیږي او څېړي یې. تاریخپوه د یوه فرد په حیث په ټولنه کې یون کوي. څنګه چې ټولنه په مخ درومي او ورسره ورسره مورخ حرکت کوي، د لید نوي کنجونه پرله پسې راښکاره کیږي. مورخ د تاریخ یوه برخه ده د ټولنې هغه برخه چې دی په کې ځان مومي، د تېر وخت په اړه د ده د لید زاویه ټاکي.

دا ښکاره حقیقت د هغه عصر په اړه هم پوره رښتینی دی چې مورخ یې څېړي او د ده د خپل عصر څخه لیرې دی. ستر تاریخ هغه وخت لیکل کیږي چې د تېرې زمانې په اړه د تاریخپوه لید او خیال د حاضرو مسلو په لیدونو سره روڼ شي.

اي. ایچ. کار غواړي چې وښیي چې د یوه تاریخپوه اثر د هغې ټولنې چې دی په کې ژوند کوي څومره نږدې انعکاس کوي. یوازې پېښې په پرله پسې توګه بدلون نه کوي، بلکې په خپله مورخ هم په بدلون کې دی. یو مورخ د خپلې ټولنې محصول دی. پخوا له دې چې د مورخ کتاب مطالعه کړی، د هغه ټولنیز او د تاریخ چاپېریال وڅېړئ په دې چې مورخ هم د یوه فرد په حیث د تاریخ او ټولنې محصول دی. د تاریخ زده کړیال باید دا زده کړي چې مورخ په دغه دوه اړخېزه رڼا کې وپېژني.

وېچووډ (C. r. Wedg wood) لیکي «ما ته د افرادو په حیث د انسانانو سلوک نظر د ډلو او طبقاتو سلوک ته ډېر په زړه پورې دی. دا یو کوښښ دی چې څرګنده شي چې دغو کسانو څنګه احساس وکړ او ولې یې په خپل اټکل سره هغسې وکړه لکه څنګه یې چې وکړه.»۱۵

وېچووډ دوې فرضیې سره یوځای کوي. لومړۍ فرضیه دا ده چې د افرادو په حیث د انسانانو چلند د هغه چلند سره چې یې د ډلو او طبقاتو په حیث کوي، سره بیل دي او مورخ ته اجازه ده چې په خپلې خوښې سره یوه غوره کړي. دوهمه فرضیه دا ده چې د افرادو په حیث د انسانانو د سلوک څېړنه د دوی د کړو د شعوري محرکاتو له مطالعې نه جوړه ده. نهضتونه د لړه کیو له لوري پیل کیږي، ټول اغېزمن غورځنګونه یو څو مشران

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ډېر پیروان لري. خو دا دا مانا نه لري چې ډېروالی د هغو د بریالیتوب له پاره اساسي نه دی. عددونه په تاریخ کې اهمیت لري.

د تاریخ حقیقتونه په واقعیت کې د افرادو په اړه حقیقتونه دي. خو دا حقیقتونه د افرادو د هغو کړو په اړه نه دي چې په مجرد ډول سره اجرا شوي وي، داسې هم دا حقیقتونه د هغو محرکاتو –حقیقي وي یا خیالي په اړه نه دي چې افراد خیال کوي، چې ګواکې دوی دا کړنه د هغو له مخې کړې ده. دا حقیقتونه د افرادو د مناسباتو په اړه دي، چې دوی یې په ټولنه کې یو د بله سره لري او همدا راز د هغو ټولنیزو ځواکونو په اړه دي، چې دوی یې په ټولنه کې چې د افرادو له کړو څخه پایلې راوباسي کوم چې زیاتره یې له هغو پایلو څخه مختلف او یا کله کله د هغو په ضد وي، چې افرادو یې ورته نیت کړی وي.

داسې ټولنه نه شته چې ګرد سره متجانسه وي، هره ټولنه د ټولنیزو مخالفتونو یوه صحنه ده او هغه افراد چې د موجودې واکمنۍ په وړاندې پاڅون کوي، هغومره د هغې ټولنې مخالفان دي، لکه څومره چې پلویان یې دي. ستر کسان په تاریخ کې خپل رول د خپلو ډېرو پلویانو مرهون ګڼي. ستر کس تل یا د موجودو ځواکونو نماینده وي او یا د هغو ځواکونو نماینده وي چې د واکمن قوت په ضد له جوړېدو سره مرسته کوي. کرومول او لینن د نویو ځواکونو د تشکیل سره مرسته وکړه او همدغو قوتونو دوی سترتوب ته ورسول. کار وایي چې «موږ په ستر کس کې دغسې یو وتلی کس پېژنو چې هغه هم د تاریخي عملیې محصول او نماینده وي او هم د ټولنیزو قوتونو ممثل او جوړونکی وي کوم چې د نړۍ بڼې او د انسانانو فکر ته بدلون ورکوي.»۱۶ دی زیاتوي چې په دې ډول تاریخ د کلیمې په دواړو مفهومونو سره یانې هغه پلټنه چې د تاریخپوه له خوا کیږي او د تېرې زمانې هغه حقیقتونه چې دی په کې پلټنه کوي یوه ټولنیزه عملیه ده داسې عملیه چې په هغې کې افراد د ټولنیزو موجوداتو په حیث شامل وي. د مورخ او د هغه د حقیقتونو تر منځ د دوه اړخیز عمل متقابله عملیه کومه چې هغه د تېرې زمانې او اوس تر منځ مکالمه بللې وه د ننۍ او پرونۍ ټولنې تر منځ مکالمه ده. خو د ګوښه شویو افرادو تر منځ مکلمه نه ده. تاریخ د هغه څه ثبت کوي چې یو عصر یې په بل عصر کې د ثبت کولو لایق مومي. تېره زمانه یوازې د اوس په رڼا کې د پوهېدلو وړ ده او موږ یوازې د تېر وخت په رڼا کې په اوس پوره پوهېدلی شو. دا د تاریخ هغه دوه اړخېزه دنده ده چې انسان په دې قادروي چې تېر وخت وپېژني او په اوسنۍ ټولنې کې خپل ځواک زیات کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تاريخ، ساينس او اخلاق

د کار بل لېکچر « تاريخ، ساينس او اخلاق » نوميږي. کار وايي چې ډارويني انقلاب په ساينس کې تکامل، په تاريخ کې ترقي تاييده او بشپړه کړله. سره له دې داسې پېښې نه شول چې د تاريخي ميتود استقرايي نظريه واړوي ياني دا چې لومړی خپل حقيقتونه راغونډ کړي، بيا يې توجيه کړي.

د اتلسمې پېړۍ په پای کې ساينس هم د نړۍ، د انسان د پوهې او هم د هغه د طبيعي ځانګړتياوو د پوهې په اړه په ډېر برياليتوب سره مرستې کړې وې، دا پوښتنې پيل شوې چې ايا ساينس د ټولنې په اړه هم د هغه پوهه زياته کړې ده او که نه؟ د ټولنيزو علومو مفهوم چې په هغو کې تاريخ هم شامل و، د نولسمې پېړۍ په دوران کې ورو ورو وده وکړه او هغه ميتود چې په هغه سره ساينس د طبعيت نړۍ څېړله د بشري چارو د څېړلو له پاره هم په کار ولوېد.

د دغه عصر په لومړۍ برخې کې د نيوټن د قانون له مخې ټولنه د طبعيت د نړۍ په څېر د يوه مېکانيزم په څېر وګڼله شوه. د ډاروين د انقلاب وروسته ټولنپوهانو ټولنه د يوه عضويت په څېر ګڼله. تاريخ د تحول او ودې له عملېې سره علاقه من شو. سوسيالوژي هم بايد د تاريخ په شان د خاص او عمومي له مناسباتو سره سروکار ولري.

اوسني فزيک پوهان موږ ته وايي چې هغه څه چې دوی يې پلټي حقيقتونه نه دي، بلکې پېښې دي. په اتلسمې او نولسمې پېړۍ کې پوهانو داسې ګڼله چې د طبعيت قوانين: د نيوټن د حرکت قوانين، د جاذبې قانون، د تکامل قانون او نور لوڅ شوي او په غوڅ ډول تثبيت شوي دي. د يوه ساينسپوه دنده دا ده چې د استقرا په عملېې سره له مشاهده شويو حقيقتونو څخه داسې قانونونه لوڅ او تثبيت کړي. ټولنپوهانو هم په شعوري يا غير شعوري ډول هڅه کوله چې خپلو څېړنو ته د ساينس حيثيت ورکړي. د سياسي اقتصاد په ډګر کې د ګرېشم (Gresham) په قانون او د بازار په اړه د ادم سميت په قوانينو سره تر نورو ړومبي وو.

هنري پوانکره (Henri Poincare) فرانسوي رياضي پوه تيزس دا و چې عمومي قضيې چې ساينسپوهانو ايستلې دي فرضيې دي او هغه په دې غرض طرحه شوې دي چې تفکر نور هم پسې قطعي او متشکل کړي او په خپله د بدلون، پلټنې او ترديد تابع دي.

په دورو د تاريخ وېشل، کوم حقيقت نه دی، بلکې يوه اړينه فرضيه يا د فکر اله ده، او تر هغو د اعتبار وړ وي چې روښول کوي او د خپل اعتبار دپاره په بدلون ډېره لګوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاريخ په تعميماتو وده کوي. هغه څه چې مورخ د تاريخي حقيقتونو له ټولونکي نه بيلوي، هغه تعميم دی. تاريخ د بېجوړې او عمومي تر منځ له مناسباتو سره سروکار لري.

د تعميم بله مسله دا ده چې موږ په هغې سره زيار باسو د تاريخ نه زده کړه وکړو او د يو لړ پېښو نه اخېستل شوی درس او عبرت په نورو پېښو پلی کړو. د تېر وخت په رڼا کې د اوس په اړه زده کول د دې مانا لري چې د اوس په رڼا کې د تېر وخت په اړه هم زده کړه کيږي. د تاريخ دنده دا ده چې د تېر او اوس په اړه ژور پوهاوی د هغوی د يو تر بله د مناسباتو له لارې پراخ او ډېر کړي.

دريم ټکی په تاريخ کې د وړاندوينې رول دی. کانت وايي چې د ساينس دنده وړاندوينه ده او د وړاندوينې دنده عمل دی. تاريخپوه اړ وي چې تعميم وکړي او د تعميم په کولو سره د راتلونکي عمل دپاره عمومي لارښوونې تيارې کړي چې سمې او ګټورې وي.

څلورم ټکی دا دی چې د ټولنيزو علومو او ساينسي علومو تر منځ د بيلتون د کرښې ايستل دي. په ټولنيزو علومو کې فاعل او موضوع دواړه د يوه ډول څخه دي او يو پر بل متقابل اغېز لري. ټولنيز علوم په دې قانع نه دي چې يوازې د طبيعي علومو غوندې خپل طبيعي جوړښت او غبرګونونه وڅېړي، بلکې د انساني کړو په دغسې بڼو کې ننوزي چېرته چې د ده اراده فعاله ده او دا مالومه کړي چې انسانان چې د ده د څېړنې موضوع ده ولې د دغسې عمل کولو له پاره اراده کوي، لکه څنګه يې چې کوي. د مشاهد او هغه چا تر منځ چې تر مشاهدې لاندې نيول کيږي دغسې يو نسبت تاسيس کوي چې يوازې تاريخ او ټولنيزو علومو ته ځانګړی وي. تاريخ ټول په نسبيت سره کښل کيږي. کار وايي چې «هغه کسان چې د تاريخ د شرح کولو په بهانه د قاضيانو په حيث ننداره جوړوي، دلته محکومول کوي او هلته تبريه کول کوي او دا په دې دليل چې د دوی په فکر دا د تاريخ دفتر دی.... دوی په عمومي او کلي ډول له تاريخي مفهوم نه بې بهرې دي.»١٧ دی زياتوي چې روسان، انګرېزان او امريکايان په ستالين، چمبرلين، يا مکارتي باندې د شخصي حملو په کولو سره غواړي چې په خپلو ډله ييزو بدو پرده وغوړوي.

تاريخ يو يون دی او يون پرتله کول غواړي. همدغه علت دی چې تاريخپوهان هڅه کوي چې خپل اخلاقي قضاوتونه په مقايسوي الفاظو کې لکه ښه او بد، مترقي او ارتجاعي، بيان کړي. جدي مورخ هغه څوک دی چې د ټولو ارزښتونو تاريخي ځانګړتياوې پېژني. هغه عقيدې چې موږ يې پيروي کوو او د قضاوت هغه معيارونه چې موږ يې طرح کوو، د تاريخ يوه برخه ده. هغه هغومره د تاريخي پلټنې تابع دی، څومره چې د بشري چلند هر اړخ د پلټنې تابع دی. تاريخپوه د بل هر ساينسپوه غوندې پرله پسې پوښتې چې ولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په تاریخ کې علت میندنه

د تاریخ مطالعه د علتونو مطالعه ده. ستر متفکر هغه څوک دی چې د نویو شیانو او قرینو په اړه د «ولې؟» پوښتنه کوي.

هرودت د تاریخ پلار د خپل اثر په سریزې کې خپل مقصد داسې بیان کړ چې هغه د یونانیانو او بربریانو تر منځ د یادونو ساتل، «او په تېره بیا د هر بل شي برسېره، د دوی یو تر بله جنګ کولو د علتونو ښوول دي.»۱۸ په اتلسمې پېړۍ کې مونتېسکو په خپل اثر «د رومانیانو د سترتوب علتونه او د هغوی د ظهور او انحطاط په اړه فکرونه» کې وايي «عمومي علتونه اخلاقي یا فزیکي موجود وي چې په هرې پاچایي کې عمل کوي، هسکوي یې، ساتي یې او ړنګوي یې» یا دا چې «هر څه چې پېښېږي د همدغو علتونو تابع دي.»۱۹ دوه سوه کاله کېږي چې مورخان، د تاریخ فیلوسوفان په دې بوخت دي چې د بشر د تېر مهال تجربې تنظیم کړي او دا کار د هغو تاریخي پېښو د علتونو او قوانینو په موندلو سره سرته رسوي چې دغه پېښې اداره کوي. علتونه او قوانین کله په میخانیکي، کله په میتافزیکي، کله په اقتصادي، کله په اروايي نومونو یاد شوي خو دا منلې شوې نظریه ده چې تاریخ د تېر وخت د پېښو د علت او معلول په یوه منظم لړ او تسلسل کې ترتیبول و.

د تاریخ پوه د میتود لومړۍ ځانګړتیا دا ده چې دی شاید همغې یوې پېښې ته په ګډه څو علتونه منسوب کړي. د تاریخ پوه د میتود دوهمه ځانګړتیا دا ده چې کله حقیقي تاریخپوه د خپل تالیف د علتونو د لست سره مخامخ شي اړ کېږي چې په علتونو کې نظم پیدا کړي، د علتونو سلسله مراتب تثبیت کړي، شونې ده چې دا پرېکړه وکړي چې کوم علت د علتونو علت وګڼل شي.

تاریخپوه د دې دپاره چې په تېر مهال پوه شي، په همغه وخت کې د ساینسپوه په شان اړ دی چې د ځوابونو زیات شمېر ساده کړي، یو ځواب د بل ځواب تابع وګرځوي او د پېښو د ځانګړو علتونو په ګډوډۍ کې نظم او اتحاد راولي.

## په تاریخ کې جبر او تصادف:

سر ایسیا برلین (Sir Isaih Berlin) وايي «د مارکس او هیګل «هیستوریزم» په دې د اعتراض وړ دی چې په علتي میتود سره د انساني کړنو شرح کول د انسان د ازادې ارادې د انکار مفهوم لري.»۲۰ جبر- هر څه چې واقع کېږي علت لري او په بل ډول به پېښ شوي نه وای چې تر څو یې په علت یا علتونو کې کوم شي بدلون نه وای موندلی. دا قاعده چې هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



شی یو علت لري، زموږ د وړتیا هغه شرط دی چې په هغه سره په هغو شیانو پوهېږو چې زموږ په چاپېر کې پېښېږي. یو وخت خلکو دا کفر ګڼله چې د طبیعي پېښو په علتونو کې پلټنې وکړي او د هغو اداره یې په ښکاره د اسماني ارادې په واک کې ګڼله. خو کړنې د انسانانو د ارادې زېږنده دي. علت او اخلاقي مسؤلیت بیل ډولونه دي.

د نیوکې هغه بله سرچینه هغه تیوري ده چې وایي تاریخ په عمومي ډول د پېښو یو لړ دی چې ناڅاپي (تصادفي) پېښو ټاکلی دی او یوازې ډېرو ناڅاپي علتونو ته منسوب کېدلی شي. مونتسکو وایي «که د یوې جګړې د تصادفي پایلې په څېر، یو دولت یوه ځانګړي علت تباه کړی وي هلته به یو عمومي علت موجود وي چې د دې سبب شوی دی چې دغه دولت دې په یوې جګړې کې نسکور شي.»۲۱

په ړومبي پړاو کې مو ولیدل چې تاریخ د مورخ له خوا د حقیقتونو په غوره کولو او ترتیبولو سره پیل کېږي تر څو چې په تاریخي حقیقتونو بدل شي. د مورخ په شېوه کې د علتونو د میندلو دپاره یو راز ورته عملیه کار کوي. علتونه د تاریخپوه د تاریخي عملې توجیې ټاکي او د هغه توجیه د هغه د علتونو انتخاب او ترکیب معینوي. د علتونو سلسله مراتب، د یوه یا بل یا یوه درجن علتونو نسبي اهمیت د مورخ د توجیې او تعبیر شېره او جوهر تشکیلوي او دا په تاریخ کې د تصادف د مسلې له پاره یو کیلي برابروي. د لینن مړینه هغه تصادف و چې د تاریخ جریان یې واړاوه. له تصادفي پېښو څخه تعمیم جوړېدلی نه شي. څنګه چې دوی بې جوړې او ځانګړي دي له هغوی څخه عبرتونه او درسونه اخېستل کېدای نه شي او پایلې هم ترې ایستل کېدای نه شي. تعبیر په تاریخ کې تل د ارزښت له قضاوتونو سره تړلی دی او علیت له تعبیر سره تړلی دی. څنګه چې تېره او اوس زمانه د وخت د اوږدوالي یوه ټاکلې برخه جوړوي، د تېرې او راتلونکې زمانې په اړه علایق او تړاو یو د بل سره تړلي دي. تاریخ د دودونو په نقل کولو سره پیل کېږي او دودونه له تېرې زمانې نه راتلونکې ته د عادتونو او درسونو د انتقال مانا لري. د تېر وخت پېښې د راتلونکو نسلونو د فایدې دپاره خوندي کېږي. هالنډي تاریخ پوه هوزینګا (Huizinga) وایي «تاریخي تفکر تل غایي وي.» ۲۲

## تاریخ د ترقۍ په حیث

مورخ د ولې؟ د پوښتنې نه برسېره تل دا پوښتنه هم کوي په کوم لور! کار وایي «تصوف زما په فکر هغه نظر ته وایه شي چې د تاریخ مفهوم د ټولنې نه چېرته بهر ... د الهیاتو یا د اخرت په قلمروونو کې لټوي.»۲۳ د شکاکیت د فلسفې په نظر تاریخ هېڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مفهوم نه لري، یا سم او ناسم مفهومونه په برابر ډول لري. یا دغسې مفهوم لري چې موږ یې په خپل واک او اختیار ورته ټاکو.

کار وایي چې د اسیا د پخوانیو دولتونو په څېر، د یونان او روم مدنیت اساساً غېر تاریخي و. هېرودت د تاریخ پلار یوازې یو څو پیروان درلودل. پخواني لیکوالان د تېرې او راتلونکې دوارو په اړه لږ علاقه من وو. تاسیدایدز په دغې عقیدې و، چې پخوا له هغو پېښو څخه چې ده بیان کړلې، هېڅ مهم شی پېښ شوی نه وو، او د دې شونتیا نه شته چې هېڅ مهمه پېښه دې وشي. لوکري تیس (Lucretius) هم د راتلونکې په اړه او هم د تېرې زمانې په اړه بې توپیره و. شعري الهامونو هم د طلایي دور ماضي ته رجوع وکړه.

دا بیا یهودان او وروسته بیا عیسویان وو چې تاریخ ته یې یو پوره نوی توکی ور په برخه کړ. دوی د تاریخ دپاره موخه وټاکله، چې تاریخي عملیه د هغه په لور په حرکت کې وه. دا د تاریخ غایي نظر دی. تاریخ په دغه ډول مفهوم او مقصد وموند. خو دنیایي ځانګړتیا یې وبایلله. د تاریخ وهدف ته رسېدل په اتوماتیک ډول د تاریخ د ختمېدو مانا پیدا کړله. تاریخ په خپله د بشر د وجود په مقابل کې د لوی ځښتن دفاع وګرځېد. د روښانتیا دورې د عقل د اصل پیروانو یا د عصري تاریخ لیکنې موسسانو د یهودي- عیسویت غایي نظر وساته، خو غایه یې ورته دنیایي کړله. په دغه ډول دوی وکړای شول چې په خپله د تاریخي عملیې عقلي ځانګړتیا بیا راژوندی کړي. تاریخ د مځکې په سر د انسان د دارایي د مقصودو کمال ته ترقي وګرځېده. ګیبېن (Gibben) د روښانتیا د دورې تر ټولو ستر تاریخپوه وایي «هغه ښه ایسېدونکې پایله چې د نړۍ هر عصر د انساني نژاد حقیقي شتمني، نېکمرغي، علم او شاید نیکي ډېره کړې، او لا یې ډېره کوي.»۲۴ د ترقۍ د لمانځنې ایین هغه وخت خپل هسک ته ورسېد چې د برېتانیا شتمني، ځواک او په ځان باور خپل هسک ته ورسېدل او برتانوي لیکوالان او مورخان یې تر ټولو جدي پلویان شول. اکټن (J. D. Acton) تاریخ «یو مترقي ساینس بللی» دی. کار وایي چې روایت دی چې لومړي نیکولای په یوه فرمان سره د «ترقۍ» د کلیمې کارول منع کړ. په دغو وختو کې د لوېدیځې اروپا او ان امریکایي فیلوسوفانو له ډېرې مودې وروسته د هغو سره سر وخوځاوه. د ترقۍ فرضیه باطله وګڼل شوه.

۱- تاریخ له یوه نسل نه وبل ته د اکتسابي مهارتونو په انتقال سره ترقي ده.

۲- مدنیت چې موږ د هغه پیل د خپلې ترقۍ د پیل ټکی حسابوو د ودې بې پایه عملیه ده. اکټن تاریخ داسې وګاڼه چې د ترقۍ په حیث د ازادۍ په لور د پېښو جریان وي او د ازادۍ د پوهېدلو په لور د ترقۍ په حیث د همدغو پېښو ثبت دی. دواړه عملیې اوږه پر اوږه په مخ درومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- ترقي په سیخه کرښه نه ځي. دا ښکاره ده چې د وړاندې تک او په شا تگ عصرونه شته دي. هغه ډله چې په یوه عصر کې د مدنیت په مخ بیولو کې ستره ونډه لري، گومان نه کوم چې په بل عصر کې به ورته ونډه ولري. په دې چې دغه ډول به د پخواني عصر په دودونو، گټو، ایډیالوژي گانو کې دومره ډوبه وي چې وبه نه شي کړای د بل عصر د غوښتنو او شرایطو سره ځان ته سمون وکړي.

۴- د ترقۍ اساسي منځپانگه د تاریخي عمل په تړاو سره، څه شی دی؟ ترقي په تاریخ کې د اکتسابي شتمنیو په انتقال استناد لري. دا شتمني هم مادي ملکیتونه په ځان کې شامل گڼي او هم هغه وړتیاوې په ځان کې شاملې گڼي چې په هغو سره د یو چا چاپېریال اړوي، ترې گټه اخلي او پرې حاکمیت کوي. دا دواړه عاملونه یو پر بل اغېز کوي.۲۵

کار وایي چې مارکس انساني کار ته د ټولې مانۍ د اساس په حیث قایل دی. دغه قاعده هغه وخت د منلو وړ ښکاره کېږي چې «کار» ته په پوره اندازه پراخ مفهوم ورکړل شي. د سرچینو غونډول به هغه وخت گټور ثابت شي چې له ځان سره نه یوازې تخنیکي او ټولنیز علم او تجربه ملگرې وي، بلکې په پراخ مفهوم سره د انسان په چاپېریال باندې اضافه شوی حاکمیت ورسره مل وي. فکر نه کوم چې اوس به د یو شمېر کسانو پرته د مادي سرچینو او علمي پوهې په تخنیکي مفهوم سره په چاپېریال باندې د حاکمیت د ترقۍ د رښتینوالی په اړه شک وکړي. خو دا پوښتنه چې د ټولنیز موجود په حیث د انسان وده د تکنالوژیکي ترقۍ نه بېرته پاتې شوې نه ده؟ سمه ده؟

تاریخ ډېر گرځوونکي ټکي لرلي دي، چې په هغو کې مشرتابه او نوښت د یوې ډلې، او د نړۍ له یوې برخې نه وبلې ته انتقال کړی دی. د عصري دولت د ظهور دوره، له مدیترانې نه لوېدیځې اروپا ته د ځواک د مرکز انتقال او د فرانسې انقلاب یې ښکاره نمونې دي. «د راتلونکي نسل له پاره د دندې مسولیت د ترقۍ د مفکورې نبغه پایله ده.»۲۶ د تاریخ ټول حقیقتونه افاقي کېدلی نه شي په دې چې هغه یوازې د هغه اهمیت له امله چې تاریخپوه یې ور په برخه کوي، تاریخي حقیقتونه گرځي. د دې دپاره چې د مهمو او ناڅاپي پېښو تر منځ توپیر وکړي، د اهمیت یوه معیار ته، چې هغه یې د افاقیت معیار هم دی، اړه لري. دی همدغه معیار یوازې خپل هدف ته چې دی یې په نظر کې لري، د اړیکې په لرلو سره مېندلی شي. خو دا په لازمي ډول مخ په ودې موخه ده. هیگل په تېره زمانه کې د پرله پسې ودې عملیه وپېژندله خو د هغې شتون ته په راتلونکې کې قایل نه شو او ترې منکر شو. نامېر وایي تاریخپوهان «د ماضي تصور کوي او راتلونکې په یاد لري.»۲۷ یوازې راتلونکې د تېرې زمانې د تاویل دپاره کیلي برابرولی شي او یوازې په دغه مفهوم سره ده چې موږ په تاریخ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له نهايي افاقيت څخه غربېدلی شو. د تاريخ حقانيت او شرح ده چې تېره زمانه په راتلونکې او راتلونکې په تېره زمانه رڼا اچوي.

د يوه مورخ افاقي توب يوازې په دې کې نه دی چې دی خپل حقيقتونه سم تهيه کوي، بلکې په دې کې دی چې دی د سمو حقيقتونو انتخاب کوي. کار وايي کله چې موږ يو مورخ ته افاقي وايو زما په نظر پوره دوه شيان کوو. لومړی دا چې موږ وايو چې دی داسې وړتيا لري چې په تاريخ او ټولنې کې د خپل محدود ليد او نظر له دريځ نه پورته خيږي. د پوره افاقيت ناشونتوب وپېژني. دوهم دا چې مورخ داسې وړتيا لري چې د راتلونکې او تېرې زمانې په اړه يې خپل ليد او نظر ژور وي.

## پراخېدونکې غاړې

کار وايي چې تاريخ مې د يوې پرله پسې خوځېدونکې عمليې په حيث چې مورخ ورسره خوځيږي ښوولی و. د شلمې پيړۍ په نيمايي کې بدلون د هغه بل بدلون نه ډېر ژور او پراخ دی کوم چې زموږ په نړۍ کې وروسته له هغې چې د منځنيو پيړيو نړۍ ړنګه شوه او په پنځلسمې پيړۍ کې د معاصرې نړۍ تاداو کېښودل شو، پيښ شوی دی. بدلون يا تحول په پای کې د علمي موندنو او اختراعاتو زيږنده دی، داسې چې د پلي کېدو ډکر يې لا هم پراخ دی. ټولنيز انقلاب د دغه بدلون خورا څرګند اړخ دی. دا انقلاب د هغه انقلاب سره د پرتلې وړ دی چې په ۱۵مې او ۱۶مې پيړيو کې پيښ شو او دغسې نوې طبقه يې منځ ته راوستله چې لومړی په مالي او سوداګري او وروسته په صنعت بنا وه. دغه تحول دوه اړخونه لري چې يو يې د ژورتيا بدلون او بل يې د جغرافيايي پراختيا بدلون بولم.

تاريخ هغه وخت پيل کيږي چې انسانان يو لړ ځانګړو پېښو په اساس فکر کوي چې انسانان په هغو کې په شعوري ډول داخل وي او پرې اغېز کولی شي. برکهاردت (Burckhardt) وايي چې تاريخ «له طبعيت سره پرېکون دی چې علت يې د شعور ويښتيا ده»۲۸ تاريخ د انسان د اوږدې مبارزې داستان دی. دغه داستان د ده د عقل په تمرين سره لاسته راځي او موخه يې دا وي چې انسان خپل چاپېريال وپېژني او عمل پرې اجرا کړي. خو اوس انسان په دې لټه کې دی چې نه يوازې خپل چاپېريال، بلکې خپل ځان هم وپېژني او په هغه عمل اجرا کړي. اوسنی عصر د تاريخي ذهنيت له مخې تر هر بل عصر نه ډېر ويښ او پياوړی دی. عصري انسان له خپل ځان نه خبر او په دغه ډول له تاريخ نه خبر دی. دی په مينه او شوق سره هغه شفق ته بېرته نظر کوي له کوم نه چې دی راوتلی دی، هيله او اسره يې ورنه دا وي چې د هغه نرۍ رڼا به هغه تروږمې روښانه کړي په کومو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دی خوځیږي. تېر وخت، اوس او راتلونکې ټول د تاریخ په بې پایه کړۍ سره تړلي دي.

د عصري نړۍ بدلون یا تحول چې د خپل ځان په اړه د انسان د شعور له ودې نه جوړ دی، شاید له دکارت (De Cart) نه پیل شوی وي. ده د لومړي ځل له پاره د انسان مقام د یوه داسې موجود په حیث ثبت کړ چې نه یوازې سوچ کولی شي، بلکې د خپل سوچ په اړه هم سوچ کولی شي. دی د مشاهدې د کولو په وخت کې خپل ځان هم مشاهده کولی شي. په دې ډول انسان په عین وخت کې د تفکر او مشاهدې فاعل او موضوع هم کېدلی شي. بیا روسو (Rousseau) د انسان د ځان پېژندنې او د ځان د خبرېدو په اړه د ژورتیا نوی تل پرانېست او د طبعیت د نړۍ او دودیز مدنیت په اړه یې انسان ته یو نوی نړۍ لید وبښلو. د اکټن او هیګل په نظر ازادي او عقل هېڅکله سره بیل نه وو. لینکن (Linken) وایي «۸۷ کاله وړاندې زموږ پلرونو په دغې وچې کې یو ملت جوړ کړ چې په ازادۍ بنا او په دغه اصل ګروهېدلی و چې ټول انسانان برابر شته شوي دي.»۲۹

په تاریخ کې ترقي، د ازادۍ د مفکورې په لور د ودې مانا پیدا کړله. مارکس وایي فیلوسوفانو نړۍ یوازې په مختلف ډول تعبیر کړې ده خو مطلب دا دی چې بدلون ورته ورکړل شي. نور د عقل لومړۍ دنده دا نه وه چې یوازې هغه افاقي قانونونه درک کړي، کوم چې په ټولنه کې د انسان کړه تنظیموي، بلکې دنده یې دا شوله چې ټولنه او افراد په شعوري عمل سره له سره تنظیم شي.

هغه بل ستر متفکر چې زموږ په عصر کې یې عقل ته یو نوی بعد ورزیات کړ فروید (S. Freud) دی. هغه څه چې فروید وکړل دا و چې زموږ د پوهې او پېژندنې پولې یې ارتې کړې او هغه د دغې لارې وکړای شول چې د انساني کړو غیرشعوري ریښې او ولې د عقلي او شعوري پلټنې دپاره رابرسېره کړي. دا په واقعیت کې د عقل د ساحې پراخول او د انساني قوت ډېرول و چې ځان وپېژني او اداره یې کړي او په دغه ډول چاپېریال هم وپېژني او تنظیم یې کړي.

د مارکس او فروید د لیکنو وروسته مورخ څه پلمه نه لري چې خپل ځان د کوم ګوښه شوي فرد په حیث وګڼي چې د ټولنې او تاریخ نه د باندې واقع وي. دا د ځان نه د خبرېدو وخت دی. کار وایي«وهغه جهان ته چې ما اوسنی جهان نومولی دی تېرېدنه یاني نویو ساحو ته د عقل د ځواک او دندې پراخوالی لا تر اوسه بشپړ شوی نه دی. دا د انقلابي تحول یوه برخه ده چې شلمه پېړۍ د هغه نه تېریږي.»۳۰

د کار په اند په شعوري زیار سره د ټولنیزو سمونونو په شونتیا عقیده لرل د اروپایي ذهن مسلط جریان دی. انسان د خپل اقتصادي موخې د تنظیم او اداره کولو وړتیا لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هغه په شعوري عمل سره اجرا کوي. د ده په فکر د پرمختګ تمثیل کوي. دغه پرمختګ په انساني چارو کې د عقل پلي کول او د ځان او چاپېریال د پېژندلو او په هغه د حاکمیت کولو په غرض د انسان زیاته شوې وړتیا ښیي. مهمه لیا دا ده چې د عقل په شعوري تمرین سره انسان په دې پیل کړی دی چې نه یوازې خپل چاپېریال، بلکې خپل ځان ته هم بدلون ورکړي.

کار وایي چې د انساني ځواک دغه هسک شوی شعور چې د عقلي عملیو له لارې د خپلو ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي چارو تنظیم کول اصلاح کړي، د ده په اند د شلمې پېړۍ د انقلاب یو مهم اړخ دی. د صنعتي انقلاب ټولیزه او ژوره ټولنیزه پایله شاید دا شوې وي چې د هغو کسانو شمېر یې په مترقي ډول ډېر کړی دی چې دوی سوچ کول زده کوي او عقل په کار اچوي. د دغه انقلاب دوهم اړخ د نړۍ بدله شوې بڼه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوهم څپرکی

# کاکړ او د وطن تاریخ لیکنه

تاریخ په اسلامي افغانستان کې تر زیاتې اندازې انساني پېښو ته ځانګړی شوی دی. د بېلګې په توګه د سیفي هروي «تاریخنامه هرات» دی چې د ابن خلدون په وخت کې یې په هرات کې د کرتانو د واکمنۍ په وخت کې لیکلی دی. د کاکړ په وینا د سیفي د اثر کره توب یو لامل دا دی چې دی هم د طبري او ابن خلدون غوندې پوه او لیکوال و. دوهم دا چې سیفي دا اثر په زیاته اندازه د رسمي پاڼو او سندونو له مخې کښل شوی چې ویل کېږي د غیاث الدین کرت په دستور ورته ورکړل شوي وو. کاکړ زیاتوي چې سیفي په دې ډول لکه رانکې (Ranke) چې پنځه پېړۍ وروسته د ارشیفي پاڼو په استفادې ټینګار کړی، د عصري تاریخ یو اساسي شرط پر ځای کړی دی. سیفي همدارنګه له نورو تاریخي اثارو نه په انتقادي ډول ګټه پورته کړې ده. په دې ترتیب د سیفي په وخت کې په هرات کې تاریخ لیکنه لوړې سوېې ته رسېدلې وه.

د معاصر افغانستان تاریخ پوهان د خپلو تېرو تاریخ پوهانو په لاره لاړل. خو په دې نوې دوره کې داسې مهم اووښتونونه منځ ته راغلل چې په تاریخ لیکنې باندې یې ژور اغېز شیندلی دی. اساسي بدلون د احمدشاه بابا په مشرۍ د اباسین او امو تر منځ د لوی افغانستان منځ ته راتګ و. په دغه هېواد کې افغان خپلواک دولت تنظیم شو، دراني امپراتوري په کې تاسیس او افغانان د خپلواک ژوند څښتنان شول. د دغې نوې دورې په پیل سره د افغانانو هویت سیمه والو او نړیوالو ته وپېژندل شو. بله موضوع چې په افغانانو یې ژوره اغېزه وکړه په نولسمې پېړۍ کې د انګرېزانو د ځواک سره درې ځلې جګړه او بیا د شلمې پېړۍ په پای کې د روسانو سره د افغانانو مقابله وه. د انګرېزي پوځي ځواک سره د ننه په افغانستان کې د افغانانو لومړۍ مقابله چې د دوی په پوره بري تمامه شوه، په افغانانو کې د وطنپالنې، اسلام پالنې او د خپلواکۍ روحیه پیاوړې کړه. که څه هم تر هغه د مخه د افغانانو مذهبي روحیه نرمه او د نورو دینونو په وړاندې په زغم ولاړه وه. د افغان- انګلیس په دوهمې جګړې او بیا د سرحدي پښتنو په غزاګانو سره دا حساسیت نور هم غښتلی شو. دغو جګړو د افغانانو ملي پیوستون د پښتنو او تاجکو په اتحاد سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټینګ کړ «خو که د دوی په یو موټي کېدلو سره افغان نېشنلزم هسک شو باندینیو ته دا موقع برابره شوه چې د هغه په تخریب زور واچوي. دغه حال د دواړو خواوو په تاریخونو کې انعکاس وکړ.»۳۱

انګرېزانو د نولسمې پېړۍ په بهیر کې د افغانستان د جغرافیوي، تاریخي، ټولنیز، اقتصادي او قومي وضعې په اړه دومره ډېرې لیکنې کړې دي چې باندینیو په بله هېڅ پېړۍ کې نه دي کړې. د مقدوني سکندر د وخت نه وروسته دا دوهم ځل و چې افغانستان د اروپا د لیکوالو د پاملرنې وړ هېواد شو. د سکندر د یرغل نه وروسته هم اروپایي تاریخ پوهانو په لرغوني افغانستان باندې کتابونه ولیکل په تېره بیا چې په افغانستان کې د باختریانو او یونیانو په ګډ کېدلو سره یو نوی مدنیت هسک شو چې اریانا په هغه سره د زرو هېوادونو ښار وبلل شو چې بیا د نولسمې پېړۍ د پوهانو له خوا «باختر د لرغوني نړۍ تر ټولو ښه هېواد وګڼل شو.»۳۲ خو په نولسمې پېړۍ کې د افغان انګلیس پوځي مخامختیا نه د مخه د افغانستان په اړه د انګرېزي لیکوالو اثار افاقي او مالوماتي وو چې «د کابل سلطنت بیان» په نامه د الفنسټون اثر په افاقي توب او کره توب کې جوړه نه لري. «د افغان جنګ» په نامه د جان کې اثر سره له دې چې د افغان- انګلیس د جګړې نه وروسته لیکل شوی په افاقي توب کې د کابل سلطنت د بیان سره سیالي کوي. خو د نورو انګرېزي لیکوالو اثار چې بیخي ډېر دي هغسې نه دي.

د افغانستان د تاریخ په اړه بله لویه سرچینه د برتانوي هند هغه ناخپرې شوې ارشیفې پاڼې دي چې هغه د ډیلي په ملي ارشیف او هم په لندن کې د برېتانیې په کتابتون کې خوندي دي. د تزاري روسیې، د پخواني شوروي اتحاد او اوسنۍ روسیې لیکوالو لیکنې او ارشیفې پاڼې او همدارنګه د امریکا په متحده ایالاتو او نورو اروپایي هېوادونو او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې هم د افغانستان په اړه لیکنې او ارشیفي پاڼې کېدای شي چې د افغانستان دخلکو د ژوند په بیلو اړخونو باندې د ژورو لیکنو له پاره پوره مرسته وکړي.

د کاکړ په وینا د سدوزیو د واکمنۍ په اړه د هغه وخت افغانانو د یادونې وړ اثر نه دي لیکلي.تاریخ احمدشاهي چې د ستر احمدشاه واکمنۍ ته ځانګړی شوی محمود الحسیني کښلی دی چې د پارسي خراسان له جام نه و. د شجاع الملک واقعات شاه شجاع اثر د هغه د خپلې واکمنۍ پېښې بیانوي، خو د دغه اثر دریمه برخه د محمد حسېن هراتي په قلم لیکل شوې چې دغه برخه د تاریخ پوه احمد علي کهزاد په نظر شاید د انګلیسانو په فرمایش لیکل شوې وي. داسې هم انګریزې مقاماتو وروسته هم د افغانانو تاریخ یا جعل کړی یا مسخ کړی چې غټ مثالونه یې د تاج التواریخ دوهم ټوک او «له داړه ماری نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچايي پورې زما ژوند» د امیر حبیب الله کلاکاني اثر دی.

کاکړ وايي چې تاج التواریخ امیر عبدالرحمن ته منسوب، خو تنظیموونکی او انګرېزي کونکی یې د هغه سرمنشي سلطان محمد و. لومړی ټوک یې د افغانستان د داخلي انکشافاتو په اړه او دوهم ټوک یې په ډېره اندازه د باندینیو اړیکو او په ځانګړې توګه د سرحدونو د ټاکل کېدلو په اړه دی. د کتاب فارسي ژباړه کې نه د ژباړونکي نوم، نه د خپرونکي نوم او نه هم د سلطان محمد نوم یاد شوی دی. په دوهم ټوک کې دومره ویل شوي چې «بفرمایش عالیجناب مجدت انتساب شیخ الهیبخش و محمد جلال الدین صاحبان لاهوریسلمهما الله تعالی تاجران کتب بازار کشمیر لاهور بزیور طبع اراسته گردید.»۳۳ دغه دوه تاجران څوک وو، مالومه نه ده. دا هم مالومه نه ده چې دوی دغه ژباړه په خپل نوښت یا د چا یا مقام په سپارښتنه او لګښت چاپ کړې ده. دغو سوداګرو څه علاقه درلوده چې دغه کتاب په ډېر شمېر چاپ کړي، په دغومره ډېر شمېر چې په افغانستان کې تر دې نږدې وخت پورې په دوکانونو کې لیدل کېده. دا خو به هر چا ته مالومه نه وي چې هغه په یوه وخت په لاهور، بمبیي او په مشهد کې بازارو ته عرضه شوی و.

کاکړ لیکي: «د تاج التواریخ د جعلتوب کیسه دا ده، چې منشي سلطان محمد د هغه انګرېزي لومړی متن، په لندن کې، جان میري خپروونکي موسسې ته د چاپ له پاره وسپاره او په خپله پنجاب ته ستون شو، چې اصلي استوګنځی یې و. په لندن کې حکومتي برتانویانو په دغه وخت کې خپل خاص مطالب د هغه په دوهم ټوک کې ځای کړل. ما دغه جعلیتوب په لندن کې، د ډاکټرۍ شهادتنامې ته د څېړنې په مهال کشف کړ. دغه کشف هغه وخت ښه یقیني شو، چې ما د برتانوي هند حکومت د پوځ اعلی قوماندان، مشهور لارډ کچنر، هغه راپور وموند، چې په کال ۱۹۰۳ کې یې ویسرای لارډ کرزن ته استولی او په کې ویلي وچې «د هغه وروستۍ برخه په انګلستان کې جعل شوې ده.» د «وروستۍ برخه» نه د هغه مطلب د امیر عبدالرحمن خان زما ژوند دوهم ټوک دی، چې د تاج التواریخ دوهم ټوک کیږي. په دې اړه ما نور تاییدي نوټونه موندل، چې هغه ټول مې په خپل تېسس کې راوړي.»۳۴ دا تېزسس «د امیر عبدالرحمن په واکمنې کې د افغانستان ټولنه او حکومت» نومیږي چې په ۱۹۷۹ کال کې د امریکې د ټکساس دولتي پوهنتون خپور کړ. د امیر حبیب الله کلاکاني اثر «له داړه مارۍ نه پاچايي پورې زما ژوند» د جعلتوب په اړه به وروسته مالومات وړاندې شي.

د افغانستان تاریخ لیکونکو د افغانستان تاریخ په اړه د نولسمې پېړۍ په دوهمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیمایي کې یو ځو اثر کښلي دي لکه د میرزا عطامحمد «نوای معارک»، د میرزا یعقوب علي خافي «پادشاهان متاخر افغانستان»، د نورمحمد نوري «ګلشن امارت» او د سلطان محمد «تاریخ سلطاني» دي. دغه تاریخونه په عمومي ډول سیاسي پېښې بیانوي خو په تایید کې یې ایتونه، حدیثونه، نظمونه او لنډې وېناوې نه راوړي یا یې ډېرې کمې راوړي. سلطان محمد دراني، د تاریخ پوه سیفي په شان، خپل ماخذونه ښوولي چې هغه د واقعات شاه شجاع او د فرشته تاریخ په ګډون چاپ شوي اثار دي. د هغه بله سرچینه هغه دراني لویان او پوهان دي چې د حکومتي لوړو مقامونو په لرلو سره د مالوماتو خاوندان وو. ده د خپلو سرچینو نه په انتقادي ډول کار اخېستی دی. سلطاني تاریخ په هندوستان کې د لودیانو او سوریانو، په پارس کې د هوتکو او په افغانستان کې د درانیو واکمنۍ او د امیر دوست محمد خان واکمني تر پایه چې په ۱۸۶۳ کال کې د هرات په نیولو سره تړېه شوی افغانستان د پېښور پرته یو موټی کړ بیانوي. سلطاني تاریخ د اوسني افغانستان د لومړي عمومي تاریخ په توګه د تاریخ د معیارونو پر بنسټ په انتقادي ډول لیکل شوی او د سراج التواریخ لیکونکي فیض محمد به لومړی افغان تاریخپوه وي چې د هغه نه یې په پراخ ډول ګټه پورته کړې ده.

په شلمې پېړۍ کې افغان تاریخ لیکونکو ډېر اثرونه کښلي او تاریخ لیکنې ښه وده وکړه او د انساني پېښو بیان ته ځانګړې شوه. کاکړ وایي چې دغه پېړۍ د تاریخ لیکنې له مخې څو مرحلې لري. یوه یې هغه ده چې حکومت د اساسي قانون په نشتوالي سره د واکمن په فکر چلېده او افغانان د مدني حقونو نه بې برخې وو. سره له دې د سراج التواریخ غوندې تاریخ او د سراج الاخبار په شان اخبار په کې راووتل. د سراج التواریخ لیکونکی فیض محمد دی چې د غزني د ناهور خواجه محمد هزاره و او د نامتو عالم محمدسرور اسحق زي په سپارښتنه د سردار حبیب الله په دربار کې د محرر په توګه ومنل شو. نوموړی د امیر حبیب الله خان له خوا د سراج التواریخ په لیکلو ګومارل شوی او لومړی او دوهم ټوک یې د نورو تاریخونو له مخې او دریم ټوک یې د رسمي سندونو پر بنسټ لیکلی دی. دا هم ویل کېږي چې فیض محمد د سراج التواریخ څلورم ټوک د امیر حبیب الله واکمنۍ ته وقف کړی، خو دغه اثر تر اوسه لیدل شوی نه دی.

کاکړ وایي چې فیض محمد یو رښتینی او محتاط تاریخ پوه و. ده د امیر عبدالرحمن خان زیږه او وېروونکي چلندونه په نرمو او مستعارو کلیمو کې بیان کړي دي. د هزاره جات جګړه یې په اوږده ډول بیان کړې ده. د سراج التواریخ دریم ټوک چې رسمي تاریخ دی برسېره پردې چې نیمګړی دی، انتخابي دی. هغه پېښې چې امیر عبدالرحمن په کې ښه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاري حذف شوې یا په لنډ ډول بیان شوې دي. خو بیا نورې پېښې په کې په اوږده ډول بیان شوې دي. د باندینیو اړیکو په اړه لږ مالومات ورکوي خو کورنۍ پېښې بیا په اوږده ډول بیانوي. کاکړ دا هم زیاتوي چې نوموړی د پاچایي لوړ سیاست په اړه چوپ دی او پر ځای یې پېښې هغسې بیان کړې چې څنګه د عمل په ډګر کې پېښې شوې وې. دا شاید د سراج التواریخ ډېره غټه ځانګړتیا وي چې لوستونکو ته د دې وس ورکوي چې له پېښو نه منطقي طرحې جوړې کړي او عمومي حکمونه وکړي نه دا چې لوړ سیاستونه په سندونو کې ولولي.

کاکړ وایي چې په شلمه پېړۍ کې د تاریخ لیکنې بله مرحله د پاچا محمد نادر په واکمن کېدو سره پیل کېږي او د ثور په کودتا سره پای ته رسیږي. په دغې دورې کې چې په عمومي ډول امنیت خوندي و، هڅه دا وه چې د افغانانو هویت د یوه ملت په توګه تثبیت شي. د دغې موخې د پلي کولو له پاره د تاریخ ټولنه جوړه شوه او د اریانا او افغانستان په نومونو مجلې د تاریخي لیکنو له پاره ځانګړې شوې. ارکیالوجیکي کندنې د فرانسویانو په مرسته پیل شوې، د کابل په پوهنتون کې د تاریخ څانګه پرانېستل شوه او د پوهنې په ودې او د تعلیمي منځنۍ طبقې په هسکېدو سره د تاریخ مینه وال او لوستونکي ډېر شول. برسېره پردې د قانوني پاچایي په وخت کې د ملي ارشیف مرکز هم په کابل کې پرانېستل شو. د دوهمې نړیوالې جګړې او په ځانګړې توګه د ملګرو ملتو د جوړېدو وروسته د حکومت زیږ چلند یو څه نرم شو او په وطن په تېره په کابل کې د بیان ازادي او ډموکراسی تر څه اندازې لار ومونده. په دغه وخت کې ځینو کسانو لکه خلیل الله خلیلي، نجیب الله توروایانا، سید قاسم رښتیا، محمد عثمان صدقي، میر محمد صدیق فرهنګ او نورو یو وخت او بل وخت د تاریخ لیکلو شوق وکړ. خو په دوی کې یوازې عزیزالدین وکیلي پوپلزي د سدوزي واکمنو په اړه په عمومي توګه د دولتي فرمانونو او سندونو له مخې پڼ کتابونه ولیکل.

خو درې تنه وتلي تاریخ پوهان چې خپل ټول بالغ عمر یې تاریخ لیکنې ته ځانګړی کړ او په خپلو اثرونو یې د افغانستان تاریخ وسپړلو او د افغانانو هویت یې په تاریخ کې تثبیت کړ احمد علي کهزاد، عبدالحی حبیبي او میر غلام محمد غبار دي. د دوی اساسي اثرونه عمومي تاریخونه دي لکه د کهزاد د پخواني افغانستان تاریخ، د حبیبي تاریخ مختصر افغانستان او د غبار افغانستان در مسیر تاریخ.

د کاکړ په وینا د دغو درو وتلیو تاریخ پوهانو غټه ځانګړتیا دا ده چې د دوی زیاتره اثرونه د دغسو موضوع ګانو په اړه دي چې د هغو په اړه تر دوی د مخه افغانانو هېڅ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو ليکلي. کاکړ ليکي: «په ټوليز ډول دوی د افغانستان هغه تاريخپوهان دي چې په خپلو اثرونو سره يې د لومړي ځل له پاره د افغانستان اوږد تاريخ او د تاريخ په اوږدو کې د افغانانو هويت د يوه ولس په توګه تثبيت او بيان کړی او په دغه ډول يې خپلو وطنوالو ته تلپاتې فرهنګي خدمت کړی دی. دوی په خپلو دغو فرهنګي خدمتونو سره دغه استحقاق خپل کړی چې د افغانستان فرهنګي موسسې او حتی ځايونه د دوی په نومونو ياد شي.»۳۵

دوی خپلې ليکنې په خپل فکر کړې او د دوی په وخت کې په تاريخ ليکنې باندې د مذهب دوديز اغېز هم لږ شوی او دوی اړ نه وو چې خپلې ليکنې د پخوانيو تاريخپوهانو غوندې په مذهبي حکمونو او نظمونو سره تاييد کړي.

خو کاکړ د تاريخ ليکنې د علمي ميتود په نظر کې نيولو سره د دغو درو وتليو تاريخ پوهانو په ليکنو کې ځينو نيمګړتياوو ته اشاره کوي چې د هغه وخت د شرايطو زېږنده وې. د دوی د ليکنې سرچينې خپاره شوي کتابونه او يو څه لاسي ليکنې او فرمانونه دي. په داسې حال کې چې تاريخي ليکنې بايد ناخپرې شوې پاڼې او حکومتي سندونه وي. په دې ترتيب دوی خپل اثرونه د اصلي سرچينو له مخې نه دي کښلي نو ځکه ژور نه دي. برسېره پردې د دوی څېړنيزې اسانتياوې لږې وې. د دوی زده کړې د هغه وخت د شرايطو په نظر کې نيولو سره اکاډيميکې نه وې. د دوی نه يوازې احمد علي کهزاد بکلوريا پاس و. دوی هر يو په شخصي کوښښونو ځانونه رسولي وو. دوی د خپلو سرچينو نه «په نېغه اخېستنه نه ده کړې او د خپلو سرچينو معالومات يا واقعيتونه يې په خپله ژبه او زياتره په ازاد ډول افاده کړي چې په دې ډول يې خپل اثر هم په کې دخيل کړی او د خپلو ليکنو دقيق توب او افاقي توب [يې] زيانمن کړی دی.»۳۶

کاکړ د ځينو تاريخ پوهانو او ليکوالو اثارو ته کتنه کړې چې دلته يې د مير غلام محمد غبار «افغانستان در مسير تاريخ» او محمد صديق فرهنګ «افغانستان در پنج قرن ګذشته» څخه يادونه کېږي

## کاکړ او د غبار «افغانستان در مسير تاريخ»

پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ د مير غلام محمد غبار په کتاب افغانستان در مسير تاريخ په اړه خپل نظر داسې وړاندې کوي:

غبار شل کلن نه و چې د امير حبيب الله خان د واکمنۍ د پای په کلونو کې په سياسي فعاليت لاس پورې کړ او د «جوانان افغان» غړی شو چې د غبار په وينا «مرام تندتر و

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنبه دست چپی داشت». غبار د پاچا امان الله خان په وخت کې په مسکو، پاریس او د ننه په هېواد کې په هرات، بدخشان او جبل السراج کې اداري او اخباري چارې ترسره کړې او په ۱۹۲۹ کال کې د پغمان په لویه جرګه کې د غړي په توګه ګډون وکړ. د پاچا محمدنادر په وخت کې په برلین کې د افغانستان د سفارت غړی و. یو کال وروسته یې ځان ګوښه کړ او په کابل کې د ادبي انجمن غړی شو. په ۱۹۳۳ کال کې د هغه ترور په اړوند چې محمد عظیم نومي افغان د انګلیس په سفارت کې وکړ، غبار دوه کاله بندي او وروسته د اوو کلونو په موده کې اول د فراه په بالابلوک د ګنج اباد په کلي کې او بیا د کندهار په ښار کې د خپلې کورنۍ سره پرار شو. په دې توګه غبار د محمد هاشم خان په صدراعظمۍ کې په کړاوونو واوښت او د ژوند تر پایه پورې له حکومت سره مخالف پاتې شو. غبار اتیا کاله ژوند وکړ، عصري منظمه زده کړه یې نه ده کړې، که څه هم په کابل کې زیږېدلی و. نوموړي د خپلې ښې وړتیا او استعداد له امله په شخصي زده کړې سره په تېره په تاریخ کې ځان رسولی و. کورنۍ ژبه یې فارسي وه او په عربي هم پوهېده خو پښتو یې نه وه زده کړې که څه هم اوه کاله یې په فراه او کندهار کې تېر کړي و. کاکړ دا هم وايي چې غبار د خپل فکر، خپل پرنسیب او خپل وجدان له مخې د خطرونو په منلو سره د خلکو د ازادۍ په پلوي او د زورواکو په وړاندې مبارزه کړې ده.

غبار په ملي سیاست کې د صدراعظم شاه محمود خان په وخت کې په درو برخو کې ښه وځلېد. لومړی دا چې نوموړی په ملي شورا کې د نورو ډېرو همفکره وکیلانو سره په حکومت انتقادي شو. دوهم دا چې دی د وطن په نامه سیاسي ګوند کې هم ښه وځلېد، چې دی یې مشر او نور بنسټ ایښودونکي او غړي یې زیاتره د کابل تعلیم کړي او لوړپوړي حکومتي مامورین او پېژندل شوي کسان وو. د مرام مهم ټکي یې د ډموکراسۍ عمومي کول، د درې ګونو قواوو بیلتون او پلان شوی اقتصاد ښودل شوی و. دریم دا چې د «وطن» په نامه د خپل ګوند په جریده کې وځلېد، چې په خپلو انتقادي او پخو لیکنو سره یې له نورو جریدو لکه ولس، انګار او ندای خلق سره په ګډه د کابل سیاسي فضا توده کړې وه.

خو څنګه چې حکومت د ویښو ځلمیانو ګوند، د وطن ګوند او نور ګوندونه تر خپل اغېز لاندې راوستلی نه شول نو یې د هغوی د فعالیتونو د محدودولو له پاره د ملي شورا د راتلونکې اتمې دورې په ټاکنو باندې پخوا تر پخوا بندیزونه ولګول. د دغو بندیزونو په وړاندې په کابل کې مظاهرې وشوې او مظاهره کوونکو ارګ ته نږدې د پاچا محمد ظاهر نه د بندیزونو لغوه کول وغوښتل. حکومت د هغو په ځپلو پیل وکړ او غبار هم د یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمېر نور کسانو په ګډون بندي شو. غبار دا ځل څلور کاله په بند کې پاتې شو. د بند نه د ازادېدلو وروسته د صدراعظم داود بلنه چې د حکومت سره همکاري وکړي ونه منله. غبار د خلق ډموکراټیک ګوند د جوړېدو نه د مخه په دوو غونډو کې ګډون وکړ او بیا یې د کارمل په دسیسې سره پرېښود. په دغه وخت کې نږدې اویا کلن غبار چې د بند، پرار او ناکامو سیاسي فعالیتونو په پایله کې ستړی شوی، خواشینی شوی او ان ناهیلی شوی، په خپل کور کې شعله یانو یا ماویستانو ته د مارکسیزم درس ورکاوه او هم یې تاریخي لیکنو ته زور ورکړ چې پایله یې «افغانستان در مسیر تاریخ» په نامه دوه ټوکونه شول.

غبار وایي چې د ده لیکنې چې د څو دېرشو کلونو په جریان کې کړې ناقصې او معیوبې دي په دې چې د حکومت اړوندو ادارو په هغو کې تحریف او بدلون کاوه. له دې کبله د غبار د دغو لیکنو نه باید په احتیاط کار واخېستل شي.خو افغانستان در مسیر تاریخ د غبار یوازینی اثر دی چې د قانوني پاچایي په ازادې فضا کې د خپل فکر پر بنسټ په ازاد ډول لیکلی او بې له کوم بدلون او تحریف نه چاپ شوی دی. دغه اثر د افغانستان عمومي سیاسي تاریخ دی او زیاتره یې کورنیو پېښو ته ځانګړی شوی دی. لومړی ټوک یې له اوېستایي دورې نه پیل کېږي او د پاچا امان الله تر واکمنۍ پورې رسېږي. زیاتره برخه یې له هوتکي دورې نه را په دې خوا د معاصر افغانستان په اړه ده. کاکړ وایي چې د غبار دغه اثر لکه چې د هغه د سیاسي مبارزې یوه بنه وي. غبار وایي «ما تاریخ گذشته خود را برای این مطالعه می نماییم که اوضاع امروزی خود را صحیحتر درک نماییم تا مبارزین جوان افغانستان در حرکت به پیش خط درست اگاهانه اختیار نمایین.»۳۷ ژباړه «موږ تېر تاریخ د دې له پاره وایو چې د نن ورځې وضعه په سمه توګه درک کړو تر څو د افغانستان ځوان مبارزان د خپل مخته تګ لیکه سمه او په شعوري ډول غوره کړي.» په دغه ډول غبار ته تاریخ عملي او مبارزه ییز اهمیت لري او د دې له پاره نه دی چې پېښې هغسې چې په واقع کې شوې وي د کره مالوماتو پر بنسټ له سره ژوندۍ او بیان کړي، پرته له دې چې خپل نظرونه په کې ځای کړي. غبار هم انسان تاریخ جوړونکی ګڼي، خو هغسې چې د ټولنیزو شرایطو محکوم وي نه هغسې انسان چې په خپل ټینګ شخصیت سره یې ټولنیز شرایط اړولي وي.

کاکړ وایي چې غبار په خپل دغه اثر کې پېښې تر څه اندازې د طبقاتي فکر له مخې بیان کړې دي او فیوډالیزم او فیوډالان یې ډېر یاد کړي ان تردې چې د دراني دولت هسکېدنه یې د فیوډالیزم پایله ښولې او ویلي یې دي چې «سیر تکامل فیودالیزم در بین اهالی قندهار و مبارزه دوامدار مردم علیه استیلای خارجی زمینه تشکیل یک دولت

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرکزی قوی را در افغانستان مهیا کرده بود.»۳۸ ژباړه «د کندهار په خلکو کې د فیوډالیزم د ودې لوری او بهرنۍ سلطې پر ضد پرله پسې مبارزې په افغانستان کې د یوه پیاوړي مرکزي دولت زمینه جوړه کړې وه.»که دغه حکم پر واقعیت بنا وای اول باید میرویس نیکه او تر هغه د مخه ایمل خان مومند او روښانیانو یو پیاوړی مرکزي حکومت تاسیس کړی وای. احمدشاه بابا چې د خپل غوره کېدو وروسته یو پیاوړی مرکزي حکومت تنظیم کړ سمدلاسه یې په هغو شل میلیونو روپیو نغد او جنس سره تنظیم کړ چې له هندوستان نه نادر افشار ته وړل کېدلې او په کندهار کې د ده لاس ته ورغلې. برسېره پردې له غبار پرته به بل کوم تاریخ پوه ووایي چې د فیوډالیزم وده د پیاوړي مرکزي حکومت د تشکیل له پاره ډګر هواروي؟ د غبار دغه حکم هم پرځای نه دی چې د امیر عبدالرحمن واکمني یې د فیوډالي سلطنت تمرکز بللی دی. د دغه حکم مانا دا کېږي چې له احمدشاه بابا نه تر امیر عبدالرحمن پورې د افغانستان حکومتونه فیوډالي وو. په داسې حال کې چې نه د سدوزو واکمنه کورنۍ او نه د محمدزي واکمنه کورنۍ د پراخو مځکو خاونده وه او د دوی تکیه په دولت او دولتي عوایدو وه چې د هغه له امله زیاتره وخت له لویو مځکه والو سره په مجادله کې وه. امیر عبدارحمن خان د دې پرځای چې له هغو سره جوړه وکړي او د غبار په وینا فیوډالیزم متمرکز کړي لوی مځکه وال یې وټکول یا پرار ته اړ کړل او په مځکو باندې یې د درندو مالیاتو په وضع کولو سره هغوی کمزوري او مرکزي حکومت پیاوړی او صناعتي کېدو له پاره برابر کړ. کاکړ وایي چې «په اصل کې د معاصر افغانستان د سیاسي تاریخ ستر اړخونه د زورواکو په تېره بیا د حکومتي زورواکو د زورواکۍ په مقابل کې ولسي پاڅونونه، د واکمنو کورنیو د غړو تر منځ د واک په سر جګړې او د وطن او اسلام په خاطر له یرغلګرو سره جنګونه دي.»۳۹

غبار د باندینیو یرغلګرو په وړاندې په تېره د انګرېزانو په وړاندې یې د افغانانو جګړې ښې بیان کړې، سره له دې چې د یرغلګرو په وړاندې یې د ځینو لړه کیو غیر ملي رول له پام نه غورځولی او د ځینو نورو یې له واقع نه ډېر کښلی او د پښتنو یې نیمګړی ښوولی دی، بیا هم غبار د افغانانو د پېوستون او د خپلواکۍ د روحېې د پیاوړتیا په لار کې یې غټ فکري او قلمي خدمت کړی دی. د ده په دغه اثر کې د افغان د خپلواکۍ روحیه او د افغان هویت ځلا کوي. د دغه اثر بله ځانګړتیا دا ده چې هغه د زورواکۍ، د حکومتونو د خپل سرۍ او د ټولنیزې بېعدالتۍ په وړاندې تر هر بل اثر نه ډېر انتقادي دی. «په افغانستان کې دا لومړنی انتقادي تاریخي اثر دی، خو غبار په خپل فکر سره یو دلته محکوم کړی او بل هلته تبریه کړی او په خپلو دغو حکمونو سره یې له ځان نه داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاضي جوړ کړی چې قضاوت يې د خپل وخت د ارزښتونو له مخې کړی نه د هغه وخت د معيارونو له مخې چې پېښې په کې شوې دي.»۴۰ په دې ډول په دغه اثر کې د غبار نفوذ پوره څرګند دی. ده هم د ځينو تاريخ پوهانو په شان ښودلې چې تاريخ په اصل کې معاصر تاريخ دی او افاقي کېدلی يا پوره افاقي کېدلی نه شي.

کاکړ وايي چې د غبار قاضي توب د هغه د تاريخ په دوهم ټوک کې لا څرګند دی. د دغه اثر په کره توب کې شک دی. په زيات ګومان سره چې په هغه کې به لاس وهل شوی وي. د غبار د کتاب دوهم ټوک د لومړي ټوک په دوام د حبيب الله کلکاني له امير کېدلو نه پيل کېږي او د شاه محمود د صدراعظمۍ تر پايه پورې رسيږي. کاکړ وايي چې غبار د صدراعظم محمد داود دوره، د قانوني پاچايي دوره او د لومړي جمهوريت دوره په کې نه دي ښوولې. په دې چې په دغې مودې کې د پراخو سمونونو په پايله کې افغانستان پرمختګ وکړ او د لبرال اساسي قانون پر بنسټ د ډموکراسۍ او ازادۍ خاوند شو. د همدغه پرمختګ او داسې هم د امنيت د خوندي کېدلو له امله و چې د افغانستان نړيوال حيثيت لوړ شو. غبار به په دې هم له دغو دورو له بيان نه ډډه کړې وي چې بيا اړ کېده هغه اساسي او پراخ سمونونه بيان کړي چې د واکمنې کورنۍ د غړو په نوښت او سروالۍ پلي شوي وو. بيا نو ده نه شو کولی چې هغه ترخې نيوکې وکړي چې په محمد هاشم خان يې کړې وې. دغه دوره په رښتيا ځپونکې او وېره ونکې وه، خو ښه اړخونه يې هم لرل چې هغه د پوهنې راژوندي کول او پراختيا او د سرتاسري امنيت خوندي کول وو چې د هغو په پايله کې د هېواد وروستي پرمختګونه شوني شول. يو تاريخپوه هېڅکله يو اړخېز نه وي ځکه چې يوه تاريخي دوره نه ټوله سپينه، نه ټوله توره، نه ټوله ښه او نه ټوله بده وي. خو غبار دلته پوره يواړخېز شوی او د مشروطه غوښتونکو د وروستي غړي په توګه يې د تاريخ نه د غچ اخېستلو له پاره ګټه پورته کړې ده.

کاکړ وايي چې ده د اينې په مجاله کې په دغه اثر اوږد بحث کړی چې له بده مرغه زما سره نشته چې مهم ټکي يې لوستونکو ته وړاندې کړم. خو علاقه من کولی شي په اينه کې يې ولولي. زه به دلته يوازې هغو مهمو ټکو ته د لوستونکو پام واړوم چې غبار د پښتنو په اړه څرګند کړي او کاکړ ورته کتنه کړې ده.

غبار د ډېورنډ د کرښې د دواړو خواوو پښتانه دولس ميليونه ښوولي چې د هغه په فکر شپږ ميليونه په پښتونخوا او شپږ ميليونه يې په افغانستان کې اوسېدل. د غبار دغه وينا رښتيني نه ده. د پښتونخوا پښتانه د افغانستان د پښتنو په پرتله نږدې دوه برابره دي چې لس کاله د مخه د رسمي سرشمېرنې له مخې ۲۳ ميليونه وو. غبار د افغانستان پښتانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم لږ ښوولي دي. د غبار شپږ میلیونه پښتانه په ۱۹۶۲ کال کې چې د رسمي سرشمېرنې له مخې د افغانستان نفوس پنځلس میلیونه ښودل شوی په سلو کې څلوېښت کیږي. اول خو په دغه کال کې په افغانستان کې سرشمېرنه نه ده شوې او نه د افغانستان نفوس پنځلس میلیونه و. بله دا چې په دغه شپږ میلیونه کې کوچیان هم راځي چې غبار پوره او نیم کوچیان دوه نیم میلیونه ښوولي دي. په دوی کې پوره کوچیان چې کری کال یې کوچې توب کاوه دوه میلیونه وو چې هغوی ټول پښتانه یا نږدې ټول پښتانه وو. په دې حساب د غبار د لیکنې له مخې په ټول افغانستان کې میشته پښتانه نږدې څلور میلیونه کیږي. غبار د ځینو پښتنو لویانو په اړه هم دغسې بې بنسټه لیکنې کړې چې ډېر څرګند مثال یې محمد ګل خان مومند دی چې هغه یې د پانګورو په ډله کې میلیونر ښوولی دی. رښتیا دا دي چې مومند په ۱۹۴۰ کال کې د ګوښه کېدو وروسته ۲۴ کاله ژوند وکړ. که څه هم د هغه د فکرونو او کړو سره به هر څوک موافق نه وي، خو په دې کې شک نه شته چې هغه له یوې ناکرارې دورې نه وروسته د امنیت په خوندي کولو کې ټاکونکی رول لوبولی او د نامحدودو اختیاراتو سره سره یې ژوند په تقوه سره تېر کړی او په پای کې په یوه کرایي کور کې وفات شوی دی.

غبار د پښتو ژبې سره هم داسې چلند کړی دی. د غبار د لیکنې له مخې پښتو «در ولایات شرقی، جنوبی و جنوب غربی کشور بیشتر تکلم میشود»۴۱ ژباړه «په ختیځو، سویلي او د هېواد په سوویلي لوېدیځو ولایتونو کې زیاته ویل کیږي» د غبار د لیکنې له مخې د کابل په ښار، کوهدامن، غوربند، تګاو، میدان، وردګو او بګرامیو کې پښتو نه ویله کیدله او د ګردېز د ښار نه برسېره د لویې پکتیا په نورو سیمو کې له پښتو نه غیر نورې ژبې هم ویل کېدلې. غبار د دغو لیکنو سرچینې نه دي ښوولې، ځکه چې دغسې سرچینې نه شته چې د هغه ارقام تایید کړي. سره له دې دغه بې بنسټه ارقام د میر محمد صدیق فرهنګ او ټولو هغو له پاره سرمشق شوي چې کوښښ کوي د پښتنو په لږ ښوولو سره سیاسي ګټه وکړي او په دې ډول ملي پېوستون ټپي کړي.

د افغانستان د قومونو په اړه چې تر اوسه څېړنه شوې هغه د انجنر محمد انعام په زیار شوې چې د هغې له پاره د ننه په وطن او د باندې افغانانو شپږ کاله څېړنې کړې دي. د هغه د «قومي جوړښت» په اثر کې پښتانه د نسب په لحاظ په سلو کې څه باندې دوه شپېته او د ژبې له مخې پنځه پنځوس دي.۴۲ د افغانستان ستونزه په دې نه حل کیږي چې یو قوم کم وښودل شي او بل لوی وښودل شي خو رښتین والي ته باید هرومرو درناوی وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه چې افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی او دوی د اساسي قانون او حقوقي منشورو له مخې برابر حقونه لري او مکلف دي چې دوی د دغو حقونو درناوی وکړي. حکومت باید د ولسي جرګې له لارې داسې مقرره وباسي چې د هغې له مخې هر هغه څوک چې کوم قوم ته سپکاوی کوي جزا ووینې. کاکړ په پای کې وايي چې دا په ځانګړې توګه د هر افغان تاریخ پوه دنده ده چې تاریخ ته د قوم، ژبې، مذهب، سیاست او ایډیالوژۍ د نظر نه ونه ګوري او د «ران کې» په شان کوښښ وکړي، پېښې هغسې چې په واقع کې شوې وي بیان کړي او په خپل بیان کې ځان ونه ښيي. تعبیرونه، حکمونه او نظرونه یې باید د شواهدو پر بنسټ وي. خو غبار په دوهم ټوک کې په دې برخه کې پاتې راغلی دی. همدارنګه کاکړ د محمد صدیق فرهنګ کتاب ته چې «افغانستان په وروستیو پنځه پېړیو کې» نومېږي هم کتنه کړې ده.

## کاکړ او د محمدصدیق فرهنګ کتاب «افغانستان درپنج قرن اخیر»

کاکړ که څه هم په نظر کې درلودل چې د فرهنګ په یاد شوي کتاب رساله وکاږي خو د بده مرغه ژوند ورسره یاري ونه کړه او دا کار پاتې شو. زه به یوازې د کاکړ د مقالې چې « افغانستان په وروستیو پنځه پېړیو کې » په کتاب یو نظر نومېږي، په ځینو مهمو ټکو رڼا واچوم. کاکړ وايي چې د لیکوال پېژندنه د هغه د اثر په پېژندلو کې زیاته مرسته کوي په دې چې د لیکوال او د هغه د اثر تر منځ رښتیني اړیکه شتون لري.

کاکړ وايي چې د ډېرو روایاتو له مخې محمد صدیق فرهنګ په اصل کې د جاغوري د هزاره ګانو د میرانو څخه دی چې د استقلال د لیسې نه خلاص شوی، خو لوړې تخصصي زده کړې یې نه دي کړې. پلار یې سید حبیب نومېده چې د وطن د نامتو مستوفیانو څخه و. د فرهنګ ورور سید قاسم رښتیا هم یو مشهور شخص او لیکوال و. که څه هم د دغې کورنۍ وتلي کسان د میر او سید القاب لري خو په روحاني چارو بوخت نه، بلکې په هېوادنۍ چارو بوخت وو. دوی په ځانګړې توګه د مشروطه شاهي دورې په دولت کې په لوړو چارو او عملي سیاسي ژوند کې فعاله ونډه درلوده.

کاکړ وايي تر هغه ځایه چې فرهنګ ورته مالوم دی د ده شخصیت او نړۍ لید د هغو مقالو نه جوتېږي چې نومورې د ورځینیو او په ځانګړې توګه د اقتصادي چارو په اړه د روزګار په اونیزې جریدې کې، چې د مشروطه شاهي دورې کې چې د بیان ازادي او خپرونې په افغانستان کې لوړې درجې ته رسېدلې وې، خپرولې. فرهنګ په دغو مقالو کې پېښې د مارکسستي لور لید له مخې تحلیل کولې. د ببرک کارمل په مشرۍ یې د خلک ډموکراټیک

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوند د پرچم اړخ ته ميلان درلود. د دغه ميلان له مخې و چې کله شوروي اتحاد ببرک کارمل په واک کړ فرهنګ د ببرک کارمل مشاور چې په ظاهر کې د ببرک په خدمت کې و ولې په نانبغ ډول د شوروي روسيې په خدمت کې واقع شو. خو د فرهنګ تر ټولو مهم اثر « افغانستان په وروستيو پنځه پېړيو کې» دی.

کاکړ وايي چې لومړی په خپله د کتاب نوم ناسم دی په دې چې په هغه کې د پنځو پېړيو تاريخ ځای شوی نه دی، بلکې د درې ورستيو پېړيو تاريخ په کې راغلی دی. دوه پېړۍ شپاړسمه او اولسمه په څو پاڼو کې راغلې دي او دا برخه د هغه څه نه ډېره لږه ده چې مولف د افغانستان د لرغوني تاريخ زردښت نه تر دغه وخته پورې ورته ځانګړې کړې ده.

د ليکوال دغه ادعا هم سمه نه ده چې د (ج) په مخ کې وايي «د کتاب په تاليف مې په افغانستان کې په اسلامي دوره کې د وروستيو پنځو پېړيو په تکيه ياني د هغه مهال نه چې د اروپايانو پښه د ختيځ په لور خلاصه او د دې سيمې (کومې سيمې؟) په تاريخ کې نوې دوره پرانېستله.»، پيل کولو ته اقدام وکړ.» ۴۳

افغانستان په واقعيت کې د نولسمې پېړۍ په پيل سره او نه د هغې نه د مخه د اروپا د تاريخ او اروپايانو نه اغېزمن شوی دی. که څه هم يو څو تنه ګرځندويان په دوو پېړيو کې د افغانستان نه تېر شوي خو هغوی ملي سياست په هېڅ ډول اغېزمن کړی نه دی.

فرهنګ له يوې خوا تاريخي څېړنه په اساس کې علمي کار بولي او د بلې خوا د تاريخ په اړه وايي چې د تاريخ مانۍ په قطعياتو نه بلکي په شونتياوو ولاړه ده . کاکړ وايي چې تاريخي څېړنه يا ليکنه علم نه بلکې يو ميتود، شېوه او د څېړنې فن دی. علم او پوهه او ميتود دوه مقولې دي. علم په اساس کې د پديدو تر منځ د اړيکو نه منځ ته راځي. د بېلګې په توګه د طبيعي علومو په ساحه کې حقيقتونه د لابراتواري تجربو پر بنسټ منځ ته راځي. خو د ټولنيزو علومو د تاريخ په ګډون مادي او معنوي شواهد د بيلو بيلو او متضادو سرچينو نه لاسته راځي او ليکنه په دواړو ساحو کې د کره مهمو اړوندو حقيقتونو په کره ميتود سره ارزيابي کيږي. له هغه نه حکم يا کليه لاس ته راځي. په دې توګه د حکم، علم او تيوري بنسټ حقيقتونه دي. د څو کلياتو او حکمونو نه علم منځ ته راځي او تيوري هم په دغو کلياتو او احکامو جوړه ده. که په دغو حقايقو کې بدلون راغی او يا نوي حقيقتونه پيدا شول عمل او تيوري هم بدلون کوي.

کاکړ دا هم وايي چې فرهنګ که څه هم د مارکسستانو په شان خلک د تاريخ جوړوونکي ګڼي خو هغه هم خپل کتاب د نورو غوندې دولتي شخصيتونو او وتليو کسانو ته ځانګړی کړی دی. برسېره پر دې د ده سرچينې هم نږدې ټولې د دوهم لاس دي. د هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه اقتباس یې هم تحریف کړی دی. د بېلګې په توګه فرهنګ خپل ماخذونه په منظم لست کې نه دي ښوولي چې د علمي اثر حتمي توکی دی، بلکې د ځینو نومونه یې هم ناسم ورکړي دي. د کاکړ له کتاب نه یې د خپلې لیکنې دپاره ډېره استفاده کړې خو ریفرنسونه یې لږ ورکړي، یوازې په متن کې یې په غلط نوم «افغانستان در دوره پادشاهي امیر عبدالرحمن خان» قید کړی دی. په داسې حال کې چې د کتاب نوم «افغانستان، تحقیق در باره انکشافات سیاسي داخلي ۱۸۸۰-۱۸۹۶» دی. کاکړ وایي چې فرهنګ د ده د کتاب د نوم په ژباړه کې څلور غلطۍ کړې دي. لومړۍ دا چې لکه چې د مخه مو یاده کړه د کتاب نوم غلط ژباړل شوی دی. دوهمه دا چې نوموړي د پادشاه او امیر په اصطلاحاتو کې په توپیر نه دی پوه شوی. دریمه دا چې کتاب د امیر عبدارحمن ټوله دوره په غېږ کې نه نیسي لکه چې د فرهنګ د ژباړې نه ښکاري، بلکې د هغه د ۲۱ کلنې سلطې نه ۱۶ کاله دربر نیسي. څلورم دا چې دا کتاب د افغانستان ټولې موضوع ګانې نه بیانوي لکه چې د فرهنګ د ژباړې نه ښکاري، بلکې کورنۍ سیاسي پېښې بیانوي.

بل دی تاریخي دورې په خپله وینا د اساسي ټولنیزو او فرهنګي بدلونونو له مخې په درو اساسي برخو وېشي:

۱- لرغونې دوره د زردښت د پیدایښت نه د اسلام د منځ ته راتلو پورې

۲- دوهمه دوره د اسلام د ظهور نه د افغانستان د خپلواکۍ تر اعلامه پورې

۳- معاصره دوره د خپلواکۍ د اعلان نه وروسته

خو د ده د تاریخي دورې دغه وېش هم بې بنسټه دی. لکه چې یې له یاده وتلي وي چې ده په خپل کتاب کې لکه چې د مخه مو یادونه وکړه چې فرهنګ د ختیځې نړۍ مځکو ته د اروپایانو راتګ د دغې سیمې په تاریخ کې نوې دوره بللې ده چې طبیعي ده چې افغانستان د هغې برخه ده.۴۴

کاکړ وایي چې بل مهم ټکی دا دی چې فرهنګ د افغان، پښتون، غلزایي او افغانستان د کلیمو په اړه هم لیکنې لري. دی لیکي: «اسلامي تاریخ لیکونکي او جغرافیه لیکونکي، د زیږدي د لسمې پېړۍ راهیسې پښتانه د افغان په نوم یاد کړي او د دوی ژبه یې افغاني بللې ده.»۴۵ بیا لیکي چې درې واړه نومونو پشتون، افغان او پټان د شپاړسمې پېړۍ نه وروسته کتابونو ته لاره موندلې او په یوه مانا سره کارول شوي دي. دا چې د پشتون نوم په ډېرو پخوانیو زمانو کې ثبت شوی فرهنګ هغه په شک او تردد سره یاد کړی او لیکي: «ځینې مولفین اولاف کیرو او بهادرشاه ظفر کاکاخېل د پشتون کلیمه د پکتویکه د کلیمې سره چې د یونان د نومیالي تاریخپوه هېرودت په تاریخ کې د هغه قوم د نوم سره تړلې چې د سند

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سین په حدودو کې میشت و او ادعا کوي چې نني پښتانه د هخامنشي داریوش د وخت د پکتیوکانو بقایا دي»۴۶ ورپسې فرهنګ خپل شک او تردید لا په ټینګو عباراتو څرګندوي او لیکي چې «هر څومره چې د داریوش د عصر او د پشتون د کلیمې د پیدایښت تر منځ چې د اولسمې زیږدې پیړۍ د لیکوالو په اثارو کې شته، د دوو زرو کلونو نه زیات واټن موجود دی، په دې اړه شک پیداکوي»۴۷ او ځینو (فرهنګ) دا پوښتنه کړې چې بیا نوموړی قوم په دغه موده کې چېرې و چې په دې سیمه کې د اسلام د مخه او وروسته د تاریخ او جغرافیې په زیاتو اثارو کې چې لیکل شوي دي یاد شوی نه دی. فرهنګ د خپل تردد ځواب په خپله په سستو او نېښناکه توګه وایي او لیکي چې «دا شک په دې ډول رفع کېدای شي چې پښتانه همدلته د سیند په چاپېر کې موجود وو، خو په خپله ژبه کې یې خط او لیکل نه وو هغو مولفینو چې له دوی نه یې یادونه کړې ده د پشتون د کلیمې پر ځای د افغان کلیمه چې په فارسي ژبو کې رواج وه کارولې او د پشتون کلیمه یې د قلم نه غورځولې ده.»۴۸

کاکړ وایي چې فرهنګ په دغې لیکنې سره غواړي دا ښکاره کړي لومړی دا چې د افغان نوم د اولسمې پیړۍ نه وروسته په اثارو او کتابي سرچینو کې ثبت شوی او د هغه نه د مخه د افغان کلیمه په کتابونو کې نه ده لیکل شوې. دوهم دا چې نورو پښتانه د افغان په نوم یاد کړي دي. څنګه چې پښتانه د خط او کتابت خلک نه وو همدغه نوم (افغان) په کتابي اثارو کې د پښتون ځای ونیو. دریم دا چې د اسلام نه مخکې دورو کې او د اسلام وروسته د پښتنو نه یادونه نه ده شوې او وروسته نورو د پښتنو نه د اجیرو سپاهیانو په حیث ګټه پورته کړې ده. څلورم دا چې د فرهنګ په فکر پښتانه د اسلام د ظهور نه د مخه او وروسته دورو کې د سیند په چاپېر کې اوسېدل یاني په خراسان کې نه وو، که څه هم د خپل کتاب په یو بل ځای کې پښتانه د خراسان په اوسېدونکو کې یادوي.

لومړی د افغان کلیمه تر هغه ډېره پخوانۍ ده چې د فرهنګ په تاریخ کې ثبت شوې ده. د البېروني په وینا د افغان نوم د هغې کلیمې سره تړاو لري چې په مهاباراته کې د اسواکا (Asvaka) په نامه د ګندهارا په سیمه پورې اړه لري او مانا یې اس سواره دي یاده کړې ده. مهاباراته نږدې په ۱۲۰۰ کاله مخزیږدې کې منځ ته راغلی دی. احمدعلي کهزاد په خپل وروستي اثر کې «افغانستان په شاهنامه کې» وایي چې د افغان کلیمه د اسواغانه (Asva-ghana) د کلیمې د جوړښت نه چې لومړۍ برخه یې اسوه یا د پښتو اس او د پاړسو اسپ او دوهمه برخه یې غان یې ځای او وطن دی. په دې ترتیب اسواکا یا اسواغانا او وروسته افغان د «سوارو وطن» کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه وروسته افغان د ابګان او اوګان په بڼو د نقش رستم په معبد کې په پرسي پولیس کې لیدل کیږي. د دغې کتیبې پر بنسټ پوهاند شپرېنګلینګ وایي چې ګوندافر ابګان رازمود نه اخېستل شوی دی چې په دا کتیبه کې د اول شاهپور ساساني په امر په پارتي، منځنی پاړسو او یوناني ژبو لیکل شوې ده. دی وایي د ابګان او اوګان له پاره د افغان نه ښه کلیمه پیدا کولی نه شو. اولاف کیرو هم په خپل «پټان» کې وایي چې د اپکان او ابګان نه د افغان کلیمې وده طبیعي مالومیږي.

په شپږمې زیږدې پېړۍ کې یو هندي ستوري پېژندونکی وراهامیرا په خپل اثر «بریهت سمیهتا» کې د اواګان (Avagana) کلیمه د نورو کلیمو په څنګ کې د دې خلکو له پاره کاروي. یوه پېړۍ وروسته نامتو چیني ګرځندوی هیون شانګ افغان د اپوکین په بڼه ثبت کړی دی. کننګهم په ځانګړې توګه وایي چې دی پر دې باوري دی چې د شون چونګ موخه د اپوکین د کلیمې نه افغان دی. د لسمې پېړۍ نه وروسته د افغان نوم د لومړي ځل له پاره په حدود العالم په کتاب کې یاد شوی دی. له دې وروسته د ابګان او اوغان نوم د پاړسو او عربي اثارو کې نه شته خو د افغان نوم دومره زیات یاد شوی دی چې یادولو ته یې اړتیا نه شته.

دوهم د تاریخپوه غبار او ژبپوه مارګن سټرن په نظر د پښتون کلیمه د افغان د کلیمې نه پخوانۍ ده. د پښتون کلیمه د لومړي ځل دپاره د ویدا په لرغوني مذهبي کتاب کې د پکتاس (Pakthas) په بڼه راغلې ده. هیرودت د تاریخ پلار د مخزیږدې نه پنځه پېړۍ د مخه د پکتیان (Paktian) په بڼه او هېواد یې د پکتیوکا (Paktiyca) په بڼه یاد کړی دی. که څه هم مارګن سټرن وایي چې د پښتون کلیمه د پرسوانا نه جوړه ده خو اولاف کیرو د مارګن سټرن نظر ردوي او وایي چې پرسوانا د پارس کلیمې ته ډېره نږدې ده.

بل فرهنګ پکتیکا او ګندهارا نه یادوي او هغه یوازې د سیند سیمې یا د سیند دواړه خواوې یادوي. اولاف کیرو د اورال شتاین د لیکنې له مخې پکتیکا د کابل او سیند تر منځ سیمه بولي. بیلو د ګندهارا یا پکتیکا سیمه لا نوره پراخه یادوي چې دا سیمه د سند او هلمند تر منځ پراته وه. کاکړ وایي چې نورې سرچینې هم څرګندوي چې پښتانه د میلاد نه دوه پېړۍ د مخه او همدارنګه په اولسمې زیږدې پېړۍ کې په غزني، غور او شونې ده په بلخ کې اوسېدل. کهزاد «افغانستان په شاهنامه کې» وایي چې د کوشانیانو لومړی پاچا کوچولو کد فیزس چې د مخزیږدې دوهمې پېړۍ په نیمایي کې کوفن (کابل) او کي پن (کاپیسا) ونیول د غزني په سوویلي سیمو کې د بوتونو په نامه د خلکو سره مخامخ شو چې دغه خلک فرانسوي واله دو پوسن پختو یا پوختو وبلل چې پښتانه دي. د اوومې زیږدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېړۍ د شون چونګ د ليکنې نه هم ښکاري چې پښتانه په اوومه زېږدي پېړۍ کې په غزني کې اوسېدل. د شون چونګ د ليکنې پر بنسټ دې پايلې ته رسېږي چې د غزني خلک پښتانه وو. شون چونګ ليکي چې الفبا او د دې خلکو ژبه د نورو نه توپير درلود. د دې ليکنې له مخې ښکاره ده چې پښتنو الفبا درلودل او د فرهنګ د ادعا پرخلاف دوی بېسواده نه وو. څنګه چې شونګ چونګ د ترکي او هندي ژبو سره بلد و نو کنګهم د ده د ليکنې نه دې پايلې ته ورسېد چې د غزني چاپېره خلک پښتانه وو. کنګهم زياتوي چې «زه د پايلې ته رسېدلی يم چې په زيات ګومان د دې خلکو ژبه پښتو وه.» له دې وروسته د سلطان محمود غزنوي په وخت کې زيات شمېر پښتانه په دې سيمه کې اوسېدل او د ده په خدمت کې ځينې ملکان شامل وو. دوی د هندوستان په نيولو کې د سلطان سره مرسته وکړه او د ده د امپراتورۍ شمزۍ جوړوله. د فرهنګ د ليکنې برخلاف د يونان د لرغونو ليکوالو نه برسېره تر اوومې ميلادي پېړۍ پورې د پشتون او پشتو نوم ثبت شوی دی.

د غزني برسېره غور د پښتنو د اوسېدلو ځای و. د غبار په وينا غور په اصل کې د پښتو د کليمې غر نه جوړ شوی چې د وخت په تېرېدو سره په غرج او غرش باندې بدل شو او دا نوم د اسلام په دوره کې په غرجستان، غرچستان او غرسستان باندې واووښت. غبار دا هم وايي چې د غور پخوانو اوسېدونکو په زيات ګومان سره د سووېل- ختيځ په کومه اريايي ژبه خبرې کولې خو دغه ژبه د غزنويانو په دربار کې د فارسي ژبې سره توپير درلود. دغه پخوانۍ اريايي ژبه او د يونان او هند نورې ژبې چې هلته يې نفوذ کړی وو ګام په ګام د منځه لاړې او ځای يې محلي لهجې پښتو ونيو.

دغه مهال ته نږدې فردوسي په خپلو شعرونو کې د افغانانو د جنګي ځواک نه ډېر ځله يادونه کړې ده. د نوموړي د شعرونو ښکاري چې افغانانو په فراه کې هم ژوند کاوه او هلته يې د مرباد د غره پر سر استوګن او د کهزاد په وينا د هغه ځای کلا د زړورو او ډېرو ځواکمنو افغان جنګياليو ډکه وه.

د فردوسي شعر:

يکـــی قلعـــه بـــالای ان کـــوه بـــود
کـــه ان حصـــناز مـــردم انبـــوه بـــود

مـــر ان حصـــن را نـــام مربـــاد بـــود
ازو جـــان نـــابخردان شـــاد بـــود

(c) ketabton.com: The Digital Library



بـــدژ در یکیبـــدکنش جـــای داشـــت
کـــه در رزم بـــا اژدهـــا پـــای داشـــت
نـــژادش زافغـــان ســـپاهش هـــزار
همـــه نـــاوک انـــداز و ژوبـــین گـــذار

دو رانـــــش بماننـــــد ران پیـــــل
کـــه رزم جوشـــان تـــر از رود نیـــل

بـــه نیـــرو جـــدا کـــردی از کـــه کمـــر
گریـــزان زورش بـــدی شـــیر نـــر

ورا نـــام بـــودی کـــک کـــوه زاد
بگیتـــی بســـی رزم بـــودش بیـــاد۴۹

د افغانانو د زړورتیا نه د تاریخ پلار هېرودت داسې یادونه کوي: «د نړۍ د هغې برخې تر ټول زړور خلک دي.»۵۰

ډورن وايي چې پښتانه له کوم بل ملک نه افغانستان ته نه دي تللي بلکې لکه چې سر جونز ویلیم وايي «د لرغوني پاروپامیزاد (یاني مرکزي افغانستان او شاوخوا سیمو) اصلي او ځايي اوسېدونکي دي.»۵۱ ډورن وايي چې «تاریخ دا ثابته کړې ده چې د غزني سلطان محمود د واکدارۍ په وخت کې او د هغه نه ډېر پخوا دوی (افغانان) په هغو کلاوو کې اباد وو چې تر اوسه په کې میشته دي.»۵۲

پوهاند ډاکټر حبیب الله تږي د خپل کتاب «پښتانه» څلورم څپرکی: پښتانه پخوا چېرې اوسېدل؟ موضوع ته ځانګړی کړی دی. نوموړي پښتانه په پکتیا او د هغې چاپېر سیمو کې، پښتانه په غزني کې، پښتانه د کابل په سیمو کې، پښتانه په پخواني افغانستان کې، پښتانه په سند کې څېړلي دي چې د دې موضوع مینه وال کولی شي دا مهم کتاب ولولي.

فرهنګ د غلجیو په اړه وايي: «پس از سقوط دولت خلجی در دهلی و شعبه دیگر ان در مالوه این کلیمه در هند از رواج افتاد و بجای ان در خراسان قبیله ای بنام خلجی ظهور کرد که یکی از شاخه های مهم ملت پشتون یا افغان بود... که در اثر معاشرت به پشتون ها زبان و فرهنګ انان را پذیرفته و با تحریف نام از خلجی به صفت یکی از شاخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



های پشتون شناخته شده اند»۵۳ ژباړه «دغه کليمه په ډيلي کې او د هغوی بله ځانګه په مالوه کې د خلجي دولت د نسکورېدو وروسته په هند کې د رواج نه ولوېده او د هغې په ځای په خراسان کې د خلجي په نوم يوه قبيله را څرګنده شوه چې د پښتون يا افغان ملت يو مهمه ځانګه شوه...چې د پښتنو سره په ژوند کولو کې يې د دوی ژبه او کلتور ومانه او د خپل نوم خلجي په تحريفولو سره د پښتون د يوې ځانګې په شان وپېژندل شو.» فرهنګ مطلق حکم کوي چې غلجيان په اصل کې ترک دي. کاکړ وايي چې فرهنګ د يوه انګليسي ليکوال لارنس لاکهارت په کتاب چې د صفوي کورنۍ نسکورېدل او په پارس باندې د افغانانو برې نوميږي، حواله ورکوي. کاکړ وايي تر هغه ځايه چې ليکوال ته مالومه ده لاکهارت په خپل کتاب کې دا مطلب ځای کړی دی چې د خلج په نامه د ترکانو يو قوم د زيږدې په اومې پيړۍ کې په کومه سيمه کې ورک شو او په لسمه پيړۍ کې د غزني په چاپېر کې څرګند شو خو هغه وخت د ګاونډيو پښتنو سره د ګډېدو وروسته غلزي پښتانه شول.

فرهنګ د دغه روايت په منلو سره خپله پخوانۍ خبره ردوي چې ويلي يې و چې پښتانه د اسلام نه د مخه او وروسته د سند په چاپېر کې اوسېدل ياني په غزني کې نه وو. خو دغه روايت د تاريخي، ژبنۍ او انتروپولوژۍ د زاويې له مخې ناسم دی.

په تاريخي لحاظ په دې ناسم دی چې کله يو قوم د کسپين نه د غزني چاپېر ته مهاجرت کوي بايد دا مهاجرت په دومره اوږده واټن سره چې پخوا دا واټن وهل شوې نه وي ډېر وخت نيسي او د لارې په اوږدو کې د نورو قومونو او ولسونو سره تماس او ان ټکر کوي او دغه پېښې په يوې او يا څو سرچينو کې بايد ثبت شوې وي. شونې نه ده چې داسې لويې پېښې چې واقع شوې وي د تاريخ ليکونکو، جغرافيه ليکونکو او پېښو ليکونکو نه هغه په داسې عصر کې چې کتابت او پېښې ليکنې په سيمه کې دود وې، پټ پاتې شي.

د ژبې د نظره چې يو قوم په بل کې ګډ شي شونې نه ده چې ژبه يې تر دې کچې له منځه لاړه شي چې لږ تر لږه يې څو پيړۍ اثر پاتې نه شي. په افغانستان کې يو شمېر قومونو د نږدې قومونو سره د ګډېدو له کبله خپله ژبه له لاسه ورکړې ده، خو نه په بشپړه توګه لږ تر لږه زيات شمېر لغات د منحل شوي قوم دوهمې اکتسابي ژبې کې ليدل کيږي. هزاره يې ښه بېلګه کېدای شي چې هزاره ګي لهجه د پارسو د لهجې سره زيات توپير لري. خو د غلزيو په پښتو کې نه د ترکي خلجي قوم کليمې ليدل کيږي او نه د غلزايانو پښتو د نورو پښتنو د ژبې سره اساسي توپير لري.

د انتروپولوژۍ له نظره شونې نه ده چې د ترکو د خلج غونډې قوم چې په اصل کې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوي قومي موسسې درلودې د دوو یا دریو پېړیو په جریان کې یو قوم په بل قوم کې تر دې کچې ګډ شي چې د خپلو نیکو اړوند ټول خویونه، رسوم، عقیدې او کیسې یا په یوه کلیمه ټول کلتور له لاسه ورکړي.

همدارنګه محمد صدیق فرهنګ د تعصب له مخې د غلزیانو په اړه دا افسانه چې د خلجي قبیلې د نوم په اړه تراشل شوې ده په خپل کتاب افغانستان در پنج قرن اخیر کې راوړې ده چې ګویا د غلزیانو نوم غلزوی دی. په دې چې د بېټ نیکه لور متو د غور له یوه شاه زوی سره د دوی په کور کې اوسېدلې، پټه مینه درلوده او د مخه تر دې چې د دوی شرعي واده وشي په متو کې د امیندواری نښې ښکاره شوې. بیا دوی نکاح وتړله. هغه ماشوم چې د متو زوی وزیږېد د غلزي (د غلا زوی) نوم یې ورباندې کېښود. د دغه نوم افسانه «لومړی ځل په مخزن افغاني کې لیکل شوې او ورپسې نورو تاریخونو لکه خلاصه الانصاب، تاریخ مرصع، پښتانه د تاریخ په رڼا کې، د پښتنو تاریخ ... کې نقل شوې ده»۵۴ د دغې افسانې په اړه به اوس دومره ووایم چې پوهان د نویو څېړنو له مخې په یوه خوله وايي چې دا نوم غرزی یا د غرو خلک دی. د غرزي کلیمه ورو ورو په غلزي، غلجي او خلجي اوښتې ده.

فرهنګ دا هم وايي چې د پښتو ژبو د شمېر په اړه بیل بیل ارقام وړاندې شوي دي. غبار یې په سلو کې څلوېښت او ګریګوریان یې په سلو کې پنځه پنځوس یاد کړي دي. دی دا هم زیاتوي چې ډېرو لیکوالو د دولت د رسمي ارقامو له مخې کوچیان دوه میلیونه ګڼلي او هغه یې ټول پښتانه بللي دي. په داسې حال کې چې د ۱۹۷۸ کال د نمونه یي شمېرنې له مخې د یوه میلیون څخه نه زیاتیږي. له دې کبله ویلی شو چې څلوېښت په سلو کې ارقام سم دي.

کاکړ وايي چې فرهنګ د کوچیانو د میشته کولو عملیه د تعصب له امله د نظر نه غورځولې ده. د کوچیانو د میشته کولو عملیه پخوا روانه وه خو په شلمې پېړۍ کې نظر نورو نه ډېره چټکه وه. ناصر، سلېمانخېل، کاکړ او نور په کوهدامن، هلمند، کندوز کې ځمکې ترلاسه او په زیات شمېر میشته شول. دغه د میشتو کېدو عملې د کوچیانو شمېر لږ او د میشتو پښتنو شمېر زیات کړ چې عمومي شمېر یې ثابت پاتې کیږي.له دې کبله د پښتنو شمېر په سلو کې څلوېښت ته نه دی راټیټ شوی او د فرهنګ پایله بې مانا ده. برسېره پردې چې په ۱۹۷۸ کال کې احصایه اخېستل کېده ټول کوچیان د پاکستان نه افغانستان ته راستانه شوي نه وو په دې چې دوی د شپږم نمبر فرمان له مخې چې په هغه سره سود او ګروي د منځه تللي وو او په هزاره جاتو کې د کوچیانو په تاوان تمام شوی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاکړ د لوستونکو پام دې ټکي ته هم اړوي چې فرهنګ د پښتنو پر ځای پښتو ژبې یادوي. د کاکړ په نظر که څه هم ځینې معتصب لیکوالان د افغانستان د نورو قومونو لکه هزاره، ازبک، ترکمن، بلوچ او نور د ژبې پر بنسټ نه شمېري خو یوازې د تعصب له مخې هغوی پښتانه چې خپله مورنۍ ژبه یې د لاسه ورکړې ده د پښتنو په شمېر کې نه روالي خو واقعیت د دوی د ذهن نه د باندې په عیني توګه وجود لري. د واک د فونډېشن د شمېرنې له مخې په افغانستان کې پښتانه د نسب له مخې په سلو کې درې شپېته او د ژبې په لحاظ په سلو کې د پنځه پنځوس نه زیات دي. کاکړ دې ټکي ته هم د لوستونکو پام اړوي چې د فرهنګ دا خبره چې نورو ټول کوچیان پښتانه بللي دي، د دې دا مانا کېږي چې په کوچیانو کې غیر پښتانه عنصر شته چې دا واقعیت نه لري او که وي دومره لږ دي چې په نشت حسابېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریم څپرکی

# کاکړ او د افغانستان لرغونی تاریخ

زه د کاکړ د تاریخي اثارو څېړنه د هغه اثر نه چې د هېواد لرغوني تاریخ ته وقف شوی دی او «پښتون، افغان، افغانستان» نومېږي، پیلوم. دا کتاب د لرغوني افغانستان د تاریخ یوه لنډه سروې ده چې موخه یې د افغانستان په لرغوني تاریخ کې د پښتنو څرک پیدا کول دي. کاکړ د تاریخ لیکنې د علمي میتود له مخې سمه خبره کوي هغه دا چې «د اریانه په تېره د لومړي مهالونو تاریخ کښل ګران څه، چې تر ډېره حده ناشونی کار دی.»۵۵ نوموړی اساسي ستونزه دا ګڼي چې د لرغوني اریانا په اړه شواهد لږ او ان د نشت په حال کې دي او دا خو ښکاره ده چې «چېرته شواهد نه وي، هلته تاریخ نه وي.»۵۶ څکه د اریانا ویدي دوره او په ځانګړي توګه د پاراداتا یا پیشدادیانو دوره افسانه ییز ماهیت لري.

خو د اریانا اوستایي دوره په نسبي ډول د زردښت د اوستا او د هېرودت د تاریخ د شته والي له امله او بیا د لوی سکندر د یرغلونو وروسته د هغې په اړه تاریخ پوهانو ډېر کتابونه کښلي چې د هغو له برکته دا دوره تر زیاتې اندازې روښانه شوې ده.

داچې پښتون څه وخت پیدا شوی ښکاره نه ده په خپله د انسان پیدایښت یوه ډېره پېچلې او لانجمنه مسله ده. د دې مسلې په اړه انسانان په دوو ډلو وېشل شوي دي. ځینې وایي چې ټول ژوي او په هغه جمله کې انسان لوی څښتن پیدا کړي دي خو ځینې نور بیا وایي چې ژوند او د انسان پیدایښت د تکاملي عملیې پایله ده.

زیات ساینس پوهان د دې نظرېې پلوي دي چې: «د کایناتو پیدایښت دیارلس عشاریه اوه میلیارډه کاله پخوا د یوه غټ ټکر یا چاودنې (The Big Bang)»۵۷ پایله وه. د مځکې کره چې زموږ د لمریز نظام یوه سیاره ده د دغې غټې چاودنې په پایله کې منځ ته راغلې او لومړی د اور د کرې په څېر وه. د مځکې دا کره ورو ورو یخېدله او په پای کې دوو لاملونو د ژوند په منځ ته راتلو کې ډېر مهم رول ولوباوه. لومړی دا چې د مځکې د کرې پر چاپېر د اتموسفیر تشکیلېدل او بل د مځکې د کرې پر مخ د اوبو منځ ته راتګ و.

پوهان د انسان د پیدایښت لومړی ځانګو د هغه مهال د انسانانو د هډوکو د موندنې او سپړنې (تحلیل) پر بنسټ افریقا بولي. «له دغو انسانانو نه ځینو یې اټکل سل زره کاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مخه سویل- لوېدیځې اسیا ته او بیا له دغو سیمو نه د اسیا- اروپا پراخو تودو سیمو ته مهاجرت وکړ.»۵۸

دا هم مالومه نه ده چې انساني نژادونه څه وخت منځ ته راغلي او څرګند شول. انسانان په څلورو توکمیزو یا نژادي ډلو ویشل شوي دي چې سپین پوټکي، زیړ پوټکي، تور پوټکي او سور پوټکي دي. دا توکمیزې ډلې په نسبي توګه د ثابتو پیدایښتي ځانګړتیاوو: لکه رنګ، وېښته، مخ او بدني جسامت له مخې یو د بل نه توپیرېږي. اوس د DNA د کتنو په برکت د نژادو توپیر په کره توګه کېږي. سپین پوټکي هم په دوو څانګو وېشل کېږي چې یوه یې سامي او بله یې اریایان دي. خو څرنګه چې پښتانه په اصل کې اریایان دي نو له دې کبله به د اریایانو او د هغوی د ټاټوبي په اړه لنډه یادونه وکړم.

## اریایان او د دوی ټاټوبی

اریایان د سپین توکم یوه څانګه ده چې د هندو- اروپایي خلکو نیکونه دي. د اریایانو د ټاټوبي په اړه پوهان یوه خوله نه دي. ځینې پوهان لکه احمدعلي کهزاد، عبدالحی حبیبي، ماکس میولر، ظفر کاکا خیل، دوست شینواری او نور د اریایانو ټاټوبی د اکسوس او سردریا تر منځ سیمه بولي خو ځینې نور بیا د اروپا بېلې بېلې سیمې لکه جرمني، سکندنویا او د مدیترانې سیمې د اریایانو لومړی ټاټوبی ګڼي. ګوردن چایلډ وایي چې د اریایانو لومړی ټاټوبی به «سوویلي روسیه یا سکندنویا»۵۹ نه یو وي. خو دی د سوویلي روسیې د ګڼنې [فرضیې] شونتیا پیاوړېویني. پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ وایي چې «دغه نظریه په دې هم قوي ده، چې له سوېلي روسیې نه د اریایانو لومړی لېږد څرګند دی.»۶۰ دی زیاتوي چې «دغه سیمه د اروپا- اسیا هغه پراخه برخه ده چې د هنګري له ختیځو ځنګلونو نه د مانچوریا تر شنو ورشوګانو او د سایبریا د جنوبي څنډو نه د تبت تر لوړو سطحو پورې د نړۍ دریمه برخه ځمکه په غېږ کې نیسي او منځنۍ اسیا یې زړی جوړوي.»۶۱ د اریایانو دا لومړی لېږد د دې سیمې نه څلور زره کاله د مخه اټکل شوی دی.

د اریایانو دا لومړی لېږد پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ داسې بیانوي: «دغه خلک د خپل لېږد په بهیر کې چې پېړۍ پېړۍ یې نیولې په دوو برخو ووېشل شول ... لوېدیځه برخه [یې] ... د تور سمندرګي له شمال نه د بالقان او باسفورس په لار وړې اسیا (Minor Asia) یا نننۍ ترکیې ته ننوتل او د هغې له ځای خلکو سره له ګډېدلو نه وروسته پرې لاس بري شوه او د هیټایټ (Hittite) په نامه سلطنت یې جوړ کړ.

د هندو- ایراني په نامه د اریایانو بله ډله د کسپین د سمندرګي په غاړه د ختیځ خوا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاو شوه او بیا دوه برخې شوه. یوه برخه یې له قفقاز نه واوښته د فرات په لور لاړه او هلته له ځایي خلکو هوریانو (Hurrians) سره میشته شوه او وروسته یې د میټاني (Mittani) په نوم دولت جوړ کړو. بله برخه یې چې تر هغې بلې نه ډېره لویه وه او په هندو- اروپایي څانګې یاده شوه، د ختیځ په لور لاړه، له سردریا او امو نه واوښته په باختر کې میشته شوه او بیا د پنجشیر او کابل پر سینونو ورښکته شوه.»۶۲

په سوویلي روسیه کې د اریایانو د عمومي لېږد نه وروسته د سیمیریانو (Cimmerians)، ستیانو (Seythians) او سرماتیانو (Sarmatians) واکمنۍ مالومې دي، چې تر زیږدې دریمې پېړۍ پورې یو په بل پسې یې کړې دي. ستیانو د سیمریانو واکمنۍ ته د پای ټکی کېښود. ستیان چې له منځنۍ اسیا نه را ولاړ شوي وو، د هېرودت په وینا واکمني یې د دون له سین نه د ډانیوب تر سین پورې جاري وه او په سوویلي روسیه کې یو پیاوړی دولت په پښو درولی و، چې درې پېړۍ وپایېده او په پای کې سارماتیانو مات او واکمني یې خپله کړه.

دی دا هم وایي چې د اریایانو د دغې ډلې نه یوه برخه یې چې د سویل په لور تله د هغو اریایانو د ډلې له لوري د خنډ سره مخامخ شوه چې د دوی نه د مخه هلته تللي او میشته وو. بیا دوی د لوېدیځ په لور لاړل او نني ایران کې میشته شول. خو په دوی کې مادانو د نني ایران په شمال لوېدیځ کې د مخزیږدې اومې پېړۍ په نیمایي کې د میډیا په نامه امپراتوري جوړه کړه چې یوه پېړۍ اوږده شوه او پارسا یې هم لاندې کړې وه او مرکز یې نن همدان و. پاړسوانو د مخزیږدې شپږمې پېړۍ په نیمایي کې مادانو ته ماته ورکړه او خپله امپراتوري یې جوړه کړه. دوی خپله مینه پارسه، پاچایي ټبر یې پازارګادی او پاچایي کورنۍ یې هخامنشي ونوموله او په دې توګه پارسانو د باختري اریایانو نه ځانونه بېل کړل. سیروس او ځای ناستو یې له مصر نه تر اباسین پورې امپراتوري جوړه کړه، خو لاس لاندې سیمې یې نیمه خپلواکو والیانو (Satraps) اداره کولې.

د اریایانو بله ډله د مخزیږدې نه څلور سوه کاله دمخه له اباسین نه تېره شوه او د هغه ځای اوسېدونکي درای ویډیان یې لاندې کړل. دوی خپل هېواد بهاراته ورته ونوموه او په دې توګه دوی هم د پارسا غوندې ځانونه د باختري اریایانو نه بیل کړل.

د اریایانو نورې ډلې لکه سورماتیان، ساکا، یوچیان او هفتالیان د منځنۍ اسیا په پراخو مځکو کې میشته وو. اریایان له همدې ځایه نورو سیمو ته خوره شول او سورماتیان لومړی اریایي ټبر دی چې اروپا ته تللي دي. خو څرنګه چې پښتانه په اریایانو کې د ساکا د لوی ټبر سره د قوم والی او هم د ژبې له کبله نږدې دي او شاید په اصل کې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو وي. نو لازمه ګڼم چې لږ غونډې د ساکا په اړه وغږیږم.

ساکا لکه چې مو د مخه یادونه وکړه د سپین پوټکو اریایانو لوی ټبر دی چې د هخامنشي امپراتورۍ پر مهال «د لوېدیځ کاشغر، ختیځ کسپین او سردریا یا جیحون تر منځ سیمو کې کوچیاني ژوند لاره».۶۳ اریانا ته د سکندر تر راتګ د مخه د ساکا ډېرې څانګې د اریانا په ډېرو سیمو کې خورې وې.

نایسا د کوفن (کابل) او اباسین تر منځ ښار کې اوسېدل. د کاکړ په وینا نیاسایان په تاریخي لحاظ همغه نسل و لکه ساکای چې په هغه وخت کې په بدخشان او ګاونډیو سیمو کې اباد وو. د نیاسیانو هېواد لږ و ډېر د هېرودت له پکتیک سره سر خوري چې د پکتیانو یاني پښتنو هېواد و.

د ساکا بله لویه سیمه باختر او د هغه چاپېر سیمې وې. په بخدي کې د دهای قوم اوسېده چې د ساکا د لوی ټبر څانګه ده. ساکا د سکندر تر راتګ د مخه په سیستان کې هم اباد وو. په دې ترتیب داسې ښکاري «چې ساکا څلور زره کاله د مخه د اریایانو په لومړي لېږد کې په سغدیانه، بکټریا (بخدي)، پامیرونو، سیستان، نای سا، پکتویک، کونړ او سوات کې اباد شوي وو.»۶۴ د سکندر د راتګ او د اریایانو د دوهم ستر لېږد سره په دې سیمه کې ستر بدلونونه رامنځ ته شول.

## ساکا او سیتیان بیل ټبرونه وو

کاکړ وایي چې دې موضوع، چې ستیان او ساکا دواړه یو قوم او اریایي دي، د ډېرو پوهانو لیکنې یې ګډې وډې کړې دي. په داسې حال کې چې دوی په واقعیت کې سره بیل قومونه دي او ستیان لا اریایي نه دي. خو دا دواړه قومونه د هېرودت د وخت نه راهیسې یو قوم ګڼل شوي دي په دې چې هغه مهال د پارس خلکو ستیان ساکا بلل. د هېرودت په وینا «ساکا (Sacae) چې ستیان (Seythian) دي لوړې مخروطي ډوله جګې خولۍ په سر کوي. دوی پرتوګونه اغوندي او ځایي لیندې او چړکۍ او پر هغو برسېره تبرګې ګرزوي، چې دوی یې ساګاریس (Sagaris) بولي. دوی امیرګایان (Amyrgian) ستیان وو، خو ساکا ورته ویل کېده ځکه چې پاړسوګان ساکا ته ستیان وایي.»۶۵

دا چې ستیان او ساکا بیل ټبرونه وو، دوی په بیلو بیلو سیمو کې خوره وو او د ژوند لارې یې سره بیلې وې، د شلمې پېړۍ په پای کې د قبرونو په لوځېدو سره تثبیت شوي دي. دوو انسان پېژندونکو ګوردن چایلډ او کېمبال دغه واقعیت تثبیت کړی او د لرغوني یونان جغرافیه پوه ستراټبو ستیان په اروپا کې په نښه کړي، په داسې حال کې چې د ساکا خلکو لومړنۍ مینه د لوېدیځې التای غرونو او د کسپین تر منځ سیمې وې او د دغو دواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټبرونو ژوند لاري او کلتور سره توپیر درلود.

د مخه مو یادونه وکړه چې ستیانو د روسیې په سوویل کې د سیمیریانو دولت ړنګ او وروسته اریایي قوم سارماتیانو مات کړل او دوی د لویدیځ په لور لاړل. ګوردن چایلډ د ارکیالوژي شواهدو له مخې وایي چې ستیان له ختیځ نه بلغاریې، هنګري او ختیځ جرمني ته د یرغلګرو په توګه ننوتل. نامتو جغرافیه پوه سټرابو د لویدیځې اروپا په راین (Rhine) او برېتانیې ته نږدې د ستیانو یادونه کوي. دا به د اتلانتیک سمندر و چې ستیان یې په پای کې پر ځای ودرول، چې څو پېړۍ له منګولیا نه د لویدیځ په لور د کوچیانو په توګه خوځېدلي او په زیږدې لومړۍ پېړۍ کې یې له خپلو کورنیو سره ځانونه لویدیځې اروپا ته ورسول او بیا ورک شول.

د چایلډ په وینا د ستیانو په اړه ژبني شواهد دومره لږ دي چې د هغو له مخې د دوی په اړه هیڅ ډول حکم کېدای نه شي. هنر یې د اریایانو له هنر نه اغېزمن و، خو د ستیانو د مړو د خښولو دودونه د اریایانو او هندوانو نه بیل وو. د مشر په ګور باندې به د هغه مېرمنې او نوکران وژل کېدل او د ویر کوټې چاپېر به اسونه سوري کېدل او نېغ درول کېدل. دغه دودونه د لوړې اسیا په غیر اریایي کوچیانو کې په ټولو دورونو کې د مینیانو (Minns) غوندې لیدل شوي دي. د دغو ځانګړتیاوو له مخې ګوردن چایلډ «ستیان د هونانو، تاتارانو او پیشنګزانو (Peschenegs) مخکښان» ګڼي. او په دې کې هیڅ شک نه کوي.۶۶ د مړي په سر دغه روایت د هېرودت روایت دی.

کاکړ وایي چې له دې شرحې نه جوته ده، چې ستیان نه یوازې ساکا، بلکه اریایي نه وو، د پښتنو سره په چم ګاونډ کې هم نه اوسېدل.

## ساکا او هخامنشي امپراتوري

کاکړ وایي چې د ساکا اړیکې له هخامنشیانو سره له پیل نه ترخه وو. سیروس غوښتل چې د اراکسېس (Araxes) سیند یا سر دریا (جیحون) د هغه د امپراتورۍ پوله وي. دا د مساګیت ساکا سیمه وه او د هغو واکمنې تومیریس (Tomyris) ورته ځواب واستوه چې د دوی د هېواد د لاندې کولو تکل ونه کړي. د هېرودت په وینا سیروس هغې ته د واده وړاندیز وکړ، خو هغه پوهېدله چې دی غواړي په دې پلمه د دوی هېواد لاندې کړي. بیا نو سیروس او تومیریس تر منځ جګړه ونښته او هخامنشیانو ماته وخوړه. همدا چې مساګیتانو دښمن لاندې کړ او ډوډۍ او واین یې وخوړل ویده شول. پارسیانو ناڅاپه په پټه پرې ودانګل ، ډېر یې ترېنه ووژل او نور یې ترېنه یرغمل کړل، چې په هغو کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مساګیتانو قوماندان سپاراګه پایسس (Sparagapises) د واکمنې تومیریس زوی هم و. هغې بیا د سیروس نه د یوه پیغام په ترڅ کې وغوښتل چې «مشوره درکوم چې زوی مې همدا اوس راکړه او زموږ د ملک څخه ووځه. که دغسې ونه کړې د مساګیتانو په خدای ګوتې لمر باندې قسم کوم چې ...به درته سبق درکړم.»۶۷ خو سیروس دا خبره ونه منله او د ملکې زوی چې د پارسیانو سره یرغمل و، ځان وواژه. بیا نو تومیریس خپل ټول پوځونه غونډ کړل او په پارسیانو یې برید وکړ. دوی لومړی یو پر بل د غشیو ګوزارونه کول، تر څو چې خبره لاس په لاس د چړکیو او نېزو جنګ ته ورسېده. د هېرودت په وینا «د پارسیانو ټول پوځ له منځه لاړ، چې په هغو کې په خپله سیروس هم و، چې له نهه ویشت کلونو واکمنۍ نه وروسته [په مخزیږدې ۵۳۰] له منځه لاړ.»۶۸ هېرودت دغه جنګ تر نور ډېر سخت ګڼي او وایي، چې ملکې تومیریس بیا د سیروس جسد ته په خطاب کې وویل، چې «زه ژوندۍ او سوبمنه یم، خو تا سره له دې هم په چل ول سره له خپل زوی نه په محرومولو سره برباده کړې یم.»۶۹

## اریانا او ایران:

لرغونی افغانستان چې د ویلسن په وینا د هند او پارس تر منځ پروت و لرغونو یونیانانو د اریانا، په لرغوني پارس کې ایریا یا ایریانا، په سانسکرت کې اریا ورته یا ورشه او په زند کې ارياني ویجو په نوم یادېده. دا کلیمه او همدارنګه د اریا کلیمه چې د هرات د سیمې له پاره کارول شوې د سانسکرټ اریا کلیمې نه راوتلې او د لوړ مانا لري. په دې ترتیب د اریانا مانا (لوړ هېواد او محترم (قدرمن) خلک) کیږي.

د اریانا کلیمه د یونیم زرو کلونو په یون کې د اوېستا له دورې (نږدې زر کاله مخزیږدې) تر پنځمې زیږدې پیړۍ پورې دود وه. خو د یونان کلاسیکو لیکوالو د هغې نه یادونه نه ده کړې. اریانا د هغو یونانیانو د لیکوالو او جغرافیه پوهانو او په ځانګړې توګه ستراابو له خوا یې یادونه شوې ده، چې د سکندر هم مهاله او یا د ده وروسته را څرګند شوي دي.

د ایران کلیمه پهلوي ده او په اصل کې د اریانا د کلیمې نه اخېستل شوې ده. دا کلیمه په زیات ګومان په ساساني دورې کې منځ ته راغلې ده. ایران د ساساني دولت اصلي زړی جوړاوه چې د عربو په تاریخي او جغرافیایي سرچینو کې د ایرانشهر په بنه راغلی دی. ساسانیانو هغه مهال چې د کوشانیانو په دوره کې د افغانستان په زیاته برخه واکمن شول افغانستان د کوشانشهر په نوم یادوه. خو د ایران کلیمې په اسلامي دوره کې خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاسي مانا له لاسه ورکړه او پر ځای یې د فارس کلیمه دود شوه چې په لرغونو سرچینو کې د یوې اریایي قبیلې پارسوا د نوم نه راوتلی نوم دی. وروسته عربو د فارس له پاره د العجم کلیمه وکاروله. د ایران کلیمه د زیږدې یوولسمې پیړۍ راهیسې د شاهنامې په ذریعه را ژوندی شوه. خو د فارس اوسني هېواد له پاره هغه نه ده کارول شوې. دا په شلمه پیړۍ کې په ۱۹۳۵ کال کې رضاشاه پهلوي په رسمي توګه د بهرنیانو نه وغوښتل چې د فارس کلیمې پر ځای د ایران کلیمه وکاروي. په دې توګه د ۱۹۳۵ کال راهیسې زموږ لوېدیځ ګاونډی هېواد نوم په رسمي توګه ایران شو.

## زرتښت او اوستا اوپه اوستایي دوره کې د پښتنو څرک

د محترم لطیف جان بابي یو نوښتي اثر «زردښت او اوستا» نومېږي چې کاکړ وربانديې لیکنه کړې او په هغې کې یې د زردښت هسکېدنه او تعلیمات چې د اوستا په کتاب کې ټول شوي دي د تاریخ په رڼا کې بیان کړي دي تر څو په اوستایي دورې کې د پښتنو څرک ومومي. زموږ لرغونی ټاټوبی اریانا یو بسیا او ښېرازه هېواد و دا ځکه چې د یوې خوا د امو د رود چاپېر مځکې د غنمو په موندلو سره د کرنې وړ شوې چې په پایله کې یې کلیوالي او ښاري ژوند منځ ته راغی او د بلې خوا د ګاونډیو هېوادو« د سوداګرو، ګرځندویانو، سوبمنو او کډوالی لویه لار ګرزېدلې وه ... بیا په وروښمینې لارې (Silk Rood) باندې یادې شوې، چې په پای کې یې چین، هند، پارس، او اروپا سره ونښلول»۷۰ او زموږ د هېواد د شتمنۍ سرچینه یې جوړوله. دغه لاملونه وو چې زموږ په هېواد کې مدنیتونه او دینونه منځ ته راغلل. «اریانه د ویدي مدنیت لومړنۍ ځانګو او د اوستایي مدنیت اصلي ټاټوبی و.»۷۱ زموږ په لرغوني هېواد کې د نورو هېوادونو څخه مدنیتونه او دینونه هم خپاره شول. د یونان اوهند څخه د ګریک او بودیک مدنیتونه راغلل چې «بیا دلته د افغانستان د هنرمندانو په لاس اخته شوی، ترکیب شوی او همدلته یې روزنه شوې وه»۷۲ او د ګریک-بودیک مدنیت وغوړېده چې د دواړو مدنیتونو او هم یې زموږ د هېواد د مدنیت ځانګړتیاوې درلودې او بیا د اسلام مدنیت په کې خپور شو.

لومړني انسانان د طبیعي قوتونو په وړاندې ناتوانه او بې وسه وو او د دې وېره او ډار ورسره وو چې د دغو طبیعي پېښو د پېښېدو له امله تباه او زیانمن نه شي. همدارنګه دوی د پوهې کچه ډېره ټیټه وه او د دغو پېښو د پېښېدو په لاملونو باندې نه پوهېدل. دوی له دې امله د ځان ژغورنه دغو طبیعي قوتونو ته په عبادت کې لیده او دغه قوتونه یې خدایان بلل. لکه چې پاس مو یادونه وکړه زموږ په لرغوني هېواد کې هم دینونه منځ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلل. «په ويدي دوره کې ژغورنه طبيعي قوتونه ته په عبادت کې لټول کېده. په دې ډول هر طبيعي قوې ته په خدای لرلو باندې عقيده عامه وه او د خدايانو شمېر هم ډېر ګڼل کېده.»۷۳ په اوستايي دوره کې د زردښتي دين بېنسټ ايښودونکی زردښت «په نړۍ کې لمړنی مصلح يا د يو څو هغو مصلحانو څخه دی، چې د لومړي ځل له پاره يې د لوی څښتن د يوتوب عقيده وړاندې کړه او نړۍ يې د بدۍ او نېکۍ د قوتونو د مقابلې دغسې ډګر وګڼه، چې په هغه کې د نېکۍ رب، اهورا مزدا، د بدۍ په رب اهريمن باندې غلبه کوي. د هغه په عقيده په اهورا مزدا باندې تکيه کول او د هغه دستورونه پرځای کول د انسان د ژغورنې سبب کېږي.»۷۴

د اوستا په کتاب کې چې په زرګونو څرمنو ليکل شوی و، د زرتښت هسکېدنه او تعليمات په کې راټول شوي و. دا څرمنې په سمرکند او پرسي پوليس کې خوندي وې او د لوی سکندر په وخت کې سوزېدلې يا د منځه تللې دي. د زرتښت تعليمات د هغه د پيروانو په سينو کې د يوه نسل نه بل نسل ته وړل شوي دي. په پای کې د ساسانيانو په وخت کې غونډ او تاليف شول. د زرتښت دين هم د ساسانيانو او تر هغه د مخه د هخامنشيانو په وخت کې رسمي دين و.

د اوستا مرکزي موضوعات زردښت او د هغه تعليمات دي. د زردښت د زيږېدو ځای او مهال د مخزيږدې د ۶۰۰ او ۱۰۰۰ کلونو تر منځ اټکل شوی دی. دی د سپيتاماګانو (spitamas) په کورنۍ کې پيدا شوی دی. د اوستا په يوه کتابګوټي يشت (Yasht) کې دی د سپيتاما زرتښت (Spitama- Zarathushtra) په نامه ياد شوی دی:

«چې د هغه په زيږېدو او د هغه په لوېدو سره
اوبو او بوټو خوښي وښووله
چې د هغه په زيږېدو او د هغه په لوېدو سره
اوبه او بوټي ډېر شول
چې د هغه په زيږېدو او د هغه په لوېدو سره
هرکلی ووايه
د سپېڅلي واحد ټولو هست شويو
هرکلی دې وي چې زموږ د پاره پيدا شوی
مذهبي لارښود
سپي تاما زرتښت»۷۵

د زردښت پلار پورا شاسپه ښودل شوی او اسپه کورنۍ ته منسوب و. د زردښت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیږېدو ځای کره مالوم نه دی. ویل کیږي چې هغه به د فارس ختیځه خوا کې د بلخ یا باختر کومه سیمه وي. دا چې په اوستا کې د دغې سیمې نومونه په کراتو راغلي دغه اټکل تاییدوي. بله خبره دا ده چې د زردښت دین د اوومې پېړۍ تر نیمایي یاني د اسلام تر خورېدو پورې د پخواني افغانستان یا اریانا او د پارس د خلکو دین و. بلخ ته د زردښت د منسوبېدو بل دلیل دا دی چې اریایان د میلاد نه د مخه د یو او دوه زره کلونو تر منځ په بلخ کې اباد وو چې لرغونو یونانیانو د بکټریا یا باختر په نوم یادوه. همدارنګه د فارس او هند په مذهبي لیکنو کې د سیندونو او ځایونو عمومي یادونې څرګندوي چې افغانستان د دغه ستر لېږد وروستی پړاو چې هلته د اریایانو دغه دوه ډلې سره یو ځای شوې، یوه ډله یې په بلخ یا باختر کې پاتې شوه او بله یې له هندوکش نه واوښته او د هند په هوارو سیمو باندې میشته شوه. په هر حال زردښت په بلخ کې د ویشتاسپه پاچا (king- Vishataspa) دربار ته لار پیدا کړه او دربار یې د پاچا په ګډون په خپل دین واړوه او له هغې وروسته د هغه دین په ټوله اریانا کې خپور شو. خو په پخواني افغانستان کې د زردښتي دین تر څنګه بودايي دین ورو ورو رواج وموند چې د هغه بنسټ ایښودونکی بودا و. د هغه اصلي نوم (سه درتا ګواتما) و او وروسته په بودا باندې یاد شو چې په سانسکرټ کې د «روڼ شوي» مانا لري. دی د مخزیږدې ۵۲۳ کال په شمالي هند کې په یوې واکمنې کورنۍ کې پیدا شوی و. په بامیانو کې دوه غټې مجسمې او د هغو په چاپېر کې څو زره سمڅې د بودیزم څرګندې نښې دي. هندویزم خو د دغه دواړو دینونو نه د مخه هغه مهال چې د اریایانو نه یوه ډله د هند په هوارو جلګو باندې میشته شوه، بشپړ شوی و. د همدغو دینونو او هم په چین کې د کنفیو سیوس د دین او په لوېدیځې اسیا کې د موسویت او عیسویت او وروسته د اسلام دین د هسکېدو له امله ده چې دیني او اخلاقي ارزښتونه د ختیځ د ولسونو د کلتورونو مهم توکی جوړوي او هغه دوی د نړۍ د نورو ولسونو نه توپیروي. اسیا د نړۍ تر ټولو سترو دینونو وچه ده.

د زردښت دین یا که په کره توګه ووایو د هغه فکري او عقیدوي سیستم د لرغونو اریایانو یاني د ویدي دورې د اریایانو له عقیدو نه اغېزمن و، چې پیل یې د څلورو ویداګانو په جمله کې د ریګویدا نه کیږي. د مخه مو یادونه وکړه چې د زردښت تعلیمات د اوستا په کتاب کې ټول شوي دي. همدارنګه اوستا یا زند هغې ژبې ته هم راجع کیږي چې د هغو تعلیمات په کې بیان شوي دي. د اوستا کلیمه په زیات ګومان د وید (vid) د فعل نه اخېستل شوی وي چې مانا یې «پوهېدل» دي. په دې ډول د اوستا مانا پوهه یا عقل کیږي. د وید کلیمه چې د سانسکرټ کلیمه ده او مانا یې «پوهه» هم د وید له کلیمې نه جوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې ده.

د اوستا ژبه د سانسکرټ سره نږدې ده. لومړی یې د لرغوني اریانا او دوهمه یې د لرغوني هند ژبه وه. د اوستا کلیمه د لومړي ځل له پاره په پهلوي ژبه کې د اوستاک- و- زند (Avistak-u- Zand) په بڼه راغلې چې هغه په پارس کې له زردښت نه پنځلس پېړۍ وروسته منځ ته راغلې ده. زند په پهلوي کې د تفسیر مانا لري. په دې ډول زند د اوستا تفسیر کېږي. اوستا د څلورو وړو ټوکو ټولګه ده چې نومونه یې یښنا (Yasna)، وسپرید (Vispered)، یشتونه (Yashts) او وندیداد (Vindidad) دي. مهم یې یښنا دي او ګاتاګان (Gaths) د هغه لرغونې برخه ده چې د ویدي دورې د لیکنو سره ورته والی لري. ګاتاګان د اوستا تر ټولو مهمه برخه ده چې له نورو نه د ژبې، شېوې او وزن په لحاظ توپیریږي. د دغې برخې اصلي اهمیت په دې کې دی چې هغه د زردښت د تعلیماتو، وعظونو او الهامونو ټولګه ده او هغه په عمومي توګه د اهورا مزدا او اهریمن تر منځ جګړه، له دغې جګړې سره د انسان اړیکه او د بدیو په څواکونو باندې د نېکۍ د څواکونو له وروستي بري نه غږیږي. یښنا چې ګاتاګان د هغه یوه برخه ده د زردښت د دین بنسټ جوړوي چې هغه د نېکۍ او بدۍ د مقابلې په نامه خلاصه کېږي. زردښت په یښنا کې وایي «هغه دوه لومړني ارواح چې هغوی خپل ځانونه د غبرګوني په بڼه په عمل کې وښودل د بدۍ او نېکۍ فکر، قول او عمل دي او د دوی تر منځ عاقلان پوه شول چې نېکي به غوره کوي او احمقان به هغسې نه کوي»۷۶ په دې ډول اخلاقیات د زردښت د تعلیماتو بنسټ دی. تر زردښت د مخه د دوو ډولو ارباب النوع اهوراګان او دیوان عبادت رواج درلود. څنګه چې هغه وخت انسان د طبعیت سره نږدې ژوند کاوه هغه د خپل ژوند له پاره د خپل چاپېر په طبیعي قواو باندې ډېره ډېره لګوله. دی زر په دې فکر شو چې ګټه یې په دې کې ده چې هغه پټ قوتونه له ځان نه راضي وساتي چې د طبیعي لوري لارښونه او اداره کوي.

ده فکر وکړ چې لاندې اوبه، مځکه، ونې او فصلونه دي. د پاسه لمر، ستوري، سپوږمۍ او وربځې دي. دا د اهوراګانو یا نه لیدونکو خاوندانو په قدرت کې دي. له یوه نه یې مننه وکړه چې د ورځې له خوا نړۍ روښانه کوي او تودوي، بل یې ولمانځه چې په فصلونو باندې یې د باران نعمت اوروي او دی قادر کوي چې ښه حاصلات ټول کړي، او بل ته یې د دعا لاسونه پورته کړل چې ده ته روغتیا ورکوي. په دې ډول انسان سوکه سوکه په لوړو نه لیدونکو ارواحو او د هغوی د ورکړې او بخشش په قدرت باندې عقیدتمن شو. څنګه چې هغوی د ده په فکر په ده باندې ډېرې لورېنې کړې ځان یې موظف کړ چې د هغو عبادت وکړي او په جشنونو او ځانګړو ورځو کې د ډوډۍ او پخو

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښو خیراتونه ور وړاندې کړي.

خو تجربو زر وښودله چې د اهوراګانو قدرت مطلق نه دی. څه وخت چې سختې سیلۍ پرې راغلې او ږلۍ پرې واورېدلې، څه وخت چې سړو وربېرداوه او تودوښیو وربړاوه او هغه وخت چې وبا او طاعون ووهه او توپانونو او زلزلو ټکان ورکړ دی دې پایلې ته ورسېد چې بدکاره ارواح به هلته هم اوسي چې له ښو ارواحو سره مقابله کوي. په دې ډول تخلیقي تصور طبیعي نړۍ د یو لړ بدکارو قواو ځای هم وباله چې هغوی د خیر رسولو د ملایکو سره تل جګړه کوي. انسان د دغو ملایکو دښمنان د خپل ځان دښمنان هم وبلل. خپل خیر یې په دې کې وګاڼه چې په نېکو قواو باندې په ټینګه عقیدتمن وي او له هغو سره د ګډو دښمنانو په وړاندې مرسته وکړي. دغه عقیده خپره شوه چې انسان کولی شي د قربانیو په وړاندې کولو او د ځانګړو مراسمو په اجرا کولو سره له دیوانو سره په جګړه کې اهوراګان پیاوړي کړي.

ویل کیږي چې زردښت په هغې کلیوالي کرونده ګرې کورنۍ کې زیږېدلی و چې یوازې یې د اهوراګانو عبادت کاوه. نو د هغه د تعلیماتو مرکزي ټکی دا شو چې د اهورا مزدا یا عقلمن خدای د کایناتو یوازینی پیدا کوونکی دی او د دېوانو عبادت د بدۍ عبادت دی. د هغه په عقیده امیشا- سپیتاګان (Amesha- Spetamas) اوه اسماني موجودات دي چې د اهورا مزدا د استازو په حیث دنده اجرا کوي. د هغو په وړاندې خبیثه ارواح چې تر ټولو مهم یې انګرا مین یو (Angra main u) دی چې د دوی د استازي په حیث د امیشاسپیتاګانو په وړاندې نېغ ولاړ دی.

د زردښت په عقیده دغه نړۍ د دوی د جګړو ډګر دی چې په هغې کې سپیتا من یو د نیکۍ کارونه کوي او انګري من یو د بدۍ کارونه کوي. خو دا د اهورا مزدا حکم دی چې ړښتین توب به په پای کې بریالی کیږي او زړه نړۍ به په اور سره له منځه ځي او نوې نړۍ به د هغې په ځای منځ ته راځي. اهورا مزدا خپل مطلق قدرت له لاسه ورکوي او له سپیتا من یو سره یو ګډ کیږي، په داسې حال کې چې انګري من یو چې د اهریمن استازی دی له هغه سره مخالفت کوي. اهریمن د بدۍ ګانو رب د اهورا مزدا یا د نېکۍ خدای سیال او مخالف دی.

د زردښت دین د وحدانیت په لور روان دین دی ځکه چې د هغه په فکر وروسته له هغه چې اهورا مزدا به د خپلو استازو د مجادلې په پایله کې د اهریمن استازي له منځه وړي. په پای کې به په کایناتو کې یوازې یو خدای یاني اهورا مزدا پاتې کیږي او وحدانیت به په دې ډول حقیقي کیږي. کوم هغه اخلاقیات چې زردښت تبلیغول د کرونده ګرۍ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنیز ژوند ولاړ و. د هغو له مخې ښه سړی هغه څوک دی چې د سولې او ښه ګاونډېتوب په روحیه سره خپلې رمې پیایي او کرنه کوي. دی باید د دېوانو له اطاعت نه سر وغړوي په دې چې هغوی د خبیثه ارواحو سره په ګډه د اهورا مزدا مخالفت کوي او د کرونده ګری ژوند له ګواښ سره مخامخ کوي. دی د کرونده ګري کسب د شیطانت او خباثت له منځه وړونکی او پرخلاف د پرېمانۍ او نېکمرغی راوړونکی بولي. دغه فکر په وندیداد کې داسې بیان شوی دی:

«په رښتیا ده بدمرغه هغه مځکه چې د ډېر وخت د پاره د بذ[ز]ګر له خوا شاړې پاتې کیږي او هغه یوه ښه کرونده ګر ته ضرورت لري.

حتی د یوې ښکلې پېغلې په شان
چې تر ډېره وخته بې ماشومه وي
او یوه ښه مېړه ته ضرورت لري
سپي تامار زرتښته! هر هغه څوک چې مځکه کري
په کیڼ لاس او په ښي سره
په ښي لاس او په کیڼ سره
هغه ته راوړي هغه په پرېمانی سره»۷۷

دغه فکرونه شاید د زردښت د وخت او د هېواد د ټولنیز ژوند انعکاس وي چې هغه له پوونده توب نه کرونده ګري ته د اوښتنې مرحله وه. زردښت کرونده ګر په ډول ډول ستایلې دي. هغه یې څارو او خواریکښ ښوولې چې لږ خوب او ډېر کار کوي، د سباوون په څرک سره له کوره وځي او د تیارو په خورېدو سره په کور ننوزي، دی ټوله ورځ په مځکه کار کوي او په دې ډول د انسان نېکمرغي ډېروي.

زردښت په خپلې عقیدې کې بل غټ مقام اور ته قایل شوی دی. اور یې د اهورا مزدا زوی ګڼلی چې هغه مزدیڅنایي کورونه رونبوي. د زردښت د پاره د کور نغری د محراب په شان و چې کورنیو یې په چاپېر عبادت کاوه. په دغه دین کې نغری دومره اهمیت لري چې د هغه په ځلېدو او هغه ته د قربانۍ په ورکولو سره د کورنیو د تللیو کسانو ارواح حاضروي. د دغې عقیدې له مخې کورونو ته د مړو د ارواحونو ورتګ او د کورنیو له خوا د هغوی په نومونو خیراتونه ورکول تر اوسه یو پیاوړی دود دی.

زردښت شاید لومړی لارښود وي چې د دوه ګونتوب فکر یې د اخلاقو په بنسټ بیان کړی دی. ښونې ده چې د همدغه اخلاقي قوت له امله وي چې دغه عقیده چې د اریانا وای

(c) ketabton.com: The Digital Library



جاه په خاوره کې د کیانانو په دوره کې د وشتاسپه پاچا په واکمنۍ کې هسکه شوې وه، وروسته د پارس د هخامنشیانو، د یونان او باختري او ساسانیانو په دورو کې د اوومې پېړۍ تر نیمايي یانې د اسلام تر خورېدو پورې یې د نړۍ د یوې برخې انسانانو په زړونو او دماغونو باندې حاکمیت وکړ او د هغوی ژوند یې د خپلو اصولو له مخې تنظیم کړ، په دې چې اخلاقي بنسټ په اصل کې ډېر ټینګ بنسټ وي لکه چې یوه امریکایي متفکره این رېند (Ayn Rand) وایي «د اخلاقیاتو قوت د ټولو عقلاني قوتونو په ډله کې تر ټولو ستر قوت دی.»۷۸ د زردښت دغه دوه ګون فکر د بدۍ او نېکۍ په نومونو په ولسي کیسو او روایتونو کې دوام کړی دی.

د دوه ګونتوب فکر د څوګونتوب د فکر په پرتله په پای کې نیمګړی فکر دی. په دې چې هم په فکر او هم په واقع کې د ضدینو تر منځ نور فکرونه او نور انتخابونه شته لکه د انقلاب او ضد انقلاب تر منځ اعتدال یا تدریج. د زردښت د اخلاقي دوه ګونتوب په اړه بل مهم ټکی دا دی چې اخلاقي مفهومونه مهالونو، ځایونو او کلتورونو ته منسوب وي، خو هغه به په ټولو مهالونو، ځایونو او کلتورونو کې په هم هغه مفهوم وجود ونه لري. د زردښت د بدۍ او نېکۍ مفهومونه په مطلق ډول په هر ځای، هر مهال او هر کلتور کې موجود وي خو د هغه منځپانګه د یوه ځای نه بل ته، د یوه مهال نه بل ته او د یوه کلتور نه بل ته توپیر لري.

زردښت په اصل کې د تاریخ له نظره ډېر مهم دی. اوستا د بخدي دورې اریانا وای جاه د لومړي ځل له پاره د تاریخ رڼا ته سپارلې دی. د ویدي دورې په اړه مالومات د نشت په حال کې دي خو د اوستايي دورې په اړه هم یوناني سرچینو، د فردوسي شاهنامې، عربي او پارسي سرچینې او میخي خطونه مالومات ورکوي خو دا ټول ډېر لږ، ډېر تیت او دوهم لاس سرچینې دي. یوازې اوستا د کیاني دورې په پای کې د ویشتاسپه پاچا په عصر کې د بخدي اریانا وای جاه په اړه تر ټولو سرچینو نه په کراتو زیات مالومات ورکوي. اوستا یوه بې جوړې ځایې سرچینه ده او بې جوړې به وي.

که څه هم ایرانیانو او ځینو باندینیو زرتښت او اوستا په ایرانیانو پورې تړی خو تاریخي حقایق دا کار ناسم ګڼي.

کاکړ وایي چې په اوستا کې د ایران او ایرانیانو نومونه نه شته. په هغه خاوره کې چې له ۱۹۳۵ راهیسې د ایران په نامه یادیږي په هغه مهال کې کوم پېژندل شوی سیاسي نظم منځ ته نه و راغلی. د کیاني دورې نه وروسته د مخزیږدې نه د مخه د اوومې پېړۍ په نیمايي کې د اوسني ایران په شمال ختیځ کې مادانو د میډیا په نامه امپراتوري جوړه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې یوه پیړۍ اوږده شوه او پارسا یې هم لاندې کړې وه او مرکز یې ننی همدان و. بیا د مخزیږدې نه د مخه په ۵۵۸ کې د سیروس په سروالۍ سره په پارس کې د هخامنشي واکمني پیل شوه. دغه امپراتوري ورو ورو له اباسین نه تر مصره پورې پراخه شوه، تر څو په ۳۳۰ مخزیږدې کې لوی سکندر له منځه یووړه. هیرودت په خپل تاریخ نومي اثر کې د مخزیږدې پنځمې پیړۍ کې دغه کورنۍ هخامنشي، هېواد یې پارس او اوسېدونکي یې پارسیان یاد کړي، نه ایران او ایرانیان یا ان اریایان. د ایران کلیمه چې پهلوي ده او له اریانا څخه راوتلې ده شونې ده د لومړي ځل له پاره د ساسانیانو په دوره کې رامنځ ته شوې وي. د ساسانیانو واکمني په ۲۲۶ زیږدې کې ارتخ شیر پاپه کان پیل کړه او په ۶۵۱ زیږدې کې عربانو له منځه یووړه. په اسلامي دوره کې عربانو پارس د العجم په نامه یاد کړ. د ایران کلیمه د یولسمې پیړۍ نه وروسته په شاهنامې سره بیا دود شوه. خو دغه کلیمه د پارس پر ځای تر نولسمې پیړۍ نه د مخه کارول شوې نه ده. د ایران کلیمه د ۱۹۳۵ کال کې د پارس په ځای د دغه ملک رسمي نوم شو. په دغه کال کې رضاشاه پهلوي له باندینیو نه وغوښتل چې د پارس په ځای د ایران کلیمه وکاروي.

د زردښت په وخت کې بلخ یا بخدي د کیانانو د واکمنۍ منځی و. اسپه یې واکمنه کورنۍ او اوسېدونکي یې اریایان وو. دوی خپل هېواد د اریانا وای جاه په نامه یادوه. هنري وېلسن په خپل کتاب «لرغونې اریانا» کې د یونان او باختري پاچایانو د هغو سکو له مخې کښلی چې یوه انګرېز ګرځندوی چارلېز میسن د نولسمې پیړۍ په دریمې لسیزې کې د خپل سفر په موده کې په افغانستان او بلوچستان کې ټولې کړې وې. تاریخپوه وېلسن د دغو سکو له مخې ثابته کړه چې اریانا د هغه هېواد نوم و چې د پارس او هند تر منځ پروت و. دغه اریانا د یونان او باختري دورې اریانا وه چې د لوی سکندر د مړینې وروسته منځ ته راغلې وه. د یونان او باختري دورې د پیل نه د مخه هخامنشي امپراتوري د سکندر په سوبو سره د منځه تللې وه. پارس موجود و خو د برمه لوېدلی و. دا چې د یونان او باختري قلمرو په دغه مهال کې د اریانا په نامه یادېده څرګندوي چې لږ تر لږه په دغه دوره کې د ویدي دورې اریانا وای جاه یوازې د اریانا په نامه یادېده.۷۹

د ویدي دورې او بلخ په اړه تاریخپوه احمدعلي کهزاد وایي چې «پکت یا پښت یا بخت یوه ریښه ته ګرځي او د اریایانو باختري تر ټولو پخوانیو ویدي قبیلې دي چې د مهاجرت په مهال دوې برخې شوې او یوه برخه یې په بخدي کې پاتې شوه.» د هغې بلې ډلې د خلکو په اړه بیا لیکي چې «هېرودت د پکتي یا پکتیس یا پکتویس د قوم او د هغوی د اوسېدلو ځای پکتیکا یا پکتیا چې د دغو نومونو په ریښه کې د بخد یا بخدي کلیمه ساتل شوې یاده

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې ده.» د دغو وروستیو په اړه د هېرودت خپل عبارت دا دي: «هلته نور هندیان شته چې د پکتیک (Pactic)» خلک ګاونډیان دي او دوی د هند په شمال کې اوسیږي.» دی دا هم وايي چې دغه پکتیان د «باختریانو (Bactarian) په شان ژوند کوي.» ورپسې وايي چې «د هندیانو په ډله کې دوی تر ټولو ډېر جنګیالي دي.»۸۰ د جارج مارګسترن د اریایي ژبو کارپوه د پښتو په اړه دا نظر چې پښتو ژبه د اوستا له ګاتانو نه راوتلې بولي په دې ډول چې د ګاتاګانو په سندرو پورې اړه لري ، چې د اوستا ډېره پخوانۍ برخه ده، دا پورته خبره توجیه کوي. که څه هم پښتو د اوستا نه پخوا منځ ته راغلې ده.

د ویدي د پکت یا پکتیک او د اوستا د بخدي یا بکټریا تر څنګ بله موضوع دا وه چې د هغه اوسېدونکو ځانله کوم سیاسي نظام درلود یا نه؟ شواهد ښيي چې دوی په بخدي کې د اوستا په دوره کې او په ځانګړي ډول د سکندر تر راتګ نه د مخه ځانله سیاسي نظام درلود، لکه چې د اریا یا هرات خلکو او د اراکوزیا یا کندهار خلکو سیاسي مشران او په زیات ګومان واکمنې کورنۍ درلودې، خو په دغه مهال کې هغه ټولې د هخامنشي واکمنو تر اغېز لاندې وې.

اریایانو د کیاني افسانوي دورې وروسته د بخدي سلطنت جوړ کړو. د بخدي سلطنت تر ټولو مهم سلطنت و. هلته د اسپه کورنۍ واکمنه وه. د بخدی نومیالی واکمنان دلهراسپه، وشتاسپه، ګرشاسپه، اروت اسپه، په نومونو یاد شوی دی. د وشتاسپه لوی وزیر د جم اسپه او زرتښت پلار د پوروشاسپه په نومونو پېژندل شوي دي. اسپه په اوېستا کې د اس په مانا کلیمه ده. اسپه چې د اس مونث دی او په همدغه بنه تر اوسه په پښتو کې ژوندی ده. په دې حساب د اسپه کورنۍ پښتنه او واکمنان یې پښتانه کېږي.»۸۱ میر غلام محمد غبار، احمدعلي کهزاد، یعقوب حسن خان او عبدالرحمن پژواک لا د مخه دا نظر وړاندې کړی وو چې «... د بکټریا (بخدي) لرغونی هېواد د افغانستان لومړنۍ پاچایي ده. ځکه چې د پښتون کلیمه له بکټریا نه راوتلې ده.»۸۲ دا چې د افغان او ځینو نورو پښتني نومونه د اس له کلیمې نه راوتلي دي همدغه نظر پیاوړی کوي چې د اسپه کورنۍ پښتنه وه.

## ستر سکندر او پښتانه

سکندر د خپل پلار فیلیپ د مړینې وروسته یونان یو موټی کړ او ویې پتیله چې اسیايي یونان د هخامنشي واکمنۍ نه ازاد کړي. ده د لوېدیځ له خوا په هخامنشي امپراتورۍ یرغل وکړ او د یوې وړې نښتې په ترځ کې پاچایي کورنۍ د سکندر لاسته ورغله، چې هغه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



عزت سره ورسره چلند وکړ. داریوش سکندر ته وړاندېز وکړ چې له لور سره یې واده وکړي او په ولور کې یې له فرات نه تر لوېدیځ پورې د امپراتورۍ سیمې ومني، خو سکندر دغه وړاندیز رد کړ. سکندر د فارس امپراتور داریوش ته په څو جګړو کې ماتې ورکړه. سکندر د هخامنشیانو پلازمینې ته اور واچاوه او د اوستا نامتو اثر چې د غوایي په زرګونو څرمنو لیکل شوی و د منځه لاړ او یوازې یوه کوچنۍ برخه یې پاتې شوه. وروسته داریوش چې د سکندر له لاسه یې څو ځله ماتې کړې وه د بخدي والي بېسوس له خوا ووژل شو او په خپله بېسوس ځان پاچا اعلان کړ. خو سکندر د هخامنشي فارس د ړنګولو وروسته په باختر کې د لویو ستونزو سره مخامخ شو. باختریانو لومړی د بېسوس او د هغه د مړینې وروسته «د پښتون سپتامنز (Spitamenes) په سروالي له ځایي خلکو له دغسې مقاومت سره مخامخ شوی، چې د هخامنشیانو په امپراتوري کې له دغسې ټینګ مقاومت سره مخامخ شوی نه و.»۸۳ سپتامنز له سکندر سره کلکې جګړې وکړې چې نږدې دوه کاله اوږدې شوې. سکندر په پای کې د خپل هوډ نه، چې د امو د رود اخوا سیمې لاندې کړي، واووښت او هند ته د تګ په فکر کې شو. ده په باختر کې شپږ پوځي چونۍ چې د سکندریې پنامه یادیږي جوړې کړې چې وروسته په ښارونو بدلې شوې. ده د باختر د سیمه یز واکمن اوکسیارتز د لور رخشانې سره واده وکړ او وروسته د هغه ځای ناستي سلوکوس نیکاتور د سپتامنز د لور اپامه سره واده وکړ او د کاکړ په وینا وروسته د دوی زوی د لومړي انتیوکوس په نامه پاچا شو. سکندر بیا د هندوکش نه راواووښت او بګرام ته راغی. سکندر د بګرام نه د نني جلال اباد په لوري وخوځېد.د جلال اباد د ښار بنسټ په ۱۵۷۰ کې د مغولو امپراتور جلال الدین اکبر ایښی دی. جلال اباد د خپل موقعیت له مخې یو مهم ښار دی چې د کابل او پېښور تر منځ د سوداګرۍ مرکز دی. جلال اباد د لوی ننګرهار حکومتي مرکز هم و. د امیر حبیب الله خان، پاچا امان الله او باچا خان مزارونه هم په جلال اباد کې دي. هلته د سکندر لښکرې دوه برخې شوې چې یوه برخه یې د خیبر د درې له لارې اباسین ته روانه شوه او بله یې د کنړ لاره ونیوله چې په خپله دی هم ورسره مل و. په کنړ، باجوړ او سوات کې د پښتنو د کلک مقاومت سره مخامخ او ټپي هم شو. سکندر بیا د هند په لور لاړ، د اباسین نه واووښت او جیلم ته ورسېد چې بیا یې پوځ د وړاندې تګ نه ډډه وکړه او د بلوچستان له لارې یونان ته د تګ په لاره کې بابل ته ورسېد او هلته د درې دېرشو کالو په عمر مړ شو. په دې توګه سکندر «په خپلو بې جوړو نظامي بریو سره په ټولې مالومې نړۍ کې د لوی سکندر په نامه یاد شو. هغه نه یوازې ټول یونان لاندې کړو، بلکې د هخامنشي پراخه امپراتوري یې [هم] لاندې کړه او...د ده امپراتوري له یونان

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه تر اباسين نه اخوا پورې غځېدلې وه.»۸۴

سکندر که څه هم په اريانا کې څلور کاله تم شو خو اغېزې يې ژورې او تلپاتې شوې. ډېر غټ ميراث يې د يونان باختري دولت و، چې په مخزيږدې ۲۵۶ کال کې د يودوتس په مشرۍ پيل شو او څه باندې يوه پېړۍ وروسته له منځه لاړ. د يونان باختري دولت په وخت کې به د يونانيانو شمېر زيات وو، چې څه باندې يوه پېړۍ يې واکمني وکړه. سکندر په باختر کې ډېر يونانيان ګومارلي وو، چې د باختر دېرش زره ځوان په پوځي چارو کې وروزي. د يونانيانو او ځايي خلکو تر منځ اړيکې تر دې کچې ښې وې چې د نولسمې پېړۍ تاريخپوهانو «... د ټولو لرغونو مدنيتونو ښه توب په باختر کې وليد» ياني چېرته چې يونانيانو ځايي خلک «... ګټور سياسي او اجتماعي ملګري وګرځول.»۸۵ په دغې دورې کې د اريانا اقتصاد دومره ډېره وده وکړه، چې اريانا د زرو ښارونو د هېواد په نامه ياد شو. واکمن نيکاتور په ۳۰۰ مخزيږدي کې د آی خانم ښار جوړ کړی و، چې د اتن د ښار په شان د يوې جګې غونډۍ په چاپېر کې حکومتي او شخصي ودانۍ لرلې او يونانيانو له هغه ښار نه واکمني کوله. دغه ښار په ۱۹۶۴ کال کې فرانسوي لرغون پوهانو لوڅ کړ، چې څرک يې پاچا محمد ظاهر ورکړی و. په اريانا کې د يونان د باختري واکمنۍ پر مهال د سپينو زرو سکې دومره ډېرې په چلند کې وې، چې د نولسمې پېړۍ په درېمې لسيزې کې د چارلز ميسن په نامه يوه انګليس ګرځندوی ډېرې سکې ترلاسه کړې او بيا پوهاند ولسن د هغو پر بنسټ د لرغوني اريانا په نوم يو مستند اثر وکيښ.۸۶

په اصل کې سوداګرۍ د اريانا په شتمن کېدلو کې ستر اغېز درلود. مهمه دا ده چې د اريانا خلکو لږ و ډېر د اتنيانو غونډې هغه فکرونه منل چې ورته معقول ښکارېدل. دوی د انګرېزانو تر لومړي يرغل پورې ښه پراخ نظره وو، تنګ نظره نه وو. د نولسمې پېړۍ د ټولو باندينيو ګرځندويانو په نظر هغومره چې افغانان ازاد فکره وو، د اسيا بل هېڅ ولس هغسې ازاد فکره نه و.

په افغانستان کې د يونانيانو تلپاتې ميراث شايد نورستانيان وي، چې په عام نظر د سکندر د پوځ نه پاتې دي. دوی د سکندر د پوځ نه پاتې نه دي. ځکه چې سکندر د ۳۲۷ مخزيږدي کال د نومبرنه د بل کال تر فبروري پورې څلور مياشتې په کونړ، باجوړ او اسپه سيو (اوسنيو يوسفزيو) له ډېر سخت مقاومت سره مخامخ او ټپي هم شو. هلته چې ده د کلک مقاومت نه وروسته دنګې کلاګانې ونيولې ټول اوسېدونکي يې له تېغ نه تېر کړل. دوی او يوسفزي يو د بل سخت دښمنان شول او د يونانيانو د پوځ د کومې برخې د پاتې کېدو شونتيا يې د منځ نه يوړه. د هغه په اړه اثرونو کې هم د دې يادونه نه شته چې هغه به هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل سرتیري پرې ایښي وي. خو د نورستانیانو او یونانیانو تر منځ داسې ګډې ځانګړتیاوې شته چې د هغې له مخې شونې ده ډېر نورستانیان په اصل کې یونانیان وي. دا شاید له دې امله وي چې باختري یونانیان د ساکانو او یوچیانو له لاسه له باختر نه ووتل او په لغمان، باجوړ او بلورستان ته هغه وخت پناه وړې وي. دوی په یولسمه پېړۍ کې د سلطان محمود له خوا تر فشار لاندې ونیول شول، چې مسلمان شي او دوی مسلماني نه غوښته. وروسته دا بلورستان د «کافرستان» په نامه یاد شو. تاریخپوه غلام محمد غبار لیکي: وروسته له دې چې«یونانیان د تل له پاره نسکور شول، په باختر باندې د تخاریانو په هم هغو لومړیو جګړو کې د ماتې له امله یو شمېر مدني باختریان د بلورستان درو ته پناه یوړه او د ځای د خلکو سره د ګډېدو په حال کې یو شمېر د باختري مدنیت خپل دودونه او خویونه یې هغوی ته یوړل.»۸۷

کاکړ وایي چې دغه «مدني باختریان» هماغه یوناني اصله باختریان وو، چې د دین، دود او رواج او د ژوند د شېوې له مخې له ګاونډیانو نه بیل او اتنیانو ته ورته وو. دوی هم د یونانیانو غوندې په یو لړ خدایانو معتقد وو، چې امرا یا یمرا په نامه خدای یې تر ټولو مشر و. د اوتاه په نامه یوه روحاني یې مذهبي دودونه پرځای کول. دوی هم ښځینه خدایانې د دیازاني، کروماتي او نیرمالي په نومونو هم درلودې. په دوی کې هم مریتوب دود و. په دواړو کې مریان کسبګر وو. د امیر عبدالرحمن په وخت کې چې «کافرستان» ونیول شو، ډېرې لرګینې مجسمې ترېنه ټولې شوې، چې په کابل کې ورکې شوې. دوی هم د یونان د کسبي مریانو غوندې د کار پر مهال په څوکۍ یا لرګین کټکي باندې کېناستل. دغه څوکۍ په اصل کې د یونانیانو موندنه وه. په مصر او منځني ختیځ کې له هغې نه ګټه نه اخېستل کېده، خو په کافرستان کې له هغه نه کار اخېستل عام و. بله ځانګړتیا چې یوازې په یونان او کافرستان کې یې څرک لیدل شوی، د ټولنې نه د نامطلوبه کسانو شړل وو. په اتن کې هر هغه څوک، چې فکر کېده دولت ته به زیان ورسوي، د شورا په پرېکړې سره به لس کاله تبعیدېده. په کاپرستان کې یو قاتل د قومي شورا (Vrey) له خوا له ټولنې تر هغه شړل کېده، چې ورباندې ایښودل شوې جریمه چې درنده به وه، ادا کړي.

د یونانیانو سره د افغانانو په تېره د پښتنو ګډ ټکي هم لږ نه دي. یوه بېلګه یې د ناموس کلیمه ده. ناموس افغانانو ته د یو دودیز قانون غوندې ارزښت لري. په یوناني ژبه کې هم «ناموس هم د عرف یا قانون مانا ورکوي». په یونان کې «ناموس اول په عنعني او وروسته په قانوني ډول تثبیت شو» سوکرات به ویل چې «د ښار د ناموس [قانون] اطاعت وکړئ. دا د ښه عمل کولو لار ده.»۸۸ څنګه چې پښتو او یوناني دواړه اریایي ژبې دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوني ده چې د ناموس کلیمه د اول نه په دواړو ژبو کې دود شوې وي، لکه چې په پښتو او انګلیسي کې اوس هم ډېرې کلیمې په یو ډول یا نږدې په یو ډول ویلې کیږي: تندر (Thunder)، وله (Willow)، درېول (Drub) او ټبر (Tribe). د سکندر بل میراث د هغه نوم دی، چې په افغانانو کې عام دی.

## پارتیا

کهزاد وايي چې د پکتیانو یوه څانګه د هغو مهاجرینو سره چې د لوېدیز خوا ته لاړل د هریرود د هغې خوا نه د خزر تر سواحلو پورې نږدې ځایونه ونیول او د پارتیا په نوم یاد شو. پارتیان د دهایي ساکا د پرنای څانګې خلک دي.

پارتیانو دوه کاله وروسته له هغې چې د یونان- باختري دولت په بلخ کې د یودتس په مشرۍ واک ته رسېدلی و د یونان- باختر په لوېدیځ کې د پارت دولت بنسټ د ارساس په سروالی کېښود. «پارتیه د دامغان، شاه رود، جوین، سبزوار، نیشاپور، طوس، ترشیز له سیمو او د هریرود له حوضې نه جوړه وه.»۸۹ د میریداتس په پاچایي کې د پارتیا واکمني په امپراتورۍ واووښته چې په اروپا کې د روم د امپراتورۍ سیاله شوه او پنځه پېړۍ يې په پارسانو واک وچلاوه. وروسته د ساساني پاچا اردشېر د پارتیا وروستي پاچا ارته بانوس ته ماتې ورکړه او د پارتیا امپراتوري ته یې د پای ټکی کېښود. اردشیر پارتیا د خراسان په نوم ونوموله تر څو د پارتیا هویت له منځه یوسي. زموږ ځینې افغان ورونه چې د خراسان نارې وهي ښه به دا وای چې د ایران نه یې د پارتیا د بېرته تر لاسه کولو نارې وهلی او پارسي خراسان یې بېرته پارتیا نومولئ وای.

## د اریایانو دوهم ستر لېږد

هغه مهال چې د چین دېوال جوړ شو او چینایانو د هغه په مرسته وکولی شول چې د مغولو د یرغل نه ځان وژغوری نو مغولو د لوېدیځ په لور یرغل وکړ او د دغه یرغل په پایله کې د دغو ولسونو دوهم ستر لېږد پیل شو. دوه زره دوه سوه کاله د مخه د مغولو د یرغل په پایله کې یوچیان او یفتالیان هم مهاجرت ته اړ شول. نو بیا دغو یوچیانو، یفتالیانو او نورو تر فشار لاندې د ساکا څو څانګې له سغدیانې نه ښکته شوې، باختر يې ونیو او بیا د هغو په فشار له بخدي نه سیستان ته واوښتل او هلته میشته شول. دوی خپله مېنه په ساکستانه او بیا په سیستان یاده کړه چې د ګوندو فارس په مشرۍ یې یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



امپراتوري جوړ کړه.

«پوهاند فرای د سیستان ساکا د پښتنو لوړ نیکونه ګڼي او وايي چې د اسلامي پراختیا په برابر کې د زنبیلانو ټینګ مقاومت یو دلیل په یقین سره هغه جنګیالي قومي خلک، د افغانانو یا پټانانو نیکونه وو، چې د یرغلګرو سره [د] جنګ له پاره یې مېړونه ورکول.»۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلورم څپرکی

# کاکړ او د تاریخ په بهیر کې د پښتنو نومونه

د مخه مو یادونه وکړه چې کاکړ خپل اثر «پښتون، افغان، افغانستان» په دې موخه لیکلی چې په لرغوني تاریخ کې د پښتنو څرک ومومي. دی په دغه کتاب کې د پښتنو او د دوی د ټاټوبي په نومونو هم غږیږي. برسېره پر دې هغه پخوا یوه بله لیکنه د «افغانستان و افغانها و تشکیل دولت در هندوستان، فارس و افغانستان» په نامه هم کښلې وه تر څو په تاریخ کې د افغانانو هویت تثبیت کړي.

دغه وروستۍ لنډه لیکنه دوه څپرکي لري چې لومړی یې د افغانانو او د دوی د ټاټوبي نومونه ته، چې د افغانانو د تاریخي پېژاند (هویت) سره اړه لري، او دوهم یې د پنځلسمې پېړۍ د دوهمې نیمايي نه را دې خوا ته د افغانانو هغو تشکیلوونکو هڅو ته ځانګړی شوی چې دوی د خپل سیاسي ژوند او په هندوستان، فارس او افغانستان کې د دولت د تنظیمولو له پاره کړي دي. دا لیکنه دوې موخې لري:

لومړۍ موخه یې دا ده چې د اوسني بحراني حالت نه د تېرو تاریخي تجربو څخه د زده کړې پر مټ څنګه وتلی شو یاني پخوا افغانانو د ملي بحرانونو په مهال او په ځانګړې توګه چې د پردیو د تېریو او یرغلونو په پایله کې منځ ته راغلي وو، چې د هغو له امله د هېواد شته نظم ګډ وډ شوی و، څنګه په هېواد کې دولت د سره بیا تنظیمولو.

دوهمه موخه یې دا ده چې په اوسنۍ بحراني وضعه کې د هغو ورانکارو کړیو او شخصیتونو چې د بهرنیو دښمنو کړیو په لمسون د منل شویو تاریخي مفهومونو، چې د افغانانو او افغانستان تاریخي پېژاند (هویت) تمثیل کړی مغشوش کړي، د روښانولو او لارښوونې ته ځانګړې شوې ده. اوس به د کاکړ د پاسو یادو شوو دوو اثارو او هم د پوهاند ډاکټر حبیب الله تږي «پښتانه» له کتاب او د نورو اثارو نه په ګټه اخېستلو سره د تاریخ په بهیر کې د پښتنو نومونه وړاندې کیږي.

**پښتون:**

د پښتون نوم لکه چې د مخه مو یادونه کړې ده د لومړي ځل له پاره په ویدي سرودونو کې د پکتاس (Pakthas) په نامه یاد شوی دی چې د خپل قوم پاچا ښودل شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بل پاچا يې توریانا یاد شوی دی. پوهاند کاکړ د ګرفت د لیکنې له مخې چې د پکتاس پاچا يې توروایانا ښوولی وايي چې د ګرفت توروایانا شاید هماغه د ویدي سرودونو توریانا وي.

د پښتون نوم د مخزیږدې نه څه د باندې څلورسوه کاله د مخه د تاریخ پلار هیرودت په خپل «تاریخ» نومي اثر کې د پختویس یا پکتویس او د پښتنو ټاټوبی يې چې هم همدومره زوړ دی ده په خپل همدې کتاب کې د پکتیکا یا پکتویک په بڼه یاد کړی دی. لوونتال لیکي: «پختویس پوستینونه اغوستي و او وطني لیندې او تورې يې ګرځولې»۹۱ او بیا د هیرودت په دې عباراتو استناد کوي: «داریوش دوه تنه د دې خبرې د معلوملو د پاره وګومارل چې اباسین چېرته په سمندر ورګډیږي. دغو دوو تنو خپل کار د کسپتیروس له ښاره او د پکتیکا له هېواده شروع کړ».۹۲

د پوهاند حبیب الله تږي په وینا هنري بیلو، هنري لوونتال، اولاف کیرو او جورج ګریسن د هیرودت په پورته عباراتو کې د «پکتیکا» او «پختویس» الفاظ په ترتیب سره د ننۍ پښتونخوا او د پښتون د کلیمو انډول ګڼي.

ارزاني چې د هېواد مل په زیات ګومان دیوان يې د اخوند درویزه د مخزن نه څو کاله وړاندې لیکل شوی دی د پښتون کلیمه کارولې ده:

د دې افــغاني درونو
ارزاني پښتون حکاک دی۹۳

همدارنګه دولت لواني هم په خپل دیوان کې پښتون کارولی دی:

تل تر تله وفــايي به ځینې مومې
دا پښتو خبره پند که، که پښتون يې۹۴

د پښتون کلیمه د اخوند درویزه په مخزن الاسلام کې بیا بیا راغلې ده. درویزه د روښان پیر د زوی جلال الدین په اړه لیکي: «دغه لاپه، په خوله کړه چې پادشاه د پښتنو یم؛... پښتنو ټولی پرې وکړ ... ولې دی هم پښتونخا لره بلا شه.»۹۵

کاکړ په خپل اثر «پښتون، افغان، افغانستان» کې د پښتنو د اصل په اړه هم اوږدې خبرې لري او ما په خپل اثر «پښتو د تاریخ په بهیر کې» د کاکړ نظر هم منعکس کړی او د نورو لیکوالو نظرونه هم راوړل شوي او اوس به يې دلته هم بیان کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پښتنو اصل

د پښتنو د اصل او نسب په هکله راز راز روايتونه او افسانې شته. پښتانه چا يهود، قبطيان، ارمنيان، تاتاران، هپتاليان، ساکا بللي او ځينو نورو بيا په مغولو، راجپوتانو، برهمنانو، جټانو، يونيانانو، ترکانو، عربانو او نورو سره ګډ کړي دي.

د پښتنو په اړه ډېر پخوانی او عمومي روايت چې د يوې افسانې پرته بل څه نه دي دا دی چې پښتانه بني اسراييل دي. د پوهاند ډاکټر حبيب الله تږي په وينا تر ټولو پخوانی ليکلی سند چې پښتانه په بني اسراييل پورې تړي د ابو الفضل «ايين اکبري» دی چې وايي: «افغانان ځانونه د اسراييلو اولاده ګڼي»۹۶ ابوالفضل دا هم وايي چې پښتانه په دې باور دي چې د دوی ډېر ليرې نيکه «افغان» نومېده، هغه درې زامن درلودل چې هغه سړبن، غرغشت او بټن وو. دی زياتوي چې غلځي، لودي او نيازي د يوه دوديز روايت له مخې د يوې بلې پښې دي.

اخوند دروېزه هم افغانان د مهتر يعقوب اولاده ګڼي او وايي چې د اسراييلو د لوی مشر طالوت د دوو زامنو نه يو افغان نومېده او د همدې افغان اولاده ننني افغانان دي چې د اسراييلو د ځپلو په وخت کې غور ته تللي او هلته ميشته شوي دي. خو څرنګه چې دوی د سلېمان په غره کې اوسېدل نو په عربستان کې سليماني بلل کېږي.

بل هغه کتاب چې د پښتنو د نسب په اړه روايت يې په اوږده توګه بيان کړی دی د نعمت الله هيروي «تاريخ خان جهاني و مخزن افغاني » دی چې لنډيز يې حبيب الله تږی په لاندې ډول بيانوي: «ملک طالوت د اسرايلو پاچا و، خو د مخه له خپل مرګ نه يې د سلطنت امور مهتر داود ته وروسپارل. دی خپله وروسته له اوه ځلوېښت کاله سلطنت نه په يوه جګړه کې ووژل شو. ملک طالوت دوه ښځې لرلې او د مرګ په وخت کې يې دواړه اميندوارې وې. وروسته له څه مودې نه د دواړو کره زامن وشول. مهتر داود د يوې د زوی نوم برخيا او د بلې ارميا کېښود. کله چې د ارميا کره زوی وشو د هغه نوم يې افغنه کېښود.

وروسته له مهتر داود نه مهتر سليمان د اسرايلو پاچا شو. ده د ملک د چارو نظم کار اصف او افغنه ته وسپاره. ...وروسته د مهتر سليمان له مرګ نه د اسرايلو ورځ بده شوه. بخت نصر شام ونيو؛ بيت المقدس يې وران کړ او د اصف او افغنه د اولادې دوه د سر سړي عزيز او دانيال يې له خپلو پيروانو سره بنديان کړل. بخت نصر وروسته د اسرايلو دولس زره مهم خلک ووژل او پاتې يې له اصف او افغنه سره غور، غزني، کابل، فيروز

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوه او د کندهار شاوخوا سیمو ته فرار کړل. د افغانه اولاده په دغو سیمو کې میشته شوه.

کله چې خالد بن ولید مسلمان شو نو دغو خلکو ته مکتوب ورولېږه ... او د اسلام منلو ته یې وروبلل.کله چې د افغنه اولادې ته د خالد مکتوب ورسېد، یو شمېر مشران یې مدینې ته روان شول. په دغو مشرانو کې د بني افغان تر ټولو نه ستر مشر قیص نومېده چې د نسب سلسله یې ملک طالوت او ابراهیم خلیل الله ته رسېده. خالد دغه خلک د پیغمبر حضور ته وروستل.

آنحضرت له هر یوه نه د نامه پوښتنه وکړه. د بني افغان مشر ورته وویل چې د ده نوم قیص دی. حضرت پیغمبر ورته وویل: «قیص عبراني نوم دی. څرنګه چې موږ عرب یو نو ستا نوم به وروسته له دې عربي او عبدالرشید وي.»

عبدالرشید د خالد سره یو ځای په یو شمېر جګړو کې په مېړانه وجنګېد او خالد حضرت پیغمبر ته د هغه د مېړانې په باره کې معلومات ورکړل.حضرت پیغمبر عبدالرشید ته د بتان لقب ورکړ. بتان چې وروسته پټهان شو، هغه تیر ته وایي چې بېړۍ پرې تکیه وي. حضرت پیغمبر وروسته عبدالرشید خپل حضور ته وباله؛ د خیر دعا یې ورته وکړه او له خپل یوه صحابي او یو شمېر انصارو سره یې بېرته غور ته ولېږه چې په خلکو کې د اسلام تبلیغ وکړي. له قیص عبدالرشید نه چې په کال ۴۰ هجري کې په اوه اتیا کلنۍ مړ شو، درې زامن پاتې شول. یو سړبنی، بل بېټنی او بل غرغشت.

نعمت الله هروي په پای کې وایي، پرته د کرلاڼو نه، د نورو ټولو پښتنو اقوامو د نسب سلسله همدغو درې وو تنو ته رسیږي او ټول د همدوی اولاده جوړوي»۹۷ بیا افضل خان ختټک، حافظ رحمت خان او قاضي اعطاءلله خان پښتانه اسراییل بللي دي.

په بهرنیو لیکوالو کې لومړی پوه سر ویلیم جونز دی چې د پښتنو دودیز روایت ته یې د لوېدیز پام واړاوه او په یوه لنډه لیکنه کې یې داسې وښوده چې کېدای شي چې پښتانه د یهودو د نسب څخه وي. نوموړي لوېدیزوالو ته دا سپارښتنه هم وکړه چې د پښتو ژبې او ادبیاتو څېړنې ته کلک پام وکړي. برسېره پر دې دغه ستر پوه په یوه لیکنه کې د لاتین او جرمانیکو ژبو خپلوي د سانسکریت سره ثابته کړه.

د جونز د سپارښتنې له مخې ډېرو لوېدیزوالو د پښتو ژبې او ادبیاتو څېړنې ته پوره پام وکړ او ډېرو لوېدیزو پوهانو هڅې وکړې چې دا ثابته کړي چې پښتانه د نسب له مخې یهودان دي. په دغو لیکوالو کې لومړی سړی الکساندر برنس دی چې د افغان- انګلیس د لومړۍ جګړې پر مهال په هغه پاڅون کې ووژل شو چې د کابل خلکو د وزیر محمد اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان په مشری د انګرېزانو پر ضد کړی و. دی په خپل اثر کې چې «د بخارا سفر» نومېږي په کابل کې د افغانانو نه د پوښتنو او ګروېږنو پر بنسټ دې پایلې ته رسېدلی چې پښتانه بني اسرایل دي. برنس په کابل کې د خلکو او ان د امیر دوست محمد خان سره په دې اړه غږېدلی او امیر هم دا ښودلې چې پښتانه د یهودو د نسله دي. په برنس پسې مور ګرافټ د اپریدو په اړه وایي چې دوی ډېرې دنګې ونې لري او څېرې یې کټ مټ د یهودانو دي او چارلیز میسن په خپل سفرلیک کې پښتانه بني اسراییل بللي دي. جورج روز د پښتنو او یهودو د نسب په اړه ځانګړی کتاب چې «افغانان، لس قبیلې او د ختیځ سلطانان» نومېږي ولیکه. دی په خپل کتاب کې وایي چې د یهودو لس ورکې شوې قبیلې افغانستان ته تللې او پښتانه د همدغو لسو قبیلو اولاده ده. دی دا هم وایي چې دوی [پښتانه] د فارس سلطانان وو او په کلونو کلونو یې په هند واکمني کړې ده.۹۸

بل انګرېز چې د پښتنو او یهودو د اصل په اړه یې لیکنې کړې دي والټر بیلو دی چې پښتانه اسراییل ګڼي. خو بیلو برسېره پر دې چې هغه دودیز روایت چې پښتانه له اصله اسراییل ګڼي مني ځینې پښتانه په نورو نسبي ډلو پورې لکه برهمنان، راجپوتان، جټان، یونیانان، هفتالیان، ساکان، مغول، ترکان، عربان، ارمنیان او نورو ورګډوي.

جورج راورټي هم د پخواني روایت له مخې پښتانه له دې امله د یهودو د نسبه ګڼي چې خپله پښتانه خپل ځانونه د یهودانو له نسبه بولي او زیاتوي چې د پښتنو د یهودیت مسله د سدوزو قبیلو په تاریخ کې چې «تذکراةالملوک» نومېږي په ډېر ښه ډول بیان شوې ده. په پای کې دې پایلې ته رسېدلی «چې افغانان د یهودانو د [لسو] قبیلو بقایا دي.»۹۹

د ترې په وینا د یهودانو په دایراة المعارف کې هم راغلي دي چې پښتانه د خپل دود له مخې ځانونه یهودان ګڼي.

په ځینو اثارو کې بیا پښتانه قبطیان او د فرعونانو له نسل نه ګڼل شوي دي. د ترې په وینا ابوالفضل په ایین اکبري کې د دې موضوع یادونه کړې خو هغه یې په خپله بې اساسه ګڼلې او یوه خیالي افسانه یې بللې ده.

فرشته بیا دا خبره د یوه بل اثر په حواله په خپل تاریخ کې یاده کړې ده:«ما په «مطلع الانوار» کې چې یوه منلي مولف لیکلی او ما ته د دکن د کاندیش په یوه ښارګوټي کې لاس ته راغی، لوستي دي چې افغانان فرعون الاصله قبطیان دي. کله چې موسی پیغمبر هغه کافر (فرعون) ته ماته ورکړه او په سره بحیره کې غرق شو، ډېرو قبطیانو د یهوده دین ومانه. خو نورو یې چې سرتنبه او خودرایه وو، رښتینی دین ونه مانه او له خپل ملکه ولېږدېدل هندوستان ته ولاړل. په نهایت کې د سلیمان په غرونو کې میشته او د افغانانو په نامه یاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



شول.»۱۰۰ ځينو ليکوالو بيا پښتانه د مغولو او ترکو سره ګډ کړي دي. د بېلګې په توګه د محمود کتبي «تاريخ ال مظفر» کې راغلي چې «افغان او جرما مغولانو د ولايت په شاوخوا کې بغاوت او چور پيل کړی دی.»۱۰۱ خو عبدالرزاق سمرقندي بيا څو ځايه افغان او جرميان له ترکانو سره ګډ کړي دي. «امير مبارزالدين مظفر په دې فکر چې ښايي اوغان او جرمايي اتراک به د هغه د مظفرانه بيرغ لاندې راټول شي، د بم په لاره ولاړ او د جيرف په دښته کې يې واړول.»۱۰۲ ځينې اروپايان لکه کرونسکي د ارمنيانو په يوه دوديز روايت پسې تللي او افغانان يې د ارمنيانو سره ګډ کړی دي. کرونسکي چې په اصل کې پولنډی دی او د ۱۷۲۰ نه تر ۱۷۲۵ پورې په اصفهان کې اوسېده او هلته يې د پښتنو برى او د شاه محمود هوتک په لاس د صفوي دولت نسکورېدل په خپلو سترګو ليدلي او هغه يې ليکلي دي. د مخه مو وليدل چې دا نظريات يوازې د پښتنو په دوديز روايت او په ساده کتنو ولاړ او هېڅ تاريخي او علمي بنسټ نه لري. په دې اړه د نولسمې پېړۍ په پيل کې لوېديځ پېژندونکو د هندو- اروپايي قومونو د تاريخ او ژبو د علمي څېړنو او په هغه جمله کې د پښتنو او پښتو ژبې د علمي څېړنو په پايله کې پورتني روايات او ساده کتنې رد کړې. اوس به په لنډه توګه د تاريخي، د ژبې د اصل او پرتلنې او د وينې د خپلوۍ پر بنسټ د يادو نظرياتو بې بنسټ توب په ګوته کړم او دا به ښکاره کړم چې پښتانه د توکم يا نسب له مخې اريايان او پښتو يوه لرغونې اريايي ژبه ده.

## ۱-د تاريخ له اړخه:

د تاريخ له اړخه به اوس وګورو چې پښتانه په اصل کې اريايان او د اوږدې مودې راهيسې په همدغه وطن کې ژوند کوي.

پښتون د لومړي ځل له پاره په ويدي سرودونو کې د پکتاس (pakthas) په نوم ياد شوي چې د خپل قوم پاچا ښودل شوی او بل پاچا يې توريانا ياد شوی دی. کاکړ د ګرفت د ليکنې له مخې چې د پکتاس پاچا يې توروايانا ښوولی وايي چې د ګرفت توروايانا شايد هماغه د ويدي سرودونو ياد شوی توريانا وي.

په اوستايي دورې کې د يونان نامتو تاريخ پوه هېرودت د نورو اريايي قومونو په لړ کې پکتيس يادوی د کاکړ په وينا نږدې ټول تاريخ پوهان په يوه خوله وايي چې دهېرودتس پکتيان همدغه نني پښتانه دي.

په اريانا کې د ويدي دورې په ټبرونو کې پکتيان هم پاتې شول. احمدعلي کهزاد وايي چې پکتيان د باختر نه د ټبرونو د لېږد په مهال دوې برخې شول: يوه څانګه يې د نورو قبيلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کورنیو سره د هندوکش سوویل ته ښکته شوه او د سوویل ختیځو سیمو او غرونو کې میشته شوه چې د پکتیانو د استوګنځي په نوم مشهور شو. بله څانګه یې په باختر کې پاتې شوه چې ویدي او اوستایي مدنیت یې د نورو ټبرونو غونډې هلته ټېر کړ. دوی د کیاني افسانوي دورې وروسته د بخدي سلطنت جوړ کړو.

د مخه مو یادونه وکړه چې د بخدي سلطنت تر ټولو مهم سلطنت و. هلته د اسپه کورنۍ واکمنه کورنۍ وه. د بخدی نومیالی واکمنان دلهراسپه، وشتاسپه، ګرشاسپه، اروت اسپه، په نومونو یاد شوی دی. د وشتاسپه لوی وزیر د جم اسپه او زرتښت پلار د پوروشاسپه په نومونو پېژندل شوي دي. اسپه په اوستا کې د اس په مانا کلیمه ده. اسپه چې د اس مونث دی او په همدغه بڼه تر اوسه په پښتو کې ژوندی ده. په دې حساب د اسپه کورنۍ پښتنه او واکمنان یې پښتانه وو.۱۰۳

کهزاد زیاتوي چې د هېرودت د لیکنې له مخې د پکتیانو یوه کوچنۍ څانګه د لوېدیځ لور ته مخته تللې او د ارمنستان په لوېدیځ کې میشته شوې چې هلته په خپله د پکتیس یا پکتوویس په نامه او خپل ټاټوبی یې د پکتیکا په نامه مشهور شو. داسې ښکاري چې د پکتیانو دا کوچنۍڅانګه به په ځایي خلکو کې حل شوې وي. که د پکتیانو د ارمنیانو او ګورجیانو سره د ژبې یا نورو نښو په بنسټ کوم ورته والی وي هغه به د دې له امله وي چې پکتیان د دوی په ګاونډ کې میشته وو او بیا په کې حل شوي دي نه دا چې دوی ګواکې د یوه نسب نه دي.

هېرودت د پکتیک د هېواد پکتیان څلور ډلې خلک په ګوته کوي چې ګنداري، سته ګیدای، اپه ریتای او دادیکا دي چې د پوهانو په نظر په ترتیب سره کندهاري، ختک، اپریدي او دېګان دي. بیلیو، احمدعلي کهزاد، غبار او کاکړ د هېرودت دادیکا د پښتنو څانګه ګڼي. کاکړ دا هم وایي چې «دېګان په ټولو لیکنو کې کلیوال یاد شوي، ... او ځینې یې پښتو ژبي هم وو او ... په اسلامي دوره کې تاجک شوي»۱۰۴ دي.

لومړی لوېدیځ پوه م. الفنسټون دی چې په خپل بې جوړې کتاب «د کابل سلطنت» کې چې په ۱۸۱۴ کال کې یې لیکلی او نامتو تاریخپوه پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ په پښتو ژباړلی دی د پښتنو د اصل او نسب په اړه یې د پښتنو هغه دودیز روایت رد کړ چې خپل ځانونه بني اسراییل ګڼي. دی وایي چې د دې روایت لومړی ټکی د سپېڅلي کتاب تورات سره ښېخي اړخ نه لګوي او دوهم ټکی یې منطق نه مني ځکه یوازې اوه دېرش پښته شپاړس سوه کاله نه کیږي. الفنسټون دا نظریه هم ردوي چې پښتانه په اصل کې قفقازیان دي. دی وایي «زه د دې له پاره هېڅ دلیل نه وینم چې افغانان د غربي قفقازیانو سره وتړم.»۱۰۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ په خپل څېړنیز اثر«پښتون، افغان، افغانستان» کې د هنري پرېستلي په حواله چې «حیات افغاني» یې په انګرېزي ژباړلی وایي: «د ساول پښت په غلطه له جودا (یهودا) څخه ښودل شوی دی. په داسې حال کې چې د تورات ( Old Testament) له مخې هغه د بنجامن ټبر ته منسوب و. د تورات په هېڅ ځای کې د دې ذکر نه شته چې افسانوي ارخیا او ارمیا به د ساول د زوزات څخه وي... نه د ارمیا او نه د افغان نوم او یا هغه ته ورته بل نوم د حضرت داود د نومیالیو کسانو په ډله کې لیدل کیږي»۱۰۶

کاکړ دا روایت، چې ګواکې خالد بن ولید د قیس په مشري د غور افغانان مدینې ته بللي وي، هم بې بنسټه بولي. دی وایي چې خالد بن ولید دغسې تاریخي شخص و چې کړنې یې په ډېرو کتابونو کې ثبت شوې دي. د دغو کتابونو له مخې خالد بن ولید یهود نه و، بلکې د عربو د قریشو د لوی ټبر د مخزوم د څانګې نه و. نوموړی په ۶۲۵ هجري کال د احد په جنګ کې د پیغمبر (ص) پر ضد جګړه کې برخه اخېستې چې د هغې په پایله کې مسلمانان په زیاته اندازه د ده په قوماندنۍ مات شوي وو. خالد بن ولید تر ۶۲۹ هجري کال پورې د پیغمبر (ص) او اسلام مخالف و. په همدې کال ده د عمر بن العاص سره د حضرت محمد (ص) پیغمبري ومنله. بل کال (۶۳۰) مسلمانانو په جنګ سره مکه ونیوله. کاکړ زیاتوي چې په دغه حال کې مسلمان خالد ته شونې نه وه چې په دومره لنډې مودې کې افغانان مکې ته حاضر کړي. برسېره پر دې که خالد او ملګري یې یهودان وای، هغوی به ولې له حضرت محمد (ص) سره د مکې په نیولو کې مرسته کړې وای، ځکه چې د ده په امر سره د مدینې یهودان ځپل شوي وو.

جان ملکم هم د فارس په تاریخ کې د پښتنو د اصل او نسب په اړه د دوی خپل دودیز روایت ردوي او لیکي: «هېڅ داسې کومه کتیبه نه ده پیدا شوې چې دا عقیده تایید کړي چې پښتانه د یهودانو له نسله څخه دي. او د دوی دا خپل مبهم دود په داسې یوه موضوع کې د مسلم حقیقت په حیث نه شي منل کېدلی.»۱۰۷ بل ستر پوه او ختیځ پېژندونکی ب. ډورن دی چې د پښتنو د تاریخ او ژبې په اړه یې کره او ژورې څېړنې کړې دي. نوموړي د پښتنو دودیز روایتونه ناسم بللي او لیکي:«دا چې د فارسي ژبې مؤرخین پښتانه د یهودو له نسله ګڼي دا پرته له یوې خبرې نه د کوم بل شي ثبوت نه شي کېدای او هغه دا چې دا لیکوالان روایات، پرته له دې چې ماهیت یې معلوم کړي، د خپل دود په اساس، د مسلمو حقایقو په توګه ثبتوي.»۱۰۸

دغه راز ډورن وایي «دا چې د افغانانو او یهودانو نومونه سره یو شی دي د دې دلیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دی چې افغانان مسلمانان دي. د مسلمانانو او يهودانو ډېر نومونه مشترکه تاريخي او قومي منبع لري، دا چې د افغانانو څېرې بېخي يهودانو ته ورته دي دا هم د دې دليل نه شي کېدی چې پښتانه د يهودانو له نسله دي. ډورن د دې خبرې د تاييد دپاره د جان ملکم دا عبارت را اخلي چې «که د دوو ولسونو د څېرو سره ورته والی د [دې] دليل کېدای شي چې هغوی دې د عين نسل نه وي، هلته نو بيا کېد ی شي چې کشميريان هم د خپلو څېرو له امله د يهودانو له نسله وبلل شي، ځکه [چې] يو شمېر غربيان کشميريان هم، کټ مټ يهودانو ته ورته بولي.»۱۰۹

ډورن وايي چې «پښتانه له کوم بل ملک نه افغانستان ته نه دي تللي، بلکه لکه څنګه چې سر ويليم جونز وايي«د لرغوني پاروپاميزاد (يعني مرکزي افغانستان او شاوخوا سيمو) اصلي او ځايي اوسېدونکي دي.»۱۱۰ ډرون وايي چې «تاريخ ثابته کړې ده چې د غزنوي سلطان محمود د واکدارۍ په وخت کې او تر هغه نه ډېر پخوا دوی (افغانان) په هغو کلاوو کې اباد وو چې تر اوسه په کې ميشته دي.»۱۱۱ ډورن دا روايت هم ردوي چې ارمني اغوانان او پښتانه يو شی دی. دوی دوه بېخي سره جلا ولسونه بولي. ډورن د خپلو څېړنو له مخې دې پايلې ته رسي چې پښتانه د هندو- اروپايي د ولسونو د ستړې کورنۍ غړي او هم ځانته يو لرغونی ولس دی.

په دې ترتيب تاريخي حقايق دا ثابتوي چې پښتانه په اصل کې اريايان او د لرغونو زمانو نه په همدغه وطن کې اوسي.

## ۲-د ژبو د اصل او پرتله کولو له اړخه

د پښتو ژبې د اصل او د نورو ژبو سره د پرتله کولو له اړخه د علمي څېړونو پايلې په ډاګه کړې چې پښتو د افغانستان لرغونې ژبه او د ژبو په اريايي کهول پورې اړه لري.

د پښتو ژبې د اصل او ريښې په اړه د نظرياتو توپير هم ډېر دی. پښتو چا د ديوانو ژبه بللې ده، ځينو سامي، ځينو اريايي او ځينو بيا د اريايي ژبو په بيلو بيلو څانګو پورې تړلې ده.

د «تذکراة الملوک» ليکوال وايي چې «ځينې روايتونه وايي چې افغانانو خپله ژبه له ديوانو نه زده کړه»۱۱۲

سر ويليم جونز پښتو له سامي ژبو سره ورته بللې ده هنري راورټي هم وايي: «پښتو زما په خيال د سامي ژبو په کورنۍ پورې اړه لري»۱۱۳

کلا پروټ لومړنی وتلی ختيځ پېژندونکی دی چې دا نظريه يې رد کړه چې پښتو له سامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبو سره تړلې ده. دی لیکي چې «د پښتو او سامي ژبو تر منځ نه په کلیماتو کې اندکترین شباهت شته او نه په ګرامري جوړښت کې.»۱۱۴

م. الفنستون هم په ۱۸۱۴ کې د ویلیم جونز دا نظریه چې د پښتو او عبري ژبو تر منځ ورته والې شته رد کړه. نوموړي د پښتو دوه سوه اتلس کلیمې د یو شمېر نورو ژبو د انډولو کلیمو سره پر تله کړې خو له دغو کلیمو نه یوې هم له عبراني او یا کلداني سره ډېر لږ ورته والی نه درلود.۱۱۵

جان مالکم هم الفنستون ته ورته نظر لري او وایي «چې د عبري او پښتو یا د افغانانو د معاصرې ژبې تر منځ د نږدې والي هېڅ څرک نه لګېږي»۱۱۶

برنارډ ډورن د خپلو ژورو او علمي څېړونو له مخې دې پایلې ته رسېږي چې پښتو له هېڅ سامي ژبو سره څه اړیکه نه لري.

دې پوهانو نه یوازې دا نظریه چې پښتو ژبه د سامي ژبو د کورنۍ څخه ده په کلکه رد کړه بلکې دا یې هم په ډاګه کړه چې پښتو یوه هندو- اروپایي ژبه ده چې د هندو- اریایي ژبو په ختیځه څانګه پورې اړه لري.

په دغو پوهانو کې بیا هم کلا پروټ لومړی لوېدیځ څېړونکی دی چې دې پایلې ته ورسېد چې «پښتو بې شکه د هندو، جرمانیک ژبو د سترې ډلې یوه څانګه ده.»۱۱۷ د ژبنیو څېړنو لوی عالم پاټ هم پښتو په ټینګه د هندو- اروپایي ژبو په لیکه کې ودروله. همدارنګه ډورن پښتو یوه سوچه اریایي ژبه وبلله او وایي چې پښتو د هندو فارسي ژبو په لویه کورنۍ پورې اړه لري.۱۱۸

خو چې څومره د ژبو پرتلیزې څېړنې د علم بڼه نیوله د ژبو څېړنه هم کره کېدله. د پښتو څېړونکي دې ته هم پوره ځیر شول چې دا جوته کړي چې پښتو د اریایي ژبو په کومه څانګه پورې اړه لري.

لومړی لوېدیځ لیکول رابرټ لیچ دی چې د پښتو او سنسکرت د اوازونو د پرتلنې وروسته په ټینګار دې پایلې ته ورسېد چې پښتو د سنسکرت بڼه لري. بل پوه رودولف هورنل دی چې د خپلې تاریخي- پرتلیزې څېړنې په پایله کې پښتو د هندو ایراني ژبو له هندي څانګې اړونده وبلله. هورنل برسېره پر دې له ځینو ګادي ژبو سره د پښتو او نورستاني ژبو سره ځینې ګډې ځانګړنې په ګوته کړې او وېې لیکل: «چې مګادي پراکرت او پښتو او کافري ژبې په لرغونې زمانه کې ببخي سره نژدې وې او حتی یوه ژبه یې جوړوله.»۱۱۹

په پښتو کې د هندي اریایي ژبو ځانګړتیاوې دومره جوتې او ښکاره دي چې فرانسوي لوی ختیځ پوه ډارمسټټر په لومړي سر کې هم پښتو د هندو-ایراني ژبو په هندي څانګې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې وتړله. پوهان په دې نظر دي چې پښتو ژبې ته د هندي ژبې زياتې ځانګړتياوې ننوتل د موريا د واکمنۍ اغېز ګڼي چې نږدې سل کاله اوږده شوه. برسېره پردې پښتانه د هندوستان سره ګاونډي وو او د دوی تر منځ تماسونه هم د دې لامل شو چې د دوی ژبې يو پر بل اغېز وشيندي. دا هم بايد ياده کړو چې زيات شمېر پښتانه هندوستان ته تللي او هلته يې واکمني کړې او دغو پښتنو د روه سره تګ راتګ درلود. دغو ټولو د ژبو اغېزې يو پر بل درلودې.

لومړی پوه چې پښتو يې د هندو- ايراني ژبو له ايراني څانګې پورې وتړله شيلي ډيور دی. ده په خپل اثر «د مقايسوي فيلولوژی اجمال» کې وايي چې د افغانستان ژبه ياني پښتو د ايراني ژبو په څانګه پورې اړه لری خو ځانته يې په يوه ځانګړې او نوښتي لاره وده ورکړې ده.۱۲۰

ماکس ميولر بيا پښتو د ايراني ژبو په ختيځې ډلې پورې وتړله اوپه دې ترتيب يې له «زند» سره ونښلوله

خو ډاکټر ارنست ټرومپ، پوهاند اډلينګ، شيلي ډيور، او نور پښتو د هندي او ايراني ژبو تر منځ يوه خپلواکه او مستقله ژبه بولي.

خو ډارمسټټر په تفصيل سره پښتو او زند سره پرتله کړې او دې پايلې ته ورسېد چې پښتو د زند سره دومره نږدې تړاو لري لکه نوې فارسي يې چې د زړې فارسی سره لري.

د اريايي ژبو نامتو ژبپوه مارګن سټيرن د ډارمسټټر نظر په بشپړه توګه مني خو په همدغه ان کې دی پښتو په ختيځو ايراني ژبو کې د ساکانو لرغونې ژبې ته دومره نږدې بولي او وايي چې پښتو په اصل کې د ساکا يوه لهجه ده. د مارګن سټرن په نظر «پښتو بې له دې چې له ساکي ژبې سره وتړله شي بل کېدون نه لری.»۱۲۱ د نوموړي په اند پښتو په اصل کې د اريايي د هغې شمال ختيځې ژبنۍ ډلې يوه برخه ده، چې د پاميري ژبې او د سرخ کوتل د ډبرينې ليکنې بخدي ژبې د هغه اوسني تمثيل کوونکي دي. د کاکړ په وينا پښتانه چې د ګړنې ډلې په توګه هر وخت له اريايي ټبر نه بېل شوي دي ممکن اول په بخدي کې څرګند شوی وي. په هر حال، له پاميري غرنيو خلکو او له داديکا سره د دوی په ګاونډيتوب کې پوښتنه او شک نه پيدا کيږي. د مخه مو وويل چې په مخزيږدې پنځمې پېړۍ کې بخدي د هخامنشيانو د واکمنۍ لاندې و خو پښتو د ژبې په توګه تر هغه د مخه هسکه شوې وه چې تاريخي بېلګې يې دا دي: زرينه او تنی. کاکړ وايي چې «که ساکي ژبه پاتې وای په دې اړه به څرګند حکم شوی وای خو د نالوستو او پوونده ژبه نه ده راپاتې. راپاتې کليمې يې د ګوتو په شمار دي. دوه يې هغه دي، چې اوس هم په پښتو کې هغسې ويلې کيږي، چې دوه نيم زره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاله د مخه په ساکاوو کې ویل کېدلې. زرینه (Zarina) د ساکا د کومې څانګې واکمنه یا ملکه وه او هغه په خپلو خلکو دومره ګرانه وه، چې له مړینې وروسته یې [وطنوالو] د سرو زرو مجسمه ودروله... تنی د ساکاوو په وخت کې د منځنۍ اسیا د اوسني سردریا نوم و او اوس د افغانستان په پکتیا کې د یوه پښتون ټبر نوم دی.»۱۲۲ دی دا هم وایي چې د امو نوم هم د ساکا د هاما ورګه لنډه بڼه ده.

په دې ترتیب سره پوهانو د نویو څېړنو له مخې ثابته کړه چې پښتو د سامي او عبراني ژبو سره تړاو نه لري بلکې یوه لرغونې اریایي ژبه ده چې د هندو- اریایي ژبو په ختیځه څانګه پورې اړه لري.

## ۳-د نسب پوهنې له اړخه

د دې اړخه سیانس پوهان د وینو د نمونو د لابراتواري معاینو له مخې د بېلو بېلو قومونو نسبي نږدېوالی ثابتولی شي. د ښه مرغه د پښتنو پخوانی افسانوي روایت د (DNA) لابراتواري معاینو له مخې هم بې بنسته وخوت. په دې اړه څېړونکي ښاغلي نثار احمد صمد په خپله څېړنیزه لیکنه کې پښتانه اصلاً څوک دي؟ چې د لر او بر سایټ کې خپاره شوې ده په دې اړه مهم مالومات راټول کړي دي چې لنډیز یې لوستونکو ته وړاندې کوم:

برتانوي پوهاند تیودر پرفیټ په ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ کلو کې د یو شمېر پښتنو پر (DNA) یو لړ لابراتواري معاینې تر سره کړې خو دا یې ثابته نه کړه چې پښتانه د بني اسراییلو سره د وینې تړاو لري.

همدارنګه په ۲۰۱۰ کال کې د هندوستان د ارثي علومو ماهرې شهنازعلي د ملیح اباد په سیمه کې چې هلته ګڼ شمېر اپریدي اوسېږي د زیاتو پښتنو د وینو نمونې د اسراییلو د ټکنالوجی په انستیتوت کې د کره کتنې او څېړنې لاندې ونیوې چې په پایله کې دا ښکاره شوه چې پښتانه د اسراییلو سره د وینې تړاو نه لري.

په اسراییلو کې د یورشلیم د پوهنتون د بشر پېژندنې د څانګې یوې څېړونکې مېرمن شیلوا نییل وایي چې که څه هم پښتانه د روایتي او شفاهي تاریخ له مخې ځانونه په ویاړ سره بني اسراییل بولي خو د (DNA) څېړنې د دوی د وینې تړاو د یهودیانو سره نه باوري کوي.

د لکنهو د پوهنتون یو استاد نورس اپریدي هم د پرله پسې زیار سره سره ونه کړای شول چې د وینو د نمونو د څېړنو له مخې د پښتنو تړاو د یهودو سره وښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې اړه وروستۍ لابراتواري کتنې د امریکا د حکومت وارثتي شورا له خوا په ۲۰۱۲ کال تر سره شوې. دغه ټیم د افغانستان او پښتونخوا د څو سوو پښتنو د وینې نمونې واخېستې او د یو لړ کره لابراتواري کتنو پایلې د ۲۰۱۲ کال د مارچ په اته ویشتمه اعلان کړې او وویل چې نننې پښتانه د پخواني اسراییلو سره د نسب تړاو نه لري، بلکې اوسنې پښتانه د پنځو زرو کلو راهیسې دلته اوسیږي . دا یې هم زیاته کړه چې پښتو ژبه نه سامي ده نه خارجي، بلکې د اریایي څانګې څخه ده چې په هندو- اروپایي کهول پورې اړه لري.

اوس به دا موضوع د پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ په دغو ټکو پای ته ورسوو: «د دغو واقعیتونو په رڼا کې دغه روایت چې پښتانه په اصل او نسب کې یهود دي، یوازې د ذهن او بد نیت زېږنده کېږي، نه تاریخي واقعیت. اوس که یو څوک سره له دې هم پښتانه د دغه جعلي روایت پر بنسټ بني اسراییل ګڼي هغه به په اصل کې د لوستونکو، تاریخ، [ژېپوهنې، نسب پوهنې] او رښتینتوب پروا نه لري.»۱۲۳

## کاکړ او د پښتنو شجره

د پښتنو د شجرې په اړه کاکړ یوه لنډه لیکنه «پښتانه په جامعه کې» نومېږي چې لنډیز یې په لاندې ډول وړاندې کېږي:

کاکړ وايي چې پښتانه د سیمې د نورو قومونو غوندې، د زرګونو کلونو تاریخ لري، خو دوی په پخوانیو مهالونو کې د نورو قومونو د لیکوالو له خوا په نامنسجم ډول ثبت شوي دي. دوی په خپله د اسلام نه د مخه دورو په اړه کره او منظمې لیکنې نه لري.

هغه تالیفونه چې پښتانه په نسبي توګه په کې په منظم ډول بیان شوي دي په اسلامي دورې پورې اړه لري لکه د ابوالفضل اکبرنامه، د سلیمان ماکو تاریخ اولیا او پټه خزانه، د نعمت الله مخزن افغاني، او وروسته د پښتنو شجرې په حیات افغاني نومې کتاب کې په اوږده ډول بیان شوې دي. خو دغه ټولې لیکنې د دودیزو روایتونو ټولګې دي او په کره تاریخي شواهدو بنا نه دي.

نو له دې کبله د پښتنو شجره لکه د نورو قومونو د شجرو غوندې له اول نه تر پایه پورې په منظم ډول مالومه نه ده. خو پښتانه په پای کې د دغو دودیزو روایتونو له مخې درې نیکونو یانې بېټني، غرغښت او سربڼ ته رسیږي. خو دا اساسي ډله د پښتنو یوازېنۍ ډله نه ده بلکې نور ډلې پښتانه هم موجود وو.

د پښتنو سترې ډلې چې په لیکنو کې راغلې او خپلونه ترې جوړ شوي تر اوسه پاتې دي، شرخبون، خرشبون، بیټن، غرغښت او کرڼ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شرخبون څخه شیراني، ترین، میانه، بړېڅ او اورمړ هسک شوي دي. د دغو خېلو ډېر نومیالي ترین دي چې په اودال، سپین ترین او تورترین وېشل شوي دي. اودال چې احمدشاه بابا د دراني په نامه یاد کړل په زیرک او پنج پا وېشل کیږي. زیرک یې الکوزي، پوپلزي، اڅکزي او بارکزي دي. سدوزي د پوپلزیو او محمدزي د بارکزو پښې دي چې پاچایان او امیران ور څخه هسک شوي دي چې د هغی ډېر نومیالی د اوسني افغانستان بنسټ ایښودونکی احمدشاه ابدالي دی. په پنج پا کې ماکو، خوګیاڼي، اسحق زي، نورزي او علیزي دي.

د خرشبون نه کاسي، زمنډ، کنډ او خاخي یا خاشي دي چې بیا د کاسي نه شینواري، د زمنډ نه د کاسور قومونه، د کنډ نه غوري یا غوریاخېل، مهمند، خلیل او ځمکني او له خاخي نه ترکلاني، ګیګیاني، یوسفزي او د منډن قومونه هسک شوي دي.

د بېټن له وېش نه ورسپون، کاجن او د بي بي متو اولاد پاتې دی. د بي بي متو یا ماتې قومونو نه سرواني، لودي او غلزي راوتلي دي. په دوی کې لودیان او غلزیان نامتو وختل. لودیانو په څورلسمې پېړۍ کې په هندوستان کې امپراتوري جوړه کړه چې وروسته بابر په ۱۵۲۵ کې نسکوره کړه. لودیانو تر هغه وروسته ورو ورو خپله ژبه او قومي عادتونه هېر کړل او تر زیاته بریده د هندوستان په خلکو کې حل شول.

د غلزیانو خېلونه سلېمان خېل، هوتک، توخي، اندړ، تره کي، ناصر او خروټي دي. د هوتکو نه میرویس نیکه هسک شوی چې د اتلسمې پېړۍ په سر کې یې د پارس د صفوي نیواک نه کندهار وژغوره او په نني افغانستان کې د ملي خپلواک دولت تاداو کېښود.

د غرغښت په لوی وېش کې مانډو، بابي او ډني راځي چې ډني خېلونه کاکړ، ناغر، پاني او داوي دي.

په پای کې د کړڼ په لوی وېش کې کودي او کاخي راځي. په کودي کې دلازاک، وردګ، اورکزي او د منګل قومونه راځي او په کاخي کې اپریدي، خټک، ځدران، اتمان خېل، خوګیاڼي، ځاځي او توري راځي. د دوی فرعي وېشونه داړي، بنوځي او خوستوال دي.

پښتانه اوس د ایران له خراسان یاني مشهد نه د شمالي هندوستان تر هوارو پورې چېرته په ګڼ او چېرته په لږ شمېر چېرته سوچه او چېرته په اوښتي بڼه پراته دي. دوی د دغو پراخو سیمو په ځنډو او ښاري مرکزونو کې تر دې حده د نورو قومونو تر تاثیر لاندې راغلي دي چې ان خپله ژبه او پښتونوالي یې هم لږ و ډېر د یاده ایستلي دي. د دغې سیمې په منځنیو برخو په تېره بیا په ازادو قبایلو کې پښتو او پښتونوالي په قوت سره پاتې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتنو لویه ځانګړتیا پښتو او پښتونوالي ده او بله لویه ځانګړتیا یې ترربوري، سیالي او دښمنۍ ګانې دي. په دې ډول په دوی کې د پیوستون او هم د بېلتون ځانګړتیاوې په قوت سره موجودې دي. که د یوې خوا ګډ نسب، ګډ تاریخ، ګډه ژبه او ګډه پښتونوالي دوی سره یو کوي او یو پراخ ملت ترې جوړوي، نو د بلې خوا تربوري، سیالي، ګوندیماري چې پایلې یې تېرېدونکې یا پرله پسې دښمنۍ او جګړې دي، دوی په ډله یزه توګه سره دښمن ګرځوي. د پښتون د نوم، د پښتنو د اصل او شجرې د څېړنې وروسته د پښتنو بل نوم افغان څېړو.

## افغان

د افغان کلیمه هم پخوانۍ ده خو د پښتون نوم تر افغان ډېر لرغونی دی. پښتانه په خپله هر چېرې ځانونه پښتانه بولي خو زموږ ګاونډیانو لکه چې دود دی پښتانه په نورو نومونو یاد کړي دي. په لرغونو زمانو کې د پارس خلکو پښتانه د ابګان (Abgan) او د هند خلکو د اسواکا (Asvaka) یا د اسواغانه (Asvaghana) په نومونو یادول. خو دا چې دا نوم نورو هېوادو ته خپور شو لامل یې دادی چې پښتانه د لیک او لوست ډګر کې وروسته پاتې و او دوی د نورو لیکوالو له خوا په غیر منظم ډول لږ لږ یاد شوي دي. پوهاند کاکړ وایي چې افغان د ویدې دورې نوم دی چې په مهاباراته (Mahabarata) کې د اسواکا (Asvaka) په نوم یاد شوی دی. «دغه اسواکا د ګندهارا په سیمه کې وو، ... او دوی په هغو غرو او رغو کې اوسېدل چې په اسلامي دورې کې د سلیمان په غرو یاد شوي دي... د سلیمان غرونه په واقع کې د کسي غرونه دي، چې له هندوکش نه د بلوچستان تر پولې پراته دي او اباسین یې ختیځه پوله »۱۲۴ جوړوي. د کاکړ په وینا اسواکا په دغې سیمې کې د مهاباراته د رامنځ ته کېدلو په وخت کې اوسېدل. مهاباراته چې د هندوانو ستر حماسي اثر دی د نهو سوو کلونو په بهیر کې سل شاعرانو کښلی او زر سندرغاړو په قالب کې اچولی تر څو چې د ګوپتا واکمنو په دوره کې برهمنانو خپل مذهبي او اخلاقي فکرونه په کې ځای کړل او اوسنۍ بڼه یې ونیوله.

د افغان کلیمه د هند لرغوني ستوري پېژندونکي «وراهه میهرا» په خپل اثر کې چې «براتِ سنهیتا» نومېږي او د شپږمې زیږدې په لومړیو کې کښلی دی د «اوګانه» په بڼه یاده کړې ده. دی لیکي: «دا لاندې د لکۍ لرونکي ستوري په قلمرو کې شامل دي: غرني سنګرونه، پهلویان، خوېتان، هونان، کولان، افغانان... او غیر عادل او جاه طلبه خلک.»۱۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایچ کرن نوموړی اثر په ۱۸۶۹ کې په انګرېزي ژباړلی او د «اوګانه» کلیمه یې د افغان په بڼه لیکلې ده. پوهاند حبیب الله تږی وایي چې کرن په دې پوره باور درلود چې د وراهه میهیرا د اوګانه کلیمه او د افغان نوم کټ مټ سره یو شی دي. جورج ګریسن هم وایي چې د وراهه میهیرا د اوګانه کلیمه په زیات باور د افغان د کلیمې سره یو شان ده.

د ساسانیانو په دوره کې د اواګانه نوم په پرسي پولیس کې د رستم نقش په ډبرینې لیکنې کې ثبت شوی دی. پوهاند شپرنګلینګ وایي چې د افغان نوم د ګوندافر ابګان رازماد ( Gondafar Abgan Razmad) له خاص نوم نه راوتلی دی چې د رستم نقش په کتیبه کې د ساساني پاچا اول شاهپور (۲۴۱- ۲۷۲ م) په دستور په پارتي، منځنی پاړسو او یوناني ژبو کښل شوی دی. نوموړی وایي چې «د ابګان (Abgan) او اوګان (Avgan) له پاره زه له اوسني افغان نه پرته بله ښه کلیمه پیدا کولی نه شم.»۱۲۶

د اوومې زیږدې پېړۍ په لومړی نیمایي کې چیني زیارت کوونکی هون څانګ «اوپوکین» یوازې یو ځل یاد کړی او د هغه ځای یې د فلانه (بنو) او غزني تر منځ د بنو شمال- لوېدیځ او د غزني سووېل- لوېدیځ ته ښودلی دی.۱۲۷

د افغان نوم لږ تر لږه زر کاله پخوا په همدا ننۍ بڼه په حدود العالم کې یاد شوی او بیا اسلامي لیکوالو په پر له پسې ډول یاد کړی دی. وروسته محمد بن عبدالجبار عتبی په یمني تاریخ کې د سبکتګین او د هغه د اولاد د وخت د پېښو په لیکنو کې ډېر ځل یاد شوی دی. له دې وروسته د افغان نوم د هغو ټولو لیکوالو له خوا چې د دغې سیمې په اړه یې په پاړسو او عربي لیکنې کړې دي یاد شوی دی.

ازرقي هیروي د پنځمې هجري پېړۍ د لومړی نیمایي شاعر او د سلجوقیانو د کورنۍ ستایونکی چې د ارسلان محمد سلجوقي د زوی طغانشاه په ستاینه کې لیکلې ده وایي:

زهری ګـر سوی افغان شوی ای باد شمال
باز ګوی زهری پیش ملک صورت حال۱۲۸

تاریخي شواهد داسې ښیي چې د افغانستان ناپښتانه اوسېدونکي هم له ډېر پخوا نه دغه ګډ کور ته منسوب او د افغانانو په نامه یاد شوي دي. تږی وایي چې ځینې مورخینو لکه محمود کتبي، برهان الدین میر خواند، عبدالرزاق سمرقندي او نورو په څورلسمې او پنځلسمې زیږدې پېړیو کې د «افغانستان» ترکان او مغول هم بیا بیا افغاني ترکان او افغاني مغول بللي او هزاره ګان یې په مکرر ډول «افغاني هزاره» په نامه یاد کړي دي.

د سیفي هراوي د هرات تاریخنامې له ځینو عباراتو او بیانونو نه داسې ښکاري چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



څورلسمې پیړۍ په اوله نیمايي کې هم د هغه وخت د «افغانستان» غیر پښتانه اوسېدونکي «افغانان» بلل شوي دي. د بېلګې په ډول کله چې سیفي د خپل وخت «افغانستان» د پېښو په اړه غربیږي د دغه ملک کردان په څرګنده د افغانانو جز بولي. دی یو ځای د هغه وخت د «افغانستان» د واکمن ملک «شاهنشاه» له خولې لیکي: «... افغانان سخت بې پروا، غله، خوني، فتنه انګیز او میړني خلک دي، په تېره بیا دا کردان چې زما په خدمت کې دي او هر یو یې له رستم دستان او سام نریمان سره ډغرې وهي او راپرزوي یې....»۱۲۹

پښتنو لیکوالو هم چې اول یې د افغان نوم نه یادوه وروسته یې په خپلو لیکنو کې یادوه.خان جهان لودي شاید لومړی مشر او لیکوال وي چې د افغان نوم یې یاد کړی دی. د هغه وروسته خوشال خټک د افغان نوم په ویاړ سره یادوه.

د افغــان په نوم مې وتړله توره
ننګیالی د زمانې خوشال خټک یم

احمدشاه دراني په خپل لیک کې چې عثماني سلطان دریم مصطفی ته یې استولی و د «قوم جلیل افغان» یادونه کړې ده. سره له دې د افغان نوم د ودې پر حال کې و. د افغان نوم د همدغې پیړۍ په اوله نیمايي کې په انګریزي لیکنو کې زیات یادېده او افغانان د یوه ملت په توګه او افغانستان د یوه هېواد په توګه نړیوالو ته وپېژندل شو. د افغان- انګلیس لومړۍ جګړې د افغان نوم ملي مانا نوره پیاوړې کړه. لیډي سیل (Lady Sale) په خپل ژورنال او لیکوال جان کی (John Kaye) په خپل اثر«په افغانستان کې د جنګ تاریخ» د افغان نوم ډېر یاد کړی دی. جان کي د افغان نوم د یوه ملت په توګه ډېر یاد کړی او وايي چې «افغانان یو توپاني او سرکښه خلک دي، ډېر لږ متمایل دي، چې واک ته تسلیم شي او خپل نارضایت په شدېل ډول ښيي»۱۳۰

الفنستون کله چې افغانستان ته د انګرېزي پوځ د استولو نه خبر شو، خپل حکومت ته یې څرګنده کړه چې تاسې به د انګرېزي پوځ په زور شاه شجاع د افغانستان په تخت کښېنوئ خو په دغه خوار ملک کې او د سرکښه افغانانو په منځ کې به د هغه ساتنه ناهیلیتوب راوړي.

د افغان- انګلیس په دوهم جنګ سره د افغان نوم په ملي مفهوم سره نور هم خپور او وپېژندل شو «او ان تر دې چې د هندوستان وایسرای هم افغانان د یوه ملت په توګه تعریف کړل». کاکړ وايي چې د نولسمې پیړۍ په دوهمه نیمايي کې د افغان نوم هم په ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هم په مذهبي مفهوم د افغانستان د اوسېدونکو معرف وګرځېد او افغان نېشنلېزم واقعي شو.

دلته مهم ټکی دا دی چې نظام او ټولنه د ملي کېدلو او مدني کېدلو په لور روانه وه. د ملي کېدلو دغه یون د امیر عبدالرحمن په یوویشت کلنه واکمنۍ کې نور هم پیاوړی شو او نوموړي د هېواد بېلو بېلو سیمو ته د خلکو په پرارولو سره د افغان قومونو دودیز ګوښه توب د منځه یووړ او د ملي پېوستون او ملي دولت پیاوړي کېدو ته لار هواره شوه. دغه یون د امان الله په واکمني کې ځواکمن شو او د افغانستان ټول خلک د لومړي لیکلي اساسي قانون له مخې افغانان وبلل شول: «هر کسی که در افغانستان سکونت دارد از هر مذهب و فرقه که باشد و هر کار و صنعت و خدمتیکه میکند، تماماً افغان گفته میشوند.»۱۳۱

وروسته د افغانستان په ټولو اساسي قانونو کې افغانان په دغه حقوقي مفهوم سره یاد شول او ټول د برابرو حقوقو څښتنان وګڼل شول او د اوسني قانون د څلورمې مادې له مخې د افغان کلیمه د افغانستان د ملت په هر فرد اطلاق کېږي.

## پټان:

د مخه مو یادونه وکړه چې افغانان چې د افغانستان په جوړېدو او پراخوالي کې بنسټیز رول لوبولی په دري نومونو پښتون، افغان او پټان یاد شوی دی. د پټان نوم په نسبي توګه نوی دی او په اړه یې ځینې روایتونه شته. د فرشته په وینا هغه مهال چې افغانان د غور د غرونو نه وکوچېدل او د هند د بهار ولایت په پټنه کې میشته شول هندوانو د نوي استوګنځي له امله د پټان په نوم یاد کړل. مورګن سټرن د ژبپوهنې له مخې وایي چې د پټان کلیمه د پښتان او پښتانه د کلیمو نه راوتلی دی خو کاکړ وایي چې د دې کلیمې فیلالوجي تعبیر کمزوری ښکاري ځکه چې دا نوم د زیږدې دولسمې پیړۍ د مخه په تاریخي سرچینو کې نه دی لیدل شوی. د پټان نوم په لومړي سر کې په ظاهري توګه هغو افغانانو ته چې د هند د سند د رود په ختیځه برخه کې میشته و، ورکړ شوی و او وروسته یې هغه افغانان هم په غېږ کې ونیول چې د سلیمان غرونو په لمنو کې اوسېدل. بیا انګلیسي لیکوالو یوازې د هغو پښتنو له پاره وکاروه چې په هند او هغه ته په ګاونډ کې اوسېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځم څپرکی

# کاکړ او د تاریخ په بهیر کې د پښتنو د ټاټوبي نومونه

**اریانا:**

افغانستان یو داسې هېواد دی چې د لرغونې زمانې نه انسانان په کې اوسېدل له دې کبله دوی او د دوی مینه او ټاټوبی په څو څو نومو یادېده. د افغانستان پخواني اوسېدونکي په باوري توګه مالوم نه دي خو د ویدې دورې اوسېدونکي یې اریایان دي. دا چې اریایان څه مهال په لرغوني افغانستان کې میشته شول مالومه نه ده خو د کهزاد په وینا کله چې دوی د هندوکش په دواړو خواوو سیمو کې اوسېدل د ځان له پاره یې د «اریا» نوم غوره کړ او د دوی ټاټوبی د اریانا په نوم یادېده.

د کاکړ په وینا اریانا هېڅ کله ټاکلې پولې نه درلودې. هغه مهال د اریانا اوسېدونکي زیاتره پووندە وو او ډېر لږ یې میشته وو او پولې یې تل بدلېدې. برسېره پردې اریانا له دغسې سیمو نه جوړه وه چې هره یوه یې د یوه هېواد په شان وه. دا واقعیت په اوستایي دورې کې پوره څرګند و. کاکړ لیکي چې: «د زرتښت په قول د نېکۍ خدای اهورا مزدا شپاړس هېوادونه یا ملکونه (Lands) خلق کړل چې اریانا وایجو (Airyana Vaego) یې تر ټولو ښکلی هېواد و».۱۳۲ دی زیاتوي چې مهمه دا ده چې دغه هېوادونه سره بیل وو او اهورا مزدا د دې له پاره پیدا کړل چې ښکلې اریانا وایجو د دوی د شر نه په امان وي. د اریانا وایجو ځای هم ناڅرګند دی. کهزاد یې د امو د رود د سرچینې چاپېر سیمه یا د امو او سر دریا پاسنۍ مجرا کې د فرغانې په سیمه کې بولي. خو نامتو انسان پېژندونکی ګوردن چایلډ وایي چې د هلمند د موندنو نه ښکاري، چې سیستان به اریانا وایجو وي.۱۳۳

بخدي یا باختر په ختیځ کې یو مهم هېواد و چې بلخ یا زراسپه یې پلازمینه وه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



یونانیانو بکټریا او بیا عربانو د ام البلاد (د ښارونو مور) په نوم یاد کړ. بلخ په اوستا کې د لوړو بیرغونو درلودونکی ښکلی بخدي په نوم یاد شوی او هم د اریایي پاچاهانو لومړی مرکز هم یاد شوی دی.

د کاکړ په وینا د اریانا پولې تل د بدلون په حال کې وې او ولایتونه یې د سیاسي وضعې له امله لږ او ډېر کېدل. د یونان جغرافیه پوه بطلیموس د لیکنې له مخې په دویمې زیږدي پېړۍ کې د اریانا ولایتونه دا وو: مرجیانه (د مرغاب حوزه)، بکټریا (بلخ او بدخشان)، اریا (هرات)، پاراپامیزوس (هزاره جات او کابل تر اباسین پورې)، درانجیانه (سیستان او کندهار)، اراکوزیه (غزني او د کسي غرونه تر اباسین پورې) او جدروزیه یا ګېدروزیه (کچ او مکران یا بلوچستان). دې ته مو هم باید پام وي چې دا ولایتونه د اوستایي دورې د شپاړسو هېوادو نه لږ دي. دا هم نه ده څرګنده چې په اریانا کې به داسې نظام یا حکومت و، چې حکم به یې په ټولو ولایتونو چلېده.

ځینې ولایتونه یې لا دومره مهم وو چې په خپل ځواک سره په امپراتورۍ بدل شوو. د بېلګې په توګه درانجیانه (سیستان او کندهار) د ساکا د واکمنۍ پر مهال د ګوندوفارس په مشرۍ په امپراتورۍ واوښت. د غبار په وینا دغه پاچا د سوویلي اریانا او په ختیځ کې تر سند اوپنجاب پورې واکمن و او مرکز یې د ارغنداب په سیمه کې و او په کابل کې یې د یونان او باختر واکمنۍ ته د پای ټکی کېښود.۱۳۴

کاکړ وایي چې اریانا په اصل کې یوه جغرافیایي اصطلاح وه، نه سیاسي. په زیات ګومان اول اریا د خلکو او بیا اریانا د اریایانو د مینې په مانا دود شوی وي. اریایان چې د هندوکش دواړو خواوو په سیمو کې میشته شول ځانونه یې د نجیب په مانا اریا وبلل. په دې ډول اریا د ویدي دورې نوم کېږي او دوی به ځکه دا نوم غوره کړی وي، چې ځانونه له تور پوټکو ډرایوېډیانو (Drividians) څخه جلا وښيي چې د شمالي هند په موهنجه دارو او هراپا کې یې مدني او ښاري ژوند درلود او چې اریایانو لاندې کړل، د داسیو په سپک نوم یې یاد کړل.

اریانا، اریانا وایجو او اریا درې واړه د اریایانو یا د لرغوني افغانستان د لومړنیو مالومو اوسېدونکو د هېواد په مانا دي. د کاکړ په وینا «داسې ښکاري چې اریانم وایجو او اریا ورته د دوی د هېواد لومړني نومونه وو، چې وروسته (څومره وروسته معلومه نه ده) اریانه شو، په دې ډول چې د وایجو او ورته وروستاړي چې د ورشو او ځای په مانا دي، ورو ورو ترک شول او اریانه یې ځای ونیو.»۱۳۵ کاکړ دا هم وایي چې «اریانا به په اصل کې اریانه وه، چې د وښیانه په شان د پښتو نوم کېږي ... چې [په کې] د ساکا ډېرې ځانګې ابادې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې چې ژبه يې ساکي يا پښتو وه، ... ډېر اوسېدونکي يې ساکا ياني پښتانه يا د هغو ورونه وو.»۱۳۶

د اريانا پولې د لومړي ځل له پاره د لرغوني يونان ايراستينيز د مخزيږدې دريمې پېړۍ په نيمايي کې ثبت کړې دي. ده په دې اړه خپل مالومات د يونانيانو نه اخېستي او يونانيانو بيا هغه د ځايي خلکو نه تر لاسه کړي وو. سترابو د اريانا پولې په ختيځ کې اباسين، په سوويل کې د هند سمندر، په شمال کې د پاراپاميزاد غرونه چې تر شمالي هند پورې غزيږي، پوله جوړوي او په لوېديځ کې يې يوه فرضي کرښه ښوولې چې له کسپين نه تر کرمانيا غزېدلې او په بل ځای کې يې دغسې ليکه ښودلې، چې پارتيان له ميډيا نه او کرمان له پارای تګين نه بېلوي. خو د سترابو نيمګړتيا پوهاند ويلسن سمه کړې او د اپولو ډورس (Apollodorus) په حواله ليکلي چې په اريانا کې د پارس او ماد ځينې برخې او په شمال کې بخدي او سغديانه په کې شامل دي، په داسې حال کې چې بخدي د هغې اصلي برخه جوړوي۱۳۷

د اريانا دغه پولې دومره پراخې سيمې په غېږ کې نيسي چې يوې کورنۍ يا يوه حکومت نه شوې اداره کولی. په دې توګه دا يو سياسي واحد نه، بلکې يو جغرافيوي اوږېنی واحد دی. کاکړ وايي چې که اريانا سياسي واحد وای، يو ځانګړی نظام به يې درلودای، هم به يې جوړښت مالوم وای او هم به يې اوسېدونکو د بانديني يرغل په وړاندې ګډ غبرګون ښودلی، خو واقعيت دغسې نه و. د بېلګې په توګه د هند د موريا دولت تر هندوکشه پورې د اريانا ختيځه سيمه د خپلې امپراتورۍ برخه وګرځوله، بې له دې چې د اريايانو د ګډ غبرګون سره مخامخ شي. همدارنګه د سيستان ساکي کورنۍ د ګوندوفارس په واکمنۍ کې شمالي هند د خپلې واکمنۍ برخه وګرځوله، بې له دې چې دغه برى يې د نورو سيمو په مرسته تر لاسه کړی وي. په دې توګه اريانا د اريايانو د ژوند سيمه وه، نه د يوه حکومت لاندې سيمه. دا واقعيت د اهورا مزدا شپاړس هېوادونه هم په ګوته کوي چې هر ځانګړی هېواد يې د خپلو واکمنو له خوا په خپلواک ډول اداره کېده.

د مخه مو يادونه وکړه چې پاړسيانو او هندي اريايانو خپلې مينې د اريانا په نوم يادې نه کړې او د ايران نوم چې په شاهنامه کې وار وار ياد شوی دی له هغه نه مطلب اريانا دی. دا په شلمې پېړۍ کې و چې پارس د ايران په نوم ياد شو. دا هم بايد ووايو چې د اهورا مزدا په شپاړسو هېوادونو کې پارس د هېواد په توګه نه دی ياد شوی. له همدې امله به و چې هخامنشيانو د اريانا د نوم د يادولو نه ډډه کوله. وروسته ساسانيانو د پارتيا نوم په خراسان بدل کړ تر څو د پارتيا هويت له منځه يوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خراسان:

د مخه مو یادونه وکړه چې پارتیانو د پارس په یوې برخې پنځه پېړۍ واکمني وکړه. د ساساني واکمنۍ بنسټ ایښودونکي اردشیر پارتیا نسکوره کړه او هغه یې خراسان ونوموله، یاني هغه هېواد چې د فارس په ختیځ کې پروت و. پاړسیانو د پارتیانو واکمني پردی ګڼله. بل د دوی تر منځ د عقیدې توپیر و. ساکانو د لمر نمانځنه کوله او پاړسیان زردشتي وو. د دوی تر منځ بل توپیر د خراسان نوم و چې ساسانیانو پارتیا د دې له پاره خراسان ونوموله چې د ساکا هویت له منځه یوسي. د خراسان نوم جغرافیایي مانا لري په داسې حال کې چې پارتیا د ساکا د خلکو هېواد پېژندل شوی و او پارسیانو ورته اشکانیان ویل. برسېره پر دې خراسان خپلواک هېواد نه، بلکې د ساسانیانو تر لاس لاندې و. همدارنګه خراسان ورو ورو پراخ شوی او د پېړیو په بهیر کې یې نور ملکونه په غېږ کې نیولي دي. د ساسانیانو په وخت کې د پارتیا پلازمینه ستېسیفون هم پرېښودل شو او د خراسان والي خپل مرکز زیاتره وخت نیشاپور غوره کاوه او د عربو د یرغل په وخت کې د خراسان مرکز د مروه ښار و، چې هغه په ټول ختیځ کې د عربو په ستر منځي بدل شو. خراسان په واقعیت کې هغو سیمو ته ویل کېده چې د پارس په ختیځ کې پراتې وې او د هغه تر لاس لاندې به نه وې. د بېلګې په توګه د ساساني وروستي پاچا یزدګرد په مهال سیستان د ځایي واکمنو زنبیلانو چې په اصل کې ساکا وو، له خوا اداره کېده. کله چې په ۶۴۰ زیږدې کې یزدګرد په نهاوند کې د عربي پوځ نه مات شو د مرستې له پاره سیستان ته لاړ چې زنبېلانو د ده سره د مرستې نه ډډه وکړه او د خراسان منځي مروه ته لاړ او هلته د والي ماهوي سوري له خوا د خسرو نومي ژرنده ګړي په لاس ووژل شو او ساساني واکمني پای ته ورسېده.

د ساسانیانو د واکمنۍ په مهال کې د خراسان پولې ناڅرګندې وې. دومره ښکاره وه چې پارتیا او مروه د خراسان په نامه یادېدې او مروه د ساسانیانو پوځي مرکز و. کاکړ وایي چې مروه «په زړه پاړسو کې د مارګو (Margu) په نامه یادېده، خو د نیشاپور، هرات او بلخ درې لوی ښارونه د مروه تر لاس لاندې نه و. دوه وروستي یې زیاتره وخت د یفتالیانو تر لاس لاندې او په دې ډول حتی د ایرانشهر د واکمنۍ نه د باندې و. کله کله د ساسانیانو واکمني په بلخ باندې چلېده، خو د عربانو د یرغلونو په وخت کې هلته لا هم کوشاني باختري ژبه لیکل کېده، په همدغه وخت کې و، چې فارسي په بلخ کې ننوته.»۱۳۸ کاکړ د فرای د اثر په حواله چې «د پارس طلایي دوره» نومېږي وایي چې په عمومي ډول مالومه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده چې د عربانو د راتګ په وخت کې څومره سیمې د ساسانیانو او څومره د ځایي واکمنو او په ځانګړې توګه د یفتالیانو په لاس کې وې.۱۳۹ د فرای پورتنی وینا د غبار دا وینا بې باوره کوي چې وایي: «کلمه خراسان و خراسانیان دوره اسلامي از قرون اولیه هجري تا این اواخر در جای اسم اریانا و اریانای قدیم و افغانستان و افغان امروز مستعمل و در السنه و اثار مذکور و مسطور بوده است.»۱۴۰

عربانو د مروې نه د بخارا، سمرقند یا پخوانی سغدیانې د لاندې کولو په موخه یرغلونه کول او له هر یرغل نه وروسته به بېرته مروه ته ګرځېدل. د خراسان د نومېدې پنځه پېړۍ وروسته په ۷۳۷ زیږدې کې اسد بن عبدالله د سمرقند پاچا غورک د مړینې وروسته خپله پلازمینه د مروه نه بلخ ته یوړه. د دې سره عربانو د نن ورځې افغانستان ټول لاندې نه شو کړای. عربو لا د اومې پېړۍ په پای کې په سیستان کې د زنبیل پاچا له لاسه کلکه ماتې کړې وه چې د مولف کنیدي په نظر په اریانا او په ځانګړې توګه په سیستان کې د عربو سوبو ته یې د پای ټکی کېښود. د دې سره سره عربي قوماندانانو به له بلخ نه کله کله یرغلونه کول. په دغه وخت کې ډېرې سیمې خپلواکې یا نیمه خپلواکې وې، لکه هریوا، تخار، سیستان، زابل او غور. عربانو دغه مهال د امو نه پورته سیمې د ماوراوالنهر په نامه یادولې. خو دا د ځایي کورنیو د واکمنۍ او په ځانګړې توګه د «سفاریانو او غزنویانو په وخت کې و چې په ټول خراسان یا د خراسان په ډېرو برخو کې یوه کورنۍ د واکمنې کورنۍ په شان هسکه شوه او لوړ واکمن یې د عباسي خلیفه ګانو له خوا په رسمي ډول د خراسان والي وپېژندل شول، خو د طاهریانو، صفاریانو، سامانیانو، سلجوقیانو، غزنویانو او غوریانو د حاکمیت سیمې سره ډېرې متفاوتې وې او مروه د پخوا په شان اصلي خراسان ګڼل کېده. په هر حال خراسان اوس بېرته د هغه لومړنۍ سیمې یوې وړې برخې طوس او نیشاپور ته ویل کېږي، چې د ایران یو ولایت دی.

## افغانستان:

دا مالومه نه ده چې د لومړي ځل له پاره د افغانستان نوم کله او د چا له خوا کارول شوی دی. د افغانستان نوم د افغان او ستان نه جوړ شوی ترکیبي نوم دی چې د افغان هېواد مانا لري. کاکړ وایي چې سیفي هروي شاید لومړی مؤلف وي، چې په خپل اثر (تاریخنامه هرات) کې یې د افغانستان نوم ۳۴ کرته یاد کړی دی. د دې نه دا جوته ښکاري چې افغانستان نوم د پخوا نه شتون درلود او د ده په وخت کې عام و. په دې توګه سیفي د دیارلسمې پېړۍ په سر کې یاني د چنګېز خان د تاړاکونو په وخت کې د افغانستان نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادوي چې «از حدود خراسان و نواحي جبال ترکستان و شبورغان تا افغانستان قرب پنجاه هزار مرد از پیاده و سوار بهرات امدند.»۱۴۱

د کاکړ په وینا مؤلف زمچي اسفزاري هم افغانستان د یوه بیل هېواد په توګه یادوي او وایي چې «کشور هرات با ولایات ان از دریای امو تا شرقي ترین نقطه افغانستان به وی [غیاث الدین] داده شود.»۱۴۲ داسې ښکاري چې د سیفي او اسفزاري دغه افغانستان جلا او خپلواک هېواد و او د ځایي واکمنو له خوا اداره کېده. «د سیفي د اثر نه دا هم ښکاري چې دغه ځایي واکمنان په ټینګو او لوړو حصارونو کې اوسېدل. او د ساجي په نامه حصار یې دغومره لوی و، چې: در انجا هزار مرد افغان جلد مبارز متوطن است و از عهد یزد جرد تا امروز هیچ بادشاه و ملک و حاکم ګردن نه نهاده اند. په نورو حصارونو کې ان تر دوه زرو سواره سرتیري هم ځای پر ځای وو.»۱۴۳ سیفي د افغان دغه ځایي واکمنان والیان بولي. د بېلګې په توګه سندان د سندان ولایت والي، جمال الدین سام افغان د غور والي او همدارنګه د مستونګ والي یادوي.

مستونګ د کوېټې پخوانی نوم و. کوېټه د کلات په ګډون د احمدشاه بابا له وخته د امیر شیرعلي خان د باچایي تر ۱۸۷۶ کال پورې په افغانستان پورې تړلې سیمه وه. امیر شیرعلي خان غوښتل د مکران په څنډه کې ګوادر د کراچۍ غونډې بحري بندر وګرزوي، خو انګرېزانو کوېټه په ۱۸۷۶ کې په سیاسي او نظامي لحاظ بیله کړه.

د افغانستان دغه والیان د چنګېزخان د تاړاکونو وروسته هم خپلواک وو، خو په څورلسمې پېړۍ کې د کرتانو په وخت کې تابع وګرځول شول. له دغو ځایي واکمنانو نه میران شاه دومره مهم و چې د سیفي په وینا «میران شاه اتلس کاله په افغانستان او د هندوستان په پولو کې لښکر کشي کړې وه، څو کلاګانې او حصارونه یې لاسته راوړي او په نارینتوب او مېړانه او په ډېر جوش د جګړې په ورځ د دوویشتو نامي سړو سره مقابله وکړه.»۱۴۴

د کاکړ په وینا سیفي افغانستان د ختیځ په لور د اباسین تر حده پورې هېواد ښوولې، چې هغه د کسي یا سلیمان غرونو سمسورې درې کېږي، چې له کندهار، قلات او غزني نه د ختیځ پورې غزېدلې او پېښور او کوېټه یا مستونګ یې مهم ښارګوټي وو. دا سیمه لږ و ډېر د هېرودت د پکتیک، ګندارا او د پښتنو د پښتونخوا او روه سره سمون خوري او پښتانه د لرغوني مهال نه په کې اوسي او کوچیان یې تر اوسه په کې کوچیتوب کوي. دا وخت و چې د پښتنو دغه هېواد د نورو له خوا په نورو نومو لکه «جبال الافغانیه» یا «جبال الافاغنه»، «کشور افغان»، «مرز افغانیان»، «افغان» او روه یاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی دی.

د تېرې په وينا تر هغه ځايه چې ده ته مالومه ده ابوريحان بيروني د اسلامي دورې لومړی مؤلف دی چې د «جبال الافغانيه» يادونه کوي. بيروني په خپل نامتو اثر «د هند تاريخ»، کې چې په ۴۲۱ کې ليکل پای ته رسېدلي دي د لرغوني هند د لوېديځې پولې په غرنۍ سيمه کې افغانان ميشته ګڼي او ليکي چې د دوی بيلې بيلې پرګنې د سند تر ګاونډه خپارې دي.۱۴۵ بيروني وروسته بيا په يوه بل اثر «صيدنه» کې چې د ۱۰۵۰ زېږدي کال په شاوخوا کې ليکل شوی دی دا سيمه دوه واره د جبال الافغانيه په نامه يادوي:

«يو ځای د اسطوخوذوس د توضيح په ضمن کې ليکي چې « بهترين ډول يې هغه دی چې شنې پاڼې لري ... دا نوع د دهک خوا ته ، د هند د خاورې د پرشاور [پېښور] او د جبال الافغانيه تر منځ شنه کيږي»۱۴۶ په همدې اثر کې يو بل ځای د زيتون د معرفي په ترځ کې ليکي: «وحشي زيتون چې جبال الافغانيه کې ..، شين کيږي، وړې داني لري.»۱۴۷

د تېرې په وينا شيخ ربوه دغه سيمه جبال الافاغنه بولي او ليکي چې: «دريم اقليم د چين له شمال ختيځه ... او له جبال الافاغنه او ملتان نه تر سنده پورې امتداد لري.»۱۴۸

د غزنويانو د دورې ستر قصيده ليکونکی مسعود سعد سليمان د افغانانو ملک د کشور افغان په نوم ياد کړی دی:

شکسته ګشت به تيغ تو لشکر کفار
خراب شد به سپاه تو کشور افغان۱۴۹

تېری زياتوي چې د شاهنامې ورک نومي شاعر چې د ژوند وخت يې شپږمه هجري پېړۍ ټاکل شوې ده د افغانانو ملک د مرز افغان په نوم يادوي:

همـه مرز افغان به هم برزنم
بدين دژ زکين اتش اندر زنم۱۵۰

محمد بن محمود بن احمد طوسي په «عجايب المخلوقات» کې ليکي چې: «د افغانانو په حد کې د زغيو ځنګل دی چې په هغه کې داسې يوه ونه ده چې اوړوالی يې اووه لس ارشه دی ... دا د برهمن ونه بلل کيږي او افغانان سجده ورته کوي.»۱۵۱

ارزقي هروي په خپله قصيده کې چې دطغانشاه په ستاينه کې ويلې ده وايي:

زهری ګر سوی افغان شوی ای باد شمال
باز ګويی زهری پيش ملک صورت حال

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې توګه د افغانانو ملک د سوونو کلونو را دې خوا د جبال الافغانیه، کشور افغان، مرز افغان، حد افغانیان او افغان په نامه یاد شوې دی. خو دا نومونه یوازې د افغانانو د مینې په مانا کارېدلي دي نه د سیاسي پولو په مانا.

بابرشاه هم په خپله بابرنامه کې کله چې کابل یادوي، افغانستان د هغه په سوویل کې ښيي او ختیځه پوله یې تر پېښور پورې رسوي، خو له هغه وروسته د اسفزاري نه غیر د افغانستان نوم په نظر نه راځي. کاکړ وايي چې دلیل یې شاید دا وي، چې د مغولي هند په هسکېدو سره د هغه وخت افغانستان په هند کې ونیول شو. د هند د مغولي واکمنۍ نه د دې سیمې د ازادۍ له پاره پښتنو د روښان پیر، د هغه زامنو او لمسیانو په مشرۍ کلکې مبارزې وکړې چې نږدې یوه پېړۍ اوږدې شوې. ورپسې خوشال خټک او ایمل خان مومند د روښانیانو غوندې یوسفزي، مومند، اپریدي او نور قومونه د مغولو په وړاندې جګ کړل چې په پای کې ټول ناکام شول. خو د دوی دا ملي ازادي بخښونکی غورځنګ د خپلې ناکامۍ سره سره دوې مهمې پایلې درلودې. لومړۍ پایله یې دا وه چې اورنګ زېب اړ شو چې پښتني قومونو ته کورنۍ ازادي ومني او دوهمه پایله یې دا شوه چې په پښتنو کې د خپلواکۍ شعور غښتلی شو. برسېره پردې په دغه مهال کې د افغانستان لوېدیځه برخه د صفویانو او شمالي برخه د شیباني ازبکانو تر لاس لاندې وې. په دغه مهال کې په وېشل شوي افغانستان کې افغانان د ګډ سیاسي ژوند نه بې برخې وو. دا لامل و چې نه یوازې د افغانستان نوم بلکې د پښتونخوا او روه نومونه هم شاته غورځول شوي وو. دا ستر میرویس نیکه و چې په خپل پاخه تدبیر او ټینګ هوډ یې د کندهار، فراه، پښین او کوېټې خلک پوره خپلواک کړل.

هنري والټر بیلیو وايي چې په نوي عصر کې د افغانستان نوم ایرانیانو راایستلی دی. دی وايي کله چې نادر افشار دا سیمه «د فارس په قلمرو کې داخله کړه، لومړی شخص و چې [د دې ساحې] شمالي برخه یې د هغې د اوسېدونکو د اکثریت له امله افغانستان وبلله او جنوبي برخه یې په همدې دلیل د بلوچستان په نامه یاده کړه.»۱۵۲

بیا ستر احمدشاه بابا د اوسني افغانستان بنسټ ایښودونکي لومړی د امو نه تر اباسینه خپل هېواد د پردیو د ښکېلاک نه وژغوره او وروسته یې د پنجاب، کشمیر، سند، بلوچستان، ډیلي او د فارسي خراسان په لاندې کولو سره د لرغوني افغانستان د نورو سوبمنو غوندې، یوه امپراتوري جوړه کړه. خو د تیمورشاه د واکمنۍ پر مهال د هېواد د ځوړتیا شرایط برابر شول. دتیمورشاه د مړینې وروسته د هغه زامن، چې د بیلو بیلو میندو نه وو، د واک پر سر په شخړو او ناندریو بوخت شول. د دغو بې اتفاقیو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



پایله کې د احمدشاه بابا غښتلی امپراتوري «د هغه د لمسیانو په وخت کې په اصل کې له دې امله مخ په ځوړ او بیا په ۱۸۱۸ کې ټوټه ټوټه شوه، چې چلوونکو یې نه شو کولی تر لاس لاندې سیمو نه باج تر لاسه کړي.»۱۵۳

امیر دوست محمد خان، چې په ۱۸۱۸ کال کې د سدوزو د پرزېدو وروسته د یوې اوږدې مودې د کورنۍ جګړې په یون کې د محمدزو د واکمنۍ بنسټ کېښود، په ۱۸۲۶ کې د قزلباشانو په مرسته واکمن شو. خو د افغان-انګلیس د لومړۍ جګړې په بهیر کې انګرېزانو ته تسلیم شو او هندوستان ته یې پرار کړو. بیا کله چې په دغه جنګ کې د انګرېزانو ۱۶۵۰۰ پوځ، چې د هغه نه د شپږو نه تر شپږ نیم زره انګرېزي منظم پوځ و، نور یې هندي مستخدمان یا عمله او فعله وه، تباه شو نو دوی په ۱۸۴۳ کې امیر دوست محمد خان بېرته هېواد ته راستون کړ او خپلواک امیر شو او تر ۱۸۶۳ کال پورې یې ټوټې شوی افغانستان د پېښور پرته یو موټی کړ.

## پښتونخوا:

د پښتونخوا نوم هم د پښتون نوم غوندې لرغونی دی. د مخه مو یادونه وکړه چې د تاریخ پلار هیرودت په خپل تاریخ نومي اثر کې د پښتنو ټاټوبی د پکتیکا یا پکتویک په نوم یاد کړی او هنري بیلو، هنري لوونتال، اولاف کیرو او جورج ګریسن د هیرودت د «پکتیکا» کلیمه د ننۍ پښتونخوا د کلیمې انډول ګڼي. د ځینو لاملونو له کبله د پښتونخوا نوم کارول ځنډول شوی خو خپله پښتنو زیات وخت په خپلو لیکنو کې د پښتونخوا نوم د افغانانو یا پښتنو د ټاټوبي له پاره کارولی دی.

د اخوند درویزه په مخزن الاسلام کې ډېر ځله د پښتونخوا کلیمه راغلې ده. دی د روښان پیر د بیان په ترځ کې د سید علي ترمیزي یادونه کوي اولیکي: «حضرت سید علي ترمیذي و په بنهیر کې، پښتونخوا په مثال شپه وه دی ډېوه وه په اندهیر کې. دی نېکخواه د پښتونخوا و ساتندویه په دنیا و.»۱۵۴

بل ځای د مغولو سره د روښان پیر د زوی د جلال الدین د ډغرو وهلو د بیان په ترځ کې لیکي چې جلال الدین: «دغه لاپه، په خوله کړه چې پادشاه د پښتنو یم ... پښتنو ټولو پرې وکړ؛ ولې دی هم پښتونخا لره بلا شه.»۱۵۵

د هېواد مل په وینا د احمدشاه بابا د دیوان په هغه قلمي نسخه کې، چې د ښاغلي سلیمي کندهاري سره شته او د احمدشاه بابا د لمسي شاه زمان سدوزي له پاره لیکل شوې وه، په یوه غزل کې هم د پښتونخوا کلیمه راغلې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډیلي تخت هېرومه چې را یاد کړم
زما د ښکلې پښتونخوا د غرو سرونه

د احمدشاه بابا د مهال نامتو پوه او شاعر پیرمحمد کاکړ هم د پښتونخوا کلیمه په خپل شعر کې راوړې ده:

لکه شــعر دی د ده په پښتونخوا کې
بل به کم وي په دا وخت د افغان شعر ۱۵۶

په باندینیو لیکوالو کې ډاکټر لیډن نږدې دوه پېړۍ د مخه په هغه مضمون کې چې د روښان پیر په اړه لیکلی د پښتونخوا کلیمه کارولې ده: «بایزید چې د ننگرهار نه روان شو پښتنخا یا د کلیمې په خاصه معنا افغانستان ته یې مخه کړه.»۱۵۷ وروسته لوېدیځو لیکوالو د پښتونخوا کلیمه زیاته کارولې ده او فرانسوي ستر پوه ډارمستېټر د پښتنو ولسي سندرې ټولگه، چې په کوزه پښتونخوا کې راټولې کړې او بیا یې د «پښتونخوا هار و بهار» په نامه خپرې کړې.

زموږ د وخت پښتانه له امو نه تر اباسینه او له هراته تر کشمیره پورې سیمه د پښتونخوا په نامه یادوي. دوی دا ساحه د لویې پښتونخوا په نوم هم یادوي او په لره او بره پښتونخوا یې وېشلې ده. لره پښتونخوا یې هغه سیمه بللې ده چې له خیبره تر اباسینه پراته ده او بره پښتونخوا یې هغه سیمه بللې ده چې له خیبر نه د امو د سیند تر غاړې پراته ده.

په دې ترتیب پښتونخوا د پښتنو د ملک له پاره کارول شوې او «زموږ د وخت پښتنو د پښتونخوا نوم، عموماً د هغې ساحې په مفهوم استعمال کړی دی چې له امو نه تر اباسینده او له هراته تر کشمیره امتداد لري.»۱۵۸

## روه:

یو بل نوم چې د پښتنو د ملک له پاره کارول شوی دی روه دی. د تېرې په وینا: «تر ټولو پخوانی تحریري اثر چې ما د روه نوم په کې لیدلی دی هغه تاریخ داودي دی.» عبدالله لیکي: «کله چې سلطان بهلول سلطنت ته ورسېد، له روه نه یې چې د افغانانو ټاټوبی دی، ډېر افغانان راوغوښتل... د فرید نیکه چې ابراهیم نیکه و، له روه نه هندوستان ته راغی.»۱۵۹

د هند د مغلو د واکمنۍ د مهال لیکوال عباس سرواني په خپل اثر تاریخ شېرشاهي کې روه د افغانانو د ملک په نامه څو ځلې یاده کړې ده او یو ځای د بهلول د هغه فرمان نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يادونه کوي چې هند ته د پښتنو د رابللو په اړه يې روه ته لېږلی و او ليکي: «کله چې دا فرمان وروړسېد افغانان ... د روه له ټولو برخو نه ډله ډله [هندوستان ] ته ... راغلل.»۱۶۰

خواجه نظام احمد په طبقات اکبري کې هم روه يادوي او ليکي: «کله چې سلطان بهلول قدرت ته ورسېد ډېر زيات شمېر افغانان يې له روه نه چې د افغانانو ملک دی، راوغوښتل...»۱۶۱

په تاريخ فرشته کې هم ډېر ځلې د روه نوم ياد شوی او يو ځای ليکي: «د سوريانو د کورنۍ يو غړی ... د روه په افغانانو کې ميشت شو.»۱۶۲

خواجه نعمت الله هروي هم د روه نوم بيا بيا کارولی او کله چې د سلطان شهاب الدين د برياوو د بيان په ترڅ کې ليکي: «دريم وار يې د افغانانو د قبايلو دولس زره ... سواره له ځان سره راوستل ... سلطان شهاب الدين دا خلک د روه په غرنۍ سيمه کې ان د ملتان تر سرحده آباد کړل.»۱۶۳

د پښتو ژبې پخوانيو شاعرانو هم په خپلو شعرونو کې د روه نوم ياد کړی دی چې د کاظم خان شيدا او اشرف خان هجري د شعرونو لاندې بيتونه يې ښې بېلگې دي:

کاظم خان شيدا

پـــه زړه مـــې گرځـــي د غرونـــو څـــوکې
حملـــــې د بـــــازو د زرکـــــو کـــــوکې
ووايـــــه څـــــه کـــــا د روه نســـــيمه
گيـــــرا منگـــــولې زيبـــــا مشـــــوکې

اشرف خان هجري

د زړه باز يې تل د روه پر څمکه گرځي
که هجري په دکن ناست خالي بدن دی

دروه د سيمې په اړه عبدالله په خپل اثر تاريخ داودي کې ليکي: «د روه اوږدوالی له سواد بجور [سوات باجوړ] نه د سيوۍ تر قصبې پورې چې له بکهر له توابعو نه ده، رسيږي او سور يې له حسن ابدال نه تر کابل او قندهاره پورې دی او هر څه چې پدا منځ کې دي هغه ته روه وايي.»۱۶۴

د ترې په وينا د نظام الدين په طبقات اکبري، د محمد قاسم په تاريخ فرشته او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نعمت الله هروي په مخزن افغاني کې هم د روه سیمه د تاریخ داودي ته ورته یاده کړې ده.خو نواب محبت خان برېڅې په ریاض المحبت کې روه یو ستر ملک بولي: «د شرق په لور تر کشمیره او د غرب په لور تر هېرمنده چې د دوه نیمو میاشتو مزل دی، امتداد لري؛ د شمال په لور تر کاشغره او د جنوب په لور تر بلوچستانه امتداد لري؛ [دا] د افغانانو هېواد دی او افغانان په کې هست دي.»۱۶۵ کاکړ همدارنګه په خپل اثر « افغانستان و افغانها و تشکیل دولت در هندوستان، فارس و افغانستان» کې د کافو یا کابل او پوروشاپورا یا پېښور په اړه هم یادونه کړې ده چې لنډیز یې د لاندې وړاندې کېږي.

## کابل، کافو:

کابل یو پخوانی نوم دی چې په سانسکرېټ کې د (کوبها) په نوم یاد شوی، د یونان لرغونو لیکوالو کوفن یا کوفس او کووا یاد کړی، د پارس خلکو او ارستو د خوسپس په نوم بللی او په اوومه مخزیږدې کې شون چونګ د کاوفو په نوم یاد کړی دی. د کاکړ په وینا دا نوم لومړی د کابل رود ته ورکړل شوی دی. د وخت په تیرېدو سره د کابل وادی ته د سوویلي هندوکش نه د سند تر رود پورې د کابل او کابلستان په نوم یادېده. د کابل ښار هم په دې نوم یادیږي خو ښکاره نه ده چې دا ښار کله او د چا له خوا منځ ته راغلی دی. د کابل وادي درې د کرنې وړ ځمکې لري او د پخوا نه خلک په کې استوګن دي. کابل د اوبو د لارو د موندلې نه وړاندې د هند، چین، منځنۍ اسیا او پارس تر منځ د سوداګرۍ لویه لار وه. په کابل کې لویې واکمنۍ منځ ته راغلې چې لوی کوشانیان او کابل شاهان یې ډېر مشهور دي.

کابل د زیږدې نه څو پېړۍ وړاندې او وروسته په لوېدیځ کې تر بامیانو او کندهار، په سوویل کې د بولان تر کوتله سیمه وه او په لسو برخو وېشل شوې وه چې کاپیسا یې منځی و او د کابل علاقې، بامیان، غزني، ننګرهار، سوات، پېښور، اپوکین، بنو او بولر یې تر لاس لاندې وې. په دې ترتیب کابلستان ټول افغانستان په غېږ کې نیولی و. کابل د الکزاندر کنینګهم د سپړنې له مخې د چیني لیکنو پر بنسټ شاید د یوچي د پنځو قبیلو نه د یوې نوم وي. ویل کیږي چې کله دې قبیلې د مخزیږدې دوهمه پېړۍ کې کابل ونیو نو د خپلې قبیلې نوم یې ورباندې کېښود. کاکړ وایي چې دا لیکنه څکه سمه ښکاري چې د هغې دورې نه د مخه د سکندر د مهال تاریخ پوهانو د کابل نوم نه دی یاد کړی. دوی د ارتوسپانه د ښار په نوم یاد کړی چې د لوړ ځای مانا لري او دا کلیمه د سانسکرټ د اردهستانه د ترکیبي نوم سره سر خوري چې همهغه مانا لري او د کابل له پاره کارېده. وروسته په دوهمه زیږدې پېړۍ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بطلیموس دا ښار د کابورا په نوم یاد کړی چې د پاراپامیزاد منځی و. داسې ښکاري چې ارتوسپانه د سیمې اصلي مرکز و چې د یونانیانو د واکمنۍ نه وروسته یې ځای سکندریې ونیو تر څو وروسته د هندو- ساک شاهزاده ګانو بیا ژوندی کړ. دا ښار د اوولسمې پېړۍ نه د مخه چې اوپیان د کاپیسا منځی شو پرېښودل شو او دا حالت د چنګېز تر تاړکونو پور دوام وکړ تر څو چې اوپیان ړنګ او کابل سوکه سوکه د منځي حیثیت وموند او په ځانګړې توګه چې په ۱۷۷۶ کې د درانیانو د امپراتورۍ منځی شو. الفنستون د نولسمې پېړۍ په پیل کې د کابل د سلطنت په نوم یاد کړ. د دراني امپراتورۍ د ړنګېدو وروسته تر یوه مهاله د کابل امارت په نوم یادېده. د ۱۸۹۳ کال وروسته د هغه نه ډېرې سیمې بیلې شوې او په دې توګه د کابل پراخوالی کم او لږ شو.

## پوروشاپورا یا پېښور

د پېښور ښار ډېر لرغونی دی. لرغونی نوم یې پوروشاپورا و چې د ګندارا مرکز و. ګندارا د ویدي دورې نوم دی چې ډېر وخت دپاره د اباسین او ایلمن تر منځ پرتې سیمې ته ویل کېده. دا هغه سیمه وه چې وروسته د «روه» په نامه یاده شوه. د سلېمان غرونه او درې چې په پښتو کې د کسي غرونه نومیږي هم په همدغې سیمې کې واقع دي. د سلېمان غرونه او درې په عمده ډول د پښتنو ټاټوبی دی. افغانستان د مستونګ په ګډون په اصل کې د همدغې سیمې (اباسین- ایلمن) نوم دی، چې وروسته پراخ شو او د امیر عبدالرحمن په وخت کې په اوسني افغانستان باندې په رسمي ډول هم یاد شو. له همدغې سیمې او په ځانګړي ډول له پېښور او کندهار نه د پښتو د ثقافت او شعر او ادب پلوشې ځلېدلې دي. پېښور د درانیو په واکمنۍ کې د واکمنو د ژمي پلازمینه وه. په پېښور کې افغاني ثقافت ښه وده کړې ده.

اوس مهال نږدې ټول پېښوریان او د هغه چاپېر خلک د افغانستان نه راغلي او هر وخت چې په افغانستان کوم مصیبت راغلی او مصیبت ځپلي د پېښور په لوري مخه کړې ده. په ۱۸۸۸ کې یوازې له غازي محمد ایوب خان سره اته سوه افغانان کډوال لاړل او په لاهور او راولپنډۍ کې میشته شول. غازي محمد ایوب خان مړی د پېښور په حبیب هدیره کې ښخ دی. د امیر عبدالرحمن په واکمنۍ کې په سلګونو نور افغان مشران هم پېښور او هم نورو ځایونو ته واوښتل. تر دې نږدې وختونو نږدې دوه میلیونه افغانان پووندو له سیند نه تر هزاره جاتو پورې په تګ کې وو. د پووندو سوداګر به د سند نه تر بنګاله او برما او له کابلستان نه تر بخارا پورې تلل راتلل. کاکړ وایي چې «په دې ډول د پېښور ځایي خلکو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسنیو افغاني کډوالو علایق د بشري، تاریخي، ژبنیو او قومي واقعیتونو په عمومي ډول د ګډ ژوند طرز او نږۍ لید انعکاس دی.»۱۶۶ له دې امله د پېښور او کوېټې پښتانه د خپل نسب ریښې په افغانستان کې لټوي. نو ځکه دوی افغانستان خپل هېواد او اوسېدونکي یې د خپلو وروڼو په شان ګڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپږم څپرکی

# په هند کې د افغانانو امپراتوري

## ۱: د لودیانو امپراتوري

پښتانه په دوهمه هجري پېړۍ کې د کسي غره له لمنې نه د اباسین لوېدیځ لوري ته ورو ورو ننوتل. همدغو پښتنو د خپلې جنګي وړتیا او زړورتوب له کبله د واکمنو هندي راجاګانو سره د تفاهم له مخې د څلورمې هجري پېړۍ په دوران کې د هندوستان په یوه څنډه کې لومړۍ پښتني حکومت د شیخ حمید لودي په مشرۍ جوړ کړ چې د ملتان نه نیولې تر لغمانه پورې سیمې یې تر واک لاندې وې. دا واکمنه کورنۍ د ملتان لودیان وو.

د لودیانو د لومړۍ دورې واکمنۍ نه وروسته چې د حمید لودي په مشرۍ د ملتانه تر لغمانه غزېدلې وه، پښتانه ورو ورو هندوستان ته ننوتل. فخر مدبر مبارک شاه چې د غوري پاچاهانو له منشیانو څخه و، په خپل کتاب «اداب الحرب و الشجاعه» کې وایي چې «ان په هند باندې د سلطان محمود غزنوي د لښکرکښیو د مخه افغانان په پنجاب کې میشته وو.»۱۶۷

تاریخ کښونکی العتبی وایي چې سلطان محمود غزنوي په پوځي برخه کې د افغانانو نه د جنګیالیو سرتېرو په توګه ګټه پورته کوله او د غزنوي پاچایانو په لښکرو کې پښتنو ځانګړې ځای درلود.۱۶۸ «پښتانه په ډله یزه توګه د سلطان محمود غزنوي په لښکرو کې هند ته تللي دي».۱۶۹ له دې وروسته افغانانو په هند کې د مسلمانولو په جګړو او د اسونو او تورو سوداګرۍ ته زیات پام واړاوه. پښتانه د چنګیز او د هغه د ځای ناستو د یرغلونو نه هم هند ته شېوه شوي دي. همدارنګه اقتدار حسین صدیقي په خپله لیکنه «په هند کې د واکمنو نخبه ګانو په توګه د افغانانو څرګندېدنه» کې لیکي چې افغانان هند ته د ننوتو په لومړۍ مرحله کې د خپلو قبیلو په دودونو او ادابو ټینګ ولاړ وو، خو د هغوی وروستي نسلونو د مسلمانانو د نخبه ګانو اشرافي سلوک سوکه سوکه ومانه. دوی د ډیلي د سلطانانو ځینو پوځي او اداري سیستم مقامونو ته ورو ورو جګېدل چې د هند په اسلامي ټولنه کې د دوی مدني او کلتوري ودې ته لاره پرانیسته.

په دې توګه دوی په دربار کې د اشرافي کلتور سره ځان ته سمون ورکړ او د وخت په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېرېدو سره دوی متمدن خلک شول او خپل ځان یې په هند کې د واکمنۍ دپاره تیار کړ او واکمني ته ورسېدل.۱۷۰ زیات شمېر افغانان چې ناپوځي کسبونه یې کول په زیات شمېر سره په ډیلي کې میشته شوي وو او د ډیلي د اوسېدونکو غونډې یې د ډیلي د کلتور سره خوی ونیو.

افغانانو سوکه سوکه د ډیلي د واکمنو په نظامي او اداري سیستم کې مهم مقامونه ونیول او د غلځیانو په واکمن کېدو سره د دوی پرمختګ ګړندی شو.غلځي سلطانانو په مهمو مقامونو د غوره کولو له پاره د وړتیا اصل په نظر کې نیوه. د سلطان علاوالدین خلجي په انتخاب شویو افرادو کې د اختیار الدین افغان مل نوم موندلی شو. دغه د ښه نوم سړي د سلطان محمد بن تعلق تر زمانې پورې مهم مقامونه نیولي و. د هغه کوچني ورور افغان مل هم د غلځیانو په زمانه کې مهم مقامونه نیولي و.

دغه مهال یو تن افغان چې ملک شاهو لودي نومېده په ۱۳۳۴ زېږدې کې د ملتان د نایب الحکومه بهزاد په وړاندې جګ شو او د هغه د وژلو نه وروسته پاچاهۍ ته ورسېد. د ملک شاهو لودي پاڅون دومره پراخ شو چې په خپله د ډیلي سلطان د ملتان په لور وخوځېد. په پایله کې د سلطان سره د مقابلې پرته د خپلو کړو له امله د سلطان نه بخښنه وغوښته او د خپلو کسانو سره افغانستان ته لاړ. نور مهم کسان چې دا مهال یې مهم پوستونه درلودل ملک خطاب افغان، قاضي جلال الدین افغان، ملک ماخ افغان او نور وو. برسېره پر ډیلي افغانانو په ګجرات او بنګال کې هم ژوند کاوه.

څنګه چې افغانان د افسرۍ او ځمکو څښتنان شول بهلول لودي په هندوستان کې د پښتنو د امپراتورۍ او د لودیانو د کورنۍ بنسټ ایښودونکی په سرهند کې واک ته ورسېد. نوموړي لومړی د سلطان محمدشاه چې د ۱۴۴۵-۱۴۱۴ د ډهلي د سلطنت او د سید کورنۍ نه و په ملاتړ د سلطان محمود خلجي پر ضد چې په مالوا کې واکمن و د شل زره پوځ مرسته وکړه. بیا په ۱۴۵۱ کې یې د سید کورنۍ رانسکوره کړه او په خپله سلطان بهلول د واک واګې په لاس کې ونیولې او یوه پراخه امپراتوري یې جوړه کړه. د ده امپراتوري د پنجاب نه تر بهار ایالت تر پولې غزېدلې وه چې د ډیلي په شمول ډېر ښارونه په کې شامل و. بهلول د خپلو متو د ټینګولو په موخه خپل استازي روه ته ولېږل او د یوه شاهي فرمان په ترځ کې یې د دې سیمې پښتنو قبیلو ته هند ته د راتلو بلنه ورکړه. دی لیکي: «ما ته خدای پاک د هندوستان حکومت راکړی دی. ولې په هندوستان هغه سړی حکومت کولی شي چې هغه د قام او قبیلې خاوند وي. په دې بنا ټولو پښتنو ته په کار دي چې هند ته راشي. فوځي ملازمت اختیار کړي او یو طرف ته جاګیر حاصل کړي او د ارام او هوسایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند تېر کړي او بل طرف ته د خپل قامي حکومت د حفاظت په لړ کې د مظبوطو دښمنانو دپاره یو مظبوط دېوال اوګرزي.»۱۷۱ د دې فرمان پر بنسټ لودي، لوهاني، نیازي، مروت، بېټني، سربني او کرلاني قبیلې هند ته رواني شوې. په دې ترتیب ډېر پښتانه هند ته شیوه شول او هلته بهلول لودي د ده له خوا نیول شوي ایالتونه د دوی تر منځ ووېشل او هر یو مشر ته یې د امیر نوم ورکړ.

په دې ډول د نوموړي د واکمنۍ په مهال هند ته د پښتنو قبیلو نه زیات شمېر پښتانه هند ته شیوه شول. هند ته د پښتنو د زیات شمېر تګ دوه لاملونه د یادونې وړ دي؛ لومړی لامل یې دا دی چې په پښتونخوا کې د دوی د ژوند شرایط خراب وو دوهم سلطان بهلول غوښتل چې په هند کې خپل حاکمیت ټینګ کړي. په دې ترتیب سلطان بهلول په هند کې د خپلې مړینې وړاندې د پښتنو یو ډول اتحادیه جوړه کړه او د خپلې امپراتورۍ ایالاتونه یې د دوی تر منځ ووېشل او هر یوه ته یې د امیر لقب ورکړ. د ده د کارنامو نه د ډیلي د سلطنت ژوندي کول، د هغه د پولو پراخوالی او د ډېر وخت وروسته د هغه د حیثیت ا عاده کول و.

د بهلول لودي د مړینې وروسته سکندر لودي واک ته ورسېد. سکندر لودي یو غښتلی او مقتدر شخصیت او د غټ تدبیر څښتن و. د ده د سلطنت په مهال په ټول هند کې د امن برسېره ښېرازي او پرېماني هم وه. د ده د واکمنۍ په دېرش کلنې مودې کې د ادب، هنر او علم په برخه کې ډېر پرمختګ وشو.

د سکندر لودي د مړینې وروسته ابراهیم لودي د واک په ګدی کېناست. هغه لومړی د خلکو او خپلو امیرانو سره ښه رویه وکړه خو کله یې چې پښې ټینګې شوې نو په خپلو امیرانو پسې یې راواخېسته. د ابراهیم لودي دا ناوړه رویه د دې لامل شوه چې د پاچا او پښتنو امیرانو تر منځ بې باوري زیاته او بې اتفاقي منځ ته راشي. د دغې بې باورۍ پایله دا شوه چې د پاچا په ژوند کې د بهار ایالت دریا خان لوهاني زوی چې د بهار حاکم و پاڅون وکړ او د ډیلي نه بیل شو. د ابراهیم لودي او پښتنو امیرانو مخالفت تر دې پولې ورسېد چې ځینو امیرانو د پاچا د منځه وړلو له پاره ان غدارۍ ته لاس واچاوه. د بېلګې په توګه دولت خان لودي چې د ابراهیم لودي په وخت کې د پنجاب د ولایت والي او یو نومیالی سپاسالار و او ابراهیم لودي د هغه د منځه وړلو پسې متې رانغښتې وې غدارۍ ته لاس واچوه. دولت خان لودي د ابراهیم لودي د تره علاءالدین عالم خان سره چې دا مهال په ګجرات کې د ابراهیم لودي د لاسه پناه اخېستې وه اړیکه ټینګه کړه او پنجاب ته یې راوباله. دولت خان لودي د ابراهیم لودي تره کابل ته واستولو تر څو بابر مغول د ابراهیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



لودي پر ضد وهڅوي چې په هندوستان برید وکړي.

بابر په ۱۵۲۶ کال کې ابراهیم لودي ته د پاني پت په جګړه کې ماتې ورکړه. په دغه جګړه کې ابراهیم لودي د یوه پښتون په لاس ووژل شو. په دې توګه د لودیانو واکمني چې ۷۵ کاله اوږده شوه، په هند کې پای ته ورسېده او بابر د هند د مغولي واکمنۍ بنسټ کېښود.

## ۲: په هند کې د سوریانو امپراتوري

د مخه تر دې چې په هند کې د سوریانو امپراتوري وڅېړو لازمه ګڼم چې لږ غونډې په سوریانو رڼا واچوم. هغه مهال چې د هندوکش د هغې خوا نه د اریایانو د قبیلو مهاجرت د هندوکش سوویل ته پیل شوی ځینې د دوی نه د سوویل لوېدیځ لوري ته مهاجر او په غور کې استوګن شول. د الفنستون په وینا «تولې سرچینې په دې موافق دي چې په لرغونو زمانو کې د غور اوسېدونکي پښتانه وو.»۱۷۲ دی دا هم وایي چې «دا خبره بېخي یقیني ده چې د غور پاچایان پښتانه او د سوري قبیلې غړي وو.»۱۷۳ میر غلام محمد غبار هم «شاهان محلي غور افغانستان (منسوب به سلسله سوري های پشتانه)»۱۷۴ نه یادونه کوي.

د پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ په وینا د غور یا غر کلیمه پښتو ده چې د وخت په تېرېدو غرج او غرش باندې واووښت او د اسلام په دوره کې په غرجستان، غرچستان او غرشیستان باندې یاد شو. غور په تاریخ او افسانه کې د اریایي قبیلو د مهاجرت له وخت نه چې د هندوکش د هغې خوا نه د هند په لوري کېده مشهور شو. د دغه مهاجرت په یون کې د هغوی نه ځینې اول د لوېدیځ په لور (بامیان او غرجستان) او بیا د سوویل- لوېدیځ په لور یاني په غور کې تیت شول.۱۷۵

سوریان د غور د پښتنو یو ټبر دی چې لرغوني افسانوي شخصیت ته منسوب دي چې فردوسي ضحاک او پښتنو د «تاریخ سوري» په حواله سهاک بللی دی. د ضحاک یا سهاک له اولاده دوه ورونه وو چې مشر یې سور او کشر یې سام نومېده چې لومړی پاچا او دوهم د لښکر مشر و. داسې ښکاري چې د اسلام د مخه د زور قبیلې دین د لمر نمانځنه وه. کاکړ وایي«د سیستان ساکا د عربو د یرغل په وخت کې نه زردشتي او نه بودایي وو. دوی په ځانله محلي خدای زون (Zun) معتقد وو.»۱۷۶ د اسلام د مخه د دوی کورنۍ په غور پاچاهي کوله. د دوی یو مشر چې ماهوي سوري نومېده د اسلام په لومړیو کې د مروې مشر و. ماهوي سوري د ساسانیانو وروستي پاچا دریم یزدګر دخسرو نومي ژندرګړي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذریعه چې د عربي سوبمنو نه تښتېده په مروه کې وواژه. ماهوي سوري د حضرت علي (رض) له خوا په کوفه کې د مروې په پاچاهي ومنل شو.

د عبدالحی حبیبي په وینا د غور د سوریانو کورنۍ هغه وخت چې واکمن یې امیر پولاد د شنسب زوی او د واکمنۍ پلاز یې مندېش و د عباسي کورنۍ په واکمن کېدو کې یې خپلې ټولې لښکرې د ابو مسلم خراساني په ملاتړ ودرولې. امیر پولاد د ابومسلم سره یوځای په هغه مېلمستیا کې ګډون درلود چې ابوالعباس سفاح د بین امیه سره د جګړې کولو په مهال جوړه کړې وه. غوریانو د شنسب له وخته بیا تر سلطان محمود غزنوي او سلطان مسعود تر وختو پورې په غور کې د سوري کورنۍ امارت درلود.

کله چې غزنویانو د لویکانو نه غزني ونیو نو دلته یې د خپلې واکمنۍ بنسټ کېښود. سبکتګین د غزنوي واکمنۍ بنسټ ایښودونکی د زابل د پښتنو د یوه مشر د لور سره واده وکړ او د همدې خپلوی پر بنسټ یې د دغو پښتنو ملاتړ تر لاسه کړ او خپلې واکمنۍ په ټینګتیا کې یې کار ورنه واخېست. د امیر سوري د واکمنۍ په مهال یې په غور برید وکړ خو سوري کورنۍ خپله واکمني وساتله بیا کله چې سلطان محمود غزنوي چې مور یې همدغه پښتنه وه، په غزني کې پاچا شو او د دغو پښتنو په مرسته یې په غور برید وکړ او امیر محمد سوري یې د اهنګران په کلا کې کلابند کړ او د بېساري مقاومت وروسته یې ونیوه. نوموړي بیا په لاره کې زهر وخوړل او د پردو په لاس بندیتوب نه یې مرګ ښه وباله. وروسته کله چې علاءالدین حسېن په فیروز کوه کې پر تخت کېناست نو خپلې لښکرې یې راټولې کړې او په غزني باندې د یرغل په موخه په هغه لوري وخوځېد. د غزني پاچا سلطان بهرام شاه هم د غزني او هندوستان د لښکرو سره د علاءالدین مخې ته ورووت. په دې جګړه کې د بهرام شاه لښکرې ماته وکړه او د غور واکمن غزنی ونیو او ویې سوځاوه اوپه تاریخ کې د جهانسوز په نوم یاد شو.

علاءلدین لومړی پښتون سلطان و چې د افغانستان هېواد یې د یوې اداري لاندې راووست او د فیروز کوه په پلازمینه پورې وتاړه. تر هغه وروسته سلطان غیاث الدین غوري د غور د لویو پاچاهانو نه دی چې بیا یې هېواد ته مرکزیت ورکړ چې منځنی اسیا د مروې نه نیولې تر هندوستانه او عراقه پورې سیمه یې د غور د فیروزکوه د بیرغ لاندې راوسته. دغه مهال نوموړی د افغانستان ستر او یواځینی امپراتور ګڼل کېده. د ده په وخت کې د بغداد د خلیفه سفیر پیروزکوه ته راغی او د غور سفیر بغداد ته لاړ شو او ډیپلوماټیکې اړیکې د دواړو هېوادو تر منځ ټینګې شوې. سلطان غیاث الدین د ۶۳ کالو په منګ د هرات په ښار کې مړ او د هرات په جامع جومات کې چې په خپله یې جوړ کړی و

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاورو ته وسپارل شو.

سلطان غیاث الدین کله چې د فیروز کوه سلطان شو نو خپل سکنی ورور محمد، چې بیا په سلطان شهاب الدین غوري نامتو شو، د هندوستان پراخ ملک نیولو ته وګوماره.

د سلطان غیاث الدین وروسته سلطان مغزالدین غوري چې په سلطان شهاب الدین باندې مشهور دی، پاچا شو دی یو مدبر شخصیت و او د خپل ورور شاهنشاهي یې وساتله. د سلطان شهاب الدین د سلطنت دوره ۳۳ کاله وه. د سوبمن د څېړنیز اثر «پښتانه په هند کې» له مخې سلطان شهاب الدین یوولس ځله هند ته تللی دوه ځله یې ماته خوړلې او نهه ځله بریالی شوی دی.۱۷۷ سلطان شهاب الدین غوري د پښتنو له برمه ډکه یوه ستره امپراتوري جوړه کړه چې د شمال پوله یې د امو سین، لوېدیځه پوله تر مروې، طوس او سرخس، د سوویل پوله د هند تر سمندر او ختیځ پوله یې د هندوستان تر وروستۍ ختیځې څنډې ته غځېدلې وه ...او په منځنۍ اسیا کې یې د پام وړ اغېز پرې ایښی دی.۱۷۸ سوبمن د پوهاند جیپ د هند تاریخ کښونکي له خولې وایي چې د اند خوی، تارین او انهیلوارا له درې ګونو ماتو سره سره سلطان په منځنیو پېړیو کې ستره امپراتوري جوړه کړه او په دې برخه کې دی تر محمود وړاندې دی.۱۷۹ د سلطان شهاب الدین د شهادت نه وروسته د غور شاهنشاهي ټوټې ټوټې شوه. د هېواد شمالي ولایتونه، غور او هرات خوارزم شاهیانو ونیول، سیستان د سیمه یزو ملکانو لاسته ورغی او د غزني ولایت، کابل او ختیځې سیمې تر سینده پورې د غوریانو د دربار خدمتګار (تاج الدین یلدوز) ونیولې. په پای کې د مغولو تاړاکونو د غوریانو واکمني پای ته ورسوله. د هرات جامع جومات، د غور د جام څلی او د ډهلي قطب منار د دوی تلپاتې یادګارونه دي.

د سلطان شهاب الدین د مړینې وروسته غلام قطب الدین ایبک په ۱۲۰۶ کال کې د غور د دربار په اجازه د خپل قلمرو (هندوستان) خپلواک حکومت اعلان کړ. له دغې نېټې راهیسې تر ۱۵۲۶ کال پورې چې سلطان ابراهیم لودي ته بابر د پاني پت په جګړه کې ماتې ورکړه دغه دوره د «ډیلي سلطنت» په نامه یادیږي. د ډیلي سلطنت دوره چې ۳۲۰ کاله اوږده شوه ډېرې کورنۍ لکه د قطب الدین ایبک کورنۍ، د غلام التمش کورنۍ، د غلام بلبن کورنۍ، د تعلق شاهانو کورنۍ، د غلجیانو کورنۍ، د سیدانو کورنۍ او د لودیانو کورنۍ یو پر بل پسې واکمنې شوې.

د لودي کورنۍ د واکمنۍ نسکورېدل په هند کې د افغانانو د واکمنۍ پای نه و. د لودي کورنۍ د نسکورېدو وروسته پښتانه د فرید خان په مشرۍ چې د سوري شیرشاه په نوم نامتو شو په هند کې د سوریانو امپراتوري جوړه کړه. د مخه مو یادونه وکړه چې سوریان

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اصل کې د غور اوسېدونکي وو. خو د شېرشاه نیکه ابراهیم سوري د بهلول لودي د واکمنۍ پر مهال له شېرګرد نه چې د ګوملې رود ته نږدې پروت دی، هند ته مهاجرت وکړ او د هند په روتاس کې استوګن شو او په هغه ځای کې مځکې ورکړل شوې. د بابر د مړینې وروسته کله چې همایون د خپلو ورونو سره په مبارزه بوخت و د هند پښتانه په هند کې د خپلې واکمنۍ د ژوندي کولو په موخه د فریدخان په چاپېر راټول شول او د ده په مشرۍ یې بنګال، بهار او رهتاس چې د بهار تر ټولو ټینګه کلا وه، ونیول. همایون د شېرشاه د ګواښ په وړاندې مقابله ته ملا وتړله خو د څو جګړو وروسته چې د ده او شېرشاه تر منځ وشوې همایون ماته وکړه او د ۱۲۵۳ کال کې د پنجاب، سند او بلوچستان له لارې فارس ته وتښتېد. شېرشاه له دې وروسته د شاه لقب اختیار کړ او د خپلې واکمنۍ پراختیا ته یې پام وکړ او یو زیات شمېر ځایي واکمن چې تر دې مهاله خپلواک وو، د خپل واک تابع کړل. نوموړی په ۱۵۴۸ کال کې د کالینجر د کلا د نیولو پر مهال د باروتو د چاودنې له کبله د دې نړۍ نه سترګې پټې کړې. د کاکړ په وینا شېرشاه په نسبي توګه د واکمنۍ مرکزي سیستم او اغېزمنه اداره جوړ او تنظیم کړل چې د مخه لودیانو پیل کړي و. په دې برخه کې هغه د مالیې او قضا په ادارې کې سمون راووست. شېرشاه په خپلې لنډې واکمنۍ کې د هند په تاریخ کې یو داسې لوړ اداري سیستم منځ ته راووړ چې وروسته د ګورګاني ادارې بنسټ وګرزېد. خو د شېرشاه د مړینې وروسته د پښتنو د بې اتفاقۍ په پایله کې د کورنیو جګړو له کبله د ده امپراتوري تجزیه شوه.

شېرشاه سوري د خپلې مړینې نه د مخه خپل مشر زوی عادل خان خپل ځای ناستی ټاکلی و. خو د شېرشاه د دربار لویانو د خپل مشر د هیلې پرخلاف غوښتل چې د خپلې خوښې یو څوک پر تخت کښېنوي. د دربار لویان په دې اړه سره جرګه شول او عیسی خان حجاب چې د شېرشاه تر ټولو لوی امیر او ډېر نږدې سړی و د شېرشاه د کشر زوی جلال خان په پلوی ودرېد. ده د جرګې غړو ته د دواړو ورونو د خویونو د پرتله کولو په ترځ کې د جلال خان په وړتیا ټینګار وکړ. په دې توګه جلال خان د اسلام شاه سوري په نوم د هندوستان پاچا شو. اسلام شاه خپل مشر ورور عادل خان اګره ته راوغوښت چې پاچاهي ورته وسپاري. هغه ووېرېد خو وروسته د امیرانو د تسلۍ له مخې خپل ورور ته راغی. خو څنګه چې یو عیاش سړی و نو د پاچاهۍ پر ځای د یوه جاګیر په اخېستلو قانع شو او (بیانه) په جاګیر کې ورکړه شوه او هغې خواته لاړ.

اسلام شاه سوري له یوې خوا یو زړور، هوښیار او د ټینګې ارادې څښتن و او په خپله نهه کلنه واکمني کې یې ښه کارونه تر سره کړل. د بلې خوا هغه یو بد ګومانه سړی و

(c) ketabton.com: The Digital Library



او خپل نږدې او د ده خیر غوښتونکي امیران یې ووژل او په دې توګه یې د پلار امپراتورۍ کمزورې او د پښتنو امیرانو په منځ کې د بې اتفاقۍ سبب شو.

اسلام شاه که څه هم یو زورواک پاچا و خو نوموړي نه یوازې د خپل پلار شیر شاه اداري سیستم وساته بلکې هغه ته یې پراختیا ورکړه. اسلام شاه د علم او ادب سره مینه درلوده او په خپله عالم او شاعر و. ده د پوهانو او ادیبانو سره مباحثې او مجلسونه جوړول او د علم د پرمختګ دپاره یې هڅې کولې. دی د خپلې امپراتورۍ د خلکو د ترقۍ او سوکالۍ ډېر لېوال و. نوموړي د خپل پلار د ۱۷۰۰ مسافر خانو برسېره ۳۴۰۰ مسافرخانې جوړې کړې. پوستي سیستم یې په بې ساري توګه تنظیم کړی و.۱۸۰

د اسلام شاه د مړینې وروسته په هند کې د پښتنو امپراتورۍ چې شېرشاه جوړه کړې وه د اسلام شاه ځای ناستو د بې کفایتۍ او د پښتنو امیرانو د بې اتفاقۍ له کبله ړنګه شوه.

د اسلام شاه د مړینې وروسته د ده ۱۳ کلن زوی فیروز د پلار د وصیت سره سم پر تخت کېناست. تاج خان کرلاڼی د شیرشاه جنرال او د اسلام شاه باوري او پوه امیر د هغه سرپرست وټاکل شو. تاج خان کرلاڼي د یوه مدبر او هوښیار امیر په توګه په ډېر ښه ډول د پاچاهۍ چارې سنبال کړې. هغه لوړ امیران چې د اسلام شاه له لاسه دردېدلي وو د تاج خان په سرپرستۍ راضي نه وو.

د بده مرغه د تاریخ هندوستان په حواله درې ورځې تېرې نه وې چې د شیرشاه وراره مبارز خان، چې د سلیم شاه د وېرې یې ځان په لېونتوب اچولی و، فیروز یې د مور د زاریو سره سره ووژه چې د تخت کښېنولو وروسته یې د عادل شاه لقب غوره کړ. عادل شاه د پاچاهۍ وړتیا نه درلوده او د اسلام شاه په څېر یې د مشرانو په رټلو پیل وکړ. دا یو بې کفایته سړی و او په پیل کې یې ځینې امیران ووژل او ځینې نور یې بندیان کړل. تاج خان کرلاڼي د خپلې پوهې په برکت ځان ګولیار ته ورساوه. دغه ربابي پاچا خپل اوښي ابراهیم خان سوري ته هم بد نیت درلود او نوموړی بیانې ته وتښتېد. په دې توګه د عادل شاه په پاچاهي کې بې نظمي پیل شوه.

د لوی شیرشاه وزیرانو ابراهیم سوري او احمد خان سوري چې د عادل شاه د تره زامن وو د ده په وړاندې پورته کړل. تاج خان کرلاڼی په سوویلي بهار کې پاڅون وکړ او محمد خان سوري په بنګال کې د پاچاهۍ اعلان وکړ. د دغو بې اتفاقیو له کبله ګورګانیانو د همایون په مشرۍ بیا د هند د نیولو تکل وکړ.

د بابر زوی همایون د پښتنو د بې اتفاقۍ نه ګټه پورته کړه او د خپل تکړه ترکي جنرال

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیرام خان په مرسته یې په ۱۵۵۵ کال کې په سرهند کې پښتنو ته ماتې ورکړه او د خپلې کورنۍ واکمني یې راژوندی کړه. وروسته پښتنوپه ۱۵۵۶ کال کې د پاني پت په ډګر کې د مغلو د پوځ په وړاندې ماتې وخوړه او په دغه تاریخي جنګ سره شمالي هندوستان د پښتنو له لاسه ووت، خو په بهار او بنګال کې بیا هم د دوی قدرت ټینګ و.

د مخه مو یادونه وکړه چې محمد خان سور په ۱۳۵۳ کې په بنګال کې پاچاهي اعلان کړه او په ۱۳۵۵ کې یې بهار او جونپور لاندې کړل او یوه لویه پاچاهي یې جوړه کړه. خو محمدشاه د عادل شاه د پوځ سره د هیمو په قوماندنۍ په جګړه کې ووژل شو او د ده د سلطنت ټولې سیمې عادل شاه ته پاتې شوې.

د وژل شوي محمدشاه امیرانو د ده زوی حضر خان خپل واکمن وټاکه او د بهادرشاه لقب یې ورکړ. بهادرشاه په بنګال برید وکړ او دا ځای یې د عادل شاه نه ونیو. بهادرشاه بیا بهار ونیو او تاج خان یې د بهار والي وټاکه. د بهادرشاه د مړینې وروسته د ده ورور جلال خان چې یو ډېر ځیرک او هوښیار سړی و د جلال شاه په نوم پر تخت کښېناست. خو د بده مرغه دغه عقلمن پښتون پاچا ژر له فاني نړۍ نه سترګې پټې کړې. د ده په مړینې سره په بنګال کې اله ګوله پیدا شوه او په پایله کې تاج خان کرلاني چې د بهار والي و، په بنګال یرغل وکړ او ویې نیو. په دې توګه تاج خان کرلاني په بهار او بنګال کې د کرلاني پښتنو د واکمنۍ بنسټ کېښود.

## په ختیځ هند کې د کرلاني پښتنو سلطنت

د سید بهادر شاه ظفر کاکاخېل په وینا د کرلانو قبیلې د سوریانو په دوره کې ډېر شهرت وموند. د دوی د شهرت لامل د دې قبیلې دوه غړي تاج خان او سلیمان خان وو. دوی د جمال خان کرلاني زامن وو. د پښتنو په تاریخ کې د لومړي ځل له پاره د تاج خان او سلیمان نومونه د شیرشاه د جنرالانو په حیث د قنوج په جګړه کې لیدلی شو. په دې جګړه کې شیرشاه همایون ته ماتې ورکړې وه. شیرشاه دغو دوو ورونو ته په خواص پور، ټانډه او سوویلي بهار کې جایدادونه ورکړي و. شیرشاه تاج خان د خپلې وړتیا له مخې د خپل زوی جلال خان سرپرست ټاکلی و چې وروسته د اسلام شاه په نامه د هغه ځای ناستی شو.

د اسلام شاه په وخت کې تاج خان د ډېر قدرت خاوند و او دی یوازینی امیر و چې اسلام شاه پوره باور ورباندې درلود. له دې کبله اسلام شاه هم تاج خان د خپل نابالغ زوی فیروزشاه سرپرست وټاکلو.

د مخه مو یادونه وکړه چې تاج خان په بنګال او بهار کې د کرلاني پښتنو د سلطنت

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنسټ کېښود. تاج خان کرلانی مدبر مشر او پوځي سیاستمن و. دی پوهېده چې مغول د بنګال نیولو ته ډېر لېوال دي. ځکه نوموړي د خپلې واکمنۍ په لومړي سر کې دا پالیسي غوره کړه چې له مغولو سره د زور په ځای دوستانه اړیکې ټینګې کړي. دا سیاست د قواوو د انډول له مخې ډېر پر ځای سیاست و. ده د مغولي حکومت د ختیځو صوبو د حاکم سره ډېر ښه چلند غوره کړ. خو دغه مدابر واکمن زر مړ شو. ټول مورخینو دا پښتون واکمن ډېر لایق، پوه او فاضل انسان ګڼلی دی.

د تاج خان د مړینې وروسته د نوموړي ورور سلیمان کرلاني، چې د خپل ورور غونډې د شېرشاه جنرال و پر تخت کښېناست. د سلیمان کرلاني واکمني په ختیځ هندوستان کې یوه ځلانده تاریخي دوره ده. سلیمان شاه د خپل ورور په شان هوښیار، مدبر او لوی سیاستپوه و. نوموړي د پښتنو د سلطنت په ټینګتیا کې بریالي ګامونه پورته کړل. یو دا چې ده هغه ښه اداري پالیسي چې تاج خان غوره کړې وه پرمخ بوتله او هغې ته یې نوره پراختیا ورکړه. ده د مغولي حاکم خان زمان سره خپلې اړیکې نورې هم ښې کړې په دې چې د اکبر مغولي واکمن ته دا موقع په لاس ورنه کړي چې د بنګال په لور را د مخه شي. دا د سلیمان کرلاني دپاره لوی بری و.

بل دا چې سلیمان شاه د ټولو تیت او پرک پښتنو د راغونډولو له پاره بنګال او بهار په یوه خوندي ځای بدل کړل او د دوی په راتګ سره د سلیمان کرلاني ځواک نور هم زیات شو. د سوبمن په وینا د سلیمان کرلاني پاچایي د شېرشاه د واکمنۍ په شان د پښتنو له پاره د نېکمرغۍ زمانه وه.

سلیمان کرلانی یو پرهېزګار، علم پالونکی او عادل واکمن و. نوموړی د بهار په یوه کتیبه کې د خپلې پرهېزګارۍ له امله د سلیمان ثاني په نامه یاد شوی دی.۱۸۱

د سلیمان کرلاني د واکمنۍ پر مهال ابراهیم سوري د پرله پسې ماتو له کبله د اوړیسې د سیمې هندي راجا ته پناه وړې وه. د راجا موخه دا وه چې د ابراهیم سوري نه د بهار او بنګال د نیولو له پاره ګټه پورته کړي. اکبر پاچا هم د ابراهیم خان سوري نه همدا ډول هیله درلوده چې د بنګال نیولو ته یې وپاروي. سلیمان کرلانی د دې سیاسي لوبو نه ښه خبر و. هغه مهال چې اکبر پاچا د چتور په پوځي یرغلونو بوخت و، نو د دې موقع نه په ګټه اخېستلو سره سلیمان شاه اوړسیه ونیوله او په خپل سلطنت کې یې شامله کړه. سلیمان کرلاني هېڅکله ځان ته پاچا نه وایه په دې چې اکبر پاچا خوښ وساتي چې ګویا د مغلو امپراتورۍ اطاعت کوي. ده سرکښو پښتنو امیرانو ته دا موقع نه ورکوله چې د مغولو سره لاس په ګرېوان شي. په دې ډول دې مدبر او هوښیار پښتون سلیمان کرلاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ختیځ هندوستان کې د پښتنو سلطنت د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې ټینګ وساته. له بده مرغه د دغه پښتون پاچا د واکمنۍ ورځې شپې لنډې وې او له اوه کلو پاچاهۍ وروسته په ۱۵۷۲ زیږدي کال کې مړ شو.

د سلیمان شاه د مړینې وروسته د هغه مشر زوی بایزید پر تخت کښیناست. نوموړی خپلسری، لنډ فکره او په سیاست نه پوهېده. د خپل پلار سیاسي لار یې پرېښودله، خطبه او سکه یې په خپل نوم جاري کړه. بده یې لا دا وه چې نوموړي په پښتنو امیرانو پسې راواخیسته. هغوی د ځان د وېرې له امله دی د قتلو خان لوهاني په مشرۍ د واک په اتلسمه ورځ وواژه.

د بایزید وژنې د پښتنو تر منځ قبیلوي کینې او تعصوبونه بیا راژوندي کړل او هغه حالت بیا منځ ته راغی چې د اسلام شاه د مړینې نه وروسته منځ ته راغلی و. امیران په خپل منځ کې ډلې ډلې شول او د تخت دپاره درې تنه دعوه لرونکي ودرېدل. په پای کې د وزیر لودي په ورتیا او وفادارۍ د سلیمان دوهم زوی داود کرلاني د پاچا په حیث ومنل شو.

لودي یو ډېر وړ او لایق انسان و او د ده له پاره د پښتنو یووالي تر هر څه ډېر ارزښت درلود. دغه لامل و چې هغه په خپل تدبیر او ورتیا سره په پښتنو کې یووالی ټینګ کړ. داود په لومړي سر کې د خپل وړ او پوه وزیر په مشورو او لارښوونو عمل کاوه. خو دا حالت ډېر اوږد نه شو.

داود چې د ځوانۍ په جوش کې و د احتیاط او لرلید پالیسي پرېښوده او د خپل پلار د سیاست پرخلاف ځان ته د پاچا خطاب غوره کړو، خطبه او سکه یې په خپل نوم جاري کړه او د مغولو د حکومت په شان یې خپلو امیرانو وزیرانو ته خطابونه ورکول پیل کړل. داود کرلاني په دې توګه اکبر ته بهانه په لاس ورکړه چې په بنګال برید وکړي. داود د ځینو امیرانو په لمسون لومړی د تاج خان زوی یوسف خان وواژه او بیا د قتلوخان لوهاني، ګجرخان کرلاني او سري هاري هندو په لمسون یو ستر پښتون لودي چې د پښتنو یووالی یې ټینګ کړی و، وواژه. د لودي په وژلو سره په پښتنو کې بیا لویه بې اتفاقي منځ ته راغله.

ابو الفضل وایي چې دا د شاهنشاه اکبر خوش قسمتي وه چې داود په خپله هغه کار ترسره کړ چې د شاهنشاه نوکرانو د خپلو بهترینو کوښښونو سره سره ترسره نه شو کړای.۱۸۲ د ابو الفضل دا وینا د لودي د شخصیت د لوړتیا، لیاقت او سیاسي لرلید روښانه ثبوت دی. قتلو خان او سري هاري نه یواځې دا غداري وکړه بلکې وروسته یې د مغولو سره د داود په وړاندې سازش وکړو.

د مخه مې یادونه وکړه چې داود کرلاني اکبر پاچا ته پلمه په لاس ورکړه چې پر وړاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې جدي ګامونه پورته کړي. اکبر سمدلاسه خپل مغول وایسره منعم خان ته لاربښوونه وکړه چې په بنګال برید وکړي. منعم خان د یوه لوی پوځ سره په بهار برید وکړ. داود پټنې ته په شا شو او په کلا کې کلابند شو. کلابندي اوږده شوه او په پای کې په ۱۵۷۲ کې اکبر پاچا د لوی پوځ سره راغی او پښتنو د کلا خالي کول ومنل او داود بنګال ته وتښتېد. تر ۱۵۷۴ پورې پښتنو د سراج ګړ، منیګر، بهاګلپور، کل ګنګ او نورې سیمې له لاسه ورکړې.

په ۱۵۷۵ کال د مغولو او پښتنو تر منځ د توکاري په مقام درنه او خونړۍ جګړه وشوه. دا ځل میدان پښتنو وګټلو. خو د دې پر ځای چې پوره بریالیتوب پورې دښمن وځپي په لوټ بوخت شول. مغولو چې ولیدل چې پښتانه په لوټ بوخت دي بېرته راوګرځېدل او برید یې پرې وکړ او وېې ځغلول او د سر او مال دروند زیان یې ورواړاوه.

د راج محل جګړه د مغولو او پښتنو تر منځ وروستۍ جګړه وه چې په هغه کې پښتنو ماتې وخوړه او داود د مغولو د جنرال خان جهان په امر ووژل شو. په دې ډول په هند کې د پښتنو سلطنت پای ته ورسېد.

کاکړ وایي چې په بنګال او اوړیسه کې ددوی ماتې پښتانه اړ کړل چې د مغولو واکمني ومني. په هند کې د مغولو په وړاندې د پښتنو وروستی او ډېر غښتلی پاڅون د خان جهان لودي په مشرۍ چې د شاه جهان په پوځ کې افسر و، د شاه جهان پر ضد وشو او د بده مرغه په دغه جګړه کې چې کالینجر ته نږدې وشوه هغه ووژل شو.د هغه د مړینې وروسته پښتنو چې د هند په ځینو برخو کې خپلواک وو، خپل نظامي تشکیلات او سیاسي واک له لاسه ورکړ. د اتلسمې پېړۍ په پای او د نولسمې پېړۍ په پیل کې په منځني هند کې پښتنو پاڅون وکړ. دغه مهال د هند مغولي واکمني مخ په ځوړ وه او د انګرېزانو د ختیځ هند کمپنۍ د هند سیمې یو پر بل پسې نیولې او د ۱۸۱۷ کال په نومبر کې انګرېزانو د دغو پښتنو سره اتحاد وکړ او د دوی مشر امیر خان یې د ټونک (Tonk) د نواب په توګه په رسمیت وپېژاند.۱۸۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



*اوم څپرکی*

# افغانان او مغول

په افغانستان او هندوستان کې د مغولو د واکمنۍ په دوره کې چې بابر شاه پیل کړه افغانانو خپل مقاومت ورسره پیل کړ.کاکړ دا مقاومت په درې مرحلې ویشي:

## لومړۍ مرحله: په افغانستان کې د بابر په وړ اندې د پښتنو مقاومت

تړۍ وایي چې بابر کابل په ۱۵۰۴ کال کې ونیو خو کله چې په ۱۵۰۵ کال د جون په میاشت کې د کابل نه د هندوسستان د سفر په نیت وزي له پښتنو سره یې د مخامخ کېدو او جګړو ګذرشونه پیل کیږي چې د ده په خپل کتاب بابرنامه کې بیان شوي دي. د بابر دغه سفر د جګدلک له لارې پیل کیږي او په ګرم چشمې کې لومړی ځل د پښتنو سره مخامخ کیږي. بابر وایي چې په همدې ځای کې «د ګیګیانو یو مشر، فاجي، ظاهراً، له خپل کاروان سره راوستل شو. موږ هغه راسره بوته چې لار راوښيي.»۱۸۴

بابر په دغه سفر کې له خیبر نه اوړي او جم ته رسیږي او د هغه ځایه کوهاټ په لور خوځیږي او په کوهاټ کې ډېرې زیاتې د غویو ګلې او مېښې د ده لوټمارو پوځیانو لاس ته ورځي او بیا د کوهاټ نه د هنګو په لار بنګشو ته روانیږي او په لاره کې په افغانانو له هرې خوا برید کوي او د ځینو سرونه پرې کوي او سل دوه سوه نیسي او بیا سرونه ورڅخه پرېکوي او له سرونه یې په خپل کمپ کې څلی جوړوي. بیا په هنګو کې د افغانانو د سرو نه څلی جوړوي او بیا ټل ته ځي او له هغه وروسته په بنو یرغل کوي او هلته د افغانانو د سرو نه څلی جوړوي. د بنو نه وروسته دشت ته ځي او په عیسي خېلو باندې بریدونه کوي او د بابر لوټمارانو ته د مېږې رمې او د غویو ګلې په لاس ورځي او همدارنګه د سوداګرو افغانانو نه چې په لاره کې ورسره مخامخ شوي وو، سپین رخت، خوشبویه ریښې، بوره او د خرڅلاو له پاره روزل شوي اسونه لاس ته راوړي. د هغه ځای نه د غزني له لارې کابل ته ځي او په لاره کې د سیمې پر افغانانو بریدونه کوي ، وژني یې او مالونه یې لوټوي.

دا ځل بابر نیت وکړ چې د غلجیو په کلات برید وکړي. دی د کلات په کلا کې د جګړې په مهال د ځینو نامتو مېړونو د وژل کېدو له بیان نه وروسته لیکي چې «جګړه تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مازدیګره روانه وه او په داسې حال کې چې زموږ جنګي مېړونه جګړې او کار له پښو وغورځول، د کلا د ننه خلکو د سولې غوښتنه وکړه او تسلیم شول.»۱۸۵ بابر د کلات په سوویل کې د سواسنګ او الاتاغ په پښتنو یرغل وکړ او بیا کابل ته ستون شو.

بابر په ۱۵۰۷ کال د می په میاشت کې په غلځیو باندې د یرغل په نیت خوځېږي او د کټواز د دښتې نه تېرېږي او د غلځیو نه بې شمېره مېږې او پسونه لوټوي او د افغانانو د ککریو نه ځلی جوړوي او لیکي چې له هغوی نه یې «یو لک مېږې او پسونه بوتلل.»۱۸۶

بابر د ۱۵۰۷ کال د دسمبر په میاشت کې یو ځل بیا د کابل نه د هند په نیت روانېږي او د خپل سفر په پیل کې د پښتنو د بیلو بیلو قبیلو او په ځانګړې توګه د جګدلک او لغمان تر منځ د پښتنو سره خپل ټکرونه بیانوي. بابر دا ځل تر کنړه پورې ځي، د هندوستان د تګ نه لاس اخلي او بېرته کابل ته راستنېږي.

بابر په ۱۵۱۹ کال کې د باجوړ په کلا یرغل کوي او نیسي یې. د کلا د اوسېدونکو ټولوژنه ترسره کوي. دی د دې له پاره چې د یوسفزو ولس خپل کړي د شاه منصور د لور بي بي مبارکې سره واده کوي او بېرته کابل ته خوځېږي.

بابر په ۱۵۲۳ کې بیا د هند په لور د خپل پوځ سره وخوځېد او لاهور یې د پښتنو نه ونیو او میرزا عبدالعزیز ته یې وسپاره او راستون شو. د ۱۵۲۵ کال په دسمبر کې د هند په لور وخوځېد او کابل یې خپل زوی میرزا کامران ته پرېښود. نوموړي په ۱۵۲۶ کال د اپرېل په میاشت کې د پاني پت په جګړه کې ابراهیم لودي ته ماتې ورکړه او په هند کې یې د مغولي واکمنۍ بنسټ کېښود.

په دې توګه بابر شاه د خپلې واکمنۍ په لومړیو پنځلسو کلونو کې هڅه وکړه چې د کابل د سیمې افغانان د ده سلطې ته سر کېږدي. د دې موخې د لاسته راوړلو له پاره یې زیات پوځي بریدونه ترسره کړل. ځینې وختونه یې افغانان خپل اطاعت ته اړ کړل او مالیات به یې په جنس ورکول. خو په عمومي توګه تر هغه مهاله چې بابر شاه په ۱۵۲۶ کې ډېلی ونیو افغانانو خپله خپلواکي وساتله او یوازې یې هغه وخت مالیات ورکړل چې دوی اړویستل شول. څنګه چې بابر ونه کړای شول چې منظم مالیات راټول کړي چې پر هغې دولت تنظیم کړي او لوی اردو جوړ کړي. له دې کبله یې کابل، چې زیاته مینه یې ورسره درلوده، پرېښود او په هندوستان یې یرغل وکړ. سره له دې هغه د افغانستان حاکمیت خپلو زامنو ته په میراث پرېښود او د مصلحت او په ځواک ډېره لګولو د ټاکټیک نه یې کار اخېسته. خو دا کوچنی بریالیتوب هم د ده د مړینې نه وروسته په هېڅ بدل شو څکه چې افغانانو د همایون پر ضد د شاه زوی کامران ملاتړ وکړ. د لودي کورنۍ د واکمنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نسکورېدل په هند کې د افغانانو د واکمنۍ پای نه و. د لودي کورنۍ د نسکورېدو وروسته پښتانه د فرید خان په مشرۍ چې د سوري شیرشاه په نوم نامتو شو په هند کې د سوریانو امپراتوري جوړه کړه چې د مخه مو بیان کړې ده..

## دوهمه مرحله: د روښانیانو ملي ازادي غوښتونکی غورځنګ

د هند د مغولو پر وړاندې، چې د هېواد ختیځه برخه یې لاندې کړې وه، د افغانانو د ملي ازادي بخښونکي غورځنګ دوهمه مرحله د روښان پیر په مشرۍ پیل شوه. بایزید روښان د شیخ عبدالله زوی و. شیخ عبدالله د سوویلي وزیریستان د کاني ګرم اوسېدونکی او اورمړ افغان و. بایزید روښان په یوه علمي کورنۍ کې د هند په جلندر کې زیږېدلی دی. نوموړی لا د اوو کالو ماشوم و چې د لودیانو واکمني د مغولي بابر په لاس رانسکوره شوه. دغه وخت د شیخ عبدالله کورنۍ بېرته کانیګرم ته راستانه شوه.

بایزید لومړی زده کړې چې هغه مهال دود وې د خپل پلار او پاینده نه ترسره کړې او راز راز دینونه یې مطالعه کړل او بیا یې توران او هندوستان ته سفرونه وکړل او ځینې وختونه یې د اسانو سوداګري هم کوله. په هند کې د شیرشاه سوري سره اشنا او په هند کې یې د شیرشاه سوري د مهال شان او پرتم لیدلی و.

روښان پیر چې په کندهار کې په کندهاریانو د مغولو د انسانیت نه وتلي زور زیاتي راپارولی و، د هند دمغولي واکمنو په ضد د مبارزې بیرغ پورته کړ لکه چې وروسته میرویس خان هوتک هم په کندهاریانو باندې د ګورګین ظلمونو راپارولی و. روښان پیر د وزیریستان په کاني ګرم کې د عرفان او تصوف له لارې یو فکري نهضت پیل کړ او خپل مریدان یې راټول کړل. ده د مغولو د ظلم په وړاندې خلکو ته دا تبلیغ کاوه چې مذهب افغانانو ته دا اجازه ورکوي چې د دغو ظالمانو د ظلم نه ځان ازاد او وژغوري لکه چې وروسته میرویس نیکه د ګورګین د ظلمونو په وړاندې د مکې معظمې د دیني عالمانو نه فتوه واخېسته چې دغې فتوې د پردیو د ظلم په وړاندې د ازادۍ په لاره کې د افغانانو مبارزه روا وګڼله. روښان پیر د خپلو پلویانو په زیاتېدو سره د یوې خوا خپل مذهبي اغېز ته دوام ورکاوه او د بلې خوا یې سیاسي اغېز غښتلی کېده.

جان لیډن وایي چې د روښان پیر د پلویانو په زیاتېدو سره د مذهبي اړخ تر څنګ سیاسي اړخ هم غښتلی کېده. دی زیاتوي چې «روښاني نهضت چې د خپل بنسټ ایښودونکي د ستر نبوغ او استعدد نه برخوردار په دوو اساسي ستنو یعني مذهبي او ملي اصولو ولاړ و، نږدې یوه پېړۍ د مغلو د امپراتورۍ تر ټولو نه ښېرازه او اباده دوره کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نفوذ نيلی وزغلاوه او سره له دې چې د اکبر مغل د واکدارۍ له ابتدا نه بيا د شاه جهان تر وخته پورې يې، د ځپلو دپاره ببدريغه هڅې وشوې، روښاني عقيدې خپلې ودې او ارتقا ته دوام ورکړ.»۱۸۷

روښان پير د پښتنو د خپلواک دولت د جوړېدو اړتيا ته پام شو. ده نه يوازې دا اړتيا په ګوته کړه بلکې د هغه د پلي کولو له پاره يې عملي ګامونه واخېستل. ده او د ده کورنۍ په دې لاره کې دومره سترې سرښندنې ورکړې چې د پوهاند ډاکټر کاکړ په وينا « په شپاړسمه پېړۍ کې د ميا روښان کورنۍ ياني په خپله هغه، د هغه زامنو او د هغه لمسيانو چې د خپلواکۍ په لار کې کومې قرباني ورکړې، شايد په نړۍ کې بلې کورنۍ د خپلواکۍ په لار کې دغومره قرباني نه وي ورکړې.»۱۸۸

روښان پير د دې سترې موخې د تر سره کولو له پاره د افغانانو په منځ کې يو ساده خو د قبيلو د کچې نه لوړ سازمان جوړ کړ او عشر يې د خراج په نامه په خپلو پلويانو وضع کړو او د جګړې د غنيمتونو پنځمه برخه يې هم اخېسته. په دې توګه يې يو بيت المال منځ ته راووړ چې د هغه په مرسته خپل پوځي ټولګي تمويل کړي او هم د بې وزلو او غازيانو سره مرسته وکړي.

بايزيد روښان همدارنګه د څو زرو سوارو او پليو اردو جوړ کړ او اعلان يې وکړ چې «هند به فتح کړم هر څوک چې اس لرى راځي دې د اکبر پاچاهي زموږ ده.»۱۸۹

روښان پير د خپلو فکرونو د خپروي په موخه د خپل ټاټوبي نه تيراه ته ولاړ او هلته ډېر اپريدي، اورکزي، بنګش او تيراهي د ده د لارې مله شول. بيا پېښور ته ولاړ او هلته يې ډېر خلک مريدان شول. روښان پير په جلال اباد باندې د جګړې پر مهال چې پوځي ډلې يې ماته وکړه جل وواهه او مړ شو. خو د روښان پير د مړينې وروسته د ده په لاس د ايښودل شوي ملي ازادي بخښوونکي غورځنګ بله شوې ډېوه د ده زامنو او لمسيو روښانه وساتله.

د روښان پير د مړينې وروسته «د ده زامنو چې هر يوه يې ځان د پښتنو پاچا اعلان کړی و د پاڅون بيرغ رپانده وساته. جلال الدين روښان، وروسته له دې چې ټول مشر ورونه يې په مبارزه کې له لاسه ورکړي وو، په څوارلس کلنۍ کې د پلار په مسند کښېناست. جلال الدين روښان د نړۍ د ډېرو فعالو مشرانو په ډله کې راځي. پيروان يې له کابل نه تر پېښور پورې فعال وو، يواځې يوسفزي ۲۳ ځله د مغولو پر ضد ولاړ شول. روښانيانو په مختلفو وختونو کې پېښور محاصره کړ او له کابل او غزني څخه يې حاکمان وشړل، خو په پای کې ټول ناکام شول.»۱۹۰ په ۱۵۸۶ کال کې مومند د مغولو په وړاندې جګ شول او پېښور يې کلابند کړ او مغولي جنرال مان سنګ چې د پېښور د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلابندی د ماتولو او ازادي غوښتونکو د ځپلو په موخه استول شوی و هم خیبر پر مخ تړلی ولید او مات شو. په ۱۵۸۷ کال کې زین خان صوبه دار سوات او باجوړ ته لښکر وایست خو د یوسفزیو له خوا مات شو او په دغه جګړه کې د جلال الدین مشاور راجا بیربل د اتو زرو مغولي جنګیالیو سره د کړپه په تنګي کې ووژل شو. په ۱۶۲۰ کې د مغولو یوه لویه قوه تیراه ته ننوتله چې کلکه ماته یې وکړه. پوهاند کاکړ د روښاني غورځنګ د ناکامۍ درې لاملونه په ګوته کړي دي:

لومړی لامل یې دادی چې غیر روښانیانو (حمزه ملک، د تیراه اوسېدونکي او نور) د خپلو مالونو د لاسه ورکولو له امله د روښاني غورځنګ پر ضد ودرېدل او د مغولو لوری یې ونیو او همکاري یې ورسره وکړه.

دوهم لامل یې دا دی چې پیرانو، او عالمانو د اخوند درویزه او سیدعلي ترمیزي، چې په پیر بابا نامتو و، په مشرۍ د مغولو واکمنو د ملاتړ او هم د نظرونو دتوپیرونو له کبله د بایزید روښان پر ضد تبلیغ کاوه. دوی بایزید د «پیر تاریک» په نوم یادوه. خو بایزید د خپلو پلویانو له خوا د روښان پیر په نوم یادېده. د روښان پیر د پلویانو او مخالفینو له خوا دیني مشاجرې چې د اسلام په چوکاټ کې کېدې نوي نظریات منځ ته راوړل او څنګه چې دا مشاجرې په پښتو ژبه کېدې د هغې د ودې سبب شوې.

دریم او مهم لامل یې دا و چې مغولو د روښاني غورځنګ پر ضد پوځي ځواک یو موټی کړ. څنګه چې روښاني غورځنګ په داسې مهال کې د مغولو د امپراتورۍ سره د پښتنو د ازادۍ له پاره ډغرې وهلې چې د جلال الدین اکبر، جهانګیر او شاه جهان تر مشرۍ د ځواک لوړې څوکې ته رسېدلې وه.

دغو امپراتورانو د روښانیانو د غورځنګ پر ضد پوځي ځپونکي ګوزارونه او کله کله سوله یز اقدامونه کول. د بېلګې په توګه اکبر په پښتنو هېڅکله مالیه نه ده تپلې خو د روښانیانو پر ضد داسې مهال لښکر واستولو چې د روښان پیر زوی جلال الدین په ځورلس کلنۍ کې وروسته له هغې چې ټول مشر ورونه یې په جګړو کې د لاسه ورکړي وو، واک ته رسېدلی او ځان یې د پښتنو پاچا اعلان کړی و. روښانیانو په بېلو بېلو وختونو کې پېښور کلابند کړ او د کابل او غزني نه یې مغولي حاکمان وشړل. د کړپې په تنګي کې یې راجا بیربیل وواژه او نږدې ۸۰۰۰ د امپراتورۍ پوځیان ووژل شول. روښانیانو د مغلو ژر یو بل لښکر د سید حمید په مشرۍ بکرام (Bikram) ته نږدې مات کړ. په پای کې د مغولو پوځ چې د روښانیانو د لښکر نه څو ځله زیات او منظم و د جلال الدین او وروسته د ده ځای ناستي احداد عبدالقادر او کریم داد په مشرۍټول پاځونونه وځپل. په دې ترتیب تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۶۳۰ کال پورې روښاني غورځنګ په سیاسي توګه د منځه لاړ او یوازې په مذهبي توګه پاتې شو.

## دريمه مرحله: د خوشال خټک او ایمل خان مومند مبارزې

## د خوشال خان خټک مبارزې

د مغولو د واکمنۍ پر ضد د پښتنو د ملي ازادي غوښتونکي غورځنګ دریمه او وروستۍ مرحله د خوشال خان خټک شاعر او جنګیالي په مشرۍ پیل شوه. خوشال بابا د خپلې مبارزې په جریان او خپلو شعرونو کې دا نظر څرګند کړ چې پښتانه سره له دې چې په بېلو بیلو قبیلو سره وېشلي دي بیا هم د خپلو علایقو په لرلو سره یو واحد ملت جوړوي. خوشال خان خپل دا نظر د خپل شعر په لاندې بیت کې فرمول بندي کړ:

د افــغان په ننګ مې وتړله توره
ننګیالی د زمانې خوشحال ختک یم

خوشال خان د خپل پلار شاهباز خان د مړینې وروسته د خپل پلار پر ځای د خټکو د قبیلې خان وټاکل شو. ده د مغولو د واکمنو سره د خپل پلار غوندې همکاري پیل او خپله دنده یې په امانت داری سره تر سره کوله. خو خوشال خان د کابل صوبه دار له خوا د یوې دسیسې په ترځ کې ونیول شو لومړی په ډیلي کې بندي و او د هغه ځایه د رنتبهور بندیتون ته یووړل شو او دوه نیم کاله د رنتبهور په بندیتون کې ډېر کړاوونه وګالل. دی بیا د رنتبهور د بندیتون نه وایستل شو او اګرې ته یووړل شو او هلته له بنده ایله شو او په ډیلي کې نظر بند وساتل شو او وروسته پښتونخوا ته راستون شو او د مغلي واکمنۍ پر ضد یې مبارزه پیل کړه لکه چې وایي:

پــــس لـــه بنـــده دی دا عـــزم
د خوشـــــال د خـــــاطر جــــزم

یـــا نیـــولی مـــخ مکـــې تـــه
یـــــا مغولـــــو ســـــره رزم

خوشال بابا د مغولو پر وړاندې د خلکو د پارولو، د لښکرو د ټولولو له پاره د پښتنو بېلو سیمو ته ډېرې دورې وکړې او ټول پښتانه یې د ملت په توګه د مغولو پر ضد مبارزې ته رابلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې ترتيب د هند د مغولو پر ضد د پښتنو د مقاومت وروستۍ مرحلې تمثيلوونکی د پښتون ناسيوناليزم پلار او د اوسنۍ پښتو ژبې بنسټ ايښودونکی ستر شاعر او مبارز خوشال خان خټک دی. د ده سره په دغه مبارزه کې ايمل خان مومند او دريا خان اپريدی ملګري وو.

دا مرحله په رښتيا سره د يوسفزو په پاڅون سره پيل شوه. دوی په ۱۶۶۷ کال کې ان د اباسين د رود د هغې غاړې د مغولو پوځي موقيعتونه ونيول. د خوشال خان خټک په وخت کې يوسفزي، مومند او اپريدي د مغولو د حاکميت پر ضد تر ټخوا لا ټينګ ودرېدل.

## د ايمل خان مومند مبارزې

ايمل خان مومند د خپلواکۍ په لار کې هغه جګړه کلونه کلونه توده وساتله چې د روښان پير، د هغه زامنو او لمسيانو نږدې يوه پېړۍ د مغولو په وړاندې پرمخ بيولې وه. ايمل خان مومند اپريدي او مومند سره يو موټی کړل. کاکړ وايي چې د دغو قومونو ستراتيژيکي اهميت په دې کې دی چې منځنۍ اسيا له سوويلي اسيا سره په لنډ ډول سره نښلوي. مغولي واکمنو ته د خيبردره نه يوازې د سياسي او سوداګرۍ له امله ځانګړی اهميت درلود بلکې په روحي لحاظ هم مهمه وه چې دوی د دې لارې د خپل پلرني ټاټوبي فرغانې سره اړيکې درلودی شوې.

د خيبر دره چې د ډکې نه تر جمرود پورې غزېدلې ده د اپريدو سيمه ده. اپريدي هغه خلک دي چې په زيات ګومان د تاريخ پلار هيرودت د اپه ريتای په نوم ياد کړي دي. مومند د اپريدو ګاونډيان دي چې د کامې او پېښور تر منځ سيمې کې اوسيږي.

ايمل خان مومند د درياخان اپريدي په ملګرتيا دغه دواړه قومونه يو موټی کړل او د مغولو امپراتوري يې وننګوله. د هند د تاريخ پوه سرکار په وينا ايمل خان په اصل کې يو ذاتي جنرال و، پاچايي يې اعلام کړه، سکه يې په خپل نامه ووهله او ټول پښتانه قومونه يې په دغه ملي غورځنګ کې د ګډون له پاره وبلل.۱۹۱ په ۱۶۷۲ کال مومند او اپريدي د ايمل خان مومند په مشرۍ د مغولو په وړاندې پاڅېدل او د کابل مغولي صوبه دار محمد امين خان ته چې د يوه لوی پوځ په مشرۍ يې غوښتل د خيبر دره پرانيزي کلکه ماته ورکړه. د برتانوي هند د حکومت د جغرافيايي سيند له مخې امين خان ټول پوځ چې شمېر يې څلوېښت زرو ته رسېده د پوځي وسلو او سامانونو سره د لاسه ورکړ. پښتنو هم په دې جګړې کې ډېر جنګيالي له لاسه ورکړل. کاکړ وايي چې په نړۍ کې به دغسې جګړه کمه وي چې دغومره انسانان په کې وژل شوي وي. په ۱۶۷۳ کال کې اپريدو په ګنداو کې د مغولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهم لښکر مات کړ او یو کال وروسته یې په ۱۶۷۴ کال کې د مغولو دریم پوځ په خاپش کې مات کړ.۱۹۲

د دغو ماتو له امله پاچا اورنګ زېب اړ شو چې ډیلی پرېږدي او په ابدال حسن کې دیره شي. اورنګ زېب د حسن ابدال نه د پښتنو پر ضد د جګړې لارښوونه کوله او د ۱۶۷۴ کال نه د یو نیم کال په بهیر کې د خپلو وتلو جنرالانو اضغر خان او شجاعت خان په قوماندانی د پښتنو د ځپلو له پاره پوځونه واستول. خو دغو جنرالانو لږ بری او زیاته ماتې وخوړه او په خپله شجاعت خان په یوه جګړه کې ووژل شو. په پای کې اورنګ زېب پرته له دې چې په پوځي ډګر کې بریالی شي بېرته ډیلي ته ستون شو.

اورنګ زېب پوه شو چې د جګړې له لارې نه شي کولی چې خپلې موخې ته ورسیږي نو بیا یې د ډپلوماسی لار ونیوله. ده پښتنو ته د سوغاتونو، تنخواګانو او جاګیردارونو په ورکولو پیل وکړ. ده پښتنو ته د ننی خپلواکي ومنله تر هغو چې په ځرګند ډول یاغي نه وي. نومورې دغو قومونو ته د هندوستان او منځنی اسیا تر منځ د کاروانونو د ازاد تګ راتګ له پاره په کال کې شپږ لکه روپۍ ومنلې. برسېره پر دې هغه اپریدو، مومندو، شینوارو، یوسفزو، او ختکو ته په کاروانونو باندې د لارې د تېرېدو مالیې اخېستل ومنل. په دې توګه مغولي حکومت په تجربې سره پوه شو چې د پوځي زور پر ځای رشوت ورکول ارزانه تمامیږي. په پای کې یوسفزي، بنګښ، د تیراه قومونه او ان د خوشال ختک یو زوی ورو ورو مغولي حکومت ته تسلیم شول او د پېړی تر پایه پور ټول پاڅونونه ارام شول.۱۹۳

په دې توګه ختیځ پښتانه د خپلواک دولت په جوړولو کې نابریالي شول. لامل یې دا و چې خپلواک دولت لرلو له پاره لازمه ده چې د زیاتي کرنیز حاصل نه مالیه ورکړل شي او هم تر یوې اندازې د دولت په ګټه د خپلې ازادی نه تېر شي. خو د کاکړ په وینا «دوی لومړنی نه درلود او د دوهم ورکولو ته حاضر نه وو.»۱۹۴ میا روښان چې غوښتل یې دولت د غنیمت له لارې تنظیم کړي په خپلو کوښښونو کې پاتې راغی. په پای کې ختیځو پښتنو د خپلواک دولت په جوړولو کې پاتې راغلل او دوی تر اوسه خپلواک دولت نه لري. خو د ختیځو پښتنو جګړو په لوېدیځو پښتنو لوی اغېز وشینده. لوېدیځو پښتنو د بلې پېړی یاني د اتلسمې پېړی په پیل کې د میرویس نیکه په مشری په کندهار کې د افغان خپلواک دولت بنسټ کېښود او بیا د احمدشاه بابا په مشری د امو نه تر اټکه خپلواک ملي دولت جوړ کړ. د کاکړ په وینا «د احمدشاهي دولت په رامنځ ته کېدو کې د ختیځو پښتنو ونډه اساسي وه. په دې ډول چې دوی په خپلو جګړو سره نه یوازې د احمدشاه له

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاره ډګر هوار کړی و، بلکې له هغه سره یې د ملکونو په نیولو او د امپراتورۍ په جوړولو کې هم مرسته کړې ده.»۱۹۵

## د پښتنو د دغه ملي غورځنګ د ناکامۍ لاملونه

د دغه ملي غورځنګ د ناکامۍ بنسټیز او اصلي لامل دا و چې د دوی په وطن کې زیاتي کرنیز حاصلات نه وو. په دغو قبیلو کې، چې په خپل منځ کې یې نږدې برابر حیثیت درلود او یوې بلې ته سر نه ټیټوه او ان په خپلو کې یې مخالفتونه او دښمنۍ درلودې، دقبیلو د کچې نه د لوړ تنظیم جوړول دا غوښتنه کوله چې دوی باید زیاتي محصولات راټول کړي او یو څه د خپلو ازادۍ نه تېر شي. دوی زیاتی محصولات نه لرل او د یو څه ازادۍ نه نه تېرېدل. دا لامل و چې بایزید روښان هڅه وکړه چې خپل تنظیم که څه هم ساده و د غنیمتونو د لاسته راوړلو له لارې جوړ کړو. دې کار سمدلاسه د مغولي دولت او غیر روښانیانو تر منځ ضدیت منځ ته راووړ او دوی د دیني عالمانو په ګډون روښاني غورځنګ په خپله په هېواد کې کمزوری کړ.

د دې سره سره پښتنو د بې وزلۍ او لومړنۍ ساده وسلې په لرلو او د یوه ساده تشکیل سره نږدې یوه نیمه پېړۍ د هغه مهال د لویې امپراتورۍ د لوی او منظم اردو په وړاندې چې بې اندازې سرچینې یې درلودې وجنګېدل. که څه هم په دې کې هېڅ شک نشته چې پښتانه د هند د مغولو د دولت د واکمنۍ پر ضد وو دوی د راتلونکې له پاره ځانګړی پلان نه درلود. کاکړ وایي چې په زیات ګومان هغه څه چې دوی غوښتل لاسته راوړل چې هغه مالي امتیازونه او کورنۍازادي وه. خو د دوی مبارزې پراخ اهمیت درلود:

۱-د هند مغولي دولت د افغانانو سره د مقابلې له کبله دکن د لښکرو نه تش کړ او دې کار یاغي هندوانو ته دا موقع په لاس ورکړه چې د خپل نامتو مشر په لارښوونې سره جګړه وکړي او په ځانګړې توګه د ۱۶۷۶ کال نه وروسته یې ځینې بریالیتوبونه تر لاسه کړل.

۲-د هند د مغولي امپراتورانو د دغه ارمان په وړاندې چې د هندوکش هغې خواته د توران مځکې لاندې کړي افغانان لوی خنډ شول. د ازبکو واکمنو او په ځانګړې توګه عبدالله خان افغانانو ته مرستې ورکړلې.

۳-د دې جګړو لیرې پایلې دا شوې چې احمدشاه بابا کله چې په ۱۷۴۷ کې د پاچا په توګه وټاکل شو د مغولي هند د دولت استازي د کوم جنګ پرته د افغانستان نه وشړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



*اتم څپرکی*

# کاکړ:درانیان او په کندهارکې صفوي دولت

کاکړ وایي چې په ختیځ کې د پښتنو د ناکامۍ وروسته د پښتنو دوې سترې قبیلې درانیان اوغلزیان د پردیو د واکمنۍ پر وړاندې په لویدیځ کې را پورته شول چې د دوی د هڅو او کوښښونو په پایله کې یو خپلواک افغانستان منځ ته راغی او یوه لویه امپراتوري یې جوړه کړه.

درانیان د ۱۷۴۷ نه د مخه ابدالیان نومېدل. د ابدالیانو نوم د هغې سپین پوټکې اریایي قبیلې سره تړاو لري چې په تاریخ کې د اپتل یا هفتل په نامه یاده شوې ده او اروپایانو دغه هپتالیان سپین هونان بللي دي. دغه د (هون) اوښتې بڼه اوس په پښتو ژبه کې (خان) ده. د اپتل قبیلې چې د مغولو د فشار له مخې د منځنۍ اسیا نه باختر ته راکوزې شوې اټکل د ۴۰۰ زیږدې کې په باختر او تخارستان کې یو پیاوړی دولت جوړ کړ. هپتالیانو د ساسانیانو سره جګړې کړې او کتیبې یې د کندهار په شمال او ارزګان کې موندل شوې دي.۱۹۶ عربو دغه قبیله هیاطله بللې ده. دغه سپین پوټکي اریایان د پکتیانو سره ګډ شوي دي. ستر احمدشاه بابا ابدالیان د درانیانو په نامه یاد کړل. په اصل کې درانیان د کسي غره په سیمه کې د سلیمان د تخت په ګاونډ کې اوسېدل. له هغه ځایه د کلونو په اوږدو کې ګام په ګام د کندهار ختیځې خوا ارغستان ته راغلل او په اساسي توګه د کوچیانو په بڼه په کېږدو کې اوسېدل او د شپاړسمې پېړۍ تر نیمایي د یوې اساسي ډلې په توګه هلته پاتې شول. له دې وروسته دوی هغه شنې هوارې مځکې چې د غلزیو، بلوچو او کاکړو تر منځ په ژوب کې پرتې وې، په زور د نورو نه ونیولې. درانیان د هغو سره د څړ ځایونو، اوبو او کرنیزو مځکو پر سر تل په جنجال کې وو. په ځانګړې توګه د دوی مخالفت د غلزیانو سره زیات وو ځکه چې غلزیان د شمېر او ځواک له مخې د دوی سره برابر وو. ولې د ۱۶۲۴ زیږدې په شاوخوا کې د پښتنو دا دوې اساسي قبیلې په دې سره سلا شوې چې د خپلو مشرانو سلطان ملخي توخي او سلطان خودکي دراني په مشرۍ د دواړو قبیلو تر منځ ګډه پوله وټاکل شوه. د دغه تړون پر بنسټ د ګرم آب د وادی شمال ختیځ سیمې په غلزیانو پورې اړه ولرله او د سوویل لویدیځ سیمې د درانیانو شوې. په دې ډول د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغو دوو قومونو تر منځ د شخړو مخه ونیول شوه. د دغې پولې د ټاکلو وروسته درانیان د لوېدیځ په لور مخه کړه او د کندهار ښار ته نږدې یې شهر صفا جوړ کړ. په دې توګه درانیان د فارس د صفوي دولت د قلمرو برخه شوه او د صفویانو یوه والي له خوا واکمني پرې کېده. خو د صفوي پاچا له خوا والي ته لارښوونه شوې وه چې درانیان په خپلو چارو کې ازاد پرېږدي. د دغه امتیاز ورکول په واقعیت کې یو پخوانی دود و. د هغه مهال راهیسې چې کندهار د اولسمې پیړۍ په لومړۍ څلوریزه کې د صفوي امپراتورۍ برخه شوه شاه عباس صفوي درانیان او غلجیان په خپلو کورنیو چارو کې ازاد پرېښودلي وو او د دوی سره نرمه شیوه غوره کړې وه. دا لامل و چې دغه قومونه سره له دې چې د صفویانو سره یې مذهبي توپیر درلود د هند د مغولو د دولت په انډول یې صفویان ښه بلل. د درانیانو مشرانو چې د مالیې په راټولولو کې یې د والي سره مرسته کوله د دولت په چارو کې رول لوباوه او خپل ځواک یې زیاتوه. صفویانو د درانیانو مشرانو ته د دغو امتیازاتو د ورکولو لامل د صفوي او د هند مغولي امپراتوریو تر منځ د کندهار پر سر سیالي وه. د دغې سیالۍ په پایله کې کندهار څو ځله د دوی تر منځ لاس په لاس شوی و.

د کاکړ په وینا په دغسې وضع کې د درانیانو مشرانو د امپراتوریو تر منځ په سیاست کې برخه اخېسته او راز راز لقبونه یې لاسته راوړل. د بېلګې په توګه شېر خان سدوزي ته شاه جهان د شاه زوی «شهزاده» لقب ورکړ او صفوي پاچا د «میرزا» لقب چې د شاه زوی انډول دی شاه حسین ته ورکړ. د درانیانو په منځ کې هم د نورو پښتنو قومونو غوندې دښمنې ډلې موجودې وې خو د دوی دود دا و چې د قوم مشري د سدو خان په اولادو یانې سدوزو پورې اړه درلوده. دغه دود د شاه عباس د وخت نه چې سدو خان یې د ابدالیانو د رییس په توګه ټاکلی و، موجود و. که څه هم سدوزي د پوپلزیو د قبیلې یوه کوچنۍ څانګه وه خو ابدالیانو دومره درناوی ورته درلود چې د سدوزیو مشري یې منلې او تر یوې اندازې یې میراثي بڼه غوره کړې وه. د اولسمې پیړۍ په پای کې ابدالیانو دومره ځواک موندلی و چې والي غوښتل د دوی سره خپلوي وکړي. خو د هغه وړاندیز داسې و چې د ابدالیانو د دود سره یې ډېره نه لګوله. دوی د والي وړاندیز ځان ته سپکاوی وګڼه او د والي نماینده ګان او ورسره لښکر یې ووژل. د دې سره سره شاه حسین صفوي نه غوښتل چې درانیان لا نور ولمسول شي. ده خپل نوي والي ګورګین ته لارښوونه وکړه چې د دوی سره نرم چلند وکړي.

په کندهار کې د ګورګین ټاکل د صفویانو او د سیمې د قومونو تر منځ د اړیکو کړلېچ دی. د ګورګین د ټاکلو لامل دا و چې کندهار د هند مغولو له خوا د خطر سره مخامخ و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هندي دولت د کندهار د غوښتنې رسمي اعلان کړی و او د هغه د بېرته لاسته راوړلو له پاره د عملي ګام اخېستلو شوونتیا وه. دا لامل و چې ګورګین د زیات واک او لوی شل زریز اردو سره د کندهار اداره په لاس کې ونیوله. له دې کبله ګورګین هڅه وکړه چې د دغه بهرني ګواښ په وړاندې د افغانانو کورنۍ دودیزه ازادي له منځه یوسي او ټول واک په خپل لاس کې ونیسي او د بلې خوا په همدې وخت کې په خپله په فارس کې د فارس د رسمي شیعه مذهب د خورېدو او غښتلي کېدو کوښښونه روان وو. سني مذهبه افغانان د امپراتورۍ د ننه تر زیات فشار لاندې ونیول شول. که څه هم ګورګین په لومړي سر کې د درانیانو سره نرم چلند کاوه. خو سوکه سوکه یې د درانیانو یوه ډله د بلې په وړاندې کاروله.

پوهاند ډاکټر کاکړ وایي چې دغه مهال د درانیانو او هم د غلزیانو مشران نه یوازې په ولسي چارو کې بلکې په نړیوال سیاست کې او په ځانګړې توګه د کندهار په سر د دواړو امپراتوریو په سیالیو او جنګونو کې د تجربې خاوندان شول. د سلطان خودکي سروالي د صفوي حکومت او دسلطان توخي سروالي د هند مغولي حکومت منلې وه.

د ګورګین د راتګ وروسته په کندهار کې سترې پېښې یو پر بل پسې وشوې. دغه مهال د صفوي واکمنو رسمي سیاست دا و چې شیعه ګان وهڅوي او سنیان وځپي. د دغه سیاست پر بنسټ ګورګین د کندهار سنیان تر فشار لاندې ونیول او د یاغیانو په ځپلو یې ورسره چلند کاوه. دوی غوښتل چې د ابدالیانو او غلزیانو دودیزې خپلواکۍ ته د پای ټکی کېږدي. برسېره پردې یې غوښتل چې د مغولو په وړاندې ټینګ مورچل جوړ کړي چې کندهار د دوی لاس ته ونه لوېږي.

ګورګین د دې پلان د پلي کولو له پاره لومړی د ابدالي مشرانو پر ضد دسیسې وکړې. لومړی یې د دولت خان د سدوزو ځواکمن مشر د منځه وړلو په پلان کې بریالی نه شو بیا یې د پښتنو د هغه کمزوري ټکي نه ګټه پورته کړه چې هغه د دوی ځان غوښتنه ده. د ګورګین لښکر یوه شپه د عزت خان سدوزي او اتل خان سدوزي په مرسته او لارښوونه په ښار صفا کې ناڅاپه د دولت خان ابدالي په کلا برید وکړ او دولت خان یې د خپل زوی نظرمحمد او فقیر نومي نوکر سره ووژل. د دولت خان د مړینې وروسته د ده زوی رستم خان د قوم مشر شو. بیا یې رستم خان بندي او وواژه او د ده د مړینې وروسته یې د ده غښتلې ډله وځپله او بیا یې د هغه مخالفه ډله د عزت خان سدوزي او اتل سدوزي په مشرۍ اړه کړه چې ارغستان پرېږدي او د کندهار په ختیځه خوا کې میشته شي. لږ مهال وروسته یې ناڅاپه پرې ودانګل، ډېر یې ترینه ووژل، ډېر لویان یې کرمان ته ورځخه وشړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پاتې ابدالیان د شوراوک چاپېر دشتو او غرو ته وکوچېدل. په دې توګه ګورګین ابدالیان وځپل او غوښتل یې چې د دې وروسته هوتکیان هم وځپي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهم څپرکی

# په کندهارکې د غلزیانو لومړی دولت

د مخه مو یادونه وکړه چې د هېواد لوېدیځه برخه تر کندهار پورې د صفوي واکمنو تر واک لاندې وه. د کاکړ په وینا کندهار چې کوټه، ژوب او بلوچستان یې برخې وې او له کلات نه تر فراه پورې پراته سیمه وه دغه مهال هم تر زیاتې اندازې یې خپل تاریخي اهمیت ساتلی و. د کندهار ډېرې سیمې د هلمند، ارغنداو او ترنک د رودونو او د معتدلې هوا په لرلو سره تل شېرازه او ابادې وې. دا ښار د ترانزیتي سوداګرۍ مرکز دی. د کندهار زوړ ښار د هستوګنې لرغونی مرکز دی. په دې نږدې وختونو کې برتانوي لرغون پېژندونکو ثبوت کړې، چې کندهار د تاریخ نه د مخه دورې نه را په دې خوا د انسانانو هستوګنځی شوی دی.۱۹۷ وروسته په هلمند او ارغنداو کې میشتو ګندهاریو په هلمند کې د ګندهارا په نوم ښار جوړ کړ چې د کندهار اوسنی ښار د دغو ښارونو په لړ کې وروستی ښار دی. د کندهار نوم په زیات ګومان د ګندارا اوړېدلې بڼه ده چې د ویدي دورې نوم دی. کندهار د زیږدې نه د مخه په څلورمې پېړۍ کې ستر سکندر لاندې کړ. سکندر کندهار ته نږدې د سکندریې په نامه د بل ښار بنسټ کېښود. لکه چې د مخه یې په هرات کې او بیا بګرام ته نږدې د داسې ښارونو بنسټ کېښود. له سکندر نه وروسته د کندهار پر ځای اراکوزیه نوم دود شو، چې په زیات ګومان د ارغنداب یوناني شوې بڼه وې. په نوي دور کې میرویس نیکه کندهار د صفوي پارس د واکمنۍ نه وژغوره او په کندهار کې یې د افغان خپلواک دولت بنسټ کېښود. په کندهار کې د حضرت محمد خرقه خوندي شوې، چې د بخارا پاچا احمدشاه بابا ته د سوغات په توګه ورکړې وه. احمدشاه بابا په ۱۷۴۷ کال کې د کندهار د شېر سرخ د جرګې نه وروسته ټول افغانستان یو موټی کړ او یوه امپراتوري یې جوړه کړه. د کندهار په مېوند کې د افغان- انګلیس د دوهمې جګړې په یون کې غازي محمد ایوب خان انګرېزانو ته سخته ماته ورکړه چې د هغې په پایله کې د لیټن له خوا د افغانسان د وېشلو پلان ناکام شو. په دې ډول کندهار د افغانانو په ملي او سیاسي ژوند کې اساسي رول لوبولی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## میرویس نیکه

د مغلو او صفویانو د واکمنۍ په مهال په کندهار کې د ابدالیانو ټول خېلونه، د غلزیانو څه خېلونه، د دوی په څنګ کې تاجکان، ملتانیان او نور او د ښار د باندې ایرانیان پراته وو. په عمومي توګه د غلزیو خېلونه له کلاته تر کابله پورې د مغولو د کابل د واکمن او ابدالیان د کندهار د صفوي واکمن تر لاس لاندې وو. «خو دواړه قومونه په خپلو کورنیو چارو کې خپلواک وو او چارې یې خپلو مشرانو ور تنظیمولې. دغه مشران په اصل کې وروسته له هغه د زیات واک څښتنان شول چې ولسونه یې میشته شول او کلي او ښارونه یې ودان کړل.»۱۹۸

د ابدالیانو د ځپلو وروسته په کندهار کې غلجیان د یوه ستر قوم په توګه پاتې شول چې مشر یې میرویس خان هوتک و. میرویس خان د ښالم خان هوتک زوی او د خپلې مور نازو انا له خوا د سلطان ملخي توخي لمسی او د خپلې ماندینې له لوري د سدوزو زوم و. د ده مېرمن خانزاده د جعفرخان سدوزي لور وه چې د سدوزو د کامران خېلو په څانګه یې اړه درلوده. کامران خان د سدو زوی و چې د خپلو وروڼو په منځ کې یو پوه او عالم سړی و او د «کلید کامراني» په نوم د اثر لیکوال دی چې په پښتو ژبه یې لیکلی دی.

د ابدالیانو د ځپلو وروسته ګورګین د هوتکو د ځپلو نیت وکړ. په دې منظور ګورګین د هوتکو مشر میرویس خان هوتک ته مخ واړاوه چې د دوستۍ په پلمه د ده قوم هم وځپي. خو میرویس د تېرو پېښو نه عبرت اخېستی و او دې ته یې پوره پام و چې ګورګین یې تېر نه باسي. ده د خپلواکۍ غورځنګ د همکارۍ په جامه کې په پټه پیل کړ او د کندهار د ښار د کلانترۍ منصب یې ومانه.

خو کله چې ګورګین د میرویس خان د نفوذ د زیاتېدو نه په وېره کې شو نو هغه یې اصفهان ته وشړه او له شاه حسین نه یې وغوښتل چې د کندهار د امنیت په خاطر دې دی هلته وساتل شي. میرویس خان ته په اصفهان کې پاچایي دربار ته په لار پیدا کولو سره مالومه شوه چې درباریان په مخالفو ډلو سره وېشل شوي دي او همدارنګه د پارس شیعه ګان او سنیان په ټینګه سره مخالف شوي دي. ده ته دا هم ښکاره شوه چې په خپله پاچا یو کمزوری واکمن دی او د پارس امپراتوري مخ په ښکته روانه ده. تاریخ پوهان په دې ټکي سره یوه خوله دي چې میرویس د سوغاتونو په ورکولو، او په خپلې ځانګړې وړتیا، ځېرکۍ او روانه وینا سره د ګورګین په اړه شاه حسین او د هغه درباریان شکمن کړل او خپل ځان یې د پارس دوست په حیث وروپېژانده. په یوه پردي هېواد کې د میرویس دغه کړه ساری نه لري. په دې توګه میرویس خان د خپلې پوهې او ځیرکۍ له کبله د دربار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواکمن کسان د ځان پلویان کړل او د حج د ادا کولو نه وروسته یې چې د عربستان د عالمانو نه یې د خپلې خوښې سره سم اخیستې فتوا ورسره وه د صدراعظم اعتماد دوله له لارې اجازه تر لاسه کړه چې په کندهار کې د ګورګین د مشاور په توګه کار وکړي. د دوسرسو فرانسوي په وینا میرویس خان د پارس د دربار «د ټولو وزیرانو نه په یوازې توګه ډېر هوښیار و.»۱۹۹

میرویس خان د پخوا غوندې د ګورګین سره همکاري پیل کړه خو ګورګین پرې ډاډه نه و نو ده د خپل زوی له پاره د میرویس خان لور په نکاح وغوښتله. میرویس خان د دې موضوع له پاره د کوکران جرګه راوغوښته. جرګې پرېکړه وکړه چې د ګورګین د غافلولو له پاره د میرویس خپله وینځه د لور په نامه په نکاح ورکړي. میرویس خان د جرګې د پرېکړې سره سم خپله وینځه د لور په نامه په نکاح ورکړه او په دې ډول یې ګورګین غافل او د ځان دوست کړ. د میرویس په وړاندې اصلي مسله د خپلواکۍ وه. خو د کاکړ په وینا د دې موخې د سر ته رسولو له پاره نه تنظیم و، نه وسله او نه پوځ او نه د وسله والې مقابلې توان. خو ګورګین نه یوازې شل زریز پوځ درلود بلکې شا ته یې یوه لویه امپراتوري ولاړه وه.

میرویس خان د خپل پلان د عملي کولو له پاره د مانجې تاریخي جرګه راوغوښته چې قومي مشران او روحانیون په کې شامل وو. د دې جرګې د غړو یادونه د پښتو ژبې په لومړۍ شاهنامه (محمودنامه) کې ریدي خان مومند کړې ده او دغه کسان په کې شامل وو: سیدال خان ناصر، بابوجان بابي، بهادرخان اندړ، ملا پیرمحمد میاجي، عزیزخان نورزی، یوسف خان هوتک، ګل خان بابړ، نورخان برېڅ، نورخان الکوزی، یحی خان هوتک، حاجي نورمحمد هوتک، چې په حاجي انګو مشهور دی، یونس کاکړ او نور. ده د دې جرګې له لارې وکړای شول چې د کندهار ولسونه د ګډ عمل له پاره چمتو کړي. میرویس خان پلان درلود چې د ګورګین پوځ په حساس وخت کې برخې برخې کړي او د یوې برخې په لاندې کولو سره به د هغې د وسلې نه د نورو برخو په وړاندې کار اخلي.

جرګې د میرویس خان پلان تایید کړ او پرېکړه یې وکړه چې د بلوڅو، کاکړو او ترینو خانان به خپل ولسونه وهڅوي چې د مالیې د ورکولو نه سر وغړوي تر څو ګورګین اړ شي چې د خپلو پوځونو یوه برخه هلته واستوي او دوی یې هلته د منځه یوسي. جرګه والو دغه راز پټ وساته او په خپلې پرېکړې یې عمل وکړ.

ګورګین چې خبر شو نو د کاکړ په وینا ده شپږ نیم زره سرتېري د میرزا سندل په قوماندنۍ د یاغیانو د ټکولو په موخه واستول او په خپله د زرو تنو ځانګړو جنګیالیو سره ورپسې روان شو او د میرویس نه یې هم وغوښتل چې د خپلو ایله جاریو سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارغستان په ده شیخ کې ور سره یو ځای شي. په دې توګه د میرویس د پلان لومړی برخه پلې شوه هغه دا چې د ګورګین پوځ په څو برخو وویشي. په ده شیخ کې اوه سوه ناصرو او هوتکو د میرویس په قوماندنی د ګورګین په زر کسیز پوځ د شپې په تروږمي کې ناڅاپه برید وکړ او له منځه یې یووړ. په دې ګام سره د میرویس د پلان دوهمه برخه پلې شوه هغه دا چې د یوې برخې نه وسله واخلي او د نورو برخو د ځپلو له پاره یې وکاروي. میرویس خان د مخه درې نیم زره قومي ځوانان په ورو ټولیو کې منظم کړي او دنده ورکړ شوې وه چې د ښار اړیکه د بهر سره وځاري تر څو پارسیان د پیښې نه خبر نه شي. په خپله میرویس او د هغه ملګري چې د ګورګین او د هغه د پوځیانو جامې یې اغوستې وې او د هغوی په وسلې یې ځانونه سمبال کړي وو د شپې په تیاره کې ښار ته ننوتل او په بې ساري چټکی سره یې پارسیان تباه کړل. وروسته یې د هغو دوه نیم زره پوځیانو نه چې د بلوچستان نه کندهار ته راستانه شول څه یې له منځه یووړل او نور یې په منډه د تباهی خبر اصفهان ته ورسوه.

میرویس خان د ایران د دولت د غافلولو له پاره یو لیک د پارس د پاچا په نامه اصفهان ته ولیږه او بل لیک یې د هند مغولي پاچا ته ولیږه. په وروستي لیک کې ویل شوي و چې د کندهار خلکو د صفوي دولت پر ضد بریالی پاڅون کړی او خپلواکي یې ګټلې ده. که چیرې د پارس پاچا د کندهار د خلکو پر ضد پوځ راواستوي او موږ اړ شو چې له تاسو مرسته وغواړو نو تاسو به مرسته وکړی که نه؟ د هند پاچا په ظاهري توګه د کندهار خپلواکي په رسمیت وپیژانده خو په پټه یې صفوي دولت ته پیغام ولیږه چې د دې پیښې مخه زر ونیسي تر څو د دې پاڅون لمبې د هند لمنې ته پراخې نه شي چې بیا د پښتنو ټبر برم یاني د غوریانو، غلجیانو، سوریانو او لودیانو خاطرې را ژوندی نه شي.

میرویس خان دا اټکل هم وکړ چې پارسیان به د دې پیښې د غچ اخېستلو له پاره اړین ګامونه پورته کړي نو سمدلاسه یې د کورنیو سمونونو په څنګ کې په دفاعي تدبیرونو لاس پورې کړ. میرویس خان په لنډ وخت کې پوځ منظم او د پارسیانو نه یې په نیولو وسلو سمبال کړ او یو منظم توپچي قوه یې هم جوړه کړه. ده د کورنیو سمونونو په څنګ کې د نوي هېواد بهرني سیاست ته پوره پام وکړ.

صفویانو لومړی محمد جامي نومي سړی د ګواښ له پاره راولیږه چې د میرویس په امر بندي شو. بیا یې د هرات حاکم محمدخان چې د حج په سفر کې د میرویس ملګری و راواستوه چې د میرویس په امر د یوه درانه مېلمه په توګه په کندهار کې وساتل شو. کله چې صفوي واکمنان خبر شول نو په کندهار باندې یې د پوځي یرغل ترتیبات ونیول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



صفوي دولت په هرات کې میشته پوځ ته امر وکړ چې په کندهار یرغل وکړي. میرویس هم د پنځه زریز ازادي غوښتونکي پوځ سره ورووت او سخته ماته یې ورکړه.

بیا د پارسیانو منظم پوځ د اتلسو میاشتو په جریان کې څلور ځله یرغلونه وکړل او ماتې یې وکړه. د دې وروسته صفوي واکمنو د خسرو خان په قوماندانۍ یودېرش زره پوځ کندهار ته واستوه چې دې پوځ کندهار څو میاشتو کلابند کړ خو وروسته د میرویس خان د زړورو جنګیالیو له خوا کلابندي ماته او د خسرو پوځ د ده په شمول تباه شول. دوه کاله وروسته د رستم خان په مشرۍ پارسیانو پر کندهار یو بل یرغل وکړ چې هغه هم ناکام شو.

میرویس خان چې له دې ګواښونو نه هېواد وژغوره نو د خپلو نورو پلانونو د پلي کولو ته یې خپل پام واړاوه. خو د بده مرغه هغه څه چې دښمن د جګړې له لارې ونشو کړای چې میرویس خان د خپلې لارې ایسته کړي نو دا کار یې بیا زموږ افغانانو د هغې کمزورۍ له لارې تر سره کړ چې هغه د پښتنو ځان غوښتنه ده. د دې کار د پلي کولو له پاره یې د میرویس ورور عبدالعزیز ولمساوه چې په خپله پاچا او پاچاهي یې په کورنۍ کې نیکاتي شي. عبدالعزیز خپل مدبر، هوښیار او ځیرک ورور ملي مشر میرویس خان ته د پارس د دربار په لمسون زهر ورکړل او د ۴۱ کالو په منګ د دې نړۍ نه سترګې پټې کړې اروا دې ښاده وي. د عبدالعزیز له خوا میرویس خان ته د زهرو ورکولو پېښه د محمد معصوم هوتک په وینا عبدالغفار هوتک په خپل تاریخ کې چې هوتکنامه نومیږي او لطیف جان بابي په سپارښت او لګښت حبیب الله رفیع چاپ کړی دی بیان شوی دی. د دې پېښې تفصیل د هوتکنامې د ۱۳۶ بیت نه تر ۲۲۸ بیت پورې راغلی دی. عبدالغفار هوتک وایي:

په زهرو یې شهید حاجي میر خان که
حکومت یې برادر بیا عزیز خان که۲۰۰

د ده د مړینې وروسته د میرویس ورور عبدالعزیز د جرګې له خوا د میرویس پرځای وټاکل شو.

عبدالعزیز چې د ولس په مشورې د میرویس نیکه پر ځای وټاکل شو د خپل ورور په شان نه تورزن، نه پوه، نه مدبر او نه د درایت خاوند و. ده په لومړي سر کې د قوم مشران راوبلل او دوی ته یې د پارس د دولت پیاوړتیا او ځواکمنتوب او د ځان د ناتوانۍ په اړه خبرې وکړې خو د ولس د مشرانو د سخت غبرګون سره مخامخ شو او ده ته یې ګواښ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړ چې دا خبرې باید ګرد سره په خوله رانه وړي که نه بل چا ته به ځای پرېږدي. خو میر عبدالعزیز چې خپل ورور یې د پارسیانو سره د پټ جوړ جاړي په پایله کې په زهرو وژلی و د قوم مشرانو د مشورې پرته خپل وړاندیزونه د پارس حکومت ته وړاندې کړل. دا وړاندیزونه دادي:

«له افغانانو دې باج نه اخېستل کېږي؛

کندهار ته صفوي عسکر نه راځي؛

د افغانانو پاچاهي دې د عبدالعزیز په کورنۍ کې میراثي ومنل شي.»۲۰۱

د عبدالعزیز دغه دریځ ته د ولس مشرانو په کرکه وکتل او د ولس په مشوره عبدالعزیز د میرویس د مشر زوی محمود له خوا ووژل شو او ټول په دې سلا شول او په یوه خوله او یوه اواز یې د شاه محمود هوتک پاچاهي ومنله.

## په فارس باندې د افغانانو اکمني

## د شاه محمود هوتک واکمني

د مخه مو یادونه وکړه چې شاه محمود خپل تره عبدالعزیز په دې وواژه چې د پارس د صفوي دولت سره یې سازش کړی و. که څه هم شاه محمود هوتک د خپل پلار باوري و او په ټولو جګړو کې د برخې اخېستو له امله په پوځي چارو کې زیاتې تجربې ترلاسه کړې وې خو بیا هم د دغې وژنې له مخې واک تر لاسه کول د میرویس خان په کورنۍ کې ژور چاودون رامنځ ته کړ چې وروسته د دې کورنۍ د نسکورېدو د لاملونو نه یو لامل شو.

شاه محمود هوتک په خلکو ګران او یو زړه ور او مېړنی جنرال و. خو څنګه چې یو تنکی ځوان و دومره سیاسي پوهه او تجربه یې نه درلوده چې د سیاست په ډګر کې یو بریالی مشر وي. نوموړی د مخه تر دې چې د خپل هېواد یووالی را منځ ته کړي د پارس د نیولو په فکر کې شو. د هغه وخت د تاریخ لیکوالان دا وايي چې د اصفهان نیول یې د پلار وصیت و. دا سمه ده چې پلار یې د ځنکدن په مهال د اصفهان د نیولو خبره کړې ده. خو پلار یې ولې د خپلو اتو کالو په واکمنۍ کې دې کار ته اقدام نه کاوه؟ فکر کوم چې دې کار د پلي کېدو له پاره شرایط چمتو نه و. هغه دا چې د دې کار له پاره تر ټولو د مخه د پښتنو هېواد د امو نه تر اباسینه پورې باید یو موټی شوی وی او د دې له پاره د ټولو پښتنو قبیلو او په تېره بیا د غلزیانو او ابدالیانو د قبیلو یوالی اړین و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاه محمود د ۱۷۱۷ نه تر ۱۷۲۵ پورې واکمن و. په دغه لنډه موده کې نوموړي ډېرې جګړې وکړې. د ده او درانیانو تر منځ لومړۍ جګړه د فراه په دلارام کې پېښه شوه چې په هغې کې د درانیانو مشر اسدالله سدوزایي ووژل شو. د دې پېښې نه وروسته شاه محمود پارس ته پام واړاوه.

شاه محمود هوتک د اصفهان د نیولو نه د مخه د کرمان د خلکو په غوښتنه هغې خواته روان شو. شاه محمود په دغه خطرناکې چارې کې نه یوازې د خپل قوم ملاتړ تر لاسه کړ، بلکې د امامي هزاره ګانو او بلوچو ملاتړ هم ترلاسه کړ. شاه محمود هوتک د ۱۷۲۰ کال د اوړي په پای کې یو لښکر چې شمېر یې ۱۱۰۰۰ ته رسېده تیار کړ چې د سیستان په ریګستان کې د خوارکي موادو، غلې او وښو د نشتوالي له امله د سر او مال زیات زیان ورورسېد. خو د دې سره سره هغه کرمان ته ورسېد او د کرمان خلک په خپله خوښه ده ته تسلیم شول. ده د همدغه کال په پای کې د کرمان د ښار زیاتره برخه د زردشتیانو په مرسته د جګړې پرته ونیوله. خو دوی دغه ښار د پارس د یو غټ لښکر د بریالۍ مقابلې له امله چې لطف علي خان یې مشري کوله پرېښود. خو په دغه مهال په کندهار کې بیجن سلطان لکزي د ملک جعفر خان په ملتیا چې بندي و، د کندهار د نورو پارسیانو په مرسته پاڅون وکړ تر څو کندهار بیا د پردیو تر ولکې لاندې راولي. شاه محمود د کندهار د اړدوړ د ځپلو له پاره کندهار ته راستون شو. خو د ده تر رسېدو د مخه اړدوړ کوونکي د ده د کشر ورور میر حسین هوتک له خوا ځپل شوي او زندۍ شوي وو.

څنګه چې د اصفهان په دربار کې بې اتفاقي وه نو د اصفهان درباریانو د لوی مجتهد په مرسته شاه حسین صفوي د اعتماد الدوله (صدراعظم) او د هغه د زوم لطف علي خان چې دا اوس یې په کرمان کې افغانانو ته ماته ورکړې وه، په وړاندې ولمساوه. درباریانو په دوی باندې د پاڅون تور ولګاوه خو هغوی چې دواړه سنیان او باکفایته سړي وو د پاچا نږدې کسان وو. د پاچا په امر صدراعظم ړوند او لطف علي خان بندي شو. له دې کبله په کرمان کې صفوي لښکر تجزیه او په داغستان کې د لزګي خلکو پاڅون وکړ.

افغانان چې خبر شول د ۱۷۲۱ کال په ژمي کې زر کرمان ته ورسېدل او هغه ښار یې د حصاران پرته ونیو. په دغه وخت کې شاه محمود هوتک ته خبر راورسېد چې د اصفهان حکومت نه شي کولی چې په ژمي کې د ده په وړاندې لوی پوځ تیار کړي. له دې کبله شاه محمود هوتک خپل لښکر د اصفهان په لوري روان کړ. که څه هم تر دې مهاله شاه محمود هوتک د اصفهان د نیولو نیت نه درلود، بلکې غوښتل یې چې صفوي حکومت ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړای شي د لوی لښکر دپاره خوراکي توکي او نور اړین شیان زیرمه کړي. د شاه محمود لښکر د بیلو بیلو سیمو تر شیرازه، لورستان او اصفهانه پورې د خپل پوځ دپاره خوراکي توکي او واښه ترلاسه کړل. د صفویانو دولت په بېړه سره د یوه لښکر په تنظیمولو بوخت شو. نوی لښکر د پارسیانو، ګرجستانیانو او عربو نه جوړ و چې نوي صدراعظم رستم علي خان او د سنیانو خان اهوز یې مشري کوله. د صفویانو لښکر چې د افغانانو د لښکر نه زیات او هم یې د افغانانو پرتله ډېر ښه توپونه درلودل په ګلناباد کې سنګر ونیو. خو افغانان د تشکیلاتو په لحاظ او هم د مشرانو او قوماندانو له مخې پر پارسیانو برتري درلوده. دغه دواړه لښکرې د ۱۷۲۲ کال د مارچ په اتمه نېټه په ګلناباد کې سره مخامخ شولې. لومړی رستم خان د شاهي غلامانو قوماندان په بریالي ډول په افغانانو برید وکړ او نږدې و چې د افغانانو مرکزي لښکر چې په خپله شاه محمود یې مشري کوله په شا شي، خو د افغان لښکرو د کیڼ او ښي اړخ قوماندانانو امان الله او نصرالله په دغه وخت کې ډېره میړانه وښوده او د افغان پوځ روحیه لوړه شوه. په همدغه وخت کې د افغان پوځ یوه ټولګي د صفویانو په هغه پوځ برید وکړ چې بې کفایته صدراعظم یې مشري کوله. صدراعظم وتښتېد او ورپسې د عربو لښکر وتښتېد. وروسته کله چې د صفویانو د توپچي ټولګي قوماندان ووژل شو د صفویانو ټول پوځ په شا شو. د صفویانو د پوځ شمېر ۴۲۰۰۰ تنه و او افغانان د دوی تر نیمايي هم لږ وو. افغانانو په ګلناباد کې د خپل تاریخ یوه تر ټولو ستره جګړه وګټله. دغې جګړې شل کلن شاه محمود د زمانې د تر ټولو ځوانو سوبمنو په لیکه کې ودراوه.

شاه محمود هوتک د ګلناباد د بري وروسته په ښکاره د اصفهان د نیولو په فکر کې نه و. په دې چې د ده پوځ د ډېرو اولجو د لاسته راوړلو وروسته غوښتل چې خپل وطن ته ستون شي. خو د پارس خلک او حکومت دومره ورخطا شوي وو چې شاه محمود پرېکړه وکړه چې اصفهان ونیسي او په پارس واکمني وکړي.ځکه ده هغه سوله چې د صفویانو د پاچا له خوا یې وړاندیز شوی و، په دې شرط پورې وتړله چې باید د پارس پاچا هغه ته خپله لور په نکاح کړي. خو پاچا دغه کار ته حاضر نه و. وروسته له دې شاه محمود په اصفهان چې ۶۵۰۰۰۰ نفوس یې درلود مارش وکړ. خو د سیخ برید پر ځای یې ښار کلابند کړ او هیله من و چې ښار به د جګړې پرته تسلیم شي. پاچا په ماڼۍ کې ځان کلابند کړ او د هغه پوځي قوماندانانو په هغو خلکو چې د امن په خاطر د ده ماڼۍ ته راتلل څو ځله ګولۍ ووارولې او ډېر یې ووژل. د ښار کلابندو ته د ځايي واکمنو مرسته ونه رسېده. د ګرجستان والي د مرستې د ورکولو نه بخښنه وغوښته. د اصفهان ارمنیانو سوداګر چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو شتمنیو د ساتلو په فکر کې وو د افغانانو لاس نیوی وکړ او د هغوی په غوښتنه یې دېرش پېغلې ورواستولې. سني کوردان په دې پلمه چې د عثماني ترکيې د تيري په وړاندې مقابله کوي د ښار نه د باندې ووتل. دا کار دوی د افغانانو په موافقه وکړ. د سنيانو خان اهوز چې د ننه په ښار کې مهم سړی و د افغانانو سره اتحاد وکړ. خو هغه څه چې په پای کې يې د کلابندو روحيه ماته کړه د خوراکي موادو کمی او د ناروغيو خورېدل وو. په ښار کې پوره خوراکي توکي زېرمه شوي نه وو. قحطي پيل شوه. لومړی د اوښانو، اسانو او خرو غوښه په لوړه بيه پلورل کېده. خو دا زېرمه زر ختم شوه او خلکو د پيشوګانو او سپو په غوښه تر هغه چې په اصفهان کې ميندل کېده خوړله. خلک د ښار په کوڅو کې تيت شول. پېغلې او واده شوې ښځې چې تر دې مهاله په ستر او د جوهرو او مرواريدو په ګاڼو سينګار شوې وې په کوڅې کې هسې په ډوډۍ پسې ګرځېدې، په دې چې هېڅا د دوی ګاڼې نه غوښتلې ځکه چې د هغې په بدل کې يې ډوډۍ نه شوه ورکولی. په پای کې دوی ستړې شوې او په ژاړه په مځکه لوېدلې او مړېدلې. ځينو بډايو او اشرافو چې وليدل نوره ډوډۍ نه شي ورکولی خپلو خپلوانو ته يې زهر ورکول. د هغو کسانو شمېر چې د قحطی نه مړه شوي شمېر يې هرو مرو سل زرو ته رسيږي.۲۰۲

شاه محمود چې له دې نه خبر شو خپل لښکر يې لېږ د ښار نه د باندې وايست چې ښار د بشپړې ورانولو نه په امان کې شي او خپلو افسرانو ته يې امر وکړ چې په خلکو برید ونه کړي. د پارس پاچا په پای کې تسليم شو. لومړی يې خپله يوه لور شاه محمود ته د ښځې په توګه ورواستوله. وروسته له هغې په خپله د ۱۷۲۲ کال د اکتوبر په ۲۳ مه نېټه په فتح اباد کې د شاه محمود په ګټه استعفا وکړه. هغه خپل تاج د محمود پر سر کېښود او وويل «نور زه پاچا نه يم او هغه وخت رارسېدلی چې تاسو د پارس په تخت کښېنئ زه په پوره اخلاص او صميميت امپراتوري تاسو ته پرېږدم»۲۰۳

په دې توګه شاه محمود هوتک د پارس پښتون امپراتور په ډېر شان او شوکت سره اصفهان ته ننوت او امر يې وکړ چې د اردوځای نه ښار ته خوراکي توکي راوړي. زر قحطي ورکه او پرېماني شوه. شاه محمود په حکومت کې مهم بدلونه رانه وستل. لرې شوی پاچا يې مشاور وټاکه او په هر وزارت کې يو افغان کتونکی وټاکه او د ديوان بيګي دفتر يې يوه افغان ته وسپارلو چې هغه «د خپل صلاحيت نه په داسې عدالت او نرمۍ سره کار واخېست چې د پارس ټولو خلکو د هغه ستاينه کوله»۲۰۴ خو افغان افسرانو او سرتېرو زياتې پيسې په لاس راوړې.

پارسيانو په ۱۷۲۳ د جنوری په اتمه په قزوين کې د شپې له خوا په افغان پوځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولګي چې یو ځای او بل ځای تیت او پرک وو برید وکړ او ۴۰۰۰ افغان سرتیري یې ووژل. د دې پېښې له کبله په اصفهان کې غځ اخېستنه پیل شوه او «ټول هغه کسان چې وسله یې اخېستلی شوه ووژل شول او اشرافیان او نجیبان د شتمنۍ نه بې برخې شول.»۲۰۵ لیرې شوی پاچا بندي او زیات شمېر شهزاده ګان ووژل شول. برسېره پر دې شاه محمود د پارس د ملت او بیلو بیلو قومونو په منځ کې شپږ ټولنیزې درجې جوړې کړې چې وروستۍ درجه د پارس خلکو او اول ځای افغانانو ته ورکړ.

د درګه زین خلک په اردو کې ونیول شول. دوه ځله د کندهار نه مرسته وروړسېده او د ۱۳۲۵ کال تر جنوري پورې د هـ د خپلو تکړه جنرالانو امان الله او نصرالله په مرسته شیراز، ګل پایکان، کاشان او نور ځایونه د ځان تابع کړل. یوازې په یزد کې د ستونزو سره مخامخ شو.

د یزد د پېښې نه وروسته شاه محمود سمدلاسه په ریاضت پیل وکړ. د دود په ډول ده شاید ۴۰ ورځې ځله بندي (ریاضت) کړې وي. په هغه وخت کې هغه یوازې د لمر لوېدو یاني ماښام وچه ډوډۍ د اوبو سره خواړه. له دې ښکاري چې په ځله (ریاضت) کې ده روژه نیوله. په زیات ګومان سره د شاه محمود د ځله بندی نه د هسک ځښتن نه د هغې وینو تویولو له کبله بخښنه غوښتل وي چې د ده په امر سره تویې شوې وې.

شاه محمود د ځله بندۍ وروسته په دوست او دښمن شکمن شو. داسې فکر یې کاوه چې هر څوک د ده دښمن دی. داسې مرحله راورسېده چې په خپل ځان یې خوله لګوله.

د ۱۷۲۵ کال د اپریل د میاشتې په ۲۶مه نېټه افغان مشران سره جرګه شول او اشرف هوتک د شاه محمود د تره زوی یې د پاچا په توګه وټاکه.

په دې توګه زلمي مشر د یو باکفایته جنرال په توګه د ګلناباد د تاریخي جګړې په پایله کې اصفهان ونیو او د پارسیانو نه یې د پښتنو په وړاندې د ظلمونو غچ واخېست. خو د سیاسي مشر په توګه د دې هېواد د ادارې په سمبالولو کې پاتې راغی. د دې دورې څېړونکي نږدې ټول یوه خوله دي چې ځینې پېښې د دې سبب شوې چې د ده دماغي توازن د منځه ولاړ شي او په پایله کې ووژل شو. خو ماته دا فکر هم پیدا شو چې د دې پېښو د منفي اغېز تر څنګ شاید د داسې زهرو په ذریعه دی مسموم شوی وي چې سوکه سوکه اغېز شیندي. دا ګومان ما ته له دې نه پیدا شو چې یو د ده او د ده د صدراعظم امان الله مېرمنې سره خویندې او د شاه حسېن صفوي لوڼه وې او د دوی تر منځ د نفاق تخم هم د دغو خوندیو د فعالیت محصول دی او دغې موضوع ته اعظم سیستاني د کرونسکي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکنې په حواله داسې اشاره کوي. امان الله د شاه محمود هوتک نه د خفه کېدو نه وروسته په ظاهر کې «د خپلو قواوو سره د اصفهان نه د کندهار په نیت ووتو. امان الله هم د سلطان حسین د یوې لور سره واده کړی و او له دې اړخه هم د شاه محمود د ډېرو نږدې کسانو نه شمېرل کېده. کرونسکي د امان الله دا ګام د شاهزدګۍ، د امان الله د مېرمنې د لمسون پر بنسټ بولي چې د خپل مېړه او شاه محمود تر منځ د مخالفت نه خبره وه.»۲۰۶ برسېره پردې دا چې ده به کله خپل ځان ته خوله اچوله دا هم شاید د زهرو اغېز وي. دا چې پارسیانو د دې توان درلود چې میرویس خان په خپل کور کې د خپل ورور په ذریعه په زهرو د منځه یوسي نو په اصفهان کې به دا کار دومره ګران نه و چې د شاه حسین لوڼه یې د پلار غچ وانه خلی. په هر صورت شاه محمود د اشرف له خوا ووژل شو او د ده د مړینې وروسته د میرویس وراره او د عبدالعزیز زوی اشرف د شاه محمود په ځای په اصفهان کې پاچا شو.

## د شاه اشرف هوتک واکمني

د معصوم هوتک په وینا شاه اشرف د عبدالعزیز زوی چې د یوې خوا د محمود نه د خپل پلار د وژلو له امله مانېجن و او د بلې خوا د خپل پلار د ملي ضد دریځ پلوي نه و څه خوابدی و. له دې امله د هوتکو مشران د اشرف په کور کې سره راټول شول چې د شاهي کورنۍ خپل منځي خوابدي لیرې کړي. دواړو خواو جرګې ته واک ورکړ چې دا ستونزه د پښتني دود سره سم هواره کړي. جرګې د دوی تر منځ زړه بدګی پای ته ورساوه او اشرف یې د پوځ د یوې برخې قوماندان وټاکه. اشرف چې د یوې خوا زړه ور قوماندان و او د بلې خوا د خپل تره میرویس بابا پوهه، ځیرکي او ډپلوماسي هم په کې راټوله شوې وه، د کورنیو تربورۍ او ان د پښتنو د قبیلوي تفکر نه یې د فکر کچه ډېره لوړه وه. ده د شاه محمود سره یو ځای د اصفهان په نیولو کې تورې ووهلې.

شاه اشرف د شاه محمود د وژلو وروسته د ۱۷۲۷ کال د اپرېل د میاشتې په ۲۶ نېټه د شپږویشتو کالو په منګ د اصفهان پر تخت کښېناست. شاه اشرف تر پاچا کېدو وروسته ډېر زیار وکیښ چې د شاه محمود د وروستیو وختو د کړو وړو نه ځوربدلي خلک دلاسا او پخلا کړي او په دې برخه کې پوره بریالی شو. شاه اشرف په ځانګړې توګه د لیرې شوي پاچا د زړه ښه کولو هڅه وکړه. په همهغه وخت کې د هغه د یوې لور سره واده وکړ، د بند نه یې ایله کړ، د مانۍ د چارو ناظر یې وټاکه او د قم په مذهبي ښار کې د دودیزو مراسمو سره سم د ټولو صفوي شاه زویانو د ښخولو امر یې وکړ چې د شاه محمود په

(c) ketabton.com: The Digital Library



امر وژل شوي وو. همدارنګه پاچا اشرف د تذکرة الملوک په نامه د کتاب د لیکلو امر وکړ چې نن ورځ د پارس په اړه یوه مهمه سرچینه ده.

پاچا اشرف په دغه وخت کې اړ شو چې د بهرنیو سترو خطرونو سره مقابله وکړي. روسې او عثماني ترکیې د شاه محمود د پاچایي پر مهال په ۱۷۲۴ کال کې یو د بل سره تړون کړی و چې د هغه له مخې روسیې د کسپین د سمندرګي ټولې لوېدیځې سیمې ونیولې او ترکیې ګرجستان، ارمنستان او د ازربایجان یوه برخه ونیوله. احمد پاشا د بغداد عثماني والي ان د همدان هغه ځایونه هم ونیول چې د اصفهان نه یې یوازې درې ورځې واټن درلود.

پاچا اشرف په دغه پېچلي وضع کې مهمو ډپلوماتیکو او پوځي فعالیتونو لاس پورې کړ. د ۱۷۲۵ کال په پای کې پاچا اشرف یو پلاوی د عبدالعزیز په مشرۍ قسطنطنیه ته ولېږه چې د ځان سره یې د ترکیې مشرانو ته د افغان شاهنشاه اشرف لیکونه وړل. دغه پلاوی ناکام بېرته راستون شو.

احمد پاشا د یوه لوی پوځ سره چې شمېر یې له اویا نه تر اتیا زره رسېده بیا همدان ته نږدې سیمې ونیولې. افغان شاهنشاه اشرف د ۱۷۲۶ کال په نومبر کې د ۳۲۰۰۰ لښکر سره چې د افغانانو، پارسیانو او درګه زینیانو نه جوړ و د عثماني پوځ په وړاندې ځای ونیو. پاچا اشرف د میانجي (د افغان عالمانو مشر) په مشوره د عالمانو یو پلاوی د احمد پاشا کمپ ته واستوه. دغه پلاوي په خپلو ویناوو سره عثماني سرتیري دومره د اغېز لاندې راوستل چې احمد پاشا «د خیانت ګومان وکړ.»۲۰۷ کله چې افغان پلاوی رخصت شو د کوردانو پوځي ټولګي او نورو عثماني لښکر پرېښود او د افغانانو سره یو ځای شول. احمد پاشا د دې وېرې له مخې چې مبادا په عثماني لښکر کې د افغانانو په پلوي احساسات خپاره نه شي د سملاسي مقابلې غوښتونکی شو او برید یې پیل کړ. خو کله چې د احمد پاشا مخکنۍ پوځي ټولګۍ چې شمېر یې شپږ زره تنه وو د افغانانو له خوا د منځه ولاړ ډېر خفه شو. وروسته د هغه لوی برید له هرې خوا د افغانانو له لوري په شا وتمبول شو او دولس زره مړي او زیات شیان ورنه پاتې شول. خو پاچا اشرف ښه پوهېده چې په پارس کې د خپل دریځ د پیاوړي کولو دپاره د ترکیې ښه نیت ته اړتیا لري نو یې نه غوښتل چې احمد پاشا تر دې ډېر سپک شي. که څه هم احمد پاشا د تېښتې په حال کې و چې پاچا اشرف د سولې پیغام ورولېږه او په هغه کې یې د بندیانو د تبادلې وړاندیز وکړ او دا یې هم ورته ولیکل چې «څنګه چې ما قانوني واکمن په توګه خپله خاوره ونیوه له دې کبله مناسبه نه ګنم چې د یوه لار وهونکي په توګه عمل وکړم او د خپلو وروڼو مالونه خپل کړم»۲۰۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترکانو د ځینو ستونزو له امله او په ځانګړې توګه د روسانو سره لاس او ګرېوان وو، اړ شول چې د پاچا اشرف سره سوله وکړي. په پایله کې په ۱۷۲۷ کال په همدان کې د دواړو لورو ترمنځ د سولې تړون لاسلیک شو. د دغه تړون له مخې ترکانو شاه اشرف هوتک د پارس قانوني پاچا په توګه وپېژندلو او شاه اشرف په پارس کې د ترکانو سوبې په رسمیت وپېژندلې او عثماني سلطان یې د خلیفه واقعي ځای ناستی او د مسلمانو د مشر په توګه ومانه.

کله چې پاچا اشرف د ترکانو د دوستۍ او ښه نیت څخه ډاډه شو د روسانو د یرغل په وړاندې افغان نومیالی جنرال سیدال خان ناصر ولېږه. افغان پوځ د خپل پیاوړي قوماندان سیدال خان ناصر په مشرۍ د دربند په سیمه کې د تماجان په چاپېر کې روسي لښکر ته ماته ورکړه. په دغه جګړه کې د روسانو د پوځ قوماندان جنرال ارلوف و. جنرال ارلوف د خپلې ماتې وروسته د فرانسې په منځګړیتوب سولې ته راضي شو. دې سولې دغه تړون د درشت په ښار کې لاسلیک شو.

دلته لازمه ګڼم چې د شاه اشرف د پخې ډیپلوماسۍ د روښانولو له پاره د روسیې د حکومت او د پښتون شاه اشرف د نماینده ګانو تر منځ د سولې تړون چې د ګیلان د رشت په ښار کې د ۱۷۲۸ کال د فبروري د میاشتې په دیارلسمه نېټه لاسلیک شو د سریزې او متن لنډیز چې د لیننګراد د ارشیف د روسي متن نه محمد ولي ځلمي تهیه کړی دی لوستونکو ته وړاندې کړم.

«د لوی او بخښونکي خدای په نامه دا لاندې موافقتنامه اعلانیږي:-

د اعلیحضرت دوهم پېتر چې د ټولې روسیې امپراتور او د خزر د سمندر په غاړه ایالاتو مالک دی له خپل مقابل لوري اعلیحضرت شاه اشرف چې د ایران [پارس] پاچا او د ډېرو مځکو خاوند دی د سولې دا تړون کیږي. څنګه چې موږ ګاونډیان یو او غواړو چې د نظامي شخړو د حل دپاره د وسلې پر ځای له خبرو څخه کار واخلو. د خبرو د اعلیحضرت دوهم پېتر د ټولې روسیې له خوا علي جناب ستر جنرال واسیلي لیواچوف د سنټ الګزاندر د نښان درلودونکی او د خزر سمندر ساحلي ولایاتو لکه ګیلان، مازندران او استر اباد د ټولو روسي قواوو قوماندان او د اعلیحضرت شاه اشرف د ایران [پارس] ستر پاچا او د ډېرو مځکو خاوند له خوا د افغاني اردو ستر سپاسالار او ډېر محترم سیدال خان بیګلر بیګي او ډېر درانه عالی جنابان مستوفي عالي خاصه میرزا محمد، اسمعیل عمر سلطان او حاجي محمد ابراهیم وټاکل سول، چې د دې سترو دولتو او د هغو د اتباعو له خوا یې په اتفاق سره سوله د دواړه خواوو تر منځ ګټوره بللې ده او دایمي او حقیقي یووالی لازم

(c) ketabton.com: The Digital Library



بولي، د دوستۍ دايمي تړون يې منلی دی.

۱- ټولې هغه مځکې او ښارونه له ټولو متعلقاتو سره يې چې په ايران[پارس] کې له طرفينو سره ضميمه دي ، هغه ځايونه چې پخوا يې سرحد ټاکل شوی، څه هغه ځايونه چې اوس يې سرحد ټاکل شوی، د دريمې مادې سره سم تر ابده پورې له طرفينو سره تړلي دي.

۲- اعليحضرت د ټولې روسيې امپراتور د خپل دولت له خوا اراده کړې ده چې د استر اباد، ګيلان او مازندران ولايتونه چې ساحلي ولايتونه دي، د هغې زړې دوستۍ له کبله چې امپراتور يې له ايران [پارس] سره لري، ايران [پارس] ته ورپرېږدي په دې شرط چې دا ولايات به په هېڅ ډول بل دولت ته نه پرېښودل کيږي او که له دې شرط سره بې اعتنايي وشوه نو ياد شوي ولايتونه به سره له ټولو متعلقاتو يې د دوهم ځل له پاره روسيه تصرف کوي او تر ابده پورې به د روسيې نه بېلېدونکې برخې وګرځي او دا تړون به لغوه بلل کيږي.

۳- د دواړو خواو سرحدونه به په دې ډول وي (چې په تفصيل ذکر سوي او موږ ځينې تېرېږو.)

۴- له معمول سره سم سفيران او مختار وزيران او هغه کسان چې د طرفينو له خوا لېږل کيږي تر هغه څه د مخه به نظامي قوماندانانو ته خبر ورکول کيږي چې له معمولو تشريفاتو سره د دوی درناوی او ساتنه وکړي او د ورسپارل سوو وظيفو تر پايه به يې حفاظت کوي.

۵- په هغو دوستانه ليکونو کې چې طرفين معظمين يې يو بل ته لېږي دغه موجود القاب او عناوين معتبر دي، که دا مالکين او معظمين له دواړو خواوو څخه په خپلو القابو کې د څه زياتوالي اراده وکړي، بايد باوري اساس ولري هېڅ يو اړخ حق نه لري، هغه مځکې چې وېش يې سوی دی په خپلو القابو کې راولي او يا نوې سکه ووهي.

۶- هغه دعوې او شخړې چې د سرحدي علاقو او د سرحدي اوسېدونکو تر منځ پېښيږي بايد سرحدي قوماندانان يې په ښه توګه حل او فصل کړي، څو زموږ سوی اتحاد له هر ډول اختلافونو څخه خوندي پاتې سي، په دې کار کې طرفين بشپړ واک لري.

۷- که د طرفينو له سيمو څخه څوک له يوې خوا څخه بلې ته وروتښتي- تښتېدلی سړی بايد له خپلې دارايي سره بېرته خپلې خواته وسپارل سي، هېڅ خوا حق نه لري چې تښتېدلي خلک تر خپلې حمايې لاندې ونيسي.

۸- د دواړو خواوو د سوداګرو د ګټې په غرض هر ډول مالونه په ازاده توګه يو د بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



علاقو ته په وچه او څه په سمندر وړ لارو راوړل کیږي او له پخواني معمول سره سم به محصول ځینې اخېستل کیږي د دواړو هېوادونو اتباع حق لري یو د بل په وطن کې د خپلو مالونو د خوندي کولو له پاره کاروان سرایونه جوړ کړي، یو د بل په ملک کې چې وغواړي ازاد سفر وکړي او هم یو د بل له ملکه په ازاده توګه دریم هېواد ته مالونه تېر کړي، او هم یو د بل رعایا، یو د بل په ملک کې استوګنه غوره کړي.

۹- که چیرې د طرفینو په هېواد کې د یو بل سوداګر مړ سي، مال او دارایي یې پاته سي باید مال او دارایي یې خوندي وساتل سي، تر څو چې قانوني وارث یې یا دربار ورمعرفي کړي یا یو د بل مملکت قانوني سند ورکړي، بیا یې قانوني وارث ته بې زیانه وسپاري.

۱۰- دا غوره ترون چې خدای تعالی په هغه خوښ دی او ښه اتحاد یې راوستی دی، د دې دپاره چې تر ابده خوندي پاته سي، د دواړو خواوو په مهرونو ښکل[ی] کړای سي او دوې نسخې به په یوه ډول کښلې کیږي، د دې ټاکلو واکمنو استاځو له خوا چې بشپړ اختیارات لري مهر او لاسلیک تصدیق کیږي او یو بل ته سپارل کیږي.

ګیلان-د رشت ښار ۱۷۲۸ فبروري ۱۳»۲۰۹

په دې توګه شاه اشرف وکولی شول چې د خپل جنګي مهارت او پخې ډپلوماسۍ له مخې د پارس د خاورې د ساتنې په منظور روسیه او ترکیه دواړه په خپل ځای کښېنوي.

د مخه مو یادونه وکړه چې پاچا اشرف داسې مهال واک ته ورسېد چې پارس د روسانو او ترکانو د سیخ یرغل سره مخامخ و. همدارنګه نوموړی د پارس د کورنیو مخالفینو لکه شاه زوی میرزا طهماسب او نادر افشار سره مخامخ و. برسېره پر دې د شاه محمود وژل په کندهار کې د شاه حسین هوتک له خوا د عبدالعزیز د غچ اخېستلو په بنه وګڼل شو او د کندهاره هم ورسره مرسته نه کېده.

شاه اشرف د واکمن کېدو په لومړی وخت کې هڅه وکړه چې میرزا طهماسب ونیسي خو په دې کار کې بریالی نه شو. میرزا طهماسب د یو لړ شمېر کسانو سره د مازندران غرو ته وتښتېد.

په خراسان کې له هغه وخته چې اصفهان د افغانانو لاس ته ورغی ځایي مشران د واک د اخېستلو له پاره هڅې کولې. ابدالیان په هرات کې پورته شوي وو، ملک محمود سیستاني مشهد نیولی و. فتح علي خان قاجار په استراباد کې فعالیت کولو او ازبکو زیات وخت په خراسان بریدونه کول. په دغې ګډوډۍ کې د لاروهونکو ډلې یو او بل ځای فعالې وې. د دغو ډلو په منځ کې نادرقلي افشار هم شامل و چې تر یوه وخته د خراسان د والي سره د ازبکانو په شړلو کې ملګری شوی و. خو د ۱۷۲۲ کال راهېسې په خپله د یوې بیلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډلې خاوند و او د هرات د ابداليانو سره يې د مقابلې له امله يې نوم ګټلی و. نادر قلي تر هغه وخته پورې چې شاه زوی طهماسب مازندران ته پناه وړې وه ډېر ځواک پيدا کړی و خو هغه تر اوسه يو ياغي و. خو پرعکس شاه زوی طهماسب چې د پارس د تخت قانوني وارث و واقعي ځواک نه درلود. نادر قلي په دې هيله چې شايد د تاج د قانوني وارث د سيوري لاندې به يوه ورځ قدرت ته ورسي د فتح علي خان په سپارښتنه د شاه زوی طهماسب په خدمت کې د يوه جنرال په حيث شامل شو او شاه زوی د ده ګناهونه وبخښل. نادر قلي ډېر ژر د شاه زوی طهماسب په اجازه فتح علي خان چې خپل سيال يې ګڼلو په دې پلمه وواژه چې د شاه زوی په وړاندې يې د خيانت خيال درلود. په دې توګه شاه زوی يوازې په نادر قلي ډډه ولګوله او په دې فکر و چې څنګه د دوی کورنۍ په اول کې د افشار ترکمنو په مرسته واک ته رسېدلې وه اوس به د زړه له کومې د ده سره مرسته وکړي. په هر صورت په جګړو کې په بري پسې برى د نادر قلي په برخه شو او تردې چې د ۱۷۲۸ کال په پای کې د اتلس زره پوځ په مرسته مشهد ونيو. د مشهد نيول د صفويانو د واکمنۍ په ژوندي کولو کې لومړی ګام شمېرل کېدو. شاه زوی طهماسپ د دغه خدمت په وړاندې طهماسپ قلي خان ونوماوه. له دې وروسته طهماسب قلي تېول خراسان ونيو.

شاه اشرف د سولې د تړونونو د کړلو وروسته د خپل حکومت ټينګوالي ته پام واړاوه او په همدې وخت کې يې يزد، کرمان او نور ځايونه د ځان تابع کړل.

شاه اشرف د ۱۷۲۹ کال د سپتمبر په لومړيو کې دېرش زره پوځ چې د غلځيو، هزاره ګانو او درګه زينيانو نه جوړ و د خراسان په لوري روان شو. خو د اشرف پوځ په واقعيت کې قوي نه و. په دې چې دی د پارس د خلکو په وړاندې خارجي بلل کېده او په کندهار کې د ده د تره زوی دی خپل دښمن ګاڼه. شاه اشرف د خپلو جنرالانو په ټينګار د ۱۷۲۹ کال د اکتوبر په ۲مه نېټه د طهماسپ قلي خان په لښکر بريد وکړ خو په هغه يې اغېز ونه کړ. بيا شاه اشرف خپل لښکر په څلورو برخو ووېشه او له څلورو خوا يې سخت بريد پرې وکړ خو د قلي خان لښکر په پرله پسې ډول په بشپړ نظم سره دفع کړ بيا يې په خپله متقابل بريد وکړ او بريالی شو او افغانانو د اصفهان په لورې شا ته شول. د ۱۷۳۰ کال تر لومړيو د افغانانو پوځ تجزيه شو.

شاه اشرف د روسيې او ترکيې سره په جګړو کې زيات افغانان د لاسه ورکړل او په پوځ کې پردي خلک زيات وو نو په پای کې يې ماتې وخوړه او د بلوچستان په لور روان شو او هلته دابراهيم بلوچ له خوا د دېرشو کالو په منګ ووژل شو او په پارس کې د پښتنو واک پای ته ورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په کندهار کې د شاه حسين هوتک واکمني

شاه محمود هوتک کله چې په ۱۱۳۸ کې د پارس د نيولو په موخه د کندهار نه روان شو نو د کندهار تخت يې خپل کشر ورور شاه حسين هوتک ته وسپاره. دغه مېړني، پوهنپال او ادبپال پاچا له غزني نه تر سيستان او هراته د ژوب، ګومل او دېره جاتو پورې په عدل او انصاف او پوهنپالنې او ادبپالنې واک وچلوه. نادر افشار د تاج په سرکولو نه څو مياشتې وروسته جدي تياری ونيو چې په افغانستان يرغل وکړي او کندهار ونيسي چې د هغه ځای نه شپاړس کاله د مخه د پارس د نيولو له پاره افغان پوځ خوځېدلی و. نادر د ۱۷۳۶ کال په نومبر کې د اصفهان نه د ۸۰۰۰۰ او ۱۰۰۰۰۰ تر منځ پوځ سره په افغانستان باندې د يرغل په نيت روان شو. دغه وخت لکه چې د مخه مو يادونه وکړه د اصفهان د سوبمن شاه محمود هوتک کشر ورور شاه حسېن تر اداري لاندې و. شاه حسېن هوتک د ۱۷۲۵ کال راهيسې چې مشر ورور يې په اصفهان کې ووژل شو د کندهار خپلواک واکمن و. شاه حسېن د کندهار نه د ساتنې په موخه تر ۳۰۰۰۰ زيات پوځ تنظيم کړ او په کندهار کې يې د اړينو توکو لويه زېرمه جوړه کړه چې د ښار د اوږدې کلابندۍ اړتياوې پوره کړي. د کندهار په لوېديځ کې د لومړۍ جګړې وروسته د پارس زيات شمېر پوځ د افغان پلازمينه کلابنده کړه چې تر يوه کال زياته اوږده شوه. په دغه موده کې د پارس پوځ د باندې او د ننه نه د افغان پوځ د بريدونو لاندې و او نادر يې اړ کړو چې د خپل کمپ په چاپېر دېوالونه او دفاعي برجونه جوړ کړي.

په پای کې د ۱۷۳۸ کال د مارچ په ۲۴مه نېټه د جمعې په ورځ د پارس پوځ د ښار ساتونکي حيران کړل چې په يوه برج وروختل او ښار ته ورتوی شول. کله چې په دېوال بريالي شول نادر د خپل پوځ زيات سرتيري ښار ته وردننه ايستل. شاه حسېن اړ شو چې بالاحصار ته حرکت وکړي چې د توپو د درنو ګوزارونو لاندې نيول شوی و. بله ورځ افغان مشر نادر ته د تسليمېدو شرايط وړاندې کړل: «هغه به ښار تسليم کړي او د هغه پوځ به د هغو سرتېرو سره جلبېږي چې د مانۍ په ساتلو کې يې زړورتوب ښودلی دی»۲۰۹الف او تسليم شو. نادر چې د افغانستان جنګياليو زړورتيا او متانت اغېزمن کړی و هغه ۱۶۰۰۰ افغان سوارو قوه جوړه کړه چې په هغې کې ۱۲۰۰۰ ابداليان او ۴۰۰۰ غلزيان شامل وو. دا قوه لسو قوماندانانو قومانده کوله چې د هغو نه اته تنه ابدالي او دوه تنه غلزي افسران وو. دغه قوه د نادر د پوځ تر ټولو باوري قطعه وه چې د هغه په ټولو پوځي برياوو کې د هغه سره خدمت کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کندهار کمپاین د نادر له پاره د ډېرو زیاتو سرچینو، وخت او کوښښونو په بیه تمام شو او د هغه پوځي شهرت یې ډېر زیانمن کړ. نادر د یوه پوځي په توګه په دې کې پاتې راغی چې د یوه ښار دفاع چې درې ځلې د ده د قواوو نه لږ ځواک کوله په لږ وخت کې ماته کړي. د ښار کلابندي چې د یوه کال نه زیاته شوه، دی یې په دې کې ناکامه کړو چې د کلابندو خلکو روحیه ماته کړي او هغه اړ شو چې په برج د ختو عملیات په کار یوسي. د کندهار نیولو پارسیانو ته یو روحي پیغام ولېږه چې په پای کې د افغانانو نه د اصفهان د تباهۍ چې ۱۶ کاله د مخه پېښه شوې وه ، غچ واخېستلو.

د شاه حسین مېړنتوب د نادر د نیواک ګرو پوځونو سره د کندهار په ساتنه کې چې د یوه کال نه یې زیات وخت ونیو په ډاګه شو او تلپاتې نوم یې وګاټه. دی چې د ملا یارمحمد نه زده کړې کړې وې د پوهنې، شعر او ادب سره یې ډېره مینه درلوده. ده د خپلې پاچاهۍ په دوران کې د نارنج په مانۍ کې د پوهانو، شاعرانو او ادیبانو غونډې رابللې او یو کتابتون یې جوړ کړی و. د ده په لارښونه د پټې خزانې ارزښتناک کتاب او نور اثار ولیکل شول. د ده په امر پېښور ته کاتبان ولېږل شول چې د رحمان بابا له دېوان نه څو نسخې تیارې او کندهار ته یې راوړي. دی په خپله شاعر و او یو مرتب او بشپړ دېوان یې درلود. د کندهار د نسکورېدو سره شاه حسین هوتک چې د یوه کال مقاومت نه وروسته نادر افشار ته تسلیم شو، د نادر افشار له خوا دی او د هوتکیانو نور نامتو کسان پارس ته ولېږل شول او هلته د نادر افشار په امر په زهرو ووژل شو. روح د ښاد وي. په دې توګه د هوتکیانو دېرش کلنه وکمني پای ته ورسېده. د شاه حسین هوتک د شعر نمونه:

بېلتانــــه دې د غمـــــو پـــــه چپـــاو چـــــور کــــړم
پــــه تیـــارو کـــې د هجـــران یـــې لـــــه تــــا دور کـــړم

بېلتانــــه دې هســــې اوښــــکې راخپــــرې کـــــړې
ســــتا د فکـــــر پـــــه ګـــرداب کـــې تـــل عبـــور کـــړم
د فـــــراق پـــــرې مـــــې کښــــېوت و مــــرۍ تـــــه
پــــه جهـــان کـــې یـــې رســـوا لکـــه منصـــور کـــړم

پــــه وصــــال دې هـــــم ناښـــــاد یمــــه دلبـــرې!
د بېلتـــــون فکـــــر پـــــه زړه کـــې ناصـــــبور کــــړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بـــانو غشـــی مـــې وخـــوړ پـــه ځګـــر کـــې
غمازانو په غمزو غمزو مهجور کړم

خلـــق يـــاد زمـــا، د عشـــق پـــه لېونـــو کـــې
زه «حســـين» محبـــت هســـې مشـــهور کـــړم۲۱۰

## هوتکيان او پښتو ژبه

ميرويس نيکه، شاه محمود هوتک، شاه حسين هوتک او شاه اشرف هوتک د پښتو ژبې او پښتو ادب ودې ته پام اړولی وو. د دې دورې لوړو شخصيتونو لکه لوی جنرال سيدال ناصر، بابوجان بابي، ملا زغفران، بهادر خان، ملا پيرمحمد مياجي، داودخان هوتک، مېرمن زينبه او نورو په پښتو ژبه ليکنې او شاعري کوله. هوتکيانو د خپلې دېرش کلنې واکمنۍ پر مهال پښتو ژبې ته ډېر څه کړي دي.

هوتک بابا او د هغه زوی ملکيار شاعران وو. د هوتکو په تېر کې د پښتو ژبې نامتو شاعره او پوهه ښځه د ميرويس خان مور د سلطان ملخي توخي لور نازو انا وه. نازو انا يو د شعر ديوان درلود چې دوه زره بيتونه لري او لاندې رباعي يې په پټه خزانه کې خوندي ده:

ســـــحرګه وه، د نـــــرګس ليمـــــه لانـــــده
څـــاڅکي څـــاڅکي يـــې لـــه ســـترګو څڅېـــده

مـــا ويـــل څـــه دي، ښکـــلی ګلـــه ولـــې ژاړې
ده ويـــل ژونـــد مـــې دئ يـــوه خولـــه خنديـــده۲۱۱

محمد هوتک د شاه حسين د دربار ادبي ليکوال و چې د شاه حسين په امر او لارښوونه يې د پټې خزانې نامتو کتاب وليکه. نوموړي د پټې خزانې برسېره درې کتابونه (خلاصته فصاحت)، (خلاصته الطب) او د شعر ديوان ليکلي دي.د ده د شعر بېلګه دا ده:

ســـاقي پاڅـــه د ســـرو ملـــو ډک يـــو جـــام را
ســـتا لـــه غمـــه نـــاارام يـــم ارام را

بېلـــه ميـــو د بهـــار ننـــدارې څـــه کـــړم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



پســــــرلی ســــــو د خوښــــــی ښــــــه پیغــــــام را

نــه نشــاط ســته، نــه مســتي ســته، نــه رنــدي ســته
«محمــــد» تــــه د اور ډک یــــو هســــې جــــام را۲۱۲

ریدي خان مومند د هوتکي دورې له لویو ادیبانو او پوهانو نه و. دی د میرویس خان نږدې ملګری و. ده په پښتو ژبه کې لومړی شاهنامه (محمودنامه) ولیکله چې څلور زره بیتونه یې درلودل چې شاه حسین یو زر طلاوې د انعام په توګه ورکړې او بیا ورکه شوه. خو د هغې ځینې برخې په پټه خزانه کې خوندي دي. ریدي خان مومند د محمودنامې برسېره د غزلو، مثنوي او رباعیاتو یو بشپړ دیوان هم درلود. د شعر بېلګه یې دا ده:

چــــې میرخــــان تلــــل اصــــفهان تــــه و نــــه
مــــخ یــــې مکــــې د پــــاک ســــبحان تــــه و نــــه

پاچــــا تــــې عــــرض کــــړ تــــول اقــــوال د پښــــتون
د ګــــرګین ظلــــم بــــد احــــوال د پښــــتون۲۱۳

با بو جان بابي نه یوازې د تورې سړی و بلکې د پښتو ژبې شاعر هم و. ده په ۱۱۲۹ کال کې د (شهـا او ګلان) نامتو کیسه د «قصص العاشقین» په نامه په پښتو نظم کړه د ده د شعر بېلګه:

عشــــــــق یــــــــو هســــــــې توریــــــــالی دی
چــــې پــــر هــــر ځــــای یــــې بــــری دی
د عشــــــــق اور هســــــــې ســــــــوزان دی
چــــــې ســــــوځلی یــــــې جهــــــان دی

زړه بــــــــې عشــــــــقه کلــــــــه زړه دی
چــــــه بــــــې عشــــــقه زړه د مــــــړه دی۲۱۴

پیرمجمد میاجي د هوتکي دورې نامتو پوه او روحاني شخصیت و او د میرویس خان له خوا د لومړی جوړې شوې ملي جرګې غړی هم و او د میرویس خان په ټولو هڅو کې ګډ و. دی په اصفهان کې د شاه محمود هوتک او بیا د شاه اشرف هوتک مرشد او مشاور و. دی شاعر او لیکوال هم و چې د (افضل الطریق) او (الفرایض فی رد الروافض) کتابونه په پښتو کښلي او بل کتاب یې نظم دی. د شعر بېلګه یې دا ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



شـــــیخ متــــي چـــې خلیلــــي و
دی لـــــه آره لــــوی والــــي و۲۱۵

بي بي زینب د میرویس خان پوهه او ادیبه لور وه. نوموړې له خپل کورني ښوونکي ملا نورمحمد نه زده کړې وکړې او بیا یې په خپله د کورنۍ د خلکو د ښوونکې دنده په غاړه واخیسته. دې د خپل پلار د مړینې وروسته د هېواد په چارو کې د خپلو ورونو سره په ګډه لویه ونډه واخیسته دې به د خپل پوهې خوښوونکي او ادبپال ورور شاه حسین سره تل د هېواد د ستونزو په هوارولو کې خپل رایه ورکوله. د نادر افشار له خوا د کندهار د محاصرې په مهال د خپل ورور سره اوږه پر اوږه د ښار ساتنه کوله. د کندهار د محاصرې د پای ته رسېدو وروسته مېرمن زینب د یو شمېر مشرانو سره یو ځای د نادرافشار سره د سولې په خبرو اترو کې برخه واخیسته. برسېره پردې د پښتو ژبې شاعره هم وه. د شعر بېلګه یې دا ده:

ږغ ســــو چـــې ورور تېـــر لــــه دنیـــا ســــونا
قنـــــــــدهار واړه پــــــــه ژړا ســــــــونا

زړه مــــې پــــه ویــــر کــــې مبــــتلا ســــونا
چـــې شـــاه محمـــود لــــه مــــا جــــلا ســــونا
دا روڼ جهــــــان راتــــــه تــــــورتم دی نــــــا
زړه د بیلتــــون پــــه تیــــغ کــــړم دی نــــا

هوتــــک غمجــــن پــــه ډېــــر مــــاتم دی نــــا
د پاچــــاهۍ تــــاج مــــو بــــرهم دی نــــا

چـــې شـــاه محمـــود تېـــر لـــه دنیـــا ســـو نـــا
کنــــــدهار واړه پــــه ژاړه ســــــو نــــــا۲۱۶

ملا زعفران تره کې د هوتکو د دورې یو ستر پوه و چې د شاه حسین د دربار سیاسي مشاور او هم د شاه حسین د زوی محمد استاد و. نوموړي په طب او حکمت کې د (ګلدسته زعفران) په نوم کتاب لیکلی دی. دی د شاه حسین د سفیر په توګه نادرافشار ته د سفیر په توګه لېږل شوی و چې د دواړو خواوو بندیان سره تبادله کړي. په دې ترتیب ملا

(c) ketabton.com: The Digital Library



زعفران يو سياسي شخصيت هم و. دی برسېره پردې د پښتو ژبې شاعر هم و چې بېلګه يې دا ده:

د حســـــين بادشــــاه د بخـــت ننـــداره ګـــورئ
چـــې يـــې فـــتح پـــه لښـــکرو ژوب او شـــال کـــا

چـــې دا زيـــری يـــې راوړی دی حضـــور تـــه
نــو زعفــران انعــام پــر ســر زعفرانــي شــال کـا۲۱۷

د هوتکي دورې نامتو سپاسالار سيدال خان ناصر و چې د هوتکو د دورې د ازادۍ بخوښونکي نهضت د پيل نه د هوتکيانو د شاهنشاهۍ او واکمنۍ تر نسکورېدو پورې يې د تېرې کوونکو سره په زړورتيا جګړې کړې دي. ده د کندهار د کلابندۍ په مهال د شاه حسين د زوی محمد سره يو ځای د کلات د کلا د ساتلو دنده په غاړه درلوده چې په پای کې د نادر افشار له خوا دواړه ونيول شول او سيدال خان ناصر يې د دواړو سترګو د ليدو د خواږو نه بې برخې کړ. په دې ترتيب د سترګو د ړندولو دود د پارس نه موږ ته راغی لکه چې د مخه د مغولو نه راغلی و. دی برسېره پردې د پښتو ژبې شاعر هم و. د شعر بېلګه يې دا ده:

يـــــار مـــــا لـــــه هســـــې ګـــــران ســـــو
را تېـــــــر تـــــــر ټـــــــول جهـــــــان ســـــو

نـــــــور نـــــــه ويـــــــنم پـــــــه ســـــــترګو
جهـــــان ټـــــول راتـــــه جانـــــان ســـــو۲۱۸

همدارنګه محمد صديق پوپلزی، بهادر خان، داود خان هوتک، الله يار اپريدی، باز توخي، محمد اياز نيازی، نصرالله اندړ او نور د هوتکيانو د دورې سياسي شخصيتونه او شاعران وو چې د دوی د شعرونو نمونې په پټه خزانه کې خوندي دي.

د پښتو ژبې دوهمه شاهنامه چې «جګړه د محمود افغان، نيول د اصفهان» په نامه ياديږي محمد امين سرپرېکړي په پښتو نثر ليکلې چې د پېښې بيان په پښتو ږغونو او نارو بدرګه کيږي. د ده د کتاب په اړه د ده زوی حافظ نورمحمد ليکلي دي: «ده مبارک چې حال د دې جګړې په خپله ليدلی و، نو وړوکی کتاب په ژبه خواږه د پښتو کې په حال د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړې لیکلی و او نوم د دې کتاب (جګړه د محمود افغان، نیول د اصفهان) دی. حق دا دی چې ډېر رښتینی بیان دی او دا کتاب په زنیو د پښتنو له جهته د بدلو د قومو قیمتي دی او نر و ښځې او کم او لوی یې خواهشتي دي.»۲۱۹ برسېره پردې محمد حافظ واعظ بارکزی د هوتکي دورې د پوهانو او واعظانو نه و. ده په پښتو ژبه شعر وایه او یو کتاب یې د (تخفه واعظ) په نامه په پښتو ژبه لیکلی دی.

همدارنګه عبداللطیف اڅکزی د شاه حسین د مهال وتلی پوه او شاعر و چې د «سوی او اوښ» کیسه یې په شعر لیکلې او په پټې خزانې کې خوندي ده. نورمحمد توخي د ملا یار محمد خان زوی هم د هوتکي دورې د نامتو پوهانو او ښوونکو نه و. پنځه کاله د هوتکو په شاهي کورنۍ کې خصوصي ښوونکی و. د شاهي کورنۍ ښځو، زامنو او نجونو ته یې سبق وایه. یو کتاب یې د (نافع المسلمین) په نامه لیکلی او د پښتو ژبې شاعر هم و. محمدطاهر جمریانی هم د هوتکو د دورې پښتون شاعر و. همدارنګه محمدعادل برېڅ د هوتکو د دورې د پوهانو نه و چې د (محاسن الصلوات) په نوم یې کتاب لیکلی و. دی برسېره پردې شاعر هم و. بل سړی محمدفاضل برېڅ د هوتکو د دورې له پوهانو څخه و چې د «روضه رباني» په نامه کتاب لري. محمدنور برېڅ هم د هوتکو د دورې له پوهانو څخه و او هوتک وایي چې د پښتو ژبې شاعر هم و. همدارنګه محمدیونس توخي د کندهار د جامع جومات ملا امام او د (جامع الفرایض) په نامه کتاب لري چې په پښتو ژبه یې لیکلی دی. یارمحمد هوتک د هوتکو د دورې له پوهانو او ښوونکو نه و. د شاه حسین هوتک استاد و شاه حسین هوتک به ده ته خپل شعرونه ورکول چې نیمګړتیاوې یې په ګوته او سمې کړي. بل کتاب چې د هوتکو په دوران پورې اړه لري د حافظ نورمحمد عشقي کیسه ده چې (قصه د برېښنا یا خدئ) نومیږي، چې د خپل پلار په پله رهي شوی، په ۱۲۰۴ هـ ق کې لیکلې ده چې خطي نسخه یې حبیب الله رفیع سره خوندي ده. په دې توګه د هوتکو واکمنو په پښتو ویناوې او لیکنې کولې او د هوتکو دولت د پښتو ودې او پراختیا ته د قدر وړ چوپړ کړی دی. د هوتکو په دوره کې پښتو د دربار ژبه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لسم څپرکی

# د درانیانو په وخت کې افغان امپراتوري

کله چې دا جوته او ښکاره شوه چې د صفویانو حکومت نور د دې وس او توان نه لري چې د میرویس نه کندهار ونیسي نو درانیانو که څه هم په لومړۍ مرحله کې د صفویانو سره همکاري کړې وه په هرات کې د خپلواکۍ جنډا پورته کړه او د صفوي دولت د واک پلي کوونکي یې د ښار نه وشړل. ورپسې په ټول ولایت مسلط شول او په غوریان، بالامرغاب، بادغیس او اوبه کې یې خپل حاکمان وټاکل. دوی هم د غلزیانو غوندې چې په کندهار کې د افغان دولت بنسټ ایښی و په هرات کې خپل دولت جوړ کړو. دغه مهال د درانیانو مشر اسدالله خان سدوزی و. لکه چې د مخه مو یادونه وکړه چې په ۱۷۲۰ کال کې د فراه پر سر د غلزیانو او درانیانو تر منځ په دلارام کې جګړه وشوه او په هغې کې اسدالله سدوزی ووژل شو. درانیانو بیا مشهد ته پام وکړ خو د هغه په نیولو کې بریالي نه شول. په ۱۷۳۰ کال کې نادرشاه افشار پرېکړه وکړه چې درانیان وځپي او د ۱۷۳۱ کال د مارچ په میاشت کې د یو شمېر بریو وروسته د هرات په لوري روان شو. دغه مهال د درانیانو مشر ذوالفقار سدوزی و چې د خپلو سیالانو لکه الله یارخان او نورو پرعکس د نادرقلي سره د هر ډول پخلاینې مخالف و. د ښار فارسي ژبي او غلزیان چې د سیدال خان ناصر په مشرۍ شاه حسین هوتک د درانیانو مرستې ته ورلېږلي وو د ذوالفقار ټینګ ملاتړ وکړ خو د ښار امامیان یا شیعه ګانو او تیمانیانو د نادرقلي په خوا ودرېدل. د دې سره سره نادرقلي ونه کړای شو چې د خپلو کمزورو توپونو چې اغېزمن نه وو د هرات غښتلي او کلک ښار ته ننوزي. هرات یوولس میاشتې کلابند و او د ۱۷۳۲ کال د فبروري په میاشت کې نادرقلي هرات ته ننوت. نادرقلي د درانیانو د کلک مقاومت سره سره د دوی د ټول وژنې نه لاس واخېسته او یوازې یې ځینې مشران بندیان کړل او نور یې د مشهد او سمنان په منځ کې میشته کړل.

هغه درانیان چې د نادرقلي سره وو د عبدالغني خان الکوزي په مشرۍ د دامغان د پاڅون کوونکو لګزایانو پر ضد او همدارنګه د دجلی د رود په ګاونډ کې د عثماني اردو په وړاندې د نادر په ګټه ښه جنګېدلي وو.نادرقلي د دوی د دغو خدمتونو له امله د دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بندیان د بند نه ایله کړل او ژبه یې ورسره وکړه چې د غلزیانو نه د کندهار نیولو وروسته به یې دوی ته وسپاري. کله چې نادرشاه افشار په ۱۷۳۸ کال کې کندهار د درانیو په مرسته ونیو درانیانو ته یې اجازه ورکړه چې کندهار او هرات ته بېرته راوګرځي او هغه مځکې چې یو وخت د دوی ملکیت و بېرته ورکړي. دا مځکې د نادرشاه په امر د عبدالغني خان له خوا د درانیانو په غټو څانګو ووېشلې. ارغنداب الکوزیو، زمینداور علیزیو، ارغستان اڅکزیو او نورې سیمې بارکزیو او نورو ته ورکړې. د عبدالغني خان الکوزي د مړینې وروسته هم دراني مشرانو د پخوا په شان د نادرشاه افشار تر وژنې پورې د ده په لښکر کشیو کې د نورمحمد خان علیزایي په مشرۍ برخه اخېسته.

د مخه مو یادونه وکړه چې نادر د درانیانو په مرسته د کندهار د نیولو وروسته درانیانو ته اجازه ورکړه چې بېرته هرات اوکندهار ته راوګرځي. دوی د نادرشاه د وژنې پورې د مشهد د چاپېر سیمو نه هرات او کندهار ته راګرځېدلي وو. د درانیانو هغه مشران چې د نادر په پوځ کې یې خدمت کاوه د پارس په خبوشان کې د ده د وژنې وروسته کندهار ته راوګرځېدل او د درانیانو نور مشران ورسره یوځای شول. دوی د یوې خوا د پارس د ولکې نه په خپل وطن کې د خپلواک هېواد جوړول او د بلې خوا د غلزیانو د مخالفت له کبله یوه غښتلي حکومت جوړولو ته اړتیا درلوده. د درانیانو هغه مشران چې د نادرشاه په خدمت کې وو د هېواد د ادارې او په ځانګړې توګه په پوځي چارو کې زیاته تجربه درلوده. له دې کبله د درانیانو د لویو قبیلو مشران لکه جمال خان بارکزی، نورمحمد خان علیزای، نصرالله خان نورزای، مهابت خان پوپلزی، موسی خان اسحقزی، احمدخان سدوزی او نور په ۱۷۴۷ کال کې د شیر سرخ په زیارت کې نادر اباد ته نږدې سره جرګه شول او احمد خان سدوزی یې د افغانستان د پاچا په توګه وټاکه.

## احمدشاه بابا

د مخه مو یادونه وکړه چې درانیانو هغه مهال، چې په کندهار کې د میروېس خان هوتک په مشرۍ د لومړي افغان دولت بنسټ کېښودل شو، په هرات کې ابدالي دولت جوړ کړو چې وروسته دواړه دولتونه د نادر افشار له خوا ړنګ شول او ټول افغانستان یې تر خپلې واکمنۍ لاندې راوست. خو کله چې نادر افشار د پارس په خبوشان کې ووژل شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو احمد خان چې د نادر افشار د ګارډ قوماندان و د نادر افشار د کورنۍ عزت يې د پارسيانو د تېري نه وژغوره. د نادر افشار مېرمنې د احمد خان د دې کارنامې د قدردانۍ په خاطر د «کوه نور» په نامه د نړۍ تر ټولو نامتو الماس ده ته ورکړ. محمد اعظم سيستاني د انجنر کهکدای د ليکنې پر بنسټ وايي چې دغه د کوه نور الماس مغولي بابر د ابراهيم لودي د مېرمنې او مور نه په زور اخېستی و.۲۲۰ او بيا نادر افشار د مغول واکمن محمدشاه ګورګاني نه واخېست او لکه چې د مخه مې يادونه وکړه د نادر افشار مېرمنې احمد خان ابدالي ته وبخښه چې وروسته د شاه شجاع نه رنجيت سنګ او د رنجيت سنګ نه انګرېزانو لاسته راوړ چې اوس د انګلستان مالکې تاج پرې ښکلی شوی دی.

د نادرشاه افشار د وژلو وروسته احمد خان او د هغه دراني او غلزايي اردو چې د نادر د دربار د باور وړ شپاړس زريزه قطعه وه د پارسيانو د کمپ نه په جګړې سره ووتله او د کندهار په لور روانه شوه. احمد خان بېرته د خپلو ملګرو سره کندهار ته راوګرزېد. دلته پښتنو مشرانو چې د نادر افشار په واکمنۍ کې يې پوره سياسي تجربه تر لاسه کړې وه پرېکړه وکړه چې خپل هېواد خپلواک کړي. دوی په ۱۷۴۷ کال کې د کندهار په شېر سرخ کې سره جرګه شول او د نهو ورځو نه وروسته د صابر شا پير په وړانديز احمد خان د افغانستان د پاچا په توګه وټاکل شو. په دې ترتيب د نوي افغانستان بنسټ کېښودل شو. احمدشاه بابا بيګي خان باميزايي په شاه والي خان اشرف الوزراء لقب ونازاوه او د صدراعظم په توګه يې وټاکه. همدارنګه سردار جهان خان پوپلزای يې خان خانان ونوموه او د سپاسالار رتبه يې ورکړه او مېرزن يې وټاکه.

د احمدشاه بابا لومړی موخه دا وه چې د امو نه تر اباسينه خپلواک افغانستان جوړ کړي. د دې موخې د لاسته راوړلو له پاره غښتلي پوځ جوړولو ته اړتيا وه چې زيات لګښت پرته يې د جوړېدو شونتيا نه وه. هغه مهال د بې وزلې پښتنو نه دومره پيسې نه وې چې دا د اړتيا وړ ماليه ور ځخه راټوله کړي. خو د ښه مرغه هغه خزانه چې د هند نه پارس ته روانه وه احمدشاه بابا خپله کړه او ده ته يې د دې توان ورکړ چې يو غښتلی پوځ تنظيم کړي.

د علي احمد جلالي د څېړنې له مخې د دولت جوړښت چې دراني امپراتورۍ ومانه متضاد و چې بنسټ يې د نامتمرکز قومي او سيمه ييز پوځي، اداري او اقتصادي موسسو په مرکزي کنټرول باندې جوړ و. په تاريخي لحاظ داسې يو سيستم په هېواد کې يوازې د يوه پياوړي او جذاب مشرتابه لاندې کار ورکوي چې ملت د ګډې داعيې په روحيه لکه د بهرني تيري په وړاندې جګړه يا ايډيالوژيکي جګړه د پرمخ بيولو له پاره چمتو کاوه. احمدشاه دراني وکولی شول چې ټولنيز يووالی چمتو کړي تر څو د امو او اباسين تر منځ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وطن د خپلواکۍ، د امپراتورۍ د جوړولو چې په دایمي ډول د ۶،۴ میلیونو پښتنو او نورو قومونو چې د امو او اباسین تر منځ سیمې کې اوسیږي، وطن وساتي. برسېره پر دې هغه د افغان مسلمانانو دا اسلامي دنده وګڼله چې په هند کې د ستم لاندې مسلمانان وژغوري او هغه د ډیلي تخت باندې د افغانانو د میراثي حق ادعا وکړه.۲۲۱ د افغانانو واکمن د قومونو یووالی چمتو او وساته او دوی ته یې دا موقع په لاس ورکړه چې خپل هېواد چې لرې سرچینې لري وساتي او بهرني هېوادونه چې بډایې سرچینې لري فتح کړي.

احمد شاه دراني په کندهار کې د چارو د تنظیم نه وروسته غزني ته روان شو او د هغه ځای حاکم ته چې نادر افشار ټاکلی و ماتې ورکړه هلته یې خپل باوري کس وټاکه او کابل ته روان شو. د کابل حاکم ناصرخان په خپل ځان کې د مقابلې توان ونه لید او د پېښور په لوري وتښتېد. احمدشاه بابا د کابل ارګ ته ننوت او په کابل کې د چارو د تنظیمولو وروسته د پېښور په لور وخوځېد چې هلته ناصر خان وټکوي. کله چې د احمدشاه بابا لښکر پېښور ته نږدې شو ناصر خان د هغه ځایه وتښتېد او د اټک له لارې د هزاره چچ سیمې ته یې پناه یووړه. احمدشاه بابا د جګړې پرته پېښور ته ننوت او د پېښور او چاپېر سیمو مشرانو د احمدشاه بابا حضور ته ورغلل او د خپل ژغورونکي د ټینګ ملاتړ ژمنه یې وکړه. احمدشاه بابا په ناصر خان پسې ستر جنرال سردار جهان خان ولېږه او په خپله د پېښور چارو په تنظیمولو بوخت شو. سردار جهان خان د هزاراه چچ په لور روان او د اټک نه تېر شو او د ناصر خان پښې هلته هم ټینګې نه شوې او لاهور ته وتښتېد. د هغه مال د جهان خان په لاس کې ولوېد او بېرته پېښور ته راستون شو او د شاهي پوځ سره یوځای شو. احمدشاه بابا په دغه برید کې د هغه ولایتو په نیولو باندې بسنه وکړه چې نادرشاه افشار د هند نه بیل کړي وو او د خپل ملک سره یې یوځای کړي وو. ده د دې ټولو ولایتونو چارې تنظیم کړې او هلته یې خپل باوري کسان وټاکل او د اړتیا وړ لښکر یې په کې ځای په ځای کړ او د پاتې پوځ سره بېر ته کندهار ته راستون شو.۲۲۲

## د احمد شاه بابا دوهمه جګړه:

په کندهار کې د چارو د نور تنظیم وروسته احمدشاه بابا د لاهور او هند د نیولو په موخه په ۱۱۶۱ هـ کال کې د دیرش زره پوځ سره د کابل او پېښور له لارې په هغه لوري وخوځېد او هغه مهال چې د اټک او جیلم له رودونو نه واوښت د لاهور سیمو ته ورسېد. د لاهور حاکم شهنوارخان د احمدشاه بابا د مقابلې توان په ځان کې ونه لید او شاه جهان اباد ته وتښتېد او احمدشاه بابا لاهور ته ننوت او د پنجاب ټول راجه ګان د احمدشاه بابا

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضور ته راغلل.

دغه مهال محمدشاه ګورګاني د شهنواز خان په غوښتنه یو لوی لښکر د خپل زوی احمدشاه، د خپل وزیر الممالک قمرالدین اعتماد الدوله او نواب صفدر جنګ په مشرۍ شاه جهان اباد ته د احمدشاه بابا د پوځ سره د مقابلې په موخه ولېږه. احمدشاه بابا د لودیانې له لارې د ګورګاني پوځ نه په څنګ تېر شو او سهرند ته ننوت او ډېرې اولجې یې لاسته راوړې. ګورګاني پوځ هم د سهرند په لور د افغان پوځ سره د جګړې په نیت د ستلج د نهر له څنګ نه تېر شو او دواړه پوځونه د یو او بل په وړاندې مورچلونه ونیول. سره له دې چې قمرالدین وزیرالمالک د جمعې د ورځې د لمانځه په وخت کې د توپ په ګولۍ ووژل شو او راجا کسري سنګ د اجمیر د نورو راجاګانو سره د دوولس زره پوځ سره خپلو ځایونو ته بېرته ستانه شول د ګورګاني شاه زوی ټینګ مقاومت وکړ. د بلې خوا د احمدشاه بابا په لښکر کې یوه پېښه وشوه چې د لاهور نه یې یوڅو بانونه (راکټونه) لاسته راوړي وو، چې له باروتو به ډکېدل او بیا به د دښمن په لوري ویشتل کېدل، د دغه بانونو نه د جګړې په وخت کې د کوم چا د خیانت او وړتیا د نه لرلو له مخې په خپلو پوځیانو ډزې وکړې او خپل ملګري یې مړه او ټپیان کړل. که څه هم د افغان پوځ بری څرګند و خو د دې پېښې وروسته احمدشاه بابا پوه شو چې کوم کار یې د لاسه نه کیږي، سوله یې اختیار کړه او د جګړې نه یې لاس واخېست او د سند نهر د دواړو دولتونو تر منځ پوله ومنل شوه او د پېښور او کابل له لارې بېرته کندهار ته راستون شو.

محمدشاه ګورګاني میرمنو معین الملک ته چې په دې جګړه کې زړه ورتیا او متانت ښودلې و لاهور او ملتان صوبه داري وسپارله. محمد شاه ګورګاني د دې سولې نه وروسته مړ شو او شاه زوی احمدشاه چې شاه جهان اباد ته د تلو په وخت کې د پلار د مړینې نه خبر شو او په غمجن زړه شاه حهان اباد ته ننوت او د پلار د تعزیت نه وروسته په تخت کښېناست او صفدر جنګ یې د خپل وزیر په توګه وټاکه.

## د احمدشاه بابا دریمه جګړه

احمدشاه بابا د ۱۱۶۲ هـ کال کې یو ځل بیا د میر منو سره د جګړې په نیت لاهور ته روان شو. د میرمنو سره د یوې سپکې جګړې نه وروسته سوله وشوه او احمدشاه بابا په هغو مځکو بسنه وکړه چې نادر افشار نیولې وې. د سیالکوټ، ګجرات، اورنګ اباد او امرتسر مالیه میرمنو په غاړه واخېسته او په خپله کندهار ته راستون شو. کندهار ته د رسېدو وروسته یو شمېر امرانو لکه نورمحمد خان علیزای، میر افغان، ګدو خان او

(c) ketabton.com: The Digital Library



محبت خان پوپلزایان او عثمان خان توپچي باشي او نورو د احمدشاه بابا د وژلو نیت وکړ، ونیول او د پیلانو د پښو لاندې وغورځول او ووژل شول او یوازې عثمان خان چې پیل په خپل خرطوم لیرې وغورځاوه او د مرګ نه خلاص شو. دا پټنه په دې ډول پای ته ورسېده.

## د احمدشاه بابا څلورمه جګړه:

کله چې نادرشاه افشار ووژل شو د ده لمسی چې د سلطان حسین لور زیږولی و د ځانګړو او عامو خلکو سره د ښه چلند له امله ښه نوم درلود د خلکو له خوا ده ته د سلطنت وړ کس په نظر کتل. خو د سید محمد په نوم یو سړی، چې پلار یې سید داود نومېده چې یو پارسا او د سلطان میرزا د خور مېړه و، د پاچاهۍ په فکر کې شو. سید محمد شیعه ګان ولمسول چې شاهرخ میرزا سني دی او شیعه ګانو شورش پیل کړ او شاهرخ د مخه تر دې چې خپل لښکر راغونډ کړي بندي او سمدلاسه ړوند او بندي کړل شو او سید محمد ته د سلیمان لقب ورکړل شو او پاچا وبلل شو. خو سید محمد د مخه تر دې چې په حکومت پیل وکړي یوسف علي خان، چې د شاهرخ میرزا د پوځ یو باوري سردار و، سید محمد ته ماتې ورکړه او ویې واژه، شاهرخ میرزا یې د بند نه ایله او پر تخت کښېناوه او په خپله یې د چارو واګې په لاس کې ونیوې. خو دوو تنو نورو امیرانو لکه د کوردانو مشر جعفر خان او د عربو مشر میرعالم خان د یوسف خان په وړاندې یو لاس شول او هغه یې وواژه او شاهرخ میرزا یې بېرته زندان ته واچولو او څو ورځې وروسته دغه دوه تنه سره مخالف شول او د ښار د باندې یو د بل په وړاندې په جګړې لاس پورې کړ او بری د امیر علم خان په برخه شو امیر عالم خان هرات ته راغی او په حکومت یې پیل وکړ.

احمدشاه بابا د خراسان د امیرانو د جګړو او د شاهرخ میرزا د بندي کېدو نه خبر شو د خراسان په لور په دې نیت روان شو چې هرات د خپل ملک سره بېرته یوځای کړي او هم د خراسان امیران وګوابني او شاهرخ میرزا د بند نه ایله او په تخت کښېنوي. احمدشاه بابا هرات څلور میاشتې کلابند کړ. امیر علم خان مقاومت وکړ تر څو ووژل شو. هرات د احمدشاه بابا لاسته ورغی احمدشاه بابا هرات درویش علي خان هزاره ته وسپاره او د خپل لښکر سره د مشهد په لور روان شو. مشهد کلابند شو او دا کلابندې څلور میاشتې اوږده شوه او بیا دواړې خواوې سولې ته راضي شوې. احمدشاه بابا خپله مېرمن او زوی تیمور چې د نادرشاه افشار د وخت نه تر دې دمه په مشهد کې وو د زیاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيسو په بدل کې تر لاسه او شاهرخ ميرزا يې د بند نه ايله او د حکومت واګې په لاس کې ونيوې او په خپله نيشاپور ته روان شو. په نيشاپور کې عباس قلي خان بيات چې هلته يې د حکومت په وړاندې پاڅون کړی و د ښار دفاع يې ټينګه او د احمدشاه بابا سره يې د سولې خبرې ته برترې ورکړه. خو هغه يوازې غوښتل چې وخت وګټي تر څو ژمی راشي واوره واوريږي او د يخ له کبله د احمدشاه بابا پوځ تباه شي. احمدشاه بابا هم پوه شو او د نيشاپور نه يې خپل پوځ د هرات په لور روان کړو. خو بيا هم د سخت ساړه له امله يې اته زره کسان مړه شول او په ډېرو ستونزو سره هرات ته راستون شو. په هرات کې يې درويش علي خان هزاره د خيانت له امله د دندې ګوښه او يو باوري کس يې د هرات د واکمن په توګه وټاکه او کندهار ته راستون شو او د قلي خان ته جزا ورکولو په موخه يې د لښکر په جوړولو پيل وکړ.

## د احمدشاه بابا پنځمه جګړه:

احمدشاه بابا دوهم ځل په ۱۱۶۴ هـ کال کې د لښکر د تنظيمولو وروسته د نيشاپور په لور وخوځېد. احمدشاه بابا چې نيشاپور ته ورسېد عباس قلي خان د زارۍ لار ونيوله او د احمدشاه بابا نه يې بخښنه وغوښته او اطاعت ته يې غاړه کېښوده. احمدشاه بابا عباس قلي خان وبخښه او د پخوا په شان د نيشاپور حاکم وټاکه. سردار جهان خان او نصير خان بلوڅ يې په عليمردان خان زنګويي د ځپلو دپاره چې د طون او طبس حاکم و ولېږل او په خپله مشهد ته لاړ. جهان خان او نصير خان په کاخک او کناباد کې د عليمردان سره مخامخ او د يوې سختې جګړې وروسته عليمردان ووژل شو. سردار جهان خان او نصير خان هلته د نظم د برابرولو وروسته بېرته د شاهي پوځ سره يوځای شول. احمدشاه بابا مشهد شپږ مياشتې کلابند کړ. په پای کې شاهرخ ميرزا دواړه زامن د سيدانو او عالمانو سره د احمدشاه بابا حضور ته واستول او دواړه خواوې سولې ته راضي شول. د مشهد لوري ومنله چې سکه او خطبه به د اعلحضرت احمدشاه بابا په نوم او مهر، ارقام او حکمونه به د شاهرخ په نوم وي او د شاهرخي ولاياتونو نه جام، خرز، تربت، حيدريه، خواف او ترشيز چې د مشهد او هرات تر منځ پراته و، په افغانستان پورې وتړل شول. احمدشاه بابا هرات ته راستون شو او وزير شاه ولي خان يې د ترکستان په نيولو وګوماره.

وزير شاه ولي خان د ترکستان د نيولو په موخه د هرات نه روان شو او احمدشاه بابا کندهار ته لاړ. وزير شاه ولي خان د مروې له لارې ترکستان ته ننوت او د جګړې پرته يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميمنه، اندخوی، شبرغان، بلخ، باميان، قطعن او بدخشان ونيول او په هر ولايت کې يې حاکمان وټاکل او د کابل له لارې بېرته کندهار ته راستون شو او خرقه شريفه يې هم د ځان سره کندهار ته راوړه. احمدشاه بابا د دغې سترې سوبې له امله شاه ولي خان د علی ديوان د وزارت په منصب ونازوه.

## د احمدشاه بابا شپږمه جګړه:

احمدشاه بابا ۱۱۶۵ کال د کندهار نه د لاهور په نيت وخوځېد. مير منو معين الملک د لاهور د ساتنې په موخه د افغان پوځ په وړاندې را د مخه شو او دا جګړه څلور مياشتې اوږده شوه. په پای کې د ميرمنو او د هغه د دوو باوري کسانو ادين بېک او کوراملـ تر منځ بې اتفاقي د دې لامل شوه چې ميرمنو د احمدشاه بابا نه بخښنه وغواړي. احمدشاه بابا هغه وبخښه او د لاهور د حاکم په توګه يې وټاکه او په خپله د کابل له لارې کندهار ته راستون شو.

## د احمدشاه بابا اوومه جګړه:

ميرمنو د ۱۱۶۷ کال پورې په رښتينوالی سره چوپړ کاوه. له دې وروسته دغه نمک حرام احمدشاه ګورګاني د خپلې مور سره ړانده کړل او په خپله په همدې کال د اس نه ولوېد او مړ شو. د ده له مړينې وروسته احمدشاه بابا د يوه فرمان په ترڅ کې چې د کندهار نه يې لېږلی و، د ده کوچنی زوی مير مومن د لاهور حاکم وټاکه. څنګه چې مير مومن کوچنی و واک يې مور «مغلايي بيګم» په لاس کې واخېست. مغلايي بيګم د لاهور د حکومت چارې د خپل مېړه مير منو د چارو باوري طره باز خان په مرسته ترسره کولې. ټول اميران د مغلايي بېګم د کار د شېوې نه خوښ نه وو او په ځانګړې توګه د خان رستم جنګ د سلوک نه چې د ټولو چارو اختيار ورسره و. لږ وخت وروسته د مغلايي بېګم کوچنی زوی مير مومن مړ شو او د ميرمنو زوم خواجه موسای احراري معين الملک د مير مو من په ځای حکومت کاوه. رستم جنګ په دې نيت چې د لاهور حکومت په لاس راوړي په طره باز خان يې تور ولګاوه چې ميرمنو يې په زهرو وژلی بندي او بيا ووژلو. مغلايي بېګم د رستم د دې کار نه چې خبره شوه هغه يې راوغوښت او خپلو وينځو ته يې امر وکړو چې په لرګيو يې دومره ووهي چې سا يې ووزي. هغه په دې توګه ووژل شو. څه وخت وروسته عبدالله خان مغلايي بېګم بندي کړه او د لاهور د حکومت واک يې د يوه ليک له مخې د احمدشاه بابا نه وغوښت خو احمدشاه بابا د ده د غوښتنې پرخلاف د سردار جهان خان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورور امان خان لاهور ته واستوه. خواجه عبدالله وتښتېد او د لاهور حکومت د پخوا غونديې د بېګم مغلايي په لاس کې و.

دغه وخت احمدشاه بابا ايشک اقاسي عبدالله خان د کشمير د نيولو له پاره کشمير ته ولېږه او کشمير يې د عالمګير ثاني له لاسه وايستلو او سيکجون هندو چې په کابل کې اوسېده د کشمير حاکم وټاکه او زين خان مومند د سهرند حاکم وټاکل شو. عبدالله خان بېرته کندهار ته راستون شو.

بيا په لاهور کې مير شهاب الدين عماد الملک مغلايي بېګم له واکه ليرې او ادينه بېګ يې د هغې په ځای واکمن کړ او سيکجون هم په کشمير کې سرغړونه وکړه او د افغان پوځ سردار يې وواژه. احمدشاه بابا پرېکړه وکړه چې د لاهور او کشمير د ياغيانو د ځپلو په نيت د لاهور او هندوستان په لور روان شو.

احمدشاه بابا په ۱۱۷۰ هـ کال کې بيا له کندهار نه د کابل له لارې د لاهور خوا ته روان شو. د لاهور نه ادينه بېګ وتښتېد او احمدشاه بابا لاهور ته ننوت او هلته د نظم د راوستلو وروسته د ډيلي په لور روان شو په لاره کې نواب نجيب الدوله د ده حضور ته ورغی او ډيلي ته ننوت او د ډيلي د پاچا دوهم عالم ګير سره يې وکتل. دغه وخت احمدشاه بابا د عزيز الدين د دوهم علم ګير د سکه ورور لور تيمور ته په نکاح کړه او ډيلی يې دوهم عالمګير ته پرېښود او نواب نجيب الدوله يې د وزير په توګه وټاکه. احمدشاه بابا د محمدشاه لور ځانته په نکاح کړه او افغانستان ته د راستنېدو په لاره کې سروند ته ننوت او عبدالصمد اشنغري محمدزايي يې د هغه ځای حاکم وټاکه او لاهور ته ننوت. هلته يې شاه زوی تيمور د لاهور، ملتان، تته، کشمير، جمو او د پنجاب د نورو ولايتونو واکمن په توګه وټاکه او سردار جهان خان يې د هغه سرپرست وټاکه او په خپله کندهار ته راستون شو.

وروسته له دې چې احمدشاه باباکندهار ته راستون شو سردار جهان خان په ۱۱۷۱ کال کې ادينه بېګ، چې د مخه په يوه ځنګل کې پټ و، په دوابه کې وټاکه. شاه زوی تيمور هغه خپل حضور ته راوغوښت خو هغه رانه غلو او بېرته ځنګل ته وتښتېد. شاه زوی تيمور په دوابه کې مراد خان د حاکم په توګه او بلند خان او سرفراز خان يې د هغه د مرستيالانو په توګه وټاکل. ادينه بېګ په غرونو کې سيکان په ځان راغونډ او شورش يې پيل کړ. دوی په دوابه بريد وکړ بلند خان ووژل شو او مراد خان او سرفراز خان لاهور ته وتښتېدل. دغه وخت د دکن نه يو لوی پوځ د بالاجي وروڼو په مشرۍ د شمالي هند د نيولو دپاره روان و او د شاه جهان اباد چاپېر ته رارسېدلی و، ماراتان په ډيلي ورتوی شول

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هغه افسران یې وشړل چې احمدشاه بابا ټاکلي وو. ماراتانو ته ادینه بېګ پنجاب ته بلنه ورکړه. دا پوځ چې په ۱۷۵۸ کې پنجاب ته راورسېد د ادینه بېګ سره یې په لاهور برید وکړ. سردار جهان خان د قواوو انډول د دښمن په ګټه ولیده اړ شو چې د شاه زوی ژوند وژغوري، پېښور ته راغی او بیا کندهار ته راستون شو او د احمدشاه بابا سره یوځای شو. دغه وخت د مرهټیانو د ظلم په وړاندې شجاع الدوله، نجیب الدوله د نورو راجه ګانو سره یوځای احمدشاه بابا ته لیکونه ولېږل چې د دوی مرسته وکړي.

## د احمدشاه بابا اتمه جګړه یا د پاني پت جګړه:

دا یادونه باید وکړم چې د احمدشاه بابا جګړې مې د سراج التواریخ له مخې چې فیض محمد کاتب لیکلی دی په لنډ ډول بیان کړې دي. خو د پاني پت جګړه مې د علي احمد جلالي د کتاب له مخې چې «د افغانستان پوځي تاریخ» نومیږي کښلې ده. احمدشاه بابا په ۱۱۷۳ کال کې بیا د هند په لور روان شو. د اټک د نهر سره یوې کوچنۍ نښتې وروسته د لاهور والي، او د دوابه او سهرند حاکمان د ډیلي په لور وتښتېدل. احمدشاه بابا د لاهور نه د ډیلي په لور وخوځېد. کله چې احمدشاه بابا سهرند ته ورسېد سعدالله خان، نجیب الدوله، احمد خان بنګښ، رحمت خان او دوندي خان، چې وطنوال یې وو، د ده حضور ته راغلل او د ده سره یو ځای شول. احمدشاه بابا د پنجاب برسېره د ډیلي په چاپېر کې بریالیتوبونه ترلاسه کړل. په پنجاب او د ډیلي په چاپېر کې ماتو مراټیانو او په شمالي هند کې د دوی ملاترو د خپل مشر پېشوا (صدراعظم) نه وغوښتل چې دوی ته یو لوی پوځ راولېږي چې افغانان د هېواد نه وباسي او اجازه ورکړي چې د هند اسلامي واکمني رانسکوره کړي. د دوی مشر په ۱۷۶۰ په پسرلي کې تش په نامه د خپل ځوان زوی د ویسواسراو (Viswasrao) په قوماندانۍ خو د راو بهاو (Rao Bhao) په واقعي قوماندانی یو لوی پوځ تنظیم کړ چې درې لکه غیرجنګي خلکو یې ملګرتیا کوله شمالي هندوستان ته راولېږل او د ۱۷۶۰ کال د اګست په اوله نېټه د ډیلي چاپېر ته راورسېدل. دوی نور هم د شمال خوا ته حرکت کاوه تر څو افغان پوځ سره مقابله وکړي. پنځه میاشتې وروسته په سرنوشت ټاکونکې جګړه کې په پاني پت کې سره مخامخ شول.

دغه دواړه پوځونه تر دوې میاشتې زیات په پاني پت کې، چې په هندوستان کې یو لرغونی ښار او نږدې ۶۰ میله د ډیلي په شمال کې پروت دی، یو د بل په وړاندې ولاړ وو. د دغو دواړو پوځونو نه هر یوه کوښښ کاوه چې د بل لوري د اړینو توکو د زیرمو کولو لارې پرې کړي. هر لوري هاند کاوه چې دښمن په داسې حالت کې جګړې ته وهڅوي چې شرایط

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې په ګټه نه وي. مرهټانو غوښتل چې افغان پوځ ته د زیرمو کولو لارې کې ستونزې جوړې کړي او اړ شي چې د دوی په کمپ برید وکړي په دې چې دوی د کمپ په ټینګو مورچلونو کې پراته وو او افغانانو ته یې د دوی په کمپ باندې د برید په حال کې د درنو توپکو په ذریعه دروند ګوزار ورکولی شو. خو احمدشاه بابا بیړه نه درلوده. هغه خپل د هند افغاني متحدین چې په پرله پسې ډول یې د ده نه د مرهټانو په کمپ د برید غوښتنه کوله، مشوره ورکوله چې تر هغه صبر وکړي تر څو ګټوره موقعه راورسیږي تر څو ټکر مو بریالیتوب ته بوزي. مرهټانو هڅه کوله چې د افغانانو د زیرمه کولو لارې پرې کړي. خو افغان پوځ په ښه ځای کې پروت و. افغان پوځ د دښمن د زیرمو کولو په لارو ولاړ و او هم یې کولی شول چې په اسانۍ سره د خپلو افغان متحدینو سرچینو د جمنا سر تر سره څخه برابرې کړي.

د مارهټانو د پوځ د زیرمو لومړۍ سرچینه ډیلی و. دوی خپلې زیرمې د پونې نه تر ډیلي پورې په غزېدلې لارې بشپړولې. د دوی د زېرمو بله سرچینه په خپله د ډیلي چاپېر ولسوالۍ وې. دراني پوځ په ډېر مهم ځای کې پروت و او د دښمن د اکمالاتو دواړه لارې یې پرې کولی شوې. برسېره پردې احمدشاه بابا دښمن تل تر فشار لاندې نیولی و. د سوارو یوې پنځه زریزې لوا به د دوی په اړخونو او د شا نه بریدونه کول. هره ورځ به د سوارو یوې پنځه زریزې لوا د ماښام نه تر سباوون پورې د دوی څارنه کوله. د افغانانو د سورو دوې نورې پنځه زریزې لواګانې به د دوی د زېرمه کولو لارې څارلې او نه یې پرېښودل چې دوی ته مواد ورسیږي.

د مرهټانو سترو پوځي ځواکونو او غیر نظامي ځواکونو تمرکز په یوه کمپ کې چې شپږ میله اوږد او دوه میله سور یې درلود دوی ته ډېر پرابلمونه او روغتیایي ستونزې پیدا کړې وې چې د پوځ په روحیه یې ناوړه اغیز شینده. د ۱۷۶۱ کال د جنوري په لومړۍ اوونۍ کې زیاتې قحطۍ د مرهټا کمپ تر پوزې راوستلی و. د مرهټا د پوځ قوماندانانو په بهاو زور اچولو چې په افغان پوځ سملاسي برید وکړي.

د ۱۷۶۱ کال د جنوري په ۱۳مه نېټه د مرهټه مشرانو پرېکړه وکړه چې د ډیلي لور ته لاړ شي، هلته به ښې زېرمې برابرې او د افغان پوځ په وړاندې به غښتلی موقعیت ولري. د دې له پاره چې ډیلي ته د تګ په وخت کې د حرکت د لیکو نه جګړې ته تیار وي، د مرهټه ځواکونه د پیاده مربع (infantry square) په بڼه تنظیم شوې. د علي احمد جلالي په وینا د «پیاده مربع» یوه پوځي اصطلاح ده او د جګړې یوه بڼه ده چې د لرغونې زمانې نه به د پیاده ځواکونو له لوري چې د سوارو له خوا به تر ګواښ لاندې وو، کاروله. د جګړې دا بڼه لرغونیو رومانیانو د کاراهایي په جګړې کې په۵۳ مخزیږدې کې د پارتیانو په وړاندې کارولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه. د مرهټه دا پياده مربع ډېره پراخه وه، چې د جګړه يزو ځواکونو نه جوړه وه. د دغې پراخې پياده مربع د ننه غير جنګي خلک او کورنۍ روان وو، چې د هغوی چاپېر جګړه يزو قواوو يې ساتنه کوله. دوی نيت درلود چې په دغه بڼه به د سوويل ختيځ په لور د ډګر د يو سر نه تر بله سره مخامخ جمنا رود ته، چې اتلس ميله لرې و، روان او بيا به د رود د ښی غاړې به ډيلي ته لاړ شي.

د ۱۷۶۱ کال د جنوري په ۱۴ نېټه سهار وختي د افغانانو جاسوسي شبکه د دوی د پلان نه خبره شوه. افغان پوځ ته حکم وشو چې د دښمن د تلو مخه بنده کړي. د مرهټه د پوځ ليکې چې سوويل ختيځ لوري ته رواني وې چې اوه ميله اوږدوالی او دوه ميله ژورې وې، اړ شول چې دوی خپل د تېرې شپې پلان پرېږدي او د افغان پوځ په کيڼ اړخ بريد وکړي. په دې توګه د ۱۷۶۱ کال د جنوري په ۱۴مه د پاني پت سرنوشت ټاکونکې جګړه پيل شوه. د علي احمد جلالي د څېړنې له مخې د مرهټه د پوځ شمېر ۷۹۰۰۰ سواره، ۱۵۰۰۰ پياده او د غيرجنګي کسانو شمېر يې اټکل نيم ميليون ته رسېده. د افغان پوځ شمېر ۴۱۸۰۰ سواره، ۳۸۰۰۰ پلي او نږدې ۷۰ تر ۸۰ پورې توپونه وو. د غير جنګي کسانو شمېر يې د جنګي پوځ د شمېر شايد څلور برابره و.

د ۱۷۶۱ کال د جنوري په ۱۴مه نېټه اته ساعته جګړه د مرهټه د توپونو، موسکېټو او راکټو مخکينۍ ليکې د افغان پوځ په ښي اړخ وروړاندې شوه. مرهټانو د نږدې جګړې د کولو په نيت د افغانانو ښی اړخ په شا وتمبوه خو د دوی په ليکو کې په ننوتو کې ناکامه شول. څنګه چې د افغان پوځ ښی اړخ د ابراهيم ګاردي د قوماندانۍ لاندې د مرهټه د باډسپلينه منظم پوځ سره په درانده جګړه لګيا و، د مرهټه د مرکز قواوو د بهاو او ويسواسراو په مشرۍ د افغان پوځ په مرکز چې د شاه ولي خان تر قوماندې لاندې و، بريد وکړ. د افغان د مرکز د قواوو يوه ليکه چې لس زره سوارو، ۷۰۰۰ پارسي موسکېټ لرونکي او زر په اوښانو بار زمبورکو نه جوړه وه، ماته کړه. خو د افغان پوځ کيڼ اړخ د نجيب الدوله په مشرۍ چې اته زره پلي او شپږ زره سوار يې درلودل د مرهټه د ښي اړخ سره چې د جانکوجي سنديا تر قوماندې لاندې و، سخته جګړه پيل کړه. کله چې د دښمن د ليکې اړخونه د افغان پوځ د مسکېټو او راکټو د اغېز اندازې لاندې راغلې د نجيب الدوله فرقې په يوه وخت کې دوه زره ډزې کولې، چې نه يوازې يې د وېرېدونکي اوازونو نه اسان ډرېدل، بلکې دومره زيات مرګ وشو چې د هغو دښمن نه شو کولی چې وړاندې لاړ شي.

نږدې د غرمې په مهال احمدشاه بابا پرېکړه وکړه چې خپل زېرمه شوي پوځ د مرکزي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ښي اړخ د ټیکاو له پاره وکاروي، چې د مرهټه د ځواکونو د فشار لاندې وو. هغه څلور زره قوه ته حرکت ورکړ چې ښی اړخ سره مرسته وکړي او لس زره قوه یې مرکز شاه ولي خان ته واستوله چې په دښمن یې د نږدې نه سخته حمله وکړي. احمدشاه بابا نجیب الدوله او شاه پسند خان ته هم لارښوونه وکړه چې دوی هم په یو وخت کې د دښمن په اړخونو کلکه حمله وکړي. نږدې یوه بجه د احمدشاه بابا د زېرمې پوځونه په جګړه کې شامل شول. وزیر شاه ولي خان د هغه پوځ سره په جګړه بوخت و، چې په خپله بهاو قومانده ورکوله. نجیب الدوله د دښمن په اړخونو غوځ او اغېزمن ګوزارونه کول. په مرکز کې جګړې د یو ساعت له پاره داسې دوام وکړ چې په جریان کې یې دواړو لورو د نېزو، تورو، د تبرونو- جنګ او ان په چاړو جګړه کوله.

زر د دوو بجو وروسته ویسواسراو ووژل شو، یو نیم ساعت وروسته بهاو درې ځلې د اسانو د مړیني له امله ولوېد خو بیا هم جنګېده. نږدې درې بجې وې چې د جګړې سرنوشت ښکاره شو، کله چې د مرهټه ټول پوځ خپل مخونه په شاه وړول او په ګړندیتوب سره یې تېښته پیل کړه. افغان پوځ په هر لوري دوی د ۲۵ نه تر ۳۰ میلو پورې تعقیب کړل. د دوی د تېښتې په جریان کې تر یوه لک پورې کسان ووژل شول او څلوېښت زره بندیان شول چې هغوی ټول د افغان پوځ له خوا ووژل شول. په بندیانو کې جانکوجې، سیندیا او ابراهیم ګاردي هم شامل وو چې په افغان کمپ کې زندی شول.

افغان پوځ او د دوی متحدینو ته د میلیونونو روپو او خزانو پرته پنځوس زره اسان، دوه لکه غوایان، په زرګونو اوښان او پنځه سوه پیلان لاسته ورغلل. دا جګړه چې د پاني پت په دریمه جګړه نامتو ده، یوه د نړۍ د غوځې جګړې په توګه ګڼل کیږي. افغانانو شمالي هند ته د مرهټانو پراختیا ودروله او د دغې نیمې وچې ستر ځایي ځواک یې مات کړ او د هند تاریخ یې د تل له پاره بدل کړ. پنځوس کاله وروسته یې د انګرېزانو بریالیتوب اسانه کړ.

احمدشاه بابا د دغې سترې سوبې وروسته د ډیلي حکومت شاه زوی شاه علم ته وسپاره، شجاع الدوله یې د هغه د وزیر او نجیب الدوله یې د لښکر امیر وټاکلو. په لاهور کې یې د حکومت واګې زین خان مومند ته په لاس ورکړې او د کابل له لارې کندهار ته راستون شو. د احمدشاه بابا له پاره دا جګړه یوه حماسه شوه. دغې جګړې د دراني امپراتورۍ تصویر د هند او پارس د پولو نه د باندې لوړ کړ. خو د جلالي په وینا دې جګړې د دراني دولت د ختیځو پولو امنیت ټینګ نه کړ چې د دې جګړې اساسي موخه یې جوړوله. دراني دولت ته خطر په پنجاب کې سیکانو جوړولو او د مرهټه مرکز ۱۵۰۰ میله

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرې و. د مرهټانو د ماتولو نه وروسته سيکان په ځای پاتې شول. د سيکانو وده موندونکي دال خالصه پوځ بيا زر لاهور ونيو.

## د احمدشاه بابا نهمه جګړه:

د مخه مو يادونه وکړه چې د پاني پت جګړې د دراني دولت د ختيځو پولو امنيت ټينګ نه کړ چې د دې جګړې اساسي موخه يې جوړوله. دراني دولت ته خطر په پنجاب کې سيکانو جوړولو. د مرهټانو د ماتولو نه وروسته سيکان په ځای پاتې شول. د سيکانو وده موندونکي دال خالصه پوځ بيا زر لاهور ونيو. احمدشاه بابا چې د دې پېښې نه خبر شو د خپل پوځ سره د پنجاب او هند په لور وخوځېد. په ۱۱۷۵ کال کې د سيکانو سره جګړه وکړه چې د فيض محمد کاتب په وينا په دغه جګړه کې نږدې ۲۰۰۰۰ سيکان ووژل شول او ډېر اولجې د افغان پوځ په نصيب شوې. احمد شاه بابا لاهور ته ننوت او نورالدين د شاه ولي خان د تره زوی يې د يوه پوځ سره کشمير ته ولېږه تر څو سکجيون د کشمير نه وشړي او هلته افغان حکومت بېرته ودروي. نور الدين سکجيون ته ماته ورکړه او کشمير بيا د دراني امپراتورۍ برخه شوه. احمدشاه بابا د لاهور د تنظيم وروسته کندهار ته راستون شو.

## د احمدشاه بابا لسمه جګړه:

دا ځل بيا سيکانو امرتسر ونيو او په پنجاب کې بيا شورش وشو. احمدشاه بابا چې خبر شو بيا په ۱۱۷۹ کال کې د پنجاب او هند په لور وخوځېد. د لاهور د نيولو او سيکانو د ځپلو وروسته کندهار ته راستون شو. په ۱۱۸۲ کال کې احمدشاه بابا وزير شاه ولي خان د شپږ زره سوارو سره بلخ او بدخشان ته ولېږه چې د هغه ځای سرغړوونکي وځپي. کله چې د بخارا امير د دغې موضوع نه خبر شو د سرغړوونکو ملاتړ يې وکړ. شاه ولي خان احمد شاه بابا ته ليک واستوه او د بخارا د امير د دريځ نه يې خبر کړ. احمدشاه بابا د خپل لښکر سره د کندهار نه د هرات له لارې بخارا ته روان شو. احمدشاه بابا د مروې د رود نه تېرشو او په ميمنه، بلخ، اندخوی او شبرغان کې يې نظم راوستو. شاه ولي خان يې کندوز او بدخشان ته ولېږه او په خپله بخارا ته لاړ. احمدشاه بابا د بخارا د امير سره سوله وکړه او د امو رود د دوی تر منځ پوله ومنل شوه او بېرته کندهار ته راستون شو.

## د احمدشاهي پوځ جوړښت

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جلالي د ځېړنې له مخې د دراني امپراتورۍ پوځ د دولت د سياسي جوړښت په کرښه جوړ شو. کله چې به د دولت پولې پراخېدې او زيات خلک به يې تر خپلې سلطې لاندې راوستل پوځ به د شمېر له مخې وده کوله. دلته د امپراتورۍ د پراخوالي او د پوځ د ډېرښت تر منځ نږدې اړيکې شتون درلود. د امپراتورۍ پراخوالي د لوی پوځ د اړتيا غوښتنه کوله او د لوی پوځ ساتلو ډېره پانګه غوښته چې بايد د نورو شتمنو سيمو نه برابره شوې وای چې په عمومي توګه هغه په شتمنو هېوادو باندې د تيري له لارې لاسته راتلای شوه. نو د امپراتورۍ پراخوالي د لوی پوځ د جوړولو اړتيا غوښته. برسېره پردې د فتح شويو هېوادو کنټرول ډېر پوځ او زياتو زېرمو غوښتنه کوله. په دې توګه هغه امپراتوري چې بنسټ يې احمدشاه دراني ايښی و په زياته اندازه په پوځي ځواک ولاړه وه. د دراني پوځ د جوړښت يو منظم حرفوي توکی درلود چې د «نظام پوځ» نومېده او بل توکی يې غير منظم پوځ و چې د قومونو او سيمه ييزو مشرانو له خوا د اړتيا په صورت کې برابرېده. منظم پوځ دايمي خدمت کاوه چې په هغه کې شاهي خاص اشرافي ګارډ چې شاهي رساله نومېده، شامله وه. فرانسوي تورن «جين لا» چې په ۱۷۵۸ کال کې يې د ډيلي ملاقات کاوه افغان پوځ داسې توصيفوي: هغه وويل چې «افغان اردو د يوه لوړ ډسپلين درلودونکې قوه ده چې په ډلګيو وېشل شوې چې هر يو يې زر سواره لري.» هره ډلګۍ د خوالۍ په ذريعه سره تويريږي چې بيل بيل رنګونه لري او د يوه مشر له خوا قومانده کيږي چې هغوی هره ورځ دوه ځلې [احمد شاه] ابدالي ته راپور ورکوي. ابدالي قواوې په ښه حالت کې دي، په دوی کې داسې ټولګي شته چې په نورو لوړ والی لري. کله چې احمدشاه جګړې ته لاس اچوي د ۱۲ څخه تر ۱۵ ټولګيو پورې جلا ساتي او د غوڅ ګوزار له پاره په کار وړل کيږي.۲۲۳

احمدشاه بابا د ۱۷۷۳ کال د جوزا په مياشت کې د ورپېښې ناروغۍ له کبله د پنځوسو کالو په عمر د دې نړۍ نه سترګې پټې کړې اروا د ښاده وي.

احمدشاه بابا د پنځويشتو کلونو د واکمنۍ په جريان کې يوه پراخه امپراتوري افغانانو ته په نيکات پرېښوده چې په ختيځ کې له ډيلي نه په لوېديځ کې تر نيشاپوره پورې او په شمال کې د امو د رود نه او په سوويل کې د عرب سمندرګې پورې غزېدلې وه.

په دې توګه احمد شاه بابا وکړای شول چې د امو او اباسين تر منځ د هېواد خاوره د پارس د صفويانو، د هند د مغلو او ازبکانو له منګلو خلاصه او خپلواک افغانستان جوړ کړي او بيا د خپلو نورو لښکرکشيو په پايله کې په کشمير، پنجاب، سند، بلوچستان او پارسي خراسان يا پخوانۍ پارتيه کې د واک په خپرولو سره امپراتوري تاسيسه کړي.

احمد شاه دراني د ننه په هېواد کې خپلواک دولت تنظيم کړ چې په خپله د پاچا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه یې مشر شو. ایالتي اداره یې ولسي خانانو او مشرانو ته پرېښوده او دوی په کورنیو چارو کې ازاد وو. ځکه د ده د واکمنۍ په مهال د افغانستان په هېڅ سیمه کې د ده په وړاندې خلک پورته نه شول خو بیا هم ځینو جنرالانو غوښتل چې د ده په نشتوالي کې ګډوډۍ رامنځ ته کړي چې ځینې یې وځپل شول او ځینې پخلا کړای شول. د نور محمد خان علیزي، ګدو خان او محبت خان پوپلزي دسیسه، د عبدالغني خان چې د احمدشاه بابا ماما و او د هغه د ملګرو دسیسه، په کندهار کې د سلطنت نایب لقمان خان د احمدشاه بابا وراره دسیسه، د هرات د والي درویش خان هزاره دسیسه او د نصیر خان بلوچ سرغړونه یې نمونې دي.

په دې ترتیب دی د پورته یادو شوو سترو کارونو په پایله کې د خپلو خلکو له خوا د بابا په نوم یادیږي او تلپاتې درناوی یې وګاټه.

خو لکه څنګه چې هره پدیده مثبت او منفي اړخونه لري نو د ده د سترو میراثونو په څنګ کې چې مور ته یې پرې ایښي دي ځینې تېروتنې هم وکړې چې د ده له خوا جوړې شوې امپراتورۍ او هم په خپله افغانستان ته یې ناوړه پایلې هم درلودې.

زما په فکر لومړۍ تېروتنه یې دا وه چې ده د پارس نه سیاسي ازادي وګټله خو کلتوري ازادي یې ونه ګټله. ده پارسي دفتري ژبه کړه او پارسیوان یې دفتري مامورین کړل. کله چې په ۱۱۶۷ کې احمدشاه بابا مشهد ته ننووت د محمد تقی شیرازي نه غوښتي و چې د میرزا مهدي استرابادي غوندې یو تکړه تاریخ لیکونکی او د غونډې ګذارش لیکونکی ورته ومومي. نوموړي احمدشاه بابا ته محمود حسیني جامي ور وپېژاند. محمود حسیني جامي چې د لوېدیځ خراسان د جام نه و د نادر افشار په دودمان کې د منشی توب دنده درلوده او د شاه رخ میرزا نږدې کسانو نه و. همدارنګه میرزا هادي خان قزلباش یې د دارالانشا مشر میرزا علي خان رضاخان قزلباش د اعلی دیوان مستوفي او د تولې خزانې مشر یې هندو التفات خان وټاکل. په دې توګه پارسو په افغانستان کې د دربار او هم د اقتصاد د ژبې په توګه پاتې شوه. په دې ترتیب لکه چې مې د مخه هم یادونه وکړه لرغونو رومیانو به ویل، چې په یوه هېواد کې هغه څوک حاکم دی، چې ژبه یې حاکمه وي.

بله تېروتنه یې دا وه چې ده منظم پوځ د غیرپښتنو او په ځانګړې توګه د پارس د قزلباشانو نه جوړ کړ چې زما په اند په کلتوري لحاظ ایراني شوي شاه زوی تیمور په واک راوستلو کې یې شاید ټاکونکی رول لوبولی وي. په دې ترتیب د پارس فرهنګي ښکېلاک یقیني شو او تر ننه دوام لري.

احمدشاه بابا لکه چې د مخه مې یادونه وکړه خپل ساتونکی ګارډ چې غلام خانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نومېده د نادر افشار په دود چې خپل ساتونکی ګارډ یې د غیرپارسي قبیلو لکه افغانانو، بلوچو، ترکمنو او ازبکانو نه جوړ و، د غیر پښتنو او په ځانګړې توګه د ایران د قزلباشانو چې د افغانستان په مهمو ښارو کې د نادر افشار له خوا ځای په ځای شوي وو، جوړ کړ. د پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ په وینا احمدشاه بابا «د حکومت چارې غیر دراني قومونو ته وسپارلې. منظم پوځ یې له غیر دراني قومونو یاني قزلباشانو نه جوړ و، دري یې د دفتر ژبه کړه او دري ویونکي افغانان یې دفتري ماموران شول.»۲۲۴ همدارنګه محمداعظم سیستاني لیکي چې «همچنانکه پادشاه افشار برای دسته جات ګارد محافظ خود از قبایل غیر ایراني مثل افغان، بلوچ، و ازبک استفاده مېکرد. احمدشاه بابا نیز دسته غلامخانه را از عنصر غیر پشتون تشکیل داد و سپاهیان تعلیم یافته و جنگ دیده قزلباش را که نادر افشار در کابل و پنجاب گذاشته بود، در ان داخل نمود.»۲۲۵ که نادر افشار خپل ساتونکی ګارډ د غیر پارسي قبایلو نه جوړ و نو لامل یې دا و چې نادر افشار ترکمن و او ترکمنو په پارس کې د خلکو لږه کی جوړولو او د پارسیانو د وېرې نه یې دا کار کړی و. خو احمد شاه بابا پښتون او پښتانه په افغانستان کې د خلکو ډېره کی جوړولو او خپل ساتونکی ګارډ یې باید په زیاته اندازه د پښتنو او نورو افعانانو نه جوړ کړی وای.

احمدشاه بابا د شاه محمود هوتک او شاه اشرف هوتک او په هند کې افغان امپراتورانو پرعکس خپل ځان د ځواک د اصلي مرکز نه بیل نه کړ. څنګه به یې چې د بریالیتوبونو موخې تر لاسه شوې خپل مرکز ته به راګرځېدو. په نورو ټکو هغه څه چې احمدشاه بابا د تېر مهال افغان سوبمنو لکه په هند او پارس کې توپیراوه دا دی چې هغه نیت کړی و چې نور هېوادونه د دې له پاره فتح کړي چې په خپل هېواد کې پیاوړی دولت جوړ کړي نه لکه د پخوانیو افغان واکمنو غوندې چې په بهرنیو هېوادو کې یې د امپراتوریو واکمني کوله. په دې توګه د احمدشاه بابا سوبې د دې له پاره وې چې د امو او اباسین تر منځ خپلواک افغانستان او دولت جوړ کړي. احمدشاه بابا سره له دې چې هغه مهال داسې شرایط موجود و چې خپله امپراتوري هرې خوا ته نوره پراخه کړي، نه غوښتل چې په شمال کې د امو د رود هغې خوا ته، په لوېدیځ کې د مشهد هغې خوا ته او په ختیځ کې تر شمالي هندوستان هغې خوا ته ژور لاړ شي.

احمدشاه بابا داسې مهال واک ته ورسېد چې عمر یې پنځه ویشت کاله و. ده په پنځویشت کلنه واکمني کې لکه چې د مخه مې یادونه وکړه داسې ستر کارونه وکړل چې نه یوازې افغانان بلکې نړیوال هم ورته ګوته په غاښ دي. دغو سترو کارونو وخت غوښته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمدشاه بابا د هېواد ابادۍ او د کلتوري پخو بنسټونو جوړولو ته پوره وخت ونه موند. احمدشاه بابا په ۱۱۷۴ کال کې د کندهار ښار بنسټ کېښود. احمدشاه بابا که څه هم پارسو رسمي ژبه کړه خو بیا هم د خپلې مورنۍ ژبې پښتو ته بې توپیره نه و.

نومموړي شاعر و او د خپل نیکه کامران خان غوندې چې کلید کامراني کتاب یې په پښتو لیکلی و خپل شعر په پښتو ژبه ووایه او نن یې خپلو پښتنو ته د شعر دیوان په نیکات پرابښی دی. د شعر نمونه یې دا ده:

د پېـــــزوان لــــه پټــــه تابـــــه یـــــم بـــــې هـــــوش
د ســــــرو شــــــوندو لــــــه شـــــرابه یـــــم بـــــې هـــــوش

چـــې پـــه خـــوب کـــې د خپـــل یـــار صـــورت وویـــنم
چـــې راویښ شـــم بیـــا لـــه خوابـــه یـــم بـــې هـــوش

چـــــې دې بـــــوی د کاکـــــل راغـــــی تـــــر دماغـــــه
ځکـــــه هســـــې مســـــت خرابـــــه یـــــم بـــــې هـــــوش

ســـتا د حســـن پـــه ګلـــزار کـــې مخمـــور ناســـت یـــم
زه بلبـــــل د دې ګلابـــــه یـــــم بـــــې هـــــوش

چـــې نســـیم پـــه ســـهار بـــوی د زلفـــو راوړي
عنـــدلیب غونـــدې بـــې تابـــه یـــم بـــې هـــوش

د بـــورا پـــه څېـــر پـــر بـــوی د ګلـــو راغلـــم
د خـــزان لـــه پـــېچ و تابـــه یـــم بـــې هـــوش

«احمدشـــاه» چـــې مـــې ځـــان ولیـــده حیـــران ســـوم
پـــه خپـــل ځـــان کـــې لـــه دې بابـــه یـــم بـــې هـــوش۲۲۶

بل د شیر سرخ د جرګې د پرېکړې له مخې چې د قضایي چارو د تنظیم په منظور دې شرعي قانون جوړ شي د کتاب په بڼه چې «فتوای احمدشاهي» نومېږي په پښتو ژبه ولیکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو او اوس هم شته. همدارنګه خان علوم قاضي محمدغوث په پښتو ژبه پر تصوف رسالې وکښلې.

برسېره پردې احمدشاه بابا د پښتو ژبې شاعران په ځان راټول او د شعر ويلو مجلسونه به جوړېدل او په دربار کې پښتو ژبه ويل کېده. ده هند ته د خپلو لښکر کشيو په مهال د پښتو ژبې شاعر حافظ ګل محمد مرغزي ته دنده سپارلې وه چې د پښتو ژبې دريمه شاهنامه ياني احمد شاهي شاهنامه وليکي.

چــــې فرمـــــان د شـــــــهريار وه
چـــــې زېبــــا ښـــــکلی ګفتــــار وه

چــــې حــــافظ د شـــــاهنامه کــــړه
پــــــه جهـــــان دې دا نامــــــه کــــړه
د بادشــــــاه مــــې حــــال بيــــان کـــــه
دا چــــې ســــير يــــې د جهــــان کـــــه

بهــــــــادر دی شـــــــير افګـــــــــن
تيــــغ يـــې تېــــر شــــه تـــر دکـــن۲۲۷

حافظ ګل محمد مرغزی چې د احمدشاه بابا په لښکرو کې شامل و، احمدشاهي شاهنامه وليکله چې يو ځل په جنګ کې د منځه لاړه او بيا يې د سره وليکله چې يوازېنۍ مالومه خطي نسخه يې اوس په برېټش موزيم کې خوندي ده.

پـــــــــه زبـــــــــان درانـــــــــي
ښــــــــه بيـــــــان دی افغـــــــاني

د احمدشـــــــــــــــــــــاه در دران
يکــــې حـــــال مــــې کــــړه بيـــــان
چــــې کتــــــاب مـــــې شــــــه تيــــار
پــــــه تحريـــــــر زمــــــا نګـــــــار

پــــــه لښــــــکر کــــې د ســــــردار

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـــــه تـــــاراج شـــــه د کفـــــار

پـــــه څـــــو ورځـــــو وم خـــــاموش
بیـــا مـــې شـــعر راغـــی پـــه جـــوش

مثنـــــې مـــــې شـــــاهنامه شـــــوه
بیـــا تـــازه مـــې دا خامـــه شـــوه۲۲۸

بل سړی چې په دې مهال یې اثار ایجاد کړي دي میا شرف الکوزی ننګرهاری دی. میا شرف د پاني پت په جګړه کې حاضر و. د ده دیوان ورک دی یوازې یې یوه قصیده او څو غزلې لاسته راغلې دي. برسېره پردې د ده یو بل منظوم اثر د «برده قصیدې» پښتو منظومه ژباړه شته. دی یو بل منثور کتاب لري چې «پښتو عروض» نومېږي او خطي نسخه یې ارواښاد مولانا ابوالوفا صاحب افغاني له حیدر اباد دکن نه پښتو ټولنې ته راستولې دی. د کلام نمونه یې دا ده:

سور ګل چې سحر وخت په جمال ستا کړ نسیم خور
ښایست د دې ګل بـل کړ د بلبل په لمن اور۲۲۹

بل سړی علي اکبر اورکزی دی چې د دیوان یوازینۍ خطي نسخه یې د ارمنستان د پلازمینې ایروان په ماتینا داران کې خوندي ده چې معتمد شینواري او عبدالله بختاني هلته موندلې ده.

احمدشاه بابا ملا پیرمحمد کاکړ په خپله د پاچاهي کورنۍ د غړو د ښوونې او روزنې په دنده ګومارلی و. ملا پیرمحمد کاکړ د پښتو ژبې د زده کړې (درسي) لومړنی کتاب چې «معرفته الافغاني» نومېږي لیکلی دی. ملا پیرمحمد کاکړ دا کتاب خپل شاګرد شهزاده سلېمان ته د لنډې دوه میاشتنۍ واکمنۍ (۱۱۸۶) په دوره کې وړاندې کړی و.

د اکاډمیسین کاندید محمد صدیق روهي په وینا «د دې له پاره دا کتاب د پاچا حضور ته وړاندې شوی دی، چې د یوه داسې کتاب په توګه یې پر هغو حاکمانو، مامورانو او درباریانو ولولي چې پښتو یې مورنۍ ژبه نه ده ، .. او مجبور دي چې د ورځینیو اړتیاوو درفع کولو له پاره پښتو زده کړي.»۲۳۰ ښاغلی حبیب الله رفیع هم وایي چې «دا اثر د دې له پاره لیکل شوی و، چې درباریان، منشیان او میرزایان د پښتو جملو جوړول او لیکل زده کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بیا د همدې اثر په مرسته د دفتر او دربار ټولې چارې په پښتو راواړوي څو پښتو د دفتر او دیوان ژبه شي او لکه د نورو ژبو غوندې د دربار په ملاتړ او حمایت پراختیا او پرمختګ وکړي.»۲۳۱ پوهاند عبدالحی حبیبي وایي چې په دې عصر کې دا فکر پیدا شو چې د بېلو بېلو علومو نه دې کتابونه په پښتو وژباړل شي.۲۳۲

## تیمورشاه

تیمور په ۱۷۴۷ کال د جنوري په میاشت کې د خراسان د مازندارن ولایت کې زېږېدلی دی. تیمور د ستر احمدشاه دوهم زوی دی او مور یې د سامانیانو نه ده. الفنسټون وایي چې «دوی [سامانیان] لږ تر لږه له هغه وخت نه وروسته هلته [په افغانستان کې] استوګن شوي وي، چې د سامانیانو یوې عربي کورنۍ په بخارا باندې حکمراني کوله.» د الفېنسټون په وینا «د سامانیانو شمېر په افغانستان کې کېدای شي دوه زره کورنۍوي چې ځینو یې د کابل د بالاحصار د چاونۍ یوه برخه تشکیلوله او پاتې یې د کابل او پېښور تر منځ په جلال اباد کې اوسېدل. دغه وروستۍ یې ځانله د یوه بېل مشر تر اداري لاندې ده او دوی دومره د عزت خاوند دي، چې د ده تېرو پلرونو لور د احمدشاه ښځه د تیمورشاه مور ده.»۲۳۳

د الفنسټون پورتنۍ تېروتنه چې سامانیان یې عرب بللي پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ سمه کړې او سامانیان عرب نه بلکې اریایان دي.

احمدشاه بابا اته زامن درلودل چې د بیلو بیلو میندو نه وو. مشر یې سلیمان او دوهم زوی یې تیمور نومېده او نور یې سکندر، پروېز، شهاب، سنجر او داراب تاریخ ثبت کړي دي. تیمور چې مور یې د سامانیانو د یوې بانفوذه کورنۍ نه وه خپل زوی یې د احمدشاه بابا د پاچاهۍ ځای ناستی ګاڼه او دې مېرمنې په خپل مېړه باندې هم زیات نفوذ درلود او هغه هم دې ټکي ته تیار و چې د دې زوی د خپل ځای ناستي په توګه ومني. د دې تر شا شاید نورو غښتلو لاسونو هم کار کاوه. داسې ښکاري چې د تیمور مور یوه غښتلې مېرمن وه چې دعزیزالدین وکیلي پوپلزي په وینا «والده تیمورشاه شهر هرات را مجدداً مرکز بزرگ نظامي و سیاسي افغانستان قرار داد و پسر یکنیم ساله خود تیمورشاه را بادشاه ان مملکت موروث اعلان نمود و خود زمام امور سلطنت و حکومت را در دست گرفت... مسکوکات نقره یي علیشاه افشار را از نو ګداخته بنام پسر خود تیمورشاه مسکوک نمود.»۲۳۴

په هر صورت تاریخ پوهان په دې باور دي چې احمدشاه بابا تیمور خپل ځای ناستي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په توګه ټاکلی و. خو په دربار کې د احمدشاه بابا د مشر زوی سلیمان په پلوی ډېر کسان د صدراعظم شاه ولي خان په مشرۍ چې د سلیمان خسر و، ولاړ وو. شاه ولي خان د ستر احمدشاه بابا ښی لاس و چې په ۱۷۴۹ کې د ده په قوماندنۍ دشمال ټول ولایتونه بې له جګړې احمدشاهي مرکز ته تابع شول.۲۳۵ او خرقه شریفه یې هم د ځان سره راوړه.

د ابراهیم عطایي په وینا تیمور عیاش، سرزوری او بې پروا سړی و خو په زیاترو چارو کې تدبر او زړورتیا ښودله. که څه هم د استحقاق له مخې دا مقام د سلیمان حق و خو احمدشاه بابا د تیمور لیاقت ته ترجیح ورکړه او په ۱۷۷۳ م کې یې د دولت د لویو مشرانو په غونډه کې خپل ځای ناستی وټاکه.

په ۱۷۷۲ کال کې تیمور وروستی ځل د احمدشاه سره وکتل او بیا هرات ته ستون شو. عزیز الدین وکیلي وایي چې په دغه مهال احمدشاه بابا وصیت لیک وکیښ او په هغه کې یې د تیمور د وراثت حق ښکاره کړ. خو وکیلي دغه سند چې په وینا یې د برخوردار خان اڅکزي د اولادې سره شته په خپله لیکنه کې نه دی وړاندې کړی.

داسې ښکاري چې احمدشاه بابا د خپلو نورو زامنو د پوهنې او روزنې چارې په شعوري توګه پیرمحمد کاکړ ته سپارلې وې. سلېمان د خپل استاد له خوا دې ته چمتو شوی و چې ملي ژبه پښتو په درباریانو زده او بیا د هېواد رسمي ژبه شي. لکه چې د مخه مې یادونه وکړه په دربار کې پټه جګړه د واکمنۍ پر سر روانه وه. په دې مبارزه کې یوه لوري ته د احمدشاه بابا صدراعظم شاه ولي خان چې په اخېري وخت کې احمدشاه بابا هم ورسره سر وخوځاوه او د هغه ملګري ولاړ و او د بلې خوا د هغه مخالفین لکه عبدالله خان پوپلزی (دیوان بیګي) او د پارس دولت د فرهنګي ښکېلاک پلویان چې د تیمورشاه د باچا کېدو په وجود کې یې د پارس اوږدمهاله ګټې ساتلی شوې، ولاړ وو. چې د بده مرغه د شاه ولي خان پلویانو ماته وکړه او تیمورشاه واک ته ورسېد او د پارس فرهنګي ښکېلاک یقیني شو چې تر ننه دوام لري او د پښتنو سیاسي خپلواکي یې هم ټکنۍ کړې ده. نو د افضل خان لالا دا خبره، چې ما په خپله څو ځله ور څخه اورېدلې ده، سمه ده چې وایي چې پښتنو د پاړسیانو نه د افغانستان سیاسي خپلواکي وګټله خو کلتوري او فرهنګي ازادي یې تر لاسه نه کړه او یو وړوکی لړه کې د ډېره کی په نامه په پښتنو واک چلوي.۲۳۶

په دې ترتیب داسې ښکاري چې په پای کې احمدشاه بابا د خپل مدبر وزیر شاه ولي خان دا خبره ومنله چې د تیمور د پاچا کولو سره مخالفت وکړي. دا مخالفت هغه مهال ښکاره شو چې تیمور د هرات نه د خپل رنځور پلار لیدو ته را روان و او احمدشاه بابا لیک ورواستاوه چې بېرته هرات ته وګرځي. محمد اعظم سیستاني لیکي چې تیمور«هنوز والي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرات بود که بیماري احمدشاه شدت گرفت و به کوه های توبه که هوای سردتر داشت، رفت. تیمورشاه باری به عزم دیدار پدر تا حوالی هلمند رسید، مگر بفرمان احمدشاه دوباره مجبور شد بدون عیادت و دیدار پدر به هرات برگردد.»۲۳۷

سید جمالدین افغان د تیمور خپلې خبرې داسې بیانوي: «پلار زه په خپل ژوند کې د ځان ولیعهد ټاکلی وم مګر وزیر یې د ځنکدن پر وخت دی واړاوه سلیمان یې زما پر ځای په ده ولیعهد وټاکه، لکه چې اوس د پاچهی ډول په کندهار کې د ده په نامه وهل کیږي ځان یې مروج کړی دی په تاسو کې ځوک سته چې زما سره مرسته وکي څو له هغه معتصبه څخه خپل حق واخلم.»۲۳۸

د احمدشاه بابا د مړینې وروسته لوی وزیر شاولي خان د احمدشاه بابا د وروستي وصیت سره سم سلیمان پاچا اعلان کړ. په دې کار د دربار مشران دوې ډلې شول. په دغه جریان کې عبدالله خان دېوان بیګي د تیمور په پلوي ودرېد. د ابراهیم عطایي په وینا عبدالله خان دیوان بیګي شاولي خان او د هغه زامن ونیول او لاس تړلي یې تیمور ته واستول او د فراه په یوه سیمه کې یې ووژل.۲۳۹ داسې ښکاري چې عبدالله خان دیوان بیګي د احمدشاه بابا د ګارډ په مرسته چې د پارس د قزلباشانو نه جوړ و کودتا وکړه. دا هغه توره ورځ ده چې د احمدشاه بابا د امپراتوری، د اصلي افغانستان او په ځانګړې توګه د پښتنو د زوال د پیل ټکی شو چې تر ننه دوام لري.

د تیمور د بري یو لامل دا دی چې احمدشاه بابا د خپلې واکمنۍ د ساتلو تکیه په قزلباشانو کړې وه. دوهم دا چې احمدشاه بابا هم د امیر شیرعلي خان غوندې دومره د تیمورشاه د مور تر اغېز لاندې و چې تر زیاته وخته یې تیمور ته برتري ورکوله. دریم د تیمور تر شا شاید نورو غښتلو لاسو کار کاوه. تیمورشاه چې په مشهد کې زیږدلی او ناپښتاني چاپېریال کې لوی شوی او روزل شوی و، د دراني مشرانو د وېرې د کندهار نه مرکز کابل ته انتقال کړ او لوړ دولتي پوستونه یې غیر دراني کسانو ته ورکړل او په ښاري لړه کیو یې ډډه ولګوله.

په دې ترتیب تیمورشاه د درانیو مشران چې زیاته سیاسي تجربه ترلاسه کړې وه د منځه یوړل او ان د احمدشاه بابا د جنګ وزیر جهان خان چې یو لوی شخصیت و هم د نظره واچاوه. د پښتنو بانفوذه کسان یې د واک نه لیرې وساتل او تیمورشاه شیخ عبدالطیف جامي هروي خپل وزیر وټاکه. د خزانو چارې یې الطاف خان هندي ته وسپارلې او په دربار کې یې هم د پښتو پرځای فارسي رواج کړه.

تیمورشاه دولس زره عسکر (غلام خانه) د محمد خان بیات تر قوماندنۍ لاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړل چې د ده امنیت وساتي. ده قاضي فیض الله خان دولت شاهي خپل مشاور وټاکه ولې پوره باور یې پرې نه کاوه.

د تیمورشاه دغه ګامونه د دې لامل شول چې درانی او نور پښتانه د ده پر ضد پاڅونونه وکړي چې مهم یې دا دي:

## د عبدالخالق خان پاڅون

د تیمورشاه پر ضد د احمدشاه د تره عبدالخالق خان پاڅون د درانیو او نورو پښتنو لومړی غبرګون دی. د عبدالخالق خان د سنګر ملګرو سردار پاینده خان او سردار دلاور خان اسحقزي د جګړې د پیل نه د مخه د ده نه جلا او د تیمور په پلوي ودرېدل. دغو سردرانو شاید د تیمورشاه له خوا نه د زیاتو امتیازاتو په منلو سره خپل دریځ بدل کړی وي. سردار پاینده خان یوه مېرمن قزلباشه او د امیر دوست محمد خان مور وه. د دې شونتیا شته چې تیمورشاه پاینده خان د خپل اخشي جوانشیر په مرسته تطمیع کړی وي لکه چې وروسته سردار پاینده خان د شاه زمان پر ضد کودتا کې د خپل اخشي جوانشیر سره یو ځای ګډون درلود. خو څنګه چې سردار پاینده خان د تیمورشاه په بریالیتوب کې ټاکونکی رول ولوباوه نو «تیمورشاه سردار پاینده خان د «سرفراز خان» او سردار دلاور خان یې د «مدد خان» په لقبونو ونازول.» ۲۴۰

## د پېښور پاڅون

فیض الله خان په ۱۷۷۶ کال په ژمي کې چې تیمورشاه په پېښور کې و د ده د رانسکورېدو او پر ځای یې د احمدشاه بابا زوی سکندر، چې د پېښور والي و، واک ته رسولو په موخه د صاحب زاده څمکني په سلا او ارسلا خان مومند په همکاری یو پلان جوړ کړ. په دې وخت کې سیکانو سرغړونه پیل کړی وه. فیض الله خان د پاچا نه د سیکانو دټکولو له پاره د لښکر د جوړولو اجازه واخېسته. هغه مهال چې لښکر جوړ شو فیض الله په دې پلمه لښکر د پېښور د ارګ په لور روان کړو چې تیمورشاه یې وګوري. فیض الله د ارګ ساتونکی ګارډ د منځه یووړ او په ارګ یې برید وکړ او نږدې و چې د تیمور کار پای ته ورسوي خو په دغه وخت کې تیمور په بیړه د مانۍ لوړ پوړ ته ځان ورساوه او خپلو ساتونکو ته یې د مقاومت امر وکړ. د تیمور ساتونکو چې د قزلباشانو د منظم پوځ نه جوړ و، په جګړې لاس پورې کړ او د فیض الله نامنظم لښکر ته یې زیات د سر زیان واړولو او ماتې ورکړه. فیض الله خان او زوی یې ووژل او وروسته یې ارسلا خان مومند

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم زندی کړ.

تیمورشاه په پای کې دا پاځونونه د بهرنیو تیریو په شمول وځپل. خو د افغانستان امپراتوري چې د زوال تیره یې په خپل لاس ایښې وه د ده د زامنو په وخت کې تجزیه او د نولسمې پېړۍ په پیل کې واکمني محمدزو کورنۍ ته واوښته

«تیمورشاه په فارسي کې د شعر یو کتاب خپور کړی دی، ستاینه یې ډېره کیږي، خو ویل کیږي چې د هغه د دربار یو نامتو شاعر فروغي هغه سم او اصلاح کړی دی».۲۴۱

په احمدشاهي دولت کې دراني سردارانو زیات پوځي، سیاسي او مالي امتیازات لاس ته راوړل او برسېره پر دې د جګړو پر مهال د زیات مال خاوندان کېدل چې په عمومي توګه یې د احمدشاهي دولت د شمزۍ تیر جوړاوه او د دربار یوه بډایه اشرافي ممتازه طبقه جوړوله. د دغو سردارانو نه ډېرو یې د تیمورشاه په وړاندې د هغه د مشر سیال ورور سلیمان ملاتړ کاوه. تیمورشاه د دغه ګواښ د بې اغېزې کولو له پاره پلازمینه د کندهار نه کابل ته یووړه، لوړ دولتي منصبونه یې غیر دراني کسانو ته ورکړل او په لړکیو یې ډېره ولګوله. تیمور شاه په ۱۷۹۳ کال کې مړ او په کابل کې خاورو ته وسپارل شو.

## زمان شاه

د علي احمد جلالي په وینا تیمورشاه د لسو ښځو نه چې د بیلو بیلو قومونو څخه وې ۳۶ اولادونه پرېښودل. کله چې دی په ۱۷۹۳ کال کې مړ شو زیات شاه زویان د ولایتونو والیان وو چې د تخت او تاج نشه یې په سر کې وه. څنګه چې د ځای ناستي یو ټاکلی پرنسیب شتون نه درلود نو د واک لاس ته راوړلو له پاره د جنجالونو لاره پرانیستې وه. یوه اوږده موده د قدرت په سر جګړه روانه وه چې په دوو لسیزو کې واک څلور ځله لاس په لاس شو.

د تیمورشاه په زامنو کې شاه زوی زمان د دې وړ و چې د پلار د ځای ناستي په توګه وټاکل شي. په دې ټکي سردار پاینده خان، قاضي فیض الله خان او ملا عبدالغفار خان چې د تیمورشاه پوه وزیران وو، ښه پوهېدل. دوی د پاچا مړینه پټه وساتله او شاه زوی زمان یې چې تر ټولو ورونو هوښیار، پوه او باکفایته و د پاچا په توګه وټاکه. خو د دوی د ټولو هلو ځلو سره سره په کابل او ولایتونو کې ستونزې پیدا شوې.

په کابل کې میشته شاه زویان د شاه زوی عباس په کور کې راغونډ شول او دی یې د ځان له خوا پاچا کړ، خو وزیرانو د شاه زوی زمان پلوي وکړه او د ده ورونه یې اړ کړل چې د زمان شاه بیعت او اطاعت وکړي. همایون او محمود چې په هرات کې د زمان شاه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچاهۍ نه خبر شول، دواړه راوپارېدل. زمان شاه د پلازمینې د چارو د سمبالولو وروسته همایون ته په یوه فرمان کې د خپلې پاچاهۍ د منلو بلنه ورکړه خو همایون چې تر ټولو مشر و، ځان یې د پلاز وړ ګاڼه، د زمان شاه خبره ونه منله. له دې امله د دواړو ورونو ځواکونه کندهار ته نږدې د «ببرو بڼ» سیمه کې سره مخامخ شول. د همایون د ځواکونو بالندوی (قوماندان) میر اخور مهر علي خان او د زمان شاه د ځواکونو بولندی سردار پاینده خان و. د پاینده خان په پوهه مهرعلي خان د جنګ نه لاس واخېست او همایون کندهار ته او له هغه ځایه بلوچستان ته وتښتېد او نصیر خان بلوچ ته یې پناه یوړه. دې بریالیتوب د زمان شاه واکمني ټینګه کړه. زمان شاه د کندهار د چارو د سنبالښت وروسته خپل اوه کلن زوی شاه زوی قیصر د عبدالله خان نورزي په مرستیالۍ د کندهار واکمن کړ او په خپله هرات ته لاړ او د چارو د سمون وروسته کابل ته راستون شو او له دې ځایه پېښور ته لاړ او په هند کې د بریو د نقشې د جوړولو په سوچ کې شو.

همدغه مهال همایون د بلوچستان نه د کندهار په لور وخوځېد. ویل کیږي چې زمان شاه د کابل نه پېښور ته د تګ د مخه د همایون له حرکته خبر و. خو هغه شېرمحمد خان اشرف الوزرا او خدایداد خان ورلېږلي وو چې همایون پوه کړي او رایې ولي. خو خدایداد خان د دې پر ځای چې همایون د خپل هوډ نه واړوي د همایون سره سلا شو او د لښکر د جوړولو وروسته یې په کندهار برید وکړ، قیصر یې بندي کړ او عبدالله خان نورزي زمان شاه ته چې په پېښور کې و، ورغی او همایون په کندهار کې د پاچایي بیرغ اوچت کړ ځان یې پاچا اعلان کړ او په خپل نامه یې سکه ووهله.

زمان شاه اړ شو چې د پېښور نه کندهار ته راستون شي او د همایون سره خپلې چارې یو مخیزې کړي. د زمان شاه او همایون لښکرې د کندهار په څلوېښت کروهي کې سره مخامخ شوې. دا ځل بیا د پاینده خان په تدبیر جګړه د وینو تویولو پرته پای ته ورسېده او احمد خان نورزوی د همایون د لښکر بولندوی د پاینده خان سره زمان شاه ته راغی او سلامي شو او همایون بیا ماته وخوړه. همایون له فراه نه بلوچستان او له هغه ځایه ځان د سیند څنډې ته ورساوه. هلته د زمان شاه د ګومارلیو کسانو له خوا ونیول شو او د زمان شاه په امر یې په غبرګو سترګو ړوند کړ، کابل ته یې راووست او بندي شو. په دې توګه زمان شاه د ورونو د شخړو نه بې غمه شو که څه هم ورونو یې موقع ته کتل.

د علي احمد کهزاد په وینا زمان شاه چې د ورونو د شخړو نه بې غمه شو ورو ورو یې په خپل چلن کې بدلون راووست. دغه وخت زمان شاه رحمت الله خان سدوزی (وفادارخان) چې یو لنډ فکری او ځان غوښتونکی سړی و، د وزیر په توګه وټاکه. وفادار

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان پاچا ته دومره ځان نږدې کړ چې د علي احمد کهزاد په وینا «یو ګوډاګی یې ترې جوړ و»۲۴۲ کهزاد وایي چې که څه هم تاریخوال د سدوزیو او بارکزیو د مخالفت مورینه چې افغانستان او افغانانو ته یې نه راستنېدونکي زیانونه ورسول له بل ځایه ګڼي خو اصلي زړی یې د زمان شاه همدا تېروتنه وه چې وفادارخان یې د وزارت څوکۍ ته ورساوه. «داسې چلن بې غبرګونه پاتې نه شو او د پاچا پر ضد پټې ډلې جوړې شوې او په پای کې پنځو کسو د نورو له خوا پټه غونډه وکړه. همدې غونډې د زمان شاه د ګوښه کولو، د وفادارخان د وژنې او د شاه زوی شجاع د پاچا کولو پرېکړې هم وکړې. خو دا پټه غونډه د وفادارخان د څرکیو له خوا جوته او د غونډې د یوه غړي له خوا وزیر او پاچا ته ورسېده.»۲۴۳ زمان شاه د ځان ژغورنې په تکل خپل ساتندویان بدل کړل او ځینې یې په پیسو او څوکیو په ورکولو د ځان کړل او د اولس مشران لکه پاینده خان یې یو یو د مشورې په پلمه راوغوښتل او له تیغه یې تېر کړل. د پاینده خان په وژنې سره یو ستره غمیزه او ناورین پیل شو، چې د افغان- انګلیس د دوهمې جګړې تر پایه نږدې یوه پېړۍ روان و، د افغانستان ملي جوړښت، اداري اډانې او ځمکنۍ پولې ته په کې سخت زیانونه ورسېدل.

زمان شاه د نیمګړتیاوو سره سره وکولی شول ټول پنجاب د خپلې واکمنۍ د یوې برخې په توګه وساتي. خو دا مهال محمود چې یو څه وخت غلی و بیا سر راپورته کړ. د بارکزیو مخالفتونه د فتح خان په کړو کې راڅرګند شول. په ختیځ کې انګرېزانو رنجیت سنګ پیاوړی کاوه چې سرغړونه وکړي او خپلواکي وغواړي.په لوېدیځ کې قاجاري پاچایانو اقامحمد خان او فتح علي شاه خراسان ته سترګې نیولې وې او خپلو موخو ته د رسېدو له پاره یې محمود ته په «ترشیز» کې د جاګیر په ورکولو هغه لاسوهنې ته وهڅاوه.

زمان شاه به د ننیو او بهرنیو ستونزو سره سره د هرات او لاهور تر منځ تګ راتګ کاوه او د دواړو خواوو یې د خپلې خاورې بشپړتیا او خپلې واکمنۍ ساتنه کوله. په ۱۲۱۶هـ ق کې شاه زمان په کندهار کې و، چې ورور یې شاه زوی شجاع د پېښور واکمن ورته لیک ولېږه او د رنجیت سنګ د پاڅون نه یې خبر کړ. زمان شاه د کندهار نه د یوه ستر لښکر سره د پېښور او پنجاب په لور وخوځېد.

په دغه وخت کې فتح خان د شاه زوی محمود سره لاس یو کړ او د سیستان له لارې په کندهار د یرغل تکل وکړ او د ۴۲ ورځو کلابندۍ وروسته یې کندهار ونیو. زمان شاه اړ شو چې په پنجاب کې د رنجیت سنګ پر ضد د اقداماتو لاس په سر شي او د کابل په لور روان شي. زمان شاه د محمود او فتح خان د تمبولو له پاره احمد خان نورزی او خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوی ناصر د دوولس زره لښکر سره کندهار ته واستول. د کلات او مقر تر منځ «سراسپ» نومي سیمه کې نورزی محمود او فتح خان ته سلامي شو او د زمان شاه زوی پر شاتګ ته اړ شو. زمان شاه د غزني نه کابل ته ستون شو چې نوی ځواک برابر کړي. خو ښار ته له رارسېدو سره هغه ورسره پوځیان هم خواره شول. پاچا د جلال اباد په لور وخوځېد، شجاع ورور ته یې چې په پېښور کې و ولیکل چې خیبریان یې مرستې ته ولېږي. د شپې پاچا د جګدلې په لار د ملا عاشق نومي شینواري په کلا کې پناه واخېسته. عاشق یې هرکلی وکړ، خو چې خبر شو چې محمود کابل ونیو نو له وېرې یې د کلا دروازه وتړله او د زامنو په خوله یې شاه محمود ته پیغام واستوه چې د بندي په نیولو او بیولو پسې څوک راولېږي. زمان شاه او ملګرو یې چې هر څه وکړل د کلا نه په وتلو بریالي نه شول او زمان شاه خپله د سلطنتي غمیو غوټه چې د «کوه نور» نامتو الماس هم په کې و د دېوال په یوه سوړه کې پټه کېښوده. د کابل نه د فتح خان ورور اسدالله خان د یوه جراح سره راورسېدل دواړه سترګې یې ورنه وایستې، کابل ته یې بوت او بندي شو، وفادارخان او نور ملګري یې د تیغه تېر کړل.

د عاشق شینواري دا ستر جنایت بې ځوابه پاتې نه شو او درې کاله وروسته چې د شاه محمود لومړۍ واکمني د شاه شجاع له خوا ړنګه شوه لومړی کار یې دا و چې ملا عاشق شینواری یې زندی کړ او د غمیو غوټه هم په لاس ورغله.

## د شاه محمود سدوزي واکمني

د زمان شاه د ړندولو وروسته د تیمورشاه زوی شاه محمود د کابل په تخت کېناست. دا وخت دراني امپراتوري د هرات او غور نه نیولې د کشمیر تر پورو غاړو پورې، اټک، بلوچستان او د اټک د نامتو کلا پورې خواره وه. یوازې په پنجاب کې رنجیت سنګ د انګرېزانو په لمسون سرغړاوی کړی و. د شاه زویانو او مخورو خپلمنځي جګړو او ناندریو د دې مخه ونیوله چې د پښتنو او سیکانو خبره سپینه شي.

د زمان شاه د ړندولو وروسته شاه زوی شجاع چې هغه مهال د پېښور واکمن و، یوه شېبه یې هم مرکزي حکومت په ارام پرې نه ښود. شاه شجاع په ختیځ کې ځان پاچا اعلان کړ. د شاه شجاع او شاه محمود تر منځ لومړۍ جګړه د ننګرهار په باسول کې وشوه چې شاه شجاع ماتې وکړه او د سپین غره په کځونو کې پټ شو. پېښور د شاه محمود زوی کامران له خوا ونیول شو. کامران له دې امله د کندهار واکمن وټاکل شو. شاه شجاع بیا په پېښور برید وکړ خو ماته یې وکړه. بل ځل شاه شجاع او کامران تر منځ د کندهار په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارغستان کې نښته وشوه چې په پای کې شاه شجاع کاکړو ته په شا شو. دا ځل شاه شجاع خپل لښکر راټول کړ او یوه برخه یې د شاه زوی قیصر، مدد خان میر اخور باشي په مشرۍ د کامران مقابلې ته ولېږله او بله برخه یې په خپله د کابل په لور روانه کړه. په کابل کې د شاه محمود نه خلک ناراضه وو او په هغه یې زور راووړ او په بالاحصار کې یې ایسار کړ. د دغې وضعې نه شاه شجاع ګټه پورته کړه په بیړه د زرملې او التیمور له لارې کابل ته ننوت، بالاحصار یې ونیو او شاه محمود یې بندي کړ.

## د شاه شجاع لومړۍ واکمني

شاه شجاع د شاه محمود د بندي کولو وروسته د کابل پر تخت کېناست. شېرمحمد خان بامیزای د پاچا وزیر و او د شاه شجاع په لومړۍ واکمنۍ کې یې لوړ مقام او درناوی درلود. د بامیزیو بل ځواکمن سړي محمد اکرم (امین الملک) هم د پاچا په دربار کې ډېر درنښت وموند او د وزارت کچې ته ورسېد.

دغه وخت د کشمیر واکمن عبدالله خان الکوزي د مالیې د ورکولو نه غاړه غړوله او له دې امله شاه شجاع خپل وزیر شېرمحمد خان کشمیر ته ولېږه او د کشمیر ښارن او حاکم یې وټاکه. وزیر شېرمحمد خان خپله دنده په بریالیتوب سره ترسره کړه او هیله یې درلوده چې د دغه خدمت په مقابل کې د کشمیر ناظم پاتې شي. خو د علي احمد کهزاد په اند پاچا له یوې خوا ده ته اړتیا درلوده او د بلې خوا دا وېره هم ورسره وه چې په راتلونکې کې ځواکمن نه شي او غاړه ونه غړوي. له دې امله چې شېرمحمد خان خپه نه شي د هغه زوی عطا محمد خان یې د کشمیر واکمن کړ او په خپله شېرمحمد یې راوغوښت.

دا ګړۍ چې شاه شجاع په پېښور او وزیر شېرمحمد خان په کشمیر کې و، شاه زوی کامران او فتح خان په کندهار برید وکړ او له شاه زوی قیصر نه یې ونیو. شاه شجاع په بیړه کابل ته ځان ورساوه او د دې خطر د تمبولو په موخه کندهار ته رهي شو. شېرمحمد خان د پاچا امر ونه مانه او پاچا یې د شاه زوی کامران او فتح خان زوروړې مقابلې ته یوازې پرېښود. شېرمحمد بیا هغه وخت کابل ته راغی چې پاچا د ارغنداب په سیمه کې و. په کابل کې شېرمحمد بامیزي د پاچا وراره قیصر، چې نوی د کابل واکمن شوی و، د خپل تره په وړاندې ولمساوه او دواړو په سند او کندهار کې د شاه شجاع د ناوزګارتیاوو ګټه پورته کړه او خواجه محمد خان پوپلزی یې د پېښور نیولو ته واستوه او پېښور یې د پاچا له واکمن ګلستان خان اڅکزي نه په ډېره اسانۍ ونیو.

په کندهار کې شاه شجاع ډېره هڅه وکړه فتح خان او وروڼه یې پخلا کړي. هغه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کندهار کې ورسره وليدل او فتح خان ته يې د سردارانو سردار لقب ورکړ او سردار دوست محمد خان ته يې يوه جوړه ګران بيه پاچايي جامې، يو اس او يو لک روپۍ وروبخښلې او د پاچا او محمد اکرم امين الملک سره يو ځای د ماليو په راټولولو پسې سند ته لاړل. په سند کې د ماليې د ټولولو په شېوه فتح خان د پاچا نه خپه شو خو شاه شجاع په خپله تېروتنه پوه شو او له سردار فتح خان نه يې بخښنه وغوښته او دوست محمد خان دويم ځل د خپل مشر ورور او ځان د مرستې وړانديز پاچا ته وکړ او ټول د شاه زوی قيصر او وزير شېرمحمد خان تمبولو ته پام واړاوه. په اسماعيل خان دېره کې فتح خان او ورور يې بيا خپل مخالفت څرګند کړ او کندهار ته رهي شول. شاه شجاع په منډه ځان کوهاټ ته ورسوه او له هغه ځايه پېښور ته لاړ او پېښور يې ونيو.

دا وخت د شاه شجاع پخوانی وزير شېرمحمد له شاه زوی قيصر سره له کابل نه پېښور ته ځان رسولی و. په پېښور کې د شېرمحمد خان او پاچا د ځواکونو تر منځ جګړه وشوه، شېرمحمد خان ووژل شو، شاه زوی قيصر کابل ته وتښتېد او پېښور د شاه شجاع لاسته ورغی.

دا وخت شاه محمود د بالاحصار د بنديتون نه وتښتېد او فراه ته لاړ. فتح خان د اسماعيل خان دېرې نه کندهار ته راغی. فتح خان په کندهار کې شاه زوی محمد يونس د ځان پلوي کړ او د خپل نايب ميرعلم خان نه يې ليږې کړ. فتح خان شاه محمود د فراه نه کندهار ته راوغوښت.ميرعلم خان د دغه پټ راز نه خبر شو او کابل ته لاړ او شاه شجاع يې له موضوع څخه خبر کړ. شاه محمود او فتح خان په کندهار کې د لښکر په تيارولو پيل وکړ. د کابل نه شاه شجاع د خپل لښکر سره د کندهار په لور وخوځېد. شاه محمود او د فتح خان لښکر د ببرو بڼ کې ځای پر ځای شو چې د شاه شجاع د لښکر نه يو کروه واټن درلود. دغه وخت د شاه محمود د لښکر نه نور محمد بادوزايي د خپلو پلويانو سره د شاه شجاع خوا ونيوله او د شاه محمود او فتح خان خوا کمزورې شوه او شاه شجاع کندهار ته په بري سره ننوت. شاه شجاع بېرته کابل ته ستون شو او د هغه ځايه پېښور ته لاړ. دا هغه وخت و چې د الفنسټون په مشرۍ د انګرېزانو پلاوی کوهاټ ته رسېدلی و او شاه شجاع ورنه خبر شوی و. الفنسټون په پېښور کې د شاه شجاع سره وکتل او يو تړون يې ورسره لاسليک کړ.

کاکړ د دراني امپراتورۍ په اړه د مونټسټوارټ الفنسټون ( Mountstuart Elphinstone) بې جوړې پنډ کتاب «د کابل سلطنت بيان» چې دوه ټوکه لري ژباړلی او سريزه يې نصرالله سوبمن ژباړلې ده. کاکړ د دغه مهم اثر په ژباړې سره د خپلې مورنۍ ژبې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شتمنولو برسېره د پښتنو د تاریخ د پوهاوي دپاره لوی چوپړ کړی دی. الفنسټون په ۱۷۷۹ کال کې په سکاټ لنډ کې زیږېدلی او په ۱۷۹۶ کال کې د ختیځ هند په شرکت کې وټاکل شو. ده د خپل ماموریت زیاته برخه په بمبيي او پونه کې تېره کړې ده. الفنسټون په ۱۸۰۸ کال کې په دې مامور شو چې د افغانستان له واکمن شاه شجاع سره یو تړون لاسلیک کړي.

دا مهال داسې پېښې وشوې چې انګرېزان په اندېښنه کې شول چې ښايي ناپلیون د روسانو په همکاري د پارس او افغانستان له لارې په هند یرغل وکړي. د ناپلیون پلان دا و چې د عثماني ترکیې، قاجاري پارس په مرسته هندوستان ونیسي. ناپلیون د دې موخې دپاره په ۱۸۰۷ کال کې جنرال ګارډن د پارس پاچا ته ولېږه. جنرال ګارډن ته لارښوونه شوې وه چې لومړی دا مالومه کړي چې هندوستان ته د شلو زرو فرانسوي لښکرو د لېږلو په صورت کې به د پارس د مرستیالو لښکرو شمېر څومره وي، د هغه د ځای په ځای کولو او د وړاندې تګ لارې، د اړینو موادو او اوبو ځایونه او د هغوی د تګ موسم مالوموله و. دوهم دا چې دی باید د مرهټه وو سره هم لار ولري او د هغوی د ملاتړ درجه مالومه کړي. دریم دا چې نوموړی د فرانسې، عثماني ترکیې او فارس تر منځ درې ګونی اتحاد جوړ کړي. کاکړ وایي چې که څه هم د دغه پلان پلي کول ناشوني و خو بیا هم انګرېزان د هندوستان د خلکو نه په وېره کې وو، د دغه پلان په ضد یې په متقابلو دفاعي ترتیباتو لاس پورې کړ. د دغو ترتیباتو نه یو هم ډیپلوماتیک فعالیتونه وو، چې د هغو پر بنسټ سیاسي پلاوي د پنجاب د سیکانو پاچا رنجیت سنګ، د افغانستان د واکمن شاه شجاع او د پارس قاجاري دربار تهران ته واستول. د دغو پلاوو موخه یوه وه او هغه دا چې د دغو ملکونو د واکمنو په مرسته او اتحاد د فرانسې د شوني خطر مخه ونیسي. دغه مهال په افغانستان کې کورنۍ شخړې ګړندی رواني وې. د پاینده خان زامنو د وزیر فتح خان د وژنې وروسته د سدوزیو د پاچایي د ړنګولو دپاره هلې ځلې کولې.

دې اندېښنې د انګرېزانو له پاره د افغانستان اهمیت نور هم لوړ کړ او د افغانانو سره یې د یوه داسې تړون لاسلیک ته اړتیا ولیدله چې د هغې پر بنسټ افغانان هېڅ بهرنی ځواک پرې نه ږدي چې د افغانستان له لارې په هندوستان برید وکړي. نو الفنسټون د یوه لوی ډیپلوماتیک پلاوي په مشرۍ د ۱۸۰۹ کال په پسرلي کې پېښور ته چې د درانیو پاچاهانو د ژمي پلازمینه وه، ورسېد او د مارچ په پنځلسمه یې له شاه شجاع سره د هغه په دربار کې ولیدل او د ښایسته خبرو اترو وروسته د شاه شجاع او الفنسټون تر منځ تړون لاسلیک شو. کاکړ وایي چې په دغه تړون کې هم لکه په وروستیو نورو تړونونو کې چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



برېتانيې او افغان واکمنو تر منځ لاسليک شوي وو، افغاني واکمن تيرايستل شول. دغه تړون په يوې ناسمې جملې پيل شوی، چې ګواکې فرانسه او پارس د افغانستان پر ضد سره يو شوي دي، خو دغه رښتيا نه و. په دغه تړون کې برېتانيې د افغانستان سره ژمنه وکړه چې د دغسې اتحاد د مخنيوي له پاره به په کلکو اقداماتو لاس پورې کړي. برتانيې ژمنه وکړه، چې د دغه کار د ترسره کولو دپاره مالي لګښت تر خپلې وسې پورې په خپله غاړه واخلي. په تړون کې دا هم ويل شوي و چې «ښايي د بيلتون ديوال د دوی تر منځ لرې شي او دوی ښايي په هېڅ شان د يو او بل په چارو کې ګوتې ونه وهي او ښايي د کابل پاچا هېڅ فرانسوي ته اجازه ورنه کړي، چې د ده په قلمرو کې ننوځي.»۲۴۴. درې ورځې وروسته دغه تړون په کلکته کې د ګورنر جنرال له خوا لاسليک شو، خو د هغه د قلم رنګ لا وچ شوی نه و، چې شاه شجاع په نمله کې ماتې وخوړه او واکمني يې خپل ورور شاه محمود ته بايلوده. د دې پېښې سره د پېښور تړون د تل دپاره د اعتبار نه ولوېد، خو د دغه ډيپلوماتيک سفر تلپاتې پايله دغه کتاب دی چې لندېه رڼا ورباندې اچول کيږي..

د الفنستېون په پلاوي کې ملکي مامورين، انجنران، د سروې چارپوهان او پوځي افسران شامل وو. د سورو او پياده سرتېرو سره يې ټول شمېر څلور سوه ته رسېده. دا پلاوی په دې دومره لوی و چې لومړی انګرېزانو غوښتل چې د افغانستان پاچا تر اغېز لاندې راولي. دوهم دا چې د دغه پلاوي له لارې دوی د افغانستان د حکومت او ولسونو په اړه مالومات ترلاسه کړي. دغه پلاوي په پېښور کې شپږ مياشتې تېرې کړې. د الفنستېون د مالوماتو سرچينې بيلې بيلې وې. د ده د مالوماتو لومړۍ سرچينه شخصي کتنې وې. په پېښور کې د هر قوم او ولس عادي او لوړ خلک اوسېدل او الفنستېون په خپله د دغو کسانو سره اوږدې ليدنې کتنې وکړې. د ده د مالوماتو دوهمه سرچينه دراني سرداران وو، چې له دوی سره يې په رسمي او ځانګړي ډول مجلسونه او مرکې وکړې. د نوموړي د مالوماتو دريمه سرچينه جاسوسان وو. ده د افغانستان لرې او نږدې سيمو ته د کافرستان او هزاره جاتو په ګډون راپورچيان واستول. د ده د مالوماتو څلورمه سرچينه ليکلي کتابونه وو. د راغونډو شويو مالوماتو پر بنسټ ده حکومت ته يو اوږد راپور برابر کړ او بل يې «د کابل سلطنت بيان» کتاب دی.

کاکړ وايي چې الفنستېون په دغه کتاب کې د يوه کره پوه په توګه د خپلو مالوماتو کره توب ته ځير شوی، ټول يې چاڼ کړي او هغه يې ترېنه غوره کړي، چې د ده په نظر ورته سم ښکاره شوي دي. په دې ډول ده هغه څه ته چې د هر علمي اثر بنسټ جوړوي، پام کړی او خپل اثر يې باوري او مستند کړی دی. هغه شرايط چې الفنستېون د هغو په رڼا کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه کتاب لیکلی، د ده د لیکنو له افاقي توب سره یې مرسته کړې ده. په هغه وخت کې د افغانانو او انګرېزانو تر منځ ټکرونه پېښ شوي نه وو، دواړه ولسونه د یو او بل نه لرې پراته وو او د دوی حکومتونو د بیلو بیلو دلیلونو له مخې یو د بل سره دوستي غوښته او انګرېزي حکومت دې ته اړتیا درلوده چې په راتلونکې کې د افغانانو سره د بریالي چلند د کولو له پاره د افغانستان ټولنه، ولسونه، دولتي جوړښت او کلتور چې څنګه وو، هغسې وپېژني. د ده کتاب انتقادي او متوازن دی.

کاکړ وایي چې د دې کتاب بله ځانګړتیا دا ده چې دا کتاب جامع دی. په دغه کتاب کې حکومتي تشکیلات، د ټولنې ټولې ډلې لکه د دربار اشراف او سرداران، خانان، ځمکه وال، بزګران، اجوره کاران، شپانه، ښځې او کسبګر، د دوی د سلوکونو، لوبو، کورونو، ژبو، کلتورونو او تاریخ سره بیان کړي دي. د افغانستان ولسونه په قومي لحاظ هم شرح شوي دي. په دغه اثر کې د افغانستان د سدوزیو د دورې سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او کلتوري عمومي انځور په داسې جامع ډول کښل شوی دی چې په هېڅ ژبې کې د نني افغانستان او په ځانګړې توګه د ختیځ افغانستان په اړه په داسې جامع ډول نه دی کښل شوی. دغه کتاب لومړی اثر دی چې افغانستان یې لوېدیځې نړۍ ته وروپېژندلی دی.

دا مهال چې الفنسټون د پېښور نه روان شو په کندهار کې میرعلم خان د شاه محمود او فتح خان په لوري واوښت او هغوی ته یې بلنه ورکړه چې کندهار ته ورشي. شاه محمود او فتح خان د میرعلم خان په مرسته کندهار ونیو. شاه محمود فتح خان د خپل وزیر په توګه او ملا محمد سعید یې د قاضي القضات په توګه وټاکل. شاه محمود او فتح خان کابل ونیو او د پېښور د نیولو په نیت هغې خوا ته وخوځېدل او په نمله کې یې شاه شجاع ته ماتې ورکړه او شاه شجاع د اټک په لور وتښتېد او پېښور د شاه محمود په لاس ورغی.

## د شاه محمود دوهم ځل واکمني

شاه محمود دوهم ځل د کابل پر تخت کېناست او وزیر فتح خان ته یې د هېواد مهمې چارې وسپارلې او د ټولو چارو اختیار یې ورکړ. هغه د خپل وزارت کار د خپلې پوهې له برکته او د شاه محمود له بې خبرۍ د امارت ستنې ته ورساوه. هغه خپل وروڼه د هېواد په بیلو بیلو ولایتونو کې په مهمو دولتي دندو وګومارل. سردار محمد اعظم خان یې د پېښور او نواب جبار خان یې د دېره جاتو واکمنان کړل. په غزني، کندهار، جلال اباد، لغمان، کابل او کوهستان کې یې نور وروڼه په مهمو دندو وګومارل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه وخت بلوچ خان اڅکزی، یحی خان بامیزای، دلاسه خان اسحقزای او نور راولپنډۍ ته شاه شجاع ته ورغلل او هغه د دېره جاتو د نیولو نیت وکړ. خو د شېرمحمد خان بامیزي زوی چې د خپل ورور اعطا محمد خان د کشمیر واکمن نه خپه و، شاه شجاع ته ورغی او شاه شجاع یې خوشاله کړ او زر سواره یې له کشمیر نه راوغوښتل او د شاه شجاع د لښکر سره یو ځای شو. شاه شجاع د دېره جاتو پر ځای د پېښور په لور روان شو او پېښور یې ونیو او سردار محمد اعظم کابل ته وتښتېد.

په کابل کې شاه محمود سردار محمد اعظم بیا د پېښور د نیولو په موخه د یوه لښکر سره ولېږه. سردار محمد اعظم خان په تکال کې د شاه شجاع ځواکونو ته ماته ورکړه او شاه شجاع بېرته راولپنډۍ ته وتښتېد او سردار محمد اعظم پېښور ته ننوت. څه وخت وروسته ناراضه خانانو شاه شجاع وهڅاوه چې په پېښور برید وکړي خو هغه ناکام بېرته راولپنډۍ ته ستون شو. یو کال وروسته بیا ناراضه خانانو د شاه شجاع نه وغوښتل چې په پېښور برید وکړي. شاه شجاع دا ځل بریالی شو او پېښور یې ونیو او سردار محمد اعظم خان د کوهاټ له لارې کابل ته وتښتېد.

شاه شجاع غوښتل چې کابل ته لاړ شي خو په پېښور کې اعطا محمد خان د کشمیر ناظم د کسانو د یوې دسیسې په ترځ کې بندي او کشمیر ته یوړل شو او هلته بندي شو. شاه محمود وزیر فتح خان د دېرش زره پوځ سره کشمیر ته ولېږه چې له اعطا محمد د بند نه شاه شجاع ایله کړي تر څو په لاهور کې د خپلې کورنۍ سره واوسي.

وزیر فتح خان پېښور ته لاړ او د هغه ځایه پنجاب ته لاړ او د رنجیت سره یې هوکړه وکړه چې رنجیت سنګ به د فتح خان ملاتړ په پوځ سره کوي او په بدل کې به ده ته د کشمیر د مالیې دریمه برخه ورکوي. وزیر فتح خان د خپل لښکر برسېره د رنجیت سنګ نه هم د پوځ مرسته ترلاسه کړه او د اعطا محمد نه یې کشمیر ونیو. هلته یې نظم راوست او خپل ورور سردار محمد اعظم یې د کشمیر د واکمن په توګه وټاکه او شاه شجاع لاهور ته لاړ چې هلته د خپلې کورنۍ سره یوځای شو.

څه وخت وروسته سردار محمد اعظم د کشمیر د مالیې له ورکولو نه سرغړونه وکړه. دا ځل بیا وزیر فتح خان د خپل لښکر سره کشمیر ته لاړ او هلته یې د ورور سره موضوع هواره کړه. سردار محمد اعظم د کشمیر د واکمن په توګه پاتې شو او وزیر فتح خان د کشمیر د مالیې سره کابل ته راستون شو.

وزیر فتح خان چې کابل ته راستون شو نو شاه محمود دنده ورکړه چې هرات ته د یوه لښکر سره لاړ شي. خبره داسې وه چې فیروزالدین خپل زوی شاه زوی ملک حسین د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناظر حسن خان سره له هرات نه کابل ته ولېږه چې د شاه محمود نه مرسته وغواړي تر څو غوریان د ایران د لاسه خلاص او هم د دې وروسته د هرات مالیه د ایران پاچا ته ورنه کړي. شاه محمود چې د هرات د نیولو په فکر کې و دا موقع ښه وګڼله او د ۱۲۳۲ کال په پای کې وزیر فتح خان د دېرش زره سوارو سره هرات ته ولېږه. وزیر فتح خان چې فراه ته ورسېد حاجي فیروزالدین هرات ته د هغه ورتګ اړین ونه لیدو او د هغه د ښه راغلاست له پاره د ښار نه د باندې راغی او د غوریان نیول یې لومړیتوب وګاڼه. وزیر فتح خان څو ورځې وروسته چې خلک یې د پیسو په ورکولو سره خپل کړل حاجي فیروزالدین یې په دې پلمه د ښار نه د باندې راوغوښت چې ورسره مشوره کوي. کله چې فیروزالدین د خپلو یو شمېر مشرانو سره راغی هغه یې ونیو. خپل ورونه سردار دوست محمد خان او سردار کهندل خان یې ښار ته ولېږل چې د فیروزالدین خزانه او شتمني ترلاسه کړي. د فیروز الدین زوی شاه زوی قاسم د مال نه لاس ومینځه او وتښتېد. وروسته له هغې چې د فیروزالدین او د هغه د زوی ټوله شتمني ضبط شوه شاه زوی جګړې ته راوړاندې شو، څو ځایه ټپي او بیا ونیول شو. وروسته وزیر فتح خان د هرات ښار ته ننوت او حاجي فیروزالدین یې د خپلو ښځو او اولادونو سره کندهار ته ولېږه. سردار کهندل خان یې د غوریانو د نیولو له پاره وټاکه. شاه محمود او کامران چې د هرات د نیولو نه خبر شول د کابل نه د هرات په لور وخوځېدل. سردار دوست محمد خان د فتح خان د وېرې محمد اعظم خان ته کشمیر ته لاړ په دې چې هغه د فیروزالدین د کورنۍ ګانې پټې کړې وې او هم یې د حرم د ښځو سره بد چلن کړی و. کله چې دوست محمد خان کشمیر ته ورسېد هلته محمد اعظم خان بندي کړ.

د مخه مو یادونه وکړه چې وزیر فتح خان سردار کهندل خان یې د غوریانو د نیولو له پاره وګوماره او په خپله یې د ایران د نیولو پرېکړه وکړه. کله چې د ایران پاچا فتح علي شاه ته دا خبر ورسېد هغه سمدلاسه د لښکر په برابرولو لاس پورې کړ او شاه زوی حسن علي میرزایي یې د وزیر فتح خان د مقابلې له پاره واستوه.. د وزیر فتح خان او حسن علي میرزایي لښکرې په کهسان کې سره مخامخ شوې او سخته جګړه وشوه.د ایران پوځ د افغان جنګیالیو په وړاندې مقاومت ونه کړای شو او د تېښتې لار یې ونیوه. په دې وخت کې ناڅاپه د وزیر فتح خان په شونډې او خوله باندې ګولۍ ولګېده او ټپي شو. فتح خان بېرته هرات ته راوګرځېد او غوښتل یې چې لښکر تهیه کړي او ایران ونیسي. خو په هرات کې داسې یوه بدمرغه پېښه وشوه چې هر څه یې بدل کړل.

د مخه مو یادونه وکړه چې شاه محمود او کامران د کابل نه هرات ته وخوځېدل. شاه

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمود خپل زوی کامران ته امر وکړ چې مخته لاړ شي او ځان هرات ته ورسوي او په خپله شاه محمود د سيستان د وضعې د سمون په موخه يو څه وخت په فراه کې پاتې شو او بيا هرات ته لاړ. خو کامران د مخه تر دې چې پلار يې هرات ته ورسيږي شاه زوی حسن علي ميرزايي ته پيغام واستوه چې وزير فتح خان د دولت د اجازې پرته د تاسو سره جګړه کړې ده. شازوی د کامران استازی ستايلی او ورته يې ويلي چې وزير فتح خان دې مشهد ته ورولېږي يا دې په خپله د هغه سترګې وباسي. کامران چې د وزير فتح خان سره کينه درلوده هغه يې ړوند او بندي کړ. د فتح خان ورونه سردار شيردل خان او سردار کهندل خان کندهار ته وتښتېدل او د فتح خان وروڼو د خپل ورور د غچ اخېستلو په نيت ملاوې وتړلې.

سردار محمد اعظم خان د کشمير واکمن د خپل ورور د غچ د اخېستو په نيت د کشمير نه د پېښور د نيولو په نيت هغې خوا ته وخوځېد. سردار محمد اعظم خان پېښور ونيو او د پېښور نه د کابل په لور وخوځېد. خو سردار دوست محمد خان لا د مخه کابل ونيو. شاه محمود او کامران د کابل د نيولو له پاره د کندهار نه د کابل په لور وخوځېدل. دوی په غزني کې وزير فتح خان په ډېر بد حالت سره وواژه او هلته خاورو ته وسپارل شو. د شاه محمود دېرش زره سواره په چاراسيا کې واړول. خو د هغه ځينو مهمو کسانو د دوست محمد خان خوا ته واوښتل. شاه محمود او کامران په پټه د شپې وتښتېدل او په سهار يې پوځيان په غير منظم ډول پسې وتښتېدل. شاه محمود او کامران غوښتل کندهار ته لاړ شي خو هلته د فتح خان ورونو سردار شيردل خان او سردار کهندل خان کندهار نيولی وو. شاه محمود او کامران چې د کندهار د نيولو نه خبر شول د دهراود له لارې هرات ته وتښتېدل. په دې ترتيب د هرات پرته ټول افغانستان د فتح خان د ورونو په لاس کې ولوېد.

## پايله

کاکړ وايي چې په احمدشاهي دولت کې خپله د پاچا احمدشاه بابا شخصيت د عمومي انډول په ساتلو کې تر هر څه ډېر اغېزمن و، له دې امله د ده د واکمنۍ په وخت کې د څو دسيسو پرته د هغه پر ضد پاڅون ونه شو. خو د ده ځای ناستو دغه انډول ونه شو ساتلی او د دې په پايله کې احمدشاهي دولت ولړزېد. همدارنګه لکه چې د مخه مو يادونه وکړه په احمدشاهي دولت کې دراني سردران د زياتو جنګي، سياسي او مالي امتيازاتو په ترلاسه کولو سره په يوه ممتازه شتمنه اشرافي درباري طبقه بدل شول او دومره ځواکمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



شول چې دولت یې ګواښه. دا ګواښ هغه وخت ښکاره شو چې دراني سردران ځینې د تیمور او ځینې د سلیمان په خوا ودرېدل. که څه هم تیمورشاه د درانیو سردرانو او نورو پښتنو پاڅونونه د بهرنیو تېریو په ګډون وځپل خو د امپراتوری دولت د ده د واکمنۍ پر مهال د زوال په لور روان او د ده د زامنو په وخت کې ټوټه او د سدوزو کورنۍ د نولسمې پېړۍ په لومړۍ څلورمه کې نسکوره شوه. بل دا چې پاچایانو د ډېرو ښځو نه زیات زامن درلودل او دغو ورونو به په خپلو منځو کې د واک پر سر جګړې کولې او د ځای ناستي کوم ټاکلی پرنسیپ شتون نه درلود او د جګړو له پاره لار پرانېستې وه.

د کاکړ په وینا د دراني دولت د ستونزو یو بل لامل دا و چې احمدشاه بابا له ټول درایت سره سره ونه شو کړای د دولت له پاره پوره عایدونه تهیه کړي او لکه چې د مخه مو یادونه وکړه د دولت لګښتونه د جګړو د اولجو او باجونو نه برابرېدل چې د امپراتورۍ د سیمو نه لاس ته راتلل. څنګه چې د افغانستان مالي سرچینې کافي نه وې او د امپراتورۍ د سیمو نه نامنظمې او لږ دوامه وې دغې وضعې د احمدشاهي دولت بنسټ لړزاوه او هغه سوکه سوکه احساس شو. د ده د اسلافو په وخت کې د امپراتورۍ سیمې په ځانګړې توګه پنجاب او کشمیر چې د هغو نه زیات عاید لاس ته راتلل د پردیو په لاس کې ولوېدل او افغانستان د سختې مالي ستونزې سره مخامخ شو. دا لامل و چې د احمدشاه بابا نه وروسته ښارونو وده ونه کړه. برسېره پر دې د بهرنیو هېوادو فشارونو په ځانګړې توګه د نولسمې پېړۍ په پیل سره ورانوونکې اغېزې وشیندلې چې په پای کې د احمدشاهي کورنۍ واکمني په ۱۸۱۸ کې د منځه لاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یوولسم څپرکی

# د محمد زیو واکمني

د افغانستان په ختیځ کې د پنجاب د سیکانو دولت او د افغانستان په لوېدیځ کې د پارس د قاجاریانو دولت د افغانستان په وضع کلک اغېز وشینده. د نولسمې پېړۍ په پیل کې انګرېزانو د شمال لوېدیځ په لور د نفوذ سیمې ته پراخوالی ورکړ او د ستلج رود غاړې ته راورسېدل او خپله پوله یې د سند او پنجاب سره ولګوله.

د افغانستان په چارو کې د انګرېزانو لاسوهنه د اتلسمې پېړۍ په پای کې د زمان شاه د واکمنۍ پر مهال پیل شوه کله چې د هند مسلمانو واکمنو د مغولو د امپراتور په ګډون د ده نه غوښتنه کوله چې د مرهټه وو په وړاندې د دوی سره مرسته وکړي.

زمان شاه نیت درلود د خپل نیکه غونډې په هند برید وکړي. انګرېزانو دغه وخت د ناپلیون له خوا د پارس او افغانستان تر منځ د اتحاد په پایله کې په هند باندې د برید نه وېره درلوده. د دغه ګواښ په وړاندې انګرېزانو تدبیرونه ونیول. لومړی تدبیر دا و چې د پارس سره اتحاد وکړي چې له مخې یې په هند باندې د ناپلیون د یرغل مخه ونیسي، دوهم دا چې د افغان پاچا له خوا د هند د نیولو د پروژې مخنیوی وکړي. د پارس دولت سره دوستۍ ته رسېدل دغو دواړو موخو ته په رسېدلو کې اساسي رول درلود.

د پارس له لوري ګواښ د هند په لور د زمان شاه پلان له ناکامۍ سره مخامخ کړ. د پارس حکومت د زمان شاه ورور شازوی محمود لمساوه چې د زمان شاه پر ضد پورته شي.

د زمان شاه د نسکورېدو وروسته د لنډ مهال له پاره د برتانوي هند تسلط ته ګواښ له منځه ولاړ. خو کله چې ناپلیون د مصر له لارې په خپل پرمختګ کې ناکامه شو، زر هغه د پارس او افغانستان سره د اتحاد له لارې په هند باندې د برید پلان تر لاس لاندې ونیو. همدا وخت و چې برېتانیا په ۱۸۰۹ کال کې د پارس، افغانستان او پنجاب سره د تړونونو په لاسلیک کولو سره د فرانسې د یرغل ګواښ د لنډ مهال له پاره د منځه یوور. په ۱۸۱۲ کال کې په روسیې د ناپلیون یرغل او د هغه ماتې د تل له پاره په هند کې د برتانیې تسلط ته ګواښ د منځه یوور. خو برتانوي هند ته دغه ګواښ د نولسمې پېړۍ په پیل سره د روسیې له لوري د پراختیا له امله د اوږدې مودې په ګواښ بدل شو. دغه ګواښ لومړی په پارس

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د روسیې د نفوذ له امله او وروسته په منځنۍ اسیا کې په خاناتو د روسیې د تسلط له امله واقعي شو چې په هند کې یې د برېتانیې د تسلط په لوري سترګې نیولې وې.

په ۱۸۱۳ کال کې د روسیې او پارس تر منځ د ګلستان تړون له مخې ننی اذربایيجان، داغستان او ګرجستان د روسیې په امپراتورۍ کې شامل شول. برتانیې په ۱۸۱۴ کال کې د پارس سره تړون وکړ او ژمنه یې وکړه چې په پارس باندې د کوم اروپايي هېواد د یرغل په صورت کې به پارس ته پوځ لېږي یا به دوه لکه تومانه سبسیډي ورکوي. خو کله چې روسیې په ۱۸۲۶ کال کې په پارس یرغل وکړ چې دوه کاله اوږد شو او پارس ماته وخوړله او روسیې د ترکمانچي د تړون له مخې ارمنستان او ناخچیوان ترلاسه کړل، برېتانیې د ۱۸۱۴ کال د تړون له مخې خپلې ژمنې پوره نه کړې او کمزورې پارس یې د روسیې د یرغل په وړاندې یوازې پرېښود.

برتانوي هند ته ګواښ د دوو لارو، چې یوه لار یې د امو د رود نه د تېرېدلو د بلخ، کابل او پېښور نه او بله یې د هرات او کندهار نه چې د افغانستان نه تېرې شوې دي، شونی و. دغه وخت انګرېزانو د سند د امیرانو سره ښې اړیکې ټینګې کړې وې، د بهاولپور خان سره یې د زړه له کومې اړیکې درلودې. د پنجاب غښتلي رنجت سنګ څلوېښت زره روزل شوی پوځ او ښه لویه توپخانه په واک کې درلوده. په افغانستان کې هغه وخت چې هېواد د واک په وړو ټوټو وېشل شوی و امیر دوست محمد خان غښتلی دریځ درلود. امیر دوست محمد خان په ۱۸۳۴ کال کې شاه شجاع ته په کندهار کې په ماتې ورکولو سره خپل دریځ ټینګ کړ. خو سیکانو د شاه شجاع په وړاندې کندهار ته د امیر دوست محمد خان د دغه تګ نه ګټه پورته کړه او پېښور یې ونیو. انګرېزانو دغه وخت کوښښ کاوه چې خپل ګاونډي هېوادونه یو د بل سره په ټکر کې وساتي.

## د امیر دوست محمد خان لومړۍ واکمني

امیر دوست محمد خان د دې له پاره چې د پېښور د نیولو له پاره د خلکو ملاتړ ترلاسه کړي ځان یې امیرالمومنین اعلان کړ. امیر لس زره لښکر د پېښور د نیولو په نیت هغه لور ته ولېږه او سیکانو هم نه غوښتل چې د قهرجنو غازیانو په وړاندې ودرېږي نو یو امریکايي یې د منځګړي په توګه د دې مسلې د سوله یز حل له پاره وړاندې کړ. په دې وخت کې رنجیت سنګ په دې بریالی شو چې د امیر یو ناسکه دښمن ورور سلطان محمد خان ته رشوت ورکړي او د کابل پوځ یې تس نس کړو او امیر په مات زړه کابل ته راستون شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۸۳۶ کال په پای کې جنرال هریسنګ د یوه برید په ترڅ کې د خیبر په سوویلي خوله کې یو وړوکی، خو ستراتیژیک کلی جمرود ونیو. د ۱۸۳۷ کال د اپرېل په ۳۰مه افغان پوځ د سردار محمد اکبر تر مشرۍ لاندې سیکانو ته ماتې ورکړه او جنرال هري سنګ یې وواژه. خو کله چې د سیکانو مرستې ته نور پوځ راورسېد افغان پوځ ونه کړای شول چې د پېښور په لور پرمختګ وکړي او بېرته راوګرځېد. دوه کاله وروسته رنجیت سنګ مړ شو او سیکانو د واک پر سر یو د بل سره مخالفت پیل کړ چې په پایله کې پنجاب په ۱۸۴۹ کال کې د انګرېزانو لاس ته ورغی.

په ۱۸۳۰ کلونو کې د پارسیانو پلان چې د روسیې له خوا یې ملاتړ کېده دا و چې د ختیځ په لوري پراختیا ومومي. په دې کې شک نه شته چې روسانو د شاه په پرېکړه کې نفوذ درلود چې په خراسان یرغل وکړي او د هرات په لور پرمخ ولاړ شي. دوی پارسیان هڅول چې خپلې مځکې چې روسانو ورڅخه نیولې وې په خراسان او هرات باندې د یرغل له لارې تلافي کړي.

په ۱۸۳۵ کال کې د برتانیې د بهرنیو چارو وزیر پالمرستون د خپل نماینده سر هنري ایلیز له لارې د پارس پاچا ته خبرداری ورکړ چې د افغانستان په وړاندې جګړه ونه کړي. خو دغه خبرداري ته لږ پام ونه شو. ځینو روسي امپریالستانو هغه مهال پارس هڅاوه او ملاتړ یې کاوه چې د ختیځ لوري ته خپلې مځکې پراخې کړي او دا کار یې په ستره لوبه کې د یوې موقع په توګه کتلو. پارسیانو د روسیې په ملاتړ په افغانستان یرغل وکړ او هرات یې کلابند کړ. د روسي افسرانو د وینا سره سم د پاچا د لښکر شمېر څلوېښت زره تنو ته رسېده چې ۶۰ ماشینګنې یې درلودل. په دغه لښکر کې د روسانو یو کنډک چې په پارس کې د روسي مهاجرینو له خوا جوړ شوی و هم شتون درلود.۲۴۵

په هرات کې افغانان د پارس د یرغل په وړاندې ټینګ ودرېدل. وزیر یارمحمد خان د پارس پاچا غوښتنې ته چې تسلیم شي غوڅ ځواب ورکړ. پاچا د هرات کمپاین د ۱۸۳۶ کال تر پسرلي پورې وځنډاوه په دې چې ده هیله درلوده چې دا مسله به په سوله یز ډول د خبرو له لارې هواره شي.

په دغه بحراني حالت کې چې افغانستان د دواړو خواوو نه د زیات فشار لاندې و افغان شاه زویان د دې پرځای چې د ګواښ په وړاندې ګډ دریځ ونیسي په دې هڅه کې شول چې دوی بیل بیل د بهرنیو قوتونو سره یو د بل په زیان اړیکې ټینګې کړي. په ختیځ کې سلطان محمد خان څو ځله د سیکانو سره معامله وکړه چې په کابل کې د خپل ورور امیر دوست محمد خان ځواک کمزوری کړي. په کندهار کې کندل خان او د هغه سکه ورونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امیر دوست محمد خان مشري نه منله. په لوېدیځ کې د واک نه لرې شوی سدوزایې کامران د احمدشاه بابا لمسی د بارکزي واکمن یو زوړ دښمن پاتې شو.

د افغانستان دغې وضعې د دوو سیالو امپراتوریو د ستراتیژۍ په جوړولو باندې اغېز درلود. د هند برتانوي حکومت هرات د خپلې ساتنې د باندینۍ پولې په څېر ګڼانه او ځان یې اړ ګڼلو چې باید په سیاسي توګه او که اړینه شوه په پوځي توګه ورنه ساتنه وکړي. په هرات باندې د روسيې- پارس یرغل په هند کې د برتانيې ګټې ګواښلې. له دې امله د برتانيې حکومت د برنس پلاوی کابل ته واستوه چې د امیر دوست محمد خان سره جدي خبرې وکړي.

په ۱۸۳۶ کال کې امیر دوست محمد خان اوکلنډ ته چې نوی د هند ګورنر جنرال ټاکل شوی و د مبارکۍ پیغام واستوه او دا شکایت یې وکړو چې سیکانو د افغانستان په سیمو یرغل کړی او د اوکلنډ نه یې وغوښتل چې د دې مسلې په هوارېدو کې لاس وهنه وکړي. هغه اوکلنډ ته دا هم جوته کړه چې د سند رود به زموږ او سیکانو تر منځ پوله وي او د هغو سیمو په بدل کې چې موږ ته یې راپرېږدي موږ به په کشمیر باندې د دوی واکمني په رسمیت وپېژنو. اوکلنډ په ځواب کې ولیکل چې د برتانوي هند حکومت د خپلواکو هېوادو په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کوي. خو درې کاله وروسته اوکلنډ په خپله په دغې پالیسۍ تېری وکړ او ویې غوښتل چې یو نسکور شوی شاه زوی شاه شجاع د امیر په ځای وټومبي. ګورنر جنرال امیر دوست محمد خان ته ولیکل چې دی یو پلاوی درلېږي چې د تاسو سره د دوه اړخیزو سوداګریزو اړیکو په اړه خبرې وکړي. د پلاوي مشر الکساندر برنس و چې د مخه یې د خپل ځلور کلن سفر په مهال کابل لیدلی و او د کابل د اشرافو سره یې ښې اړیکې جوړې کړې وې. که څه هم د ده ماموریت سوداګریز ښودل شوی دی خو د ده ماموریت سیاسي و چې د هېڅ شي د کړلو واک ورکړ شوی نه و. برنس په ۱۸۳۷ کال د سپتمبر په ۲۰مه نېټه کابل ته راورسېد چې د امیر، د هغه د وزیرانو او د هغه د ورور عبدالجبار خان له خوا یې تود هرکلی وشو. د برنس د ماموریت ناکامي مخکې له مخکې جوته وه په دې چې ګورنر جنرال برنس ته دا واک نه و ورکړی چې هېڅ ډول سیاسي پرېکړه وکړي، د هر شي غوښتنه وکړي، خو د هېڅ شي ژمنه کړای نه شي.

امیر دوست محمد خان او د هغه وزیرانو د لومړي پیل نه انګرېز مامور ته دا ښکاره کړه چې د هر ډول خبرو اترو موضوع پېښور و. د افغانانو غوښتنه دا وه چې د پارس تېري په وړاندې د کابل او کندهار د ساتنې په موخه دې برتانیا ژمنه وکړي او د سیکانو نه دې پېښور بېرته افغانستان ته ورکړل شي. د برنس د اوو میاشتو د اوسېدو په یون کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



امير هره شونې هڅه وکړه چې د ګورنر جنرال باور ترلاسه کړي او د برتانيې د امن پالېسۍ کلک ملاتړ د دې لارې وکړي چې د پارس حکومت او د روسيې د نماينده سره هر ډول اتحاد رد کړي. هغه د کابل د امير په حيث د انګلستان له خوا د ده د حکومت په رسميت پېژندنې او سبسيډي په بدل کې ژمنه وکړه چې د هرات د خلاصون له پاره به يو پوځ ولېږي او د انګلستان يو وفادار او ټينګ متحد به پاتې شي.

په دې وخت کې درې اساسي پرمختګونو د افغانستان د امير او د برتانيې د حکومت تر منځ په ډيپلوماتيکو تماسونو يو اوږد سيورى وغوړاوه چې برتانيا يې په افغانستان کې د رژيم د بدلون د ملاتړ له پاره په افغانستان باندې تيري ته بوتله. لومړى دا چې په هرات باندې د روسيې په مرسته د پارس يرغل، دوهم دا چې د روسيې ډيپلوماتيک پلان چې افغانستان د روسيې- پارس کمپ ته کښ کړي، دريم دا چې په افغانستان کې د رژيم د بدلون په اړه د برتانيې د پالېسۍ بدلون.

## د هرات کلابندي

سره له دې چې په تهران کې د برتانيې وزير په افغانستان باندې د يرغل کلک مخالفت کاوه د ۱۸۳۷ کال په اوړي کې د پارس پاچا محمدشاه قاجار د روسيې په ملاتړ د هرات د نيولو په موخه خپل ۳۰ زره پوځ واستوه. په هرات کې کامران او د هغه وزير يارمحمد خان امر وکړ چې د هرات د چاپېر سيمو نه دې ټول فصل، غله او واښه راټول او ښار ته راوړل شي او پاتې برخه يې د منځه يوړل شي داسې چې په چاپېرو بڼونو کې د مېوې ونې پرې کړى شي په دې چې د اوږدې کلابندۍ په موده کې دښمن د ځايي زېرمو نه بې برخې شي. د غوريانو د نيولو وروسته د پارس پوځ په درې ليکو کې هرات ته روان شو. د پارس پوځ او د هغه د ملاتړي تر منځ د همغږۍ او په خپله د پارس د پوځ په ليکو کې پېوستون شتون نه درلود. خو د افغانانو دفاع فعاله وه. په واقعيت کې د نومبر په ۲۳مه د هرات کلابندي پيل شوه چې زر په پوره اندازه د عملياتو کچې ته پورته شوه داسې چې د ورځې به د پارس توپچي قواوو د هرات د ښار په دفاع د توپو ګوزارونه کول او د شپې له خوا به هراتي سوارو د ښار په چاپېر د دښمن په ليکو بريدونه کول. د پارس په وړاندې د مرستې په موخه د کامران په غوښتنه د هزاره ګانو او ازبکو يو پوځ د ميمنې، شبرغان او سرپل نه هرات ته راغى او په دښمن يې بريد وکړ.

دا وخت يو انګرېز جګړن پوتينجر چې د برتانيې پټ نماينده و او د منځنۍ اسيا په سفر روان و هرات ته ورسېد. نوموړي په هرات کې افغان مشرتابه ته ځان وروپېژانده او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل خدمت یې ورته وړاندې کړ. د پوټینجر نوم د هرات د بریالۍ دفاع سره تړل شوی دی.

د ۱۸۳۸ کال په اپریل کې جان نیل په تهران کې د برتانیې سفیر د شاه کمپ ته ورسېد چې د پارسیانو او افغانانو تر منځ د سولې منځګړیتوب وکړي. جان نیل د هرات په ښار کې د کامران او وزیر یارمحمدخان سره وکتل او بیا د پارس کمپ ته ستون شو. په دې وخت کې د روسیې سفیر کونت سیمونیچ د پارس کمپ ته راغی. دغه وخت محمدشاه قاجار د خپلو ژمنو نه په شا شو چې سولې ته یوه موقع ورکړي. د روسیې سفیر د سرتېرو په منځ کې پیسې وېشلې او خپلو کسانو او پارسیانو ته یې لارښوونه کوله چې زیاتې فعالې توپچي بطرۍ د ښار په وړاندې ځای په ځای کړي. په همدې وخت کې د پارسیانو د وزیرانو له خوا د برتانیې د سفیر سره ناوړه چلند کېده او هغه د پارس سره د جون په میاشت کې اړیکې پرې کړې او د کمپ نه لاړ.

د ۱۸۲۸ کال د جون په ۲۴مه نېټه په هرات باندې د روسي جنرال له خوا تنظیم شوی یرغل د پارس د ټولو قواوو له خوا پیل شو. یرغل د پارس د توپچي بطریو په درانده اور سره پیل شو چې د ښار څلورو خواوو ته ځای په ځای شوې وې. کله چې د توپچي غرونه غلي شول پارسیانو د ښار په پنځو نقطو سخت برید پیل کړ. په څلورو نقطو کې د پارس پوځ په شا وتمبول شو خو په پنځمه نقطه کې سرتېري چې د خپلو افسرانو له خوا یې لارښوونه کېده په مېړانې سره په دېوالو ختل او د افغان په دفاع یې فشار اچاوه. په دغه نقطه کې جګړن پوټینجر یو قهرمانه مشرتوب په ډاګه کړ او بې روحیې شوي افغان سرتېري یې د وزیر یارمحمدخان سره په ګډه وهڅول چې پر دښمن یو درونډ ګوزار وکړي او دښمن یې په شا وتمبوه. افغانانو د پارس یرغل په شا وهلو سره هرات وژغوره او پارسیان په بده توګه وځپل شول. روسي جنرال بوروفسکي چې د روسي قطعې مشري یې کوله ووژل شو او سامسون چې روسي داوطلبانو قومانده یې کوله ټپي شو. دغې ماتې د پارس د سرتېرو مورال ډېر راټیټ کړ. په دې وخت کې برتانیې د پارس په خلیج کې د خارک ټاپو ونیو او په پارس یې د برید ګواښ وکړ. محمدشاه قاجار چې په هرات کې یې د وروستي یرغل په پایله کې سخته ماته خوړلې وه د هرات کلابندي پرېښوده او تهران ته ستون شو.

په دې وخت کې برنس لا په کابل کې و او د افغان وزیرانو سره په خبرو لګیا و چې روسي تورن ویتکوویچ د ۱۹۳۷ کال د دسمبر په ۱۹مه نېټه کابل ته راورسېد چې په تهران کې د روسیې د سفیر کونت سیمونیچ، د پارس د پاچا او روسي تزار لیکونه ورسره وو. ویتکوویچ لومړی کندهار ته راغی او د کندهاري ورونو سره یې تړون وکړ چې د هرات پر ضد د پارسیانو او روسانو سره همکاري وکړي. امیر دوست محمد خان د ویتکوویچ سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوړ چلند وکړ په دې چې هغه د برنس سره په جدي خبرو اخته و. خو د ۱۸۳۸ کال په جنوري په پای کې برنس ته د ګورنر جنرال له خوا لارښوونه وشوه چې د امیر هیلې یې د سیکانو او افغانستان تر منځ د برتانیې د منځګړیتوب په اړه ورېژولې. برنس امیر ته اطلاع ورکړه چې هغه دې د پېښور د ادعا نه تېر شي او په دې د راضي شي چې رنجیت سنګ میل لري چې د سلطان محمد خان سره اړیکې ولري. بله خبره چې د کابل امیر یې حیران کړ دا وه چې ګورنر جنرال د امیر نه وغوښتل چې «د بل هر دولت سره د اړیکو نه ځان وساتي او ژمنه یې وکړه چې د دغه تجرید بیه به دا وي چې دوی به رنجیت سنګ پرې نه ږدي چې د افغانانو د تسلط پر نورو سیمو برید وکړي»۲۴۶ دې خبرې په کابل کې د برنس ماموریت پای ته ورسوه او د ۱۸۳۸ کال د اپریل په ۲۶ نېټه نابریالی هېواد ته بېرته ستون شو او د روسیې نماینده ته ښه موقع په لاس ورغله.

کله چې برنس د کابل نه د تللو تیاری نیوه سردار مهردل خان کابل ته راورسېد چې امیر د پارس اتحاد ته وهڅوي. د روسیې نماینده د هر هغه څه ژمنه کوله چې امیر غوښتل. ویتکوویچ کابل د هرات په موخه په داسې حال کې پرېښود چې سردار مهردل خان او د امیر نماینده یې ملتیا کوله. د روسیې ژمنې ثابتې شوې چې دروغجنې وې او د کابل سره د ملګرتیا نه د برتانیا انکار امیر او د هغه پاچاهۍ ته په زیان تمام شو.

په دغه وخت کې د برتانیې د حکومت پالیسي د کابل د رژیم د بدلولو په لور بدله شوه په دې چې د یوې خوا د روسیې- پارس له خوا د هرات کلابندي او د بلې خوا په افغانستان کې د روسیې او پارس نمایندګان فعال وو. د دغې پالیسۍ په بدلون کې بل لامل دا و چې د برتانیې په سیاست جوړونکې کړۍ کې شاه شجاع پلوه او سیک پلوه کسانو شتون درلود. ټول هغه اطلاعات چې برنس ګورنر جنرال ته لېږل شاه شجاع پلوه او سیک پلوه «کلاوډ وادې» ته رسېدل. دوی په اسنادو کې لاس وهلو. دغه دروغجن او ناسم اسناد د کابل نه د برنس د وتلو په ګډون د برتانیې په پارلمان کې تر بحث لاندې ونیول شول او یو کال وروسته د هغو پر بنسټ یوه ناسمه پالیسي غوره شوه. د ۱۸۳۸ کال په لومړیو کې کله چې هرات کلابند و کلاوډ وادې وړاندیز وکړ چې امیر دوست محمدخان تل د پېښور د غوښتنې په فکر کې دی خو د انګلستان ګټې دا غوښتنه کوي چې موږ بېرته شاه شجاع واک ته ورسوو ځکه چې شاه شجاع پېښور سیکانو ته پرېږدي او د برتانویانو سره دوستي غواړي.

له دې کبله په ۱۸۳۸ کال کې کله چې د برنس ماموریت نابریالی شو او د روسیې نماینده په کابل او کندهار کې په فعالیت بوخت و د برتانیې حکومت پرېکړه وکړه چې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو ښه دا ده چې په کابل کې یو شاه زوی کښېنوو چې د لاهور او برتانیې سره مخالف نه وي. د دې له پاره شاه شجاع ډېر مناسب و.

د راتلونکې افغان- انګلیس د جګړې له پاره سیاسي چوکاټ د انګلستان، سیکانو او شاه شجاع تر منځ هغه درې ګون تړون جوړاوه چې د ۱۸۳۸ کال د جون د میاشتې په ۲۶مه نېټه لاسلیک شو. په دغه تړون کې راغلي چې د هر یوه ملګري او دښمنان د درې واړو ملګري او دښمنان دي. د دغه تړون له مخې پېښور او د سند د رود د دې غاړې ټولې سیمې چې رنجیت سنګ نیولې وې د هغه د قلمرو برخه وګڼل شوې. سیکانو ژمنه وکړه چې د اړتیا په صورت کې پنځه زره سرتیري به په پېښور کې د یوه مسلمان تر قوماندې لاندې د شاه شجاع د مرستې دپاره تیاروي او د دغه پوځ لګښت به انګرېزان د شاه شجاع دپاره په غاړه اخلي چې په کال کې دوه لکه روپۍ کېږي.

شاه شجاع دا ومنله چې بهرنی سیاست به یې د انګرېزانو له خوا چلېږي او د دوی د خوښې پرته به د هېڅ هېواد سره اړیکې نه ټینګوي او خپل وراره کامران به په هرات کې تر برید لاندې نیسي. شاه شجاع د سند نه هم د یو څو پیسو په بدل کې چې، شمېر به یې برتانیا ټاکي، تېر شو.

په کابل کې د رژیم د بدلون پلان د دوو لارو نه پلی کېده لومړی دا چې په کندهار باید د سند نه د بولان له لارې او دوهم دا چې د پېښور او جلال اباد له لارې په کابل د رنجیت سنګ پوځ برید وکړي. خو دا پلان هغه وخت بدل شو چې برنس او د هغه ملګرو دا پوښتنه پورته کړه چې شاه شجاع پخوا هم د کندهار په نیولو کې پاتې راغلی و او هغه نه شي کولی چې د افغانستان د قبایلي مشرانو ملاتړ ترلاسه کړي. د سیکانو زیات ګډون به افغانان نور هم وپاروي. له دې کبله برتانوي پوځ د دغه پلان په پلي کولو کې باید اساسي دنده په غاړه واخلي.

لارډ اوکلنډ د درې اړخیز تړون نه لږو ډېر یوه میاشت وروسته له دې چې شاه شجاع پوره باډسپلینه قوه جوړه نه شوی کړای، دې پایلې ته ورسېد چې برتانیا باید یوه قوه کابل ته ولېږي چې شاه شجاع په تخت کښېنوي. په دې توګه د دغه پلان د پلي کولو اساسي لوبغاړی باید د انګلیس پوځ وي او د شاه شجاع او د سیکانو قواوې ملاتړ کوونکی رول ولوبوي. د دې پوځ اندازه باید زیاته وې چې د کندهار د نیولو وروسته یوه فرقه چې پنځه زره جنګي مېړونه ولري هرات ته ولېږي.

نږدې دوې میاشتې وروسته پارسیانو د هرات کلابندې پرېښوده او برتانوي هند ته د روسیې- پارس ګواښ لرې شو خو بیا هم اوکلنډ کابل ته د پوځ د استولو پرېکړه وکړه تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځو دوهمه موخه چې د یوه لاسپوځي په کېښنولو سره افغانستان کنترول کړي پلې کړي. ویلیم مکناټن یې د شاه شجاع په دربار کې د سفیر په توګه او الکزاندر برنس یې د خپلواک سیاسي افسر په توګه وټاکل چې د مکناټن سره به همکاري کوي.

افغانستان ته د پوځ د لېږلو درې لارې وې. لومړۍ د شمال لوېدیځ لوري ته د اټک، پېښور، کابل تر ټولو لنډه لاره وه. خو سیکان د برتانیې د لوی پوځ د تېرېدو سره مخالف وو. دوهم لوری د اسماعیل خان دېرې نه د ګوملې له لارې د غزني په سوویل- لوېدیځ کې د افغانستان زړه ته نږدې لاره ده. خو په دغه وخت کې د لارو خرابۍ او د واورو له کبله د پوځ د لېږلو دپاره ګټوره نه وه. دریم لوری د سند شیکارپور، بولان، کوېټه، کندهار کړه دوراني لاره وه اوکلنډ دریمه لار وټاکله.

## د افغان- انګلیس لومړۍ جګړه

د افغان-انګلیس لومړۍ حګړه مې په زیاته اندازه د علي احمد جلالي له کتاب نه چې «د افغانستان پوځي تاریخ» نومېږي، کښلې ده. اوکلنډ د ۱۸۳۸ کال د اکتوبر په لومړۍ نېټه په سملة کې په افغانستان باندې د یرغل پرېکړه اعلان کړه. د یرغل پوځونه د ایندوس په نوم یاد شول. د ایندوس پوځ د بنګال او بمبۍ پوځونو، د شاه شجاع پوځي ټولګي او د سیکانو او شاه زوی تیمور د ګډ لښکر نه جوړ و چې د جنګي سرتېرو شمېر یې پنځه پنځوس زرو ته رسېده او د خداماتو عمله او د کمپونو کسان زرګونو ته رسېدل. د بمبې د پوځ قوماندان «سر جان کین» او د بنګال د پوځ قوماندان برید جنرال«سر ویلوبي کټن» وټاکل شول.

د یوې اوږدې کورنۍ جګړې او د افغانستان د امپراتورۍ د منځه تلو نه یواځې د افغانستان پوځي ماشین مات او د پوځ اندازه لږه کړه بلکې د هغه مسلکي وړتیا او د عملیاتو اغېز یې ړنګ کړل. د امیر دوست محمد خان په وخت کې د جنګي مېړونو کمۍ نه و خو د کافي پیسو نه شتون د لوی پوځ د جوړولو مخه نیولې وه. د علي احمد جلالي د څېړنې له مخې د هغه وخت د وزیرانو د راپور په اساس د هغو ولایتونو ټول عاید چې د امیر دوست محمدخان تر واکمنۍ لاندې و، دوه نیم میلیونه روپۍ کېدل چې دوه لکه شپږویشت زره دوه سوه څلور نوي پونډو انډول و.۲۴۷ د الکزاندر برنس د اټکل له مخې د امیر دوست محمدخان پوځ د ۱۲۰۰۰ نه تر ۱۳۰۰۰ سوارو چې ۱۰۰۰ تنه یې قزلباش وو جوړ و.۲۵۰۰ پلي موسکټر، ۵۰ توپونه او ۲۰۰ په اوښانو بار زمبورک وو.

د انګلیس پوځ د ۱۸۳۹ کال د فبروري په ۲۳مه د شیکارپور نه کوېټې ته روان شو. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اپرېل په ۱۴مه د کوژک د کوتل نه تېر شو. په عین وخت کې د انګرابزانو جاسوسي ادارې د پوځ د روانېدو د مخه د جاسوسانو یوه پراخه شبکه جوړه کړې وه. موهن لال یو جاسوس افسر د برتانوي هند د کمپنۍ په چوپړ کې و، هغه یو شمېر مهم کسان لکه حاجي خان کاکړ، محمد طاهر، عبدالمجید خان، اخوندزاده غلام او ملا ناسو په کندهار کې او سردار عبدالرشیدخان د امیر دوست محمد خان یو خوریې په غزني کې تنظیم کړي وو. د کندهار قومي مشرانو پرېکړه وکړه چې د فتح الله خان کلا سره چې ۵۴ میله د کندهار په سوویل کې پراته ده د دښمن د پرمختګ مخه ونیسي. خو حاجي خان کاکړ خپله ژمنه ماته کړه او د شاه شجاع کمپ ته واوښت او د فتح الله خان کلا برید پلی نه شو. د کندهار سرداران کهندل خان، رحمدل خان او شېردل خان بېرته کندهار ته راستانه شول. دوی نیت درلود چې د کندهار د ننه او د باندې نه په دښمن ګوزارونه وکړي خو ملا ناسو چې په پټه یې د شاه شجاع سره اړیکې ټینګې کړې وې دوی ته مشوره ورکړه چې جګړه بې ګټې ده او باید تسلیم شي. کندهاري سرداران ګرشک ته وتښتېدل او د کندهار دروازې یې دښمن ته خلاصې پرېښودې. د کندهار قومي مشران د حاجي دوست محمد خان اسحقزي، حبیب الله خان سرکاني، فیض طلب خان نورزايي، رمضان خان علیزايي، اختر خان علیزايي، اسحق خان اسحقزی او نورو په ګډون سمدلاسه شاه شجاع ته لاس په نامه شول او هر یوه خپل قومي سواره د ځان سره واخېستل چې پاچا ته خدمت وکړي.

د ۱۸۳۹ کال د اپرېل په ۲۵مه شاه شجاع په بریالی توګه کندهار ته ننوت او د ۱۸۳۹ کال د می په ۸مه د رسمي مراسمو په ترځ کې د افغانستان د پاچا په توګه وټاکل شو. پنځه ورځې وروسته یوه ګډه قوه چې شمېر یې ۱۷۰۰ تنه و ګرشک ته روانه شوه چې کندهاري سرداران وځپي خو هغوی پارس ته وتښتېدل.

شاه شجاع خپل زوی تیمور میرزا د کندهار د واکمن په توګه وټاکه او د جون په اوویشتمه نېټه د ایندوس پوځ د غزني په لور وخوځېد او تر غزني پورې د مقاومت سره مخامخ نه شو که څه هم دوو غلزیو مشرانو عبدالرحمن ۱۵۰۰ سواره او لښکر او ګل محمد ۳۰۰۰ غرني مېړونه درلودل چې زیاتره یې توخي او هوتک وو د انګرېزانو د پوځ لیکې ځارلې او یوې مناسبې موقع ته سترګې په لاره وو چې خپل ګوزار پرې وکړي.

## د غزني جګړه

په غزني کې د ۲۵۰۰ نه تر ۳۰۰۰ پورې قواوې د امیر د زوی غلام حیدر خان تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومانداني لاندې پراتې وې. برسېره پر دې د امیر بل زوی محمد افضل خان د ښار د باندې و چې د سوارو یو کنډک او د زرمت او شولګر غلزي قومي کسان ورسره وو چې ټول شمېر یې دوه زره سوارو او زرو پلي کسانو ته رسېده.۲۴۸

د اوړي په ګرمه ورځ د جون په اتلسمه د ایندوس پوځ غزني ته راورسېد. کله چې د انګرېزانو د پوځ لیکې چې توپچي قواوې ښې اړخ ته او پلی پوځ کیڼ اړخ ته د غزني په چاپېر کې روان و غازیانو د مېوو او انګورو باغونو نه په انګرېزانو برید وکړ. د انګرېزانو پلې قواوې په غازیانو متقابلې ډزې پیل کړې او هغه یې په شا وتمبول. پوځ د ښار په سوویل-لوېدیځ کې کمپونه ووهل خو دغه کمپونه د پوځي کلا نه د توپچي اور لاندې راتلل نو ځکه انګرېزانو د توپچي اور د ساحې نه د باندې ۷ میلی کې ګرد حرکت کاوه تر څو د کابل له لور په ښار راتاو شول، کمپ یې ولګوه او د کابل نه یې د امیر دوست محمد خان د مرستې لاره بنده کړه.

دا وخت د افغان ګارنیزون نه د موهن لال له خوا جذب شوی د امیر دوست محمد خان خوریې عبدالرشید خان د کلا نه د برتانيې کمپ ته وتښتېد او برتانوي قوماندانی ته یې د کلا د کمزورې نقطې په اړه ارزښتناک مالومات ورکړل. ده راپور ورکړ چې د ښار ټولې دروازې د شا له خوا په خښتو بندې شوې او یوازې د کابل دروازه بنده نه ده . که دغه دروازه په باروتو والوزول شي نو ښار به ونیول شي.

د کابل د دروازې د الوزولو او په کلا باندې د برید پلان پیل شو. توند باد د غزني ګارنیزون د برید د تیاری نه د بې خبری لامل شو. نیمه شپه په تیاره کې توپچي قوه سوکه سوکه چې د کلا نه یې ۴۰۰ ګزه واټن درلود د کابل دروازې ښې لوري ته ځای په ځای شوه. د جولايي په ۲۳ مه نږدې درې بجې د بمبی د استحکام او مین اېښودونکو یو ګروپ انجنران چې د تورن «پیټ» تر قومانداني لاندې و دروازې ته حرکت وکړ. «ډېورنډ» د چاودېدونکو توکو د ګروپ قوماندان و. ډېورنډ خپل ګروپ ته قومانده ورکړه. دوی به ۱۵۰ ګزه پرمخ تللي وي چې په ګارنیزون کې شور جوړ شو او یو ډز وشو. دې موږ ته ښودله چې ګارنیزون د ګروپ نه خبر شو او سمدلاسه د ګارنیزون نه د ګواښ اعلان وشو.

د پیټ ګروپ مخامخ برید وکړ او د ډېورنډ کسانو د چاودېدونکو پوډرو بوجۍ چې درې سوه سیره (پونډه) وزن یې درلود دروازې ته ځای په ځای کړل او په بیړه یې د فیوز مزی وغزاوه او اور یې ورکړ او چاودېدونکو توکو دروازه والوزوله. د «ډیني» قواوو برید وکړ او د دروازې په تونل کې د انګرېزانو او افغانانو تر منځ په نیمه تیاره کې کلکه لاس په لاس جګړه پیل شوه. د کلا افغان ساتونکي چې د کلا نه راکوز شول په خپلو تورو یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېړانه په انګرېزي پوځ ګوزارونه کول. د جګړې په پای کې د انګرېزانو د مړو او ټپيانو شمېر دوو سوو ته رسېده او پنځه سوه افغانان مړه او ۱۶۰۰ بنديان وو چې سردار غلام حيدرخان هم په کې شامل و. يوه اوونۍ وروسته د ۱۸۳۹ کال د جولايي په دريمه جنرال کين د غزني نه د کابل په لور روان شو.

د غزني د نسکورېدو وروسته کله چې برتانوي قواوې د کابل په لور حرکت وکړ امير دوست محمد خان ومونده چې دی د سوويل او هم د ختيځ لوري نه د يرغل لاندې راځي نو يوه قوه يې د محمد اکبرخان تر قوماندانۍ لاندې هډې ته واستوله. ده نيت درلود چې محمد اکبرخان به اپريدي وپاروي چې د انګرېزانو او سيکانو په وړاندې د خيبر په دره کې مقاومت وکړي او د محمد اکبرخان قواوې به په هډه کې انتظار باسي.

امير دوست محمدخان زر د درې خواو نه د ګواښ لاندې راغی. ده د غزني د نسکورېدو وروسته محمد اکبرخان د هډې نه بېرته راوغوښت. له دې کبله د ختيځ خوا د کلاوړ وادي او سيکانو لس زريز پوځ ته خلاصه پاتې شوه او د کلاوړ وادي او سيکانو قواوې د خيبر نه د مقاومت پرته راتېرې شوې.

د کابل شمال ته په کوهدامن او کوهستان کې برتانوي جاسوس موهن لال د امير دوست محمد خان پر ضد پاڅون تنظيم کړ. موهن لال لا د مخه کله چې د برنس د پلاوي غړی و په کابل کې يوه جاسوسي شبکه جوړه کړې وه. د دوی په منځ کې غلام خان پوپلزي مهم رول ولوباوه. موهن لال د کندهار د لوېدو وروسته څلوېښت زره روپۍ غلام خان پوپلزي ته واستولې او له هغه نه يې وغوښتل چې د پلازمينې په شمال کې د امير په ضد ناارامي جوړه کړي. غلام خان پوپلزي د انګرېزانو په پيسو د نجراب، پنجشير، غوربند، کوهستان او کوهدامن مشران راونيول چې د شاه شجاع د داعيې ملاتړ وکړي او د امير پر ضد راپورته شي.

امير دوست محمد خان په کابل کې جرګه جوړه کړه او د کابل د خلکو نه يې د پرنګيانو پر ضد د ملاتړ غوښتنه وکړه. خو د خلکو ملاتړ يې ترلاسه نه کړ. د سدوزيانو نفوذمنو کسانو د امير د سرتېرو د روحيې په کمزوري کولو کې مهم رول ولوباوه. سرتيري د پوځ نه په ډله يزه توګه تښتېدل. امير د شپږ زره کسانو سره د محمد اکبرخان سره يوځای شو او ارغندې ته يې حرکت وکړ چې هلته د انګرېزانو په وړاندې وجنګيږي. افغانانو فکر کاوه چې محمد اکبرخان ته زهر ورکړ شوي دي او سخت ناروغ و.

د امير دوست محمدخان ستراتيژيک موقعيت ډېر زر کمزوری شو. هغه خپل ورور جبارخان د خبرو له پاره مکناټن ته ولېږه. جبارخان مکناټن ته وويل چې امير دوست

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمدخان به په دوو شرطو تسلیم شي لومړی دا چې دی به د شاه شجاع لاندې د وزیر په توګه دنده تر سره کوي دوهم دا چې د ده زوی غلام حیدرخان به بېرته په غزني کې حاکم ټاکي. خو د جبارخان سره په کمپ کې سوړ چلند وشو، سپک شو او بېرته خپه راستون شو. انګرېزانو وړاندیز وکړ چې امیر دې تسلیم شي او په هند کې به عزتمنه پناه ورکړل شي. بیا نو امیر پرېکړه وکړه چې د بامیانو له لارې شمال ته وتښتي. امیر په مزار کې غوښتل چې پارس ته لاړ شي خو د بخارا امیر استازی ورواستوه چې بخارا ته ورشي. کله چې امیر بخارا ته لاړ هلته یې د ذلت ژوند په برخه شو.

درې ورځې وروسته غلام خان پوپلزی د خپلو ملګرو سره کابل ته ننووت. په کابل کې نفوذمنو کسانو پرېکړه وکړه چې د انګرېزانو او شاه شجاع نه اطاعت وکړي. په دغو کسانو کې عبدالله خان اڅکزی، عزیزخان غلزايي، امین الله خان لوګري او خان شرین خان قزلباش شامل وو.۲۴۹ په دې توګه شاه شجاع د ۱۸۳۹ کال د اګست په اوومه نېټه دېرش کاله وروسته چې د واک نه لوېدلی و، د انګرېزانو د ایندوس پوځ په ملګرتیا کابل ته ننووت. د ختیځ نه د کرنیل کلاوډ وادې او شاه زوی تیمور قواوې د ۱۸۳۹ کال د دسمبر په ۳مه نېټه کابل ته راورسېدې.

په دې توګه د کابل په نیولو او د شاه شجاع په تخت کېنولو سره انګرېزان خپلې دوهمې موخې ته ورسېدل. اوس هیله کېده چې برتانوي پوځ به بېرته کور ته ستون شي. د شاه شجاع واک د کندهار، غزني او کابل په ښارونو محدود و.

په دغه وخت کې روسانو په اورنبورګ کې ځواکونه غونډول چې په خېوا یرغل وکړي او په هرات کې هم وضعه بې باوره وه. له دې امله د انګرېزانو په فکر دوی په هندوستان کې ګواښ احساساوه.

لارډ اوکلنډ مکناټن ته وړاندیز وکړ چې په افغانستان کې د شاه شجاع د قواوو سره د انګرېزانو یوه پیاوړې لوا ځای په ځای شي بسنه به وکړي چې هېواد وساتي. خو مکناټن د روسانو حرکت ته په جدي سترګه کتل او په نابریالی توګه یې جنرال کین باوري کاوه چې بخارا ته یوه قوه واستوي او د نږدې نه د روس حرکتونه وڅاري. خو مکناټن د اوکلنډ رضایت ترلاسه کړ چې په افغانستان کې د بنګال ټوله فرقه پاتې شي چې تر اتو زرو زیات جنګي مېړونه یې درلودل او یوه لویه د کمپ عمله یې درلوده چې شمېر یې زرګونو ته رسېده.

## نیواک

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نيواک د لومړي کال په جريان کې د برتانوي واکمنو له پاره اساسي پوښتنه دا وه چې په افغانستان کې د څومره مودې له پاره اوڅومره اندازه پوځي ځواکونو ته د پاتې کېدو اړتيا ده چې باوري شي چې لاسپوڅی پاچا په واک کې پاتې شي. دا مهال پارسيان د هرات نه تللي وو او له هغې خوا کوم واقعي ګواښ شتون نه لاره. خو د روسانو له خوا خېوا ته حرکت چې بخارا ته يې هم ګواښ پېښوه د برتانيا په سياسي کړيو کې يې انديښنې پيدا کړې. همدارنګه شاه شجاع په خلکو کې ملاتړ نه درلود. په دغو شرايطو کې د برتانيې يوه ادامه لرونکې شتون ته اړتيا وه چې په افغانستان کې د ليدو وړ ځواکونه وساتي. شاه شجاع هم چې خپل واک ته يې کورني او بانديني ګواښونه ليدل د برتانوي ځواکونو د سملاسي وتلو سره سر نه خوځاوه.

د انګرېزانو د اړتيا وړ پوځي ځواکونه او د شاه شجاع قواوې په کابل، جلال اباد، غزني، کندهار، ګرشک، قلات، کوېټه او باميانو کې ځای په ځای شول او د بنګال د پوځ پاتې برخه د اکتوبر د يولسم نه تر شپاړسم پورې د پېښور له لارې برتانوي هند ته روانې شوې. د بمبی پوځ د سپتمبر په ۱۸مه د غزني نه د کوېټې له لارې برتانوي هند ته حرکت وکړ. په دې توګه د دغو څو ښارونو په مرکزونو کې د برتانيې او شاه شجاع پوځونو په ګډه کنټرول کاوه خو د لويو ښارونو چاپېر سيمې د خپلو ځايي مشرانو په کنټرول کې وې. دا نازکه سوله په نيول شوي هېواد کې په ماتېدو وه.

د ۱۸۳۹ کال په پای کې کرنل هېرينګ د غلزيانو له خوا غزني ته نږدې ووژل شو چې د کندهار نه يې خزانه لېږدوله. په کنړ کې يو ځايي روحاني سيد هاشم پاڅون وکړ. غلزيانو د نيواکګرو په وړاندې هره موقع چې د دوی لاسته ورتله بريدونه کول. د ۱۸۳۹ کال په مني کې يوه برتانوي قطعه د اوسرام په قوماندني زرمت ته ولېږل شوه. هغو د غلزيانو کورونه ړنګ کړل او د ژوند وسايل يې ورته برباد کړل. د ۱۸۴۰ کال په می کې د قلات غلزيان جګ شول او جنرال ناټ يې اړ کړ چې د اندرسن په مشرئ ۱۲۰۰ ګډ پوځ سيمې ته ولېږي. غلزيانو په تازي کې چې دوه زره جنګي مېړونه درلودل د اندرسن د ځواکونو سره جګړه وکړه. ناټ کلا ونيوله او د کندهار او غزني تر منځ تړاو يې ټينګ کړ. انګرېزانو د پيسو په ورکولو سره دغه قومونه ارام کړل.

## د کوهستان پاڅون او د بخارا نه د امير دوست محمد خان راستنېدل

د نيواک د لومړي کال په زړه پورې پېښه د بخارا نه د امير دوست محمد خان راستنېدل و چې د انګرېزانو د نيواک په وړاندې ډګر ته راووت. د ۱۸۴۰ کال په اوړي کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بخارا امير مظفر امير دوست محمد خان ته اجازه ورکړه چې بخارا پرېږدي. خو د بخارا امير داسې پلان درلود چې امير دوست محمد خان هغه مهال ووژني چې د امو د رود نه تېرېږي. امير دوست محمدخان د دسيسې نه خبر شو او د يوه کاروان سره يې تېښته وکړه. کله چې کاروان خلم ته ورسېد امير دوست محمدخان ته د والي له خوا هرکلی وشو. امير هلته د ځايي ازبکو نه شپږ زره پوځ جوړ کړ او د سپتمبر په لومړيو کې باميان ته وخوځېد. په باميانو کې د امير لښکر ماتې وکړه او بېرته خلم ته په شا شو. د خلم والي د انګرېزانو سره ژمنه وکړه چې د امير ملاتړ نه لاس اخلي. څو ورځې وروسته امير په کوهستان کې راښکاره شو چې په کوهستان کې د انګرېزانو ضد پاڅون لاربښوونه وکړي. ثابتو شويو راپورونو ښوول چې نونهال سنګ د پنجاب واکمن چې د رنجيت سنګ په ځای ټاکل شوی و د امير دوست محمدخان سره اړيکې ټينګې کړې وې. په کابل کې د برتانيا واکمنو پرېکړه وکړه چې د کوهستان پاڅون غلی کړي. دوی شاه زوی تيمور د څو سوه افغان لښکر چې د يوه اروپايي او دوو هندي غونډونو نه جوړ و د ډګروال سيل تر قوماندې لاندې ملګرتيا کوله ولېږه. د هغه سره برنس او موهن لال هم ملګري وو. دغه مهال امير د نجراو او پروان په منځ کې تګ راتګ کاوه او ځای او وخت ته سترګې په لاره و چې په دښمن ګوزار وکړي. ډګروال سيل هم د پاڅون د مشرانو په وړاندې جدي کمپاين پر مخ بيوه. دوی د سرغړونکو مشرانو ته جزا ورکوله د دوی کلاګانې او کلي يې ړنګول، د امير ځايي ملاتړ يې کموه، برنس او موهن لال پيسې شيندلې چې ځايي اغېزمن مشران راونيسي او يو د بل پر ضد يې وپاروي. دوی يو ځل بيا د حاجي خان پوپلزي خدمتونه په دغه پټ کار کې ترلاسه کړل چې هغه د مير مسجدي خان او يو زيات شمېر مشرانو سنګرونه ونړول خو د هغوی په نيولو کې پاتې راغلل.

امير دوست محمدخان د برياليتوب په وخت کې د برتانوي حکومت د ځواک په وړاندې ناهيلی شو او پرېکړه يې وکړه چې دښمن ته تسليم شي. امير دوست محمد خان د ۱۸۴۰ کال د نومبر په ۱۲مه هند ته ولېږل شو، په لوديانه کې د خپلې کورنۍ سره يوځای شو او بيا کلکته ته يوړل شو. د امير دوست محمد خان جلا وطني يوه د سولې مرحله تېره کړه.

د امير د تسليمېدو او خبوا ته د روسانو د خوځېدو ناکامي د انګرېزانو د وتلو شرايط برابر کړل. خو شاه شجاع په دې کې پاتې راغی چې د نفوذمنو مشرانو ملاتړ او د عادي خلکو روغ نيتي ترلاسه کړي. په ټول هېواد کې ځايي پاڅونونه پيل شول.

يو د ناراضي مشرانو نه اخترخان عليزای و چې د هغه سره د زمينداور ژمنه شوې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دوکه کړای شو. هغه خپل خپل پورته کړ او د دوولسو سوو نه تر پنځلسو سوو پورې سواره یې د هلمند د رود په لوېدیځ کې ځای په ځای کړل. د ۱۸۴۱ کال د جنوري په دریمه برتانوي ځواکونو د فرینګټون تر قوماندانی لاندې ده ته ماته ورکړه خو هغه د نورو دراني مشرانو سره په ګډه مبارزې ته دوام ورکړ. همدغه وخت غلزیانو هم مبارزه کوله چې د مخه یې یادونه وشوه.

د اګست په پای کې د برتانیې توري ګوند ټاکنې وګټلې او د روبرټ پیل نوي مشر د حکومت لګښتونه کم کړل. د افغان جګړې یو میلیون او دوه سوه پنځوس زره پونډه لګښت درلود. برسېره پردې هغه د کشتیو یو ټولي ساتلو چې د سند په رود کې ګرځېدې او لګښت یو میلیون پونډه و. ۲۵۰ لارډ ایلبورو چې د اوکلنډ پرځای نوی ټاکل شوی و پرېکړه وکړه چې دغه جګړه افغاني کړي او د شاه شجاع ځواکونه دوه برابره زیات کړي او برتانوي ځواکونه لږ او د افغانانو سبسیډي لږه کړي. انګرېزانو د غلزیانو، کوهستانیانو، مومندو او قزلباشو مشرانو تنخواه لږه کړه نو ځکه دوی پرېکړه وکړه چې د نیواک په وړاندې د افغانستان د محافظه کارو خلکو د غزا احساسات وپاروي.

## د پاڅون زړي

نیواک یو شمېر سیاسي، امنیتي، اداري، اقتصادي او ټولنیزې اندېښنې پیدا کړې چې د خلکو خپګان یې پاروه او د پاڅون لامل کېدو. په سیاسي لحاظ د پاچا د واک او برتانوي نماینده د واک تر منځ ترینګلتیا وه. شاه شجاع تش په نوم خپلواک واکمن و، خو رښتینی واک د انګلیس د نماینده په لاس کې و. د دې له پاره چې دغه ټکر پخلا کړي مکناټن د دغه تش په نوم پاچا ته د عایدو د حل، ټولولو، او منظورولو او د جنايي قضا د واک د کارولو په ګډون دندې ورکړې. خو هغه په کورنیو او بهرنیو چارو باندې د واک انحصار وساته او د پاڅون کوونکو قومونو پر ضد د پوځ د قطعاتو د استولو واک، او د هغو د اندازې ټاکلو او د عملیاتو د کړلو پرېکړه په ده پورې اړه درلوده.

دوه اړخېزه اداره نه یوازې ناکامه شوه چې ترینګلتیا لږه کړي بلکې دغه ټکر یې نور هم زیاتوه. د شاه شجاع په چارو کې لاسوهنه کېده. دغه وضعه د متقابلې بې باورۍ، پارونې او ان د دښمنۍ سبب کېده. د شاه شجاع مشر وزیر ملا شکور چې د انګرېزانو ضد احساسات یې درلودل د انګرېزانو نه خوښېده.

د امنیت په منظور د مکناټن پرېکړه چې د دودیز سیستم بنه بدله کړي یوه خطرناکه تشه رامنځ ته کړه. په دودیزه توګه افغان پاچاهانو چې د مشرانو ملاتړ ترلاسه کړي دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



به د اشرافو د ځواک د انډول له لارې د دوی سره بیلې بیلې معاملې کولې په دې چې دې مشرانو په ټینګه سره کولی شول چې پرګنې د پاچا پر ضد پورته کړي. دا د افغانستان د اشرافیت د سیستم یوه ځانګړتیا وه. پخوا د قوي واکمنو له خوا داسې کوښښونه شوي وو چې د قومونو د مشرانو ځواک د غیر قومي مسلکي ځواک په ذریعه لږ کړي. دغسې یو سیستم ځواکمنو پاچاهانو جوړولی شو او زیاتره وخت په قومي او ځایي ملیشو سره بشپړیده چې د دوی مشرانو جوړې کړې وې. د برتانیا نماینده هڅې چې په زوړ امنیتي سیستم کې سمون راولي، ملېشاوې او جنګي ډلې لکه خیبري، جانباز، جازیلي او کوهستاني جوړې کړې چې د شاهي خزانې نه به تنخوا ورکول کېږي خو مشري به یې انګرېزي افسران کوي چې د قومي مشرانو په وړاندې وړ انډول منځ ته راوړي ناکامه شوې. داسې چلند شاه شجاع ځوراوه او خلک ناهیلي کېدل.

په اقتصادي لحاظ د برتانیا له لوري د غلې، د حیواناتو، غوښو او نورو موادو سپمه کولو تقاضا نرخونه لوړ کړل او د عامو خلکو بېوزلي یې زیاته کړه. د مهمو شیانو په وارداتو د پاچا د ادارې د رضایت پرته محصول لږ شو چې دا د برتانیا د سوداګرو په ګټه او د افغان سوداګرو په زیان و. ټولنیز اړخ یې د ښځو بې عزتي او د عیسوي مذهب تبلیغ خلک نور هم وپارول.

د اکتوبر په لومړیو کې د ډګروال سیل لوا چې په افغانستان کې یې دنده پای ته رسېدلې وه هند ته روانه شوه چې په لاره کې هغه قواوې هم ورسره یوځای شوې چې د زرمت نه روانې وې دوی په لاره کې تر ګندمک پورې د غلزیانو د بریدونو لاندې راغلې چې ۱۲۰ تنه د سر زیان یې وګاله، سیل هم ټپي شو. دوی کله چې ګندمک ته ورسېدل په کابل کې د وضعې د خرابېدو له امله سیل ته د جنرال الفنسټون له خوا خبر ورسېد چې بېرته دې کابل ته راستون شي. سیل په ګندمک کې د جنګي شورا غونډه جوړه کړه چې راز راز نظرونه په کې څرګند شول. خو سیل پرېکړه وکړه چې جلال اباد ته لاړ شي. سیل د نومبر په ۱۱مه د ګندمک نه جلال اباد ته روان شو، په لاره یې جګړه هم کوله او د نومبر په ۱۴ یې جلال اباد ونیو.

## د کابل پاڅون

د ۱۸۴۱ کال د نومبر په دوهمه نېټه سهار وختي کابل دغه خبر ولړزاوه چې د ننه په ښار کې د الکزاندر برنس کور تر برید لاندې راغلی او یو شمېر خلکو کور کلابند کړی دی. الکزاندر برنس د کړکۍ نه هڅه کوله چې خلک چوپتیا ته راوبولي خو خلکو په کور برید

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړ. د سهار په اتو بجو يې الکزاندر برنس، د هغه ورور تورن برنس، او تورن بريډ روټ او د دوی ساتونکي ووژل او بيا د تورن جانسن په خزانه چې ۱۷ زره پونډه وه او په ګاونډې کور کې ساتل کېده، بريد وکړ.

د موهن لال په وينا برنس د شاه شجاع وزير عثمان خان ته وړانديز وکړ چې دی په امن بالاحصار ته بدرګه کړي خو دا وړانديز رد شو. وروسته هغه يو يادښت مکناټن ته د مرستې دپاره ولېږه چې دا مرسته هېڅکله راونه رسېده. د برنس پيغام چې د پاڅون کوونکو مشرانو عبدالله خان اڅکزي، امين الله خان لوګري، سکندر خان او عبدلسلام خان چې په صحنه کې وو، خبرې وکړي رد شو.

د نومبر د دوهمې نېټې پاڅون په غور سره تنظيم شوی و. سر الکزاندر ته خپلو پټو جاسوسانو يوه شپه د مخه خبرداری ورکړی و. د سيل د لوا د تللو له امله د برتانوي پوځ کمزوري کېدل، د غلزيانو پاڅون او په کوهستان کې زياتېدونکې ناارامي د دې لامل شوه چې مشران د پاڅون نوښت وکړي. دغه وخت دوې مهمې څېرې عبدالله خان اڅکزی او مير مسجدي خان وو.

شاه شجاع چې د موضوع نه خبر شو د خپل هندوستاني لښکر يو کنډک يې صحنې ته واستوه چې وضعه کنټرول کړي. دغه وخت ډګروال شېلټن ته چې په سياسنګ کې و چې د انګرېزي پوځ د پنډغالي نه يو نيم ميل په واټن کې پروت و، امر وشو چې د يوه اروپايي پلي ټولي، د هندي پلې قوې يوه قطعه او د شاه شجاع د پوځ نه يو کنډک او شپږو ماشينګړو سره بالاحصار ته حرکت وکړي. د سياسنګ پاتې قواوو ته امر وشو چې پنډغالي ته لاړې شي.۲۵۱ ډګروال شېلټن يوازې دومره وکړای شول چې د صحنې نه د کمپل بند شوی کنډک وتل پوښش کړي. انګرېزانو د وضعې د کنټرول دپاره نور غوڅ کړه ونه کړل.

د برتانيې پوځ دغه وخت د ښار په شمال کې (اوسني عسکري کلوب) پروت و. دې پنډغالي زر ګزه اوږدوالی او شپږ سوه ګزه سور درلود. د دې اډې يا پنډغالي ګرد چاپېره کلاګانې پراتې وې چې نه نيول شوې، نه ړنګې شوې وې چې پنډغالی په امن کې شي. د بي بي مهرو غونډۍ پرې حاکمه وه او د هغې نه په برتانوي پوځ پرله پسې د جزايلو ګولۍ اورېدې. د برتانوي پوځ دپاره بل بې ګټې شی دا و چې د پنډغالي له پاره زېرمې په يوه بله کوچنۍ کلا کې پراتې وې چې د پنډغالي نه د باندې په يوه څه واټن کې پراته وه. دا اډه يا پنډغالی د بلاحصار نه د کابل د رود په ذريعه بيل شوی و. جنرال الفنسټون چې د واټرلو په ګډون د اروپا په جګړو کې برخه اخېستې وه په ۱۸۴۱ کال کې يې د برتانوي ځواکونو قومانده په لاس کې واخېسته. هغه د هند په جګړو کې لږه تجربه درلوده، روغتيا يې ښه نه وه، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



توري د روماتیزم شدیده اوږدمهاله ناروغي یې درلوده. له دې کبله دغه وخت په غوځو کړو کې پاتې راغی. ډګروال شېلټن یو غښتلی سړی و خو څنګه چې په قومانده کې د یوه کمزوري جنرال لاندې دوهم سړی و هغه د خپلواکو کړو ازادي نه درلوده.

د افغانستان لوري د پوځي قوماندې جوړښت او د کنټرول سیستم نه درلود. د افغانستان د مقاومت قواوې چې د برتانویانو او شاه شجاع دواړو واک یې ننګوه، د قومي مشرانو او نورو نفوذمنو له خوا یې لارښوونه کېده او په نامتمرکز ډول یې عمل کاوه. د مقاومت د قواوو د ښه لوژستیکي سیستم نشتوالي د دوی تاکتیکي مانور او جګړه زیاتره وخت لنډه وه.

د کابل پاځون د انګرېزانو د کابل ګارنیزون د دوو ننګونو سره مخامخ کړ چې یوه یې پوځي او بله یې سیاسي وه. په پوځي لحاظ د زېرمه کولو د ستونزو له کبله د پنډغالي بیلتون پوځ د لوږې سره مخامخ کړ. په سیاسي لحاظ انګرېزانو د افغانانو سره خبرې د کمزورۍ دریځ نه کولې.۲۵۲

د مخه مو وویل چې برتانوي قوماندانی په کابل کې د خپل ګارنیزون د پیاوړي کولو په موخه ډګروال سیل ته امر وکړ چې د ګندمک نه کابل ته راوګرځي خو هغه امر ونه مانه. په کندهار کې جنرال ناټ ته هم امر وشو چې د کندهار نه یوه لوا کابل ته راوستوي. هغه لوا چې د کندهار نه را روانه وه د مخه تردې چې غزني ته ورسیږي د ساړه او د واورو د اورېدو له امله بېرته ستانه شوه.

په کابل کې افغانانو په برتانوي پوستو بریدونه کول. غازیانو د نومبر د ۳ نه تر ۹مه پورې ټولې هغه کلاګانې ونیولې چې د پنډ غالي په چاپېر کې پرتې وې او پنډغالی کلابند شو. د نومبر په پنځمه افغانانو په کمیساري کلا چې یوه لویه زېرمه یې درلوده برید وکړ او زیاته زېرمه د افغانانو لاس ته ورغله. دا په نیمه وړي پنډغالي یو لوی ګوزار و. په چاریکارو کې د شاه شجاع ګورکه کنډک چې پوتینجر یې سیاسي نماینده و، د منځه لاړ او پوتینجر او بریدمن هوټن دواړه ټپیان او د نومبر په۱۵مه پنډغالي ته راورسېدل. د شیخ اباد ګارنیزون چې د کابل او غزني تر منځ یې د اړیکو په موخه ځای په ځای شوی و، د ځایي خلکو د برید په پایله کې په ډله یزه توګه ووژل شو.

د نومبر په ۱۳مه د غازیانو د پلیو او سوارو لوېې ډلې د بي بي مهرو په لوړو دوې ماشینګړې ځای په ځای کړې او په پنډغالي یې ډزې پیل کړې چې نښې یې ببخي سیخې وېشتې. برتانوي قوماندانی د ډګروال شېلټن په مشرۍ یو شمېر قواو ته امر وکړ چې په غونډۍ برید وکړي او ماشینګړې ترېنه ونیسي. که څه هم افغان قواوې چې د غونډۍ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېن اړخ نه پر دښمن ورتوی شول د برتانيا قواوې يې په ځټ د غونډۍ لمنې ته پورې وهلې خو د دښمن توپچي افغانان اړ کړل چې په شا شي. په دې وخت کې انګرېزانو د افغانانو يو ماشين ترلاسه او پنډغالي ته يې يووړ. د ورځې په پای کې افغان سواره بېرته راوګرځېدل او په برتانوي قواو يې بريدونه پيل کړل، د برتانوي قواو ليکې يې ماتې کړې او په غير منظمه توګه يې د کلا تر دروازې پورې تعقيب کړې.

## د بي بي مهرو وروستۍ جګړه

د بي بي مهرو په غونډۍ د نومبر په ۲۳مه سخته جګړه وشوه چې د لومړي افغان-انګليس جنګ بدلېدونکی ټکی شو او د کابل د قواوو سرنوشت يې وټاکه. د کميساري کلا د پرېوتو وروسته برتانوي قواوو خپل اکمالات د بي بي مهرو د کلي نه کول. دا کلی د پاڅون کوونکو له خوا ګواښل کېده په دې چې د پرنګيانو سره مرسته کوي. د نومبر په ۲۲مه د کوهستان نه راغلي خلک د بي بي مهرو د کلي د نيولو په نيت روان شول. دا هغه ورځ وه چې محمد اکبرخان کابل ته راورسېد او د افغان مقاومت مشري يې په کړو کې کوله. د نومبر په ۲۲مه انګرېزانو د بي بي مهرو د نيولو دپاره قواوې ولېږلې خو غوڅه جګړه يې ونه کړه او بېرته پنډغالي ته راوبلل شوې. ليډي سيل ليکي: «قواوې پرته له دې چې څه يې کړي وي بېرته راستنې شوې»۲۵۳ مکناټن د جنګي شورا د وړانديز له مخې امر وکړ چې يوه غښتلې قوه د بي بي مهرو کلي ته ولېږي او کلی ونيسي او کوهستانيان ورنه وباسي. يوه لويه قوه چې د پنځو اروپايي پلي ټوليو، او دوولسو هندي پلو ټوليو، دوو سوارو قطعې او يوه ماشينګړ نه جوړه وه د نومبر په ۲۳مه نېټه امر وشو چې په بريد سره کلی ونيسي او هم د بي بي مهرو غونډۍ د را روانو پاڅون کوونکو په وړاندې ونيسي.

برتانوي قواوې د شپې په دوو بجو په تياره کې د پنډغالي د کوهستاني دروازې نه په بشپړه چوپتيا سره ووتلې چې دښمن حيران کړي.کله چې د غونډۍ تنګي ته قواوې ورسېدې غونډۍ ته وختې. دوی کوښښ کولو چې ماشينګړ د غونډۍ څوکه ته جګ کړي. کله چې قواوې په ژۍ کې وې ټوله قوه د غونډۍ په شمال ختيځ اړخ پورته حرکت وکړ چې د بي بي مهرو په کلي حاکم و. ماشين ګړ ځای په ځای شو او د کوهستانيانو په هدفونو د ګولۍ باران وشو. کوهستانيانو د کورونو او د کلا د ټمکو نه د جزايلو په ډزو متقابل ځواب وايه او د لومړي سباوون په رڼا کې دوی په بيړه سره د برتانوي ګولۍ د ساحې نه د باندې موقعيت نيولو. برتانوي قواوو هغه موقع د لاسه ورکړه چې د حيرانوونکي دروند بمبارد په وخت کې چې کوهستانيان يې بې نظمه کړي وو، په کلي بريد وکړي. دغه وخت په کلي کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلوېښت کوهستانیان او نور د کلي خلک وو. برتانویان د کلا په نیولو کې پاتې راغلل په دې چې مېجر سوین اساسي دروازه غلطه کړه او هلته په یوه مورچل ورغی او د کلک مقاومت سره مخامخ شو. د افغانانو رسا ګولیو دښمن ته زیات د سر زیان واړاوه او مېجر سوین هم په غاړه ولګېد. د نیم ساعت وروسته ډګروال شېلټن برتانوي قواوې بېرته وغوښتې.

دغه وخت انګرېزانو ولېدل چې ډېر جنګیالي او سواره د ښار نه د غونډۍ په لور را روان وو. زر د بي بي مهرو د غونډۍ لوېدیځې غاړې لوړې او لاندې هواره د غازیانو نه ډکې شوې چې شمېر یې نږدې لسو زرو ته رسېده. کله چې شېلټن د لوېدیځ نه د برید سره مخامخ شو هغه د بي بي مهرو د غونډۍ د پوښښ له پاره درې ټولي چې د غونډۍ د پاسه پراته وو او یوه د سوارو قطعه د هوارې لوېدیځ ته ولېږل چې د کلي په لور او د کلي نه د دښمن حرکت پرې کړي.

په دې توګه جګړه بلې مرحلې ته ننوته. ده یوازینی ماشینګړ نږدې تنګي ته ځای په ځای کړ او پلي یې په دوو مربع ګانو کې یو د بل تر شا دوه سوه ګزه کې بیل د سوارو سره د شا له خوا ځای په ځای کړل. افغانانو د برتانیې قوه لومړۍ مربع د خپلو اوږدو واټن جزایلو په رسا ډزو سره ویشته. د برتانیې د لنډ واټن جزایل اغېزمن نه وو. د کې په وینا افغان جزایلو زموږ سرې د وښو غوندې رېبل۲۵۴ د برتانیې قواوو د پلې لومړۍ مربع د سر دروند زیان وګاله. دا وضع تر لسو بجو اوږده شوه. کله چې افغان غرنیو کسانو د شېلټن د قواوو ښي اړخ تر ګواښ لاندې ونیو. شېلټن د ښي اړخ نه د والکر د سوارو ټولګی راوبللو چې بېخي د منځه لاړ نه شي. افغان سوارو وکړای شول چې د مخکینۍ لیکې پرته د برتانیا پوځونه په ټولو نقطو کې کلابند کړي. د برتانویانو یوازیني ماشینګړ په مخامخ غونډۍ کې تر هغه د فشار لاندې ونیول تر څو د کار نه ولوېد.د غازیانو څپو د برتانوي پوځ لومړۍ لیکه په شا وتمبوله. د برتانویانو په پلي پوځ کې وېره پیدا شوه او د خپلو قوماندانانو امر یې ونه مانه، د دوی لیکې ماتې شوې او وتښتېدل.

د لاندې په هواره کې افغانان د ویر سره مخامخ شول. د دوی یو نامتو مشر عبدالله خان اڅکزی سخت ټپي او د جګړې د ډګر نه یوړل شو. دغه خبر په افغان جنګیالي بد اغېز وکړ او خپل کړه یې ورو او د لنډ وخت له پاره شا ته شول. د دغې ارامۍ په جریان کې برتانوي قواوو بېرته پخوانی موقعیت ونیو. نږدې وه چې برتانویان خپل برۍ ولمانځي خو دوی دا موقع د لاسه ورکړه چې دښمن تعقیب کړي او برتانوي سواره یې ونه کارول. برتانوي قوماندانې په دې کې هم پاتې راغله چې د پنډغالي جنګي لیکه پیاوړې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لسو او یوولسو بجو په منځ کې د افغان د پلیو جنګیالیو لویه ډله د شاهي بڼ له لوري راغله، د هوارې نه تېره شوه او د غونډۍ ښې غاړې ته ورسېده.

د غرمې په شاوخوا کې وضیت بدلون وموند په دې چې د افغانانو د جنګیالیو د پیاوړي کېدو له پاره د افغانانو نورې ډلې په غونډیو راوختلې او د خپلو اوږده واټن د جزایلو په رسا ګولیو یې دښمنان په ښه کړل، چې زیاتره برتانوي توپچیان یې ووژل. جګړه وروستۍ مرحلې ته ننوته. ډګروال شېلټن پرېکړه وکړه چې یوه نوي موقعیت ته په شا شي. دغه کار افغانان زړه ور کړل، خپل فشار یې چټک کړ، خپل ګوزارونه یې جاري وساتل او په دښمن یې زور راووړ چې لار ورکړي. د غازیانو لویه ډله زر د تنګې نه راووته او په انګرېزانو ورتوی شول. شېلټن جګړن کرشاو ته امر وکړ چې د غونډۍ د څوکې نه د ده مرستې ته ودانګي. خو د مخه تر دې چې شېلټن وکړای شي ذخیره قواوي په نوي موقعیت کې ځای په ځای کړي غازیانو برید وکړ او مربع یې په بشپړه توګه ماته کړه. د برتانویانو نظم پرې شو او سره له دې چې د پنډغالي نه د توپو د ګولیو باران اورېده برتانوي قواوې ماتې شوې. پنډغالی څکه روغ پاتې شو چې سردار عثمان خان خپلو سړو ته امر وکړ چې د پنډغالي دروازه کې ودرېږي او غازیان پنډغالي ته د ننوتو نه منع کړي.۲۵۵

برتانوي قواوو د سر زیات زیان وګاله او نږدې درې سوه مرګ ژوبله ورواوښته. د بي بي مهرو جګړه د برتانویانو دپاره یوه د ډېرو مهمو او ورانوونکو جګړو نه شمېرل کېږي چې د افغان- انګلیس لومړۍ جګړې بدلېدونکی ټکی ګڼل کېږي.

## سیاسي خبرې

د نومبر د ۲۳مې پوځي ماتې برتانوي واکمن اړ کړل چې د ستونزمنې وضعې سره چې په افغانستان کې د دوی قواوې ورسره مخامخ شوې جدې سیاسي حل تر کتنې لاندې ونیسي. افغان مشرانو غوښتل چې برتانوي پوځونه دې د افغانستان ټولو نیول شوي ښارونه لکه کندهار، غزني، کابل او جلال اباد پرېږدي. سردار محمد اکبرخان او نور بارکزایي مشران د امیر دوست محمدخان او د هغه کورنۍ په امن سره د هند نه د راستنېدو په فکر کې وو. شاه شجاع د افغان مشرانو له پاره کومه جدي موضوع نه وه.

انګرېزانو د اکمالاتو د برابرولو او جلال اباد ته په امن کې د وتلو ضمانت غوښته. د برتانې نماینده غوښتل چې د افغان مشرانو سره په سیاسي لحاظ تر ټولو ښه شونې معامله وکړي. ده هیله درلوده چې د افغانستان نیواک به د قبایلي مشرانو سره د پوځي کړو او سیاسي معاملو له لارې تامین کړي. مکناټن د بارکزیو، غلځیو او د قزلباشانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشرانو سره په بيله توګه په خبرو بوخت و او پيسې يې شيندلې چې ځان ته ملاتړ پيدا کړي. مکناټن هڅه کوله چې د افغان مشرانو تر منځ بې باوري رامنځ ته کړي. همدارنګه ده د موهن لال له لارې پراخه جاسوسي شبکه په کار اچولې وه چې د افغان مشرانو د ترور په ګډون دسيسې جوړې کړي. موهن لال د دوو وتلو افغان مشرانو عبدالله خان اڅکزي او مير مسجدي خان د ترور مسوليت لري. داسې ښکاري چې عبدالله خان اڅکزی د نومبر په ۲۳مه نېټه د يوه ترورېست په ګولۍ سخت ټپي او څو ورځې وروسته مړ شو. په همغه وخت کې مير مسجدي خان په جادويي ډول د جګړې د ډګر نه بې درکه شو چې ده په کې مهم رول لوباوه. بريدمن کونولي د مکناټن زوم او د شاه شجاع په دربار کې د هغه باوري نماينده موهن لال ته واک ورکړ چې د پاڅون مهم مشران ترور کړي. جان کونولي ليکي چې « لس زره روپۍ د پاڅون د هر مشر په سر» کېښودې شوې. زر د پاڅون دوه مشران په جادويي ډول مړه شول او د دوی د سر د پيسو ادعا وشوه.

د بې بې مهرو په جګړه کې د انګرېزانو ماتې په خبرو کې د برتانيا دريځ کمزوری کړ. افغانانو د نومبر په ۵مه د مکناټن نه په خبرو کې وغوښتل چې شاه شجاع دې د خپلې کورنۍ سره تسليم شي، ډګروال سيل به جلال اباد پرېږدي او پېښور ته به لاړ شي، په کابل کې به د برتانيا ګارنيزون ټوله وسله او کارتوس راوړي او ټول اروپايي افسران به د خپلو کورنيو سره تسليم شي او تر هغه به زمونږ سره د برمته په توګه ساتل کيږي تر څو د برتانيا پوځ په بشپړه توګه د افغانستان نه ووځي. د دغو شرايطو په منلو سره به افغان مشران ژمنه وکړي چې د برتانيې پوځ پرېږدي چې هندوستان ته ستون شي. څنګه چې دا شرطونه مکناټن ځانته سپکاوی وګاڼه رد کړل او خبرې پرې شوې.

د برتانيا پوځيانو په هغه صورت کې چې خبرې کومې پايلې ته ونه رسيږي دوې لارې په نظر کې ونيولې. لومړۍ لار دا وه چې خپلې قواوې د پنډغالي نه بالاحصار ته بوزي چې هلته تر پسرلي پورې ساتل کېدای شي او دا وړانديز د شاه شجاع له خوا تاييد شو. دوهمه لاره چې ډګروال شېلټن يې ملاتړ وکړ دا وه چې د ختيځ په لور مارش وکړي او په لاره کې د جګړې په زور ځانونه جلال اباد ته ورسوي. لومړۍ لاره هغه وخت ناشونې شوه چې غازيانو د دسمبر په پنځمه هغه پل والوزوه چې پنډغالی يې د بالاحصار سره نښلوه. د يو څو ورځو په جريان کې يو پر بل بريدونو دوام درلود تر څو چې برتانوي نماينده د خپلو پوځيانو تر فشار لاندې د دسمبر په ۱۵مه د يوې کتنې په جريان کې افغان مشرانو ته يو د سولې پلان وړاندې کړ. د مکناټن پلان دا و چې د برتانيا قواوې به هند ته ووځي، د دوی اکمالات به کيږي او د دوی د وتلو امنيت به برابريږي. په ټرون کې دا خبره هم وه چې امير

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوست محمد خان به هغه وخت بېرته خپل وطن ته راستنېږي چې برتانوي پوځ د افغانستان نه ووځي. دواړو خواوو پلان ومانه او د پوځ وتل باید د سمبر په ۱۵مه پیل شي. خو وتنه وځنډېده په دې چې اکمالات په خپل وخت بشپړ شوي نه و او غلزیانو دا ژمنه نه کوله چې د دوی د پوځ مارش به د غرونو په اوږدو کې په امن کې وي.

د دسمبر په ۱۳مه برتانوي قواوې چې افغانانو یې بدرګه کوله د بالاحصار نه پنډغالي ته لاړې چې د ځان سره یې څه غله خپلو ورو ملګرو ته یووړه. په تړون کې دا هم و چې شاه شجاع دې هند ته لاړ شي او د هغه د منلو وروسته زر افغان مشرانو وړاندیز وکړ چې هغه دې په دې شرط پاتې شي چې خپلې لونه د مقاومت مشرانو ته واده کړي. شاه شجاع په لومړیو کې دا ومنله خو څو ورځې وروسته یې انکار وکړ. افغان مشران په انګرېزانو شکمن شول او دوی ته یې وویل چې اکمالات به هغه وخت در کوو چې قواوې په وتلو پیل وکړي. مکناټن بله ورځ ۲۷ام هندي کنډک ته چې په غزني کې پروت و امر وکړ چې د زرمت او اسماعیل خان دېرې له لارې هند ته لاړ شي.

د دسمبر په ۲۱مه مکناټن او افغان مشرانو سردار محمد اکبرخان او محمدعثمان خان په یوه تړون موافقه وکړه چې څلور برتانوي افسران به افغانانو ته د برمته په توګه سپارل کیږي چې په هغو کې تورن کونولي، او اېرې هم شامل وو. د افغانانو دا غوښتنه چې د برمته کسانو په ګروپ کې دې ډګروال شېلټن شامل شي رد شوه. د نومبر ۲۲مه د دوی د وتلو نېټه وټاکل شوه. په همدغه ورځ مکناټن خپله توپانچه محمد اکبرخان ته د ډالۍ په توګه واستوله. خو مکناټن لا اوس هم په دې هیله و چې د افغانانو تر منځ د نفاق اچولو له لارې وضعیت ښه کړي. هغه موهن لال کړو ته هڅاوه چې په پټه د مقاومت مهمو مشرانو ترور ته دوام ورکړي. هغه د بارکزیو مشرانو سره تړون درلود. هغه د غلزیانو او قزلباشانو مشرانو ته د زیاتو پیسو وړاندیز وکړ چې د شاه شجاع او د هغه برتانوي متحدینو له پاره د دوی ملاتړ وکټي. هغه برسېره پر دې د نواب زمان خان، سردار عثمان خان او نایب امین الله لوګري هر یو سره ګوښې ګوښې خبرې پیل کړې پرته له دې چې یو مشر د بل د خبرو نه خبر وي.

کله چې افغان مشران د مکناټن د دسیسه یزو مانورو نه خبر شول هغه ته یې یوه لومه کېښوده چې په ډېره اسانۍ سره په کې ولوېد. اکبرخان افغان مشران راوغوښتل چې د برتانوي نماینده د دسیسې نه یې خبر کړي چې افغان مشران یو د بل په ضد ودروي تر څو خپلې موخې ته ورسیږي. د دې له پاره چې د برتانوي نماینده بې لوزي نورو افغان مشرانو ته ثابته شي هغه د نورو مشرانو سره په پوهاوي یو تېر ایستونکی پلان جوړ کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د نماینده اخلاص وازمايي. د دسمبر په ۲۲مه سردار محمد اکبرخان مکناټن ته د باور نه وړ سخاوتمند پلان مسوده ولېږله چې شاه شجاع دې د پاچا په توګه پاتې شي او محمد اکبرخان به د وزیر په توګه چارې پرمخ بیايي او د برتانيې قواوې دې نورې اته میاشتې د اړینو اکمالاتو د برابرولو له پاره په بالاحصار کې پاتې شي او بیا دې په خپله اراده ووزي. د دې په بدل کې به برتانوي لوری اکبرخان ته درې میلیونه روپۍ ورکوي او هر کال به څلور لکه روپۍ شبسیدي ورکوي. د دې د ثبوت له پاره به امین الله خان لوګری چې یو له هغو مشرانو نه دی چې انقلاب یې پیل کړی و، بندي او تاسو ته وسپارل شي. مکناټن تړون لاسلیک کړ او بله ورځ یې د اکبرخان سره د کتنې موافقه وکړه.

مکناټن په دغه ازمون کې پاتې راغی. مکناټن ته خپلو ملګرو خبرداری ورکړی و چې د افغانانو پلان یوه دسیسه ده او مشوره یې ورکړې وه چې دا ګام نه واخلي. مکناټن ویل چې «دا خطرناک دی، خو که دغه بریالی شي، دا د ټولو خطرونو ارزښت لري: پاڅون کوونکي د دې تړون یوه ماده هم نه پلې کوي؛ او زه پر هغو باور نه لرم؛ او که پر دې موږ خپل عزت ساتلی شو، ډېر به ښه وي. په هر صورت زه به د دې له پاره چې وروستۍ شپږ اوونۍ ژوندي پاتې شو یو سل مرګونه وزغمم.»۲۵۶

سر ویلیم مکناټن د دسمبر په ۲۳مه د غرمې په شاوخوا کې د تورنانو لاورنس، تریور او مکنزي په ملګرتیا د پنډغالي د ختیځې دروازې نه ووتلو چې د اکبرخان او د هغه د ملګرو سره ووینې. د دوی لیدنه په هغه هواره کې کېده چې د ننني محمود خان پله او مکرویانو پله تر منځ واقع وه. دا ځای د پنډغالي د ختیځ دېوال نه د څلور سوه ګزو په واټن کې پروت و. مکناټن اکبرخان ته د ښه نیت د څرګندولو له مخې اس د ډالۍ په توګه چې په ۳۰۰۰ روپۍ یې اخیستی و، وړاندې کړ چې هغه په خوشالۍ سره ومانه او هم یې د هغې تپانچې له امله مننه ترینه وکړه چې تېره ورځ یې د ډالۍ په توګه ورلېږلې وه. خبرې اترې هغه وخت پیل شوې چې اکبرخان، سلطان جان او محمدشاه خان غلزايي د مکناټن او د هغه سره درې تنو تورنانو مخامخ کېناستل او نور افغان مشران د اکبرخان شا ته ولاړ وو. د مکناټن د امن لس کسیزه ډله ۲۰ ګزه لیرې ولاړه وه.

غونډه اول په ارامه پیل شوه خو زر ګډه وډه شوه او اکبرخان مکناټن په دې تورن کړ چې د افغان مشرانو په منځ کې د بې اتفاقۍ تخم کري او هغه ژمني د نظر نه باسي چې کړې دي. وروسته له دې چې خبرې پنځلس دقیقي اوږدې شوې وې محمدشاه خان اکبرخان ته په پښتو وویل چې وخت تېرېږي او اکبرخان سمدلاسه خپلو ملګرو ته امر وکړ چې مکناټن او د ده ملګري ونیسي. مکناټن د اکبرخان او سلطان جان سره چې غوښتل یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوندی یې ونیسي او ښار ته یې د برمته په توګه بوزي په مبارزه بوخت و. خو کله چې مکناټن د اس سپرولو نه ډډه وکړه اکبرخان دی په هغه توپانچه وویشت چې یوه ورځ د مخه یې په خپله د ډالۍ په توګه ورکړې وه. محمدشاه خان او غلام محی الدین خان لاورنس او میکنزي خلاص کړل او په خپلو اسونو یې سپاره او محمودخان کلا ته یوړل، خو تریور چې د محمدشاه خان د ورور شا ته ناست و په مځکه ولوېده او سمدلاسه د غازیانو له خوا ټوټه ټوټه شو.تورن میکنزي چې په خپله په دغو خبرو اترو کې ګډون کړی و لیکي: «د عادي روغبړ نه وروسته اکبرخان د راکړې ورکړې په اړه خبرې پیل کړې او د نماینده نه یې وپوښتل چې دی پوره تیار دی چې د تېرې شپې وړاندیزونه پلي کړي؟ نماینده ځواب ورکړ چې «ولې نه؟» وروسته له څه وخت نه کپتان چې د یوه افغان سره په خبرو لګیا و هغه سمدلاسه د محمد اکبرخان غږ واورېد «بګیر!، بګیر!» (ویې نیسه!، ویې نیسه!) او چې مخ یې راواړوه ما هغه ولید چې نماینده یې د کیڼ لاس نه نیولی او مخ یې د ډېر قهر نه سور ښکارېده. فکر کوم چې دا سلطان جان و چې نماینده یې د ښي لاس نه نیولی و. دوی هغه د کوچنۍ غونډۍ نه په ځوړ کشوه. یوازینۍ کلیمه چې د بې وزلې سر ویلیم نه مې واورېده دا وه «از برای خدا!» (د خدای دپاره!) خو بیا هم ما د هغه مخ ولیده او د وېرې او حیرانتیا نه ډک و.»۲۵۷

کپتان لاورنس هم ورته بیان کوي. د مکناټن سر د هغه د تنې نه بیل و او د نواب زمان خان کور ته یې چې د پاځونوالو تش په نامه پاچا و وړلو. د هغه تنه یې لرې ځکوله او بیا په بازار کې د عامو خلکو په وړاندې وځړېده.۲۵۸

د نماینده وژنه په کابل کې د برتانوي پوځ د پای نښه ښودله. ډګرمن پوتینجر د مشر سیاسي افسر په توګه د خبرو مزی په لاس کې واخېست.د کرېسمس په درشل کې د یوه تړون نوې مسودې په اړه د برتانیا د کمپ سره خبرې وکړې. افغان مشرانو د یوې خوا د مکناټن فریب ورکوونکی چلند وغنده او د بلې خوا یې د هغه په وحشیانه وژنې پښېماني وښوده. نوې غوښتنې وړاندې شوې چې د هغه پیسو تادیه چې د مخه د معاملې د ملاتړ د خدمتونو له امله مشرانو ته نماینده منلې وې، د څلورو نور برمته تسلیمول چې د مځکینیو دوو کسانو سره چې اوس د افغانانو په لاس کې دي یو ځای شي، او د شپږو ماشینګړو پرته د ټولو توپونو تسلیمول په کې شامل و. هلته د برتانیې په پنډغالي کې د برتانویانو توده غونډه روانه وه چې د افغانانو د غرور نه ډکو غوښتنو ته څنګه غبرګون وښايي. په غونډه کې پوتینجر کلک دریځ غوره کړ او دغه د شرم نه ډکو غوښتنو منل یې سپکاوی او لویه تېروتنه ګڼله. د هغو پیغامونو نه چې د جلال اباد او پېښور نه رارسېدل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکارېده چې د دوی د ملاتړ دپاره د هند نه قواوې راروانې دي. هغه وړانديز کاوه چې يا بالاحصار ونيسو او خپله وضعه ټينګه کړو يا به په لاره کې د درو نه په جګړې سره تېرېږو، جلال اباد ته به ځو. خو پرېکړه داسې وشوه چې د افغانانو د غوښتنو منل تر ټولو ښه شونی نظر دی. د راتلونکو ورځو په جريان کې پوتينجر پرته د څلورو برمته کسانو تسليمول چې ښځې او کوچنيان لري د افغانانو ټول شرطونه ومنل. په تړون کې هغه کسان چې ناروغ يا يې د تګ وس نه درلود ښار ته د دوو جراحانو په ملګرتيا ولېږل شول. تړون د مشرانو له خوا تاييد او د ۱۸۴۲ نوي کال په ورځ پنډغالي ته ولېږل شو. د دغه تړون له مخې به برتانوي پوځ وروسته له دې چې دوی ټرانسپورت تر لاسه کړي د افغانانو د ساتنې لاندې وځي. د جلال اباد او غزني قواوې پېښور او د کندهار قواوې به هند ته د افغانانو د ساتنې لاندې ځي. برتانوي واکمن شکمن وو چې افغانان به خپلې ژمنې چې مشرانو يې کړې دي پوره نه کړي.

د ۱۹۴۲ کال د جنوري په ۶مه برتانوي قواوې د کابل نه جلال اباد ته د پنډغالي نه نږدې ۹ بجې روانې شوې چې ۶۹۰ اروپايان، ۲۸۴۰ هندي قواوې، ۹۷۰ هندي اسونه، ۲۰۰۰ اوښان او کچرې او شپږ توپونه د ۱۲۰۰۰ غير جنګي پرسونل د ښځو او کوچنيانو په ګډون روانې شوې. دوی بل سهار په ۱۲ بجو لومړي تم ځای ته ورسېدل.کله چې پوځ تېرېده غازيان او نور لاروهونکي د دوی پر پله تلل او د شا او اړخونو له لوري يې پرې ډزې کولې، د کمپ امله يې ويشتل او بارونه يې چورول. نيمايي لښکر د جګړې وړتيا د لاسه ورکړې وه چې دوه توپونو ته د پنډ غالي نه د وړلو اجازه ورنه کړه شوه، دوه يې د بګرامی او بتخاک تر منځ د کار نه ولوېدل او د شاه شجاع د پوځ ځنې ټولګي په دوهمه ورځ وتښتېدل.

په بتخاک کې اکبرخان بيا راښکاره شو قطار يې ودراوه او ژمنه يې وکړه چې تر بل سهار پورې به قطار تر جلال اباد پورې بدرګه کړي. هغه د نورو کسانو د برمته کولو غوښتنه هم وکړه او مېجر پوتينجر، تورنان لاورنس او مېکنزي يې د ځان سره واخېستل داسې چې دا قوه به د تېزين نه هغه خوا حرکت نه کوي تر څو چې ده د جلال اباد نه د سېل لوا د وتلو خبر ترلاسه کړی نه وي. وروسته يې ۱۵۰۰۰ روپۍ سبسيډي ترلاسه کړه او افغان مشر بيا ورک شو. په دوو ورځو کې قطار لس ميله لاړ او د سر زيات زيان او بار يې د لاسه ورکړ.

په قطار باندې ډېر ويجاړونکي ګوزارونه هغه وخت وشول چې د درې درو نه تېرېده. دا ۳ درې خورد کابل، تېزين او جګدلک وې. خورد کابل ته په رسېدو سره د جنوري په

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸مه نېټه د غلزیو وسله والو ډلو تنګی بند کړ او د اړخونو نه یې په قطار د جزایلو ډزې کولې. قطار هغه وخت بیا حرکت وکړ چې یوې قطعې د تنګي په خوله کې یو حاکم ځای ونیو. په دې دره کې نږدې ۵۰۰ سرتېري او ۲۵۰۰ د کمپ عمله ووژل شول. ونسېنټ ایر چې په دې قطار کې و وایي چې اکبرخان او نورو مشرانو هڅه کوله چې غلجیان د برید نه منع کړي خو په هغوی د چا زور نه رسېد.۲۵۹ د جنوري په ۹مه قطار چې ټوله شپه واوره اورېده بیا حرکت پیل کړ. د یو میل تګ نه وروسته اکبرخان بیا قطار ودراوه او غوښتنه یې وکړه چې ټولې ښځې او کوچنیان دې د ده د ساتنې لاندې ورکړل شي. ما لیکوال ته دا فکر پیدا شو چې اکبرخان شاید دا کار په دې کړی وي چې د تباهۍ نه د دوی ژوند وژغوري. الفنسټون هم رضایت وښود چې دوی د ساړه، لوږې او سټړیا د بېوزلۍ نه خلاص شي.

د جنوري په لسم دا کوچنی شوی قطار روان شو او مخکینی ساتونکې قوه د ۴۴م کنډک او د سوارو د یوه ټولي نه جوړه وه چې یو توپ ورسره و. دوه میله مخته لاړ خو کله چې د تور تنګي خوله ته ورسېد چې نږدې لس فوټه پراخوالی یې درلود د لوړو سرو نه د جزایلو د درندو ډزو لاندې راغی او ډېر سرې یې له لاسه ورکړل. تنګی لنډ و کله چې مخکینۍ قواه چې د قطار نه ۵ میله وړاندې وه په خاک جبار کې ودرېده. دوی هلته د قطار اساسي برخې راتلو ته سترګې په لاره و چې هېڅکله ور ونه رسېده. د قطار دغه اساسي وروستۍ برخه په تنګي کې د غلجیانو د برید لاندې راغله او ټول یې له یوه سره ووژل. هغه تیت او پرک کسان چې کمپ ته راورسېدل د ځان سره یې بوږنونکې خبرونه راوړل. د قطار شمېر زرو تنو ته راټیټ شوی و. اکبرخان د الفنسټون د دې خبرې په اړه چې تاسو خو د امن ضمانت کړی و، بخښنه وغوښته او وویل چې موږ ونه شو کولی چې د غلجیانو مخه ونیسو. هغه ورته وویل چې زه د هغو اروپایي افسرانو ضمانت کوم چې وسله په مځکه کېږدي او زما د ساتنې لاندې راشي.

افسرانو د اکبرخان وړاندیز رد کړ او دوی خپل حرکت د تېزین د درې په لور پیل کړ او د هفت کوتل درې نه چې درې میله اوږده وه په لاره کې یې جګړه کوله په بري سره تېر شول په دې چې د ډګروال شېلټن کوښښونو چې د قطار چاپېر یې ساته د غلجیانو بریدونه بې اغېزې کړل. په دې توګه دا قوه د منځه تلو نه وساتل شوه او په څلورو بجو تېزین ته ورسېده. تر دې ځایه قطار ۱۲۰۰۰ سرتیري او عمله له لاسه ورکړي وو.

د اکبرخان د یوې اغېزمنې ساتنې نه ناهیلی قطار جګدلک ته چې شل میله هغې خوا ته پروت و په تېزۍ سره ټوله شپه په دې هیله خپل تګ ته دوام ورکړ چې دوی به یې د مخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دې چې دښمن هلته ورسيږي ونيسي. د شپې تک د عملې د ډار له امله پرې شو او د دغه ناوختوالي له امله مخکينی ګارډ د جنوري په يولسم په سباوون کې کتارسنګ ته ورسېد چې لا لس ميله واټن جګدلک ته پاتې وو. دوی د قومي خلکو له خوا چې جګو ځايو ته ختلي وو، ګواښېدل. دا دښمن د پرله پسې ګواښ لاندې په وينو لړلی قطار جګدلک ته په درې بجې ورسېد. دلته د اکبرخان سره په يوه کتنه کې الفنسټون، ډګروال شېلټن او تورن جانسن هم د برمته په توګه د محمد اکبرخان سره تر هغه د ساتنې لاندې ونيول شول تر څو د جلال اباد نه برتانوي قواوې وتلې نه وي. د دوی سره ښه چلند شوی وو. سردار همدارنګه دا ژمنه هم کړې وه چې سمدلاسه به ورو سرتېرو ته ډوډۍ چمتو کوي چې دوی په امن کې جلال اباد ته ورسيږي. خو کله چې دوی حرکت وکړ د جګدلک په تنګي کې غلزيانو ډزې وکړې او په دغو ډزو سره يې خپل نيت ښکاره کړ. دغه وخت په قطار کې د څلور څلوېښتم غونډ ۱۲۰ تنه او د توپچيانو نه ۲۵ تنه پاتې وو. په دغه تنګي کې غلزيانو په انګرېزانو له هرې خوا د ګوليو باران جوړ کړ، دولس افسران په کې مړه شول او چې سباوون کېده دا پاتې کسان ګندمک ته چې د جلال اباد په سوويل لوېديځ په ۳۵ ميله واټن کې پروت دی ورسېدل، چې هلته عامو خلکو د غزا د نارو په ويلو سره يې دوی کلابند کړل. دوی د يو څو تنو پرته چې نيول شوي وو، په بشپړې ناهيلۍ کې د وروستي تن پورې وجنګېدل. يوازې شپږ تنه چې تورنان بيليو، کولير، هوپکينز، بريډمن برډ او ډاکټران هاربر او برايډن وو فتح اباد ته ورسېدل چې د جلال اباد په ۱۶ ميلي کې پروت دی. په فتح اباد کې ځينو بزګرانو دوی ته ډوډۍ ورکړه خو زر يو شمېر د کلي اوسېدونکو پر دوی بريد وکړ بيليو او برډ يې ځای په ځای ووژل، پاتې څلور تنه يې په لارې روان کړل چې درې تنه يې ور څخه ووژل او يو تن ډاکټر برايډن يوازينی کس و چې ټپي او په نيم ژوندي حالت کې د جلال اباد دېوال ته نږدې راښکاره شو. په دې توګه ۴۵۰۰ جنګيالي، ۱۲۰۰۰ د کمپ عمله په اتو ورځو کې په ۵۵ ميله واټن کې له منځه لاړل. د غلزيانو د جزايلو په پرتله يخ، يخ وهنې، واورو او لوږې د زيات شمېر کسانو ژوند واخېست.

## وروستی عمل

د کابل ګارنيزون د منځه تللو خبرونه هندوستان ته ورسېدل. برتانوي واکمن د ګران انتخاب سره مخامخ شول. دلته تر اوسه مهم ځايونه د کندهار، کلات، غزني او جلال اباد په ګډون د برتانوي نيواک په لاس کې وو چې په زياته اندازه د افغان ناسيونالستانو له خوا تر زياتېدونکي ګواښ لاندې وو. دلته د برتانوي واکمنۍ د حيثيت د اعادې خبره وه. دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماتې د برتانيې پرستېژ ته ستر زيان اړولی و. په پای کې د برتانيې دولت او په هند کې د هغه وايسرا اړ شول چې د افغان پالېسی په اړه نوی نظر وکړي او يوه نوې ستراتيژي جوړه کړي چې د شرايطو د بدلون سره سمون وکړي.

په افغانستان کې د برتانيې پاتې ګارنيزونو د غزني د ګارنيزون پرته وکړای شول چې د هند نه د قواوو تر رسېدو پورې ځانونه وساتي. په جلال اباد کې ډګروال سيل پرېکړه وکړه چې تر هغه ښار ونيسي چې قواوې ژوندۍ وساتي. هغه د ښار دېوالونه ترميم کړل او د ښار نه يې د جزايلو د کنډک د څو سوو افغان سرتېرو په ګډون ۲۰۰۰ اوسېدونکي وايستل په دې چې خپل امن تامين کړي. که څه هم په اپرېل کې خبرونه راورسېدل چې د جنرال پالک په مشرۍ مرستندويه قواوې د خيبر د درې نه په تېرېدو کې نابريالۍ شوې خو جنرال سيل د اکبرخان په کمپ په زړورتيا سره بريد وکړ او هغه يې په شا وتمبوه او لغمان ته په شا شو.

په کندهار کې هم انګرېزانو هڅه کوله تر هغه پورې چې مرستندويه قواوې رارسېږي خپل ځانونه ژوندي وساتي. د فبروري په ۲۰ نېټه دوی ته د الفنسټون او پوتينجر لارښوونه ورسېده چې کندهار او کلات خوشې کړي. ناټ او د هغه سياسي افسر راولينسن پرېکړه وکړه چې ځان ټينګ کړي. افغانانو دوی هم ګواښول چې ښار پرېږدي. د جنوري په ۲۸مه کندهار ته د برتانوي واکمنو رسمي ليک راورسېد چې په هغه کې يې امر کړی و چې د کندهار نيواک ته دوام ورکړي. ګارنيزون د مارچ په دريمه د ښار نه ۵۰۰۰ اوسېدونکي وايستل او څو ورځې وروسته يې د يوه بريد په ترځ کې دراني جنګيالي لېرې پورې وهل. د جنرال انګلنډ قواوې د مۍ په لسمه نېټه د کوېټې نه راورسېدې.

د غزني د ګارنيزون ۴۰۰ قواوې چې د کرنل پالمر تر قوماندې لاندې وې ژوندۍ پاتې نه شوې. افغانانو هغه ترون مات کړ چې د ګارنيزون سره يې کړای و. افغانانو ژمنه کړې وه چې دا قواوې تر پېښوره بدرګه کړي. برتانوي قواوې چې د درانده فشار لاندې وې د مارچ په دوهمه په بالاحصار کې تسليم شوې او بيا تر وروستي کس پورې ووژل شول. د کلات ګارنيزون لکه چې د مخه مو يادونه وکړه د کندهار نه يوې قوې خلاص کړ او کندهار ته يوړل شو.

محمد اکبرخان چې د مکناټن د وژنې وروسته تر ټولو نفوذمنه څېره شوه د شاه شجاع نه وغوښتل چې د ده سره په جلال اباد کې په ګډه وجنګېږي. شاه شجاع زيات زړه نازړه و خو وروسته يې پرېکړه وکړه چې غاړه کېږدي. شاه شجاع وروسته له دې چې خپل زوی شاه پور يې په کابل کې د وايسرا په توګه وټاکه د جلال اباد د جګړې نه دوې ورځې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخه د اپرېل په پنځمه نېټه د بالاحصار نه ووت. هغه غوښتل په سياسنګ کې د خپلو قواوو سره يوځای شي خو په لاره کې د ده په ډولۍ باندې د زمان خان د زوی شجاع الدوله له خوا برید وشو او ځای په ځای ووژل شو.

د برتانوي مرستندويه قواوو په راتګ سره په افغانستان کې د قواوو د وتلو له پاره د دوی پخواني حکمونه لغوه شول. د برمته شويو د ازادولو، د امپراتورۍ د پرستيژ د بېرته په ځای کولو او افغانانو ته سيمبوليکه جزا ورکولو له پاره د کابل د بيا نيولو اړتيا وه. د ۱۸۴۲ کال د جولايي په لومړيو کې د هند ګورنر جنرال په جلال اباد کې جنرال پالک او په کندهار کې جنرال ناټ ته امر وکړ چې د کابل په لور وخوځيږي او د برتانوي پوځ د ډله يزې وژنې غچ واخلي او د پېښور له لارې بېرته هند ته راستانه شي.

محمد اکبرخان د جلال اباد د ماتې وروسته لغمان ته په شا شو او برمته شوي يې د ځان سره بوتلل. د اپرېل په ۱۱مه يې برمته شوي د لغمان نه تېزين ته يوړل چې هلته د اپرېل په ۱۳مه جنرال الفنسټون مړ شو. د مې په ۲۲مه اکبرخان احساس وکړ چې بنديان په امن کې نه دي او دوی يې شيواکي ته ولېږل. درې مياشتې وروسته چې برتانوي قواوې د جلال اباد او کندهار نه د کابل په لور وخوځېدې محمد اکبرخان برمته شوي د ټينګې بدرګې په مټ باميانو ته ورسول.

جنرال پالک د سپتمبر په ۷مه د ۸۰۰۰ پوځ سره کابل ته وخوځېد. په جګدلک کې انګرېزانو د غلزيانو مقاومت مات کړ او د دسمبر په ۱۱ تېزين ته ورسېدل. د اکبرخان قواوې په تېزين کې د برتانوي قواوو سره سخته جګړه وکړه او غوربند ته په شا شو. جنرال پالک د جنرال ناټ نه دوې ورځې د مخه کابل ته ورسېد.

جنرال ناټ د اګست په ۹مه د کندهار نه د دوو اروپايي او پنځه هندي پلي کنډکونو او يو څه سوارو سره حرکت وکړ هغه په غزني کې د والي شمس الدين له خوا د سخت مقاومت وروسته د غزني کلا ړنګه کړه او د سلطان محمود غزنوي د مقبرې دروازه يې د ګورنر جنرال په لارښوونه د ځان سره واخېسته. دوی په تېروتنې سره دا ګومان کاوه چې ګويا دا هغه د سومانات دروازه ده چې سلطان محمود غزنوي د هند نه د ځان سره راوړې وه. البېرو غوښتل چې په دې هندوان احساساتي کړي چې ګويا د دوی يو مذهبي سيمبول يې بېرته راوګرځاوه. جنرال ناټ پنځه ميله لرې خپل کمپ ودراوه په دې چې د ده د مخه جنرال پالک کابل ته ننوتلی و.

افغانستان ته د برتانيې د نويو ځواکونو د رارسېدو او د افغان مشرانو د ماتې وروسته د برمته شويو د خلاصون له پاره شرايط برابر شول. د سپتمبر په ۱۶ برمته

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي د بامیان نه کابل ته روان شول. د دوی د بدرګۍ دپاره د جنرال پالک منشي ریچمونډ شکسپیر د ۶۰۰ قزلباشو سوارو سره ولېږل شو. د سپتمبر په ۲۰مه برمته شوي په امن سره ارغندي ته راورسېدل چې د جنرال سیل له خوا یې هرکلی وشو او دی د خپلې مېرمنې لیډي سیل سره چې د برمته شویو په ډله کې وه یوځای شو.

د سپتمبر په ۱۶مه جنرال پالک په فورمالیتي ډول کابل ښیا ونیو او د برتانیې بیرغ یې د بالاحصار په کلا ودراوه او د شاه شجاع زوی فتح جنګ یې په تخت کېناوه چې بیا د کابل نه وتښتېد او په ګندمک کې د جنرال پالک سره یو ځای شو ترڅو د هغه سره هند ته لاړ شي او هلته سیاسي پناه وغواړي.

د مقاومت زیاتره مشران د کابل په چاپېر کې وځړول شول. یو شمېر یې د امین الله لوګري او سردار محمد اکبرخان په ګډون کوهدامن ته وتښتېدل.

د دې له پاره چې برتانوي پوځونه هند ته د تګ په مهال د مقاومت سره مخامخ نه شي جنرال پالک یوه ګړندی پوځي ډله، چې د قزلباشانو مشر خان شیرین خان او د شاه شجاع زوی شاه پور ورسره مله وو، کوهدامن ته واستوله چې بیا پورته شوې دښمنې قواوې وځپي. په استالف کې د امین الله خان لوګري قرارګاه پراته وه. د انګرېزانو ځواکونو دا د استراحت ښکلی کلی د خاورو سره برابر کړ، د هغه ځای د انګورو بڼونه یې تباه او د خلکو ډېره برخه یې بې ځایه کړه. دا د ویجاړۍ چارې یې تر چارېکاره پورې ورسېدې.

په کابل کې یې د مقاومت د مشرانو کورونه هم ړنګ کړل. جنرال پالک د برتانوي پوځ د وتلو نه درې ورځې د مخه خپلو استحکام چیانو ته امر وکړ چې د چار چتې بازار ړنګ کړي چې افغانانو هلته د مکناټن تنه ځوړنده کړې وه. برتانوي سرتېرو کورونه او هټۍ چور ولې. د دوی قزلباش دوستان او سوله یز هندوان چې د چنداول په ګاونډ کې پراته وو، هم د دغه چور او چپاول نه په امن کې پاتې نه شول. د جنرال ناټ سرتېرو د کابل چاپېر کلي لکه چاردهي، ده دانا او افشار لوټ کړل.

د ۱۸۴۲ کال د اکتوبر په ۱۲مه د برتانیا ګډو ځواکونو د جلال اباد په نیت کابل پرېښود. دوی ړوند شاه زمان، د شاه شجاع کورنۍ او خپل برمته کسان چې خوشي شوي وو د ځان سره بوتلل. دوی په لاره کې د غچ اخېستنې موقع له لاسه نه ورکوله. په جلال اباد کې کله چې ټولې فرقې سره یوځای شوې جنرال پالک د جلال اباد د کلاګانو د ړنګولو امر وکړ. بیا برتانوي قواوې د خیبر درې له لارې وطن ته ستنې شوې. په کابل کې اکبرخان پلازمینې ته خپلې قواوې د ننه کړې او شاهپور لاسپوځی شاه یې لرې کړ، نواب زمان خان دجلال اباد د والي په توګه، شمس الدین خان د غزني د والي په توګه او سلطان جان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کندهار د والي په توګه وټاکل شول.

د لارډ اوکلنډ له خوا په افغانستان باندې د رژيم د بدلون په نيت د جګړې د اعلان نه څلور کاله وروسته د هغه ځايناستي النبرو د افغانستان نه برتانوي پوځ وايست او افغانان يې پرېښودل چې د خپلې خوښې حکومت جوړ کړي.

برتانويانو امير دوست محمد خان چې په ۱۸۴۰ کال کې دوی ته تسليم شوی او هند ته يې لېږلی و خلاص کړ او د ۱۸۴۳ کال په لومړيو کې وطن ته راستون او د خپل زوی او نورو افغان مشرانو له خوا يې د افغانستان د امير په توګه تود هرکلی وشو.

په دې توګه د افغان- انګليس لومړۍ جګړه پای ته ورسېده. انګرېزانو ته دا جګړه په لوړه بيه تمامه شوه پرته له دې چې د جګړې موخې ته، چې په کابل کې د برتانيې پلوي رژيم ودروي، ورسيږي. په دې جګړې کې لس زره جنګيالي ووژل شول، په لسګونو زره د کمپ عمله تباه شوه او ۱وولس ميليونه پونډه لګښت يې وشو. افغان لوری چې د يرغل قرباني و، ډېر جنګيالي له لاسه ورکړل، زيات ښارونه، کلي او موسسې او د ژوند وسايل يې وېجاړ او برباد شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دولسم څپرکی

# کاکړ او د امیر دوست محمد خان دوهمه واکمني

د مخه مو یادونه وکړه چې امیر دوست محمد خان په ۱۸۱۸ کې د سدوزو د واکمنۍ د پرزېدو وروسته د یوې اوږدې مودې د کورنۍ جګړې په یون کې د محمدزو د واکمنۍ بنسټ کېښود. امیر دوست محمد خان د سردار پاینده خان د یوویشتو زامنو نه د خپل سکه ورور محمد امین نه پرته تر ټولو کشر او مشر یې وزیر فتح خان وو. وزیر فتح خان یو زړور او مدبر سړی و او د وزیر په توګه یې خپل ټول ورونه په لوړو څوکیو وګومارل. کله چې په وحشیانه توګه ووژل شو نو د هغه د مړینې وروسته د پاینده خان زامنو لومړی د واکمن کېدو له پاره مبارزه پیل کړه تر څو په پای کې په دې بریالي شول چې واک د سدوزو نه محمدزو ته ولېږدوي. خو د واک د لېږد وروسته د دوی تر منځ د کورنۍ جګړې اور بل شو. امیر دوست محمد خان چې د خپلو ورونو په منځ کې ځیرک او هوښیار و په ۱۸۲۶ کې د قزلباشانو په مرسته د کابل د والي په توګه واک راټول کړو او په پای کې واکمن شو. د افغان- انګلیس د لومړۍ جګړې په جریان کې انګرېزانو ته تسلیم شو او دوی هندوستان ته پرار کړو. خو بیا کله چې په دغه جنګ کې د وزیر محمد اکبرخان په مشرۍ د افغان جنګیالیو له خوا د انګرېزانو ۱۶۵۰۰ پوځ تباه شو نو دوی په ۱۸۴۳ کې امیر دوست محمد خان بېرته راستون کړ او یو خپلواک امیر شو.

دغه مهال چې امیر دوست محمد خان افغانستان ته راستون شو په کابل کې د حکومت، منظم اردو او دفتر نښې نه وې. په کندهار کې د امیر ناسکه ورونو چې د کندهاري ورونو په نامه مشهور وو د پارس نه کندهار ته راستانه شول او هلته یې واکمني درلوده. هرات دا مهال د سدوزو شاهانو د واکمنۍ د لاسه وتلی و او یارمحمد الکوزي خپلواکه واکمني په کې کوله. د هندوکش په شمال کې د میمنې نه نیولې تر بدخشانه پورې ځایي بیګانو او میرانو خپلواک حکومت کولو. برسېره پر دې د پارس قاجارانو هرات تر ګواښ لاندې نیولی او په کندهار کې یې خپل نفوذ پراخ کړی وو، په ختیځ کې پېښور چې د سدوزایي شاهانو د ژمي پلازمینه وه د سکانو د واکمن په لاس کې وه او په هند کې انګلیسانو د خپل حاکمیت د پراخوالي له پاره د لوېدیځ په لور د پرمختګ هیله درلوده.

په لومړیو څو کلونو کې د امیر دوست محمد خان تخت د نواب زمان خان، سلطان

(c) ketabton.com: The Digital Library



جان، محمدشاه خان بابکرخېل او د امیر زوی محمد اکبرخان په ګډون د واقعې او په خپل ستاېل د جګړې اتلانو ننګوه. امیر اړ شو چې د دوی د خوشالولو دپاره هغوی ته ولایتي حکومتونه او نور لوړ مقامونه ورکړي. اکبرخان د وزیر په توګه وټاکل شو. خو بیا هم ده زیات وخت په خپل زړه کړنې ترسره کولې.

په امیر دوست محمد خان باندې د جګړې تجربو او په برتانوي هند کې درې کلن تبعید د لیدو وړ اغېز کړی و. هغه اوس په ډېرې هوښیارۍ سره کورنی او بهرنی سیاست پرمخ بیوه او خپلې شونتیاوې او محدودیتونه یې په واقعي توګه لیدل. د بلې خوا جګړې د هغه زوی اکبرخان او ملګرو نه داسې سړي جوړ کړي وو چې د افغان امپراتورۍ د لاسه تللې مځکې د بېرته ترلاسه کولو له پاره چې برتانوي هند د پراختیا غوښتنې له مخې یو په یو د واک لاندې راوستې وې لوړ خوبونه لیدل. د اکبرخان انګلیس ضد احساساتو دی هڅاوه چې د بدیلو ځواکونو سره د اتحاد په لټه کې شي. هغه یو ځل د یارمحمد سره په ګډه غوښتل چې د پارس د دربار نه مرسته وغواړي چې د ایندوس په دره کې د انګلیس د وده موندنکې پراختیا مخنیوی وکړي. خو امیر دوست محمد خان د دې سره مخالف و په دې چې د دې کار پلي کېدل اړین وسایل او مناسبې موقعې غواړي او اوس د دوی د شونتیاوې محدودې وې. د امیر او د ده د زوی جاه طلبۍ د دوی ترمنځ د باور او همغږۍ چاودون پیداکړو او د مانۍ نه یې د ځوان وزیر وتل ګړندي کړل اوځان یې د خپلو قزلباشو کنډکونو او غلزایي ملاتړو په منځ کې وموند. هغه په خپلو پلانو دومره ټینګ ودرېد چې د پلار تخت یې ننګوه. خو د مخه تر دې چې کوم مخالف ګام پورته کړي په مرموزه توګه د ۳۱ کالو په منګ مړ شو او شونې ده چې زهر ورکړل شوي وي.۲۶۰

په دغه وضعه کې امیر دوست محمد خان د خپل هېواد چې د افغان- انګلیس د لومړۍ جګړې په پایله کې کمزوری شوی او په ولایتونو وېشل شوی و په سیاسي لحاظ یو کولو ته ملا وتړله. امیر د خپلې واکمنۍ په لومړیو کلونو کې حکومت تنظیم او اردو جوړ کړ او مرکز ته ګاونډۍ او نږدې سیمې یې د ځان تابع کړې. وروسې یې د هزاره جاتو سیمې، تګاو، غزني، کوهستان، لغمان او ننګرهار په کابل پورې وتړل او د هر یوه اداره یې خپلو زامنو ته وسپارله. په دې ترتیب امیر دوست محمد خان په کابلستان خپله واکمني بېرته ټینګه کړه چېرې چې د افغان- انګلیس لومړۍ جګړې نه د مخه هلته واکمن و. نوموړي د دې وروسته نورو ولایتونو ته پام واړاوه.

د امیر لومړۍ هڅه د ختیځ په لور وه. په ۱۸۳۹ کال کې د مهاراجه رنجیت سنګ د مړینې وروسته د پنجاب د سیکانو دولت کې اختلافونه رامنځ ته شول او په وضعه باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا پوره مسلط شوی نه و چې په ۱۸۴۵ کال کې د مهاراجه دلیپ سنګ په مشرۍ د برتانوي هند استعماري او پراخ غوښتونکي حکومت سره مقابلې ته اړ شو. د سیکانو واکمن په ۱۸۴۶ کې اړ شو چې یو شمېر سیمې د لاهور د تړون پر بنسټ انګلیسانو ته پرېږدي، خو سیکانو په ۱۸۴۸ کال کې د انګلیس پر ضد پاځون وکړ. خالصه حکومت د امیر دوست محمد خان نه پوځي مرسته وغوښته او ژمنه یې وکړه چې د پوځي مرستې په بدل کې به دوی د پېښور، دیره ګانو او د پنجاب ځینې هغه ځایونه چې پخوا د افغانستان په واکمنۍ کې وې بېرته افغانستان ته وسپاري. امیر دوست محمد خان د سیکانو دا غوښتنه په خوشالۍ سره ومنله او د سپارو یوه قوه یې د خپل زوی محمداکرم خان په مشرۍ د دوی مرستې ته ولېږله او په خپله تر پېښوره پورې ورسره ولاړ. خو هغه جګړه چې په ۱۸۴۹ کال کې په ګجرات کې وشوه سیکانو کلکه ماتې وکړه او محمداکرم خان د یوې لنډې او ناکامې جګړې وروسته په شا تګ وکړ او د خیبر درې له لارې کابل ته راستون شو. پنجاب او پېښور د انګلیسانو لاس ته ورغلل او وروستی تر ننه د افغانستان د حاکمیت نه بهر ووت. انګرېزانو د پېښور په نیولو د افغانستان دروازې ته ودرېدل او دا دوه حکومتونه د لومړي ځل له پاره د ګډې پولې په لرلو سره ګاونډیان شول.

په ۱۸۵۵ کال کې د امیر دوست محمد خان او د هند برتانوي حکومت تر منځ تړون وشو. د دغه تړون له مخې امیر په ضمني ډول د پېښور د ادعا نه لاس په سر شو. «امیر د [دې] تړون په درېمه ماده کې ژمنه وکړه چې د هند د ختیځې کمپنۍ سیمو ته به درناوی کوي او په هغه کې هېڅ ډول لاسوهنه نه کوي.»۲۶۱ کاکړ وايي کله چې وروسته د هند په ټوله نیمه وچه کې د انګلیسانو پر ضد پاځون وشو او د برتانوي هند وایسرا حاضر و چې پېښور بېرته افغانستان ته ورکړي خو امیر په دې اړه هېڅ ګام پورته نه کړ. ولې خان وايي چې د افغان- انګلیس د لومړۍ جګړې تر اغېز لاندې په ۱۸۵۷ کال کې د هندوستان د ازادۍ د لومړۍ جګړې په پایله کې داسې شرایط منځ ته راغل چې امیر دوست محمد خان کولی شول خپله د لاسه وتلې خاوره بېرته ترلاسه کړي. «وايي چې د ډیلي حکومت د پنجاب حاکم ته ووې چې د اباسین نه پورې علاقه امیر دوست محمد خان ته پرېږده. ته خپل طاقت راپورې باسه چې په هندوستان د ننه د پاځون مخنیوی وشي. هغه ورته لیکلي و چې هسې خو یې وربخښلی نه شم. ولې که هغه وغوښتله نو ورته به یې پرېږدم. خو امیر صاحب د پیرانګي د سلطنت د پراختیا، پوځي قوت او سمندري بېړیو نه دومره وېرېدلی و چې هغه تشه دخولې وینا یې هم د خپلې خاورې د حق ونه کړله.»۲۶۲

امیر دوست محمد خان تر دې وروسته ترکستان او میمنې ته پام واړاوه. ده په ۱۸۴۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال کې خپل زوی سردار محمداکرم خان د یوه غښتلي پوځ سره چې د درانیانو، غلجیو او قزلباشانو نه جوړ و، شمال ته واستولو. نوموړي د بدخشان او قطغن نه پرته د شمال د ټولو سیمو بېګان او میران د ځان تابع کړل او سپکه مالیه یې ور باندې کېښوده. خو د دغو سیمو خلک د سردار محمداکرم خان د مړینې وروسته سرغړونه وکړه او امیر دوست محمد خان خپل تکړه زوی محمدافضل خان د دوی د ټکولو له پاره شمال ته ولېږه اوهغه په همغه کال کې خپله دنده په بریالیتوب سره تر سره کړه او د ۲۵۰۰۰ پوځ سره په مزار کې پاتې شو. افضل خان وروسته د خپل زوی عبدالرحمن او خپل وررور محمد اعظم خان په مرسته د شمال ختیځ افغانستان پاتې سیمې د ځان تابع کړې او په وروستیو کلونو کې یې قطعن او بدخشان هم تابع کړل. په دې توګه د امو رود د بخارا او افغانستان تر منځ بیا ګډه پوله شوه.

امیر دوست محمد خان د هندوکش نه شمال سیمو د تابع کولو وروسته کندهار ته چې د ۱۸۱۸ کال راهیسې د کندهاري سردارانو له خوا د کابل نه جلا په خپلواکه توګه اداره کېده پاملرنه واړوله. امیر دوست محمد خان په ۱۸۵۴ کال کې د غلزیو کلات چې د کندهار برخه وه د یوې پوځي قوې په ذریعه ونیو او کندهار یې تر ګواښ لاندې ونیولو.

د پارس قاجار پاچا د سردار کهندل خان کندهاري په غوښتنه د امیر له خوا د کلات په نیولو اعتراض وکړ او ویل کېدل چې د پارس پاچا د کهندل خان کندهاري سره په دې شرط د مرستې ژمنه وکړه چې د کندهار د نیولو وروسته به سردار د ده سره یو ځای کیږي او د هغه تبعیت به مني. ولې په ۱۸۵۵ کال کې سردار کهندل خان او د هغه وررور سردار مهردل خان مړه شول او د نورو سردارانو تر منځ د واکمنۍ او د مالیې د وېش پر سر اختلافات منځ ته راغلل. دوی د سردار رحمدل خان په غوښتنه د میانځګیری له پاره امیر دوست محمد خان راوغوښت چې د دوی تر منځ سوله وکړي. امیر د هغه تړون په بنسټ چې د همغه کال په پیل کې یې د برتانوي هند سره کړی و په ګټې اخېستنې سره د یوې پوځي قوې سره کندهار ته لاړ او هغه یې د جګړې پرته ونیو او خپل زوی سردار غلام حیدر خان یې د هغه ځای واکمن وټاکه او په دې ترتیب یې کندهار د کابل سره وتړلو. د کندهار نه وروسته امیر هرات ته خپل پام واړاوه.

هرات د ۱۸۰۳ نه تر ۱۸۱۸ پورې یوازې په نامه د کابل تابع و او د هغه نه وروسته شاه محمود سدوزي تر ۱۸۲۹ کال پورې او بیا پاچا کامران تر ۱۸۴۲ کال پورې په هرات کې خپلواکه واکمني کړې ده تر څو په همغه کال کې وزیر یارمحمد الکوزي کامران ته ماتې ورکړه او په خپله یې د هرات واګې په لاس کې ونیوله. خو د یار محمد الکوزي د مړینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته په ۱۸۵۱ کال کې په هرات کې د ناامنۍ دوره پیل شوه.

د پارس واکمنو په هرات دعوی درلوده او د همدغې پېړۍ په اوږدو کې یې څو ځله د هغه په لور خپل پوځونه استولي وو. دا ځل یې هم د هرات ښار کلابند کړ او د هغه کال په اکتوبر کې یې ونیو. دغه مهال د پارس دربار د تزاري روسیې تر نفوذ لاندې و او د هرات نیول د روسیې په لمسون وشو. د پارس د دغه کړنې په وړاندې برتانوي هند او امیر دوست محمد خان مقابل کړه وړه پیل کړل. پارس د برتانوي هند حکومت د پاریس د غونډې او د ۱۸۵۳ کال د تړون نه چې د تهران سره یې لاسلیک کړی و سرغړونه وکړه چې د افغانستان په کورنیو چارو کې به لاسوهنه نه کوي. له دې کبله د برتانیې حکومت د پارس دولت پر ضد اعتراض وکړ خو کله چې دغه اعتراض ګټه ونه کړه نو برتانوي هند د پارس سره جګړه اعلان کړه او د ابوشهر بندر یې ترې لاندې کړ. د پارس پاچا ناصرالدین چې دا خبر واورېد پارس یې په خطر کې ولید او سمدلاسه یې هرات پرېښود. همدارنګه برتانوي هند د روسیې د مخنیوي له پاره چې د پارس له لارې او د هغه په ذریعه یې ورسره دښمني کوله د امیر دوست محمد خان د واکمنۍ د پوځي غښتلتیا له پاره هوډ وکړ.له دې کبله لوېې برېتانیا د امیر دوست محمد خان تر منځ په ۱۸۵۷ کال د جنوري په ۲۶ نېټه په پېښور کې تړون لاسلیک شو. د دغه تړون موخه لکه چې د هغه په لومړۍ ماده کې راغلي چې برېتانیا د امیر دوست محمد خان سره د پارس په وړاندې په بلخ، کندهار او کابل کې د خپلو ملکیتونو د ساتنې له پاره مرسته کوي. د دې تړون له مخې افغان لوري ته تر هغه پورې د میاشتې سل زره روپۍ ورکول کېدې تر څو جګړه پای ته نه وي رسېدلې. امیر دوست محمد خان په دغو پیسو پلی او سوارو اردو تنظیم کړ. امیر ومنله چې په افغانستان کې به انګلیسي پوځي چارپوهانو ته اجازه ورکوي چې په اردو باندې د پیسو په لګښت څارنه وکړي. امیر ته د پیسو برسېره ۴۰۰۰ نور پخواني زاړه ټوپک ورکړل شول او دا هم ومنل شو چې د امیر یو استازی به په پېښور کې د وکیل په توګه وټاکل شي.انګلیسانو امیر د هرات نیولو ته هم وهڅاوه.

امیر دوست محمد خان د انګلیسانو د مرستې له مخې د اردو په تنظیم او غښتلتیا پیل وکړ. دغه وخت سردار سلطان احمد خان چې په سلطان جان مشهور و په هرات کې د پارس پاچا په مرسته وروسته له دې چې هرات یې پرېښود واکمنۍ ته ورسېد. سلطان جان د سردار محمد اعظم خان زوی او د امیر دوست محمد خان زوم و. نوموړي د سردار میر افضل خان چې په کندهاري سردارانو پورې اړه درلوده په لمسون په فراه باندې چې د امیر دوست محمد خان تر ولکې لاندې وه یرغل وکړ. امیر دوست محمد خان

(c) ketabton.com: The Digital Library



په فراه باندې د سلطان جان تېرى د خپلې واکمنۍ له پاره خطر وباله او د يوه ستر پوځ په ملګرتيا په هغه لوري روان شو او د ده سره زياتره خپل زامن، سرداران، اعيان، د درانيو، غلزيو او نورو قومونو مشران ملګري وو. سردار سلطان جان فراه ايله کړه او د خپل خسر سره د مقابلې له پاره هرات ته ستون شو. امير دوست محمد خان په ډېر شان او شوکت سره هرات ته ننوت او هغه يې کلابند کړ خو پر هغه باندې يې د پوځي بريد نه ډډه وکړه ځکه چې دى پوهېده چې سلطان جان د پارس او انګليس د مرستې پرته نه شي کولى زيات وخت مقاومت وکړي نو هرات به د وينې د تويدو پرته تر لاسه شي. د هرات د کلابندى په پای کې د امير دوست محمد خان لور او زوم د دې نړۍ نه سترګې پټې کړې او د هغې وروسته د هرات ښار تسليم شو او هرات بيا د افغانستان د مرکز کابل د واکمنۍ لاندې راغى. امير دوست محمد خان د ۱۸۶۳ کال د جون د مياشتې په نهمه نېټه د ۷۰ کلونو په منګ د دې نړۍ نه سترګې پټې کړې او د پېښور پرته يې د احمدشاه بابا افغانستان افغانانو ته په نيکات(ميراث) پرېښود.

کاکړ وايي چې د امير دوست محمد خان په دوهمې واکمنې کې د نايب امين الله لوګري او محمدشاه بابکر خېل لغماني نه پرته بل مهم کس له منځه وړل شوى نه دى. امير دوست محمد په ولسي دوله اداره سره په ډېر ښه نوم يادېده. که چا ظلم او تېرى کاوه، ورته به ويل کېده، چې د امير دوست محمد له عدالت نه خبر نه يې. دى به په اس سور له خپل منشي سره د کابل په کوڅو کې ګرځېده، د عارض شکايت ته به يې په ځير غوږ نيوه او په اړه به يې منشي ته لارښوونې کولې. امير دوست محمد خان په لړو حکومتي عوايدو او له تشدد نه پرته، په ښې ادارې سره او د ټوټه شوي هېواد، په بيا متحد کولو سره غټ خدمتونه وکړل، خو افغانانو د هغه د خدمتونو درناوى نه دى کړى او د هغه وخت شرايط يې په نظر کې نيولي نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دیارلسم څپرکی

# کاکړ او د امیر شیرعلي خان لومړنی واکمني

امیر دوست محمد خان د شپاړسو ښځو نه اوه ویشت زامن او پنځه ویشت لونه درلودې چې د ده د مړینې وروسته یې د واک پر سر لوی غوبل او شخړې جوړې کړې چې د هېواد راتلونکې یې کلکه زیانمنه کړه. د مخه مو یادونه وکړه چې امیر دوست محمد خان د امیر کېدو له پاره د نني افغانستان د نورو پاچاهانو په څېر د پوځي ځواک نه کار اخېستی دی. په دغو جګړو کې هغه د خپلو زامنو نه کار اخېستی او بیا یې په لوړو دندو ګومارلي دي. د دې کار په پایله کې د امیر زامن په پوځي چارو کې زیاتې تجربې تر لاسه کړې او د ولایتونو په ادارو کې د زیات واک په لرلو سره یې د واک غوښتنې احساس غښتلی کېده او حاضر نه وو د یوه ورور واک ته سر کېږدي. برسېره پردې امیر دوست محمد خان د خپلو وتلو زامنو محمد اکبرخان او غلام حیدرخان د مړینې وروسته د دوی سکه ورور شیرعلي خان چې د ناسکه ورونو محمد افضل خان او محمد اعظم خان نه کشر و په ۱۸۵۸ کې خپل ځای ناستی نوموړی و او د خپلو مشرو زامنو حق یې په نظر کې ونه نیو. امیر دوست محمد خان د خپلې مړینې نه د مخه شیرعلي خان په هرات کې خپل ځای ناستی وټاکه. محمود طرزی لیکي: «امیر د مړینې په ورځ (۱۸۶۳) چې سرداران او لویان هم ورسره وو، په شیرعلي خان باندې غږ وکړ چې خواته یې ورشي. په لړزېدونکو لاسونو یې خپله توره د شیرعلي خان تر ملا وتړله او په خپل نري اواز یې پاچا اعلام کړ، ښه یې ونازاوه او د بریالیتوب له پاره یې ورته دعا وکړې، خو همدا چې د جنازې او فاتحې مراسم پای ته ورسېدل، هر زوی یې له خپل پوځ سره د خپل ولایت په لور روان شو او د حیرانی ځای دی، چې هر یوه یې ځان امیر وباله.»۲۶۳

د امیر شیرعلي خان مهم سیالان خپل ناسکه مشر ورونه سردار محمدافضل خان او محمداعظم خان وو چې په ترتیب سره په ترکستان او کرمه کې واکمن وو. د هغه خپل کوچني سکه ورونه سردار محمدامین خان او سردار شریف خان چې لومړی یې د کندهار او دوهم یې د فراه واکمن و، د خپل ورور واک ته سر نه کېښود.

د امیر شیرعلي خان د واکمنۍ په لومړي سر کې د ۱۸۶۴ کال تر پسرلي پورې په هېواد

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې په نسبي توګه ارامي وه او د ژمي سړې هوا د پاڅونو مخنیوی کاوه. که څه هم سردار محمد اعظم خان د ژمي په پیل کې سرغړونه وکړه چې ژر وځپل شو او د ۱۸۶۳ کال په می میاشت کې د برتانوي هند حکومت ته پناه یووړه. ولې د دغه کال په پسرلي کې سردار محمدافضل خان د محمداعظم خان په لمسون په ترکستان کې لوی پاڅون وکړ. د هغه پاڅون ځکه جدي و چې هغه ۲۵۰۰۰ منظم اردو درلود او د لسو کلونو راهیسې د ترکستان واکمن و. خو په بامیان کې د دوی تر منځ د یوې سپکې جګړې وروسته د یوې سولې په پایله کې محمدافضل خان د ترکستان حاکم او شیرعلي خان د افغانستان د امیر په توګه وپېژندل شو. خو دغه سوله اوږده نه شوه، په ترکستان کې امیر په خپل ورور بدګومانه شو او هغه یې د ۱۸۶۴ کال د نومبر په میاشت کې کابل ته د بندي په توګه ځان سره راووړ.

بل کال امیر شیرعلي خان اړ شو چې د یوه لوی پوځ په ملګرتیا کندهار ته لاړ شي. دا ځل د ده کشر ورور سردار محمد امین خان په کندهار کې سرغړونه وکړه او د خپل سکه ورور د فراه د حاکم سردار شریف خان سره یې ایتلاف وکړ. د دواړو خواو تر منځ د ۱۸۶۵ کال د جون په میاشت کې د غلزیو قلات ته نږدې جګړه ونښته چې په پایله کې یې د امیر شیرعلي خان سکه ورور محمدامین خان او زوی سردار محمدعلي خان دواړه ووژل شول. د دغه ورور او زوی مړینې په امیر شیرعلي خان دومره بده اغېزه وکړه چې د هېواد د چارو سره یې مینه لږه شوه او نږدې و چې د خپل امارت نه لاس په سر شي.

خو په همدغه وخت کې سردار محمداعظم خان د هندوستان نه او سردار عبدالرحمن د بخارا نه افغانستان ته راغلل او د هغه لښکر سره چې نوی یې تنظیم کړی وو کابل ته ننوتل او هغه یې د امیر د بې کفایته زوی سردار ابراهیم خان نه د جګړې پرته ونیو. امیر شیرعلي خان کله چې د دې پېښې نه خبر شو سمدلاسه یې د اردو په تنظیم لاس پورې کړ خو هغه د خپل وراره سردار عبدالرحمن خان نه د ۱۸۶۶ کال د می په میاشت کې په شیخ اباد کې، د ۱۸۶۷ کال د جنوري په میاشت کې د غلجیو په کلات کې او د همدې کال په سپتمبر کې د الله داد کوهستاني په کلا کې ماتې وکړه او هرات ته لاړ شو او هغه یې د خپلو وروڼو په وړاندې په مرکز باندې بدل کړ.

په کابل کې سردار محمدافضل خان او د هغه د مړینې وروسته سردار محمداعظم خان د ۱۸۶۶ د می نه تر ۱۸۶۸ کال د اکتوبر تر میاشتې پورې د امیر په نومونو په کابل کې واکمن شول خو امیر شیرعلي خان هم ځان امیر باله. په ترکستان کې د امیر بل ورور سردار فیض محمد خان د کابل سره په مخالفت کې خپلواکه واکمني چلوله. په دې توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لنډه موده کې درې حکمرانان یو مهال په هېواد کې واکمن وو.

امیر شیرعلي خان د خپل زوی سردار محمد یعقوب خان په مشرۍ د ۱۸۶۸ کال د اګست په میاشت کې په کندهار برید وکړ او هغه یې د امیر محمداعظم خان د زامنو نه چې د کندهار خلک د دوی د زور زیاتي نه تر پوزې راغلي وو ونیو. امیر شیرعلي خان هم د هرات نه کندهار ته راغی. په دغه وخت کې سردار محمداعظم خان د امیر شیرعلي خان سره د ډغرو وهلو له پاره غزني ته راغی. دغه وخت په کابل کې یو شمېر سردارانو د سردار محمدامین د زوی په مشرۍ د سردار محمداعظم خان پر ضد پورته شول او کابل یې د امیر شیرعلي خان په نوم ونیو. امیر محمداعظم خان په غزني کې د یوه لږ مقاومت وروسته د زرمتو له لارې ترکستان ته وتښتېد او هلته د خپل وراره سردار عبدالرحمن سره یو ځای شو. امیر شیرعلي خان د ۱۸۶۸ کال په اکتوبر کې کابل ته راغی او په ۱۸۶۹ کال کې د سردار محمد اعظم خان او سردار عبدالرحمن وروستی مقاومت د امیر شیرعلي په بري پای ته ورسېد او محمداعظم خان او عبدالرحمن د غزني، زرمت، وزیرستان، بلوچستان، سیستان د لارې د ۱۹۶۹ کال د جولایي په میاشت کې مشهد ته ورسېدل او سردار محمداعظم خان تهران ته د تګ په لار کې مړ او سردار عبدالرحمن سمرقند ته لاړ او هلته یې یوولس کاله په تبعید کې تېر کړل. په دې توګه د امیر شیرعلي خان د واکمنۍ لومړۍ دوره د خپلو ورونو او ترونو سره په شخړو کې تېره شوه او د لنډې مودې له پاره د واک نه ولوېد. دغه جګړې چې څلور کاله اوږدې شوې په پای کې امیر شیرعلي خان بریالی شو او دوهم ځل واکمن شو.

## کاکړ او د امیر شیرعلي خان دوهمه واکمني

امیر شیرعلي خان د دوهمې واکمنۍ د لسیزې په جریان کې د خپل قدرت د ټینګښت په وړاندې د کورنیو ستونزو او د بهر نه د امنیت د ننګونو سره مخامخ و. په بخارا کې د ده سیالانو سردار عبدالرحمن خان او سردار اسحق خان د بخارا د امیر مظفر او روسي نیواک ګرو سره د امیر پر ضد په دسیسو بوخت وو. د ۱۸۶۹ کال په جولایي کې سردار اسحق خان د یوه لښکر سره د امو د رود نه راتېر شو او په اقچه یې برید وکړ او بیا د بلخ په لور وړاندې لاړ خو د امیر د ګورنر له لوري یې ماته وکړه او په منډه د امو د رود نه واوښت.

دا وخت د امیر شیرعلي خان د پلان په وړاندې چې خپل کشر زوی عبدالله جان خپل ځای ناستی کړي د هغه مشر زوی محمد یعقوب خان پاڅون وکړ. هغه په ۱۸۷۱ کال کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل سکه کشر ورور محمد ایوب خان سره یوځای هرات په خپل لاس کې ونیو. خو منځګړو پلار او زوی سره پخلا کړل او امیر خپل زوی محمد یعقوب خان د هرات د والي په توګه وټاکه. خو هغه بیا دوه کالا ورسته پاڅون وکړ کله چې امیر شیرعلي خان عبدالله جان د خپل ځای ناسي په توګه وټاکه. هغه په خپل پاڅون کې پاتې راغی او کابل ته راوغوښتل شو او هلته امیر بندي کړو چې پوره پنځه کاله یې په بند کې تېر کړل. د برتانیا ګورنر جنرال لارډ لاورنس هڅه وکړه چې امیر او زوی سره پخلا کړي خو دا هڅه ناکامه شوه چې د امیر په احساساتو یې منفي اغېز وکړ. زما په اند دا د امیر تېروتنه وه چې د خپلو زامنو په حق یې سترګې پټې کړي او یوه کورنۍ نانډرۍ یې په خپلو ستونزو ورزیاته کړه.

کاکړ وایي چې امیر شیرعلي خان د ځای ناستي په ټاکلو کې چې د افغانستان په سیاست کې اساسي موضوع ده لویه تېروتنه وکړه. دغې تېروتنې د افغانستان تمامیت ته زیان واړاوه او د ده د کورنۍ واکمنۍ د نسکورېدو زمینه یې برابره کړه. امیر شیرعلي خان په ۱۸۷۲ کال کې خپل کوچنی زوی شاه زوی عبدالله جان چې دا مهال لس کلن و د عامو د غوښتنې، د افغانستان د سیاسي واقعیتونو او د خپل مشر زوی محمد یعقوب خان د کارنامو، چې د مصیبت په وخت کې ترسره کړې وې د په نظر کې نیولو پرته خپل ځای ناستی وټاکه. ده دغه واقعیت په نظر کې ونه نیو چې په هم دغې موضوع د ده امارت ته ننګونه (چلنج) ورکړ شوې وه. ښکاره ده چې امیر په دې موضوع کې د خپلې ځوانې محمدزایي مېرمنې بي بي عایشې تر اغېز لاندې تللی و.

په دغه وخت کې چې د امیر دوست محمد خان زامن او لمسیان په خپل منځې شخړو بوخت وو روسیې په منځنۍ اسیا کې ډېر پرمختګ وکړ او د ترکمنو د ځینو سیمو پرته د افغانستان پولې ته راورسېدل. امیر شیرعلي خان ته دا پرځای وېره پیدا شوه چې د روسیې د بل برید موخه به د ده هېواد وي. نوموړي امیر د دغه ګواښ د مخنیوي له پاره وپتېیله چې له یوې خوا د کور د ننه خپل دولت ټینګ او غښتلی کړي او د بلې خوا د هند د برتانوي حکومت ملاتړ ترلاسه کړي. له دې امله په ۱۸۶۹ کال په لومړیو کې امیر شیرعلي خان په رسمي توګه برتانوي هند ته سفر وکړ او په امبله کې یې د ویسرا لارډ مایو سره وکتل چې تود هرکلی یې وشو خو لارډ مایو د روسیې له لوري د امیر پر ځای وېره سمه ونه بلله. لارډ مایو امیر ته ډاډ ورکړ چې افغانستان ته د روسیې له لوري ګواښ نه شته. هغه امیر ته وسلې ورکړې او د پوځ د روزنې له پاره یې یو شمېر چارپوهان هم ورکړل. امیر چې بېرته وطن ته راستون شو د لارډ مایو د دغه ډاډ له امله یې په عصري بڼه په پراخو سمونونو لاس پورې کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امیر شیرعلي خان لومړی په عصري بڼه دایمي او منظم اردو تنظیم کړ چې د خپلې واکمنۍ په پای کې شمېر ۵۶۰۰۰ ته ورسېد چې د پلي، سوارو او توپچي څانګې یې درلودې. جنرال ف. رابرتس چې په کابل کې د انګلیس د نیواکګر پوځ قوماندان و لیکي: «افغان توپچي قوې نړدې درې سوه توپونه درلودل.»۲۶۴

امیر شیرعلي خان د مشورې پخوانی دود بیا را ژوندی کړ او د احمدشاه دراني وروسته دی لومړی واکمن و چې یوه مشوراتي شوری یې د پوځي افسرانو او ملکي مشرانو نه جوړه کړه چې دوولس غړي یې درلودل. دا شوری یوازې مشوراتي وه خو په بهرني سیاست کې یې د دې شوری سره مشوره نه کوله.

امیر شېرعلي خان رسمي اداره پراخه کړه او د دود پرخلاف یې لوړ منصبونه غېر خانداني کسانو ته ورکړل. امیر شیرعلي خان سید نورمحمد شاه کندهاری د لوی مختار یاني صدراعظم، حبیب الله وردګ د مالیې وزیر ، عصمت الله جبارخېل د کورنیو چارو وزیر ، ارسلا خان جبارخېل د بهرنیو چارو وزیر، په توګه وټاکل او ملا شاه محمد کتب خېل، او قاضي عبدالقادر یوسفزی یې هم د کابینې غړي وو.

د امیر شیرعلي خان بل مهم سمون دا و چې پښتو یې د لومړي ځل له پاره د هېواد ملي او رسمي ژبه اعلان کړه. لکه چې د مخه مو یادونه وکړه امیر شېرعلي خان یو منظم او دایمي اردو جوړ کړ چې شمېر یې شپږ پنځوس زرو ته رسېده چې د محمدزایي سردارانو ځای پښتو ویوونکو غېر محمدزایي پښتنو ونیو. په دې توګه د ملکي او نظامي چارو د اغېزمن چلند له پاره پښتو ته اړتیا پیدا شوه. پوهاند کاکړ کرد سره سم وایي چې امیر شېرعلي خان د نورو سمونونو په څنګ کې د پښتو د رسمي کولو له پاره کوښښ دا څرګندوي چې د ده ملي شعور ډېر غښتلی او پیاوړی و. پښتو ته د دغې اړتیا او په خپله د امیر نوی ملي شعور د دې لامل و چې غوښتل یې پښتو د یوې رښتینې ملي ژبې په توګه وده او پرمختګ وکړي او د فارسي ځای ونیسي. د دغه مقصد له پاره د پښتو کتابونو لیکل او ژباړل پیل شول، د پښتو سیند (قاموس) د لاربنود په توګه حتمي شو، عسکري تعلیم نامې په پښتو ژبه برابرې شوې، واړه او لوی ماموران په القابو وویاړل شول او په پای کې د پښتو بولې (قوماندې) د افغان جنګیالیو د ګڼو صنفونو له پاره جوړې شوې. لیتوګرافي مطبعه په کابل کې په کار ولوېده او د شمس النهار اخبار په همدغې مطبعې کې چاپ شو. د قاضي عبدالقادر له خوا «قواعد پلټن پیاده» په پښتو وژباړل شو چې تشریحات یې په پاړسو وو. علم قواعد لشکر د دریا خان نیازي له خوا، قواعد عسکري د محمد ابراهیم له خوا ولیکل شول. «دغه مشکور واکمن ځان ژر په داسې حال کې وموند چې ادعا وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې پښتو د هغه د هېواد والو ملي ژبه شوې وه. د دغه امیر په نظر فارسي امانتي بڼکې وې.»۲۶۵ د غوث خیبري په اند د امیر شیرعلي خان له خوا د پښتو ژبې د رسمي کولو اصلي موخه د ایران د فرهنګي ښکېلاک د ماتولو په لور یو اغېزمن ګام و.۲۶۶

د کاکړ په وینا هغه سړی چې د امیر شیرعلي خان سره یې د سمونونو په تېره د پښتو د رسمي کولو په اړه اساسي مرسته وکړه هغه قاضي عبدالقادر یوسفزی و چې یو عالم، شاعر، لیکوال او ژباړونکی و. کېګدای لیکي چې قاضي عبدالقادر داسې کتابونه تألیف کړل چې د درې ګونو پوځي ټولګیو یاني سپرو، پیاده او توپچي له پاره بولې ګانې وضع شوې او پوځي قوماندې د انګرېزي نه وژباړل شوې او په پاړسو کې تشریح شوې وې. د ده یوه ژباړه قواعد عسکري لسان افغاني نومېږي او ۳۸۲ مخه لري.۲۶۷ برسېره پردې امیر شیرعلي خان د ښوونځیو پرانېستل، د شمس النهار د جریدې خپرول او نور سمونونه یادولی شو. د کاکړ په وینا دا چې ځینې کسان وایي چې امیر شیرعلي خان سمونونه د هغه پلان له مخې پلي کړل چې سید جمال الدین افغان ورته تهیه کړی و، رښتیا نه دي. رښتیا دا دي چې امیر شیرعلي خان د مخه تر دې چې د سمونونو په پلي کېدو پیل وکړي سید جمال الدین د ۱۸۶۸ کال د سپتمبر په دولسمه نېټه د کندهار د چمن له لارې هندوستان ته شړلی و. شیرعلي خان لا هغه وخت د خپل پلار سره ملګری و چې پلار یې په برتانوي هند کې پراري و او هغه وخت یې د انګرېزانو پرمختګ په خپلو سترګو لیدلی و او هلته د خپل هېواد د پرمختګ او عصري کولو فکر ورسره پیدا شوی و. امیر شیرعلي خان امبالې ته د لارډ مایو د کتنې نه د راستنېدو پر مهال نه یوازې د برتانوي هند نه د سمونونو زیاتې طرحې وطن ته راوړې، بلکې د ځان سره یې یو شمېر کارپوهان راوستل. بیلیو وایي چې «امیر شیرعلي خان ډېرې زیاتې د سمونونو طرحې هم له ځان سره وطن ته یوورې.»۲۶۸ امیر شیرعلي خان نیت درلود چې سیستان چې پارسیانو نیولی و بیا د افغانستان سره یوځای کړي او هغه هېواد ته یې د جګړې ګواښ وکړ. خو انګرېزانو د جګړې د مخنیوي له پاره د سیستان د موضوع د هواری په موخه د دواړو هېوادو تر منځ د منځګړیتوب وړاندیز وکړ چې د دواړو لورو له خوا ومنل شو. د انګلستان پلاوی د برید جنرال ګولډ سمیت په مشرۍ سیستان ته راغی. د ایران له لوري میرزا معصوم خان او د افغانستان له خوا سید نورمحمد شاه نماینده ګان ټاکل شوي وو. که څه هم سیستان له جغرافیوي او تاریخي نظره د افغانستان خاوره وه او ساکا هم د لرغوني افغانستان خلک وو، خو د سیستان په خاوره د پارسیانو ادعا د ژبې له نظره وه او د هغه تاریخي ویاړونه یې د ځان بلل. انګرېزانو د افغاني سیستان یوه برخه د ګولډ سمیت د ناعادلانه منځګړیتوب په اساس

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایران ته ورکړه.

امیر شیرعلي خان په دې پرېکړه له انګرېزانو نه بېزاره شو او د انګرېزانو سره یې اړیکې ډېرې خرابې شوې چې بیا هېڅکله ښې نه شوې. د بیلو په وینا انګرېزانو وروسته له دې امیر شیرعلي خان ته د هرشي خواست وکړ هغه رد کړ په پای کې خبره دې ځای ته ورسېده چې په ۱۸۷۸ کال کې د افغانستان او انګلیس دوهمه جګړه پیل شوه.

## کاکړ او د افغان- انګلیس دوهمه جګړه

لکه چې د مخه مو یادونه وکړه امیر شیرعلي خان داسې مهال واکمن شو چې د لومړي ځل له پاره دوې سترې نیواکګرې امپراتورۍ یانې لویه برېتانیا او تزاري روسیه زموږ ګاونډیانې شوې. زموږ هېواد وروسته له دې چې لویه برېتانیا په ۱۸۴۹ کال کې کله چې په پنجاب کې دسیکانو خالصه حکومت نسکور شو د ختیځ له لوري او روسیه د ۱۸۶۰ په لسیزه کې چې تزاري روسې په منځنۍ اسیا کې لوی پرمختګ وکړ د شمال له لوري همپوله شوه او د دغو امپراتوریو د حکومتونو تر فشار لاندې شو. د فارس قاجاري دولت په هرات او سیستان باندې پر خپلې ادعا ټینګار کاوه. امیر شیرعلي خان د دغو دوو امپراتوریو د سیاست قرباني شو او افغانستان د ده په واکمنې کې د برېتانیې د برید لاندې راغی او د ده نوی نیمه عصري حکومت نسکور شو او د ملي مقاومت یوه اوږده دوره پیل شوه.

د ۱۸۷۷ کال وروسته د برېتانیا د توري ګوند د بنجامین ډیزرایلي په مشرۍ په منځنۍ اسیا کې د روسې د پرمختګ په وړاندې دښمنانه دریځ غوره کړ، په دغه وخت کې روسیه د عثماني ترکیې سره په جګړه بوخته وه او ان د ترکیې پلازمینه قسطنطنیه یې ګواښوله. برېتانیا د ترکیې ملاتړ کاوه ځکه چې هندوستان ته د برېتانیې د اوبو لار په خطر کې وه. له دې امله انګلستان حکومت اعلان وکړ چې د روسې له خوا د قسطنطنیه د نیولو په صورت کې به برېتانیا د فارس خلیج ته پوځونه واستوي تر څو روسیه په اسیا کې د برید لاندې ونیول شي او روسان د منځنۍ اسیا نه بېرته دکسپین سمندرګي ته وشړي. برېتانیا په دې منظور لارډ لیټن د دې سیاست د پلي کولو له پاره هند ته د نوي ویسرا په توګه ولېږه.

لیټن په دې باور و چې د دې موخې د پلي کولو له پاره او د هند د ساتنې له پاره یوې دفاعي کرښې ایستلو ته اړتیا شته. د ده په اند هغه پوځي او ستراتیژیکه لیکه چې باید د برتانوي هند په لاس کې وي له پامیره تر بامیانه د هندوکش په امتداد او د هغه ځایه تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



سووېل د هلمند، ګرشک، کندهار تر عربو سمندرګي پورې امتداد ولري وایستل شي. دا یې د داخلي لیکې په نوم یاده کړه. بهرنۍ لیکه یې د امو رود یاد کړ. څنګه چې دا پروژه په افغانستان کې پلې کېده نو دا د دوو لارو باید شوی وای. لومړۍ لاره دا وه چې افغانستان ته مراجعه وشي او د هغوی سره موافقه ته رسېدل او یا د افغانستان د امیر سره اتحاد کول، د ځینو امتیازاتو په ورکولو لکه د خاندانی واکمنۍ ضمانت، د بهرني تیري په وړاندې د افغانستان ساتنه، د سنجول شوو پیسو ورکول او د بهرنۍ خپلواکۍ سلبول. دوهمه لار دا وه چې که امیر د لومړۍ لارې سره مخالفت وکړي نو نوموړی باید د واک نه لیرې شي او یو بل سړی چې د دوی شرایطو منلو ته تیار وي د هغه په ځای واک ته ورسوو.

د لیټن د شېوې اساسي ټکي چې د لندن په لاربښوونه د افغانستان په اړه په ښکاره ټکو کې بیان شول د لیټن د تېزس په نوم یاد شو. په دې روحیه د هند برتانوي حکومت د امیر شیرعلي خان سره چلند اختیار کړ پرته له دې چې د افغانستان د خلکو ارزښتونه او د دې هېواد واقعیتونه په نظر کې ونیسي.

هند ته د لیټن د راتګ وروسته د امیر سره د خبرو اترو موضوع د یو شمېر لیکونو په ذریعه تعقیب شوه چې په پای کې د جنوري د دېرشمې نه د مارچ تر پایه نږیواله غونډه د امیر د استازي سید نورمحمد شاه او د لیټن استازي سر لوی پیلې تر منځ په پېښور کې جوړه شوه. د غونډې موضوع ګانې د لیټن د لیکونو په روحیه ټاکل شوې چې مهم ټکي یې دا وو: د امیر سره د یوه تیري کونکي او دفاعي تړون کول، د کورني او بهرني تیري په وړاندې ضمانت او د خانداني واکمنۍ ساتنه، د تنخواه ورکول، د شاه زوی عبدالله جان ځای ناستی په رسمیت پېژندل او د شمالي پولو ټینګښت په کې شامل وو. د دې په بدل کې د امیر نه انګلیسانو غوښتل اصلي انګرېزان په سرحدي سیمو او په ځانګړي توګه هرات کې ومني او په بهرنیو چارو کې د برتانوي هند په مشوره عمل وکړي او د روسیې سره هېڅ ډول مراوده ونه کړي. د امیر استازي سید نورمحمد شاه د لیټن د دې وړاندیزونو سره سر خوځولی نه شو خو په پای کې یې څرګنده کړه چې د دغو شرایطو د ردولو او یا منلو په اړه ځانګړې لاربښوونه ورته نه ده شوې. لیټن د مارچ په پنځلسمه نېټه غوښتنه وکړه چې کابل د اتحادي تړون غوښتونکی دی که نه؟ څرنګه چې د نورمحمد شاه له لوري یې د قناعت وړ ځواب تر لاسه نه کړ خپل استازي یې له غونډې وایستلو بیا د مارچ په شپږویشتمه نېټه سید نورمحمد شاه د دې نړۍ نه سترګې پټې کړې او لیټن د نورمحمد شاه د مړینې په پلمه غونډه په رسمي توګه پای ته ورسوله سره له دې چې د امیر بل استازی حبیب الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



وردګ پېښور ته روان و او «دغه استازي واک درلود چې په پای کې د برېتانيا د حکومت ټول شرايط ومني.»۲۶۹

د پېښور د غونډې د ناکامۍ نه وروسته د ليټن چلند د امير سره نور هم سخت شو. هغه خپل هندي استازی غلام حسين د کابل نه بېرته وغوښت او نور حاضر نه و چې د امير سره خبرې بيا د سره پيل کړي خو يوازې په يوه شرط چې امير د خبرو اترو غوښتنه وکړي مخکې له مخکې د برېتانيا شرايط ومني او د خپل نوي چلند له امله بخښنه وغواړي.

د مخه مو يادونه وکړه چې د انګليس منځګړي ګولډ سميت په غير عادلانه توګه د افغاني سيستان يوه برخه ايران ته ورکړه. امير شيرعلي خان د انګليسانو نه د جکوب اباد په تړون هم خواشينی و چې د هند حکومت په ۱۸۷۶ کال کې د کلات د خان سره کړی و او د هغه له مخې يې په ۱۸۷۹ کال د نومبر په مياشت کې کويټه ونيوله او د کندهار ښار يې تر ګواښ لاندې ونيو او بيا يې د واخان مير ته د امير د اجازې پرته ډالۍ واستولې.

د مخه مو دا يادونه هم وکړه چې د ۱۸۷۸ کال د مارچ په مياشت کې د روسيې او برېتانيا تر منځ د ترکيې په سر اړيکې خړې پړې شوې. روسيه چې د ترکيې سره په جګړه بوخته وه او د ترکيې پلازمينه قسطنطنيه يې ګواښوله برېتانيا د ترکيې په ملاتړ د هندوستان نه خپل پوځونه د مالټا جزيره ته د ترکيې د مرستې له پاره ولېږل. روسيې د دې په وړاندې په منځنۍ اسيا کې په پوځي مانورو لاس پورې کړ چې برېتانيا اړه کړي چې د مالټا نه خپل پوځونه بېرته راستانه کړي. په دې منظور يې همهغه کال يو پوځي پلاوی د جنرال ستاليتوف په مشرۍ پر کابل وتپلو او دا پلاوی د اګست په ۹ نېټه د کابل ښاوخوا ته ورسېد که څه هم د روسيې او برېتانيا تر منځ اختلافات لا د مخه د جولايي د مياشتې په منځ کې د برلين د غونډې په پايله کې حل شوي وو او د يوه ليک په ترڅ کې د جنرال کافمن له خوا د روسيې پلاوي مشر ستاليتوف ته د مخه تر دې چې کابل ته ننوزي د هغو خبر رسېدلی و. په دغه ليک کې ستاليتوف ته لارښوونه شوې وه چې څرنګه د روسيې او برېتانيا تر منځ اختلافات د برلين په غونډه کې حل شوي دي نو «د غوږ ګام او لوزونو نه ډډه وکړئ او په عمومي توګه دومره مخته مه ځئ لکه چې بايد د مسالې د پرعکس حالت کې مخته تللی وای.»۲۷۰ ستاليتوف د اګست په ۱۳ او څورلسمه نېټه د امير شيرعلي خان سره وکتل او يو تړون د دوی تر منځ وشو چې اصلي متن يې تر اوسه نه دی ليدل شوی خو پوهاند کاکړ په خپل کتاب کې هغه متن چې جنرال رابرټس ته رييس ميرزا محمد نبي خان د ياده ويلی راوړی دی.

ليټن وروسته له دې چې د هند په چارو کې د وزير کرين بروک نه اجازه تر لاسه کړه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اګست په ۳۰ نېټه غلام حسین خپل پخوانی استازی کابل ته ولېږه او د یوه لیک له مخې یې د امیر نه وغوښتل چې یو انګلیسي پلاوی په کابل کې ومني. لیټن د سر نیوال چمبر لین په مشرۍ یو پلاوی افغانستان ته ولېږه او غوښتنه یې دا وه چې امیر باید روسي پلاوی سمدلاسه رخصت کړي او د چمبرلېن سره ترون لاسلیک کړي. انګلیسي پلاوی د سپتمبر په ۲۰ نېټه جمرود ته ورسېد او افغان پوله ساتونکي جنرال فیض محمد خان یې افغانستان ته د ننوتو مخنیوی وکړ او لیټن د افغانستان پر ضد د جګړې پرېکړه وکړه. خو بیا هم لیټن د لندن په موافقه د نومبر په دوهمه نېټه کابل ته التیماتوم واستولو چې په هغه کې د امیر نه غوښتنه شوې وه چې د برېتانیا د پخواني پلاوي له امله بخښنه وغواړي او هغه ته یې ګوتڅنډنه وکړه چې که د نومبر د شلمې نېټې پورې د پلاوي د منلو مثبت ځواب را نه کړل شي د برېتانیا پوځونه به افغانستان ونیسي.

کاکړ وایي چې په دې توله موده کې امیر شیرعلي خان د ستالیتوف په مشوره کار کاوه او هغه امیر ته مشوره ورکړې وه چې د چمبرلېن پلاوی ونه مني. په خپله ستالیتوف د اګست په ۲۳ نېټه د کابل نه تاشکند ته روان شو خو د پلاوي غړي یې په کابل کې پاتې شول. ستالیتوف د کابل نه د روانېدو پر مهال د امیر سره ژمنه وکړه چې دی به د ۳۰۰۰۰ لښکر سره بېرته راوګرځي. ستالیتوف په ۲۱ سپتمبر د یوه لیک په ترڅ کې د امیر سره د مرستې ورکولو په اړه د خپل بري خبر ورکړ. شیرعلي خان د روسیې په ژمنو باور وکړ او دا فکر یې ونه کړ چې یوازې به پرېښودل شي. د نومبر په ۱۹ نېټه امیر شیرعلي خان د کافمن لیک تر لاسه کړ چې په هغه کې ورته توصیه شوې وه چې د برېتانیا سره هوکړه وکړي. په دې توګه امیر شیرعلي خان بله تاریخي تېروتنه وکړه او د روسیې د سیاست په لومه کې بند شو او د ده د کورنۍ واکمنۍ د راپرزېدو او د افغانستان د خاورې بشپړتیا ته زیان واوښت او د هېواد بهرنۍ سیاست د انګرېزانو په لاس کې ولوېد.

امیر شیرعلي خان په همغه ورځ لیټن ته لیک واستوه چې حاضر دی د برېتانیا وړوکی موقتي پلاوی په کابل کې ومني. دا لیک د نومبر په ۲۹ نېټه په ډاکه کې دانګلیس مامورینو ته ورسېد. خو تر دغه وخته لیټن د افغانستان په وړاندې د جګړې اعلان کړی و.

لارډ لیټن چې د «پرمختګ د پالیسی» (Forword policy) یو کلک پلوي و د ۱۸۷۸ کال د نومبر په یووشتمه نېټه په دې پلمه چې امیر شیرعلي خان د دوی پلاوی نه دی منلی انګرېزي پوځونو ته امر وکړ چې په افغانستان باندې د خیبر، کورمې او بولان له لارې په ترتیب سره د جنرال برون. جنرال رابرټس او جنرال ستیورات تر قوماندې لاندې یرغل وکړي. امیر شیرعلي خان سره له دې چې ۵۶۰۰۰ زره منظم اردو درلود چې په نویو وسلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سنبال و او همدارنګه د افغان زړور خلکو ملاتړ چې د پرديو د تيري په وخت کې د خپلو مهمو ارزښتونو لکه د وطن، ازادۍ او دين د ساتنې له پاره د خپلو مشرانو څنګ ته کلک درېږي درلود د دې پر ځای چې د انګليسانو پر ضد يې توري ته لاس اچولی وای د جګړې نه ډډه وکړه او انګرېزي پوځ د کندهار، جلال اباد او کابل ښارونه ونيول. دا د امير شيرعلي خان يوه بله تېروتنه وه.

امير شيرعلي خان خپل زوی سردار محمد يعقوب خان د بنديتون نه ايله کړ، خپل ځای ناستی يې وټاکه، خپل اردو او حاکمانو ته يې لارښوونه وکړه چې د انګليس د پوځ په وړاندې جګړه ونه کړي او په خپله د روسيې نه د پوځي مرستې په هيله مزار ته روان شو. «کله چې امير د روسي پلاوي د پاتې غړو په ملتيا مزار ته راورسېد هغه زر پوه شو چې دی د روسانو له خوا د يوې الې په څېر د برتانويانو سره په سيالۍ کې کارول شوی دی... امير د ډېرې زياتې ناهيلۍ سره، د فزيکي او روحي ناکاميو له امله د ډوډۍ خوړلو او دوا کارولو نه ډډه وکړه او د ۱۸۷۹ کال د فبروري په ۲۱ نېټه د ۵۶ کالو په منګ مړ شو.»۲۷۱

## د امير محمد يعقوب خان واکمني او د ګندمک تړون

د امير شيرعلي خان د مړينې وروسته د ۱۸۷۹ کال د فبروري په ۲۶ نېټه د بالاحصار په شاهي جومات کې د سردار محمد يعقوب خان په نامه خطبه وويل شوه او په دې توګه نوموړي د افغانستان د امير په توګه د واک واګې په لاس کې ونيوې.

په امير محمد يعقوب خان باندې په همغو لومړيو ورځو کې زور راغی چې د يرغلګرو پر ضد وجنګيږي خو امير ونه منله او د ۱۸۷۹ کال د می د مياشتې په دوهمه نېټه د داودشاه سپا سالار، مستوفي حبيب الله وردګ او ۲۵ محمدزايي سردارانو په ملګرتيا ګندمک ته روان شو او د می په اتمه نېټه هلته ورسېد. د امير محمد يعقوب خان او د انګليس سياسي استازي مېجر کيوګناري، چې د امير نه لا د مخه ګندمک ته رسېدلی و، تر منځ د می تر اولسمې نېټې پورې د تړون د موادو په اړه خبرې اترې وکړې.

امير محمد يعقوب خان د خبرو اترو په جريان کې حاضر نه و چې د افغانستان نه هېڅ برخه بيله شي او د برتانوي هند حکومت بايد هغه حالت ومني چې تر دې د مخه د افغانستان او د برتانيې تر منځ موجود و. خو وروسته له هغې چې کوګناري ګواښ وکړ چې که د انګليسانو شرايط ونه منل شي نو افغانستان به د نقشې په مخ دوام ونه مومي، امير د کوګناري غوښتنې ومنلې. کوګناري ليټن ته خپلې خبرې نقل داسې کړې دی: «ما يعقوب خان ته وويل چې دا به د ده يعقوب خان په خاطر وي چې افغانستان به د نخښې پر مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوام ومومي.»۲۷۲

په دې ترتیب سره د ۱۸۷۹ کال د می د میاشتې په شپږویشتمه نېټه د ګندمک په سپینه تیږه (سفید سنګ) سیمې په یوه کلي کې د ګندمک تړون لاسلیک شو. د ګندمک په تړون کې ټول هغه شرایط ځای شول چې لیټن غوښتل په امیر شیرعلي خان یې ومني او نور مواد وربانديې زیات شول. د کاکړ په وینا امیر د افغانستان [سیاسي] خپلواکي انګلیسانو ته وسپارله او ژمنه یې وکړه چې د هېڅ هېواد سره به د دوی د مشورې پرته اړیکې نه ټینګوي، انګلیسي استازي به په افغانستان کې د اوسېدو اجازه لري او د هغوی ساتنه به د امیر په غاړه وي، د انګلیس حکومت ژمنه کوي چې د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کوي، پر افغانستان باندې باندینی تیری به چې دوی ته موزون مالوم شي په پیسو، وسلې او یا په پوځي ځواک سره دفع کوي او د افغانستان نه خپل پوځونه باسي. نیولې شوې سیمې بېرته افغانستان ته ورکوي خو کرمه، سیبي او پیشین په خپل لاس کې ساتي. دا سیمې به په افغانستان پورې اړه ولري خو اداره به یې انګلیسي کارکوونکي پر مخ بیایي.د دې په بدل کې به امیر ته شپږ لکه روپۍ ورکوي. امیر ژمنه کوي چې هغو افغانانو ته به بخښنه کوي چې د جګړې پر مهال یې د انګرېزانو سره مرسته کړې ده.

## د امیرمحمد یعقوب خان اقدامات

د ګندمک د تړون سره سم د برېتانیا سیاسي پلاوی د سر لوی کوګناري په مشری د کرمې او لوګر له لارې د ۱۸۷۹ کال د جولای په ۲۴ نېټه په شاندارو مراسمو سره کابل ته راغی. کوګناري په عمل کې د کابل واکمن شو.

د انګلیسي پلاوي د راتګ نه وروسته د هرات نه کابل ته شپږ پلي ټولګي راورسېدل چې د بېلو بېلو قومونو او سیمو نه وو. دوی کابل ته د رارسېدو سره سم د تیکو نه د ایستلو تورو سره د کابل په سړکونو مارش وکړ او د انګلیس ضد شعارونه یې ورکول. په واقعیت کې د انګلیس سره د دغو سرتېرو د مخالفت د احساساتو سرچینه سردار محمدایوب خان و چې د ګندمک د تړون مخالف و.

د ۱۸۷۹ کال د دسمبر په دریمه نېټه افغان پوځ د کابل د خلکو په ملاتړ پاڅون وکړ چې په پایله کې د کابل په بالاحصار کې د انګلستان سیاسي استازی کوګناري د ورسره ملګرو سره یو ځای د منځه یووړل.

انګلیسانو ته چې د کیوناري د مړینې خبر ورسېد انګلیسي پوځ بیا په افغانستان یرغل وکړ. جنرال رابرټس د ۶۰۰۰ نه تر ۷۰۰۰ پوځ سره د پیواړ د کوتل له لارې په افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېرې پیل کړ. ستیوراټ ته لارښوونه وشوه چې په کندهار کې خپل پوځ وساتي او د خیبر پوځ هم غښتلی شو او زیات احتیاطي پوځ یې شا ته تیار شو. د رابرټس پوځ په چاراسیا کې د لنډ مقاومت وروسته په بالاحصار کې میشت شو.

## د انګلیس پوځي حکومت

انګرېزانو د یرغل په دوهمه مرحله کې امیر محمد یعقوب خان استعفا کولو ته اړ کړ او برتانوي هند ته یې پرار کړ. بل ګام یې د غچ اخېستلو په موخه بالاحصار وسوزاوه او د پاڅون ګډون کوونکو زندۍ کولو ته یې ملا وتړله.

انګرېزانو د هغو افغانانو نه چې د سفارت په سوځولو کې یې ونډه اخېستې وه د غچ په موخه هر هغه چا ته د پنځوسو روپیو جایزه ورکوله چې هغوی ورته وښیي.«د ښار په قزلباشو کې ډېرو دغسې جایزې تر لاسه کړې.»۲۷۳ محمود طرزي په خپلو خاطراتو کې لیکي چې د جنرال رابرټس لومړی کار په کابل کې دا شو: «چې د کوګناري د سوځېدلي کور په کنډوالو باندې دارونه وځړوي، چې په دغې پېښې کې ګډون کوونکي غرغره کړي. په اصل کې خلک هلته د ننداره کولو او چور کولو له پاره غونډ شوي وو. ځینې د جهاد کولو له پاره ورغلي وو. بې وجدانو مخالفانو چې زړونه یې له کرکې نه ډک وو او د چندول شیعه ګانو چې هغوی د جاسوسی په بدل کې انعام غوښته، له دغې موقع نه د ځان له پاره ګټه وکړه او بې ګناه خلک یې په ګیر کې ورکړل. نورو هم حق د یو څه ګټې له پاره همدغسې وکړل.»۲۷۴ طرزی زیاتوي چې «د نورو په کورونو کې مېلماستیاوې وې، دا هغه خلک وو چې د پېرنګیانو راتګ ته یې هرکلی ویلی وو او د هغو په خپلو خبرو « د دوی غمه خوړله شوې وه» دوی زیاتره شیعه او قزلباش وو، چې د ښار په مینځ کې په چندولو کې اوسېدل، چې شاوخوا یې ټینګ دیوال او خندق و. دوی په خپل فرقه یي تعصب سره نامسلمانان د مسلمانانو نه غوره ګڼل.»۲۷۵

## د لیټن له لوري د افغانستان د ټوټه کولو پلان

لیټن د کیوناري د مړینې وروسته د انګلستان صدراعظم ته ولیکل چې افغانستان دې د تل له پاره ټوټې شي او د برېتانیې، روسیې او پارس تر منځ ووېشل شي چې د نوي نظم په نوم ونومول شو. کندهار او د هغه ګاونډې سیمې دې سمدلاسه او د تل له پاره د برېتانیا امپراتورۍ سره یو ځای شي. موږ دا سیمه په اسانی سره ساتلی شو.» تر هندوکشه پورې سیمې دې بیلې او یو داسې افغان ته دې ورکړې شي چې د انګرېزانو پلوی وي. د هندوکش

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه لوري سيمې چې د هر چا له لوري اداره شي انګرېزانو ته بې توپيره ده ځکه چې ساتلې يې نه شو. هرات دې د ځينو شرايطو په منلو سره ايران ته ورکړل شي. د انګلستان حکومت د ليټن د «نوي نظم » د پلان نه پوره ملاتړ وکړ او د دسمبر په يوولسمه نېټه يې ليټن ته خبر ورکړ چې «د افغانستان د پخواني سلطنت له پاره د يوه واحد حکومت شتون نور شونی نه دی او د دوام هيله يې نه شته.»۲۷۶

## د دسمبر عمومي پاڅون

د انګرېزانو په وړاندې د دسمبر عمومي پاڅون وشو چې درې مرحلې لري:

۱-د دغه پاڅون لومړۍ مرحله د دښمن د دوهم يرغل نه پيليږي. څنګه چې د انګليسانو د نوي لښکر کښې خبر خپور شو چې د کابل پټو استازو د هېواد په ختيځو سيمو کې خلک مقاومت ته لمسول چې وسله پورته کړي او د بهرنيو ځواکونو په وړاندې ودريږي. ويل کيږي چې امير محمد يعقوب خان د مومندو، اپريدو او شينوارو قومونو ته ليکونه استولي و او د دوی نه يې غوښتي و چې سره راټول شي. د سپتمبر په ۱۷ نېټه د رابرټس استازي د پکتيا د غلزيو نه اوربدلي و چې امير دوی ته لارښوونه کړې چې ټول هغه سرکونه چې د کرمې علي خېلو نه د کابل سره نښلي پرې کړي. د کندهار نه د انګليس سياسي استازي خان جان خبر ورکړ چې د انګليس ځواکونو د مخنيوي خنډ نه شي خو خپل ځانونه د هغوی د موصلاتي لارو باندې د بريد له پاره تيار کړي. خو دا رسمي لمسونې وروسته له دې په ظاهر کې بندې شوې چې رابرټس ته علي خېلو استازی واستول شو او بيا امير د لوګر په خوشي کې انګليسانو ته ځان تسليم کړ او استعفا يې وکړه.

۲-د رسمي لمسونو د بندېدو وروسته د انګليسانو پر ضد د عمل نوښت د قومي مشرانو، مذهبي عالمانو، پوځي جنرالانو، ځينو دولتي کسانو او سردارانو چې په يعقوب زای سردارانو پورې يې اړه درلوده لاسته ولوېد. د ملا مشک علم له خوا منظمې لمسونې کېدې. جنرال محمد جان خان وردګ چې د وردګو په سيمو کې يې فعاليت کاوه غزني ته لاړ او هلته د ملا مشک عالم سره يو ځای شو. دوی دواړو په ګډه د وردګو، اندړو، تره کيو، سلېمانخېلو، وزيرو، ځدرانو او تاجکو خلکو سره خبرې وکړې او د غزا اعلام يې وکړ.

د کوهدامن او کوهستان خلک د مير بچه خان او سرور خان پرواني په مشرۍ په شيرپور باندې چې بهرنی لښکر په کې پروت و پر ضد بريد ته تيار شول او محمد عثمان د تګاو ساپی او د هغه جنګيالي ورسره يو ځای شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- کله چې لیرې شوی امیر محمد یعقوب خان د دسمبر په لومړۍ نېټه او بیا د هغه نږدې مشاورین سردار یحي خان، وزیر شاه محمد خان او سردار زکریا خان د دسمبر په اوومه نېټه هند ته پرار شول. تر دغه وخته د کابل نه د لیرو او نږدې سیمو خلک پر کابل باندې د برید له پاره تیار شوي وو.

کله چې د دسمبر په شپږمه نېټه رابرټس خبر تر لاسه کړ چې کوهستانیان په کابل د برید هوډ لري او ملا مشک عالم او جنرال محمد جان خان د خپلو جنګیالیو سره ارغندې ته را رسېدلي دي د دفاعي عملیاتو په اړه پرېکړه وکړه. د دې پرېکړې لامل دا و چې رابرتس ته پوره جوته وه چې د برېتانیا یو غښتلی اردو د جنرال الفنستون په مشرۍ څلوېښت کاله د مخه په دغه غرني هېواد کې افغان جنګیالیو د وزیر محمد اکبرخان په مشرۍ تباه کړې و. له دې کبله ده یو پوځي ټولګی تیار کړ چې د سوارو او توپچي نه جوړ و چې د چټکو عملیاتو په ترڅ کې به افغان جنګیالي تیت او وځپي. نوموړي یوه پوځي قوه د مېکفرسن تر قوماندانۍ لاندې د باغ بالا د کوتل له لارې د چاردهي د وادی په لور اوبل پوځي ټولګی یې د جنرال بېکر په قوماندانۍ د میدان په لور واستولو. په همدغه وخت کې یو پوځي ټولګی چې په جګدلک کې پروت و په بېړه کابل ته راوغوښت. مېکفرسن ته امر وشو چې د خیرخانې د کوتل له لارې په کوهستان او کارېزمیر برید وکړي. خو دغه وخت د ارغندې جنګیالیو داسې مقاومت وکړ چې د رابرتس پلان یې په بشپړه توګه ناکام کړ.

په دې توګه افغانان د ۱۸۷۹ کال د دسمبر د میاشتې په لسمه نېټه د نړۍ د یوه ستر ځواک سره په کلکه جګړه بوخت شول. کابل د سوویل- لوېدیځ او د شمال له لوري تر برید لاندې راغی. د لوګر، زرمتو، منګلو، ځدرانو خلک د سوویل له لوري د جنرال غلام حیدر خان څرخي په مشرۍ، د کوهدامن خلکو د شمال له لوري د میر بچه خان او غلام محمد سرور پرواني په مشرۍ او د میدان وردګو او غزني خلکو د لوېدیځ له لوري د جنرال محمدجان خان وردګ په مشرۍ په کابل برید وکړ.

د جنرال محمدجان خان وردګ جنګیالي د ارغندې نه قاضي کلا ته راغلل او د انګلیس پوځیانو هغه هڅې یې ناکامه کړې چې غوښتل یې د جنرال محمدجان خان لښکر دواړه خواوې کلابندې کړي. محمدجان خان وردګ په هر ځای کې د دښمن پوځ ته ماتې ورکړه او په چټکۍ سره یې دهمزنګ او کابل ته ځان ورسولو. محمدجان خان ناڅاپه خپل پلان چې په شیرپور برید وکړي بدل کړ او پرېکړه یې وکړه چې د شیر دروازې او د کابل لوړې ونیسي. د محمدجان خان دغې تېروتنې رابرټس ته دا موقع ورکړه چې د شیرپور د چاونۍ نه د باندې انګلیس پوځیان چې د افغان جنګیالیو د ځپونکو ګوزارونو له امله

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرې خواته په منډو ووځان شېرپور ته ورسوي او ځان وژغوري. په اسمايي غره او بالاحصار کې انګليسي قواوې چې د افغانانو په وړاندې يې جګړه کوله ورو ورو د بيلو بيلو خواوو نه د افغان جنګياليو سره د نويو خلکو د يو ځای کېدو وروسته انګرېزان اړ شول چې د ځان خوندي کولو په موخه د شېرپور چاونۍ ته وتښتي او هلته د افغان جنګياليو له خوا کلابند شول.

د شېرپور چاونۍ يوه ټينګه دفاعي کلا وه چې په ځانګړي ډول يې د لوېديځ او سوېل اړخونه چې لوړ دېوالونه يې درلودل، ډېر کلک وو. د ختيځ اړخ دېوال يې د اوو فوټو څخه جګ نه و او دفاعي چارې يې کمزورې وې. انګرېزانو ختيځ دېوال کې ښه والی راوست او د شمالي دېوال کونجونه چې کمزوري وو، ورغول. چاونۍ ته نږدې کلاګانې يې ړنګې کړې او په پنځو ځايو کې دفاعي توپونه او ماشينګړې ځای په ځای کړل. انګرېزي پوځ په ښو وسلو سنبال و. په شېرپور باندې د برید پلان د انګرېز پلويانو د سلطان محمد خان لاټي په ګډون انګرېزانو ته ورساوه او هغوی د برید د مخه پوره تیاری نیولی و. د د سمبر په ۲۳ برید پیل شو چې انګرېزانو دا برید په پوره توګه ناکام کړ.

په دې توګه پاڅون کوونکي په دې کې پاتې راغلل چې کلابند شوي پوځ باندې زور راوړي چې تسليم شي. يو لامل يې لکه چې د مخه مو يادونه وکړه دا و، چې جنرال محمدجان خان وردګ د دې پر ځای چې په شېرپور برید وکړي خپل پلان يې بدل کړ او پرېکړه يې وکړه چې د شېر دروازې او د کابل لوړې ونيسي. د محمد جان خان دغې تېروتنې رابرټس ته دا موقع ورکړه چې د شېرپور د چاونۍ نه د باندې انګليس پوځيان چې د افغان جنګياليو د ځپونکو ګوزارونو له امله هرې خواته په منډو ووځان شېرپور ته ورسوي او ځان وژغوري. دوهم لامل يې دا و چې پاڅون کوونکو دا ښه وګڼله چې د انګرېزانو پلوي قزلباشانو، هندوانو او د انګرېزانو پلوي شتمنو محمدزايي سردارانو کورونه لوټ کړي. په دې توګه پاڅون کوونکو لس ورځې کلابند شوی پوځ چې په کمزوري دريځ کې و، وخت ورکړ چې خپل دريځ ټينګ کړي. دريم لامل يې دا و کله چې د دسمبر په ۲۳مه افغان جنګياليو په شېرپور برید وکړ دوی يوه مرکزي قومانده نه درلوده او د دوی د برید پلان د مخه انګرېزانو ته ورکړ شوی و او په پای کې برید ناکامه شو.

## وطن ته د سردارعبدالرحمن راتګ

د مخه تر دې چې د هېواد په شمال کې د هغه په کړو وړو رڼا واچوم لازمه ګڼم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله د هغه د ژوند په اړه لېږ وغږېږم. سردار عبدالرحمن د سردار محمدافضل خان یوازېنی زوی دی. دا مالومه نه ده چې کله او چېرته زیږېدلی دی. ستیفن ویلر باور لري چې هغه په ۱۸۴۴ کې زیږېدلی او تاریخ پوه سلطان محمد هم ورسره موافق دی. خو لیپل ګریفن ټینګ دی چې عبدالرحمن خان په ۱۸۳۸ کې زیږېدلی دی. د عبدالرحمن مور بنګشه او د نواب صمد خان لور وه چې د هغه قوم د کابل په دربار کې لېږ اغېز درلود.

د عبدالرحمن ماشومتوب ښه څرګند نه دی. هغه په ۱۸۵۳ کې بلخ ته راغی چې هلته یې پلار د ۱۸۵۲ نه تر ۱۸۶۴ پورې د ولایت واکمني کوله. عبدالرحمن خان ۱۳ کلن و چې د تاشقرغان د حاکم مرستیال وټاکل شو چې وروسته د دغې دندې نه استعفا وکړه په دې چې هلته د پوره واک نه برخمن نه و. هغه د ښکار او ټوپک ویشتلو سره مینه درلوده او د جنرال شیرمحمد خان نه چې د عیسویت نه اسلام ته اوښتی و او د افضل خان د پوځ قوماندان و، د جګړې د هنر په اړه څه زده کول.

هغه د پشګیرۍ کار کولو او ټوپک یې جوړول او د فکري فعالیت سره یې مینه نه ښودله. د ده په خپله وینا «زه ډېر ټنبل وم، د درسونو نه مې کرکه درلوده او فکرونه مې ډېر زیات د سپرلۍ او ټوپک ویشتنې سره وو.» د انسان ژوند ته یې لږ یا هېڅ لېوالتیا نه درلوده. ده یو ځل د ښکار په سفر کې د خپلو غلام بچه ګانو څخه یو تن د دې له پاره د نښې په توګه درولی و چې وګوري چې ګولۍ څنګه یو سرې وژني. په هلک یې ډز وکړ، ویې واژه او ویې خندل. د هغه پلار دی د همدې ډزې له امله بندي کړ. خو یو کال وروسته چې جنرال شیرمحمد خان مړ شو په حیرانتیا سره عبدالرحمن خان د بلخ د ولایت د پوځ د قوماندان په توګه وټاکل شو. ښوني ده چې دی دغه وخت ۱۷ کلن و.

عبدالرحمن خان خوشاله و چې د پوځ ځواک یې په لاس کې و او د ... شونتیاوې وښودلې. دی ډېر زر د هغه ازمون نه بریالی راووت چې د قطعن ازبک میر اتالیق چې د امیر دوست محمد خان په نامه د خطبې ویلو نه انکار وکړ او ځان یې د بخارا د پاچا یو بیعت کوونکی اعلان کړ، عبدالرحمن خان د خپل غښتلي پوځ په مرسته هغه اړ کړ چې کابل ته خپله وفاداري څرګنده کړي، مالیه تادیه کړي او د واده یووالی ټینګ کړي.

عبدالرحمن خان د ۱۸۶۰ کلونو په کورنۍ جګړې کې ګډون وکړ. ښوني ده چې دی دغه مهال نولس کلن وي. د ده د زیاتو ترونو او ترو زامنو تر منځ د تخت د لاسته راوړلو په سر کورنۍ جګړې کې د ده رول ډېر مهم و. په دغه کورنۍ جګړه کې نوموړي د خپل پلار او تره سره مرسته وکړه چې یو څه موده واک ته ورسي. دغې کورنۍ جګړې د امیر عبدالرحمن خان سره د ده د سیاسي شخصیت په جوړولو کې مرسته وکړه. د دغې جګړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جریان کې ده دا زده کړل چې د قبیلوي مشرانو، د ولایتونو د والیانو او محمدزایي سردارانو ځواک او اغېز ارزیابي کړي. ده دا هم زده کړل چې دوی څنګه په مناسب وخت کې خپل دریځ د یوې پارټۍ نه بلې ته بدلوي او مرکزي حکومت د ګواښ سره مخامخ کوي. په پای کې اړ شو چې هېواد پرېږدي. دی د واکمن تره امیر شیرعلي خان مهم سیال وګرځېد.

امیر عبدالرحمن لومړی بخارا او بیا سمرکند ته په پناه اخېستو سره هیله درلوده چې هغه به په افغاني ترکستان کې خپلواک امارت په پښو ودروي. څنګه چې هغه د ازبکو امیرانو په ملاتړ باور درلود ادعا یې وکړه چې دی یې هلته بللی دی. همدارنګه د بدخشان میر جهاندارشاه یې خسر و او باور یې درلود چې د بدخشان خلک یې ملاتړ کوي. خو امیر عبدالرحمن خان برسېره پر دې د بخارا د امیر او روسي ملاتړ ته اړتیا درلوده. دی د امیر شیرعلي خان د مړینې وروسته د افغانستان شمال ته راستون شو.

سردار عبدالرحمن د ۱۸۸۰ کال د فبروري په لومړیو کې د روسي مقاماتو په اجازه د لږ شمېر پیسو او وسله والو پلاویانو سره بدخشان او بیا د ځینو میرانو په مرسته تالقان ته ننووت. په تالقان کې د ترکستان د نایب الحکومه جنرال غلام حیدر د سوارو یو پوځي ټولګی چې د سلطان مراد قطعني د ځپلو له پاره تالقان ته رااستول شوی و د عبدالرحمن سره یوځای شو. په دې ترتیب ده دا ځواک وموند چې په بدخشان، تالقان او قطعن سیمو کې خپل واک وچلوي. لږ وروسته سردار محمد اسحق خان چې د سردار عبدالرحمن د عمه زوی او پلوي و په دې بریالی شو چې جنرال غلام حیدر ترکستان پرېږدي او د هغه ځای واک د میمنې پرته په خپل لاس کې ونیسي. په دې توګه عبدالرحمن د ۱۲۹۷ کال د مارچ تر دریمې نېټې پورې په دې بریالی شو چې د هندوکش نه هغې خوا سیمې کې واک وچلوي او د هغې وروسته کندوز ته ننووت.

دا هغه وخت و چې د لیټن استازی لیپل ګریفن کابل ته رارسېدلی و چې د افغانستان په اړه د لیټن نوې پالیسي اعلام کړي. سردار عبدالرحمن د خپل واک په ټینګښت لګیا و. نوموړي د انګلیس ضد نهضت مشرانو ملا مشک عالم او میر بچه خان سره یې د لیکونو په ذریعه اړیکې ټینګې کړې وې او د ده د لیکونو روحیه دا وه چې دا مشران دې جګړې ته تیار وي خو په خپله دې ګام نه پورته کوي.

لیټن د سردار عبدالرحمن سره خبرو اترو ته د ور پرانېستلو ډېر علاقه من و او فکر یې کولو چې سردار به د ده د شرایطو په منلو سره شکر ګزاره هم وي. ګریفن محمد سرور غلزی سردار عبدالرحمن ته ولېږه او نوموړي د اپرېل په لسمه نېټه د ګریفن

(c) ketabton.com: The Digital Library



شفاهي پیغام سردار ته ورساوه او ورته یې وویل چې انګرېزان د کابل له پاره داسې امیر غواړي چې د دوی ملګری وي، انګرېزي پوځونه به د افغانستان نه وځي، په روسیه کې د امیر د استوګنې له امله د ده سره د دښمنۍ احساس نه لري او د روسیې پرتله به د ده سره ډېره مرسته وکړي. عبدالرحمن په ځواب کې وویل چې غواړي د انګرېزانو د دوستۍ په ماهیت وپوهیږي او افغانستان به د برېتانیې او روسیې ملګری وي. خو په اپرېل کې په نړۍ او د هېواد د ننه داسې پېښې منځ ته راغلې چې د خبرو اترو په یون یې زیات اغېز وشیندہ.

لومړی په انګلیستان کې د ټاکنو په پایله کې لیبرال ګوند بریالی شو. لیټن هڅه کوله د مخه تر دې چې د ده ځای ناستی هند ته راورسیږي خپل پلان په افغانستان کې پلی کړي. ګریفن د می په لومړۍ نېټه درې کسیز پلاوی عبدالرحمن ته واستاوه چې د برېتانیا د دوستۍ، د افغانستان د ټوټو کېدو او ده ته یې د کابل امارت چې دوی شمالي افغانستان بللو وړاندیز وکړ. خو هغه دا وړاندیز ونه مانه.

په دغه وخت کې جنرال غلام حیدر څرخي او میر بچه خان د امیر عبدالرحمن سره یو ځای شول، په کابل کې سردار ولي محمد خان او سردار محمدشریف خان د امارت هیله له لاسه ورکړه، جنرال محمدجان خان وردګ لا اوس هم د سردار محمد یعقوب خان په بیا واکمن کېدو ټینګار کاوه، خو هغه سری چې د خبرو د ناکامۍ له پاره یې عملي ګام واخېست مستوفي حبیب الله وردګ و چې زر هندوستان ته وشړل شو.

د عبدالرحمن تاکتیک دا و چې خبرې وځنډوي او انګرېزان په دې فکر شول چې عبدالرحمن پوهیږي چې انګرېزان افغانستان پرېږدي او امارت د انګرېزانو په مرسته نه بلکې د خپلو متو په زور اخلي. دوی بیا عبدالرحمن ته وړاندیز وکړ خو هغه ونه مانه او ټینګار یې کاوه چې د امیر دوست محمد خان افغانستان باید د ده د واکمنۍ سیمه وي. ګریفن د دوهم ځل له پاره د عبدالرحمن سره خبرې پرې کړې او د دوهم ځل له پاره یې د افغانستان د سلطنت وړاندیز محمد یعقوب خان ته وکړ.

لیپل د وروستي ځل له پاره عبدالرحمن ته وړاندیز وکړ او دی یې پوه کړ چې کابل ته راشي، د کندهار بیلوالی ومني او د نورو هېوادو سره سیخې اړیکې ټینګولی نه شي او که زر یې ځواب ورنه کړ نو بیا به د امیر شیرعلي خان د کورنۍ نه یو تن پیدا کړي چې حکومت جوړ کړي. خو دا ځل عبدالرحمن د انګرېزانو ټول شرایط سمدلاسه ومنل او کابل ته روان شو. دا سمدلاسه بدلون په هرات کې د سردار محمدایوب خان د فعالیت له امله و. سردار محمدایوب خان د سردار عبدالرحمن په پرتله د درانیانو، غلزیانو او ملي پارټۍ په منځ کې زیات ګرانښت درلود او سردار عبدالرحمن د سردار محمدایوب خان هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندیز د مخه رد کړی و چې د انګرېزانو پر وړاندې ګډه مبارزه وکړي. سردار محمدایوب خان د جون په نهمه نېټه یاني درې اوونۍ د مخه تر دې چې امیر عبدالرحمن کابل ته روان شي د خپل لښکر سره د کندهار په لور روان شو. عبدالرحمن به د کندهار په لور د ایوب خان د تګ نه هرو مرو خبر و. عبدالرحمن پوهېده چې کندهار ته د ایوب خان په رسېدو سره به درانیان او غلزیان د ده په مشرۍ سره یو شي او د دې شونتیا شته چې انګرېزان به چې د افغانستان نه یې د وتلو ژمنه کړې ده د هغه سره د امارت په اړه موافقې ته ورسیږي. له دې کبله عبدالرحمن کابل ته راغی او د انګلیسانو ټول شرایط یې ومنل.

په هر صورت د جولای په شلمه نېټه سردار عبدالرحمن د قومي مشرانو او خلکو له خوا چې شمېر یې شلو زرو ته رسېدو په چاریکار کې د امیر په توګه اعلان شو او ورپسې د جولایي په ۲۲ نېټه لیپل ګریفن او سیتورات هغه په رسمیت و پېژاند. د ۱۸۸۰ کال د جولای په ۲۷ نېټه افغانانو د ایوب خان په قوماندانۍ او د انګلیس پوځ د جنرال براون په مشرۍ د میوند په ډګر کې سره مخامخ او انګلیسانو ته سخته ماته ورکړه. په کندهار کې د سردار شیرعلي خان په مشرۍ د انګلیس لاسپوڅی حکومت رانسکور او کندهار یې کلابند کړ چې وروسته به پوره رڼا پرې واچوم.

سردار محمد ایوب خان د انګرېزانو او هم د امیر عبدالرحمن له پاره سمدلاسه یو لوی سرخوږی شو. د دغه سرخوږي او ګواښ د مخنیوي له پاره ګریفن او امیر د سرای خواجه د زمې په غونډۍ کې د جولایې په دېرشمه او د اګست په لومړۍ نېټه دوه ځله د شپږو ساعتو له پاره غونډه وکړه او داسې پرېکړه یې وکړه چې انګلیسي پوځونه به کابل سمدلاسه ایله کړي او انګلیسي مقامات به نولس نیم لکه روپۍ امیر ته ورکوي چې نیمې یې بخښښ او نیمې یې د افغان خزانې ته تللې. د دې په وړاندې امیر ژمنه وکړه چې د کندهار په لاره پراته غلزایي به وهڅوي چې هغه لس زره انګلیسي پوځونو ته ستونزه جوړه نه کړي چې په لسم د اګست د رابرتس په مشرۍ کندهار ته روان دي تر څو سردار ایوب خان د کندهار نه وشړي. کاکړ لیکي چې «امیر عبدالرحمن په ذمه کې د برتانوي هند له عمالو سره دومره اخلاص وښود چې په ټول عمر کې یې نه و ښودلی. هغوی د ده د اتل رقیب د ماتولو پرېکړه کړې وه. په ذمه کې ده ان د کندهار او هرات ادعا ونه کړه.»۲۷۷

## د زمې غونډه

د زمې په غونډه کې چې د ۱۸۸۰ کال د جولای د میاشتې په ۳۱ مه او د اګست په لومړۍ نېټه جوړه شوه سر لیبل ګریفن د برتانوي هند افسر امیر عبدالرحمن ته په پټه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هند د حکومت لاندې لیک ورکړ:

«د برتانوي هند عالي جناب ویسرا او ګورنر جنرال په خوشالۍ سره خبر شوی چې تاسو عالي جناب کابل ته د برتانوي حکومت د بلنې سره سم راغلي یاست. له دې کبله د هغو دوستانه احساساتو ته په کتو چې تاسو عالي جناب څرګند کړي دي او هغه ګټه چې سرداران او خلک یې د تاسو عالي جناب په واکمنۍ د تنظیم شوي حکومت د جوړېدو نه لاس ته راوړي، برتانویان تاسو عالي جناب د کابل د امیر په توګه پېژني. برسېره پر دې ما ته واک راکړ شوی چې د هند د ویسرا او ګورنر جنرال په وکالت تاسو عالي جناب ته خبر درکړم چې د برتانېې حکومت نه غواړي چې د حکومت په هغو سیمو کې چې د تاسو عالي جناب ملکیت دی، لاسوهنه وکړي او هیله نه لري چې یو انګرېز استوګن دې په دې سیمو کې ځای په ځای شي. د عادي دوستانه خبرو اترو د توافق دپاره لکه چې دوه ګاونډې هېوادونه یې په خپل منځ کې لري د سلا وړ ده چې د برتانېې د حکومت یو مسلمان نماینده په کابل کې د توافق له مخې استوګن شي. د بهرنیو قدرتونو سره د اړیکو په اړه تاسو عالي جناب د کابل د واکمن د دریځ په تړاو د برتانیا د حکومت د نظرونو او نیتونو غوښتنه کړې وه، د تاسو علي جناب د مالوماتو دپاره به یوه یادونه وشي چې وایسرا او ګورنر جنرال ما ته واک راکړی چې تاسو ته اعلان کړم د دې نه وروسته په افغانستان کې د ننه د برتانېې حکومت بهرنیو قدرتونو ته د لاسوهنې اجازه نه ورکوي او بیا دواړه روسیه او پارس ژبه کړې چې د افغانستان په کورنیو چارو کې د لاسوهنې نه ځان ژغوري، دا څرګنده ده چې تاسو عالي جناب د برتانیا پرته د هېڅ بهرني قدرت سره سیاسي اړیکې نه شي لرلی. که چېرې بهرنی قدرت هڅه وکړي چې په افغانستان کې لاسوهنه وکړي او که چېرې داسې لاسوهنه د تاسو عالي جناب د واک په کړۍ کې کوم غیر لمسوونکي تیري ته بوزي په داسې حالت کې به د برتانیه دولت چمتو وي چې د تاسو سره په داسې یوې اندازې او په یوه داسې شېوه چې د برتانېې حکومت ته اړینه مالومه شي، د هغه په مخنیوي کې، مرسته وکړي، په دې شرط چې تاسو عالیجناب په رښتیا خپلې بهرنۍ اړیکې په تړاو د برتانوي حکومت په سلا کار وکړي.»۲۷۸

کاکړ وايي چې دا ډېره د پام وړ ده چې دغه لیک، د امپریالېستي منطق یو شاهکار دی چې یوازې د برتانوي هند د حکومت د باندینیو چارو وزیر سر الفرېد لیال لاسلیک کړی دی. ګریفن وايي چې په څرګنده دا لیک «په زیاته اندازه دا د برتانوي حکومت له خوا د یوې ژمنې یو یادښت و، »۲۷۹ تر پایه دا یادښت و چې د راتلونکي یوه نسل دپاره یې د دوو حکومتونو تر منځ د اړیکو بنسټ جوړاوه. د امیر د واکمنۍ په بهیر کې نه تړون یا توافق

(c) ketabton.com: The Digital Library



نامه لاس لیک شوې وه چې د برتانیې او افغانستان تر منځ اړیکې تنظیم کړي، که څه هم په زمه کې امیر په لېږل ګریفن باندې د ترون د کړلو زور اچاوه. دا یادښت لکه چې محمود طرزی وایي چې ترون و رښتیا نه دي ځکه چې دا یادښت لومړی دا زیات څه نه و بلکې دا یو مشروطه ژمنه وه چې د امیر سره د سیمو په ساتلو کې مرسته کوله. دوهم دا چې د دې لیک سره سم یوازې د انګلیس حکومت و چې قضاوت وکړي چې په افغانستان یو تیری شوی دی که نه، دا څرګندوي چې د برتانیې حکومت نه غوښتل د امیر سره د ترون له مخې ژمنې ته داخل شي. په دې وخت کې د انګرېزانو حکومت باور درلود چې د امیر موقعیت نامصؤن دی. داسې ادعا یې هم کوله چې هغه ترونونه چې پخوا د برتانیې حکومتونو د افغان واکمنو سره کړې خپل لنډ مهالتوب یې ثابت کړی دی. خو د دوی د دې ادعا پرعکس امیر دوست محمد خان د برتانیې سره په خپلو ترونونو ټینګ درېدلی و. دا شاید دوی د ګندمک ترون ته اشاره کړې وي چې په افغانانو باندې تپل شوی او ډېر ناعادلانه و او افغانانو هغه رد کړ. امیر عبدالرحمن له خپل لوري د لیک سره په داسې شېوه چلند وکړ لکه چې ده ته په لاس ورکړ شوی و: هغه کله چې مناسب وه ورسر روان و او کله چې به مناسب نه و هغه به سترګې پرې پټولې.

۱۸۸۰ کال د دسمبر په لومړیو کې امیر غوښتل چې د وایسرا سره وګوري. د دې کتنې نه د امیر موخه شاید چې د خپل سیال سردار محمدایوب خان په وړاندې یې د مرستې لاسته راوړل و، چې هرات یې نیولی و او دا وېره ترې کېده چې کندهار به ونیسي چې په راتلونکي پسرلي کې انګرېزانو خالي کاوه او د برتانیې حکومت یې اعلان کړی و. خو وایسرا د دغې کتنې نه په دې ډډه وکړه چې د برتانیې حکومت نه غوښتل چې په ښکاره د امیر لوری ونیسي او د ده په قابلیت یې شک کاوه چې په خپل سیال به بریالی شي.

## د میوند تاریخي جګړه

د میوند جګړه د افغانستان او برتانیې په تاریخ کې یوه نامي جګړه ده چې د ۱۸۸۰ کال د جولایي په اوویشتمه نېټه د میوند په ډګر کې د انګرېزي پوځ او افغان جنګیالیو تر منځ ونښته.

په هرات کې د ایران د لاس وهنو، په افغانستان کې د ملي ځواکونو تیتوالی او د پوځي سرچینو د لږوالي له امله د ایوب خان ستراتیژیک خوځښت ډېر کمزوری و. تر څو چې جګړې ته تیارېده د ځواکونو ستراتیژیک انډول د ده په زیان بدل شوی و. که څه هم ده په میوند کې یو ستر تاریخي تاکتیکي بری وګاټه خو دغه بري په نبغ ډول د ده ستراتیژیک او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاسي موخې تر سره نه کړې خو په ضمني ډول یې د افغانستان د سیاسي تجزیې مخه ونیوله.

د ۱۸۸۰ کال په پسرلي کې جوته شوه چې سردار محمدایوب خان د کندهار د نیولو په موخه د پلیو، سوارو او توپچي یوه لویه قوه جوړوي. د ایوب خان مخکینۍ قوه د خپلې خوښې ۱۴۰۰ هراتي سپارو نه جوړه وه چې د جون په لسمه نېټه د لوي نایب خوشدل خان په مشرۍ د فراه په لور وخوځېده. د ۱۸۸۰ کال د جون په پنځلسمه نېټه سردار محمدایوب خان د خپل منظم او نامنظم لښکر سره د کندهار په لور ورپسې روان شو چې انګرېزان د وطن نه وشړي، هېواد خپلواک کړي او د خپلې کورنۍ واکمني خوندي کړي. د جون په یوویشتمه نېټه انګرېزان د ایوب خان د حرکت نه خبر شول او د جون په دېرشمه نېټه یې خپلې یوې لوا ته امر وکړ چې د کندهار نه د هلمند غاړې ته لاړه شي او د ایوب خان قواوې پرې نه ږدي چې د هلمند له رود نه راتېرې شي. د جولایي په دوهمه نېټه د انګرېزانو لوا د جنرال بوروس په مشرۍ د کندهار نه روانه شوه او د جولایي په یوولسمه نېټه د هلمند د رود پر دې خوا غاړې ځای په ځای شوه. خو د کندهار د والي سردار شیرعلي خان پوځ د هلمند د رود په پورې غاړه په ګرشک کې لا پخوا ځای په ځای شوی و.

د دواړو خواوو پوځي هدفونه د هغوی د سیاسي موخو پر بنسټ جوړ وو. انګرېزانو غوښتل چې هغه سیاسي ژمنې چې د امیر عبدالرحمن خان سره یې کړې وې د هغو په پلي کېدو کې خنډ رامنځ ته نه شي تر څو وکولی شي چې خپل پوځونه په امن سره له افغانستان نه وباسي. دې موخې ته د رسېدو له پاره د انګرېزانو پوځي موخه دا وه چې کندهار یا غزني ته د ایوب خان د لښکرو د رسېدو مخنیوی وکړي. د دې هدف له پاره د هلمند سیند یوه مناسبه د فاعي کرښه وه چې په هره بیه وي وساتله شي.

د ایوب خان سیاسي موخه دا وه چې په بیړه ځان کابل ته ورسوي او انګرېزي ضد ځواکونه د ځان سره ملګري کړي. غوره دا وه چې ده په هلمند او کندهار کې ځان په جګړو کې ښکېل کړی نه وای بلکې سیخ غزني ته چې د ملي ځواکونو یو ستر مرکز ګرځېدلی و، ځان رسولی وای. خو د سردار ایوب خان لومړنۍ پوځي موخه د کندهار نیول و.

کاکړ د سنت جان د شمېر له مخې وایي چې د ایوب خان پلی پوځ ۴۵۵۵ تنه، سواره یې ۳۲۰۰ وو او برسېره پردې د ایوب خان سره ۴۰۰۰غازیان چې زیاتره یې طالبان او ملایان وو، هم ملګري وو. خو سر پرسي سایکس د ایوب خان ټول پوځ ۲۵۰۰۰ ښیي. له دوی سره ۳۰ توپونه وو، خو ټوپکونه یې دهن پر وو، په داسې حال کې چې د انګرېزانو پوځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مارتیني، هنري او شنایدر ټوپکونه درلودل چې د افغانانو د ټوپکو نه څو ځله ښه وو. د جنرال بوروس د منظم پوځ شمېر ۲۸۰۰ او ۲۰۰۰ نامنظم پوځ هم ورسره و. سایکس د انګرېزانو د توپونوشمېر ۱۲ ښیي.

علي احمد جلالي وايي چې د انګلیسي څېړونو له مخې داسې ښودل کیږي چې ګویا د انګرېزانو ۲۵۰۰ کسیز پوځ د افغانانو د شل زریز نه تر ۲۵ زریز لښکر سره جګړه وکړه. خو دغه څېړنې کره نه دي او غولوونکې دي. لومړی خو د افغانانو شمېر ډېر زیات ښودل شوی دی چې واقعیت نه لري، دوهم انګرېزانو خپل لوژستیکي ملاتړ کسان چې شمېر یې نږدې درې زرو ته رسېدو په شمېر کې نه دي نیولي او دریم دوی یوازې د ځواکونو د شمېر اړخ په نظر کې نیولی او کیفیت ته یې اډو پام نه دی کړی.

دی زیاتوي چې د ځواکونو په انډول کې د دواړو خواوو د پوځي سمې وړتیا د پرتله کولو له پاه په کار ده چې د هغوی د وسلو او جنګي وسایلو کیفیت او شمېر، د پوځي روزنې او وړتیا کچه، د قواوو پوځي جوړښت، د اکمالاتو نظام، د جګړې مقصد ته د جنګیالیو د سرسپارنې اندازه او د هغوی مورال په نظر کې نیول کیږي. د میوند د جګړو د سیالو پوځونو شمېرپه لاندې ډول و.

## ۱-د انګرېزي پوځ شمېر:

د سپرو دریم بمبيي غونډ-۳۱۶ پوځیان، د سند د سپرو دریم غونډ-۲۱۶ پوځیان، د توپچي بطریه-۱۹۱ توپچیان او شپږ توپونه، د توپچي بې سد او رخه بطریه-۴۳ پوځیان او ۵ توپونه، ۶۶ لمبر انګرېزي پلی غونډ-۵۱۶ پوځیان، د بمبيي لومړی پلی غونډ-۶۴۸ پوځیان، د بمبيي ۳۰ لمبر پلی غونډ-۶۲۵ پوځیان، د استحکام ټولی. په دې ترتیب ټول جنګي پوځیان ۲۵۹۹ او د لوژستکي ملاتړ پوځیان ۳۰۰۰ تنه چې ټول ۵۵۹۹ کیږي. برسېره پر دې د انګرېزانو سره د افغان لوی پوځ ورسره و چې د کندهار والي سردار شېرعلي خان د سردار مهردل خان زوی یې قومانده کوله. دغه پوځ د ۶۰۰۰ نه زیات سرتیري درلودل چې په انګلیسي شنایدر ټوپکو، څلور شپږ پونډه توپونو او دوه دوولس پونډه هاوان باندې سنبال وو. د والي شیرعلي خان قواوې ناارامه وې. د دوی وفاداري ښکاره تر شک لاندې وه. بوروس او شیرعلي خان په یوه خوله وو چې افغان پوځ په رود بېرته راپورې باسي او بې وسلې یې کړي. خو د مخه تر دې چې دوی دا کار وکړي پلي او یو شمېر سواره د هرات قواوو ته د سرتیپ نورمحمد خان په ګډون وتښتېدل او ورسره یوځای شول. خو د سوارو زیاته برخه شېرعلي خان ته وفاداره پاتې شوه. برتانوي قواوې په دوی پسې ووتلې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



توپونه یې ځینې ونیول خو توپچي وړونکي اسونه ترې خلاص شول.

## ۲- د افغان پوځ شمېر:

لومړۍ پلې لوا-۱۵۰۰ تنه، دوهمه پلې لوا-۱۵۰۰ تنه، دریمه پلې لوا- ۱۱۰۰ تنه، د سپرو لوا- ۹۰۰ تنه، د توپچي یوه غرنۍ بطریه او څلور سارایي بطرۍ-۵۰۰ توپچیان او ۲۰ توپونه. په دې توګه د افغان د منظم پوځ شمېر ۵۵۰۰ ته رسېده. هراتي نامنظم سپاره۵۰۰ هغه جنګیالي چې په فراه کې له لښکر سره یو ځای شول ۱۰۰۰ تنه، د والي شیرعلي خان نه تښتېدلي سپاره ۵۰۰ چې ټول ۸۵۰۰ کېږي. په دې برسېره د سیمې ډېر غازیان له پوځ سره ملګري شوي وو چې ډېرو یې وسله نه لرله خو د ځینو سره د جزایل شېل ټوپک وو چې له خولې ډکېدل او د ویشتلو اغېزمن واټن یې له ۵۰ تر ۸۰ مترو پورې و. نورو غازیانو یوازې تورې او نېزې درلودې. انګرېزي ځینې سرچینې د دوی شمېر ۱۵۰۰۰ ښودلی دی. خو د انګرېزانو رسمي اسناد یادونه کوي چې دا به مبالغه وي. د وسلو په برخه کې د انګرېزانو لاس ډېر بر و.

په منظمو پوځونو کې د پنځو کابلي غونډونو اینفیلډ د نورو غونډونو تر وسلې ښه وو خو د انګرېزانو د مارتیني او سنایډر د ټوپکو سره یې سیالي نه شوه کولی چې د انفلېډ په پرتله یې د اور چټکتیا او جنګي اغېزتوب اته ځله زیات و. د ایوب خان هراتي او کندهاري غونډونو شلخي ټوپکونه درلودل چې اغېز یې د انګرېزانو پر تله پنځلس ځلې لږ و.

د افغان پوځ توپخانه د بوروس د لوا پر توپخانې غښتلې وه. ایوب خان شپږ دوولس پونډه ارمسترانګ توپونه لرل چې ډېر اغېزمن وو. ده همدارنګه شپاړس شپږ پونډه او دوه دوولس پونډه اوبوسونه، دوه غرني څلورنیم انچه اوبوسونه او څلور درې پونډه توپونه هم درلودل. خو باید ووایو چې د وسلې په اغېز کې د پوځي روزنې سویه ډېر اهمیت لري چې په دې برخه کې د انګرېزي پوځیانو لاس ډېر بر و.

د دې ټولو لاملونو په بنسټ د انګرېزانو د پوځ جګړه یز اغېز لږ تر لږه درې ځلې زیات و. د جلالي په وینا په میوند کې د افغانانو برې د وسلو د اور په زور نه بلکې د اغېزمن مانور او روحي جذبې په واسطه تر سره شو.

د جنرال بوروس (Burrows) پوځ او د شیرعلي نامالوم شمېر جنګیالي کشک نخود ته په شا شول په دې چې هغه ځای د هغو دوو لارو پر سر پروت و چې کندهار ته تللې او همدارنګه هغه د کندهار دوو نورو لارو ته په لنډ واټن کې پروت و. بوروس په دې توګه غوښتل چې ایوب خان په هره لار کندهار یا غزني ته د تلو نیت وکړي دی یې له دې ځایه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخه نيولې شي.

د ايوب خان مخکيني ځواکونه د ګرشک په شمال کې د هلمند له روده تېر شول او په خپله دی د جولای په دوه ويشتمه نېټه د حيدر اباد په برخه کې د هلمند نه ورپسې واوښت او د زميندا‌ور په لور روان شو. د ميرزا يعقوب علي خان په وينا او د کاکړ د څېړنې له مخې انګرېزي پوځ ميوند ته لومړی ورسېد. خو د سر پرسي سايکس په وينا د ايوب خان مخکني ځواکونه هلته لومړی رسېدلي وو. لکه چې د مخه مو يادونه وکړه انګرېزانو د ميوند کلي ته نږدې دښته د جګړې له پاره غوره کړې وه چې هلته به په دغه هوار ډاګ کې د خپلې نوې وسلې په زور ايوب خان وځپي او پرې به يې نه ږدي چې هغه د کندهار يا غزني لوري ته روان شي. د ميوند جګړه د ۱۸۸۰ کال د جولای په اوويشتمه نېټه سهار د ميوند کلي په نږدې دشته کې پيل شوه.

د انګرېزانو جاسوسی جال د افغان لښکر د ځای د معلومولو له پاره هره ورځ د کشک نخود نه د ځارنې ډلې د سنګبر، ګرماب او د ارغنداب سين غاړې ته لېږلې. د جولايي په ۲۱مه انګرېزان خبر شول چې ايوب خان د سنګبر له خوا ميوند ته تلونکی دی. د جولايي په ۲۶مه د انګرېزانو يوه جاسوس خبر ورکړ چې ميوند د ايوب خان يو شمېر نامنظمو پوځيانو نيولی او په ګرماب کې د سردار د سپرو پوځيانو يوه ډله ليدل شوې ده. د انګرېزانو د ځارنې ډلې د افغان پوځ توپخانه چې د ايوب خان د اصلي پوځ سره ملګرې وه لا نه وه ليدلې. ځکه جنرال بوروس او سنت جان فکر کاوه چې د ايوب خان اصلي پوځ لا ليرې چېرته د هلمند په غاړه دی. له دې امله دوی وپتيله چې لا هم د دې وخت شته چې خپل پوځ د کشک نخود نه ميوند ته ولېږدوي.

دوی د جولايي په ۲۷مه د هغه ځای نه ميوند ته روان شول تر څو د ايوب خان پوځ د ميوند په هوار ډګر کې ګير او کندهار ته يې د تګ مخه ونيسي يا د کندهار په شمال کې د غزني او کابل په لور وخوځېږي چې هلته هغه ترتيبات ګډوډ کړي چې انګرېزانو او امير عبدالرحمن نيولي وو.

علي احمد جلالي وايي چې «دواړه خواوې په يوه وخت کې د ميوند په لور روانې وې او په پايله کې د هغوی تر منځ يوه خونړۍ تصادفي نښته وشوه.»۲۸۰

## د جګړې جريان

د علي احمد جلالي په وينا د جولايي په ۲۶مه سنت جان ته مالومه شوه چې ايوب خان ميوند ته د تلو تکل کړی دی. د انګرېزانو پوځ د جولايي په اوويشتم د سهار په اوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بجو له کوشک نخود نه میوند ته روان شو. میوند ته لا لس کیلومتره پاتې و چې د دریم ځل له پاره دمه وشوه او دغلته یوه جاسوس خبر راوړ چې د ایوب خان پوځونه په ټول ځواک میوند ته ننوزي.

جنرال بورس سمدلاسه پرېکړه وکړه چې د ایوب خان په پوځ د تګ له نظام نه برید وکړي. هغه د جګړې له پاره د میوند سوویل لوېدیځه سیمه خوښه کړه. دا ځای یو هوار ډاګ و چې ځای ځای اوږدې کندې او وچ خوړونه په کې غزېدلي وو. د اوبو نشتوالی د دواړو پوځونو له پاره لویه ستونزه وه. بوروس اوار ډاګ ته مخه کړه. کله چې مالومه شوه چې د محمداباد کلی نه دی نیول شوی د سپرو یوه رساله په دې وګومارل شوه چې هلته لوژستیکي تاسیسات ځای په ځای کړي. د توپچي بطریه له کندې نه مخ په شمال لوېدیځ واوښته او د اورځای د نیولو له پاره پرمخ ولاړه. توپونه د افغاني پوځ د کتارونو ښي اړخ ته لمبر شول او د ۱۷۰۰ مترو نه یې ډزې پیل کړې. دا وخت د سهار لس بجې او پنځوس دقیقې وې.۲۸۱ د توپخانې د ډزو د پیل کېدو سره د انګرېزي پوځ کتارونه کیڼ لاس ته وڅرخېدل او د توپخانې شا ته د جګړه ییز نظام د نیولو له پاره په خپرېدو شول.

خو کله چې د انګرېز پوځ کیڼې خوا ته تاو شو، سردار ایوب خان د هغه د مقابلې له پاره خپل غونډونه مارش کړل. سردار ایوب خان چې انګرېزان په دفاعي مورچو کې ناست ولیدل په هغوي یې د برید تابیه وکړه. د انګرېزانو د نظام کمزورتیا د هغه خلاص اړخونه او پیاوړتوب یې د پلیو د اور په ستر ځواک کې و. خو افغانان د یوې خوا د ښي توپخانې د لرلو له امله غښتلي وو او د بلې خوا د دښمن د مورچلو د راتاوېدو له پاره لوړ تاکتیکي خوځښت درلود. له دې امله ایوب خان پرېکړه وکړه چې ژر تر ژره توپخانه مخ ته کړي او د هغې د اور په پناه کې خپل پوځونه په دښمن باندې د یرغل له پاره خپره کړي. ده خپل سپاره پوځونه د دښمن د اړخ نه د تاوېدو له پاره د خپل جګړه ییز نظام په ښي اړخ کې وګومارل. د ولسي جنګیالیو ډلې یې هم په ښي اړخ کې تابیه کړې او خپل منظم پلي غونډونه یې د نظام په منځنۍ برخه کې جګړې ته ورمخکې کړل. افغان توپخانې د نظام له مرکزي برخې نه نږدې د ۲۰۰۰ مترو له واټن نه د دښمن کرښه د ډزو لاندې ونیوه. دا وخت د سهار یوولس بجې او شل دقیقې وې.۲۸۲ د ایوب خان پوځ نږدې په پنځه څلوېښت دقیقو کې ځای پرځای شو. دا وخت ټکنده غرمه او تودوخه په زور کې وه.

د دواړو خواوو تر منځ د توپخانې مقابله نږدې یو ساعت روانه وه. په دې موده کې یوې خوا هم د لوی یرغل کوښښ ونه کړ. دواړو لورو هڅه کوله چې د بل لوري پلیو او سپرو ته د توپونو په ډزو تاوان واړوي او بیا پرې ودانګي او په نږدې جګړه کې خبره ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاصه کړي. د ایوب خان توپچي ګوزارونو د دښمن پوځ ته چې په مورچو کې پراته وو، درونه تاوان اړاوه.

علي احمد جلالي وایي چې د انګرېزانو د مورچې کیلي هغه کنده وه چې د هغې نه غازیان په پټه د دښمن د کرښې ښي اړخ او شا ته تېرېدای شوای. د غرمې په پاو باندې دوولسو بجو د ولسي جنګیالیو سترې ډلې د دغې کندې له لارې د دښمن له اړخ نه تاو شوې او له نږدې واټن نه یې د ۶۶م غونډ په کرښو ډزې کولې. افغاني سپرو د دښمن په کیڼ اړخ د راتاوېدو هڅه وکړه. د کتار په منځ کې افغان منظمو پلیو غونډونو د انګرېزانو په منځنۍ برخه باندې د یرغل تیارى ونیوه. خو د انګرېزانو له خوا پر دوی له پخو مورچو نه د پلیو وسلو چې دوی په کې لاس بري و، د ګولۍ باران جوړ کړ او افغان لوري ته یې درونه زیان واړاوه او یرغل یې په شا وتمبول شو او دغه وخت د افغان لښکر حال ډېر خراب و. دغه وخت ښایي افسانوي ملالۍ خپله لنډۍ:

«که په میوند کې شهید نه شوې،
خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه!»

ویلې وي چې افغان جنګیالي غوڅ یرغل ته وهڅوي. دغه وخت د ایوب خان د پوځ لوی قوماندان حفیظ الله خان لوګري امر وکړ چې پوځ دې یرغلیز عملیات وځنډوي او تر څو د بل برید له پاره شرایط برابرېږي په خپلو ساتونکو مورچو کې دې کښېني. افغان مشرانو د بل یرغل د برابرولو له پاره پرېکړه وکړه چې یو څه ولسي جنګیالي او سپاره د دښمن د کرښې اړخونو ته ولېږي او د انګرېزانو پام هغې خوا ته واړوي او بیا په منځنۍ برخه غوڅ یرغل ترسره کړي. دا پلان پلی شو. د غازیانو یوه لویه ډله د دښمن د اړخ نه راتاو شوه او یو شمېر غازیانو د محمود اباد او خېګ په کلیو کې د دښمن په لوژستیکي تاسیساتو برید وکړ او افغان سپرو د دښمن په کیڼ اړخ د راتاوېدو هڅه وکړه. انګرېزانو خپل پام د اړخونو امنیت ته واړاوه او منځنۍ برخه کمزورې شوه. برسېره پردې نږدې یوه نیمه بجه د دوی د توپونو د یوې بطرۍ ګولۍ خلاصې شوې چې د کیڼ اړخ نه یې د افغان سپرو د یرغل مخه نیولې وه.

په دې ډول د افغان پوځ د غوڅ برید له پاره شرایط برابرېدل. افغان توپونه جبهې ته ورنږدې شول او د انګرېزانو مرکز او کیڼ اړخونو ته یې درونه زیان اړولو. دغه وخت کې پلي غونډونه مخ ته روان وو. په ښي اړخ کې غازیان او په کیڼ اړخ کې افغان سپاره یرغل ته راوړاندې شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دوه نيمو بجو د افغان توپونو ډزې سستې شوې او چې د توپونو ډزې ودرېدې، د انګرېزانو کرښې ته مخامخ د غازيانو او منظمو پليو بهيرونه د کندې نه راوختل او د دښمن د مورچلو په لور چې پنځه شپږ سوه متره واټن کې وې په ځغاسته ورغلل او د انګرېزانو په منځنۍ کرښې ورمات شول او تن په تن جګړه ونښته چې تورې او برچې په کې زياتې اغېزمنې وې. افغان کابلي پلي غونډونه د انګرېزانو په توپچيانو ورغلل او دوه توپونه په لاس ورغلل. هراتي سپاره د دښمن د کيڼ اړخ په مورچلو ورختل. په دغه يرغل سره د جيکوب رايفلز دوه ټولي چې په کيڼ اړخ کې وو خپلې مورچې پرېښودې او د ګرينيډيرز په بهيرونو چې په څنګ کې يې وو، ورمات شول. غازيان د انګرېزانو د کرښې اړخونو او شا ته ورتېر شول او هغو يې ځای ځای کلابند کړل. کله چې په هندي پليو فشار زيات شو نو يوه برخه يې په ۶۶م پلي غونډ ورماته او د هغه غونډ له بهيرونو سره ګډه شوه. دې کار د انګرېزانو دفاعي کرښه ماته کړه او د جنرال بورس خبره «انګرېزي غونډونه د کيڼ نه ښۍ خوا ته د سمندر د څپو په شان په يوه بل ورمات شول.»۲۸۳ په پايله کې انګرېزي پوځيان په بې نظمه توګه د خېک کلي ته پر شا شول. پاتې پلي پوځيان د محمود اباد کلي ته په شا لاړل. دا وخت د ماسپښين څه د پاسه درې بجې وې.

د غازيانو پرله پسې بريدونو انګرېزانو ته وخت ورنه کړ چې په محمود اباد کې تم شي له دې کبله جنرال بوروس کندهار ته د تېښتې لار غوره کړه.

د ميوند د جګړې انځور د کاکړ له خوا د دواړو دښمنو د روايتونو له مخې بيان شوی دی. د سايکس د روايت له مخې د انګرېزانو «سواره همدا چې له محمود اباد له کلي نه واوښتل له غليم [دښمن] سره په تماس کې شول او په ښۍ او کيڼې خوا کې يې دوه توپونه وو. د پوځ اصلي برخه د محمود اباد له منځه تېره شوه ... او د مخکينيو ساتونکو شا ته يې ځای ونيو، چې لا د مخه» په جګړې بوخت وو. «د هغوی په مخکې د ۱۵ نه تر شلو فوټو پورې ژوره ناله پرته وه چې د جګړې په ټوله موده کې د غازيانو» په لاس کې وه.۲۸۴ سايکس دا هم وايي چې د سورو د راپور له مخې د افغانانو ګڼ شمېر افغان جنګيالي په يوې پراخې نيمې دايرې په بڼه په مخنۍ جبهه کې غزېدلي وو.

نوموړی دا وايي چې جګړه د توپونو په ډزو پيل شوه چې د ايوب خان توپونو په برتانوي توپونو غوړوالی کاوه. افغان منظم پوځ په منځ کې و، خو تر هغه هېښناکو غازيانو ښکته په ناله کې عمل کاوه او له دغه ځای نه يې د انګرېزانو ښۍ خوا تر بريد لاندې نيولې وه او افغان سورو ګڼو ډلو د انګرېزانو د کيڼ اړخ شا سامانونه تر ګواښ لاندې راوستي وو. په دې توګه برتانوي سواره اړ وو چې تر ډزو لاندې واوسي او د افغان سورو مخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونیسي چې دوی یې د دواړو خواو نه تر فشار لاندې نیولي وو.

لفټېنټ فاول هم وايي چې افغان توپونو زموږ توپونه د اړخونو نه او همدا راز په نېغه توګه تر ګوزارونو لاندې ونیول او د دوی شپږ ارم سټرانګ توپونو زموږ تر توپونو نه زیات درانده ګوزارونه کول. دوی وار په وار را د مخه کېدل او په دواړو خواوو کې یې موږ ګېر کړو.۲۸۵

د نوموړي په وینا د افغانانو وړاندې تګ چې د یادې شوې ناڵې نه یې ګټه اخېسته، توپچي قواوو خپل توپونه د برتانیې د پوځ کیڼ لوري په پنځه سوه ګزۍ کې وړاندې کول، منظمو پلیو او غازیانو خپل بیرغونه د ۶۶مې غرنۍ قطعې په ۷۰ ګزۍ کې ودرول.

په دې وخت کې د انګرېزانو پلیو قواوو په ځواک سره ډزې کولې خو د دښمن شمېر تر دې اندازې ډېر وو چې برتانویان یې په دواړو خواوو کې تر دې اندازې پورې چاپېر کړل چې دغه قوه عملاً ایساره شوې وه. لومړی د کیڼ اړخ د جکوب رایفلز قطعه ماته شوه او ورپسې د ښي اړخ د بمبیي ګریناډرز مات شول. ۶۶مې غرنۍ قطعې چې په یوه کنده کې ځای په ځای شوې وه په غازیانو باندې سختې ګولۍ وارولې او د سر درونډ زیان یې ورواړاوه. دوی لا په لیکه کې وو چې په شا کې هندوستاني پوځ په شا تګ سره ووهل شول. د دوی ټکر د ۶۶مې قطعې لیکه ماته کړه او دغه ګډه وډه پرګنه په دوو بیلو ډلو ووېشل شوه. ښي برخې یې چې۶۶مه قطعه ورسره وه د خګ په لور په شا لاړه او کینه برخه یې د محمود اباد په لور منډې وهلې.جنرال بوروس خپلو سوارو ته په افغانانو د یرغل غږ وکړ خو دوی پورته لوري ته زور وکړ او وتښتېدل.

د نوموړي په وینا ایساره شوې ۶۶مه قطعه چې د خګ په لور په شا شوې وه ټینګه ودرېده، ترڅو د سلو کسو یوه ډله ورپاتې شوه. دغه ډله د خګ سووبل ته هغه بڼ ته ننوتله چې دېوال ورنه چاپېر و. له دغه بڼ نه یې د درندو توپونو تر ګوزارونو لاندې د دویم ځل له پاره مقاومت پیل کړ. په پای کې د دوی نه یولسو پاتې کسانو د بڼ نه د باندې ډزونه وکړل او په داسې حال کې چې د یو بل شا ته ولاړ وو تر وروستۍ سلګۍ پورې وجنګېدل. سایکس د جګړې پای د مېجر لینچ له خولې داسې نقلوي چې د۶۶مې غرنۍ قطعې یوازینی افسر و چې ژوندی پاتې شوی و: «له نېکه مرغه تعقیب سخت ونه نیول شو او افغانانو د سامانونو او لوازمو د لوټولو په زړه پورې کار ته پام واړاوه.»۲۸۶

کاکړ د عبدالقادر افندي له خولې د میوند جګړه داسې بیانوي. د انګرېزانو لومړی ډز په هغې قرمېزې جترۍ باندې وشو چې د شاه زوی په سر نیولې شوې وه او افغانانو په مخامخ نېغ برید سره ځواب ورکړ. دښمن په پوره مصؤنیت سره د جګړې په میدان کې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر ګوټ ګوزارونه کول د افغانانو سست مقاومت د خپلو ماشایزو ټوپکو له امله و چې د دښمن مارتیني، هنري او سنایدر د ټوپکو جوګه نه وو. یوازې د ارمسټرانګ د توپونو یوې بټرۍ جګړه تاوده ساتلې وه. د افغانانو حالت هغه مهال لا بد شو چې د لوی نایب ۴۰۰۰ نا منظم سواره په شا شول. د څه وخت له پاره بری د انګرېزانو له پاره سترګې په لاره و. خو کله چې افغان افسرانو خپل میړني جنګیالي د ایستلو شویو تورو سره د دښمن په لور روان کړل د سر د زیات زیان په بیه یې د دښمن برخه لیک ته د پای ټکی کېښود. د برتانوي افسرانو د ټینګتیا سره سره د دوی له پاره منظم په شا تګ ناشونی شو.

د جګړې په پای کې د برتانیې یوه پلي ټولګي تر وروستۍ سلګۍ وجنګېدل چې د انګرېزي بیرغ حیثیت وساتي. دوی د افغانانو افرین د تل له پاره وګاټه دوی افغانان په ځای ودرول او خپل بیرغ یې رپانده نیولی وو، تر څو تر وروستي جنګیالي پورې وجنګېدل.۲۸۷

د افندي په وینا په دې ډول د برتانیې ټول لښکر د منځه ولاړ او یوازې درې شله تنه کندهار ته ورسېدل چې د میوند د تاریخي جګړې غم لړلې کیسه یې خپلو وطنوالو ته یووړه.

کاکړ وایي چې د سان جان د شمېرې له مخې د افغانانو د مړو او ژوبلو شمېر ۲۵۰۰ تنو ته رسېږي چې په هغو کې ۸۰۰ غازیان هم شامل دي او د انګرېزانو شمېر ۱۱۰۰ تنه وو. افغان جنګیالیو ته په دومره زیان سره سره یوازې یو انګرېز توپچي افسر مک لین ژوندی په لاس ورغی.

په دې توګه د میوند نامتو جګړه د پنځو ساعتو په جریان کې تمامه شوه او څه د باندې درې زره انسانان په تورو، ټوپکو او توپونو سره وژل شوي او ټپي شول چې د خپلې چټکتیا له مخې ساری نه لري یا لږ ساری لري.

کاکړ وایي چې که انګرېزان په خپل پلارني ټاټوبي کې د یرغلګرو پر ضد جنګېدلی او له خپل ژوند، خپلواکۍ او حیثیت نه یې ساتنه کولی په هغه حال کې به دوی د شاباسي وړ مدافعان وای. خو د میوند په میره کې له دوی نه انسان وژونکي یرغلګر جوړ شوي وو. دا د افغانانو ټاټوبی و او دوی حق لاره چې د یرغلګرو په وړاندې له خپل ژوند، ټاټوبي، خپلواکۍ او ناموس نه ساتنه وکړي او دوی په میړانه د دغو ټولو ارزښتونو د ساتنې له پاره څه د باندې دوو زرو خپل خواږه ځانونه جار کړل. د میوند تاریخي بری د هغه بري سره پرتله کېدای شي چې څلوېښت کاله د مخه افغان جنګیالیو د وزیر محمد اکبرخان په مشرۍ د یرغلګرو ۱۶۵۰۰ تنه پوځ د منځه یووړ او یوازې درې سوه تنه یې ژوندي پاتې شوي وو او یوازې یو یې برایډن جلال اباد ته په نیم ژواندي ډول ځان رسولی و. په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه د میوند جګړه په بشپړه توګه د افغان جنګیالیو په بري پای ته ورسېده او د افغانستان د ټوټه کېدو پلان یې، چې لیټن کښلی و، شنډ کړ.

د ایوب خان لښکر د دې پر ځای چې برتانوي پوځ تعقیب کړي د شیانو په راټولولو او د مړو په ښخولو لس ورځې تېرې کړې او دښمن ته یې پوره وخت ورکړ چې په کندهار کې د ځان ټینګولو له پاره ځینې ګامونه پورته کړي لکه په کابل کې چې د افغان جنګیالیو مشرانو روبرټس ته هم وخت ورکړی وو چې خپل پوځ د شېرپور چاونۍ ته ورسوي او هلته ټینګ دفاعي ترتیبات ونیسي.

برتانویانو د جنرال پریمروز په مشرۍ په کندهار کې ۳۴۰۰ پوځ درلود چې په نویو وسلو سنبال و. نوموړي جنرال د کندهار «ښار تر پوره کنترول لاندې ونیو او د هغه ۱۸۰۰۰ پښتانه اوسېدونکي یې له سوداګرو او پارسیوانو پرته ټول له ښاره وایستل. په دې وخت کې د ښار ټول اوسېدونکي ۳۰۰۰۰ وو. څوک چې ښار ته ننوته دزې پرې کېدلې. ایسار شوي پوځ په دې ډول»۲۸۸ له بهر سره اړیکه پرېکړه.

ایوب خان د میوند د جګړې د بري لس ورځې وروسته د خپل بریالي پوځ او په زرګونو نورو خلکو سره د اګست په شپاړسمه نېټه کوکرانو ته ورسېد. د کاکړ په وینا ایوب خان د یوې خوا برتانویانو ته لس ورځې وخت ورکړ چې خپل دفاعي حالت ټینګ کړي او د بلې خوا یې سره له دې چې جنرال پریمروز د ایوب خان په پوځ برید کړی و، د ایسار شوي پوځ سره د زور پر ځای د خبرو لار ونیوله که څه هم افسران یې ورسره مخالف وو. خبرې د اګست په ۱۶ سمه د بي بي حوا په منځګړیتوب چې د سردار رحمدل خان کونډه وه او جنرال پریمروز ځان د هغې زوی باله، پیل شوې. جنرال پریمروز د دغو خبرو اترو له لارې څلوېښت ورځې وخت تر لاسه کړ تر څو د رابرټس لس زریز پوځ په څلرویشتو ورځو کې کندهار ته ورسېد او د سپټمبر په لومړۍ ورځ یې د ایوب خان لښکرو ته د بابای ولي په غاښي کې ماتې ورکړه. ایوب خان د خپل پوځ سره د هرات په لور او رابرټس د خپل پوځ سره کوټې ته روان شول. ایوب خان شاید خبر نه و چې د هغه تربور امیر عبدالرحمن د انګرېزانو د سیاسي استازي لیپل ګریفن سره سرای خواجې ته ورځېرمه د ذمې په غونډه کې د هغه پر ضد جوړه کړې وه.

## د نوي نظم د طرحې ناکامي

کاکړ وایي چې «د انګرېزانو له پاره د کندهار پرېښودل په اخلاقي، سیاسي او نظامي لحاظ هم ګران و. دوی د خپلې امپراتورۍ، ملکې په نامه د هغه حاکمیت د سردار شېرعلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان په کورنۍ کې په رسمي ډول میراثي، خپلواک او له افغانستان څخه بیل اعلان کړی و. د ویسرا د شورا ټول غړي له بارینګ (Barring) نه پرته د کندهار د پرېښودلو مخالف وو.»۲۸۹ ځکه چې کندهار په نظامي توګه د هندوستان د ساتلو له پاره ډېر اهمیت درلود او په ځانګړې توګه په دې وخت کې چې روسي جنرال سکوبیلوف د ترکمنو په ملک کې عشق اباد ته نږدې په پوځي عملیاتو بوخت و. خو ریپن په دې نظر و چې د هند ستراتیژیکي اړتیاوې پیشین او سیبي پوره کولی شي. برسېره پر دې د برتانيې حکومت په دې نظر و چې د هندوستان ساتنه د هغه په ښه اداره کولو کې پراته ده. په ۱۸۸۱ کې د جنوري په ۲۰مه نېټه د ویسرا د شورا د مخالفت سره سره پرېکړه وشوه چې دوی به کندهار پرېږدي او امیر عبدالرحمن ته به یې سپاري. والي شیرعلي خان لا د مخه کراچۍ ته کډه کړې وه.

انګرېزانو امیر عبدالرحمن راضي کړ چې کندهار په خپلو ځواکونو سره وروسته له دې تسلیم شي چې انګرېزان خپل پوځ ترې نه باسي. انګرېزانو د اپرېل په شپاړسمه کندهار د امیر مامورانو ته وسپاره او خپل پوځ یې د چمن له لارې وایست. په همدې ورځ د امیر څلور زریز پوځ له اتو توپونو سره کندهار ته ورسېد. سردار محمدهاشم خان د محمداعظم خان زوی د هغه والي وټاکل شو. خو څنګه چې هغه یو بې تجربې ځوان و د کندهار اداره یوې جرګې ته وسپارل شوه چې له سردار شمس الدین خان، قاضي سعد الدین خان او نایب سالار غلام حیدر خان څرخي نه جوړه وه.

ایوب خان د خپل پوځ سره د دسمبر په ۲۲مه نېټه هرات ته ورسېد. په هرات کې دی د زیاتو ستونزو سره مخامخ شو چې د کندهار په لوري تګ یې وځنډاوه. په دغه وخت کې په شمالي افغانستان کې د امیر پاچاهي جوړه شوه، کندهار هم د امیر د پلویانو له خوا اداره کېده. هراتیانو چې د بیلو بیلو قومونو خلک په کې میشته وو او د کابلیانو د واک نه ستړي شوي وو په دې فکر شول هغه وخت را رسېدلی چې په هرات خپله واکمني وچلوي. د هرات په څلورو غټو قومونو (چارایماق) د تیمانیانو مشر سردار امبیا خان محمدایوب خان ته د مالیاتو د ورکولو نه ډډه وکړه، د هغه په نشتوالي کې یې د سنت جان او والي شیرعلي خان سره د لیکونو په ذریعه اړیکې ټینګې کړې وې او انګرېزانو ته یې خپله وفاداري ښودلې وه. د جمشیدي قوم مشر خان اغا که څه هم د ایوب خان خسر و، د یارمحمد خان الکوزي مشر زوی یې د هرات د واکمن کېدو له پاره هڅولی و. له سنت جان نه یې غوښتي و چې د سردار شیرعلي خان زوی او جنرال فیض محمد خان ته اجازه ورکړي له هغه سره یو ځای شي. ده همدارنګه د اګست په ۱۳مه نېټه د کندهار کابل په لار کې حیدر خېلو ته نږدې د شنیز د رود تر څنګه د رابرټس قواوو درستیز چارلېز مک

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګریګر ته بلنه ورکړه چې هرات ته راشي او ورته یې وویل چې هرات ستاسو دی. د فیروز کوهي او قبچق قومونو د یوه معتبر سید په ذریعه امیر عبدالرحمن ته بیعت استولی و. دغه وخت د محمد ریاضي هراتي په وینا د هرات خلکو د فیض محمد اسحقزي او کرنیل یارمحمد خان هراتي په لمسون د ایوب خان او کابلیانو پر ضد بلوا وکړه. یوازې د هرات هزاره ګان د ایوب خان پر خوا وو. خو ایوب خان د خپل پوځ او منصبدارانو په فعالې مرستې سره ټول ناراضیان وځپل او بلوا یې غلې کړه. خان اغا جمشیدي یې وروسته له هغې وواژه چې د سان جان په نامه د هغه له خوا ټاپه شوي لیکونه ورته وښودل شول. په دې ترتیب ایوب خان هرات تر خپلې واکمنۍ لاندې رااووست خو وخت ته یې اړتیا درلوده چې هلته خپله واکمني ټینګه کړي.

د ایوب خان په وړاندې په هرات کې ستونزې د دې لامل شوې چې ده په وخت سره ونه کړای شول چې د کندهار په لور روان شي او هلته خپل واک زر وغزوي او د امیر واکمني چې په کابل کې لا ټینګه شوې نه وه وپرځوي. ایوب خان د جولای تر میاشتې پورې څلورنیم زره پوځ او څو کنډکه سواره جوړ کړل او د جولای د میاشتې په سر کې د کندهار په لور وخوځېد. د ایوب خان مخکینۍ قوه د امیر د پوځ له خوا په شا وتمبول شوه او له دې کبله نوموړي غلام حیدر خان څرخي ته د سپاسالارۍ رتبه ورکړه. خو کله چې ایوب خاند خپل لښکر سره ګرشک ته راورسېد د امیر پوځ ته یې ماتې ورکړه او ورپسې یې کندهار د جګړې پرته ونیو او د امیر پوځ کلات ته پر شا شو.

## په کندهار کې د امیر عبدالرحمن خان او غازي محمد ایوب خان ترمنځ پرېکنده جګړه او د افغانستان بیا یووالی

د کاکړ په وینا ایوب خان د کندهار نه ونه خوځېد ځکه چې د یوې خوا کندهاریانو زړه نه ښه کاوه چې په کابل یرغل وکړي او د بلې خوا ده دا ناسم فکر کاوه چې ګویا کابل ته د تلو په صورت کې به په کوښته کې د انګرېز پوځ کندهار ونیسي او د ده د شاه تګ لاره به غوڅه کړي. په داسې حال کې چې د برتانوي هند حکومت پرېکړه کړې وه چې د افغانستان په کورنۍ جګړه کې به نېغه او څرګنده برخه نه اخلي. امیر عبدالرحمن د ایوب خان په وړاندې، چې هغه یې په کابل کې د خپلې واکمنۍ له پاره خطر ګاڼه، په لږ وخت کې تیاری ونیو.

امیر عبدالرحمن دغه مهال د خپل دریځ د ټینګولو په موخه ځینې ګامونه پورته کړل: لومړی یې د کوهستان او غلزیو له مشرانو سره جرګې وکړې، په کابل کې یې جنرال

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمدجان خان وردګ، د هغه مشر ورور، سردار نیک محمد خان د امیر دوست محمد خان زوی او د امیر شیرعلي خان پلویان یې بندیان کړل، په میدان کې یې له څلور سوه ملایانو او مولایانو نه فتوا تر لاسه کړه چې د هغې له مخې ایوب خان یاغي بلل شوی و خو د کندهار ملایانو بیا امیر په خپله فتوا کې کافر بللی و. په دې ترتیب امیر عبدالرحمن د خپل پوځ سره د عصمت الله جبار خېل، نیازمحمد خان، بهرام خان او نورو په ملګرتیا د اګست په ۱۱مه نېټه د کندهار په لور روان شو. امیر په لاره کې له هغو میلیونونو روپیو نه په پوره سخاوت ګټه پورته کړه چې انګرېزانو ورکړې وې. په ټوله لاره کې یې د پخې ډوډۍ لنګر چالان و، د ترکستاني چپنو، سپینو پګړیو او لونګیو د بخشش بازار تود و. برسېره پردې امیر خلکو ته د عدل، او یا انصاف او ښه حکومت کولو ژمنې ورکړې.

په کندهار کې ایوب خان اوولس زریز پوځ او ۱۴ توپونه درلودل او امیر څورلس زریز پوځ او ۱۸ توپونه درلودل. ایوب خان خپل پوځ له احمد شاهي ښار نه زاړه ښار ته وایست په دې هیله چې په پېښېدونکې جګړې کې ملکي خلکو ته د سر زیان ونه رسیږي او ښار چور نه شي. د دسمبر په ۲۲مه جګړه پیل شوه. د جګړې په لومړیو کې د ایوب خان د پوځ مخکینۍ لیکې په ډېرې زړورتیا سره پر مخ ولاړې او د امیر پوځ یې تر سخت فشار لاندې ونیو. خو د جګړې په تودېدو او چټکتیا کې دغه لیکې پر شا شوې. دوی څکه پر شا او تیتې شوې چې پر دوی د دښمن پرته د شا نه کابلیو قطعو ډزې وکړې چې د امیر د پوځ نه ایوب خان ته اووښتي وې. برسېره پر دې په دوی باندې هراتیانو هم د شا نه ډزې وکړې. په دې ډول ایوب خان نږدې ګټلې جګړه بایلوده او امیر د ایوب خان د ناراضو عسکرو په سبب د خپل ژوند مهمه جګړه وګټله.

برسېره پردې د ایوب خان په ماته کې شاید دې خبرې هم خپل رول لوبولی وي چې «ایوب خان خپل پوځ له ښاره وایست په جنګیالیو کې وېره ولګېده او برخلاف د امیر په جنګیالیو کې یې د هیلې روح پوه کړ.»۲۹۰ کاکړ وایي چې «بل غټ ټکی د امیر او ایوب خان په قوماندانۍ کې و. لومړی د جنګ په میدان کې د احمدشاه دراني په شان د خپلو جنګیالیو په منځ کې ګرزېده... خو ایوب خان د وران شوي برج دیده له پاسه ناست و، د جنګ ننداره او سباناری یې کاوه. د غازي ایوب خان دې ته پام نه و چې د میوند د جنګ په خلاف چې هلته یې نه ماتېدونکې اراده لرله په چل زینه کې یې اراده او شخصي قوماندانۍ په کار وه چې هغوی یو د بل پر ضد جنګ کولو ته وهڅول شي.»۲۹۱

غازي ایوب خان د خپلې ماتې وروسته د هرات په لور وخوځېد  خو د مخه تر دې چې هرات ته ورسیږي خبر شو چې هرات د اکتوبر په دوهمه نېټه د امیر عبدالرحمن د پلویانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځانګړې توګه د سردار عبدالقدوس په لاس کې لوېدلی دی چې د شبرغان والي و. ایوب نور اړ شو چې پارس ته وتښتي او په مشهد کې تم شو. ایوب خان هلته هم د امیر د واکمنۍ له پاره خطر و. همدغه وخت د ایران حکومت هم په اندېښنه کې شو ځکه چې ایوب خان د مشهد په چاپېر کې د پخوانیو پرار شویو پښتنو او همدارنګه د مشهد ختیځ خوا ته ترکمنو کې د اغېز څښتن شو او د وسلو په ټولولو یې پیل وکړ. د هند حکومت د یوې خوا د دې له پاره چې امیر ته دغه خطر بې اغېزې کړي او د بلې خوا امیر د تل له پاره تر فشار لاندې ونیسي، په دې فکر شو چې غازي ایوب خان هند ته وبولي. په دې توګه د هند حکومت په مشهد کې د خپل قونسل له لارې د هغه سره خبرې پیل کړې چې په پای کې د پارس د حکومت په موافقه د هند حکومت او غازي ایوب خان پرېکړه وکړه چې هغه به د خپلو ملګرو سره هند ته ځي. په دې ډول د څه د پاسه اتو سوو ملګرو سره د عراق له لارې هند ته مهاجر شو او په ۱۸۸۸ کال کې په لاهور کې استوګن شو.

امیر عبدالرحمن د خپل بري وروسته خپلو بریالیو جنګیالیو ته اجازه ورکړه چې کولی شي د کندهار ښار د څلوېښتو ساعتونو له پاره چور او تالان کړي او بیا یې علمانو ته چې د ده پر ضد یې فتوا صادره کړې وه پام واړاوه چې په خرقه شریفه کې یې پنا اخېستې وه. امیر په خپل امر دوی له هغه ځایه وایستل. بیا یې مولوي عبدالواسع ته وویل «زه نه، ته لعنتي کاپر یې. ... خپله ققفازي توره یې وایستله ، یو ګام د مخه شو او د مولوي په اوږه یې دغسې ټینګ ګوزار وکړ چې هغه په ملا کې دوه ځایه شو.»۲۹۲

«بیا یې امر وکړ چې هغه بل مولوي، عبدالرحیم ورته د مخه کړي. په یوه ګوزار سره د هغه سر د هغه د ډنګرې تنې څخه بیل کړ او د توپ په شان یې ایسته وغورځوه.»۲۹۳

د کاکړ په وینا «امیر د چل زینې نه وروسته هغه امیر نه و چې د کابل- کندهار په لار کې و. دغه نوي امیر د فرانسې د څورلسم لویي پېښې پیل کړې چې ویل یې «زه دولت یم.» امیر عبدالرحمن نه یوازې ځان واکمن مطاع وګرزاوه، له ځان نه یې مسطنطق جوړ کړ، د دعوی وکیل هم شو، قاضي هم شو او د امر اجرا کوونکی هم، چې جلاد هم په هغه کې حسابیږي. په هغو سربېره ځان یې «د خدای سیوری» او د «نبي نایب» هم باله. امیر عبدالرحمن په دغسې ذهنیت سره په واکمني پیل وکړ. په دې توګه امیر عبدالرحمن په خپله د انګرېزانو د نوي حکومت په مرسته ټول افغانستان د ځینو سرحدي سیمو او خیبر پرته بېرته یو موټی کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څورلسم څپرکی

# کاکړ او د امیرعبدالرحمن واکمني

د امیر عبدالرحمن واکمني مې په زیاته اندازه د کاکړ د دوو اثارو: «د افغانستان سیاسي او ډیپلوماتیک تاریخ» او «د امیر عبد الرحمن په واکمني کې حکومت او ټولنه» او نورو اثارو له مخې کښلې ده. هغه مهال چې عبدالرحمن امیر شو افغانستان په اقتصادي او سیاسي لحاظ د انارشۍ او ګډ وډۍ په حال کې و. دولتي ماشین شتون نه درلود. د مرکزي حکومت او د ولایتونو تر منځ اړیکې شلېدلې وې. قبایلي سیمې په خپل اختیاره سیمو بدلې شوې وې. ځینې مشرانو او په ځانګړې توګه هغوی چې د انګرېزانو په وړاندې یې جګړه پرمخ بیولې وه خپل ځواک زیات کړی و. برسېره پر دې یوه نوې واکمنه کورنۍ موجوده وه چې د زړې واکمنې کورنۍ ځای ونیسي چې د هغې مخکښ غړي چې د وطنپالنې ستاینه یې کېده او په تخت باندې یې د دوی پر ځای د کېناستو پوره حق درلود او په ګاونډیو هېوادو کې یې ژوند کاوه. عبدالرحمن خان نه شو کولی چې پر دوی ډډه ولګوي. په دغسې وضعې کې چې د کندهار خلک د عبدالرحمن خان په ضد درېدلي وو په داسې بحراني حالت کې د برتانې حکومت هغه ته د پیسې او وسلې اړینه مرسته وکړه. د ګریګوریان په وینا په افغانستان کې د نوښتګرۍ پروګرام د تمویل ګړندوالي د ټولنیزو او اقتصادي ستونزو سره لاس په ګرېوان و. یو دا چې دیني او قومي مشرانو د نوښتګرۍ سره حساسیت درلود، بل دا چې په خپله افغانستان د نوښتګرۍ د پروګرام د تمویل له پاره مالي سرچینې نه درلودې.

امیر عبدالرحمن په داسې حال کې چې هېواد یې د جګړو، بهرني نیواک او خونړیو کړکېچونو له امله بې وسه و په افغانستان کې د سمونونو د پلي کولو له پاره لومړۍ ستره او همغږیزه هڅه پیل کړه. دی په دې باور و چې پاچاهان د هسک څښتن له خوا غوره شوي دي چې د شپنو غوندې د خپلو رمو غم وخوري. ځکه ده د خپلې واکمنۍ د مشروعیت له پاره د ولس د ارادې پر ځای د پاچاهانو الهي حق ته پناه یووړه. ده همدارنګه د بهرنیو ځواکونو په وړاندې خلکو ته ځان د اسلام اتل او د افغانستان د خاورې د ازادونکي په توګه وروپېژاند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې وروسته برتانوي هند وغوښتل چې د امیر په مشرۍ افغانستان پیاوړی کړي، پیسې او وسلې یې ورکړې خو دا یې جوته کړه چې د برتانیې د حکومت د ښکاره وندې اخېستو پرته به د خپل سیال سره ډغرې وهي.

په دې وخت کې د لارډ ریپن په اند دا وخت رارسېدلی چې د هغه پوهاوي له مخې چې په ۱۸۸۰ کې د امیر او لېپل ګریفن تر منځ شوی د دوو حکومتونو تر منځ د هر یوه په پلازمینې کې نماینده ګان ځای په ځای شي. ده د امیر نه وغوښتل چې یو پلاوی راولېږي، خو امیر د پلاوي پرځای یو نماینده ورولېږه او لارښوونه یې ورته وکړه چې هغه به یوازې خبرې اوري او د هغه خبرو په اړه به راپور راکوي چې اورېدلې وي، ځکه چې «د امیر پرته بل څوک د افغانستان ستونزې نه شي حل کولی.»۲۹۴

د سردار ایوب خان د وتلو نه وروسته امیر عبدالرحمن خان هغه څه چې امیر ته یې ستونزې جوړولې د افغانستان شمال لوېدیځ ته د روسیې پرمختګ و. د ۱۸۸۱ کال د اکتوبر په لومړیو کې امیر لارډ ریپن ته وویل چې د برتانیې له پاره هغه وخت رارسېدلی چې د روسیې د ساتنې لاندې سیمو سره ناټاکلې پولې تثبیت کړي. خو برتانیې د امیر د خطر زنګ ونه مانه. د امیر په پخوانۍ ناهیلۍ چې کوښښ یې وکړ چې د برتانیې سره تړون ولري دا هم ورزیاته شوه.

په پیل کې، په کابل کې د برتانیې نماینده کرنېل محمد افضل څرګنده کړه چې امیر به د برتانیې نه ناهیلی شي هغه به د روسانو شرایط ومني.۲۹۵

د ۱۸۸۳ کال په جولایي کې لارډ ریپن امیر ته هر کال ۱۲۰۰۰۰۰ روپۍ ډالۍ وټاکله او وویل چې « په هېواد باندې زموږ د یرغل په پایله کې د افغانستان کورنۍ بې نظمي دومره لویه ده چې موږ احساس کړه چې دا زموږ دنده ده چې هغه [امیر] سره د یوه منظم حکومت په جوړولو کې مرسته وکړو.»۲۹۶

همدارنګه د هند برتانوي حکومت کابل ته په بحراني وخت کې وسله ډالۍ کړه. د ریپن «د منظم دولت جوړول» مانا د غښتلي پوځ تنظیمول و، ځکه چې د دې موخې له پاره کورنۍ سرچینو بسنه نه کوله. که څه هم دې د برتانیې د مرییي په څېر د امیر عام تصویر ټپي کاوه. د دې په وړاندې د امیر اقدام دا و چې هغه وویل چې دا ډالۍ د هند د امنیت او ساتلو په خاطر ورکړ شوې ده، زه د دوی د هېواد سپر یمه او د روسیې د برید نه یې ساتم. که چېرې زما حکومت باثباته پاتې شي، زه په دې لاره ځم ، د انګرېزانو نه ټوپک او پیسې اخلم او خپل بنسټ پرې ټینګوم، او زه به دا وړتیا پیدا کړم چې د روسانو او انګرېزانو سره مبارزه وکړم. د امیر د مبارزې نه موخه دا وه چې دوی به پرې نږدم چې زما د هېواد په

(c) ketabton.com: The Digital Library



چلولو کې نفوذ وکړي. خو په دې برخه کې دومره لیرې لاړو چې د موډرنې تکنالوژۍ وړاندیزونه چې وایسرا ورته کړي و، چې برتانیې ته اجازه ورکړي چې یو د ټلګراف مزی وغزوي چې کابل او پېښور سره وتړي یا د اورګاډي پټلۍ چې کندهار د هرات سره ونښلوي، رد کړل. هغه ان کابل ته نږدې د مسو د کان کار چې یوه انګلیس کارپوه پرمخ بیوه ودراوه. هغه دا ټول د دې له پاره وکړل چې برتانویان د افغانستان په کورنیو چارو کې د لاسوهنې نه بې برخې کړي. د دې مانا دا ده چې امیر عبالرحمن تجریدتوب او د منځنیو پېړیو مطلقیت ته په نوي توب او موډرنېزم باندې ترجیح ورکړه.

د ۱۸۸۳ وروسته د ډالۍ ټاکل، په ۱۸۸۵ کې په هند کې د دولت د عزتمن مېلمه په توګه د هغه هرکلی او په همدغه کال کې د روسانو له خوا د پنجدې نیول د افغان- انګلیس اړیکې ښې کړې. د اړیکو دغه ښه توب د امیر په یوه بیان کې چې په راولپنډۍ کې په مېلمستیا کې وکړ، غبرګون وموند. هغه وویل چې دی «... د خپل پوځ او خپلو خلکو سره چمتو دی هر ډول خدمت ترسره کړي، که چېرې د برتانیې حکومت اعلان وکړي چې دوی زما نه مرسته غواړي، په داسې حال کې به افغانستان په یوه ټینګه شېوه خپل یووالی وساتي او د برتانیې د حکومت سره به اوږه په اوږه ودرېږي.»۲۹۷ امیر زیاته کړه «که په هند کې د تاسو امپراتورۍ ته ستونزې پیدا شي ... د افغانستان خلک به تاسو ته دوستانه مرسته درکړي چې د هند پولې پرې وساتی.»۲۹۸ خو دا د عسل میاشت اوږده نه شوه.

د ۱۸۸۰ کلونو په ورستیو کې ځینو پېښو د افغان- انګلیس اړیکې ترینګلې کړې. د هند برتانوي حکومت کابل ته بلنه ورنه کړه چې د انګلیس- روسیې په کمیسیون کې برخه واخلي چې د افغانستان د شمال لوېدیځ د پولو د په نښه کولو دپاره جوړ شوی و. په داسې حال کې چې دغې موضوع د افغانستان د خاورې تمامیت باندې اغېز درلود. امیر په دې خپه شو او د برتانیې پلاوي ته یې اجازه ورنه کړه چې د افغانستان په خاوره کې سفر وکړي. خو د دې له پاره چې دا موضوع لږ غوندې روښانه شي درې تاریخي لاسوندونه وړاندې کوم:

۱- د ۱۸۸۴ کال د اپرېل په ۲۴مه د برتانیې سفیر اډوارډ تورنټن په خپل لیک کې د روسیې د باندینیو چارو وزیر ګیرس ته وړاندیز شوی چې د افغانستان د شمال- لوېدیځ د سرحدي کرښې له پاره «داسې یو ګډ کمیسیون جوړ شي، چې په هغه کې افغان استازی شامل وي.» ۲۹۹

۲- د ۱۸۸۴ کال د اګست په ۹مه نېټه د برتانیې سفیر اډوارډ تورنټن په خپل لیک کې د روسیې د باندینیو چارو وزیر ګیرس ته وایي چې «برتانوي حکومت خپل ځان ته دا حق نه ورکوي، د هغې خاورې په اړه، چې افغان امیر یې خپله بولي، د پردي کېدو په تړاو د افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امیر له رضایت نه سپارښتونه وکړي.»۳۰۰

۳- د ۱۸۸۴ کال د اګست په۲۶مه نېټه د روسیې د باندینیو چارو وزیر ګیرس د برتانیې سفیر ته په سپارل شوي یادښت کې راغلي چې «د روسیې د باندینیو چارو وزارت اړینه ګڼي، ښاغلي سفیر ته دا وریاده کړي، چې دواړه حکومتونه په دې برخه کې داسې جوړ راغلي، چې افغان استازي ته به اجازه نه ورکول کېږي چې د پولې ټاکنې په کمیسیون کې شامل شي. یوازې دواړه حکومتونه او د دوی کمیساران به دا حق لري، چې د پولې ټېرولو او ټاکنې د بیلو بیلو مسلو په تړاو خپل نظریات څرګند کړي... د روسیې امپراتوري حکومت [دا] اړینه نه بولي، چې د افغان چارواکو څرګندونې دې ومنل شي او هرو مرو دې ارزښت ورکړ شي.»۳۰۱

امیر په دې هم خواشینی و چې سردار محمدایوب خان د خپلو ملګرو سره په هند کې پر ده باندې د فشار له پاره ساتل کېږي. خو هغه څه چې په واقعیت کې یې د افغان-انګلیس اړیکې ترینګلې کړې وې د برتانیې د نولسمې پېړۍ د پرمختګ پالیسي وه، چې د ګومل درې په خلاصولو او چمن ته د اورګاډي د پټلۍ غزول وو.

د دې په وړاندې د امیر غبرګون دا و چې هڅه یې وکړه د برتانوي هند پرته د برتانیې سره سیاسي اړیکې ټینګې کړي. خو د انګلستان د حکومت سیاست دا نه و چې د افغانستان سره سیاسي اړیکې ټینګې کړي او په دې د امیر هڅې ناکامه شوې. د دې وروسته امیر کوښښ وکړو چې په نورو وسایلو افغانستان خپلواک کړي.

امیر په پوره توګه پوه شو چې برتانیه کولی شي ده ته ستونزې جوړې کړي. هغوی امیر شیرعلي خان او امیر محمد یعقوب خان لیرې کړل. هغوی کولی شي سردار محمد یعقوب خان، سردار محمد ایوب خان، نور سرداران او د غلزیو مشران چې په هند کې استوګن دي او د هغوی ملګري چې په افغانستان کې دي ورڅخه کار واخلي او د پوځ د کارولو پرته یې لیرې کړي. په بل لوري د روسیې د یرغل وېره ورسره وه. له دې امله یې ځان د انګرېزانو سره د ټکر نه ساته. د وایسرا لارډ کرزون په وینا چې د بهرنیو اړیکو د پولې په موضوع کې امیر تل د برتانوي د امپریال پالیسۍ په چوکاټ کې کړه ترسره کول۳۰۲ امیر د خپلې واکمنۍ په پای کې خپل دریځ غښتلی کړ او د یوه خپلواک واکمن په توګه یې اکټ کولو.

د مخه مو یادونه وکړه چې د رابرټس پوځونه تر هغې وروسته چې سردار محمدایوب خان ته یې ماته ورکړه د کوېټې له لارې بېرته هندوستان ته ستانه شول. په داسې حال کې چې د انګلیسانو بل پوځ چې په کابل کې میشت و او شمېر یې ۲۰۰۰۰ ته رسېد د سټیورات په مشرۍ لا د مخه د اوښانو غاښي له لوري هندوستان ته بېرته ستون شوی و. په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترتيب په کابل کې د امير عبدالرحمن په واکمن کېدو سره د افغان- انګليس دوهمه جګړه پای ته ورسېده.

په ۱۸۸۱ کې کال کې انګليسانو خپل هغه پوځيان هم د کندهار نه وايستل چې هلته پراته وو او کندهار يې امير ته وسپاره. سردار محمدايوب خان همغه کال د جون په مياشت کې کندهار بېرته ونيو خو بيا يې د امير عبدالرحمن د پوځ له خوا ماتې وخوړه اوفارس ته يې پناه يوړه. د کندهار وروسته هرات هم د عبدالرحمن لاسته ورغی. په پای کې د ليټن نخښه چې افغانستان ټوټه کړي ناکامه شوه او افغانستان متحد پاتې شو خو ځينې سيمې يې چې د ګندمک په تړون کې يې يادونه شوې ده د افغانستان نه بيلې شوې او افغانستان بهرنۍ خپلواکي هم له لاسه ورکړه. په پای کې د افغانستان بهرنۍ سياست د انګرېزانو لاسته ورغی او همدارنګه تر ډېرې اندازې افغانان د عصري مدنيت، عصري ساينس، عصري پوهنې او عصري تخنيک نه ليرې پاتې شول.

## اميرعبدالرحمن او د ختيځ افغانستان ارامښت

امير عبدالرحمن چې د خپلو خلکو او د هغوی د مشرانو په سياست کې د ښې تجربې خاوند و؛ د ځينو لرکيو توکمي ګروپونو د پېژندلو وړتيا يې درلوده چې د بهرني تسلط غوښتونکي وو؛ په ګاونډيو هېوادو کې د ده د کورنيو سيالانو د شتون اندېښنې او د روسيې او برتانيې له خوا هېواد ته خطر له امله ده يو زيات شمېر تدبيرونه تر لاس لاندې ونيول چې يو پياوړی مرکزي دولت جوړ کړي تر څو د هېواد او د خپلې کورنۍ واکمني وساتي. د دې موخې د پلي کولو له پاره د غښتلي اردو او د پراخو ماليانو د وضع کولو له لارې د مالي سرچينو منځ ته راوړل و. دغه تدبيرونو پلي کولو ده ته دا وړتيا ورکړه چې د لومړي افغان واکمن په توګه هېواد په نېغ ډول د خپلو افسرانو له لارې اداره کړي.

امير عبدالرحمن خان په خپل هېواد کې څلور غټ ولايتونه (ترکستان، هرات، کندهار او کابل) رامنځ ته کړل او په هر ولايت کې يې والي وټاکه. له امير عبدالرحمن نه وړاندې به د دولت ټولې چارې لس کاتبانو چلولې. هغه د دولت د کارونو د اجرا له پاره د ثبت کتابونه کارول، د سوداګرۍ او خزانې هيئتونه او د عدالت، ارتباطاتو، زده کړو او طب اداري او موسسې يې په کار واچولې. امير عبدالرحمن اسلام ته په درنه سترګه کتل، خو د ملايانو سره جوړ نه و. امير عبدالرحمن د «خلوت» په نوم يو سازمان رامنځ ته کړ چې کابينې ته ورته و. خلوت به د هغه اراده پلې کوله او يوازې هغه مهال به يې هغه ته مشوره ورکوله چې په خپله به امير ورنه غوښتلې وه. په هر ولايت کې د کورنۍ او ميراث د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړکېچونو د حل له پاره ستره محکمه شته وه. په هره ستره محکمه کې به یو قاضي او څو مفتیانو کار کاوه. پرېکړې به د اسلامي حقوقو له مخې کېدلې، خو د امیر عبدالرحمن خان موافقه په کې شرط وه. هر قانون باید د اسلامي حقوقو او ځایي دودونو سره اړخ ولګوي. مشهور لاروهونکي به وسپنیزې پنجرې ته اچول کېدل. پنجرې به د سړک په غاړه په جګو ستنو پورې ځوړندېدلې او په دې ډول به لاروهونکو د لوږې او تندې له امله ژوند له لاسه ورکاوه او خلکو به ورنه عبرت اخېسته.۳۰۳

خو د افغانستان خلک چې زیات یې کوچني مځکه لرونکي یا بې مځکې بزګران وو چې په کرهنیز اقتصاد کې یې ژوند کولو، د مالیاتو د ټولولو او د امیر د مطلقه واک چلولو د شېوې پر ضد ودرېدل. امیر د خپل پروګرام د پلي کولو په یون کې د څلوېښتو نه زیاتو پاڅونونو سره مخامخ شو چې د ځینو مهمو نه به په لنډه توګه یادونه وشي.

## مومند

د کاکړ د څېړنې له مخې مومند د خپلې استوګنې د ځای په بنسټ په لرو او برو مومندو وېشل کېږي چې د ختیځ افغانستان یو د تر ټولو مهمو قومونو نه شمېرل کېږي. د برو مومندو اوسېدونکي په عمومي توګه د کابل او سوات د رودونو تر منځ وادي او غونډیو کې پراته دي چې مځکه یې لږ حاصل ورکوي او لر مومند د پېښور د هوارې جلګې په شمال لوېدیځ کونج کې میشته دي چې په نسبي توګه حاصلخېزه ده. په خپله د پېښور ښار د مومندو په وطن کې شامل دي چې د مومندو د خلیلو او خوېزو څانګې خلک په کې اوسي.

کاکړ بیا د مومندو د شجرې په اړه پوره مالومات وړاندې کوي او ورپسې وایي مومند هم د درانیانو او یوسفزیو په شان د سړبن د نسب نه دي. د دوی لومړی ټاټوبی د کندهار په ختیځ کې مرغه وه چې د هغه ځای نه دوی په شپاړسمه پېړۍ کې لومړی غزني ته مهاجر شول او وروسته لکه چې د مخه مو یادونه وکړه په اوسنیو سیمو کې میشته شول. د لرو مومندو په پرتله بر مومند جنګیالي دي. په برو مومندو کې د خانانو ځواک ډېر غښتلی دی. د دوی په منځ کې د لالپورې خان ډېر مهم دی. همدارنګه په نورو خانانو کې د بندیالې او ګوشتې خانان شمېرل کېږي. یوازینی خان چې د امیر عبدالرحمن د واکمنۍ پر مهال یې خپل موقعیت ساتلی و د لالپورې خان محمداکبر خان و. محمداکبر خان د مورچه خان د نسل نه دی چې د مورچه خېلو موسس دی. مورچه خان د شپاړسمې پېړۍ په دوهمه نیمایي کې د لالپورې د خانۍ بنسټ ایښی دی. د نوموړي په خانۍ کې د سیمې یوه روحاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



مورزاد والي بابا مرسته وکړه او برسېره پردې ده د هغه خدمت په مقابل کې چې د مغولو امپراتور جلال الدین ته یې کړی و د ډاکې د کلا قوماندان وټاکل شو چې دا قوماندانی د دوی په کورنۍ کې په نیکات پاتې شوه. د هغه مهال راهیسې په ټولو مومندو کې د مورچه خېلو واکمن رول وپېژندل شو. د مورچه خان تر ټولو مهم ځای ناستی سعادت خان و چې څلوېښت کاله یې د خان په حیث کار وکړ او خپله لور یې قمر جانه سردار شیرعلي خان ته د مخه تر دې چې امیر شي واده کړه. سردار محمد یعقوب خان او سردار محمدایوب خان د همدې قمر جانې زامن وو.

بر مومند بې وزلې خلک وو چې د کرنې ور مځکه یې پرته د کابل د سیند په اوږدو کې، لږ ده او د دوی د خانۍ د ودې لامل د دوی قومي جوړښت نه بلکې د دوی د وطن ستراتیژیک موقعیت دی. د لالپورې خان د خیبر د ساتونکي په حیث د جلال اباد او پېښور د سړک مالیه په ډاکه کې ټولوله او هم یې د کابل په دریاب د لرګو کشتیو مالیه راټولوله. کابل هم د لالپورې خان ته د خیبر د ساتنې او په بېړني حالت کې د ملیشې دچمتو کولو د پاره هم پیسې ورکولې. دا سبب و چې د مومندو خانانو تر منځ تخریبوونکې سیالي ریښې ځغلولې او د غچ دود پیاوړی دی. ...

د ۱۸۷۹ کال په دسمبر کې بر مومند وروسته له هغې د اعتراض غږ پورته کړ چې انګرېزانو امیر محمد یعقوب خان هند ته پرار کړ. لږ وروسته د پاخون مشرانو تر منځ چاود پیدا شو او محمد اکبرخان د انګرېزانو له خوا د برو مومندو د ادارې مشري (د انګرېزانو حکومت ته د وفادارۍ او ښه خدمت په شرط ) ومنله. د دې په بدل کې اکبر خان برتانوي قواوو ته خواړه چمتو کول او د دوی پر ضد د غزا په وړاندې درېدل و.

د افغانستان نه د برتانوي پوځ د وتلو وروسته امیر ګام په ګام اکبر خان د خپلو امتیازاتو نه بې برخې کاوه چې د سړک اداره یې ترې واخېسته او په ۱۸۸۳ کال کې د لالپورې باج ظبط کړل. پخوا د اکبر خان کلنی عاید نږدې سل زره روپۍ کېده. وروسته امیر دولت ته د خدمت او په بېړني حالت کې د ملېشې د جوړولو په بدل کې هغه ته پیسې ورکولې.

## د کنړ پاچا

کاکړ وایي چې د پېړیو راهیسې د کنړ تنګه او اوږده دره چې پښت یې مهم کلی و د نامتو پښتانه شوې سیدانو کورنۍ له خوا چې د عربي نسل نه ده، اداره کېده. سید علي ترمیزي چې په پیر بابا مشهور دی، چا چې ظهر الدین بابر د ترمېز نه بدرګه کاوه، د دې کورنۍ بنسټ ایښودونکی دی. د هغه قبر په بونیر کې د پاوچا په کلي کې دی چې تر اوسه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



درناوی کیږي. امپراتور همایون د بابر زوی او ځای ناستي ده ته کنړ وبخښه چې د مالیې نه ازاد و. د دوی نسل په ځایي خلکو کې د کنړ پاچایان یا د کونړ سیدان په نومونو مشهور دي. دوی د خلکو نه د مځکې مالیه د محصولاتو دریمه برخه اخېستله. د مالکولم یاپ په وینا د اتلسمې پیړۍ په ورستیو او د نولسمې پیړۍ په لومړیو کې د دوی عاید د شپتو او اتیا زرو روپۍ په منځ کې خوځېده. د سید د کورنۍ د غړو تر منځ بې اتفاقي د امیر دوست محمد خان سره مرسته وکړه چې د کنړ یوه برخه په کابل پورې وتړي. امیر د خپلې دوهمې واکمنۍ په یون کې کنړ د دوو ورونو سید بهاو الدین او محمد هاشم تر منځ ووېشه خو د کنړ لویه برخه یې په خپل سلطنت کې شامله کړه. امیر شیرعلي خان دغه ترتیب همغسې وساته خو امیر محمدافضل خان سید بهاو الدین بندي کړ.

د انګرېزانو له خوا د افغانستان دوهم ځلي نیولو په اوږدو کې د بها الدین زوی سید محمود پاچا چې د پلار ځای ناستی شو ټول کنړ تر تسلط لاندې راووست. هغه سمدلاسه د انګرېزانو خوا ونیوله که څه هم د هغه پلار د امیر شیرعلي خان په دوهمه واکمني کې کنړ ونیو او په خپله یې د وزیر محمد اکبرخان د خور سره واده کړی و او د امیر شیرعلي خان په مشورتي شورا کې د غړي په توګه یې په کابل کې دنده ترسره کوله. ده باور درلود چې د انګرېزانو په مرسته به کنړ په خپل لاس کې وساتي. د کابل د هر واکمن نه خپلواک او یوازې انګرېزانو ته اطاعت د نظر له مخې هغه د جګړې په وخت کې د غازیانو پر ضد د انګرېزانو خوا ونیوله. په ۱۸۸۰ کال کې سید محمود پاچا د برتانې د سیاسي استازي سر لېپل ګریفن ته په جلال اباد کې، چې کابل ته روان و په یوه لیدنه کې وړاندیز وکړ چې افغانستان دې په وړو ریاستو ووېشل شي چې یو د بل نه خپلواک وي خو برېتانیا ته به تابع وي. ده دغه مشوره هم ورکړه چې «... تر هغو چې محمد جان خان او پلویان یې پوره مات شوي نه وي، او د برتانې حکومت پوره لاس بری شوی نه وي، له هغه سره دې اخیري فیصله ونه شي.»۳۰۴ د ده خبرو په ګریفن دومره اغېز وکړ چې د برتانوي حکومت په استازیتوب یې د سید نیکاتي ملکیت ضمانت ورکړ چې «دی دې ډاډه وي چې حکومت به خپل لوزونه، او ټولې وعدې چې ورسره کړې، هر څه چې پېښ شي، تر سره کړي او له دې امله به هېڅ تاوان ورته ونه رسیږي، چې ده د برتانې خوا نیولې ده.»۳۰۵

د افغانستان نه د انګرېزانو د پوځ د وتلو وروسته امیر عبدالرحمن د سید د کنړ د سیند د دواړو غاړو د ځمکو ملکیت تایید کړ خو د مالیې د ورکولو غوښتنه یې ترې وکړه. خو زر د کنړ پاچا اړیکې د امیر سره خرابې شوې، لکه چې د هغه زوی، سید احمد پاچا، هغه مهال امیر یوازې پرېښود چې کندهار ته د ایوب خان د ځپلو دپاره په لاره و. سید محمود

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا لکه د خپل زوی د ژمنې د ماتونې، د شیرعلي خان د کورنۍ سره د هغه خپله ملګرتیا د وېرې له امله کله چې کابل ته راوغوښتل شو د راتګ نه ډډه وکړه تر څو پورې یې د برتانوي حکومت نه د امن ډاډ نوي تر لاسه کړی. ده د هند د حکومت نه وغوښتل، چې امیر ته د ده سپارښتنه وکړي. په دې اړه د سید محمود پاچا او انګرېزانو تر منځ څو لیکونه تبادله شول او په یوه لیک کې یې ګریفن ته وویل: «کوم هغه خدمتونه مې چې کړي، په دغه مقصد نه وو چې په بله نړۍ کې راته ګټه ورسوي» ده دا هم ورته ولیکل چې «تر اوسه مې چې څه په وسه کې وو، حکومت ته مې خدمت وکړ، او په خلکو کې مې بد نوم وګاټه، او تر هغو به کابل ته لاړ نه شم چې تر څو مې د برتانیې حکومت نه ډاډینه تر لاسه کړې نه وي.»۳۰۶

د هند د برتانوي حکومت او امیر تر منځ پر دې موضوع یو شمېر لیکونه تبادله شول. د برتانوي حکومت د باندنیو چارو وزیر. لایل، د ۱۸۸۲ کال د جنوري په ۱۲مه امیر ته ولیکل چې وایسرای «... ډاډه دی چې د عدالت په هغه احساس چې تاسې جلالتماب په کې نوم ایستلی دی، ټکنی به مو کړي چې له سید احمد [سید محمود] نه د هغه د زوی د ګناهونو قصور واخلي.»۳۰۷ امیر د برتانوي هند د بهرنیو چارو د وزیر د لیک په ځواب کې چې امیر ته یې د سید محمود پاچا سپارښت کړی و، ولیکل: « زه به سید محمود پاچا د خپل زوی په ګناه جزایي نه کړم، خو که د هغه د دندې او د هغه کړه وړه پرعکس ثابت کړي زه به بله کړنلاره ونه لرم بلکې هغه به د باندې وشړم.»۳۰۸

خو څنګه چې انګرېزانو د امیر سره ژمنه کړې وه چې د هغه سره به د ده د واکمنۍ په ټینګوالي کې مرسته کوي او د هغه په کورنۍ چارو کې به لاس وهنه نه کوي د هند وایسرا د سید محمود پاچا برخه لیک د امیر لوربینې ته پرېښود.

د ۱۸۸۲ کال د نومبر په میاشت کې هغه مهال چې د حکومت یو پوځي ټولګي د هغه پر ضد پرمختګ وکړ، پاچا چې انګرېزي متحدینو یوازې پرې ایښی و او هم د ځایي خلکو د مخالفت سره د هغه د انګرېزانو د پلوی له کبله ور سره مخامخ و لومړي میتۍ ته او وروسته په ۱۸۸۶ کال کې د هند حسن ابدل ته وتښتېد. کابل زر په کنړ نبغ کنټرول ټینګ کړ. پاچا په هند کې خپل ژوند د انګرېزانو په تنخوا تېراوه او په ۱۹۰۱ کال کې د امیر د مړینې وروسته کنړ ته راستون شو.

## شینواري

د کاکړ په وینا امیر عبدالرحمن د نورو قومونو په پرتله د شینوارو سره نرم چلند وکړو دا ځکه چې دوی د خیبر درې ته سړک خلاص پرې ایښی و. امیر دوی ته اجازه ورکړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه چې پېښور ته د سړک محصول واخلي او برسېره پردې یې دوی ته پیسې هم ورکولې. د دوی دوې څانګې: سنګو خېل او سیپای یې د مالیې د ورکولو نه معاف کړې وې. خو شینوارو د مومندو په شان نفوذ لرونکی یو خان هم نه درلود.

امیر په ۱۸۸۲ کې خپله پالیسي وروسته له هغې بدله کړه چې په ډاکه کې یې پوځي چاونۍ جوړه کړه. شینوارو امیر ته د مشرانو یوه جرګه ولېږله چې د خپلو حقوقو د بېرته لاسته راوړلو دپاره ورسره خبرې وکړي امیر د جرګې غړي بندیان او ځینې یې زندۍ کړل. په دغه وخت کې امیر په ټول ختیځ ولایت کې د شینوارو په ګډون په مځکه د حاصل دریمې برخې د مالیې سیستم اعلان کړ چې دولت ته به یې ورکوي. شینوارو د دولت د دې نویو تدبیرونو سره مخالفت وکړ خو د ۱۸۸۳ کال په جګړه کې چې د دولت د پوځ سره چې د جنرال غلام حیدر خان اورکزي یې مشري کوله ماتې وخوړه.

دې جګړې د شینوارو چلند سخت کړ کله چې د دوی یو شمېر مشران په جګړې کې ووژل شول او ځوانانو په مشرتابه کې د هغوی ځای ونیو. نویو مشرانو دا امتیاز چې د دریمې برخې پر ځای لسمه برخه مالیه ورکړي رد کړ چې په بدل کې به بې وسلې کیږي او برمته به ورکوي. د شینوارو او دولت تر منځ ډېرې نښتې وشوې چې په زیاترو کې شینوارو ماتې وکړه. دوی بیا سپین غره ته وختل او پر دې یې ټینګار کاوه چې د دوی نه دې مالیه نه اخېستل کیږي. د دولت بریالي لښکر د دوی کورونه او فصلونه وسوځول.

په ۱۸۸۵ کال کې نایب سالار غلام حیدر خان څرخي د ختیځ ولایت ملکي او پوځي اداره په لاس کې واخېسته. د هغه راتګ د سولې هیله پیدا کړه او ډېرې جرګې یې شینوارو ته ولېږلې. جرګې ناکامه شوې خو د شینوارو تر منځ یې بې اتفاقي منځ ته راوړه. دا مهال د هېواد په ډېرو برخو کې پاڅونونه ځپل شوي وو او دولت په شینوارو فشار زیات کړو. د ۱۸۸۸ کال په پای کې دولت د ننګرهار د نورو سیمو او تګاو نه ملیشه راټوله کړه او د دولتي قواوو سره یو ځای په شینوارو برید وکړ او سنګو خېل یې مات کړل. په پای کې شینواري اړ شول چې د یوه جریب مځکې په سر یوه روپۍ مالیه ورکړي او بېرته میشته شول. په دې ترتیب د دولت واکمني شینوارو ته لس کاله وخت ونیو. امیر هڅه کوله چې خپله واکمني باجوړ، دیر او نورو سیمو ته وغزوي خو په دې وخت کې د برتانوي هند حکومت د هند د ساتنې دپاره نوې ستراتیژي چمتو کوي چې دغه سیمې د خپل نفوذ لاندې وساتي او د کابل وراندې تګ په دې سیمو کې ودروي. د ۱۸۸۰ لسیزې په پای کې انګرېزانو بیا فارورډ پالیسي تر لاس لاندې ونیوه چې پایله یې په ۱۸۹۳ کال کې د ډېورنډ هوکړه لیک شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اسمار

کاکړ وایي چې دشینوارو د ارامښت وروسته افغان دولتي پوځ د غلام حیدر خان څرخي په مشرۍ د کنړ درې ته ننوت چې د ختیځ په لوري نوره سیمه ارامه کړي. د کنړ د رود د ښي اړخ ټولې درې چې ساپي او نور توکمیز ګروپونه په کې اوسېدل، لا دې مخه ارام شوي وې او یوه ټاکلې اندازه مالیه یې هم دولت ته ورکوله. دا لومړی ګام و چې رسمي واکمني دیر، سوات او باجوړ ته وغزول شي. امیر دعوی وکړه چې اسمار د کنړ برخه ده. که څه هم اسمار په جغرافیایي او دموګرافۍ له کبله په باجوړ پورې اړه درلوده خو باجوړ په خپله په جلال اباد پورې تړلی و. اسمار په ختیځو سیمو کې کیلیدي موقعیت درلود او د دغه اهمیت له امله د خیبر د درې سره پرتله کېدای شي چې د هند دروازه ګڼل کیږي.

دوه زره درې سوه کاله د مخه ستر مقدوني سکندر هند ته د تګ دپاره کنړ وټاکه. هغه خلک چې دلته دی په خپل پوځي کمپاین کې ورسره مخامخ شو د اسپاسیانو او اسواکا په نومونو یادېدل، چې د هغو نه د یوسفزو او افغان نومونه راوتلي دي.

په ۱۸۹۲ کال کې امیر عبدالرحمن په اسمار کې دولتي قواوې د سپاسالار غلام حیدر خان څرخي په مشرۍ ځای په ځای کړې چې د کنړ ختیځ ته د باجوړ او د هغه هغې خوا سیمو ته د کابل د واک د غزولو نښه وه.

## باجوړ، دیر او سوات

د باجوړ، دیر او سوات پراخې سیمې خپل چاري ریاستونه یا خانۍ وې چې په یاغستان باندې مشهور وو، چې د کنړ د درې په ختیځ کې د کنړ نه د ډېرینو غرونو په ذریعه بیلیږي. د یوسفزیو پښتنو بیلې بیلې څانګې او د مندیر قوم او د دوی نور ګاونډیان د دغو درو په ریاستونو کې اوسیږي. د باجوړ سیمه چې په نسبي توګه حاصلخېزه ده د پنځو درو: چارمنګ، بابوقارا، سور کمر، رود او ماموند نه جوړه ده. ناواګۍ د خانۍ مرکز د سور کمر په دره کې پروت دی. د باجوړ خلک په اساسي توګه د یوسفزیو ترکاني دي، خو موموند، سیپای، اتمانخېل او نور هم هلته اوسیږي. یو خان چې په ریاست واک چلوي یو څه وسله واله قوه ساتي او د مالیې لسمه برخه ټولوي. خو د هغه واک د یوې جرګې په ذریعه محدود وي.

د امیر عبدالرحمن د واکمنۍ په وخت کې د جنډول عمرا خان تر ټولو ځواکمن خان و. جنډول، چې د باجوړ او پنجکورا د دریابونو تر منځ پروت دی، ډېر خانان درلودل چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسته خېل مشهور دي. په پای کې د دوی نه عمرا خان د امان خان ترکاني زوی بریالی راووتلو او په ۱۸۹۰ کې د یوې لسیزې په اوږده مبارزه کې یې ځان د جندول خان کړو. دی په ۱۸۹۰ کال کې د هغه بري نه وروسته ډېر ځواکمن شو چې دیر یې ونیو او محمد شریف خان یې وشړلو او سوات ته مهاجر شو. د دې وروسته یې د چترال د ریاست واکمن ته ګواښ وکړ. د ۱۸۹۱ کال په منځ کې نواګی او په لړه اندازه سوات تهدید کړ.

په چټکۍ سره د عمراخان د ځواک لوړوالي ډېر خانان د ده پر ضد کړل. د باجوړ خان صفدر خان د دیر د شړل شوي خان محمد شریف خان سره اتحاد وکړ. د سوات خان میا ګل (عبدالودود) هم د عمرا خان پر ضد خلک لمسول. د هغه ملاتړ ځکه مهم و چې دی د عبدالغفور خان زوی و چې د سوات د اخوند په نوم مشهور و. همدارنګه د مومندو خانانو د عمرا خان د مخالفو خانانو نه ملاتړ کاوه.

امیر هم د صفدر خان ملاتړی و او هغه ته یې ډېرې پیسې ورکړې او د اړتیا په صورت کې یې د پوځي مرستې اراده هم څرګنده کړه. په خپله په اسمار کې د افغان د پوځ تمرکز د نایب سالار غلام حیدر خان څرخي چې خپله یوسفزای پښتون و د ځواک انډول د صفدر خان په ګټه بدل کړ. د عمرا خان ماتې او د امیر د واکمنۍ غزېدل نږدې مالومېدل. په دې وخت کې د هند حکومت سپاسالار او هم عمرا خان ته خبرداری ورکړ چې یو د بل پر ضد حرکت ونه کړي. په ځانګړې توګه یې غلام حیدر خان څرخي ته خبرداری ورکړ چې د دوی پرمختګ به د انګرېزانو سره د دښمنۍ په توګه وکتل شي.

امیر سپاسالار د پرمختګ نه منع کړ او عمرا خان د انګرېزانو په فشار افغانستان ته وتښتېد. پراري شریف خان بېرته د دیر خان شو او د نواب لقب ورکړل شو. دا خبره په ۱۸۹۷ کې وشوه چې انګرېزانو د یوه تړون له مخې نواب ته پیسې او د اړتیا په صورت کې وسله ورکولو ژمنه وکړه او نواب به د دې په بدل کې چترال ته سړک خلاص وساتي. د امیر هڅې چې کوزه کرمه، افریدي، وزیرستان او نورو ته واک وغزوي د انګرېزانو له خوا ناکامه شوې.

## د غلجیو ستر پاڅون او د هغه ځپل

کاکړ وایي چې په ۱۸۸۶ کال کې د غلجیانو سره د امیر اتحاد په اساسي توګه هغه وخت ولړزېد کله چې دوی د امیر په ضد پاڅون وکړ. دا پاڅون ځکه ډېر جدي و چې غلجیان د درانیو نه وروسته د پښتنو تر ټولو ستر قوم دی چې د هوتکو، توخي، اندړو، تره کي، سلېمان خېلو، ناصرو او خروټو د قبیلو نه جوړ دی. کاکړ د غلجیو او درانیو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیالۍ په اړه وايي چې غلجیان ځانونه د درانیو پیران بولي ځکه چې د دوی مشر میرویس خان هوتک په ۱۷۰۹ کال کې کندهار لومړی د پارس د صفویانو د سلطې نه خپلواک کړ او د هغه زوی شاه محمود هوتک او وراره شاه اشرف هوتک په پارس واکمني وچلوله. وروسته درانیانو په ۱۷۴۷ کې افغانستان د ستر احمدشاه په مشرۍ خپلواک او بیا په امپراتوري بدل کړ. د امیر عبدالرحمن د واکمنۍ په وخت کې هم د دوی تر منځ اړیکې زیاتره د سیالۍ او دښمنۍ او په لږه اندازه د همکارۍ او ملګرتیا بڼه درلوده.

د مخه مو یادونه وکړه چې امیر د غلجیو سره یو اتحاد جوړ کړ کله چې هغه د خپل سیال سردار محمدایوب خان سره په مقابله کې و. خو کله چې یې ایوب خان د ۱۸۸۱ کال په پای کې د وطن نه وایستلو د امیر اړیکې د غلجیانو سره په زیاته اندازه تر فشار لاندې راغلې. لومړی حکومت د اندړو مشران ونیول چې د ځنډېدلو پورونو د مالیې د ورکولو نه یې ډډه وکړه. د دې وروسته هغه تره کي له دې کبله وځپل چې د سردار محمدایوب خان ملاتړ یې کړی وو او دا یې هم ورځخه غوښتل چې د ځنډېدلو پورونو مالیه تادیه کړي. د دې برسېره یې د میرویس خان د ذوذات نه میرافضل خان هوتک په دې تور بندي کړ چې ګویا هغه د امیر شیرعلي خان د واکمنۍ پر مهال د تخت نیولو هیله درلوده. خو د هغه د بندي کېدو لامل دا و چې نوموړي د امیر شیرعلي خان د کورنۍ نه ملاتړ کړی و. د میرافضل خان هوتک بندي کولو ټول قوم ولمسولو.

امیر پردې هم قوم خپه کړو چې د ملا مشک عالم غوښتنه یې رد کړه چې امیر دې غازي محمد جان خان وردک او عصمت الله خان جبار خېل د بند نه ایله کړي. خو امیر دوی دواړه په دې تور بندي کړي وو چې لومړي دی ترورواوه او دوهم په دې تور چې سردار محمدایوب خان ته یې لیکونه استولي وو. خو اساسي پرابلم دا و چې د امیر او قومي مشرانو تر منځ باور نه و. دا ځکه چې د انګرېزانو سره د مقاومت په یون کې د غلجیو مشران ډېر غښتلي شوي وو چې امیر ورنه ډارېده. هغه همدارنګه د جنرال محمد جان خان وردک نه هم وېرېده چې هغه د خلکو په منځ کې د ازادۍ د لارې قهرمان و. ملا مشک عالم په ۱۸۸۶ کال کې د ۹۶ کالو په عمر مړ شو خو هغه د امیر په ضد د تبلیغ له امله خلک او په ځانګړې توګه سلېمان خېل راپارولي وو.

د امیر او د غلزیو د مځکو د مالکانو تر منځ اړیکې هغه وخت لا هم خرابې شوې چې هغه پر مځکو نوې مالیه ولګوله. په هغو مځکو چې د نهرونو په ذریعه خړوبېدې د حاصلاتو دریمه برخه، په هغو مځکو چې د چینو په اوبو خړوبېدې د حاصلاتو پنځمه برخه او په هغو مځکو چې د کارېزونو په ذریعه اوبه کېدې د حاصلاتو لسمه برخه مالیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولګوله. دا دې مالیې تر ټولو درانده اندازه وه چې دوی ورسره مخامخ شول په داسې حال کې چې د درانیو د مځکې ملکان د مالیې نه ازاد وو. د دې برسېره یې د ملا مشک عالم او د هغه ځای ناستي زوی ملا عبدالکریم مدد معاش هم وربانديې بند کړ او د دوی په مځکو یې مالیه هم ولګوله.

د ۱۸۸۶ کال د اکتوبر په میاشت کې د غلزیو ناراضي مشرانو د جلا وطن سردار محمدایوب خان په ملاتړ بلوا وکړه.بیا جنرال تاج محمد خان غلزی چې ایوب خان یې پارس ته بدرګه کړی و وروسته یې په پټه ورسره لاس یو کړ. د پاڅون مشرانو د دې له پاره چې خپل پاڅون ته قانوني بڼه ورکړي ملا عبدالکریم ته یې د خلیفه لقب ورکړ او دوی د میرافضل خان زوی تاج محمد خان نه چې د بند نه خلاص شوی و وغوښتل چې د دوی پوځي کمپاین مشري وکړي. دوی سردار محمدایوب خان ته بلنه ورکړې وه چې د امیر پر ضد د دوی د پاڅون مشري وکړي.

سلېمان خېلو او اندړو د بلوا په لور لومړی ګام پورته کړ او د مقر په سیمه کې یې د درانیو یو پوځي ټولګی لوټ کړ او د هغې وروسته یې د غزني د ښار په لوري مارش وکړ. د ۱۸۸۶ کال د اکتوبر د میاشتې په وروستیو کې دوی په تلخزار کې د هغه لښکر له لوري مات شول چې د جنرال غلام حیدر اورکزي له خوا یې مشري کېده. جنرال د بلواګرو نږدې دوه زره سرونه کابل ته ولېږل چې هلته د تیمور لنګ غوندې یې کلا منار ورنه جوړ کړو چې د نورو د پاره عبرت شي. د بلواګرو مشران کاکړو ته وتښتېدل.

د بري وروسته امیر جنرال غلام حیدر اورکزي ته لارښوونه وکړه چې اندړ او د دوی متحدین بې وسلې کړي. ده همدارنګه هغه ته لارښوونه وکړه چې هغه تنخواوې ودروي چې دولت دیني عالمانو ته ورکولې، د هغو کسانو مځکې او نهرونه وپلوري چې تښتېدلي دي او د قره باغ د سیمې مځکې ظبط کړي. هغه جنرال ته دا لارښوونه هم وکړه چې په اتغر (د هوتکو د مځکو په زړه کې) یوه کلا جوړه کړي. د وروستۍ پرته نورې ټولې لارښوونې پلې شوې، د غلزیو سره سخت چلند وشو او د دوی ښځې سپکې شوې. داسې ښکارېده چې پاڅون ځپل شوی دی او دا احساس د ژمي له کبله پیدا شوی و. امیر هڅه کوله چې غلزیان په عمومي توګه تجرید کړي او په نېغه یې د دوی د مشرانو نه وغوښتل چې د ده اطاعت وکړي. هغه هڅه وکړه چې د خپل دراني قوم ملاتړ تر لاسه کړي چې د هغه سره یې اړیکې خړې پړې وې او خبرداری یې ورکړ چې د دوی نه وروسته غلزیان دوهم واکمن موقعیت لري. غلزیانو د درانې پوځي ټولګي د لوټولو وروسته څرګنده کړه چې دوی یوازې د امیر پر ضد پورته شوي او د درانیانو سره هېڅ شخړه او اختلاف نه لري. خو امیر د

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلزيانو پر ضد د دوی لمسولو ته دوام ورکړ لکه چې پرعکس يې غلزيان هغه وخت چې د سردار محمدايوب خان سره په جګړه بوخت و د درانيانو پر ضد لمسول. برسېره پردې يې درانيان د مځکې د ماليې نه ازاد خو په غلزيانو باندې يې د پاڅون د مخه درنې ماليې ولګولې.

په پای کې امير ناکامه شو چې د غلزيانو پر ضد د نورو خلکو ملاتړ تر لاسه کړي. هغه يوازې په دې بريالی شو چې هزاره ګان د قزلباشانو په مرسته د غلزيانو نه بيل کړي. خو په دې کې ناکامه شو چې د غلزيانو پر ضد د غزني او کوهستان د تاجکو ملاتړ وګټي. برسېره پردې امير په دې کې هم ناکام شو چې ديني علمان د ځان په لوري ودروي. د ګاونډيو سيمو غير دراني پښتانه د کاکړو په شمول د غلزيانو په خوا ودرېدل، خو يوازې توخي قبيلې په اړدوړ کې ونډه نه واخېسته.

په راتلونکي پسرلي کې پاڅون زيات پراخوالی وموند. د پاڅونکوونکو ټول شمېر د ۱۸۸۷ کال په مارچ کې تر اپرېل پورې د شلو زرو نه سلو زرو ته لوړ شو. که څه هم په قلات او اتغر کې لومړی پاڅونکوونکو بريالیتوب تر لاسه کړ خو وروسته دوی د دولتي پوځ له لوري چې جنرال غلام حيدر اورکزي يې مشري کوله په اتغر او کاتال کلا او نورو ځايونو کې يې ماته وکړه. د پاڅون په اخېرې مرحله کې په غير منتظره ډول دهرات نه هغه غلزيان چې د هرات په پوځ کې د سردار محمدايوب په خوا يې لا د مخه پاڅون کړی وو راورسېدل او د پاڅون سره يو ځای شول. دوی د پوځ په ماته اغېز وکړ او د ۱۸۸۷ کال د جولای په مياشت کې ناوه لاسته راوړه. خو ژمي په رارسېدو سره د دولت د منظم پوځ چې تازه دمې قواوو په ورتګ سره به قوي کېده نور د جګړې وس نه درلود او پاڅون وځپل شو. په دغه پاڅون کې نږدې څلورويشت زره غلزيان ووژل شول.

د غلزيانو پاڅون د سردار محمدايوب خان دپاره يوه موقع پيدا کړه چې يو ځل بيا خپل بخت وازمايي. څنګه چې ده په ناسم لوري سفر وکړ او په دې کې پاتې راغلو چې د سپتمبر تر پايه افغان پولې ته ځان ورسوي. دا مهال پاڅون تېر شوی و. په دې ترتيب سردار ايوب خان وروستۍ موقع هم د لاسه ورکړه چې افغانستان ته ننوزي، لکه چې د دې وروسته امير پولې ټينګې کړې او د پارس حکومت د انګرېزانو د حکومت په فشار د هغه د بندي کولو امر وکړ.

د غلزيانو پاڅون په اصل کې د دولت او د غلزيانو د مځکې د مالکانو تر منځ يو جنګ و، چې امير غوښتل د غلزيانو ځواک مات کړي. د امير له لوري د لمسوونکو تدبيرونو نه يو دا و چې د غلزيانو په مځکه والو يې درانه ماليه ولګوله چې د دوی مشران يې پاڅون ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړ کړل. امیر په دې کې ناکام شو چې د دوی پر ضد قومي ملیشې جوړې او جګړې ته یې ولېږي او د دیني علمانو نه د دوی پر ضد فتوه تر لاسه کړي چې دوی یاغیان وبولي. څنګه چې د غلزیانو مشرانو وسله کمزورې وه او د جګړې نور وسایل یې نه درلودل د یو ښه باډسپلین او ښه وسله وال شوي منظم پوځ په وړاندې د بریالیتوب چانس یې نه درلود.

د غلزیو د ماتې وروسته امیر په قصدي توګه دوی په اقتصادي توګه د بېوزلۍ کولو له امله ناتوانه او په سیاسي توګه کمزوري کړل چې په راتلونکې کې بیا پاڅون ونه کړای شي. د پاڅون بله پایله دا شوه چې دی د خپل دراني قوم سره ډېر نږدې شو او په ځانګړې توګه محمدزایي څانګې ته چې دی په خپله په هغې پورې تړلی و. هغه د کابل محمدزایانو نر او ښځو ته کالنی تنخواه مقرره کړه او د دوی د ټولې څانګې سره یې د دولت د شریکانو په توګه چلند کاوه.

## د سردارمحمد اسحاق خان بلوا او د هغه ځپل

د کاکړ په وینا افغاني ترکستان ته د کابل د واک پراخوالي د امیر په قدرت کې یو مهم زیاتوالی و. د ویدي دورې راهیسې ترکستان، چې د یوناني تاریخ پوهانو له خوا د بخدي، بلخ او باختر په نومونو یاد شوی، یو مهمه سیمه وه. د دې سیمې اهمیت په دې کې دی چې دا د لرغوني افغانستان د تمدن مرکز و. دا سیمه په اساسي توګه د کرهڼې او څړځایونو له امله مهمه وه او برسېره پردې د دې سیمې جغرافیایي موقیعت چې په نېغه منځنۍ اسیا د سوویلي اسیا سره نښلوي ډېر اهمیت لري. د زاړه پلاز بلخ (لرغونې زاراسپه) کنډوالې چې تر اوسه شته د هغه په لرغوني پرتم شاهدي ورکوي. په اوستایې دوره کې د اسپه د واکمنې کورنۍ پاچا ګشتاسپه د بلخ یا باختر بنسټ کېښود. دا د اسپه د کورنۍ د پاچا ویشتاسپه د واکمنۍ په یون کې و چې سمونپال زردشت د زردشتي دین تبلیغ پیل کړ. د زردشت مذهب بنسټ د خدای په دوه ګوني نظریې چې د نیکۍ خدای او د بدۍ خدای دي، ولاړدی.

کله چې بلخ په ۳۳۰ مخزیږدې کې د ستر سکندر د یرغل لاندې راغی، دا وخت بلخ لا پاچاهي وه چې خپل ډېر ښه کتان او غنم یې درلودل او په اخمیني پارس پورې تړلی و. د هغه واکمن بېسوس او بیا د هغه ځای ناستي سپیتامېنز د غښتلي مذهبي غږ سره یوه ملي جګړه پر مخ وړه. د الکساندر نه وروسته یوناني کلونیستانو د هغه پرمختګ سره مرسته وکړه چې د ځایي خلکو سره یې خپلوي او ملګرتیا وکړه. د فرانک هولت د اروپا د نولسمې پېړۍ پوه په وینا «په باکتریا کې یې د ټولې لرغونې نړۍ تر ټولو ښه څه ولیدل.»۳۰۹ دا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلخ پرتم و چې په اسلامي دوره کې د ښارونو د مور او همدارنګه د مځکې پر مخ د جنت په نومونو یاد شو. خو دا پرتمین ښار د افغانستان د نورو ښارونو په شان په دریارلسمه پیړۍ کې د چنګیزي یرغل په پایله کې په کنډواله بدل شو. د امیر دوست محمد خان په دوهمه واکمنی کې د ترکستان والي محمدافضل خان د بلخ پاتې شوي شیان تخته پل ته یووړل. د امیر شیرعلي خان د دوهمې واکمنۍ په وخت کې د سیمې شیعه والي نایب محمداسلم خان د بلخ په تاوان مزار شریف ته پراختیا ورکړه. مزار شریف د حضرت علي د زیارت په حیث یې د سیمې په مرکز بدل کړ. همدارنګه په مزار کې ملي قهرمان وزیر محمد اکبرخان او امیر شیرعلي خان هم ښخ شوي دي.

د ۱۸۸۱ کال په لومړیو کې سردار محمداسحق خان د امیر عبدالرحمن د سکه تره امیر محمداعظم خان زوی د امیر نه وغوښتل چې امیر دې دی په استثنایي ډول د ترکستان د مالک په حیث وپېژني. امیر نه غوښتل چې سردار ولمسوي او ژمنه یې ورسره وکړه چې همداسې به وکړي کله چې زموږ ستونزې چې سردار محمدایوب خان په هرات کې جوړې کړې دي لیرې شي. په هر حال دې غوښتنې د امیر او سردار تر منځ اړیکې ترینګلې کړې. کله چې د ۱۸۸۱ کال په پای کې کندهار او هرات د امیر تر واکمنۍ لاندې شول او سردار ایوب خان پرار شو، اسحاق خان د امیر نه وغوښتل چې د ده کشر ورور د هرات د والي په توګه وټاکي. امیر د دې نه انکار وکړ خو پر سردار یې د پراخ واک باور وکړ او د ولایت د ټولې مالیې د ساتلو واک ورکړ. برسېره پردې یې ده ته د کابل نه نورې پیسې ورلېږلې تر څو خپل موقعیت په دغه مهم سرحدي ولایت کې ټینګ کړي.

په پای کې سردار محمد اسحاق خان په عمل کې د ترکستان خپلواک واکمن و. هغه به کابل ته د اسانو ډالۍ لېږلې او خطبه د امیر په نامه ویل کېده. خو امیر د سردار درې ورونه په کابل کې د مېلمانو په توګه ساتلي و خو په عمل کې دوی برمته وو.

په ۱۸۸۴ کال کې د میمنې نسکورېدل د دواړو تر منځ اړیکې خرابې کړې. اسحاق خان د میمنې پر ضد بیړنی ګام پورته کړ چې دا ولسوالي زیات وخت د ترکستان برخه وه او سردار هیله درلوده چې د میمنې د ارامښت وروسته به هغه امیر په حقوقي توګه ده ته ورکړي خو امیر داسې ونه کړل.

اسحاق خان د میمنې په سر د مایوسۍ نه وروسته هڅه وکړه چې خپل دریځ نور هم ټینګ او د خلکو زیات ملاتړ تر لاسه کړي. کابل ته د راپورونو له مخې د سیمې په خلکو کې د سردار د واک د هغه د شهرت زیاتوالي امیر اندېښمن کړی و. په ۱۸۸۰ کال کې چې سردار د سمرکند نه چې هلته پراري و، وطن ته راستون شو هغه خلکو د ترکستان د والي په توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وټاکه. مهمه دا وه چې د سردار اداره نرمه او د امیر سخته وه. د دواړو تر منځ په خوی کې زیات توپیر و. سردار قدرمن او پرهېزګار او امیر توند خویه او سختګیر و.

سردار د نقشبندیه طریقې پیرو و او له دې کبله ازبکو او په ځانګړې توګه ترکمنو ته زیات نږدې و . هغه په خپل پوځ کې د زیات نفوذ څښتن و او تنخوا یې په وخت تادیه کوله. څنګه چې ترکستان یو سرحدي ولایت و او د روسیې تر ګواښ لاندې و نو امیر سردار ته د لوی پوځ د جوړولو اجازه ورکړې وه. څنګه چې د سردار سره کابل د پیسې مرسته کوله هغه د خلکو نه ډېرې پیسې نه غوښتې نو ځکه یې په دوی کې شهرت زیات و. هغه هڅې چې د کابل د اغېزمنو کسانو له خوا د سردار د پخلاینې له پاره وشوې ګټه ونه کړه. د دې وروسته امیر غوښتل چې سردار د ترکستان نه لیرې کړي. خو اسحاق خان چې د امیر د سکه تره محمداعظم خان زوی و یوازینی محمدزای سردار و چې د تخت دعوه یې درلوده نو د امیر د غوښتنې پر خلاف کابل ته یې د تګ نه ډډه وکړه او امیر ته دخطبې نه انکار د ګواښ زنګ و. امیر د غلزیو د پاڅون د ځپلو وروسته پرېکړه وکړه چې دا خطر لرې کړي. امیر یو ځل بیا سردار کابل ته راوغوښت چې په دولتي چارو کې ورسره مشوره وکړي خو واقعیت دا و چې امیر غوښتل چې د دندې نه یې ګوښه کړي.

د ترکستان د مشرانو خیال دا و چې د امیر له خوا بیا کابل ته د سردار د غوښتلو نه مالومېږي چې امیر غواړي په ترکستان په خپله واک وچلوي او د دې ولایت په خلکو استبداد وکړي. دوی غوښتل چې د سردار په پلوی پاڅي او افغانستان د ده له پاره ونیسي. د نقشبندیه طریقې مشرانو سردار تشویق کړ چې تخت به ورته ونیسي. سرتېرو او افسرانو سوګند وکړ چې ده ته به وفاداره وي. د ۱۸۸۸ کال د اګست په لسمه دوی سردار اسحاق خان د امیر په توګه اعلام کړ او خطبه یې د ده په نوم وویله.

په دې وخت کې سردار اسحاق خان څرګنده کړه چې د کابل خلکو هم ده ته د ملاتړ وعده را لېږلې او دی به د افغانستان د خلکو کسات له امیر د استبداد په وړاندې اخلي. اسحاق خان په تاکتیکي لحاظ دا اوازه خپره کړه چې امیر مړ دی. سره له دې په میمنه او اندخوی کې پېښې د ده پر ضد وې. په میمنه کې جنرال شربت خان سردار ته وفاداري څرګنده کړه خو پوځ او خلکو امیر ته وفادار پاتې شول او جنرال یې بندي کړ. همدارنګه د اندخوی او دولت اباد د ولسوالیو خلک امیر ته وفادار پاتې شول. په دې ترتیب د سردار شمال لوېدیځ اړخ نا امنه پاتې شو.

د پورته یادو شوو پېښو سره سره اسحاق خان د خپل پوځ په مشرۍ د کابل په لور حرکت وکړ او خپل کوچني زوی محمد اسمعیل خان ته یې د ترکستان چارې وسپارلې. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کندوز کې د ده سره د هغه ځای میر سلطان مراد یو ځای شو او پوځ یې په خان اباد او بدخشان کې ځای پرځای کړ. په پای کې ټول بدخشان د ده په لاس کې په اسانه توګه پرېوت ځکه چې په دغه وخت کې د بدخشان ګورنر سردار عبدالله خان توخي کابل ته د تګ په لاره کې و. په دې توګه د میمنې پرته ټول شمالي افغانستان د اسحاق خان د واکمنۍ لاندې راغی.

د اسحاق خان پاڅون د ایوب خان د پاڅون په شان د امیر عبدالرحمن له پاره ورته ستونزې را ولاړې کړې. اسحاق خان په داسې وخت کې د کابل په لور پوځ روان کړ چې امیر ډېر ناروغه و. برسېره پردې د غلزیو د پاڅون د ځپلو نه وروسته عمومي ذهنیت هم د سردار اسحاق خان په ګټه و. خو سره له دې چې امیر ناروغه و بیا یې هم جدي تدابیر ونیول.

امیر سره له دې چې په اخلاقي لحاظ د دفاع وړ نه و بیا هم هڅه وکړه چې عمومي ذهنیت د خپل سیال پر ضد تیار کړي. لومړی امیر د علمانو نه دا فتوا تر لاسه کړه چې سردار یاغي دی او د دې فتوې پر بنسټ یې ټولو قومونو ته خبر ورکړ چې سردار یاغي شوی او پر ضد یې عمل ته رابلل. بل ګام یې دا و چې هغه د سردار پاڅون د روسانو لمسون وګاڼه او پاڅون ته یې د مذهبي جنګ بڼه ورکړه، که څه هم په پاڅون کې د روسانو د لمسون نښې نه وې. ځنګه چې د سردار مور ارمني مینځه وه او سردار یې د روسې نوکر باله. دغه تومت چې امیر د برتانیا تر ساتنې لاندې دی د سردار اسحاق خان له خوا تبلیغېده خو دا ټول پروپاګند د دې له پاره کېده چې د قدرت په خاطر مسلمانان سره وجنګوي.

امیر یو غښتلی پوځ د غلام حیدرخان اورکزي تر قوماندنۍ لاندې د پاڅون پر ضد واستوه. د پوځ سره د دایزنګي او دایکندي هزاره ګانو وروسته له دې ملا وتړله چې د سردار اسحق خان مخکینۍ قواوې د جنرال نجم الدین تر مشرۍ ماتې وکړه. په دې وخت کې د امیر اساسي پوځ د نایب سالار اورکزي په مشرۍ غزنیګک ته راورسېد چې هلته پاڅونکوونکو د سپاسالار محمد حسین خان تر مشرۍ لا د مخه موقعیت نیولی و. دواړو قواوو غوځه جګړه پیل کړه.

د ۱۸۸۸ کال د دسمبر په ۲۷ نېټه د جګړې په درشل کې محمد اسحاق خان چې په غونډۍ یې ځای نیولی و د امیر د پوځ د یوې څانګې له خوا یو ټاپه شوی قران ور ورسېد چې د جګړې په وخت کې به د ده لوري ته اوړي. د رښتنې جګړې په ورځ د امیر د پوځ یوه برخه د سردار عبدالله توخي په قوماندانۍ جنګېده ماتې وکړه او نور اووه غونډونه سردار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته تسلیم شول. د دې وروسته په ښکاره برپالی شوی اردو د ښکاره مات شوي پوځ نه پاتې سامان لوټ پیل کړ. په دغه شېبه کې د نایب سالار اورکزي له لوري حیرانوونکی او سخت برید وشو چې د سردار پوځ یې اړ کړ چې خپل وضعیت بیا جوړ کړي خو دې کار د سردار د پوځ بریالیتوب غیر یقیني کړ.

وروستی او د حیرانتیا وړ خبره چې دې جګړې پایله یې د امیر په ګټه واړوله، دا وه چې د ناسم پوهاوي په پایله کې د اسحاق خان سملاسي تښتېدل و. وروسته له دې چې یاور یې خبر ور کړ چې تنظیمونکی غونډ تسلیم شو د جګړې د ډګر نه وتښتېد او نېغ سمرکند ته لاړ. هغه فکر کړی و چې خپل غونډ یې تسلیم شوی په داسې حال کې چې دوی ته د امیر تنظیموونکی غونډ تسلیم شوی و. اسحاق خان دومره ډار شوی و چې پرته له دې چې ځان ته یې مالومه کړي د جګړې د ډګر نه خپلې پښې سپکې کړي او ګټلې جګړه یې بایلوده او د امیر سره بخت یاري وکړه او نږدې بایللی جنګ یې وګاټه او د ټول افغانستان واکمن شو.

امیر یو کال په مزار کې پاتې شو او هغه کسان یې سخت وځپل چې د اسحاق خان سره یې مرسته کړې وه. هغه د روسیې ضد ویناوې کولې او د سرحد په اوږدو کې یې د پولې د پیاوړي کېدو له پاره نظامي پوستې جوړې کړې. برسېره پردې یې شمال ته د هندوکش سوویل نه پښتانه او نور اتنیکي ګروپونه ولېږدول، هلته یې میشته کړل. دې پروسې وروسته هغه مهال هم دوام وکړ چې په مزار کې محمد ګل خان مومند او په کندوز کې شیر خان خروټی والیان وو. په دې ترتیب ترکستان د افغانستان نه بیلېدونکې برخه شوه.

## امیرعبدالرحمن او په شمالي افغانستان کې د سرحدي ولسوالیو ارامښت

### میمنه

میمنه په شمالي افغانستان کې یوه لویه ولسوالي وه چې اوسېدونکي یې په اساسي توګه ازبک او ترکمن او یوه واړه برخه یې تاجک او پښتانه وو. احمدشاه دراني حاجي خان ازبک د میمنې او بلخ د والي په توګه پېژندلی و په دې شرط چې د جګړې پر مهال به دولت ته وسله وال لښکر چمتو کوي. تیمورشاه د نوموړي د زوی واک یوازې په میمنې پورې محدود کړ. خو کله چې سدوزي او بارکزي شاه زویان یو د بل سره د واک پر سر په جګړو بوخت وو نو میمنه خپل سرنوشت ته پرېښودل شوې وه. ورپسې کله چې محمدزي سردارانو یو د بل پر ضد د واک پر سر جنګېدل میمنه تر ۱۸۳۰ کال پورې همغه شان په خپل حال پاتې وه، تر څو چې مېزراب خان په خپلو سیالانو بریالی شو. میمنه د هغه تر واکمنۍ لاندې پرمختګ وکړ، خو د هغه د مړینې وروسته په ۱۸۴۵ کې په میمنه کې بله

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورنۍ جګړه ونښته چې تر هغه اوږده شوه تر څو يارمحمد خان الکوزي په ۱۸۴۸ کې ونيوله او په هرات پورې، چې د ده د واک ساحه وه، وتړله. په ميمنه باندې د يارمحمد خان واکمني اوږده نه شوه او د حکمت خان والي له لوري خپلواکه شوه تر څو په ۱۸۵۵ کال کې والي حکمت خان د امير دوست محمد خان اطاعت وکړ. خو د امير د مړينې وروسته د ۱۸۶۰ کلونو د کورنۍ جګړې پر مهال د والي حکمت خان ورور مير محمد حسين خان په خپلواکه توګه ميمنه اداره کوله. نوموړی په ۱۸۶۶ کال کې د امير شيرعلي خان اطاعت وکړ او د کال يې سل زره ټنګې ماليه ومنله. خو والي بيا خپلواک شو کله چې امير خپلو ورونو ته واک بايلود. په ۱۸۶۸ کال کې سردار عبدالرحمن ميمنه په ۱۶۰۰۰ کسانو کلابنده کړه. د ميمنې يوه مياشت کلابندي سردار پرېښوده او کابل ته لاړ تر څو د امير شيرعلي خان په وړاندې د خپل سکه تره سره مرسته وکړي. خو کله چې شيرعلي خان دوهم ځل واکمن شو د ميمنې والي د هغه اطاعت ونه کړ او د بخارا پاچا او سردار عبدالرحمن ته، چې سمرکند ته پرار شوی و، ليکونه استول. خو امير شيرعلي خان په ۱۹۶۹ کې ميمنه ونيوله او د افغان انګليس د دوهمې جګړې پورې د دولت د افسرانو له خوا اداره کېده.

د امير عبدالرحمن خان د واکمنۍ په وخت کې ميمنه د مير دلاور خان تر واک لاندې وه. ده هغه وخت ميمنه کې واک تر لاسه کړ چې دولتي ګارنيزون د هغه ځايه ووت. ده له هغه وخته د سردار محمد ايوب خان ملاتړ کاوه. والي دلاور خان د امير نه ډارېده او د هغه د هڅو سره چې ميمنه په خپل کنترول لاندې راولي مخالف و. هغه نه غوښتل چې دولتي قواوې هلته ځای په ځای شي او د هغې مالې د ورکولو نه يې هم ډډه وکړه چې پخوا يې ورکوله.

برسېره پردې والي هڅه وکړه چې د برتانيې او يا روسيې تر ساتنې لاندې راشي. هغه ان په دې اړه انګرېزانو ته ليک واستاوه چې دا د روسانو ته مالومه وي چې زه د برتانيې حکومت تابع يم. زه هيله لرم چې ماته زما د چارو په اداره کې لارښوونې راکړی. د ده د ليک په ځواب کې انګرېزانو ورته وليکل چې د برېتانيا حکومت ميمنه د امير د واک د ساحې برخه ګڼي. د برتانيې حکومت امير هم د موضوع نه خبر کړ. ورپسې والي په مروه کې د روسيې د رسمي واکمنو وغوښتل چې ميمنه ونيسي. خو په دغه وخت روسانو دا کار نه شو کولی ځکه چې دوی د ساريک او د پنجده د ترکمنو سره لاس او ګرېوان و او پنجده تر دغه وخته ازاده وه. سره له دې يې راپور ورکړی و چې والي ته به وسله ورکړو او والي به د دې په بدل کې زموږ بيرغ په ميمنه کې رپانده کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



والي هغه کوله چې خپل موقعیت ټینګ کړي. په دې اړه والي یو لړ ګامونه پورته کړل چې لوستونکي کولی شي د کاکړ په کتاب کې یې ولولي. خو امیر په ۱۸۸۴ کال کې کله چې روسان مروې ته ورسېدل، دا موضوع ډېره جدي ونیوه او میمنه د دوی د یرغل په شان کتل کېده. یوازې بیا امیر امر وکړ چې په یوه وخت کې دې د هرات او مزار نه وسله وال پوځونه میمنې ته ولېږل شي چې په پایله کې د امیر د واکمنۍ لاندې راغله. امیر دلاور خان بېرته د میمنې والي وټاکې او واک یې محدود شو او د حکومت قواوې په میمنه کې ځای په ځای شوې او په دې توګه په ۱۸۸۴ کې په میمنې کې د امیر د واک په غزېدو سره د افغانستان بیا یووالی بشپړ شو.

## شغنان او روشان

د شغنان او روشان غرنۍ ولسوالۍ د شمال ختیځ افغانستان د بدخشان په ولایت پورې اړه لري چې مرکز یې د فیض اباد ښار دی. شغنان او روشان د درواز او واخان د ولسوالیو غوندې د پنجا رود دواړو خواوو ته پراتې دي. د شغنان زیاته برخه د رود ښۍ خوا ته پراته ده د پنجا رود تنګ او د دواړو لورو خلکو ته د تېرېدو د پاره خنډونه نه جوړوي. دلته لکه د پاسني اکسوس غوندې درې د یو بل نه د غرونو په ذریعه بیلې شوې، چې د لوړو څوکو نه یې تېرېدل ناشوني دي، د دواړو غاړو میشتو خلکو له پاره اساسي د تګ راتګ لاره رودونه جوړوي. زیات وخت د بلخ واکمنانو په بدخشان خپل اختیار ته پراختیا ورکړې ده.

د روشان او شغنان اوسېدونکي په ناسمه توګه تاجک یا د غره تاجک یاد شوي دي. د ارغوان په وینا «هغه څوک چې د پامیر په لمنو او د بدخشان په لوړو کې ژوند کوي په مونجي، واخي، روشاني، سنګلیچي ژبو او د پامیر په نورو لهجو خبرې کوي. دوی نه تاجک، نه پښتانه، نه هزاره دي بلکې بیل توکمیز ګروپونه دي. د دوی ژبې او په ځانګړې توګه سرغلامي د نورو ژبو په پرتله پښتو ته نږدې دي. د دوی پرته د بدخشان نور اوسېدونکي تاجک دي.» ۳۱۰ د پامیر ژبې په ټولیز ډول غلچه نومېږي.

د دوی مځکه غرنۍ او د کرنې وړ نه ده. د شغنان او روشان عادي وګړي چې د واکمنو کورنیو نه یې توپیر کیږي سوله خوښونکي خو بختور نه دي. د شغنان او روشان ټولنې په سلسله ییزه توګه په واکمنو اشرافو او عادي وګړو وېشل شوې دي. په واقعیت کې د روشان او شغنان تاریخ د عادي وګړو په پرتله په زیاته کچه د خواصو (میرانو، شاهانو، او بېګانو) دی. نږدې اویا په سلو کې د شغنان اوسېدونکي افیوم څکوي او غمزه څښي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل د مستۍ په حالت او ګوښه توب کې ژوند کوي. د شغنان خلک د شیعه د اسماعلیه څانګې په اسلام باور لري او په زیاته اندازه په مذهب تمرکز کوي سره له دې چې دوی نه لمونځ کوي او نه روژه نیسي. دوی په خپله د مذهب په پر تله په مذهبي مشرانو (پیرانو) باندې خپله عقیده ټینګه ساتي او د بمبيي اغاخان د دوی لوړ پیر دی. د «شاه» کلیمه چې د خشترا او اوستا د کلیمې نه اخېستل شوې چې د څواک او تسلط سیمبول دی شاید د «شاه- خاموش» یوه برخه وي چې د دغې پاچاهي سلسلې بنسټ یې ایښی دی. دغه میران او شاهان مطلق واک چلوي، د دوی کوچنیان پلوري او نورو ته یې د ډالۍ په توګه وړاندې کوي.

د شغنان میرانو د چاپېر سیمې د شاه زویانو سره د واده په کولو سره خپل حالت ښه کړی دی. د ۱۸۷۰ مو کلونو کې د کاشغر د یعقوب بېګ، د یارقند د خدایار خان، د چترال شاه زوی افضل الملک، د کندز ازبک میر او ځینو افغان افسرانو او شاه زویانو سره وادونه کړي دي. د امیر عبدالرحمن خان یوه ښځه د مخه تر دې چې امیر شي د بدخشان د یوه څواکمن میر جهاندارشاه لور وه. د هغې د مړینې وروسته سردار د هغې د خدمتګارې ګلرېز سره واده وکړ چې د هغې نه یې دوه زامن درلودل، یو یې حبیب الله خان د امیر ځای ناستی شو. د شغناني ښځو سره واده د دوی د ښکله له کبله کېده او په سیاسي لحاظ مهم نه و.

د شغنان میر د هغې لارې د ساتونکي په حیث چې کاشغر، یارقند، بخارا او پېښور ته تلله د سوداګرو نه مالیه اخېسته. کتان، چیني لوښي، چای، بوټونه او نور توکي د سوداګرو له خوا دلته راوړل کېدل چې په مریانو، وړیو او پوستینو باندې تبادله کېدل. کله چې چینایانو په ۱۷۵۹ کې کاشغر ونیو دوی د شغنان میر ته د لارې د خلاص ساتلو په خاطر یو ډول سبسیډي ورکوله. میر د دغو پیسو یوه برخه د شیعه د اسماعلیه د څانګې لوی پیر د بمبيي اغاخان ته ورکوله.

همدارنګه د شغنان ولسوالي د بدخشان په ولایت پورې تړلې وه خو د هغې میر د یوه برابر همکار په توګه لکه د یو ډول کنفېډرېشن غوندې کړه ترسره کول. د بدخشان میر د شغنان میر ته اجازه ورکړې وه چې کورنۍ خپلواکي ولري، لکه چې میر نورې ولسوالۍ هم په کورنیو چارو کې خپلواکې پرې ایښې وې. هغه کله کله اسونه، اوسپنه د باج په توګه او همدارنګه په بیړنیو حالاتو کې پوځي مرسته هم ترېنه ترلاسه کوله.

د اوومې پېړۍ راهیسې په شغنان او روشان باندې د شاه- خاموش ذوذات واکمني چلوي، چې د پارس نه راغلي او د اوسېدونکو ډېرکی یې د زردشتي دین نه د شیعه عقیدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلام ته واړول. ده شغنان د کاهاکاه زردشتي والي نه چې بلخ یې پلاز و په زور ونیو. تر نن ورځې د شاه عقیدتمن د شاه زیارت ته ځي، چې په بر پنجا کې پروت دی. د شاه ذوذات خپل واک ته د بدخشان او چترال تر پولو پراختیا ورکړه او پر بله نقطه کې یې واخان او درواز او ټول چاپېر دولتونه د شغنان د پاچا تر واک لاندې وو. د ۱۷۴۹ نه راهیسې روشان او په رښتیا ټول بدخشان د دراني امپراتورۍ برخه وګرځېد  خو خپله کورنۍ خپلواکي یې وساتله په دې چې موقعیت یې سخت و. د کورنۍ جګړې په جریان کې چې د امپراتورۍ په ماتېدو پای ته ورسېده. په ۱۸۱۸ کې غښتلي اوزبک شاه زوی میر مراد بېګ د امو د سوویل نه تر بامیانه، بدخشان او په نورو ټکو له واخانه تر بلخه او د هندوکش نه د کاراتیګین تر پولې د ټول ملک څښتن و. هغه د بدخشان د اوسېدونکو لوی شمېر د مریانو په توګه وپلورل یا یې چې د تبې نه د منځه لاړ شي د کندوز په ختېنه دښته کې پرېښودل. د شغنان میر هغه ته هر کال پنځلس مینځې جونې د باج په توګه ورکولې. د چارو دغه حالت د امیر شیرعلي خان په واکمني کې هغه مهال پای ته ورسېد چې والي نایب سید عالم خان ټول ترکستان ارام کړ.

په ۱۸۷۴ کال کې شاه یوسف علي شاه د بدخشان په ګډون د کابل واکمني ومنله. خو د واک په چلولو کې یې خپل لاس ازاد وساته. د امیر عبدالرحمن خان د واکمنۍ په لومړیو درې کالو کې میر د پخوا په شان واک چلاوه، مریي هلکان او مینځې جونې او نور توکي یې امیر ته د مالیې په توګه استول. په ۱۸۸۳ کې د هغه اړیکې د کابل سره خړې پړې شوې. په دې وخت کې شغنان په نړیواله کچه مهم شو او میر د روسیې د تسلط لاندې بخارا ته میلان وښود. د شغنان میر د ۱۸۷۳ راهیسې د خپل تسلط د برخه لیک په اړه اندېښمن و، کله چې هغه واورېدل چې د روسیې او برتانیې تر منځ پوهاوی رامنځ ته شوی چې د امو رود به د بخارا او افغانستان تر منځ پوله وي. دغې هوکړې د ده د تسلط د سیمې نه د لویې او مهمې برخې د بیلولو مانا درلوده چې د بخارا برخه به ګرزي. د دې له پاره چې د خپل تسلط سیمه په بشپړه توګه وساتي هغه د بخارا او کابل سره ښې اړیکې ساتلې. د احتیاط له مخې هغه روشان خپلو کوچنیو زامنو په لاس ورکړ. روشان هم مهم و په دې چې د اوسپنې زیاته زېرمه یې درلوده چې کابل ته د میر د باج برخه په کې شامله وه. په ۱۸۸۲ کې میر یو روسی پلاوی په شغنان کې ومانه. بل کال یوه روسي پلاوي د میر سره ولیدل او دی یې زیات باوري کاوه چې «هغه باید د بدخشان د واکمن نه ونه ډار شي»۳۱۱ ځکه چې روسان د اکسوس په ښي اړخ کې پاسنی شغنان د خپل نفوذ د سیمې په څېر ګڼي. دا هغه وخت و چې میر د بدخشان د افغان والي عبدالله توخي خطبې نه انکار وکړ او خپله کورنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ساروجان ته واړوله چې د ۱۸۷۵ نه راهیسې بخارا نیولی و. میر ویرېده چې که ځان والي ته وسپاري نو دی به د نورو ولسوالیو په شان د دولت په افسرانو بدل شي. دا د هغې ژمنې پرخلاف و چې په ۱۸۸۰ کې امیر عبدالرحمن ده ته ورکړې وه. د دې کال په لومړیو کې کله چې امیر عبدالرحمن د سمرقند نه بدخشان ته راغی هغه دوی ته وعده ورکړه «تر هغه پورې چې دی واک ولري د بدخشان میر به د مالیې د ورکولو نه معاف وي، او دا ټول به تر هغه پورې وي چې د هغه واک ومني.»۳۱۲

د دې برسېره میر د والي سره د لیدو نه ډاډه وکړه، میر د روسیې، بخارا، چین او یارقند د افسرانو سره په مکاتبه لګیا و. خو ده والي ته دا مالومات ورکړل چې بهرنیو افسرانو ته يې ویلي چې دی د افغانستان تابع دی.۳۱۳ خو والي پر ده بدګومانه و. په دې وخت کې یوه سیال فراکسیون د دراب شاه په مشرۍ شغنان ته سفر وکړ چې د میر دریځ يې کمزوری کړ. امیر د شغنان په میر شکمن و چې د روسانو سره په دسیسه بوخت دی په دې چې روسانو ته يې اجازه ورکړې وه چې شغنان وګوري او د هغه د لرې کولو امر يې وکړ. دا کار د ځینو ستونزو سره ترسره شو او په ۱۸۸۳ کې میر د یو سلو دېرشو پلویانو په ملګرتیا کابل ته راورسېد. په پای کې هلته یو د والي مرستیال وټاکل شو او یوځ ځای پرځای شو. په دې توګه شغنان او روشان د کابل د نېغ کنترول لاندې راغلل.

په پراخه توګه داسې ګونګوسې وې چې په شغنان کې یو نوی نظم جوړ شوی دی. هغه شغنا نیان چې د کلونو راهیسې يې هر چېرې په مریتوب کې ژوند کاوه د خپلو بادارانو نه بېرته خپلو کورونو ته راستانه شوي او په ازادۍ کې ژوند کوي. د دې سره سره د دوی ستونزې ډېرې وې. دوی د خپلو بادارانو د منګلو نه خلاص شوي دوی اوس ځانونه د حکومتي افسرانو تابع وموندل. ایله یو کال تېر شوی و کله چې د بدخشان نه ... نږدې نیم اوسېدونکي ... حصار، کولاب او کاراتیګین ته وتښتېدل. وروسته له دې امیر د دولت د دریځ پیاوړي کول پیل کړل او د رود په دواړو خوا يې پوستې جوړې کړې چې یوه يې دومره لیرې د یاهسیکول په ختیځه نقطه نږدې پامیر ته په سوماتش کې جوړه کړه. نوي والي د دندې د نیولو نه لږ وروسته روسي پوه م. ایوانوف د شغنان د ننوتلو نه منع کړ.

ټولو دغو پرمختګونو شغنان د نړیوالې ډپلوماسۍ په یوه د پام وړ ځای باندې بدل کړو. په شغنان کې د امیر په تدبیرونو باندې روسیې برتانیې ته اعتراض وکړ. په هغه وخت کې چې روسانو دا ادعا کوله دغه ولسوالۍ ازادې وې. خو د دې سره سره دوی ادعا کوله چې داسې نه وه « ... د دغو ولسوالیو نه یو شمېر يې په هغه تړون کې په رسمیت پېژندل شوې چې په ۱۸۷۳ کال کې د روسیې او برتانیې تر منځ شوی و او د افغانستان د ملکیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخه یې جوړوله.۳۱۴ روسیې په شغنان کې د امیر اقدامونه «یو ... سیخ تیری ګاڼه چې د تړون شرایط تر پوښتنې لاندې راولي»۳۱۵ او د برتانیې نه غواړي چې امیر اړ کړي «د تل له پاره د هغو په چارو کې د لاسوهنې نه لاس په سر شي.»۳۱۶

امیر عبدالرحمن خان ادعا کوله چې دا ولسوالۍ د افغانستان برخه وه ځکه چې دوی تل په بدخشان پورې اړه درلوده چې د افغانستان یو ولایت دی. د دغې ادعا په ملاتړ دا ویل شوي چې نه د پنجا رود، بلکې د اکسوس- مرغاب رود د سارېکول نه سرچینه اخلي چې د نړیوالې پولې په څیر هوکړه پرې شوې وه. په رښتیا د دې موضوع په اړه د برتانیې د حکومت وروستی رسمي پیغام چې روسیې منلی و په هغه کې د دواړو لویو ځواکونو په منځ کې یو پوهاوی منځ ته راغلی و. ویل کیږي چې «د اکسوس رود د کوکچې د رود سره په یوځای والي کې د خواجه صالح د پوستې په ګډون چې لوېدیځ ته ځي»۳۱۷ ښیي چې پنجا د پوهاوي نه د باندې پاتې کیږي. په دې مسله د روسیې او برتانیې د حکومتونو تر منځ زیات لیکونه تبادله شوي وو. امیر په دې اړه ټینګ دریځ نیولی و او دغه ولسوالۍ یې د خپل کنترول لاندې نیولې وې. خو روسیې د ۱۸۹۰یمو کلونو په پیل کې خپله ډپلوماسي په وحشیانه زور سره بدرګه کوله.

په ۱۸۹۲ کال کې د کرنېل یانوف تر قوماندانۍ لاندې یوه روسي کنډک په سوماتاش کې یو افغان پولې ساتونکی ټولی په ډله ییزه توګه وواژه. بل کال د روسیې یو بل کنډک د کرنېل یانوفسکي تر قوماندې لاندې شغنان ته ننووت خو افغانانو هغه په ځټ وتمبوه لکه چې د مخه یې یو چینایي کنډک د سوماتاش په شمال کې په شا تمبولی و. سره له دې د روسیې حکومت د برتانیې سره په خبرو کې په دې ټینګار کاوه چې کابل دې د شغنان او روشان هغه خوا تخلیه کړي. په پای کې د برتانیې حکومت د روسیې دا غوښتنه په هغه توګه ومنله لکه چې د روسیې غوښتنه یې د پنجدې په اړه په ۱۸۸۵ کې منلې وه او د امیر نه یې وغوښتل چې هغسې وکړي. امیر راضي شو په دې چې د ۱۸۹۲ کال په جولایي کې د برتانوي هند وایسرا امیر ته خبرداری ورکړ چې په پامیرونو کې د فعالې پالېسۍ له مخې موږ ته ستونزې جوړې نه کړې. د دې په بدل کې امیر باید هغه سخت ختیځ دهلیز واخان او د درواز یوه برخه چې د پنجا نه دې خوا ته پروت و، ونیسي چې بخارا ته تسلیم شوی و.

## واخان

واخان د بدخشان په شمال کې د لوی پامیر د پاسه د ویکتوریا جهیل یا سارېکول په سیمه کې یو اوږد خور وور میشته شوی دهلېز دی چې په زیاته اندازه اسماعلیه شیعیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په واخیانو مشهور دي او یو لړ شمېر سني کرغېز ترکمن شپانه په کې اوسېږي. دا د لوړې ارتفاع ځمکه ده چې هوا یې ډېره سخته یخه ده. د واخان د ځمکې محصولات محدود دي. سره له دې چې یو وخت پامیر د فرغانې یا چین ترلاس لاندې و په واخان باندې د ځايي میرانو واک چلېده. هغه زیات وخت د شغنان، درواز او زیباک د میرانو په شان د بدخشان د میر یا د قطغن د میر تابع و. میرانو به د دوی نه حیوانات، نایابه مرغان، غواړې او مریان د باج په توګه راټولول.

دغه د بحث لاندې مرحله کې واخان په نړیواله کچه د روسیې او برتانیې امپراتوریو تر منځ د خپل موقعیت له مخې مهم شو. څنګه چې د ۱۸۹۰ کلونو په لومړیو کې د واخان ساتل یو پرابلم شو. د ۱۸۷۳ کال د روسیې او برتانیې تر منځ په پوهاوي کې روسیې ومنله چې بدخشان د واخان د ولسوالۍ په ګډون د افغانستان برخه ده. خو امیر عبدالرحمن خان نه غوښتل چې هغه د پوځ په ذریعه ونیسي. لومړی لامل یې دا و چې روسانو د شغنان په اړه هم داسې ژبه کړې وه خو بیا یې خپل دریځ ته بدلون ورکړ او د برتانوي فشار په پایله کې امیر اړ شو چې د روسیې غوښتنې ومنې. دوهم لامل یې دا و چې کله روسانو په لمسوونکې توګه په ۱۸۸۵ کې پنجدې ونیوه برتانویانو خپله ژمنه پوره نه کړه. دریم لامل چې تر ټولو مهم و دا و چې واخان په هغه صورت کې چې روسانوورباندې یرغل کړی وای ساتنه یې ګرانه وه.

د دې سره سره د برتانوي هند د بهرنیو چارو وزیر مورتیمور ډیورنډ د ۱۸۹۳ په اکتوبر کې د واخان مسله د امیر سره راپورته کړه چې د روسیې او برتانیې تر منځ د بیلوونکې سیمې په توګه وګرځوي. هغه د امیر نه وغوښتل چې واخان ونیسي ځکه چې روسیه د هر بل ځواک په ذریعه د هغه د نیولو مخالفه ده. د ډیورنډ نیت دا و چې امیر اړ کړي په پای کې په هغه خپله سلطه ومني. په دغسې وضعیت کې واخان باید په نامه د افغان وکیل له لوري ونیول شي خو په واقعیت کې به هغه د برتانیې له خوا د ګلګت نه اداره کیږي.

کله چې شمال ختیځ افغانستان ته د روسیې د ګواښ په وړاندې امیر د برتانیې په ملاتړ هیله من شو په پای کې پرېکړه وکړه چې په واخان خپل واک ټینګ کړي، خو په پوځ سره یې ونه نیسي. ... د اکسوس رود چې د افغانستان شمالي پوله جوړوي د واخان دهلېز د دې لیکې سوونېل ته پروت دی.

په ۱۸۹۵ کې د برتانیې- روسیې ګډ کمیسیون او د افغانستان د حکومت غیر رسمي استازی د روسیې، افغانستان، چین او برتانیې تر منځ پوله وکښله. چین په خبرو کې ونډه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه واخېسته ځکه چې هغه کومه ادعا نه درلوده. په دې توګه د واخان دهلېز او د افغانستان پامیر د هغه وخت د درې سترو ځواکونو تر منځ بیلونکې سیمه جوړوي چې د نړۍ د بام په نامه یادیږي.

## امیرعبدالرحمن خان او د هزاره ګانو ارامښت

د کاکړ په وینا په ۱۸۹۱ کال کې نیمه –ازادو هزاره ګانو-د مرکزي لوړو مځکو هزاره جات اوسېدونکو ومنله چې د دولت افسران به هلته ځای په ځای کیږي. له دې لږ وروسته د دولت افسران او قواوې هلته په بیلو برخو کې ځای په ځای شول. خو هغوی ځایي خلک دومره تر فشار لاندې ونیول چې دوی پاڅون وکړ چې درې کاله اوږد شو. د هغه وخت راهیسې چې هزاره مشرانو په دوهمې افغان- انګلیس جګړه کې د برتانویانو نه ملاتړ وکړ دوی هم د نورو شیعیه مسلمانانو غوندې د خپلو سني ګاونډیو سره په بدو شرایطو کې وو. دې امیر ته دا ورتیا ورکړه چې د دوي پر ضد لوی لښکر او ملیشا واستوي. په پای کې هزاره ګانو ماتې وکړه؛ څه دراني او څه غلزي د دوی د مځکو په یوه برخه کې میشته شول او د دوی ځړ ځایونه کوچیانو ته ورکړل شول.

هزاره ګان د مرکزي لوړو مځکو په زیاته برخه کې چې هزاره جات نومیږي ژوند کوي. د هزاره جات د کرلو وړ مځکه لږ ده، شپږ میاشتې ژمی لري او د ځړ مځکې یې پراخې دي. هزاره جات په ۱۵ سیمو یا ولسوالیو وېشل شوی و چې هره یوه یې د یوې کورنۍ یا په ځانګړې ډول د بېګ (ټول سردار) له خوا اداره کېده. د دایزنګي بېګ کورنۍ ټول دایزنګي او د ابراهیم بېګ کورنۍ ټول دایکوندي خپله کړې وه. هزاره واکمن مشران یا میران دومره قدرتمن وو چې دوی په خپلو اړوندو ټولنو داسې واک چلاوه چې د ټولنې د جرګې سره یې مشوره نه کوله. دوی د خپلو ټولنو ماشومان د غلامانو غوندې خرڅولی شول. د هزاره ګانو ښځو یوازې د کور کار پر مخ ووړ او ماشومان یې زیږول. ځینې وخت دوی د خرو سره تبادله کېدې. ټول هزاره ګان د فارسي ژبې لهجه چې هزاره ګي نومیږي کاروي د دوی زیات ډېرکی شیعیه مذهبه او لږ یې سنیان دي. د دوی مشران تل په خپلو منځو کې جګړې کوي او د خپلو سني ګاونډیو سره د دوی اړیکې ترینګلې وي. د هزاره ګانو د شمېر په اړه راپورونه ډېر غټ دي. د نولسمې پیړۍ په دوهمه نیمه اي کې د ټولو هزاره شمېر نیم میلیون او د هزاره جات شمېر ۳۴۰۰۰۰ کورنۍ ښودل شوی دی.

## د هزاره ګانو اصل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاکړ وايي چې هزاره ګانو په افغانستان کې د ديارلسمې پېړۍ د لومړۍ نيمايي را هيسې ژوند پيل کړی دی. تر دې وروستي مهاله دا باور شتون درلود چې دوی د چنګېز خان د پوځ د نسل نه پاتې دي، لکه د نورستان د خلکو په اړه ويل کېدل چې د ستر سکندر د پوځ د نسل نه پاتې دي. خو دا باورونه سم نه دي. چنګيز خان خپلې قواوې وروسته له دې زر وايستې چې خپل کمپاين يې بشپړ کړ. دا يو څه وخت د ده د مړينې وروسته و، چې بيا د ده امپراتوري د ده زامنو تر منځ ووېشل شوه، د منګوليانو قواوې د افغانستان په څړ ځايونو کې په ځانګړې توګه د هزاره جات په لال اوکرمان، د هرات په بادغيس او د ترکستان په اشکاشم او تخار کې خپلې کېږدۍ ودرولې. دوی څرځايونه وټاکل تر څو وکولی شي خپل کوچي ژوند جاري وساتي. دوی د اس سپرو د پوره مهارت په لرلو سره د دې ځايه په مطلق ډول واکمني کوله او په کال کې به يې ځينې وخت او يا څو واره درانه ماليه د کليوالو خلکو نه چې پاتې وو، ټولوله.

منګوليانو د خلکو مرکزونه د منځه وړل او اوسېدونکي يې په ډله يزه توګه وژل. په دغه وخت کې چې د تاجکو نه يې ښارونه پاک کړل، د کليو پښتانه په زيات شمېر د شمالي هندوستان په لور وخوځېدل. پرعکس منګوليان او ترک- منګول په زيات شمېر افغانستان ته ننوتل. د پوځ هرې قطعې چې هلته يې کېږدۍ درولې وې، د زرو کسانو نه جوړه وه چې په پاړسو کې ورته هزار وايي. ګام په ګام دغو ميشته شويو خلکو ته د هزاره نوم وکارول شو او هغه ځمکه چې دوی ورباندې ميشته وو، د هزاره جات په نوم ياده شوه.

داسې ښکاري چې د هزاره جات اوسېدونکي په زياته اندازه د چغتايي منګولو نه جوړ وي. همدارنګه نور منګول او ترک- منګول هم د چغتايانو سره يو ځای شوي او دا هم شونې ده چې په خراسان کې دايلخانيانو ياغي قواوو هم په هزاره جات کې پناه موندلې وي. کله چې تيموريان بېرته سمرکند ته راستانه شول وروسته د ګوډ تيمور او د هغه د زوی شاه رخ ميرزا د واکمنۍ لاندې دې سيمې ته قواوې او اداري مامورين استول شوي چې ممکن ځينې يې هلته پاتې شوي وي. په دې توګه دا څرګنده ده چې هزاره منګول د منګوليا د قواو زوزات دي، چې زياتره يې چغتايي دي چې افغانستان ته په بيلو بيلو وختو کې د ۱۲۲۹ څخه تر ۱۴۴۷ پورې ننوتلي دي. يوې انتروپولوژيکي څېړنې دا اړيکه تاييده کړې ده؛ د ډيبيټس د وينا سره سم د اوسنيو هزاره ګانو ځانګړتياوې راښايي، چې د منځنۍ اسيا منګوليان، چې د هغوی اوسني استازي منګول دي، بوريات، سوويلي التايان او نور، اوپه لږه اندازه کرغېز اوکازاک د هزاره ګانو په جوړښت کې داخل شوي دي.۳۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپاړسمې پيړۍ ته نږدې هزاره جلا خلک و، چې په اوسنۍ سيمه يا هغې ته نږدې ميشته وو. اصلي منګول يا تاتار، چې په هزاره جات کې ميشته وو، نارينه جنګيالي وو، ښونې ده چې دوی سره ښځې نه وې. ويل کيږي چې دوی ښځې د تاجکو نه لاس ته راوړې، چې دوی ورسره ګډ (مخلوط) شول. د دوی دا شريکوالی د دغو او ګاونډيو تاجکو سره د دې لامل شو چې دوی ګام په ګام ترکي او منګوليايي بيان په [هزاره ګي] پاړسو بدل کړي. هزاره ګانو ګام په ګام د اصلي ايرانيانو کلتور خپل کړ. نن ورځ هزاره ګان د تاجکو، پښتنو او په عمومي توګه د قفقازيانو د پېژندلو وړ ځانګړتياوې لري.

هزاره ګان چې د هزاره جات په مرکزي لوړو مځکو کې اوسېدل په داسو سيمو چاپېر وو چې په هغو کې پښتانه، تاجک، ازبک او ايماق اوسېدل. دوی د خپلو ګاونډيانو سره دوستانه اړيکې نه درلودې. لاملونه يې راز راز وو لکه د دوی فزيکي بڼه، د دوی مذهبي توپير او هزاره ګي لهجه. دغه توپيرونه د دوی خپلمنځي او ګاونډيو سره د ټکرونو لامل کېده. دوی د خپلو ټولو ګاونډي قومونو له خوا تر ظلم او فشار لاندې وو. دا ظلم هغه مهال پيل شو چې د منګول ځواک مخ په ځوړ شو او داسې وضع منځ ته راغله چې د دوی ګاونډيانو دا وړتيا وموندله چې دوی د خپلو څرځايو نه وباسي او دوی په اوسنۍ لوړه مځکه کې چاپېر کړي.

د امير شيرعلي خان تر واکمنۍ پورې ازبکو او ترکمنو هزاره ګان غلامول او په ترکستان او په منځنۍ اسيا کې يې پلورل. د دايکندي، دايزنګي او شيخ علي هزاره ګانو د کندوز واکمن مير مراد علي ته هغه وخت مريان لېږل چې دوی يې د واک لاندې وو. چارايماقو د هزاره ګانو سره تل دښمني درلوده فيروز کوه يانو دوی مريانول او په بخارا کې يې خرڅول. جمشيديانو هم په لږه اندازه د نولسمې پيړۍ تر پايه پورې هزاره ګان غلامول خو وروسته د حکومت د فشار له امله يې د دې کار وړتيا د لاسه ورکړه. روسي واکمنو په پنجدې کې د هزاره ګانو د پلورلو مخنيوی کاوه.

هزاره ګانو د غلزيو پښتنو سره د ملګرتيا اړيکې درلودې او د اتلسمې پيړۍ په پيل کې هزاره ګانو يوه پوځي ټولګې د شاه محمود هوتک سره د پارس په کمپاين کې ملګرتيا کوله. خو د دوی او نورو پښتنو اړيکې د څړ ځايونو او کرنيزې مځکو پر سر ترينګلې شوې. پښتنو هزاره ګان غلام کړي نه دي خو د دوی مځکې يې نيولې دي.

د کندهار درانيان چې د دوی نه هم شتمن وو او هم په شمېر کې ورنه زيات وو د هزاره ګانو د مځکو په نيولو پيل وکړ. په ترينکوټ او دهراووت کې د مخه او هم د تيمورشاه د واکمنۍ په مهال د پوپلزيو او نورزيو له خوا د دوی مځکې ونيول شوې. د هزاره ګانو اړيکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تاجکو سره دومره ترینګلې نه وې ځکه چې دوی په یوه ژبه غږېدل او په ځینو ځایو کې څنګ پر څنګ سره اوسېدل.

په عمومي توګه د هزاره ګانو او نورو ګروپونو تر منځ اړیکې کمزورې وې ځکه چې هزاره ګانو او په ځانګړې توګه د شیخ علي هزاره ګانو کاروانونه او سوداګر شوکول. هر وخت خو په ځانګړې توګه کله چې به په کابل کې حکومت کمزوری و لړو کسانو زړه کولو چې هزاره جات ته لاړ شي. کوچیان به د پښتنو په سیمو کې پاتې کېدل او کاروانونو به دا ښه ګڼله چې د اوږدې لارې یاني د اونۍاو عراق درو نه بامیان ته لاړ شي. د غوربند د درې لاره چې د شیخ علي هزاره ګانو نه تېرېده په زور او یا د پیسو په ورکولو سره خلاصه وه. دا وضعه تر ۱۸۸۱ کال پورې وه تر څو امیر عبدالرحمن په امر د شیخ علي هزاره ګان په ټولیزه توګه د افغانستان نورو برخو ته ولېږدول. امیر داسې ځکه وکړل چې دوی شوکونه کول او د امیر په وړاندې یې د سردار محمد اسحق خان نه ملاتړ کړی وو.

هزاره ګانو یو بل جدي تیری وکړ هغه دا چې د برتانویانو په لمسون د افغان- انګلیس د دوهمې جګړې پر مهال چې سنیان په کابل کې د برتانوي پوځ پر ضد په جګړه بوخت وو، دوی په غزني برید وکړ او هغه یې چورکړ. په ځانګړې توګه د جاغوري او نورو سیمو هزاره ګانو د غلجیو پر ضد د جنرال ډونالډ ستېوارټ سره چې ۱۸۸۰ کال د اپریل په میاشت کې د کندهار نه کابل ته په لاره و، همکاري کوله. د غزني د سوویل په احمد خیلو کې تر ځوارلس زرو نه زیات غلزیان او نور د انګرېزي څلور زریز پوځ سره په جګړه بوخت وو او نږدې وو چې هغوی تباه کړي. خو په پای کې انګرېزانو د ښو وسلو او ډسپلین په مټ زر تنه سړي ووژل. وروسته غلزي وتښتېدل او هزاره ګانو د دوی کورونه لوټ او ښځې یې سپکې کړې.

## تاریخي لرلید

د کاکړ د څېړنې له مخې محمد ظهیر الدین بابر د شپاړلسمې پېړۍ په لومړیو کې کله چې د کابل واکمن و په هزاره جات یرغل ونه کړ خو هغه د پنځلسمې پېړۍ په پای کې د بامیان نه تېر شو. وروسته له هغې په هر حال بامیان ته د هزاره جات د برخې په توګه نه کتل کېدل. خو بامیان ته د یوه مهم ښلوونکي مرکز په توګه چې د اکسوس رود او اندوس رود او هزاره جات یې سره نښلول د هغه د ځای ناستي امپراتور شاه جهان د سفرونو له پاره لړ او ډېر پرانېستی و. که څه هم شاه جهان په هزاره جات یرغل وکړ خو بریالی نه شو. د پارس صفوي امپراتور لومړی شاه عباس په هزاره ګانو اغېز وکړ او په دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې یو مشر وټاکه. دا شاید دا مهال و چې هزاره ګانو خپله عقیده د شامانیزم نه د اسلام شیعیه عقیدې ته په بدلولو پیل وکړ. خو دا چې هزاره ګانو نوې عقیده څنګه تعقیب کړه او کله دوی تکیا خانې د مذهبي مراسمو د مرکز په توګه وکارولې مالومه نه ده. ویل کیږي چې د اتلسمې پیړۍ په لومړیو کې نادرشاه افشار هزاره ګان مطیع کړل او یو شمېر یې د دایزنګي او دایکندي نه د هرات بادغیس ته انتقال کړل چې د جمشیدي قوم په وړاندې انډول وساتي.

د امیر عبدالرحمن نه د مخه افغان واکمنو د هزاره جات ځینې سیمې د خپل کنترول لاندې راوستې وې. د احمدشاه دراني په واکمنۍ کې د غزني د محمد خواجه او جغتو هزاره ګانو دولت ته مالیه ورکوله. احمدشاه دراني درویش خان هزاره چې سني مذهبه و، د هرات والي وټاکه. هغه شاید هغه وخت د هرات د قلعه نو د هزاره ګانو مشر و. هغه په پای کې د احمدشاه بابا سره خیانت وکړ او د هرات د والي له مقام نه ایسته شو. د امیر دوست محمد خان د واکمنۍ پر مهال د بهسودو هزاره ګانو چې د کابل سویل لوېدیځ کې پراته دي د حکومت حاکمیت لاندې وو. د امیر نامتو ګورنر حاجي خان کاکړ و چې د هغه په خپله وینا د بامیانو نه ۱۲۰۰۰۰ روپۍ او د چارلس ماسون د وینا له مخې ۱۵۰۰۰۰ روپۍ مالیه لاسته راوړې وه. د امیر شیرعلي خان په وخت کې د بلخاب، شیخ علي، دایزنګي، دایکندي او جاغوري هزاره ګان ارام شوي وو. که څه هم د پخوا غونډې پر دوی خپلو میرانو واک چلاوه، چې حکومت ته د مالیې د راټولولو مسؤلیت یې په غاړه وو. د امیر عبدالرحمن د واکمنۍ پر مهال هزاره جات د دولت تر کنترول لاندې راغی.

په ۱۸۹۰ کال کې امیر سردار عبدالقدوس خان د شبرغان او همدارنګه د بامیان د والي په توګه وټاکه او دا واک یې ورته وسپاره چې تر اوسه ازاد هزاره ګان په هزاره جات کې ارام کړي. په دې وخت کې امیر د هزاره ګانو ۴۵ میران د هزاره جات د بیلو بیلو سیمو نه دعوت کړل چې د شرطونو پرته مرکزي حکومت ته اطاعت وکړي. خو هزاره ګانو ادعا وکړه چې دوی امیر بللي وو چې دوی ته به کورنۍ خپلواکي ورکوي او د زیاتو کلونو دپاره به د مالیې نه معاف وي. خو ربښتیا دا دي چې دوی د امیر سره هوکړه وکړه چې د مرکزي حکومت نه به اطاعت وکړي. د ۱۸۹۱ کال په پسرلي کې سردار عبدالقدوس خان د یوه پوځ او قومي اربکیو د دایزنګي، دایکندي او بهسودو هزاره ګانو په ګډون چې شمېر یې لسو زرو ته رسېده بدرګه کېده، هزاره جات ته داخل شو. سردار محمد اعظم خان هزاره او میر محمد ایلخان هزاره د هزاره ګانو قومي اربکیو مشري کوله. هزاره جات ته د پوځ داخلېدل د ځای په ځای سپک مقاومت سره سره په اسانۍ تر سره شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د هزاره ګانو پاڅون

کاکړ وايي چې د ۱۸۹۱ کال په ژمي کې هزاره ګانو د ځینو لاملونو له مخې پاڅون وکړ. لومړی لامل یې دا وو چې د دوی وسله ظبط شوه. د یوه واحد مرکز د نشتوالي له امله پوځ په بیلو بیلو ځایو کې ځای په ځای شو او له دې کبله د بریدونو لاندې راغی. د داسو بریدونو د مخنیوي په موخه امیر امر وکړ چې هزاره ګان دې بې وسلې شي. ځینو هزاره ګانو وسله تسلیم کړه او ځینو نورو تسلیم نه کړه. هغه وسله چې راټوله شوې وه کابل ته ولېږل شوه. هزاره ګانو دې کار ته د حکومت د ژمنې د ماتولو په سترګه کتل چې د وضعې د نورمال کېدو وروسته به د دوی وسله بېرته ورکول کیږي. دوهم لامل هغه لمسون و چې سرتېرو به د مالیې د راټولولو په وخت کې په واده شویو او ناواده شویو ښځو یو شان جنسي تیری کاوه او هغه کسان چې وسله یې نه تسلیموله شکنجه او وژل. سردار عبدالقدوس خان دغه سرتیري د دې کار نه راګرځولی نه شول او په خپلواکه توګه یې عمل کاوه. په دې کمپاین کې په عمل کې دی د هغو لومړنیو کسانو نه و چې د هزاره ښځو سره یوځای شوی وي.

په یوه کوښښ کې امیر د هزاره ګانو د ځواک د ماتولو په موخه امر وکړ چې د دوی میران او مذهبي مشران دې د دوی د ټولنو نه بیل شي او په کابل کې دې مځکې ورکړل شي. دا امر پوره پلی نه شو ځکه چې دغه کار د هزاره ګانو همداسې د میرانو او سیدانو په منځ کې دا وېره پیدا کړه چې دوی د خلکو د شمېر دریمه برخه جوړوي زیات نفوذ لري. که څه هم میرانو د مستبدینو په توګه کړه ترسره کول او د دوی ماشومان یې د غلامانو غوندې خرڅول او په ځینو ځایو کې د دوی مځکې خپلولې. څنګه چې د هزاره ګانو په ټولنو کې د شعور کچه ټیټه وه نو د مذهبي او سیکولر ګروپونو بیلولو پالیسۍ د ټولنو وګړي عمل ته لمسول. که څه هم هغه وخت چې دولتي پوځ هزاره جاتو ته ننوت د هزاره خلکو ورسره جګړه ونه کړه خو وروسته د دولت پوځ چې په دوی ظلم کولو هزاره ګان د خپلو میرانو او سیدانو تر شا ټینګ ودرېدل.

د دغه ظلم په پایله کې په ارزګان کې د سلطان محمد طایفې هزاره ګانو ورسته د یو شمېر سرتېرو د مړینې وروسته د خپل ځواکمن مشر محمد حسین بېګ په مشرۍ پاڅون وکړ. زر نور هزاره ګان د دوی سره یوځای شول، د پاتې پوځ په شړلو او وژلو چې په هزاره جات کې تیت او پرک پراته وو پیل وکړ. ورپسې یې د افغانستان د دولت پر ضد د جنګ او غزا اعلان وکړ. سردار عبدالقدوس خان چې د څلور زره پوځ سره په ګیزو کې پروت و

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلات ته غلزیانو ته وتښتېد او هزاره ګانو نږدې شپږ زره پاتې پوځ او نور ووژل.

د هزاره ګانو پاڅون د سني او شیعیه مذهبونو تر منځ دښمني نوره زیاته کړه او د دواړو خواوو ملایانو د دوی خپل مذهبي خلک لمسول. علمانو امیر ته فتوه ورکړه چې هزاره ګان کاپر او یاغیان دي او مرګ یې روا دی. دوی په خپلو فتوو او وعظونو کې دا موضوع تبلیغوله او هغه سرتیري یې لمسول چې جګړې ته روان وو. او امیر خپل ځان د اسلام امیر باله. امیر هغه مهال سرتیري د هزاره ګانو د مال خپلولو ته ازاد پرېښودل، چې دوی یې مات کړل.

د هزاره ګانود مځکې ژمنه یوازې د درانیو او غلزیانو سره وشوه. د دې ټولو سره سره د هزاره ګانو پر ضد دا دښمني عمومي نه وه. ۲۷۰۰۰ افغانان چې د دوی په ګاونډ کې اوسېدل د رېوټونو له مخې د امیر پر ضد د هزاره ګانو سره یوځای شول. کابل ته نږدې د کوهستان اوسېدونکو د امیر پر ضد د پاڅون مشران تشویقول. د میمنې میر چې دا وخت یې بلوا کړې وه د هزاره ګانو څخه ملاتړ اعلان کړ. د مېرمن هاملټن په وینا چې دا وخت په کابل کې اوسېده، هزاره ګانو د امیر او انګرېزانو ناسپېڅلی اتحاد تبلیغاوه.

هزاره ګانو، لکه چې د مخه مو یادونه وکړه چې د افغان- انګلیس په دوهمه جګړه کې د انګرېزانو خوا نیولې وه، هیله درلوده چې انګرېزان به د امیر په وړاندې د دوی سره مرسته وکړي. دوی دا ځل بیا د انګلیسانو نه غوښتنه وکړه چې د دوی سره په اوسنۍ مبارزه کې مرسته وکړي. دواړو خواوو د خپلو جګړه یزو دریځونو د سپینوي له پاره مذهب ته پناه یوړه. دوی دواړو د سني او شیعیه مذهب نه د ګټې اخېتنې په منظور د خدای، د پیغمبر، علي او د اسلام په نومو خلک جګړې ته لمسول.

پاڅون په هزاره جات کې زر پراخ شو، سره له دې چې هزاره ګان تر هر بل وخت نه ډېر متحد وو، بیا هم دوی په بشپړه توګه یو لاس نه وو. د دوی په چاپېر کې واړه قومونه: چاردسته، جاغوري، جغتو او محمد خواجه د دولت ملاتړ کاوه. دا کار لکه د دایزانګي او بهسودو هزاره ګانو یوې کوچنۍ برخې او یو شمېر دم ګړی په ارزګان کې د ګیزاو، او پنجاب خپلواکو میرانو هم کړی و. هزاره ګانو د عنایت ځانګې د قاضي عسکر په مشرۍ، د سلطان محمود ځانګې د خپل مشر محمد حسین بیګ او د دایکندي د سه پای ځانګې د سردار محمد اعظیم خان په مشرۍ سخته جګړه کوله.

امیر په هزاره جات باندې د ټولو خواو نه سل زره پوځ او قومي اربکي ورتوی کړل. ده پخوا هېڅکله دومره وړتیا نه وه موندلې چې دومره لوی پوځ او قومي ملېشا د دښمن په وړاندې وکوماري. د امیر د پوځ مشري سپاسالار سردار غلام حیدر اورکزی، سردار

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالقدوس خان، جنرال شېر محمد او نورو کوله. څه جګړې د مخه شوې وې خو ټاکونکې جګړه په دايا، فولاد او ارزګان کې وشوه. په ارزګان کې جګړه پنځه ورځې اوږده شوه او پنځوس وړې جګړې د مخه تردې شوې وې چې هغه بيا ونيول شو. په بل پسرلي کې شمالي هزاره جات پاڅون وکړ چې دوی په جګړې کې ماتې وکړه. وروستۍ ټاکونکې جګړه چې د هلمند د رود په غاړه د دايکندي او دايزنګي تر منځ د دولتي قواوو او هزاره ګانو تر منځ وشوه د دولت په بري پای ته ورسېده. په دې توګه په پای کې د ۱۸۹۳ کال په سپتمبر کې هزاره ګان مات شول.

## د هزاره ګانو ميشتېدل

د هزاره ګانو د ماتې وروسته امير کوښښ وکړ چې د دوی ځواک مات کړي. دوی د اتنيکي ګروپ په څېر چې د شيعيه مذهب په څانګه پورې اړه لري، د هېواد لوړو سيمو مځکې يې نيولې او يو مهم ځواک جوړولو، امير دوی هېواد ته د يوه پوتنسيال خطر په توګه کتل. ده د دوی ميران او په ځانګړې توګه مذهبي مشران د هزاره ګانو او افغانانو دواړو دښمنان ګڼل. دغه دښمنان بايد د هزاره ګانو نه بيل او د هېواد په نورو سيمو کې ميشته شي. څنګه چې دولتي چارواکي بېې خواره وو، د هزاره ګانو زياتره ميران د دې حکم لاندې رانه غلل او د دوی پر ځای يې عادي هزاره ګان کابل ته ولېږل. دوی يې په بګرام او د جلال اباد په نهر شاهي کې ميشته کړل چې د امير د مړينې وروسته دوی ته اجازه ورکړل شوه چې بېرته خپلو مځکو ته ستانه شي.

امير هر هغه چا ته چې د هزاره جاتو په جګړه کې برخه واخلي، ژمنه وکړه چې دوی اجازه لري هزاره ګان غلامان کړي او د دوی ملکيت لوټ کړي. د هزاره ګانو زيات شمېر بنديان شول او دوی د غلامۍ د سوداګرۍ لاندې راغلل. د هېواد د بيلو بيلو سيمو نه سوداګر راتلل دوی يې د سرتېرو نه اخېستل او په ګټه سره يې خرڅول. د هغه کال وچکالۍ هم هزاره ګان اړ کړي وو چې خپل ماشومان د غلامۍ مارکېټ ته د خرڅلاو له پاره بوزي. دولت د هزاره ګانو د خرڅلاو نه لسمه برخه ماليه او د جګړې ولجه شويو هزاره ګانو پر سر پنځمه برخه ماليه راټولوله. يوازې په کندهار کې د داسې خرڅلاو ماليه اويا زرو روپو ته رسېدلې وه. د جاغوري قاضي دا اواز پورته کړ چې اسلام د مسلمانانو خرڅلاو منع کړی دی. وروسته له دې دا خرڅلاو منع شو. سره له دې تر ۱۹۲۰ کال پورې په مريتوب کې پاتې وو تر څو د امير امان الله خان د پاچا هۍ پر مهال دوی د غلامۍ نه ازاد شول. امير د درانيانو او غلزيانو نه وغوښتل چې په ارزګان کې ميشته شي. ده دا اعلان هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړ هرڅوک چې غواړي په هزاره جات کې میشت شي لومړی کال به د مالیې د ورکولو نه معاف وي او په راتلونکې کې به لږه مالیه ور څخه اخېستل کیږي. دولت د هزاره جات څرځایونه دولتي ملکیت اعلان کړ او بیا یې په کوچیانو وېلورل. د هغو کسانو ځمکه چې په جګړه کې یې ژوند له لاسه ورکړی او میراث خواره ورنه پاتې نه وو، ضبط شوه.

قزلباشانو چې دوی هم هغسې د شیعیه عقیده درلوده او د دوی سره یې خواخوږي درلوده هزاره ګان یې لمسول او ویل یې «چې برتانویان امارت ته د پای ټکی ږدي او اوس هغه وخت رارسېدلی چې هزاره جات د امیر د لړزېدونکي دولت نه خپلواک شي. دولت بیا قزلباشان په دې هم ملامت کړل چې پخوا یې هم د انګرېزانو سره همکاري کړې وه او دوی یې هم د هزاره ګانو غوندې اړ کړل چې یوازې سني اسلام پلی کړي. د دې موخې له پاره دولت قاضیانو او مفتیانو ته لارښوونه وکړه چې د ارزګان، عسکر اباد، مالیستان، اجریستان، جاغوري، بهسود، ګیزاو، یاکاولنګ، بامیان، کاهمارد او سیغان ولسوالیو کې د هزاره ګانو قانوني چارې د حنفي قانوني سیستم سره سم حل کړي.»۳۱۹

امیر غوښتل چې په زور شیعیه مسلمانان سني مذهبه کړي چې په مذهبي لحاظ د افغانستان یووالی تامین کړي لکه صفویانو چې په شپاړسمه پېړۍ کې د پارس سنیان په زور شیعیه ګان کړل. نادر افشار په اتلسمه پېړۍ کې نابریالی هڅې وکړې چې شیعیه ګان سنیان کړي.

د هزاره ګانو ماتې دوی د پېړیو جلاتوب نه وژغورل. دوی وروسته د خپلو ګاونډیانو سره ګډ شول او په ښارونو او په ځانګړې توګه په کابل کې میشته شول. د هزاره ګانو سوداګریز پاټکي وده وکړه او ماشومانو یې زده کړې ته مخه کړه او دولتي ماموریتونه یې تر لاسه کړل. نن هزاره ګان د کابل د اوسېدونکو د لیدو وړ برخه جوړوي.

## د پخو اني کافرستان فتح کول

کافرستان، د افغانستان په شمال ختیځ کې غرنۍ ځمکه ده چې د څړ ځایونو ناوې، څه د کرنې وړ ځمکه، او تنګې درې چې په شنو ځنګلونو پټې دي لري، د پېړیو په اوږدو کې خپلواک پاتې و ځکه چې دې ځای ته لاس رسی ستونزمن و او اوسېدونکو یې په کلکه ورنه ساتنه کوله. امیر عبدالرحمن د خپلې واکمنۍ په لومړیو کې په کافرستان برید ونه کړ ځکه چې هغه هر چېرې بوخت و. ده د کافرستان مشرانو سره چې کابل ته د ده لیدلو له پاره راغلي وو پلرنۍ مینه وښودله چې د زیاتو کرکجنو د ښمنانو تر فشار لاندې راغلي وو. یوازې د ۱۸۹۰ کال په منځ کې چې روسیه او برتانیا د کافرستان پولې ته راورسېدل. روسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پامیر او انګرېزانو چترال ونیو. امیر دغه وخت امر وکړ چې کافرستان فتح کړي.

د کافرستان اوسېدونکي هندو ارین خلک دي چې خپله پخوانۍ عقیده او دودونه یې ساتلي دي. په عمومي توګه دوی جګې، نرۍ ونې لري، ښایسته او جنګیالي خلک دي. ځینې یې شنې سترګې او زېړ وېښتان لري. د دغو او ځینو نورو ځانګړتیاوو له کبله ویل کېږي چې دوی د ستر سکندر د پوځ نه پاتې دي خو هېڅ داسې شواهد نه شته چې دوی دې د یوناني اصل نه وګڼل شي.

کاکړ د دوی د خدایانو او عقیدو په اړه اوږد غږېږي او په زړه پورې مالومات وړاندې کوي او دی د دوی د قومي جوړښت په اړه پوره رڼا اچوي او ټولنیز جوړښت او اداره یې تشریح کوي. کاکړ همدارنګه د دوی اړیکې د خپلو ګاوندیو مسلمانانو سره څېړي او د هغوی د ژبې په اړه مالومات ورکوي، بیا د کافرستان په تاریخي لړلید غږېږي، همدارنګه د جنډول د خان عمرا خان او چترال د مهتر سره د دوی په اړیکو رڼا اچوي.

په اسمار کې د قواوو متمرکز کول کافرو ته د خطر نښه وه. امیر سپاسالار ته لارښوونه وکړه چې د دوی وېره د خبرو اترو له لارې لرې کړي. د دوی سره د خبرو اترو موخه د موضوع د حل له پاره نه وه بلکې د دې له پاره چې د یرغل په وخت کې چترال ته لاړ نه شي تر څو ژمی راورسېږي. سپاسالار چې یوسفزی پښتون و د دوی د خبر اترو د پرمخ بیولو له پاره ډېر مناسب و. څنګه چې کافرو یو مرکز نه درلود سپاسالار د کافرو د بیلو بیلو ځانګو سره ګوښې ګوښې خبرې کولې. جدې خبرې د باشګل د درې د کام کافرو سره چې د چترال سره یې پوله درلوده وشوې. سپاسالار خپلې قواوې بریکوټ ته بوتلې او د کام کافرو ته یې وویل چې د امیر اطاعت وکړي، اسلام ومني او بدخشان ته د سړک د تېرولو سره مخالفت ونه کړي. دوی امیر ته اطاعت ومانه خو د اسلام او د سړک جوړول یې نه غوښتل. بیا یې د سړک جوړول ومنل خو چې د سړک په جوړېدو پیل وشو دوی خپل نظر بدل کړ او د سړک د جوړولو سره یې مخالفت وښود او د هغه پر ځای یې د اسلام منلو ته غاړه کېښوده. خو د یرغل دپاره سړک ډېر اړین و.

خو خبرې خپلې موخې ته ورسېدې سخت ژمی راورسېد او دوی نه شوای کولی چې چترال ته او ان د خپلو درو لوړو برخو ته جګ شي او ستر یرغل پیل شو.

د ۱۸۹۵ کال په ژمي کې په کافرستان د هرې خوا د منظم پوځ او قومي اربکیو له خوا یرغل پیل شو. د یرغل موخه دا وه چې کافر باید په مطلق ډول تابع او اسلام ته راواوړي. سپاسالار د باشګل په دره یرغل وکړ او د ۱۹۸۶ کال د جنوري په لومړیو کې وروسته له دې چې هلته یې یو ګارنیزون پرېښود اسمار ته راوګرځېد. مقاومت سپک و او یو شمېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کافر چترال ته وتښتېدل. د منجان له لوري قواوو د پېچ او د هغې څنګ ته درې ارامې کړې. د رامګل او کولم کافر چې د کافرستان د ننه برخه کې اوسېدل په خپل مذهب ټینګ ودرېدل او په دوی برې ستونزمن شو. په پای کې د ۱۸۹۶ کال په ژمي کې برې تر لاسه شو او دواړو خواوو ته دروند د سر زیان ورسېد او د کولم په رانسکورېدو سره جګړه په برې پای ته ورسېده.

د نورستان د باشګل په دره کې سرک د امیر عبدالرحمن په امر په اصل کې په دې موخه جوړ شوی و، «چې که روسان وغواړي پر هندوستان برید وکړي، د اصلي افغانستان پر ځای دغه لنډه لار غوره کړي.»۳۲۰

## جوړ جاړی او اسلام ته اوښتنه

د یرغل سره سم اسلام ته د کافرو اوښتنه پیل شوه. وسله وال سني ملایان چې ابو حنیفه د سیستم د لارې پلویان وو، چې د وسله والو خصه دارو له خوا یې ساتنه کېده دنده ورکړ شوه چې کافر د اسلام دین ته واړوي. په ټولو کلیو کې جوماتونه جوړ شول چې کافرو ته په کې د اسلام اساسات ورښودل کېدل. دوی هغه د لرګیو جوړ بتان راټول کړل او جلال اباد او کابل ته یې ولېږل چې هلته بیا بې درکه شول. هلته او دلته د څو بدرنګو ټکرونو پرته اسلام ته اوښتنه په ښه توګه ترسره شوه. د امیر د حکم سره سم هېڅا نه شو کولی چې د دوی په ملکیت تېری وکړي او یا دوی غلامان کړي. قاضیان او حاکمان وټاکل شول چې د دوی چارې تنظیم کړي او یو غونډ پوځ هلته میشت شو. د کافرو څلورمه برخه چې د یرغل پر مهال یې مقاومت کړی وو، د مرکزي نورستان نه وایستل شول او په پغمان کې میشته شول. دوی ته هم د هزاره ګانو غوندې اجازه ورکړه شوه چې بېرته خپل ټاټوبي ته راوګرځي. نږدې لس زره کافر اردو ته شامل شول. کافرستان لومړی په نور الاسلام او بیا د نورستان په نوم یاد شو او اوسېدونکي یې نورستاني یاد شول. په دې ترتیب دوی یو نوی هویت تر لاسه کړ او د پېړیو جلاتوب نه وژغورل شول.

هلته په درو مهمو درو کې سړکونه جوړ شول چې مهم یې د اسمار او بدخشان تر منځ سړک و. دا سړک د سوداګرو له خوا د درې کالو له پاره په وړیا توګه کارېده.

د کافرستان سوبې د افغانستان د ننه او په برتانوي هند، انګلستان او روسیې کې سخت غبرګونونه منځ ته راوړل. د افغانستان خلکو امیر وستایه او په نورو درې هېوادو کې رسنیو او ځینو مسیحي ټولنو خپلې اندېښنې څرګندې کړې او په خپلو اړوندو هېوادو یې زور واچاوه چې امیر په خپل هېواد پورې د کافرستان د تړلو نه ډډې کولو ته اړ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د دوی دا هڅې چې خپل حکومتونه عمل ته وهڅوي ناکامې شوې. په دې توګه امير په نورستان خپله واکمني ټينګه کړه.

## د برتانوي هند د حکومت سره د اميرعبدالرحمن اړيکې

کاکړ د خپل کتاب «د افغانستان سياسي او ډيپلوماټيک تاريخ (۱۹۰۱-۱۸۶۳)» لسم څپرکی دې موضوع ته ځانګړی کړی دی. ستره بريتانيا لومړی اروپايي هېواد و چې د افغانستان سره په تړاو کې راغی، خو د دوی تر منځ اړيکې زيات وخت دښمنانه وې. برېتانيې دو ځله لومړی په ۱۸۳۸ او بيا په ۱۸۷۸ کال کې په افغانستان يرغل وکړ، خو د هغه په ايلولو کې پاتې راغله. خو هغه په دې برياله شوه چې د خپل دوهم يرغل په پايله کې د افغانستان بهرنی سياست د خپل کنترول لاندې راولي او همدارنګه يې مرسته وکړه چې د افغانستان نړيوالې پولې کره او وټاکل شي. دغه مرحله چې د کتنې لاندې ده د انګليس-افغانستان د بهرنيو اړيکو مهمه بڼه جوړوي.

د افغانستان او برېتانيا تر منځ لومړی رسمي تړاو په ۱۸۰۹ کال کې منځ ته راغی کله چې د برېتانيا پلاوی د مونټسټيوراټ الفنسټون په مشرۍ ، چې د ختيځ هند د کمپنۍ استازی و، د افغانستان د واکمن شاه شجاع سدوزي سره په پېښور کې، چې د هېواد ژمنۍ پلازمينه وه، تړون لاسليک کړ. د دې تړون له مخې چې د ۱۸۰۹ کال د جون د مياشتې په اوولسمه نېټه وشو، افغانستان ژمنه وکړه چې فرانسويان به نه پرېږدي چې افغانستان ته ننوزي او دواړو هېوادو ژمنه وکړه چې يو دبل په کورنيو چارو کې به لاسوهنه نه کوي. که څه هم شاه شجاع زر د تخت نه ولوېد خو دا تړون د راتلونکو شلو کلو له پاره د انګليس-افغان په اړيکو کې پل پاتې شو.

په ۱۸۳۰ کلونو کې بيا د روسيې وېرې برتانوي هند ته ټکان ورکړ. په ۱۸۲۸ کال کې د ترکمانچې تړون په پايله کې د پارس د تهران په دربار کې روسيې د برېتانيې د نفوذ ځای ونيو. افغانستان د کابل، کندهار، هرات او پېښور په څلورو ولايتونو بيل شوی و. دې د انګليس حکومت دې پايلې ته رسولی و چې د پارس روس پلوی پاچا فتح علي شاه نيت لري چې په هرات او کندهار خپله ولکه ټينګه او افغانستان تر خپل نفوذ لاندې راولي. برېتانيا دا په هند کې خپلو ګټو دپاره خطر ګاڼه. ګورنر جنرال اوکلنډ په افغانستان کې د روسيې د نفوذ د ودې په وړاندې د دې خطر د مخنيوي له پاره مقابل غبرګون ته هڅاوه. د دې موخې دپاره لارډ اوکلند د کابل دربار ته د برنس په مشرۍ يو پلاوی راولېږه خو هغه په دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



موخه کې پاتې راغی.

سره له دې چې روسیې اعلان وکړ چې د هېڅ افغان مشر سره به سیاسي اړیکې نه جوړوي د دوی په کورنیو جګړو کې او هم د دوی په کورنیو دښمنیو کې به برخه نه اخلي، بیا هم لارډ اوکلنډ په افغانستان د تېري پرېکړه وکړه. اوکلنډ دا اړینه ګڼله چې د روسیې له لوري په افغانستان باندې د متوجې شوي تیري مخه ونیسي نو باید په افغانستان باندې د برتانیا پوځي تیري ته لار هواري کړي. د دغه تیري د تیارولو له پاره اوکلنډ د پنجاب واکمن رنجت سنګ او د افغانستان د نسکور شوي پاچا شاه شجاع سره یو تړون لاسلیک کړ. د دغه تړون له مخې برتانیا په افغانستان پوځي یرغل وکړ او شاه شجاع یې د کابل په تخت کښېناوه خو واک د دوی په لاس کې و. شاه شجاع ډېر زر د افغانستان د خلکو په منځ کې خپل حیثت بایلود.

انګرېزان خپلې موخې ته ونه رسېدل ځکه دوی په دې جګړه کې ۱۶۵۰۰ سرتیري او هندي نوکران له لاس ورکړل او امیر دوست محمد خان د دوهم ځل له پاره د افغانستان خپلواک واکمن شو.

د دې وروسته برېتانیا د افغانستان په کورنیو چارو کې د نه لاسوهنې سیاست چلولو ته مخه کړه. په ۱۸۵۴ کال کې ځنګه چې د اروپا په وضعه کې بدلون راغی برتانیا او امیر یې وهڅول چې سره پخلا شي. په پای کې په ۱۸۵۵ کال کې د امیر او برتانیا تر منځ تړون لاسلیک شو چې د هغه له مخې افغانستان ومنله چې د برېتانیا ملګري به ملګري او دښمنان به یې دښمن ګڼي خو انګرېزانو ورته ژمنه ونه کړه او یوازې یې دا ومنله چې د افغانستان په کورنیو چارو کې به لاسوهنه نه کوي. د دې تړون په اساس امیر دوست محمد خان د پېښور نه چې د افغانستان برخه وه، تېر شو چې په ۱۸۴۹ کال کې انګرېزانو نیولې و. دغه یو اړخیز تړون د انګرېزانو له پاره په افغانستان کې د دوی لومړنۍ ډپلوماتیک بری و.

په ۱۸۵۷ کال کې د امیر او برېتانیا تر منځ دوهم تړون لاسلیک شو چې لومړي ته ورته و. امیر په خپله ژمنه وفا وکړه او د پېښور د بېرته لاس ته راوړلو ادعا یې داسې وخت ونه کړه چې په هند کې د همدې کال د اوړي پاڅون له مخې انګرېزان د ستونزو سره مخامخ وو.

انګرېزانو د هرات د بېرته لاس ته راوړلو په موخه امیر ته وسله او پیسې ورکړې چې پارس په ۱۸۵۶ کال کې یرغل پرې کړی و. همدارنګه د کابل او کلکتې تر منځ ډپلوماتیک استازو سره تبادله شول. د دغو تړونونو په پایله کې د افغانستان او برېتانیې تر منځ اړیکې د امیر د ژوند تر پایه ښې پاتې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امیر د مړینې وروسته د امیر شیرعلي خان د واکمنۍ پر وخت د افغانستان په وړاندې د انګلیس پالیسي درې مرحلې لري: لومړۍ مرحله د ۱۸۶۴ نه تر ۱۸۶۸ پورې دوام کوي چې په دغه مرحله کې د دوی پالیسي بې پلوه وه. دوهمه مرحله د ۱۸۶۸ نه تر ۱۸۷۶ پورې د کومې ژمنې پرته د پخلاینې پالیسي او دریمه مرحله یو ځل بیا د فعال تیري پالیسي جوړوي.

امیر شیرعلي خان د برتانویانو نه هیله درلوده چې هغه پالیسي به وپالي چې د ده د پلار سره یې پرمخ بیوله. سره له دې د افغان د کورنۍ جګړې په یون کې برتانیې په دې هیلې د پلویتوب سیاست د بې پرېتوب په نامه چلولو چې د هغه سیال، برتانوي پلوه ورور محمد اعظم خان تاسیس شوی حکومت، چې د انګلستان دوست دی، ټینګ شي. که څه هم امیر شیرعلي خان تر دې وخته د برتانیې دوستي د روسیې په پرتله ښه ګڼله ځکه ده د خپل هېواد او پاچاهۍ بشپړتیا ته د روسیې د تیري نه وېره لرله. بیا هغه زیار وایست چې د برتانوي هند د حکومت سره د ملګرتیا اړیکې ټینګې کړي او په دې موخه یې د ۱۸۶۹ کال په لومړیو کې وروسته له هغه چې یو کال وړاندې د سپتمبر په میاشت کې په خپلو سیالانو بریالی شو، رسمي سفر وکړ. ده په امبله کې د لارډ مایو سره لیدنه وکړه خو هغه د امیر له خوا د روسیې د خطر د غږ سره سر ونه خوځوه. برسېره پر دې لارډ مایو په ډېر ادب سره د امیر شیرعلي خان د کورنۍ واکمنۍ په رسمیت پېژندلو نه ډډه وکړه او یوازې یې د دوستۍ، مرستې او نه لاسوهنې په پالېسۍ ټینګار وکړ. همدارنګه هغه امیر ته څه وسله او پیسې ورکړې.

د امیر سفر برتانویانو ته دا چانس په لاس ورکړ چې سنټ پېټرسبورګ دې ته رانږدې کړي چې په منځنۍ اسیا کې د دواړو امپراتوریو تر منځ د بیلتون سیمه جوړه کړي. وروسته د یو شمېر لیکونو د تبادلې نه چې د لندن په نوښت کېدل، په پای کې په ۱۹۷۳ کال کې دوی یوه پوهاوي ته د افغانستان د شمالي پولې په اړه چې د امو رود به وي، سره ورسېدل.

په واقعیت کې د امو رود د هغه راهیسې د افغانستان پوله وه چې احمدشاه بابا د اوسني افغانستان بنسټ کېښود او اوس دوو سترو امپراتوریو په رسمي ډول دا دیوې نړیوالې پولې په توګه ومنله، خو افغانستان د برتانوي نفوذ په سیمه کې پاتې کېده. دا د ماهرانه غیر فعالې پالیسۍ دوام و چې د امیر شیرعلي خان سره یې مرسته وکړه چې تر لاس لاندې نیولې سمونونه پلي کړي.

کله چې سلزبري مارکیز بیا د۱۸۷۴ په لومړیو کې د برتانوي هند دپاره د دولت سکرټر وټاکل شو نو دا ترتیب یې د هند د ساتلو له پاره پوره ډاډمن ونه باله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د روسیې له لوري د اندېښنې سره سره سلزبري د امیر شیرعلي خان سره د اتحاد پلوي نه و، که څه هم امیر د لارډ مایو سره د ملګرتیا غوښتونکی و چې د هغه په مرسته یې یو غښتلی دولت چې غښتلی پوځ یې درلود جوړ کړ. خو سلزبري په هغه باور نه درلود او په پای کې د ۱۸۷۵ کال د جنوري په ۲۲ نېټه ده وایسرا ته امر وکړ چې د امیر نه وغواړي چې په هرات او که شونې وي په کندهار کې برتانوي استازي ومني. په پای کې وایسرا نارتبروک د امیر نه داسې غوښتنه ونه کړه. کله چې وایسرا دې پایلې ته ورسېد چې مارکیز جګړې ته میلان لري هغه په ۱۸۷۶ کې برتانوي هند پرېښود.

په همدې کال کې کله چې بنجامین ډیزرایلي د انګلستان لومړی وزیر شو هغه یوه نوې پالیسي ومنله چې د فارورډپالیسی په نوم مشهوره ده، چې مانا یې یرغل او نیواک دی. د پرمختګ د پالیسی پلي کېدل هغه وخت پیل شول چې د ۱۸۷۶ کال په پسرلي کې د لارډ نارتبروک پر ځای لارډ لیټن د برتانوي هند ویسرا وټاکل شو. لیټن غوښتل چې د امیر شیرعلي خان سره دفاعي او یرغلیز اتحاد وکړي او همدارنګه د هغه وارث په رسمیت وپېژني. د دې په بدل کې لیټن غوښتل چې امیر د خپل هېواد د بهرنۍ ازادۍ نه تېر شي او د پولې په اوږدو کې د برتانوي افسرانو ځای پرځای کول ومني. د ښکاره دلایلو له مخې امیر دا وړاندیزونه ونه منل. د پېښور کنفرانس چې د ۱۸۷۷ کال په مارچ کې چې د امیر او لیټن د پلاویو تر منځ جوړ شوی و، ناکام شو. د عثماني سلطان له لوري یو پلاوی چې د ۱۸۷۷ کال په دسمبر کې امیرته راغی هڅه وکړه چې هغه د روسانو نه لیرې کړي او هغه تشویق کړي چې د انګرېزانو سره یو تړون وکړي ناکامه شوه.

د ۱۸۷۸ کال په اګست کې روسي ګورنر جنرال کاوفمن په تاشکند کې د جنرال سټولیتوف په مشرۍ یو پلاوی په کابل کې په امیر وتپلو. سټولیتوف د امیر سره تړون وکړ چې اصلي منځپانګه یې هېڅکله ښکاره نه شوه. خو روسان په خپله ژمنه ولاړ نه و او یوازې یې د دې دپاره وکړه چې انګرېزان وډروي چې په افغانستان کې ترینګلتیا ده او دوی باید خپل هندي پوځونه د مالټا نه وباسي چې دوی د عثماني ترکیې د ملاتړ په موخه هلته لېږلي وو چې روسیه په جګړه ورسره بوخته وه.

د روسیې پلان کار وکړ، دې کار لیټن ته پلمه په لاس ورکړه چې د خپل پلان له پاره په لندن کې د کابینې ملاتړ وګټي او په افغانستان کې خپل کړه ترسره کړي. لومړی هغه کوښښ وکړ چې د نیول چمبرلېن په مشرۍ یو پلاوی په امیر وتپي خو کله چې د خیبر په دره کې هغه ته اجازه ورنه کړل شوه چې د پولې نه تېر شي هغه د ۱۸۷۸ کال په نومبر کې د افغانستان سره د جګړې اعلان وکړ. امیر شیرعلي خان د یرغل نه لږ وروسته مړ شو. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه زوی او ځای ناستي امیر محمد یعقوب خان د لیټن ټولې غوښتنې ومنلې چې د هغه د پلار نه یې غوښتې وې او یو څو نور هم ورباندې زیاتې شوې. دا ټولې په هغه تړون کې ځای شوې چې په ګندمک کې د برتانیې استازي کیوګناري او امیر یعقوب خان تر منځ په ۱۸۷۹ کال د مۍ د میاشتې په ۲۶مه لاسلیک شو.

د دې تړون سره سم د برتانیې سفارت چې کیوګناري یې مشري کوله د کابل په بالاحصار کې د ۱۸۷۹ کال د جولایې په ۲۴مه د امیر مانۍ ته نږدې استوګن شو. کیوګناري په افغانستان کې د یوه ټاکل شوي واکمن په څېر چلند کاوه. د ۱۸۷۹ کال په سپتمبر کې د کابل خلکو او پوځ د سفارت ټول غړي کیوګناري، جینکینز، کیلي، هاملټون او پنځه اویا سپاره اوپلي ساتونکي په ډله ییزه توګه ووژل. د دې وروسته زر برتانیې د دغه ډله یزې وژنې په غبرګون کې په افغانستان بیا یرغل وکړ. د جګړې په دوهمه مرحله کې لیټن د افغانستان د ټوټې کولو پلان ترلاس لاندې ونیو چې ناکام شو او افغانستان د امیر عبدالرحمن خان په واکمنې کې بیا متحد شو.

## د افغانستان د پولو ټاکنه

د کاکړ په وینا د امیر عبدالرحمن د واکمنۍ بله مهمه ځانګړتیا د افغانستان د پولو د ټاکلو بشپړېدل دي. په دې اړه باید دا یادونه وشي چې د افغانستان د پولو بیلې برخې په بیلو مهالونو کې د برتانوي هند حکومتي مامورینو، د تزاري روسیې، ایران او افغانستان له مامورانو سره په ګډه ټاکلې دي. په دې توګه د افغانستان د پولو ټاکل نړیوال ماهیت لري. د افغانستان د پولو په ټاکلو کې په لومړۍ درجه د برتانوي امپراتورۍ ګټې په نظر کې نیول شوې دي او افغانستان تاوان کړی دی. د ډیورنډ په هوکړه لیک سره افغانستان نږدې نیم شو چې اوس د پاکستان تر واکمنۍ لاندې دی. د پولو په دغه ټاکلو سره افغانستان له یوې خوا تر پخوا نه کوچنی شو خو د بلې خوا یې هغه د یوه هېواد په توګه مشخص او تثبیت کړ او د نړۍ نورو هېوادونو او نړیوالو موسسو هغه په رسمیت پېژندلی او اړیکې یې ورسره ټینګې کړې دي.

د افغانستان هغه پوله چې د احمدشاه بابا او د بخارا امیر له خوا د طبیعي پولې په څېر لومړۍ ټاکل شوې وه هغه د افغانستان او بخارا تر منځ د نړیوالې پولې په حیث د امو رود منل و. د امیر شیرعلي خان په دوهمه واکمنې کې په ۱۸۷۳ کال کې د تزاري روسیې او سترې برتانیې د حکومتونو د یوه پوهاوي په پایله کې د افغانستان او روسیې تر منځ دا پوله ومنل شوه خو وروسته لانجمنه شوه چې وروسته به رڼا ورباندې واچول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لوېديځ په لور د سيستان په برخه کې د افغانستان پوله ناټاکلې وه. سيستان په لرغونې زمانه کې د افغانستان خاوره وه او ساکا هم د لرغوني افغانستان خلک وو. کله چې افغانستان په ۱۷۴۷ کې خپلواک شو سيستان بيا هم د احمدشاه بابا د مهال راهيسې د افغان واکمنو د ولکې لاندې و. خو پارس د ژبې له نظره پر سيستان ادعا کوله او د امير دوست محمد خان د مړينې وروسته يې سيستان هغه مهال ونيو چې محمدزي سرداران په خپل منځ کې په جګړې بوخت وو. خو امير شيرعلي خان چې دوهم ځل واکمن شو، هوډ وکړ چې د سيستان نه د پارسيانو لاس لنډ کړي. امير شيرعلي خان د برتانوي هند ګورنر جنرال په شخصي غوښتنه د پوځي کړو نه ډډه وکړه او د هغه د منځګړي توب وړانديز يې ومانه. افغانستان او پارس د يو لړ خبرو اترو وروسته دواړو دغه وړانديز ومانه. برتانيې بريد جنرال ګولډ سميت د منځګړي په توګه وټاکه. ګولډ سميت د ۱۸۷۲ کال په اکتوبر کې خپله پرېکړه وکړه چې له مخې يې زموږ د هېواد ښېرازه برخه چې د خاص سيستان په نوم يادېده او د هلمند رود کيڼې خوا ته پراته وه، پارس ته او ښۍ خوا يې افغانستان ته ورکړه. په دې توګه انګرېزانو د ګولډ سميت د ناعادلانه منځګړيتوب پر بنسټ د افغاني سيستان ښېرازه برخه پارس ته وبخښله چې افغانستان ورباندې اعتراض وکړ او بيا يې د امير حبيب الله خان په وخت کې چې د هلمند رود خپله د تګ لار د لوېديځ په لور اړولې وه په ۱۹۰۴ کال کې د ماکموهن د پولې په راښکلو سره د هېرمند لوېديځې برخې پارس ته ورکړې. دغې پرېکړې نوې مسلې وزېږولې چې د قانوني پاچايي په لسيزې کې د موسی شفيق په وخت کې پرېکړه پرې وشوه او د سردار محمد داود د ولسمشرۍ په وخت کې سندونه سره تبادله شول.

د مخه مو يادونه وکړه چې په ۱۸۷۳ کې د تزاري روسيې او د سترې برتانيې د حکومتونو تر منځ د پوهاوي په پايله کې امو رود د افغانستان د شمالي پولې په توګه ومنل شو خو پوله د روسانو سره مشخصه نه شوه. خو د ۱۸۸۵ کال د مارچ په دېرشمه روسانو پنجدې چې د هرات برخه وه، په پوځي زور سره لاندې کړه. دې کار انګرېزان اندېښمن کړل په دې چې هرات ته خطر هندوستان ته خطر و. نو انګرېزانو د روسانو سره د افغانستان د پولو ټاکل جدي ونيول. په پای کې برتانيې او روسيې يو او بل ته د ډېرو ليکونو او ټيلګرامونو په لېږلو سره هوکړه وکړه چې دغه کشاله دې په منځګړتوب سره هواره شي. بيا يوه روسي- انګليسي پلاوي د افغانستان دغه پوله د امو رود له خميابه تر ذوالفقاره پورې وټاکله. په دې توګه د افغانستان شمال لوېديځه پوله هم د برتانيې او روسيې د حکومتونو له خوا د افغانستان په تاوان وټاکل شوه. د بدخشان په برخه کې ياني د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان شمال- ختیځه پوله د روسانو په نظر ناتاکلې وه، که څه هم دوی د ۱۸۷۳ کال په پوهاوي سره بدخشان د افغانستان سیمه منلې وه. روسانو په ۱۸۹۲ کال کې هلته هم تېری وکړ او په دغه ډول بدخشان تر خطر لاندې شو. دا مهال امیر ته ګرانه وه چې په دغې لرې سیمې کې د روسې غښتلي پوځ سره مقابله وکړي هغه هم په داسې حال کې چې د هند وایسرا د ۱۸۹۲ کال په جولای کې د امیر نه غوښتي و چې په پامیر کې په خپل فعال چلند سره انګرېزانو ته ستونزې جوړې نه کړي. په ۱۸۹۳ کال کې د برتانیې د هند د چارو وزیر وایسرا ته په یوه لیک کې څرګنده کړه چې موږ په دې فکر یو چې اوس د دې وخت راغلی چې امیر دې پرېکړې ته تیار کړو چې هرو مرو شغنان او روشان روسانو ته پرېږدي. هغه دا هم وویل چې برتانیا په هېڅ وجه حاضره نه ده چې د دغو سیمو په ساتنه کې له امیر سره مرسته وکړي. څرګنده ده چې برتانیې نه غوښتل له پنجې سیندګوټي نه پورته د روشان او شغنان په سر له روسیې سره خبره تېنګه ونیسي.

بیا نو د ډیورنډ سره امیر دوه هوکړه لیکونه اعلام کړل چې یو یې د افغانستان شمال- ختیځې پولې په اړه و. په دغه هوکړه لیک کې ویل شوي چې امیر « ... په دې ډول موافقه کوي چې دی به ټولې هغه ناحیې (Districts) چې د ده له خوا په شمال کې [په ختیځ کې د ویکتوریا د ډنډ یا سرقول نه له امو سره د کوکچې د یوځای کېدلو پورې] نیولې شوې دي، خوشې کړي»۳۲۱ او ټولې هغه سیمې چې د امو په سوویل کې پراتې دي او اوس د دوی په لاس کې نه دي، ده ته تسلیم کړلې شي. په دغه هوکړه لیک سره د پنجه سین ګوټی د افغانستان او بخارا تر منځ پوله شوه او بدخشان چې د افغانستان برخه وه دوه ځایه شو. واخان هم د افغانستان د حاکمیت لاندې راغی. په دې توګه په ۱۸۹۵ کال کې د روس- انګلیس یوه ګډ کمیسیون د افغانستان د نارسمي استازي په ګډون د روسیې، افغانستان، چین او برتانوي هند تر منځ پوله وټاکله او واخان تړانګه او افغان پامیر چې د نړۍ بام بلل کیږي، د وخت د درې لویو امپراتوریو تر منځ د بیلتون د سیمې په توګه ومنل شوه.

بل هوکړه لیک د افغانستان د ختیځ-سوویل د پولې په اړه و چې د ډیورنډ د هوکړه لیک یا د کابل د کانونشن په نامه یادیږي او دا کرښه د بدخشان له بروغیل کوتل نه د ایران تر پولې یا تورو غرو پورې یو نیم زر میله اوږده وه. امیر عبدالرحمن د انګرېزانو په نېغ فشار او د روسانو په غیر مستقیم فشار سره اړ شو چې دا هوکړه لیک ته غاړه کیږدي. خو ځایي خلکو هغه سمدلاسه په عمومي پاڅون سره رد کړ.

د همدغه هوکړه لیک له مخې د دغې کرښې د نښه کولو له پاره درې کمیسیونو په کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيل وکړ. لومړی کميسيون له خيبر نه، دوهم کميسيون له کرمې نه، دريم کميسيون د بلوچستان اېجنسۍ له سيمې نه او وروسته څلورم کميسيون جوړ شو او په کار يې پيل وکړ.

کاکړ وايي چې د دغه هوکړه ليک په اړه لومړۍ خبره دا ده چې هغه هوکړه ليک (Agreement) يا کاونشن (Convention) دی، نه تړون (Treaty). تړون او هوکړه ليک يو شان مفهومونه نه دي. تړون د دوو هېوادونو تر منځ ژمنه وي، چې هغه بايد د هغو د لوړو ملي مجلسونو نه تېر شي، په داسې حال کې چې هوکړه ليک د يوې مسلې په اړه د دواړو خواوو تر منځ جوړه يا هوکړه ده. کانونشن د ټولنيز دود له مخې د استازو يا لويانو غونډې ته ويل کيږي، چې مفهوم يې تر هوکړې هم سست وي. دی زياتوي چې له همدې امله به وي، چې دغه هوکړه ليک په اصلي ليکنو کې يوازې په دغو نومونو ياد شوی او نه د تړون په نامه. له دې نه ښکاري چې دوی په هغه سره د افغانستان او برتانوي هند تر منځ د نفوذ سيمې په نښه کړې تر څو د يو او بل په نفوذي سيمه کې لاسوهنه ونه کړي. بله دا چې د هوکړه ليک متن يوازې انګليسانو تهيه کړی و، په داسې حال کې چې هغه بايد دواړه خواوو په ګډه او اتفاق چمتو کړی وای. نو دغه شته متن چې د امير لاسليک نه لري، د اعتبار وړ کېدلی نه شي. په تېره چې د کرښې د نښه کولو په وخت کې افغان استازو د ځينو مهمو ټکو په سر مخالفت وښود. بله مهمه موضوع چې د هوکړه ليک اعتبار زيانمن کوي د مومندو موضوع ده. مومند په دغه هوکړه ليک کې ياد شوي نه دي، چې امير د هغو په اړه د نه لاسوهنې ژمنه کړې وي. له همدې امله و چې امير د ډيورنډ د کرښې د په نښه کولو په مهال انګرېزانو ته ښکاره کړه چې ټول مومند د افغانستان خاوره ده. د سرپرسي سايکس په وينا د مومندو پوله تر ۱۹۲۶ پورې هېڅ په نښه شوې نه وه.۳۲۲

د کرښې د نښه کېدلو په وخت کې د برتانوي هند مامورانو د هوکړه ليک د نقشې نه کار اخيسته او افغان مامورانو به د هغو نقشو له مخې کار کاوه، چې امير ورته ورکړې وې. خو دغو نقشو يو د بل سره توپير درلود او د دغه توپير له امله و چې دغه کار درې کاله وخت ونيو. په داسې حال کې چې اول فکر کېده چې هغه به د څلورو مياشتو کار وي. ډېر مهم د خيبر کميسيون و، چې د نقشو د توپير له امله اول درې مياشتې وځنډېده او بيا د ۱۸۹۴ په ډسمبر کې د کميسيون افغان غړي، سپاسالار غلام حيدر څرخي او برتانوي افسر اوډني (Udny) له خوا له سره ونيول شو. خو دغه کميسيون د باشګل درې او د مومندو په اړه په مقصد ونه رسېد. وايسرا د باشګل د درې نه تېر شو او د مومندو په وېشلو کې پاتې راغی. د وايسرا د اخطار په پايله کې امير مجبور شو چې په ۱۸۹۷ کال د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اپرېل په ۲۴مه د میټایي پوځي پوسته له سرتېرو نه خالي کړي. امیر تر پایه د مومندو په اړه د میټایي پوستې د خوشي کولو پرته برتانوي هند ته کوم امتیاز ونه مانه. په خیبر کې هم یوه وړه برخه هم بې نښې پاتې شوه او نور ټول له سپین غره نه تر چترال پورې په نښه شول.

د بلوچستان کمیسیون هم چې دنده یې درلوده چې دا کرښه د پارس تر سرحده پورې په نښه کړي د ستونزو سره مخامخ شو. دغه د څلورو میاشتو کار څه باندې دوه کاله ونیول چې لامل یې هم د پلاوي د نقشو توپیر و. د انګلیس کمیشنر ماکموهن او د امیر استازی سردار ګل محمد خان و. وروسته د وایسرا او د امیر له خوا پوهاوی رامنځ ته شو او د دغې برخې د کرښې د نښه کولو کار پرمخ ولاړ. برتانوي هند د دې له پاره چې د کمیسیون کار پرمخ ولاړ شي د پاها (Paha) کوتل افغانستان ته پرېښود. د بل کال د فبروري تر شپاړسمې پورې له ډومنډي نه تر چمن پورې د کرښې د په نښه کولو کار د دواړو خواوو په هوکړې سرته ورسېد. خو د خواجه عمران او چمن تر منځ کرښې په سر د دواړو خواوو تر منځ اختلاف پیدا شو او لانجه په پای کې وایسرا او امیر ته ورسېده. وایسرا دا ځل هم د دې له پاره چې له چمن نه تر پارسه پورې د لیکې د په نښه کولو کار په مخ ولاړ شي، افغانستان ته یې د ایالتاز کارېز پرېښود. د ۱۸۹۵ کال په جون کې ماکموهن هند ته غوښتل شوی و او نور انګلیسي ماموران د ۱۸۹۶ کال په جنوري کې سره ټول شول او د افغانانو سره په ګډه د کرښې د په نښه کولو کار له سره ونیو او د همدغه کال په جون کې د دغې اوږدې لیکې وروستۍ مټه (پایه) د ملک سیاه غره د پاسه ودرول شوه.

د کرمې کمیسیون د مخه له سیکارام نه تر لارام پورې د لیکې د په نښه کولو کار سرته رسولی و. دغه کرښه د ډونالډ او شیرېندل خان په ګډ کوښښ لږ و ډېر د ډیورنډ د هوکړه لیک له مخې ایستل شوې او د ۱۸۹۵ کال په منځ کې د په نښه کولو کار سرته ورسېد او د دواړو خواوو له خوا ومنل شو.

د وزیرستان کمیسیون د ۱۸۹۵ کال په جنورۍ کې د لیکې د په نښه کولو کار پیل کړ. خو دغه کمیسیون له انګلیس افسرانو نه جوړ و. د برتانوي هند د وایسرا په وینا امیر هغه ته جوته کړې وه چې دغه کار دې دوی په خپله ترسره کړي، بې له دې چې افغان ماموران په کې برخه ولري. د عظمت خان په وینا دغه کمیسیون د وزیرو ملک ته د درې زره سرتېرو په زور ننوت او د ګومل له رود نه لس میله پورته په وانه کې یې واړول. خو انګرېزان په وانه کې د وسله وال پاخون سره مخامخ شول چې دغه پوځ د جنرال لاکهارت

(c) ketabton.com: The Digital Library



په قوماندانی دغه پاځون وځپه. له هغه وروسته د کرښې د په نښه کولو کار له ډومنډي نه پیل شو او د درې پوځي ټولګیو په ملګرتیا له خوجه خضر نه د برمل او شوال له درې نه په سختو حالاتو کې په دغه کې برى ترلاسه کړ. له ډومنډي نه تر لارام پورې د کرښو د ټاکلو نقشې او یادښتونه امیر ته د هغه د منلو له پاره واستول شول، خو هغه پرې اعتراض وکړ او ویې غوښتل چې یو شمېر ځایونه د یو څو کوتلونو په ګډون باید د افغانستان وي، خو د هغه دغه غوښتنه ونه منل شوه او ورته څرګنده شوه، چې کومه هغه کرښه چې ښاغلي کینګ او ښاغلي اندرسن ټاکلې، وروستۍ ده او بدلېدلی نه شي.۳۲۳ په دې توګه د ډیورنډ د کرښې په نښه کولو سره د افغانستان د ټولو حدودو ټاکنه پای ته ورسېدله او افغانستان په دغه کار سره نه یوازې تر پخوا کوچنی شو، بلکې اصلي افغانستان یې هم له لاسه ورکړ.

کاکړ وایي چې د امیر له پاره دا ډېره دردناکه وه چې خپلو خلکو ته یو زورواک او اوسپنیز امیر و، خو د ډیورنډ د کرښې په موضوع کې یو بېچاره امیر و. د دې ټولو خبرو سره سره د وخت په نظر کې نیولو سره د امیر عبدالرحمن ونډه د اوسني افغانستان په جوړولو کې مهمه وه. ده تر هر بل افغان واکمن نه ډېر خپل ویښ ژوند د دولتي نظام تنظیمولو او پیاوړي کولو او د هېواد د خوندي ساتلو له پاره وقف کړی و، چې پایله یې دغه اوسنی افغانستان دی. په دې حساب دی د اوسني نوي افغانستان موسس کېږي، په داسې حال کې چې ستر احمدشاه بابا د معاصر افغانستان سر موسس و.

## د ډیورنډ هوکړه لیک

د مخه مو یادونه وکړه چې د ختیځ په لور د امیر پرمختګ د برتانیا د ۱۸۹۰ یمو کلونو د پرمختګ د پالیسۍ سره سمون نه درلود. د دغې پالیسۍ اساسي ټکی «علمي سرحد» (Scientific Frontier) و چې د هند په لوري د روسیې د پرمختګ یا د امیر د مړینې وروسته د ننه په هېواد کې د ستونزو د منځ ته راتلو په صورت کې د کابل- غزني- کندهار کرښې چټک نیولو غوښتنه یې کوله. د پرمختګ د پالیسۍ پلي کېدو له پاره د هغو درو او په هغه خلکو د کنترول پراخول و چې په دغو درو کې پراته دي، چې علمي سرحد ته رسیږي. دغو ټولو دا اړینه کړه چې د برتانوي هند پوله د افغانستان سره تثبیت شي. د دغه هدف له پاره د برتانیې حکومت ډېر لیکونه د امیر سره تبادله کړل او د نورو راز راز وسیلو په ذریعه یې تر درانه فشار لاندې ونیو.

د هغو تدابیرونو نه چې ونیول شول یو دا و چې د اوسپنې وړل راوړل یې بند کړل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان د هزاره جات د جګړې له پاره ترې ټوپک جوړول او همدارنګه په هغو زیاتو وسلو بندیز لګول و چې امیر په اروپا کې رانیولې وې. ویسرا لنسډون امیر ته وړاندیز کړی و چې په کابل کې د دوی استازی لارډ روبرتس ومني چې یوه غښتلي پوځي بدرګه به ورسره وي. امیر د خپل غبرګون په ترځ کې ښکاره کړه دا دریځ ډېر بحراني دی چې لس زره سرتیري د خپلو مېلمنو په توګه ومنم. زه اړ یم چې د دوی د منلو له پاره سل زره تیار کړم. په پای کې ده امیر ته په نېغه خبرداری ورکړ چې «دا به اړینه وي چې پرېکړه وکړو چې کومه ساحه د افغانستان د پاچاهۍ برخه او کومه ساحه یې برخه نه جوړوي.»۳۲۴ د برتانوي هند حکومت امیر ته وړاندیز وکړ چې: «یوه څرګنده کرښه وټاکل یا اعلان شي چې د هغې ها بلې خوا ته د امیر واک نه غزیږي او که د دې کرښې هغې خوا ته کوم افغان پوځ ولیدل شي په زور به بېرته وایستل شي. دا کرښه به داسې په نښه شي چې اسمار، چغی او وانه د افغانستان نه بهر پاتې شي.»۳۲۵

امیر تر اوسه خوځښت نه کاوه او د ځنډولو تاکتیک یې چې د ۱۸۸۸ کال راهیسې غوره کړی و چې د ده نه د لومړي ځل دپاره غوښتل شوي و چې په کابل کې برتانوي پلاوی ومني، په پوره مهارت سره پر مخ بیولو.خو کله چې روسې په ۱۸۹۰ یمو کلونو کې د پامیر او شمال ختیځ افغانستان په لور د وړاندې تګ مارش پیل کړ امیر د روسې د زیات فشار په پایله کې اړ شو چې د برتانوي هند یو کوچنی ملکي پلاوی د سر هنري مورتیمر ډیورنډ په مشرۍ چې د برتانوي هند د حکومت د بهرنیو چارو وزیر و، په کابل کې ومني. د ۱۸۹۳ کال د نومبر په ۱۲ مه نېټه د امیر او ډیورنډ تر منځ یو تړون او یوهوکړه لیک لاسلیک شول چې تړون د شمال ختیځ افغانستان په اړه او هوکړه لیک په سوویل ختیځ سیمه پورې اړه درلوده. دا وروستی هوکړه لیک چې په سوېل ختیځ پورې اړه درلوده، د ډیورنډ د هوکړه لیک یا د کابل د کانوېنشن په نوم یاد شو.

خو د پرمختګ پالیسي «علمي» نه وه ، بلکې د «په وړاندې» (forward) اصطلاح د پراخوالي او تسلط دپاره کارول کېږي. د نوې «علمي سرحد» پالیسي په واقعیت کې د هغې پالیسۍ بدله بڼه وه چې پایله یې د امیر شېرعلي خان سره جګړه شوه. لکه چې تروسډل وایي: «خو د پرمختګ د پالیسۍ زیاترو پلویانو ته علمي سرحد د دوی د واقعي موخې دپاره یوه موقتي پرده وه. که [افغان] حکومت د [برتانوي هند سره] د سوویلي نیمایي افغانستان نښلول ومني، په یوه وخت کې به د ټول افغانستان نښلول وزغمي.»۳۲۶

د ډیورنډ هوکړه لیک د دواړو خواو د نفوذ سیمې ټاکلې او دواړو خواو ژمنه کړې وه چې یو د بل د نفوذ په سیمه کې به لاسوهنه نه کوي. د دې هوکړه لیک نه د برتانوي هند

(c) ketabton.com: The Digital Library



موخه دا وه چې په ختیځو سیمو کې د امیر عبدالرحمن پوځي او سیاسي وړاندې تګ مخنیوی وکړي. امیر د ډیورنډ د هوکړه لیک د مخه د دغو سیمو په قومونو باندې ډول ډول نفوذ خپروه چې د مخه مو اوږدې خبرې پرې وکړې.

لکه چې د مخه مو یادونه وکړه چې د ډیورنډ هوکړه لیک نه مقصد دا و چې د برتانوي هند حکومت او د امیر د نفوذ سیمې مالومې کړي. په خپله ډیورنډ د یوې مرکې په ترځ کې ویلي و چې «د هندوستان د خوا قومونه باید داسې ونه ګڼل شي، چې د ننه د برتانیې په سیمه کې پراته دي. هغوی یوازې په تخنیکي لحاظ زموږ تر نفوذ لاندې دي، یاني دا چې تر هغه ځایه چې په امیر پورې اړه لري او تر هغه ځایه، چې دوی زموږ نفوذ ته تسلیمېږي یا موږ په هغو باندې نفوذ کوو.»۳۲۷

سر اولوف کیرو په زیاته روښانه توګه وایي چې «په توافق لیک کې هېڅ ځای د پولې (boundry) کلیمه نه ده کارول شوې چې د ډیورنډ کرښه مشخصه کړي. تر یوې اندازې دا یوه کرښه وه چې دنده یې دا وه چې وښایې چېرته د امیر نفوذ تم کیږي او چېرته د انګرېزانو د نفوذ سیمه پېل کیږي.»۳۲۸

د دې هوکړه لیک په اړه لومړی خبره دا ده چې د هند حکومت دغه هوکړه لیک ته رښتنی نه و ځکه چې د هغوی موخه دا وه چې د اړتیا په صورت کې به په افغانستان کې پوځي لاسوهنه کوي. مهمه دا ده چې امیر عبدالرحمن د دغه هوکړه لیک فارسي متن او ورسره مله نقشه لاسلیک کړې نه دي. کاکړ وایي چې ده د کابل، نوي ډهلي او لندن په ارشیفي مرکزونو کې د امیر په لاس لاسلیک شوی متن نه دی لیدلی. دی زیاتوي چې که چا د دغه هوکړه لیک دغسې متن په فارسي یا انګرېزي کې وښود چې امیر او ډیورنډ دواړو لاسلیک کړی وي، اعتبار به یې لږ تر لږه د تپل شوي هوکړه لیک په توګه تثبیت شي. تر هغې پورې موجود متن د اعتبار وړ کېدلی نه شي.

کاکړ دا وایي چې بل مهم ټکی د دې هوکړه لیک په اړه دا دی چې د همدغه هوکړه لیک د متن ځینې برخې د پلي کېدو په ډګر کې د امیر له پاره د منلو وړ نه وې او انګرېزانو هم د هغه ځینې اعتراضونه ومنل. د بېلګې په توګه د پخواني کافرستان د باشګل دره د هوکړه لیک په متن کې د انګرېزانو د نفوذ په سیمه کې ښودل شوې ده، خو په ۱۸۹۶ کال کې چې د ډیورنډ کرښه هلته په نښه کېدله، امیر په دې ټینګ شو چې باشګل د افغانستان برخه ده. د هندوستان وایسرا لارډ ایلګین د امیر اعتراض ومانه او د باشګل موضوع یې «د خواشینۍ وړ تېروتنه» وبلله. امیر په دې هم ټینګ ودرېد چې ټول مومند د افغانستان برخه ده. د هند حکومت د امیر ادعا رد نه کړه، خو په اړه یې څه ونه کړل او امیر ته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب هم ورنه کړ. د امیر په فکر د هند د حکومت چوپ پاتې کېدل د هغو له خوا د ده د ادعا منل و. د مومندو سیمه په نښه نه شوه او امیر بیا هلته د سړک جوړولو امر وکړ. د دغه سړک د جوړولو کار هم پیل شو چې د امیر د مړینې وروسته یې کار په ټپه ودرېد. د امیر د مړینې وروسته د مومندو سیمه دوې برخې وګنل شوه، هغه برخه یې چې کوز مومند په نامه یادیږي او تر پېښور پورې رسیږي، د هند د نفوذ سیمه وګڼل شوه او بر مومند د پخوا په شان د افغانستان شو. داسې هم د تورخم برخه د امیر د اعتراض له امله په نښه نه شوه. دغې کرښې لوی قومونه، کلي او ان کورونه سره بیلول. د بېلګې په توګه ترکلاني، وزیر، شینواري، نورزي، اڅکزي، برېڅ، بلوچ او نور. دا هغه قومونه دي چې سره ګډه ژبه، ګډ دین، ګډ تاریخ، ګډ کلتور او ورسره ورته نړۍ لید او همداسې یو راز اقتصادي، کرنیز او ټولنیز طرز لري. دوی نه سره بېلیږي او نه هم د پردیو واکمني مني.

د ډیورنډ د هوکړه لیک په اړه بل مهم ټکی دا دی، چې د کرمې د علي خېلو یا توریو نه پرته ټول پښتني قومونه همدا چې پوه شول چې د انګرېزانو د نفوذ په ساحه کې راغلي دي د ملا نجم الدین اخندزاده، ملا فقیر او ملا مانکي او نورو قومي مشرانو په سروالۍ په ۱۸۹۷ کال کې په یوه لوی پاڅون لاس پورې کړ او ځانونه یې تر شبقدر پورې ورسول. خو انګرېزانو د دوی پر وړاندې د اویا زریز پوځ نه کار واخېست چې په هغو کې ځوان ونسټن چرچل هم و، هغوی یې خواره کړل خو د هغوی مخالفت یې د منځه یووړلی نه شو. دوی په تېره وزیرو، مسیدو، اپریدو او مومندو تر هغه چې انګرېزان د هند څخه نه وو وتلي، د هغو پر ضد یې د غزا جنډه رپانده وساتله او ان په هند باندې یې یرغلونه وکړل.

د ډیورند د هوکړه لیک په اړه بل اساسي ټکی د هغه د ماهیت په اړه دی، چې موقتي دی، نه تلپاتې. دا چې د هوکړه لیک د اعتبار موده ټاکل شوې نه ده، په اصل کې د همدغه موقتي توب له امله و. دا د دې دپاره و چې د پښتنو په ستراتیژیکو سیمو کې وسلې، لوژیستیکي وسیلې او مهمات زیرمه کړي او د اړتیا په صورت کې به له دغو ځایونو نه جلال اباد، کابل، غزني او کندهار نیسي او روسان به نه پرېږدي چې له هندوکش نه واوړي. انګرېزانو دغې موخې ته د رسېدو په نیت لا د مخه د لویو لارو سرونه لکه خیبر، کرمه، پښین او سیبي نیولي وو. دغه ځایونه یې د ګندمک د تړون له مخې لاسته راوړي وو او د سوویلي وزیرستان ګومل یې د ډیورنډ د هوکړه لیک سره ترلاسه کړ. دغه سیمې په اصل کې د هند او افغانستان تر منځ د بیلتون یا حایل په شان وې. برتانویانو تر پایه دغه سیمې د سرحد (Frontier) په نامه یادولې او اداره یې د هغو قومونو ته پرې ایښې وه. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیورنډ هوکړه لیک د دې له پاره نه و چې د افغانستان سره پوله (boundry) ولري. د هند وایسرا ایلیګین وایي: «د ډیورنډ هوکړه لیک دغسې یو هوکړه لیک و، چې د برتانوي حکومت او امیر د نفوذ ساحې مالومې کړي»۳۲۹ د ډیورنډ په هوکړه لیک سره دوی له دغو سیمو نه په نظامي او اداري لحاظ د افغانستان لاس لنډ کړ او په نورو ساحو کې افغانستان د پخوا په شان خپلې دودیزې اړیکې وساتلې او مشرانو ته یې د مواجب یه نامه معاشونه ورکول. د دغو قومونو د مشرانو جرګې به په پرله پسې ډول کابل ته تللې او هلته یې امیر ته ویل چې دوی د افغانستان رعیت دي او دوی دی خپل امیر ګڼي. خو امیر د دوی غوښتنې په پلمو سره ردولې په دې چې دی د اپریدو په برخه کې د ګندمک په تړون سره او د نورو په برخه کې د ډیورنډ په هوکړه لیک سره د هغو له اداره کولو نه منع شوی و.

د ډیورنډ هوکړه لیک یوازې د امیر کار و. د هغه په کولو سره هغه د مشرانو سره یا د خپلو درباریانو یا مشاورینو سره مشوره کړې نه ده. په دې اړه ډیورنډ په خپله د ۱۹۰۷ کال د نومبر په شپږمه په لندن کې د منځنۍ اسیا ټولنې ته په خبرو کې وویل: «هغه په بشپړه توګه په خپله خبرې اترې پرمخ بېولې، د هغه وزیران ډېر بې اغېزې وو، دوی ډېر کوچنی ځواک او مسؤلیت نه درلود. هغه په خپل فکر کړه تر سره کول او د هېچا نه یې مرسته نه غوښته.»۳۳۰

دا مهمه ده چې یادونه وکړو چې دا هوکړه لیک (agreement) د یوه واکمن او د یوه بهرني هېواد د یوه افسر تر منځ شوی دی او یو تړون(treaty) نه و. یو تړون هغه وي چې د دواړو لورو د دولت نمایندګان د خپلو خلکو په نماینده ګي تړون وکړي او بیا یې تصویب کړي. خو څنګه چې امیر دا هوکړه لیک لاسلیک کړی نه دی نو اعتبار یې شکمن دی.

پاڅون، پوځي عملیات او زیاتو لګښتونو انګرېزان هم محتاط کړل چې نور د قبایلي خلکو او امیر سره زیات نه پخلاکېدونکي نه شي. یوه لوړپوړي برتانوي افسر د دې سلا ګانو وړاندیز وکړ: «زموږ د سرحد افسرانو ته سپارښتنه وکړئ چې نور پرمخ زور ونه کړي، او امیر ته هېڅ دلیل د شک له پاره ورنه کړي. زه به د امیر تر مړینې انتظار وباسم او تر هغه د مخه به زموږ د کنترول لاندې د قبایلو د راوستلو دپاره نور هېڅ کوښښ ونه کړم. زه باور لرم چې دغه ناوخت توب له کبله موږ هېڅ له لاسه نه ورکوو.»۳۳۱

د عثمان روستار تره کي په وینا « په هند کې د انګرېزي حکومت د نسکورېدو څه وروسته او د پاکستان له جوړېدو مخکې د لومړي وزیر شاه محمود خان حکومت د ډیورنډ موافقه لیک په یوه اړخېزه توګه باطل اعلان کړ.»۳۳۲ شاه محمود خان د خپل حکومت دریځ د ۱۹۴۷ کال د جولایي په ۳۱ د برتانیې د بهرنیو چارو وزیر ته وړاندې کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه دریځ د حقوقو له موازینو سره بشپړ سمون درلود. په دې چې «هر دولت د خپلو ګټو د تشخیص او ملاتړ قاضي ګڼل کیږي. یو دولت کولی شي په خپل مسؤلیت په یوه اړخېزه توګه بل لوري ته د یوه یادښت په استولو کې هغه تړون ملغا اعلان کړي، چې ورڅخه تاواني کیږي۳۳۳

په ۱۹۴۷ کال کې د پاکستان د جوړېدو نه وروسته په هغه هوکړه لیک کې چې د پاکستان د ولسمشر علي جناح او د افغانسان د استازي نجیب الله توروایانا تر منځ په کراچي کې لاسلیک شو، د ازادو قبایلو سیمه له صوبه سرحد او بلوچستان نه جلا وپېژندل شوه. خو د جناح د مړینې وروسته د پاکستان نوي ولسمشر خواجه نظام الدین له مخکینۍ هوکړې نه سرغړونه وکړه. همدارنګه د افغانستان د پارلمان اوومې دورې په ۱۹۴۹ کال کې د ډیورنډ د کرښې پر ضد دریځ ونیو.

نړیوال تړون باید د دواړو لورو د صلاحیت لرونکو استازو له خوا باید لاسلیک شي او بیا د خلکو د استازو له خوا تصویب شي. خو موږ داسې اسناد په لاس کې نه لرو چې د ډیورنډ هوکړه لیک دې د انګلستان د عوامو د مجلس له خوا تصویب شوی وي. افغانستان هغه وخت پارلمان نه درلود او امیر د خپلو خلکو د ویرې نه زړه ونه کړ چې په دې موضوع دودیزه لویه جرګه جوړه کړي او د ملت د استازو سره مخامخ شي. دا هوکړه لیک په رسمي جریده کې خپور او اعلام شوی نه دی چې ان نافذ شي. دا هوکړه لیک د ملګرو ملتونو په ارشیف کې ثبت شوی نه دی.

د نړیوالو حقوقو له مخې کله چې یو هېواد تحت الحمایه (پروتېکتوراټ) وي، یوازې ساتونکی دولت د نړیوال تړون د کړلو حق او صلاحیت لري. د امیر عبدالرحمن په وخت کې افغانستان تحت الحمایه هېواد و. د هېواد بهرنۍ امنیت او باندني سیاست اداره د انګرېزانو په لاس کې وو. افغاني تحت الحمایه دولت د نړیوال تړون د کړلو نه بې برخې و. که د یو دولت په استازي باندې د ګواښ او فشارپه وسیله وتړل شي هېڅ یو حقوقي اغېز درلودای نه شي او بلکل باطل دی.۳۳۴ د بېلګې په توګه په ۱۹۴۱ کال کې کمبودیا د فرانسې تحت الحمایه و. په فرانسه باندې د جاپان له خوا نظامي فشار نوموړی هېواد دې ته اړ کړ چې د تایلنډ سره د پولو د تثبیت په اړه یو تړون لاسلیک کړي. تړون د کمبودیا مځکني تمامیت ته ډېر زیان واړاوه. د جاپان د ماتې نه وروسته فرانسې اعلام وکړ چې تړون د پوځي ګواښ لاندې تړل شوی و او له تحت الحمایکي نظام سره یوځای ملغا اعلانیږي.

یو تړون د یو ثالث له پاره وجیبه او حق نه زیږوي. د ډیورنډ هوکړه لیک د تحت

(c) ketabton.com: The Digital Library



الحمایه افغانستان او حامي انګلستان تر منځ او نه د افغانستان او پاکستان تر منځ تړل شوی و. پاکستان د ډیورنډ د هوکړه لیک د کړلو په وخت کې شتون نه درلود. له دې کبله د ډیورنډ هوکړه لیک د پاکستان دولت ته هیڅ حق یا وجیبه نه په برخه کوي.۳۳۵

د سرور رونا په وینا امیر عبدالرحمن خان د انګرېزانو د لیکونو په اړه چې د امیر نه یې غوښتل چې باید پلاوی وټاکي چې په یوځای سره ناټاکلي سرحدونه په نښه کړو داسې ځواب ورکاوه: «ما تر اوسه موقع نه ده موندلې چې د مخکینیو سرحداتو د ټاکلو په اړه قومي مشرانو ته ووایم او هغوی ته قناعت ورکړم چې هغه ومني. څنګه کولی شم چې دوهمه برخه پیل کړم؟ که د دغه جریان نه په دې موقعه کې عالمان، قومي لویان او وطنپالونکي پوهان خبر شي په باور سره د برتانیې سره جګړه پیل کیږي چې زه یې د دفاع چاره نه لرم.»۳۳۶

دغه یادښت یا میموراندوم چې د برتانیا حکومت ته خبرتیا ورکړې او ځواب ورکوي د دغه کاپي تر شا په خپل قلم لیکي چې لنډیز یې دادی: خپل خلف ته: د ژوند تر وروستۍ ورځې چې ژوندی یم د برتانوي هند سره د افغانستان د سرحدونو په ټاکلو کې یو ګام مخته نه ځم، همداسې یې پرېږدم او د دوی لیکونو ته ځواب وایم چې د دې هوکړه لیک جبري توب او تپل توب ثابت وي. هیله من یم چې زامن به مې چې په راتلونکې کې واک ته رسیږي، وکړای شي دومره ځواک برابر کړي چې د خپل حق نه ساتنه وکړي او د یوه ښایسته تړون له مخې د افغانستان پولې وټاکي. د دې برسېره یې دا هم په کې لیکلي دي:

زه فکر کړم چې په نږدې راتلونکې کې د هند خلک او مسلمانان ویښیږي او د خپلې ازادۍ د حق نه به دفاع وکړي او په قوي ګومان دوه هندوستانه (د هند هندوستان او مسلمان هند) به منځ ته راشي. د مسلمانانو هند به زموږ د هېواد سره ګاونډی شي او شاید زما د وطن خلکو او زامنو ته سرخوږی شي.۳۳۷

د سرور رونا په وینا د امیر عبدالرحمن د مړینې وروسته امیر حبیب الله خان د ډیورنډ د هوکړه لیک د لاسلیک او منلو سره لا هغه مهال چې پلار یې لاسلیک کولو، موافق نه و، تر څو چې کابل ته یو پلاوی سر لیویز ډین د امیر سره د خبرو دپاره کابل ته راغی او د هغه سره یې نوی تړون لاسلیک کړ.

لوی دوپرې وایي چې د ډیورنډ کرښه د سیاسي، جغرافیایي او ستراتیژیکي نظره د دفاع وړ نه ده.۳۳۸ کاکړ د ډیورنډ د هوکړه لیک د متن سپړنه کوي او وایي چې د متن په لومړۍ فقره کې ویل شوي چې دغه هوکړه د دواړو خواوو «د نفوذ د ساحو» د ټاکلو دپاره کیږي. کاکړ وایي چې د نفوذ د کلیمې قاموسي مانا «د اشخاصو یا څیزونو هغې قوې ته ویل کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په نورو باندې اثر تولید کړي.»۳۳۹ دا په هېڅ ډول دا مانا نه ورکوي چې د انګلیسانو د نفوذ ساحه د هغوی شوې ده یا امیر عبدالرحمن په هغې باندې د افغانستان له حقونو څخه تېر شوی دی.

«د نفوذ د ساحو» په ټاکلو کې ویل شوي دي چې دا به هغې کرښې سره ټاکل کیږي چې د واخان نه تر پارس پورې رسیږي او د هغې نقشې له مخې غزیږي چې د هوکړه لیک سره ملګرې ده. خو امیر نقشه لاسلیک نه کړه یاني ویې نه منله. امیر د باشګل، مومندو او خیبر په برخو کې د دغې کرښې په نښه کول ونه منل. په دې ډول د دغه هوکړه لیک متن د اعتبار وړ نه دی. برسېره پر دې تر اوسه دغسې متن لیدل شوی نه دی چې هم د ډیورنډ او هم د امیر لاسلیکونه ولري.

بله دا چې د دغې کرښې په نښه کولو کې د هېڅ ډول طبیعي، توپوګرافیکي او دموګرافیکي پرنسیبونه مراعات شوي نه دي. په دې توګه د ډیورنډ کرښه مصنوعي ده او پوله او سرحد کېدلی نه شي.

د ډیورنډ د هوکړه لیک په دوهمې مادې کې ویل کیږي چې د کرښې دواړه خواوو حکومتونه به د یو او بل د نفوذ په ساحه کې «لاسوهنه» نه کوي. خو د ډیورنډ کرښه د برتانوي هند دپاره په اصل کې په افغانستان کې د لاسوهنې دپاره تجویز شوې ده. په دې مانا چې که روسان د افغانستان له لارې په هندوستان یرغل وکړي، دوی به د هندوکش د سوویل ستراتیژیکي ځایونه لکه جلال اباد، کابل او کندهار په نظامي ځواک سره نیسي او د روسانو د وړاندې تګ مخنیوی به کوي. په دغه حال کې به د ډیورنډ کرښه د دوی دپاره باطله وي. د «لاسوهنې» موضوع یوازې د امیر عبدالرحمن دپاره وه چې تر هوکړې د مخه یې په باجوړ او نورو سیمو کې د حکومت د نبغ حاکمیت د خپرولو دپاره د سپاه سالار غلام حیدر څرخي په مشرۍ یو پوځ ګومارلی و او په اسمار کې دیره و.

کاکړ وایي چې «لاسوهنه» په دغې قرینې کې د پوځي لاسوهنې په مانا وه چې امیر د هغې د کولو نه ډډه وکړه. خو په نورو برخو کې امیر ځان ازاد ګاڼه چې د کرښې ها خوا قومونو سره دودیزې اړیکې وساتي.

د هوکړه لیک په دریمې مادې کې ویل شوي چې «والاحضرت د پاتې وزیري ملک او داوړ په اړه له خپلې ادعا نه تېرېږي.»۳۴۰ امیر ځکه د خپلې ادعا نه تېر شو چې د نه تېرېدلو په حال کې د هغه واکمني په خطر کې وه. په داسې حال کې چې هېڅ واکمن د دې صلاحیت نه لري چې د خپل هېواد کومه برخه بل هېواد ته ورکړي. ځکه خلکو د کرښې له نښه کولو نه وروسته په یوه لوی پاڅون لاس پورې کړ او بیا هغو او په تېره د وزیرستان خلکو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



برتانویانو پر ضد له هندوستان نه د هغو تر وتلو پورې ټینګې مبارزې او غزاګانې وکړې.

د ډیورنډ د هوکړه لیک په اړه بل مهم ټکی دا دی چې په متن کې يې د اعتبار وخت نه دی ټاکل شوی. له دې کبله د هانک کانګ غوندې سل کاله وروسته په خپله باطل کيږي.

کاکړ وايي چې د ډېورنډ د کرښې نړدې پایله په سیمه کې له پېښور نه تر کوېټې پورې د سیاسي تشې او حایل توب دایمي کېدل او سیمه او قومونه د مدنیت نه بې برخې کېدل دي. د دې کرښې لیرې پایلې په افغانستان باندې د شوروي یرغل، د کابل ورانی او د افغانانو روان مصیبتونه دي.

## امیرعبدالرحمن خان او د روسیې سره اړیکې

د افغانستان او روسیې تر منځ لومړنی رسمي تماس په ۱۸۳۷ کال کې ونیول شو چې د روسیې حکومت کپتان پاول ویکتوویچ کابل ته ولېږه چې د هرات په اړه د پارس د پلان ملاتړ ترلاسه کړي. هرات د پخوا نه د افغانستان یوه برخه وه، خو بیا پارس ونیو او د ویکتوویچ دپاره ناشونې وه چې په خپل ماموریت کې بریالی شي. خو د ویکتوویچ ماموریت انګرېزانو ته بهانه په لاس ورکړه چې په ۱۸۳۸ کال کې په افغانستان تېری وکړي. د برتانوي هند حکومت وروسته له هغې ووېرېد، چې په ۱۸۲۸ کال کې د ترکمانچې تړون وشو او د هغه په پایله کې پارس د روسیې د نفوذ لاندې راغی او د هرات نیول په هند کې د برتانيې مستعمرې ته خطر پېښوه. په دې توګه هرات هند ته د تګ دروازه وګڼل شو. روسیې وروسته له دې چې د ۱۸۵۴-۱۸۵۶ کې د کریمیا په جګړه کې ماتې وکړه او په اروپا کې پالیسي ناکامه شوه روسیې د خپل نفوذ د پراختیا په موخه د سوویل په لور د منځنۍ اسیا د پراخو مځکو د نیولو دپاره مارش پیل کړ. د دې پېړۍ په لومړیو کې روسیې د قزاقستان پراخه جلګه ونیوله او په اورېنبورګ کې ټینګه کلا جوړه کړه چې د هغې نه يې هر لوري ته خپل پوځونه استول. روسیې خپل حاکمیت د خوقند، بخارا او خېوا پولې ته ورسولو. بل کال (۱۸۶۵) روسیې تاشکند ونیو او ۱۸۶۷ کال کې د روسي ترکستان ایالت جوړ کړو او د بخارا د امیر مظفرالدین سره يې یو تړون لاسلیک کړ چې د هغه له مخې بخارا د روسیې د ساتنې لاندې راغله. په ۱۸۶۸ کال کې روسیې سمرقند په روسیې پورې وتړه. روسیه د دې وروسته د افغانستان ګاونډۍ شوه او په دې توګه په منځنۍ اسیا کې واکمنه روسیه په سوویل کې د واکمنې برېتانيې سیاله شوه او ستره لوبه پیل شوه.

په ۱۸۷۳ کال کې روسیې خېوا تر خپلې ساتنې لاندې راوستله او په ۱۸۷۶ کال کې يې خوقند لاندې کړ. ستره لوبه د افغانستان د واکمنو له پاره یوه ننګونه (چلنج) شوه چې، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



برتانوي وايسراگانو او روسي جنرالانو په وړاندې چې د نويو سيمو د نيولو له پاره هڅې کوي، خپل هېواد څنگه وساتي.

که څه هم لکه چې د مخه مو يادونه وکړه روسيې په ۱۸۷۳ کال کې افغانستان د خپل نفوذ د سيمې نه د باندې گڼلو خو په ۱۸۷۸ کال کې جنرال کوفمن خپل يو پلاوی د جنرال ستوليتو ف په مشرۍ په امير شيرعلي خان باندې په کابل کې وتپلو چې د افغان- انگليس د دوهمې جگړې دپاره يې انگرېزانو ته پلمه په لاس ورکړه. روسانو د خپلې ژمنې پر عکس هېڅ مرسته ونه کړه.

د امير شيرعلي خان د مړينې وروسته روسانو نيت درلود چې د هندوکش شمال کې داسې دولت جوړ شي چې د دوی په گټه وي. د امير عبدالرحمن په وينا کافمن دی وهڅاوه چې د افغاني ترکستان نه گورنر وشړي او هلته خپل واک ټينگ کړي کله چې عبدالرحمن بدخشان ته راورسېد داسې راپورونه و چې عبدالرحمن ويلي و چې روسانو دی د دې له پاره رالېږلی چې افغاني ترکستان ونيسي او په دې موخه چې د انگرېزانو سره دې پوهاوي ته ورسيږي چې د افغانستان د وېشلو په صورت کې به هندوکش د دوی سره پوله جوړوي خو امير د انگرېزانو سره پوهاوی وکړ او د روسانو پلان ناکامه شو.

## د روسيې له خوا د پنجدې نيول

د پنجدې پراخه دره، چې د هرات شمال- لوېديځ ته پراته ده، د ترکمنو شپانه به په موقتي توگه په کې اوسېدل، چې پراخ څړځايونه او لرې کرنيزې مځکې يې درلودې. پنجدې د غلې د اړتيا د پوره کولو له مخې په هرات او ميمنې پورې تړلې وه. د ۱۸۵۰ کال په شاوخوا کې پنجده د سارک ترکمنو نږدې اته زره کورنيو له لوري ونيول شوه. په ۱۸۸۲ کال کې دوی په خپله خوښه د امير واکمني ومنله او ژمنه يې وکړه چې امير ته لسمه برخه ماليه ورکړي. په پنجدې کې د امير له خوا حاکم وټاکل شو او يو پوځې ټولگی هلته ځای پرځای شو.

په ۱۸۷۳ کال کې د خېوا د نسکورېدو وروسته يوازې د ترکمنو هېواد د روسيې په لاس کې نه و لوېدلی. د ۱۸۷۹ کال د جون په مياشت کې د جنرال لوماکين په مشرۍ روسي قواوې د اخيل په رغنيا کې گوک تپه ته ورسېدې او د تېکې ترکمنو په کمپ يې بريد وکړ چې د سر د زيان سره په شا وتمبول شوې. د ۱۸۸۱ کال د جنوري په مياشت کې د روسيې بل پوځ د جنرال سکوبيليف په مشرۍ په همغه ځای بريد وکړ او پرېکنده بری ور په برخه شو. د دغه بري انگازې د تندر په شان په منځنۍ اسيا کې خپرې شوې او د ۱۸۸۴ کال د

(c) ketabton.com: The Digital Library



فبروري په میاشت کې د مروې تېکې ترکمنو د روسیې واکمنې ته غاړه کېښوده او په همدې کال کې مروه په روسیې پورې وتړل شوه.

د مروې د نسکورېدو وروسته د برتانیې حکومت دې پایلې ته ورسېد چې د دې وخت رارسېدلی چې د افغانستان د شمال لوېدیځې پولې موضوع هواره شي چې تر دې وخته مالومې نه وې. دا داسې سیمه وه چې که د پولې موضوع هواره نه شي نو شونې ده چې په دې سیمه کې د روسیې او برتانیې تر منځ نېغ پوځي ټکر رامنځ ته شي. د دې موضوع په اړه د روسیې او برتانیې تر منځ لیکونه یو او بل ته ولېږل شول او په پای کې دوی ژمنه وکړه چې یو انګلیسي-روسي پلاوی هلته ولېږي چې د ۱۸۷۳ کال د پوهاوي د روحې سره سم پوله په نښه کړي.

په دغه وخت کې روسیه او افغانستان دواړه په سیمه کې فعال وو. د روسیې مخکښې قواوې د پنجدې شمال ته د خاتون پله ته ورسېدې. وروسته روسیې خپل دریځ ته بدلون ورکړ او د افغانستان سره یې اتنیکي ملاحظات په نظر کې ونیول.

د افغانستان ادعا د هغې سیمې په اړه چې اوسېدونکي یې ترکمن و، تاریخي او ډموګرافیک بنسټ درلود. ترکمن د افغانستان سره د هرات له مخې تړلي و. غبار وایي چې مروه د پېړیو په اوږدو کې د افغانستان برخه وه. امیر د روسیې د پرمختګ د مخنیوي دپاره څو ځله انګرېزانو ته څرګنده کړه چې د روسیې سره د افغانستان پولې په نښه شي خو انګرېزانو د امیر اندېښنو ته پام ونه کړ. د مخه مو یادونه وکړه چې د هند برتانوي حکومت او برتانیا وروسته له دې چې په ۱۸۸۴ کال کې روسیې مروه ونیوه، دا وضعه د افغانستان او برتانوي هند دپاره ګواښ وګانه. د ۱۸۸۵ کال په دېرشمه روسیې پنجده ونیوله. د پنجدې بحران روسیه او برتانیا د جنګ غاړې ته نږدې کړل. وروسته دواړو هېوادونو یو او بل ته د زیاتو لیکونو اوټلګرامونو د لېږلو نه ژمنه وکړه چې د روسیې او افغانستان د پولو د په نښه کولو د پاره ګډ کمیسیون جوړ کړي.

د پنجدې ټکر امیر نور هم برتانیا ته نږدې کړ او د روسیې- افغان اړیکې یې تر هغه د فشار لاندې ونیولې تر څو په روسیه کې د اکتوبر د انقلاب په پایله کې بلشویکان په ۱۹۱۷ کال کې واک تر لاسه کړ. امیر د پولې د بشپړ په نښه کول د روسیې د پاره ناشونې کړه چې نور د سوویل په لور مارش وکړي ځکه چې هر ګام په اخېستو به د برتانیا او افغانستان سره ټکریږي. امیر اوس هڅه وکړه چې د برتانیا او روسیې تر منځ انډول وساتي.

## امیرعبدالرحمن او د پارس سره اړیکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امیر عبدالرحمن د واکمنۍ پر مهال د افغانستان او پارس اړیکې د برتانیا په منځګړیتوب تنظیمېدې. پارس د بهرنیو ځواکونو تر نفوذ لاندې و او د افغانستان سره یې نېغ تماس لږ و. کله چې انګرېزانو د کندهار ښار پرېښود او په۱۸۸۱ کال کې د امیر تر واکمنۍ لاندې راغی، د پارس حکومت نیت درلود چې افغاني سیستان په پارس پورې وتړي. دوی ځکه داسې نیت وکړ چې د امیر وضعیت شکمن و او د هغه سیال تربور سردار محمد ایوب خان چې هرات یې په لاس کې و، د هغه واکمني ننګوله. د دې موخې دپاره د ایران وزیر د برتانیا حکومت ته وړاندیز وکړ چې پارس ته به اجازه ورکړي چې خپله دا نقشه پلې کړي. وایسرا لارډ ریپن د دې پلان پر ضد ودرېد، ځکه چې په ۱۸۷۳ کال کې د برتانیې په منځګړتوب د سیستان ښه برخه پارس ته ورکړه شوه او د امیر شیرعلي خان شکایت یې راوپارولو چې پر موږ یې باور کړی و.

بل مهم ټکی دا و چې سردار محمد ایوب خان کله چې مشهد ته وتښتېد، د هغه شتون امیر او هم پارس ته ستونزې جوړولې شوې. پارس وېره درلوده چې ایوب خان او د هغه اته سوه ملګري به د پارس- افغان اړیکې زیانمنې کړي. امیر چې غوښتل چې د پارس سره دوستانه اړیکې ولري هیله درلوده چې د پارس حکومت به هغه د پولې نه لیرې تهران ته واستوي. همدارنګه په مشهد کې د ایوب خان شتون د پارس دپاره هم د تشویش وړ و، ځکه چې دوی وېره درلوده چې کېدای شي ترکمن او افغانان به مشهد د ایوب خان دپاره ونیسي او د دوی تشویش وروسته له دې لا زیات شو چې سردار او د هغو ملګرو په مشهد کې د وسلو په رانیولو پیل وکړ. د دغې وضعې پایله دا شوه چې پارس سل کسیز پلاوی د میرزا معصوم خان په مشرۍ په ۱۸۸۳ کال کې کابل ته ولېږه. د شاه په ویلو پلاوی یوازې د دې دپاره لېږل شوی چې امیر ته د ده د ناستې له امله مبارکي ووایي. خو د کاکړ په وینا داسې نښې شته چې دا پلاوي سیاسي و او موخه یې د امیر او سردار پخلا کول و چې بې کومې پایلې بېرته خپل هېواد ته ستون شو.

د پلاوي ناکامي، د مشهد ګواښ د سردار د شتون په صورت کې او د برتانیا له خوا په پارس فشار په پای کې د پارس حکومت اړ کړ چې ایوب خان تهران ته بوزي او د هغه ځایه یې هند ته د عراق له لارې ولېږه او سردار په لاهور کې تر خپلې مړینې پورې میشت شو.

په ۱۸۸۵ کال کې کله چې روسیې پنجدې ونیوله پارس هشتادان، چې په کوهسان کې یوه کوچنۍ ولسوالي ده او د هرات په لوېدیځ کې پراته ده، ونیو. دا موضوع بیا د برتانیا په منځګړتوب داسې هواره شوه چې هشتادان د دواړو خواو تر منځ وویشل شو.

یو افغان ابجنټ د سوداګرو د مشر (تجارباشي) په لقب په مشهد کې ځای په ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو. ده ته دنده ورکړ شوې وه چې د پارس په خراسان کې سوداګرو ته اسانتیاوې رامنځ ته کړي او برسېره پردې د پارس او همدارنګه د افغان مهاجرو په اړه راپورونه برابر کړي. د دې په غبرګون کې د پارس حکومت غوښتنه وکړه چې خپل ابجنټ په هرات کې استوګن کړي، خو امیر د پارس دا غوښتنه ونه منله او ګواښ یې وکړ چې سوداګري به بنده او د پارس سره به پوله وتړي. په همدې وخت کې امیر د پارس حکومت ته ښکاره کړه چې د ده نماینده ته ویل شوي چې یوازې به د افغان مهاجرو په اړه راپور راکوي او هغه ته دا ویل شوي چې د هېواد په کورنیو چارو کې به لاس وهنه نه کوي. د هند د حکومت په مشوره شاه په پای کې په هرات کې د خپل ابجنټ د میشت کېدو نه تېر شو.

## امیر عبدالرحمن خان او د ترکیې سره اړیکې

افغانستان او اتمان ترکیې په خپل منځ کې سوداګریزې او نورې اړیکې نه درلودې. سره له دې دا دواړه سني مسلمان هېوادونه چې د شیعیه پارس په ذریعه یو د بل نه بیلېدل دوی په دودیزه توګه یو د بل سره دوستان وو. امیر عبدالرحمن خلیفه سلطان عبدالحمید ته د مسلمانانو د معنوي مشر په توګه لوی درناوی درلود. امیر له دې کبله هم د ترکیې سلطان ته نږدې و چې دواړه هېوادونه د یوه بهرني هېواد روسیې له خوا تر ګواښ لاندې و. خو امیر د سید جمال الدین پان اسلامیزم ته زړه نه ښه کاوه ځکه چې سید مسلمانان د انګرېزانو په وړاندې لمسول.

خو په همدې وخت کې امیر هڅه کوله چې د خپل دریځ دپاره نړیوال پېژاند تر لاسه کړي. سلطان غوښتل چې امیر ته د ضیاء الدین غازي لقب ورکړي. خو امیر د هغه توپیر له مخې چې د سلطان سره یې درلود دغه لقب چې په ۱۸۹۶ کال کې سلطان ورکولو ونه مانه ، که څه هم مشورینو یې مشوره ورکړه چې ویې مني.

په پایله کې ویلی شو چې امیر بهرنۍ اړیکې په دې اصل ولاړې وې چې نوموړی موافقه وکړه چې په کم افغانستان واک وچلوي او همدارنګه یې موافقه وکړه چې یوازې د برتانوي هند د حکومت سره معامله وکړي او نه د نورو سره. ده ځکه داسې وکړل چې هغه دغه مهال د خپل سیال سردار محمد ایوب خان په وړاندې د برتانیې ملاتړ ته اړتیا درلوده. همدارنګه دا وخت هېواد غیر منظم دولت و. خو د ده دغه دریځ موقتي و. همدا وخت و چې ده دولت له سره تنظیم کړ، کورني سیالان یې وځپل او د هېواد یووالی یې تامین کړ. امیر هڅه کوله چې دی د بشپړ هېواد خپلواک حاکم شي. خو برتانیې او روسیې چې د امیر د هیلو مخالف لوري ته په وړاندې حرکت کاوه، نه یوازې یې د امیر د وړاندې تګ مخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونیوله، بلکې د هغه نه یې مخکې وشوکولې او افغانستان ساحه یې وړه کړه. امیر په دې بریالی شو چې یو ملي دولت جوړ کړي او د هېواد نړیوالې پولې په نښه شي چې اوسنی موډرن افغانستان یې جوړ کړی دی.

امیر د لودویک ادامیک په وینا د ۱۸۹۰ کلونو تر منځ پورې د برتانیې پلوي او د روسیې ضد سیاست چلاوه. خو وروسته کله چې برتانیې پوځي شتون په چترال کې او روسیې په پامیر کې پوځي شتون درلود امیر هڅه کوله چې یو ډول انډول د دوی تر منځ وساتي. برسېره پردې امیر دا هڅه هم کوله چې افغانستان په بشپړه توګه خپلواک کړي. خو د امیر دا هڅې د ناکامۍ سره مخامخ شوې او په دې هڅې کې بریالی نه شو چې د لندن سره نېغې اړیکې جوړې کړي. خو امیر خپلو راتلونکو ځای ناستو ته داسې قوي افغانستان په نیکات پرېښود چې هغوی په پای کې هېواد په بشپړه توګه خپلواک کړ.

## خپل زوي حبیب الله خان ته د امیرعبدالرحمن خان سپارښتنې

امیر عبدالرحمن خان د دې له پاره چې په افغانستان کې د ځای ناستي پر سر د ګډوډۍ مخنیوی وکړي په خپل ژوند کې یې د حکومت چارې خپل ځای ناستي حبیب الله خان ته وسپارلې. موخه یې دا وه چې خپل زوی د حکومت په ډول او کړنو پوه کړي تر څو د تجربې خاوند وي او هم په هېواد کې د مشرانو په منځ کې درنښت ولري. ده خپل ځای ناستي ته یو شمېر سپارښتنې وکړې چې ځینې ډېرې مهمې یې دا دي:

ځای ناستی باید د خپل دین په بنسټونو پوه وي او ټولو ښېګڼو ته یې پام وي؛ ځای ناستی باید د ملت ښېګڼې، ارامۍ او ثبات ته ډېره پاملرنه وکړي او باید په دې وپوهېږي چې د ټولنې بری په شتمنۍ پورې تړلی دی او شتمني د کرهنې، سوداګرۍ او صنعت نه پرته ناشونې ده او د درې واړو پرمختګ په عمومي پوهنه او روزنه پورې تړلی دی. څنګه چې افغانستان تر اوسه د مدنیت په ټیټو درجو کې ښکېل دی او عبدالرحمن د زړه له کومې هیله لري چې د لوېدیځ په شان دې د افغانستان په ټولو څنډو کې ښوونځي جوړ شي. خو دا کار په اسانۍ سره سر ته نه شي رسېدلی. ځکه دغه هیلې پرله پسې پرمختګونو ته اړتیا لري؛ ځای ناستی دې هرو مرو د خپلو مامورینو په غوره کولو کې پوره پام وکړي او د هغوی ښه کارونه دې وستایي؛ د مظلوم د حق ساتنه دې وشي، که څه هم مجرم به د ځای ناستي زوی وي. د دې لارې ځای ناستی د ولس زړه خپلولی شي؛ پردیو ته باید د هر ډول حقوقو او امتیازاتو د ورکولو موقع ورنه کړل شي؛ د انګرېزانو سره ځای ناستی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



چلند کې د خپل پلار لار ونيسي خو خپله موخه ياني د افغانستان خپلواکي او ثبات له ياده ونه باسي او پوره پاملرنه ورته وکړي؛ ځای ناستی بايد د خپل رعيت ښېګڼو ته پاملرنه وکړي؛ ځای ناستی بايد په سياسي مسايلو کې په خپله کلک غور وکړي، نه دا چې د کوم وزير په لارښوونه بسنه وکړي؛ وسله والې قواوې دې نه يوازې د جګړې په وخت کې، بلکې تل د تيارسۍ په حال کې وي او د هغوی ټولې اړتياوې (وسله، خواراک، پوښاک او درمل)

مخکې د جګړې نه تهيه شوي وي ځکه چې د جګړې په حال کې د دغو اړتياوو پوره کول ستونزمن کار دی. واکمنان بايد خپلو وسله والو قواوو ته خپله مينه او درناوی وښيي او د دوی د سرښندنو قدر دې وکړي؛ د حکومت بيت المال د ملت مال دی. امير د بيت المال په پيسو کې بل حق نه لري خو دا چې وېې ساتي او اداره يې کړي. که واکمن له بيت المال نه په شخصي چارو کې کار واخلي خيانت يې کړی دی. خاين د ملت په سترګو کې سپک وي. بيت المال بايد تل ډک وي ځکه که تش وي د حکومت کمزوري ښيي. په پای کې دا هم زياتوي چې ځای ناستی بايد عايداتو او لګښتونو ته پام وکړي او هغه لار ولټوي چې د بيت المال پياوړتيا ته ګټه ورسوي.

د زيرکيار په وينا امير عبدالرحمن خان خپل ځای ناستي ته يوه بله ډېره مهمه سپارښتنه هم کړې وه هغه دا چې ځای ناستی به په هېڅ ډول داسې سمونونه نه اعلانوي چې ولس د خپل واکمن پر ضد پاڅون ته راوپاروي. زيرکيار سم وايي چې «ځومره به ښه وای که د امير عبدالرحمن لمسي (امان الله خان) د خپل نيکه وينا ته غوږ نيولی وای.»۳۴۱

## پايله

لکه چې مې د مخه يادونه وکړه امير شيرعلي خان د افغان- انګليس د دوهمې جګړې په پيل سره د هېواد شمال ته په دې نيت چې روسيه به ورسره مرسته وکړي لاړ شو او روسان د دې پرځای چې مرسته ورسره وکړي دی يې وهڅاوه چې د انګرېزانو سره جوړه وکړي. امير د هغې ناروغۍ له امله چې ورته پيدا شوې وه په مزار کې مړ او هلته خاورو ته وسپارل شو. په کابل کې امير محمد يعقوب خان واکمن شو او په ګندمک کې يې د انګرېزانو سره ترون لاسليک او د هېواد يو شمېر سيمې يې انګرېزانو ته ورکړې.

په کابل کې د انګرېزانو پر ضد افغان پوځ د خلکو په ملاتړ پاڅون وکړ او د کابل په بالاحصار کې يې د انګليسانو سياسي استازی کوګناري، د هغه درې انګليسي ملګري او ۷۵ تنه هندي ساتونکي ووژل. د دې پېښې وروسته لارډ ليټن انګرېزانو د غچ اخېستلو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



موخه ځینې ګامونه پورته کړل او برسېره پردې ده د افغانستان د ټوټې کولو پلان تر لاس لاندې ونیو چې د برېتانیې، روسیې او ایران تر منځ وویشل شي او دغه پلان یې د نوي نظم په نوم یاد کړ.

د ښه مرغه د اپریل په میاشت کې په انګلستان کې د لیبرال ګوند د ویلیم ګلاډستون په مشرۍ ټاکنې وګټلې. لارډ لیټن د برتانوي هند د واکمنۍ نه لیرې شو او پرځای یې لارډ ریپن وټاکل شو. دوی خپل سیاست ته بدلونورکړ او لارډ ریپن کابل ته یو تجربه کار ډیپلومات لېپل ګریفن ولېږلو هغه د شمالي افغانستان له پاره د یوه واکمن په لټه کې شو. امیر عبدالرحمن چې بخارا ته تښتېدلی و او دوولس کاله یې هلته تېر کړي و او د روسانو په مواجبو یې ژوند کړی و د هېواد شمال ته راغی او هلته یې فعالیت پیل کړ او د واک خاوند شو. لېپل ګریفن د خپلو موخو له پاره د عبدالرحمن سره اړیکې ټینګې او لیکونه یو او بل لوري ته ولېږل شول. په پای کې امیر عبدالرحمن د انګرېزانو سره دا ومنله چې د شمالي افغانستان واکمن شي.

دغه مهال د مېوند په جګړه کې افغانانو د سردار محمد ایوب خان په مشرۍ انګري پوځ ته کلکه ماتې ورکړه انګرېزان د نوي نظم د پالیسۍ نه تېر شول او امیر عبدالرحمن یې وهڅاوه چې کندهار په خپل زور د ایوب خان نه ونیسي او په خپله واکمني کې یې شامل کړي.

د امیر عبدالرحمن سره د موافقې وروسته دغه جګړه پای ته رانږدې شوه او د میوند جګړې د لیټن د تجزیې پلان ناکامه کړو او امیر عبدالرحمن د انګرېزانو په مرسته محمد ایوب خان مات او افغانستان د عبدالرحمن تر واکمنۍ لاندې یو موټی شو. خو دا د افغانستان د خاورې د یوې برخې په بایلودلو او د هېواد د بهرني سیاست د لاسه ورکولو په بیه تمام شو.

د افغان- انګلیس د دوهمې جګړې وروسته د انګرېزانو د رسمي چارواکو په سیاست کې دوې نظریې په ښکاره توګه څرګندې شوې چې یوه یې د «بیلتون سیمه» او بله یې د «علمي کرښې» په نومو یادې شوې چې د دواړو موخه د روسیې د تیري په وړاندې د برتانوي هند ساتنه وه. خو کله چې په ۱۸۸۰ کال کې روسانو په پامیر کې د افغانستان ځینې مځکې ونیولې نو انګرېزانو د روسانو سره د افغانستان د ټولې شمالي پولې د په نښه کولو موافقې ته ورسېدل او بیا دا کار ترسره شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د علمي پوليٖ د په نښه کولو له پاره په امیر باندې د ډېورنډ هوکړه لیک وتپل شو چې افغانانو هغه رد کړ. د ډېورنډ کرښې دولت کمزوری کړ، افغانستان هغه پراخې سیمې د لاسه ورکړې چې داسې پښتانه په کې اوسېدل چې د هېواد په جوړېدو او ساتلو کې یې مهم رول درلود.

له دې وروسته امیر د هېواد کورنیو چارو ته پاملرنه وکړه. ده په دې ډېر زور واچاوه چې یو غښتلی مرکزي دولت جوړ کړي. په دې موخه نوموړي امیر د غښتلي پوځ، پراخې ادارې او د جاسوسۍ پراخه شبکې، د مالیې د راټولولو سیستم جوړولو او د بهرني سوداګرۍ انحصارولو ته مخه کړه.

د دغه امیر د واکمنۍ په جریان کې د یوه سیاسي، اقتصادي، حقوقي او پولي سیستم په غښتلي کولو سره د واحدې ټولنې د منځ ته راتلو له پاره شرایط برابر شول چې په هغې کې یو مرکزي واکمن ملي دولت جوړ شو. امیر روحانیون، د مځکې غټ مالکان او د قبیلو د مشرانو په ځپلو سره نه یوازې د غښتلي سیکولر حکومت له پاره بلکې په راتلونکو لسیزو کې یې د هېواد د عصري کولو او صنعتي کولو له پاره لار هواره کړه.  خو امیر د ټولنیز او زده کړې د سیستم د جوړولو هڅې ونه کړې. ده د اساسي قانون د جوړولو نوښت ونه کړ چې د خلکو مسؤلیتونه او حقوق په کې ټاکل شوي وای. دی یو مستبد واکمن شو او د ټولنې افراد اړ شول چې نوښتګر، خوځوونکي او جوړونکي او په ځانګړې توګه متفکر ونه اوسي.

که د امیر شیرعلي خان سیاسي مرکزیت چې د دودیزې فردي ازادۍ سره ملګری و د خپلې واکمنۍ په پای کې هېواد په داسې لارې روان کړی و چې افغانستان په ملي دولت بدل شي خو امیر عبدالرحمن د دودیزې فردي ازادي پرته سیاسي مرکزیت منځ ته راووړ. ده د امیر شیرعلي خان پرعکس هغه محمدزیان په سر کې ودرول، چې د انګلیس د تیري په وخت کې د انګرېزانو پلویان وو.

په افغانستان باندې د انګرېزانو په دوهم پوځي یرغل سره نوي دولت د امیر شېرعلي خان د پښتو سمون ترک کړ. د پښتو ملکي القاب ترک شول، فارسي د دفتر یوازینۍ ژبه شوه، خو د امیر شېرعلي خان د وخت پوځي القاب تر زیاتې اندازې پر ځای پاتې شول. برسېره پردې چې په دې وخت کې یو شمېر تألیفات په پښتو وشول، د ختیځو پښتنو سره د امیر مراودې او هغو ته د ده فرمانونه اولیکنې په پښتو وې. د دربار په دارالانشأ کې د پښتو ځانګړې څانګه پرانېستل شوه چې مشر یې ملا محمد خان افغاني نویس د عبدالله خان افغان نویس پلار و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهاند کاکړ وايي چې: «د ملي مصلحت تقاضا دا وه چې د امیر شېرعلي خان اخلافو په تېره امیر عبدالرحمن د هغه اصلاحات او په خاص ډول د پښتو حرکت د سره نیولی، اصلاح کړی او لا هم عمومي کړای وای، خو نه امیر عبدالرحمن او نه د هغه پاچا زوی حبیب الله خان دغسې وکړل. دوی شاید له دې کبله داسې نه وي کړي چې د امیر شېرعلي خان د تربورې کورنۍ غړي وو، یا یې نه غوښتل، د هغه نوښتي او اصلاحي پروګرامونه د سره ونیسي.... په پښتنو په تېره د سر په پښتنو کې څه وخت چې کومه کشاله مخصوصا هغه چې د واک پر سر را منځ ته شوې، هغه د تربورۍ په چوکاټ کې اچول شوې او بیا تربوري په دښمنۍ بدله شوې ده.» ۳۴۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځلسم څپرکی

# د امير حبيب الله خان واکمني

د امير عبدالرحمن د مړينې وروسته د امير مشر زوی حبيب الله خان د پلار د وصيت سره سم د واک په ګدی کېناست. امير عبدالرحمن د خپلې يوويشت کلنې استبدادي واکمنۍ په يون کې د سر سرې وژلي او يا يې د هېواد نه شړلي وو، تر څو د ده ځای ناستي ته ستونزې جوړې نه کړي.

امير حبيب الله خان د خپل پلار غوندې سخت زړی نه، بلکې د نرم دريځ خاوند و. نوموړي ډېر بنديان وبخښل او د بنديتون نه يې ايله کړل. ده د يوه عمومي فرمان له مخې ډېر هغه کسان بېرته افغانستان ته راوبلل، چې د ځانونو د زغورلو په خاطر تښتېدلي او يا د امير عبدالرحمن خان له خوا د وطن نه شړل شوي وو. په دغو راغلو کسانو کې د محمود طرزي او د مصاحبانو ياني د امير د پټو سلاکارانو کورنۍ وې.

لودويک اداميک وايي: محمود طرزی يو نامتو شاعر، د غلام محمد خان زوی او د سردار رحمدل خان لمسی و. ده په جلاوطني کې پنځلس کتابونه يا په خپله ليکلي او يا يې هم ژباړلي دي. ده د اسلامي يووالي او اسلامي سمون لوی مبلغ سيد جمال الدين سره پېژندګلوي درلوده او د سراسري اسلامي پيوستون ټينګ پلوي و او د برتانوي واکمنۍ سخت مخالف و. اداميک زياتوي چې د واکمن محمدزايي ټبر د يو غړي په توګه، د امير حبيب الله خان په کهول هغه وخت ورګډ شو چې خپلې دوه لوڼه يې د هغه زامنو سردار عنايت الله او سردار امان الله ته په نکاح کړې. نوموړي په ۱۹۱۱ کال په مني کې د سراج الاخبار د جريدې په راايستلو سره د ځوانو افغان سمون غوښتونکو تر ټولو تکړه وينډوی وګڼل شو. داود جنبش وايي «چې همدا د سراج الاخبار جريده د پښتو ژبې د مطبوعاتي کولو پيلوونکې ده. محمود طرزي په خپله په دري ژبه د پښتو د لرغونتوب، ادبي، سياسي او ټولنيز ارزښت په اړه مقالې خپرې کړې او خپل نور همکاران يې لکه مولوي صالح محمد خان، غلام محی الدين خان، عبدالرحمن لودين، عبدالهادي داوي پريشان، عبدالعلي مستغني او نور وهڅول چې پښتو ژبې او ادبياتو ته کار وکړي.»۳۴۳

سراج الاخبار خلکو ته د نيواک ضد او پان اسلامي پيغام لېږه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېواد ته د راستنېدونکو په جمله کې يوه بله نامتو کورنۍ د امير د پټو سلاکارانو کورنۍ وه. په دې کې مهم يې د محمد يوسف خان پنځه زامن وو، چې له هغوی نه نادرخان ډېر ژر تر لوړه ځايه ورسېد.

نادرخان د سردار يحی خان لمسی او د يوسف خان زوی و. د ده نيکه سردار يحی خان، چې د امير محمد يعقوب خان خسر و هغه مهال چې امير عبدالرحمن په کابل کې واکمن شو، انګرېزانو هندوستان ته تبعيد کړ. د نادرخان پلار يوسف خان او تره اصف خان په هندوستان کې زده کړې وکړې چې بيا د يوسف خان زامنو عبدالعزيز خان، محمدهاشم خان، شاه ولي خان، شاه محمودخان او نادرخان په هند کې دانګرېزانو په ښوونځيو او پوهنتونو کې زده کړې وکړې او د انګرېزانو د ژبې او سياست سره بلد شول.

امير حبيب الله خان د نادرخان د خور سره چې يوه هوښياره او تکړه ښځه وه واده وکړ او د امان الله خان دوې خويندې د شاه ولي خان او شاه محمودخان مېرمنې وې. په دې ترتيب دوی د خپلوۍ نږدې اړيکې درلودې. نادرخان د انګرېزانو ضد جګړه کې د پکتيا په محاذ کې په ټل او وانه کې لوی برۍ ترلاسه کړ او په دې ترتيب يې د خپلواکۍ په ګټلو کې د قدر وړ رول ولوباوه. د خپلواکۍ د جګړې وروسته امان الله خان دی د دفاع د وزير په توګه وټاکه.

امير حبيب الله خان يو سمون- فکره واکمن و چې د خپل هېواد د موډرن کولو دپاره يې ګامونه اوچت کړل. نوموړي په ۱۹۰۳ کال کې د حبيبيې او حربيې ښوونځي جوړ کړل؛ د سراج الاخبار جريده د ۱۹۰۶ کال د جنوري په يوولسمه نېټه د مولوي عبدالروف کندهاري له خوا خپره شوه چې يوازې يوه ګڼه يې د چاپه راووته؛ بيا په ۱۹۱۱ کې د سراج الاخبار افغانيه په نامه جريده د محمود طرزي په مشرۍ په خپرونو پيل وکړ. د داود جنبش په وينا «له دويم کال راهيسې يې ټولې ګڼې د ډبرين چاپ پرځای په حروفي ډول خپرې شوې او کابل ته د زنګو ګرافۍ تخنيک په لېږدېدو يې د عصري ژورناليزم يوه خورا اړينه برخه- عکسونه، رسمونه او جدولونه هم د لومړي ځل له پاره په خپلو پاڼو کې ځای کړل.»۳۴۴ په دې کار کې هغو پرارپانو چې د امير عبدالرحمن د واکمنۍ په مهال د هېواد نه شړل شوي وو، ستره ونډه واخېسته چې په بهر کې يې نوې پوهنه تر لاسه کړې وه چې ډېر مهم يې محمود طرزی، غلام محی الدين افغان او نور دي. همدلته د لومړي ځل له پاره د افغاني ښځو ستونزې ته پاملرنه شوې او ورته يې د کوچنيانو له پاره د «سراج الاطفال» په نامه ځانګړې ضميمه هم خپره کړې ده. هغه راز راز قانوني سمونونه په لاره واچول او د پلار سختې جنايي جزاګانې يې ليرې کړې. نوموړي هغه ځېونکی کورنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



جاسوسی سازمان، چې پلار یې په کار اچولی و، لیرې کړ. د تېرې په اند «څرنګه چې په فردي استبدادي او مطلقه نظام کې د سیاسي، اجتماعي او ثقافتي نهضتونو د انکشاف امکانات بیخي کم وي، نو حبیب الله خان په اول قدم کې د خپل پلار استبدادي سلوک پرېښود.»۳۴۵ امیر حبیب الله خان د بهرني مهارت او تکنالوژۍ پر اهمیت ښه پوهېده او د خپل پوځي ځواک د لا ټینګښت په موخه یې بهرني کارپوهان په لومړۍ درجه برتانویان له اروپا نه کابل ته راوغوښتل، خو ورو ورو یې هندیان او ترکان هم پسې ورزیات کړل. له بهر څخه دغو راغلو کسانو افغانستان ته نه یوازې کمال راوړ، بلکې د سمونونو او موډرن کولو هغه نظریې یې هم خورولې چې په ټولنیزو او سیاسي برخو کې خپرېدلې. په دې توګه امیر حبیب الله خان د لوېدیځې پوهې په لرلو سره د مدنیت، پوهنې او پرمختګ پلوي و.

د امیر حبیب الله خان په وخت کې د جبل السراج د برېښنا فابریکه په کار واچول شوه، د کندهار د سراج نهر د جوړېدو کار پیل شو، د کابل د وړیو کارخانه جوړه شوه او په کار یې پیل وکړ او په هېواد کې د زړو لارو ترمیم او د نویو لارو جوړول پیل شول. ده د راهدارۍ، واده او فاتحې نظامنامې هم جوړې کړې.

امیر حبیب الله یتیمتون جوړ کړ او خپل رسم یې د دې موسسې له پاره خرڅ کړ. امیر حبیب الله خان د وطن د ساتنې په اړه د خپل پلار لار ونیوله افغانستان باید پیاوړی وسله وال پوځ ولري. پیاوړی وسله وال پوځ او د هېواد هر اړخیز پرمختګ د هېواد د خپلواکۍ غښتې تضمین دی.

امیر حبیب الله خان «په خپل لګښت په کلکته کې «ژباړ خونه» ( Translation hous)» جوړه کړه چې په افغانستان کې د ښوونځیو له پاره اروپایي علمي کتابونه په فارسي ژبه وژباړي. دغه ابتکار ښیي چې د پوهنې سره یې علاقه درلوده»۳۴۶

امیر حبیب الله خان یو عیاش سړی و او حرام سرای یې د ښکلو ښځو نه ډک و. ده په ځاني ساعتېریو کې ځان ډوب کړی او دولتي چارو ته یې لږ وخت ایستلی و. خو د دغو کمزوریو سره سره ده بیا هم خپل هېواد ته خدمت کړی دی.

د لیون پولادا په اند دا مهال په افغانستان کې دوې سیاسي ډلې شتون درلود. لومړۍ ډله کې دوه لوري وو: یو پاڅون کوونکی لوری چې امان الله، محمود طرزي او ځوان افغانان، عبدالهادي داوي او عبدالغني په کې وو او بل لوری د برتانیې پر ضد ساتنپالان چې سردار نصرالله خان، جنرال محمد نادرخان او ډېر دیني عالمان په کې شامل وو. دوهمه ډله چې د برتانیې پلوي یا ناپېیلې وه او عبدالقدوس خان ستر وزیر، عنایت الله خان او په پټه امیر حبیب الله خان په کې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار نصرالله خان د امیر حبیب الله ورور او ځای ناستی ساتنپال خو لږ تر لږه د تخنیکي پرمختګ سره مینه درلوده، ده انګلستان لیدلی و او د هغه ځای تخنیکي، اقتصادي، او ښوونې پرمختګونو او د ولس ازادیو اغېز وربانديې کړی و او د بدلون پلوي و. نوموړي په پټه د انګرېزانو په وړاندې د غازیانو سره مرسته کوله او د بدلون غوښتونکو کسانو سره یې په دربار کې راشه درشه لرله.

په افغانستان کې د امیر حبیب الله خان په وخت کې «د مشروطه غوښتونکو غوښتنه د افغانستان پوره خپلواکي وه. نورې غوښتنې یې د مشروطیت یاني د اساسي قانون له مخې حکومت او د عصري مدنیت او پرمختګ وې.»۳۴۷ د افغانانو د خپلواکۍ جذبه په کابل کې د برتانیا د حکومت سفیر همفریز ډېره ښه انځور کړې ده: «د پاچا نه نیولې تر اوښبنه کوچي پورې چې د منځنۍ اسیا او هند په بازارونو کې په هسکه غاړه ګرځي د افغانانو په هره ساه کښېکښنه کې خپلواکي ده.»۳۴۸

وارټن ګریګورین هم وایي چې «په ۱۹۱۹ کې هېڅ واکمن نه شو کولی په افغان ملت باندې په ټینګه حکومت وکړي، خو دا چې د پوره خپلواکۍ له پاره یې ژمنه کړې وي.»۳۴۹

امیر حبیب الله خان داسې مهال واک ته ورسېد چې په هېواد کې ناسیونالیزم او قانوني غورځنګ سر راجګ کړی او په سیمه کې د نیواک ضد او د پان اسلامیزم څپې پراخېدې. د مخه مو وویل چې د لومړی قانوني غورځنګ غوښتنې چې د افغان سیاسي فعالانو، د هندې مسلمانانو په ګډون مترقي ښوونکو له خوا یې مشرې کېدله، مشروطه شاهي او په ازاده توګه ټاکل شوي پارلمان و. دغو سمونپالو د بهرني تسلط نه بشپړه خپلواکي، ټولنیزه برابري او د هېواد موډرن کول هم غوښتل. د امیر د لومړي رضایت سره سره دا لومړی قانوني نهضت (۱۹۰۵-۱۹۰۹) په افغانستان کې اوږد نه شو په دې چې د دغه غورځنګ راډیکالو کسانو تیري، زور او بلوا ته زړه ښه کول وښودل. امیر هم په بې رحمۍ سره وځپل؛ اته تنه یې زندۍ او ۳۵ مشران یې بندیان کړل. په دې اړه غبار لیکي چې امیر حبیب الله خان «ان د جمعیت د غړو نوملړ چې ده ته یې راوړی و تر پایه ونه لوست او اور ته یې واچوه او وویل: که ټول مې لوستی وای ډېر خلک تباه کېدل»۳۵۰ له دې نه ښکاري چې نوموړي د نرمتوب نه کار اخېستی دی. د دوهمې نړیوالې جګړې په جریان کې چې افغانستان د سترو ځواکونو په سیاست کې ګیر شو دغه غورځنګ بیا په خوځښت راغی او په ۱۹۱۹ کې د امیر د ترور په پایله کې د هغه مترقي زوی امان الله خان یې تخت ته ورساوه.

حبیب الله خان په بهرني سیاست کې د پلار په ګام روان و. خو روسې او برتانیې دواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغان په روان سیاسي حالت کې بدلون غوښته. روسي حکومت له افغاني واکمن سره د نېغو اړیکو د لرلو حق غوښته او برتانوي حکومت تر هغه پورې په رسمیت نه پېژانده چې هغه د انګلیس- افغان د شته تړونونو په اړه بیا خبرې اترې ونه کړي. که څه هم امیر حبیب الله خان پر دې خبره ټینګ و چې د برتانيې- افغان تړونونه خو د دوو دولتونو تر منځ شوي، ځکه نو د برتانيې یا افغانستان د واکمن د مړینې په صورت کې باید په هغو له سره غور ونه شي. خو په پای کې اړ شو چې په کابل کې برتانوي استازی ومني.

د انګرېزانو سره يې د ۱۹۰۵ کال د مارچ په ۲۱مه د پلار له خوا شوی تړون د سره لاسلیک کړ. د دغه تړون له مخې برتانيې امیر ته په کال کې یو میلیون او اته سوه زره روپۍ ورکولې او دا حق يې هم درلود چې د هند نه وسله وارده کړي. د خپلواکۍ د غوښتنې په اړه د امیر حبیب الله خان هغه هڅې هم د پام وړ دي چې د ۱۹۰۵ کال په تړون کې کړې دي. د برتانوي هند حکومت په دې ټینګار کاوه چې د امیر عبدالرحمن سره د ډیورنډ تړون شخصي و او د هغه د ځای ناستي سره د بیا خبرو اترو وړ و. د هند د حکومت موخه دا وه چې د خبرو له لارې د امیر حبیب الله خان نه دا امتیازات تر لاسه کړي چې د پښتونخوا د سیمو په سیاست کې به لاسوهنه نه کوي او د افغانستان او برتانوي هند په منځ کې به د مومندو پوله ټاکي. برتانوي هند امیر حبیب الله خان د کلک فشار لاندې ونیو، مالي مرستې يې پرې بندې کړې او افغانستان ته يې د وسلو د راوړلو مخه ونیوله. خو امیر حبیب الله خان «تسلیم نه شو» هغه د برتانوي هند د بهرنیو چارو وزیر لویس ډین کابل ته راوغوښت. د دریو میاشتو خبرو نه وروسته د ۱۹۰۵ کال د مارچ د میاشتې په ۲۱ نېټه «د افغانستان او د مربوطاتو خپلواک پاچا» او لویس ډین د هند د بهرنیو چارو وزیر یو تړون لاسلیک کړ. د لودویک ادامیک په وینا په دغه تړون کې امیر حبیب الله خان په ښکاره د افغانستان د دولت او مربوطاطو خپلواک پاچا په توګه ځان یاد کړ. په دې توګه په دغه تړون کې انګرېزانو هغه ته د اعلیحضرت خطاب او هم يې د افغانستان او په افغانستان پورې د اړوندو سیمو د خپلواک پاچا په توګه وپېژاند.

دا وخت په اروپا کې د قواوو انډول بدلېده. جرمني ځواکمن کېده او په ۱۹۰۵ کال په لیرې ختیځ کې د جاپان له خوا د روسيې ماتې او د همدې کال د ناکامه انقلاب له امله تزاري روسیه کمزورې کېده. په منځنۍ اسیا کې د دغو پېښو له کبله روسيې او برتانيې پرېکړه وکړه چې په اسیا کې د اوږدې مودې اختلافات هوار کړي. دوی په ۱۹۰۷ کال کې په پترسبورګ کې د انګلیس-روس کنوېنشن لاسلیک کړ چې په پارس کې يې د دوی د نفوذ سیمې وټاکلې، په افغانستان کې يې د برتانيې نفوذ ومانه او ژمنه یې وکړه چې په تبت کې به

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړه لوري لاسوهنه نه کوي. د دغه کانوېنشن له مخې برتانيې ژمنه وکړه چې تر هغه به د افغانستان کومه برخه نه نیسي چې امیر د ۱۹۰۵ کال تړون مراعات وکړي. روسيې ژمنه وکړه چې یوازې د برتانوي حکومت له لارې به د افغانستان سره چلند کوي. په دې توګه د برتانيې او روسيې تر منځ د پترسبورګ کانوېنشن په پارس او افغانستان کې د دوی د نفوذ ساحې وټاکلې. د دې تړون موخه دا وه چې د جرمني نفوذ تم کړای شي. خو د برتانيې حکومت په دغه تړون باندې د افغانستان امیر حبیب الله خان خبر کړی نه و. خو دوه کاله وروسته کله چې امیر حبیب الله خان ورباندې خبر شو دغه تړون یې لاسلیک نه کړ او انګرېزان یې وپوهول چې د افغانستان په اړه پرېکړه باید یوازې په خپله د افغانستان په خوښه وي.

د لیون پولادا په اند په ۱۹۱۵ کال په سپتمبر کې جرمني پلاوی په دې هیله کابل ته راورسېد چې که امیر حبیب الله د برتانيې په وړاندې جګړې ته وهڅوي. مصداق وایي چې حبیب الله خان د لومړۍ نړیوالې جګړې په یون کې د افغانستان د ګټو په نظر کې نیولو سره نه د ترکيې او المان د مرکزي قواوو او نه هم د هغو دښمنو متحدینو چې انګرېزان او روسان وو، تر اغېز لاندې راغی. په ۱۹۱۵ کال کې کابل ته د نیدرمایر او هېنتیګ په مشرۍ د المان یو پلاوی راغی چې موخه یې د انګرېزانو په وړاندې د امیر حبیب الله خان او د پښتنو قومونو لمسول وو. خو امیر حبیب الله خان دغه پلاوي ته داسې شرطونه وړاندې کړل چې موخه یې د جګړې نه د افغانستان ژغورل و. لومړی شرط دا و چې جرمنیان باید په کال کې د سرو زرو ۲۰ زره پونډونه، یو لک ټوپک او ۳۰۰ توپونه ورکړي. دوهم شرط دا و چې کله چې د ترکيې او المان بریالي سرتېري افغانستان ته ننوزي بیا به د هغوی په مشرۍ په جګړه کې ونډه واخلي.

نیدرمایر د امیر حبیب الله خان سره د لومړي ځل لیدنې اغېز داسې بیانوي: «موږ ته دغه پیاوړی سړی د رسا فکر څښتن ښکاره شو چې خپلې ګټې یې ډېر ژر درکولې»۳۵۱ نیدر مایر دا هم وایي: «موږ په دې پوهېدو چې له یوه داسې محتاط او دقیق سړي سره زموږ مخه وه چې خپله ګټه او تاوان یې پېژندل او بیړنۍ پرېکړې کولی شوې.»۳۵۲

نبي مصداق د لومړۍ نړیوالې جګړې په جریان کې د امیر حبیب الله بهرنۍ سیاست داسې ارزوي «امیر حبیب الله خان د افغانستان د شلمې پېړۍ په تاریخ کې یو رسېدلی او ذکي پاچا و خو زموږ په تاریخ کې هغه ته داسې کریډېټ چې په بهرني سیاست کې لوبولی ورکړ شوی نه دی»۳۵۳

تیخونوف وایی چې «امیر حبیب الله خان د ۱۹۱۴-۱۹۱۸ کلونو کې د لندن نه په دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتنو باندې پیل وکړ چې افغانستان ته خپلواکي ورکړي او د ختیځو پښتنو مځکې بېرته ورکړي.»۳۵۴ د لومړۍ نړیوالې جګړې د پای ته رسېدو وروسته امیر حبیب الله خان د خپل هېواد د ناپیلتوب په بدل کې د هغه مهال برتانوي هند د وایسرا چېلمسفورډ نه د ۱۹۱۹ کال د فبروري په ۲مه په یوه لیک کې د پاریس د سولې د کنفرانس له خوا د افغانستان «د غوڅې خپلواکۍ، د عملي ازادۍ او تلپاتې اسقلال» په رسمیت پېژندنه وغوښته او ورځخه یې وغوښتل چې د ورسالې د سولې په خبرو اترو کې باید افغانستان د خپلواک هېواد په توګه برخه واخلي. وایسرا د افغانستان د خپلواکۍ خواخوږی و او د هند په چارو کې د برتانيې وزیر اډوین مونتاګو ته یې ولیکل چې دا به ښه نه وي چې برتانیا په زور سره د افغانستان بهرنۍ چارې محدودې کړي او په دې موضوع کې جګړې ته لاړ شو. د چېلمسفورډ په وینا امیر حبیب الله خان بشپړه سیاسي خپلواکي، د ځمکې پراختیا، پیسې او په انګلستان کې د استازي درلودل غوښتل. ۳۵۵

د لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته په ۱۹۱۹ کال د جنوري په میاشت کې د ورسالي د سولې کنفرانس جوړ شوی و او امیر حبیب الله خان د همدې کال د فبروري په دوهمه نېټه چېلمسفورډ ته ولیکل چې په یاد شوي کنفرانس کې دې د افغانستان «دایمي خپلواکي» په لیکلې توګه په رسمیت وپېژندل شي.»۳۵۶ حبیب الله خان د بې پلوۍ د تګلارې له امله د برتانویانو نه د افغانستان د خپلواکۍ انعام غوښته. ده ان اسلامي ګټې هم د افغانستان له خپلواکۍ ګټلو نه قربانولې.۳۵۷

د امیر حبیب الله خان دا غوښتنه له خپلواکۍ نه کمه نه وه. دغه وایسرا لندن ته په خپل راپورټ کې لیکي چې تر هغه ځایه چې دی امیر حبیب الله خان «پېژني امپراتور یې په څو لکه روپیو یا د ایران د شاه په څېر د لقب په ورکولو نه شي قانع کولی».۳۵۸

د هند حکومت وپاتېیله چې هغه وخت رارسېدلی چې باید اجازه ورکړو افغاني استازی په لندن کې حضور ولري او هم د جګړې نه وروسته د سولې کنفرانس ته استازی ولېږي. خو د هند د حکومت په ځواب کې د لندن حکومت په غوڅه سره وویل چې «هغه ته دومره موقع مه ورکوی چې غوښتنې یې زموږ څخه لار او ګودر ورک کړي.»۳۵۹ په دې توګه لندن دا موضوع مهمه ونه ګڼله او د امیر لیک ته ځواب ورنه کړل شو. د دې لیک نه دوې اوونۍ وروسته امیر په لغمان کې ووژل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپاړسم څپرکی

# کاکړ او د امیر امان الله خان واکمني

کاکړ د امان الله خان د واکمنۍ په اړه یو ځانګړی کتاب چې «د پاچا امان الله واکمنۍ ته یوه نوې کتنه» نومېږي کښلی دی. که څه هم کاکړ وایي چې په دې لیکنه کې د امان الله خان د واکمنۍ ټولې موضوع ګانې بیان شوې نه دي خو دا کتاب چې د هغه وخت د کسانو د کښلو لیکنو پر بنسټ لیکل شوی د اماني دورې یو رښتینی انځور وړاندې کوي. وروسته یې د امان الله خان د واکمنۍ په اړه یوه بله لنډه لیکنه چې «د ښاغلي زماني او ښاغلي سیستاني د لیکنو په هکله» نومېږي وکړه. ما په خپله لیکنه کې د دغو دواړو اثارو او هم د نورو لیکوالو د اثارو نه ګټه پورته کړې ده.

امیر حبیب الله خان د ۱۹۱۹ کال د فبروري د میاشتې په یوویشتمه نېټه د لغمان په کله ګوش کې ووژل شو. کاکړ وایي چې یو روایت دا دی چې دغه وژنه سیاسي او د مشروطه غوښتونکو د یوې پټې کړۍ کار و، چې درباریان په تېره د دربار غلام بچه ګان او ان د امیر سکه ورور سردار نصرالله او په خپله امان الله خان په کې برخه درلوده. بل روایت دا دی چې د هغه د وژنې موضوع فامیلي او شخصي ده او په اصل کې د وژل شوي امیر د لومړۍ مېرمنې سرور سلطان د امان الله د مور د دسیسې پایله وه. څنګه چې نوموړې د امیر د نظره لوېدلې وه، خپل زوی امان الله یې د واکمن کېدو له پاره روزه. کاکړ وایي چې د دواړو روایتونو له مخې د امیر حبیب الله وژونکی د شجاع الدوله غوربندي په نوم یو غلام بچه و چې تره یې د مخه د امیر حبیب الله خان په امر زندی شوی و.

د امیر حبیب الله خان د وژنې وروسته سردار نصرالله په جلال اباد او امان الله په کابل کې ځانونه امیران کړل. خو نصرالله د امان الله په پلوي زر د امارت نه تېر شو او د امان الله سره یې لوز وکړ چې چارې به د ده په سروالی سره پرمخ بیایي، خو د هغه پلویانو په خپل سر قرغې ته نږدې په امیر امان الله باندې ډزې وکړې چې هغه ورنه روغ رمټ ووت. کاکړ وایي چې د یوې باوري سرچینې له مخې امیر امان الله د خپل تره د وژنې لامل شو. په دې ترتیب امان الله خان د کورني سیال په نه درلودلو سره د پاچایۍ واګې په لاس کې ونیوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۱۹۱۹ کال د مارچ په دریمه نېټه امیر امان الله خان چېلمسفورډ ته یو لیک واستوه او څرګنده یې کړه: «زه په دې کې هېڅ شک نه لرم چې تاسو علي جناب، زما دوست، به د دې خوږمنې پېښې له کبله ډېر غمجن شوي یاست، ځکه له پخوا څخه تر دې ګړیه الیحضرت، زما مرحوم پلار، د بې طرفۍ او نېغ تماس او دوستانه اړیکو ټول شرطونه جاري ساتلي وو، چې د هغې یادونې ته ضرورت نه شته.» ده زیاته کړه چې «... د نوموړي انډیوال (مرستیال واکمن) څخه دې دا هم پټه نه وي چې زموږ د افغانستان خپلواک او مستقل حکومت په هر وخت او هر مهال کې دې ته چمتو دی چې د انګلستان له حکومت سره د ملګرتوب له هر رنګه غوښتنو سره سم، داسې تړونونه وکړي چې هم زموږ او هم ستاسې حکومتونو ته د سوداګرۍ په برخه کې ګټور ثابت شي.»۳۶۰

د برتانیې حکومت چې په کابل کې د ځواک د بدلېدو په اړه شکمن و په لومړي سر کې د ځوان امیر د خپلواکۍ ادعا ته ډېر پام ونه کړ. دغه وخت په سمله کې پوځي واکمنو د افغانستان له خوا سملاسي پوځي خطر نه لیده. د هند ویسرا چېلمسفورډ د هند له پاره د دولت وزیر اډوین مونتاګو ته په خپل لیک کې څرګنده کړه چې امیر اړ دی د مخه تر دې چې د برتانیې په وړاندې کوم کړه ترسره کړي، خپل ځان په کابل کې ټینګ کړي.۳۶۱ برتانویانو فکر کاوه چې د ځوان امیر نیت دا دی چې د کورني اپوزیسیون پام یوه بهرني دښمن ته واړوي. خو امان الله خان د بشپړې خپلواکۍ له پاره د برتانیې په وړاندې سپېڅلې جګړه پرمخ بیوه. برسېره پردې یې د برتانیې نه د بشپړې خپلواکۍ د ترلاسه کولو په څنګ کې د افغانستان د اوږدې مودې د سیاسي، ټولنیزو او اقتصادي موډرنیزه کول لیدل چې د بهرنۍ نړۍ سره د ګټورو اړیکو د جوړولو له لارې ترسره کیږي.

پاچا امان الله په لومړی ګام کې د افغانستان د خپلواکۍ د ګټلو له پاره د ۱۹۱۹ کال د فبروري د میاشتې په ۲۴ نېټه د کابل د مراد خانې په یوه میدان کې چې هلته خلک او سرتېري راټول شوي وو په یوازې ځان را څرګند شو او د هغوی په مخ کې یې د هېواد بشپړه خپلواکي او د ټولو خلکو ازادي او برابري اعلان کړه او خلکو یې تود هرکلی وکړ. امان الله د مارچ د میاشتې په دېرشمه نېټه د پلار د وژل کېدو وروسته د برتانوي هند وایسرا ته د ځان د امیر کېدو په اړه لیک واستوه. د اپرېل په دیارلسمه نېټه یې په کابل کې په یوه عام دربار کې د وطن بشپړه خپلواکي په لاندې ډول څرګنده کړه.

«ما خپل ځان او خپل هېواد پوره ازاد، په خپل اختیار او خپلواک اعلام کړ. له دې وروسته به زما هېواد هغسې خپلواک وي لکه د نړۍ نور دولتونه او قدرتونه، چې دي. هېڅ باندینی هېواد به پرې نه ښودل شي، چې یو وېښته قدر حق ولري، چې د افغانستان په د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننيو او بانديو چارو کې ګوتې ووهي او که کوم چا دغسې وکړل، زه تيار او اماده يم چې په دغې خپلې تورې سره يې مرۍ پرې کړم.» پاچا امان الله د خپلې اوږدې وينا په پای کې برتانوي ايجنټ، حافظ سيف الله ته مخ واړاوه او په نرمه يې ورته کړه، چې «اوه سفيره، ته پوه شوې چې ما څه وويل؟» هغه ځواب ورکړ، چې «هو، زه پوه شوم.»۳۶۲

د برتانوي هند وايسرا د ۱۹۱۹ کال د اپرېل په پنځلسمه نېټه د امان الله خان د ليک ځواب ورواستوه چې په هغه کې د نورو موضوعاتو په اړه خبرې شوې وې، خو د خپلواکۍ په اړه پټه خوله پاتې و. امير امان الله پوه شو چې برېتانيا لا تر اوسه حاضره نه ده چې د افغانستان خپلواکي ومني که څه هم «افغانستان په کورنيو چارو کې پوره خپلواک و، خو بانديني اړيکې يې تر دې وخته پورې د هند د برتانوي حکومت له لارې ترسره کېدلې.»۳۶۳

پاچا امان الله وروسته له دې چې پوه شو چې برتانيا د افغانستان پوره خپلواکي نه مني نو د جګړې لاره يې خوښه کړه او د انګرېزانو د حاکميت پر ضد يې هم د ننه په هېواد او هم په شمالي هندوستان کې د خلکو په پارولو پيل وکړ. په پېښور کې افغان وکيل عبدالرحمن او د پوستې آمر غلام حيدر پاچا امان الله ته په يوه راپور کې څرګنده کړه چې «هندوستان د انقلاب په درشل کې دی او د افغان يرغل يوه بڅري ته ضرورت دی، چې په هندوستان کې د برتانيې حاکميت پای ته ورسوي.»۳۶۴

د ۱۹۱۹ کال د مارچ او اپرېل په مياشتو کې يو شمېر پېښو امير په دې قانع کړ چې د ننه په افغانستان او هم په سيمه کې وضع د دې له پاره ګټوره شوې ده چې د برتانيې په حکومت زور واچول شي چې د پوځي خطر په وړاندې د افغانستان بشپړه خپلواکي په رسميت وپېژني. په هېواد کې د ملي احساساتو څپې په جګېدو وې، په سيمه کې د لومړۍ نړيوالې جګړې په پايله کې د ترکيې ماتې د برتانيې پر ضد د مسلمانانو احساسات وپارول او په هند کې د برتانيې د حاکميت نه مسلمانان او هندوان دواړه ناراضي وو.

د کاکړ په وينا پاچا امان الله د می د مياشتې په سر کې پرته له دې چې جګړه اعلان کړي، خيبر ته د سپاه سالار صالح محمد، کندهار ته د صدراعظم سردار عبدالقدوس او خوست ته د جنرال محمد نادر په قوماندانۍ پوځونه واستول. صالح محمد خان د می په دوهمه نېټه د خپلو مخکينيو قواوو سره ډکې ته ورسېد چې بله ورځ دوه زره نور پوځ ورسره يوځای شو. کندهار ته د صدراعظم سردار عبدالقدوس خان په مشرۍ پنځلس سوه پوځ او د دوه زره نه زيات پوځ خوست ته د نادر خان په مشرۍ ولېږل شو.

کاکړ زياتوي چې د ۱۹۱۹ کال د می د مياشتې په څلورمه نېټه د صالح محمد پوځ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګرېزانو برید وکړ او د افغان- انګليس دريمه جګړه پيل شوه. د سپاه سالار پوځ په لنډي کوتل کې مات شو، د کندهار په جبهه کې جګړه ونه شوه خو جنرال محمد نادر د وزيرستان په ټل او وانه کې د انګرېزي پوځ نه ځايونه ونيول او يو څه وسلې او کارتوس يې هم ترلاسه کړل. په درې واړو جبهو کې ډېرو ولسي خلکو له پوځ سره ملګرتيا وکړه. کاکړ دا هم وايي چې دا واقعيت دی چې د خپلواکۍ جذبه د ټولو قومونو په تېره بيا د پکتياوالو، او د وزيرستان په مسيدو او وزيرو کې ډېره ټينګه وه.

د افغان- انګليس دريمه جګړه د لومړيو درجه اسنادو له مخې پوهاند ډاکټر علي احمد جلالي په خپل اثر «د افغانستان پوځي تاريخ» کې اوړده او په افاقي ډول بيان کړې ده. زه به په دغې ليکنې کې د افغان- انګليس دريمه جګړه د جلالي د ليکنې پر بنسټ چې «د افغانستان پوځي تاريخ» نوميږي په لنډه توګه بيان کړم.

## د افغان- انګليس دريمه جګړه

جلالي وايي چې د پاچا امان الله خان د جګړې موخه دا وه چې د هېواد د بهرنيو اړيکو کنټرول بېرته وګټي او افغانستان په بشپړه توګه خپلواک کړي. د هغه ستراتيژۍ درې يو د بل سره اوډل شوي اړخونه درلودل: لومړی دا چې د مې د مياشتې په منځ کې به په يوه وخت کې د پېښور، کرمې او بلوچستان په کرښه د منظم پوځ بريدونه کيږي چې د غازيانو د ډلو له خوا به يې ملاتړ کيږي. دوهم دا چې د پوځ عمليات بايد د پښتنو د قبايلو د پاڅونو سره موازي پراخوالی ومومي چې دا به برتانوي قواوې بوختې او په افغانستان باندې به يې بريدونه لږ کړي. دريم دا چې افغانانو د هند په ځايي او په ځانګړې توګه د مسلمانو د ځايي قطعاتو په پاڅونونو او د دوی په اتحاد حساب کاوه. جلالي وايي چې سره له دې چې د امان الله خان موخې او سياسي ستراتيژي روښانه وې خو د هغو وسايل او لارې جلا، لږې او نامنظمې وې. په پايله کې د وزيرستان پرته قومي همکاري په زياته اندازه خورا وره وه.۳۶۵

د علي احمد جلالي په وينا دغه وخت د افغانستان د ټول منظم پوځ شمير ۳۵۰۰۰ پلي، ۸۰۰۰ غرني سرتېري او ۴۰۰۰ توپچيان وو. له دې څخه ۳۵ پلي کنډکونه، پنځه د سوارو ټولي او ۲۷ توپونه د هند سره په کرښه پراته وو.۳۶۶ د افغان پوځ زياتره برخه په موډرنو وسلو سنبال وه چې د امير حبيب الله خان په وخت کې هېواد ته راوړل شوې وې چې د ۱۹۰۵ کال د تړون له مخې يې خلاص لاس درلود چې د هند له لارې وسلې هېواد ته راوړي. افغان سرتېري د خپلې زړه ورتيا او زغم له مخې نامتو وو. خو په کابل کې د ځينو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ممتازو قطعاتو پرته د افغان پوځونو زیاتره برخه نوې جذب شوې، په کمزورې توګه روزل شوې، تنخواه يې لږه او رهبري يې کمزورې، د لوړ خوځښت نشتوالى او ټرانسپورټ يې محدود و.

په ۱۹۱۹ کال کې د برتانيې پوځ د دوو شمالي او سوويلي اردوګانو نه جوړ و. د دغو دوو اردوګانو نه هر يو اردو اته پلې فرقې، پنځه خپلواکه لواوې، درې د سوارو لواوې او يوه غرنۍ لوا درلوده. له دغو نه د شمال- لوېديځې سرحدي صوبې د خدمت له پاره د پېښور لومړۍ فرقه، د راولپنډۍ دوهمه فرقه، د لاهور شپاړسمه فرقه، لسمه توپچي لوا چې يو ټولى يې په پېښور، يو په مردان او يو په لنډي کوتل کې پروت و، د سوارو لومړۍ لوا (په رسالپور کې) د سوارو څلورمه لوا (په ميروټ کې) او درې خپلواکې پلې لواوې په کوهاټ، بنو او ډېره جاتو کې پراتې وې. برسېره پردې څلورمه فرقه او دولسمه غرنۍ لوا کوېټه ته نږدې په درستيز (قرارګاه) کې پراتې وې.۳۶۷ دوی په موډرنو وسلو، وسايلو او ټرانسپورټ باندې سنبال وو، چې د برتانوي ځواکونو ظرفيت يې زياتوه. برسېره پردې جنګي الوتکو چې برتانيې مخکښو ځواکونو ملاتړ يې کاوه د افغان قواو د بيا ګروپ کولو وړتيا يې لږوله او په افغان پوځ يې تخريبوونکى او ارواني اغېز شيندده.

د مخه مو يادونه وکړه چې پاچا امان الله خيبر ته د سپاه سالار صالح محمد، کندهار ته د صدراعظم عبدالقدوس خان او خوست ته د جنرال محمد نادرخان په مشرۍ پوځي ځواکونه واستول. په همدې وخت کې افغان نماينده ګان د پيسو، وسلو او کارتوسو سره ولېږل شول چې په سرحدي قومونو او همدارنګه په هند کې يې ووېشي چې د افغان د کمپاين دپاره د هغوی همکاري ترلاسه کړي.

امان الله خان هغه وخت چې د ډيورنډ د کرښې په اوږدو کې ترينګلتيا په ډېرېدو وه، د درې واړو جبهو مشرانو ته ټينګ حکمونه ورکړي و «چې تر هغه وړاندې تګ ونه کړي چې ده خبر ورکړى نه وي.»۳۶۸ هغه همدارنګه سرحدي واليانو ته هم وويل چې دوی دې خپلو لاس لاندې کسان خبر کړي چې تيارسى واوسي ترڅو هېڅ افغان وګړى د برتانيې په سيمو کې کوم ځسوونکى کار ترسره نه کړي. ده په پېښور کې خپلو نماينګانو ته لارښوونه وکړه چې د هغه د شخصي امر پرته کوم هندو يا مسلمان ته پاسپورټ ورنه کړي چې د هند په ننيو بلواګانو کې يې برخه اخيستې وي.۳۶۹ د دغو لارښوونو سره سره په پوله کې افغان کره وړه په ګړندی ډول د ټکر وضعې ته وده وکړه چې د جګړې پيلول و. د جلالي په وينا د مى په دوهمه جنرال صالح محمد د دوو پلي ټوليو په بدرګه د يوه سرحد د تفتيش په بهانه د سرحد دوره وکړه. هغه د باغ د اوبو د چينې شخصي پلټنه وکړه، چې د ډيورنډ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کرښه د دواړو لورو تر منځ یوه لانجمنه سیمه وه. د می په دریمه د خیبر د ټوپکوالو یوه ډله چې ماموره شوې وه یو کاروان بدرګه کړي د شینوارو د یو شخص له خوا چې زارشاه نومېده، د لنډي خان او تورخم تر منځ لانجمنه سیمه کې، ودروله. وروسته په دې ورځ کې زارشاه ادعا وکړه چې هغه د افغان لوړ پوري قوماندان امرونه ترسره کوي، پنځه بې وسلې کارګر، چې په لنډي کوتل کې د برتانویانو د پوستې دپاره د اوبو په یوه پروژه کار کاوه، ووژل. په دغه تېرې پسې ۱۵۰ افغان منظمو سرتېرو د باغ کلی او د کافر کوټ څوکه ونیول. باغ ستراتیژیک اهمیت درلود په دې چې هغه د اوبو جریان او د پمپ ستېشن یې کنترولوه چې لنډي کوتل ته یې اوبه تهیه کولې. د می په څلورمه برتانویانو غوښتنه وکړه چې قوماندان انور خان او خپل سړي دې د باغ نه وباسي. خو افغاني قطعې لنډي کوتل ته د اوبو جریان پرې کړ.

وایسرا چېلمسفورډ په باغ باندې د افغان د تېري په غبرګون کې افغان امیر ته پیغام ولېږه او ورنه یې غوښتې و چې زارشاه بندي کړي. خو کله چې د می په ۵مه د افغان منظم پوځ د تقوې قواوې باغ او د کافر کوټ څوکې ته راورسېدې برتانوي قوماندانی لنډي کوتل ته د تقوېې ځواکونه واستول.

د برتانېې د جګړې پلان دا و چې په خیبر کې به یرغل کوي او په نورو دوو جبهو کې به دفاع کوي. دوی نیت درلود چې د جلال اباد په لوري اساسي عملیات وکړي چې اپریدي، شینواري او مومند سره بیل کړي او د افغان دغې جبهې د ټولو قواوو تجمع د منځه یوسي او د افغانستان پوځونه اړ کړي چې د سرحدي سیمو نه ووزي.

د می په شپږمه د برتانېې واکمنو مالومات ترلاسه کړل چې افغانان غواړي په درو جبهو: د خیبر جبهه د جنرال صالح محمد خان په قوماندانی، د خوست جبهه د جنرال محمد نادر خان په قوماندانی او د کندهار جبهه د صدراعظم عبدالقدوس خان په مشری په برتانوي پوځونو برید پیل کړي. په همدغه ورځ د برتانوي هند حکومت په فورمالیټې ډول د جګړې اعلان وکړ چې وروسته امان الله خان دوی د جګړې په پیل ګرم ګڼل.

جلالي وایي چې دا مالومه نه ده هغه مهال چې افغان منظم پوځ باغ ونیو، نیت یې درلود چې جګړه پیل کړي. که داسې وي نو دا یو بې وخته او خام حرکت و په دې چې تر اوسه هغه سیاسي او پوځي تیاری چې امیر یې هیله درلوده پوره پلي شوې نه وې یا همغږې شوې نه وې. که چېرې د باغ نیول د دښمن د پوځ د کشف اویا یو حرکت و چې د هغه پاځون سره همغږی و چې د می په اتمه نېټه به په پېښور کې شوی و. بیا نو افغانانو یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



طلايي موقع د لاسه ورکړه چې سمدلاسه يې په لنډي کوتل برید ونه کړ. په دغه بحراني مرحله کې د لنډي کوتل ګارنیزیون کمزوری و. د افغان پوځ له خوا د لنډي کوتل نیولو به د اپریدو او شینوارو قومونه د افغان پوځ لوري ته اړولي وای او پېښور به یې د ګواښ لاندې نیولی وای. خو افغان منظم کنډکونه په غیر فعاله توګه په باغ کې ناست وو او برتانویانو ته یې اجازه ورکړه چې خپل یرغلیز ځواک جوړ کړي چې نه یوازې یې افغان ځواکونه د باغ نه وایستل بلکې په افغان خاوره یې یرغل وکړ او د ډاکې سرحدي ښارګوټی یې ونیو او چمتو وجلال اباد ته وړاندې تګ وکړي.

امان الله خان چې په سرحد کې د پېښو څخه خوښ نه و وایسرا ته یو لیک ولېږه او په هغه کې یې برتانوي پوځونه په دې ګرم وګڼل چې د افغان په خاوره یې تېری کړی او برتانوي الوتکې افغان فضا ته ننوتلې دي. په لیک کې یې زیاته کړې وه چې موږ هلته ځواکونه د دې دپاره استولي دي چې د هند ناکرارۍ دې خوا ته رانه شي.

## د خیبر جبهې عملیات

د می په ۶مه افغان ځواکونه چې د باغ د ننه او د هغه چاپېر پراته وو، درې پلې کنډکونه او دوه توپونه وو. د دې ورځې په ماښام افغان قوماندانۍ د ډاکې نه ۳۵۰ پلي او دوه توپونه واستول چې په لنډي کوتل کې د برتانیې د ګارنیزون شمالي اړخ تر ګواښ لاندې ونیسي. دوی تور څپر او سپینه تیړه ونیوله چې د لنډي کوتل په شمال کې نږدې په پنځه میلی کې پراته وو. همدغه وخت د افغان سیمو نه د مومندو اوشینوارو جنګیالي راټولېدل چې د افغان پوځ سره یوځای شي. په همدغه وخت کې افغان ځواکونو چې د قومي جنګیالیو په ذریعه تقویه شوې وې د اشخېل څوکه ونیوه چې د لنډي کوتل د شمال په یوه میلي کې پراته وه.

لکه چې مو د مخه یادونه وکړه چې برتانیې د می په ۶مه په فورمالیټي توګه د افغانستان پر ضد جګړه اعلان کړه او هم مو دا یادونه وکړه چې افغانانو انګرېزانو ته وخت ورکړ چې په لنډي کوتل کې خپل یرغلیز ځواک جوړ کړي. کله چې د برتانیې ځواکونه راورسېدل، د دوی لومړۍ لوا افغانان د اشخېل د څوکې نه وشړل. جنرال کراکر پرېکړه وکړه چې په هغو افغان ځواکونو برید وکړي چې د باغ په چاپېر کې پراته وو.

دغه وخت شاهي جنګي الوتکو په ډاکه بمونه وغورځول او جنرال صالح محمد په پښه ټپي شو او جلال اباد ته یې یووړ. هغه خپل مرستیال ته وویل چې د جلال اباد نه به تقویتي قووتونه راولېږي. دغه ځواکونه درې ورځې وروسته ډاکې ته راورسېدل. په باغ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغان سرتیري په مېړانه جنګېدل چې د شاهي جنګي الوتکو د بمبارۍ لاندې وو او برتانویانو د نوي برید چمتو والی نیوه.

په باغ باندې دبرتانوي ځواکونو د لومړي برید ناکامۍ د لنډي کوتل وضع ناپایداره کړه. جنرال فولر د لومړۍ فرقې قوماندان د می په ۹مه ماښام لنډي کوتل ته ورسېد او پاتې ځواکونه یې د می په ۱۱مه سهار راورسېدل. فولر د جګړې مشري په خپل لاس کې واخېسته او هغه فکر کاوه چې د عملیاتو هر ډول ځنډ به قوم زړه ور کړي چې پاڅون وکړي. له دې امله هغه د می په ۱۱مه د هغو ځواکونو په مټ چې په اختیار کې یې درلودل سملاسي یرغل پیل کړ. د فولر ځواکونه د لسو پلیو کنډکونو، نږدې درې توپچي بطریو (۱۸ توپونه) ، دوو د ماشیندارو ټولیو او ۲۲ ویکر ماشینګړو نه جوړ وو. د سختې جګړې نه وروسته چې د جنګي الوتکو بمباري روانه وه، افغان ځواکونه په شا شول.

جنرال فولر ته د می په ۱۲مه امر وشو چې د تورخم او ډکې تر منځ د سړک کنټرول په خپل لاس کې واخلي او ډاکه ونیسي. د برتانیې مخکینۍ قواوې د سهار په ۶ بجو په تورخم کې د کرښې نه تېرې شوې او د اوو ځاګانو د پوستې پورې د مقاومت سره مخامخ نه شوې او ډاکه یې ونیوله.

علي احمد جلالي وایي چې ډاکه ته د برتانوي پوځ پرمختګ د برتانیې دپاره یو اوپراسیوني برۍ و خو هغه د دوی له پاره ډېر امنیتي پرابلمونه رامنځ ته کړل. ډاکه د لوېدیځو او سوویلي غونډیو نه د ګواښ لاندې وه. د شمال نه د کابل رود له لوري چېرې چې د مومندو او شینوارو قومي خلکو د چکنور د لوی ملا او د میر سید پاچا، میرزمان خان کنړي، سردار محمد خان په ګډون قومي مشرانو په مشرۍ وسله پورته کړې وه.

په کابل کې امیر امان الله خان یوه احساساتي وینا وکړه او د برتانیې د تیري په وړاندې یې د افغانستان خلک غزا ته وبلل. په دې توګه د افغانستان حکومت د برتانیې پر ضد د می په ۱۵مه د جګړې اعلان وکړ. جلال اباد ته د جنرال محمد عمر (سور جنرال) په قومانده تقوي قواوې ولېږل شوې. د جنرال محمد عمر سره د غلام نبي چرخي په ګډون باتجربه کسان ملګري وو. د جلال اباد نه د جنرال عمر تر قوماندې لاندې بساول ته ۸ کنډکونه او لس توپونه واستول شول چې شمېر یې ۳۰۰۰ جنګیالیو ته رسېده. د دغو قواوو لومړۍ قطار د ګردي غوث په لور وړاندې ته. دغو ځواکونو دنده دا وه چې د ډاکې نه دښمن وباسي. دوی داسې ستر نیولې و چې د برتانیې کشف ونه کړای شول د دوی څرک ومومي او ان برتانوي الوتکو دوی ونه موندل. د می په ۱۶مه نېټه د برتانیې د کشف تقویه شوې قطعه د جنرال محمد عمر خان د اساسي ځواکونو سره مخامخ شوه او زیان یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزغملو. افغان ځواکونو د ډاکې چاپېر غونډۍ ونیولې او د برتانیې په کمپ یې ګولۍ ووارولې. د می په ۱۷مه درې انګرېزي قطعو په افغان ځواکونو برید وکړ چې دوی د غونډیو نه وشړي خو برید ناکامه شو او برتانوي ځواکونو ته د سر زیات زیان واوښت. د می په ۱۸مه نېټه انګرېزي ځواکونو چې د لنډي کوتل نه په یوې لوا سره تقویه شوي وو، بیا په افغانانو برید وکړ او دوی یې د ډاکې د چاپېرو غونډیو نه په شا ووهل. افغانانو بیا هغه موقع د لاسه ورکړه چې د می په ۱۶مه د مخه تر دې چې د لنډي کوتل نه د تقویې قواوې راورسیږي په برتانویانو بریالی برید کړی وای.

په دغه وخت کې د پېښور په چاپېر کې وضع خرابه شوه. برتانویانو د خیبر د لارې د ساتلو له پاره زیات ځواکونه ځای په ځای کړل. په ډاکه کې دانګرېزانو د وړاندې تګ له پاره چمتووالی لا بشپړ شوی نه و، چې په منځنۍ جبهه کې د کرمې او خوست په محور افغانانو پرمختګ وکړ او په وزیریستان کې د خلکو پاڅون د برتانیې پام هغې خوا ته واړاوه تر څو د کرمې د وادۍ او د وزیرستان له لوري د ګواښ مخه ونیسي.

## د چترال جبهه

په چترال باندې د برید تیارۍ د می په لومړیو کې وروسته له دې پیل شو چې افغان پوځ په خیبر کې د لیکې نه تېر شو او باغ یې ونیو. افغان ځواکونه په بریکوټ او اسمار کې پراته وو. په هغو کې درې پلي کنډکونه، ۴ توپونه او اته غرني توپونه وو. درې پلي کنډکونه او څلور توپونه د کوز کنړ په سرکانو او چغه سرای کې ځای پر ځای وو او هیله وه چې زیات قوتونه به د کابل نه کنړ ته لاړ شي.

په چترال کې د برتانیې یو پلی کنډک، د چترال زر کسیز غښتلی سکاوټ، د چترال د مهتر دوه زریزه قطعه، د توپچي یوه برخه او یو توپ درلود. کرنل پالمر ګومان کاوه چې افغانان برید کوي نو د ۱۹۱۹ کال د می په ۹مه یې یو شمېر امنیتي کسان د سرحد د پوښښ دپاره وګومارل. کله چې د می په ۱۱مه نېټه په خیبر کې افغان ځواکونه د باغ نه وایستل شول په چترال کې افغان پوځ او قومي لښکر د میر زمان خان کنړي په مشرۍ حرکت وکړ او د کنړ د رود په غاړه ارناوی یې ونیو او په چټکۍ سره چترال ته ننوتل او د اتو نه تر لسو میلو د ننه یې په چترال کې پوستې ونیولې.

افغان قوماندانۍ هیله درلوده چې د افغان منظم پوځ حرکت به د چترال قومونه او مهتر وهڅوي چې د برتانیې ضد جګړه کې د افغانانو سره یوځای شي. د قومونو سره د کمپاین د کمزورې همغږۍ او په لومړي برید کې د افغان لږ ځواک کارولو څو ځایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومونو خپل ملاتړ ته چمتو کړل. برسېره پر دې خرابه هوا، غرنۍ ستونزې او په منظم پوځ د جبهې نه تقویه کېدل هم خپل اغېز درلود. خو په دغه وخت کې انګرېزي واکمنو وکړای شول چې د نورستان د قومونو همکاري ترلاسه کړي چې د افغانستان لوري کې پراته وو او د افغانستان د ځواکونو سره جګړه وکړي. د مې په ۱۴مه کله چې په خیبر کې افغان قواوې ماتې وکړه او انګرېزي ځواکونو ډاکه ونیوله په چترال کې هم انګرېزانو افغان قواوې بېرته ارناوی ته په شا ووهلې. د مې په ۲۳مه انګرېزانو افغان قواوې د ارناوی نه وایستلې او بېرته اسمار ته راستنې شوې. افغانانو په چترال کې د کرمې غوندې ونه شو کړای چې ځایي قومونه جګړې ته چمتو کړي او ملېشاوو هم خپله وفاداري انګرېزانو ته وښوله او د انګرېزي ګارنیزیون سره یې مرسته وکړه. سره له دې چې په میاشتو افغان قومي جنګیالیو بریدونو دوام درلود افغان پوځ ونه شو کړای چې د برتانیې له خوا د چترال کنټرول شویو سیمو ته ننوزي.

## د پکتیا جبهه

د ۱۹۱۹ کال د اپرېل په وروستۍ اوونۍ کې کله چې امان الله خان د خپلواکۍ د اعلان په ملاتړ خپل پوځونه په سرحدونو کې ځای په ځای کړل په لویه پکتیا کې د جبهې د قوماندانۍ باور په جنرال نادر خان وشو. د نادر خان قواوې د برتانیې د راپور له مخې د شپاړسو پلیو کنډکونو، دوو مخکښو کنډکونو، څلورو سوارو ټولیو او شپېتو توپونو نه جوړې وې. خو د دغو قواوو نه یوې برخې په جګړه کې برخه واخېسته.

نادر خان د اپرېل په ۲۶مه ګردېز ته ورسېد او د لویې پکتیا د خلکو په راټولولو او غونډېو اوونۍ تېرې کړې چې په هغو کې ځاځي، منګل، ځدراڼ، احمدزي، توتاخېل، وزیر او مسعود شامل وو. نادر خان دوی په خپلو لښکرو کې راټول کړل چې په درو برخو: کرمه، شمالي وزیرستان او سوویلي وزیریستان کې وجنګېږي. ده همدارنګه د ډیورنډ د کرښې هغې خوا وزیرو، مسعودو او نورو پښتنو قومونو ته نماینده ګان واستول او د دوی نه یې وغوښتل چې د افغان پوځ سره د انګرېزانو ضد جګړه کې یوځای شي. د هرې کورنۍ نه د جګړې وړ یو تن په غزا کې ونډه واخلي. دغو قومونو د کابل نه مادي ملاتړ نه ترلاسه کاوه. د وزیرو، کندړو، ژوب او ګوملې قومي مشران به د قومي عملیاتو مشري په خپله کوي. نادر خان په دریو برخو کې د عملیاتو پلان وړاندې کړ: د کرمې دره، شمالي وزیریستان او جنوبي وزیریستان. نادرخان خپل ورور سردار شاه محمود خان د کرمې د جبهې مشر وټاکه چې د ځاځیو، پېواړ کوتل د غانښي او د کرمې پاسنۍ درې له لارې په برتانوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواکونو برید وکړي. نادر خان خپل بل ورور سردار شاه ولي خان د قومي لښکر او منظم پوځ سره ارګون او ګوملې درې ته ولېږه چې په سوویلي وزیریستان کې عملیات وکړي او وانه ونیسي. نادر خان په خپله د خوست نه د کیتو د رود په غاړه د شمالي وزیریستان د سپین وام نه تر ټل پورې عملیات په غاړه واخېستل. د افغان د لویې پکتیا د جبهې عملیاتو په برتانيې فشار واچاوه چې جلال اباد ته د وړاندې تګ عملیات وځنډوي.

د می په ۲۲مه جنرال نادر خان د خوست د مرکز متون نه ووت او د کیتو د رود سووېل ختیځ په لوري وړاندې تګ وکړ. کله چې نادر خان سپین وام ته نږدې شو، انګرېزي ګارنیزون د توچي درې ته ووتلو او د میران شاه په لوېدیځ کې د ملېشاوو پوستې چې د توچي د وادۍ په اوږدو کې پراتې وي ښارګوټي ته لاړې. کله چې ملیشاوې د خپلو پوستو نه وتلې د وزیریستان د ملیشاوو نه زیات کسان وتښتېدل چې ورپسې د قومونو عمومي پاڅون وشو چې د افغان جګړې د پای ته رسېدو وروسته یې ډېرې میاشتې دوام وکړ. جنرال نادر خان چې د پنځو منظمو کنډکونو او زیات شمېر افغان قومي جنګیالیو او د وزیرو جنګیالیو د زیاتېدونکي شمېر مشري یې کوله د می په پنځمه سپین وام ونیو. د هغه ځای نه بنو او ټل په یوه اندازه واټن کې پراته وو. د سپین وام د نیولو وروسته نادر خان د ټل په لور وړاندې تګ وکړ او د می په ۲۷مه سهار په ۹بجو ټل ته راورسېد. نادر خان خپل درستیز په یوسف خېلو کې ځای په ځای کړ او د ټل په تانه یې د توپچي ګذارونه پیل کړل چې ډېر اغېزمن وو. افغانانو د ټل چاپېر غونډۍ ونیوې او ټل یې کلابند کړ. افغان پوځ د می په ۲۸مه په ټل برید وکړ او ناکام شو. د می په ۲۹مه د شپې افغان ځواکونو د دښمن په پوستې باندې چې د ټل د چاونۍ په سوویلي غونډۍ باندې پراته وه برید وکړ چې پر شا ووهل شو. د می په ۳۰مه افغان توپونو ټوله ورځ د ټل چاونۍ د اغېزمن اور لاندې ونیوله. د برتانیا ګارنیزون ۹۰ تنه سرتېرو او سل ژوبو زیان ولید او د دوی زېرمې لړې شوې. په داسې حال کې چې د قومي جنګیالیو ملاتړ په زیاتېدو وو. خو دغه وخت افغان پوځ غوڅ ګام نه واخېست او برتانویان بریالي شول چې د ټل ګارنیزون د ملاتړ دپاره نوي ځواکونه راورسوي او د افغانانو په مورچلو متقابل بریدونه پیل کړي.

دغه وخت د جنرال نادر خان لیک جنرال ډایر ته راورسېد. په لیک کې ویل شوي چې هغه ته امیر امر کړی چې دښمني پای ته ورسوي. نادر خان د امیر د لارښوونې سره سم د شونې چټکتیا له مخې افغان قواوې د نیول شویو ځایو څخه وایستلې او برتانویانو هغه ځایونه بېرته ونیول. د شاه محمود خان قواو په بره کرمه د پاړه چنار په چاپېر کې د برتانيې لوا ټینګه بوخته وساتله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سووېل کې وزيرو او مسعود د شاه ولي خان په مشرۍ د افغان پوځ په ملاتړ عمومي پاڅون وکړ. د دې کار له پاره افغان چارواکو دوه تنه ديني عالمانو ته چې يو يې د شېلګر ملا عبدالرزاق اندړ او بل يې د ننګرهار د شګې شاه دوله خان ساپی و، سپارښتنه وشوه چې د ډېورنډ د کرښې اخوا وزيرو او مسيدو ته لاړ شي او د انګرېزانو په وړاندې يې غزا ته راوبولي. د وزيرستان ټولو ميشتو قومونو د امير امان الله خان دغو استازو ته ډېر ښه هرکلی او درناوی کاوه. ملا عبدالرزاق د تبليغ له لارې خلک غزا ته رابلل او شاه دوله خان د وزيرو او مسيدو قومي لښکر د سمبالښت چارې پرمخ بيولې. د جوزا په پنځمه د شاه دوله په مشرۍ د مسيدو او وزيرو څو زره وسله وال او نا وسله وال لښکر په وانه کې په انګرېزانو بريد وکړ او ژر يې د وانه تانه ونيوله او زيات انګرېزي پوځيان يې ووژل. د وزيرو او مسيدو جنګياليو وکړای شول چې يو زيات شمېر پوستې د انګرېزانو نه ونيسي او د اسماعيل خان ديرې او غازي خان ديرې په لوري وړاندې لاړ شي.

## د کندهار جبهه

د کندهار په جبهه کې هممغه موخه وه چې هلته هم د ډيورنډ د کرښې دواړو خواوو پښتانه قومونه د افغان د پوځ سره چې د برتانيې په وړاندې د خپلواکۍ له پاره جګړه کوي يوځای شي. په دوی کې د وازې خولې او «دوه چينو» غلځيان منظم شول چې په ژوب، چې د وزيريستان او بلوچستان په منځ کې پروت دی او د صوبه سرحد او کوېټې تر منځ د ارتباطاطو ستراتيژيکه کرښه جوړوي، بريد وکړي او د هغه ځای خلکو د افغانستان د خپلواکۍ په اړه ښه نيت درلود. برتانويانو ته بل ګواښ د سووېل نه و چې د افغانستان د منظم پوځ او قومي لښکر له خوا د چمن له لارې کېدونکی و او کوېټې او بولان ته متوجه و.

د ۱۹۱۹ کال په می کې په کندهار کې د افغان منظم پوځ پنځه پلي کنډکونه، يو د سوارو ټولی او ۲۵ توپونه پراته وو.په کلات کې دوه پلي کنډکونه او ۶ توپونه او په مقر کې دوه ماشيندار پراته وو. برسېره پر دې امير د ۱۹۱۹ کال د اپرېل په پای کې صدراعظم عبدالقدوس خان ته امر وکړ چې ۱۵۰۰ غښتلی پوځ د کابل نه کندهار ته د ځان سره بوزي. خو صدراعظم عبدالقدوس خان د می په ۳۱مه کندهار ته ورسېد چې هغه وخت د برتانيې ځواکونو خپل يرغل پيل کړی و.

په نورو جبهو کې جګړې رواني وې. جنرال واپشير هيله درلوده چې چټک ګامونه پورته کړي چې پښتانه قومونه په ځانګړې توګه کاکړ، ماندوخېل، د ژوب شېراني او همدارنګه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



چمن او سپین بولدک اخکزي بې زړه کړي. افغانانو هڅه وکړه چې په بلوچستان کې پښتانه قومونه او همدارنګه د کوېټې په منځ کې بغتي بلوڅ او د کلاتپه سووېل کې براهویان د انګرېزانو پر ضد جګ کړي.

جنرال واپشیر لومړی په ژوب کې خپلې قواوې پیاوړې کړې او بیا یې په کویټه کې خپل ځواکونه متمرکز کړل چې د سپین بولدک ټینګه کلا ونیسي. په سپین بولدک کې یو افغان کنډک چې شمېر یې پنځه سوو ته رسېده پروت و. د کنډک قوماندان ډګروال یوسف خان او مرستیال یې جګړن داودشاه خان و. برتانوي قوماندانی غوښتل چې کلا په خپل ځواک سره ونیسي او د ژوب په قومونو کې د افغانانو مورال ټیټ او همدارنګه د افغانانو د عمومي پاڅون مخه ونیسي. هغه پرېکړه وکړه چې د سپین بولدک کلا په حیرانوونکي برید سره ونیسي. د دې موخې دپاره هغه دوه سواره ټولۍ، دوې پلې لواوې چې ټول یې اوه کنډکونه درلودل، څلور توپچي بطرېې، دوه د ماشیندار ټولۍ، درې د استحکام او ماین ټولۍ او د ملاتړ نور توکي متمرکز کړل. د افغان او انګلیس د ځواکونو شمېر یو پر لسو د افغانانو په زیان و.

د ۱۹۱۹ کال د می په ۲۷مه د سهار په څلور نیمې بجې انګرېزانو د سپین بولدک په کلا د هرې خوا سخت برید وکړ. افغان ساتونکي په ډېره مېړانه جنګېدل. دوی داسې مقاومت وکړ چې خلک حیرانوي. دوی څو ځله د غښتلي دښمن سخت بریدونه په شا وتمبول. خو د ځواکونو انډول ډېر زیات توپیر درلود. دوی ان شته لاسي بمونه وکارول تر څو ټول ووژل شول. په یوه نیمه بجه کلا په بشپړه توګه د انګرېزانو په لاس کې ولوېده او ۱۶۹ افغانان د قوماندان یوسف خان او د هغه مرستیال داودشاه خان په ګډون چې زیاتره یې ژوبل وو بندیان او چمن ته ولېږدول شول. د افغان سرچینو له مخې د ټپیانو پرته چې انګرېزانو ونیول د کنډک ټول پاتې کسان د اخېري سلګۍ پورې وجنګېدل. د برتانیې یو د شمېرنې مسؤل وایي: «دا ناشونې ده چې د دوی د مېړانې ستاینه ونه شي دوی تر پایه جنګېدل پرته له دې چې د تسلیمۍ په اړه فکر وکړي.»۳۷۰ د سپین بولدک دغه جګړه چې د افغان یوه پلي کنډک په موډرنو وسلو سنبال یوې برتانوي فرقې په وړاندې پر مخ بیوه د افغانستان په تاریخ کې د لوړې اتلوالۍ او وطنپالنې سیمبول دی. په سپین بولدک کې د افغان جنګیالیو اتلانو مړستون زیارت ته د هېواد د ګوټ ګوټ نه خلک راځي، د دوی د اتلوالۍ یاد تازه کوي او ورباندې ویاړي. د سپین بولدک جګړې ته په کندهار کې د یوې تراژیدۍ په څېر وکتل شول. دغې پېښې زیات شمېر په خپله خوښه کسان وپارول چې د غزا د لیکو سره یوځای شي. د عیني شاهدانو د ویناوو له مخې کله چې کندهار ته دا خبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسېد د ښار د اوسېدونکو احساسات په جوش راغلل او چمتو وو چې جګړه وکړي. د کابل نه د تقویې پوځونه د صدراعظم عبدالقدوس خان په قوماندانی د می په ۳۱مه کندهار ته راورسېدې. دوی سیمبولیکې نارې وکړې چې د سپین بولدک د شهیدانو غچ به اخلي. صدراعظم عبدالقدوس خان یو پوځ چې یو د سوارو ټولی، پنځه پلي کنډکونه او نږدې نهه زره قومي سرښندونکو نه جوړ و د کرښې په لور روان کړ، چې دوې ورځې وروسته د چمن د شمال ۳۲ میلي کې مل کاریز ته ورسېد. دا د ډزبندی ورځ وه چې افغان امیر او د هند وایسرا تر منځ هوکړه پرې وشوه. خو دې اوربند تنظیم په افغانانو اغېز ونه کړ او هغوي جنګي کاروایې روانه وساتله. عبدالقدوس خان مرغه چمن ونیو چې د سپین بولدک د شمال- ختیځ په پنځه میلي کې پروت و، او د ګارنیزون د اوبو رسول یې پرې کړ. دا ځای د افغان ۳۰۰۰ منظم پوځ او قومي جنګیالیو نیولی و چې د برتانیې د سوارو یوه قطعه چې د جون په ۱۲مه رالېږلې وه اړه کړه چې ووځي. په دغه وخت کې افغان قطعه د سپین بولدک د شمال ختیځ په ۶میلي کې په تخت ځای پرځای شوه. د نورو جبهو په څېر د کندهار په جبهه کې ستونزمنه سوله روانه وه چې د ۱۹۱۹ کال د اګست په اتمه د سولې تړون وشو.

## د سولې تړون

امان الله خان د ۱۹۱۹ کال د می په ۲۸مه وایسرا ته یو لیک واستوه چې د می په ۳۱مه وروړسېد او په هغه کې یې اوربند غوښتنه کړې وه چې په پایله کې یې جګړه په رسمي ډول د ۱۹۱۹ کال د جون په ۳مه ودرول شوه. د برتانوي کنټرول په سیمه کې د پښتنو قومونو په مخ زیاتېدونکي پاځونونه، او د هند په شمال کې په بې ثباتی کې د هغه اغېز برتانوي واکمن باوري کړل چې د اوږدې دښمني دوام به د افغان د مسلې له پاره د زیاتو قومونو ملاتړ ډېر کړي. په داسې حال کې چې د افغان خاوره کې د برتانویانو وړاندې تګ او د برتانیې وړتیا چې د ننه په افغانستان کې ژور هدفونه بمباري کړي امان الله چمتو کړ چې د جګړې د زر پای ته رسولو په لټه کې شي. امیر د می په ۲۸مه په خپل لیک کې وایسرا ته خبر ورکړ چې هغه خپلو ځواکونو ته امر کړی چې د سولې د خبرو د پیل له پاره اوربند وکړي.

وایسرا د موقع نه ګټه پورته کړه چې جګړه پای ته ورسوي او د جون په ۲مه یې امان الله خان ته ولیکل چې د یوه اوربند وړاندیز ته هرکلی وایي خو هغه د امان الله دا ادعا ونه منله چې جګړه برتانیې پیل کړې ده. وایسرا هوکړه وکړه چې بمباري به ودروي که افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library



لورې خپلې قواووې د برتانيې د موقعيت نه شل ميله شا ته کړي، په ټولو جبهو کې اوربند پلی کړي، او د کرښې د دواړو خواوو قومونه د جګړې درولو ته وبولي. امان الله خان د خپلې غوښتنې په اړه ټينګ و چې برتانيا بايد د افغانستان بشپړه خپلواکي په رسميت وپېژني او د دې موضوع په اړه جوړجاړي ته چمتو نه و. امان الله خان چېلمسفورډ ته وليکل چې د سولې د خبرو دپاره يې يو پلاوی نوملی چې چمتو دی د جون په ۲۷مه سفر وکړي. که څه هم افغان قوماندانان په چترال، پکتيا او د کندهار په جبهو کې د برتانيې د غوښتنې سره سره قواوې ونه ايستلې چې د ډزبند يو شرط و او د برتانيې پر ضد يې د قومونو لمسون ونه دراوه.

په لندن کې اوربند ته د امان الله خان بلنه د هغه د کمزورۍ د يوې نښې په څېر وبلل شوه او په انګلستان کې حالت داسې واوښت چې د افغانستان سره دې په جګړه کې د مات شوي اړخ په څېر چلند وشي او د امير سره دې د برتانيې د شرايطو له مخې سوله وشي. خو وايسرا چې ژور واقعيتونه يې په عيني توګه ليدل هغه باور درلود چې امان الله به هېڅکله د بشپړې خپلواکۍ له پاره د خپلې غوښتنې نه تېر نه شي او بديل به يې بيا د جنګ د سره نيول وې چې په هند کې د برتانيې د واک دپاره به ليرې پراخې پايلې ولري. امان الله خپل د کورنيو چارو وزير علي احمد په راولپنډي کې د سولې په کنفرانس کې د ګډون له پاره د پلاوي د مشر په توګه ونوموه چې د ۱۹۱۹ کال د جون په ۲۶مه پرانېستل شو. په کنفرانس کې د انګرېزانو نماينده ګي د هند پخواني د بهرنيو چارو وزير سر هاملټون ګرانټ کوله. د ۱۹۱۹ کال د اګست په ۸مه پنځه ماده ييز د سولې تړون د خپلواک افغانستان د حکومت او برتانوي هند د حکومت تر منځ لاس ليک شو.

## د تړون انګليسي متن:

«Treaty of Peace between Governments of India and Afghanistan, 8 augustus 1919

The following Articles for the restoration of peace have been agreed upon by the British Government and the Afghan Government:

ARTICLE 1.

From the date of signing of this Treaty there shall be peace between the British Government, on the one part, and the Government of Afghanistan on the other.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ARTICLE 2.

In view of the cercumtances which have brought about the present war between the British Government and the Government of Afghanistan, the British Government, to mark their displeasure, withdraw the privilege enjoyed by former Amirs of importing arms, ammunition or warlike munitions through India to Afghanistan.

ARTICLE 3.

The arrears of the late Amir`s subsidy are furthermore confiscated, and no subsidy is granted to the present Amir.

ARTICLE 4.

At the same time, the British Government are desirous of the re-establishment of the old friendship that has so long existed between Afghanistan and Great Britain, provided they have guarantees that the Afghan Government are, on their part, sincerely anxious to regain the friendship of the British Government. The British Government are prepared, therefore, provided the Afghan Government prove this by their acts and conduct, to receive another Afghan mission after six months for the discussion and settlement of mattres of common interest to the two Governments and the re-establishment of the old friendship on a satisfactory basis.

ARTICLE 5.

The Afghan Government accept the Indo- Afghan frontier accepted by the late Amir. They further agree to the early demarcation by a British Commission of the undemarcated portion of the line west of the Khyber, where the recent Afghan aggression took place, and to accept such boundary as the British Commission may lay down. The British troops on this side will remain in their present positions until such demarcation has been effected.

| | |
|---|---|
| ALI AHMAD KHAN, | A. H. GRANT |
| Commissary for Home | Foreign Secretary to the |
| Affairs and Chief of the | Government of the Government |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| Peace Delegation of the Afghan Government | Of India and the Peace Delegation of the British Government»۳۷۱ |

## د تړون متن ژباړه:

د هند او افغانستان د حکومتونو تر منځ د سولې تړون ۸ اګست ۱۹۱۹

د سولې د اعادې له پاره د برتانيې او افغان حکومتونه په لاندو مادو باندې موافقې ته رسېدلي دي.

لومړۍ ماده.

د دغه تړون د لاسليک د نېټې راهيسې به د افغانستان او برتانيې تر منځ سوله وي.

دوهمه ماده.

هغې وضعې ته په کتو سره چې د افغانستان او برتانيې د حکومتونو تر منځ يې اوسنۍ جګړه منځ ته راوړه، د برتانيې حکومت يې په اړه خپل ناراضيتوب څرګندوي او د هغو امتيازاتو نه ځان ازاد ګڼي چې پخواني اميران ورڅخه برخمن وو چې د هند د لارې وسلې، تدارکات او پوځي مهمات افغانستان ته وارد کړي.

دريمه ماده.

د وروستيو اميرانو پاتې سبسيډي ظبطوي او اوسني امير ته سبسيډي نه ورکوي.

څلورمه ماده.

په عين وخت کې د برتانيې حکومت د زړې دوستۍ د اعادې هيله من دی چې د اوږدې مودې راهيسې د افغانستان او برتانيې تر منځ موجوده وه، دوی دې تضمين ته چمتو دي خو چې د افغانستان حکومت د خپلې خوا د زړه له کومې هيله من وي چې د برتانيې حکومت دوستي بيا وګټي. د برتانيې حکومت تيار دی چې شپږ مياشتې وروسته د دواړو حکومتونو تر منځ د ګډو ګټو پر مسلو باندې خبرو اترو او هوارۍ له پاره يو افغان پلاوی ومني او زړه دوستي په قانع کوونکي بنسټ بيا جوړه شي، خو چې افغان حکومت دا کار په نظر او کړو کې ثابت کړي.

پنځمه ماده.

افغان حکومت هغه د هند- افغان سرحد مني چې وروستي امير منلی و. دوی همدارنګه د برتانيې د کميسيون له خوا مخکينۍ په نښه شوې کرښه مني او د کرښې هغه برخه چې د خيبر په لوېديځ کې په نښه شوې نه ده، چېرې چې د افغانستان اوسنۍ تېرى وشو او داسې پوله مني چې د برتانيې کميسيون به يې تېره کړي. په هغه ځای کې چې افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library



یرغل شوی و برتانوي ځواکونه به د سرحد د ټاکلو تر مهاله په خپله خوا کې پاتې کیږي.

یو جلا لیک د برتانیې د پلاوي د مشر له خوا افغان لوري ته ورکړل شو او منلې وه چې «نوموړی تړون او دغه لیک افغانستان په رسمي توګه په خپلو کورنیو او بهرنیو چارو کې ازاد او خپلواک بولي. برسېره پر دې دغې جګړې د جګړې د مخه ټول تړونونه لغوه کړل.»۳۷۲

په دې توګه په دغه تړون کې د افغانستان او برتانیې د حکومتونو تر منځ سوله ټینګه شوه، د برتانیې حکومت د هند د لارې افغانستان ته د وسلې او مهماتو راوړل ودرول، د وروستیو امیرانو پاتې سبسیډي یې ظبط کړه، اوسني امیر ته سبسیډي بنده کړه، د افغان حکومت هغه د هند- افغان کرښه ومنله چې پخواني امیر منلې وه او افغان لوري دا هم ومنله چې«د کرښې هغه برخه چې د خیبر په لوېدیځ کې په نښه شوې نه ده او داسې پوله مني چې د برتانیې کمیسیون یې ټپره کړي.»۳۷۳

سره له دې چې په رسمي توګه د ۱۹۱۹ کال د جون په دریمه دښمنۍ پای ته ورسېدې، ورسته دواړه خواوې په یوه اوربند او د سولې د خبرو پیل باندې هوکړې ته سره ورسېدل، په قومي ساحو کې ناارامي ته افغان حکومت بابوزی واهه او نوره پراخېدله. د ۱۹۱۹ کال د اوړي په جریان کې د کابل رود او د چمن د کلي تر منځ عمومي قومي پاڅون وشو چې د افغان د پوځ په پرتله یې دښمن د جدي ګواښ سره مخامخ کړ. د ۱۹۱۹ کال د اګست د اتمې نېټې د تړون د لاسلیک نه وروسته خپلواک قومونه، چې د افغان مامورینو له خوا لمسېدل، په بې ساري اندازه یې په سیمه بریدونه کول. اپریدو د خیبر په دره کې د پېښور او کوهاټ د ضلعو سره د کرښې په هغې خوا په مني کې بریدونه زیات کړل. په سووېل کې مسیدو او وزیرو په ګډه د برتانیې واکمني ننګوله او دا د مقاومت کمپاین د دوهمې نړیوالې جګړې تر پیل کېدو پورې دوام وکړ.

افغانستان د ۱۹۱۹ کال د راولپنډۍ د تړون لاسلیک په رسمي توګه د خپلواکۍ ورځې په حیث لمانځي. خو افغانستان هېڅ وخت د برتانیې مستعمره نه وه. د افغانستان د بهرنیو اړیکو کنټرول برتانویانو د افغان- انګلیس د دوهمې جګړې په پایله کې په افغانستان وتپلو. افغانستان خپلې موخې چې هغه بشپړه خپلواکي وه د یوې لنډې سرحدي جګړې له مخې ورسېد. برتانویانو د افغانستان د بهرنیو اړیکو کنټرول په دې پرېښودو چې د جګړې د اوږدېدو له امله به دوی ناوړه پایلو سره مخامخ شوي وای. د سرحدي قومونو پاڅون چې د امان الله له خوا د نااعلان شوې جګړې په توګه روان و شونې وه چې هند ته پراخ شي او د برتانویانو کورنی امنیت ونګوي. ځکه برتانیې افغانستان ازاد پرېښود. جلالي وایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دا ګواښ د افغان پوځ له امله نه و، چې د برتانيې د کنټرول د سیمو نه وایستل شو او د دې وړتیا یې نه درلوده چې د افغانستان د ننه د برتانيې د محدود تیري مخه ونیسي. که امیر امان الله په رښتیا نیت درلود چې پوځي ننداره وښيي هغه کمزوری پلان کړې وه، ناسمه تنظیم شوې، او په ډېره بده توګه یې عملیات وکړل. په بیلو بیلو جبهو کې په منظم ډول کړه ترسره نه شول، د برتانيې ځواکونو ته یې اجازه ورکړه چې په هر محور کې په انفرادي ډول برخورد وکړي. د خیبر او پکتیا په جبهو کې د جګړې پیل درې اوونۍ توپیر درلود. د کندهار جبهې ته قواوې لا ناوخت ورسېدې، او افغان کنډک یې یوازې پرې ایښی و چې په یوازې توګه یې د انګرېزانو د لس ځلي غښتلي پوځ سره د وروستۍ سلګۍ پورې په اتلوالۍ او مېړانه وجنګېدل. جلالي زیاتوي چې د جګړې ستراتیژیکه نظریه چې په هند کې د دوی د کورنۍ ستونزو نه ګټه پورته کول او په سرحدونو کې د پښتنو قومونو لمسول د برتانيې پر ضد یوه ځلانده ایډیا وه، خو پوځي تیاری او عملیاتونه چې د دې ایډیا ملاتړ یې کاوه بې خونده، ناریالیستي وو او په کمزوري ډول پلي شول چې د نااړینو ځاني زیان لامل شول او د افغان دپوځ نظامي پرستېژ یې زیانمن کړ.۳۷۴

دا جګړه د برتانيې دپاره اوه میلیو پونډه په بیه تمامه شوه. برتانيې ۲۳۶ مړي، ۱۵۱۶ ټپیان درلودل او د برتانيې د اټکل له مخې د افغان مړو شمېر ۶۰۰ او زر تنه ټپیان وو. د قومي جنګیالیو ځاني زیان د برتانویانو د ځاني زیان نه دوه ځله زیات وو.

کاکړ وایي چې د ډېورنډ د کرښې د دواړه خواوو قومونو په دغه جګړه کې له زړه نه برخه واخېسته. د انګرېزانو قومي ملېشاوو، چې له ډېورنډ نه اخوا قومونو نه جوړې وې، هم خپلې دندې پرېښودې او افغانانو ته واوښتې یا خپلو کورونو ته ولاړې. کاکړ وایي چې د خپلواکۍ په جګړه کې دغو پښتنو ثابته کړه چې دوی د پخوا په شان د افغانستان رښتیني پلویان او ساتونکي دي. په اصل کې د دوی او د ولسي افغانانو له امله و چې په لندن کې د برتانيې حکومت د هند د وایسرا دا وړاندیز رد کړ، چې ویل یې د هندوستان د ناکراریو د غلي کولو له پاره ښه لار دا ده، چې جلال اباد ونیول شي. په دې اړه په لندن کې د هندوستان له پاره د دولت وزیر د وایسرا وړاندیز په دې ډول ونه مانه: «زه په دې ډاډه یم چې تا به د تاریخ درسونه هېر کړي نه وي او هغه دا چې موږ د افغان له منظم پوځ نه دومره وېره نه لرو لکه د قومي ملیشاوو او زموږ په خورو کمپونو او مخابرو پر کرښو باندې یې د هغو د یرغلونو نه لرو.»۳۷۵

د کاکړ په وینا انګرېزانو دغه وخت څلورنیم لکه پوځ او عصري لوجستیکي، مخابروي او د وړلو راوړلو عصري تخنیکي وسیلې لرلې. پر هغو سربېره په دغه جنګ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې له نظامي الوتکو هم کار واخیست او د جلال اباد او کابل ښارونو باندې یې بمونه وغورځول. غبار وايي چې دغو بمونو په افغانانو باندې ناوړه اغېزه ونه کړه خو ډاکټر عبدالعلي ارغنداوي وايي چې «په دې کې ډېر لږ شک دی، چې دغه [هوايي] حمله دغسې مهم عامل شو چې د افغان حکومت یې سولې غوښتلو ته اړ کړ.»۳۷۶ دغه واقعیت په اصل کې په خپله پاچا امان الله جنرال محمد نادر ته په یوه فرمان کې په دغه ډول څرګند کړی دی: «از برای مردم کابل از ګلوله باري انها هراس پیدا شده اکثر مردم معتبرین و کلان شوندګان این ملامتي را بحضور [شاه امان الله] تعلق مېدهند که وقت جنګ نبود.»۳۷۷ ژباړه: «د کابل خلکو ته د هغوی د بمبارۍ له امله وېره پیدا شوې د متعبرو او لویانو ډېرکي خلک دغه پړه په امان الله خان اچوي په دې چې دا د جګړې وخت نه و.» په فرمان کې دا ویل شوي چې دغو معتبرانو رایه ورکړه، چې که انګرېزان سوله ومني، تاسې یې قبوله کړئ. دغه معتبران شاید د دولتي شورا غړي وي.

د خپلواکۍ جګړه درې څلور اونۍ اوږده شوه او بیا د همدغه کال د اګست په اتمه نېټه په راولپنډي کې انګرېزانو د افغانستان خپلواکي ومنله. د اداميک په وینا امان الله د افغان-انګلیس په جګړه کې له دې امله بریالی شو چې د سرحد (ازادې قومي کړۍ) ورسره مرسته وکړه. خو امان الله د سرحد د پښتني قومونو په اړه اساسي څه ونه کړل. «امان الله خان له انګرېزانو نه دغه وعده ترلاسه کړه، چې دوی په هغو کې د نفوذ خپرولو او له هغو سره د جنګ کولو پلان نه لري او که د هغوی پر ضد کوم نظامي کار کوي له امیر سره به مشوره کوي، خو له جګړې نه وروسته انګرېزانو د خپلې وعدې پر خلاف د دغه پښتنو په سیمو کې تر پخوا ډېر په نظامي کړو لاس پورې کړ.»۳۷۸

د رحمت ربي زیرکیار په وینا دا تړون د جنرال یارمحمد وزیري له خوا «ناولی تړون» بلل شوی دی په دې چې د ډیورنډ د کرښې اخوا د پښتنو سیمې د سولې په تړون کې په انګرېزانو پورې وتړل شوې. محمد اعظم سیستاني لیکي چې «علي احمد خان، با آنکه توانسته بود تایید استقلال افغانستان را توسط نامه یی جداګانه از جانب انګلیسها بدست اورد؛ مګر به خاطر لغزش در قبول خط دیورند در این قرارداد از سوی محمود طرزی وزیر خارجه و شاه مورد انتقاد شدید قرار ګرفت. علي احمد خان، از طرف شاه امان الله خان مورد سرزنش و عتاب قرار ګرفته از مقامش سبکدوش و توقیف شد.»۳۷۹ ډاکټر عبدالرحمن زماني لیکي: «هیچ شکی وجود ندارد که امضای خود سرانه قرارداد صلح راولپنډی یک لغزش بزرګ و خیانت علی احمد خان بود.»۳۸۰ خو د حیرانتیا ځای دا دی چې پاچا امان الله همدغه د افغانستان په زیان د راولپنډۍ تړون

(c) ketabton.com: The Digital Library



توشیح کړ او د هغه د راتلونکو ناوړه پایلو تاریخي مسؤلیت یې په غاړه واخیست.

د هغې خوا پښتنو فکر کاوه چې امان الله خان جګړه د افغانستان د خاورې د بېرته تر لاسه کولو په موخه اعلام کړې ده. اروانښاد شمس الدین مجروح وایي چې «... و هم بعضې مردم فکر مېکردند که این جنګ سوم برای استرداد اراضي از دست رفته افغانستان رخ داده بود، که ان نتیجه مطلوب بدست نیامده. لذا این جنګ را افتخار بزرګې نه، بلکه ناکامي تصور مېکردند.»۳۸۱

د رحمت ربي زیرکیار په وینا په ۱۹۱۹ کې امان الله خان افغانستان خپلواک اعلان کړ. امیر امان الله خان نوی خپلواک شوی نیم افغانستان د نړیوال ګوښه توب نه وایست او د نورو هېوادو سره یې اړیکې ټینګې کړې. ډپلوماتیکې اړیکې ټینګول د دولت اعتبار غښتلی کوي او دغه اعتبار په ملي ګټو کې شمېرل کیږي. خو د افغانستان خپلواکي چې د پښتنو د وینو په تویولو وګټل شوه د راولپنډۍ د تړون په اساس د سیاست له لارې وبایلل شوه. یاني د ډېورنډ د تړون له مخې غوڅ شوی افغانستان د خپلو عمومي ملي ګټو او په ځانګړې توکه د خاورې د بشپړتیا په خوندې کولو کې بې وسه پاتې شو.

## امیر امان الله خان او د هېواد بهرنۍ اړیکې

کاکړ وایي چې «د خپلواکۍ یو غټه نښه دا ده چې خپلواک هېواد به له نورو هېوادونو سره ډول ډول اړیکې په نېغه او خپله خوښه د خپل ملت د ګټو د خوندي کولو په مقصد د خپلو استازو له لارې ټینګوي.»۳۸۲ که څه هم تر دغه وخته پورې د افغانستان اړیکې یوازې د برتانوي هند د حکومت سره وې خو امیر امان الله خان د مخه تر دې چې د افغانستان خپلواکي په رسمیت وپېژندل شي د نورو هېوادونو سره د اړیکو د ټینګولو په لټه کې شو. د دې دپاره نړیواله وضع برابره وه ځکه چې د یوې خوا د لومړۍ نړیوالې جګړې له امله عثماني امپراتورې د انګلیسانو د دسیسې په پایله کې ټوټې شوه چې په مسلمانانو کې یې د انګلیس ضد احساسات راوپارول او د بلې خوا په روسیه کې د اکتوبر د انقلاب له امله چې د خپل امپریالیستي ضد سیاست له کبله یې د امان الله خان سره روغ نیتي ښوده او افغانستان ته یې لا د وسلو، پیسو، تخنیکي مرستو او ان د پنجدې د بېرته ورکولو ژمنې هم کولې. پاچا امان الله د ۱۹۱۹ کال د اپرېل په میاشت کې محمد ولي دروازي په بخارا کې سفیر ټاکلی و. پاچا امان الله محمد ولي د یوه مهم پلاوي په مشرۍ ګومارلی و چې د نوي شوروي حکومت او د لوېدیځ د نورو هېوادونو سره سیاسي اړیکې ټینګې کړي او په اروپا کې د پاریس د سولې په کنفرانس کې هم ګډون وکړي. دغه پلاوي مسکو، برلین، روم، پاریس، لندن، نیویارک او واشنګټن ته سفر وکړ او د ۱۹۲۲ کال د جون په میاشت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېواد ته راستون شو. د دغه پلاوي هڅې د برېتانيې د بهرنيو چارو د وزير لارډ کرزن د خنډونو د اچولو سره سره د خپلو موخو په پلي کولو کې پوره بريالۍ وې. د شوروي اتحاد، فرانسې او ترکيې سره يې سياسي او د دوستۍ تړونونه وکړل او نور ډېر هېوادونه يې وهڅول چې د افغانستان سره سياسي اړيکې ټينګې کړي.۳۸۳

## امیر امان الله خان او منځنۍ اسیا

د اکتوبر د انقلاب برى، د عثماني امپراتورۍ ټوټه کېدل، د افغان- انګليس دريمه جګړه د دې لاملونه شول چې په منځنۍ اسيا کې ستره لوبه نوي پړاو ته ننوزي. پاچا امان الله، د بخارا امير او د پان تورانيزم پلويانو هڅه کوله چې په منځنۍ اسيا کې هغه تشه ډکه کړي چې د تزاري روسيې په نسکورېدو سره منځ ته راغلې وه. د کاکړ په وينا:«د عثماني ترکيې د اتحاد او پرمختګ د کوميټې پخوانيو مشرانو، چې ټينګ ملت پالان وو، له پان اسلامي غورځنګ نه په دغې هيلې کار اخېست، چې په منځنۍ اسيا کې يو اسلامي ترکي دولت په پښو ودروي.»۳۸۴

خو پاچا امان الله بيا هڅه کوله چې د پان اسلاميزم نه د دې له پاره کار واخلي چې په خپله د منځنۍ اسيا د کنفدرېشن سروال شي نو ځکه يې په منځنۍ اسيا کې د پرمختګ سياست غوره کړ. د ۱۹۱۹ کال د اکتوبر په مياشت کې افغانستان په دې پيل کړى و چې د پنجده په سيمه کې خپل نفوذ خپور کړي. «افغان ماموران، قونسلان او په خپله خوښه جوړ شوي هيئتونه له منظمو افغاني عسکرو سره ډلې ډلې ګرزېدل او په نتيجه کې په دغې سيمې کې دغسې ښارګوټى نه و چې افغانان» دې په کې نه وي. کاکړ وايي چې د برتانوي راپورونو له مخې «افغان نفوذ په مروه او سهېل کې ټينګېده او په مروه کې خلکو داسې ګڼله، چې افغان قونسل ته تر بلشويکي کميسارۍ نه لا ډېر مهم مامور وي.»۳۸۵ کاکړ د اداميک د ليکنې پر بنسټ دا هم وايي چې په مروه کې څلور سوه منظم افغان عسکر ځاى پر ځاى او له هغه ځايه تر کشک پورې د افغانانو لاس برى و. «افغانان هر هغه ممکن څه کوي، چې ترکمنان سره پخلا کړي. هغه کسان خوشي کيږي، چې بلشويکان يې بندي کوي، جريمې بېرته ورکولې کيږي، ستونزې د افغانانو په حکم هواريږي او محلي بلشويکان په ضمني ډول د افغانانو امرونه په ځاى کوي» ترکمن په دې نه پوهيږي چې افغانان او بلشويکان سره دوستان دي او که دښمنان «خو ټول دا مني، چې افغانان هر چېرې د مسلمانانو د ساتونکو په توګه د محل د وضع[ې] او موقع کنټرول کوي. د سرخس په سيمې کې افغانانو د ترکمنو دايمي بدي ګانې له منځه وړي او ټولو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې خبرداری ورکړی، چې د عمل له پاره، چې مناسب وخت يې ورسيږي چمتو وي.»۳۸۶

د بخارا امير ميرعلم هم جنرال مليسن ته څرګنده کړې چې: «زمونږ په نظر ترکستان او بخارا ته د افغانستان راتګ يوازې د دې له پاره دی، چې د ترکستان مسلمانان سره يو موټی کوي او د بخارا سره اړيکې ټينګې کړي. په دغه مقصد چې د بلشويکانو پر ضد په مناسب وخت کې عمل وکړي.» کاکړ د ادامک د ليکنې له مخې دا هم وايي چې افغانانو په فرغانه کې د بسمه چې غورځنګ د يوه مشر محمد امين بېګ سره ژمنه کړې وه چې که دی په پان اسلامي کنفدرېشن کې ګډون وکړي نو د بلشويکانو پر ضد به دوی ته لس زره مېږونه او وسلې ورکړي.۳۸۷

شوروي اتحاد کوښښ کاوه چې په منځنۍ اسيا باندې خپله واکمني وچلوي. شوروي اتحاد د خپلې واکمنۍ د پراخولو دپاره د ۱۹۱۹ کال په پای کې مسکو د تاشکند سره د اورګاډي د پټلۍ په وسيله بيا وتاړه. د ۱۹۲۰ کال په پسرلي کې د افغان- شوروي اړيکې خړې پړې شوې چې لاملونو ته به يې وروسته راوګرځم او شورويانو بيا په زور سره د منځنۍ اسيا د نيولو تکل وکړ. شوروي اتحاد منځنۍ اسيا ته منظم پوځ واستاوه، فرغانه او خېوا يې لاندې کړل. بل کال يې د مې په مياشت کې په پنجده کې د افغانانو لاس برى پای ته ورساوه. د دې وروسته د افغانستان او شوروي پوله هغه شوه چې د تزاري روسيې په وخت کې وه.

افغانستان د ۱۹۲۱ کال د فبروري په ۲۸ مه نېټه په مسکو کې د شوروي حکومت سره يو تړون لاسليک کړ. د دغه تړون په بنسټ دواړو لورو ومنله چې دواړه لوري د هېڅ دولت سره هېڅ داسې پوځي يا سياسي تړونونه لاسليک نه کړي چې د تړونکونکو کوم لوري ته زيان ورسوي. شوروي اتحاد اجازه لري چې په افغانستان کې قونسلګرۍ پرانيزي. شوروي اتحاد ومنله چې د افغانستان د سوداګرۍ مالونه به د محصول د ورکولو نه پرته د روسيې نه تېر شي. دواړو خواوو د بخارا او خېوې خپلواکي د خلکو د غوښتنو پر اساس وپېژانده. شوروي لوري دا هم ومنله چې د پولې هغه سيمې چې پخوا په افغانستان پورې تړلې وې د «عدالت او خودارادیت د اصلونو» له مخې افغانستان ته بېرته ورپرېږدي. شوروي اتحاد دا هم ومنله چې هرکال به افغانستان ته يو ميليون سره زر يا سپين زر د مرستې په توګه ورکوي. شوروي لوري برسېره پردې د تخنيکي وسيلو او متخصصانو په بڼه د نورو مرستو ورکول هم ومنل. شوروي اتحاد دا تړون دغسې مهال وکړ چې د کورنۍ جګړې او اقتصادي ستونزو سره مخامخ و. شوروي اتحاد دا هم په نظر کې لرله چې د دغه تړون له مخې به افغانستان لږ تر لږه انګرېزانو ته اجازه ور نه کړي چې د هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاورې نه د شوروي پر ضد کار واخلي. همدارنګه شورویانو دا هم انګیرله «چې دوست افغانستان به د شوروي اتحاد له پاره دغسې یوه هډه وي چې د هغه له ملک نه به د انقلاب بڅري په مناسب وخت کې هندوستان ته یووړل شي.»۳۸۸ ځکه برتانوي هند ناارامه و او ملي ګټېو یې دا غوښتنه کوله چې افغانستان د شوروي اتحاد نه ګوښه کړي او په دې موخه یې یو انګرېز جنرال ملیسن ته دنده وسپارله چې د شوروي افغان اړیکې خړې پړې کړي.

خو د تړون نه نږدې درې میاشتې وروسته د ۱۹۲۱ کال د می په میاشت کې شورویانو «د بخارا امیر هم په ښکاره د پرچمي ډوله «ځوانو بخارایانو» له لارې خو په واقعیت کې په خپل زور کابل ته په پراروولو اړ کړ.» که څه هم د افغانستان سره یې په تړون کې د بخارا او خېوې خپلواکي منلې وه. دا موضوع هم لکه د مخه مې یادونه کړې وه د افغانستان او شوروي اتحاد د اړیکو د خړپړتیا لامل شوه.

د مخه مې یادونه وکړه چې شوروي اتحاد کوښښ کاوه چې په منځنۍ اسیا باندې خپله واکمني وچلوي. برتانوي هند هم لا د ۱۹۱۸ کال د برسټ- لیتوفسک د تړون له امله چې د شوروي اتحاد او جرمني تر منځ لاسلیک شوی و، اندېښمن و. برتانوي هند وېره درلوده چې د لومړۍ نړیوالې جګړې د وخت مرکزي قوت پوځونه به افغانستان ته ننوځي او هند ته به ګواښ واړوي. د رحمت ربي زیرکیار په وینا:«د برسټ- لیتوفسک تړون په اوومه ماده کې افغانستان او ایران «ازاد خپلواک دولتونه» ګڼل شوي وو او شوروي او جرمني ژمنه کړې وه چې د افغانستان او ایران د خاورې بشپړتیا او اقتصادي استقلال ته به په درنه سترګه کسي.»۳۷۹ برتانوي هند هڅه کوله چې افغانستان د دښمنو پلاویو نه ګوښه وګرځوي.

د مخه مې یادونه وکړه چې د ۱۹۲۰ کال په پسرلي کې د افغانستان او شوروي اتحاد اړیکې خړې پړې شوې. د دې اړیکې د خړپړتیا بنسټیز لامل دا و چې برېتانیا د افغان او شوروي اتحاد د اړیکو د خړپړتیا له پاره جنرال میلیسن د پوره پیسو او پوځ سره د ایران مشهد ته واستاوه. نوموړی د خپل پوځ سره د مشهد نه مروه او بیرم علي ته لاړ، خو هلته د شوروي پوځ له لوري چې زیات ځواکمن و، په مقابله کې پاتې راغی او بېرته مشهد ته راستون او استوګن شو او د هغه ځای نه یې د مسکو، تاشکند او نورو ښارونو تر منځ د تلګرافي مخابراتو په څارلو پیل وکړ او په پوره بریالیتوب سره خپلې موخې پلې کړې. ملیسن په ۱۹۲۲ کال کې په لندن کې د منځنۍ اسیا ټولنې ته د وینا په ترڅ کې وویل چې:«زموږ دنده دا شوه چې هر هغه ممکن کار وکړو چې په هغه سره د یوه دفاعي او یرغلیز اتحاد په مقصد د افغان او شوروي پلانونو د واقعي کېدو مخه ونیسو.»۳۹۰ ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه تاکتیکونه هم په ګوته کړل چې په مشهد کې یې کارول. ده زیاته کړه: «څه وخت چې په دواړو کمپونو کې د ډېرو اجنټانو له لارې مالومات تر لاسه شول چې رښتینې وضع څنګه ده او دواړه خواوې له یوې او بلې سره څنګه چلند کوي، زموږ کار دا شو چې یوه خوا د بلې په خیانت په غیر رسمي ډول خبره کړو. افغانانو په دغه وخت کې واورېدل چې په ټولې فرغانې کې د شوروي پر ضد یو پیاوړی او د هیلې وړ پاڅون روان دی، د پاڅون مشرانو ته یې د لیکونو او سوغاتونو سره استازي ولېږل. موږ دا خپله دنده وګڼله چې دغه مالومات بلشویکانو ته ورسوو.»۳۹۱ په دې توګه ملیسن په دې بریالی شو چې د افغانستان او شوروي اتحاد تر منځ ټینګه بې باوري منځ ته راوړي. ملیسن په پای کې اورېدونکو ته وویل چې: «وعده شوې پیسې او وسلې وځنډېدلې او په پای کې ګرد سره ودرولې شوې، ځکه چې هغوی [بلشویکان] په هر حال تر څه حده پورې په دې باور شول، چې افغانان په ټولې منځنۍ اسیا کې د دوی پر ضد د یوه لوی پان- اسلامي پاڅون له پاره لمسونې کوي.»۳۹۲

کاکړ وايي چې د افغان- شوروي اړیکو کې بله ستونزه د بسمه چي غورځنګ په سر وه. امان الله خان په پټه د بسمه چي غورزنګ ملاتړ کاوه چې موخه یې په منځنۍ اسیا کې د خپلواک اسلامي دولت جوړول و. د دغه غورزنګ د بریالیتوب له پاره د عثماني ترکیې پخوانیو مشرانو انور پاشا، طلعت پاشا او جمال پاشا په منځنۍ اسیا او افغانستان کې هلې ځلې کولې. د عثماني ترکیې د ماتې وروسته د ترکیې دغه پخواني مشران د ترکیې نه ووتل. انور پاشا او طلعت پاشا د برلین په لار مسکو ته لاړل چې له شورویانو سره د انګلیس ضد خوځښتونو کې برخه واخلي. جمال پاشا وروسته کابل ته راغی او هلته د افغان پوځ په بیا تنظیمولو وګومارل شو. «په کابل کې جمال پاشا چې د محمود طرزي د ملاتړ نه بهره من و، امان الله خان یې په دې قانع کړ، چې انور پاشا غواړي روسي ترکستان په افغانستان پورې وتړل شي.۳۹۳ په دغه وخت کې شورویانو مسلمانان د انګرېزانو پر ضد لمسول، خو په منځنۍ اسیا کې په خپله د بسمه چي پلوو مسلمانانو له مخالفت سره مخامخ شول. بلشویکانو انور پاشا ترکستان ته ولېږه تر څو د بسمه چي غورځنګ د مشرانو سره د خبرو له لارې موضوع هواره کړي. خو انور پاشا هلته د ۱۹۲۲ کال په مارچ کې د هغوی سره یو ځای شو او د شوروي اتحاد پر ضد یې د بسمه چي غورځنګ خوا ونیوله. دی «د پخوانۍ بخارا» د ځواکونو مشر شو چې شمېر یې شلو زرو ته رسېده.

کاکړ وايي چې پاچا امان الله په منځنۍ اسیا کې د کنفدرېشن د جوړېدو شونتیا بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وليده. لکه چې د مخه مو يادونه وکړه په کابل کې جمال پاشا چې د محمود طرزي د ملاتړ نه بهرامن و، امان الله په دې قانع کړ، چې انور پاشا غواړي روسي ترکستان په افغانستان پورې وتړل شي او دا چې د بخارا امير هم غواړي د هغه په مرسته له افغانستان سره يو ځای شي.۳۹۴ پاچا امان الله په دې اړه په کابل کې د انګلستان د سفير له لارې له برتانيې نه وغوښتل، چې د بخارا او خيوې خپلواکي په څرګند ډول ومني او د افغانستان له لارې د وسلو مرسته ورسره وکړي. ده د برېتانيې نه دا وغوښل چې هغه دې د افغانستان ملا هم وتړي چې د شوروي اتحاد نه وغواړي له دغو ملکونو نه خپل پوځونه وباسي، خو انګرېزانو د ده غوښتنې ونه منلې.۳۹۵ سره له دې چې انګرېزانو د ده غوښتنې ونه منلې بيا هم امان الله په دې فکر و چې انور پاشا کولی شي چې بلشويکان د بخارا نه وباسي. نو ځکه يې ورسره د وسلو او رضاکارو مرسته وکړه او د تنظيمي رئيسانو په نومونو يې جنرال محمد نادر قطغن ته، شجاع الدوله هرات ته او د عدليې وزير محمد ابراهيم مزار ته واستول. برسېره پردې يې افغاني افسران په ملکي جامو کې انور پاشا ته او يو ووړ پوځي ځواک يې بخارا ته ولېږه. ده ټولو ته لارښوونه وکړه چې دوی ټول به په پټه له انور پاشا سره په بخارا کې او له بسمه چي مشرانو سره په فرغانې کې مرستې وکړي.

کاکړ د منشي علي احمد او اداميک د ليکنو پر بنسټ ليکي چې: د ۱۹۲۲ کال د اپرېل په مياشت کې يو افغان افسر د پولې نه واوښت او په بېسون کې يې د خپلو قواوو سره د شوروي پوځونو سره مقابله وکړه. د دې برسېره د باندنيو چارو د وزارت يوه حکومتي پوسته په لار کې لوټ شوه او سندونه يې شورويانو ته په لاس ورغلل.۳۹۶ شوروي اتحاد ته ثابته شوه چې افغانستان د بخارا په ناکراريو کې لاس لري، نو بخارا يې په يوې شپې او ورځې کې په بې رحمۍ سره لاندې کړه. شورويانو په افغانستان مرستې ودرولې او د افغانستان د حکومت نه يې وغوښتل چې څرګندونه وکړي چې بيا به د بخارا په چارو کې لاسوهنه نه کوي او افغانستان د شورويانو غوښتنې ومنلې او د شوروي اتحاد دوستي يې وساتله.

په دې ترتيب سره ده په منځنۍ اسيا کې «په خپلې سروالۍ سره اسلامي کنفېډرېشن غوښته چې د بري چانس يې نه و او د ختيځو پښتنو په منځ کې يې هغسې کوښښونه ونه کړل، په داسې حال کې چې دغه سيمې په اصل کې د افغانستان زړه و او خلکو يې د خپلواکۍ په جنګونو کې دغه واقعيت په کړو سره ثابت کړی و. ښې ښيي چې محمود طرزي او هغو ترکي پاشايانو دی منځنۍ اسيا ته هڅولی او د هغه پرعکس د سردار نصرالله مرينې دی له دغو پښتنو نه ليرې کړی وي. هر څه چې وو امان الله خان په دواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ناکام شو.»۳۹۷

انور پاشا هم له یو څو بریو نه وروسته د ۱۹۲۲ کال د اګست د میاشتې په څلورمه نېټه په یوې نښتې کې ژوبل او ژوند یې د لاسه ورکړ. د ده د مړینې وروسته د بسمه چي غورځنګ یو بل مشر ابراهیم بېګ د ځواکونو په خورېدلو سره په منځنۍ اسیا کې د پاشاګانو د پان ترکي دولت، د بسمه چیانو د خپلواکۍ او د پاچا امان الله د اسلامي کنفدرېشن ارمانونه په اوبو کې لاهو شول. هلته د شوروي اتحاد له لوري د سوویتیزم د پلي کولو په لور کوښښونه پیل او پاچا امان الله خان په هېواد کې په کورنیو سمونونو لنګر واچاوه. د مخه تر دې چې د پاچا امان الله په سمونونو وغږېږم لازمه ګڼم چې په افغانستان کې د شوروي روسیې په کړنو رڼا واچوم.

## امیر امان الله خان او په افغانستان کې د شوروي روسیې کړنې

دا موضوع مې د تیخونوف د کتاب «په افغانستان او پښتنو قبایلو کې د سترو قدرتونو سیاست»، چې عزیز اریانفر په فارسي «نبرد افغاني استالین» په نامه ژباړلی، له مخې په ډېر پام سره کښلې په دې چې د کتاب لیکوال د نویو مهمو ارشیفي مالوماتو په څنګ کې د اعراضو ډکې خبرې هم لري. دا کتاب په یوه ناسمه جمله: «به ګونه یی که روشن است نزدیک به چهل در صد از باشندګان افغانستان پشتونها اند که در دو اتحادیه بزرګ درانی و غلزایی ګرد اماده اند.» پیل شوی دی. لومړی خو په افغانستان کې د پښتنو شمېر څلوېښت په سلو کې نه بلکې د نسب په لحظ د ۶۳٪ او د ژبې له مخې د ۵۵٪ نه زیات دی او نه پښتانه یوازې د دراني او غلزایی قبیلو نه جوړ دي بلکه پښتانه د دراني او غلزایی قبیلو برسېره نورې قبیلې هم لري. په دې اړه د مخه پوره مالومات وړاندې شوي چې بیا یادولو ته اړتیا نه شته. دومره به ووایم چې ځینې روسي او امریکایې کړۍ د خپلو سیاسي موخو له کبله د پښتنو شمېر لږ ښیي لکه چې امریکایي لیکوال ریچارډسن وایي: «کله چې په ۲۰۰۱ ز کال په اکتوبر کې امریکا پر افغانستان یرغل وکړ نو امریکایي چارواکو هم د خپلو روسي معاصرو په توګه د توکمیزو لوبو کارتونه راوایستل (۱۷۱ پاڼه)»او زیاتوي چې «زموږ لوېدیځوالو په غوږونو کې د خپرندویو او چاپي رسنیو له لارې اتنو ګرافیک مالومات راځڅول کیږي او په دې قناعت راکول کیږي چې ګڼي د پښتنو ډېرکی هېڅکله د ټولنې ډېرکی نه و او اوس پر «افغانستان د پښتنو د واکمنۍ» د پای وخت را رسېدلی دی.

یو شمېر کسان په دې باور دي چې دغه چال چلند د سړې جګړې د ذهنیت دوام دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې طرح یې روسي میلیتاریزم جوړه او پلې کړه او موخه یې د افغانستان د ډېرکي (پښتنو) د شمېرې راټیټول یوې داسې کچې ته ول چې د هېواد په توکمیز جوړښت کې د بدلون له لارې افغانستان د تجزیې له پاره چمتو کړي. (۵۰۳ پاڼه)» نوموړی د افغانستان د ژبتوکمیزې سلنې رښتینی انځور داسې وړاندې کوي: «د افغانستان د وګړو په ټوله شمېره کې پښتانه ۶۲،۷۳ په سلو کې، تاجکان ۱۲ په سلو کې، هزاره ۹ په سلو کې، وزبکان ۶ په سلو کې، ترکمنان ۲،۶۹ په سلو کې او ایماق ۲،۶۹ په سلو کې دي. (۵۰۴ پاڼه)» اوس به اصلي موضوع ته راوګرزم.

د نړیوالې لومړۍ جګړې په جریان کې د المان دا پروګرام چې په هند باندې له افغانستان نه ګوزار وکړي د جګړې وروسته په کړو کې شوروي روسیې ته پاتې شو چې غوښتل یې چې په هره بیه وي خپل دښمن- برېتانیا کمزورې کړي. د سوویل په لور د شوروي روسیې سیاست په کابل کې د شوروي سفیر براوین داسې بیانوي: «د روسیې تاریخ د دې ټینګ ثبوت په لاس راکوي چې روسیه د ختیځ او په ځانګړې توګه د منځنۍ اسیا او هند خوا ته ټینګ او د پخوا نه ټاکل شوی میلان لري. سرنوشت د تزاري روسیې لاس د هند په لوري کش کړ او همغه لاس نن ورځ شوروي روسیه هغې خوا ته کشوي. په هند کې باید نړیوالې مسلې هوارې شي او دغه مسلې د انګرېزانو سره د روسیې په ټکر سره هوارېږي.»۳۹۸ د دې له پاره روسیه باید د انګرېزانو پر ضد د پښتنو قبایلو د جګړې نه ګټه پورته کړي. هغه مهال چې د ۱۹۱۹ کال په جنوري کې د روسیې سوسیالستي جمهوریت فېډراسیون د شوروي ترکستان د جمهوریت سره ژوندی شو، د بلشویکانو مشرتابه پرېکړه وکړه چې د برتانیې په وړاندې د افغانستان سره یرغلیز تړون وکړي.

شوروي روسیې د بهرنیو چارو وزیر چیچېرین د تزاري روسیې د مهال ډپلومات براوین په کابل کې د شوروي روسیې د سفیر په توګه وټاکه. براوین په ۱۹۱۷ کال کې د اکتوبر وروسته یوازینی تزاري ډپلومات و چې د شوروي حاکمیت یې په رسمیت وپېژاند. خو په تاشکند کې مشران د هغه د عقیدې له امله وربانديې بې باوره وو او ځکه یې یو شمېر ګوندیان کابل ته ورسره ولېږل. ایوانوف پوځي اتشه ته دنده ورکړل شوه چې د برتانیې پر ضد د یرغلیز دفاعي تړون د کړلو له پاره د امیر هوکړه ترلاسه کړي. همدارنګه ایوانوف ته دغه دنده هم ورکړل شوه چې که سفیر خاین راووتلو هغه ووژني.۳۹۹ د ۱۹۱۹ کال د جولای په لومړۍ نېټه د شوروي پوځي- ډپلوماټیک پلاوی افغانستان ته ننووت او د اګست په میاشت کې وروسته له هغې کابل ته ورسېد چې امان الله خان د انګلیسانو سره د سولې تړون کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امان الله خان او پلویانو یې هاند کاوه چې د برېتانیا سره بیا د اړیکو خرېړولو نه ځان وژغوري په دې چې افغانستان بلې جګړې ته چمتو نه و. برسېره پر دې افغانانو ویره درلوده چې د شوروي روسیې غړي به د استخباراتي مالوماتو د ټولولو هڅه وکړي او همدارنګه به کمونیستي تبلیغات پرمخ بوزي. تیخونوف وایي چې د افغانانو اندېښنې پر ځای وې ځکه چې په شوروي پلاوي کې د ترکستان د کمونېستانو نه لس تنه په دې ګومارل شوي و چې «د افغانانو په منځ کې سیاسي کار» وکړي.۴۰۰ ایوانوف پوځي اتشه په خپل وار د ټولو ستونزو سره سره په کابل کې د مالوماتو په ټولولو پیل وکړ. د ۱۹۱۹ کال په اکتوبر کې پوځي کسان د ایوانوف په مشرۍ اړ شول چې کابل پرېږدي په دې چې دوی خپله تر ټولو مهمه دنده یاني د انګرېزانو پر ضد د امیر سره پوځي تړون کړل و، ترسره نه کړه.

د ۱۹۱۹ کال د جون په ۲۳ یو پخوانی بلشویک یاکوف سوریتس د براوین په ځای په کابل کې د شوروي د سفیر په توګه وټاکل شو. د ډېر وخت راهیسې په مسکو کې په دې پوهېدل چې د افغان- انګلیس جګړه نوره پای ته رسېدلې ده. د دې سره سره په کرملن کې یې دا هیله له لاسه نه ورکوله چې بیا د افغانستان پښه د برتانیې ضد جګړې ته ورکش کړي.۴۰۱ د ۱۹۱۹ کال د دسمبر په ۱۴مه سوریتس د شوروي روسیې سفیر د یو څو هندي ناسیونالستانو سره کابل ته ورسېد. د همدې میاشتې په ۲۷مه سوریتس تاشکند ته پټ ټلګرام واستولو: «موږ وکولی شول چې د سرحد د اپریدو او وزیرو د قبایلو د مشرانو سره تماس ونیسو. دغه قبیلې د می د میاشتې راهیسې د انګلیس هندي پوځ په وړاندې بریالۍ مبارزه کوي.»۴۰۲ سفیر وړاندیز وکړ چې د قبایلو سره دې د پامیر له لارې اړیکې ټینګې شي. وروسته د شوروي روسیې سفیر سوریتس دې پایلې ته ورسېد چې افغان مشرتابه به د شوروي روسیې سره پوځي تړون ونه کړي. خو د افغانستان مشرتابه چمتو دی چې د شوروي روسیې سره د دوستۍ او بې پلوۍ تړون لاسلیک کړي.

چیچیرین د شوروي روسیې د بهرنیو چارو وزیر د افغانستان سره د دفاعي تړون د کړلو مخالف و په دې چې دا تړون کېدای شو چې د شوروي روسیې او لویې برېتانیې تر منځ په جګړه بدل شي. چیچیرین په دې اند و چې د افغانستان او شوروي روسیې تر منځ په لومړي تړون کې دې د پابندۍ ماده نه وي چې شوروي د افغان لوري سره په دې ژمنه وکړي چې په افغانستان باندې د برتانیې له لوري د یرغل په وخت کې به د افغانستان پلوي وکړي.۴۰۳ افغانان او په ځانګړې توګه نادرخان د دې پلوي و چې شوروي روسیه دې د سیستان له لارې پوځي مرسته وکړي او د کربښې اخوا پښتانه د عمومي پاڅون وکړي. خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه چې د روسانو مرسته یقیني نه وه امان الله خان د ۱۹۲۰ کال په اپرېل کې سویتس ته اعلام وکړ د دې له پاره چې افغانستان د روسيې او برتانيې د لاس اچونې ډګر نه شي په کلکه د بې پلوۍ کرښلاره به مخته بوزي.۴۰۴ په دې توګه د افغان دهلېز د بلشویکانو په وړاندې وتړل شو.

د۱۹۲۰ کال په اوړي کې د افغانستان د دهلېز د بندېدلو په درشل کې سوریتس د مسکو نه غوښتنه کوله چې بېرته یې وغواړي. خو په مسکو کې د سوریتس د ملاتړ په خاطر د ۱۹۲۰ کال د جولای په میاشت کې جمال پاشا چې د ترکيې وتلی پوځي- سیاسي شخصیت و چې دا مهال د شوروي حکومت سره د همکارۍ له پاره حاضر شوی و، کابل ته ولېږي. جمال پاشا د لومړۍ نړیوالې جګړې پر مهال د عثماني امپراتورۍ د وسله والو قواو وزیر او په سوریا کې د ترک د څلورم پوځ قوماندان و. هغه د برتانوي پوځ په وړاندې د جګړې د لارښوونې له امله په اسلامي هېوادو کې د «اسلام زمري» نوم ګټلی و. په ۱۹۱۸ کال کې د ترکيې د تسلیمېدو وروسته المان ته وتښتېد.

د المان د پوځ مشر فون سکېت د دې وېرې نه چې برتانیا په جګړه کې د مات شوي المان څخه د ترکيې د تېرو متحدینو غوښتنه ونه کړي د ترکيې پخواني د دفاع وزیران انور پاشا او جمال پاشا یې په پټه شوروي اتحاد ته ولېږل. د تیخونوف په وینا سرنوشت خپل کار وکړ او جمال پاشا د افغانستان او شوروي اتحاد د اړیکو په ټینګولو او د پښتنو قبیلو د برتانيې ضد غورځنګ په پورته کېدو کې مهم رول ولوباوه. روسانو د جمال پاشا د مسلکي، ډیپلوماسي شوونتیاوو او د انګرېزانو نه د زیاتې کرکې د ځانګړتیاوو نه ښه ګټه پورته کړه او هغه یې د لسو نورو ترکي افسرانو سره افغانستان ته واستوه. د ۱۹۲۰ کال په اکتوبر کې جمال پاشا کابل ته ورسېد. د کابل ښاریان د ده مخې ته ورغلل او د کابل ښار سرتیري د ده مخې ته سلامي تېر شول او د سلامی توپونو ډزې وشوې.

امان الله خان د جمال پاشا تود هرکلی وکړ او هغه یې خپل مشاور وټاکه. جمال پاشا د ۱۹۲۰ کال په نومبر کې امان الله خان د برتانيې پر ضد د خپلې مبارزې د پروګرام سره اشنا کړ. امان الله خان او جمال پاشا څو ورځې پرله پسې په ډېرو پټو خبرو کې چې د پردې تر شا کېدې د برتانيې پر ضد د جګړې د نیولو په صورت کې تدبیرونه وارزول. سوریتس د دغو خبرو په اړه مسکو ته د جمال پاشا د اطلاعاتو یو رمزي ګزارش ولېږه چې په هغه کې «په مسکو کې د جوړ شوي پروګرام د پلي کېدو شوونتیاوې چې کریملن ورته سترګې په لاره و، انعکاس موندلی و.»۴۰۵

ترکي سیاست پوه په دې اړه د افغان لوري هوکړه په لاس راوړه چې د هند او

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان د سرحد د ساتنې لارښوونه وکړي. هغه ته همدارنګه اجازه ورکړ شوې وه چې د پښتنو قبايلو سره چې د انګرېزانو د پوځ سره په جګړه بوخت وو تماسونه ټينګ کړي. په قبايلو کې د پوځي کار د تنظيم په موخه د جمال د وړانديز سره چې يو «ځانګړی کميسيون» جوړ شي چې په هغه کې په باوري توګه د شوروي نماينده ګانو ته اجازه ورکړه شي چې د ترک افسرانو په جامو کې ګډون وکړي، هوکړه ترلاسه کړه. امان الله خان جمال ته اجازه ورکړه چې په کابل کې يوه ګوزاريزه قطعه جوړه کړي.

جمال د مسکو اجنټ وکولی شول چې د ترک افسرانو په مرسته درې پلي کنډکونه او يوه د سوارو قطعه جوړه کړي. په دغو قطعاتو کې د قبايلو جنګيالي په خوشالۍ سره منل کېدل. د ۱۹۲۱ کال فبروري کې د «ګوزاريزو» قطعو شمېر نږدې درې زرو ته ورسېد. جمال د دې پلوي و چې هر څومره زر چې کېږي د افغانستان او شوروي اتحاد تر منځ تړون لاسليک او افغانستان ته پوځي مرسته زياته شي.

شوروي سفارت د جمال پاشا په مرسته د کابل او مسکو تر منځ د باور بحران له منځه يووړ. د ترکيې پخواني وزير د ۱۹۲۰ کال د پيل نه د شوروي جاسوس په حيث په کابل کې کار کاوه او د افغان امير پوځي مشاور هم و. د ده تر ټولو مهمه دنده دا وه چې «په هند کې انقلاب» تنظيم کړي. د ۱۹۲۱ کال په مارچ کې هغه د دفاع وزير نادر خان سره چې د انګرېزانو په وړاندې د پښتنو قبايلو د کارولو د موضوع په اړه همفکره و، د قبايلو کتنه وکړه. قبايلو هيله درلوده چې د جمال په منځګړتيا به د شوروي نه وسله او پيسې لاس ته راوړي. عبدالرزاق د وزيري قبيلو روحاني مشر چې دوولس زره وزير او مسعود يې تر قوماندې لاندې وو او د انګرېزي پوځ په وړاندې جنګېدل هوکړه وکړه چې د جمال د پلان په پلي کولو کې مرسته وکړي. عبدالرزاق د ۸۰۰ زرو کابلي روپۍ او وسلې چې د ده په جنګياليو ووېشل شي، وړانديز وکړ. جمال د خپل پلان د پلي کولو له پاره مسکو ته د وسلې او پيسو وړانديز وکړ خو مسکو دغه لګښتونه په غاړه وانه خېستل. په دې چې دغه مهال د انګليس او شوروي تر منځ د مارچ په ۱۶مه د سوداګری تړون لاسليک شو چې د لندن او مسکو تر منځ د ټينګو اړيکو پيل شو او د جمال پاشا د پروګرام پلي کول يې ناشوني کړل. جمال پاشا مسکو ته لاړ چې د خپل پلان د منلو له پاره د لنين سره وګوري خو هغه ورسره ونه کتل. په مسکو کې د هغه سره د يو څه مرستې خبره وشوه خو کله چې تبليسي ته راورسېد په مرموز ډول ووژل شو. روسان يې پړه په ارمنيانو اچوي خو امريکايي تاريخپوه د. اسپين وايي چې هغه شوروي استخباراتو ووژه ځکه چې نور يې د بلشويکانو له پاره ارزښت نه درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوروي روسیې نه یوازې په کابل کې د خپل سفارت له لارې په افغانستان کې خپلې موخې پرمخ بیولې بلکې د کمونېستي انټرناسیونال یا کمینټرن او په ترکستان کې یې د هغه د جوړښتونو څخه ګټه پورته کوله. شوروي روسیې غوښتل چې هند ته د انقلاب د صادرولو په موخه مالي او مادي سرچینې په افغانستان او د پښتنو قبایلو کې متمرکزې کړي. د پښتون قبایلو ستر پاڅون کېدای شو چې په پنجاب او هند کې په برتانیې درونډ ګوزار وکړي. له دې کبله په ۱۹۲۰ کال کې د لینن په غوښتنه هغه ته د افغانستان د پولې دواړو خواوو پښتنو، د سوویلي افغانستان او د شمالي هند نقشه ورته تهیه شوه.

د ۱۹۱۹ کال په لومړیو کې په ترکستان او کابل کې د هند انقلابي اډې د جوړولو کار پیل شو. په کابل کې د کمینټرن په دستور په دې اړه لومړی ګام براوین واخېست. براوین د هند نېشنلستانو او د پښتنو قبایلو نماینده ګانو «د سرحد انقلابیون» سره یې د انګرېزانو ضد مبارزه کې د مرستې ژمنه وکړه. په کابل کې د شوروي روسیې نوي سفیر سوریتس چې په منځنۍ اسیا کې د کمینټرن رسمي نماینده هم و، په کابل او هند کې د انګلیس ضد عناصرو سره خپله همکاري پراخه کړه. د سوریتس د سفارت په وخت کې د کابل او مسکو تر منځ د اړیکو چارې په بهرنیو چارو کې د خلک کمیسار او د انګلیس ضد عناصرو سره پټې اړیکې کمینټرن پر مخ وړې. خو د ۱۹۴۳ کال پورې چې کمینټرن ړنګ شو ټولو شوروي سفیرانو په دوو رولونو کې لوبه کوله. دوی د خپلو اصلي دندو په څنګ کې په پټه ناقانونه چارې پر مخ بیولې.۴۰۶

د سوریتس لومړی ستر بریالیتوب د ۱۹۲۰ کال په فبروري کې په کابل کې «د هند انقلابي ټولنه» جوړېدل و چې په هغې کې د هند د نېشنلستانو بیل بیل ګروپونه سره یوځای کول خو یوازې د «د هند موقت حکومت» د مهندرا پراتاب په مشرۍ ورسره یوځای نه شو. عبدالرب د ټولنې مشر په توګه وټاکل شو. زر د ټولنې د غړو شمېر ۱۵۰ تنو ته ورسېد او وکولی شول چې د پښتنو قبایلو په ترڅنګه کې خپل کار پیل کړي. د سوریتس پیامونه، د لینن لیکونه او کمونیستي اثار چې د دغه سازمان له لارې قبایلو او د هند شمالي غرنیو سیمو ته لېږدېدل د برتانیې استخباراتو لاسته ورغلل چې په هند کې د کمینټرن د لومړیو اجنټانو په بندي کولو سره تمام شو.

همدارنګه د ۱۹۲۰ کال د مارچ په ۳۱مه د هند د موقت حکومت د کورنیو چارو مرستیال محمد علي او محمد شفیق د مرستې له پاره تاشکند ته راغلل. دوی غوښتل چې د افغانستان له لارې د شوروي روسیې په لاسوهنې سره خپل وطن د انګرېزانو د منګلو نه وباسي. محمد علي زر پوه شو او د کمینټرن سره یې همکاري پیل کړه. د دغې شېبې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد علي د کمینترن د اساسي دسیسو یوه مهمه مهره وګرځېد. خو څنګه چې د دغو ناسیونالستانو نه روسانو د خپلو ځانګړو موخو له پاره دومره ګټه نه شوه پورته کولی نو اړ شول چې د یوه بل کس په لټه کې شي.

په ۱۹۱۹ کال کې لینن مکسیکو ته بورودین ولېږه چې په مکسیکو کې د هغه هېواد د سوسیالست ګوند عمومي منشي د هند تبعه مهاندارات روي سره اړیکه ونیسي. م. روي د لومړۍ نړیوالې جګړې په جریان کې د انګلیس ضد کړنو له امله چې ځان د بندي کېدو نه وژغوري مکسیکو ته تښتېدلی و. د ۱۹۱۹ کال په نومبر کې د ده په ګډون سره د مکسیکو کمونېست ګوند جوړ شو چې سمدلاسه یې د کمینترن سره خپل پیوستون اعلام کړ. م. روي په ۱۹۲۰ کال کې د مکسیکو د کمونېست ګوند د نماینده په حیث د کمینترن په دوهمه کنګره کې د ګډون له پاره مسکو ته لاړ. هلته یې د لنین سره ولیدل. م. روي د ۱۹۲۰ کال د اګست په اتمه نېټه د کمینترن د ترکستان د دفتر یو له مشرانو څخه وټاکل شو. په دې توګه هند ته د افغانستان له لارې د انقلاب د صادرولو د سازمانولو له پاره لوی واک او سرچینې ورکړل شوې. دا کار د سرحد د پښتنو قبایلو د ګډون پرته ناشونی و.

په ۱۹۲۰ کال کې کمینترن د بلشویکانو په ملاتړ یو لوی پوځي پلاوی د بورودین او روي په مشرۍ افغانستان ته د لېږلو له پاره تهیه کړو. بورودین او م. روي سره د ډېرو پیسو او زیاتو وسلو ژمنه وشوه  خو چې تاشکند ته راورسېدل هېڅ یوه ژمنه یې تر سره نه شوه او د نامالومو دلایلو له مخې دا پروژه راتلونکې ته پاتې شوه.

م. راوي کله چې تاشکند ته راورسېد د خپل پروګرام په پلي کولو پیل وکړ. بورودین او روي هلته د پوځي زده کړې بورډ جوړ کړ چې په هغه کې به هندیانو ته پوځي زده کړه ورکوي. پرېکړه وشوه چې په هغه کې به دوه دریمه برخه افسران د هند د شمال ختیځو سیمو مسلمانان شاملېږي. سوکولنیکوف او روي غوښتل چې شپږ میاشتې وروسته سل تنه «انقلابي افسران» د پښتنو قبایلو ترانګې ته ولېږي چې هلته «هندي لوا» جوړه کړي. د دغې موخې له پاره ځانګړی پوځي پوهنځی جوړ شو. خو په تاشکند کې یوازې ۲۵ تنه هندیان حاضر شول چې په دغو کورسونو کې شامل شي. د بخارا د نسکورېدو وروسته هندي مهاجرو زیاتوالی وموند. په دغو مهاجرو کې یو شمېر سوداګر هم وو چې د سیاست سره یې مینه نه ښودله. د دوی نه د هندي او افغاني هویت اصلي اسناد واخېستل شول او له دغو اسنادو نه هند او افغانستان ته د کمینترن د اجنټانو د استولو له پاره د دغو هېوادو د اتباعو تر نامه لاندې ګټه پورته کېده.

د ۱۹۲۰ کال په اکتوبر کې د ترکستان د کمینترن د دفتر په همکارۍ په ترکستان کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان د اتباعو نه د افغانستان د مظلومو پرګنو د ازادۍ له پاره «د افغانستان انقلابي کمیټه» جوړه شوه. د دغې کمیټې مشر محمد یعقوب و چې غوښتل یې امان الله خان د شوروي په مرسته نسکور او په افغانستان کې سوسیالستي بدلونونه منځ ته راولي. که څه هم دا طرحه پلې نه شوه خو کمینترن د ۱۹۲۰ کال تر پایه په هرات، میمنه، مزار شریف او نورو ځایونو کې پټې اډې جوړې کړې وې.

د هند په خاوره کې د جنګي عملیاتو پلان د پښتنو قبایلو د ملاتړ پرته ناشونی و. له دې امله کمینترن ته د پښتنو جلبول لومړۍ درجه اهمیت درلود. دا ناڅاپي نه ده چې د هند د کمونېست ګوند اول نمبر کارت چې راوي جوړ کړی و، په تاشکند کې عبدالقیوم دولت خېل پښتون توکمي ته چې د خیبر او وزیریستان د کمیسار د مرستیال وراره و، ورکړ شو. دغه ځوان په ۱۹۲۰ کال کې د لهستان (پولنډ) نه چې هلته د سره پوځ په لیکو کې په جګړه بوخت و، تاشکند ته راوغوښتل شو چې په تاشکند کې د هند په انقلابي کمیټه کې خدمت وکړي.

د ۱۹۲۰ کال په نومبر کې د ازادو قبایلو نه لس کسیز پلاوی د محمد اقبال او عبدالحق په مشرۍ تاشکند ته ورسېد. د کمینترن له خوا عبدالحق ته دنده وسپارل شوه چې ازادې ترانګې د پښتنو په منځ کې د برتانیې ضد فعالیت د باجوړ نه پیل کړي په دې چې کمینترن هلته لا پخوا پټ مرکز جوړ کړی و. د همدې کال د نومبر په ۲۵مه اقبال او عبدالحق افغانستان ته روان شول او د ۱۹۲۱ کال د فبروري په لومړۍ نېټه کابل ته ورسېدل. عبدالحق په کابل کې وکولی شول چې د امان الله خان سره وګوري. هغه هڅه وکړه چې د هغو طلایې پیسو سره یو ځای برتانوي هند ته وتښتي چې په تاشکند کې یې د کمینترن نه ترلاسه کړې وې خو د افغانستان د حکومت له خوا ونیول شو. د هغه نه هغه لیک هم لاسته راغی چې د سرحد انګلیسي کمیسار ګرانټ هاملټون ته یې لیکلی و. عبدالحق په خپل پیام کې ګرانت ته لیکلي و چې هغه د تاشکند نه د مهمو اطلاعاتو سره درځي او د هغه نه یې هیله کړې وه چې له افغانستان نه هند ته د ننوتو اجازه ورکړي. د دې شیبې نه مالومه شوه چې عبدالحق د انګرېزانو جاسوس و. شوروي اړتیا درلوده چې په دې پوه شي چې عبدالحق انګرېزانو ته کوم مالومات ورکړي دي. په دې اړه شوروي سفیر سوریتس د طرزي نه وغوښتل چې عبدالحق دوی ته وسپاري چې بېرته یې تاشکند ته بوزي او ورڅخه پلټنې وکړي. خو د سوریتس غوښتنه ونه منل شوه. افغان حکومت روسانو ته اجازه ور نه کړه چې په دهمزنګ کې د عبدالحق نه پوښتنې وکړي او ان د عبدالحق د دوسیې د لوستلو اجازه یې ورنه کړه. یو کال وروسته عبدالحق په بندیتون کې ووژل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې وروسته م. روي ته د مرستې له پاره د بلوچستان نه دوه خانان تاشکند ته راغلل. د کمینټرن په اسنادو کې دوی د «مصري خانوف» په نامه یاد شول. م. روي هغوی ته د سرو او سپینو زرو پیسې او یو څه وسله ورکړه. خو دوی چې بدخشان ته ورسېدل هر څه یې د بدخشان والي ته ورکړل. دغه کار کمینټرن ته دا مالومه کړه چې د قبایلو مشران د انګرېزانو ضد مبارزه کې امان الله خان خپل اصلي ساتونکی بولي او نه یې غوښتل د هغه د خبرولو پرته کوم عملیات د پښتنو سیمو کې په لاره واچوي.

کمینټرن د دغو ماتو سره سره په دې بریالی شو چې «د غزا د لارې مله» یا وهابیونو سره چې د هند په مسلمانانو کې ډېر مشهور وو، تماس ونیسي. په ۱۹۱۹ کال کې محمد یاسین د وهابیونو نماینده کابل ته راغی او د شوروي ډیپلوماتانو سره یې تماس ونیو او د هغې وروسته تاشکند ته لاړ او د کمینټرن څخه یې د سازمان له پاره مرسته واخېسته. وهابیانو د دې مرستې په مقابل کې د کمینټرن سره ژمنه وکړه چې د پښتنو قبایلو په منځ کې به د انګلیس ضد تبلیغ په ساحه کې د کمینټرن سره مرسته وکړي.کمینټرن وکړای شول د وهابیونو په مرسته د پښتون قبایلو په ترانګه کې خپل دریځ پیاوړی کړي.

کمینټرن هڅه وکړه چې په هند کې د انګلیس ضد فعالیت له پاره په کابل کې پټ مرکز جوړ کړي. د دې کار له پاره د ۱۹۲۱ کال د جنوري په پنځمه د کوشک له لارې په کابل کې د کمینټرن لومړی جاسوس محمد علي چې د کمینټرن په راپورونو کې د بوس په مستعار نوم یادېده، کابل ته راغی. محمد علي د شوروي سفارت سره په اړیکه کې باید په افغانستان او هند کې د مالوماتو د راټولولو پټ د جاسوسی پراخ جال وغزوي؛ د هند د ملي ازادي غوښتونکي غورځنګ مشرانو ته شوروي روسیې ته د راتګ زمینه برابره کړي او پښتنو قبایلو ته د روسي وسلو قاچاق تنظیم کړي.

د کمینټرن جاسوس په کابل کې سمدلاسه د «هند د موقت حکومت» پخواني وزیر عبیدالله [سیندي] کور ته چې د افغان حکومت سره یې ښې اړیکې درلودې لاړ او هلته اوسېده. عبیدالله د حکومت کارمندانو ته تضمین ورکړ چې محمد علي به په افغانستان کې کمونېستي پروپاګند نه خپروي. تیخونوف وایي چې مولوي عبیدالله سیندي په کابل کې د «شوروي نفوذ» عامل وګرځېد. په دې توګه د محمد علي له خوا د مولوي عبیدالله سیندي جذب په کابل کې د کمینټرن د جاسوس لومړنی غټ بریالیتوب و. عبیدالله چې د قبایلو سره یې ښې اړیکې درلودې سوکه سوکه یې محمد علي ته پرېښودې. برسېره پر دې عبیدالله د سپاسالار نادرخان سره چې د شمال ختیځ هند د پښتنو د برتانیې ضد مبارزو ټینګ ملاتړی و دوستي لرله. نادر په دغو پښتنو کې ډېر شهرت درلود او د افغانستان او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هند په وضعه ښه پوهېده. محمد علي د عبیدالله په مرسته د پښتنو قبایلو په اړه ارزښناک مالومات ترلاسه کول. عبیدالله په سخاوتمندانه ډول د محمد علي له خوا تمویلېده.

دا مهال د سوریتس پر ځای په کابل کې راسکولنیکوف د سفیر او د کمینترن د مشر په توګه وټاکل شو. ده ته مسکو لارښوونه کړې وه چې په هند او د پښتنو قبایلو په تړانګه کې پټ کار ته دوام ورکړي او نور پراخوالی ومومي.

د ۱۹۲۲ کال په جنوري کې محمد شفیق د هند د کمونیست ګوند مشر په تاشکند کې د م. روي سره یوځای شو او په پټو چارو کې یې فعاله برخه واخیسته. شفیق په کابل کې «د سرحد ملي ګوند» جوړ کړ چې په پروګرام کې یې د پښتنو ازادي او هند د برتانیې د سلطې نه خلاصول و. د سرحد د ملي ګوند برنامه د امان الله خان د تایید له پاره هغه ته ولېږل شوه. خو په دې باندې د شوروي روسیې سفیر راسکولنیکوف خوابدی شو په دې چې د ده په اند د افغانستان او روسیې موخې د پښتنو قبایلو په تړانګه کې بیلې بیلې دي. په دې اړه ده اجرایه کمیټې ته لیکلي و: «د ازادو قبایلو په منځ کې د انقلابي کار سره د افغانستان شاهي هېواد د لاسوهنې امپریالېستي هدفونه تعقیبوي خو زموږ هدف د هند او قبایلو واقعي ازادي ده.»۴۰۷ زما په اند په هند او قبایلو کې د راسکولنیکوف د واقعي ازادۍ نه موخه دا ده چې هلته خپل جاسوسان په واک کړي او د شوروي روسیې تر سیخې ډېکټې لاندې چارې تنظیم کړي.

د حیرانۍ ځای دی چې د شوروي روسیې سفیر د افغانستان واکمنان چې د خپلې خاورې د لاسته راوړلو هڅې کوي د دوی دغو هڅو ته امپریالیستي موخې وایي او خپلو نیواک ګرو موخو ته واقعي ازادي وایي. راسکولنیکوف د شفیق سره اړیکې پرې کړې او هغه هند ته واستول شو او انګرېزانو بندي کړو. د راسکولنیکوف له لوري د سرحد د ملي ګوند تحریم او د کابل نه د شفیق لرې کولو ثابته کړه چې شوروي روسیې او کمینترن هڅه کوله د پښتنو قبایلو د پاخون نه د هند د بې ثباتۍ له پاره کار واخلي. تیخونوف وایي چې دوی په نظر کې نه لرل چې د پښتنو خاوره دې د افغانستان سره یوځای شي. په داسې حال کې چې د افغانستان سره د پښتنو د خاورې یوځای والی په منځنۍ اسیا کې د برتانیې په تولو امپراتوري یو حساس ګوزار و.

راسکولنیکوف د محمد علي له لارې عبیدالله سیندي ته ۲۰۰۰ پونډ سټرلینګ د برتانیې ضد د پښتنو قبایلو د غورځنګ د تمویل له پاره ورکړې. روسانو د وهابیانو په مرسته وکولی شول چې په خیبر او وزیریستان کې دوې کمیټې جوړې کړي چې د کمینترن له

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوا تمویل کېدې او د هغه دستورونه يې پلي کول. په ۱۹۲۴ کال کې په خیبر کې د کمینټرن پټ ګروپ جوړ شو.

د ۱۹۲۴ کال په جون کې د وانه ګروپ ته لارښوونه وشوه چې په وزیریستان او بلوچستان کې یو پراخ پټ جال خپور کړي. په باجوړ کې د سید آشان مرکز مشري د غلام عزیز په غاړه وه چې د محمد علي په وړاندیز هلته ټاکل شوی و. په دېره کې د کمینټرن یو بل مرکز د مخفي په نوم چې د محمد علي ملګری و جوړ شو. په کابل کې شوروي سفارت د تورنګزو د حاجي سره د چمرکنډ د وهابیونو له لارې اړیکې ټینګې کړې وې.

د ۱۹۲۱-۱۹۲۲ کلونو کې د کمینټرن د اجنټوری کړه وړه د کابل او لندن تر منځ د اړیکو د ښه کېدو په لاره کې جدي خنډ و. امان الله خان د خپلو سمونونو د پلي کولو له پاره د انګلیسانو سره سولې ته اړتیا درلوده. له دې کبله د افغانستان حکومت په ۱۹۲۲ کال کې د کمینټرن د فعالیتونو د مخنیوي له پاره کلک تدبیرونه ونیول او د کمینټرن اجنټان د افغانستان نه وایستل شول. د ۱۹۲۲ کال د اکتوبر په میاشت کې عبیدالله سیندي د مخه تر دې چې د وتلو امر ورته وشي په خپله تاشکند ته لاړ. همدارنګه په ۱۹۲۲ کال کې د هند د ناسیونالستانو مرکز چې د لومړۍ نړیوالې جګړې راهیسې فعال و خپل شتون ته د پای ټکی کېښود. په دې توګه د کمینټرن فعالیت د یو څه وخت له پاره فلج شو.

له دې وروسته دا چارې د شوروي روسیې حرفوي استخباراتو لاسته ولوېدې. اوس روسان اړ شول چې پامیر ګاونډیو هېوادو او هند ته د انقلاب د صادرولو په اړه بدل کړي. د ۱۹۲۱ کال په اوړي کې د قرغزستان د اوش په ښار کې د ت. دیاکوف په مشرۍ د پامیر ډله جوړه شوه چې د سیاسي استخباراتو چارې ارنستو پومپور پرمخ بیولې. ۱۹۲۲ کال ته نږدې ارنستو پومپور په زیات لګښت سره وکړای شول چې د افغان د پامیر د محلي حکومت سره اړیکې ټینګې کړي او د هغه کسانو کولی شول چې د خاروغ او د افغانستان په بیلو بیلو سیمو، کاشغر او شمالي هند کې ازاد وګرځي. د شوروي ټولو اجنټانو افغاني پاسپورټونه درلودل چې د امیر «وفادارو» مامورینو پرې پلورلي وو. د شوروي استخباراتو وکولی شول چې خپل لومړي بریالیتوبونه د افغانستان او هند په شمالي سیمو کې په زیاته اندازه د اسماعلیانو په همکارۍ سره ترلاسه کړي. د ۱۹۲۲ کال په پسرلي کې ارنستو پومپور وکولی شول چې په قطغن، خان اباد، د چین یارکند، چترال، او ګلګت په ښارونو کې د جاسوسۍ جالونه جوړ کړي. په ۱۹۲۲ کال کې شورویانو وکولی شول ډېره جاتو او پېښور ته لاره خلاصه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ترکستان کې د کمینټرن د بندېدو وروسته په ۱۹۲۲ کال لس تنه وفادار هندوان د چترال له لارې هندته واستول شول چې هغوی د انګرېزانو له خوا بندي او د ۱۹۲۳ کال د اپرېل او می په میاشتو کې په پېښور کې محکمه شول.

د شوروي روسیې او کمینټرن فعالیتونه چې د برتانیې په امپراتورۍ باندې د منځنۍ اسیا نه ګوزار وکړي انګرېزان اړ کړل چې په بېړه سره په ټولو جبهو کې د «سره ګواښ» په وړاندې غبرګون وښيي. په هند کې پېچلې وضعې غوښتنه کوله چې د خپل خطرناک سیال په وړاندې د ازادو قبایلو په لور د افغانستان دهلېز وتړل شي. انګرېزان د خپلو جاسوسي جالونو له لورې د بلشویکانو او کمینټرن د برنامو نه پوره خبر وو. د انګلیسانو جاسوسي جال په تاشکند او هم په مسکو کې د کمینټرن په جوړښتونو کې نفوذ کړی و. برسېره پر دې د انګرېزانو سره د مالوماتو په ټولولو کې د سپین ګارډ د جاسوسۍ جال اغېزمنه مرسته کوله. د انګلیس د جاسوسۍ راډیویي دستګاه چې د افغانستان او ترکستان په ساحه کې یې راډیویې مخابرات نیول په کوېټه کې پراته وه. هغه مهال چې د شوروي راډیویي دستګاه په کابل کې کار کاوه انګرېزان د افغانستان او شوروي اتحاد د ټولو پټو اړیکو نه خبر وو.

په کورنۍ جګړه کې د بلشویکانو بریالیتوبونو د د. ل. جورج حکومت اړ کړ چې د ۱۹۲۱ کال په پسرلي کې د شوروي روسیې سره سوداګري هوکړه لیک لاسلیک کړي. خو د برتانیې د بهرنیو چارو وزیر لارډ کرزن د روسیې د دېفکتو پېژندلو سره کلک مخالفت کاوه. د انګلستان د سوداګرۍ وزیر روسي پلاوي ته یو لیک وسپاره چې په هغه کې د برتانیې په ضد د نه انکار کېدونکو حقایقو پر بنا په افغانستان کې د شوروي نماینده ګیو او په ترکستان کې د هند د نېشنلستانو فعالیتونه وړاندې شوي و. روسانو په تاشکند کې هندي پوځي پوهنتون وتړلو، خو په واقعیت کې هغه په پټه بخارا ته یوړل شو.

دا مهال پښتنو د انګرېزانو د «پرمختګ پالیسۍ» په وړاندې ټوپک ته لاس واچاوه. د بلشویکانو مشرتابه پرېکړه وکړه چې د دغې وضعې نه په افغانستان او د پښتنو قبایلو په سیمو کې د خپل دریځ د پیاوړي کولو له پاره ګټه پورته کړي. د روسیې د کمونېستي ګوند په څنګ کې د افغانستان د مسایلو په اړه ځانګړې کمیسیون جوړ شو او د ۱۹۲۳ کال د فبروري په ۲۸ مه نېټه راسکولنیکوف ته لارښوونه وکړه چې د افغانستان په پوله کې د انګلیس د تیري په وړاندې د افغانستان د حکومت سره د یوه پټ هوکړه لیک په اړه خبرې پیل کړي. خو انګرېزان د دغو اقدامونو نه خبر شول د انګلستان د بهرنیو چارو وزیر د ټولو رښتینیو اسنادو په ښوولو سره روسیې ته التیماتوم ورکړ چې په هند کې خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



فعاليتونو ته د پای ټکی کيږدي او خپل سفير بېرته کابل ته وغواړي. د برېتانيا غبرګون کمينترن اړ کړ چې د ترکستان او بخارا د فترونو فعاليتونو ته د پای ټکی کيږدي. د ۱۹۲۴ کال د فبروري نه وروسته راسکولنيکوف بېرته خپل هېواد ته راستون شو او د شوروي هېواد نه د باندې اطلاعاتي چارې کسبي جاسوسان پرمخ بيولې.

## د پاچا امان الله خان لومړني سمونونه

کاکړ وايي چې په معاصر افغانستان کې امير شيرعلي خان لومړی افغان واکمن و چې د دولتي نظام د عصري کولو په لور يې ګامونه اوچت کړل. پاچا امان الله بيا دولتي نظام د عصري کولو برسېره د افغاني ټولنې د مدني کولو او عصري کولو له پاره د بېنسټيزو او پراخو سمونونو پلې کولو ته ملا وتړله «چې په هغو سره افغان ټولنه مدني، سياسي نظام عصري او د فرد خپلواکي واقعي کړي.»۴۰۸ امان الله خان د واکمنۍ په لومړي کال کې اجرايوي قوه تنظيم کړه چې په سر کې صدراعظم او وزيران وګومارل. پاچا امان الله لومړی افغان واکمن و چې د دولت درې ګونو قواوو (اجرايې، قضايې او مقننې) ته يې عصري بڼه ورکړه. خو پاچا امان لله سلطنت د حکومت نه بيل نه کړ يا يې په پوره اندازه بيل نه کړ. دی د پاچا په توګه غير مسؤل ګڼل کېده، وزيران ده ټاکل او هم يې ليرې کول او دوی يوازې ده ته مسؤل وو. وروسته يې د صدراعظمۍ چارې په خپل لاس کې ونيوې او تر پايه د غير مسؤل صدراعظم په توګه پاتې شو.۴۰۹

د پاچا امان لله له لومړيو بنسټيزو کارو يو دا شو چې چارې د ولس د استازو په مشوره يا لږ تر لږه د هغوی له لارې پرمخ بوزي. څرنګه چې په افغانستان کې د لومړي ځل له پاره په پراخ ډول سمونونه پلې کېدل نو اړينه وه چې نوي قوانين جوړ شي. د دغې موخې له پاره د «رياست محفل وضع قوانين» په نوم يوه اداره جوړه شوه چې مشر يې سردار شير احمد و. د قانون ايستلو رياست په دولتي شورا واړول شو چې نيمايي غړي يې پاچا ټاکل او نيمايي يې ولس غوره کول. په دې توګه دولتي شورا نيمه ملي وه. يوازې په ۱۹۲۸ کال کې پاچا د لويې جرګې له استازو سره ومنله چې دولتي شورا به په ملي شورا بدليږي او غړي به يې د خلکو له خوا ټاکل کيږي.

دولتي شورا، وزيرانو او لويو جرګو قانونو نه جوړول او هغه د پاچا امان الله د لاسليک او تېپه کېدو وروسته جاري کېدل. په دغه دوره کې د نظامنامو په نومونو زيات قانونونه راوايستل شول چې جوړه نه لري. د پاچا امان الله په وخت کې په افغانستان کې د لومړي ځل له پاره «تشکيلات اساسي افغانستان» په نامه نظامنامه يا اساسي قانون جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو. مخکې له دې اسلامي حقوق او عرف «ځايي دودونه» چلېدل. د کاکړ په وينا په اساسي قانون کې د مرکزي حکومت او ولايتي ادارو تشکيلات او دندې بيان شوې دي. په مرکز کې اوه وزارتونه، يوه دولتي شورا، او يوه د طب مستقله اداره تجويز شوې وه. د کابل ولايت امر والي، د ولايتونو امران نايب الحکومه ګان او د ځينو سيمو امران اعلی حاکمان ياد شوي دي. د ليرې اطرافي ورې سيمې علاقه داری يادې شوې دي. په ولايتونو کې مشورتي شوراګانې هم تجويز شوې دي. په دغه اساسي قانون کې د هېواد ټولو وګړو ته د جنس، قوم او مذهب د توپيرونو پرته يو هومره حقونه ورکړل او غلامي يې لغوه کړه.

کاکړ وايي چې د پاچا امان الله د واکمنۍ يوه ځانګړتيا د لويو جرګو جوړول و چې موخه يې ملت ته د لويو جرګو د رابللو له لارې د دولت په چارو کې ونډه ورکول و او دولتي نظام يې د قانون له مخې په مشورې باندې بنا کړ. کاکړ دا هم وايي چې پاچا امان الله د لويو جرګو نوښتګر دی او تر هغه د مخه بل افغان واکمن دغسې لويه جرګه نه ده بللې، چې غړي يې د افغانستان د ټولو برخو نه د خلکو له خوا غوره شوي وي. دی زياتوي چې د پاچا امان الله د لويو جرګو بله ځانګړتيا د هغو لوی والی دی، چې د ځينو غړي يې زر تنه وو.

کاکړ وايي چې پاچا امان الله په قضايي چارو کې هم بنسټيز بدلون راوست او په فقيهي قضيو کې يې «تعذير» په «تقدير» بدل کړ. د امان الله نيکه امير عبدالرحمن قاضيانو ته په دعوو په تېره جزايي موضوع ګانو کې دومره اختيار ورکړی و چې يو چا ته ان پخوا له دې چې عمل يې کړی وي، د ظاهر په نظر کې نيولو سره تر زندۍ کولو پورې جزا ورکړي. پاچا امان الله د قاضي پراخ اختيارونه مقدر کړل په دې مانا چې د هر جرم له پاره جزاګانې وټاکل شوې او قاضي نه شوای کولی چې د يوه جرم جزا په خپل اختيار سره لږه يا زياته کړي. د دې برسېره د تورنو محکمه علني شوه او د لوی څښتن او بنده ګانو حقونه سره بيل شول. غبار وايي چې دغو بدلونونو د قاضيانو ډله د تل له پاره د دولت او نويو بدلونونو نه کرکجنه او بېزاره کړه.۴۱۰ همدارنګه د هيواد د صنعتي کولو، د سوداګرۍ او د ډله يزو خپرونو د پراختيا له پاره ګامونه پورته شول.

پاچا امان الله د ټولنې د مدني کولو او پرمختګ په موخه نور سمونيز پروګرامونه تر لاس لاندې ونيول. په ۱۹۲۱ کال کې د صنعتونو د هڅونې په نوم قانون جوړ شو چې موخه يې د مالياتي شېوې په سمولو سره د هېواد صنعتي کول و. د امير عبدالرحمن د وخت د مالياتو شېوه، چې ماليات په جنس اخېستل کېدل، د پاچا امان الله په وخت کې بدله شوه او ماليات له جنس نه په نغده واړول شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پاچا امان الله په وخت کې باندنۍ سوداګرۍ ښه وده وکړه، په تېره بيا وروسته له هغه چې جرمني، پولنډ او په لومړيو کلونو کې شوروي افغان سوداګرو ته په خپلو ملکونو کې د ازاد ټرانزيټ امتياز ورکړ او افغانستان د ډېرو هېوادونو سره د جرمني، شوروي او هندوستان په ګډون د سوداګرۍ تړونونه وکړل. کاکړ وايي چې د دغو سمونونو او نوښتونو له امله پولي پانګه په پراخه اندازه په کار ولوېده او ډېره شوه. شرکتونه جوړ شول او د لګښتي مالونو له پاره يو شمېر فابريکې جوړې شوې او نورې يې د جوړېدو په حال کې وې. د ازاد مارکېټ او د لارو د سمولو له امله سوداګري او ورسره ملي اقتصاد په غوړېدو و، خو دغه کار وخت غوښته، چې حکومتي عوايد زيات شي. په دې توګه د پاچا امان الله په واکمنۍ کې پولي پانګه والو ته د پانګې اچولو ډګر پراخ شو تر څو افغانستان د پانګوالۍ درشل ته ننوزي.

د امان الله خان د سمونونو نه، چې په خپله يې د واکمنې طبقې ځينې پټکي په نېغ ډول وښورول، د هغو تنخواه ګانو، چې دولت پخوا مخورو کسانو ته لکه خان، ملک، پير، ملا او د کابل محمدزيو ته ورکولې، «د دغه اصل له مخې چې عايدونه بايد وګټل شي» ودرولې شوې يا لږ شوې.

په افغانستان کې د دولت له خوا ملايانو، پيرانو، سيدانو ته مواجب ورکول کېدل، چې د مغلو له وخته دود وو. ملايانو داسې ګڼله چې د شريعت له مخې تنخواګانې د دوی حق دی. که څه هم امير عبدالرحمن خان ملايانو ته تنخواه ورکول په دې پورې وتړل چې دوی بايد د ملا خوسه په مشرۍ کميسيون ته ازموينه ورکړي، څوک چې برياليي کېږي ، دولتي چارې به ترسره کوي. سيدان يې اړ کړل چې د مغولي حکومت هغه فرمانونه وښيي چې د هغو له مخې دوی تنخواګانې ترلاسه کولې. يوازې يو څو تنو دغسې فرمانونه وښودل. په پايله کې د دواړو ډلو شمېر په افغانسان کې لږ او نفوذ يې لږ شو. خو د دې پر خلاف امير عبدالرحمن د غلزيو له پاڅون نه وروسته د کابل محمدزيو هر نارينه او ښځې ته مواجب ومنل او محمدزيان يې د دولت شريکان وبلل. داسې هم د دولت له خوا هغو اطرافي مشرانو او خانانو ته له دې امله چې په جنګي بيړني حالت کې دولت ته جنګي مېړونه ورکول، تنخواګانې ورکولې. نو دولت د پاچا امان الله تر وخته پورې دغو ډلو او نورو ته مواجب ورکول بې له دې چې د دولت له پاره کار وکړي. دا چې پاچا امان الله د دغو ډلو دايمي معاشونه ودرول يا لږ کړل دا د دوی د خوابدۍ سبب شول او د دوی روغ نيتي يې د ځان په اړه له لاسه ورکړه. په دې ترتيب ساتنپالو د عبدالقدوس خان صدراعظم په سروالۍ، متنفذو روحانينو چې په سر کې يې د مجددي کورنۍ ولاړه وه او د جمهوريت

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتونکو کړی چې د محمدولي خان دروازي په سروالۍ یې، چې پخوا د دربار د غلام بچه ګانو مشر و، د امان الله خان پر ضد د دسیسو په جوړولو لګیا وو چې د امان الله خان د واکمنۍ په راپرزولو کې یې ټاکونکی رول ولوباوه.

خو دولت په افغانستان کې د پاچا امان الله تر وخته پورې خلک رعیت ګڼل او د منل شویو حقوقو او ازادۍ نه بې برخې وو. پاچا امان الله په اساسي قانون کې چې په ۱۹۲۳ کال کې لویې جرګې په پغمان کې پاس کړ، د هېواد وګړو ته یې د جنس، قوم، نژاد، مذهب له توپیر پرته برابر حقوق ومنل او په دې توګه یې د خلکو روغ نیتي وګټله.

پاچا امان الله پوهنې ته ځانګړې پاملرنه وکړه. دی په دې فکر و چې د هېواد پرمختګ د عصري پوهنې پرته ناشونی دی نو ځکه یې په ورېا توګه د پوهنې د عصري کولو او پراخولو ته رټ پام وکړ او د قانون له مخې یې په هېواد کې لومړنۍ زده کړې هرو مرو (حتمي) کړې. ده پوهنه نه یوازې د نارینه وو له پاره بلکې د ښځو دپاره هم غوښتله، ځکه چې پوهنه د ټولنې د پرمختګ کیلي ده او یو ډول په نارینه او ښځه دواړو د خدای له خوا فرض ده.

که څه هم په افغانستان کې د عصري پوهنې بنسټ د امیر حبیب الله خان له خوا په کابل کې د حبیبیې ښوونځي په پرانېستلو سره په ۱۹۰۳ کال کې ایښودل شوی و، خو امان لله خان عصري پوهنه ښه پراخه کړه. په دولتي بودیجه کې د دفاع او دربار د وزارتونو وروسته د پوهنې د وزارت بودیجه دریمه درجه وه. د پاچا امان الله د واکمنۍ پر مهال په ښارونو او ولایتونو کې ډول ډول ښوونځي پرانېستل شول.

د کاکړ په وینا د امیر امان الله خان په وخت کې د پښتو د رسمي کېدو دوهم حرکت د لومړي حرکت نه چې امیر شیرعلي خان په خپله دوهمه واکمني کې پیل کړی و نږدې نیمه پېړۍ وروسته په کندهار کې پیل شو. ده په کندهار کې د هغه ځای اړوندو چارواکو ته لارښوونه وکړه چې «د کندهار زده کوونکو ته دې په پښتو کې د زده کړې کتابونه برابر او د زده کوونکو شمېر د ډېر شي.»۴۱۱

امان الله خان په اساسي قانون کې د پښتو ژبې د رسمي کېدو او تعمیم ته ځای ور نه کړ که څه هم د جرګې زیات غړي پښتانه وو خو دوی د امیر په شمول د امیر شیرعلي خان غوندې قوي ملي شعور نه درلود چې د خپلې ژبې د رسمي کېدو او تعمیم په اهمیت وپوهېږي. خو امان الله د پښتو ژبې د ودې په موخه یې د «مرکه پښتو» اداره جوړ کړه.

د پاچا امان الله خان په وخت کې روغتیایي چارو ته هم پاملرنه وشوه او ملکي او پوځي روغتونونه جوړ شول. همدارنګه په کابل او اطرافي ښارونو کې حکومتي او غیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومتي خپرونې هم ووتلې چې د انيس خپرونه تر اوسه چليږي.

کاکړ وايي چې د سمونونو په پلي کولو سره لګښتونه هم ډېرېدل. دا چې نوې ودانۍ، روغتونونه، په بهر کې په سفارتونو او قونسلګريو، د وسلو او الوتکو په رانيولو او بانديني کارپوهانو ته د تنخواه په ورکولو سره لګښتونه ډېرېدل. خو دا حکومتي لګښتونه په عايدو سره که څه هم د پخوا نه ډېر شوي وو، نه پوره کېدل. له دې امله لکه چې د مخه مې يادونه وکړه حکومت د لګښتونو د کمولو له پاره په نفوذمنو ډلو مواجب ودرول. ده شايد د لګښتونو د لږوالي له امله پوځ لږ کړ او د «نمونې قطعې» په نامه يو نوی نظامي واحد جوړ شو، چې دا پوځي واحد به وکولی شي د بدامنۍ پېښو ته ځواب ورکړي. د اداميک په وينا پاچا په دې فکر و، چې نور د باندې نه افغانستان ته خطر متوجه نه دی او دغه لږ شوی پوځ به چې هوايي ځواک به يې ملګرتوب کوي، کورنيو ناکراريو ته به ځواب وويلی شي.

د لګښتونو د لګولو په موخه د افسرانو د يوې مياشتې تنخواه وګرځول شوه چې حکومت په بهر کې پوځي الوتکې رانيسي او په دې هم ټينګار وشو چې هغه ماليات دې راټول شي چې تر اوسه نه دي ورکړل شوي. دغو ټولو تجويزونو ځينې ډلې وپارولې او نورې يې خوښې کړې. خو حکومت نه شو کولی د اوږدې مودې دپاره خپل سمونونه په خپلو عايدونو سره پلي کړي. کاکړ وايي چې که لوړ حکومتي غړي په سمونونو باور درلودای، په خپلو کې يو موټی او د پاچا رښتيني مرستيالان وای، حکومت به نويو راهسکېدونکو پېښو ته اوږه ورکړې او شايد پر برلاسه شوي وای، خو داسې ونه شول. دوی په فکري او شخصي توګه په دغسې ډلو او کړيو وېشل شوي وو چې د يوه او بل پر ضد يې دسيسې کولې.۴۱۲

## سياسي ډلګۍ او دسيسې

د کاکړ په وينا په لوړه حکومتي کچه د ساتنپالو د صدراعظم عبدالقدوس په سروالۍ او د نوښتګرو او بدلون غوښتونکو د بهرنيو چارو د وزير محمود طرزي په مشرۍ تر منځ چاودون شتون درلود. لومړی چې د امير عبدالرحمن د وخت مامور و، داسې فکر کاوه چې «از طرف شرع انور مشروطه طلبان را بايد واجب القتل» دانست. د ده په اند «مشروطيت» هسې غولول دي او «د شرعې په امر بايد د مشروطه مکروب د منځه ولاړ شي.»۴۱۳ ده لا په ۱۹۲۰ کال کې خپل دا فکر د شوربازار حضرتانو ته څرګند کړې و. تر دې د مخه يې د کندهار د عالمانو نه هم په دغه اړه فتوا غوښتې وه، دغو عالمانو که څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم مشروطیت رد کړ خو د مشروطه غوښتونکو له منځه وړل یې هم رد کړل. په دې ترتیب صدراعظم عبدالقدوس چلند د شوربازار حضرتان او مذهبي عالمان په هماغه اول سر کې د بدلون غوښتونکو په وړاندې بدورګي کړل، چې وروسته د هغو نظرونو او کړو سختې پارونې وکړې.

دغه چاودون یوازې د ساتنپالو او بدلون غوښتونکو تر منځ نه و بلکې د بدلون غوښتونکو تر منځ هم شتون درلود. د بدلون غوښتونکو د سیاسي ډلو نه مهمه یې د جمهوریت ډله وه. منشي علي احمد لیکي: «په کابل کې یو شمېر کسان چې زده کړې یې کړې او په باندنیو هېوادونو کې ګرزېدلي وو، د محمد ولي په ګوند کې په پټه ننوتل او د افغان جمهوریت جوړولو په امکاناتو باندې یې په پټه بحثونه کول. په هغو کې دا کسان وو: غلام صدیق [څرخي]، عبدالهادي خان [داوي]، حبیب الله خان (د حرب وزیر مرستیال)، عبدالرحمن لودین، علي محمد خان، میرزا محمد خان، میر سید قاسم خان، ځینې نظامي افسران او ځینې غیر مهم کسان لکه میر غلام محمد او نور. شجاع الدوله خان او محمد یعقوب خان (د دربار وزیر) هم په دغه ګوند کې وو.»۴۱۴

د علي احمد منشي په وینا «دغه ګوند دې نتیجې ته ورسېد چې د پوځ د مرستې نه پرته به په مقصد ونه رسیږي او د مصطفی کمال او رضاخان پهلوي مثال د دوی په مخ کې و.»۴۱۵ په دې توګه جمهوریت غوښتونکو، چې په سر کې یې محمدولي دروازي و دا پلان درلود چې امان الله د پوځي کودتا له لارې رانسکور کړي. نادر خان د دفاع د وزیر په توګه د دوی په وړاندې لوی خنډ و. دوی وېتیله چې خپلې موخې ته د رسېدو له پاره باید نادر خان د دفاع د وزارت نه ګوښه او پرځای یې محمدولي دروازي د دفاع وزیر شي. له دې کبله دوی د دسیسو په جوړولو پیل وکړ.

کیسه داسې وه چې محمد هاشم خان غوښتل چې د امان الله د خور سره واده وکړي. امان الله خان هم ورباندې راضي و خو د امان الله خور د هاشم خان سره د واده کولو سره هوکړه ونه کړه. له دې کبله امان الله خان د خپل لوز نه، چې خپله ګرانه خور هاشم خان ته په نامه کړي، په شا شو. د دغې موضوع نه دسیسه ګرو د باچا امان الله خان او محمد نادر خان تر منځ د نفاق اچولو په موخه ګټه پورته کړه او پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ دغه دسیسه د علي احمد منشي د لیکنې پر بنسټ داسې بیانوي:

«دوی د محمد نادر پر ضد په دسیسولاس پورې کړ او پاچا امان الله یې په پټه قانع کړ چې هغه او ورور یې محمد هاشم د هغه د خور، نور سراج په سر له هغه نه اوښتي او په دې لټه کې دي، چې هغه خپله کړي او که هسې ونه شول په دغې لار کې ځانونه یا امان

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله خان ووژني. دا هغه وخت و چې امان الله خان د خپل لوز نه اوښتی و، چې دغه خور محمد هاشم ته په نامه کړي. په عين حال کې دسيسه ګرو محمد نادر ته ورسوله چې امان الله دغه خور د کورنيو چارو وزير عبدالعزيز ته په نامه کوي. دسيسه ګر په دې ډول بريالي شول چې امان الله خان ته د محمد نادر وفا لرل خنثی کړي او امان الله خان د هغو نه بېګانه کړي. دسيسه ګرو محمد نادر ته وروسته له هغه چې هغه د خپل ځان په اړه د امان الله خان په اوړېدلي سلوک خبر شوی و، دا هم ورسوله چې امان الله خان د هغه د ډېرېدونکي نفوذ نه انديښمن دی او په دې لټه کې دی چې نسکور يې کړي. دسيسه ګرو په عين حال کې يو سړی وګماره چې په محمد نادر ډزې وکړي، هغه پرې ډزې وکړې او محمد نادر هغه د امان الله خان په لمسونې وګڼلې او ځان يې د ناروغ په پلمه په کور کې ايسار او د جنګ له وزارت نه ګوښه کړ. هغه د خوست تر بلوا پورې په کور کې و، خو په بلوا کې يې لاس نه درلود. په داسې حال کې چې مخالفانو يې پاچا ته رسوله، چې هغه په کې لاس لري.»۴۱۶ محمد حسن کاکړ زياتوي چې امان الله خان «د جنګ له وزارت نه د محمد نادر خان په ليرې کولو سره چې مسلکي جنرال و او پر ځای يې د محمدولي په ټاکلو سره چې يو غير مسلکي مامور و پوځ غټه صدمه وليدله.»۴۱۷ محمد نادر په فرانسه کې سفير وټاکل شو او فرانسې ته لاړ. هغه هلته د سفارت نه استعفی وکړه او په فرانسه کې پاتې شو.

## د خوست بلوا

د مخه مې يادونه وکړه چې ساتنپالو د عبدالقدوس خان صدراعظم په سروالۍ، متنفذو روحانيونو چې په سر کې يې د مجددي کورنۍ ولاړه وه او د جمهوريت غوښتونکو کړۍ چې د محمدولي خان دروازي په سروالۍ يې، چې پخوا د دربار د غلام بچه ګانو مشر و، د امان الله خان پر ضد د دسيسو په جوړولو لګيا وو چې د امان الله خان د واکمنۍ په راپرزولو کې يې ټاکونکی رول ولوباوه. بلواګرو پخوا له دې چې د حکومت پر ضد وسلې ته لاس واچوي د حکومت نه وغوښتل چې د قانون هغه مادې بدلې کړي چې د دوی په فکر د اسلام مخالفې وې. پاچا دوی ته وويل چې دغه قانونونه ديني عالمانو منلي او دوی يې د خبرو له پاره کابل ته وغوښتل. وروسته له دې چې بلواګرو د پاچا بلنه ردکړه ، پاچا دوی ته يو دولتي پلاوی واستاوه خو ګټه يې ونه کړه.د خوست بلوا چې د ۱۹۲۴ کال د مارچ په مياشت کې د ملا عبدالله چې په ګوډ ملا يادېده او ملا عبدالرشيد په مشرۍ پيل شوه، چې ځدرانو او منګلو يې ملاتړ کاوه. د دوی سره نور قومونه هم يوځای شول. بلواګرو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومتي ځواکونو نه ګردېز، تېره کنډو او لوګر ونیول. وروسته د غزني یاغیان ورسره یوځای شول او تر شیخ اباد پورې ورسېدل. برسېره پردې په کاپیسا، پروان او ننګرهار کې د حکومت پر ضد تبلیغونه هم وشول او یو ځای بل ځای دړه ماران هم هسک شول. په دې توګه کابل د لوګر او وردګو له خوا د ګواښ لاندې راغی. پاچا وروسته په اوړي کې لویه جرګه راوغوښته چې په پغمان کې جوړه شوه چې ځینې سمونونه یې لغوه کړل او ځینې یې بدل کړل. خو دغې جرګې هم د یاغیانو په غلي کولو کې مرسته ونه کړه.

د دې بلوا په یون کې د حکومتي پوځونو او یاغیانو تر منځ خونړۍ نښتې وشوې او له دواړو خواوو نه ډېر افغانان ووژل شول. کاکړ وايي چې د سرښندونکو (جان فدا) په نوم د یوه اته سوه کسیز پوځي واحد نه یو تن هم ژوندی پاتې نه شو. په دې مهال د لومړې ځل له پاره د یاغیانو په وړاندې د بهرنیو پیلوټانو نه په ګټه اخېستلو سره پوځي الوتکې وکارول شوې. د خلکو ذهنیت هغه وخت د حکومت په ګټه بدلون وکړ چې د دوی په اند «سردار عبدالکریم انګرېزانو افغانستان ته رالېږلی دی. دغه سردار چې د پخواني امیر محمد یعقوب د مینځې زوی و، د اګست په میاشت کې په داسې حال کې چې جنګ په تېنګه روان و، له هندوستان نه منګلو او ځدرانو ته ځان ورساوه، په دغې هیلې چې له یاغي توب نه په ګټه اخېستلو سره د افغانستان پاچایي ترلاسه کړي.»۴۱۸ له دې وروسته ډېرو قومونو د حکومت خوا ونیوله. سردار عبدالکریم د جنوري په میاشت کې هندوستان ته وتښتېد او له هغه زر وروسته ګوډ ملا او عبدالکریم ونیول شول. په دې توګه بلواګر وځپل شول.

غبار د جګړې د لاملونو نه یو دا بولي چې د بلواګرو دوو ملایانو «د یوه یادښت په ترځ کې د پاچا نه وغوښتل د جزا د عمومي قانون ځینې مادې دې بدلې شي چې د شرعیت مخالفې یې ګڼلې.»۴۱۹ خو کاکړ وايي چې که د یاغیانو غوښتنې یوازې د جزایي قانون د یو څو مادو اړول وای نو جګړه به وروسته له دې پای ته رسېدلې وای کله چې لویې جرګې ځینې قانونونه واړول او نور یې لغوه کړل. غبار د جګړې بل لامل دا بولي چې یو خو د ازاد سرحد خلک پر دې خپه و چې دولت د دوی د ملاتړ او مرستې نه د انګرېزانو په وړاندې لاس اخېستی وو او بل ځینې ملایانو او خانانو د ځینو امتیازاتو د لاسه ورکولو له امله د دولت نه ناراضه وو او هم د پکتیا د حکومت د خلکو سره د ناوړه او ناسم سلوک له امله د بلوا مشرانو ګټه پورته کړه.۴۲۰

خو کاکړ وايي چې د بلوا اصلي لاملونه لا ژور دي او هغو د جنګي وضعې په اوښتون سره نوي اړخونه پیدا کول ان تر دې چې ملا عبدالله په لوګر کې د پاچا پلاوي ته د هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوښه کولو غوښتنه هم وکړه.۴۲۱ د ماشومې نجلۍ د نکاح منع کولو موضوع هم خلک پارولي و. د کاکړ په وینا د یاغیانو د یاغیتوب لاملونه د اغتراض کوونکو په دغه جمله کې راغونډېدلی شي چې ویل یې «قانون ناسخ مذهب است»۴۲۲ د دې مانا دا وه چې ټول هغه قانونونه چې د پاچا امان الله په نوښت جوړ شوي دي د مذهب پر ضد دي.

د هغه وخت افغان ټولنه په ټینګه دودیزه او نږدې ټوله نالوستې وه. ځینې دودونه لا داسې ګڼل کېدل چې لکه د دین برخې وي. اسلام هم دین او هم دولت ګڼل کېده. دا د ټولو خلکو ذهنیت او د ملایانو، پیرانو، او سیدانو ټینګه عقیده وه. ساتنپالانو یا د اوښتون مخالفینو چې د اوښتون غوښتونکو په پرتله زښته زیات وو له ولس سره یو ځای د دغو زړو دودونو او چلندونو له مخې ژوند کاوه. که څه هم پاچا امان الله د ټولنې د مدني کولو او عصري کولو له امله اړ و چې نوي اداري، ټولنیز، حقوقي او داسې نور قوانین جوړ کړي. ده دغه قانونونه په فرمانونو سره نه بلکې د قانون پوهانو او ولسي استازو په مشوره ایستلي وو. کاکړ وایي چې د «قانون مخالفان ... په دې نه پوهېدل چې د اجتماعي دودونو او اسلامي شرع تر منځ توپیر وکړي.»۴۲۳ دغه قانونونه د اسلامي شرع نه بلکې د ټولنیزو دودونو ماتوونکي وو او په خپله پاچا یو رښتینی مسلمان او د اسلام ساتونکی و. برسېره پردې دا هم واقعیت دي چې د ټولنې نفوذناکې ډلې د خپلو دودیزو امتیازونو په بایللو سره ناراضي او ان پارېدلي وو. دا هم سمه ده چې دولتي مامورانو به د قانون په پلي کولو او د دولتي قدرت نه ناوړه ګټه تر لاسه کړې وي.

کاکړ وایي چې «دغو ټولو ته په وسلې سره ځواب ورکول، هغه هم په هغه ډول چې په هغو سره په زرګونو افغانان ووژل شي او ټولنه په ژور ډول زیانمنه شي، ډېره غټه ملي تېروتنه ده. د یاغیانو بله غټه تېروتنه دا وه چې دوی په خبرو سره د کشالې د هوارولو له پاره د پاچا وړاندیزونه ونه منل. دوی د لویې جرګې هغو پرېکړو ته ارزښت ورنه کړ چې له اساسي قانون پرته ډېر قانونونه او سمونونه یې واړول... دوی تر پایه په خپلې یاغي ګرۍ ټینګ ودرېدل ، تر څو په وچ عسکري او قومي زور سره وځپل شول»۴۲۴ خو کاکړ دا هم وایي چې د حیرانۍ ځای دی چې ده [پاچا امان الله] له دغې ماتې نه زده کړه ونه کړه او څلور کاله وروسته یې په دغسې نویو سمونونو لاس پورې کړ، چې تر هغو نورو یې لا ډېرې پارونې وکړې.

پاچا امان الله د پکتیا له پېښې وروسته اداري چارو ته ځیر شو او د چارو د سمولو له پاره ځینو ولایتونو ته هم لاړ. دی خپل وطن ته په کار او چوپړ کولو مین و او ویل به یې چې تر وطن نه پورته بله مینه نه لرم. کاکړ د ډېلي میل استازي، رولېنډ وایلډ د وینا له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخې وايي چې پاچا امان الله د کار سره ډېره مينه درلوده او د هغه ماموران د نوي ډول ځخه وو، له دوی نه غوښتل کېدل چې د خپل مشر ارمانونه پلي کړي او په دې کې شک نه و، چې په کابل کې هغه وخت ځينې دغسې سخت کوښښونه وشول، چې دغسې ټينګ اخلاقي ډيسپلين وساتل شي چې د پخواني تاريخ له کوښښونو سره يې توپير لاره. د دې سره سره رولنډ وايلډ دا هم وايي «چې هر نوی قانون چې د خلکو د ښېګڼو له پاره ايستل کېده د فساد له پاره به يې نوی ور پرانېسته.»۴۲۵ دی دا هم وايي چې «امان الله په نړۍ کې د چلبازۍ له ټولو نه ډېر چلباز سيستم سره مخامخ و.»۴۲۶ کاکړ وايي چې په همدې دليل به وي چې امان الله که څه هم پاچا و، په اداري چارو کې دومره ځان بوخت کړ چې زياتره وخت به يې تر نيمو شپو پورې کار کاوه. د امان الله خان په شان اوس اشرف غني د فساد ګرو د فساد د مخنيوي په موخه تر نيمو شپو کار کوي. د کار او خدمت سره د پاچا امان الله مينه، د کندهار د چارو د پلټنو نه ښه جوتېږي د هغه اثر نه چې سرليک يې «په افغانستان کې د حاکميت قانون» دی، ښه څرګندېږي. دا کتاب امان الله خان ته منسوب او د حبيب الله رفيع په زيار په ۱۹۹۹ کال کې خپور شوی دی.

## بهرته د پاچا امان الله سفر

د کاکړ په وينا د پاچا امان الله مشاورينو او په سر کې محمود طرزی د پاچا سره د اروپا د ښېګڼو په اړه غږېدل او دی يې هڅاوه چې اروپا ته سفر وکړي. خو کاکړ وروسته په يوه بله ليکنه کې دې پايلې ته ورسېد چې محمود طرزی د امان الله بهر ته د سفر سره مخالف و چې وروسته به پرې وغږېږم. د اروپا سفر امان الله خان ته هم په زړه پورې و او وزيرانو ته يې په يوې غونډې کې څرګنده کړه: «موږ د ننني چارو د پرمختګ په اړه ډاډه يو او افغانستان په پوره ازادۍ او خپلواکۍ سره په ښه ډول پرمخ ځي. د هېواد د يوه ګوټ نه تر بل ګوټ پورې له قانونه ځخه اطاعت کېږي. هر څه په کرارۍ سره په خپل محور څرخي، نو اوس ما ته ښايي چې اروپا ته په سفر لاړ شم او بېرته له ځان سره د خپل ګران وطن د پرمختګ له پاره د ځيزونو په بېه د نړۍ د خلکو د چلندونو او رواجونو پوهه راوړم. زه به تجربې ترلاسه کړم او د ډول ډول ځيزونو د جوړولو له پاره به فابريکې جوړې کړم. روسيې د لوی پېټر تاريخ ته يوه کتنه به وښيي، چې هغه د ننيو سمونونو له کولو نه وروسته متمدنو هېوادونو ته لاړ او د هغوی پرمختيايي لارې يې وڅېړلې، چې بيا يې هغه په خپل هېواد کې رواج کړې، چې د هغو په نتيجه کې د شوروي اوسنی حکومت يو پياوړی حکومت دی. دا ټول د لوی پېټر د زيارونو له امله و چې روسيې ځان د بهرنيو له اړتياوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه وژغوره، نو ما ته ښايي چې زه هم پر هغې لارې یون وکړم.»۴۲۷ وزیران هم په خپل منځ کې د پاچا د سفر په اړه سره وغږېدل. خو په پای کې څنګه چې پاچا په خپله سفر غوښته، ټولو ورسره ومنله.

کاکړ وايي چې دا هغه وخت و چې پاچا امان الله د دفاع په وزیر محمدولي باندې بې باوره شوی و او د دفاع د وزارت نه یې ګوښه کړ. هغه یې خپل نایب او د بهرنیو چارو وزیر په توګه وټاکلو. عبدالعزیز یې د سلطنت دوهم نایب او د دفاع د وزیر مرستیال کړ او دنده یې ورکړه چې د محمد ولي او نورو کړه وړه وڅاري. همدارنګه پاچا محمود یاور، د کابل والي مرستیال ته واک ورکړ چې هر هغه څوک وځپي چې په خیانت لاس پورې کوي. پاچا د کابل والي علي احمد، حبیب الله د دفاع د وزارت مرستیال او د دولتي شورا سروال شیر احمد د خپل سفر په ملګرو کې ونیول ځکه چې ده په لومړیو دوو شک درلود او پر دې پوهېده چې شیر احمد او محمد ولي دومره سره وران دي، چې د ده په نشتوالي کې به هېواد ته جنجالونه پیدا کړي.

پاچا امان الله د ۱۹۲۷ کال د دسمبر د میاشتې په لسمه نېټه د ملکې ثریا او د سفر د خپلو ملګرو سره چمن ته او بیا له هغه ځایه کوېټې، کراچۍ او بمبۍ ته لاړ. د بمبۍ نه مصر، ایټالیه، فرانسه، بلجیم، سویس، جرمني، برېتانیه، پولنډ، روسیه، ترکیه او پارس ولیدل او د ۱۹۲۸ کال د جولای د میاشتې په لومړۍ نېټه د هرات او کندهار له لارې کابل ته راستون شو. په دې توګه دا سفر شپږ میاشتې او یوولس ورځې اوږد شو.

په ټولو یادو شوو هېوادونو کې د دولتي چارواکو او خلکو له خوا د پاچا امان الله او د هغه د ملګرو تود هرکلی وشو. په هر هېواد کې دوی اول رسمي مېلمانه وو او بیا په خپل لګښت اوسېدل. یوازې په مصر او پارس کې کوربه پاچایانو له عادي وګړو سره د پاچا امان الله د ازاد روغبړ او د ملکې ثریا د مخ لوڅۍ له امله ناارامي وښودله. د مصر پاچا فواد پاشا د پاچا امان الله په رخصتېدو سره خپله خوښي په دې ډول څرګنده کړه، چې «خدایه! شکر چې دی ولاړ.» پاچا په روم کې د کاتولیکي عیسویانو د لوی مشر، پاپ سره وکتل.

پاچا امان الله او د هغه ملګري په انګلستان کې د خپلې هستوګنې په موده کې لومړۍ د پاچا او ملکې او وروسته د حکومت مېلمانه وو. کاکړ وايي چې پاچا امان الله او ورسره ملګرو یې د لندن برسېره د کوربه هېواد نور شپږ صناعتي ښارونه ولیدل. هلته «برتانوي موسسو له یوې او بلې سره د دغه ویاړ په لرلو کې سیالي کوله چې پاچا یا ملکه یا د هغو د کورنۍ غړي د دوی په مراسمو کې ګډون وکړي. حتی د افغان- انګلیس د جنګ پخوانیو پوځیانو موسسې غوښتل چې دوی د افغان پاچا په مخ کې په سلامۍ تېر شي.» د انګلستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خلکو د دغسې تاوده هرکلي په اړه د برتانیې یوه وزیر څرګنده کړه، چې انګرېزانو «د دغسې شخص په لیدلو سره علاقمني ښودله، چې د برتانیې امپراتورۍ ته یې په برې سره چلنج ورکړی و.»۴۲۸ پاچا امان الله پاس د الوتکې نه د لندن ښار ولید او د سمندر لاندې په بېړۍ کې وګرزول شو او د یوې بېړۍ نه یې د سمندر نه د ګولیو ویشتلو ننداره وکړه او د لندن ورځپاڼو دی د روسیې لوی پېټر وباله.

د عبدالحکیم طبیبي په وینا انګرېزانو ډېر کوښښ وکړ چې امان الله خان بلشویکي روسیې ته د خپل تګ څخه تېر شي خو هغه روسیې ته د تګ هوډ بدل نه کړ. «د دغه سفر په اوږدو کې نوموړي پاچا د بلشویکانو د ځوان حکومت سره هم لیدنه وکړه. د امان الله خان دغه کړنه د انګلیسانو له پاره د منلو وړ نه وه ځکه یې هڅه وکړه چې د پاچا په نشتوالي کې د نویتوب او سمونونو ضد غورزنګ ته سازمان ورکړي.»۴۲۹ خو نوموړی کوم سند نه وړاندې کوي.

په مسکو کې هم د شوروي لویانو له خوا نه د پاچا امان الله تود هرکلی وشو، خو یوازې سټالین ورسره ونه لیدل. افغاني پلاوي د امان الله په مشرۍ د شوروي لوري څخه «یو وار بیا په ښکاره د هغه شوروي سیمې د خپلولو غوښتنه وکړه چې د ۱۹۲۱ کال د شوروي- افغان د تړون په نهمه ماده کې ژمنه هـ شوې وه.»۴۳۰ خو شورویانو خپله ژمنه پوره نه کړه. د امان الله خان په اړه د روسانو نیت د شوروي کمیسار ماکسیم لیتوینوف د خبرو نه چې په مسکو کې یې د جرمني استازي سره کړې وې ښه څرګندیږي. «په بهرنیو چارو کې د شوروي کمیسار ماکسیم لیتوینوف په مسکو کې د جرمني استازي ته هغه وخت چې امان الله لا په کندهار کې و وویل چې افغاني تخت ته د رسېدو له پاره نادرخان یو ښه انتخاب دی سره له دې چې پر هغه یې د برتانیې پلوه شک هم کاوه.» ۴۳۱

د خان عبدالولي خان په وینا انګلیسان هم د امان الله خان دې پلان ډېر ووېرول چې اروپا ته یې د خپل سفر په جریان کې د ترکیې مشرانو ته دا وړاندیز وکړ چې ترکیه، عراق، ایران او افغانستان دې یو اتحاد جوړ کړي. د دې پلان څخه انګرېزان په ترکیه کې د عراق سفیر، چې د انګرېزانو جاسوس و، خبر کړل. انګرېزانو دا انګېرله چې دا پلان د دوی په ضد دی. « هغه [امان الله خان] ترکانو ته دا تجویز پېش کړو چې ترکی، ایران، عراق او افغانستان که یو اتحاد جوړ کړي. پېرنګیانو سره دا تلوسه وه چې هسې نه چې دا د دوی برخلاف د محاذ جوړولو منصوبه وي. هلته ترکی کې د عراق سفیر Sabih Bey د پېرنګیانو دپاره د جاسوسی کار کولو.»۴۳۲ خو کاکړ وایي چې د دغسې اتحاد شونتیا بیخي لږه یا هېڅ نه وه او هغه هېڅ موضوع شوې نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاکړ وایي چې له دغه تاوده هرکلي سره سره افغان پلاوي ونه شو کولی د انکشافي پروژو د پلي کولو له پاره له اروپایي هېوادونو څخه پورونه تر لاسه کړي. یوازې جرمني سره له دې چې په لومړۍ نړیوالې جګړې کې د ماتې له امله په خپله په پورونو کې ډوب و، تیاری وښود چې غیر حکومتي بانکونه وهڅوي چې افغانستان ته پور ورکړي. افغانانو بیا له جرمني نه شپږ میلیونه مارکه پور ترلاسه کړ، چې د هغه هېواد نه وربانديې د اړتیا وړ توکي وارد کړي. کاکړ زیاتوي چې دا هم ویل کېږي چې د فرانسې یوه بانک منلې وه، چې د افغانستان د ګمرکي عایداتو په ډاډ د ګټې په برابر کې یو میلیون پونډه سټرلینګ پور ورکړي.

د برېتانیې حکومت له پاچا امان الله خان سره ومنله، چې د افغانستان د پیاوړي کېدو له پاره ډول ډول عصري توپونه، ټوپکونه او نورې وسلې وړیا ورکړي او شل تنه افغان پوځي افسران په خپل سان هرسټ پوځي اکاډمۍ کې وروزي.۴۳۳

د پاچا امان لله دغه بهرنی سفر له سیاسي پلوه پوره بریالی و. ده معاصر افغانستان تر هر بل واکمن زیات اروپایانو ته ورو‌پېژانده. پاچا امان الله په خپل دغه سفر سره د افغانستان خپلواکي لا هم یقیني کړه.

خو کاکړ دا هم وایي چې په خپله افغانانو د پاچا امان الله د دغه سفر قدر ونه کړ. مذهبیانو یې لا خپل مخالفت ته زور ورکړ او پر ضد یې ډنډوري ګډې کړې. په اصل کې د امان الله له پاره چې هم پاچا او هم صدراعظم و، مصلحت نه و چې څه باندې نیم کال په بهر کې په سفر تېر کړي. په پاچا امان الله دغه اوږده سفر چې په تود هرکلي سره بدرګه شوی و لوی اغېز وکړ هغه دا چې دی یې له خپلو کلتوري ارزښتونو نه لیرې او د اروپایي کلتوري ارزښتونو په لور یې واړاوه.

## د پاچا امان الله وروستي سمونونه

د مخه مو یادونه وکړه چې پاچا امان لله د خپل بهرني سفر نه د هرات او کندهار له لارې کابل ته راستون شو. ده لا په کندهار کې د خلکو سره د سمونونو په اړتیا خبرې کړې وې او ویلي یې و چې پرمختګ یوازې د ښځو په ازادۍ سره شوني کېدای شي. ده د کندهار خلکو ته دا هم وویل چې سمونونه د ده د ځاني ګټې له پاره نه بلکې د افغان ملت د ګټې دپاره دي. پاچا امان لله کندرایانو ته په پای کې وویل: «تاسې په لټۍ سره خپلو موخو ته رسېدلی نه شئ. امان الله د تاسو له پاره هر څه کولی نه شي. هغه مشوره درکوي، زاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



درته کوي او فشار دربانديې راوړي، خو له هغو نه پرته نور څه کولی نه شي. باور ولرئ چې امان الله به تږولي هغه هیلي له ځان سره ګور ته یوسي، چې د یوه شتمن او پرمختللي افغانستان له پاره یې لري، خو دا چې تاسې له خپل درانده خوب نه ویښ شئ.»۴۳۴

پاچا امان الله کابل ته د راستنېدو وروسته لویه جرګه راوبلله، چې د اګست په ۲۹ نېټه به غونډې پیلوي. د خپلواکۍ تر جشن پورې چې په شان او شوکت سره ونمانځل شو، کابل ته د جرګې استازي رارسېدلي وو. حکومت هر استازي ته اروپایي توره کرتۍ او پتلون، سپین خت، توره نېکټایي او توره شاپو برابره کړه او ټول یې په پغمان کې ځای په ځای کړل. هېڅ استازي ته اجازه نه وه چې په وطني جامو کې په جرګه کې ګډون وکړي. لویه جرګه د پغمان په سینما کې د اګست په ۲۹ نېټه د یو باندې زرو استازو په ګډون جوړه شوه چې پنځه ورځې اوږده شوه.

د جرګې په لومړنۍ غونډې کې پرېکړه وشوه چې دولتي شورا دې په ملي شورا بدله شي او د هغې غړي د ولس له خوا غوره کېږي. خو ملي شورا ته دولتي ماموران د غوره کېدو حق نه لري او ملي شورا او لویه جرګه د دواړه... وي.۴۳۵

د دویمې ورځې په غونډه کې جرګې ومنله چې د بدې اخېستلو او د قدرت نه د ناوړې ګټې اخېستلو د مخنیوي په موخه دې د بخښل کېدو اختیار له حاکمانو او قاضیانو نه واخېستل شي او هغه دې یوازې له پاچا سره وي. جرګې بله دغه پرېکړه وکړه چې عسکري خدمت دې دوو کالو پر ځای درې کاله شي او هغه د عام او جبري وي او هر څوک به عسکري په خپله کوي او بل څوک یې پر ځای عسکري خدمت کولی نه شي. دا هم ومنل شوه چې د تعذیر اصل دې په کره توګه تعریف شي. دا پرېکړه هم وشوه چې څاروي دې هر کال وشمېرل شي.

د جرګې په دریمه ورځ پرېکړه وشوه چې له دې وروسته دې ټول رسمي ملکي لقبونه نه وي او هر مامور دې تر پاچا پورې د عزیز یا ګران په لقب یاد شي. په خپله امان الله خان وغوښتل چې ګران پاچا ورته وویل شي. استازو د هغه غوښتنه ومنله، خو ټینګار یې وکړ چې دی دې د لوړ حضرت (اعلحضرت) په لقب هم یاد شي. جرګې دا هم ومنله چې په رسمي موقع کې دې یونیفورم نه وي او ټول ملکي ماموران دې تورې دریشۍ او پوځي افسران دې خړې دریشۍ واغوندي. دا هم ومنله شوه چې د دې وروسته دې د خپلواکۍ له نښان پرته، چې هغه د جګړې اتلانو ته ورکول کېږي، نور ټول افغان مډالونه او نښانونه نه وي. بله دا پرېکړه وشوه چې ملایان دې له هغې وروسته ملایي وکړي، چې په خپل مسلک کې ازموینه ورکړي او بریالی شي. غیر افغان ملایانو په تېره د دیوبند د مدرسې فارغانو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې اجازه ورنه کړل شي چې افغانستان ته ننوزي، ځکه چې دوی به یا «بد او شریر کسان» یا هم باندیني ډنډورچیان او خاینان وي. کاکړ د منشي علي احمد د لیکنې له مخې دا هم وايي چې «امان الله په دې ټینګار وکړ چې ټول دغسې ملایان د باندینۍ دسیسې تر اغېزې لاندې دي او د خپلې ادعا په ثبوت کې یې شواهد هم وړاندې کړل. ده غوښتل چې ټول دغسې ملایان دې له افغانستان څخه وایستل شي، یا دې په یوه ټاکلي ځای کې وي او له هغه ځایه دې له اجازې پرته بېرون نه شي.»۴۳۶ د جرګې بله پرېکړه دا وه چې د محکمې پراریان دې د قانون له مخې د دولتي مامورینو له خوا محکوم شي او دغسې نوې محکمې دې جوړې شي چې پرېکړې د شواهدو پر بنسټ وکړي، نه د پخوا په شان د شاهدانو په شاهدي. پاچا دا وړاندیز هم وکړ چې هغه پنځوس زره ټوپک پیرودلي دي او غواړي چې پنځوس زره نور ټوپک له یو میلیون کارتوسو سره په بیه واخلي. د دغو پیسو د تادیه کولو له پاره دې له پنځه کلن نارینه نه پورته هر افغان پنځه افغانۍ او هر حکومتي مامور د یوې میاشتې تنخوا ورکړي. د پاچا دغه غوښتنه په خوښۍ سره ومنله شوه او د کابل وکیل غلام محی الدین ومنله، چې دی به د همدغې موخې له پاره یو لک افغانۍ بسپنه ورکړي او له نورو وکیلانو یې وغوښتل، چې دوی دې همداسې وکړي.

د جرګې په څلورمه غونډه کې پرېکړه وشوه چې د بدې اخېستلو د مخنیوي په موخه دې ملکي مامورین د خپل کار په پیل کې خپلې شتمنۍ وښيي. دا هم ومنله شوه چې د ملکي استخدام او ترفیع یو قانون دې وایستل شي. د دغې ورځې یو نوښت دا و چې حکومتي مامورانو دې یوازې یوه نکاحي ښځه ولري. خو د واده کولو د دود په بدلون کې پرمختګ ونه شو. د پاچا امان الله دا وړاندیز چې ځوانانو ته دې د دوه ویشت کلنۍ نه او ځوانانې دې له اتلس کلنۍ نه د مخه د واده کولو اجازه نه وي، د جرګې د زیاتو استازو له خوا رد شو، په دې چې د دوی په نظر هغه د اسلامي شرع مخالف و. خو جرګې د پاچا امان الله دا وړاندیز په خوشالۍ ومانه چې مېرمن ملکه او زوی یې رحمت الله د تخت وارث وپېژندل شول.

د جرګې په وروستۍ غونډه کې پاچا امان الله د نوي درې رنګه بیرغ یاني تور، سور او شین بیرغ وړاندیز وکړ چې په خوښۍ سره ومنل شو. په دې غونډه کې د ښځو د ستر موضوع راپورته شوه چې د ادامیک د لیکنې له مخې خبرې اترې ورباندې ونه شوې خو منشي علي احمد وايي چې د ښځو په موضوع باندې تودې خبرې اترې وشوې. د ملایانو ځینې استازي د دغه سمون په وړاندې وګړېدل او د خپلو نظرونو په ملاتړ یې ایتونه او حدیثونه بیان کړل. امان الله خان د دوی په ځواب کې وویل، چې که څه هم دی ملا نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، خو په دې پوهیږي، چې ستر د اسلامي قانون له مخې له غاړې نه ښکته د بدن پټول دي. ملایانو د ده نظر په ټینګه رد کړ او په هغې سره امان الله خان، چې د مصطفی کمال هغه سپارښتنه په زړه کړه چې ده ته یې کړې وه، کنټرول له لاسه ورکړ او په لوړ اواز یې وویل، چې: «دا ټول ملي مصیبتونه د تاسو له لاسه دي، تاسې ملایان چې له دووسانو نه پرته نور څه نه یئ، زه به هغه څه نافذوم چې یې غواړم او زه به ستر پرېښودل ان د برچو په زور عملي کړم، نه په غوړه مالۍ سره. پوه شئ چې زه یو انقلابي پاچا یم.»۴۳۷

امان الله بیا مخ نورو استازو ته واړاوه او په جګ اواز یې وویل، چې: «او! زما د ګران ملت استازو! تاسو ته زما توصیه ده، هغه توصیه چې تاسو یې ټول ملت ته ورسوئ، چې تاسې باید پوه شئ چې دغه ملایان په دغه هېواد کې په خپلو وعظونو سره د دښمنو د دسیسو د خپرولو مسؤلان دي زموږ د خلکو بېرته پاتې توب د هغو موهومي کیسو (myths، افسانو) له امله دی، چې دوی یې خلکو ته رسوي او په هغو سره یې تېر باسي. زه به په خپل وخت کې د دغو ملایانو چاره وکړم، خو تاسو استازي باید ولس په دغسې حال کې کړئ، چې وپوهیږي او په دغو یو موټي ملایانو باندې چې د ملت بده غواړي ونه غولیږي.»۴۳۸

کاکړ وایي چې داسې ښکاري چې امان الله د لویې جرګې په کړو قانع نه و، ځکه چې لږ وروسته د اکتوبر د میاشتې په لومړۍ اوونۍ کې د ستور په ماڼۍ کې څلور غونډې سر په سر راوبللې، چې باندینیو ډیپلوماتانو، افغان ملکي او پوځي افسرانو، د دولتي شورا غړو او د کابل مخورو چې شمېر یې نږدې شپږو سو کسانو ته رسېده، په کې ګډون کاوه. د دې غونډو مهمه ځانګړتیا دا وه چې د لومړي ځل له پاره ښځو په کې ګډون کاوه او په خپله پاچا په کې ویناوې اورولې.

پاچا لومړنۍ غونډه خپل باندیني سفر ته ځانګړې کړه چې د مخه رڼا پرې اچول شوې ده. ده خپل سفر پوره بریالی وګاڼه او وویل چې د دغه سفر لګښت اویا زره پونډه و، خو د څلور سوه شپېتو زرو پونډو په اندازه یې وطن ته سوغاتونه راوړي دي. په دغو سوغاتونو کې هغه پیسې شاملې نه وې، چې وسلې پرې اخېستل شوې وې. په ایټالیا کې نږدې شپږ میلیونه او په جرمني کې نږدې څورلس میلیونه مارک نغد پرې لګېدلي و.

پاچا خپله دوهمه وینا پوځي او ملکي پوهنیز سمون د پاره ځانګړې کړه. هغه څرګنده کړه چې غواړي شته پوځي ښونځي له سره تنظیم کړي او نوي ښونځي پرانیزي. افسرانو ته به اجازه نه وي چې د پیرانو مریدي وکړي، سرتېري به د پوځي خدمت په دوره کې دغسې مهارتونه زده کوي کله چې ملکي ژوند ته راستنیږي هغه پلي کړای شي او نورو ته یې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وښيي. ده وويل چې په ولايتونو کې به هم راز راز ښوونځي پرانېستل شي او د اماني او امانيې د لوړو ښوونځيو څانګې به په ولايتونو کې هم پرانستل شي. پاچا امان الله د ځوانانو د نکاح موضوع بيا راپورته کړه او امر يې وکړ چې تر هغه چې ځوانان په ښوونځي کې وي ، ودونه نه شي کولی.

پاچا په دريمه غونډه کې خپله وينا د ستر موضوع ته ځانګړې کړه او څرګنده يې کړه، چې په راتلونکو دوو مياشتو کې دې چادري نه وي. پاچا د خپلې ښځې ثريا نه وغوښتل چې خپله چادري له مخ نه ايسته کړي. هغې خپله چادرې د مخ نه ليرې کړه او حاضرو ښځو په ګڼو لاس پړه که سره د هغې تود هرکلی وکړ. په دې توګه ملکه ثريا لومړی افغانه مېرمن ده چې د خلکو په مخ کې مخ لوڅ کړی دی. په دې غونډه کې پاچا ملايان د ناپوهۍ او تعصب په خپرولو پړه وګڼل.

پاچا په خپلې وروستۍ وينا کې د سردار شېر احمد نه وغوښتل چې صدراعظمي وکړي خو هغه په دغه کار کې پاتې راغی. بيا پاچا وويل چې دی به په خپله د ملي شورا تر جوړېدو پورې د صدراعظم په توګه هم چارې پر مخ بوزي. پاچا په خپلې وينا کې دا هم وويل چې يوازې دی کولی شي چې اړين انقلابي سمونونه تر سره کړي، ځکه چې د هغه په وينا «زه يو انقلابي پاچا يم او غواړم په هېواد کې د ژوندانه په هر اړخ کې انقلاب راولم.»۴۳۹ کاکړ وايي چې پاچا دا هم وويل چې هر هغه څوک چې د خپل وجدان په حکم له ما سره کار کولی نه شي ځان دې ګوښه کړي. عبدالرحمن لودين چې د ګمرکو سروال او د جمهوري ګوند غړی و، همدغسې وکړل.۴۴۰

## له برتانويانو سره د پاچا امان الله اړيکې

د کاکړ په اند د امان الله خان او برتانيې تر منځ اړيکې د خپلواکۍ د جګړې نه وروسته خرابې او بحراني نه وې. امان الله خان که څه هم په ظاهر کې يو وخت بل وخت د خلکو په خاطر برتانوي ضد حرکتونه کول، خو پاچا امان الله خان له برتانوي هند سره ځينې وختونه په نېغ يا په نانېغ ډول مرسته کړې ده.

لومړی دا چې پاچا امان الله د خپلواکۍ د جګړې نه وروسته د ډيورنډ د کرښې اخوا پښتنو سره د هغو د خپلواکۍ ګټلو په لار کې عمل ونه کړ، که څه هم دغو پښتنو د خپلواکۍ په جګړه کې فعاله ونډه واخېسته او عمومي هيله هم دا وه. لکه چې د مخه مو يادونه وکړه ارواښاد شمس الدين مجروح وايي چې «... و هم بعضې مردم فکر مېکردند که اين جنګ سوم براى استرداد اراضي از دست رفته افغانستان رخ داده بود، که ان

(c) ketabton.com: The Digital Library



نتیجه مطلوب بدست نیامده. لذا این جنگ را افتخار بزرگې نه، بلکه ناکامي تصور مېکردند.»۴۴۱

دوهم دا چې پاچا امان الله د جګړې نه وروسته څه کم دوه کاله ناکام کوښښ وکړ چې په منځنۍ اسیا کې د پیسو په لګښت، او په ملکي جامو کې د سرتېرو په لېږلو سره په دغې سیمې کې خپل نفوذ خپور کړي او د انور پاشا په مرسته او غوښتنه هلته د اسلامي کنفدرېشن سروال شي چې په پای کې ناکام او د شوروي دولت سره د لومړۍ دورې تودو اړیکو سړېدل شول.

دریم دا چې د پاچا امان الله بله غټه مرسته د عجب خان اپریدي په اړه ده چې لیکوالې ستوارټ اوږده بیان کړې ده چې لندېز يې کاکړ داسې بیانوي: « عجب خان اپریدي له برتانوي چارواکو سره، د هغو د زور زیاتي له امله، په کوهاټ کې د یوه انګلیس مېجر ځوانه لور د مولي الیس (Molly Ellis) په نامه د ۱۹۲۳ کال په اپریل کې په نظامي چوڼۍ کې، د هغې له کوره وتښتوله، او بیا یې له خپل ورور شهزاده اپریدي او نورو ملګرو سره شنوارو ته، په افغانستان کې پناه یووړه. هلته دوی ټولو په منده تي نومي محل کې واړول او کورنۍ یې هم ورسره یوځای شوې. ملک منصور شینواري د دوی ساتنه په غاړه واخیسته، او مشکوک کس هلته تللی نه شو. دا هغه وخت و چې ختیځ پښتانه د برتانویانو په بمباري سره، چې نوي رواج شوي وې، په تنکسه کې وو، او عجب خان اپریدي ته د اتل په سترګه کتل کېدل. برتانوي چارواکو د دوی پر ضد عمل کولی نه شو، خو په هغه حال کې چې په افغانستان یرغل وکړي. څنګه چې د دواړو هیوادو تر مینځ یو بل ته د دغسي کسانو د مبادلې تړون نه و لاسلیک شوی، برتانویانو د هغو د تر لاسه کولو ادعا کولی نه شوه. دغه کیسه ډېره اوږده ده، نو دوی دغومره و کولی شول د پېښور د یوې ډاکټرې مېرمنې، مېرمن سار، او د هدې اخندزاده د کورنۍ د یوه غړي، ملا محمود اخندزاده، په مینځګړیتوب پېغله الس ازاده کړي، او هغه خپل کور ته ستانه شي. په دغې ټولې مودې کې له هغې سره د یوې درنې مېلمنې په شان سلوک کېده. خو سفیر همفریز په کابل کې په پاچا امان الله فشار راوړ، چې عجب خان او ملګرو ته یې جزا ورکړي. برتانویانو د مخه د همدغې کشالې په سر د هند له لارې افغانستان ته د وسلو د انتقال مخه نیولې وه، او همفریز لا په یوه کتنه کې پاچا ته خبر داری ورکړئ و، چې " له اور سره لوبه و نه کړي." پاچا د دغې کشالې د هوارولو له پاره محمد ولي ګمارلئ و، په داسې حال کې چې تر دغه وخت پورې سرحدي چاري جنرال محمد نادر اجرا کولې، او دی ناراض شو. محمد ولي همفریز ته وویل چې که د ده خوښه وي عجب خان او ملګري به یې مزار ته تبعید شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او همفریز هوکړه وکړه او عجب خان بیا د ۱۹۲٤ کال د جنوري په ۲۸ له خپلو ډېرو ملګرو سره، په درو لاریو کې مزار ته تبعید شو، او هلته مځکې ورته ورکول شوې او نغده هم ورته وټاکله شوه.»۴۴۲ د پاچا امان الله خان نه د ننګرهار خلک او په ځانګړې توګه شینواري ډېر ناراضي شول او پاچا په خپله هم منله چې «هېڅ امیر له برتانوي حکومت سره د مخه هېڅ ډول عوضي معامله نه ده کړې. زما تسلیمي په سرحد کې زما حیثیت ډېر ضعیف کړ. ( سټیورټ ۲۸۴ )»۴۴۳ د شینوارو په بلوا کې دغه ناراضي توب هم اغېز درلود.

کاکړ وايي چې برتانویانو د هغه د رسمي سفر په موده کې د هغه او د هغه د ملګرو تود هرکلی وکړ. ډېره مهمه دا ده چې د دغه سفر په مهال د برتانیې حکومت د افغانستان د پیاوړتیا دپاره موافقه وکړه چې ډول ډول عصري توپونه، ټوپک او نورې وسلې او مهمات وړیا ورکوي او د خپل هرسنټ په نظامي اکاډمي کې به شل تنه افغان منصبداران د هند د حکومت په لګښت روزي. (ادامک ۱۳۰)۴۴۴

کاکړ وايي چې اساسي دا ده چې د افغان- انګلیس د دوهمې جګړې وروسته، د پخوا پر خلاف، برتانیې دا سیاست غوره کړی و، چې افغانستان پیاوړی او دوست وي، چې د باندیني یرغل په وړاندې له ځان نه دفاع وکړي او د اړتیا په وخت کې هم د هند د دفاع په موخه د احتمالي یرغل دفع وکړي. دا چې افغانستان د امیر عبدالرحمن په وخت کې د لومړي ځل له پاره مرکزي حکومت شو تر زیاتې اندازې د همدغه سیاست له امله و.

## د پاچا امان لله نسکورېدل او د وطن نه وتل

منشي علي احمد په خپله لیکنه کې د دولت په لوړ مشرتابه کې د اختلافونو څخه یادونه کوي او څرګندوي چې پاچا د جمهوري ګوند د مخ په ډېرېدو پیاوړي توب په دې فکر کړ چې که هغه ځپل کېدای نه شي باید بې اغېزې کړل شي. د ده په اند د حکومت لوړ کسان باید هغه کسان وي چې د جمهوري ګوند مخالف او په خپلو کې سره جوړ وي. ځکه پاچا سردار شیر احمد ته د حکومت د جوړولو دنده ورکړه. که څه هم سردار شیر احمد د لومړي سره نه غوښتل چې صدراعظمي وکړي، خو بیا یې هم د خپلو ملګرو په سلا د وزیرانو نومونه پاچا ته وړاندې کړل، چې په هغو کې غلام صدیق د باندینیو چارو د وزیر په توګه غوره شوی و. پاچا د یو تن نه پرته نور ټول ومنل، خو کله چې غلام صدیق څرخي ته رجوع وشوه، هغه څرګنده کړه چې نه یوازې دی، بلکې اویا نور ملکي او پوځي افسران هم نه غواړي د سردار شیر احمد تر لاس لاندې کار وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلام صدیق څرخي دا دریځ د محمد ولي په قوت سره غوره کړی و. پاچا چې د شیراحمد په وړاندې د دې مخالفت نه خبر شو، د شیراحمد د وړاندیز نه تېر شو او محمد ولي ته یې د صدراعظمی بلنه ورکړه، خو هغه د روحي ستړیا او پښو درد له امله بخښنه وغوښتله. بیا پاچا په یوه عام دربار کې څرګنده کړه چې تر اوسه هېواد د دې سمون له پاره تیار نه دی نو دی به په خپله چارې د پخوا غوندې د دغو وزیرانو په مرسته ترسره کوي. پاچا خپله کابینه په دې ډول وړاندې کړه: عبدالعزیز د دفاع وزیر، غلام صدیق د بهرنیو چارو وزیر، عبدالاحد د کورنیو چارو د وزارت کفیل، علي احمد د سوداګرۍ وزیر، عبدالهادي د شورا رییس، شیراحمد د ټولو وزارتونو څارونکی، د مالیې، پوهنې او عدلیې وزیران به مخکیني وزیران وي. محمد ولي د پاچا نایب ونومول شو چې دغه مقام د پاچا په شته والي کې یوازې په نامه و.

د منشي علي احمد د لیکنې له مخې « [دغه حکومت] د غلام صدیق او د هغه د ملګرو په خوښه نه و. دوی چې ناراضي شوي وو پرېکړه وکړه چې کوم قوم د یاغیګیرۍ له پاره ولمسوي.غلام صدیق چې د خپل پلار غلام حیدر څرخي په سبب، چې د امیر عبدالرحمن په وخت کې یې په مشرقي کې کلونه کلونه خدمت کړی و، په دغو قومونو کې د ډېر نفوذ خاوند و »۴۴۵ علي احمد زیاتوي چې په دغه وخت کې د شینوارو دوه مشران محمد افضل او میرعلم په کابل کې وو. غلام صدیق دوی د غټو وعدو په ورکولو سره بېرته وطن ته واستول چې خپل قوم د پاڅون له پاره ولمسوي.«هغوی وطن ته په رسېدلو سره په یوې قومي غونډې کې خپلو شینوارو ته وویل، چې پرېکړه دا ده چې د دوی لونې به د زده کړې له پاره ترکیې ته واستولې شي، خو دا چې دوی د هرې یوې د معافېدو په لار کې پنځه سوه روپۍ ولګوي.»۴۴۶ خو غبار د شینوارو یاغیتوب د هغو د سانګو خېلو د ځانګې او کوچیانو د یوې نښتې نتیجه بولي او وایي چې د جلال اباد اعلی حاکم د شینوارو شکایت ته غوږ ونه نیوه او شنواري پاڅېدل.۴۴۷

پاچا امان الله اول کوښښ وکړ چې شینواري په خبرو سره ارام کړي. خو کله چې ښکاره شوه چې خبرې ګټه ونه کړه نو بیا د الوتکو بمباري پیل شوه چې په هغې سره شینواري لا وپارېدل. پاچا امان الله سردار شیر احمد د تنظیمیې د رییس په نامه له پوره اختیارونو سره جلال اباد ته واستاوه، چې یاغیان په پوځي زور او قومي ایله جاري سره ایل کړي. پاچا په هماغه وخت کې غلام صدیق، چې په خپله یې وړاندیز کړی و، هم جلال اباد ته ولېږه. غلام صدیق د جلال اباد نه شنوارو ته ورغی او د دوو اونیو خبرو اترو نه وروسته کابل ته راستون شو او د ملایانو لیکلې غوښتنې یې د ځان سره راوړې. دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتنو د پاچا ټول سمونونه ردول او له وطن یې د محمود طرزي د کورنۍ د ټولو غړو ایستل غوښتل.

کاکړ وایي چې د منشي علي احمد په نظر شینوارو ته د غلام صدیق «د تللو موخه دا وه دغه اور ته چې اوس ځلېده پکې ووهي.» علي احمد دا هم وایي چې غلام صدیق د مومندو او خوګیانیو د خوی په نظر کې نیولو سره هغو ته د حکومتي پوځ نه د وسلو اخېستلو لارې چارې هم وښودلې.۴۴۸ فیض محمد لا وایي چې «د غلام صدیق د دوه مخي توب له امله چې د یاغیانو په لاس یې خپل نیول جعل کړل، خو په واقع کې دی په خپله د هغو کامپ ته ورغی او وېې هڅول چې په جلال اباد باندې یرغل وکړي. بری (د حکومتي) قواو په نصیب نه شو.»۴۴۹ جلال اباد بیا چور شو، دولتي پوځ تالا ترغی او د کابل سره د ټیلفون مزي پرې کړل شول. سردار شیراحمد کابل ته وغوښتل شو او پر ځای یې والي علي احمد د اعلی ریس او مطلق مختار په نامه مشرقي ته او محمود یاور له یوه پوځ او د ډېرو درندو او سپکو وسلو او ماشینګړو سره د دسمبر په پای کې جګدلک ته واستول شو. والي علي احمد په دې بریالی شو چې «یاغیان او سرایله شنواري د نغدو او نورو سوغاتونو په ورکولو سره د امیر اطاعت ته وبولي.» خو دا هغه وخت و چې پاچا امان الله واکمني پرې ایښې او کندهار ته تللی و.۴۵۰

## حبیب الله کلکاني او په کابل د هغه برید

د دوکتور خلیل الله وداد بارش د څېړنې له مخې حبیب الله په ۱۸۹۰ کال کې په کلکان سیمه کې زیږېدلی دی. پلار یې امین الله په کلات کې د عسکري خدمت پر مهال پوځي قطعې ته د اوبو رسولو دنده درلوده چې هلته د سقاو په نوم یاد شو. کاکړ وایي چې «حبیب الله په عام ډول تاجک ګڼل کیږي، خو نور په دې کې شک لري. ارواښاد میر محمد صدیق فرهنګ دی په نسب مخلوط ګڼي او وایي چې: «علاوه بر عنصر اصلي تاجک، احتمالاً خون هزاره یا ازبک هم در رګهای او جریان داشت.» (فرهنګ، ۴۰۱) ارواښاد مجروح، چې حبیب الله یې د امیری په وخت کې لیدلی و، هم د هغه په اړه ورته نظر ښکاره کوي. «او مرد چارشانه، ګندمي رنګ، متوسط قد بود. چشم و بیني او چهره مردان توراني، مغولي را بخاطر می اورد. معلوم بود که از اختلاط دو نژاد اریایي و توراني به وجود امده است.» (مجروح، ۶۴ ) د کاکړ په وینا حبیب الله کلکاني لومړی په قلعه مراد بېګ کې د محمد ولي نوکري کوله. په قلعه مراد بېګ کې د زندی شوي مستوفي محمد حسن ضبطې شوې مځکې د امان الله خان له خوا د مخه د یو میلیون نغدو روپۍ سره یو ځای محمد ولي ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



انعام په توګه ورکړ شوې وې. حبيب الله کلکاني د محمد ولي د نوکرۍ وروسته د نمونې په قطعه کې له يو نيم کال خدمت کولو وروسته له خپل ټوپک سره پېښور ته وتښتېد او هلته يې د سماوار يو دوکان ګوتې چلاوه. بيا پاړه چنار ته لاړ او هلته يې يو نيم کال د غلا په تور په بند کې تېر کړ. د بند نه د ايله کېدو وروسته د خوست په بلوا کې د منګلو سره برخه واخېسته او يو څو هغه حکومتي سرتيري يې هم ووژل چې په نيولو يې مامور شوی و. بيا يې په کوهدامن او کوهستان کې داړه مارۍ ته ملا وتړله، له بې وزلو سره يې خواخوږي درلوده او د شتمنو او دولتي مامورانو سره يې پوره بېرحمي کوله.۴۵۱

کاکړ زياتوي چې د حبيب الله کلکاني په مشرۍ په کوهدامن او کوهستان کې د داړه مارو ډله چې د چاريکارو سيد حسين او د سرای خواجه ملک محسن په کې ګډون درلود، فعاله وه. د دې ډلې ټول غړي نږدې ۲۴ تنو ته رسېدل. د پاچا د سفر په وخت کې د مراد بېګ قلعه چاپېر خلکو له محمد ولي نه دحبيب الله شفاعت وغوښته او ورته يې وويل، چې هغه له داړه مارۍ نه لاس اخېستی او دوی حاضر دي د هغه ضمانت وکړي. محمد ولي چې دغه وخت د پاچا نايب و، له دوی سره ومنله چې حبيب الله کلکاني کولی شي د شپې په تياره کې ورسره وګوري. هغه د محمد ولي سره وليدل. علي احمد وايي چې «محمد ولي حبيب الله ته وويل، چې که دی حتی هغه وبخښي هم به يې امان الله ژوندی پرې نه ږدي. محمدولي وعده ورکړه چې ورسره به مرسته وکړي، خو چې هغه، هغه څه وکړي چې هغه يې ورته وايي. حبيب الله هوکړه وکړه او له هغه وروسته يې د مراد بېګ په قلعه کې له محمد ولي سره په پټه ليدل او هم وسلې او هم پيسې يې ترينه ترلاسه کولې.»۴۵۲

خو غبار د بهسودو هزاره له غلام حسن له خولې وايي چې دا والي علي احمد و، چې حبيب الله او سيد حسين يې د «راتلونکو عملياتو» دپاره هغه وخت هڅولي وو، چې دی کوهدامن ته د پلټنو د پاره تللی و.۴۵۳ کاکړ وايي چې محمد ولي، غلام صديق، والي علي احمد او د دوی په شان نور حکومتي لوړ کسان به وي چې د هغو په اړه د امان الله لور هنديه وايي چې «هغه څه ډېر غمجن کونکي وو دا وو چې هغو کسانو چې ويل يې چې دوستان يو ... هغوی دوستان نه وو.»۴۵۴

داړه مارو د چاريکارو حاکم غلام غوث او يو علاقه دار هم ووژل. حکومت د هغوی د نيولو دپاره د سورو او پليو يو پوځ ولېږه خو د دوی په نيولو کې پاتې راغی. بيا حکومت احمد علي لودين کاپيسا او پروان ته د تنظيمې رييس په توګه واستاوه. هغه د داړه مارو سره د شنوارو غونډې لومړی د خبرو لار ونيوله. احمد علي له جبل السراج نه حبيب الله او سيد حسين ته داسې پيغام واستاوه: «هغو ته يې د شخصي خوندي توب ضمانتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړل او په قران مجید باندې هغه په لوړې کولو سره تایید کړ، دواړو ته یې د نایب سالارۍ وعدې ورکړې او هر یوه ته یې درې زره نغدې روپۍ او له کارتوسو سره اووه واړه ټوپکونه او هر یوه ته یې چې له دوی سره یې لوټماري کوله وبښل.»۴۵۵

خو پاچا امان الله وایي چې «ما علي احمد [احمد علي] ته حکم وکړ چې دغه دوه کسان خپل ځای ته وبولي او معلومه کړي چې دوی په خپل لوز کې رښتیني دي یا نه دي. دغو دوو [حبیب الله او سید حسین] له خپلو پنځوسو داړه مارو ملګرو سره [د احمد علي په مخ کې] په اخلاص سره لوړه وکړه چې له پخوانیو جنایتونو نه یې لاس اخیستی او وېې غوښتل، چې ورته وسلې ورکړلې شي او ظبط شوي جایدادونه یې بېرته ورکړل شي. احمد علي جان ماته وویل، چې دوی په خپلې توبې کې رښتیني دي. ما دوی ته ... یو نیم سل ټوپکونه ورکړل او څنګه چې د دوی جایدادونه د حکومت له خوا خرڅ شوي وو، د هغو پر ځای مو دېرش زره روپۍ ورکړلې. دوی له دغو وسلو او پیسو نه په کار اخیستلو سره په کابل حمله وکړه. دغه خلک د غولولو له پاره له قران مجید نه یوازې د یوې وسیلې په توګه کار اخلي او زه په دې پوره باور لرم، چې زموږ سپېڅلی کتاب به له دوی نه بدل واخلي.»۴۵۶

کاکړ د فیض محمد د لیکنې له مخې وایي چې دوی د بښل کېدو نه وروسته د کابل تګ ته تیاری وښود، خو حبیب الله له پاچا نه په اندېښنه کې و او شاید د محمد ولي خبرې یې په زړه کې وې، نو چېرته د کابل په لار کې له کوم ټیلفون نه د تنظیمي رییس علي احمد په نامه له پاچا سره وغږېد، چې د ځان په اړه د هغه په نیت پوه شي. په ټلیفون کې ورته وویل چې «ما د سقاو له زوی سره موافقه کړې او هغه مې په لاس کې دی. څه غواړې چې ورسره یې وکړم؟ پاچا ورته کړه چې «ویې وژنه.» حبیب الله بیا پاچا وپوښته چې «ما خو له هغه سره د خوندي توب ژمنه کړې، څنګه یې وژلی شم؟» له پاچا نه یې بیا واورېدل چې «رښتیا هغه له تا سره موافقه کړې نه له ما سره. ژوندی یې پرې نه ږدې.» حبیب الله بیا پاچا ته ځان وښوده. سپکې سپورې یې ورته وویلې او لوړه یې وکړه، چې زر به په کابل باندې یرغل کوي او د امیر کار به کوي.۴۵۷

بیا حبیب الله او سید حسین جبل السراج کلابند کړ او احمد علي د خپل خوندي توب په وړاندې د دسمبر په دولسمه د ټولو حکومتي پیسو، اتلسو ماشینګڼو، یو شمېر درنې وسلې او یو څه ټوپکونه سره ورتسلیم کړل.۴۵۸

له دې وروسته داړه مارو په کابل یرغل وکړ. دوی د جمعې په ورځ د ۱۹۲۸ کال په څورلسمه نېټه د مراد بېګ کلي ته ننوتل او د جمعې د خطبې نه وروسته یې حبیب الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



امیر وټاکه او د ماسپېښین د دریو بجو په شاوخوا کې باغ بالا او د برتانیې سفارت ته ورسېدل. باغ بالا یې ونیو او برتانوي سفارت ته یې ډاډ ورکړ، چې دوی به د ملت د مېلمنو په شان په امن کې وي.۴۵۹

کاکړ د فیض محمد د لیکنې پر بنسټ وایي چې «د خاینو وزیرانو او د کابل نفوذمنو لکه د شور بازار حضرت [ګل اغا مجددي]، سردار محمد عثمان خان، ولي محمد [د پاچا نایب] او د نورو په دستور چې د مخه یې حبیب الله ته په کابل باندې د یرغل کولو ښه وخت ښودلی او خپل ملاتړ ورورساندې کړی و، یاغیان د ارواښاد صدراعظم عبدالقدوس خان په کور ننوتل... په دغه وخت کې په دغه کور کې د حربیې مدرسه د اسماعیل خاک بېګ او نورو ترکي افسرانو تر څارنې لاندې ځای په ځای وه. داسې هم یاغیانو وکولی شول د شهرارا په برج ورننوزي، چې هلته د حبیبیې ښوونځی د شوکت بېګ ترکي په سروالۍ ځای پر ځای و» ۴۶۰

«د محمداکبر خان یو زوی چې د میر بچه په نوم یادېده، د یوې وړې قطعې په قوماندانۍ سخت مقاومت وکړ او دغه سیمه یې د ده افغانان د اوبو تر زیرمه تون پورې وساتله. داسې هم یو ټولګي افسرانو چې د حبیبیې ښوونځي په سهېل ختیځ کې د امیر شیرعلي خان په پارک کې پراته وو، د یاغیانو مخه ونیوله او پرې یې نه ښودل چې زاړه ښار ته ورننوزي. سره له دې هم ټول ښاریان د توپونو او ټوپکونو په ډزو سره په سخته وېره کې شوي وو. خو د پاچا شخصي ساتونکو سورو او یو څو نورو عسکرو رښتیني جنګ ته ملا وتړله. نور پوځ د یاغي توب په حال کې و، ځکه چې د دوی افسرانو د دوی جیرې خپلولې. دوی د دغه مشکل پړه په خپلو افسرانو اچوله نه په یاغیانو او چې د ډزو قومانده ورکړل شوه، ډزې یې د هوا په لور کولې.»۴۶۱

«اوس نو شور او زوږ او ګډوډي په ټول ښار کې خپره وه. امیر چې د خپلو مامورانو له خیانته خبر شو، په غوسه شو، امر یې ورکړ چې د کابل په خلکو او پر هغه قومي خلکو دې وسلې ووېشلې شي چې ښار ته راغلي او لا جلال اباد ته د شینوارو سره د جنګ له پاره تللي نه وو.»۴۶۲

«خو د ښار، د چاردهي په خلکو او په ډېرو قومي ډلو باندې د پنځوسو زرو ټوپکو او بیخي ډېرې اندازې کارتوسو وېشلو اغېزه ونه کړه. په ډېره اندازه له دې امله چې د پاچا د فاسدو وزیرانو او مامورانو په مقابل کې کرکه عمومي وه. بده یې لا دا وه چې ځینو وزیرو، منګلو او احمدزیو چې د شینوارو پر ضد جنګ ته راغلي وو، د کابل په اسه مایي غره باندې موقع ونیوله او د امیر په پوځ یې ډزې پیل کړې.»۴۶۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



«غلام غوث [میر غوث الدین] د ملک جهانداد زوی ... له درې سوه ټوپکو سره ښار پرېښود، خوست ته ستون شو، خپل خلک یې وسله وال کړل او د حکومت پر ضد جګ شول. نورو قومونو هم همدغسې وکړل، ځکه چې د ټوپکو په وېشلو باندې کنترول نه وو.»۴۶۴

«امیر چې په دې پوه شو چې د چاردهي خلکو چې د هغه وروستۍ هیله او ملاتړ وو، هغه ته شا وګرزوله، په وېره کې شو. څلور ورځې وروسته له هغه چې حبیب الله او سید حسین په کابل باندې دانګلي وو، هغه خپله مور، ښځه، خور او واړه ماشومان له ډېرې خزانې سره کندهار ته واستول.»۴۶۵

«نښتې دولس ورځې او یوولس شپې په پرله پسې ډول روانې وې. کومې هغه وسلې، چې په کلوله پشته او باغ بالا کې زېرمه شوې وې، د کوهدامنیو، کوهستانیو او نورو یاغیانو لاس ته ورغلې. د دغو وسلو ډېره برخه چې د امیر عبدالرحمن له وخت نه را په دې خوا زېرمه شوې وې، په دې موخه چې د باندینیو یرغل کوونکو په مقابل کې استعمال شي، د تل له پاره د لاسه ووتلې.»۴۶۶

«حبیب الله د جنګ په حال کې له هوایي بم نه په اوږه کې ټپي شو او هغه سمدلاسه کوهدامن ته په شا شو.»۴۶۷

خو د غبار په وینا «بچه سقاو در زیر اتش توپ های دولت در ان طرف شیرپور به ضربت چره شرپنل زخم برداشت و به جای نامعلومی برده شد و به سرعت مداوا شد.»۴۶۸

د حبیب الله د پرشا کېدلو سره نښتې سپکې شوې، خو په ټپه ونه درېدې. پاچا امان الله ته موقع په لاس ورغله، چې یاغیان خواره او بې اغېزې کړي. فیض محمد وایي چې حکومتي سرتېرو د حبیب الله په استوګنځي، مراد بېګ کلي ډزې کولې او بمونه یې پرې غورزول خو اغېز یې نه کاوه. د پاچا هغه فرمان هم کومه پایله نه درلوده چې د حبیب الله پر سر باندې یې د څلوېښتو زرو روپیو انعام ایښی و. «امیر اوس په خپل قابلیت باندې چې بریالی شي عقیده له لاسه ورکړې وه او په دې ډول یې د حبیب الله د بریالي کېدو له پاره ډګر برابر کړ.»۴۶۹

## د کابل ښار استحکامات او د پاچا ناڅاپي استعفا

«غبار وایي (مخ ۸۲٤) چې حبیب الله او ملګري یې د ډسمبر په ۲۵مه له کابل نه په شا شول، له هغه وروسته... تقریبا دوازده هزار عسکر منظم و غیر منظم در سرتاسر خط

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوتل خیر خانه و غیره حصص تمرکز یافت و اشغال قطعي کاپیسا و پروان محتمل گردید." خو دی دا هم وایي چې د عالي مرکز د نشته والي یا سبوتاژ له امله د مارش امر و نه شو، او دغه جبهه په دفاعي حالت کې پاتې شوه. د فیض محمد په وینا (مخ ۲۱) دغه جبهه په منظم پوځ او ایله جاري سره وار په وار پیاوړې کېدله او په قلعه مراد بیګ او نورو برخو کې د کوهدامنیانو پر ځایونو ګوزارونه کېدل، خو ګټه یې نه کوله. عزیز هندي د دغه وخت پیښې په تفصیل ذکر کړې، چې لنډیز یې دا کېږي، چې د ترکي جنرال، کاظم پاشا په تجویز د کابل په جنوب لویدیځ او شمال لویدیځ کې دفاعي کرښې جوړې شوې او د منظم او غېرمنظم پوځ کابو دوه ویشت زره پوځ ځای پر ځای شو، او د هر محاذ قوماندانۍ د یوه جرنیل په غاړه شوه. باغ بالا د جبهې د مرکز په شان مظبوط شو او په لوړو غونډیو او د الوتکو د ډګر په لوړو ځایونو کې توپونه ودرول شول، او د کابل امنیت په دې ډول ونیول شو. پوځ ته هم د پرمختګ امر ورکړل شو، او قومانده یې هم سور جرنېل محمد عمر ته وسپارله شوه. دی چې یو زړه ور قوماندان و، زیړ، ظالم اوبډي خور هم و، چې له امله یې څو ځله بندي شوی، خو د ضرورت په حال کې به سمله لاسه ازاد او وظیفه به وروسپارله شوه، لکه اوس چې همدغسې وشول.

دا چې د جنرال محمد عمر تر لاس لاندي قوه څومره وه، مالومه نه ده، خو هغه د ټول پوځ یوه برخه وه، چې له کابل نه یې لس میله لیرې یو څو کلي ونیول، او د کلای مرادبیګ د څوکو په هغه خوا کې یې مورچې جوړې کړې او هغه یې خپل مرکز وټاکه. ده مهمات راټول کړل، د دې له پاره چې په سیمې کې د ننه ور د مخه شي. خو ده یوه غټه ستونزه هم لرله، او هغه دا چې د ده په پوځ کې د ځدرانو او منګلو جنګیالي د خپلو مشرانو تر قوماندې لاندې وو، دغه مشران د خوست په جنګ کې له ده سره دغومره وران شوي وو، چې له هغه " سره یې خبرې څه لاندي باندي کولې، تر څو خبره زور ته ورسېده او له دواړو خواوو څخه څو تنه ژوبل [شول] او په خپله سور جرنېل هم په پښې په ګولۍ ولګېد او هغه له میدان څخه د خپلې خېمې په خوا په شا شو. ډېر زر دا اوازه په رضا کارانو او پوځ کې خپره شوه، او د جګړې په لومړۍ لیکه کې یوه عامه ناارامي پیدا شوه." له کابل نه د پاچا نایب محمد ولي سمله لاسه دلته ځان ورسوه او د منګلو په غوسه شوي مشران یې ارام کړل، خو د سور جرنېل په پوځ باندي د ۱۹۲۹ کال د جنوري په ۱۳ مه شپه یو ناڅاپي برید له حد نه ډېر اثرناک ثابت شو.

په هغه " ... شپه د سقاو زوی ورور، حمیدالله، پنځوس تنو ... د څلورو خواوو څخه یې د شبخون تکل وکړ او د دې غلچکي برید هدف یوازي دا و، چې سرکاري پوځ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



رضاکاران یوځه وارخطا کړي." خو، " همدا چې غلچکي برید پیل شو [دسرکاري پوځ] یوه برخه په دې فکر شوه چې د کوهستان لښکر، چې د راټولېدو اوازې یې خپرې وې، ناڅاپي یرغل کړی دی، او یوې بلې برخې داسې فکر کاوه چې قبایلي لښکر د سهار پېښه یو ځل بیا راپورته او توده کړې ده، او پوځونه یې چې د سختو سړو له امله په خپلو خېمو کې دننه پراته وو، په ډېره وارخطایي له خېمو نه راووتل، او کله چې یې ولیدله چې له څلورو خواوو نه ګولۍ اورېږي، نو جرئت یې له لاسه ورکړ او د شپې په دې وېروونکې تیاره کې چې هري خوا ته هڅه وکړه، په هماغه خوا وتښتېدل."(عزیز هندي، ٤١٤) په دې ډول حبیب الله او ملګرو ته یې د سرکاري پوځ ټول توپک، ماشیندار او توپونه په لاس ورغلل، او دوی ځانونه کابل ته نږدې ورسول. خو د کابل دفاعي ترتیبات، لکه چې د مخه ویل شوي، دغومره پیاوړي وو، چې حبیب الله او ملګرو ته یې د کابل نیول شوني نه و.

خو چې "د دې مخکینۍ کلا (کمر بند) د ماتېدلو خبر غازي امان الله ته په هماغه نیمه شپه ورسېده... د هغه په افغانستان باندي د راتلونکي حکومت د ټینګېدلو ټولي هیلي له مینځ نه ولاړې." (عزیز هندي، مخ ٤١٧) تراجیدي یوازي دا هم نه ده. یاغي شینواري د پاچا دپاره غټه اندېښنه وه. د فیض محمد په ژبه (٢١، ١٠٨ مخونه) د ننګرهار د تنظیمې رئیس، سردار علي احمد، " به طمع امارت با خامه خدیعت و فریب به امان الله خان نوشت که: ٢٣ هزار کس از شنواري و غیره جانب کابل به راه افتادند، اطلاعاً عرض شد. و این مکتوب او به امان الله خان رسیده موجب هراس او گشت." فیض محمد بیا لیکي چې پاچا "... هم به فراست دریافت که وزرای غدار و خیانت کارش او را دست بسته به حبیب الله خان خواهند سپرد، ناچار ترک سلطنت نموده، فرار اختیار کرد که گویا فرارش از همان مکتوب علي احمد خان به روی کار آمده."(فیض محمد، ص ١٥٨) په بل ځای کې فیض محمد د پاچا عزم په دې ډول یادوي: " از بي وفایي قشون نظامي و قومي و اهالي شهر کابل و چار دهي... امیر امان الله خان را از حصول ظفر مایوس ساخته در خوف و رعب گرفتن و به پسر سقا سپردن انداختند." (فیض محمد، -١٥٨، ٢١٠)

په دې ډول پاچا د مقاومت روحیه له لاسه ورکړه. که څه هم د کابل استحکام پیاوړی ، پوځ پر ځای، د توپونو او څو جنګي الوتکو په ګډون وسلې پرېمانه وې، . پاچا په هماغه نیمه شپه کې، بې له دې چې له چا سره مشوره وکړي، خپل مشر ورور معین السلطنه سردار عنایت الله، که څه هم د واکمنۍ شوقي نه و، راضي کړ چې د ده پر ځای پاچا وي. دی بیا د سهار پر نهو بجو د ١٩٢٩ کال د جنوري په ١٤مه له محمود طرزي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دباندنیو چارو وزیرغلام صدیق، د دربار وزیر محمد یعقوب، او داخله وزیر عبدالاحد (مایار) سره په موټرونو کې د کندهار په لور روان شو.(فیض محمد، ص ۲۱، ستیوړټ، ٤٦٩ مخ) عزیز هندي د پاچا امان الله د دغه سفر رېړونه هم یادوي، چې هغه د پرله پسې واوري اورېدولو له امله، د جدي سخت ساړه او په پاچايي موټرونو کې د کافي تېل نشته والی وو، خو څنګه چې پاچا په "ډېرو باوري کسانو هم ډاډ له لاسه ورکری و" خپل قیمتي وخت ضایع نه کړ او له لږو تېلو سره هم د کندهار په لور روان شو. په لار کې یې د تیلو د یوه ټانکر نه تېل تر لاسه کړل، خو د غزني او مقر تر مینځ، له لنډو وقفو نه پرته، د پرله پسې واوري اورېدلو له امله سړک د موټرو د تللو نه و، تر څو چې هغه د خلکو په مرسته د موټر تللو وړ شو. (عزیز هندي، ٤٢٥-٤٢٢ مخونه) ستیوړټ لا وایي چې امان الله د خپلو ملګرو سره څلور ساعته پیاده مزل وکړ، چې مقر ته ورسېد، او اوښی(اخښی) یې، محمد حسن، له کندهار نه له څو موټرو سره راغی او بیا دوی ټول کندهار ته لاړل. دغه ټول سفر ۳۲ ساعته ونیول.» ۴۷۰

په دې توګه پاچا امان الله د ۱۹۲۹ کال د جنوري د میاشتې په ۱۴ مه نېټه له پاچايي نه لاس واخېست او هغه یې خپل مشر ورور عنایت الله ته وسپارله. دی په خپله د سهار په نهو بجو چې محمود طرزی، غلام صدیق څرخي، محمد یعقوب د دربار وزیر، عبدالاحد د کورنیو چارو د وزارت مرستیال اوخپلو شپږو ساتونکو سره د کندهار په لور روان شو او د ځان سره یې یوه اندازه سره زر یووړل. چې ټول ارزښت یې لس میلیونه روپۍ کېده.

پاچا عنایت الله د ورځې په یوه بجه په داسې حال کې چې په خېرخانه کې لا نښتې روانې وې، د کابل ځینې مخور، پوځي استازي او قومي کسان د دلکشاه په مانۍ کې د بیعت منلو له پاره وبلل. دوی ته د امان الله د ګوښه کېدو فرمان ولوستل شو او نوي پاچا ته یې د بیعت لوړه وکړه. فیض محمد وایي چې: «عنایت الله هغه بې وجدانه، رذیل د شور بازار حضرت [ګل اغا مجدیدي]، محمد عثمان او دوه یا نور ملایان چې په خپله د یاغي توب محرکان وو، وغوښتل چې له هغو عمري غلو او شریرو جانیانو حبیب الله او سید حسین سره وګوري.» عنایت الله د دوي په لاس هغو ته یوه لیکنه هم واستوله چې په کې ویل شوي و چې اوس نو امان الله چې تاسې «کافر» ګاڼه، ګوښه شوی او پر ځای یې د کابل خلکو له خوا زه پاچا شوی یم، چې تاسې هم ما «رښتینی مسلمان» ګڼی، نو د جنګ له پاره ټول دلیلونه وړل شوي دي. «که تاسې په رښتیا د رښتین توب له پاره جنګېدلې یی نه د مسلمانانو تر منځ د دښمنۍ له پاره، نو بیا لازمه ده، چې بې اتفاقي پرېږدی او د افغان امیر صلاحیت وپېژنی.»۴۷۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه خاين پلاوي په لار کې د امان الله د ګوښه کېدو او د عنايت الله د پاچا کېدو نه هغه پوځي واحدونه او قومي خلک خبر کړل، چې په ستراتيژيکي ځايونو کې ځای پر ځای وو. دوی له سرتېرو وغوښتل چې جګړه بس کړي. له دې يې هم خبر کړل چې دوی د حبيب الله او سيد حسين سره د خبرو کولو له پاره روان دي. د دوی په سپارښتنې ډېرو سرتېرو خپل ځايونه پرېښودل او د ښار په لور روان شول. پلاوي حبيب الله او سيد حسين ته د پاچا پيغام ورکړ، خو هغوی د پاچا د پيغام او د خپلې رسمي دندې پرخلاف په خپله حبيب الله د پاچا کېدلو له پاره وهڅاوه او ورته وېې ويل چې عنايت الله نه، بلکې دی د پاچاېي مستحق دی. د دې له پاره دوی دا عجب دليل وړاندې کړ: «د دغه حقيقت په نظر کې نيولو سره چې حبيب الله د رجب په لومړی [دسمبر ۱۹۲۸، ۱۴ ] په پاچايي تخت ډېره لګولې، په داسې حال کې چې د عنايت الله پاچا کېدل د شعبان په دوهمې [جنوري ۱۹۲۹، ۱۴ ] سره سمون کوي، نو ته، نه عنايت الله د تخت رښتينی مستحق کيږي. که عنايت الله تا ته بيعت نه کوي، د هغه کړه به د شريعت له مخې ناراوه وي.»۴۷۲

حبيب الله او سيد حسين د پلاوي سره د خبرو وروسته سمدلاسه د ښار په لور وخوځېدل. په لاره کې يې هغه وسلې راټولې کړې چې دوی د مخه پرې ايښې وې. د کاکړ په وينا «په دې ډول اته ويشت وسله وال مېړونه په شکېدلو جامو کې له تش لاسو کوهدامنيانو سره له ده افغانان نه په ښار ننوتل، د چار يار نارې سورې يې پورته کړې او هوايي ډزې يې وکړې.»۴۷۳ فيض محمد وايي چې «د ښار خلک لا د مخه د امان الله پر ضد متمايل شوي وو، دوی له هغو ډېرو وسلو نه کار وانه خېست چې هغو ته ورکړل شوې وې، نو د حبيب الله ملګرو او سيد حسين ښار په قبضه کې ونيوه.» حبيب الله د عنايت الله له پلاوي سره، چې اوس د هغه ډېر عزتمن مېلمانه وو، د باغ بالا مانۍ ته وختل. سيد حسين چې ښار ارام وموند هم له هغو سره يوځای شو. خو عنايت الله د خپلې پاچاېي په لومړۍ ورځ په ارګ کې ځان ايسار وموند. د کابل او چاردهي ډېر ښاريان د شاه زوی حيات الله او محمد کبير او نورو سردرانو په ګډون چې يوه ورځ د مخه يې عنايت الله ته د بيعت لوړه کړې وه، د جنورۍ په ۱۵ مه نېټه د سوغاتونو سره په باغ بالا کې د حبيب الله سلام ته لاړل او «وروسته له هغه چې هغه يې له خپل رښتين توب نه ډاډه کړ او د واکمن کېدو مبارکي يې ورته وويله، کورونو ته ستانه شول.»۴۷۴

په دې توګه دوه پاچايان چې يو يې نالوستی او بل بې زړه سردار په ښار کې ځای پر ځای وو. عنايت الله هغه مهال پوره بې زړه شو چې د شور بازار حضرت، سردار محمد عثمان او نورو «خاينو وزيرانو او د هغوی غوړه مالو ملګرو» دی د حبيب الله په اړه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو نظریو نه خبر کړ. «دوی په دغه کار سره هغه ووېراوه او د تخت له دفاع نه یې د هغه اراده ولړزوله» که یې لرله.

د جنوري په شپاړلسمه نېټه په داسې حال کې چې د کوهدامنیو او امان الله د پلویانو تر منځ نښتې لا هم روانې وې او اتیا تنو د بهسودو هزاره ګانو د کلا بلند له وسله تون نه ساتنه کوله، د ښار ځینو لویانو لکه د شورا سروال شیر احمد، د پوهنې وزیر فیض محمد، د سوداګرۍ پخوانی وزیر عبدالهادي، د مالیاتو وزیر میر هاشم، د امیر عبدالرحمن زامنو(سردار امین الله او سردار محمد عمر) او د وزارتونو یو شمېر مرستیالانو او د دولتي ځانګو سروالانو د حبیب الله تبعیت ومانه. داسې هم د ښار قزلباش باغ بالا ته لاړل او حبیب الله ته یې بیعت ورکړ. نښتې غلې شوې. د شور بازار حضرت، سردار محمد عثمان او یو څو وزیرانو عنایت الله وهڅاوه چې واکمني پرېږدي او ارګ خوشی کړي او عنایت الله هم ورسره هوکړه وکړه. په هماغه ورځ حبیب الله د شور بازار حضرت له یوه فرمان سره عنایت الله ته واستاوه چې د ارګ نه د وتلو په صورت کې یې د هغه د خوندي توب ضمانت کاوه. عنایت الله د ۱۹۲۹ کال د جنورۍ په اوه لسمه نېټه حبیب الله ته لیک واستاوه چې په هغه کې د تش په نامه د درې ورځنۍ پاچایې وروسته د واکمنۍ نه په لاندې ډول تېر شو:

«زما ورور حبیب الله ټولو ته څرګنده ده، چې زه نه غواړم پاچا اوسم. د پلار د مړینې نه وروسته مې هېڅکله د تخت د ګټلو له پاره هیله نه ده کړې. زه اړ شوم چې هغه یوازې د لویانو په ټینګار ومنم، چې هغوی په تخت باندې زما کېناستل د خلکو د شتمنۍ او د اسلام له پیاوړې توب سره تړلی وګانه، خو اوس چې زه وینم د مسلمانانو وینې تویېږي پرېکړه مې وکړه، چې د افغان امارت له پاره له خپلې دعوه نه تېر شم او د نورو پاک زړو مسلمانانو په شان تاسو ته خپل بیعت درکړم. نن ورځ په ارګ کې له ما سره لاندې مسلمانانو ژمنه کړې ده.» په دغه لیک کې د شلو حکومتي کسانو نومونه دي، چې په هغو کې د محمد ولي او عبدالعزیز نومونه هم شته. عنایت الله په خپل لیک کې حبیب الله ته خپل بیعت په لاندې شرطونو وړاندې کوي:

«لومړی دا چې ما ته، زما کورنۍ ته او زما پراخې شوې کورنۍ ته او د پورته نوموړو کسانو او د ارګ ټولو افسرانو او عسکرو ته دې هرومرو د خوندي توب ضمانت وي.»

«دوهمه دا چې زه او زما کورنۍ یا کندهار یا د باندې تلونکي یو. غواړم کندهار ته د تګ له پاره باید یوه الوتکه زما په خدمت کې وي.»

«درېیمه دا چې زه غواړم محمد ولي خان، عبدالعزیز خان او احمد علي خان ته اجازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي که غواړي د خپلو کورنیو سره د باندې ولاړ شي.»

«څلورمه دا چې له نن نه د یوې میاشتې په بهیر کې هر هغه لوړ رتبه مامور ته اجازه وي که غواړي له خپلو کورنیو سره د باندې ولاړ شي.»

«پنځمه دا چې تر هغو چې الوتکه راځي، زه په ارګ کې اوسم.»۴۷۵

د ۱۹۲۹ کال د جنوري د میاشتې په اتلسمه نېټه د حبیب الله په غوښتنه دوه برتانوي الوتکې د کابل په هوایي ډګر کې ښکته شوې. په دغو الوتکو کې د درو ورڅو پاچا عنایت الله، د ده کورنۍ، د دفاع پخوانی وزیر عبدالعزیز او احمد علي خان پېښور ته ولاړل. دوی بیا له هغه ځای نه په اورګاډي کې چمن ته او له چمن نه په موټرو کې کندهار ته لاړل او هلته د امان الله خان سره یوځای شول. په هر حال، حبیب الله چې د نسب په لحاظ هر څوک و، د دغسې غریب، نالوستي کلیوال په لاس د افغانستان د پاچایي نظام چپه کېدل په معاصر افغانستان کې یوه بېساري پېښه ده.»۴۷۶

په دې ډول د ضییایي کورنۍ چې نیمه پېړۍ د مخه د امیر عبدالرحمن په کوښښ سره واکمنۍ ته رسېدلې وه، له واک نه ولوېده او واکمني د یوه کوهدامني داړه مار لاس ته، چې د سقاو د زوی په نوم شهرت لري، ورغله چې ځان یې امیر حبیب الله د دین خادم په نوم یاد کړ. محمد ولي په کابل کې پاتې شو.

امان الله په کندهار کې نیت وکړ چې له لاسه تللې واکمني بېرته ترلاسه کړي. پوهاند کاکړ د منشي علي احمد د لیکنې له مخې د امان الله خان تګ تر غزني پورې داسې بیانوي:

«امان الله په کندهار کې په یوې سترې غونډې کې بیا د پاچا په توګه وپېژندل شو، خو هلته یې نوی حکومت جوړ کړ او هرې خوا ته یې فرمانونه واستول او خلک یې د حبیب الله پرزولو ته وبلل. د دفاع د وزیر عبدالعزیز او عبدالاحد مایار په کوښښونو سره امان الله وکولی شول د مارچ په میاشت کې له لرو ډېر څلور زره قومي خلکو او پنځه سوه منظم پوځ سره د کابل په نیت روان شي. د دغه مارش په برابر کې په قلات او مقر کې د سقویانو له خوا مقاومت وشو. په مقر کې ان د محمد اکرم په نامه یوه محمدزي غونډ مشر هم د سقاو زوی په پلوۍ نابریالی مقاومت وکړ. سره له دې هم مارش تر غزني پورې بې له غټ مقاومت نه ورسېد. په مقر کې جاغوري هزاره ګان او وروسته د بهسودو، مالستان، جاغوري او نورو ځایونو نه څه باندې شپږ زره هزاره مېړونه د ملاتړ په توګه د پاچا امان الله کمپ ته ورسېدل، خو د دوی راتګ د غلزیو خېلونه لکه اندړ، سلیمان خېل او تره کي لا وپارول او د غزني سقاوي حاکم محمد کریم په دغو قومونو کې د ګرزېدلو په وخت کې دغسې تبلیغ کاوه، چې که «امان الله په رښتیا کافر نه وای، هزاره ګان

(c) ketabton.com: The Digital Library



به یې چې د دوی پخواني دښمنان دي، نه وای راغوښتي او د دوی شته والی یوازې دغه مانا لري، چې هغه د غیر افغانانو له خوا د افغانانو ځپل دي. د دغې ډنډورې اغېزه سملاسي وه. په داسې حال کې چې د مخه یوازې شل په سلو کې د امان الله مخالف وو، اوس یې ټول مخالف شول.»۴۷۷

امان الله د سقاو په پوځ چې د ننه د غزني په ښار کې و، یرغل وکړ. ورپسې د امان الله په امر هزاره ګانو هم په ښار برید وکړ. د امان الله خان د ځواکونو په وړاندې سلېمان خېلو، اندړو، تره کو، دوتنیو او تاجکانو بریدونه پیل کړل. د جګړې په پیل کې برى د پاچا د پوځ په ګټه و، خو نښتې پسې اوږدې شوې او یو شمېر کندهاري او هراتي سرتېري وتښتېدل او هزاره ګانو هم اغېزمنه جګړه ونه کړای شوه.

کاکړ وایي چې د پاچا پیسې او وسلې هم په خلاصېدو وې او سرتېرو ته خواړه رسول او تنخوا ورکول هم ستونزمن وو. سربېره پردې د غزني چاپېرو زېږو سیمو سره د پوځ نابلدتیا ګرانه تمامېده. د دې ټولو پایله دا شوه چې پاچا امان الله معنویات بایلي. «امان الله هم عصبي او په وېره کې شو. خپل دوه مشاوران محمد یعقوب[د دربار وزیر] او محمد حسن جان [د پاچا اوښی] یې وغوښتل او له هغوی سره په پټه جرګه شو. هغه ته د دوی مصلحت دا و چې له غزني نه په منظم ډول په شا شي او افغانستان پرېږدي. دوی د خپل مصلحت په ملاتړ وویل چې ټول افغان ملت په ځرګند ډول د هغه پر ضد شوي دي. دوی د شپې له خوا د کندهاریو او د هراتیو تښتېدلو ته اشاره وکړه او دلیل یې راوړ چې څنګه دغو ناپوهو احمقانو د ستاسې اعلحضرت د لسو کالونو خدمت درناوی ونه کړ تاسې باید افغانستان پرېږدئ او که تاسې اعلحضرت (بیا) پاچا شئ څه ګټه به وکړي، ځکه چې د افغانستان وضع پوره ګډه وډه ده او شتمني یې هم ضایع شوې ده.»۴۷۸

پاچا امان الله بیا کندهاري خانان، بیرغ لرونکي او عبدالاحد خان سره جرګه وکړه او د خپل تګ تجویز یې ورته وړاندې کړ. «د کندهاریو معنویات دومره ضعیف شوي وو چې هغو ټولو رضایت وښود. عبدالاحد خان مخالفت وکړ او ویې ویل: چې وردګو له سقاویانو نه ډېر مهمات ترلاسه کړي. هغه وړاندیز وکړ، چې څه وخت پوځ په وردګو کې وي د هغوی ټول لګښت به ورکړي او دا چې د وردګو له لارې دې په کابل باندې یرغل وشي. عبدالاحد هغه یوازینی کس و چې د پاچا له وتلو سره یې موافقه نه لرله او د هغه پلان ونه منل شو.»۴۷۹

پاچا امان الله خپل پوځ ته د کندهار په لور د تګ امر وکړ. کندهار ته د امان الله په رسېدلو سره سقاویان مقر ته ورسېدل او هرات هم د حبیب الله له پاره د عبدالرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوهستاني له خوا ونيول شو. امان الله د مى په مياشت کې له کندهار نه د چمن په لار هندوستان ته او له هغه ځايه د ايټاليې مرکز روم ته لاړ او هلته يې پاتې عمر تېر کړ. امان الله خان په ۱۹۶۱ کال کې هلته د اويا کلونو په منګ مړ شو او مړى يې د هغه د وصيت سره سم افغانستان ته راوړل شو او په جلال اباد کې د خپل پلار د ګور تر څنګه خاورو ته وسپارل شو.

## د پاچا امان الله ځينې مهمې تېروتنې

د کاکړ په وينا پاچا امان الله او حکومت ته يې چې د خوست له جنګ نه وروسته بل غټ خطر پېښ شو، هغه د ده له باندني سفر نه وروسته د دغسي سمونونو له امله و، چي افغانان په هغو سره خپل د پېريو دود دستور او ژوند طرز پرېږدي، او اروپايې دود، دستور او ژوند طرز غوره کړي، هغه هم په حکومتي زور، او په ګړندي ډول. اول له ډېرو لوړپوړو چارواکو سره د ده د شپږ مياشتي باندنى سفر، په داسي حال کې چې دى هم د دولت او هم د حکومت سروال و، په دغسي وخت کې و چې هم د ده د لومړۍ دورې د نااشنا اصلاحاتو، او هم د يوه کلني جنګ خاطرې هيرې شوي نه وې او د هيواد کراري هم په ډاډمن حال کې نه وه، د ده په بيرون کېدلو سره د غبار په وينا "در تمام ولايات افغانستان حلقه هاى مخفي مخالف به فعاليت ضد دولتي درامدند."(۱۳) لوى او اثرناک مخالف يې فضل عمر مجددي و، چي د پاچا نوي پروګرامونه يې د شريعت مخالف ګڼل. مجدديان د خپلې نقشبنديه عقيدې له مخې عقيده لري چي د يوه مسلمان ملک واکمنان مکلف دي چي د شرعي قانونو له مخې حکومت وکړي، او که يې و نه کړ، خلک دي د هغه مخالفت وکړي. فضل عمر مجددي د نقشبندي طريقې د مشر په توګه د پاچا امان الله په مخالفت د مخه له افغانستان څخه وتلى او په اسماعيل خان ديره کې ديره شوى و. د تاريخپوه ادمک د ليکني له مخي هغه د پاچا ضد تبليغ تر څنګه د جنوبي او پکتيا له عالمانو سره غونډه وکړه او په دې وغږېدل چي"د ځوانو افغانانو پر ضد کودتا وشي، او پاچا امان الله په ستنېدو سره له يوه شوي عمل سره مخ شي." دوى دغه پرېکړه هم وکړه چي " په وروستي ګام کي دي پاچا ګوښه او جمهوري نظام په پښو ودرول شي." ۴۸۰ (ادمک، ۱۳۹)

دغه اوږد سفر د پاچا په خپل نوښت و. د مخه مې يادونه کړې وه چې د کاکړ وروستۍ ليکنه «د ښاغلي زماني او ښاغلي سيستاني د ليکنو په هکله» کې د هغه د لومړۍ ليکنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



«د پاچا امان الله واکمنۍ ته نوې کتنه» دا خبره ردوي چې محمود طرزي مشوره ورکړې وه چې اروپا ته سفر وکړي. دی په وروستۍ لیکنه کې دې پایلې ته ورسېد: په کابل کې خسر یې، نومیالي او مجرب محمود طرزي، په دغه وخت کې د نه سفر کولو مشوره ورکړه، خو هغه و نه منله. د ایټالیې د ناپل په ښار کې جنرال محمد نادر، او وړونو یې محمد هاشم، او شاه ولي، پاچا ته ځانونه ورسول، او ورته وویل چې " د افغانستان په اوسنیو اجتماعي، سیاسي او اقتصادي حالاتو کې د چټکو اصلاحاتو له پاره ډګر برابر نه دئ." د دې مانا دا کېده چې دغه سفر ونه کړي، او له دغسي اصلاحاتو نه لاس واخلي. پر عوض یې پاچا جنرال نادر ته وویل چې دی دي افغانستان ته لاړ شي. "سپاه سالار یې پر امر باندي غوړونه کاڼه واچول." او په سفر کي یې هم ورسره ملګرتوب ونه کړ.(١٤) د پاچا مور چې په حکومتي چارو کې فعاله او د ملکې ثریا پر خلاف وه، هم د دغه سفر مخالفه وه، او نه یې غوښتل چي زوی یې " ... خپل تاج او تخت په خطر کې کړي." ۴۸۱ (١٥)(عزیز هندي، ٣٧)

پاچا چي له دغه سفر نه وطن ته ستون شو، هغه پخوانی امان الله هم نه، بلکي د اروپایي کلتور تر تاثیر لاندي شوی و. د غبار په وینا " وقتیکه شاه برگشت آنمرد گذشته نبود. او بسیار خود رای و مغرور شده بود، و با اقدامات عجولانه اي که نمود بزودي افغانستان را مستعد به یک انفلاق منفي نمود."۴۸۲ (غبار، ٨١٢) لیکوال عزیز هندي چي پاچا یې له نژدې پېژانده د غبار د نظر په تائید کي د پاچا د وضع د تغیر په اړه دلیل هم راوړي او وایي چي (عزیز هندي، ٥٥): " په اروپا کي له ده نه کوم شاندار استقبال شوی و، د ده په طبیعت باندي دا تاثیر کړی و، چي دی تر پخوا زیات د خپل عقل، پوهې او د فکر د رښتین توب مدعي شي، نو ځکه د هیواد د پرمختګ له پاره چي ده کوم فکرونه او تجویزونه له ځان سره لرل، هغه یې سم او د لاس وهنې وړ نه ګڼل."۴۸۳ له همدې امله و، چي پاچا په ترکیه کې د هغه مشر اتا ترک ته په همدغې روحیې سره مالومات ورکړل.

اتا ترک وپوښته چې " ایا اعلي حضرت په خپل هیواد کې دومره محبوبیت لري چي د اصلاحاتو خلاف اعمال به د یوه بغاوت په شکل را مینځ ته نه شي؟ پاچا ځواب ورکړ، چي " ما د منګلو د بغاوت په ترځ کې تر زیاته حده د روحانیونو قدرت مات کړ، او دوی زما په هیواد کې یو مقتدر عنصر ګڼل کیږي، چي د حکومت پر ضد د خلکو د راپورته کولو او تحریک کولو قدرت او استعداد لري، خو اوس دغې ډلې ته پخوانی قدرت نه دی پاتي چي د حکومت پر ضد سرونه راپورته کړي." اتا ترک له ده نه بیا پوښتنه وکړه، چي که بیا هم دغه ډله په دغه کار کې بریالۍ شوه " اعلیحضرت به وکړای شي هغوی په خپل قدرت سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



و ځي. [؟] پاچا په ډاډ وويل چي " هو، زه په اساني سره کولای شم چي د خپل پوځي قدرت په ذريعه د داسي شورشونو او فتنو په ټکولو بريالی شم." د اتاترک بله پوښتنه دا وه چي پوځ به د "تحريک" په وخت کې " خپل دسپلين وساتي او تاسي ته به وفادار پاتې شي [؟]" ځواب يې واورېد چي " هو، زه په خپل پوځ کي ډېر زيات محبوب، او د دوی په زړه کې ځای لرم." د اتا ترک بله مهمه پوښتنه دا وه چي د بغاوت " ... په حال کې تاسي يقين لری چې ګاونډي هيوادونه به د اعليحضرت د حکومت پر خلاف کار روايي او لاس وهنه و نه کړي [؟]. ځواب يې واورېد چي " زه په دغه خبره کامل يقين لرم چي په دغه حال کي به روس او انګرېز دواړه خپلو ژمنو او تړونونو ته په درنه سترګه وګوري، او احترام به يې وکړي." اتاترک بيا ورته مشوره ورکړه چي " څرنګه چي دا ټول حالات د اعليحضرت په موافقت دي، نو دی دې دا اصلاحات زر تر زره پيل کړي." خو هغه په پای کي دا هم ورته وويل چي " په ترکيه کي هيڅ اصلاحاتو ته هرکلی نه دی شوی. ... هغه ما د برچې په څوکه عملي کړي دي. هيڅ اوسېدونکي خپل پخواني دودونه، دستورونه، رواجونه په خپله خوښه نه پرېږدي، تر څو د وخت حکومت د هغو [د ځپلو] له پاره قدرت استعمال نه کړي." د عزيز هندي د ليکني له مخي ( عزيز هندي، ٤٩) " تر دغو وروسته اعليحضرت تر پخوا زيات پر اراده او عزم ټينګ ودرېد.... دا فکر هم په ده کي پياوړئ شو چي دی به افغانستان ته د رسېدلو سره سم اصلاحات په قوت او زور رواجوي."۴۸۴ پا چا په رښتيا همدغسې وکړل.

پاچا دا هم د اصلاحاتو يوه برخه ګڼله چې د جمعې ورځي رخصتي د پنجشنبې ورځ کړي، په داسي حال کې چې د جمعې ورځ خلکو ته يو ډول مذهبي ورځ شوې وه. د ليکوالي ستيورټ په نظر (ستيورټ، ٤١١) دا ټول د پاچا د ستر پلان شروع وه. پاچا د خپل پلان د عملي کولو له پاره د باندنيو چارو وزارت کې ژوند غوره کړ، او عادي چاري يې محمد ولي ته سپارلي وې.۴۸۵ خو په نورو ساحو کې د پاچا امان الله د لبرال او ازاد مارکيت د رواجولو له امله پرمختګ شوی او پانګه وره ډله خلک د هسکېدلو په حال کې وه. په ټوليز ډول " په اقتصادي برخه کې هم يو ژور اوښتون د مينځ ته راتللو په حال کي و، او د خلکو د ژوند څرنګوالی مخ په ښه کېدو و. ... د سوداګرو منځنی طبقه هم د خپل راپرزېدلي حال نه راپورته شوې وه. ... په کليو او کورونو کې د لاسي مصنوعاتو جوړولو ته زيات پرمختګ په برخه شوی و. د حمل او نقل له پاره هره ورځ نوي اسانتياوي را مينځ ته کېدلې." د کابل او پېښور تر مينځ د تجارتي مالونو د لېږدولو له پاره يوه کمپنۍ فعاله شوې وه. " د حکومت له خوا د موټرو دغه ترانسپورټي مؤسسو ته خاص حقوق او واکونه ورکول شول. د هيواد واردات او صادرات ورځ په ورځ مخ په زياتېدو وو. "۴۸۶ (عزيز

(c) ketabton.com: The Digital Library



هندي، ۹۹-۹۷) په ختيځ کې د بند غازي په نامه يو بند جوړ شوی و، چي ډيري مځکې په خړوبېدلې. نهر کريم داسې هم په غزني کې د سلطان محمود پاچا د وخت بند سلطان د فعال کولو له پاره کار کېده.

د ده په اخيري حکومت کې د امنيتي چارو افسران دا وو: عبدالعزيز بارکزی د حرب وزير، محمود سامي د قول اردو قوماندان او عبدالاحد (مايار) داخله وزير. غلام صديق (څرخي) د باندنيو چارو وزير و. محمود طرزي، چې د تجربې خاوند او د پاچا رښتينی خواخوږی و، له نظرنه لوېدلی و. په دې چې د پاچا مور د هغه د لور ياني ملکې ثريا سره مخالفه وه.۴۸۷

اشرف غني په خپله مقاله کې «فصل نا تمام تاريخ افغانستان» وايي چې د پاچا امان الله خان کلتوري ليد چې په هېواد کې يې د نظام جوړولو په اړه درلود د هغه مهال د سياسي قشر تر منځ د اختلاف يو لامل شو. پاچا د دې پر ځای چې د محمود طرزي په فکرونو، نظريو، مشورو او تجربو ډېره ولګوي هغه يې د سفير په توګه فرانسې ته واستوه. ده برسېره پر دې لا د مخه يو شمېر وتلي کسان د نادر خان په ګډون هم بهر ته استولي و. پاچا لوېديځو هېوادو ته په خپل اوږده سفر کې د لوېديځ د ظاهري شان او جلال تر اغېز لاندې راغی او ويې ليدل چې افغانستان تر کومې کچې وروسته پاتې دی. ځوان پاچا د ټولنې د کلتور د بدلېدو په اړه د خلکو د جامو بدلون ته هم پام واړوه. «ده ان د هټيوالو نه وغوښتل چې د جامو د اغوستلو طرز بدل کړي او د ټولو نه يې وغوښتل چې شاپو پر سر کړي.»

غلام محی الدين انيس په خپل اثر «بحران و نجات» کې وايي چې سم انقلابونه تل د يوه پروګرام او نقشې لاندې کيږي شته حالت د منځه وړي. خو د مخه تر دې چې شته حالت د منځه يوسي، د خپلې سمې راتلونکې په اړه فکر کوي. دی وايي چې «زموږ انقلاب يوازې د دغو دوو شرطونو څخه يو شرط درلود، ياني په نسکورولو کې ټول ملت متحد و. خو د هغه نه زياته يې بايد د راتلونکې په اړه فکر کړی وای چې وطن په دغه زيان اخته شوی نه وای.»۴۸۸ انيس پوښته کوي چې ايا د ملت کرکه په رښتيا د سمونونو او پوهنې او تمدن په وړاندې وه، که اصلي لامل يې په ناسمه اداره او جدي تېروتنو او د زيات افراط او تفريط و؟ انيس وايي: چا چې د امان الله خان لس کلنه دوره ليدلې وي په اسانۍ به ورته څرګنده شي چې «رښتيا دا دي چې ملت سمونونو پارولی نه و، بلکه د ملت دا پاڅون د هغې دورې د متواليانو د ناسمې ادارې پايله وه.»۴۸۹ دی زياتوي چې هغه مهال چې پوليسو ته امر شوی و چې هر څوک په سړکونو يا لارو کې څوک بې شاپو ووينځ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی نه جریمه واخلئ.۴۹۰

## ایا د امیر امان الله په نسکورېدو کې انګرېز انو رول درلود؟

څرنګه چې یو شمېر افغان لیکوال برتانویان د پاچا امان الله په ناکامۍ کې دخیل ګڼي او ځینې نور یې نه ګڼي نو اړینه ده چې په دې اړه د کاکړ نظر لوستونکو ته وړاندې کړم.

د کاکړ په اند د پاچا امان الله د واکمنۍ نسکورېدنه د برتانویانو د توطیو او دسیسو نتیجه نه ده، بلکې دا یوه قوي افسانه ده چې پاچا د برتانویانو د دسیسو ښکار شوی دی. دی وایي چې په خپله پاچا امان الله مني او وایي چې ملایانو یې مخالفت کړی، بې له دې چې چا پیسې ورکړې وي. په بمبیي کې پاچا امان الله عبدالغفار خان ته د خپلو خلکو نه شکایت وکړ چې دی یې «قادیاني» او «وهابي» ګاڼه او دی نه غواړي چې په دوی باندې بیا د واکمنۍ کولو په مقصد کوښښ وکړي. غفار خان لیکي چې «امان الله د پښتنو د رفاه له پاره کار وکړ. مګر دوی د دوست او دښمن تر منځ توپیر ونه کړ، شورش ته یې لاس واچاوه او هغه یې د ملک نه وشړلو.»۴۹۱

کاکړ وایي چې د برتانیې او هند حکومت غوښتل چې امان الله پیاوړی او د خپل هېواد واکمن پاتې وي. په هغو لیکونو کې چې د ۱۹۲۵ او ۱۹۲۶ کلونو کې د دوی تر منځ لېږل شوي، ویل شوي، «د لومړۍ درجې مهمه موضوع دا ده چې امیر په خپل تخت وساتلی شي. دی که څه هم د قناعت شخص نه دی، تر ده ښه بل څوک نه لیدل کېږي، او انقلاب هغه څیز دی، چې شورویان ورته کار کوي، »۴۹۲ پاچا امان الله هم ویلي و چې «زه پوهېږم چې د شوروي اېجنټان زیار باسي زما په خلکو کې انقلابي نظریې خپرې کړي، او زه دومره ړوند نه یم چې فرض کړم چې کمونستي حکومت به ما او زما تخت ته له دښمنۍ نه غیر بل څه وي»۴۹۳ اوس به وګورو چې د امان الله خان د نسکورېدو په اړه دغه ناسم ذهنیت د خپرېدو لاملونه کوم دي؟

کاکړ وایي چې په اصل کې له پاچا امان الله سره بېعدالتي شوې ده. کلونه کلونه د هغه نوم نه اخېسته کېده، او دارالامان په نوي کابل واړول شو. خو په افغانستان کې نوې په واک شوې کورنۍ، له پخوانیو واکمنو کورنۍ سره همداسې بېعدالتي ګانې کړې دي. نو د امان الله په اړه نه یوازې بحثونه ونه شول، انتقادي بحثونه هم پرې ونه شول، بلکې د هغه په اړه سطحي او ناسم ذهنیت خپور شو. په دې د امان الله واکمني هغسې چې وه ونه پېژندل شوه. خو دی اوس پلویان او مخالفان لري او په اړه یې احساسات پارېږي. دا به له دې امله هم وي چې افغان کلتور په یوه کرښه ییز فکر جوړ دی: نیکي یا بدي، غندنه یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاینه، کفر یا اسلام، تور یا سپین او نور. کاکړ وایي چې دا به د اوښتا په حواله د سپېتامه ته منسوب د اوښبنه، زردښت فکري میراث وي چې نړۍ یې د دوه ګونې مفکورې د نیکی خدای او د بدی خدای باندې وېشلې وه.

اوس خو د یوې خوا د رسمي پاڼو د ارشیف نشتوالی هم د تاریخي موضوعاتو په اړه د متوازنو او افاقي اثارو لیکل ستونزمن کړي دي او د بلې خوا د یوه کرښه ییز کلتور جذمي توب له کبله د دین په نامه حیرانوونکي عملونه، لیکنې او تلقینونه کیږي. له نېکه مرغه په دې وروستیو کې، د نویو تعلیم کړو، ازادي پالو په هسکېدلو سره په افغانانو کې انتقادي روحیه ټوکېدلې، او هیله کیږي چې وروسته به څو کرښه ییز فکر د دغه منحط یو کرښه ییز فکر ځای ونیسي او د متوازنو او انتقادي لیکنو له پاره به ډګر هوار شي، چې دا کار به د فرد، ډلې او ټولنې د پېژندلو په لار کې غټه مرسته کړې وي.

اوس به وګورو چې ولې امان الله خان خپله واکمني له لاسه ورکړه، په داسې حال کې چې دی په ۱۹۱۹ کې د دغسې افغانستان واکمن شو، چې ټینګ مرکزي حکومت او ځواکمن پوځ یې لاره او په خزانه کې یې نږدې ۱۵۰ میلیونه روپۍ شتون درلود. پاچا د بشپړې خپلواکۍ په ګټلو سره، په ولس کې زیات منلی و، خو لس کاله وروسته اړ شو چې د خپلې کورنۍ سره د هغه وطن نه د تل له پاره ووزي چې ده به یې په اړه ویل: «د وطن د خدمت نه پورته بله مینه نه لرم»

د پاچا امان الله لومړۍ غټه ناکامي په منځنۍ اسیا کې وه، چې هلته یې په ملکي جامو کې سرتیري واستول او ډېرې پیسې یې ولګولې په دې هیله چې هلته به د اسلامي کانفدرېشن مشر شي، خو هلته د ده ټول کوښښونه او لګښتونه بابیزه شول چې د مخه پوره ړنا پرې اچول شوې ده.

د پاچا بله غټه ناکامي په ۱۹۲۴ کال کې د خوست بلوا وه چې افغانستان ته ګرانه تمامه شوه. د فیض محمد په روایت له دواړه خواوو نه څوارلس زره کسان له منځه لاړل او حکومت ته دېرش میلیونه روپۍ تاوان واوښت. ټول سمونونه چې تر دغه وخت شوي وو لغو شول. دغه تراژیدي د پاچا امان الله له پاره د عبرت درس کېدلی شو، خو هغه ترېنه زده کړه ونه کړه او څلور کاله وروسته په ۱۹۲۸ کال کې یې د لومړۍ دورې تر سمونونو په کراتو ډېر پاروونکي سمونونه پیل کړل چې نږدې ټول یې په افغانانو په حکومتي زور د اروپایي ژوند شېوه او دودونو تپل وو، چې پایله یې د افغانانو وژل کېدل، د اماني نظام نسکورېدل او له وطن نه د هغه د کورنۍ وتل و. د معاصر افغانستان په تاریخ کې دا یوه بېساري او دردونکې تراژیدي وه. په دغو ټولو پېښو کې د پاچا رول اساسي و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ايا په پورته يادو شويو پېښو کې د برتانويانو لاس و؟ په هغه وخت کې په عام ډول او اوس تر يوې کچې عام ذهنيت دا دی چې په دغو پېښو کې برتانويانو لاس درلود. کاکړ وايي چې «امان الله خان له خپلواکۍ ګټلو نه وروسته د هغوی [برتانويانو] پر ضد عمل کړی نه دی»۴۹۴ ان د هغو په ګټه يې ډېر کارونه کړي دي چې د مخه يې يادونه شوې ده.

فيض محمد د انګرېزانو ضد تاريخپوه وايي چې «هره پېښه يا سياسي داعيه چې د افغانستان د ننه او په ختيځ او شمالي پولو کې د ملت د ناپوهۍ او وحشت نه او د دولت او حکومت د ناسمو کړو، چلند، فشار او کړکې له مخې شوې وي يا وشي، د خپلو ناوړه کړو پايله يې نه بولي، د انګليس د دولت په حرص يې اچوي»۴۹۵ (فيض محمد صفحه ۳۱) په خپله امان الله هم د خپلې ناکامۍ پړه په بل چا نه بلکې په خپلو وطنوالو اچوي. په بمبيي کي چي دی اروپا ته د تګ په لار کې تم شوی و، د پښتنو لوی مشر پاچا خان ورته ځان ورسوه، او ورته وويل چې د دې له پاره چې په افغانستان کې د جنګ مخه ونيول شي، ته بيا د مخه شه او د سرحد [پښتونخوا] پښتانه به دي ملا په ټينګه وتړي. خو هغه صاف ورته کړه چې "بس زما کار ختم شو. ما لس کاله د دې قوم خدمت وکړ. په دې لسو کالو کې ما په وخت ډوډۍ نه ده خوړلې، د سحر نه مي تر ماښام کار کړی، د خپلې ښځې او زامنو نه خبر نه وم. د شپې به بيا د دوی په فکر کې وم، چې دوی به څنګه ترقي وکړي. د دوی په صله کې زه قوم قادياني او کافر کړم." پوهاند ډاکټر وقار علي شاه کاکاخېل چې د ۱۹۲۸ او ۱۹۲۹ کلونو د پښتون مجلې د ليکنو پر بنسټ د پاچا امان الله په اړه ليکنه تهيه کړې، دغې نتيجې ته رسېدلی چې: «زه تر قيامته پورې د دې خبرې منلو ته تيار نه يم چې د افغانستان انقلاب د بيروني سياست د مکارۍ نتيجه ده.» ۴۹۶ (۲۰) ليکوال عزيز هندي هم د انګرېزانو د لاس وهنې په اړه وايي چې «موږ په هيڅ ډول په انګرېزانو دا تور نه شو لګولی چې د افغانستان د ۱۹۲۹ کال په پاځون کې يو ډول د هغو لاس و.»۴۹۷ (عزيز هندي، ۶۵۳) د برتانويانو د لاس وهنې په اړه د نامتو انګليس، لارنس، نوم هم راوړل کېږي، چې هغه په لومړي نړيوال جنګ کې عربان د عثماني امپراتوري په وړاندې په بري سره هڅولي وو، د پاچا امان الله په اړه پښتانه هم لمسولي دي. خو د دغې وينا مدعيان دې ته متوجه نه دي چې هغه د مکرم شاه په بدل نامه د ۱۹۲۸ کال له مې نه وروسته په کراچي او ميران شاه کي د برتانيې فضايي قوه کي خدمت کاوه، حکومت يې هغه د ۱۹۲۹ کال په جنوري کې په بېړه انګلستان ته واستوه.۴۹۸ (ادمک، ١٤٢، ستيوږټ، ٤٩١) په کابل کې د امان افغان ورځپانه د هغه له وظيفې نه خبره وه او په اړه يې راپورونه له مبالغې نه ډک ګڼل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پاچا امان الله په وړاندي د وروستيو پاڅونونو په اړه د هغه خپل نظر قاطع دی، چي ليکواله ستيوړټ يې په دغه ډول بيانوي (مخ ٥١١): " امان الله برتانيه د هغه پر ضد اغتشاش کې تبرئه کړه." پاچا خپل دغه نظر د شيکاګو ټريبيون جورنالست، لېري روی (Larry Rue) ته هغه وخت ښکاره کړی و، چي هغه د مرکې له پاره په خاصه الوتکه کې د ١٩٢٩کال په فبروري کې کندهار ته ورغلی و. پاچا د عبدالوهاب طرزي، د محمود طرزي زوی، په ترجماني هغه ته دا هم ويلي و، چي "ملايانو يې مخالفت کړی، ببله دې چي پيسې ورته ورکول شوي وي."٤٩٩ هغه داهم ويلي و، چي " دی پوهيږي چي سقاو زوی د سفارت په وره کې له همفريز سره خبري کړي وې، خو د هغه په نظر دغه خبري يوازي د سفارت د حفاظت په اړه وې."، خو د هغه په نظر د هغه هغو کوښښونو چي مطلب يې د ايران، افغانستان، ترکيې، او روسيې سره متحد کول و، برتانويان پارولي وو، چي خلع يې کړي، خو دوی يې ويلو ته زړه نه کاوه. برتانويانو به ځکه په دې اړه څه نه ويل چي د دغسي اتحاد امکان بيخي لږ يا هيڅ نه و، او هغه هيڅ موضوع شوې نه وه.

پولادا وايي او دليل راوړي «چې برتانوي هند په افغانستان کې له ګډوډۍ نه ډېر خطر محسوساوه نسبت دې ته چې افغان واکمن دې ورسره دوستي ونه پالي. انګرېزانو خپله ګټه په دې کې ليدله چې د يوه قوي افغان واکمن سره معامله وکړي او د مرستو له لارې يې دوست کړي.»٥٠٠ د پولادا په اند، خورا ډېر مشکل او نږدې ناممکن کار دا دی چې د دولت د واکمن پر ضد دې مخفي استخباراتي عمليات وشي او د رسمي اسخباراتي سندونو په دوسيو کې دې هېڅ ډول نخښه ونه موندل شي.

تيخونوف هم وايي چې «په هره اندازه چې د امان الله خان وضعه خرابېده ده په همغه اندازه د برتانيې په امپراتوري باندې تورلګاوه چې د ده پر ضد دسيسه سازمان کوي. خو ان د خپلواک هند په ارشيفونو کې داسې اسناد په لاس نه دي راغلي چې د دې ادعا رښتينوالی وښيي. د تېرو شلو کالو په جريان کې په انګلستان کې اطلاعاتي، امنيتي او د بهرنيو چارو د وزارت پټ اسناد ښکاره شول او ډېرې مسلې روښانه شوې خو داسې اسناد نه په سترګو کيږي چې وښيي چې د امان الله خان نسکورېدل د انګلستان د استخباراتو د سازمان د عملياتو پايله وه.»٥٠١

باندني عوامل چي په پورته ډول د پاچا په مسافر کېدلو کي دخيل نه وو، هغه به په خپله د پاچا اصلاحات او د حکومتي عمالو کړه او د هغو په وړاندي د خلکو غبرګونونه وو، چي له امله يې له وطن نه ووت. په اصل کې دا خلک دي چي پيښې رامينځ ته کوي، او تاريخ جوړوي، په تېره هغه وخت چې دوی وپاريږي، او ټولنه ډېناميکه شي، لکه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا امان الله په وخت کې چې همدغسې وشول. د افغانستان په معاصر تاریخ کې دا لومړی وار و چې حکومت په پراخو اصلاحاتو لاس پورې کړ، چې ځینو یې خلک مجبورول اروپایي دودونه او ژوند طرز غوره کړي، او خپل رواجونه او دودونه پرېږدي. د امیر عبدالرحمن په وخت کې حکومت د لومړي ځل له پاره سیمې او کلي ته ننوت، خو د خلکو کلتوري ارزښتونه یې په خپل حال پرې ښوول. سره له دې هم په وړاندې یې پاڅونونه وشول، خو حکومت هغه په پیاوړي پوځ وځپل. د پاچا امان الله په وخت کې حکومت هم د خلکو کورونو ته ننوت او هم یې ښځې او نارینه مجبورول چې خپل ژوند طرز اروپایي کړي، او کافي پوځ یې هم نه لاره. دا د سلیم عقل پر خلاف کار و. څومره چې یو څوک د پاچا امان الله سیاستونو او کړو ته ځیر کېږي، هغومره حیرانېږي. پاچا امان الله په خپل باندني شپږ میاشتني سفر کې تر دې حده د اروپایي کلتور تر اثر لاندې شوی و، چې لکه نور یې نه غوښتل چې په خپلو شډلو افغانانو واکمني وکړي. که داسې نه وای هغوی به یې نه مجبورول چې خپل د پېړیو کلتوري ارزښتونه پرېږدي، هغه هم په حکومتي زور او سمدلاسه، او په عوض کې د اروپایي کلتور ظواهر ومني، چې نه یې غوښتل او نه یې ورته ضرورت لاره. هغه دغومره پاروونکي وو چې هغه اوس هم څوک په افغانانو تپلی نه شي.

دا چې امان الله ټینګ وطنپال او د پرمختګ او عصریت غوښتونکی و، په دې کې هېڅ شک نه شته. ده د خپلواکۍ په ګټلو، او د عصري پوهنې په پراخولو او خلکو ته د برابرو حقوقو په خوندي کولو، او د ټولنې په مدني کولو سره خپل ولسپال توب هم تثبیت کړ. هم یې ځوانان او ځوانانې د زده کړې له پاره، د حکومت په لګښت، باندنیوهیوادونو، په خاص ډول ترکیې، ته واستول، او هم یې د ننه په وطن کې، په کابل ښار او ولایتي ښارونو کې، ثانوي او مسلکي ښوونځي پرانیستل. په خپله یې هم پوهنې ته خاصه توجه وکړه. هغومره چې ده عصري پوهنې ته توجه کړې، بل افغان واکمن نه ده کړې. داسې هم ده د لیسې فېر یا ازاد مارکېټ په غوره کولو سره پانګه ورو ته ممکنه کړه، د لګښتي مالونو له پاره کارخانې جوړې کړې. هغوی همدغسې وکړل، او دغه لړۍ روانه وه. په نتیجه کې حکومتي عایدات یو څه ډېر شول. په ښېرازو مځکو باندې د جنس پرځای د نقدي مالیاتو په ایښودلو سره هم دغه هڅه پیاوړې شوه، چې مځکه وال مځکې ښې ودانې کړي او شاړې مځکې کرنیزې کړي. له دغو ټولو انکشافاتو سره فردي ازادي هم ملګرې شوه. خو دا د پاچا کلتوري سیاستونه وو، چې په پای کې یې دغه ټول انکشافات په صفر کې ضرب کړل. ارواښاد سید شمس الدین، چې د هغه وخت زلمی و، په دې اړه داسې وایي چې: " با تمام این فضائل و مزایای دوره اماني، امان الله خان مرتکب سهوهای بزرگی هم شد، که

(c) ketabton.com: The Digital Library



منجر به اشوب افغانستان و سرنگوني خود او شد. او در عصري ساختن مملکت از عجله و ناسنجيدگي کار ميکرفت. او فريفته ظواهر غرب بود و بيشتر از تحمل به عقائد به نو آوري ها دست زد، که مقبوليت و شهرت نيک خود را از دست داد او خود را پادشاه انقلابي ميگفت و حق هم داشت که او را انقلابي بگويند، اما قوتي را که چنين انقلاب اجتماعي بکار دارد با خود نداشت. ماشين عسکري و جنگي او ضعيف و غير فعال بود. پشتيباني يک گروه قوي مردم را که با او همنوايي داشته باشد، هم نداشت و در همکاران خود مردمان شايسته و لايقي را هم کمتر داشت، که درين راه مويد و مددگار او باشند."(مجروح، ص ٤٠)

د ده واکمني تر زياتې اندازې اتوکراسي وه. وروستۍ بېلګه يې هغه وه، چې د ١٩٢٩ کال د جنوري په ١٣مه شپه، همدا چې په قلعه مرادبېګ کې د خپلې ورې، مخکښې قوې له ډراماتيکې نښتې له ماتې نه خبر شو، سمله لاسه له پاچايي نه لاس په سر شو، بېله دې نه چې د چا سره يې مشوره کړې وي، که څه هم د ده استعفا ټول ملت اغېزمن کاوه. دغه وخت حکومت او پوځ پر ځای او د کابل ښار دفاعي ترتيبات هم ټينګ وو، خو دی د هغو پېښو د ادارې نه عاجز شوی و، چې د ده د سياستونو او چلندونو زېږنده وې. په دغه حال کې دی په خپل ژوند ووېرېده، او غوښته يې چې څومره ژر کېږي، له کابل نه بهر شي. بيا نو ده په همغه نيمه شپه کې خپل مشر ورور وهڅوه چې د ده پر ځای پاچا شي، که څه هم هغه نه پاچايي غوښتله او نه يې کولی شوه. پېښو درې ورځې وروسته د دغې پرېکړې ناسم توب وښود او د کلکان حبيب الله د امير په نامه د جګړې پرته د کابل په تخت کښېناست. په دې توګه د پاچا ټول سمونونه هېڅ شول، په کابل کې سمونپال زلميان وځپل شول، قانون او قانوني حکومت مفکورې هوا وکړه، د کابل ښار نږدې ټول کورونه چور او لوټ شول، دولتي خزانه له پيسو نه خالي او د عصري کېدلو غورځنګ په ټپه ودرېد او افغانستان کلونه کلونه ېېرته پاتې شو.

پولادا ډاډه نه دی چې امان الله خان به د خپل نيکه کتاب «تاج التواريخ» لوستلی وي. امير عبدالرحمن د قومونو زور وټکاوه او عسکري قدرت او اداري موسسات يې رامنځ ته کړل. د ملي دولت د پرمختيا له پاره يې په ښايسته کچه داخلي انسجام، د بهر په مقابل کې امنيت او ځمکنۍ بشپړتيا ته پاملرنه وکړه.امان الله خان د ١٩١٩ نه تر ١٩٢٩ پورې هڅه وکړه چې د سياسي، اقتصادي او ټولنيزو سمونونو له لارې ملي يووالی غښتلی کړي. خو ناکام شو.٥٠٢

په کابل کې د انګرېزانو سفير همفريز امان الله خان «ډارن» سړی ګڼلی و په دې چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سقاو د زوی په وړاندې یې لومړی کابل او وروسته کندهار پرېښود. دغه شان برتانوي تاریخپوه او جنرال جورج مکمون د امان الله د سمونونو سره خواخوږي ځرګندوي، خو د هغه چلند چې خپل هېواد پرېږدي، حیران کړی دی. مکمون چې د امیر عبدالرحمن کلک ارادتمن و، د امان الله خان بې زړه توب ته ګوته نیسي چې که چېرې دی د خپل نیکه امیر عبدالرحمن په پل تللی وای او زور یې کارولی وای، افغانستان به یې د پرتم په ستنو درولی وای. پولادا وایي چې امان الله خان د روسیې لوی پېتر ته ورته و چې د هغه غوندې یې هڅه وکړه چې په افغاني ټولنه کې د تورتم پر ځای د عقل ډېوه ولګوي خو دا چې له خپل نیکه عبدالرحمن خان نه یې زیاته حکومتي برلاستیا او ټولنیزه ارامتیا په برخه شوې وای.۵۰۳

د پولادا په اند د امان الله خان او نادر خان تر منځ ټکر په دې راغی چې نادر خان د سمون پلوي و په دې شرط چې هر څه ګام په ګام وشي او د دودونو سره ټکر راولاړ نه شي. خو درې سړي محمود طرزی، محمود سامي او محمد ولي خان دروازي د دې پلویان وو چې ترکي منصبوالان دې عسکري موډرنه کړي. نادرخان د سمونونو د بیړې په اړه خپل نظر پاچا امان الله خان ته وړاندې کړ. خو امان الله خان پورتنیو درې تنو ته زیاته پاملرنه کوله. په سمونونو کې د بیړې برسېره، نادرخان پاچا امان الله خان ته د عسکرو موضوع وړاندې کړه. نادرخان امان الله ته په ډاګه کړه چې د عسکري پوروړی یې او قدرت ته یې رسولی یې. خو پولادا وایي چې دغه یادونه په پاچا امان الله خان بده ولګېده ( پولادا، ۱۱۷)

په ۱۹۲۴ کال کې د خوست د بلوا پر مهال د محمد یعقوب خان د مینځې زوی عبدالکریم د هند د تبعید نه افغانستان ته ننوت بیا د ۱۹۲۸-۱۹۲۹ د نارامۍ په مهال د سردار محمد ایوب خان زوی په مومندو کې راښکاره شو او د بادشاهۍ دعوه یې وکړه. پولادا په لاهور کې د یوه مرکچي له خولې کاږي چې دغو دواړو افغانانو د انګرېزانو د تماس له مخې د امان الله ضد بغاوت کې برخه اخېستې وه. خو پولادا زیاتوي چې ښایي دواړو سردارانو به د انګرېزانو په وړاندې د خپل اعتبار د زیاتولو له پاره دغه اوازه خپره کړې وي. خو د ادعا له پاره رسمي لاسوندونه نه شته.۵۰۴ ادامیک هم وایي چې د ۱۹۲۴ کال په پای کې برتانوي مامورینو «غلي شان» د امیر محمد یعقوب خان دوه زامن ونیول. دواړو غوښتل چې د غلزي تاجرانو په څېر افغانستان ته ننوزي. ادامیک دا هم وایي چې«په برتانوي ارشیفي چینو کې یې داسې کوم ثبوت ونه شو میندلی چې د عبدالکریم د ارمان سره دې د برتانوي هند د حکومت ملاتړ وښیي»۵۰۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پایلیک

کاکړ د پاچا امان الله د لسو کلونو د واکمنۍ د څېړنې په پایله کې وايي چې په معاصر افغانستان کې پاچا امان الله یوازینۍ واکمن دی، چې د عمومو په فشار سره له وطن نه د تل دپاره ووت، ټول سمونونه یې په ټپه ودرول شول، اساسي قانون یې لغوه شو او ټول دولتي نظام یې نسکور شو او د ناکرارۍ یوه نوې دوره پیل شوه. ټولنه په دغو ټولو پېښو سره په ژور ډول زیانمنه شوه او افغانستان د تمدن له کاروان نه کلونه کلونه وروسته ولوېد. د کاکړ په اند «دا په واقع کې ملي غمیزه وه.» او دی دا پوښتنه کوي چې د دغې غمیزې په واقع کېدو کې کومو کسانو او ډلو لاس درلود او لاملونه یې څه وو؟

نوموړی وايي چې په دې کې شک نه شته چې د پاچا ځینې سمونونه بې ځایه وو، خو ډېر یې په تېره د پوهنې او د هېواد د صنعتي کولو سمونونه بنسټیز او اړین وو. دومره وو چې ټول یې په ګړندی توګه او په زور او ځینې یې لا په ننداره ییز ډول پلي کېدل. په اصل کې ټولو سمونونو لږو ډېر ملکي مامورانو، پوځي افسران، قومي مشران، ملایان، قاضیان، روحاني پیران او محمد زايي سرداران اغېزمن کړل. د دې لامل دا و چې د دولت له خوا په وړیا توګه د پوهنې او روغتیایي اسانتیاوو د برابرولو، د فتري ادارو د زیاتولو، د سفارتونو په چلولو، د نویو مامورانو او د باندینیو کارپوهانو تنخواه ګانو، د نویو ودانیو د جوړولو او د پوځي وسلو د پیردلو له امله حکومتي لګښتونه دومره ډېر شوي وو، چې په دولتي عایدونو سره نه پوره کېدل. برسېره پر دې د خوست بلوا هم اقتصاد او هم د حکومت مالي توان ته ډېر زیان ورساوه. انګرېزانو هم هغه پیسې ودرولې، چې افغانستان ته یې په اصل کې د هند د ساتنې په موخه له ۱۸۸۳ کال نه ورکولې.

له دې کبله پاچا اړ شو چې د مځکې مالیات څو وارې ډېر کړي، د ځینو ډلو او کسانو دودیز مادي امتیازونه کټ کړي او افسران وهڅوي چې له خپلو څو میاشتو تنخواه نه حکومت ته د بسپنې په نامه تېر شي. څنګه چې د ملکي مامورانو او پوځي افسرانو تنخواګانې د هغو د کورنیو لګښتونه پوره کولې نه شول نو ملکي مامورانو د دولتي پروژو او خلکو نه او پوځي افسرانو د سرتېرو له جیرې او تنخواه نه ناوړه ګټې ترلاسه کولې. له دې کبله نارضایت عام و، خو دغه نارضایت د دولتي نظام د نسکورېدو لامل نه شي کېدای کله چې د هغه سرچلوونکي «په ترکیب کې سره همغاړي، په موخه کې سره یو موټی او په هوډ کې ټینګ او په نیاو باندې ولاړ وي.» خو د پاچا امان الله د نظام سرچلونکي دغسې نه وو او پوخ یې هم وړ و.

د پاچا د اوښي، محمد حسن له خولې نه ویل شوي، چې د ترکیې مشر اتا ترک پاچا

(c) ketabton.com: The Digital Library



امان الله ته وویل چې که غښتلې پوځي ځواک ونه لري، سمونونه به سرته ونه رسیږي. خو امان الله خان د هغه په سپارښتنې عمل ونه کړ او خپل پوځ یې له پوره خپلواکۍ د ګټلو نه وروسته د پلار او نیکه له پوځونو نه ډېر ووړ کړی و، په دغه خام فکر چې «افغانستان ته له باندې نه خطر متوجه نه دی او اوس د قلم وخت دی نه د توري.» څنګه چې افغانستان د ده په وخت کې د لومړي ځل له پاره د ۱۱ جنګي الوتکو په لرلو سره د هوایي ځواک خاوند شو، شاید د ده په دې فکر چې پوځ لږ کړي اغېز کړی وي. سربېره پردې دغه کم شوی پوځ هم د محمد ولي په لاس هغه وخت چې د دفاع وزیر و او وروسته د شینوارو په یاغیتوب سره نور هم ابتر شو.

کاکړ وایي چې د امان الله د ستونزو سرچینه د هغه د سمونو پاروونکې برخې، د هغه خپل شخصیت، د هغه زورواکي، اتوکراسي او د دوهمې دورې سمونونه او په ځانګړې توګه د کابل د نارینه وو او ښځو اړ کول وو، چې د اروپایي ژوند شېوه غوره کړي او خپل ژوند شېوه، هغه هم سمدلاسه او په حکومتي امر، بدله کړي. په پایله کې وګړي ترېنه بېګانه، مذهبي مشران ورسره مخالف او خپل چارواکي یې ورنه بې مینې شول. په بحراني حالت کې د ځان په وېره کې شو، او د خپل پوځ د یوې وړې مخکینۍ برخې په ډراماتیکې ماتې سره د پاچایي نه لاس په سر شو، که څه هم د کابل ښار دفاعي ترتیبات ټینګ، پوځ او حکومت پرځای او د کابل ښار ترتیبات هم ټینګ وو، ۵۰۶ د دغسې غریب، نالوستي کلیوال په لاس د افغانستان د پاچایي نظام چپه کېدل په معاصر افغانستان کې یوه بېساري پېښه ده.»۵۰۷

اشرف غني د پاچا امان الله خان د لس کلنې واکمنۍ دوره د افغانستان د تاریخ ناتمام څپرکی ګڼي او وایي چې سردار محمد داود د خپل صدارت او بیا وروسته په خپل جمهوریت کې، ظاهرشاه د ډموکراسۍ په لسیزه کې او چپیانو د خپلې واکمنۍ په مهال په یوه یا بل ډول د اماني دورې ناتمامه اجنډا ته راوګرځېدل چې دغه ناتمامه څپرکی پای ته ورسوي. خو د دوی نه هېڅ یوه ونشو کړای چې پرله پسې ثبات تامین کړي. د اوسني ځوان نسل دنده دا ده چې په تدبیر، حوصله او واقعیت ته په کتو اوسنی نظام په یوه باثباته او د خلکو واکمنۍ پر نظام بدل کړي چې د تېرو غمجنو پېښو د تکرارولو مخنیوی وکړي او د هېواد پرله پسې پرمختګ له پاره زمینه برابره کړي.

## حبیب الله کلکاني یا د سقاوزوی واکمني

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مخه مو یادونه وکړه چې د پاچا امان الله د دولت لوړ رتبه چارواکو حبیب الله ته بیعت ورکړ. د ۱۹۲۹ کال د جنوري د ۱۷مې نېټې د عنایت الله خان او د نورو لوړ رتبه چارواکو بیعت نه وروسته د حبیب الله واکمني پیل شوه. حبیب الله سید حسېن د سلطنت نایب او د جنګ وزیر، شېرجان خان صاحبزاده د دربار وزیر، عطاالحق خان صاحبزاده د شېر جان خان ورور اول د هوایي قوماندان او بیا د بهرنیو چارو د وزیر، محمد کریم خان صاحبزاده د شیرجان ورور د ظبط احوالات رییس، خپل ورور حمید الله د سلطنت معین، ملک محسن د کابل والي، عبدالغفور تکابي د کورنیو چارو وزیر او پردل خان د لوی درستیز په توګه وټاکل. میرزا محمد قاسم خان د مزار د تنظیمیه رییس، سپاسالار عبدالرحیم خان د هرات والي، عبدالقادر خان د کندهار والي او محمد صدیق خان صاحبزاده د شیرجان ورور د جنوبي ولایت والي په توګه وټاکل شول. د حبیب الله په کابینه کې د پوهنې او عدلیې وزارتونه نه وو. د مالیې، سوداګرۍ او د کرهنې وزارتونه د عمومي مدیریتونو کچې ته راټیټ شوي وو. د ودانیو جوړولو اداره د منځه لاړه. همدارنګه ستره محکمه او څارنوالي هم شتون نه درلود.۵۰۸

حبیب الله خپله کرنلاره داسې اعلام کړه: « مه (من) اوضای(اوضاع) کفر و بې دیني و لاتی ګری حکومت سابق ره دیده و برای خدمت دین رسول الله کمر جهاده بسته کدم، تا شمابیادرها ره (برادرها را) از کفر و لاتی ګری نجات بتم. مه بادازی (بعد از این) پیسه (یعنی پول) بیت المالِه را به تعمیر و متب (مکتب) خرج نخات کدم (نخواهم کرد) بلکه همه ره به عسکر خود میتم (میدهم) که چای و قند و پلو بخوردن، و به ملاها میتم که عبادت کنن، مه مالیه سفایی و ماسول [محصول] ګمرک نمې ګیم [ګیرم] و همه ره بخشیدم، و دګه، مه، پاچای (پادشاه) شما هستم، و شما رعیت مه میباشین، برووین باد ازی [بعد از این] همیشه سات (همه وقت) خوده تیر کنین، مرغ بازی، بودنه بازی کنین، و ترنګ تانه خوش بګذرانین...»۵۰۹ محمد ابراهیم پاریزي د حبیب الله کلکاني دا وینا «ساده لوح ترین نطق شاهانه تاریخ»۵۱۰ بولي.

رحمت ربي زیرکیار وایي چې «سقاو ځوی د اعلیحضرت امان الله خان پاچاهي «لاتي ګري» ګڼلې وه. «لات» د اسلام نه وړاندې، د جهالت د دورې یو بت و. لاتي ګیري د بت پرستۍ او کفر سره اړیکمنه وه، ... په افغانستان کې یو سردار چې په برتانوي هند کې یې د انګرېزانو سره ډېره راشه درشه لرله، په لاتي سردار مشهور شوی و. لاتي سردار یعنې هغه څوک چې د انګرېز سردارانو (لورډز) څېرې پېښې به یې کولې.»۵۱۱

د ۱۹۲۹ کال د جنوري په ۱۸مه نېټه د حبیب الله پلویانو چې په اساسي توګه ملایان

(c) ketabton.com: The Digital Library



او خانان او یو شمېر د پخواني رژیم اشخاص وو یوه ۱۹ ماده یزه اعلامیه ومنله چې په حقیقت کې یې د شرعي فتوې بڼه درلوده چې په هغې کې امان الله په کفر او الحاد محکوم شوی او خلع اعلام شوی و.

د سمونونو د سملاسي درولو په منظور حبیب الله اعلام وکړ «د حنفي مذهب خلاف بدعتونه منسوخ، د جبري عسکري خدمت منع کول او هغه په خپله خوښه کول، ښوونځي تړل شوي او نوي مالیات لغوه شول.»۵۱۲ همدارنګه نوي رژیم د پخوانیو دولتي جوړښتونو د منځه وړلو په اړه وویل چې ټولې ادارې، زیات شمېر موسسې چې زیات لګښتونه غواړي لغوه شوې. د هغو پر ځای به پیسې په اړینو چارو ولګېږي او ملایانو ته به ورکړل شي چې خپلې دیني چارې پرمخ بوزي،

حبیب الله د ساداتو، دیني عالمانو، شیخانو، حضرتانو او ځایي خانانو حقونه او امتیازونه چې د امان الله خان د رژیم له خوا لغوه شوي و بیا ومنل. حبیب الله د پخواني رژیم ټولې نظامنامې او قوانین لغوه کړل، او د هېواد په مطبوعاتو یې ټینګ ګوزار وکړ.

ریا تالي ستېوارټ لیکي چې د سقاو زوی د بهرنیو هېوادونو ډیپلوماتانو ته ویلي و چې«تاسې ښه خلک یاستئ ، معاش به مو زیات کړم.»۵۱۳ نوموړی د سقاو د زوی بهرنیو ډیپلوماتانو ته دا خبرې ته داسې کتنه کوي: «ماشومګوټی نه پوهېده چې د کورډیپلوماټیک تنخواوې د ده په اختیار کې نه دي.»۵۱۴ دغه شان یې یوه ړیره ور فرانسوي ته ویلي و: «زه خوښ یم چې په فرانسه کې هم دیني سړي شته.»۵۱۵

برتانیې د سقاو رژیم د ډیفکتو په توګه په رسمیت وپېژاند، خو د افغانستان نه یې خپل سفارت وایست په دې چې ... د سقاو په وړاندې د قدرت د هغه راتلونکي مدعي سره ازاد لاس ولري چې د بریالیتوب هیله ورنه کېږي.۵۱۶ همدارنګه د سقاو د زوی د واکمن کېدو وروسته برتانیې په هېواد کې د انارشۍ او د ناامنۍ له امله د خپلو ډیپلوماتانو د وتلو پرېکړه وکړه او نورو سفارتونو د ډیپلوماتانو د وتلو له پاره یې د انګلیسي الوتکو په واسطه خپل تیاری څرګند کړ. انګلیسي الوتکو به هره ورځ نږدې دېرش تنه ډیپلوماتان پېښور ته وړل چې په ۲۳ الوتنو کې ټول ۵۸۶ باندینیان پېښور ته یوړل شول.۵۱۷

د شوروي اتحاد جاسوسي اداره د سقاو زوی پلوي وه په دې چې د سقاو زوی یې وزلې طبقې ته منسوب و او د شورویانو سره یې د اسلامي بسماچیانو په ضد مبارزه کې مرسته کولی شي. خو د شوروي اتحاد د بهرنیو چارو وزارت وېره لرله چې د سقاو زوی د انګرېزانو سړی دی او د بسماچیانو سره به یوځای د شوروي په وړاندې راپورته شي.

شوروي اتحاد هم پرېکړه وکړه او په پایله کې یې خپل سفیر او د سفارت یو شمېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



غړي د افغانستان نه وايستل. د دې سره سره په کابل کې د شوروي اتحاد، ايران او ترکيې سفارتونه فعال وو. خو په افغانستان کې د شوروي پوځي لاسوهنې د دواړو هېوادو تر منځ اړيکې ترينګلې کړې. شوروي اتحاد يوه ډله پوځيان چې افغاني جامې يې په تن وې د يو شمېر افغانانو په ګډون د غلام نبي څرخي او ډګروال پريماکوف په مشرۍ افغانستان ته راولېږل چې د امان الله خان د بيا په واکمن کېدو له پاره مرسته وکړي. دغې ډلې په زياته چټکتيا سره مزار شريف او تاشقرغان ونيول. خو کله چې شوروي اتحاد خبر ترلاسه کړ چې امان الله خان وطن پرېښود او ايټاليا ته روان دی نو خپله پوځي ډلګۍ يې بېرته وغوښته او شوروي اتحاد ته ستانه شوه. د ايټاليا، المان او فرانسې سفيرانو او کورنۍ د کابل نه ووتل. د برتانيې سفير همفريز په وروستۍ الوتنه کې د افغانستان نه ووت. په دې توګه د سقاو د زوی رژيم په نړيوال ډګر کې ګوښه او يوازې پاتې شو.

فيض محمد کاتب وايي چې حبيب الله کلکاني او ملګرو يې د هغو نجونو لېستونه پيدا کړل چې ښوونځي ته تللې او امر يې وکړ چې هره يوه بايد يوه کوهستاني يا يوه کوهدامني غله ته واده شي. فيض محمد کاتب زياتوي چې «د ژونديو انسانانو څلور ځايه کول، د ښځو او هلکانو په عزت باندې تېری کول، بې ګناه انسانان په زندانو کې اچول، غرغره کول او په ناحقه د وينې تويول د سقاوويانو ورځنی کار و.»۵۱۸ همدارنګه نوموړی وايي چې «... هغه يوه ورځ د دريو هزاره ګانو سرونه، چې په اور يې بيريان [وريت] کړي او په لرګيو يې مېخ کړي وه او نولس تنه هزاره بنديان په بازارونو وګرځول او خلکو ته يې وښودل چې هر څوک د خادم دين رسول الله سره مخالفت وکړي عاقبت به يې دغه وي».۵۱۹

دی وايي چې د حبيب الله کلکاني ورور حميدالله چې د ده نايب السلطنه و، د جولايي په لومړۍ نېټه هغه او پوځيانو يې پر سرچشمه باندې بريد وکړ. د تاجک او هزاره توپير يې ونه کړ او کورونه يې لوټ کړل، ښاروي يې ورسره بوتلل او په پای کې يې د کورونو دروازې وايستلې. حميدالله ۳۴ نارينه او ۴۰ ښځې کابل ته ورسره بوتلې. نارينه يې بنديان کړل او خپلو سرېو ته يې امر وکړ چې ښځې خرڅې کړي.۵۲۰

حبيب الله کلکاني په لړو ورځو کې د ښځو لوی حرم جوړ کړی و. هغه غوښتل چې د سردار نصرالله خان او سردار امين الله خان لوڼې هم خپلې کړي. خو هغه مهال چې خبر شو چې هغه واده شوې دي نو د هغوی نه يې لاس واخېست او د سردار محمد علي د ښکلې لور سره يې د واده کولو پرېکړه وکړه. حبيب الله کلکاني د پېغلې بېنظير د نامتو انځورګر عبدالغفور برشنا چې په المان کې يې زده کړې کړې وې د خور سره واده وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېنظیرې نه غوښتل چې د حبیب الله کلکاني سره واده وکړي. هغې زهر وخوړل، خو مړه نه شوه او بیا د نامتو شخصیت اغا سید احمد په منځګړیتوب د حبیب الله کلکاني او بېنظیرې واده وشو.۵۲۱ خو عبدالله امیني وایي چې په هغه وخت کې محمدزایي سردارانو بي نظیر د سقاو د شر نه د ځان د ساتنې له پاره هغه ته وړاندې کړه.۵۲۲

په دې اړه د بي بي سي راډیو سره د محمد ظاهر شاه مرکه چې د مېرمن مینه بګتاش سره یې کړې د پام وړ ده. ظاهرشاه د مینه بګتاش سره په مرکه کې وویل چې «په څلور کلنۍ کې مې خپله ښځه لیدلې وه. ډېره ښایسته وه. هغه وخت د امان الله خان د یوه زوی نومولې وه. فکر مې نه کولو چې په افغانستان کې به داسې لویې بدبختۍ راشي. د سقاو مسله (حبیب الله چې په سقاو مشهور و) او نورو داسې حالت منځ ته راوړ چې کورنۍ وېرې اخېستې وې. سقاو ښځه غوښته، خلکو خپلې سترګې پټې کړې وې، هر څوک یې هر چا ته ورکړې (یاني یو د بل سره یې واده کولې)، تر څو سقاو موقع تر لاسه نه کړي چې د یو چا سره واده وکړي. په دغه اساس ما واده وکړ.» نوموړی زیاتوي چې «د دې حالت پرته هغه ما ته په لاس نه راتله.»۵۲۳

حبیب الله کلاکاني والي علي احمد او عبدالواسع اخوند زاده د پښتو مرکې مشر او وروسته د محاکماتو ریس چې د کندهار څخه یې د بندیانو په توګه کابل ته رابیول شوي وو زندی کړل. د سقاو د زوی او د هغه ملګرو د ظلم په وړاندې د خلکو کرکه زیاته شوه. په کابل کې د مدرسې یو شمېر زده کوونکو څخه دوو زده کوونکو حبیب الله او عبدالرسول په خپله خوښه وپاتیله چې د سقاو زوی د عیدګاه په جومات کې ووژني. خو دوی د خپلو نامردو ملګرو له خوا د مخه تردې چې دا کار تر سره کړي سقاویان د موضوع نه خبر کړل او دواړه په بیړه زندۍ شول او راپور ورکوونکی قاري دوست محمد هم ورسره زندۍ شو. ورپسې یوه بله ډله ونیول شوه چې د سقاو د وژلو پلان یې جوړ و. په دغه تور عبدالمجید خان، سردار محمد عثمان خان، قاضي محمداکبر خان او د جنګ د وزارت پخوانی مرستیال حبیب الله زندۍ شول. د سقاو زوی د امان الله خان د مالیې وزیر هم له دې امله لوی کافر ګانه چې بودیجه یې جوړوله.

د روسیې د تاریخ ډاکټر پوهاند ای. افسیانیکوف لیکي چې د سقاوي اړدوړ معنوي زیانونه چې د جګړه یزو عملیاتو له امله رامنځ ته شول د افغانستان له پاره ډېر درانه تمام شول.۵۲۴

د هېواد په ولایتونو کې وضع ناارامه وه. د هزاره جات خلکو د سقاو د زوی رژیم نه مانه. حبیب الله کلکاني په کابل کې د خپل حکومت د ټینګښدو وروسته میرزا محمد قاسم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مزار د والي اونایب سالار عبدالرحیم خان د هغه ځای د پوځ عمومي قوماندان په توګه وټاکل. نایب سالار محمد رحیم خان میمنه او بیا هرات ونیول او هلته د سقاو د زوی حاکمیت ټینګ شو.

د کندهار ولایت څو میاشتې د امان الله خان په لاس کې و. د افغانستان نه د امان الله خان د وتلو وروسته سردار علي احمد خان د کندهار په ښار کې ځان پاچا اعلان کړی و تر څو د کندهار ښار د سپاه سالار پردل خان له خوا ونیول شو او سردار علي احمد خان بندي شو او عبدالقادر خان د کندهار د والي په توګه وټاکل شو.

برسېره پر دې حبیب الله کلکاني محمد علم خان شینواري د اعزازي نایب سالار، عبدالرحمن شینواری د فرقه مشر، ملک قیس خان او عبدالوکیل خان نورستاني د مشرقي ولایت د مشرتابه د غړو په توګه وټاکل. په جنوبي ولایت کې چې په واقعیت کې د فرانسې نه د نادر خان په راتګ سره د حبیب الله کلکاني پر وړاندې د مبارزې په ډګر بدل شوی و دوهم ځل صاحبزاده محمد صدیق خان د نظامي قواو قوماندان وټاکل شو. د سقاو زوی د نادر خان د همکاریٔ د جلبلو په خاطر سردار شاه محمود خان د جنوبي د تنظیمیه رییس په توګه وټاکه. خو هغه د جنوبي نه پاړه چنار ته وتښتېد او د خپل ورور نادر خان سره یوځای شو.

په دې توګه نږدې په ټول هېواد کې ګډوډي او انارشي خپره وه. د لاروهونکو، او وژونکو په نامه خپلواک جرنیلان او خپلواک کرنیلان په رژیم کې وو چې هر یوه ځانته ځانګړي کسان د حاضرباشانو په نامه درلودل چې د مرکزي واکمنو په کنټرول کې نه وو او د خپلې خوښې هر ډول ناوړه کړو باندې یې لاس پورې کاوه. د دولت لوړو چارواکو د سلطنتي کورنیٔ، د دولت د مخالفینو د بډایه کسانو او سوداګرو شته لوټول، د خلکو مال او ناموس خوندي نه و. د اګست په میاشت کې رژیم د عسکرو تنخوا او حقوق نه شول تادیه کولی او په ټول هېواد کې وضعه ناارامه وه.

د مخه مې یادونه کړې وه چې د حبیب الله په اړه کتاب «حبیب الله، زما ژوند له لاروهونکي نه تر پاچا» اصلي نه دی. امریکایي تاریخپوه ګریګوریان وایي چې «د حبیب الله، زما ژوند له لاروهونکي نه تر پادشاه» کتابې اصلیت تر پوښتنې لاندې دی. دی لیکي چې د دغه اثر «د بیلا بیلو برخو د دقیقې مطالعې او د هغه انګرېزي نحوی زه [ګریګوریان] قانع کړی یم چې واقعي نه دی.»۵۲۵ میر محمد صدیق فرهنګ هم دا کتاب «په ښکاره جعلي» بللی دی. د امریکې بل تاریخپوه لیون پولادا هم د دغه کتاب اصلیت ته د شک او جعلي په سترګه ګوري او وایي چې دا اثر باید د یوې بلې بې لارې کوونکې دوهمې سرچینې په څېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخوا شي.»۵۲۶

## پکتیا ته د فرانسې نه د نادرخان راستنېدل او د هېواد خلاصون

نادر خان د خپلې کورنۍ سره د برتانوي هند په ډېره ډون کې د بې وزلۍ ژوند تېر کړی و او د انګرېزانو په فکر او خوی ښه پوهېده. نادر خان ځلانده عسکري مخینه درلوده: په ۱۹۰۶ کال کې غونډ مشر شو، په ۱۹۱۲ کال کې یې د منګلو پاڅون مات کړ او د نایب سالار رتبې ته جګ شو، دوه کالا وروسته د سپه سالار رتبه ورکړل شوه او په ۱۹۱۹ کال کې د امان الله خان په حکومت کې د دفاع د وزیر په توګه وټاکل شو، د خپلواکۍ په جګړه کې یې د پکتیا په جبهه کې مهم رول ولوباوه. په دې توګه نادر خان د خپل ولس په نظر کې د یوه تکړه او په ځان ډاډه شخصیت په توګه وپېژندل شو. نادر خان د سرحدي سیمو د پښتنو سره اغېزمنې اړیکې درلودې.

انګرېزانو لومړی د محمد نادر خان او د هغه د ورونو په ویزو بندیز لګولی و په دې چې انګرېزانو نه غوښتل چې امان الله خان خفه کړي ځکه چې هغه «د خپل تخت د ګټلو له پاره لګیا و.»۵۲۷ خو کله چې وضع واوښتله، انګرېزي سفیر همفریز نور د ویزې ځنډول لازم نه ګڼل. همفریز په دې باور و چې دغه سرداران وروڼه کېدای شي چې په افغانستان کې «د یووالي له پاره اغېزمن» وګرځي. د برتانیې د بهرنیو چارو وزارت په بېړه سره په پاریس کې خپل سفارت ته لارښوونه وکړه چې «ډپلوماتیک ویزې نادر او د هغه ورونو ته ورکړي.»۵۲۸

په دې توګه جنرال محمد نادرخان له فرانسې نه د برتانوي هند له لارې د افغانستان پولو ته په ۱۹۲۹ کال کې راستون شو. هغه مهال چې محمد نادرخان د ۱۹۲۹ کال د مارچ په اتمه له فرانسې نه بمبیي، بیا پېښور او ورپسې پکتیا ته راورسېد، حضرت نورالمشایخ مجددي (حضرت فضل عمر) هم له بمبیي نه پکتیا ته راستون شو. خو امان الله لا د مخه د ۱۹۲۹ کال د جنوري په ۱۴مه کابل پرېښود او د کندهار ښار ته د جدي په ۲۶ ورسېد.۵۲۹

په پکتیا کې د نادر خان خپل دوه وروڼه شاه ولي خان او شاه محمود خان ورسره وو چې هلته ولس د سقاو د زوی د واکمنۍ په وړاندې جګ کړي. په ننګرهار کې محمد هاشم خان او محمد ګل خان د سقاو د زوی په وړاندې د ولس د پورته کولو په موخه هلې ځلې کولې. نادر خان او وروڼه یې په دې بریالي نه شول چې د پکتیا او ننګرهار ولسونه په ځان راټول کړي. په دې چې له یوې خوا نادر خان او وروڼو پیسې نه درلودې چې د جنګ سړي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسلې پرې راونيسي او د بلې خوا د ولس مشران د سقاو د زوی پلويان وو، څکه چې د حضرت نورالمشايخ اغاګل مجددي د اغيز لاندې وو. د غلجي قبيلو زيات مشران يې د مريدی په کړی کې ښکېل شوي وو. له دې کبله نادر خان اړ شو چې د ډيورنډ د کرښې هغې خوا په وزيرو او مسيدو غږ وکړي چې د وطن د خلاصون په لاره کې د ده سره مرسته وکړي.

محمد نادر خان د حاجي نواب خان او الله نواز خان په لاس په برمل کې د وزيرو او مسيدو د لښکر قوماندان جنرال يار محمد خان وزيري ته ليک واستوه: «عزيزانو! د وزيرو او مسودو [مسيدو] غيورو مشرانو، ستاسې مېړانه او شجاعت د خپلواکۍ په جګړه کې راته څرګند شوي دي. نن بيا همهغه د مېړانې او غيرت ګنته ده. اعلحضرت غازي امان الله خان د يوه سارق او کوتاه طريق [قطاع الطريق] له لاسه خارج ته فرار کړی دی. د هېواد هره برخه د بې اتفاقۍ په اور کې سوځيږي. افغاني ننګ او غيرت دا تقاضا زموږ ټولو څخه کوي: چې په اتفاق او اتحاد سره وطن ته د روانې فېتنې نه نجات ورکړو. محمد نادر» ۵۳۰

د وزيرو او مسيدو مشرانو د نادر خان غوښتنې ته مثبت ځواب ووايه او په برمل کې يې پرېکړه وکړه چې د شپږ نيم زره لښکر سره پکتيا ته ننوزي. دغه لښکر د امير امان الله خان د رانسکورېدو وروسته د حبيب الله د واکمنۍ په وړاندې د امان الله خان د ملاتړ په موخه لا د مخه جوړ شوی و او د ارګون څخه تېر شوی و تر څو د امان الله خان د هغه لښکر سره يوځای شي چې په غزني کې د سقاو د زوی د ځواکونو سره په جګړه بوخت و. خو امان الله خان لښکر په غزني کې مات شو او نوموړي پرېکړه وکړه چې بېرته کندهار ته ستون شي. د وزيرو او مسيدو لښکر په سلطاني پړاو کې خبر شو چې پاچا امان الله خان بېرته کندهار ته تللی دوی په ډېرې ناهيلۍ سره بېرته وزيريستان ته ستانه شول. بيا دغه لښکر د جنرال يار محمد خان وزيري په مشرۍ د نادر خان په ملاتړ پکتيا ته ننوت.

د وزيرو او مسيدو لښکر د ۱۹۲۹ کال د مې د مياشتې په ۲۲مه ارګون ته ورسېد او ارګون يې د حبيب الله کلکاني د پلويانو غونډ مشر عبدالغياث خان او کنډک مشر سيد حسين خان له لاسه خلاص کړ او دوی يې په عزت سره رخصت کړل.

د وزيرو او مسيدو لښکر په اورګون کې د نظم د راوستو وروسته د خوست په لور وخوځېد. کله چې دغه لښکر خوست ته ورسېد هلته يې د سقاو پلويانو ټينګه مخه ونيوله. خو دغه مهال ځلمی خان منګل د ۷۰ سړو او زمرک خان د اتل ببرک خان ځدران زوی د ۸۰ کسانو سره د وزيرو، مسيدو، دوړو او تنيو د لښکر سره غبرګ شول او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سقاویانو ته یې د یوې جګړې په پایله کې ماتې ورکړه او بیا دغه لښکر د علي خېلو په لور وخوځېد او هلته د نادر خان سره یوځای شو تر څو د هغه تر مشرۍ لاندې د افغانستان د ژغورنې پلان جوړ او پلی کړي.

د وزیرستان لښکر د پکتیا د بیلو بیلو قومونو د لښکرو سره یو ځای تر کابله پورې د سقاو د ځواکونو مقاومت مات کړو. په پای کې د وزیرستان لښکر په ډېره مېړانې او سرښندنې اسمایي غر ونیو او د اسمایي غره د نیولو وروسته یې د کابل په ارګ باندې د برید تیاری ونیو. د وزیریستان لښکرو ارګ کلابند کړ او د توپو د ګوزارونو لاندې ونیو او چمتو و چې په ارګ ورتوی شي او د سقاو د زوی واکمني ته د پای ټکی کیږدي. خو په ارګ باندې د برید نه لږ د مخه د ۱۹۲۹ کال د اکتوبر په یولسمه د شپې نهه بجې وې چې حضرت اغا ګل مجددي، چې د سقاو زوی ته یې مشورې ورکولې او «ځانته [یې] سلطنت او پادشاهي غوښته او پر ځان باندې یې غلجي ټبرونه راټول کړي وو»۵۳۱ د دوو تنو نورو ملایانو سره د ارګ نه په موټر کې چې سپین بیرغ ورباندې رپېده د جرګې غړو ته د امن په نیت ورغلل. د وزیریستان او د پکتیا د لښکر مشرانو چې شاه ولي خان، شاه محمود خان او محمد ګل خان مومند هم په کې ګډون درلود سره جرګه شول. د لښکر د مشرانو نظر دا و چې ارګ باید په زور ونیول شي خو شاه ولي خان او شاه محمود خان په ارګ باندې برید ته زړه نه ښه کاوه په دې چې د کورنۍ غړي یې په ارګ کې بندیان وو. دغه وخت محمد ګل خان مومند د قوم مشرانو ته وړاندیز وکړ چې د حبیب الله کلکاني سره د امن پرېکړه د نادر خان دوو ورونو ته پرېښودل شي ځکه د دوی ناموس د سقاو د زوی له خوا یرغمل شوی دی. جرګې د محمد ګل خان مومند وړاندیز ومانه. کرنل شاه ولي خان د سقاو زوی ته ولیکل: «حبیب الله وروره! ته د افغانستان د حکومت غاصب یې او د افغانستان مظلوم ملت دې ټوکر ټوکر کړی دی، اوس ته امن غواړې. زموږ له لوري څخه تا ته امن دی او د خپل ال و عیال سره [د ارګ] د شمالي دروازې له لارې نه کوهدامن ته لاړ شه، په بیت المال او جبه خانه باندې لاس مه واهه».۵۳۲ دا لیک یې حضرت اغا ګل مجددي ته ورکړ او هغه د خپلو دوو ملګرو سره په خپل موټر کې سپور شو او د ارګ په لور روان شو. لږ وروسته د جرګې مشران خبر شول چې د سقاو زوی د ارګ د شمالي دروازې له لارې تښتېدلی دی. د شپې په یولسو بجو د وزیریستان لښکر ارګ ته ننوت او د ارګ نظم یې ونیو. زما لیکوال پلار ګل عمر ته په ارګ کې د نادر خان د کورنۍ د ساتنې دنده ور په غاړه وه تر څو کورنۍ یې ور وسپارل شوه. په دې توګه د سقاو د زوی رژیم د وزیریستان او پکتیا د بیلو بیلو قبیلو د لښکر له خوا نسکور شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نادر خان د ځاځیو نه کابل ته روان شو او کله چې کابل ته ورسېد په ارګ کې د سلام خانې مانۍ ته لاړ او هلته د وزیرستان او پکتیا زرګونو ملېشو د مشرانو، د کابل د خانانو او ملکانو او نورو له خوا ښه راغلاست ورته وویل شو. نادرخان په خپله وینا کې د ملت د ټولو قشرونو نه د سقاو د زوی د نسکورولو په مبارزه کې مننه وکړه. په دغه غونډه کې حاضرو نماینده ګانو ډېره کې د نادر خان نه وغوښتل چې د هېواد د چارو واګې په خپل لاس کې ونیسي.

د خلیل الله و داد په وینا نادر خان پرېکړه وکړه او د حبیب الله او د هغه د ملګرو عفوه يې اعلان کړه. په دې منظور نادر خان ژمنلیک چې د قران په څو ټوکو کې لیکل شوی اوټپه شوی و، حبیب الله، سید حسین او صاحبزاده وروښو ته ولېږه.۵۳۳ دی زیاتوي چې د نادر خان پیامونه د خواجه بابو (د حبیب الله د رژیم وروستی د کورنیو چارو وزیر)، حضرت مجددي، زلمی خان نایب سالار منګل او نورو له خوا حبیب الله او ملګرو ته یوړل شول. په دې توګه ټول د پخواني رژیم اوولس تنه نادر خان ته تسلیم شول. نادر خان څه وخت وروسته د خپلې ژمنې لاس په سر شو او هغوی یې د قبایلو ملیشو ته تسلیم کړل. د وزیرو او جنوبي ملیشو هغوي په ناوړه توګه ووژل. دی زیاتوي چې د مړو جسدونه وروسته د نادر خان په امر په حضوري چمن کې په لرګو پورې د خلکو د عبرت له پاره وځوړول شول.۵۳۴

د دغې وژنې په اړه امریکایي تاریخ پوه فلیتچر وایي چې «نادر د دې وس نه لاره چې [د وزیرستان او جنوبي] قومي خلک کنټرول کړي یا د دوی د غوښتنې نه چې لاروهونکی [بچه سقاو] دې وژنې سر وغړوي».ګریګوریان په افغانستان کې د برتانیې د سفیر ویلیم فریزر ټیټلر په حواله وایي چې د سقاو د زوی په زندی کولو کې نادر خان «لږ یا هېڅ رول لوبولی و.» «ورپسې معلوماتو وښودل چې وروسته له دې چې ملګرو یې لاروهونکی [بچه سقاو] پرېښود، هغه ځان بې له قید او شرط تسلیم کړ، او اعدام یې په کابل کې د برلاسي قومي لښکر په ټینګار وغوښتل شو.»۵۳۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



اولسم څپرکی

# د نادرشاه واکمني

په دې توګه نادر خان د ۱۹۲۹ کال د اکتوبر د میاشتې په لسمه نېټه وروسته له دې، چې د سقاو زوی یې رانسکور کړ، واک ته ورسېد. نادرشاه خپل وروڼه او نور باوري کسان په لوړو چوکیو وګومارل. محمد هاشم خان د صدراعظم او کورنیو چارو وزیر، شاه محمود خان د دفاع وزیر، فیض محمد خان د بهرنیو چارو وزیر، د شوربازار حضرت شیر اغا د عدلیې وزیر، مارشال شاه ولي خان په لندن کې او سردار محمد عزیز خان په مسکو کې د سفیرانو په توګه وټاکل شول.

پوهاند ادامیک کاږي چې محمد نادرشاه، د هغه وروڼه او امان الله خان «ټول د پرمختګ او نوښتګرۍ پلویان وو او د نوي افغانستان له پاره د هغوی ارزو اساساً یو شان وه. ښایي نادرشاه به د دوو پادشاهانو په منځ کې زیات واقعبین و... دواړه پادشاهان غښت افغان هېواد دوستان وو او د هغوی د نظر اختلافونه په لومړۍ درجه په دې پوښتنه راڅرخېدل چې د اساساً ورته هدفونو له پاره کوم وسایل غوره کړي.»۵۳۶

نیمه پېړۍ(۱۹۲۹-۱۹۷۸) نسبي سولې او بهرنیو مرستو د افغانستان سره کومک وکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې موډرنې دولتي موسسې او اقتصادي انفراستروکتور جوړ کړي، چې د ملي پیوستون او د مرکزي حکومت ساحه یې په هېواد کې پراخه کړه. څنګه چې افغانستان د ښې حکومت داری او خلکو ته د عامو خدمتونو وړاندې کولو له پاره ظرفیت او سرچینې نه درلودې نو د قدرت پخوانی دودیزې موسسې په خپل ځای پرېښودل شوې.

## د نادرشاه بهرنی سیاست

د نادر خان د عمل پلان په دریمه ماده کې ویل شوي چې افغانستان به د امان الله خان بهرنۍ تګلاره همغسې ځاري او د نړۍ د بیلا بیلو ځواکونو سره به خپلو اړیکو ته پایښت ورکوي.

د ادامیک په اند د محمد نادرخان له پاره درې ټکي مهم و: لومړی دا چې د جرمني سره د افغانستان د اقتصادي او سیاسي اړیکو د بحران هوارول، دوهم دا چې په افغانستان کې د شوروي د نفوذ مخنیوی او دریم دا چې په سرحدي سیمه کې د انګرېزانو د پرمختګ په وړاندې درېدل. محمد نادرشاه او ورور یې محمد هاشم خان دواړو د امیر عبدالرحمن خان او امیر حبیب الله خان لاره خپله کړې وه چې له برتانیې او روسیې نه باید ځانونه لرې وساتي. ۵۳۶الف

د ادامیک په وینا شوروي اتحاد لومړنی هېواد و چې د افغانستان نوی رژیم یې په رسمیت وپېژاند. ستارک د شوروي سفیر بېرته کابل ته راستون شو او د نادر خان حکومت هغه په کورودانۍ سره ومانه او د یو ځلوېښتو توپونو د ډزو سلامي یې هم ورته وړاندې کړه.۵۳۷

د ۱۹۳۱ په جولایي کې د شوروي اتحاد سره د بې پرېتوب او نه تیري تړون لاسلیک شو او دواړو خواوو ومنله چې د یوه او بل په هېواد کې به د دوی دښمنو عناصرو ته اسانتیاوې نه برابروي. دا ټکی په دې مهم و چې دغه وخت په منځنۍ اسیا کې بسماچي نهضت فعال و. دغه مهال بسماچي غورځنګ د افغانستان شمال- ختیځ ولایت (د قطغن ولایت) ته نفوذ کړی و. په دې چې د بسماچي غورځنګ زیات شمېر کسان افغانستان ته راتښتېدلي وو او پولې ته نږدې یې کمپونه وهلي او د نامتو بسماچي مشر ابراهیم بېګ په مشرۍ یې د هغه ځایه په شوروي تاجکستان باندې بریدونه کول. دغه وضعیت د دې لامل شو چې په ۱۹۳۰ کال کې شوروي پوځ بسماچیان تر ځلوېښت میلي پورې د ننه د افغانستان په خاوره کې تعقیب کړي. همدارنګه په شمال کې ځینو کسانو بلوا جوړه کړه. له دې کبله نادرشاه خپل ورور د دفاع وزیر شاه محمود شمال ته ولېږه چې سیمه ارامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي. شاه محمود خان په شمال کې بلواګر وځپل او ابراهیم بېګ یې د امو رود هغې خوا ته تېښتې ته اړ کړ چې هلته د تاجکو د ځایي کلیو کسانو ورسره خیانت وکړ او شورویانو ته یې په لاس ورکړ او وروسته هغوی زندی کړ.

خو « د برتانیې او افغانستان تر منځ د سیاسي اړیکو بیا ټینګښت دومره اسانه کار نه و... افغانستان له برتانیې څخه وغوښتل چې د شوروي اتحاد پر پل باندې پل کښېږدي او کابل ته خپل استازی راولېږي، لاکن برتانوي حکومت په دې اړوند له تلوار څخه ډډه کوله»۵۳۸ په دې چې برتانیا د هېواد د امنیت په اړه اندېښمنه وه. د نومبر په اوومه د بهرنیو چارو نوي وزیر فیض محمد خان برتانوي حکومت د خپل حکومت د دې پرېکړې نه خبر کړ چې شاه ولي خان په لندن کې د سفیر په توګه ټاکل شوی او له برتانوي حکومت نه یې د هغه د منلو غوښتنه وکړه. د نومبر په څورلسمه د برتانیې د دولت وزیر ارتور هنډرمن فیض محمد خان ته خبر ورکړ چې برتانیا «هغه حکومت چې د اعلیحضرت نادرشاه له خوا ټینګ شوی، د افغانستان د حکومت په توګه مني»۵۳۹ او هیله یې څرګنده کړه چې له نوي حکومت سره به پخوانیو دوستانه اړیکو ته پایښت ورکړي.

د افغان حکومت د رسمیت پېژندلو په اړه یوه ستونزه دا وه چې برتانیا نوي افغان واکمن ته د ښه نیت او ملګرتوب له پاره څه باید وروړاندې کړي. برتانیې تر دریمې افغان-انګلیس جګړې پورې افغانستان ته منظمه کلنۍ بسپنه ورکوله. خو هغه مهال چې امان الله خان خپلواکي اعلان کړه نو انګرېزانو خپله بسپنه ودروله. خو برتانیې د امان الله خان د حکومت سره په ځانګړې توګه د وسلو او الوتکو د پېرېدلو او سړکونو او اورګاډي د پټلیو د جوړولو اړوندو پروژو د سروې د پاره پورونه ورکړل. ځینې وخت د سوغاتونو فرمایش ورکول کېده یا داسې پورونه ورکول کېدل چې نښو ښودله چې ورکړه یې ژر اړینه نه وه.۵۴۰

د ۱۹۳۰ کال په اکتوبر کې د برتانیې حکومت افغانستان ته ۱۷۵ زره پونډه او لس زره ټوپک ورکړل. په ۱۹۳۱ کال کې د دغې مرستې خپرېدلو په هېواد کې د حکومت ضد تبلیغاتو ځپه راپورته کړه چې افغان واکمن یې هک پک کړل. دې د نادر ضد تبلیغ ته زیاته زمینه برابره کړه چې خپل هېواد یې په انګرېزانو پلورلی دی. د ډیورنډ د کرښې دواړو غاړو کې قومونو نادرشاه ته د یوه خرڅ شوي سړي په توګه کتل. د برتانیې سفیر مکوناشي د ۱۹۳۰ کال د می په یوولسمه نېټه کابل ته راورسېد.

کله چې نادر خان واک ته ورسېد نو یې وغوښتل چې د جرمني سره بیا اړیکې ټینګې کړي. نو د جرمني د سفارت یو کارکوونکي پوشرټ او نورو چینلونو له لارې د جرمني د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهرنیو چارو د وزارت سره په تماس کې شو تر څو د دواړو هېوادو تر منځ ډپلوماټیک استازي سره تبادله شي. نادرشاه په ۱۹۲۹ کال په دسمبر کې عبدالهادي داوي په برلین کې د سفیر په توګه وټاکه. د ۱۹۳۱ کال په می کې هربرټ شوربل د جرمني د سفیر په توګه کابل ته راورسېد.۵۴۱

نادرشاه هم د ګڼ شمېر افغانانو غوندې احساس لاره چې د بیلو بیلو دلیلونو له مخې یې د جرمنیانو درناوی کاوه. خو ده هر کله ټینګار کړی چې افغانستان نه شي کولی له شوروي اتحاد او برتانيې سره ډغرې ووهي او په ښکاره یې ویل چې که جرمني غواړي چې د افغانستان په پرمختیا کې مرستندوی شي نو تر مسکو راتېرېدونکې لار باید پرانېستې وساتي. ده د ۱۹۲۵ کال د می په ۲۳ نېټه څرګنده کړه چې: «افغانستان ته بل هېڅ اروپايي ځواک د جرمني غوندې ګټور لاس نه دی ورکړی»۵۴۲ د امان الله په وخت کې جرمني سوداګرو ډېر ژر ګټورو کړنو ته لاس واچاوه چې د دارالامان د مانۍ جوړښت، د ګڼو سوداګریزو موسسو جوړونه یې بېلګې دي. خو د سقاو راتګ دا کار ودراوه. خو د جرمني سره مهمه ستونزه دا وه چې د نادرشاه کورنۍ شکمنه وه چې کورنۍ یې د هغې مبارزې هدف ګرځول شوې چې د امان الله د پلویانو له خوا راپیل شوې چې له دې لارې واکمنه کورنۍ راوپرځوي.

## د نادرشاه کورنۍ سیاست

نادرشاه د پاچا امان لله خان د مهال د تجربې پر بنسټ د هغه سمونونه د سره او ګام په ګام پیل کړل. لومړی یې د امنیت ټینګولو ته پام وکړ. د نادرشاه د رژیم د ثبات یو مهم توکی د افغانستان د اطلاعاتو سازمان و. په دې وخت کې څلورو اطلاعاتي څانګو کار کولو. لومړۍ د صدارت ځانګړې څانګه وه چې محمد هاشم خان یې لارښوونه کوله چې دغه پټ جال ډېر مهم پټ عملیات پرمخ بیول. د دې څانګې مهمه دنده دا وه چې د ننه او بهر کې د دولت ضد دسیسې د منځه یوسي او د بهرنیو سفارتونو فعالیتونه وڅاري. د کورنیو چارو وزارت، د دفاع وزارت او د بهرنیو چارو وزارت هر یوه د اطلاعاتو څانګې درلودې. پوځي اطلاعاتي سازمان چې سیخ د دفاع د وزیر شاه محمود خان ترلاس لاندې و په خپل وار پولو ته نږدې د ګاونډیو هېوادو اطلاعات راټولول چې د دې کار له پاره په هره فرقه کې ځانګړې څانګې شتون درلود. د بهرنیو چارو وزارت د اطلاعاتو سازمان هم دوې څانګې درلودې لومړۍ یې د بهرنیو اسخباراتو څانګه وه چې د میشتو بهرنیو سفارتونو او قونسلګریو فعالیتونه یې څارل. دوهمه څانګه د جاسوسی ضد فعالیتونه څارل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نادرشاه د غزني او مقر غلجيانو پاځون چې د عبدالرحمن تره کي د مشرۍ لاندې وشو د شوربازار د حضرت په منځګړيتوب غلی کړ. په کوهدامن کې د کلکاني پلويانو بلوا وکړه. د نادرشاه کمزوري روزل شوي پوځ ونه کړای شول چې دغه سيمه ارامه کړي او د پوځ قوماندان عبدالوکيل نورستانی د بلواګرو له خوا ووژل شو. نادرشاه پلازمينې ته نږدې دا ګواښ جدي وباله او د پکتيا نه يې خپل متحد قومونه راوبلل چې دغه بلوا وځپي. د دغو قومونو خلک چې د سقاو د زوی د رژيم د ظلمونو د غچ اخيستنې له امله په جوش راغلي وو، دا بلوا کلکه وځپله. په سيمه کې يې لوټ، بربادي وکړل او د دوی يو شمېر ښځې يې د ځانه سره بوتلې، چې دغه کړنو د تاجکو او پښتنو تر منځ د ډېر وخت له پاره توکمي کينه پرېښوده.

کله چې نادر خان واک ټينګ کړ هغه په ۱۹۳۲ کال کې يو لس ماده ييز د عمل پلان اعلان کړ. په لومړۍ ماده کې ويل شوي چې حکومت د اسلامي قانون د حنيفي تعبير له لارښوونو سره سم عمل کوي. په دې توګه ده د اسلام دين او حنيفي شرعه په رسميت وپېژانده. په همدې ماده کې دا هم ويل شوي چې د احتساب اداره جوړيږي او ښځې دې مخ پټې او مستورې وي. په دې توګه ده د ښځو په حجاب او د مذهبي پوليسو (احتساب) په جوړولو سره د نفوذمنو روحانيونو ملاتړ تر ګوتو کړ.

په دويمه ماده کې ويل شوي چې د افغانستان د خپلواکۍ د ژغورنې له پاره به يو عصري پوځ جوړ او هغه به په بيخي نويو وسلو سره سنبال کړای شي. نادر خان د وسله وال پوځ بيا جوړولو، د هغه د تنظيم، وسلو، روزنې او موډرن کولو ته زيات پام واړاوه.

نادر خان همدارنګه د دولتي موسسو (د پوځي ښوونځيو د بيا پرانستلو او د دفاعي صنعت انفراستروکتور جوړولو په ګډون) د جوړولو له پاره ګامونه پورته کړل.

نادر خان اساسي قانون جوړ کړ چې د امان الله خان د اساسي قانون سره يې لږ توپير درلود او تر ۱۳۴۳ کال پورې نافذ و. نادر خان د هېواد اقتصادي ودې، د پوهنې پراختيا او فرهنګي چارو ته پاملرنه وکړه. ګريګوريان وايي چې ليکلي اساسي قانون دوې محکمې درلودې: عدليه محکمه (سيول کورټز) او شريعه محکمه (ديني محکمه)، حنفي مذهب په رسميت پېژندل شوی و. د شلمې پېړۍ په ديرشمو کلونو کې پنځلس لوی شرکتونه جوړ شول، په ۱۹۳۲ کال کې (بانک ملي افغان) په کار پيل وکړ، يو شمېر د نفوذ خاوندان، روحاني شخصيتونه، لوی مځکه وال او د سوداګرو نمايندګان يې د ملي شورا او اعيانو مجلس ته جذب کړل. اعتدال خوښونکي روښنفکران يې په فرهنګي موسسو کې وټاکل. په کابل، کندهار او هرات کې ادبي انجمنونه جوړ شول. هغه موډرنې چاپي ميډيا ته پام وکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هره خپرونه به د دولت د ټینګ سانسور لاندې وتله.

د پښتو د علمي کېدو او غني کېدو له پاره لومړنی اساسي ګام د پاچا محمد نادر خان په وخت کې د «ادبي انجمن» په تاسیس سره واخېستل شو. په کندهار کې د ادبي انجمن بنسټ په ۱۹۳۲ کال کې د محمد نادر خان په اجازه د کندهار تنظیمه رییس محمد ګل خان مومند کېښود او د هغه ولایت دفترونه یې په پښتو واړول. دغه انجمن وروسته په کابل کې له ادبي انجمن سره یوځای شو او بیا په ۱۹۳۷ کې پښتو ټولنه شوه. د «کابل» په نامه د انجمن مجله لومړی په پارسو او پښتو او وروسته یوازې په پښتو خپرېده. په دې ډول د پښتو دغه حرکت د باچا نادر خان او ورپسې د پاچا محمد ظاهر شاه د واکمنۍ په لومړیو وختو کې په قوت روان شو او د هغه له پاره په رسمي او علمي برخو کې کار کېده.

فرهنګ نادر خان زیرک، فکرمن او د پیاوړي عزم او ارادې څښتن بولي. نادر خان د ساتنپالۍ د ځانګړتیاوو سره سره د هېواد د نوي تمدن په کرښه د ترقۍ او پرمختګ غوښتونکی و. ده هېواد د کورنۍ جګړې نه وژغوره او مرکزي دولت یې د امیر عبدالرحمن وروسته زیات غښتلی کړ. فرهنګ زیاتوي چې نادر خان خپل ورور هاشم خان د صدراعظم په توګه وټاکه په دې چې له یوې خوا هغه د شاه ولي خان او شاه محمود خان نه مشر و او د بلې خوا هغه ځینې ځانګړتیاوې درلودې چې د سلطنتي نظام د ټینګښت له پاره اغېزمنې وې. یاني د سقاو د نهه میاشتې د ګډوډۍ نه د راوتلي دولت د ټینګښت له پاره مطلقه واکمني اړینه وه. ځکه ده ته مستبد ویل کېده. خو نوموړي ډېر کار کاوه د بېلګې په توګه د ښکاري درې سرک یې په ګړندي ډول او په خورا لږ لګښت د افغان ولس په زیار بشپړ کړ. فرهنګ دا هم وایي چې هاشم خان ملوک الطوایفی ټکنۍ کړه او د دولت په چارو کې یې د خانانو او روحانیونو مخه ډب کړه. په بهرني سیاست کې یې د دوهمې نړیوالې جګړې پر مهال د افغانستان بې پرې توب وښود او په خپل هېواد کې یې د بهرنیانو د لاس وهنې مخه ونیوله.

نادرشاه د زده کړې په اهمیت پوهېده، ځکه چې پوهنه د ولس له خوا د سمونونو منلو ته لار پرانېستله. نادر خان په یوه وینا کې ویلي و: د کور جوړول په دې نه کیږي چې د کور د بېخ په ځای دې د کور سر لومړی جوړ شي: «امان الله خان هاند وکړ چې د خلکو ذهن د هغوی د خولۍ د بدلولو له لارې واړوي.»۵۴۳

محمد نادرشاه هغه ښوونځي بېرته پرانېستل چې جرمنیانو او فرانسویانو د امان الله خان پر مهال جوړ کړي وو. د پوهنې او روزنې اداره جوړه شوه. ملالۍ ښوونځی بیا پرانېستل شو چې د نرسېنګ او زیږېدنې چارې یې په مخ بیولې. دارالعلمین او د کشافانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنه (سکاوټ) هم جوړې شوې.

د ډاکټر يحيى رشيد د مالوماتو له مخې محمد نادر خان هغه ۵۰۰ جريبه ځمکه، چې امان الله خان ده ته د خپلواکۍ په جګړه کې د هغه د خدمت په بدل کې د کابل په ښار کې وربخښلې وه، د پوهنې وزارت ته وبخښله. د علي اباد روغتون په دغه زمکه کې جوړ شو او په خپله نادرشاه د هغه بنسټ کېښود.۵۴۴

نادر خان او وروسته د ده زوی محمد ظاهرشاه په واکمنۍ کې د اقتصادي سياست په برخه کې يو نوی پړاو، ليبرال اقتصادي سياست پيل شو. نادر خان په دې نظر و چې پرمختيايي اقتصادي سياست يوازې او يوازې هغه وخت په ښه توګه عملي کېدای شي، کله چې حکومت د هغه د پلي کولو له پاره د ولس ملاتړ ترلاسه کړي. له دې کبله ده «اقتصادي کړه وړه خپلو اتباعو ته ورپرېښودل او خپله اقتصادي دنده يې يوازې د مادي او معنوي زيربنا په جوړولو او له بهر سره د اقتصادي تړونونو په ترسره کولو کې محدود کړل، ځکه چې دولت د لومړي ځل له پاره يوه خوځنده ډله (ډيناميک ګروپ) په افغاني ټولنه کې د خپل اقتصادي سيال په توګه وليد.»۵۴۵

دغې خوځنده ډلې د لومړي ځل له پاره د يوه سهامي شرکت بنسټ چې لومړنۍ پانګه يې پنځه ميليونه افغانۍ ته رسېده په ۱۳۰۹ کال کې کېښود. په ۱۳۱۲ کې ملي بانک د اته ميليونو افغانيو په لومړۍ پانګه جوړ شو. د دې بانک چې د انحصار بڼه يې درلوده د پيسو چاپ او خپرېدل، د اسعارو پيرېدل او پلورل او د هغو د بيو ټاکل، د صنعتي تاسيساتو رامنځ ته کول، د بورې، پېټرولو او موټرو واردول او همدارنګه صادراتي دندې وې. عبدالمجيد زابلي د ملي بانک پانګوال او مشر او همدارنګه وروسته د اقتصاد د وزير و. دولت وکولی شول چې په ۱۳۱۸ هـ کال کې د افغانستان بانک د هېواد د مرکزي بانک په توګه د ۱۲۰ ميلينو افغانيو په لومړنۍ پانګې پرانيزي او د ملي بانک هغه دندې چې په مرکزي بانک پورې اړه درلوده دې بانک ته وسپارلې او ملي بانک يوازې د سوداګرۍ او د صنعت په برخه کې خپلې هلې ځلې کولې. دغه بانک په کندهار، هرات، مزارشريف، جلال اباد، کوټه او پېښور کې څانګې لرلې. د بهرنۍ سوداګرۍ د پياوړتيا له پاره دغه بانک په لندن، لايبځيګ، مسکو او پاريس کې تجارتي استازي وټاکل. په ۱۹۳۱ کې د وارداتو د تنظيم له پاره نوی ګمرکي قانون جوړ شو.

د نادر خان مهمه لاسته راوړنه دا وه چې نسبي سوله يې هېواد ته راستانه کړه او د دولت او د هېواد د بيا جوړولو کوښښونه يې وکړل چې د ۱۹۲۹ کال کورنۍ جګړې له مخې پرې شوي وو. د علي احمد جلالي په وينا د ده رول د امير دوست محمد خان او امير

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالرحمن خان غوندې و چې د افغانستان په يو کولو کې يې لوبولې وو.

نادرشاه غوښتل چې د هېواد د پوهنې ملي پراخ سیستم، اقتصادې ودې او سیاسي پرمختګ له لارې د ملي پیوستون پروسه په لار واچوي. نادرشاه د امنیتي ننګونو ته غبرګون او د پراخې اندازې د موډرنیزې کولو د پروسې د ملاتړ له پاره د اردو بیا تنظیمول او رغونه یو بنسټیز توکی ګڼانه. څنګه چې په کورنۍ جګړه کې بلواګرو وسله لوټ کړې وه هغه پوځ د سره جوړ او وسله وال کړ. په ۱۹۳۰ کال کې برتانیې افغانستان ته لس زره ټوپک د ډالۍ په توګه ورکړل. خو په غزني کې د غلجیانو او په شمال کې د ابراهیم بېګ ستونزو د لوی پوځ اړتیا په ګوته کړه. په ۱۹۳۳ کال کې د اردو شمېر نږدې ۵۰۰۰۰ ته رسېده. د ۱۹۳۰ کال په نومبر کې پوځي کالج بیا پرانېستل شو، یو کال وروسته د توپچي، سوارو او پلي ښوونځي په کابل کې جوړ شول چې د یو څو جرمني، هندي او ترکي افسران په ښوونځيو کې د روزونکو په توګه وګومارل شول. کله چې ظاهرشاه پر تخت کېناست د وسله وال پوځ د مهمو بدلونونو له پاره ګامونه اوچت شول چې وروسته به ورته راوګرځم.

د ډاکټر حسن شرق د څېړنې له مخې د ټولو خزانه ساتنې د ادارې د اسنادو له مخې چې د امان الله د پاچاهۍ د نسکورېدو، د حبیب الله کلکاني د په واک راتلو او لوېدو او کابل ته د محمد نارخان په راتګ سره خزانه د دوی د پلویانو او مخالفینو له خوا لوټ شوې وه د محمد هاشم خان د صدراعظمۍ په لومړیو کې د پیسو نه خالي وه. دا هم باید وویل شي چې په افغانستان کې هغه مهال د سرو زرو، سپینو زرو او مسو سکې دود وې. محمد هاشم خان وروسته له دې چې د کاغذ پیسې یې وړاندې کړې، د کاغذ د پیسو پر ځای یې د خلکو نه مالیه په سرو او سپینو زرو ترلاسه کوله او هغه بهرني اسعار چې د صادراتي مالونو له لارې لاس ته راتلې د نیویارک په بازار کې سره زر اخېستل او د پیسې د پشتیوانې په موخه یې ذخیره کول. خو خلکو په کوڅو او بازار کې په دې تورنوه چې د خپلو راتلونکو له پاره یې راټولوي. شرق زیاتوي چې ده هم په تاسف او شرمنده ګۍ سره د ۱۳۲۹ کال د محصلینو په اتحادیه کې د نورو په ویلو په هاشم خان پسې بدې خبرې کړې دي. په داسې حال کې چې محمد هاشم خان شپږ ټنه او اوه سوه کیلوګرامه سره زر چې د هغو له جملې نه پنځه ټنه د سرو زرو تاریخي سکې د افغانستان بانک په خزانه او څلور سوه زره اونهه سوه سره زر د نیویارک په بانک کې چې د ۱۳۹۱ کال د نرخ له مخې یې ټول ارزښت نږدې څلور میلیارډه ډالر کېده د افغانستان د خلکو له پاره خوندي کړې وه او تر هغې ورځې موجوده وه چې دی صدراعظم و.۵۴۶

د محمد داود د صدارت په مهال د خزانو لوی رییس نظر محمد خان وړاندیز وکړ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځه ټنه د سیکو سره زر د ده په دفتر کې ثبت دي چې د تاریخي لرغونتوب له مخې یې بیه د دودیزو سرو زرو نه زیاته ده او د دې شونتیا شته چې د سیکو سره زر په دودیزو سرو زرو بدل شي. له دې امله د صدارت له خوا یو پلاوی د نظر محمد خان، صوفي عبدالحمید د سکو رییس او نومیالي تاریخپوهان احمد علي کهزاد او پوهاند عبدالحی حبیبي او څو تنو لرغون پېژندونکو په ګډون وټاکل شو چې د افغانستان بانک د سکو او دودیز سره زر سره جلا او بیه یې مالومه کړي. نوموړی پلاوی د سکو د سرو زرو یو ګرام بیه د دودیزو سرو زرو د لسو ګرامو اندېوله وګڼله او د بانک د خزانه دارو په جمع کې یې د پنځه ټنه د سیکو سرو زرو بیه، د دودیزو سرو زرو د پنځوسو ټنو برابره بیه ثبت کړه. په دې ډول د سکو سره زر په دودیزو سرو زرو د بدلولو او ناوړې ګټې اخېستنې مخنیوی وشو.

## د واک پر سر د نادرشاه پر ضد د امان الله خان مبارزه

امان الله خان د سقاو د زوی د نسکورېدو په اړه خپله خوښي د نادر خان سره شریکه کړه: «د یو هېواد دوست افغان په حیث زه تاسې او ستاسې ملګرو ته د دوران ساز بري مبارکي وایم.» محمد نادر خان ور غبرګه کړه چې: «د امان الله خان د واکمنۍ پېر به د افغانستان په تاریخ کې په سرو زرو لیکل کیږي او زه په هغه سړک روان یم چې تاسې کښلی دی.»۵۴۷ محمد ظاهر شاه هم د مینه بګتاش سره په مرکه کې وویل: «امان الله خان یې وپوهولو چې پلار مې غواړي په بله لار لاړ شي.»۵۴۸ له دې نه ښکاري چې نادر خان د امان الله خان سمونونه پلي کول خو د پلي کولو لار یې بله وه او هغه ګام په ګام او د خلکو دودونه په پام کې نیول و.

د ۱۹۳۰ کال په سپتمبر کې نادرشاه ملي شورا راوبلله. نوي واکمنان په دې تلواسه وو چې په اصطلاح د «د ځوانو افغانانو» په ګډون به مخکښ مخور دوی ته بیعت ورکړي. خو ډېر زر څرګنده شوه چې د قدرت سوله یز لېږد ناشونی دی. امان الله خان د ایتالیې نه د هېواد د ننه او د باندې له افغانانو سره تماس ساته. د حیرانۍ ځای دی چې امان الله خان او پلویانو یې افغانستان د سقاو زوی ته پرېښود او نادر شاه چې افغانستان یې د سقاویانو د تباهۍ نه وژغوره د هغه پر ضد مبارزې ته ملا وتړله. د دې لامل شاید د تربورۍ په ناوړه پدیده کې وموندل شي.

امان الله خان او پلویانو یې په اروپا کې د نادرشاه د رژیم په ضد د مبارزې له پاره د یوه مبارز ګوند د جوړېدو اړتیا احساس کړه. د دغه ګوند د مشرتابه هیئت غړي دا کسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو: محمود طرزی، غلام نبي خان څرخي، عبدالهادي داوي، عبدالحسین خان عزیز او امان الله خان یې مشر و. د ګوند مرامنامه په استانبول کې تسوید، په برلین کې وڅېړل شوه او په سویس کې د پټې غونډې له خوا د خبرو اترو لاندې ونیول شوه او بیا ومنل شوه. په دغه غونډه کې یو شمېر افغان سفیرانو چې پخوا له دندو ګوښه شوي او ځینو دندې اجرا کولې ګډون کړی وو. یو د دغو سفیرانو نه عبدالحسین عزیز و چې د غونډې تصویب شوې پرېکړې یې نادر شاه ته لېږلې وې. همدارنګه د نادرشاه د دولت جاسوس پر دې بریالی شوی و چې ټول اسناد او ځانګړې لیکونه چې غلام نبي خان په انقره کې لاسته راوړي و او د هغو فوټوکاپي ګانې یې د افغانستان شاهي دارالتحریر ته رسولې وې. افغانستان ته د امان الله خان پلویانو له خوا د پروپاګند اعلامیې راوړل کېدې چې یو تن هندي مهاجر دوران خان د دې کار له امله بندي او بیا په بالاحصار کې زندی شو.

دا ډېر ژر په ډاګه شوه چې د مصاحبانو د واکمنې کورنۍ له پاره تر ټولو غټ ګواښ د څرخي کورنۍ له خوا راښکاره شو. د څرخي کورنۍ غړو په افغانستان او هم په مسکو، انقره، برلین او پاریس کې د سفارتونو په ګډون لوی لوی دریځونه درلودل. د دې کهول تر ټولو غوره کسان درې وروڼه غلام صدیق خان څرخي، غلام نبي خان څرخي او غلام جیلاني خان څرخي او ځینې نور وروڼه او خپلوان وو. د څرخي وروڼو پلار غلام حیدر څرخي د امیر عبدالرحمن په واکمنۍ کې جنرال او عمومي قوماندان و چې د هغه سره یې د واک په ټینګتیا او کنټرول کې ډېره مرسته وکړه او دغه مهال د څرخي کورنۍ د زیات نفوذ څښتنه شوه او د افغانستان په کورنیو او بهرنیو چارو کې مهم توکی په توګه راغله. غلام صدیق خان ډیپلوماتیک مسلک غوره کړی و، د افغان- انګلیس د دریمې جګړې وروسته د افغان-انګلیس په خبرو اترو کې ګډون کړی و، بیا په برلین کې افغان سفیر او په پای کې د بهرنیو چارو د وزیر په توګه کار کړی دی. د ده وروڼه لومړی پوځي قوماندانان او د ولایتونو قوماندانان وو او په بیلو بیلو وختو کې په بهر کې د افغانستان د استازو په توګه دندې ترسره کړې دي. غلام نبي خان او غلام جیلاني خان د ۱۹۱۳ نه تر ۱۹۱۸ پورې د ډګروال عبدالاحمدخان په وژلو تورن شوي او شمال ته تبعید شوي وو. امیر حبیب الله خان په ۱۹۱۸ کې وبخښل او مهمې څوکۍ یې وروسپارلې. د څرخي کورنۍ د پاچا امان الله خان په وخت کې مهم پوستونه درلودل چې د مخه اوږده بیان شوي دي. د نادر خان کهول او څرخي کهول تر منځ اختلافونو او مبارزې د مخه غږېدلي یو چې د لوړو څوکیو د ترلاسه کولو سیالي او د هېواد د سمونو د پلي کولو د شیوې په اړه یې درلودل.

د تیخونوف په وینا د ۱۹۳۰ کال په اوړي کې څرخي وروڼو په استانبول کې یو د بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره وليدل. داسې ښکاري چې دوی همغه وخت پرېکړه وکړه چې د نادر خان د نسکورېدو له پاره دسيسه سازمان کړي چې امان الله خان ته د افغانستان تاج او تخت ونيسي. په دې وخت کې قبايل ناراضه و په دې چې لومړی نادر خان دوی ته د کابل د نيولو له پاره انعام ورنه کړ او هم يې د دوی نه هغه وسله هم وګرزوله چې دوی په جګړه کې ترلاسه کړې وه. دوهم دا چې نادر خان د دوی سره ژمنه کړې وه چې د سقاو د ماتې وروسته به بېرته امان الله خان پاچا کوي خو نادر خان واک په خپل لاس کې واخېست. په دغسې وضع کې د امان الله خان پلويانو هېواد ته د امان الله خان د بېرته راتلو په محور پراخ تبليغات پرمخ بيول. دوی شپې پاڼې خپرولې او شفاهي تبليغات کول. په دې لړ کې خان عبدالغفار خان او د هغه پلويانو د امان الله خان د ملاتړ له پاره په خيبر کې د قبايلو تر منځ پراخ تبليغات وکړل.

نادر خان چې کله قدرت ته ورسېد دومره پياوړی نه و چې سملاسي د څرخي او د امان الله د نورو پلويانو سره مخامخ ډغرې ووهي. په دې وخت کې تر ټولو غوره تګلاره دا وه چې د څرخي کهول له کابله لرې وساتل شي. همدا دليل و چې نادرشاه د ۱۹۲۹ کال په دسمبر کې غلام نبي په انقره کې د افغان سفير په توګه وټاکه او تر يوه کاله پورې په دغه څوکۍ پاتې شو. غلام جيلاني کابل ته راوغوښتل شو او په توکيو کې د افغان سياسي نماينده د مشر په توګه وټاکل شو خو هغه دا مقام ونه مانه او په کابل کې همداسې وزګار کېناست. غلام صديق خان څرخي په ۱۹۲۹ او بيا په ۱۹۳۱ کې کابل ته راغی خو ورته لارښوونه وشوه چې په برلين کې بايد په خپله دنده حاضر شي او جرمني ته لاړ. د افغانستان نوي واکمنان په دې تمه وو، چې د پخلاتوب کرښلارې له مخې به پايښت وکړي. خو غلام نبي څرخي چې لږ څه مخکې يې په انقره کې د امان الله خان سره کتلي و د ۱۹۳۰ کال په اکتوبر کې نادرشاه ته يو سرخلاصی ليک واستاوه چې په هغه کې يې نوموړی په دې وغانده چې په ټاکنې کې درغلي کړې او اعلان يې وکړ چې نادرشاه دې خپله رښتينې هېوادپالنه د ولس د منځګړي او عامو رايو په تله کې وتلي.

همدارنګه ډېرو افغانانو ګومان کاوه چې برتانوي حکومت د نادرشاه سره تخت ته د هغه د رسېدو په خاطر په جګړه کې مرسته کړې. برتانوي حکومت لکه څنګه چې له امان الله خان سره يې د سولې د تړون د لاسليک وروسته په صوبه سرحد کې د نفوذ او غلي کولو خپله تګلاره اخېستې وه کټ مټ يې د نوي افغاني پاچا د رسميت پېژندلو وروسته يې همهغه تګلاره راواخېسته.

«افغاني اذهان په هندي خاوره کې د سور کميسو (سرخپوشانو) او هندو سياست

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهانو تر منځ یووالی چې د کانګرس د ګوند لاسبر کسان دی نه خوښوي، په حقیقت کې کابل د نوي پاچا په واکمن کېدو سره د هندي سرحد په سیاست کې د یوه زیاتېدونکي جدي عامل په توګه راغلی دی.»۵۴۹

نادرشاه د ۱۹۳۱ کال د جولایي په شپږمه د خپلو دښمنانو د تورونو څخه د دفاع په خاطر پارلمان پرانېست. نادرشاه د پارلمان استازو ته د هغو کسانو په اړه چې پر ده باندې یې نیوکې کولې وویل: چې هغه یوازې د افغاني قبایلو په ملاتړ قدرت ته ورسېد او برتانیې ورسره هېڅ مرسته نه ده کړې. خو ده دا ومنله چې قدرت ته د رسېدو وروسته یې د برتانیې په ګډون له هرې سرچینې څخه مالي مرسته اخیستې، پرته له دې چې د هغوی کومې سیاسي ژمنې یا شرطونه یې منلي وي. ده زیاته کړه چې کله داخلي قبایلو ورسره اغېزمنه مرسته ونه کړه نو اړ شو چې خپل استازي حاجي محمد اکبر خان یې له برتانوي لوري څخه وغوښتل چې د پولې اخوا افغانانو ته اجازه ورکړي چې د نادر خان د ځواکونو سره مله شي خو برتانیې دغسې اجازه ورنه کړه.۵۵۰ په پای کې ځائیو، احمدزیو او منګلو د قومونو جرګې پرېکړه وکړه چې د برتانیې د مخالفت سره سره دې پر وزیرو د مرستې ږغ وشي.

نادرشاه د هغې مالي او پوځي مرستې ارقام هم وړاندې کړل چې د برتانیې له خوا یې ترلاسه کړې وه. هغه زیاته کړه چې دا مرستې د ملامتۍ وړ نه دي په دې چې داسې مرستې پخوا امان الله خان ته هم ورکړ شوې دي چې په هغو کې د فرانسې او جرمني مرستې شاملې وې. هغه وویل چې «افغانستان به تل د خپلو ګاونډیو تر منځ انډول وساتي»۵۵۱ هغه دا هم وویل چې د پولې دواړه خواوو افغانان د خپل ملیت او اسلامیت له مخې یو ولس دی»۵۵۲

څرخي ورونو باید د پخلاینې له مخې نوی رژیم منلی وای یا دا چې په کابل کې یې باید د نوي رژیم سره تر سولې وروسته خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړی وای. جیلاني چې په ۱۹۳۰ کال کې یې دنده ونه منله او په کابل کې پاتې شو په ۱۹۳۲ کال کې په ښکاره د پخلاتوب په موخه د افغاني واکمن د پیغام په وړلو سره برلین ته لاړ. د اصلاح ورځپاڼې د ۱۹۳۲ کال د جولایي په ۲۱مه نېټه د غلام صدیق خان څرخي او نادرشاه تر منځ د لیکونو د راکړې جریان خپور کړ. غلام صدیق خان د پاچا د خواخوږۍ نه د منني په څرګندولو سره د خپلې کورنۍ د بیعت او هېواد ته د خدمت کولو ژمنه وکړه. د غلام نبي خان د غوښتنې پر اساس نادرشاه دی کابل ته راوباله چې د شاه ولي خان سره په ګډه کابل ته راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلام نبي خان د ۱۹۳۲ کال د اکتوبر په ۱۳مه کابل ته راورسېد او د ځینو سرچینو له مخې نور نو هغه وخت رارسېدلی و چې دغه دواړې ځواکمنې کورنۍ سره پخلا شي.

ادامیک وایي چې «۱۹۳۲ کال د پېښو ډک کال و. د هغه د پیل څخه داسې راپورونه وو چې د «سور کمیسو» تبلیغاتو د منګلو او ځدرانو په منځ کې لمسونې را منځ ته کړې»۵۵۳ د بېلګې په توګه له بنو څخه دوران نومي له خوا چې د ۱۹۳۲ کال په اګست کې نیول شوی و د امان الله خان په پلوی تبلیغات کېدل. شاه محمود خان د یوه لوی پوځ سره د اکتوبر په ۲۱مه ګردېز ته وخوځېد او د دوو اوونیو د څېړنې وروسته کابل ته راستون شو او د یوې پټې توطیې راپور یې راووړ چې څرخي وروڼو طرحه کړې وه. نادرشاه غلام نبي خان ارګ ته وغوښت او د حکومتي سرچینو په اساس یې اړونده مدارک او شواهد ورښکاره کړل او بیا یې د هغه د سملاسي غرغره کولو امر وکړ. غلام جیلاني او د هغه ګڼ شمېر خپلوان یې بندیان کړل.

د ۱۹۳۳ کال د جون په ۶مه سید کمال په برلین کې افغاني سفارت ته ننوت او د نادرشاه مشر ورور عبدالعزیز یې وواژه. سید کمال د امان الله یو پلوي وخوت او په ډاګه یې کړه چې دا کار یې په افغانستان کې د زیاتېدونکي برتانوي اغېز د غندنې په خاطر وکړ. ادامیک وایي چې دې پېښې دوې مهمې پایلې درلودې: لومړۍ دا چې د نوي رژیم او د هغه د مخالفانو تر منځ یې دښمني نوره هم زیاته کړه او دوهم دا چې د جرمني او افغانستان تر منځ یې اړیکو ته سخت زیان ورساوه.

د ۱۹۳۳ کال د سپتمبر په ۶مه په کابل کې محمد اعظیم د برتانیې سفارت ته ننوت چې د برتانیې سفیر مکوناشي ووژني. خو کله چې پوه شو چې سفیر نه شته نو هغه درې کسان چې مخې ته یې ورغلل وویشتل چې په هغو کې یو انګرېز مېخانیک، یو هندي او یو د سفارت افغان کارکوونکی و. ده هم د سید کمال غوندې ادعا وکړه چې غوښتل یې په افغانستان کې د برتانیې په اغېز باندې اعتراض وکړي. محمد اعظیم د سپتمبر په ۱۳مه زندی شو چې ورسره شپږ نور مهم بندیان هم ورسره غرغره شول چې په دې ډله کې د امان الله خان د بهرنیو چارو وزیر محمد ولي خان دروازي او نایب السلطنه او غلام جیلاني خان په کې شامل وو. په دې توګه د غلام نبي خان له خوا سازمان شوې دسیسه ناکامه او امانیان وځپل شول.

د پوهاند جلالي په وینا نادرشاه زیات دښمنان لرل چې د راز راز دلیلونو له مخې یې امان الله خان ته د تخت د راګرزولو په ګډون هغه ننګوه. ډېرو قومونو، په تېره د وزیریستان وزیرو او مسیدو د نادر خان سره ژبه کړې وه چې امان الله خان به بېرته تخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته رابیایي. خو کله چې په کابل کې نادر خان د پاچا په توګه اعلان شو نو دغه کار ډېر وزیر او نور قومونه ناهیلي کړل. د ۱۹۳۰ کال د مارچ په میاشت کې یوه هندي اخبار «زمیندار» یو اوږد لیک خپور کړ چې د ځینو د خبرو له مخې امان الله خان لیکلی دی چې په هغه کې یې نادر خان په بې وفادارۍ، بد قسمتۍ او په برتانویانو باندې د افغانستان د خپلواکۍ په پلورلو تومتي کړی و. د دغه لیک کاپي ګانې د ننه افغانستان ته په پټه ورل کېدې چې د امان الله خان په ګټه او د نادرشاه پرضد یې د ترویجولو سېلاب روان کړی و. د امان الله خان په پلوي ترویج هغه وخت زور واخېست چې د ۱۹۳۱ کال په اپرېل کې امان الله د حج دپاره مکې ته لاړ او هلته د امان الله خان وطن ته د بېرته راتلو خبرې کېدې. سمونپالو او مترقي قوتونو هم ورته احساسات درلودل. همدا مهال ځینې نور د نادرخان د اتوکراسي واکمنۍ، د ځینو سمونونو درول او د هغه قانوني نهضت د ځپلو له امله ورسره مخالف وو چې د پېړۍ په پیل کې منځ ته راغلی و. څنګه چې نادر خان د نیوکو په وړاندې ځان غیر مصؤن احساساوه نو هغه کسان یې وځپل چې د ده د مطلقه واک په وړاندې درېدلي وو.

تیخونوف وايي چې په ۱۹۳۳ کال کې د سرحد پښتنو قبایلو کې د نادرشاه په وړاندې نارضایتي زیاته شوه او امان الله خان ته یې د بېرته را ګرځېدو هیلې زیاتې کړې. په دغه موضوع کې غلام صدیق خان څرخي د امان الله خان ښی لاس و. د همدغه کال د جولايي په میاشت کې امان الله خان استانبول ته راغی او زیات وخت یې د ترکیې په منځي کې تېر کړ او څو ځله یې د مصطفی کمال اتاترک سره وکتل او د هغه څخه یې افغانستان ته د بېرته ستنېدو په موخه پوځي مرسته وغوښته او دغه کتنې بریالۍ وې.

تیخونوف زیاتوي چې څه موده وروسته صدیق خان څرخي په استانبول کې شوروي قونسلګرۍ ته ورغی او وویل: «په افغانستان کې د امان الله خان د پلویانو پاڅون تیار دی. د پاڅون مرکز جلال اباد او د اقداماتو د توپ تخته د افغانستان په شمال کې مزار شریف ټاکل شوی دی. د انګرېزانو لاس وهنه په دې کار کې ناشونې ده.»۵۵۴ تیخونوف دا هم وايي چې د امان الله خان او اتاترک د خبرو نه ښکاري چې «شوروي هغه ته د نادر د نسکورولو له پاره بشپړ ملاتړ ژمنه ورکړې وه.»۵۵۵ دی وايي چې ترکي مشر امان الله خان ته ویلي و «کله چې سور پوځ تیار وي چې د پاڅون نه ملاتړ وکړي ترکیه هم خپله برخه د روسیې په تله کې اچوي چې د غوټې خلاصول ګرندي کړي او په افغانستان کې کورنۍ جګړې ته سترګې په لاره نه شو.»۵۵۶ خو هر څه چې و ستالین د امان الله خان سره پوځي مرسته ونه کړه او په هغه پسې مصطفی کمال هم د پوځي مرستې نه ډډه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۱۹۳۳ کال د نومبر په۸مه نادر خان د ښوونځي د زده کونکي عبدالخالق خان له خوا ووژل شو چې د غلام نبي خان د زندی کولو غچ يې د نادر خان نه واخېست. د نويو واکمنو او مخالفينو تر منځ دښمني د ۱۹۳۳ کال د نادر خان په وژلو سره خپلې لوړې څوکې ته اوچته شوه. په روم کې ژورنالستانو په امان الله خان زور راوړ چې ورسره مصاحبه وکړي. امان الله خان د رويټر خبريال ته چې د خپل زوی هدايت الله له خوا يې ملګرتيا کېده وويل: «هر گاه مردم افغانستان ارزومند بازگشت من با برنامه اصلاحات و ترقی ام باشند، همواره اماده هستم با همه توان با کشور خود خدمت نمايم.» ... و افزود که: «نمېتواند از مرگ نادرشاه تا اندازه ای احساس رضايت مندي نه کند، مگر در عين زمان متاسف است گه بادشاه افغانستان کشته شده است.»۵۵۷

هاشم خان د خپل ورور د مړينې وروسته د امان الله خان نه د نادر خان د وژنې د غچ او هم خپلې کورنی ته د ګواښ له امله د امان الله خان او د هغه نامتو پلويانو د منځه وړلو په موخه دوه ګروپونه جوړ کړل. د دې نه د شوروي اطلاعاتي سازمان خبر شو او په بيړه يې د امان الله خان د امنيت له پاره تدبيرونه ونيول.

د ۱۹۳۴ کال د جنوري په مياشت کې د شوروي د بهرنيو چارو د وزارت مرستيال قره خان په روم کې د شوروي سفير پوتومکين ته خبر ورکړ چې الله نوازخان د نادرشاه ځانګړی ياور په اروپا کې د امان الله خان د وژلو دنده په غاړه اخېستې ده. الله نواز او ملګري يې د ايټاليا د پوليسو له خوا ونيول شول او وسله يې ضبط شوه.

د ۱۹۳۴ کال په مې کې احمد علي خان په روم کې د افغانستان د سفير په توګه وټاکل شو او دنده ورکړل شوه چې په هره بيه وي الله نواز ته سپارل شوې دنده سرته ورسوي. بيا شوروي استخباراتو دا ارزښتناک مالومات په لاس راوړل او روم ته يې ولېږل او د امان الله خان د امنيت له پاره تدبيرونه ونيول شول.

هاشم خان بل ګروپ مکې ته ولېږه چې امان الله حج ته د تګ په مهال په زهرو ووژني. د دوی دغه هڅه تر ۱۹۳۸ کاله پورې دوام درلود خو د امان الله خان په وژلو بريالي نه شول.

د تيخونوف په وينا د۱۹۳۴ کال د فبروري په ۲۱مه نېټه د امان الله خان سکرټر په روم کې شوروي سفارت ته ورغی او هيله يې وکړه چې مسکو ته د امان الله خان د يو شمېر غوښتنو راپور ورکړي. په مسکو کې د امان الله غوښتنو ته مثبت ځواب ورکړل شو. د ۱۹۳۴ کال د جون په مياشت کې صديق خان په ناڅاپي ډول په ربل کې هغه مهال د شوروي اتحاد د بهرنيو چارو د وزير ليتوينوف سره کتلي و چې د ژينو نه د بېرته تګ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



حال کې ورسره یوځای شوی و. په دغه لیدنه کې صدیق خان د لیتوینوف نه هیله کړې وه چې هغه ته د مسکو نه د لیدلو اجازه ورکړل شي. د۱۹۳۴ کال د جون په ۱۵مه سیاسي دفتر اجازه ورکړه چې په اروپا کې افغان مهاجرینو د لسو نه تر دولسو تنو پورې افغانستان ته د ترانزیت ویزې ورکړل شي چې په شوروي اتحاد کې یوه میاشت د اقامت حق ولري. تیخونوف زیاتوي چې په واقعیت کې ستالین اجازه ورکړه چې امانستان د منځنۍ اسیا د جمهوریتونو نه خپل فعالیتونه پیل کولی شي. په دې توګه ستالین یو ځل بیا هڅه پیل کړه چې د امان الله خان نه د شوروي دریځ د پیاوړي کېدو له پاره ګټه پورته کړي. خو هغه ته یې د مادي مرستې په ورکولو کې بیړه نه کوله.

د ۱۹۳۵ کال د مارچ په میاشت کې په روم کې شوروي سفیر سوریتس چې پخوا په افغانستان کې د شوروي سفیر و د صدیق خان څرخي سره ژمنه وکړه چې شوروي ته به د ده سفر وشي. د دې ټولو سره سره شوروي حکومت د امان الله د غوښتنو په اړه بیړه نه کوله.

امانستانو وکولی شول چې یو موټی شي او په برلین، استانبول، بغداد، مکه، تهران، مشهد، کربلا، بمبیي، کوېټه او پېښور کې فعالیت په کار واچوي. خو د ننه په هېواد کې د دوی فعالیتونه د حکومت تر څارنې لاندې و.

امان الله خان په ۱۹۳۵ کال کې حج ته لاړ او هلته یې د پښتنو د مشرانو سره کتنې تر سره کولې. تیخونوف وایي چې یو څه وخت وروسته د شوروي او امان الله خان تر منځ تماسونه په ناڅاپي توګه د منځه لاړل.

## د شامي پیرپېښه

دریم رایش غوښتل چې د برتانیې ضد قبایلي پاڅون نه ګټه پورته کړي. په ۱۹۳۸ کال کې د ایتالیا او المان هېوادونو هڅه وکړه چې په وزیرستان او په سوویلي افغانستان کې غښتلی اړدوړ جوړ کړي. روم په ۱۹۳۸ کال کې د ایپي فقیر په وسله وال کولو پیل وکړ او د المان جاسوسي جال د یوه ازمایښتي ګام په توګه د هند او افغانستان په پولو کې پراخې لمسونې سازمان کړې. په ۱۹۳۸ کال کې برلین د امان الله خان له پاره چې په علاقمنۍ سره د «محور» د هېوادونو سره همکارۍ ته حاضر و، علاقه وښودله.

هنتیګ د المان د بهرنیو چارو د وزارت د منځني ختیځ د دفتر مدیر د دوهمې نړیوالې جګړې په درشل کې د المان لومړني لوی اطلاعاتي عملیات په وزیریستان کې طرح کړل. هغه مهال چې په وزیریستان کې د ایپي فقیر په مشرۍ د انګلیسانو په وړاندې وسله وال پاڅون

(c) ketabton.com: The Digital Library



وشو هنتیګ په سوریا کې د خپل یوه اجنټ سره تماس ونیو.

دا اجنټ محمد سعد ګیلاني د قادریه طریقې پیر و چې د پښتنو په منځ کې د «شامي پیر» په نوم نامتو و. دا پیر د ګیلاني د سترې کورنۍ یو غړی و چې په اسلامي نړۍ کې یې لوی اغېز درلود. د هغه تره حسین ګیلاني د یوروشلم لوی مفتي او د خپلې طریقې نړیوال مشر و چې د محور د هېوادونو سره یې همکاري کوله. برسېره پر دې سعد ګیلاني د امان الله خان د لرې خپلوانو څخه و. (د محمود طرزي مېرمن د شام وه او د هغې له لوري دا د لرې خپلوۍ اړیکه موجوده وه) په افغانستان کې هم د قادریه طریقه مهمه ګڼل کېده.

هنتیګ په افغانستان کې د ۱۹۱۵-۱۹۱۶ کلونو د خپلې تجربې نه پوهېده چې د پښتنو د سیمو په منځ کې هر ډول فعالیت د پیسو پرته د ماتې سره مخامخ کیږي. له دې امله د پښتنو مشرانو د اخېستلو له پاره باید شامي پیر ته زیاتې د سپینو او سرو زرو سکې ورکړل شي. خو ښکاره ده چې د المان اجنټ د انګلستان د ګمرک له لارې نه شو کولی دومره زیاتې پیسې له ځان سره هند ته یوسي.ځکه په برلین کې پرېکړه وشوه چې د قبایلو د رانیولو له پاره د اړتیا وړ پیسې د ځایي سودخورو له لارې د ګیلاني په لاس ورکړل شي. هنتیګ د دې کار له پاره د ټانک نواب د وزیرستان لوی او شتمن فیوډال په ګوته کړ. د ټانک نواب د لوېې فیصدي ګټې او ټینګ ضمانت پر بنسټ پرېکړه وکړه چې دا پیسې د پیر سعد ګیلاني په لاس ورکړي. هغه وخت چې د ایپي فقیر د شک توه په دره کې د انګرېزي پوځ په وړاندې دفاع کوله شامي پیر وزیرستان ته ورسېد. شامي پیر ډېر زر د وزیرو او مسیدو په منځ کې لوی اغېزناک شخص وګرځېد. دا ډېر مناسب وخت و ځکه چې د یوې خوا د ایپي فقیر په چاپېر زیات وزیر او مسید راټول شوي وو او د بلې خوا د افغانستان د حکومت له لوري د هند سره د سرحد په اوږدو کې د ګمرکاتو د جوړېدو له امله سلیمانخېل د ننه په افغانستان کې د دولت پر ضد پاڅېدلي وو. کله چې شامي پیر وزیرستان ته ورسېد سلېمانخېلو یو پلاوی شامي پیر ته واستولو.

په زیات ګومان د پلاوي سره د لیدنې نه د المان اجنټ ګیلاني ته ښکاره شوې وي چې په نږدې وختونو کې سلیمانخېل به د هاشم خان د حکومت په وړاندې جګ شي نو هغه سمدلاسه د ۱۹۳۸ کال د جون په ۱۵مه کاني ګرم ته نږدې د قبایلو جرګه راوغوښته چې په هغې کې ګیلاني خلک د ظاهر شاه د نسکورولو او پر ځای یې د امان الله خان منځ ته راوړلو ته راوبلل. پیر سعد ګیلاني د پښتنو د رانیولو له پاره د سپینو زرو زیاتې پیسې چې ټول وزن یې ۵/ ۱ ټن ته رسېده ولګولې چې د ټانک د نواب نه یې ترلاسه کړې وې. وزیرو او مسیدو په بېړه سره پنځه زره لښکر تیار کړ چې شامي پیر یې مشري کوله او دغه لښکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې د افغانستان د سرحد په لور روان کړ. خو دغه وخت د ایپي فقیر چې لرې لید یې درلود د شامي پیر ملاتړ ونه کړ. د ایپي فقیر شاید په دې پوه شوی وي چې د شامي پیر تر شا د انګلیس ضد داسې لاس وي چې غواړي د برتانیې ضد د پښتنو ملي ازادي غوښتونکي غورځنګ نه خپل ځانته ګټه پورته کړي. دی د سطرنج دانه نه وه چې پښتانه د نورو د ګټو له پاره قرباني کړي. سلیمانخېلو پرېکړه وکړه چې خپلواک کړه تر سره کړي او د ګیلاني سره یوځای نه شول، د مومندو او شینوارو قبیلو همدغسې دریځ ونیو. له دې امله د کابل په لور لښکر کشي ونه شوه. انګرېزانو شامي پیر ته د ۲۵ زرو پونډ سټرلینګ د رشوت ورکولو وړاندیز وکړ. شامي پیر هوکړه وکړه او د جون په ۳۰مه یې خپل ځان د انګلیس سیاسي اجنټ برنس ته تسلیم کړ. انګرېزانو هغه دمشق ته یووړ او پښتانه خپلو کورونو ته ستانه شول. د انګلستان استخباراتو ونه شو کولی چې په وخت سره د سعد ګیلاني اړیکې چې د المان سره یې همکاري کوله مالومې کړي. خو د افغانستان مشرتابه فکر کاوه چې د شامي پیر د کړو تر شا د انګرېزانو لاس دی.

د ۱۹۳۸ کال د اکتوبر په ۶مه د انګلیس پلاوی د متکاف په مشرۍ کابل ته لاړ او څو ورځې یې د هاشم خان او نورو دولتي لوړ رتبه چارواکو سره وکتل او متکاف د خپلو خبرو په ترځ کې افغان چارواکو ته څرګنده کړه چې د شامي پیر پېښه په انګرېزانو پورې هېڅ تړاو نه لري. په پای کې د دواړو لورو تر منځ پرېکړه وشوه چې

۱-برېتانیا ژمنه کوي چې قبایل د افغانستان په وړاندې ونه کاروي.

۲- افغانستان په خپل وار د پښتون قبایلو سره د انګرېزانو پر ضد د همکارۍ نه ځان ژغوري.

۳- انګلستان د افغانستان حکومت ته د افغانستان او هند تر منځ د سرحد د ټینګولو له پاره پیسې او جګړه یز وسایل ورکوي.

د متکاف ترون د افغان او انګلیس اړیکو کې ښه والی منځ ته راوست.

د انګلستان استخباراتو سعد ګیلاني په سوریا کې تر څارنې لاندې ونیو. انګرېزانو د ۱۹۳۹ کال په پسرلي کې د سعد ګیلاني اړیکې په مصر کې د هنتیګ سره ثابتې کړې. له دې کبله انګرېزانو د هاشم خان نه وغوښتل چې د المان سره خپلې اړیکې پرې کړي خو هاشم خان دا خبره ونه منله.

## د «امان الله خان» او «تبت» عملیات

زه به د تبت د عملیاتو نه ډډه وکړم او د امان الله خان عملیاتو ته به لنډه اشاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړم. دا ځل وارسا لا نیول شوې نه وه چې فن روبنتروپ د المان د بهرنیو چارو وزیر په خپل یوه سفر کې هنتیګ په یوه ځانګړې اورګاډي کې د ځان سره بوت او هغه ته یې وړاندیز وکړ چې د انګرېزانو پر ضد د ازادو قبایلو د پاڅون د تنظیم له پاره په افغانستان کې د سفیر په توګه کار وکړي. هنتیګ د روبنتروپ وړاندیز په دې شرط ومانه چې په افغانستان کې ټول الماني سازمانونه او استخبارات د ده تر لاس لاندې کار وکړي. د المان مشران د شوروي اتحاد سره د نه تېري د تړون د کړلو وروسته هیله من وو چې شوروي لورى به په افغانستان کې د خپل پلان د پلي کولو په موخه خپل لوري ته کش کړي. دالمان مشران په دې فکر وو چې د خپل پلان د پلي کولو په موخه چې امان الله خان بېر ته پاچاهي ته راوستل شي دا کار یوازې د روسیې په ملاتړ شونې دى. دوى غوښتل چې د انګرېزانو په وړاندې د ازادو قبایلو پاڅون پراخ کړي او په ځانګړې توګه د وزیرستان د پاڅون ملا وتړي تر څو انګرېزان اړ شي چې د خپل پوځ زیاته برخه په هند کې وساتي.

د هنتیګ په اند د ظاهر شاه د نسکورېدو له پاره د هغو غلزیانو نه چې شوروي ترکستان ته کوچېدلي دي د صدیق خان څرخي په مشرۍ دوه زریزه ډله جوړه شي او په الماني وسله سنبال شي او مزار ونیسي. ده همدا ډول فکر کاوه چې امانېستان به بریالي شي چې د سرحدي پښتنو قبایلو او په لومړي ګام کې د اپریدو، مومندو او شینوارو لښکر تنظیم او د کابل په لور یې روان کړي. د دغو قبایلو په پیاوړي پاڅون سره د ظاهر شاه نسکورېدل حتمي دي. په دې اړه د المان او شوروي اتحاد تر منځ د ډېرو خبرو اترو نه وروسته د یوې خوا شوروي اتحاد دا پلان ونه مانه او د بلې خوا د المان ځینې کړۍ د دې پلان مخالفې وې او دوى هېټلر قانع کړ چې د دې پلان مخالفت وکړي. په دې توګه دا پلان پاتې شو.

د ۱۹۳۹ کال په دسمبر کې په کابل کې د امانېستانو پټ سازمان د حکومت له خوا کشف شو چې د دربار د وزیر مرستیال غلام حیدر خان په مشرۍ یې د ظاهر شاه د نسکورېدو توطیه پلان کړې وه. زیات امانېستان د بندي کېدو له وېرې ازادو قبایلو ته وتښتېدل او په خپله غلام حیدر خان په اپریدو کې پټ شو. د امان الله خان هڅې د دوهمې نړیوالې جګړې تر پایه دوام درلود تر څو په ۱۹۴۸ کال کې هغه د یوه لیک په ترځ کې خپل بیعت ظاهر شاه ته واستوه. په دې توګه دا مبارزه د امانېستانو په ناکامۍ پاى ته ورسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتلسم څپرکی

# د محمد ظاهر شاه واکمني

محمد ظاهر د ۱۹۳۳ نه تر ۱۹۷۳ کال پورې څلوېښت کاله د افغانستان پاچا و. په دې ترتيب ده د هر بل افغان پاچا نه اوږده پاچايي کړې ده. محمد ظاهر وروسته له دې چې پلار يې پاچا محمد نادر په ۱۹۳۳ کال کې ترور شو، پاچا شو. دغه مهال دی نولس کلن و. خو د کاکړ په وينا دی تر ۱۹۶۳ کال پورې په نامه پاچا و او په عمل کې واک د ده د ترونو په لاس کې و. دی د خپل تره محمد هاشم په اوږده صدراعظمۍ او د بل تره شاه محمود په صدراعظمۍ کې د پاچايي چارو د کولو دپاره ونه هڅول شو. نو ځکه دی په پاچايي چارو کې د تجربې خاوند نه شو. پاچا محمد ظاهر که څه هم د محمد داود په لس کلنه صدراعظمۍ کې له داود او د هغه د ورور محمد نعيم سره په ګډه په عملي سياست کې فعال شو خو بيا هم د سياست نوښتګر او عامل محمد داود و. په دې ترتيب محمد ظاهر تر نهه څلوېښت کلنۍ پورې په نېغه او ازاد ډول پاچايي نه ده کړې.

په دغه دوره کې لکه چې مو د مخه يادونه وکړه د نادرشاه له خوا د لېبرال اقتصاد سياست ته دوام ورکړ چې د هغه په پايله کې ملي بانک او بيا د افغانستان بانک منځ ته راغلل. د دې دورې د اقتصادي سياست بله مهمه دنده د ښوونې او روزنې پراختيا او لويو لارو جوړولو ته ځيره شوې وه. د ښونې او روزنې په برخه کې دولت په دې هڅه کې و چې د ملي اقتصاد ستونزې د وړ کدرونو له خوا د منځه وړل کېدای شي نو ځکه لومړنيو، منځنيو او لوړو زده کړو ته پاملرنه زياته شوه. په ۱۳۱۲ کې د ښوونځيو شمېر ۳۷۰ او د زده کوونکو شمېر ۴۵۹۱ وو خو په ۱۳۳۵ کې د ښوونځيو شمېر ۸۰۴ ته لوړ شو او د زده کوونکو شمېر ۱۲۶۰۹۲ ته ورسېد. پردې سربېره هر کال يو شمېر افغان زده کوونکي د لوړو زده کړو دپاره بهر ته هم استول. د لوړو زده کړو په موخه په ۱۳۱۲ کال کې د ښوونې او روزنې وزارت په چوکاټ کې د طب د پوهنځي بنسټ کېښودل شو، په ۱۳۱۷ کال کې د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی، په ۱۳۲۱ کال کې د طبيعي علومو پوهنځی، په ۱۳۲۲ کال کې د ادبياتو او بشري علومو پوهنځی، په ۱۳۳۰ کال کې د شرعياتو پوهنځی، په ۱۳۳۵ کال کې د کرنې پوهنځی او په ۱۳۳۶ کې د اقتصاد پوهنځی پرانېستل شول. په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه په ۱۳۳۶ کال کې کابل پوهنتون د یوې خپلواکې ادارې په توګه راپورته شو.

د اقتصادي پرمختیا په موخه ترانسپورت ته زیاته پاملرنه وشوه. زموږ هېواد چې سمندري لارې، د اورګاډي پټلۍ او لوی سیندونه نه لري نو د ځمکني او هوایي ټرانسپورټ اړتیا زیاته لیدل کېږي. ځکه حکومت زیار وایست چې د هېواد بیلې بیلې سیمې د لویو لارو په وسیله ونښلوي. له دې کبله دولت د ټولګټو وزارت جوړ کړو چې دنده یې د اصلي او فرعي سړکونو فني سروې او څېړنه، د لویو لارو، بندونو او پلونو جوړول او او د هغوی ساتنه وه.

خو دویمې نړیوالې جګړې د هېواد دغه اقتصادي پرمختیا په ټپه ودروله، په دې چې له اروپا نه د صنعتي ماشینونو راوړل هېواد ته بند او د هېواد صادرات لږ شول او هېواد د اقتصادي ستونزو سره مخامخ شو.

د دوهمې نړیوالې جګړې وروسته د دې اقتصادي ستونزو د هوارېدو دپاره د اقتصاد وزیر او د ملي بانک مشر عبدالمجید زابلي د یوه پرمختیايي پروګرام وړاندیز وکړ چې په هغه کې د کرنې د سکتور د تولیداتو زیاتوالی، د سپکو او درنو صنایعو پرمختیا او د خدمتونو د سکتور وده په پام کې نیول شوې وه. په دې پروګرام کې بیا ملي بانک ته د هېواد په صنعتي کولو کې لوی رول ورکړ شوی و. څه مهال وروسته جوته شوه چې ملي بانک د درنو صنعتي تصدیو په تمویل کې د ستونزو سره مخامخ دی. ځکه دولت اړ شو د درنو صنایعو او د عامه چارو د چټکې ودې او پرمختیا دپاره خپله پانګه واچوي او هم بهرنۍ پانګې او مرستې را جلب کړي.

## د رهبري شوي اقتصاد پیل

د محمد داود اقتصادي سیاست رهبري شوی اقتصاد و. د داود خان د رهبري شوي اقتصادي سیاست زړی دا و چې «حکومت د ولس د ټولو برخو د استازي په توګه د اقتصاد لارښوونه وکړي او هغه رهبري کړي.»۵۵۸

حکومت د رهبري شوي اقتصاد د پلي کولو په موخه په ۱۹۵۵ کال کې د اقتصاد د وزارت په چوکاټ کې د پلان جوړولو ریاست جوړ کړو چې په ۱۹۵۷ کال کې د پلان جوړولو وزارت باندې بدل شو. د پلان جوړولو وزارت دنده دا شوه چې د یوې خوا د هېواد طبیعي زېرمې او د هغې تر څنګ کورنۍ او بهرنۍ مادي او مالي سرچینې په معقول ډول په کار واچوي، چې ملي تولیدات زیات، د خلکو د ژوند سطح لوړه، وزګارتیا له منځه یوسي او د ملي عایداتو وېش په عادلانه توګه تر سره کړي او د بلې خوا د بیلو بیلو سکتورونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروګرامونه یو د بل سره په ښه ډول همغږي کړي. په دې توګه لومړی اقتصادي پلان د ۱۳۳۵-۱۳۴۰ کې تر لاس لاندې ونیول شو. د لومړي او دوهم پلان موخه د مادي زېربنا په تېره بیا د سړکونو، پلونو او هوایي ډګرونو جوړول وو. د ۱۹۷۹ کال پورې ۱۸۶۰۰ کیلومتره سړک جوړ شو چې د هغې جملې نه ۲۷۳۰ کیلومتره کېږ او یا کانکرېټي، نږدې ۵۰۰۰ کیلومتره خامه سړک چې په ټول کال کې ګټه ورځخه اخېستی شوه. او ۱۱۰۰۰ کیلومتره سړک چې د کال په ځینو وختو کې کار ځینې اخېستی شو.۵۵۹

د هوایي ټرانسپورټ په وده کې ګامونه پورته شول. یو شمېر ملي او نړیوال هوایي ډګرونه جوړ شول او د پیلوټانو، انجنرانو او تخنیکرانو روزنه ته پام وشو. په دې کلونو کې د برېښنا، د ډبرو سکارو، سمنټو او بورې په تولید کې ځو برابره زیاتوالی منځ ته راغی. همدارنګه د وړینو او نخي ټوکرانو په تولید کې زیاتوالی راغی او د ګاز تولید پیل شو.

همدارنګه په دغو پلانونو کې د مخابراتو، ښوونې او روزنې او روغتیايي چارو کې د پام وړ پرمختګ وشو. دولت د کرنې سکتور ته زیات پام وکړ خو بیا هم حکومت خپله موخه چې د خوارکي موادو له لحاظه په ځان متکي شي او ځینې کرنیز مواد د بهرنیو اسعارو د لاسته راوړلو په خاطر تولید او بهر ته یې ولېږي ترلاسه نه کړه او اړ شو چې یوه اندازه خوراکي توکي د بهر نه وارد کړي. په دې موده کې لویې او کوچنۍ صنعتي فابریکې او تصدۍ جوړې شوې.

افغانستان د مطلق بې پرې سیاست ته دوام ورکړ او د دې سره سره چې په هېواد کې د محور په پلوي ټینګ احساسات موجود وو، د دوهمې نړیوالې جګړې کې برخه نه واخېسته.

## د هند وېش او د پښتونستان موضوع

د هند وېش ما په خپل یو بل کتاب کې چې «د باچا خان اندونو او مبارزې ته لنډه کتنه» نومېږي اوږد بیان کړی دی. څرنګه چې ټول هندوستان د انګرېزانو مستعمره وه، خو د ډېورنډ د کرښې ختیځه سیمه چې د هغو د نفوذ ساحه شوه او کلونه وروسته ازاد پښتونستان وبلل شوه، له هندوستان نه د انګرېزانو تر وتلو پورې په دغه ډول خپلواکه وه، چې د هندوستان بله هېڅ برخه هغسې خپلواکه نه وه. پاکستان چې په ۱۹۴۷ کال کې د هند د وېش په پایله کې منځ ته راغی خپلې نورې سیمې د ۱۹۷۳ کال د اساسي قانون له مخې اداره کولې خو د پښتنو دغه سیمې یې د انګرېزانو د وخت د سرحد د جزا قانون له مخې تر ۲۰۱۸ کال پورې اداره کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتونستان د بولان نه تر چتراله او اباسینه پورې د ډیورنډ د کرښې هغه خوا ته د پښتنو ټاټوبی دی چې د افغانستان څخه د ډیورنډ د تش په نامه کرښې په ذریعه جلا شوی دی. د ۱۹۴۷ کال د جون د میاشتې په ۲۱ نېټه د بنو تاریخي جرګې د هغې وروسته، چې لارډ مونټ بېټن او د مسلم لیګ ګوند د سرحد په صوبې کې په ټولپوښتنې ټینګار وکړ، پرېکړه وکړه چې د ټولو پښتنو خپلواک دولت دې جوړ شي. دغې جرګې په دې ټینګار وکړ چې که هرومرو د سرحد په صوبه کې ټولپوښتنه کیږي نو باید د هند او یا پاکستان سره د یوځای کېدو برسېره دې د ازاد پښتونستان په جوړېدو باندې هم پښتنو ته د رایو حق ورکړ شي. د بنو د تاریخي پرېکړې متن، چې د قاضي عطاءالله خان له خوا جرګې ته وړاندې شو، دا دی:

« پښتنو د خپل آزاد حکومت فیصله اوکړه
پښتانه نه هندوستان غواړي نه پاکستان

د صوبې د جرګې- د اسمبلی د ممبرانو، د خدایي خدمتګارانو افسرانو او د «ځلمي پښتون » د جرګې یو شریک اجلاس په ۲۱ د جون ۱۹۴۷ په مقام د بنو کې د خان امیرمحمد خان د صدارت د لاندې اوشو. دې اجلاس په اتفاق سره دا فیصله اوکړه چې په دې ملک کې دې د ټولو پښتنو یو ازاد حکومت جوړ شي. چې د هغې د ایین بنیاد به په اسلامي اصولو، جمهوریت، مساوات او اولسي انصاف باندې ایښودی شي. دا اجلاس هر چا ته اپیل کوي. چې د دې اعلی مقصد د حاصلولو دپاره په یو مرکز باندې راغونډ شي- او بې د پښتون نه دې د بل چا اقتدار ته سر ټیټ نه کړي.

له طرفه د صوبه سرحد د لویې جرګې نه»۵۶۰

کاکړ وایي چې پاکستان په خپله خاوره کې ځان یو نوی دولت نه، بلکې د برتانوي حکومت ځای ناستی یا وارث ګڼي. که د پاکستان دا ادعا سمه هم وي بیا نو هغه سیمې چې د ډیورنډ د هوکړه لیک له مخې د برتانوي هند د نفوذ په ساحه کې ګڼل شوې وې، د پاکستان د حاکمیت لاندې نه راځي، ځکه چې هغه د انګرېزانو د نېغ حاکمیت لاندې نه وې او انګرېزانو د هغو له پاره د ادارې بله شېوه غوره کړې وه.

سره له دې چې د افغانستان حکومت د هند افغان سرحد منلې او د ۱۸۹۳ نه راهیسې بیلو بیلو کمیسیونونو د افغان- انګلیس د ۱۹۰۶، ۱۹۱۹ او ۱۹۲۱ کلونو د تړونونو د احکامو له مخې په نښه کړی دی، افغانستان د ډیورنډ د کرښې اخوا پښتنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومونو سره ځانګړې اړيکې ساتلو ته دوام ورکوي. ډېرو افغان دولتي شخصيتونو هيله درلوده چې يو ځل برتانويان لاړ شي د سرحد موضوع به د نويو خبرو له پاره خلاصه شي. سره له دې چې د امان الله خان وروسته واکمنو نه غوښتل چې دا موضوع بيا پرانيزي په داسې حال کې چې د برتانيې حکومت د هند د مشرانو او سياسي ګوندونو سره د ازادۍ په اړه خبرې کولې. د افغان حکومت په دې کې پاتې راغی چې د پښتنو قومونو چې افغانستان يې د خپل ملت برخه بولي چې د زړو اميرانو نه په زور بيله شوې ده، د راتلونکې په اړه يوه فعاله ډيپلوماسي تعقيب کړي.

د دوهمې نړيوالې جګړې په جريان کې چې کله جاپان برما ونيوله او په کلکته يې بمونه وغورځول نو انګرېزانو ته دا فکر پيدا شو چې که جاپان هندوستان ونيسي نو ښه به دا وي چې د افغانستان هغه سيمې، چې دوی ورڅخه بېلې کړې دي، بېرته افغانستان ته وسپاري. ولي خان ليکي: «پېرنګي په خپله د افغانستان حکومت ته دا تجويز پېش کړو چې ته د دې خپلو علاقو مطالبه د حکومت برېتانيه نه وکړه. بلکې ما خو تردې اوربدلي دي دغه خط يا عرضداشت په خپله برتانوي سفير په کابل کې ليکلی و.»۵۶۱ د سرور رونا په وينا «په ۱۹۴۴ کال کې د افغانستان حکومت په کابل کې لانديني وړانديز د يوه ليک په ترځ کې د انګلستان سفير ته وسپاره:

«۱-د برېتانيا حکومت دې ژمنه وکړي چې د هندوستان د سياسي وضعې د سياست تر بدلونه پورې په ازاد سرحد کې د حاکميت د پراختيا هيله نه لري.

۲-د برېتانيا حکومت دې ژمنه وکړي چې د افغانستان د پوځي ځواکونو د پياوړتيا او د افغانستان د قبايلي مځکو او سرحد د امنيت په منظور د پوځي تجهيزاتو او پيسو مرسته کوي او په بلوچستان کې يو بندر هم په واک کې ورکوي.

۳-دواړه لوري افغانستان او برېتانيا دې ژمنه وکړي چې د امنيت، سوکالۍ او نورو په هکله دې دواړه لوري سلاوې او خبرې اترې جاري وساتي

۴-دواړه لوري دې د لسو يا شلو کالو پورې د نه تيري تړون لاسليک کړي او د همکارۍ د اړيکو فضا دې په هراړخېزه توګه روښانه شي.

۵-د هند د ازادۍ وروسته دې د افغانستان نه نيول شوې مځکې بېرته مستردې شي خو د هغو د اوسېدونکو په سلا او خوښه.»۵۶۲

د دې وړانديز ځواب انګليسانو د افغانستان حکومت ته په ۱۹۴۵ کې ورکړ. دا ځواب منفي و ځکه چې په جګړه کې جاپان او جرمني ماتې وکړه نو بيا انګرېزانو دا ښه وګڼله چې دا سيمې د افغانستان په ځای پاکستان ته ورکړي. د ولي خان په اند دا کارځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګرېزانو وکړ چې: «که چېرې دا علاقې افغانستان ته وسپارلې شي نو دا به په صوبه سرحد کې د پېرنګیانو دښمنان د افغانستان په قومي ورورولۍ کې ځان له داسې مقام پیدا کړي چې هم به د افغانستان حکومت او هم به پېرنګي ته مشکلات پیدا کړي.»۵۶۳

د کابینې پلاوي د سر سټیفورډ کرېپس په مشرۍ د هندوستان د ازادۍ په هکله د هند د مشرانو سره په خبرو اترو بوخت و د افغانستان مشرانو د خپلې خاورې د بېرته لاسته راوړلو سره مینه ښکاره نه کړه او دانګلستان د لوري سره یې په دې هکله خبرې اترې ونه کړې . عبدالحکیم طبیبي په خپلو خاطرو کې لیکي: «په هغو ورځو کې د هند د وېش او د لارډ مونټ بېټن د ملکې الیزابت تره او په هند کې د انګلیس وروستی وایسرای په هکله ډېرې خبرې اترې کېدې. لارډ مونټ بېټن د ۱۹۴۷ کال د پرېکړې په رڼا کې د کانګرس د ګوند او د مسلم لیګ د مشرانو سره د هند د ازادۍ له پاره په کار او خبرو اترو لګیا و. د دې پرېکړې له مخې د بلوچستان د ایالت او د هند د شمال- لوېدیځ سرحدونو ته دا حق ورکړ شوی و چې د ټولپوښتنې (ریفرنډم) په اساس خپل سرنوشت وټاکي چې اياغوارې د هند سره یوځای شي، یا د پاکستان پلو ته لاړ شي او یا دا چې خپلواک پاتې کېږي. د افغانستان لاس ته طلایي موقعه ورغلې وه چې په سیمه کې د خپل حق نه ساتنه وکړي. خو افسوس چې د کابل ساتنپال حکومت په درانه خوب بیده و او باور یې نه درلود چې انګلیسان هند پرېږدي او حتی مرحوم شاه محمود غازي د افغانستان راتلونکي صدراعظم په هند کې د ښاغلي سر سټیفورډ کرېپس سره، چې خبر اترو ته حاضر و، تماس و نه نیو.»۵۶۴

د مونټ بټن په پلان کې د کابینې د پلاوي د پلان په څېر دا امکانات وو چې د قلات ریاست او د سرحد صوبه دې د افغانستان سره یوځای شي. ولي خان لیکي: «چنانچه په دې مسلې د غور کولو له پاره یوه غونډه وشوله چې هغې کې یوې خوا خان قلات او د هغه قانوني مشیر [سلاکار] سلطان احمدخان موجود و. او دې بل اړخ ته د پاکستان نامزد ګورنر جنرل جناح صاحب او نامزد وزیراعظم نوابزاده لیاقت علي خان وو او په منځ کې موجوده ګورنر جنرل او وایسرای هند لارډ ماونټ بټن ناست و. د مفصلو خبرو اترو نه پس فیصله په دې لاندینیو دوو خبرو وشوله:

۱-چې کله د اګست په پنځلسمه پېرنګی د هندوستان اختیار پرېږدي نو د قلات ریاست حیثیت به بېرته هغه مقام ته ورسي کوم چې په ۱۸۳۷ کال کې د خان قلات او انګرېز حاکم په منځ کې عهدنامه شوې وه .

۲-دویم دا چې که چېرې د قلات خان او د حکومت پاکستان تر منځه د څه روغه جوړه د الحاق ونه شي، نو بیا ریاست قلات دا حق لري چې هغه د افغانستان سره خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



الحاق وکړي.

په دې معاهده د خان قلات ، ماونټ بېټن سره د جناح صاحب دستخط هم موجود دی.»۵۶۵

په حقوقي لحاظ افغانستان وايي چې د ډیورنډ د کرښې هوکړه لیک په امیر عبدالرحمن باندې تپل شوی، چې په ۱۸۸۰ کې د افغان- انګلیس دوهمې جګړې په جریان کې برتانویانو په تخت کېښنوه. برسېره پردې د برتانیې په رسمي پوځي اسنادو کې دا کرښه د هند د پولې (Boundary) په توګه نه ده یاده شوې، بلکې د امیر د سلطې ختیځ او سوویلي سرحدونه (Frontiers) او د دوو حکومتونو د نفوذ حدود یې ښودل. موضوع د هندي سرحد نه بلکې د برتانیې د حاکمیت پراخوالی و.۵۶۶ خو بیا هم، په ۱۹۴۷ کې، د هند د وېش په درشل کې، برتانویانو د ډیورنډ کرښه د هند د نړیوالې پولې په توګه وپېژنده او په دې توګه یې د افغانستان سره د پاکستان د نړیوالې پولې په توګه هم وپېژانده کله چې برتانیې هند پرېښوده او پاکستان یې د یوه جلا هېواد په توګه ورڅخه بیل کړ او هغه سیمې یې په پاکستان کې شاملې کړې چې د افغانستان څخه یې نیولې وې. په عین وخت کې پاکستان ادعا کوي چې که دلته د اصلي هوکړه لیک په اړه پوښتنې وای نو د ډیورنډ کرښه درې ځله په وروستیو تړونونو سره تصویب شوې ده.

د قانوني پېچلتوب برسېره د ډیورنډ کرښې داسې خلک په دوو برخو جلا کړي چې تل په ملي، سیاسي او کلتوري لحاظ سره اوبدل شوي دي. افغان حکومت په ځنډ سره یو ډیپلوماتیک برید پر مخ واچاوه او غواړي چې پښتنو ته یوه موقع ورکړل شي چې د افغانستان سره په مشوره کې خپل سرنوشت په خپله وټاکي. د ۱۹۴۷ کال په اګست کې د برتانیې حکومت شاه محمود خان صدراعظم ته، چې په لندن کې په رسمي سفر بوخت و، ډاډ ورکړ چې د شمال لوېدیځ سرحد د افغانانو او پښتنو کلتوري تړاو به حتمي شي او ورته پیغام یې په هند کې د برتانیې د وروستي وایسرا لارډ مونټ بېټن نه هم لاسته راوړی و چې د هند د وېش په خبرو لګیا و. هغه افغان سفیر نجیب الله ته ډاډ ورکړی و چې په یوه ښه وخت کې به د پښتنو د راتلونکې موضوع په پام کې ونیول شي.

د وېش نه د مخه ټولپوښتنې کې د شمال لوېدیځ صوبې قومونو ته دا انتخاب ورکړ شوی و چې یا باید د مسلمان پاکستان یا د هندي هند سره یوځای شي. افغان ملتپالو د وګړو په عامه رایه کې د دغو نظرونو په تنګوالي اعتراض وکړ او ویې ویل چې دوی ته دې د ازادۍ انتخاب هم ورکړ شي. په دې توګه د عبدالغفار خان او ملګرو لومړنۍ ادعا د پښتونستان خپلواکي وه. په دغه دلیل د سرحدي پښتنو نامتو مشر غفار خان او خدایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدمتګارو او نورو ملتپالو پښتنو په ټولپوښتنې کې د ګډون نه ډډه وکړه. خو بيا يې په پاکستان کې د ننه خپلواکې غوښته. خو چې يو ځل وېش پای ته ورسېد او د منځ ته راغلو ملتونو پولې په رسميت وپېژندل شوې د افغان غوښتنې د برتانيې د حکومت يا امريکا متحده ايالاتو نه چې دې مسلې ته يې د انګرېزانو په سترګو کتل، لږ ملاتړ پيدا کړ. همدارنګه د امريکې په پاليسې باندې د پاکستان سره د هغې ستراتيژيکې همکارۍ ډېر اغېز اچولی و.

د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د پښتنو او پښتونستان د موضوع په اړه هېڅ کله د افغانستان د دريځ سره موافق نه و. د ۱۹۵۱ کال په مارچ کې په کابل کې په يوه کتنه کې د امريکا د بهرنيو چارو مرستيال وزير جورج مک ګي د افغان د بهرنيو چارو وزير علي محمد ته څو ټکي په ګوته کړل. هغه څرګنده کړه چې د امريکا د متحده ايالاتو د قضاوت له مخې «دا سيمه چې پښتونستان نوميږي په اقتصادي او سياسي لحاظ ژوندی پاتې کېدونکې نه وه. يو ازاد پښتونستان با تجربه مشران نه لري چې د ګاونډيانو سره خپلې اړيکې خوندي کړای شي. د پاکستان کورنۍ وضعه داسې وه چې لياقت علي خان په داسې دريځ کې نه و چې سرحدي سيمې ته د کتنې وړ امتيازات ورکړي. د پښتونستان په اړه د افغان د تضمين وخت ډېر مهم و. موږ اوس هڅه کوو چې څومره زر کېدای شي د شوروي يرغل د مخنيوي دپاره په ګډو کوښښونو سره چمتووالی ونيسو. د پښتونستان د مسلې ژوندي ساتل به افغانستان ته زيان واړوي او داسې شرايط به منځ ته راوړي چې د شوروي تېري ته به لاره هواره کړي. په راتلونکې کې د مخ بيونکو کړو پرته به د افغانستان دپاره اوس ښه دا وي چې د پاکستان سره د پښتونستان په اړه يو لنډ مهالی جوړجاړی ولټوي.»۵۶۷

که څه هم امريکاخپل ښه خدمتونه وړاندې کړل چې د دواړو هېوادو سره مرسته وکړې چې خپله کشاله هواره کړي. که څه هم په سيمه کې د کړکېچ د کمولو په موخه د امريکا متحده ايالاتو وړانديز په زياته اندازه د امريکا د لويو جيوستراتيژيکو ګټو له پاره و او د افغانانو د احساساتو نه ډکه مبارزه چې د پښتنو د خوداراديت د حق دپاره يې کوله، لږ پام کاوه چې پاکستان تر پايه دا د خبرو اترو وړ موضوع نه ده منلې. په پای کې د مک ګي کتنه ناکامه شوه چې دا موضوع هواره کړي او وروسته د ۱۹۵۱ په اکتوبر کې د امريکا متحده ايالات د خپل وړانديز نه ووت چې د منځګړي په توګه عمل وکړي.

د کاکړ په وينا په افغانستان کې په پراخه اندازه باور پر دې دی چې پاچا ظاهرشاه د نامالومو دليلونو له مخې په دې کې پاتې راغی چې د شمال لوېديځ سرحد په اړه د ويش نه د مخه او د ويش په جريان کې په پوره ځواک سره د افغانانو د داعيې ملاتړ وکړي که څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم د سر په مشرانو کې د جنګ وزیر محمد داود د پښتونستان په اړه احساس درلود. خو زه لیکوال فکر کوم چې شاید یو لامل یې دا وي چې پاچاخان او ملګرو یې د نادرخان د کهول د واکمنۍ پر ضد د امان الله د بېرته واکمن کېدو له پاره مبارزه کوله. د باچاخان او ملګرو دغه دریځ د نادر خان د کهول واکمني ګواښوله. بل دلیل یې شاید دا وي چې شوروي اتحاد ونه پاروي په دې چې لوېدیځ او په ځانګړې توګه امریکې افغانستان ته د شوروي ګواښ په وړاندې د دفاع ژمنه نه کوله. دغه د هند د وېش کلونه (۱۹۴۵-۱۹۴۷) د افغانستان د کونړ د بلوا سره سمون خوري چې په پای کې په لوی ننګرهار کې یو لوی پوځ ځای په ځای شو چې قومي پاڅون غلی کړي. سردار محمد داود په جلال اباد کې د عملیاتو قومانده او کنټرول په لاس کې ونیو. د بلوا د ځپلو او د قومونو سره د سولې د کړلو نه وروسته سردار له دې امله چې بلوا بیا د سره ونه نیول شي، په ډګر کې څو لواوې وساتلې، هغه شپږ نې سنبالې لواګانې په سرحد کې ځای په ځای کړې. دا خوځښت په کابل کې داسې تعبیر شو چې سردار نیت لري چې د ډیورنډ د کرښې اخوا یو پوځي ازمون وکړي چې په شمال لوېدیځې سرحدي صوبې قومونه د افغانستان د داعیې په منظور منظم کړي. دا هغه مهال و چې ظاهرشاه داود د خپلې دندې نه ګوښه او د افغانستان د سفیر په توګه یې فرانسې ته واستوه.

په ۱۹۴۹ کال کې د پاکستان جنګي الوتکو په خوست کې د مغولګي په نامه یو کلی بمباري کړ چې د دواړو خواوو اړیکې یې نورې ترینګلې کړې او د افغان ملي شورا پرېکړه وکړه چې په یو اړخیز ډول د انګرېزانو سره د نولسمې پېړۍ ټول تړونونه د ډیورنډ د کرښې د هوکړه لیک په ګډون لغوه کړي په دې اساس چې د تړونونو لاسلیک کوونکي مړه شوي او باید د سره خبرې پرې وشي. له دې وروسته تر ننه هېڅ افغان حکومت د ډیورنډ د کرښې اعتباري توب په رسمیت نه دی پېژندلی، چې د افغانستان او پاکستان تر منځ (دې فکتو) سرحد جوړوي.

په ۱۹۵۳ کال کې چې سردار محمد داود صدراعظم شو «پښتونستان» د افغان په کورني او بهرني سیاست کې مهمه موضوع وګرزېده. په ۱۹۵۵ کال کې د یو یونټ د پالیسۍ په پایله کې چې دغه صوبه یې په لوېدیځ پاکستان په وجود کې ګډه کړه، د پښتونستان د کشالې په اړه یې د افغانستان او پاکستان تر منځ اختلاف سخت کړ. دا نقشه چې پنجاب، سیند، شمال لوېدیځ سرحدي صوبه او بلوچستان د ختیځ پاکستان په یوه سیاسي واحد لوېدیځ پاکستان کې منسجم کړل چې د بنګال د زیات نفوسه صوبې سره یې ټاکنیزه برابري ترلاسه کړي. په افغانستان کې د یوه یونټ پالیسي ته د داسې پلان په توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتل کېدل چې د قومي سیمې بې نظیره هویت او اداري حالت بدلوي. افغانانو د حکومت په تشویق په کابل، کندهار او جلال اباد کې لویې مظاهرې وکړې. مظاهره کوونکو په کابل کې د پاکستان په سفارت او په کندهار او جلال اباد کې په کونسلګریو برید وکړ او په کابل کې یې د پاکستان د سفارت بیرغ وسوځوه. پاکستان همدغسې په پېښور کې د افغانستان د کونسلګرۍ په وړاندې ورته عمل وکړ. خو د ۱۹۵۵ کال په سپټمبر کې ترینګلتیا کمه شوه او د دواړو خواوو نماینده ګانو په تشریفاتي توګه د خپلو هېوادو په ډپلوماټیکو سفارت خانو په ترتیب سره بیراغونه وځړېدل، چې دغه ټکر د دواړو هېوادو په دوو اړخیزو اړیکو ژور داغ پرېښود.

د دې نه لږ وروسته پاکستانیانو په وچه چاپېر افغانستان د ترانزیټ لارې بندې کړې او کابل اړ شو چې بهرنۍ نړۍ ته د ترانزیت لارې د لاسته راوړلو دپاره شوروي اتحاد ته مخ واړوي. د ۱۹۵۵ کال د جون په میاشت کې افغانستان د شوروي اتحاد سره د ترانزیټ تړون لاسلیک کړ. د تړون شرایط د افغانستان په ګټه و. دغه ګام د پاکستان پالیسي کې بدلون راوست او د افغانستان له پاره یې د ترانزیټ لار بېرته پرانېسته.خو وضعې افغانستان نور دې ته کش کړو چې د شوروي اتحاد سره اړیکې پراخې کړي.

د علي احمد جلالي په اند زیات وخت ویل کیږي چې د بغداد په پکت کې چې د امریکا متحده ایالاتو تضمین کړی و په هغه کې د افغانستان نه ګډون د دې لامل شو چې امریکا افغانستان ته د پوځي مرستې نه ډډه وکړي. په واقعیت کې، په اساس کې دا د پښتونستان موضوع وه، چې د امریکا په متحده ایالاتو کې یې د افغانستان او په سیمه کې د هغه د جیوسیاسي اهمیت په اړه ناسم تصور سره مرسته وکړه په دې چې د امریکا متحده ایالاتو افغانستان ته د برتانیې په سترګو کتل چې په زیاته اندازه یې د افغانستان سیاسي او ستراتیژیک انځور تتوه. د دغه ناسم تصور یوه د برخه لیک نه ډکه پایله دا شوه چې د امریکا مخالفت چې افغانستان په امریکایې وسلو سنبال کړي شوروي اتحاد ته اجازه ورکړه چې په افغانستان کې د وسلو د برابرولو له لارې نفوذ وکړي. دا کار وروسته له هغې وشو چې د افغانستان پرله پسې هڅې چې د امریکې نه وسله ترلاسه کړي، ناکامه شوې.

د دوهمې نړیوالې جګړې په جریان کې برتانیا د دې مخالفه وه چې د امریکا متحده ایالات دې افغانستان ته درنې وسلې تهیه کړي او ادعا یې کوله چې دا وسله به د سرحد قومونو ته په لاس ورشي چې هلته به جرمنیان د برتانیې دپاره ستونزې جوړې کړي. د جګړې نه وروسته که څه هم د امریکا متحده ایالاتو د ځان ساتنې پالیسي موخه د کمونیزم د پراختیا مخنیوی و، افغانستان په روښانه توګه د شوروي د نفوذ د ګواښ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندې د مخکينۍ جبهې د هېواد په توګه د نظر نه وغورځول شو. د ۱۹۳۱ کلونو په لومړيو کې د افغانستان د بهرنۍ پاليسۍ مهم هدف دا و چې افغانستان به د شوروي نفوذ د منځه وړي. افغانستان په منځني ختيځ او لوېديځې اسيا کې د هغو درې هېوادو له ډلې نه و چې د شوروي اتحاد سره يې ګډه پوله درلوده. امريکا په ۱۹۵۴ کال کې د ترکيې او ايران سره دفاعي تړونونه لاسليک کړل. امريکا د پاکستان سره يې دوه اړخيز دفاعي تړون لاسليک کړ او ژمنه يې وکړه چې امريکا به پاکستان ته پوځي مرسته پراخه کړي. په ۱۹۴۸ کې د افغانستان صدراعظم شاه محمود خان امريکا ته سفر وکړ او د امريکا د بهرنيو چارو وزير جورج مارشال سره وکتل او په ټينګه يې د پوځي مرستې غوښتنه ورځخه وکړه. وزير د افغان صدراعظم نه وپوښتل چې «دښمن مو څوک دی؟»۵۶۸ هغه ځواب ورکړو چې «روسان» مارشال د ملنډې په څېر په دغه وړاندېز پورې وخندل شونې ده چې افغانستان د شوروي پوځي ځواک په وړاندې ودرېدلی شي.

په ۱۹۵۱ کال کې په يوه بله کتنه کې افغان سفير سردار محمد نعيم د امريکا بهرنيو چارو وزير مک ګي ته ورياده کړه چې که امريکا افغانستان ته پوځي مرسته ورنه کړي هغه به اړ شي چې د شوروي اتحاد نه د مرستې په لټه کې شي. مک ګي دا وړانديز ته ديو ډول پټکي په توګه وکتل او افغان سفير ته يې په واشنګټن کې د شوروي سفير د ټليفون نمبر ورکړ. په ۱۹۵۳ کال کې د امريکا د ستر درستيز په يوې پټې څېړنې کې لولو چې «افغانستان د امريکا دپاره لږ اهميت يا هېڅ ستراتيژيک اهميت نه لري.»۵۶۹

لوېديځ د کمونيزم د پراختيا د مخنيوي دپاره يوه اغېزمنه وسيله د پوځي اتحادونو جوړول او وروسته پاتې هېوادو ته د پام وړ مرستې ورکول و. د دې مرستې په بدل کې د امريکا د متحده اياलاتو سره د دوه اړخېزو امنيتي تړونونو لاسليک کول و. د امريکايي ډيپلوماتانو د ويلو له مخې دا مهال ځينې افغان پوځي چارواکو غوښتل د امريکا د امنيتي کمپ سره يوځای شي خو دوی دا ژمنه غوښته چې که دا کار د دې لامل شي چې شوروي اتحاد په افغانستان يرغل وکړي او يا د افغانستان د ننه زيات وېجاړونکي کوښښونه وکړي دوی به د امريکا د متحده ايالاتو له لوري دفاع کېږي. امريکايانو ته ورکړشوی ناسم تصور چې «د ازادې نړۍ» په دفاع کې د ستراتيژيکو دليلونو له مخې افغانستان مهم نه و، د امريکا پوځي پلان جوړوونکو د داسې ژمنې د ورکولو په ضد پرېکړه وکړه. د دې سره سره افغانانو يو ځل بيا د امريکايانو نه د وسلې مرسته وغوښته چې په سيمه کې مات شوی انډول سم شي

په ۱۹۵۴ کال په اکتوبر کې وروستی ځل د امريکا د پوځي مرستې غوښتنه وروسته له

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې وشوه چې جنرال ایزنهاور د امریکا د متحده ایالاتو جمهور رییس شو او جنرال داود د افغانستان نوی صدراعظم شو. د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر سردار محمد نعیم د امریکا متحده ایالاتو ته سفر وکړ او د افغان حکومت غوښتنه یې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جان فوسټر ډالس ته وړاندې کړه. ډالس دوې میاشتې وروسته د دسمبر په ۲۸ مه په واشنګټن کې افغان سفیر ته د یوه لیک په ترځ کې ځواب ورکړ. په لیک کې ویل شوي چې «په پام سره د کتنې وروسته، افغانستان ته د پوځي مرستې پراختیا به پرابلمونه منځ ته راوړي چې په زور سره به حل نه شي چې دا یې زیږوي.» ... د وسلې د غوښتنې له پاره، افغانستان باید د پاکستان سره د پښتونستان شخړه هواره کړي.»۵۷۰ ډالس د ډیپلوماټیکو نورمونو خلاف د دې لیک یوه کاپي په واشنګټن کې د پاکستان سفیر ته لېږلې وه. افغانستان حکومت ناهیلی او سپک شو. د دې نه یوه میاشت وروسته صدراعظم سردار محمد داود د شوروي د پوځي مرستې وړاندیز ومانه چې د مخه افغانانو رد کړی و.

محمد داود د ۱۳۳۴ کال د لویې جرګې د راغوښتلو د مخه د افسرانو یوه لویه شوری جوړه کړه او په دغه شوری کې یې د شوروي اتحاد سره د نږدې کېدو موضوع طرح کړه چې یوازی جنرال اسدالله ساپي د ملي دفاع وزارت د محاکماتو رئیس ورسره مخالفت وکړ. د دغې شوری د تایید وروسته د ۱۳۳۴ کال لویه جرګه دایره شوه او حکومت ته یې واک ورکړ چې د هرې شونې سرچینې نه پوځي مرسته ترلاسه کړي. محمد داود د هېواد د اقتصادي ودې او د اردو د مدرن کولو له پاره د شوروي اتحاد نه په اسانه شرایطو د ۱۰۰ میلیونو دالرو مرسته تر لاسه کړه او شوروي اتحاد د پښتونستان د موضوع په اړه د افغانستان پلوي وکړه. محمد داود د لومړي او دوهم اقتصادي پلانونو په عملي کولو سره د هېواد په اقتصادي پرمختیا کې د قدر وړ بدلون رامنځ ته کړو. په بهرني سیاست کې دناپېیلتوب په نهضت کې غړیتوب او د مثبتې بې طرفۍ سیاست پرمخ بوت. خو په هر ترتیب د شوروي څخه د وسلې رانیول، هلته د ملکي او پوځي کدرونو روزنې او د افغانستان د ننه په پوځي او ملکي ساحو کې د شوروي مشاورینو ګمارل د شوروي اتحاد د نفوذ له پاره لاره هواره کړه.

د ثور د انقلاب وروسته د افغانستان ډموکراتیک حکومت هم دمحمد داودخان غوندې د پښتونستان د موضوع په هکله ټینګ ملي دریځ درلود. نورمحمد تره کي په کابل او هاوانا کې د ضیا الحق سره په خپلو لیدنو او کتنو کې خپل دریځ په پوره روښانتیا سره د پښتونستان د مسلې په اړه څرګند کړ او حفیظ الله امین د دواړو هېوادو تر منځ د اړیکو د عادي کولو له پاره د ښه نیت د لرلو سره سره د پښتونستان د مسلې په سر هېڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول سودا کړلو ته چمتو نه و. عبدالحکیم طبیبي لیکي: «حفیظ الله امین ما ته ویل چې د نوومبر په میاشت کې اغا شاهي کابل ته راځي. هغه زما څخه وغوښتل چې د جنرال ضیأ الحق سره د کتنې په مهال، چې د ۱۹۸۰ کال په پسرلي کې به تر سره شي د هغې په جریان کې به د پښتونستان د مسلې او د پښتنو او بلوڅو ملتونو د سرنوشت د ټاکلو د حق د ننګونې په اړه خبرې اترې کیږي، تاسو چې یو حقوق پوه او د بهرنیو چارو د وزارت یو پخوانی مامور یاست په دغو خبرو کې د یوه حقوقي مشاور په توګه برخه واخلی ... څرنګه چې دا یوه ملي موضوع ده هیله ده چې په دغو خبرو اترو کې به د ګډون څخه ډډه ونه کړی.»۵۷۱

خو د دې سره سره د افغانستان مشرانو د پاکستان سره د اړیکو په عادي کولو کې د پښتونستان په مسله کې زیاته نرمي ښودله. دا شاید له دې کبله هم وي چې افغانستان بې وسه او ناتوان و.

پاکستان د خپل منځ ته راتګ نه وروسته د افغانستان په اړه زیات وخت ښه نیت نه دی څرګند کړی او تل یې هڅه کړې ده چې د افغانستان او هند سره اړیکې خړې پړې کړي او د پښتنو او بلوڅو حقوق ترپښو لاندې کړي. ځکه هغه «د خپلې ساتنې له پاره لوېدیځ سیستم ته ورننوت او د هېواد د ننه یې بحران او د ګاونډیانو سره یې هم د کړکېچ پیاوړي کولو ته اړتیا درلوده.»۵۷۲

د پاکستان د جوړېدو وروسته د هېواد واکمنود اسلامي مدرسو په جوړولو لنګر واچاوه او دغه کار ته په پښتنو سیمو کې ځانګړې پاملرنه شوې ده. «همدا لامل دی چې د پښتنو او بلوڅو په سیمو کې د مدرسې پوهنه پیاوړې او عصري پوهنه ډېره کمزورې ده.۵۷۳ د پاکستان واکمن د ملایانو او تبلیغیانو له لارې په قبایلي سیمو کې خلک د خپلو ملي دودونو، ملي کلتور نه د پردي کولو په منظور اغېزمن کار کوي. ملایان او تبلیغیان په ودونو کې د موزیک د الاتو غږول، سندرو ویل او ملي اتڼ کول او ان راډیو اورېدل او د ټلویزیون لیدل د دیني مناسکو نه سرغړونه بولي.

پاکستان د انګرېزانو په څېر د سرحد د جزا قانون چې په ۱۹۰۱ کال کې جوړ شوی و په قبایلي سیمه کې چې په اوو ایجنسیو او شپږو سرحدي علاقو (Frontier Regions) باندې وېشل شوې ده او هره ایجنسي د یوه سیاسي ایجنټ له لارې، چې د یوه بشپړ زورواک اختیار لري، پلی کوي. «دغه ډول جزاګانې په خپله د پاکستان د اساسي قانون پرخلاف هم دی چې وایي هر هغه قانون یا رواج لغوه دی چې اساسي حقونه نقض کوي.»۵۷۴ په دغو سیمو کې سیاسي ګوندونه، خیریه موسېسې او مدني ټولنې د فعالیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه منع دي او پښتانه مشران هلته د تللو اجازه نه لري. خو مذهبي افراطیون د نړۍ د هر ګوټ څخه هلته ازاد تللی شي چې تبلیغ او مبارزه وکړي. په دې توګه پاکستان قبایلي سیمه په پوره بې وزلۍ او بې سوادۍ کې ساتلې ده.

پاکستان د «ملي حاکمیت په مانا د پښتون نېشنلېزم مخالف و نو ځکه د مغولي حکومت په شان کوښښ کوي چې د ملایانو او روحانینو له لارې یې وځپي»۵۷۵ همدا لامل و چې په افغانستان باندې د شوروي وسله وال تیري وروسته یې د «ستراتیژیکي ژورتیا پلان» جوړ کړ.

«د ستراتیژیکي ژورتیا پلان د پاکستان هغه نظامي پلان دی، چې د هغه له مخې افغانستان باید تل د پاکستان د نفوذ سیمه وي لکه هسې چې افغانستان د نولسمې پېړۍ په دوهمه نیمایي کې د برتانوي هند د نفوذ سیمه ګرځول شوې وه. په داسې حال کې، چې د برتانوي حکومت د افغانستان له لارې د تزاري روسیې د احتمالي یرغل د دفع له پاره افغانستان تر خپل نفوذ لاندې نیولی و، پاکستاني نظامیان غواړي په پاکستان باندې د هند د نظامي یرغل د دفع له پاره افغانستان تردې حده پورې د خپل نفوذ سیمه وګرزوي چې د هند د یرغل په وخت کې خپل پوځونه هلته په شا کړي او بیا له هغه ځایه ګوریلایي جنګونه پیل کړي. د دې له پاره یې باید پښتون نېشنلېزم ځپلی او افغانستان یې تر خپل نفوذ لاندې نیولی وي.

پاکستان ته د هند له خوا خطر لکه برتانوي هند ته د روسیې خطر د وېرې زېږنده دی. پاکستاني نظامیانو د دغې وېرې له امله د ستراتیژیکې ژورتیا پلان ایستلی، لکه هسې چې انګرېزانو د روسیې له وېرې د هند د دفاع له پاره ایستلی و او په هغه یې د « علمي سرحد» نوم ایښی و. پاکستاني نظامیانو دغه پلان په افغانستان باندې د شوروي یرغل نه وروسته وایست.»۵۷۶

د افغان د ملي مقاومت په مهال د افغانستان ښوونځي، اقتصادي موسېسې، تاریخي او فرهنګي شتمنۍ او نورې ابادۍ د منځه وړل او د ائ ېس ائ په دستور د خپل نفوذ لاندې اسلامیستي ډلګیو په ذریعه د افغاني روښنفکرانو ترور او نور ورانوونکي فعالیتونه د دې ستراتیژیکي ژورتیا د پلان له مخې و. «نواز شریف د همدغه پلان له مخې د افغان منظم او په مډرنو وسلو سنبال پوځ ړنګ کړ. د جهاد په لس کلنې دورې کې ډېر افغان وتلي تکنوکراتان او قومي مشران چې د مشرۍ او حکومت کولو صفتونه یې لرل د ائ ایس ائ په دستور او همکارۍ د افغان اسلامیستي تنظیمونو له خوا ترور شوي نږدې ټول پښتانه وو.»۵۷۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پاکستان واکمنو د جهاد په لس کلنه دوره کې د امریکا متحده ایالاتو، لوېدیځو هېوادو، اسلامي هېوادو او نورو نه زیاتې پیسې او وسلې په لاس راوړې. د طالبانو د نسکورېدو وروسته پاکستان د یوې خوا له دې کبله چې، د القاعدې او طالبانو په وړاندې د امریکا متحد دی زیاتې وسلې او پیسې ترلاسه کړې، او د بلې خوا یې همدغه پیسې او وسلې د القاعدې او طالبانو د روزلو، تمویلولو او تنظیمولو له پاره وکارولې. دوی غواړي چې«د ډېورنډ د دواړو خواو پښتانه باید بېرته پاتې، ناتوان او د پاکستان تر سیوري لاندې وي. ایران خو لا ډېر د مخه د پښتنو سیاسي ناتوان کولو له پاره بډې وهلې»۵۷۸ دي.

## پښتونستان او د ایپي فقیر

کاکړ وایي چې وزیرستان د باجوړ، مومند، کاکړستان او کوټې په شان د چترال نه د سووېل په لور د اوسني افغانستان شمال ختیځ ته غځېدلې سیمه ده. وزیریستان تر دغو ټولو سیمو نه غرنۍ ده، درې یې تنګې او ژورې او د کر کیلې مځکې یې لږې دي. خلک یې هم تر نیم میلیون نه ډېر دي. وزیریستان دوه برخې لري چې یوه یې شمالي وزیریستان او بله یې سوویلي وزیریستان دی. دواړه برخې یې د ډیورنډ د کرښې په اوږدو کې دواړو خواو ته پراتې دي. په افغانستان کې د ننه په برمل او د خوست په ګربزو او متون کې ډېر وزیر اوسیږي چې ټول شمېر یې نږدې د وزیریستان د وزیرو دریمه برخه جوړوي. خو د وزیرو یوه برخه په ننګرهار کې هم شته. کاکړ د ډاکټر بېریګل وزیر او ناصر احمد ساپي د وینا پر بنسټ دا هم وایې چې وزیر په اصل کې ودیر و. په دې حساب د افغانستان د وزیرو شمېر د وزیریستان د وزیرو نه ډېر کیږي. ودیر، مسید او ګربز چې د ساپیو څانګې دي، په وزیریستان، لویا پکتیا، کونړ، لغمان، ننګرهار، تګاو او غوربند کې اباد دي، نو دوی ټول د کرلاڼي پښتنو یو غټ قوم دی. د وزیریستان وزیر او مسید د وزیر په نامه ګډ نیکه پیژني. وزیر په شمالي وزیریستان او سوویلي وزیریستان دواړو برخو کې او مسید او دوتني یوازې په سوویلي وزیریستان کې اباد دي. داوړ په شمالي وزیریستان کې اباد دي. د سوویلي وزیریستان مرکز وانه او د شمالي وزیرستان مرکز میرام شاه دی چې دواړه یو څه لوی ښارونه دي. کاکړ وایي چې «وزیر او مسید دواړه ټینګ ډموکراټ دي او خپلې چارې د پښتونوالۍ له مخې په جرګو سره اجرا کوي. څنګه چې دوی په خپل ملک کې بندینیان نه دي پرې ایښې او څنګه چې لویو سوبمنانو هم د دوی ملک نه دی لاندې کړی او څنګه چې دوی له انګرېزانو سره د هندوستان تر نورو خلکو نه ډېرې جګړې کړې دي، پر ځان ډاډه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د لوړو معنویاتو خاوندان دي، که څه هم ژوند یې نه عصري او نه شتمن دی، نور پښتانه د دوی د جنګي مهارت ستایي.»۵۷۹

د خپلواکۍ په جګړه کې جنرال محمد نادر ته‌ل او وانه د دوی په مرسته د انګرېزي پوځ نه ونیول. پاچا امان الله په کابل کې د دوی د مشرانو درناوی وکړ او د ده په امر سره په ۱۹۲۴ کال کې د دوی له مېړو نه په ارګون او متون کې لویه ملیشا جوړه شوه. وروسته وزیرو او مسیدو د افغانستان په شمالي پولو کې د قدر وړ خدمتونه وکړل. دوی وروسته له جنرال محمد نادر سره د سقاو د زوی په نسکورولو کې اغېزمنه مرسته وکړه. د دې سره سره چې دوی د امان الله نه په دې ګیله من وو چې له انګرېزانو نه یې د دوی د خپلواک کېدو په برخه کې په ټینګه کوښښ نه و کړی. دوی د نادرخان سره د امان الله د بېرته پاچا کېدلو په نامه مرسته کړې وه او کله چې په خپله پاچا شو دوی ورنه خوابدي شول. د وزیرو قومونو په ۱۹۳۳ کال کې متون کلابند کړ، خو دا ځل افغان پوځ د سردار محمد هاشم خان په مشرۍ دوی په شا وتمبول.۵۸۰

د وزیرېستان خلکو د حاجي میرزاعلي خان وزیر په مشرۍ لومړی د برتانوي هند نه د خپلې خپلواکۍ او بیا له ۱۹۴۷ کال راهیسې د پښتونستان له پاره ټینګې مبارزې کړې دي.

## حاجي میرزاعلي خان د ايپي فقير

حاجي میرزاعلي خان، چې د اېپي فقیر په نوم مشهور دی، په ۱۹۰۱ کال کې د شمالي وزیرېستان د خجورې په سیمه کې د ملا ارسلاخان په کور کې زیږېدلی دی چې د وزیرو د توریخېلو په ټبر پورې اړه لري. ده لومړنۍ زده کړې په خپل کلي کې د خپل پلار او ملایانو نه او نورې زده کړې یې په بنو، کوهاټ، خوست او جلال اباد کې وکړې. نوموړی «جلال اباد ته نږدې د سره رود په چارباغ کې د نقیب صاحب مرید شو. نقیب صاحب چې د قادري طریقې مرشد و، دی خپل نایب وټاکه او میرزاعلي خان د هغه تر سیوري لاندې خپل مذهبي او دنیایي فکرونه تنظیم کړل. وروسته له دې چې هلته یې د مهاجر قاضي حیات الدین د لور سره واده وکړ، خپل پلرني کلي ته... راستون شو.»۵۸۱ په ۱۹۲۸ کال کې حج ته لاړ. د حج نه د راستنېدو وروسته ده د انګرېزانو پر ضد د وطن د ازادۍ په موخه «صوفي ګیري پرېښوده او د اسلام او پښتو دفاع ته یې ملا وتړله.»۵۸۲

په ۱۹۳۵ کال کې کله چې انګلیسانو د هندوستان ټولو یوولسو صوبو ته کورنۍ خپلواکي ومنله نو په پښتني قومونو کې دا احساس پیدا شو چې یوه ورځ به انګرېزان هند پرېږدي او هندوان به په دوی واکمن کیږي. د دې برسېره په ۱۹۳۶ کال کې د اسلام بي بي

(c) ketabton.com: The Digital Library



موضوع، چې اوس به پرې وغږیږم، د انګرېزانو ضد مبارزه کې نه یوازې د جګړې اساسي لامل شو، بلکې د وزیرستان او هغه ته ورڅېرمه پښتنو قومونو په یووالي کې مهم رول ولوباوه.

کیسه داسې وه چې په ۱۹۳۶ کال کې د رام کوري په نامه یوه هندوه جینۍ بنو ته نږدې د ډومېل په سیمه کې د ښوونځي په یوه مسلمان ښوونکي سیدامیر نورعلی شاه باندې مینه شوه. هغه مسلمانه شوه او د همدې کال د مارچ د میاشتې په پنځمه نېټه د اسلامي اصولو سره سم نورعلي شاه ته واده شوه. هغې خپل نوم رام کوري په نورجهان واړاوه.

لږ وروسته د هغې مور او تره د ډومېل ځارندوی ادارې ته راپور ورکړ او دعوی یې وکړه چې نورجهان خپل قانوني عمر ته نه ده رسېدلې، نورعلی شاه په زور مسلمانه کړې او له دې کبله دې بېرته مور ته راستانه کړای شي. کله چې محکمې دعوی واورېده پرېکړه یې وکړه چې هغه دې د نورعلي شاه سره پاتې شي.

د نورجهان مور او خپلوانو دا پرېکړه ونه منله او دډومېل ځارندوی ادارې ته یې بل راپور ورکړ. دوی دعوی وکړه چې پخوانی راپور سم نه و او په هغه کې د نورعلي شاه نه دا شکایت نه و شوی چې هغه رام کوري واده کړې نه ده، بلکې هغه یې په زور تښتولې ده نو ځکه باید بېرته خپلې مورته راستانه کړای شي. دا ځل د بنو ډېپټي کمیشنر جګړن ګوب د نورعلي شاه ځوان ورور، چې امیر عبدالله شاه نومېده، خپل دفترته وروغوښت او هغه ته یې امر وکړ چې جینۍ خپلې مور ته راستانه کړي.

عبدالله شاه چې کورته راغی نو د خپل ورور سره په دې سلا شول چې نورجهان په پټه افغانستان ته د سوویلي وزیرستان له لارې بوزي خو د دوی په نیت د ځار اداره خبره او د ځارندوی ټولو پوستو ته امر شوی و چې کلکه ځارنه وکړي تر څو دوی سوویلي وزیرستان له لارې افغانستان ته په تګ بریالي نه شي. نورعلي شاه او نورجهان په لاره کې د غوریواله چاونۍ کې پولیسو د تلاشی په مهال ودرول او پولیس د نورجهان نه د نوم پوښتنه وکړه. هغې ځواب ورکړو چې نوم یې اسلام بي بي دی او له دې ځایه اسلام بي بي تاریخ جوړ کړو.

دوی ونیول شول. په پای کې واکمنو اسلام بي بي هندوانو ته وسپارله. هغوی په پټه هندوستان ته بوتله او هلته یوه هندو ته واده شوه او نورعلي شاه هم تری تم شو. خلکو د انګرېزانو په کړو کلک راوپارېدل. حاجي میرزاعلي خان او په ده راټول شویو قومونو دا نه یوازې مذهبي، بلکې د پښتو او پښتونوالی ننګ وګڼلو او د انګرېزانو پر ضد مبارزه یې پیاوړې کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاجي میرزاعلي خان د بېلو بېلو قومونو د مشرانو او عالمانو سره په دې ټینګار وکړ چې پلان شوې او منظمه مبارزه د مشرتوب پرته کېدای نه شي. د اپې فقیر د سلا او مشورې له پاره د ډاکټر بېریګل وزیر د لیکنې له مخې، چې «اپې فقیر» نومېږي، چې د انګلستان د ارشیفونو او د انګلیسي د هغه مهال د لیکوالو د لیکنو بر بنسټ لیکل شوې ده، د قومونو دا مشران راوبلل: «ملا شیرعلي خان مسعود وزیر، پیرملاخان احمدزی وزیر، مهردل خان خټک، عبدالکریم مومند، ګل زمرخان باجوړی، ګل نوازخان بنوڅی، سردارخان مروت، سرمیرخان اورکزی، ضمیرخان کوکي خېل افریدی، دین فقیر صاحب بیټنی، او وحید ګل یوسف زی.»۵۸۳ څرنګه چې د اپې فقیر د اسلام بي بي په موضوع کې د انګرېزانو د کړو وړو په وړاندې ټینګ ودرېد نو د ده دریځ په یادشوو پښتني قومونو کې نورهم ټینګ شو. ځکه وزیرو، مسعودو، دوړو، بیټنو، بنوڅو، خټکو او مروتو او هم د افغانستان نه ګربزو، ځدرانو، تنیو او ګیانخېلو د حاجي میرزاعلي خان ملا ټینګه وتړله. حاجي میرزاعلي خان د متاسی د جرګې له خوا د امیر په توګه وټاکل شو او د انګرېزانو په ضد یې د غزا اعلان وکړ. ده یو لښکر تنظیم کړ او د یو شمېر خلیفه ګانو نه یې جنګي شورا جوړه کړه.

حاجي میرزاعلي خان د انګرېزانو پر ضد مبارزه کې د خدایي خدمتګارانو او د جمعیت العلما د ګوندونو سره هم اړیکې ټینګې کړې وې. نوموړي د خدایي خدمتګارانو پرعکس، چې د عدم تشدد د فلسفې پر بنسټ یې سوله ایزه مبارزه کوله، وسله واله مبارزه غوره وګڼله. ده د جنګي ستراتیژی د جوړولو اړتیا په ګوته کړه. نوموړي «د جګړې ګوریلایي ټاکتیک خپل کړ او د جګړې له پاره یې غرنۍ سیمې وټاکلې.»۵۸۴ همدارنګه خدایي خدمتګارو د هند د ملي کانګرس سره یو ځای شول او د هندوانو او مسلمانانو یووالی یې غوښته خو حاجي میرزاعلي خان یوازې په مسلمانانو ټینګ ودرېد. د پاکستان د جوړېدو وروسته په ګروپک کې یې د ازاد پښتونستان له پاره ټینګې مبارزې وکړې او د افغانستان لوری یې ونیو او افغانستان هم ورسره مرسته کوله.

د وزیرستان خلکو د حاجي میرزاعلي خان په مشرۍ د برتانوي هند نه د خپلې خپلواکۍ د لاسته راوړلو له پاره ټینګې مبارزې وکړې. د محمد حسن کاکړ په وینا: «د اپې فقیر د پښتون ټولنې د مشرۍ ټول صفتونه لرل، په تېره زړورتیا، تقوا او جنګي مهارت.»۵۸۵ له همدې مهاله د انګرېزانو تر وتلو پورې د اپې فقیر د جنګیالیو او انګرېزانو ترمنځ زښته زیاتې جګړې وشوې. انګرېزانو د ځمکنیو یرغلونو برسېره هوایي بمبارۍ هم کولې. یو ځلې انګرېزانو د اپې فقیر د نیولو په موخه څلوېښت زره پوځ وکاروه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د نومورې په نيولو بريالي نه شول. «د هغه [حاجي ميرزاعلي خان] د قوماندنۍ په وخت کې په ۱۹۳۶ کال کې ديارلس ځله، په بل کال هم ديارلس ځله، په ۱۹۳۸ کال کې پنځه اويا ځله، په ۱۹۳۹ کال کې پنځه شپېته ځله او په ۱۹۴۰ کې يو سلو نولس ځله يرغلونه وشول.»۵۸۶

د يرغلگرو پوځونو پر ضد داپي فقير دغو بريدونو نه دا جوتېږي چې د پورته ياد شويو قومونو په ټينګ ملاتړ ده نه يوازې دانګليسانو پوځي بريدونه شنډ کړل، بلکې هغوی ته يې درانه زيانونه ورواړول. پوهاند ډاکټر کاکړ وايي چې «د يوه کس له پاره دا هسې کارنامه ده چې ما ته يې سارى معلوم نه دی. په معاصرې نړۍ کې دی شايد د ګوريلايي بريدونو نوښتګر قوماندان وي.»۵۸۷ دا بې ځايه نه ده چې ميلان هانر خپل اثر «يو سړی د امپراتورۍ په مقابل کې» په نوم نومولي دی. محمد حسن کاکړ د حاجي ميرزاعلي خان د انګليس ضد مبارزو پايلې داسې بيانوي:

«د اپي فقير د انګليس ضد مبارزو يوه پايله د مذهبي ذهنيت پياوړتيا او د عقلي او علمي ذهنيت سستيا شوه... دا چې نن ورځ ملايان د بلې هرې سيمې تر خلکو نه د وزيرستان په خلکو باندې ډېر نفوذ لري د همدغه حال نتيجه ده. د اپي د فقير د مبارزو بله پايله د پښتنو د خپلواکۍ د غورځنګ پياوړتيا شوه، خو د هغه د دولت زړې د ډېرو نورو عواملو له امله هم وده ونه کړه، نو د اپي فقير د خپل سلف ميا روښان په شان، چې هغه هم د وزيرستان د کاني ګرم و، په خپل ژوند کې په مقصد ونه رسېد، خو د هغه په شان يې د پښتنو د خپلواکۍ غورځنګ په ميراث پرېښود. د ميا روښان غورځنګ تر يوه حده خوشال خان خټک، ايمل خان مومند، درياخان افريدي، ميرويس نيکه او تر پوره حده ستر احمدشاه سرته ورسوه. يوه ورځ به د اپي فقير غورځنګ هم د بري درشل ته ورسول شي.»۵۸۸

د اپي فقير د ۱۹۶۰ کال د اپرېل د مياشتې په شپاړسمه نېټه په ګوروېک کې د ساه لنډۍ د ناروغۍ له امله د دې نړۍ نه سترګې پټې کړې. روح دې ښاد وي. د ده د مړينې په مناسبت د لندن ټايمز ورځپاڼې د اپرېل په شلمې ګڼې کې حاجي ميرزاعلي خان يو زړور او د درناوي وړ سيال (رقيب)۵۸۹» وباله.

## په واکمنې کورنۍ کې تربوري

په واکمنې کورنۍ کې تربوري له پخوا نه د کړکېچ غټ لامل و او دغه کړکېچ د يحيی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو په پاچایي کورنۍ کې هم شتون درلود چې په پایله کې د دوی د واکمنۍ په نسکورېدو او د افغانستان د اوږدې بې ثباتۍ لامل شو. نادر خان، شاه محمود خان او شاه ولي خان سکه وروڼه او محمد هاشم خان او محمد عزیز خان د هغو ناسکه وروڼه وو. د فرهنګ په وینا د دوی تر منځ د لومړي سر نه د واک په سر سیالي وه. ... دوی که څه هم د لومړي سر نه د واکمنۍ په سر سره سیالي کوله خو څنګه چې د وروڼو په منځ کې نادر خان یو هوښیار او مدبر شخصیت و هغه دوی ټول سره یو موټی وساتل. خپل ناسکه ورور محمد هاشم یې صدراعظم وټاکه. خو د نادر د مړینې وروسته صدراعظم محمد هاشم خان «په خپلې اولس کلنۍ صدراعظمۍ کې محمد داود او محمد نعیم چې سکه وربرونه یې وو، په لوړو حکومتي مقامونو په پوره اختیار سره وګومارل او خپل ناسکه وراره پاچا محمد ظاهر یې د ننه په ارګ کې د عیش کولو له پاره ازاد پرېښود.» د محمد هاشم خان صدراعظم دغه توپیري چلند د دې لامل شو چې محمد داود او محمد نعیم د سیاست سره ټینګه علاقه پیدا کړه او پاچا ورسره علاقه ونه ښووله. په دې توګه «پاچا تر نهه څلوېښت کلنۍ پورې د پاچایي په چارو کې د تجربې خاوند نه و شوی، دی هغسې زړور او ریسک منونکی شخص نه شو چې افغان واکمن باید وي. پر هغه سربېره څنګه چې ده پښتو ویلی نه شوه، که څه هم پښتو د زیاترو خلکو ژبه ده، له پښتنو سره یې ډېره نه لګېده.»۵۹۰

پاچا محمد ظاهر د ۱۹۶۱ کال نه وروسته کله چې د پاکستان او افغانستان پولې د پښتونستان په سر د یوه او نیم کال په اوږدو کې وتړلې شوې او د دواړو هېوادو تر منځ اړیکې ترینګلې شوې او افغانستان اړ شو چې په شوروي اتحاد تر پخوا ډېره ډډه وکړي. له دې کبله پاچا د ۱۹۶۳ کال د مارچ په میاشت کې خپل صدراعظم ګوښه کولو ته وهڅاوه. د کاکړ په وینا دا هغه وخت و چې افغانستان د سیاسي اوښتونونو له پاره تیار شوی و او د پوهنې د پراختیا له امله د تعلیم کړو افغانانو پراخه ډله هسکه شوې وه او دغه پرمختګ سره د افغان سیاست بڼه بدله شوې وه. د محمد داود د ګوښه کېدو وروسته د ظاهر شاه واکمني په عمل کې پیل شوه.

«محمد ظاهر د خپلې واکمنۍ په وروستیو لسو کلونو کې د افغانانو له پاره هغسې ازاده او ډموکراتیکه لاره خلاصه کړه چې بل هېڅ افغان واکمن نه وه غوره کړې.» پاچا د نوي اساسي قانون نوښت وکړ او د یو شمېر دموکراتو، قانون پوهو او کارپوهو افغانانو نه د سید شمس الدین مجروح په مشرۍ یو کمیسیون ته دنده ورکړه چې نوی اساسي قانون جوړ کړي. په دغه نوي اساسي قانون کې «د درې ګونو قوتونو په څرګند بېلولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره يې د قانون پر بنسټ د ازاد ژوند له پاره لار هواره کړه چې په هغه سره فردي ازادي او دموکراسي په افغانستان کې د لومړي ځل له پاره په پراخه اندازه» شونې شوه. په دغه دوره کې «حکومت د محکمې له حکم نه پرته هېڅ افغان ځارلی نه دی، بندي کړی نه دی، او اعدام کړی نه دی.» که محکمې يو څوک د وژنې له امله په زندۍ کولو محکوم کړی دی پاچا کوښښ کړی دی چې د وژل شوي کورنۍ هغه وبخښي.۵۹۱

د کاکړ په وينا د قانوني حکومت او قانوني چلند له امله په ټول افغانستان کې د امنيت او ډاډينې دغسې فضا منځ ته راغله چې د هغه په سيوري کې په خپله محمد ظاهر هم د يوه عادي افغان په شان په کابل ښار او اطراف کې ازاد ګرځېده.

د پاچا همدغه ازاد ګرځېدو سره په ۱۹۶۱ کال کې د آی خانم بانډې ته نږدې يو يوناني ښار وموندل شو. يوه کليوال ورته يوه غير عادي توږلې شوې ډبره وښووله، پاچا بيا په افغانستان کې د فرانسې د کندنې پلاوی وګوماره او پلاوي د دغسې يوناني ښار اثار رابرسېره کړل چې ۳۰۰ م کې د سلوکوس نيکاتور په واکمنۍ کې ودان شوی و.

د قانوني نظام په جوړولو کې د پاچا ونډه چې ازادي پال، ډموکرات او ارامي غوښتونکی شخص و، اساسي وه، خو په دغه وخت کې په افغانستان کې دغسې يوه پراخه تعليم کړې منځنۍ ډله د ښځو په ګډون هسکه شوې وه چې دغسې نظام يې غوښته. پاچا د دغې ډلې سره په اتحاد سره چې هغه د اوږدې مودې د امنيت او د عصري پوهنې محصوله وه، دغه نظام رامنځ ته کړ، خو د اساسي قانون له مخې پاچا په کړو کې سلطنت د حکومت نه بيل نه کړ.

نو ځکه د صدراعظم په مشرۍ اجرايي څانګه پياوړې او اغېزناکه نه وه. په داسې حال کې چې په ډموکرات نظام کې چې سياسي ګوندونه او افراد له ازادۍ نه بهرمن وي او غوښتنې او فعاليتونه يې ډول ډول او نوښتي وي حکومت بايد د قانون له مخې پياوړی او اغېزمن وي. که حکومت د قانون له مخې پياوړی او اغېزمن نه وي ډموکراسي او ټولنه د انارشۍ په لور درومي. زموږ په هېواد کې د پاچايي په لسيزه کې همداسې وشول. د قانوني پاچايي په لسيزه کې پنځه حکومتونه راغلل او له منځه لاړل او صدراعظمان د پاچا له خوا ګوښه کېدلو ته وهڅول شول يا يې ځانونه په خپله ګوښه کړل.

د يوې خوا د دغې دورې د صدراعظمانو او وزيرانو صلاحيتونه په اساسي قانون کې محدود شوي وو او د بلې خوا په کړو کې د پاچا له خوا نور هم محدودېدل. کاکړ وايي څنګه چې سياست ګوندي نه و، صدراعظمان فردي کسان وو او د پاچا په خوښه غوره کېدل او د ولسي جرګې له منلو وروسته قانونې کېدل. په دې توګه صدراعظمان د پاچا له

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوا غوره کېدل او دوی د خپلو وزیرانو په غوره کولو کې ازاد نه وو. د صدراعظم عبدالظاهر په وینا: «دی د خپلې کابینې د هېڅ غړي نه خبر نه و او یوازې یې د وزیرانو ورکړل شوی نوملړ اعلام کړ.»۵۹۲

پاچا په دغې دورې کې یوازې نور احمد اعتمادي ته موقع ورکړه چې د نورو په کچه د اوږدې مودې له پاره حکومت وکړي. اعتمادي که څه هم د اساسي قانون د ۲۴ مې مادې سره مخالف و چې محمد داود یې د سیاست کولو نه بې برخې کړ خو پاچا دی شاید د محمد داود د پخلاینې په خاطر صدراعظم کړی وي چې په دې کار کې بریالی نه شو. د کاکړ په وینا د اعتمادي اړیکې د ولسي جرګې او قضایي څانګې سره خرابې شوې. ده د پرچمیانو په کړو سترګې پټولې خو اطرافي ملایان یې چې د پرچمیانو پر ضد یې لنین ته د درود ویلو له کبله په کابل کې مظاهرې کولې د کابل د جوماتونو نه د پوځ په زور وایستل. د همدغو کړکېچونو له امله به و «چې د خپل حکومت په مهال یې ځان وژنې هڅه وکړه او غوښتل یې چې د قرغې په بند کې د خپل کور مخامخ ځان په اوبو کې ډوب کړي، خو ویې ژغوره.»۵۹۳

وروسته د مخه تر دې چې د ولسي جرګې د بې اعتمادۍ په رایو نسکور شي، استعفا وکړه او پر ځای یې عبدالظاهر صدراعظم شو. د صدراعظم عبدالظاهر حکومت په زیاته اندازه د وچکالۍ او قحطۍ په وخت کې د عمومو د هیلو پر خلاف په خپلې دندې کې پاتې راغی او له صدراعظمۍ نه یې ځان ګوښه کړ.

د حکومتونو د بې اغېزتوب سرچینه په خپله پاچا و، چې نه یې غوښتل صدراعظمان چې د اساسي قانون له مخې باید غیر خانداني افغانان وي، ملي شخصیتونه شي. یو صدراعظم که څه هم وړ او ډینامیک وي، د صلاحیت په نه لرلو سره په اغېزناک ډول حکومت نه شي کولی. ځکه حکومتونه کمزوري او ناتوان وو.

خو د عبدالظاهر د ګوښه کېدو وروسته د یوې خوا د حکومت اعتبار زیانمن شو او د بلې خوا د سلطنت په اړه شک پیدا شو نو پاچا د یوه ټینګ حکومت په فکر شو. د دغسې حکومت د لرلو دپاره یې موسی شفیق د صدراعظم په توګه ونوماوه او په حکومتي چارو کې د نورو پر تله په ډېر اختیار قایل شو. «موسی شفیق چې ځوان، ډینامیک او نوښتګر شخص و او تر دغه وخت پورې د وزیرۍ تر مقامه پورې په اداره او سیاست کې د تجربې خاوند شوی و، په کم وخت کې وښووله چې په بحراني وخت کې هم پېښو او سیاست ته نوی لوری ورکولی شي او په اغېزناک ډول حکومت کولی شي.»۵۹۴

د کاکړ په وینا صدراعظم شفیق د اوو میاشتو په بهیر کې په خپل ځانګړي نوښت او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهارت سره دومره کارونه وکړل چې بل صدراعظم په دومره لنډه موده کې نه وو کړي. ده له ولسي جرګې نه په دوو ورځو کې د باور رایه وګټله. نوموړي د پاچا هوکړه هم ترلاسه کړه چې د سیاسي ګوندونو، ولایتي او ښاروالي شوراګانو لایحې چې ډېرې د مخه پاس شوې وې، لاسلیک کړې. د ۱۹۷۲-۱۹۷۳ مالي کال بودیجه یې چې نهه میاشتې یې تېرې شوې وې، له ولسي جرګې نه تېره کړه.

موسی شفیق د یو شمېر هېوادونو نه د پورونو په اړه چې پخوانیو حکومتونو له هغو نه ګټه پورته کړې نه وه، د ولسي جرګې نه هوکړه ترلاسه کړه. له مقننه قوې نه یې هم صلاحیت ترلاسه کړ چې له باندینیو سرچینو سره ۷۴ توافق لیکونه لاسلیک کړي. د ملکي مامورانو د استخدام لایحه چې د ژبې په سر لانجې له امله ځنډېدلې وه او هغه اختلاف چې په هغې سره منځ ته راغلی و، په حیرانوونکي ډول سره هوار کړ.

حکومت د بېسوادۍ سره د مبارزې په موخه د ملګرو ملتونو په مرسته یوه اداره تاسیس کړه. د کتابونو په راوړو باندې مالیه ایسته شوه او له جاپان سره د ټلویزیون د جوړولو هوکړه لاسلیک شوه. همدارنګه د کرنې د ښه کولو دپاره د نامتو چارپوه عبدالوکیل په نوښت مهم کارونه وشول او د تازه مېوو بهر ته د وړو دپاره اسانتیاوې برابرې شوې.

په ۱۹۷۳ کال کې د دغو ټولو کارونو له امله عایدونه په بېساري ډول ډېر شول. په همدغې دورې کې د کابل ښار په ختیځ کې د صنعتي سیمې بنسټ کېښودل شو او د افغانستان د کانونو د سروې کولو له پاره لایحه وایستل شوه. د دیني علمانو او روحانینو د راضي کولو له پاره چې د صدراعظم نور احمد اعتمادي په چلند سره ناراضي شوي وو، په کابل راډیو کې د پنځه وخته اذان کولو او په کابل کې د کالیسا په ړنګولو سره راضي کړل.

موسی شفیق پوه شو چې په وچه چاپېر افغانستان د ګاونډیو هېوادو سره د ښو اړیکو د جوړولو پرته پرمختیایي پروژې پرمخ تلی نه شي. نو ځکه یې هوډ وکړ چې د ایران او پاکستان سره د دوستۍ اړیکې جوړې کړي. ده د ۱۳۵۱ کال د کب په ۲۲ نېټه د ایران سره د هلمند د اوبو په اړه یو نوې هوکړه لاسلیک کړ، چې د هغې له امله د دواړو هېوادونو په دوستۍ کې ښه والی راغی.

موسی شفیق هوډ کړی و چې د پاکستان سره د پښتونستان د کشالې په سر د افغانستان اساسي ستونزې په سر پوهاوي ته ورسیږي او د هغه هېواد سره د افغانستان اړیکې ښې کړي. ده په همدغه وخت کې د شوروي اتحاد سره د افغانستان دوستۍ ته دوام

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکاوه او د څلورم اقتصادي پلان د پلي کولو له پاره د هغه سل میلیونه روبله پور ومانه. ده د افغانستان دودیز ناپېیلی سیاست د چلولو په څنګ کې کوښښ وکړ چې د لوېدیځې نړۍ او عربي هېوادو سره د افغانستان د دوستۍ اړیکې وار په وار ټینګې کړي.خو د بده مرغه د حکومت نه ګوښه شوي سردار محمد داود دغه پروسه په پوځي کودتا سره ودروله او په افغانستان کې یې د اوږدې بې ثباتۍ پیلامه کېښوده چې تر ننه(۲۰۱۷) دوام لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نولسم څپرکی

# کاکړ او د چنګاښ کودتا

سردار محمد داود د ۱۳۵۲ کال د چنګاښ په ۲۶ نېټه د پاچا محمد ظاهر قانوني نظام په پوځي کودتا سره رانسکور کړ او پر ځای یې ولسمشرېز نظام په پښو ودراوه. کاکړ د غې کودتا لاملونه د واکمنې کورنۍ د غړو په ترښورۍ، د محمد داود د واک سره لېوالتیا او خلکو ته د هغه د خدمت کولو په ادعا کېويني. کاکړ زیاتوي چې د واکمنې کورنۍ د غړو په ترښورۍ د مخه غځېدلې دی. محمد داود د امیر عبدالرحمن په شان د واک سره زیاته لېوالتیا درلوده. امیر عبدالرحمن د دې له پاره چې محمد ایوب خان واکمن نه شي ده ان یوازې په کابلستان باندې د واکمنۍ په خاطر د افغانستان د وېشلو سره سر وخوځاوه.

د سپین په وینا محمد داود د خپل ناسکه تره شاه محمود په صدراعظمۍ کې د «ملي کلوب» یا «ملي ټولنې» په نامه د نفوذ خاوندان پر ځان ټول کړي وو، په واقعیت کې د صدراعظم شاه محمود او پاچا محمد ظاهر پر ضد دسیسې دپاره و. کله چې محمد داود صدراعظم شو نو ده «د خپلې صدراعظمۍ په لس کلنې دورې کې بله چاره نه لرله» تر څو «چې له پاچا سره خپل اړیکې ښې وساتي، خو ده په همدغه مهال کې یوه نوې لاره غوره کړه چې په هغې سره یې مخ په ودې افغانستان له شوروي اتحاد سره نږدې کړ، د پښتونستان ادعا یې ټینګه ونیوله او د هېواد د پرمختګ له پاره یې دوه پرمختیایي پلانونه په زیاته اندازه د شوروي اتحاد او تر څه حده د امریکې او نورو هېوادو په پیسو او تخنیکي مرستو پلي کړل.»۵۹۵

## د چنګاښ کودتا

کاکړ وايي چې د سپین په وینا محمد داود د خپلې صدراعظمۍ تر پایه پورې د پاچا سره په ګډه کار وکړ او د دوی په همکارۍ سره افغانستان تر هر بل وخت نه وړاندې ولاړ او ودان شو او په نړۍ کې هم د اعتبار او حیثیت خاوند شو، خو د قانوني پاچایي له پیل سره د دوی تر منځ کړکېچ څرګند او تریخ شو.

د کړکېچ سرچینه د اساسي قانون ۲۴ ماده وه چې د هغې له مخې د شاهي کورنۍ غړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه شو کولی چې په سیاسي ګوندونو کې ګډون وکړي، د صدارت یا وزارت دنده په غاړه واخلي، د شورا غړیتوب او د سترې محکمې غړیتوب ترلاسه کړي. د دغې مادې له مخې داود د سلطنتي کورنۍ غړی شمېرل کېده که څه هم دی د پاچا د تره زوی و. د دې مادې له مخې محمد داود د سلطنتي کورنۍ د نورو غړو غوندې د سیاست کولو نه بې برخې شو. د کاکړ په وینا د اساسي قانون ۲۴ مه ماده په ظاهر کې د دې له پاره ایستل شوې وه چې سلطنت له حکومت نه بېل وي خو په کړو کې حکومت بېل نه و او پاچا د قانون پر خلاف صدراعظمانو ته لارښونې او دستورونه ورکول. د پاچا غټه تېروتنه دا وه چې دیوې خوا د پاچا کورنۍ پراخه نیول شوې وه او د بلې خوا د دومره ډېرو کسانو د دولتي مقامونو او سیاست نه بې برخې کول د خلکو په ګټه نه و.

کاکړ دا هم وایي چې محمد داود د خپل ګوښه کېدلو په لیکونو کې د ډموکراسي د راوستلو او د پاچایي نظام د نوي کولو له پاره وړاندیز کړی و. دغه وړاندیز ښودله چې محمد داود غوښتل له پاچایي نظام سره همکاري وکړي او په نوي نظام کې د کوم ګوند په سروالي یا په کوم بل ډول د سیاست په ډګر کې بیا فعال شي. «له همدې امله به و چې محمد داود له خپل ګوښه کېدلو وروسته له صدراعظم محمد یوسف سره د همکارۍ لار ونیوله، په رسمي مېلمستیاوو کې ګډون کاوه ... محمد یوسف ته یې د صدراعظمۍ مبارکي هم وویله. په اصل کې دا محمد داود و چې پاچا ته یې د هغه د صدراعظم کېدلو سپارښتنه کړې وه.»۵۹۶ محمد یوسف په خپله لومړنۍ وینا کې وویل چې «د ده حکومت هغه موخې په نظر کې نیسې چې محمد داود خان یې وړاندیز کړی و.»۵۹۷

د اساسي قانون د لیکنې کمیسیون ته د محمد داود وړاندیز داو چې «د پاچا د تره زامن د سلطنتي کورنۍ غړي نه دي» او «په ولسي جرګې کې د ډېرکي ګوند مشر د پاچا له خوا د حکومت [په] جوړولو مامور کیږي.» خو پاچا د اساسي قانون د جوړولو کمیسیون ته لارښوونه وکړه چې کوم ځانګړی وړاندیز په نظر کې ونه نیسي. د مولف فراهي په وینا محمد داود باوري شو چې په دولت کې د ده پر ضد دسیسې کیږي، نو د سلطنتي نظام دښمن شو.۵۹۸

په دې توګه د محمد داود او پاچا اړیکې یو د بل سره وشلېدلې او پاچا په ۱۹۷۰ کال کې فراهي ته چې هغه وخت په ولسي جرګې کې د فراه ولایت استازی و، ویلي و چې «د محمد داود سره زما فامیلي روابط پرې شوي دي او دا څلور کاله کیږي چې ما خپله خور چې د محمد داود مېرمن ده، نه ده لیدلې.»۵۹۹

دغه حالت غوښتنه کوله چې د سیاسي او امنیتي لاملونو له مخې داود خان هرو مرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر څارنې لاندې نیول شوی وای، په تېره وروسته له هغې چې د پاچا شخصي کوښښونه د محمد داود د پخلا کولو له پاره سر ته ونه رسېدل.۶۰۰

د افغانستان تاریخ د دې شاهد دی چې زموږ په هېواد کې د واک په سر تربوران څه چې ان ورور د ورور او کله زوی د پلار په وړاندې هم جګ شوی دی. خو پاچا سره له دې داودخان تر څارنې لاندې ونه نیوه. برسېره پردې پاچا د هغې انارشۍ د مخنیوي په وړاندې چې د حکومتونو د بې اغېزمنتوب له امله د مظاهرو نه رامنځ ته شوه، ټینګ او غوڅ عمل ونه کړ. کاکړ وایي چې په دې اړه یې د صدراعظم د مرستیال د صمد حامد مشوره هم ونه منله چې ورته ویلي یې و: «افغانستان په خطر کې دی او باید زر په هېواد کې اضطراري حالت اعلام سي چې په دغه حالت کې به د شورا صلاحیتونه له مینځه ځي، د ملي جرایدو نشرات به متوقف سي، پر سیاسي ډلو به قیود وضع شي، تر هغه وروسته به په اساسي قانون کې تغیرات راسي، د دموکراسۍ اساسات به په تدریجي ډول تر اجرا لاندې ونیول سي.»۶۰۱

محمد داود د موسی شفیق د صدراعظمۍ په وخت کې د عبدالولي او محمد هاشم میوندوال له خوا د کودتاګانو اوازې خپرې کړې تر څو حکومت تېر باسي.

کاکړ وایي چې د ملي دفاع د وزارت د استخباراتو مشر ډګروال عبدالغفور راته وویل چې «د داود خان، د هغه د ملګرو او هغه غونډې چې دوی جوړولې، راپورونه یې ما ته رسېدلي وو، ان د هغو کسانو نوملړ چې د داودخان سره یې همکاري کوله د استخباراتو اداري ته رارسېدلی و، ما دوه ځله په خپل وخت په خپله د دفاع وزیر ته وړاندې کړل، د دفاع وزیر د ځان سره وساتل او څه موده وروسته مې په ډېر ټینګار سره ورڅخه وغوښتل چې په هکله یې راته لارښوونه وکړي ... پانې یې له دوسیې نه راوایستې او د لاندې یې دا جمله پرې ولیکله. دا په والا حضرت سردار محمد داود خان باندې یو ناروا تومت دی، اجرات نه لري، ودې ساتل شي»۶۰۲ ده دا هم ویلي و چې لوی درستیز غلام فاروق ته هم داسې راپورونه رسېدلي و خو هغه هم دا راپورونه رښتیا ګڼلي نه و. کاکړ د جنرال سراج د لیکنې له مخې وایي چې د مرکزي ځواکونو قوماندان ته د داود خان د غونډو د اواز د ثبت فیتې وروړل شوې او هغه دا فیتې پاچا ته اورولې وې خو پاچا عبدالولي د داود خان پر ضد د کړو نه منع کړی و. خو محمد داود ویل چې «د هېواد د ټولو اوسنیو بدبختیو عامل په خپله پاچا دی، تر هغه وخته چې د پاچا چاره ونه شي، تر هغو به په افغانستان کې ښه ورځ رانه شي.»۶۰۳ محمد داود د دغه فکر د پلي کولو دپاره ان مسکو پلوه چپیان په ځان راټول کړل. کاکړ وایي چې د مولف سراج دا خبره سمه ښکاري چې محمد داود د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اساسي قانون د ۲۴ مادې له امله په زړه کې کلکه غوټه اخښتې او په خپلې کودتا یې د سلطنت او قانون جوړونکو نه غچ واخیست. که د سراج په وینا د محمد داود د کودتا خوځونکې انګېرنه د زړه غوټه او غچ وي نو د ده دغه «ادعا چې خلکو ته یې د ولسمشري نظام او «معقولې» ډموکراسۍ له لارې خدمت کول غوښتل، هسې خبرې کیږي او اصلي مقصد یې د اعلی واک خپلول و»۶۰۴ د ده په شان تحول غوښتونکو خلکو د خدمت په نامه پر ځای نظامونه په کودتا سره نسکور کړي، خو بیا یې د قدرت په وخت کې د خلکو د حاکمیت پرنسیپ تر پښو لاندې کړی دی. کاکړ وایي چې د محمد داود او د هغه د کودتایي ملګرو «معقوله ډموکراسي» یوه تشه ادعا وه. «محمد داود ډموکرات نه و، ډموکراسي چې په هر نامه یاده شي د خلکو یا د هغو د استازو له خوا حکومت به وي» او سروالان به یې «په نبغ ډول انتخابي یا د ولس د استازو په موافقه واک ته رسېدلي وي.»۶۰۵ محمد داود نه له کودتا نه وروسته د دغسې حکومت د رامنځ ته کولو کوښښ ونه کړ بلکې د صدراعظم شاه محمود د دورې ځوانه ډموکراسي هم ځپلې وه او هم یې ورسره غیر حکومتي ازاد مطبوعات چې د ډموکراسۍ او مدني ټولنې حتمي برخه وي غلي کړي وو.

محمد داود په غیر قانوني ډول د کودتا له لارې که څه هم د سر په لړ زیان سر ته ورسېده قانوني حکومت نسکور کړ او ټولنه یې په ژور ډول زیانمنه کړه او پایلې یې د افغانانو له پاره درنې شوې. لومړی پایله یې دا شوه چې په افغانستان کې د قانون حکومت چې نوی د اعتبار خاوند شوی و، له اعتبار نه ولوېد. دوهمه پایله یې دا شوه چې په کودتا سره د حکومت نیول د قدرت نیولو لنډه لار وګڼله شوه. دریمه پایله یې دا شوه چې په پوځي افسرانو کې د سیاسي قدرت نیولو فکر خپور شو.

د چنګاښ کودتا نه یوازې افغانان اندېښمن کړل بلکې ان په خپله محمد داود یې هم اندېښمن کړی و او د هغې د پایلې نه ډاډه نه و. ده د خپلې کودتا په هماغه اول وخت کې مولف سراج ته ویلي و چې «موږ دا کار وکړ؛ چې څه کیږي؟ ورباندې نه پوهېږم.»۶۰۶ کاکړ وایي چې موږ اوس پوهېږو چې په افغانستان کې د چنګاښ د کودتا نه وروسته څه وشول. «د دغې اوږدې بې ثباتۍ سرچینه د محمد داود په سروالی د سرطان کودتا ده.»۶۰۷

## د افغانستان لومړی کودتایي حکومت

د مخه مو یادونه وکړه چې محمد داود د ۱۳۵۲ کال د چنګاښ په ۲۶ مه نېټه په داسې حال کې، چې پاچا په ایټالیا کې و، کودتا وکړه او جمهوري دولت یې اعلان کړ. داود خان

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاهي نظام او اساسي قانون لغوه کړل، پارلمان یې ړنګ کړ او خپله واکمني یې د پوځي شورا له لارې اعلان کړه. د کودتا په سبا د محمد داود په مشرۍ مرکزي کمیټه اعلام شوه، چې محمد حسن یې منشي او دولس تنه یې واړه پوځي افسران غړي وو چې کودتا یې سرته رسولې وه. کاکړ وایي چې دغه جمهوري حکومت دوې ځانګړتیاوې درلودې. «یوه داچې په افغانستان کې د لومړي ځل له پاره مسکو پلوه پرچمیان په نوي نظام کې په ننوتلو سره د اعتبار خاوندان شول، بله ځانګړتیا یې دا وه چې دغه بې تجربې ځوانان په ملکي او نظامي څانګو کې د امرانو په توګه لوړو مقامونو ته ورسېدل.»۶۰۸

د زمري د میاشتې په یوولسمه نېټه کابینه اعلام شوه. محمد داود د دولت سروال، صدراعظم، د ملي دفاع او د بهرنیو چارو وزیر او محمد حسن شرق د صدراعظم مرستیال شو. عبدالمجید د عدلیې، سید عبدالله د مالیې، فیض محمد د کورنیو چارو، نعمت الله پژواک د پوهنې، پاچاګل د سرحدونو، عبدالقیوم د معدنونو او صنعتونو، غوث الدین فایق د فواید عامې، نظر محمد سکندر د عامې روغتیا، عبدالرحیم نوین د اطلاعاتو او کلتور، غلام جیلاني د کرنې، یو څه وخت وروسته محمد خان جلالر د سوداګرۍ وزیر، علي احمد خرم د پلان وزیر او وحید عبدالله د باندینیو چارو د وزارت د مرستیال په توګه د کابینې غړي شول.

محمد داود د خپلې صدراعظمۍ د دورې وزیرانو ته په خپله لومړۍ وینا کې د ضعیف النفس خطاب وکړ او په دې توګه یې د داسې کسانو له همکارۍ نه ځان بې برخې کړ چې لایق او د تجربې خاوندان وو. برسېره پردې محمد داود د همدغه کال په جشن کې یوویشت جنرالان په یو وار ناڅاپه تقاعد کړل چې د مولف سراج په وینا د دوی په ایستلو سره سمدلاسه داسې تشه منځ ته راغله چې د خپلې مرینې تر وخته یې ډکه نه شوای کړی.۶۰۹

کودتایي حکومت د نوي اساسي قانون تر ایستل کېدو پورې (۱۹۷۶) هېواد په فرمانونو سره اداره کاوه. کاکړ وایي چې د جمهوریت په اولو درېو کلونو کې د قانون د حکومت ځای د اشخاصو حکومت ونیو او د چارلز ډورن دغه وینا سمه وخته چې «هغه وخت چې قانون ختمیږي ، استبداد پیل کیږي.» د پاچایي کورنۍ غړو ته څه وخت وروسته د افغانستان نه د وتلو اجازه ورکړل شوه او هغوی په روم کې له پخواني پاچا محمد ظاهر سره یو ځای شول. څه موده وروسته عبدالوالي د محکمه کېدو وروسته د باندې تګ اجازه ورکړل شوه که څه هم د فایق په وینا پرچمیانو غوښتل چې زندۍ کولو ته یې برابر کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ایران پاچا رضا شاه او د پاکستان لومړي وزیر بوټو چې د داود بیا واکمن کېدو ناارامه کړي وو، غوښتل چې د پاچا محمد ظاهر سره مرسته وکړې چې بیا واکمن شي خو پاچا د دوی مرسته ونه منله. د رضا شاه سره د پاچایي ساتلو اندېښنه وه او بوټو اندېښمن و چې محمد داود به بیا د پښتونستان مسله ټینګه ونیسي. خو پاچا د یوه لیک په ذریعه د محمد داود د نوي حکومت ملاتړ اعلان کړ او محمد داود د پاچا له لوري پوره ډاډمن شو.

## د میوندوال پرضد دسیسه

د کاکړ په وینا محمد هاشم میوندوال یو پوخ سیاستوال، د صدراعظمۍ او نورو مهمو دولتي دندو په کولو سره د ملي اعتبار خاوند، د مساوات ګوند مشر، پیاوړی لیکوال او د سیاسي نظریو خاوند افغان و، میوندوال په خپلې شخصي ورتیا، پرهېزګارۍ او زیار سره ځان رسولی او د کمونیزم مخالف و، نو شوروي پال پرچمیان ورسره مخالف وو.

پرچمیانو لا په صدراعظمۍ کې په میوندوال د (سي ای اې) سره د لاس لرلو تور لګاوه؛ لکه وروسته یې په حفیظ الله امین پسې هم همدغسې پروپاګند کاوه. دوی نوموړی په دې تور ونیوه چې د محمد داود پر ضد یې کودتا کوله.

پوځ د پخواني صدراعظم محمد هاشم میوندوال پر ضد دسیسه کې هم زیات زیانمن شو. په دغه دسیسه کې د سپتمبر په ۲۳ مه نېټه ۴۲ کسان ونیول شول چې په هغه جمله کې برسېره د پخوانی ډګر جنرال خان محمد، د هوایي ځواکونو ډګر جنرال عبدالرزاق میوند، جنرال سهاک، جنرال ناصري، د هوایي ځواکونو قوماندان سید امیر، ډګروال ماما زرغون شاه، ډګروال کوهاټ، ډګروال ګل شاعلي مومند، ډګروال شیر افضل مومند، ډګروال شېر افضل افریدی، څو تنه پیلوټان، وکیل سعدالله، یو شمېر سوداګر او قومي مخور وو. دوی ټول وطنپال وو او د کودتا په تور ونیول شول او «دغه تور یې هم پرې ولګوه چې دوی د یوه باندیني حکومت [پاکستان] په لمسونې سره کودتا کوله.» ۶۱۰

په بندیتون کې د دوی نه په سختو کړولو سره د کودتا د کړلو منل تر لاسه شوي او بیا محکوم شول. لوستونکي کولی شي د کاکړ په کتاب کې چې «د سرطان کودتا د افغانستان د اوږدې بې ثباتۍ پیلامه» نومېږي، د دغو شکنجو په اړه زیات مالومات تر لاسه کولی شي. خو زه به د شیرافضل افریدي د شکنجې په اړه د هغه د زوی له خولې نه چې د دهمزنګ د جیل نه زما د ایله کېدو له کبله زما کور ته راغلی و، د خپل پلار د کړولو دا بوږنونکې صحنې انځور وړاندې کړو. ده وویل چې زما پلار یې ځړولی و او مادر زادي کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې ورته رسی اچولې او کښته یې څکوله چې اړ یې کړي چې په کودتا کې ګډون ومني. د دغه کړاو نه داسې زیان ورته رسېدلی و چې د درملنې له پاره مو لوېدیځ المان ته واستاوه خو ډاکټران یې په درملنه کې پاتې راغلل او هلته ورځخه مړ شو. هارون وایي چې په تېره په شپه کې «انسان مخې ځناور به د بې دفاع انسانانو په ځان حواله شول.»۶۱۱

د مخه مو یادونه وکړه په دې اړه چې میوندوال کودتا کوله هېڅ شواهد نه شته. د کاکړ په وینا سره له دې هم صمد غوث ... ادعا کوي چې «داسې ښکاري چې میوندوال چې د مخه په کودتا کې ښکېل شوی و، بله چاره نه درلوده، خو دا چې زړه نازړه موافقه وکړي.» دی دا هم وایي چې پاکستان په همدغې دسیسې کې لاس درلود.۶۱۲

خو کاکړ وایي چې د محمد غوث احتمال د هغو واقعیتونو په نظر کې نیولو سره چې هارون او رسولي راوړي ناشونی دی. هارون وایي چې د میوندوال کور تر ځارنې لاندې نیول شوی و او میوندوال په دغه اړه محمد نعیم ته چې ورته منلی و، شکایت وکړ خو ګټه یې ونه کړه.۶۱۳

رسولي لا وایي چې میوندوال همدا چې له کودتا نه وروسته له عراق نه وطن ته راستون شو، تر ځارنې لاندې ونیول شو.۶۱۴ کاکړ دې پایلې ته رسېږي چې په دغه حال کې د میوندوال له پاره ګرانه څه چې ان ناشونې ده، چې د ځلوېښتو کسانو په ګډون د کودتا تجویز وکړي او پلې یې کړای شي.۶۱۵ سره له دې د میوندوال له بندي کولو نه وروسته حکومت د کابل راډیو نه اعلان وکړ چې میوندوال په خپلې نکټایي ځان ځړولی او وژلی دی. دا وینا هم رښتیا نه ده ځکه چې فایق یوه ورځ د مخه د محمد داود په امر د کورنیو چارو وزارت ته د میوندوال د لیدلو له پاره تللی او هغه یې لیدلی و. فایق وایي چې میوندوال دریشي نه درلوده او خت او پرتوګ یې اغوستي وو نو بیا یې څنګه ځان په نېکټایي وځړاوه. له همدې امله به و چې د هغه مړی د هغه خپلوانو ته ورنه کړل شو او د کابل د عدلي طب کارپوه بالمکنداس ته یې د کوټې له وره نه د لیدلو اجازه ورکړه او هغه هم د ځان د وېرې نه هغسې تصدیق ولیکه چې ترېنه غوښتل شوی و. برسېره پردې تر ډېره وخته ان د میوندوال قبر ځارل کېده.۶۱۶

کاکړ وایي چې «نږدې ټولو لیکوالو د فایق او هارون په ګډون د میوندوال وژونکی صمد ازهر ښودلی، چې په دغې قضیې کې د هیات د تحقیق مشر و، میوندوال په قوي احتمال د ک ج ب په دستور د هغه په لاس وژل شوی دی. ک ج ب به ځکه ازهر ته دغه دستور ورکړی وي چې میوندوال، لکه چې د مخه ویل شوي په افغانستان کې د کمونیزم د خپرېدلو مخالف و او ازهر د «فتح» په مستعار نامه د ک ج ب ایجنټ و»۶۱۷ ازهر د

(c) ketabton.com: The Digital Library



(Ray) ډلې غړی و چې ک ج ب د پرچم تر چتر لاندې جوړه کړې وه. د پلټنې نور غړي غلام فاروق يعقوبي، نصرالله عمرخېل، غلام رسول عمرخېل، سيد کاظم پرواني، باقي او قطره وو.

د دغو ۴۲ کسانو د ژوند او مرګ لومړۍ درجه مسؤليت د دوی د امرانو او په سر کې د دولت سروال محمد داود په غاړه وو. څنګه چې حکومت نظامي و، د دغو بنديانو موضوع هم نظامي محکمې (د حرب ديوان) ته وسپارله شوه، چې سروال يې ډګر جنرال غلام فاروق او غړي يې محمد سرور نورستاني، نبي عظيمي، محمد اصف الم، عبدالستار سيد خيلي (پرواني) محمد يوسف او مولاداد وو. د هارون په وينا «څرنګه چې په هغه وخت کې روسي مزدوران [پرچميان] په امنيتي څانګو کې ځای په ځای شوي وو. په نظامي محکمه کې هم همدا وحشيان ناست وو.»۶۱۸ دغې تش په نامه نظامي محکمې شپږ تنه په زندۍ کولو محکوم کړل چې د محمد هاشم په ګډون ډګر جنرال خان محمد مرستيال، وکيل سيف الرحمن، ډګروال ماما محمد زرغون شاه، ډګروال سيد امير او محمد عارف شينواری (سوداګر) وو. اوه تنه: جنرال عبدالرزاق، ډګروال کوهاټ، ډګروال امين الله، ډګروال ممتاز، تورن سيد هاشم، جګړن محمد اکرم او حاجي فقير يې په عمري بند محکوم کړل. ډګر جنرال نيک محمد سهاک، ډګر جنرال محمد رحيم ناصر، غلام حيدر، ډګروال ګل شاه علي مومند، جګړن نقيب الله، ډګروال نور احمد، او تورن محمد اکرم د اوږدې مودې په بند محکوم کړل. د جنت خان غروال، حنان ځاځي، حاجي الله نظر، هزار مير کوچي، الله ګل، او حاجي مولا ګل پر بندي کېدلو سربېره د هغو شتمني او سرايونه هم ظبط شول.

فايق د زندۍ کولو ځای څرخي پله ته نږدې پوليګون ښيي او د يوه سرتيري له خولې د زندۍ کولو صحنه داسې بيانوي: دغه په زندۍ کولو محکومان د سهار په دوو بجو د انظباط د ټولي له خوا پوليګون ته يووړل شول. «په داسې حال کې چې د زندۍ کوونکو په سر توري کڅوړې په سر چې تر ستوني پورې څړېدلې وې، لاسونه يې شا ته زولنې ... شوي وو، نبي عظيمي د زندۍ کوونکو شا ته د شلو مترو په واټن درې تنه سرتېري د کلاشنيکوفونو سره د تيارسی په حالت درولي او قوماندې ته سترګې په لاره وو، بيا په داسې حال کې چې د پلټنې د هيئت پوليس او د پوځي محکمې غړي حاضر وو، د زندۍ امر د محمد اصف الم له خوا ولوستل شو.» د زندۍ کولو د امر په اورېدو سره محکومانو نارې سورې او د الله اکبر اوازونه پورته کړل، بيا تورن عظيمي چې د انظباط د ټولي قوماندان و په دې ډول بولۍ ورکړه: «د انظباط ټولي ځوانانو! د خاينينو په وژلو نخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



[نښه] ونيسئ» فايق د سرتيري له خولې دا هم وايي چې «هغه څه چې په دغه صحنه کې ډېر زړه بوږنوونکی په نظر راغی، هغه دا و چې نبي عظيمي د هر زندی کوونکي په سر باندې چې د ساه ورکولو په حالت کې وو د تفنگچې ډزې کولې ... او د تورنو ژوند يې پای ته رساوه.»۶۱۹

محمد نذير سراج د دغې دسيسې په اړه ليکي: «د بې گناه شخصيتونو زندی او بندي کول د محمد داود خان د پرچمي همکارانو له پاره يوه پيلامه وه تر څو هغه کسان چې د خپلو موخو په وړاندې خنډ او خطر جوړوي له منځه يوسي.»۶۲۰ عاصم اکرم وايي چې «دسيسه د ميوندوال نه وه، بلکې دسيسه د هغه پر ضد وه، نوښت کوونکي يې کمونستان وو.۶۲۱

خان محمد مرستيال که څه هم متقاعد جنرال و بيا هم په پوځ کې د نفوذ او د اعتبار خاوند و. فرهنگ وايي چې «د محمد داود خان د صدارت په وخت کې کله چې دی د مشرقي ولايت نايب الحکومه او پوځي قوماندان و په هغې غونډې کې چې د پاچا په شتون کې جوړه شوې او د سردار محمد نعيم د بهرنيو چارو وزير وړانديز چې د پاکستان په وړاندې د شوروي اتحاد د مرستې په اړه څېړل کېده، گډون درلود. په ياده شوې غونډې کې خان محمد خان دا پوښتنه وکړه چې که د شوروي ځواکونه په دغه نامه افغانستان ته ننوزي کوم ځواک به دوی وتلو ته اړ کړي.» فرهنگ زياتوي چې «څرنگه دا پوښتنه بې ځوابه پاتې شوه نوموړی وړانديز د منځه ولاړ.»۶۲۲ مرستيال وروسته لومړی د نظامي څانگې نه وايستل شو او بيا له وخت نه پخوا په کور کې کښېنول شو او په جمهوري نظام کې زندی شو.

کاکړ وايي «دغو پرچميانو اول په هغو وطنپالو بريد وکړ چې په پوځ کې يې نوم او اعتبار او پلويان لرل او دوی د هغو په شته والي کې خپل مقامونه په خطر کې ليدل. ... دغو پرچميانو د عمل دغسې کسان وځپل چې د ملي فکر خاوندان وو، په پوځ کې يې نفوذ لاره او په شوروي اتحاد باندې د حکومت اتکا يې د افغانستان له پاره خطرناکه باله.»۶۲۳

د محمد داود کودتا دا فکر ټينگ کړ چې واک ته د رسېدلو لار کودتا ده. نور محمد تره کي او حفيظ الله امين په دې فکر شول چې په پرمختيايي هېوادو کې سوسيالزم د پوځ له لارې پلی کېدای شي. په قانوني پاچايي کې هم سياسي اختلافونو ټينگ شتون درلود خو هغه د ازادی او ډموکراسی له برکته په خبرو کې وو. خو په جمهوري نظام کې چې پوځي افسران او په ځانگړې توگه واړه افسران سياسي شول د سياسي اختلافونو ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



کودتاګانو ونيو او ټولنه نوره کړکېچنه شوه.

## محمد داود او اسلامي بنسټ پالان

د کړکېچ يو اړخ د جمهوري پالو او اسلامي بنسټ پالو يا اخوانيانو تر منځ اړيکې وې چې د همغه اول سر نه ترخې وې. اسلامي بنسټ پالان يا اخوانيان هم د نورو ګوندونو غوندې د افغانستان اسلامي جمعيت په نامه تنظيم کې چې مشر يې غلام محمد نيازی د شرعياتو د پوهنځي سروال و، تنظيم شول. دوی چې زياتره يې د پوهنتون او نورو علمي موسسو منسوبان وو په خپل دريځ ټينګ ولاړ وو، چې هغه د مولانا ابوالعلي مودودي، حسن البنا او سيد قطب د فکرونو له مخې د دغسې اسلامي دولت په پښو درول و چې ټولنه اسلامي کړي او هغه اړخونه يې پاک کړي چې د دوی په فکر غير اسلامي شوي وو. نو د دوی غته ځانګړتيا د کيڼ اړخو ګوندونو غوندې د ثابتې ايډيالوژۍ له مخې حکومت کول و، بې له دې چې له نورو سره جوړه وکړي او نوي واقعيتونه په نظر کې ونيسي.

د کاکړ په وينا «ويل شوي چې اسلام پالو مشرانو» د چنګاښ د کودتا نه وروسته محمد داود ته د حکومت په چلولو کې د مرستې وړانديز کړی و خو هغه منلی نه و ځکه چې د يوې خوا محمد داود د امان الله په شان په عصري لارو سمونونه غوښتل چې اخوانيان يې مخالف وو او د بلې خوا محمد داود د پرچميانو ملګری او په شورويانو يې ډډه لګولې وه. نو اخوانيانو د جمهوري نظام پر ضد په کړو لاس پورې کړ او د دريځ په وينا د «نظامي پاڅون» نخښه جوړه کړې وه چې د هغې له مخې به پوځي افسران د انجنر حبيب الرحمن په سروالۍ کودتا کوي خو حکومت وربانديې خبر شو او مسؤلان يې د غلام محمد نيازي په ګډون ونيول او د جمعيت نور مخکښان: برهان الدين، ګلبدين حکمتيار او احمد شاه مسعود پاکستان ته وتښتېدل. د ۱۹۷۳ کال په پای کې اخوانيان د بدخشان ولايت په درواز کې جګ شول، خو حکومت هغوی زر غلي کړل. بل کال د ۱۹۷۵ کال د جولای په ۲۲ مه نېټه دا ځل په لويه اندازه او د پاکستان په لمسون او مرسته دوی په پوځي کړو لاس پورې کړ. دوی په بدخشان، لغمان ولايتونو او د پنجشېر ولسوالۍ کې د حکومت پر ضد بلوا وکړه خو هېچا د اله ګوله کوونکو ملاتړ ونه کړ. د کاکړ په وينا «پلان دا و چې د دوی پوځي پلويان به په کابل کې کودتا کوي او واک به تر لاسه کوي، خو هغوی په دغه ورځ چې د ملي جشن ورځ وه د لږ وخت له پاره د برېښنا د پرچاو کولو نه پرته نور څه کولی ونه شول او دغه پاڅون وځپل شو.» د بلواګرو يو شمېر کسان ونيول شول او نور يې بېر ته پاکستان ته پر شا شول. دوه کاله وروسته ۲۱ تنه په عمري بند او ځلور تنه يې په زندۍ محکوم شول.۶۲۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته د مولانه فیضاني ډله هم ونیوله شوه چې درېځ د دوی د نیولو لامل کودتا بولي چې د پلي کېدو د مخه حکومت پرې خبر شو خو فایق يې د پرچمیانو دسیسه ګڼي.

د مخه مو یادونه وکړه چې د محمد داود د واکمنۍ پر ضد د اسلامي بنسټ پالو پاڅون د پاکستان د حکومت په لمسون او مرسته وشو چې ناکام شو چې یو شمېر يې بندیان شول او نور يې بېرته پاکستان ته پر شا شول. دوی په اول کې په ډېر بد حال کې و او یوازې د پاکستان د اسلامي جماعت مشر مودودي له هغوی سره مرسته کوله چې ډېره نه وه.۶۲۵ وروسته د ذوالفقار علي بوټو په صدراعظمۍ کې د پاکستان حکومت د افغان اسلام پالو نه د سیاسي ګټې اخېستلو په فکر شو او د دغه مقصد له پاره يې د افغانستان د جمهوري نظام پر ضد د هغو په روزلو او وسله وال کولو فکر وکړ. بوټو دغه کار د دې له پاره کاوه چې د افغانستان په حکومت باندې فشار راوړي چې د پښتونستان له دعوې نه تېر شي. څنګه چې د افغانستان حکومت د پاکستان سره په یوې بنسټیزې مسلې یاني پښتونستان په سراختلاف درلود، اسلام پالو ته اړینه نه وه چې په داسې شرایطو کې د خپل هېواد د ملي ګټو پر ضد د بوټو د پلانونو د پلي کولو وسیله شي. کاکړ وایي چې «دا یو تریخ حقیقت دی، چې افغان اسلام پالو له خپل حکومت سره د مخالفت په موضوع کې خپل ځانونه د پاکستان د حکومت ارادې ته وسپارل او د هغه په لمسونې سره يې د ننه په هېواد کې د امنیت ګډوډولو ته ملا وتړله په داسې حال کې چې افغانستان له پاکستان سره په یوې ملي بنسټیزې کشالې کې ګیر و.»۶۲۶ د افغان اسلام پالو د دغه ملي ضد درېځ لامل شاید د دوی په ایډیالوژیکې درېځ کې وموندل شي هغه دا چې دوی په ملي ګټو ایډیالوژیکي ګټې لوړې بولي لکه ځینو کیڼ اړخو د ملي ګټو نه د شوروي ګټې لوړې بللې.

## د محمد داود په کورني او بهرني سیاست کې بدلون

### ۱-کورنی سیاست

د مخه مو یادونه وکړه چې محمد داود لومړی برید په وطنپالو وکړ چې تش په نامه د میوندوال کودتا په نوم يې دوه څلوېښت وطنپال وځپل. بیا يې اسلامي بنسټپالونکو پاڅونونه، چې د پاکستان په لمسون د خپل هېواد د ملي ګټو پر ضد يې وسلې ته لاس کړ، وځپل چې بې اغېزې پاتې نه شول. دا ځل د پرچمیانو وار راغی. محمد داود له یوې خوا ورو ورو د پرچمیانو او په دولت کې د هغوی منسوبینو په تخریبي کړو وړو او دسیسو پوه شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د ده دولت د بدنامولو له پاره یې پر مخ بیول او د بلې خوا د شورویانو په بد نیت پوه شو چې د پرچمیانو په وجود کې یې د دولت د بدنامولو سره مرسته کوله.

فایق د ۱۳۵۴ کال د سرطان په میاشت کې محمد داود ته د حسن شرق ثبت کړې اواز اورولی و، چې په هغه کې د محمد داود پر ضد د کودتا د طرحې خبرې وې. د سرطان په ۳۱ مه نېټه د مرکزي کمیټې غونډه د همدې موضوع له پاره بللې شوې وه. د فایق په وینا حسن شرق په دغه غونډه کې د خپل دغه کار له امله توبه وکړه او ځان یې وژغوره. دی لیکي: «د خپل معنوي پلار [محمد داود] ته زاري کوم چې هغه تېروتنې او زیانونه چې له ما څخه شوي دي د پلرنۍ بخښنې په سترګه وګوري او دا هغه درس دی چې د ژوند نه مې واخېست، بیا به تکرار نه شي»۶۲۷

محمد داود دا کوتا ټینګه ونه نیوله چې لامل یې شاید داوي چې شوروي به یې په نظر کې نیولی وي. د مخه صدراعظم نور احمد اعتمادي هم په همدې دلیل پرچمیان په ازاد ډول پرې ایښي و. خو محمد داود سوکه سوکه د کیڼ لاسو او په ځانګړې توګه د پرچمیانو پر ضد ګامونه پورته کړل. د کابینې په بدلون کې یې غلام جیلاني، عبدالحمید محتاط، نعمت الله پژواک، فیض محمد او پاچا ګل د وزارتونو نه ګوښه کړل او وروستي دوه یې د باندې سفیران وټاکل شول. وروسته حسن شرق د کابینې نه وایستل شو او په جاپان کې سفیر وټاکل شو. خو محمد داود غلام حیدر رسولي د ملي دفاع او عبدالقدیر نورستانی د کورنیو چارو د وزیرانو په توګه وټاکل چې دواړه بې کفایته وو.

کاکړ وایي چې محمد داود د حکومت نه کیڼ لاسي وایستل او د چپې ایډیالوژۍ نه واټن ونیو او افغان پالنه یې خپله سیاسي عقیده اعلام کړه. دا ګام د مارکسیزم او سیاسي اسلام په وړاندې د افغان ناسیونالیزم درول و. د تابعیت په تذکره کې د قومي نومونو کارول منع شول او د افغانانو هغه تخلصونه هم منع شول چې نسبت یې قوم یا سیمې ته کېده. دا ټول د دې له پاره وو چې افغان ولس په قومونو او نورو نومو نه وي وېشل شوی او خلک په خپلو کې د افغان په نامه د برابرۍ او وروري ژوند وکړي.

محمد داود د بیمو او بانک شرکتونه ملي کړل او د ځمکو د سمونونو او مترقي مالیو لایحې وایستلې. د لومړۍ لایحې له مخې دولت د ځمکه وال له سلو جریبو نه زیاتې اوبه یېزې ځمکې، له دوه سوو څخه ډېرې للمي یا باراني ځمکې په بیه واخېستلې چې بیه به یې په ۲۵ کلونو کې په قسطونو سره ورکوي او دولت به دغه اخېستل شوې ځمکې بزګرو ته په قسطونو سره ورکوي. د محمد داود د ځمکو د سمون پروګرام د مترقي مالیې پر بنسټ و. د هغه د پروګرام له مخې د لږو ځمکو خاوندان د مالیې نه معاف وو. هغو مالکانو چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلو جریبو نه زیاته مځکه درلوده ډېره مالیه ورکوله. د دغه پروګرام له مخې له سلو جریبو نه زیاتې مځکې ساتل به د مالک له پاره ګرانه تمامېده. نو ځکه دوی د سلو جریبو نه زیاته مځکه د دوی په ګټه وه چې په دولت یې وپلوري. دولت به بیا دغه زیاتي مځکه په مستحقو بزګرانو باندې په لږه بیه خرڅولې او پیسې به یې هم په اوږدې مودې کې په قسطونو سره ترلاسه کولې. له دې امله په ۱۹۷۴ کال کې چې محمد داود د مځکې د سمون اعلام وکړ، ځمکه والو د خپلو زیاتي مځکو په پلورلو پیل وکړ. ځینو یې په نورو لارو هم خپلې مځکې له سلو جریبو نه ښکته کړې او په دې ډول یې د درنو مالیاتو د ورکولو نه ځانونه خلاص کړل او خپلې مځکې یې هم له لاسه ورنه کړې.

محمد داود د خپل نظام د مشروع کولو له پاره د ۱۹۷۷ کال د فبروري په میاشت کې اساسي قانون وایستلو چې دلویې جرګې له خوا ومنل شو. کاکړ وایي چې د جمهوري نظام نوی او غټ تکی د ولسمشر غوره کول و. د لویې جرګې سروال عزیزالله واصفي ناري کړې چې «محمد داود کاندید نه دی او ولسمشري نه غواړي.» هغه څو ځله داسې وکړل خو هر ځل به د وکیلانو غږ پورته شو چې «موږ پرته له داود خان نه پرته بل څوک نه غواړو.» واصفي بیا محمد داود ته مخ واړوه چې «صاحبه! خلک تا غواړي» په دغه وخت کې د خوست استازي وربښمین غږ وکړ چې «جنرال غلام حیدر رسولي هم د ولسمشرۍ له پاره وړ کس دی که یې وغواړي.» محمد داود بیا سم له لاسه غږ کړ چې «په یوه شرط کاندید کېږم چې ټول یې په اتفاق سره ومني.» دی بیا د ټولو په اتفاق سره د شپږو کالونو له پاره د افغانستان ولسمشر غوره شو.۶۲۸ کاکړ وایي «خو څنګه چې د ولسمشر د غوره کولو طرز د جوړې فکر ورکاوه د ولسمشر محمد داود اعتبار یې زیانمن کړ.»۶۲۹

په اساسي قانون کې د «افغانستان جمهوري دولت دموکراتیک» او د «افغانستان اداره د مرکزیت پر اصل بنا» اعلام شوه. کاکړ وایي چې د «دموکراتیک» او «مرکزیت» اصطلاګانې شاید د «دموکراتیک مرکزیت» د اصل له مخې غوره شوې وي، چې د شوروي اتحاد رسمي ګوند پرې بنا شوی او په دغه وخت کې په کابل کې په خاص ډول په چپیانو کې عامې شوې وې. فرهنګ وایي چې د دغه اساسي قانون په ایستلو کې د محمد داود د لیکل شویو هدایتونو نه کار واخېستل شو. محمد داود هغه خپل وړاندیز له نظره وغورځاوه چې له صدراعظمۍ نه د ګوښه کېدلو په وخت کې یې د مشروطې پاچایي په اړه پاچا ته کړی و. په دې توګه د مرکزي اصل له مخې ولسمشر ته ډېر واک ورکړل شو. دی نه یوازې د دولت سروال، د اجرائیه قوې منتظم وبلل شو، بلکې د ګوند منتظم هم وګڼل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې د دغه قانون له مخې به ولسمشر او ورسره اجرائیوي قوه ډېر واک او قانون جوړونکې قوه لږ واک لري، شاید د پاچایي دورې د انارشۍ د مخنیوي له پاره و، خو یو ګوندي طرز د ملي ګوند په لارښود سره د زورواکۍ او ان د ټولواکۍ له پاره پیلامه وه. په دغه حال کې دموکراسي هسې کلیمه کېدله؛ لکه په شوروي اتحاد کې چې شوې وه.

غلام حیدر رسولي او قدیر نورستاني د ملي غورځنګ منتظمان وټاکل شول، خو دوی د دغه کار وړ نه وو. په حکومت کې د وزیرانو تر منځ چاودون راغی، ان تردې چې اتو تنو وزیرانو د خپلو دندو نه د ګوښه کېدو نیت وښود. دوی د فایق په کور کې سره جرګه شول چې په دې اړه یو ګډ دریځ ونیسي. دوی بیا په دې اړه د ولسمشر د ورور سره د هغه په کور کې ولیدل. محمد نعیم دوی د ګوښه کېدلو د هوډ نه واړول، خو سپارښتنو یې په ورور باندې اغېزه ونه کړه. له هغې وروسته محمد نعیم او د محمد داود مشر زوی محمد عمر د داود خان نه ناراضه شول او د افغانستان راتلونکې یې خړه پړه او خطرناکه وښووله. سره له دې ولسمشر نورو هېوادونو ته رسمي سفرونه وکړل چې له هغوی نه د پرمختیایي پروژو او اوه کلن پرمختیایي پلان له پاره مرستې ترلاسه کړي.

## ۲- بهرنی سیاست

## شوروي اتحاد ته د محمد داود سفر

شوروي اتحاد چې د دوهمې نړیوالې جګړې په پایله کې په زبرځواک بدل شو هڅه کوله چې د خپلې امپراتورۍ سوویلي اړخ خوندي وساتي او چم ګاونډي هېوادونه او په ځانګړې توګه په افغانستان کې د لوېدیځ او په تېره د بل زبرځواک امریکې د نفوذ مخه ونیسي. شوروي اتحاد وېره درلوده چې که افغانستان د امریکې د نفوذ سیمه شوه نو په منځنۍ اسیا کې به د دوی کټبو ته ګواښ پېښ کړي. ځکه شوروي اتحاد د ۱۳۵۶ کال نه راهیسې د خروسچف په واکمنۍ کې د افغانستان سره د محمد داود د صدراعظمۍ پر مهال راز راز مرستې کولې او اوس یې هم د هغه په ولسمشرۍ کې هم د مرستې ژمنې کولې. محمد داود د دغو مرستو د ترلاسه کولو په موخه په ۱۹۷۴ کال کې شوروي اتحاد ته رسمي سفر وکړ.

د شوروي اتحاد حکومت په دغه سفر کې افغانستان ته ۴۳۷ میلیونه ډالر اعتبار منلی و. په ۱۹۷۶ کې د دواړو لورو تر منځ د سوداګرۍ تړون لاسلیک شو چې د یو او بل سره د سوداګرۍ کچه زیاته او ۱۹۸۰ کال پورې شپېته سلو ته ورسېږي. محمد داود د یوې خوا د پرچمیانو په ایستلو پیل کړی و او د بلې خوا د شوروي اتحاد د چارپوهانو د زیاتوالي نه چې د پرچمیانو ملاتړي وو، اندېښمن و. له دې کبله ده ځانګړې لارښوونه کړې وه «چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه- دریمه برخه افغان افسران دي مصر او هند ته او دریمه برخه شوروي اتحاد ته واستول شي، هغه دا هم ویلي و چې د هند او مصر حکومتونو په خپلو هېوادونو کې د افغان افسرانو زده کړه منلې ده، په دې ډول چې هغوی به هلته په روسي وسلو او تجهیزاتو تمرینونه کوي.»۶۳۰ شوروي اتحاد هم د پرچمیانو په ایستلو او هم په هند او مصر کې د افغان افسرانو د روزنې چارو اندېښمن کړی و چې په افغانستان کې به یې نفوذ لږ شي. شورویانو هم په کابل کې افغان کمونستان پیاوړي کول چې دا په افغانستان کې د دوی لاسوهنه وه.

کاکړ وايي چې د شوروي اتحاد بلنې محمد داود ته موقع ورکړه چې عمومي منشي لیو نید برژنف وپوښتي چې شوروي کارپوهان دا لاسوهنه د هغه په دستور یا په خپل نوښت کوي. محمد داود وحید عبدالله ته لارښونه وکړه چې د دغې موضوع د سپینولو له پاره له بریژنف سره د یوې ځانګړې ناستې ترتیب ونیسي.

د افغانستان او شوروي د لوړ رتبه پلاوو تر منځ د رسمي خبرو په جریان کې بریژنف د افغانستان په کورنیو چارو کې د لاسوهنې هڅه کړې وه. عبدالصمد غوث د بهرنیو چارو د وزارت پخوانی مرستیال چې په خپله په دغه سفر کې د افغان پلاوي غړی و لیکي: «بریژنف په دغه شېبه کې د محمد داود لوري ته کتل او څه یې ورته وویل چې ژباړونکی ګاوریلوف ډېر ناارامه شو او څه وخت وروسته یې په دوه زړه توب سره دا عبارت ژباړه کړو چې انتظار یې نه کېده. بریژنف شکایت وکړو چې په افغانستان کې د ملګرو ملتو د دوه اړخېزو او د ځینو نورو څو اړخېزو پروژو په کارولو کې د ناټو د غړو هېوادو د چارپوهانو شمېر زیات شوی دی. پخوا د افغانستان حکومت د ناټو د غړو هېوادو چارپوهانو ته لږ تر لږه د هېواد په شمال کې بلنه نه ورکوله خو اوس په هغو دستورونو عمل نه کیږي. هغه وویل چې شوروي اتحاد دغو انکشافاتو ته په بد نظر ګوري او د افغانستان د حکومت نه غواړي چې د هغوی د تسلط نه ځان وژغوري. هغوی د جاسوسانو نه پرته بل څه نه دي او د امپریالیستي موخو له پاره کار کوي.»۶۳۱

محمد داود د بریژنف د خبرو په ځواب کې وویل: «موږ به هېڅکله تاسو ته د دې اجازه در نه کړو چې موږ ته امر وکړئ چې حکومت څنګه اداره کړو، څوک په افغانستان کې استخدام کړو، څرنګه او چېرې چارپوهان توظیف کړو. دا یوازې د افغانستان په اداره پورې اړه لري. که لازمه شوه افغانستان به بې وزلې پاتې شي، خو په خپلو پرېکړو کې به ازاد واوسي.»۶۳۲

کاکړ وايي چې تردې نږدې وختونو پورې د محمد غوث روایت د دغو خبرو یوازینی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرچینه وه او د دغه روایت په بنسټ دا تیوري جوړه شوې او عامه شوې ده چې د محمد داود پر ضد د ثور کودتا د هغه لفظي ټکر پایله وه چې د کریملن د ماڼۍ په غونډه کې د محمد داود او بریژنف تر منځ پېښ شوی و. خو په ۲۰۰۶ کال کې جمیلي هم د دغو غونډو بهیر چې دی هم په کې حاضر و، په خپلو لیکنو کې بیان کړی چې په هغه سره پورتنۍ تیوري بې مفهومه کېږي.

د جمیلي د لیکنې له مخې محمد داود د بریژنف د خبرو په برابر کې هغسې غبرګون نه دی ښودلی چې صمد غوث بیان کړی دی. دی وايي چې محمد داود د غونډې په پای کې شوروي لویانو ته د لاس ورکولو نه وروسته په عادي ډول له سالون نه ووت او د افغان پلاوي غړي ورپسې روان شول. کاکړ وايي چې محمد غوث د دواړو رسمي پلاوو تر منځ رسمي خبرې په درو ورځو (۱۲، ۱۳ او ۱۴ ) کې تر سره شوې او جمیلي یې په دوو ورځو کې(۱۳ او ۱۴) اپریل کې تر سره شوې بولي. دغه توپیر د محمد غوث اثر زیانمن کړی چې د هغه نه باید په احتیاط سره کار واخېستل شي. دا لیکنې په ځرګند ډول په تضاد کې دي او د دوی په قلم د خپلو لیدنو کتنو او مشاهدو محصول دي. خو د کومو رسمي سندونو او څرګندونو محصول نه دي.

## پاکستان ته د محمد داود سفر

پاکستان د هندوستان د وېش په پایله کې د ۱۹۴۷ کال د اګست په څورلسمه نېټه جوړ شو. د افغانستان خاوره چې د نولسمې پېړۍ په جریان کې انګلیسانو نیولې او په ۱۸۹۳ کال کې په امیر عبدالرحمن باندې د ډېورنډ د هوکړه لیک د تپلو وروسته د برتانوي هند د نفوذ سیمه شوه پاکستان ته ورکړل شوه. څرنګه چې د هند د وېشلو پر مهال پښتنو او بلوچو ته د خودارادیت حق ورنه کړل شو چې په خپله پرېکړه وکړي چې خپلواکې غواړي یا د خپل هېواد افغانستان سره یا د نوي جوړ شوي پاکستان سره یوځای کېږي. د پښتنو او بلوچو د سرنوشت د ټاکلو پر موضوع د افغانستان او پاکستان تر منځ اختلافات منځ ته راغلل. افغانستان دا وخت دومره پیاوړی نه و چې دا موضوع د پرنسیپ پر بنسټ هواره کړي. د دې په پایله کې د افغانستان او پاکستان تر منځ اړیکې ترخې او د دښمنۍ شوې.

کاکړ وايي چې افغانستان ته د پښتونستان د کشالې یوه پایله دا شوه چې افغانستان له شوروي اتحاد سره ډېر اړخېزې اړیکې ټینګې کړي. د دغه نږدې والي پایله بیا دا شوه چې شوروي اتحاد د خپلو ډېرو مرستو له لارې په افغانستان کې نفوذ وکړي او د افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلق ډموکراټیک ګوند چې په ماهیت کې کمونستي و، رامنځ ته شي او وده وکړي. ولسمشر محمد داود له حکومتي مقامونو نه د څرګندو پرچمیانو له ایستلو نه وروسته په افغانستان کې د شوروي د نفوذ د مخنیوي او افغانستان ته د ودې او پرمختګ له پاره د پاکستان سره اړیکې عادي کړې او نورو اسلامي هېوادونو نه مرستې ترلاسه کړي. په دې ترتیب له پاکستان سره د اړیکې عادي کول او پراختیا ورکول د ولسمشر محمد داود د باندني سیاست مهم ټکی شو.

دارنګه د پاکستان صدراعظم ذوالفقار علي بوټو هم چې د پښتنو او بلوڅو سره په شخړو اخته شوی و، غوره ګڼله چې په دغې موضوع کې د افغانستان سره پوهاوي ته ورسیږي. د ۱۹۷۶ کال د جون په میاشت کې بوټو کابل ته د ولسمشر محمد داود په بلنه افغانستان ته رسمي سفر وکړ. د دغو خبرو زړی د پاکستان له خوا د بلوڅو او پښتنو د حقونو منل او د ډېورنډ د کرښې په اړه پوهاوي ته رسېدل موضوع ګانې جوړولو. د خبرو اترو نه وروسته دواړه خواوې ډاډه شوې چې دواړه لوري غواړي چې دا موضوع ګانې د خبرو له لارې هوارې شي. دواړو خواوو روغ نیتي وښوده چې د «د کابل روحیه» ونوموله شوه.

د همدې کال د اګست په میاشت کې محمد داود د بوټو په بلنه پاکستان ته رسمي سفر وکړ. په دې سفر کې په یادو شوو موضوع ګانو خبرې وشوې او د هغو د هوارولو له پاره بیا علاقه وښودل شوه او دا ځل د خبرو په پای کې یوه ګډه اعلامیه خپره شوه چې په هغې کې د کابل روحیې له مخې پرېکړې ته د رسېدلو ژمنه وشوه. بل کال د جون په میاشت کې بوټو د تهران نه پاکستان ته د تګ په لار کې په کابل کې د لږ وخت له پاره تم شو او د محمد داود سره یې ژمنه وکړه چې په پاکستان کې د وضعې په عادي کېدلو سره به د پښتنو او بلوچو ټول سیاسي بندیان ازاد شي ترڅو د نورو لانجمنو کشالو د هوارولو له پاره لار هواره شي. خو د جولای په ۵ مه نېټه د جنرال ضیاء الحق په کودتا سره نسکور او دی بندي او وروسته زندۍ شو.

د جنرال ضیاء الحق نوي حکومت له افغانسان سره د لانجو د هوارۍ له پاره د بوټو تر حکومت نه لا ډېره روغ نیتي وښوده. جنرال ضیاءالحق د ۱۹۷۷ کال په اکتوبر کې کابل ته راغی او له داود سره یې دوه ځله په ځانګړې توګه وکتل او دواړه خواو د لانجو د هوارولو له پاره ټینګه اراده وښودله او د «کابل روحیه» یې تائید کړه او د لا پیاوړي کولو له پاره یې تیاری وښود.

محمد داود د ۱۹۷۸ کال د مارچ په میاشت کې پاکستان ته سفر وکړ او د ضیاءالحق

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره وکتل. د دوی په لیدنه کې محمد داود وویل چې ځینې هېوادونه هغې تودوخې ته په ښه سترګه نه ګوري چې د افغانستان او پاکستان تر منځ په اړیکو کې پیدا شوې وه. ده دا هم څرګنده کړه چې «دغه دوه هېوادونه په یوه موټي کېدو او وروری سره وکولی شي له دغو خطرونو سره مقابله وکړي او خپلې خپلواکۍ خوندي وساتي.»۶۳۳

جنرال ضیاء الحق هم یادونه وکړه چې اوس د دواړو هېوادونو د پخلاینې له پاره پوهاوی پیدا شوی او د هغه په رڼا کې به یو وخت وروستی پرېکړه وشي. محمد داود د پښتنو، بلوچو او د پاکستان له نورو قومي مشرانو سره هم وکتل. محمد داود بیا د لاهور د شالیمار په پارک کې د پاکستان ملت ته په خطاب کې وویل: «ستاسې قوت زموږ قوت دی، ستاسې هوساینه زموږ هوساینه ده او سیاسي ثبات زموږ ثبات دی.»۶۳۴

په بله ورځ د پاکستان د بهرنیو چارو سکرتر اغا شاهي افغان پلاوي ته دا متن وسپاره چې په کې راغلي و چې: «افغانستان به د ډیورنډ کرښه د دواړو هېوادونو تر منځ د نړیوالې پولې په توګه وپېژني او د پښتونستان له مسلې نه به تېر شي او دواړه هېوادونه به د یوه بل هېواد په کورنیو چارو کې له لاس وهنې ډډه وکړي او دواړه خواوې ژمنه کوي چې د یوه بل پر ضد به د دښمنۍ پروپاګنډ نه کوي او دواړې خواوې به د اقتصادي او کلتوري پروګرام له پاره سره همکاري کوي او پراخوي به یې.»۶۳۵ کاکړ وایي چې؛ «وحید عبدالله د متن وروستي ټکي ومنل، خو د دوو لومړیو ټکو په اړه وویل چې افغانستان په دغه ډول د ډیورنډ کرښه منلی نه شي او د پښتونستان له مسلې نه تېرېدای نه شي. هغه دا هم وویل چې دغه مسلې به یوه ورځ د دواړو خواوو له خوا په قناعت لرونکي ډول حل شي او دغه اوسنۍ خبرې د همدغو موضوع ګانو د حل له پاره د لارې هوارول دي»۶۳۶

وحید عبدالله د بلې خوا پام دې ټکي ته هم واړوه چې د پاکستان حکومت د پښتنو او بلوچو مشرانو سره د دوی د راتلونکې په اړه تر اوسه غږېدلی هم نه دی. افغانستان به وروسته له دې د دغه متن په اړه به ګام واخلي چې پوه شي چې د هغو او په ځانګړي ډول د پښتنو سره څه منل شوي دي. محمد داود په یوه مطبوعاتي مرکه کې وویل چې «په هر څه باندې بحث وشو او د وخت په تېردلو سره به هر څه په خپل ځای وی او وخت به د هر څه غمه وخوري.»۶۳۷ داود خان دا هم وویل چې د خبرو بل دور به په اوړي کې په کابل کې وشي خو بله میاشت د محمد داود حکومت نسکور شو.

صمد غوث په دې نظر دی چې دغو مشرانو به د خپلو هېوادونو تر منځ د یوازیني اختلاف [پښتونستان] له پاره د حل یوه معقوله لار پیدا کړې او په دریو یا څلورو کلونو کې به یې له منځه وړی وای.۶۳۸ محمد داود د خپل واک د ساتنې په موخه حاضر و چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتنو او بلوڅو د سیاسي برخه لیک ټاکلو په اړه د پاکستان سره هوکړه وکړي خو کاکړ سم وایي چې «چا د دې ضمانت کولی شو چې پښتانه او بلوڅ به له خپل حق نه تېر شوي وای چې هغه د هغو د خلکو له خوا د خپل سیاسي برخلیک ټاکل دي.»۶۳۹

## ایران ته د محمد داود سفر

د محمد داود په واکمنۍ کې د افغان- ایران اړیکې وروسته له هغې چې ایران ونه شو کړای د افغانستان د واک نه لوېدلی پاچا محمد ظاهر د محمد داود په ضد ولمسوي او د بیا پاچا کېدو په لار کې ورسره مرسته وکړي، ډېرې ښې شوې. په ۱۹۷۴ کال کې د محمد داود ځانګړي استازي محمد نعیم د وحید عبدالله په ملګرتیا د ایران، عراق، لیبیا، الجزایر، مصر، سعودي عربستان، او کویټ نه لیدنه وکړه او دغو ټولو هېوادو د افغانستان سره د مرستې مینه وښوده. ایران، عراق، عربستان او کویټ د افغانستان سره د مالي مرستې ژمنې هم وکړې.

د ۱۹۷۵ کال د اپرېل په میاشت کې په خپله محمد داود ایران ته رسمي سفر وکړ. ایران افغانستان ته دوه میلیارده پور ومانه چې د دغو پیسو نه به یو میلیارد او اوه سوه میلیونه ډالر به د هرات- کندهار- کابل د اورګاډي د پټلۍ په غزولو او پاتې درې سوه میلیونه ډالر به د اوه کلن پرمختیایي پلان په نورو پروژو لګېږي. که څه هم په ایران کې د پاچا پر ضد د لاریونونو، د تېلو د بیو په لړېدو او ځینو نورو لاملونو له کبله د ایران مرسته په شک کې شوه خو بیا هم د افغان-ایران اړیکې مخ په ښه کېدو وې، په تېره وروسته له دې چې ایران د پولو په وړو پېښو کې روغ نیتي وښوده او په ۱۹۷۷ کال کې د هلمند د اوبو د هغه تړون سندونه لاسلیک او مبادله کړل چې د موسی شفیق په صدراعظمۍ کې د افغانستان او ایران د حکومتونو تر منځ لاسلیک شوی و او هغه مهال محمد داود ورسره مخالف و.

د عبدالغفار فراهي په وینا چې د جمهور رییس محمد داود د سفر پر مهال په تهران کې جنرال قونسل و، وایي چې «په بین المللي روابطو کې د دې اصل ټینګ رعایت کېږي، چې کله چې د یوه هېواد مشر بل هېواد ته په رسمي سفر بلل سوی وي، نو د کوربه هېواد مشر د خپل مېلمه د اقامت په ورځو کې د خپل هېواد څخه د باندې سفر نه کوي، ولې د ایران پاچا د افغانستان د جمهور رییس محمد داود خان د مسافرت په وخت کې د دغه اصل مراعات ونه کړ، او کله چې محمد داود خان په اصفهان کې و، د ایران پاچا د خپل هېواد څخه ووت او د سلطان قابوس د لیدلو له پاره یې عمان ته سفر وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد داود خان د خپل حیثیت او ملي ګټو د ساتلو په خاطر د خپل صدارت په وخت کې د غربي نړۍ او په سر کې د امریکا غوښتنو ته سر ټیټ نه کړ، او محمد داود خان د جمهوریت په وخت کې د شوروي اتحاد مشر برژنیف ته مخامخ کلک جواب ورکړ. ولې ده د ایران د پاچا پر دغه نامناسب عمل باندې اعتراض ونه کړ، که دغه نه اعتراض د ایران د څو ډالرو مرستې له پاره وي، نو د شاعر په قول

احتیاج د زمـــانې هسې بلا ده

ودلاک ته پاچا کښېنوي سر تور» ۶۴۰

محمد داود د ۱۹۷۸ کال په لومړیو میاشتو کې مصر، لیبیا، یوګوسلاویا، هند، سعودي عربستان، او کویټ ته رسمي سفرونه وکړل چې ځینو هېوادو د اوه کلن پرمختیایي پلان د پروژو د پلي کولو له پاره د مرستو ژمنې وکړې. ویل کېږي چې د دغو سفرونو راپورونه د افغان پلاوي یوه غړي محمد خان جلالر، او هم رحیم رفعت د محمد داود ژباړونکي مسکو ته ورکړل. رحیم رفعت چې د شورویانو جاسوس و په شپاړسو مخونو کې د دغه سفر راپور ببرک کارمل ته ورکړ او هغه د دندې له مخې «خپلې دغه موندنې مسکو ته انتقال کړې.»۶۴۱ کاکړ وایي چې «رفعت هم د باندینیو چارو په وزارت کې د شاه محمد دوست په شان پټ پرچمي و چې مهم حکومتي رازونه یې د کارمل له لارې (ک، ج، ب) ته رسول. دوی او داسې هم نورو پټو پرچمیانو ملکي او نظامي څانګو کې ګوندي وفاداري تر ملي وفادارۍ نه غوره ګڼله.»۶۴۲

## د امریکا سره د محمد داود اړیکې

د افغانستان او امریکا تر منځ د ډیپلوماتیکو اړیکو تاریخ اوږد نه دی. د پاچا امان الله په واکمنۍ کې د پاچا ځانګړي استازي محمد ولي اروپا ته د سفر نه وروسته امریکې ته لاړ چې د امریکا سره ډیپلوماتیکې اړیکې جوړې کړي. خو د محمد ولي سفر ګټه ونه کړه. امریکې که څه هم په ۱۹۳۴ کال کې د فرانکلن روزولټ د ولسمشرۍ په وخت کې افغانستان په رسمیت وپېژانده خو په کابل کې یې د سفارت د پرانېستلو نه ډډه وکړه. د دوهمې نړیوالې جګړې په منځ کې د افغانستان د ستراتیجیکي اهمیت په پوهېدو سره امریکا خپل لومړی سفیر کورنیلوس انګرت په افغانستان کې هستوګن کړ. د دوهمې نړیوالې جګړې وروسته د امریکا ولسمشر ترومن د واکمنۍ پر مهال افغانستان ته د مرستو ورکول پیل شول او د موریسن کودسن په نامه یوې امریکایي کمپنۍ د هلمند په ناوه کې د اوبو او کرنیزې پروژې پیل کړې، خو امریکې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځوسمې کالیزې په پای کې افغانستان ته شا کړه او د پاکستان سره یې تاوده ونیوله. لامل یې دا و چې پاکستان د امریکې تر څارنې لاندې د سنټو او سیټو په پوځي تړونو کې ګډون وکړ چې موخه یې د شوروي اتحاد په نظامي تړونو چاپېرول و. خو افغانستان په یاد شوو تړونونو کې د ګډون نه دېده وکړه. د افغانستان دا دریځ د دې لامل شو چې امریکا د پښتونستان په مسله کې د پاکستان ملاتړ وکړ. زموږ تاریخ لیکونکي او په هغه جمله کې کاکړ په دې نظر دي چې افغانستان اړ شو چې شوروي اتحاد ته مخ واړوي. د دې سره سره امریکا د افغانستان سره په پوهنیزو او کرنیزو ساحو کې مرستې کولې. امریکې د قانوني پاچایي په لسیزې کې د افغانستان سره تر بلې هرې دورې نه ښې اړیکې ټینګې کړې وې.

امریکې د جمهوري نظام په لومړیو کې د نورو لوېدیځو هېوادو غوندې انتظار وکیښ چې وګوري پېښې کومې خوا ته روانې دي. په دغه وخت کې افغان چپي چارواکو هڅه کوله چې افغان- امریکا اړیکې ترینګلې کړي خو محمد داود او محمد نعیم کوښښ کاوه چې د افغانستان او امریکا اړیکې ښې شي. په کابل کې د امریکا نوي سفیر تیودور ایلیت محمد داود او محمد نعیم ته ډاډ ورکړ «چې امریکا د افغانستان د خپلواکۍ او د ناپېیلتوب د سیاست درناوی کوي او غواړي په خپلو مرستو سره د افغانستان په ثبات کې برخه ولري.»۶۴۳ د ۱۹۷۴ کال د نومبر په میاشت کې د امریکې د بهرنیو چارو وزیر هنري کسینجر افغانستان ته رسمي سفر وکړ. هغه محمد داود ته ډاډ ورکړ چې امریکا د افغانستان خپلواکۍ، ناپیلتوب او ثبات ته ارزښت ورکوي. د دوی په خبرو کې اساسي موضوع د افغانستان او پاکستان تر منځ اړیکې وې. کاکړ وایي چې بوټو کسینجر ته شکایت کړی و چې افغانستان د پاکستان د بې ثباته کولو له پاره د پاکستان مخالفین پښتانه او بلوڅ روزي او د ورانکارۍ له پاره یې بېرته پاکستان ته استوي.

محمد داود کسینجر ته څرګنده کړه چې پاکستان د پښتنو او بلوڅو سره زور زیاتی کوي او افغانستان د دوی د مشروعو هیلو نه ملاتړ کوي. داود خان کسینجر ته وویل چې د ګډو دوستانو روغ نیتي به ګټور وي چې دواړه هېوادونه د خبرو مېز ته وهڅوي. کسینجر په دې خوښ شو چې افغانستان له پاکستان سره د خبرو له لارې د کشالې هوارول غواړي. ده زیاته کړه چې د افغانستان او پاکستان تر منځ دوستي به د نړۍ په دغې مهمې سیمې کې د سولې او ثبات سره مرسته وکړي او د امریکا حکومت به یې هرکلی وکړي.۶۴۴ د صمد غوث په وینا د امریکا مرسته که څه هم ډېره نه وه، خو د هغې د سره نیول کېدل د افغان مشرانو د خوښۍ لامل شو. امریکې تر ۱۹۷۸ کال پورې نږدې ۵۳۳ میلیونه ډالر ولګول چې له هغو نه ۷۱ سلنه یې وړیا مرسته وه.۶۴۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۹۷۸ کال کې کسینجر د افغانستان په بلنه بیا کابل ته سفر وکړ. ده د افغانستان او پاکستان تر منځ د اړیکو د ښه کولو نه خوښي څرګنده کړه. په ګډه اعلامیه کې د امریکې علاقه تایید شوه چې د افغانستان په اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا کې ونډه اخلي. امریکې خپل دوست شتمن عربي هېوادونه په ټینګه وهڅول چې د افغانستان سره د پرمختیایي پروژو په پلي کولو کې مرسته وکړي. کسینجر د امریکې د ولسمشر بلنه هم محمد داود ته وسپارله چې امریکې ته په سفر لاړ شي.

په دې توګه محمد داود د خپلې صدراعظمۍ پر مهال افغانستان ډېر زیات شوروي اتحاد ته نږدې کړی و، د جمهوریت د دورې په وروستیو او په ځانګړې توګه شوروي اتحاد ته د خپل وروستي سفر وروسته په دې لټه کې شو چې د هغه نه یې لیرې کړي پرته له دې چې د ناپیلتوب سیاست پرېږدي. کاکړ وایي چې محمد داود د جمهوریت په دوره کې په دې پیل وکړ چې افغانستان د پاکستان، ایران، عربي او لوېدیځو هېوادونو پر لور بوځي او د هغو په روغ نیتیو او پولې مرستو سره هېواد ودان کړي. دی زیاتوي چې د محمد داود دغه متوازن بانديني سیاست چې د افغانستان له پاره د هغه د جغرافیایي موقعیت له امله تر هر بل سیاست نه غوره دی، د ثور کودتا نابریالی کړ؛ لکه چې محمد داود د صدراعظم موسی شفیق سیاست په خپله کودتا سره نابریالی کړی و.

کاکړ وایي چې د اوه کلن پلان، مرسته یقیني نه وه؛ لکه د ایران. بله دا چې د پلان د پلي کولو له پاره پوره مسلکي کدرونه نه وو، او له دې امله ځینې هېوادونه؛ لکه امریکا د افغانانو په سروې قانع نه وو.

## د محمد داود تېروتنې

کاکړ د محمدداود تېروتنو ته داسې کتنه کوي او وایي چې د محمد داود لومړۍ تېروتنه دا وه چې ده پاچایي قانوني نظام په کودتا سره نسکور کړ هغه هم په زیاته اندازه د ورو چپي افسرانو په مرسته. په دغه کودتا سره ده نورو ته وښودله چې په کودتا سره دولتي واک نیولی شي.

دوهمه تېروتنه یې دا وه چې دی په کودتا سره د پرچم ګوندګي ته په حیثیت قایل شو او د هغه افسران او ملکي غړي یې په خپلې کابینې کې وزیران کړل. ده وروسته د خپلو لومړیو ژمنو نه مخ وګرزاوه نو دواړه ګوندګي یې مخالف شول.

د داود دریمه تېروتنه دا وه چې د خپلې صدراعظمۍ د دورې پر خلاف یې دا ځل د یو څو وزیرانو پرته ناوړه او بې تجربې وزیران په ځان راټول کړل. ده په پوځ کې شل جنرالان

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقاعد کړل، ده د میوندوال د کودتا په تور پوځ له دغسې افسرانو نه خالي کړ چې په اصل کې ملتپال، وطنپال او د ده طبیعي ملګري وو.

څلورمه خبره دا وه چې د داود د ناکامۍ لامل دی په خپله و چې د ثور د کودتا په وخت کې ۶۸ کلن و چې په بیړنیو حالاتو کې ډینامیک کېدای نه شو. مرستیال یې داسې څوک و چې د هغه ځای یې نیولی نه شو. برسېره پردې د امنیتي وزارتونو سروالان یې د کار سړي نه وو. رسولي په خپله د ولسمشر کېدو فکر کاوه. د ثور کودتا څومره چې د کودتاچیانو د ټینګې ارادې او غوښ عمل پایله وه، په همغه اندازه د ولسمشر د امنیتي لویانو د ناوړتیا نتیجه وه.۶۴۶

## کاکړ او د پاچا محمد ظاهر او محمد داود پرتلنه

د کاکړ په وینا محمد داود په ۱۹۱۰ کال کې او محمد ظاهر په ۱۹۱٤ کې پیدا شوی و، خو دوي د شخصیت له نظر نه ډېر توپیر درلود، پاچا دموکرات، لبرال، او د واکمنۍ چندان لېوال نه و. د اعدام مخالف و، په داسې حال کې چې محمد داود زورواک، د واکمنۍ لېوال، نیشنلست، او د اعدام پلوی و. دواړو د سیکولر نظام او د هیواد عصري کېدل غوښتل. محمد داود د صدارت په لسو کلونو، او پاچا د دموکراسۍ په لسیزه کې وځلېد. خو محمد داود چې د صدارت په وخت کې وځلېد، د پاچا او د خپل ورور د همکارۍ له امله هم و. البته دی د انکشافي پروجو نوښتګر او مخکښ و. په هر حال ده د صدارت په دوره کې د انکشافي او عصري کولو حرکتونه د پلان شوي اقتصاد په چوکاټ کې پر مخ بوتلل. دوی دواړه د وطن صادق خدمتګاران وو، او هیڅ یوه یې ناوړه استفاده نه ده کړې، او محمد داؤد له خپل شخصي ملکیت نه د هیواد د ابادۍ له پاره ډېره استفاده کړې ده.

خو محمد داود له اول نه زورواک و، او په سیاست او اداره کې یې له شدت او زور نه کار اخیستی، په تېره په اولو وختو کې چې د هغه له امله په "سردار دیوانه" هم یادېده. د صدارت په وخت کې یې د ارواښاد شاه محمود د صدارت نوې ډموکراسي خپه کړه، چې خلک ورته ډېر هیله من شوي وو، او په ولس مشرۍ کې یې د پاچا محمد ظاهر د وخت د ازادۍ او ډموکراسۍ مخه ونیوله. په دې ډول محمد داؤد په افغانستان کې د فردي ازادۍ او دموکراسۍ د غورځنګ خپه کوونکی او د ازاد مارکیټي اقتصاد مخالف ګڼل کېدلی شي. ده وروسته د سرطان په کودتا دغسې قانوني نظام نسکور کړ، چې لویې جرګې منلی، او سراسري ازادو انتخاباتو تائید کړی و، او له امله یې ازادي او ډموکراسي په افغانستان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بېساري ډول ځای نیولی و. په دغې دورې کې حکومت تر هر وخت نه ډېر د قانون له مخې چلېده او ښځې او نارینه په بېساري ډول ازاد وو. دغه ټول انکشافات هغه مهال شوني شول، چې په افغانستان کې د لومړي ځل له پاره د قانون له مخې سلطنت واکمني پاچايي کورنۍ ته، او حکومت اولس ته ځانګړی شو. دا په افغانستان کې په پاچايي نظام کې د دموکراسۍ د یوې نوي پروسې پیل و، چې د وخت په تېرېدولو سره پیاوړې کېده. رسمي چارواکي هم تر بل هر وخت ډېر د لیاقت او تخصص له مخې حکومتي مقامونو ته رسېدل، او دغه کار په ټولنې هم ښه اغېز شینده. ډېره مهمه دا هم ده، چې په دغه موده کې فرد د سیاست له مخې بندي شوی نه دی، او بندي کېدل یوازې د محکمې په حکم و. هیڅ څوک اعدام شوي نه دي. پاچا محمد ظاهر د اعدام مخالف و. د ده د انسان دوستۍ حس له دغې پیښې نه واضح دی: پاچا یوه ورځ یوازې، د خپلې ملکې او ډرېور په ملګرتوب له کابل نه پلخمري ته لاړ او هلته یې د یوه مقتول له پلار نه وغوښتل، چې د خپل زوی قاتل، چې هغه د ده وراره و، او د محکمې په حکم په اعدام محکوم شوی و، وبخښي. هغه په افتخار سره د پاچا خبره ومنله. دغه پېښه ډېرو ته د یقین وړ نه ښکاري، خو دغه قصه ما [کاکړ] ته دغسې یوه کس کړې، چې زه پرې باور لرم.

د ډموکراسۍ د لسیزې په دغو انکشافاتو سره افغانستان په سیمه او نړۍ کې نوم وایست. په دغه دوره کې افغانستان د لوېدیځې نړۍ و نارینه او ښځو ګرځندویانو ته دغسې یو هیواد شوی و، چې هغوی په ډاډینه سره په ټول افغانستان کې ازاد ګرځېدلی، او ځانله په خپلو خیمو کې اوسېدلی شول. هغومره ډېر ګرځندویان چې په دغې دورې کې افغانستان ته راغلل، شاید هیڅ وخت په دغه ډېر شمېر نه وي راغلي. د هغو په راتګ سره د ګرځندوی صناعت (هوټلونه، تم ځایونه، د لرغونو سامانونو او اثارو هټۍ) په بېساري ډول سره وده وکړه، او په ټوله کې افغان اقتصاد یې پیاوړی کړ. نو ویل کېدلی شي چې د قانوني پاچايي او د ډموکراسي لسیزه د معاصر افغانستان په تاریخ کې یوه ځلانده دوره وه، خو د واک لېوال، محمد داود دغه ځلانده دوره د "قلابي دموکراسي" په نامه، د چپیانو په مرسته په کودتا سره د پای ټکی کېښود. په داسي حال کې چې ده له اتلس کلنۍ نه تر هغه وخت پوري څه کم څلوېښت کاله په ملکي او نظامي لوړو مقامونو کې په پوره اختیار سره واک چلولی و. ده په دې قناعت ونه کړ او کودتا یې وکړه، چې په هغې سره یې په وطن کې یو نوی تخریبي څپرکی پرانیست.

محمد داود په کودتا سره قانوني نظام نسکور او قانوني ژوند او قانوني حکومت یې بې اهمیته کړ. ده یو شمېر د سر کسان هم، د ارواښاد محمد هاشم میوندوال، ارواښاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرستيال خان محمد، او اروابښاد ماما زرغون شنواري په ګډون، سره له دې چي هغوی د ده په شان نيشنلست وو، د پرچميانو په فشار، د محاکمې نه پرته، د کودتا په تور له مينځ نه يووړل، او نور ډېر يې بندي کړل. ده په دغه ډول د سر کسانو اعدام بيا رواج کړ، په داسي حال کې چې د افغان سياست له دغه وحشي عمل نه، د پاچا محمد نادر خان له قتل نه وروسته پاک ساتل شوی و. د کودتا بله پايله دا شوه چې محمد داود په نظامي کودتا سره واک ته د رسېدلو لار وښودله او دی په افغانستان کې د عصري نظامي کودتا مخکښ شو. د کودتا بله پايله دا شوه، چې پوځ په سياست کې دخيل شو، په داسي حال کې چي تر هغه د مخه، د پوهنتون له مظاهرو سره سره، له سياست نه ليري ساتل شوی و. له هغه وروسته و، چي حفيظ الله امين، چي د خلک د ډموکراټيک ګوند د نظامي څانګې آمر و، په دغه فکر شو، چي محمد داؤد کودتا وکړه، موږ يې هم کولی شو. له هغه وروسته و، چې ده خپل ګوند ته د نظامي افسرانو په جلبولو پيل وکړ. ما په خپل «د ثور کودتا نومي» اثر کي ويلي و، چي هغه د درې سوه نظامي افسرانو په قوت کودتا وکړه، خو وروسته راته معلومه شوه، چې هغه په دغو پنځو کلونو کې څه کم دوه زره ښکته رتبه نظامي افسران ګوند ته جلب کړي، او په قوت يې دغومره ډاډه و، چي غوښتل يې د خپل پلان له مخې د زمري په مياشت کې کودتا وکړي، او په هغې د "زمري انقلاب" نوم کښېږدي. له هغه نه پرته هم د ولسمشر په نشته توب سره، د ده د نظام دوام په شک کې، او د کورنی جګړې شونتيا زياته وه. نو ويل کېدلی شي چي محمد داود، له خپلو ډېرو خدمتونو سره سره په افغانستان کې د نظامي کودتا او د دې اوږدې ناارامۍ سر مؤسس دی. په اصل کي د همدغې کودتا او د دغو ناآراميو له امله ده چي د افغانستان راتلونکې د انديښني وړ شوې ده.

محمد داود، چي د خپل ژوند په وروستيو شېبوکي د خلقي کودتاچيانو له خوا خپل ژوند په خطر کې وليدی، د خپلي کورنۍ د غړو وژنه يې هم جايزه وبلله. د افغانستان په تاريخ کي څه، چي ان د انسان په تاريخ کې به دا يوه بېساري تراجيدي وي. ښاغلی محمد داود ملکيار چي د محمد داود له کورنۍ سره يې د خپښۍ ارتباط لاره، او په اړه يې د کره و مالوماتو خاوند دی، وايي چي د ثور د کودتا په ورځ " ... کشته شدن اکثر اعضای خانواده محمد داود خان، بشمول اطفال معصوم به تصميم داود خان و بدست يکي از اعضای خانواده او صورت گرفته است." دا په داسي حال کې چي د محمد داود زامن او لوڼي د لوړ او ملي فکر خاوندان وو، او هيڅ يوه يې له خپل ممتاز مقام نه د ځان يا کورنۍ له پاره استفاده نه ده کړې. مشر زوی يې، عمرجان لا د دغسي ازاد قضاوت خاوند و، چي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخېر کې د خپل تره، ارواښاد محمد نعیم، په شان د خپل پلار د سیاست مخالف شوی و. محمد نعیم لا د خپل ورور پر ضد د کودتا په لټه کې و. په هر حال، محمد داود د خپلې کورنۍ د غړو - مېرمنې، لوڼو ( له محترمې درخانۍ نه پرته، چې هغه وخت هغه هلته نه وه ( او اوس په سویس کې ژوند کوي) او تور پېکۍ نه پرته ( چې وروسته وفات شوه)، او زامنو ( له عمر جان نه پرته، چې هغه تر دوی د مخه په ګولۍ لګېدلی او مړ شوی و) د ژوند سلبولو حق نه لاره، او د محمد داود دغه امر د هغو په حق کې ظلم و، هغه هم په دغسې حال کې، چې معلومه نه وه چې کودتاچیان به د هغوي حیثیت او ژوند ته خطر پېښ کړي، لکه د ده د کورنۍ د یو څو پاتې کسانو، او د هغه د لوڼو - درخانۍ او تورپېکۍ مزاحم نه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شلم څېرکی

# کاکړ او د ثور کودتا

کاکړ د خلقي دورې په اړه که څه هم هغه لنډه خو ډېره پېښناکه وه او ټولنه يې په ژوره توګه اغېزمنه کړه، يو پنډ کتاب چې «د ثور کودتا او د هغې ژورې پايلې» نوميږي کښلی چې اوه څپرکي لري. کاکړ په پوره زغم د اسنادو، مدارکو، خاطرو، مرکو او پښتنو ګروېژنو له لارې د رښتيا موندنې له پاره ډېر هاند او کوښښ کړی چې د دې دورې يو عمومي او مستند سياسي تاريخ وکاږي. د ده په وينا دغه ليکنه په دغې لار کې لومړی کوښښ دی. دی دا هم وايي چې د هم مهال پېښو تاريخ کښل ګران دي ځکه چې د يوې خوا د پېښو په اړه مالومات نيمګړي وي. نوي مالومات وروسته يو وخت او بل وخت عام کيږي، نو تاريخ کښل په اصل کې يوه پروسه ده، چې هېڅ وخت پوره نه وي. د بلې خوا د هم مهال پېښو ځانګړتيا دا ده چې دوره يې تاريخي شوې نه وي او په اړه يې ليکنه احساسات پارولی شي. له دې کبله تاريخ پوه دې هرو مرو د تاريخ معيارونه په کره توګه په پام کې ونيسي او ليکنه يې د پېښو، سياستونو او نظرونو افاقي بيان وي او خپل نظرونه په کې ځای نه کړي.

کاکړ دا هم وايې چې د دغې دورې په ځينو اړخونو باندې ليکنې شوې چې هغه د نظام د پلويانو يا مخالفانو دي، يو اړخېزې او د ځانګړي غرض دپاره دي. اوس د دغې دورې په اړه په انګرېزي او نورو ژبو کې باندينيو د روسي جنرالانو په ګډون ليکنې کړې دي. برسېره پر دې يو شمېر پټ اسناد هم خپاره شول چې د دې دورې د روښانولو دپاره مرسته کوي. کاکړ دا پنډ اثر د دغو ليکنو او هم د هغه يادښتونو نه، چې ده د خپلې مشاهدو، د پېښو د ګډونوالو او نورو افغانانو نه د پوښتنو او ګروېژنوله لارې ترلاسه کړي دي، کښلی دی. زما په اند دغه مالومات چې د پېښو ګډونوالو زموږ د ملګرو په ګډون محترم کاکړ ته ورکړي ځينې يې نه يوازې کره نه دي بلکې ان ناسم دي. خو کاکړ هڅه کړې ده چې د تاريخ ليکنې د علمي ميتود په رڼا کې په خپله ليکنه کې د بيلو بيلو اړخونو نظريات پرته له دې چې خپل نظر په کې ځای کړي بيان کړي دي. ما خپل نظر د دغې دورې په اړه په خپل کتاب «د ثور پاڅون، د کې جي بې دسيسې او شوروي يرغل» کې څرګند کړی چې سريزه په خپله محترم کاکړ صاحب پرې ليکلې او په دغه کتاب کې يې دومره يادونه کړې چې « ده [اقبال

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزیري] په ۲۰۰۷ کال کې (د ثور پاڅون، د کې جي بي دسیسې او شوروي یرغل) په نامه یو کتاب هم خپور کړی، چې له هغه نه مې دلته پوره کار اخیستلی دی. څنګه چې په هغه باندې مې یوه لیکنه کړې، د هغه په اړه دلته نه غزیږم. دغومره وایم چې دا د خلقي دورې په اړه یو دقیق او مهم اثر دی.»۶۴۷ همدارنګه کاکړ د «د ثور پاڅون، د کې جي بي دسیسې او شوروي یرغل» په اړه لیکلې مشوره راکړې وه چې د کتاب په بنه یې د لوستونکو په واک کې ورکړم. دلته د کاکړ هغه لیکنه هم لوستونکو ته وړاندې کوم:

«د نومبر ۲۹، ۲۰۰۶

کانکورډ، کلیفورنیا

ډېر محترم وزیري وروره

لیکنه مې دې تر پایه ولوستله. حجم یې ډېر نه دی، خو موضوع ګانې یې ډېرې مهمې دي، او هغه د دغسې معلوماتو او ستا د شخصي تجربو پر بنسټ لیکل شوی دی، چې په بلې لیکنې کې موندل کېدلی نه شي. غټې موضوع ګانې یې د خلق دموکراتیک ګوند داخلي انکشافات او په خاص ډول د هغه د بیلو ډلګیو خپل مینځي رقابتونه او شخړې، د ثور د کودتا بهیر، او د خلق د حکومت په برابر کې د شوروي اتحاد دسیسه ییز چلند دی د دې د پاره چې د هغه پر ځای پرچمي حکومت په واک کړي. د لیکنې دغه برخه دې د شوروي د حکومت ماهیت هم په حیرانوونکي ډول په ډاګه کوي او ښیي چې چلوونکو یې څنګه د ملګرتوب په پلمه دسیسې کولې، او په هغو کې خپلې ګټې لټولې.

د لیکنې بل غټ اهمیت په دې کې دی چې په هغه کې بیان شوې پېښې د افغانستان د دغې لنډې دورې د سیاسي تاریخ زړی جوړوي. دا چې هغه متوازنه ده، انتقادي ده، او افاقي ده د هغې ارزښت یې لا زیات کړی دی. ژبه یې هم څرګنده، رڼه، معیاري او د پام وړ ده. نو د هغې خپرول به د کتاب په بڼه هم د محتوا او هم د افادې له نظره په پښتو او انګرېزي کې ډېره ګټوره وي. په دې اړه په ملي او جهاني سطح کې ډېرې خپرونې شوې، خو هغه ټولې لړ و ډېر پارتیزاني دی او په دې ډول د افغانستان سیاسي تاریخ په دغې دورې کې مسخ شوی دی. ستا دغه لیکنه به چې د کتاب په بڼه خپره شي، د لیکوالو او مولفانو د پاره به د باور وړ سرچینه وي. په دغه حال کې یقین دی چې تا به د یوه استاد افغان په حیث د دغې لانجمنې دورې د سیاسي تاریخ په روښانه کولو سره غټ او د قدر وړ خدمت کړی وي.

په درنښت

محمد حسن کاکړ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه چې کاکړ د ثور انقلاب کودتا بولي نو زه دلته د ده د کتاب «د ثور کودتا او د هغې ژورې پايلې» له مخې د هغه نظريات وړاندې کوم نو ځکه د کودتا کليمه کاروم.

## د ثور کودتا

د کاکړ په وينا د افغانستان سياسي تاريخ ډېر ډيناميک، ډېر ورانوونکی او لږ ودانوونکی دی. دا به ځکه دغسې وي چې د افغانانو په تېره د پښتنو کلتور په تشدد او فزيکي زور ولاړ دی. دغه کلتور چې د پېړيو په بهير کې جوړ شوی دی، ريښې يې له جګړو او وژنو نه خړوبې شوې دي.

له ويدي دورې راهيسې دغه هېواد د خونړيو جنګونو ډګر شوی دی، دلته يوازې زردشتي دين او بوديزم په تبليغ سره خپاره شوي دي، په نورو ټولو دورو کې جنګونه شوي، چې په بهير کې يې ورانۍ ډېرې او ودانۍ لږ شوې دي. هغه لږې ودانۍ هم د سمندري لارو نه د مخه په ځينو سيمو کې شوې وه، د باندينيو يرغلګرو له خوا ونړول شوه. د دغه وطن خلکو د ويدي دورې نه تر دوو پېړيو نه د مخه پورې په ځانګړې توګه په شمالي هند باندې يرغلونه کړي، له هغې خوا نه هم له پخوا نه يو وخت بل وخت پر دوی باندې يرغلونه شوي دي. په معاصر مهال کې افغانستان يوازينی هېواد دی چې د نړۍ درې زبرځواکونو يو وخت بل وخت پرې دانګلي دي. په دې توګه د دغې خاورې خلک له يوې خوا په خپل ډېر اوږده تاريخ کې له باندينيو يرغلګرو سره مخ شوي، چې د هغو په وړاندې له خپل وطن، ارزښتونو نه دفاع وکړي او د بلې خوا د خپل منځي جګړو، تربورۍ او ګونديمارۍ په سبب دغه جنګي کلتور خپل کړی دی.

دی زياتوي چې افغانان اوس هم د واک درناوی کوي، د رسمي واک خاوند لا ورته ستر، هوښيار او د درناوي وړ ښکاري. ځکه په دوی کې دا ميل پياوړی دی، چې په خپله هم واک ترلاسه کړي، که په وچ فزيکي زور سره وي. دغه ميل په دوی کې دومره پياوړی دی، چې په واقعي کولو په لار کې يې هغه ارزښتونه هم تر پښو لاندې کوي، چې پرې عقيده لري او د دين، اخلاق، قانون او جرګو پروا نه کوي او ان خپل خپلوان او نږدې ملګري هم له منځه وړي.

د واک د ګټلو ميل به له دې امله هم پياوړی وي چې په افغانانو کې د دولت د سروال د ځای ناستي موضوع حل شوې نه ده. په معاصر افغانستان کې هر وخت چې د دولت مشر د ميروېس نيکه او احمدشاه بابا نه نيولې چې د منځه تللي، د هغه د ځای ناستي په سر جنګونه شوي او ټولنه او خلک ورسره ناارام شوي دي. د واکمنو کورنيو مدعيانو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخوا نه د واک په سر جنګونه کول، خو د ملي دولت په وروستي وخت کې نظامي افسرانو په کودتاګانو لاس پورې کړ.

کاکړ وايي چې «په افغانستان کې محمد داود دغسې سیاسي نظام په کودتا سره نسکور کړ چې د لویې جرګې او اساسي قانون له مخې جوړ شوی، وطن ارام او د پرمختګ په حال او په نړۍ کې د اعتبار او حیثیت خاوند و، که دی د دولتي واک لېوال نه وای، کودتا ته به یې زړه نه وای کړی»۶۴۸ د ده د کودتا نه وروسته ملګرو یې د بې قانونۍ او خپل سرۍ په وخت کې ډېر نومیالي کسان او نور مخالفان او سیالان د منځه یوړل.

خو د واک نورو لېوالو د محمد داود نظام د ثور په کودتا سره نسکور کړ او دغو کودچیانو بیا د خپلې لنډې واکمنۍ په بهیر کې د سرطان د کودچیانو نه بېخي ډېرې وژنې، بندي کړې، کړونې او پارونې وکړې چې په هغې سره یې ټولنه په ژور ډول کړکېچنه کړه.

## د میر اکبر خیبر ترور

د کاکړ په وینا په افغانستان کې سیاسي ترور نوی دود شوی و. ترور په اصل کې د ښي او کیڼ لاسو افراطي سیاسي ګوندونو کار و. د خیبر د ترور نه د مخه د محمد داود حکومت د پلان وزیر علي احمد خرم د مرجان نومي له خوا د هغه د رسمي دفتر نه د توپنګچي په زور وویستل شو او په بازار کې په رڼا ورځ ترور یا ووژل شو. تر هغه د مخه په پاچایي رژیم کې د ګهیځ د جریدې چلوونکی منهاج الدین ګهیځ په ګذرګاه کې په خپل کور کې د یوه ثقه راوي په وینا د یوه غیر ګوندي چپي انقلابي له خوا ترور شوی و. په کابل کې بل غټ ترور د هوایي پیلوټ انعام الحق ګران و او همدارنګه یو شمېر ګوندي غړي د هېواد په ډېرو برخو کې هم ترور شوي وو.

میر اکبر خیبر د ۱۳۵۷ کال د وري د میاشتې په ۲۸مه ماښام د خپل ملګري عبدالقدوس غوربندي سره چکر وهلو ته ووت. هغه وخت چې غوربندي له خیبر نه بیل شو د دولتي مطبوعې شمالي خوا سړک سره د یوه روان جیپ نه ګولۍ پرې ووارېدې او ځای په ځای مړ شو.

د خیبر د ترور په سبا د ګوند په زرګونه غړي د هېواد د ښارونو نه کابل ته ورسېدل. د خیبر جنازه د اټکل شلو زرو کسانو په ګډون د زاړه مکرویان نه د پل خشتي جومات له لارې د شهدای صالحین هدیرې ته یووړل شوه او په لاره کې د امریکې سفارت مخې ته لکه چې د کمونستانو په منځ کې دود و، د امپریالیزم پرضد شعارونه واورېدل شول. په هدیره کې څو ګوندي لویانو ویناوې وکړې او داسې یې وښوول چې ګواکې دغه ترور حکومت او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارتجاعي قوتونو په لمسون شوی وي.

کاکړ وايي چې د میر اکبر قاتل چا یو څوک او چا بل څوک ښوولی دی. د کورنیو چارو وزیر نوراحمد نور د راپور له مخې ډاکټر کریم چې په کریم کپ مشهور و او د هغه اوه تنه ملګري یې په همدغه تور ونیول او بې له محکمې نه زندۍ شول. کریم کپ په کابل کې د اسلامي ګوند د عملیاتي ډلې مشر و. پرچمیان چې وروسته په واک شول د حفیظ الله امین لاس یې په دغه وژنه کې ګډ وباله. دی زیاتوي: «خو دغه وژنه د پرچم د ګوندګي یوه خپل منځي موضوع وه. خیبر په اصل کې د خپل سیاسي نظر او د پرچم په ګوند کې د ننه د مشرتوب د سیالۍ قرباني شوی دی.»۶۴۹ خیبر د کارمل پرعکس په دې فکر نه و چې محمد داود دې په کودتا سره نسکور شي. دغه اختلاف و چې میر اکبر ته د کارمل له خوا د وژنې ګواښ وشو. په دې اړه د غوربندي په وړاندې خیبر نوراحمد نور ته وویل: «ستاسو کارمل ما ته د مرګ ګواښ کړی دی. هغه ته زما له خوا وواياست چې زه د مرګ څخه نه بېرېږم...هغه علاقه لري د مافیا د دریمې درجې بانډ د مشر په رول کې ځان وازموي.»۶۵۰

د کارمل او خیبر تر منځ اختلاف پر دې هم و چې خیبر ناسیونالېست ګوندي او کارمل انتر ناسیونالېست ګوندي و په دې مانا چې کارمل واک ته رسېدل د شورویانو په مرسته او میر اکبر خیبر د افغانانو له لارې غوښتل.

د ګوند یووالی چې د شورویانو په فشار ترسره شو هسې په نامه و. ببرک کارمل خپل فراکسیون جلا ساتلو او میر اکبر خیبر د فراکسیون مخالف و. له دې کبله د ده په مشرۍ د ببرک نه ناراضي پرچمیانو کې دا میل پیدا شوی و چې د تره کي خوا ته واوړي. غوربندي د پرچمیانو د هغې غونډې په اړه چې د ببرک په مشرۍ د کریم زاده په کور کې جوړه شوې وه داسې لیکي: «موږ هم کښېناستو او منتظر شوو. خیبر هم څو شیبې وروسته راورسېد. وروستی تن کارمل و چې کور ته راننوت. د نوموړي په رارسېدو سره ډاکټرې اناهیتا ټول کسان د هغه میز شاوخوا ته راوبلل چې د سالون په منځ کی پروت و. تر اوسه د میز په چار چاپیره لا نه وو راغونډ شوي چې په حافظه کې مې د شپاړس کسیزو غونډو جوړېدل په یاد راغلل چې کارمل د لومړی انشعاب د پیلامې په پلمه ګوښې جوړولې...ما وویل تر اوسه مو د قلم رنګ وچ شوی نه دی چې بیا هم فراکسیون بازي صورت نیسي او بېله غونډه دابرېږي.»۶۵۱ غوربندي د پنجشیري له قوله لیکي: «د بارک شفیعی او سلیمان لایق په ویلو په همغو ورځو کې ببرک کارمل خیبر ته د نور احمد نور پذریعه خبر ورکړی و چې د خپل انحلال غوښتونکي مشي څخه د تېر شي.(پنجشیري، ۳ مخ)»۶۵۲ اعطا محمد شېرزی لیکي چې د یووالي د سند د لاسلیک نه وروسته ببرک کارمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میر اکبر خیبر نه پرته د خپلې مرکزي کمېټې غړي د نوراحمد نور کور ته وبلل او هلته یې ورته توصیه وکړه چې د ګوند د یووالي سره سره مور باید په خپل منځ کې تماس ولرو.

غوربندي زیاتوي چې څه موده وروسته سرور یورش زما کورته راغی او وویل: «ددې سره سره چې له دوې میاشتې څخه زیات وخت تېرېږي تر اوسه دوهم مرکز د پخوا په څېر په نورماله بڼه خپل کار ته دوام ورکوي. د کنفرانس د پرېکړو په اساس خو نورمحمد تره کی د ګوند عمومي منشي دی. پل سرخ د موازي مرکز په څېر خلاص دی او ببرک کارمل نفاق اچوونکې لارښوونې ورکوي.»۶۵۳

کاکړ وايي چې په دې ترتیب سره دا غونډه پټه پاتې نه شوه. عبدالقدوس غوربندي، نجیب الله او سرور یورش خیبر په دې خبر کړ او خیبر د دوی نه لیکلي راپورونه ترلاسه کړل، چې د ګوند عمومي منشي نورمحمد تره کی پرې خبر کړي. تره کي په ټلیفون سره په دې اړه په نهو بجو له خیبر سره په ګډه د پرېکړې کولو دپاره وخت وټاکه خو خیبر د همدې شپې په ماښام ووژل شو.۶۵۴ کاکړ وايي چې دا روایت به رښتیا وي چې وايي: «نوراحمد او امتیاز حسن د ۱۹۷۸ کال د اپرېل په ۱۷مه ماښام مهال له یوه روان جیپ نه په میر اکبر باندې ګولۍ ووارولې او ویې واژه. نوراحمد نور له اول نه تر پایه پورې د کارمل ټینګ ملګری او امتیاز حسن د کارمل شخصي ساتونکی و چې بیا د معدنونو د وزارت مرستیال وټاکل شو.»۶۵۵

زما ماما عبدالرشید وزیري د وطن ګوند د مرکزي کمېټې غړي او د ډاکټر نجیب الله باوري کس پاسنی روایت په غوځ ډول په لړ توپیر سره تایید کړ هغه دا چې د جیپ نه په میر اکبر خیبر باندې ګولۍ امتیاز حسن د کارمل شخصي ساتونکي وارولې وې. عبدالرشید وزیري د نجیب الله په واکمنۍ کې د مرکزي کمېټې په اپارات کې کار کاوه.

کاکړ وايي چې د میر اکبر خیبر د جنازې چارې او په ګور باندې یې د لویانو اخطار د حکومت له پاره یو ډول ننګونه وه. ولسمشر محمد داود د عدلیې وزیر او لوی څارنوال وفي الله سمیعي ته لارښوونه وکړه، چې مالومه کړي چې ایا هغه کسان چې د خیبر په جنازه کې یې ویناوې کړې دي، د جزا د قانون له مخې محکمه کېدای شي که نه؟ نوموړي داود خان ته د هوا مشوره ورکړې وه. صمد غوث وايي چې «د لوېې څارنوالۍ په دفتر کې د راډیو کسټ د فیتې څخه په ښکاره ډول د بیانیو د اورېدو وروسته، حکومت پرېکړه وکړه چې د ا. خ. د. ګ مشران د محکمې له پاره حاضر کړي.»۶۵۶

کاکړ د ژورنالست ستانیزي د لیکنې «سهل انګازی محمد داود خان و کودتای ثور» پر بنسټ دا هم وايي چې محمد داود تر دغه وخته پورې په دې اړه د خپلو ځینو مشاورینو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې نه منلې چې د خلق ډموکراټیک ګوند لویان د قدرت نیولو له پاره تیاری نیسي. د هغو محوري ټکی دا و چې د خلق ډموکراټیک ګوند په پوځ کې نفوذ او د حکومت پر ضد د عمل کولو نیت لري، خو د ملي دفاع وزیر غلام حیدر رسولي ولسمشر محمد داود ته ډاډ ورکوي چې پوځ په ټینګه د هغه او حکومت پر خوا ولاړ دی. د دغه نظر له مخې به وي چې حکومت په سر کې د ګوند څرګند ملکي لویان ونیول او بیا یې د نظامي ګوندیانو د نیولو امر وکړ، چې عملي نه شو.۶۵۷

کاکړ زیاتوي چې د ثور په پنځمه شپه اتو عملیاتي ډلو د افغانستان د خلق ډموکراټیک ګوند د لویانو په نیولو پیل وکړ او دغه موضوع یې د عبدالغني ساپي د لیکنې «شبهای کابل» چې لا چاپ شوې نه وه، له مخې کښلې ده. د څارندویانو دغو عملیاتي ډلو نورمحمد تره کي، ببرک کارمل، ډاکټر شاه ولي، عبدالحکیم شرعي جوزجاني، دستګیر پنجشېري، سلیمان لایق، بارک شفیعي او ضمیر ساپي ونیول، چې وروستی په غلطه نیول شوی و. اتم عملیاتي ګروپ، چې قوماندان یې عبدالغني ساپی عمرزی و، د شپې ناوخته د حفیظ الله امین په نیولو وګومارل شو. امین چې د څارندویانو د ورتګ نه خبر شو سمدلاسه یې د نظامي تشکیل لست خپلې مېرمنې پتمنې ته ورکړ، چې د پولیسو لاس ته ورنه شي. امین د کور د لټولو په جریان کې له قوماندان غني نه دوه غوښتنې وکړې: یوه دا چې پولیسان د هغې کوټې ته نه ننوزي چې ښځې او ماشومان په کې ویده دي. بله دا چې دی د همدغه اوس بندي خانې ته بو نه تلل شي، بلکې سبا په اتو بجو دې حاضر کړل شي. قوماندان غني ورته وویل چې د تاسو لومړۍ غوښتنه د خپل صلاحیت له مخې په دې شرط منم چې د تاسو یا د تاسو د زوی سره په پوره پام سره چې ستاسو ماشومان هم ویش نه شي سر ورښکاره کړم. امین دغه تجویز په خوښۍ سره ومانه او قوماندان غني د وره نه د خوب کوټه ولیدله. د امین د دوهمې غوښتنې په اړه یې د مخابرې د الې په وسیله د امنیت له لوی قوماندان نه هدایت په داسې ډول وغوښت چې د هغه اجازه یې ترلاسه کړه. غني بیا امین ته ویلي چې دواړه غوښتنې دې ومنل شوې.

کاکړ وایي چې د ګوندي لویانو د بندي کېدو وروسته د خلق ډموکراټیک ګوند دپاره سیاست د مرګ یا ژوند سوال شوی و، په دې ډول چې یا غوځ عمل وکړي یا کور ته راغلی اجل ومني. امین لومړی تجویز غوره کړ. امین د خپل زوی عبدالرحمن له لارې د تره کي د بندي کولو خبر ترلاسه کړ. په دغه شېبه کې د امین او د هغه د مېرمنې یو خپلوان چې سرمعلم و او عبدالغفور نومېده د امین کور ته راغی. امین نوموړی د کابل ښاروالی ته لېږي چې د هغې ښاروالی یو مامور فقیر محمد فقیر ته ووایي چې په بېړه ځان د امین کور ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسوي. په دې توګه لومړی ارتباطي غړی فقير محمد فقير و چې د امين کور ته ورسېد او امين په ليکلې توګه د انقلاب قومانده ورکړه چې په چټکۍ سره يې انجنر ظريف، خيال محمد کټوازي، انجنر صالح محمد پيروز، سيد محمد ګلابزوی ته ورسوي. امين په ټول افغانستان کې ۲۲ تنه خلقي افسران د قوماندانانو په توګه غوره کړل چې په هغو کې جګړن محمد اسلم وطنجار د ټولو ځمکنيو قواوو د قوماندان او ډګروال عبدالقادر د هوايي ځواکونو د قوماندان په توګه وټاکل. کاکړ زياتوي هغسې، چې امين په لږ وخت کې پلان وايست داسې هم روابطو غړو هغه په حيرانوونکې ګړنديتوب خلقي افسرانو ته ورساوه او خپله دنده يې په بري ترسره کړه.

کاکړ وايي چې د ۱۹۵۷ کال د ثور کودتا د څرخي پله د څلورمې زغره والې قوې نه پيل شوه. د سهار نږدې لس بجې وې چې ټانکونه د ښار په لور وخوځېدل او نږدې يولس بجې وې چې د دفاع په وزارت ډزې وشوې. د دفاع وزير رسولي او لوی درستيز عبدالعزيز په قرغه کې اتمې فرقې ته لاړل، چې په حرکت يې راولي. رسولي او لوی درستيز د ناهيلی په حال کې فرقه پرېښوده او په سختۍ سره يې ځانونه د تاج بېګ غونډۍ ته ورسول او هلته د درستيزوال تورنجنرال عبدالعلي وردګ سره يوځای شول. په دې وخت کې د مهتاب قلعه نه ورباندې د توپچي ډزې وشوې او دوی درې واړه د تاج بېګ مانۍ پرېښوده او په چاردهي کې د عبدالمجيد د دلکشا د مانۍ باغبان باشي کور ته چې د رسولي دوست و، پناه يووړه، خو د هغه زوی کودتاه کوونکي پرې خبر کړل. دوی درې واړه ونيول شول او د څرخي پله په پوليګون کې يې زندۍ کړل. په دې توګه د دوی په زندۍ کولو سره د پوځ د سوق او ادارې مرکز فلج شو.

اسلم وطنجار ډله ډله ټانکونه، زره پوشونه او جنګي ماشينونه د حکومت د پوځي قطعو د حرکت شنډولو له پاره ټاکلي وو، هغه قطار ټانکونه، چې د بالاحصار د کماندو د قطعې د حرکت د شنډولو له پاره مامور شوي وو، هغه يې کلابند او بې وسلې کړه. نورو ټانکونو د خواجه رواش هوايي ډګر، د افغانستان راډيو، د ښار لويو څلور لارو، د دهمزنګ بنديتون، د کورنيو چارو وزارت، د کابل ولايت بنديتون مخې ته ځايونه ونيول.

ولسمشر محمد داود په ارګ کې د وزيرانو ځانګړې غونډه رابللې وه چې د نورو موضوع ګانو په څنګ کې په ګوندي بنديانو بحث کېده. کله چې د دفاع وزارت باندې ډزې پيل شوې د جمهوري ګارډ نه د ګارډ قوماندان جګړن صاحب جان ساتنه کوله. محمد داود په دغه وخت کې لارښوونه وکړه چې د کورنۍ غړي يې چې د ښار په هره برخه کې وي، ارګ ته راوړل شي، چې همدغسې وشول. محمد داود ، ورور يې محمد نعيم، د دوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورنۍ غړي، سید عبدالالله او قدیر نورستاني د ګلخانې ماڼې یوې کوټې ته ننوتل. خو کله چې ارګ د هوا نه د بمباریو لاندې راغی پاته د کودتاچیانو په ګټه واوښته.

په ارګ باندې جوړه جوړه الوتکو د هوا نه ګوزارونه کول او حیرانوونکي پیکونه یې وهل. «په کابل کې ویل کېده، چې د دغو الوتکو پیلوټان شورویان وو او کودتا د شورویانو په دستور او همکارۍ شوې ده. ځینو لیکوالو همدغسې ویلي دي، خو دا هسې اوازې دي.»۶۵۸ محمد نظیر کبیر سراج، چې نظامي متخصص او د اعتبار وړ مولف دی لیکي چې «ټولې الوتکې او چورلکې د افغان پیلوټانو له خوا سوق او اداره کېدې.»۶۵۹ دغو الوتکو جمهوري ګارډ ارام کړ او د محمد داود کلابندي یې نوره هم ټینګه کړه.

یوه وړه ډله ټانکونه او زغرور قوتونه چې د کورنیو چارو د وزارت په نیولو مامور شوي وو د هغه وزارت منسوبین یې بې وسلې کړل. ګوندي لویان د بندیتون نه خلاص او افغانستان راډیو ته راوستل شول او هلته امین د ټولو په خوښه له وطنجار نه د کودتا مشري په خپل لاس کې ونیوله. په راډیو کې د افغانستان د وسله وال پوځ د نظامي شورا په نامه اعلامیه لومړی د اسلم وطنجار له خوا په پښتو او بیا د عبدالقادر له خوا په پارسو واورېدل شوه. د اعلامیې د خپرېدلو وروسته د امین، وطنجار او کټوازي نه پرته خلقي مشران د خواجه رواش د هوایي ډګر مرکز محل چنار ته ولېږدول شول.

د اوومې فرقې د ریشخور نه یوه پلې قوه له ارګ سره د مرستې له پاره راوتلې وه چې د ټانکونو او د الوتکو د ګوزارونو له امله شا تګ ته اړه شوه. کاکړ د تاجیار له قوله وایي چې د محمد داود امر چې ګارډ دې تسلیم شي، د سهار په شپږ بجو پلی شو.

تورن امام الدین وایي چې د محمد داود سره د خبرو په مقصد ارګ ته لاړم. «کله چې کوټې ته ننوتم...محمد داود خان ته [مې] پوځي درناوی او عسکري سلام وکړ... د وسله وال پوځ انقلابي شورا ته تسلیم شی... په دغه وخت کې په هغې تپانچې چې په لاس کې وه په ما ډز وکړ او زه په لاس ولګېدم او سخت ټپي شوم... نور زما د کسانو تر منځ یو پر بل ډزې وشوې چې په پایله کې داود خان ووژل شو.» ۶۶۰ په دې توګه د محمد داود د رژیم په نسکورېدو سره د محمدزیانو واکمنې پای ته ورسېده.

## د افغانستان لومړی ایډیالوژیک حکومت

کاکړ دغه موضوع د خپل کتاب دوهم څپرکی کې بیان کړې او وایي چې د ثور کودتا د افغانستان په تاریخ کې یو نوی څپرکی پرانېست. د ثور د کودتا په پایله کې داسې افغانان واک ته ورسېدل، «چې زیاتره یې ځوانان او د عصري زده کړې خاوندان وو. په عمومي ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی بیلو قومونو ته منسوب د کلیو خلک وو، نه دې یوې کورنۍ غړي لکه پخوا چې وو. دوی د کمونیزم په پړي سره تړلي او ادعا یې کوله چې خواریکښو خلکو ته یې د خدمت له پاره ملا تړلې ده.»۶۶۱

لومړی تېروتنه یې دا وه چې دوی د خپلې ایډیالوژۍ له مخې داسې حکومت تنظیم کړ، چې قدرت یې د خپل ګوند له لارې ځانونو ته ځانګړی کړ، نورو افغانانو ته یې برخه په کې ورنه کړه.

«خلقیانو وروسته له هغه په حکومت کولو پیل وکړ، چې ګوندي لویان یې د ثور په اومه د مازدیګر په شپږو بجو افغانستان راډیو ته ورسول شول. تر دغه وخته دوه دېرش کلن محمد اسلم وطنجار، د ځمکنیو قواو نوی قوماندان د کودتا چارې پرمخ بیولې. راډیو ته د خلقي مشرانو په راتګ سره د خپلو ملګرو په سلا امین د حکومت کولو چارې په لاس کې ونیولې، که څه هم د جمهوري نظام ولسمشر محمد داود په ارګ کې ژوندی و، خو د کودچیانو له خوا کلابند او له حکومتي ارګانونو سره یې اړیکه شلېدلې وه.»۶۶۲

دی زیاتوي چې په دغه وخت کې ګوندي لویانو په خپل بریالیتوب باور نه درلود نو ځکه یې حکومت د کابل راډیو نه د نظامي شورا په نامه اعلام کړ، نه د خپل ګوند په نامه. ګوندي لویان د امین، وطنجار او خیال محمد کتوازي نه پرته د هوایي ځواکونو مرکز محل چنار ته لاړل، چې که وضع سرچپه شي په الوتکې کې کوم خوندي ځای ته لاړ شي. له دغه وخت نه امین د سترپا پرته په حیرانوونکې توګه د پوځ په تنظیمولو، د قوماندانانو په ټاکلو او د امنیت په خوندي کولو کې تېر کړل، پخوانی نظام یې له پښو وغورځاوه او د خپل حکومت د واکمن کولو له پاره یې ډګر هوار کړ. که ګوند په داسې وخت کې امین نه لرلی چې هغه ۴۹ کلن تکړه روغ ځان درلود زړور او د نوښتګر فکر خاوند و چې هغه یې په ګوندي لویانو کې بېجوړې کړی و، واکمن کېدل به یې په شک کې و.۶۶۳

د ثور د میاشتې په لسمه د یکشنبې په ورځ ګوندي لویانو د نظامي شورا پر ځای په ګوندي حکومت کولو په ښکاره پیل وکړ. کاکړ وایي چې دا ګوندګي اوږده موده سره بیل او لنډه موده سره یوځای وو. د اتحاد په حال کې هم دوی سره سیالان او لکه بیل ګوندونه وو. کاکړ وایي چې د خلقیانو او پرچمیانو د اختلاف لاملونه درې وو. لومړی د دوی د ګوند ګډو ترکیب و. « خلقیان زیاتره د کلیو او بانډو پښتانه او لږ شتمنو کورنیو ته منسوب وو او پرچمیان زیاتره ښاري غیر پښتانه او شتمنو کورنیو ته منسوب وو، که څه هم په لوړه کړۍ کې یو شمېر پښتنو شتون درلود.»۶۶۴ دوهم د دوی د شوروي سره اړیکې وې.«زیاتره خلقي لویان نېشنلست کمونستان او زیاتره پرچمي لویان انترناسیونالست کمونستان وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرچمیان په عمومي ډول تر دې حده انترناسیونالست او شوروي پال وو، چې افغان هویت، ملي واکمني او حتی وطن ته یې د خپلې ایدیالوجۍ په برابر کې اهمیت نه ورکاوه.»۶۶۵ دریم د دوی د لویانو او په ځانګړي ډول د کارمل او امین تر منځ اختلافات وو. د دوی اختلاف د مفکورې و، چې ورو ورو یې شخصي او نورې بڼې پیدا کړې. امین په اصل کې نېشنلست او کارمل په اصل کې سوویتست و. د سیاست په ډګر کې کارمل په شوروي اتحاد او امین په خپل ګوند ولاړ وو. په داسې حال کې امین کارمل د پنجابي طاهر پهلوان کړوسی ښوده او ویل یې چې هغه په اصل کې افغان نه بلکې «مطلق یو ایجنټ» دی. د افغانستان د ټولو اساسي قانونو له مخې هر څوک چې د افغانستان تبعیت ولري، افغان دی، خو لکه څنګه چې لیدل شوي دي د مهاجرو په ذوذات کې افغانستان ته د رښتینتوب او وفادارۍ احساس ډېر کمزوری دی.۶۶۶ کارمل د یو شمېر نورو افغانانو په شان له مهاجر نسل نه و، نیکه یې محمد هاشم پر ۱۸۷۹ کال کې له انګرېزي پوځ سره د هندوستان له کشمیر نه افغانستان ته راغلی و.۶۶۷ کارمل چې په ۱۹۵۷ کال کې د کې جي بي ایجنټي منلې وه او په دې فکر و چې افغانستان د شوروي اتحاد په شپاړسم جمهوریت وګرزوي.۶۶۸ کاکړ وایي چې د غوربندي دغه وینا سمه ده چې «کارمل د ګوندي قدرت سرچینه او منشا د ګوند د باندې (په شوروي اتحاد کې) پلټله او د هغه د باور د لاسته راوړلو له پاره یې هر ډول هاند نه ډډه نه کوله.»۶۶۹

## د نور محمد تره کي واکمني

کاکړ وایي چې نور محمد تره کی د ثور د میاشتې په لسمه د انقلابي شورا د رییس او صدراعظم په توګه وټاکل شو. سره له دې چې د اقبال وزیري په فکر خلقیان «...په دغه وخت کې نه د انقلاب په فکر... وو او نه د انقلاب له پاره په ملي او نړیواله کچه شرایط برابر وو.۶۷۰ ان د شوروي اتحاد حکومت حاضر نه و، چې د تره کي حکومت بې له قید او شرط نه په رسمي ډول وپېژني. سفیر یې پوزانوف نه غوښتل، چې ان له نور محمد تره کي سره وګوري، که څه هم هغه د کودتا په سبا اول صالح محمد پیروز او بیا ګل محمد نورزی د همدغه مقصد له پاره وراستولي وو. پوزانوف غوښتل، چې تره کي او ملګري یې په نوي حکومت کې پرچمیانو ته برابره برخه ورکړي. شوروي اتحاد بیا زر د کې جي بې د باندینیو چارو مدیر ولادیمیر کریچکوف په مشرۍ کابل ته یو پلاوی واستوه. کریچکوف د حکومت په ترکیب کې «د خلق او پرچم ګوندګیو د غړیو په سره برابر غړیتوب باندې»۶۷۱ ټینګار وکړ. تره کي او امین دغه غوښتنه ومنله، یا یې منلو ته اړ شول. په هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



حال، له هغې وروسته و چې پوزانوف د کودتا په دریمه ورځ خلقي حکومت په رسمي ډول وپېژانده.۶۷۲

کاکړ وايي: «خو څنګه چې کودتا په اصل کې خلقیانو کړې وه، هغو نه غوښتل پرچمیانو ته برابره برخه ورکړي، خو د شوروي اتحاد په هڅونې او فشار سره دغه کار ته اړ شول. شوروي اتحاد او پرچمي لويان په دغه امتياز هم قانع نه وو. د اقبال وزيري په وينا «... د ثور د انقلاب د برياليتوب د لومړۍ شپې څخه د خلقيانو پر ضد دسيسې جوړې کړې.»۶۷۳ پرچميانو د حکومت له جوړېدو نه درې ورځې وروسته اول د کورنيو چارو وزير نور احمد نور په دفتر کې او بيا په بادام باغ کې د کوپراتيفونو په رياست کې غونډې وکړې. په وروستۍ غونډې کې د شوروي سفارت کوم مامور هم ګډون کړی و. پرچميانو وروسته په پغمان کې د همدغه مطلب له پاره ګوندي کنګره جوړه کړه.۶۷۴ تر هغه د مخه دوی د ک. ج. ب له مامورانو سره په ګډه د خلقي حکومت په بدنومۍ کولو پيل کړی وو او د نجم الدين په روايت کارمل دستور ورکړی و چې «تخريب، تخريب باز هم تخريب.»۶۷۵ دغه څه به څکه رښتيا وي، چې کارمل د امين له لاسه بې واکه کېده او بې اهميت کېده. د دوی تر منځ اړيکې له پخوا نه ترخې وې.»۶۷۶

کاکړ زياتوي چې د وخت غوښتنه دا وه چې د حکومت په ترکيب کې نور ګوندونه هم بايد ځای ولري او که سمدلاسه د ائيتلافي حکومت شونتيا نه وای، لږ تر لږه فني مامور ان او وړه چارپوهان په حکومت کې د مقامونو خاوندان شوي وای. د دولت لوړ رکن پنځه دېرش کسيزه انقلابي شورا شوه چې سروال يې د دولت د رييس حيثيت پيدا کړ. دغې شورا ته قضايي قوه مسؤله وبلل شوه او هم اجرايه قوه د صدراعظم په مشرۍ هغې ته مسؤله وګرځول شوه. د دولت يا حکومت لارښوونه د رسمي ګوند په غاړه شوه ... په دې توګه نوی دولت د درې ګونو قوتونو (اجرايه، مقننه او قضايه) په يو ځای کولو او د لوړ واک په غونډولو سره تنظيم شو. انقلابي شورا پورې د تړل شوو قواوو سروالان او غړي او وزيران ټول د حاکم ګوند غړي وو. په دې ډول ګونديان او په ځانګړې توګه د مرکزي کميټې غړي او د سياسي دفتر غړي د حکومت په ټولو لوړو مقامونو باندې وګومارل شول.

کاکړ وايي چې په ګوند کې د پرېکړې کولو واک په مرکزي کميټې کې او بيا په سياسي دفتر او هلته په يوه تن عمومي منشي پورې چې په واقعيت کې د ټول لوړ نظام واکمن و، متمرکز و چې د واکمنۍ موده يې ټاکلې نه وه. خلقي لويانو خپل نظام لږ و ډېر د بلشويکانو په بڼه په پښو ودروه. دوی د بلشويکانو غونډې هم د تشدد ايډيالوژي غوره کړه. په واقعيت کې دوی ته شوروي اتحاد او په ځانګړې ډول لنين سرمشق شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور محمد تره کي د ثور په اتلسمه د افغانستان راډیو نه د «اساسي کرښو» په نامه یوه وینا واوروله چې په هغې کې د باندینیو او د ننیو چارو په اړه اساسي ټکي بیان شول چې په هغو کې د خلکو ګډون، د فیوډالي او د هغه د مخه اړیکو د منځه وړل او د دولتي سکتور د پیاوړتیا ژمنې ورکړل شوې وې. بله مهمه ژمنه یې د دولت د دستګاه تصفیه وه. د اتم ټولګي کانکور لغوه شو، د کانکور وهلو له پاره بسپنه راټوله شوه او د بسپنو په پیسو د هغو له پاره یوه لیسه پرانستل شوه او جنایي بندیان خلاص شول خو زیاتره سیاسي بندیان خوشي نه شول. حکومت د انقلابي شورا په نامه د جوزا د میاشتې تر دوه ویشتمې پورې پنځه فرمانونه یو پر بل پسې وایستل. د دولتي تشکیلاتو په ترځ کې انقلابي نظامي محکمه د انقلابي ضد عناصرو له پاره جوړه شوه او د عسکري اصولنامې له مخې اکسا ته د تورنو په محکمه کولو کې ډېر واک ورکړل شو. کاکړ د انقلابي شورا د ځینو فرمانو په اړه خپل نظر داسې بیان کړی دی:

## د سور بیرغ په اړه فرمان

د کاکړ په وینا د ۱۹۷۸ کال د اګست د میاشتې په ۷مه نېټه د څلورم فرمان له مخې، چې د مخه ایستل شوی و، د کابل په ښار کې نوی بیرغ په ډېر لوړ شان سره جګ شو. د هغه له پاره نه یوازې لوړپوړي ګوندي او حکومتي کسان، بلکې حکومتي ماموران، د لوړو زده کړو د موسسو محصلان، د ښوونځیو زده کوونکي، د کابل ښاریان او د شش کروهي بزګران په ښه تنظیم سره په پښتونستان واټ او د هغه په چاپېر کې سره غونډ شول. د ټولو خلکو شمېر له حسابه وتلی او ډېر و.۶۷۶الف دا یې د بریالیتوب او ویاړ هسکه وه. د بیرغ رنګ تک سور غوره شوی و او په یوه څنډه کې یوازې د خلک کلیمه لیدل کېده او د پاچا امان الله خان د وخت بیرغ چې تور، سور او زرغون رنګ یې درلود او محراب او ممبر هم په کې په نښه شوی و او افغانانو ته د ویاړ او سرلوړی بیرغ و، ترک شو. دی زیاتوي چې ډېرو خلکو سور بیرغ د ملک د کمونیستي کولو په لور د خلقي لویانو لومړی ګام وباله. د پخواني بیرغ د پرېښودو نه هم اندېښنه راولاړه شوه چې افغانانو ته د خپلواکۍ او هویت ویاړلې نښه وه. په دغه حال کې د خلقي بیرغ په نامه د سره بیرغ غوره کول او په ننداره یز ډول د هغه هسکول د خلکو د پارولو نه بل څه نه و. خلک په رښتیا هم وپارېدل، په دې کې حکومت ته څه عملي ګټه هم نه وه، مخالفینو له دې نه ګټه پورته کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ګروی په اړه فرمان

کاکړ وایي چې د سود، سلم او ګروی په اړه شپږم لمبر فرمان د خلقي حکومت په نظر د ستمګرو له جغ نه د خواریکښو بزګرو په ګټه وایستل شو. خو په واقع کې دغه فرمان د دغه مقصد پرخلاف تر زیاتې اندازې د ځمکه والو په ګټه تمام شو. فرمان په هغو پلی شو چې د ۱۹۷۳ د مخه یا تر هغه وروسته یې د پیسو په بدل کې ځمکې په ګروی ترلاسه کړې وې. ګروي په اصل کې دا مانا لري چې ګروي وال به تر هغه پورې د ځمکې د حاصل څخه ګټه پورته کوي تر څو چې د مځکې څښتن د هغه په ګروي ورکړل شوې پیسې بېرته ورکړې نه وي. کاکړ زیاتوي چې د فرمان مهم ټکی دا و چې که ځمکه له ۱۳۵۳ کال د مخه په ګرو اخېستل شوې وي ګروي وال اړ دی له ولاړ فصل نه وروسته ځمکه مسترده کړي او که یې ځمکه په ۱۳۵۳ کال کې اخېستې وي د اصلي پیسو په سلو کې د شل مستحق ګڼل کیږي. که چا یو کال وروسته یا د کودتا په کال ځمکه په ګروي اخېستې وي په سلو کې نوي د خپلو پیسو مستحق دی، هغه هم په پنځه کلونو کې. البته مځکه به په هغه اول کال کې اصلي څښتن ته پرېښودل کیږي.

د فرمان بل مهم ټکی دا و چې یوازې بې ځمکې زراعتي کارګر پوروړي مالکانو ته د سود او پور ورکولو نه معاف دي. د دغه فرمان له مخې له سود او سلم او پور ورکولو نه د بزګرو معافېدل سمدلاسه د هغوی په ګټه تمام شو. خو دغه فرمان د اړتیا په سختو شېبو کې لکه د واده، ناروغۍ او نورو له پاره د پیسو ترلاسه کولو سرچینه وچه کړه. نوموړی دا هم وایي چې په دغه فرمان سره ګټه د هغه چا وشوه چې د ځمکې خاوند و او تاوان هغه چا وکړ چې بې مځکې و او د خپل کار له برکته د پیسو او ګروی مځکې څښتن شوی و. په ګروی والو کې مځکه وال هم شامل وو، خو هغوی تر هغو ډېر لږ وو، چې مځکې یې په خپلو ګټل شویو پیسو سره اخیستې وې. په همدغه ډول افغان کارګرو چې په ایران او عربي هېوادونو کې پیسې ګټلې وې، په وطن کې یې په ګروی سره ځمکې خپلې کړې وې، په دغه فرمان سره د ګروی ځمکې او خپلې پانګې له لاسه ورکړې.

د دغه فرمان یوې بلې برخې پاړول وکړل. دغه برخه د بزګرو د ستونزو د لیرې کولو له پاره په علاقه داریو، ولسوالیو او ولایتونو په مرکزونو کې کمیټې وې، چې په هرې یوې کې د بزګرو دوو استازیو غړیتوب درلود، خو د ځایي مخورو او ځمکه والو په کې غړیتوب نه درلود. کاکړ وایي چې د دې کمیټو ښکاره دنده دا شوه چې د ګروی، سود او سلم نه راپیدا شوې کشالې به هواروي، خو اصلي مقصد یې دا و چې د بزګرو دغه استازي به د ملکانو، خانانو او بېګانو او نورو ځایي مخورو ځای نیسي چې حکومت فیوډال ګڼل او غوښتل یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د خپل ایډیالوژۍ له مخې په افغانستان کې د فیوډالیزم ریښې وباسي.۶۷۷ خو دا کار د افغانستان غوندې په دودیزه ټولنه کې شونې نه وه چې سمدلاسه بېسواده، بې تجربې او د ټولنې د ښکته دریځ غړي ټولنیز شخصیتونه شي. د دې پایله دا شوه چې دودیز ملکان او نور تر ډېره بې اغېزې او د حکومت مخالفان شول. د مځکو د وېش په درشل کې یا بهیر کې ډېر اطرافي مخور بندیان شول یا د منځه ولاړل. په دې ډول هغه د مشرۍ تشه چې په ولس کې پیدا شوې وه، نوره هم ژوره شوه او ټولنه یې ناکراره کړه.

## د ښځو او ودونو په اړه فرمان

د کاکړ په وینا د حکومت اووم لمبر فرمان د ښځو او نارینه وو د برابرۍ او پلارواکي او فیوډالي د غیر عادلو اړیکو د له منځه وړلو په موخه د میزان د میاشتې په ۲۵مه نېټه وایستل شو. د دغه فرمان مهم ټکي دا وو چې هېڅوک نه شي کولی نجلۍ د پیسو یا جنس په بدل کې چا ته په نامه او یا نکاح کړي، یا د واده په وخت کې زوم د ولور په ورکولو او د نورو لګښتونو په کولو اړ کړي، یا له لس شرعي درهم نه چې اندېول یې درې سوه افغانۍ کېږي ډېرې پیسې ترلاسه کړي. په همدغه فرمان سره اجباري واده هم منع وښودل شو او د نکاح ښکته منګ د هلک له پاره ۱۸ کاله او د نجلۍ له پاره ۱۶ کاله وټاکل شو او کونډه به بیا مېړه کولو کې واکمنه وګڼل شوه.۶۷۸ د نورو فرمانونو په پرتله دا یو بې ازاره فرمان و، نه خلکو پرې عمل وکړ او نه حکومت د هغه پلي کول ټینګ ونیول. کاکړ زیاتوي چې که څه هم په نجونو باندې د ولور په نامه پیسې اخېستل کېږي ځینې په دې فکر دي چې په افغانستان کې پلرونه خپلې لونې د پیسو په بدل کې د نکاح په نامه خرڅوي، خو دوی دا په نظر کې نه نیسي چې واده په واقعیت کې یوه ټولنیزه پدیده ده او د ولور یوه برخه په کوزده او په واده کې په ولس لګول کېږي او ودونو د دواړه خواوو کورنیو او د هغوی د خپلوانو تر منځ اړیکې پیدا کوي او سره یې نږدې کوي. په هندوستان کې د افغانانو پرخلاف نجلۍ وال د هلک کورنۍ ته پیسې ورکوي. د دواړو ولسونو دغه سرچپه دودونه د هغو په خوښه وي. دواړه رواجونه ناوړې خواوې لري چې باید ورو ورو له منځه یوړل شي. خلک د پوهې او روښانتیا او د وضعې په اوښتلو سره سوکه سوکه په خپله اوړي لکه چې ډېر وخت کېږي چې په تعلیم کړو افغانانو کې ولور نه اخېستل کېږي او د څو ښځو دود سست شوی دی، خو دوی په ودونو کې لا هم ډېر لګښت کوي چې ورو ورو باید لږ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ځمکو د وېش فرمان

کاکړ د دې فرمان په اړه وايي چې د دغه فرمان نه د حکومت موخه د «فېوډالي» او د «فیوډالي دورې نه د مخه» اړیکو د منځه وړل، د کارګرو او بزګرو تر منځ د یو موټي والي ټینګښت او ژورتیا، او د کرنیز محصول د حجم زیاتوالی وښودل شو. خو د هغه سملاسي موخه سیاسي وه او هغه دا چې حکومت غوښتل د خپلو مخالېفینو پر ضد د بزګرو، کارګرو او نورو خواریکښو ملاتړ ترلاسه کړي. څنګه چې په ټولنه کې بزګران او لږ مځکي مالکان ډېر وو نو حکومت دغه فرمان د دوی په ګټه وایست. خو دغه فرمان په بیړه وایستل شو پرته له دې چې ډېر مهم او پېچلي اړخونه یې په کره توګه وڅېړل شي او د پلي کېدو شوونتیاوې او وسیلې یې په فني ډول برابرې شي.

د فرمان مرکزي ټکی د ځمکه وال کورنۍ (مور، پلار او تر اتلسو کالو پورې اولاد) له پاره د مځکې د اندازې ټاکل و، چې هغه دېرش جریبه اوله درجه مځکه یا د هغې انډوله وه. تر هغې زیاته د دولت مال وګڼل شوه. د بې ځمکو، لږ ځمکو، کرنیزو کارګرو او بې شتو کوچیانو ته د پنځه جریبه لومړۍ درجې مځکې یا د هغې انډوله وټاکل شوه او هغه مستحقانو ته د ملکیت د سند په نامه وړیا ورکول کېده. دا هم په نظر کې ونیول شوه چې د مځکو دغه نوي څښتنان به وروسته په کوپراتیفونو کې تنظیم کیږي او بیا به د دولتي شرکتونو له لارې کیمیاوي سره، اصلاح شوي تخمونه او کرنیز ماشینونه په مناسبو شرایطو ورکول کیږي. همدارنګه د مځکې د وېشلو نه راپیدا شوې کشالې د هوارۍ په موخه د ولایتونو او ولسوالیو په کچه ځانګړې خلقي کمیټې په نظر کې ونیول شوې. د دغو کمیټو پرېکړې اساسي او غوڅې وګڼل شوې. کاکړ وايي چې د مځکې سمون د داسې حکومت له خوا وشو چې مشروعیت یې نه لاره او د ولس د استازو سره یې په دې اړه مشوره ونه کړه. حکومتونو پخوا هم د خلکو مځکې ضبطولې خو هغه لږې او د انفرادي کسانو وې.

امیر عبدالرحمن د افغانستان لومړی واکمن و چې د لومړي ځل له پاره یې د جګو مالیاتو په وضع کولو سره د مځکه والو دودیز ځواک مات کړ. هغه له هغو ځمکو نه چې په روانو اوبو سره خړوبېدلې د حاصل دریمه برخه، له هغو مځکو نه چې په چینو او کارېزونو سره اوبه کېدلې پنځمه برخه او له للمي مځکو نه د حاصل لسمه برخه د دولت برخه وګرځوله. د دولت دغه برخه په جنس سره ترلاسه کېدله او دا د پاچا امان الله په وخت کې و، چې دغه مالیه د جنس نه په نغده بدله شوه.۶۷۹ د محمد داود په وخت کې له مالک نه زیاتي مځکه په پیسو اخېستل کېده او هغه بیا مستحق بزګر ته په پیسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکول کېده. د محمد داود د ځمکو د سمون پروګرام د مترقي مالیې پر بنسټ و. د هغه د پروګرام له مخې د لږو ځمکو خاوندان د مالیې نه معاف وو. هغو مالکانو چې د سلو جریبو نه زیاته مځکه درلوده ډېره مالیه ورکوله. د دغه پروګرام له مخې له سلو جریبو نه زیاتې مځکې ساتل به د مالک له پاره ګرانه تمامېده. نو ځکه دوی د سلو جریبو نه زیاته مځکه د دوی په ګټه وه چې په دولت یې وپلوري. دولت به بیا دغه زیاتي مځکه په مستحقو بزګرانو باندې په لږه بیه خرڅولې او پیسې به یې هم په اوږدې مودې کې په قسطونو سره ترلاسه کولې. له دې امله په ۱۹۷۴ کال کې چې محمد داود د مځکې د سمون اعلام وکړ، ځمکه والو د خپلو زیاتي مځکو په پلورلو پیل وکړ. ځینو یې په نورو لارو هم خپلې مځکې له سلو جریبو نه ښکته کړې او په دې ډول یې د درنو مالیاتو د ورکولو نه ځانونه خلاص کړل او خپلې مځکې یې هم له لاسه ورنه کړې.

کاکړ وایي چې د اتم لمبر د فرمان د پلي کېدو ستونزې درلودې. یوه ستونزه دا وه چې د مستحقو بزګرانو شمېر ډېر او د هغه پرخلاف د وېش وړ مځکې لږ وې. له همدې امله به و چې دوی د محمد داود د مځکې سمون په پام کې ونه نیو او مځکه والو ته یې لږ مځکه (۳۰ جریبه) پرېښوده او بزګرو ته یې د مځکې وړې ټوټې (۵ جریبه) ورکړې. په دې توګه د کرنې میکانیزه کېدل ګران شول. د مځکو په ټوټو کولو سره د مځکې حاصل هم لږیږي.

کاکړ وایي چې د کرنیزو حاصلاتو او د حکومتي مالیاتو د زیاتوالي او د هېواد د ودانولو له پاره یوه ښه لار دا ده چې د بندونو جوړولو او د کارېزونو په کیندلو هغه پراخې مځکې چې د مقر نه د لوېدیځ په لور ان تر هرات پورې او له هندوکش نه پورته او نورو سیمو کې پراتې دي، د کر کیلې له پاره برابرې شي او بې ځمکو او نورو اړو کورنیو ته دومره مځکه په لږه بیه ورکړل شي چې د ژوند له پاره یې بسنه وکړي. د اوبو بندونه د برېښنا د تولید له پاره هم اړین دي. د افغانستان لوی او واړه سیندونه د هېواد د سمسورتیا او د خلکو د ژوند د ګټې د لوړولو له پاره غټې سرچینې دي. د اوبو د سرچینو مدیریت کولی شي چې دا مسلې هوارې کړي.

کاکړ دا هم وایي چې خلقي حکومت د «فیوډالو» ځپل د فرمان په پلي کېدو سره پیل کړل. خو څنګه چې ځمکه ډول ډول وه او ملکیت هم د شرعي او هم عرفي سندونو له مخې او نوې ابادې شوې مځکې بې سنده ملکیت وې د مځکې د سمون پروګرام پېچلی کاوه. برسېره پر دې د مځکې سروې او کچل (اندازه کول) او بیا له ټاکل شوې اندازې نه د زیاتي مځکې بیلول او هغه په نورو وېشل د مسلکي او فني کدرونو شتون د پروګرام د بریالیتوب له پاره اړتیا لیدل کېږي.خو دغسې کسان ډېر لږ وو. په دې توګه د مځکې د سمون

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروګرام چې په خپله ډېر پېچلی و د کمزورو کدرونو په لاس چې د يوې اوونۍ په کورس کې روزل شوي وو هغه هم په زور او ننداره يز ډول په بېړه سره پلی شو او زياتره د «فيودالو» په سپکاوي سره پيل پرې وشو. دی زياتوي چې په فرمان کې د اوبو تنظيم په نظر کې هېڅ نيول شوی نه و په داسې حال کې چې د مځکې په سمون کې د اوبو تنظيم اساسي موضوع ده. دی دا هم وايي چې شوروي حکومت به د خلقي حکومت سره د سياست له مخې د مځکې د وېش په اړه همکاري نه وي کړې، د دې له پاره چې په هغه کې پاتې راشي او د حکومت کولو چانس پرچميانو ته ورسيږي.

## د ليک او لوست کورسونه

کاکړ وايي چې د ليک لوست پروګرام پلې کولو هم پاروني وکړې. د ليک او لوست د کورسونو سره په پرنسيپ کې خلک مخالف نه وو، چې لويان ليک او لوست زده کړي ځکه چې د دوی له پاره يوه د ژوند موضوع وه. افغانستان د يوه بېرته پاتې هېواد په توګه د بې سوادۍ له موضوع نه کړېده او د دې هېواد نارينه او تر هغو لا زيات ښځې په لوړه کچه سره په ليک او لوست نه پوهېدلې. د کودتا نه وړاندې هم د افغانستان په خلکو کې د ښوونځيو د زده کړې شوق تر دې اندازې لوړ و، چې د کليو خلکو هم نه يوازې د هلکانو، بلکې د نجونو د زده کړې ښوونځي غوښتل او حکومت د مځکې او کار په بنه د خلکو په مرستې سره ان په ډېرو لېرو سيمو کې د نجونو او هلکانو ښوونځي جوړ کړي وو. په خلکو کې د ليک او لوست احساس له دې کبله هم غښتلی او پياوړی و، چې د نويو ښوونځيو په پرانستلو او په عمومي ډول د عصري پوهنې په دودولو کې د خلکو ارزښتونه په نظر کې نيول کېدل او د پاچا امان الله د وخت د ترخو تجربو په نظر کې نيولو سره د عمومي ارزښتونو په مخالفت څه نه کېدل. خو خلقيانو دغو واقعيتونو ته ونه کتل او دغه متل يې له ياده وايست چې «افغانان په هڅونې سره دوزخ ته ننوزي خو په زور سره به جنت ته هم لاړ نه شي.»۶۸۰ څرنګه چې د يوې خوا د ښځو له پاره ښځينه ښوونکې نه وې يا لږ وې او د نارينه برخورد احساساتي او د خلکو د دودونو سره سم نه وو نو په ټول هېواد کې د ښځو د کورسونو سره مخالفت عام و. ګونديانو د دې پروا نه کوله چې «په افغانستان کې نارينه د خپلو کورنيو واکمنان دي، چې ښځې خپل ناموس ګڼي او سپکاوی يې نه زغمي.»۶۸۱ نو کورسونو ته په زوره کشول دوی ته عملي ګټه نه لرله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بندي توب او جزاګانې

په افغانستان کې د عبدالرحمن د واکمنۍ د مخه رسمي بنديتونونه نه وو، لکه چې د رسمي دفترونو له پاره ودانۍ هم نه وې، واکمنو له پخوا نه د اطراف د زورورو کورنيو زامن په کابل کې د يرغمل په توګه ساتل. د امير عبدالرحمن د واکمنۍ پر مهال بنديان په بالاحصار، ارګ او کوټوالۍ کې ساتل کېدل. له ځينو سرايونو او حکومتي ځايونو نه هم د بنديانو د ساتلو په توګه کار اخېستل کېده. په بالاحصار او ارګ کې بنديان تورو ځاګانو ته اچول کېدل. بيا په دهمزنګ کې لوی بنديتون جوړ شو چې د هغه له وړو او نمجنو کوچنيو کوټو څخه ان د څرخي پله د لوی کانکرېټي بنديتون تر جوړېدو پورې کار اخېستل کېده. د امير عبدالرحمن په وخت کې دومره افغانان بنديان شوي وو چې واقعي شمېر يې شايد حکومتي چارواکو ته هم مالوم نه وو.

د کاکړ په وينا د امير عبدالرحمن د دورې نه وروسته د ثور کودتا پورې هم له بنديتونونو کار اخېستل کېده. د محمد هاشم خان په اولسو کلونو کې ډېر خلک بنديان شول. يوازې د پاچا امان الله خان او پاچا محمد ظاهر خان په قانوني لسيزه کې د محکمې د حکم پرته افغانان د حکومت د سياست سره د مخالفت له امله نه بندي کېدل. د محمد داود د صدراعظمۍ او بيا د جمهوري رياست په وختونو کې سياسي بنديان تر جنايي بنديانو په شمېر کې ډېر وو. په دې برخه کې خلقي او پرچمي حکومتونه د افغانستان تر هر بل حکومت نه د مخه لاړل.

د افغانستان د حکومتونو يوه ځانګړتيا دا ده چې د امن په حال کې هم نه يوازې د فعالو، بلکې د بالقوه مخالفانو ځپل دي. هغو حکومتونو چې دولتي واک يې په زور سره نيولی او بيا يې هغه د امنيت، خدمت او پرمختګ په نامه ځانله منحصر کړی دی، هم داسې کړي دي.

په افغانستان کې د پاچا امان الله او پاچا محمد ظاهر له قانوني واکمنۍ پرته د څه کم سلو کالو په بهير کې لږ و ډېر همداسې شوي دي. په دغې مودې کې د فرد حيثيت او ژوند د حکومتي قدرت په وړاندې، چې د پوليسو، سرتېرو، حاکمانو او عدلي محکمو په بڼه څرګند شوي، بې اهميته شوي دي. په داسې حال کې چې د حکومت د پياوړتيا د مخه افغانان د ازادۍ له لوړې درجې نه برخمن وو. په پايله کې په افغانستان کې فردي وړتيا چې د نامحدود انکشاف ظرفيت لري انکشاف نه دی کړی يا په پوره اندازه انکشاف نه دی کړی. ځينو چې ځلا کړې ده، په حکومتي چوکاټ کې د ننه يې لرلې ده. خو څنګه چې حکومتي چوکاټ په اصل کې محدود وي، د دغسې افرادو انکشاف هم محدود و. د دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



محدودیت پایلې هغه شوې چې انګلیس فیلوسوف جان سټوراټ مل څه باندې یوه پېړۍ د مخه د هغو وړاند وینه کړې وه. هغه ویلي و چې په اوږدې مودې کې د دولت ارزښت د هغو افرادو ارزښت دی چې دولت ترېنه جوړ وي او هغه دولت چې خپل افراد کوچني کوي که څه هم هغه به د ګټورو موخو له پاره وي وبه مومي چې په وړو انسانانو سره لوی کارونه نه تر سره کېږي،

د سټوراټ مل د مخه جرمني فیلوسوف ایمانویل کانت ویلي و چې هېڅ انسان باید د بل انسان د لاس اله ونه ګرځول شي. فرد او ژوند ته د دغه اهمیت او ارزښت د قایل توب له امله ده، چې یهودو په لرغوني مذهبي او مدني قانون تالمود کې راغلي، چې هغه څوک چې یو ځانګړی ژوند ژغوري لکه چې ټوله نړۍ یې ژغورلې وي او هغه څوک، چې یو ځانګړی ژوند له منځه وړي، لکه چې ټوله نړۍ یې د منځه وړې وي. له دې کبله یو یهود بل یهود نه وژني او په زیاتو لوېدیځو هېوادو کې زندی کول غیر قانوني دي. دغه فکر د یوې روغې ټولنې دپاره ډېر مهم دی ځکه چې غړي ته دا شونې کوي چې د ژوند د ښه کولو دپاره رغنده او نوښتي کارونه وکړي. د لوېدیځ دغه حیرانونکې پرمختیا شاید په اصل کې د همدغه فکر له مخې د ژوند کولو پایله وي.

خو په اسلامي هېوادو کې یو مسلمان بل مسلمان وژني. وژنه په پښتنو کې شاید تر بل هر ملت نه ډېره وي. یو پښتون نه یوازې بل پښتون وژني، بلکې د خپلې کورنۍ غړي هم وژني. وژنه د دوی د کلتور په تېره د تربورۍ او ګوندیمارۍ غټه ځانګړنه ده. دا شاید د پښتنو د بېرته پاتې توب او کمزورۍ اصلي لامل وي. په دغسو وژنو سره ولس د خپل د سر او د کار د سرو د فکر، عمل او خدمت نه بې برخې کېږي. دغسې وژنې د ثور د کودتا نه وروسته بیخي ډېرې شوې دي. د سر پښتانه د تربورۍ او ګوندي مارۍ او داسې د ملتونو له خوا او په دې وروستیو کې د ایډیالوژیکي او مذهبي سخت دریځو له خوا وژل شوي دي. خلقي حکومت د ملي مصؤنیت اداره له منځه یوړه او د ک ج ب ډوله اګسا یې تنظیم کړه چې په بندي کولو، کړولو او وژلو یې او هغه هم د محکمې او شواهدو پرته لار یې وټاکله.

## اګسا او اسدالله سروري

کاکړ وایي چې اګسا (د افغانستان د ګټو ساتندویه اداره) د ملي مصؤنیت د ادارې پر ځای جوړه شوه. د اګسا سروال اسدالله سروري و. سروري د اګسا له لارې د افغانانو په بندي کولو، کړولو، او له منځه وړلو کې د امیر عبدالرحمن د وخت له نایب کوتوال

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرسلطان (افشار) سره پرتله کېدای شي. (زما لیکوال وزیري په اند وروسته نجیب الله د خاد له لارې تر دوی وړاندې شو.) میرسلطان په امنیتي او جزایي چارو کې د مطلق اختیار خاوند و. د هغه د دغه مطلق اختیار نه په پراخې استفادې سره ناراضي توب تر دې حده پورې عام شو چې په پای کې حکومتي لوړو چارواکو امیر ته څرګنده کړه، چې د هېواد نارامي د هغه د بېرحمۍ له امله وه. له همدې امله میرسلطان په پغمان کې په دار وځړول شو.

دی زیاتوي چې اګسا د عصري تخنیکي وسیلو، بېحده اختیار او د بوګدانوف په مشرۍ د شوروي ماهرانو په لرلو سره دغومره پیاوړې او په خپل سر شوې وه، چې له یو څو کسانو پرته بل هر څوک یې بندي کولی شو، بې له دې چې له کوم مقام نه یې اجازه ترلاسه کړې وي. سروري د اګسا له لارې ان د صدراعظم حفیظ الله امین د منځه وړلو له پاره څو ځله تجویزونه نیولي وو، چې نابریالي شول.۶۸۲ په دې ډول اګسا له دغسې اختیار نه بهره منه وه، چې چارواکیو یې په تېره سروري د نظام د مخالفینو په ځپلو کې هر هغه څه کول، چې یې لازم ګڼل. که څه هم هغه د داسې ادارې د چلولو له پاره تجربه او وړتیا نه لرله خو د شوروي سرمشاور په مرسته یې د نظام په یو بې جوړې پیاوړي مرکز باندې بدله کړه.

کاکړ لیکي چې د ثور په دیارلسم ماښام نږدې په نهو بجو د پخواني حکومت د سر کسان په څرخي پله په پولیګون کې ووژل شول. په دغو کسانو کې موسی شفیق پخوانی صدراعظم، د بهرنیو چارو د وزارت مرستیال سید وحید عبدالله، د عدلیې وزیر او لوی څارنوال وفي الله سمیعي او نورشامل وو.

موسی شفیق د مصر په ازهر پوهنتون کې د لېسانس او ماسټرۍ ډیپلومونه او بیا د ممتاز محصل په توګه د امریکې د کولمبیا د پوهنتون نه ډیپلوم لاس ته راوړ. په دې توګه دی د اسلامي او غربي حقوقو متخصص و. دی په پښتو، فارسي، انګریزي، عربي او فرانسوي پوهېده. شاعر، لیکوال، نطاق، داستان لیکونکی او نوښتګر انسان و. د ۱۳۴۳ کال د قانون په ایستلو کې یې د صمد حامد، سید شمس الدین مجروح او نورو سره ونډه واخېسته. د خپلې صدراعظمۍ په وخت کې موسی شفیق په دې لټه کې و، چې افغانستان په شوروي اتحاد باندې په زیاتېدونکې خطرناکې اتکا نه وژغورل شي او ایران او پاکستان ته په نږدې کولو سره د لوېدیځ په خوا واړول شي. خو محمد داود زر پرې کودتا وکړه. چپي ګوندونه ورسره مخالف او پرچمیان ورسره دښمنان وو. هغه شاید د کودتا وروسته د کارمل په امر وژل شوی وي. په یوه روایت سره موسی شفیق تر کودتا وروسته د دې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای چې له هېواد نه ووځي، د تره کي دفتر ته د مبارکۍ له پاره لاړ. تره کي ورته د ویشو زلمیانو د وخت نه دغومره نږدې دوست و، چې فکر یې نه کاوه چې د ده په واکمنۍ کې به ده ته زیان ورسیږي. خو تره کي دغه وخت په دفتر کې نه و او ده خپل د پېژندوالۍ کارت ورته پرېښود او هغه د کارمل لاسته ورغی. ببرک د تره کي په نشتوالي کې د هغه د نیولو امر صادر کړ چې وروسته ووژل شو. دا یوه ستره ضایعه وه ځکه چې هغه د شوروي یرغل نه وروسته په دغه بحراني مهال کې د هغه اعتبار له مخې چې په عربي او لوېدیځو ملکونو کې درلود کولی شول چې وطن ته اساسي خدمت وکړي.

وفي الله سمیعي چې د ازهر پوهنتون کې یې لوړې زده کړې کړې وې یو وتلی عالم او د اصولي عمل سړی و. دی د کابل د پوهنتون رییس او بیا د عدلیې وزیر شو. دی د یو اعتدالي مسلمان په توګه د کمونیزم مخالف او د عربي هېوادونو سره د افغانستان د نږدې کولو په سیاست ټینګ ولاړ او وحید عبدالله له لوېدیځو هېوادو سره د افغانستان د نږدې کولو د سیاست ټینګ پلوي و.

کاکړ وایي هغه روحانیون چې د ثور د کودتا نه وروسته پاکستان ته واوښتل، ژوندي پاتې شول لکه د ګیلاني کورنۍ مشران او د تګاو میاګل جان او داسې نور. هغوی چې د ننه په وطن کې پاتې شول، لکه مجددیان ژوند یې له خطر سره مخ کړو. په یوه روایت د ګیلاني کورنۍ مشر د شلمې پیړۍ په سر کې له بغداد نه افغانستان ته راغی او امیر حبیب الله خان ورته په سره رود کې مواجب مقرر کړل. دی چې د نقیب صاحب یاني د قوم مشر په نوم یادېده، د قادریه صوفي طریقې پیرو و، ورو ورو یې په ځانګړې توګه په پښتنو کې نفوذ وکړ او په ننګرهار او پکتیا کې یې ډېر پلویان موندل، خو دوی د مجددیانو پرخلاف له ملي سیاست سره علاقه من نه وو. د ثور د کودتا په وخت کې سید حسن ګیلاني د دغې طریقې مشر و.۶۸۳

مجددیان په افغانستان کې تر ګیلانیانو نه اوږد تاریخ لري. په یوه روایت د مجددیانو موسس شیخ احمد سرهندي و، چې په ۱۵۶۴ کال کې پیدا شوی او د هندوستان په سرهند کې مړ شوی و. دی د مجدد الف ثاني په لقب یادېده، په دې مانا چې د مسلمانانو په عقیده له یوې اوږدې مودې یا زر کال نه وروسته دغسې یو مصلح هسک کیږي، چې اسلام اصلي اصلونو ته په رسولو سره نوی او پیاوړی کوي. د دغه سرهندي یو لیرې ځای ناستی قیوم جان مجددي له هندوستان نه په نولسمې پیړۍ کې افغانستان ته مهاجر شو او د کابل ښار په شوربازار کې یې واړول او یوه مدرسه یې هلته پرانېستله. کورنۍ یې د له هغې وروسته د شوربازار حضرت په نامه یاده شوه او په خلکو په تېره د ښار په کسبګرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په غلزي پښتنو او په ځانګړې توګه په سلیمانخېلو کې یې نفوذ وکړ. دغې کورنۍ په هرات، لوګر او غزني کې ځانګې وکړې.۶۸۴ په کابل کې دغه کورنۍ وروسته له شوربازار نه د قلعه جواد کلي کې هستوګنه شوه او هغه یې د خپلې طریقې مرکز وګرځاوه. څنګه چې مجددیان د خپلې صوفي طریقې په حکم، چې د نفوذناکې مذهبي ډلې په بڼه یې ساتنپالي کوله، په دولتي واکمنو او چارواکیو باندې فشار راوړ، چې د شریعت په رعایت کې ټینګ وي، نو دوی د افغانستان په سیاسي ژوند باندې ډېر اغېز کړی دی. تر ډېره حده پورې د دوی د مخالفت له امله و، چې د افغانستان لوی مصلح پاچا امان الله له افغانستان نه د تل له پاره په وتلو اړ شو او اصلاحي پروګرامونه یې په ټپه ودرېدل.۶۸۵ له هغه وخت نه د ثور تر کودتا پورې په داسې حال کې، چې مجددیان په حکومت کې هم غټه ونډه لرله، دوی د ملتپالو، سمون او نویتوب غوښتونکیو افغانانو په نظر د پرمختګ او ملتپالنې مخالف ګڼل کېدل. صدراعظم محمد داود خان هم په همدغه فکر و. دی د یحي خېلو د واکمنې کورنۍ لومړنی مهم غړی و چې په څرګنده یې په همدغسې ویل. دغه فکر په خلقیانو کې هم قوي و. د همدغه فکر له مخې به و چې د ۱۳۵۷ کال د دلوې د میاشتې په ۲۹مه حضرت ضیاءالمشایخ ابراهیم مجددي او کورنۍ یې بندي شول. په همدغه وخت کې د کوهستان، هرات، غزني، ننګرهار او کندهار مجددیان هم ونیول شول، چې په زیات ګومان سره وروسته د منځه یوړل شول. د دوی ډېر نومیالي د هرات پخوانی سناتور عبدالباقي مجددي او د ننګرهار فضل احمد مجددي وو. دا چې څومره مجددیان له منځه وړل شوي دي مالومه نه ده. ټول شمېر یې اټکل نږدې اتیا تنو ته رسېږي. دغسې مرګونې ګوزار په افغانستان کې په مجددیانو باندې بل هېڅ وخت شوی نه و. نقشبندیان د لومړي ځل له پاره په ۱۸۸۸ کال کې کله چې یې والي سردار محمد اسحاق د امیر عبدالرحمن په مقابل کې یاغي ګرځ ته هڅولی و، له منځه وړل شوي وو.۶۸۶

## د حکومت پرضد لومړني اعتراضونه

درې اسلامي تنظیمونه، چې د نوي حکومت ټینګ مخالف و، د محمد داود د حکومت په وړاندې له ناکامه پاڅونونو نه وروسته له اعتبار نه لوېدلي او مشران یې په پېښور کې اوسېدل. چین پلوي شعلیان یا ماویستان او نورې چپې ډلې هم د نوي حکومت سختې مخالفې وې، خو د هغه سره یې د ښکاره مقابلې توان نه درلود. دوی د پټو مخالفتونو او تخریبونو لار ونیوله، خو د حکومت لاس په ټولو بر و. کاکړ وایي چې دغه لاس بری د پوځ او ګوند په سبب و. سره له دې چې په پوځ کې چې اخواني او ملت پال افسران ډېر وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت په دغه حال کې هم په پوځ او هم په ټولنې کې د ماويستانو، اخوانيانو او «تنگ نظره نښنالستانو» په ځپلو پيل وکړ.

افغان ټولنه چې د محمد داود د کودتا نه وروسته د حکومتي پرچميانو په کړو سره تاوجنه شوې وه، د ثور د کودتا نه وروسته د خلقي لويانو په کړو سره نوره هم کړکېچنه شوه.

د ثور د کودتا نه پنځه ورځې وروسته د ثور د مياشتې په ديارلسمې د پکتيا د زېړوک ولسوالي کې ځدران د حکومت په وړاندې جگ شول او پرچمي علاقه دار او يو څو خلقي ښوونکي يې ووژل. څلور ورځې وروسته د پکتيا د وزې ولسوالۍ هم د لږ وخت له پاره د حکومت د کنترول نه ووتله.۶۸۷ تر هغه لوی پاڅون د پيچ ولسوالۍ د ننگلام د خلکو وو چې د ثور په اوېشتمه وشو. خلک په ظاهر کې د پېچ نوي ځايي ولسوال د کړنې له امله چې يو نفوذمن روحاني يې سپک کړی و، د پيچ اوړده دره وپارېده.

حکومت د گوندي او حکومتي فعالانو له لارې په ټول هېواد کې قومونه، مذهبي او ټولنيزې ډلې او حکومتي ماموران وهڅول، چې د انقلاب په ملاتړ لاريونونه وکړي. همدارنگه د ټول ملک نه يې قومي او مذهبي مشران او مخور کابل ته رابلل او هلته يې د نورمحمد تره کي او امين سره ليدل. تره کي ولسي مخورو ته په ويناوو کولو سره خپل حکومت او گوند ته بې ساری خدمت وکړ. هغومره چې دی په دغه وخت کې وځلېد، بيا هېڅکله ونه ځلېد.

## د خلقي دولت پرضد د خلکو پاڅونونه

کاکړ د خلکو پاڅونونو ته پنځم څپرکی ځانگړی کړی دی. دی وايي چې خلقي حکومت د باندينيو فکرونو او طريقو پر بنسټ چلول کېده او واک د دغسې گوند په انحصار کې و چې غړي يې په حکومتي چارو کې بې تجربې او دوی خپل مخالفين ځپل. په پای کې افغانستان په دغې مودې کې په زياته اندازه د پاڅونونو، وژنې، ځپلو، بندي کولو او کړولو ډگر شو. که څه هم د گوند واکمنه ډله لا هم په هېواد واک چلاوه خو په پای کې شوروي اتحاد په خپل نظامي پوځ وځپله.

د سره بيرغ د پورته کېدو وروسته د هېواد په ډېرو سيمو کې ډېر واړه او لوی پاڅونونه وشول چې حکومت هغه په زيات گړنديتوب سره وځپل. کاکړ په خپل کتاب کې د هرات، بالاحصار، اسمار، دره صوف، پلخمري او د چندول پاڅونونه بيان کړي دي چې لوستونکي کولی شي د کاکړ په کتاب کې ولولي. زه به دلته يوازې د هرات په پاڅون رڼا

(c) ketabton.com: The Digital Library



واچوم.

## د هرات پاڅون

کاکړ وايي چې «هرات په یوې شېرازې سیمې کې پروت او د هریرود او نورو ډېرو ووړو رودونو نه بهره من دی. د لرغوني زماني راپه دېخوا د انسانانو ټاټوبی دی. لرغونی نوم یې «اریا» یا «هري» و. دغه نوم په اصل کې د هریرود د نوم نه اخېستل شوی چې لرغونی نوم یې هریوه (Harivo) یا اریوس (Arius) و او په اسلامي دوره کې هرات شو. لهر اسپ یې بنسټ ایښی، ګشتاسپ پراخ کړی، بهمن ښه کړی او لوی سکندر بشپړ کړی دی.»۶۸۸ د ځایي روایت له مخې د ښار زړی د شمېران په نامه یو ځای و، چې وروسته یې ځای هزار جریب ښار ونیو، خو هزار جریب زر ترک شو او شمېران بېرته ښار غوره شو او لوی شو. د تاریخ په بهیر کې په هرات کې سلطنتونه جوړ شوي او بیا باندینیو ړنګ کړي او ښار یې وېجاړ کړی دی، خو ښار هر ځل د خلکو په همت او د نهرونو او د سیمې د شېراز توب له امله بېرته ودان شوی او لا ښه شوی دی.۶۸۹

د ۱۳۵۷ کال د حوت د میاشتې په ۲۴ نېټه د هرات په ښار کې اوولسم لمبر فرقې پاڅون وکړ چې د کاکړ په وینا شپږ زره سرتیري یې درلودل. کاکړ د هرات د پاڅون په اړه وايي چې په هرات کې خلک دومره د مځکې د وېش په پروګرام سره نه وو توربدلي لکه د چاروااکو په زبر. چلند سره او په ځانګړې توګه د لیک او لوست د زده کړې کورسو ته د نارینه وو او ښځو کشول وو. دی د هرات د فرقې د ناکرارۍ د نورو قطعو غونډې اصلي لامل دا بولي چې د ټیټو رتبو ګوندي افسران په لوړو مقامو ګومارل شوي وو. بل لامل یې شوروي مشاوران بولي چې د دوی په مشوره د لوړو رتبه افسرانو واک کم شوی وو.

## د تره کي- امین دښمني او د اندروپوف شیطاني

کاکړ وايي چې د نورمحمد تره کي او حفیظ الله امین تر منځ اختلاف د توقع پرخلاف و. دوی دواړو د نږدې نه سره پېژندل. امین تره کي ته ډېر درناوی کاوه. په واقعیت کې ټولو ګوندي غړو تره کي ته ډېر درناوی کاوه او نوموړی د ټولو ګوندي مشرانو نه مشر و او ګوند په اصل کې د ده په نوښت او پرله پسې زیار سره جوړ شوی و. که څه هم دی د عبدالکریم میثاق په شان د لرې منظمې زده کړې خاوند و. امین د تره کي په وړاندې ځان د «وفادار شاګرد» یادوه خو په مهارت سره یې کوښښ کاوه چې د هغه قدرت کم او خپل قدرت زیات کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تره کي او امین تر منځ اختلاف د هرات د پاڅون نه وروسته پیدا شو چې د کې جي بې د چارواکو په لمسونې سره په مرګکۍ دښمني بدل شو. د کې جي بې سروال اندروپوف په دغسې کوښښونو پیل وکړ چې کارمل د امین پر ځای په واک شي. د کې جي بې چارواکو له همدغه وخت نه تر پوځي یرغل پورې په کابل کې حیرانوونکې دسیسې وکړې. د شوروي حکومت د اول نه د خلقي حکومت په راتلو خوښ نه و. شورویانو کوښښ وکړ چې واک پرچمیانو ته ولېږدوي خو بریالي نه شول. خو بیا هم پرچمیان په تمه وو چې شورویان به یې واک ته ورسوي.

د دوی زیاتره لویان د شوروي اتحاد منونکي ایجنټان وو. په خپله کارمل د «مرید» په نوم د دوی ایجنټ و. نو دوی ځکه تر خلقیانو زیات شورویانو ته د باور وړ وو. «خلقیان که څه هم مسکو پلوه وو، خو د شورویانو په دستور یې حکومت نه کاوه. د کې جي بې ټولې دسیسې د امین پرضد وې، خو امین نه یوازې دغه دسیسې شنډې کړې، بلکې ځان یې د ګوند او دولت د سروالی مقام ته ورساوه.»۶۹۰

## په کریملن کې خلقي او شوروي لویان

کاکړ وایي چې د مخه مو وویل چې شوروي حکومت له اول سر نه د خلقي حکومت په هسکېدو خوښ نه و. برېژنف خپله دغه ناخوښي د ۱۹۷۸ کال د دسمبر په میاشت کې هغه خلقي پلاوي ته څرګنده کړه چې د تره کي په مشرۍ مسکو ته رسمي سفر کړی و. په کریملن کې د دسمبر د اوومې نېټې د دواړو پلاویو په رسمي غونډه کې د برېژنف او تره کي تر منځ هغسې لفظي ټکر پېښ شو، لکه چې یو کال د مخه د ولسمشر محمد داود او برېژنف تر منځ پېښ شوی و. کاکړ دغه ټکر په زیاته اندازه د افغان پلاوي د مطبوعاتي غړي خیال محمد کټوازي د یوې لاسي لیکنې له مخې بیانوي. په دې غونډه کې نورمحمد تره کي دا یادونه کوي چې افغانانو د دې له پاره په خپل هېواد کې انقلاب کړی دی چې دا وروسته پاتې هېواد اباد او د خلکو ژوند بسیا کړي. د دې موخې د پلي کولو له پاره موږ اقتصادي مرستو ته زیاته اړتیا لرو. زموږ د دوستی درجه به د نورو هېوادو سره د هغوی د بېغرضو مرستو په اندازه پورې تړلې وي. له دې کبله موږ د شوروي مشرتابه په بلنه ستاسو هېواد ته په دې منظور راغلي یو چې زموږ د هېواد د اقتصادي ودې د پروژو په جوړولو کې به زموږ ګاونډي هېواد د پام وړاقتصادي مرسته وکړي. د دې خبرو په جریان کې برېژنف د نورمحمد تره کي خبرې پرېکوي او ورته وایي چې د وروری، دوستی او مرستو خبرې پرېږده او خپل سیاسي اختلافونه د طرح کړه چې د شوروي اتحاد سره یې لری. نورمحمد تره کي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بریژنف د دې بې ځایه لاسوهنې له امله رنګ سور او په تندی کې یې د قهر نښې څرګندې شوې، خپله رسمي وینا یې پرېښوده او ځان یې دې ته چمتو کړ چې د بریژنف د دې لاس وهنې په وړاندې غبرګون وښایي. خو په دې وخت کې امین، چې د تره کي څنګ ته ناست و، د تره کي څخه اجازه غواړي او د بریژنف په ځواب کې په جدي لهجې سره وایي چې موږ د شوروي اتحاد سره هېڅ سیاسي اختلاف نه لرو که شوروي لوری د افغانستان د ډموکراتیک جمهوریت سره کوم سیاسي اختلاف لري نو شوروي لوری دې طرح کړي. بریژنف خپلو ملګرو ته وکتل، شونډې یې وځړېدې او د ځواب ویلو یې ډډه وکړه.

نورمحمد تره کي بېرته د خبرو مزی په لاس کې ونیو نو په جدی توګه یې وویل افغانستان د اقتصادي ودې په داسې وروسته پاتې پړاو کې دی چې تر هر څه د مخه بهرنیو مرستو ته اړتیا لري. موږ په دې هیله په خپل هېواد کې انقلاب کړی چې په هغه کې ژور او هراړخېز بدلونونه منځ ته راشي. خو موږ ته د بهرنیو هېوادونو سره د دوستی معیار اقتصادي مرستې دي. موږ ګومان کاوه چې شوروي اتحاد زموږ ګاونډي او دوست هېواد دی شاید د افغانستان په وده او پرمختګ کې به له هېڅ ډول مرستو او همکاریو څخه ځان ونه سپموي نو ځکه موږ شوروي اتحاد ته ستاسې په رسمي بلنه سفر وکړو. خو که تاسې ته د مرستو او دوستی یادونه ښه نه ښکاري نو موږ د خبرو له پاره نور هېڅ نه لرو.

نورمحمد تره کي ددې خبرو د پای ته رسولو سره سم بې له دې، چې د بریژنف غبرګون څه دی، له خپل ځای څخه ولاړ شو او د میز د غاړې څخه راووت، ورسره پلاوی غړي یې ټول راپورته شول. په دې وخت کې پاناماریوف د ګوندي چارو د بهرنیو اړیکو رییس په بېړه بریژنف ته ورنږدې شو او په غوږ کې یې پس پسی ورسره وکړ او په چټکی سره د تره کي په لور راوګرزېد. ده هڅه وکړه چې غونډه بېرته عادي بڼه ونیسي خو ګټه یې ونه کړه او غونډه د کومې پایلې او نتیجې څخه پرته پای ته ورسېده.

د اوسېدو ځای ته راوګرزېدو او هلته تره کي وویل چی موږ به هڅه کوو چې د خپلو امکاناتو له مخې خپل وطن او ټولنه ابادکړو. تره کي صاحب زیاته کړه چې سبا به په شپېږ بجو بېرته وطن ته ستنېږو خو د حفیظ الله امین او د ورسره پلاوي غړو او هم د کاسیګین په هڅه ددې مخنیوی وشو چې افغاني پلاوی خپل رسمي سفر پرېکړي. بریژنف هڅه وکړه چې په هغې مېلمستیا کې چې د شوروي اتحاد د مشرتابه له خوا د افغاني پلاوي په ویاړ جوړه شوې وه، نورمحمد تره کي خوشاله کړي او ډېر ځله یې د هغه په سلامتیا جامونه پورته کړل خو تره کي ترپایه خپل عادي حالت ساتلی و.

شورویانو به شاید د اواز د ثبتولو الات د مېلمنو په استوګنځي کې ایښي وي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلاوي خبرې به وررسېدلې وي. نو ځکه يې د افغانانو د تېرايستلو له پاره ځانونه زښته خواږه کړل او د هر راز مرستې وعده يې کوله. په دې سفر کې د افغانستان د ډموکراټيک جمهوريت او شوروي اتحاد تر منځ د دوستۍ اومتقابله مرستو لوزنامه د دسمبر په پنځمه نېټه لاسليک شوه چې بيا وروسته هغه مهال، چې شوروي اتحاد افغانستان د وسله وال يرغل په نتيجه کې ونيو، د يوې تبليغاتي وسيلې په حيث وکاروه چې زموږ د هېواد نيواک قانوني وبولي. په دې ترتيب شوروي اتحاد پورتنۍ لوزنامه د خپلو استعماري موخو ته د رسېدو له پاره په کار يوړه. کاکړ وايي چې دا شايد هغه تصادف وي چې هم محمد داود او هم خلقيان هر يو له کريملن سره له ټکر نه يو کال وروسته نسکور شول.

## د تره کي- امين د اختلاف پيل

د مخه مو وويل چې د تره کي او امين اختلاف د هرات د پاڅون په بهير کې پيل شو. کاکړ وايي چې کيسه داسې وه، چې د هرات د پاڅون په وخت کې امين د اقبال وزيري په ملګرتيا عسکري کلوب ته لاړ او له هغه ځايه يې د مخابرې دستګاه له لارې د شوروي اتحاد د دفاع وزير ديمتري اوستينوف سره د هرات د پاڅون په اړه وغږېد. اوستينوف امين ته وويل، چې ښه به دا وي چې تره کي په دغه اړه له بريژنف سره په مسکو کې ووينې. هغه دا هم وويل چې د دغه مقصد له پاره به يوه ځانګړې الوتکه درواستول شي او سهار له وخته به له تره کي سره بېرته کابل ته درشي. همدغسې وشول. په مسکو کې تره کي د بريژنف له خوا هڅول کيږي چې د هرات د پېښې نه په ګټه اخېستو امين د ملي وزارت څخه ګوښه کړي. تره کي په بل سهار د انقلابي شورى غونډه کې له امين او اقبال پرته نور، په سفر خبر نه وو، پرته له دې، چې ددې موضوع په اړه يې د چا سره مشوره کړې وي، ناڅاپه غږ کړ چې:«ما اسلم وطنجار د باصلاحيته لوی درستيز په توګه وټاکلو او په خپله به د ملي دفاع وزارت په چارو کې ورسره مرسته کوم.»۶۹۱ په دې توګه تره کي د بريژنف هيله پرځای کړه او امين يې د ملي دفاع د وزارت څخه ليرې کړ. امين د دفاع وزارت سره خپله همکاري پرېکړه. کاکړ وايي چې وطنجار که څه هم په کودتا کې يې د مخکښې رول په بري سره پای ته رسولی و، د امين د همکارۍ نه پرته د دې جوګه نه و، چې د ملي دفاع وزارت چارې ترسره کړي. د ملي دفاع سرمشاور تورن جنرال ګاريلوف په همدغې روحيې سره د وزيري له لارې تره کي ته پيغام واستوه. په پای کې د نورمحمد تره کي او امين نږدې کسان، چې مشخص شوي نه دي، د دوی تر منځ ښکته پورته شول او دوی يې سره پخلا کړل او بيا تره کي د مارچ په ۲۷مه امين لومړی وزير، اسلم وطنجار د ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دفاع وزير او محمد يعقوب لوى درستيز په توګه وټاکل.۶۹۲

کاکړ وايي چې تره کي که څه هم امين د لومړي وزير په توګه وټاکه په خپله يې «لا هم د وزيرانو شورا د غونډو سروالي کوله او امين په دغه کار سره ډېر خپه کېده.»۶۹۳ په خلقي نظام کې د سر په کسانو کې د ټکر شونتيا زياته وه. د کاکړ په نظر لومړی لامل يې دا و، چې نظام نوى او نااشنا و او دغسې قانون يې نه لاره، چې د هغه له مخې د مقامونو صلاحيت او دندو کرښې ټاکل شوې وي. بل لامل يې دا بولي چې په ګډه او ملګرتوب سره د کار د کلتور نشتوالى او د دوی تر منځ ځانپالنې او سيالۍ احساس شتون و. د همدغه احساس له مخې به و، چې لومړي وزير امين د مى په اوله ورځ، چې حکومت د کارګرو د ورځې په نامه لمانځله، تره کی خبر نه کړ او د حکومت استازي توب يې په خپله وکړ. که څه هم دغه امتياز د دود له مخې د تره کي و.

خو امين ته د ننه په ګوند او حکومت کې مخالفين پيدا شول چې هغه د اګسا سروال اسدالله سروري او درې وزيران: محمد اسلم وطنجار، سيد محمد ګلابزوى او شېرجان مزدوريار وو. دوی د خپلو وزارتونو د چارو راپورونه امين ته نه، بلکې د پخوا په شان تره کي ته ورکاوه، که څه هم امين د لومړي وزير په توګه د دوی نېغ مشر شوی و. سروري په اګسا کې د ک. ج. ب سرمشاور بوګدانوف ته د امين پر ضد خپل مخالفت ښوده او هغه به په کابل کې د ک. ج. ب استازي جنرال ايوانوف او داسې هم اوسادچي په مسکو کې اندروپوف ته استوه.۶۹۴ دوی ټولو داسې ويل چې ډله ييزه مشري له منځه وړل شوې او هر څه امين په لاس کې نيولي دي. په دغه وخت کې د شوروي سفارت غړو او د ک. ج. ب خاص استازي جنرال ايوانوف دغه ډله لمسوله، چې د امين او تره کي اړيکې خرې پرې کړي. وزيري ليکي چې تر هغو چې «... د شوروي سفارت کارکوونکو او د کې جي بې اجنټانو د اسدالله سروري او د هغه د ملګرو په ذريعه په دې لا بريالي شوي نه وو چې تره کي او امين يو پر بل باندې بې باوره کړي نو هغه سفارت به شبنامې د تره کي_امين باند په نامه خپرولې او د اګسا او د شوروي سفارت له موترو به تيت کېدې. خو کله چې پاس يادشوو څلورو تنو وکړای شول چې د کې جي بې په دستور د تره کي او امين تر منځ بې اتفاقي راوړي بيا شبنامى د امين باند په نامه خپرېدې او د اګسا او شوروي موترو له خوا تيت کېدې. شورويانوبه کله کله موږ ته په خپله راکولې چې ګواکې دوی ته رسېدلې دي. زاپلاتين ليکي:«د تره کي او امين ترمنځ هلاک کوونکې شخړه د دوی[سروري، وطنجار، ګلابزوى او مزدوريار] پر وجدان باندې پرته ده...دا هر څه زموږ د خاصو خداماتو د اغېزې پرته نه کېدل.»۶۹۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په افغانستان کې د شوروي اتحاد ځانګړي پلاوي

Epishyef ییپیشېف په ۱۹۶۸ کال کې پراګ ته د یوه پلاوي په مشرئ استول شوی و او بیا یې خپل حکومت ته د وارسا د تړون له خوا د لاسوهنې نظر ورکړی و. د ییپیشېف پلاوي په کابل کې د یوې اوونۍ تم کېدو وروسته شوروي حکومت ته دا نظر وړاندې کړو چې د افغان پوځ د معنویاتو د کمزورۍ له امله شونې ده چې په هغه کې مخالفین نفوذ وکړي. خو د شوروي اتحاد اصلي پام د خلقي حکومت ترکیب ته و چې غوښتل یې د «انقلابي» یا «د ملي دموکرات کولو» په نامه د خپلې خوښې افغانان په کې ننه باسي. د دغه مقصد له پاره یې د واسیلي سفرانچوک په نامه یو ازمایلی ډپلومات یا سیاسي استازی کابل ته واستوه. دی پخوا په ګانا کې سفیر او له ۱۹۷۱ نه تر ۱۹۷۶ پوري په ملګرو ملتو کې د شوروي پلاوي د دایمي استازي مرستیال و. کابل ته د هغه د راتګ نه د مخه د امریکې سفارت راپورونو ښودله چې «شورویانو لا پخوا دغسې پلانونه په لاس کې نیولي وو چې مطلب یې د خلقي مشرتابه عوض کول و.»۶۹۶ د سفرانچوک اصلي ماموریت دا و چې په افغان حکومت کې «اساسي بدلون» راوستل شي، چې مشر به یې دغسې یو نوی صدراعظم وي، چې د حکومت له جاري سیاستونو سره پېژندل شوی نه وي لکه نور احمد اعتمادي. په دغسې حکومت کې به تره کي، امین او کارمل هم غټ مقامونه ولري.۶۹۷ په دې اړه په خپله سفرانچوک د امریکې سفارت د ځینو غړو سره غږېدلی و. ان مولف سلیګ هریسن ته یې هم ویلي و چې امین د حکومت د پراخ بنسټ وړاندیز ته غوږ نه نیسي. شوروي اتحاد د دې له پاره چې د سفرانچوک ماموریت نور هم اغېزناک شي یو بل لوی پلاوی د دفاع د وزیر د مرستیال جنرال ایوان پاولوفسکي په مشرئ د اګست په ۱۷مه نېټه د بالاحصار د پاڅون نه وروسته کابل ته واستوه. پاولوفسکي هغه جنرال و چې په ۱۹۶۸ کال کې یې د چکوسلواکیا د لاندې کولو قوماندانې په غاړه لرله.۶۹۸ خو هغه په کابل کې د وضعې د مالومولو وروسته اوستینوف ته څرګنده کړه چې دا به «مصلحت» نه وي، چې شوروي اتحاد خپل پوځ افغانستان ته واستوي او دا چې د امین سره دې په لوړه کچه خبرې وشي، خو اوستینوف د هغه پلاوی په نومبر کې مسکو ته وغوښت. په مسکو کې جنرال پاولوفسکي له اوستینوف سره خپله لیدنه داسې بیانوي: «د ګزارش د پای ته رسېدو وروسته مې په افغانستان کې په دې اړه چې باید افغانستان ته خپل پوځونه ونه لېږو، خپل نظر وړاندې کړ... وړاندیز مې وکړ چې د ګوند د سیاسي دفتر نه دې یو تن

(c) ketabton.com: The Digital Library



امین ته چې نور په مسکو کې پرې باور نه لري، بلنه ورکړي. همدارنګه مې د هغه د ځانګړې پیام په اړه چې د افغانستان د دفاع د وزیر سرمشاور په لاس یې لیونید برېژنف ته استولی و، خبر کړ. خو وزیر مې خبرو ته غوږ ونه نیو.»۶۹۹ له هغې وروسته جنرال پاولوفسکي د افغانستان په اړه خبرو ته نه غوښتل کېده او تنزیل ورته ورکړ شو.

د جولايي په ۲۷مه په حکومت کې بدلونونه راغلل. امین د دفاع وزیر، اسلم وطنجار د کورنیو چارو وزیر او شېرجان مزدور یار د سرحدونو د چارو وزیر په توګه وټاکل شول. وضعه کړکېچنه وه، که څه هم امین د نظام پیاوړی کس و، لوی پاڅونونه ځپل شوي وو او په پېښور کې د افغان اسلامي جمعیت او اسلامي ګوند له نورو هېوادو د ملاتړ نه بهره من نه وو. تره کي او د امین نور ځلور مخالفان په دې لټه کې وو، چې امین په خپله یا د شوروي په مرسته له واک نه وغورځول شي یا ان له منځه یووړل شي.

کاکړ وايي چې دغه وخت په هاوانا کې د ناپېیلو هېوادونو د مشرانو د غونډې وخت رانږدې شوی و. تره کي هڅه کوله چې امین هاوانا ته ولېږي، خو امین له دې وېرېده چې د ده په نشتوالي کې به له خپلې دندې څخه لیرې کړای شي. په همدغه حال کې و، چې امین په پولي تخنیک کې ناڅاپه څرګنده کړه، چې د افغانستان ستر لارښود د انقلابي شورا مشر تره کي صاحب د کیوبا په هاوانا کې د ناپېیلو هېوادو په کنفرانس کې د افغانستان د پلاوي مشري کوي.

## تره کي په هاوانا کې

نورمحمد تره کي د ۱۳۵۸ کال د سنبلې په میاشت کې د ناپېیلو هېوادو په کنفرانس کې د ګډون په موخه کیوبا ته روان شو. خو په مسکو کې د شوروي مشرانو له خوا د هغوی په غوښتنه د دې له پاره تم شو چې نوموړی د دغه سفر څخه ډډه کولو ته وهڅوي.

په مسکو کې د شوروي اتحاد سفیر پوزانوف او د شوروي اتحاد مشرتابه له خوا تره کي ته ویل شوي و چې کیوبا ته لاړ نه شي خو هغه کیوبا ته په خپل سفر ټینګار کړی و. نو بیا د شوروی مشرتابه له خوا ورته ویلي شوي و چې د کیوبا څخه د راګرزېدو په وخت کې د دې مسکو له لارې ستون شی چې یو ځل بیا ورسره خبرې وکړي. ایوانوف لیکي:«تره کي ته لازمه نه وه چې په دغسې وضعې کې کابل ترک کړي. هغه د کې جي بې د نماینده په کنایه باندې په ناارامی سره موسکه شو او کیوبا ته یې په خپل سفر ټینګار وکړ. دوی (د شوروی مشرتابه) هغه وخت پرېکړه وکړه چې یو ځل بیا په مسکو کې ورسره خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي.»۷۰۰

په هاوانا کې د تره کي د یاد وړ کار د پاکستان له مشر جنرال ضیاءالحق سره د افغانستان او پاکستان د کشالو په اړه خبرې اترې وې.

## تره کي په مسکو کې

کاکړ وايي چې دا دوهم ځل و، چې تره کی د شوروي لوړ واکمن بریژنف سره په یوائې ځان وینې او د خپل هېواد د اساسي موضوع ګانو په اړه ورسره غږیږي. د دوی د خبرو اجنډا هغه وه چې په کابل کې د ک ج ب والو د مخه ټاکلې وه او د تره کي د سفر په پیل کې مسکو ته استولې وه. دغو ک ج ب والو مسکو ته وړاندیزونه وکړل چې مهم یې دا وو چې «باید یوه لار ومونډل شي، چې امین د هېواد د مشرۍ له مقام نه ګوښه کړل شي، په دې چې هغه د داخلي سیاست د وړاندې بیولو مقصر دی» نو هغه «باید د داخلي سیاستونو د ناکامیو او قانون پرخلاف د کارونو مسؤل وګڼل شي.» بله دا چې «تره کي باید وهڅول شي، چې دا اساسي ده چې یو ډموکراټیک ایتلافي حکومت جوړ شي، چې په هغه کې د لاربښود رول په حتمي ډول د پرچمیانو په ګډون د ا خ ډ ک ګوند سره وي» په وړاندیز کې دا ویل شوي و چې د وطنپالو روحانیونو، قومونو، ملي لړکیو او روښان اندو استازیو ته هم په کې برخه ورکړل شي.۷۰۱

کاکړ وايي چې دا په واقعیت کې هغه د سفرانچوک تجویز و چې اصلي موخه یې په حکومت کې د شړل شویو پرچمیانو شریکول وو، چې امین یې مخالف و. بریژنف تره کي ته وویل «... د نورو په لاسونو کې د قدرت له حد نه ډېر تمرکز حتی که ستا ډېر نږدې ملګری هم وي، د انقلاب له پاره خطرناک کېدای شي. دا به له مصلحت نه ډېره لیرې وي، چې یو څوک د هېواد په مشرتابه، په وسله والو ځواکونو او په دولتي امنیتي څانګو کې د ممتاز قدرت خاوند وي.»۷۰۲ میتروخین وايي چې «دا د تره کي له پاره نېغ او څرګند دستور و، چې له امین نه ځان خلاص کړي.»۷۰۳ ځکه نو د سروري له خوا د امین د منځه وړلو پلان جوړ شو چې د هغه له مخې به امین هغه وخت په ماشینګړو سره د منځه وړل کېږي چې د تره کي د هرکلي له پاره هوایي ډګر ته روان وي.» کاکړ وايي چې سروري د دغه پلان د پلي کولو دنده خپل خوریې عزیز اکبري د اکسا مرستیال ته وسپارله چې لس کسه وروزي، بې له دې چې هغوی د دې پلان په مقصد پوه شوي وي.»۷۰۴ خو اکبري د بل ایجنټ و، هم یې خپل د شوروي مشاور او هم امین په پلان خبر کړ او بیا «شوروي مشاورینو په ګډه د لوی درستیز [محمد یعقوب] سره د هغه په دفتر کې د دغه پلان د ناکامۍ له پاره بل پلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړ کړ، چې د هغه په نتیجه کې امین هوایي ډګر ته روغ رمټ ورسېد.»۷۰۵ کاکړ دا هم وايي چې شوروي مشاورینو شاید ځکه د امین د منځه وړلو پلان په شنډولو کې برخه اخېستې وي چې دوی د مرکز د پرېکړې نه خبر نه وو. په مسکو کې «اندروپوف ... برېژنف او تره کي قانع [کړي وو] چې... د ک ج ب د مالوماتو له مخې کابل ته د تره کي د رسېدو د مخه به امین لېرې شوی وي.»۷۰۶ کاکړ زیاتوي چې په همدغې ډاډېنې سره و، چې د هغه مسلمان کنډک له استولو نه کابل ته ډډه شوې وه، چې دنده یې د تره کي ساتنه و هـ.

## وطن ته د تره کي بېرته راتګ او د هغه پای

تره کي وطن ته راستون شو. په کابل کې د سپتمبر د ۱۱مې نه تر ۱۶مې پورې ډېرې مهمې پېښې وشوې چې په هغو سره تره کي لومړی بې واکه شو. تره کي بیا د اکتوبر په نهمه له منځه یوړل شو او امین د ګوند او دولت سروال شو. کاکړ وايي چې دغه پېښه د وزیري او میتروخین د لیکنو له مخې بیانوي خو ستونزه دا ده چې دوی دوه معرضو حکومتونو ته منسوب دي او لیکنې یې په اساسي ټکو کې سره نه جوړېږي. په داسې حالت کې څېړونکی اړ دی چې د پلټنې پولیس شي تر څو واقعیت ومومي.

تره کي کابل ته په رسېدلو سره په همغه ورځ ياني د سپتمبر په ۱۱مه د انقلابي شورا غونډه جوړه کړه او په هاوانا او مسکو کې یې د خپلو خبرو راپور وړاندې کړ. د میتروخین په وینا «... د خبرو اصلي موضوع یې پټه کړه.»۷۰۷ په هماغه ورځ تره کي له پوزانوف سره ولیدل. د بلې ورځې په سهار ياني د سپتمبر په ۱۲مه تره کي لومړی سروري خپل دفتر ته وغوښت او بیا یې امین د ټلیفون له لارې وغوښت. د بلې ورځې په سهار ياني د سپتمبر په ۱۳مه سروري او درې نور ملګري یې «... د تره کي دفتر ته د کلاشنیکوفونو سره راځي.»۷۰۸ امین چې د هغو د وسله وال ورتګ نه د ترون له لارې خبرېږي، د تره کي دفتر ته له ورتګ نه ډډه کوي. په دغه وخت کې له کابل نه په مسکو کې اندروپوف ته په یوه تلګرام کې وویل شول چې «تره کي کوښښ وکړ امین وهڅوي، چې هستوګنځي ته ورشي، خو امین له ورتګ نه ډډه وکړه.»۷۰۹ بیا د همدغې ورځې په ماښام ياني د سپتمبر په ۱۳مه سروري، ګلابزوی، وطنجار او مزدور یار د شوروي سفارت ته لاړل او هلته «د تره کي له خوا سروري وغوښتل چې یوه ډله شوروي ملګري د امین په نیولو کې له دوی سره مرسته وکړي.»۷۱۰ خو د شوروي له خوا په همدغه ورځ پوزانوف ته ویلي شوي و چې «دغه حقیقت په نظر کې ولره، چې موږ په خپله [دا] په غاړه اخېستلی نه شو، چې امین د خپل کنډک په زور ونیسو، ځکه چې دغه کار به د افغانستان په د ننیو چارو کې نېغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاسوهنه وي او د اوږدې مودې پایلې به ولري. په واقع کې دا له عملي نظره یو ناشونکی کار دی.»۷۱۱ د وزیري په وینا د همدغې ورځې یاني د سپتمبر په ۱۳مه په نیمه شپه کې دوه پېښې وشوې. له یوې خوا د شوروي سفارت نه «... د اسلم وطنجار له خوا د وسله وال پوځ قطعاتو ته قومانده ورکول کیږي چې د تره کي صاحب ژوند په خطر کې دی او د امین پر ضد یې حرکت ته رابولي خو د ده په قومانده څوک د ځایه و نه ښوربده.» له بلې خوا د صاحب جان صحرایي په هاند دتره کي په هستوګنځي کې تره کی او امین سره پخلا کیږي.

تره کي، هغو څلورو تنو ته شوروي سفارت ته تیلیفون کوي او ورته وایې چې «بچو خپلو کوروته راشئ، امین دا اوس زما په کور کې را سره ناست دی، موږ سره پخلا یو او بیا تیلیفون امین ته ورکوي او هغه هم د وطنجار سره خبرې کوي او دا پخلاینه تاییدوي.»۷۱۲ هغوی دا پخلاینه ومنله او دشپې په دوولسو بجو خپلو کورونو ته په مکروریانو کې ستانه شول. کاکړ وایي چې میتروخین هم د تره کي او امین پخلاینه یادوي، خو د ده روایت بل ډول دی او ناسم معلومیږي. په دې ډول، چې ترون د شپې په نهو بجو او شلو دقیقو پوزانوف ته خبر ورکوي، چې امین د تره کي هستوګنځي ته راغلی او پوزانوف بیا د جنرال ایوانوف، جنرال پاولوفسکي او جنرال ګوریلوف په ملګرتیا د تره کي کور ته لاړل او دغه پخلاینه یې شونکې کړه.۷۱۳ کاکړ سم وایي چې «مهمه دا ده چې دوی د نورو سرچینو په حواله په دغه شپه ارګ ته نه وو تللي.»۷۱۴ په داسې حال کې چې وزیري په غوڅه توګه وایي همدا چې « پوزانوف او جنرال ایوانوف چې خبر شول، چې تره کي او امین د صحرایي په هاند سره پخلا شوی دي، په دې هڅه کې شول چې دا پخلاینه په شخړه بدله کړي.»۷۱۵ لا مهمه دا ده چې [د بلې شپې یاني د سپتمبر په ۱۴مه] د وزیري په وینا «د هغوی په لمسون د نواب وژنه او د درې تنو تېښته تنظیم شوه.»۷۱۶

سروري او ملګري یې دا ځل د ک ج ب د یوه چارواکي کور ته لاړل چې لومړی نوم یې ایلین و. اول سروري تره کي ته په ټلیفون کې وویل، چې امین یې پر ضد توطیه کوي او دوی حاضر دي د ساتنې له پاره یې وسله وال راشي، خو تره کي دغه وړاندیز ونه مانه، بیا ګلابزوی ایلین ته کړه، چې «امین زموږ د بندي کولو امر کړی، نو موږ دوه لارې لرلې: یا تر مرګه پورې مبارزه یا دلته پناه راوړل. موږ وروستۍ لار غوره کړه، ځکه که موږ ووژل شو، موږ به ګټور نه شو، خو موږ سره له دې هم خپلو شوروي ملګرو ته خدمت کولی شو.»۷۱۷ کاکړ وایي چې شوروي لویانو ته دا د افغانستان په ننني چارو کې نېغه لاسوهنه وه چې د حکومت وزیرانو ته د صدراعظم پر ضد په سفارت او ک. ج. ب چارواکي په کور کې پناه ورکړې وه او په دې ډول یې هغوی هڅولي او ورسره مرسته کړې وه. دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شورويانو غوښتل، چې دغه کار د دوی په مرسته په خپله د افغانانو له خوا وشي.

پوزانوف او جنرال ايوانوف چې خبر شول، چې تره کي او امين د صحرايي په هاند سره پخلا شويدي، په دې هڅه کې شول چې دا پخلاينه په شخړه بدله کړي. دوی بيا سروري، ګلابزوی او د هغوی ملګري ولمسول چې پرونی پخلاينه بېرته تخريب کړي او د هغوی په لمسون د نواب وژنه او د درې تنو تېښته تنظيم شوه. شوروي سفارت او د کې جي بې کارکوونکو ته دنده وسپارل شوه چې د تره کي او امين ترمنځ ټکر حتمي کړي. د دې دندې د پلي کولو په موخه بريژنف پيغام راوستولو، چې په ظاهري توګه يې د دواړو افغاني مشرانو ترمنځ د يوالي غوښتنه کوله، ولې په عمل کې په دې ټکي پوره غور شوی وچې څرنګه د دې پيغام په بهانه خپل ناولی پلان پلی کړي.

د پورتنی موخې د پلي کولو له پاره د شوروي سفير پوزانوف، د اندروپوف نماينده جنرال ايوانوف، د شوروي د ځمکنيو پوځونو لوی قوماندان جنرال پاولوفسکي او د افغانستان د دفاع د وزارت سرمشاور جنرال ګاريلوف د سپتمبر په ۱۴مه د«بريژنف د پيغام» په پلمه د تره کي دفتر ته لاړل. «دوی سمدلاسه د اوازه خپره کړه چې شوروي سفير او ورسره کسانو د بريژنف پيغام راوړی او غواړي د افغاني مشرانو ترمنځ اړيکې نورمال کړي.»۷۱۸

وزيري وايي چې«پلان داسې و چې امين به د بريژنف د پيغام په نامه د تره کي دفتر ته وغواړي، د ګلخانې د مانۍ په پاسني چت باندې به د روسي کوماندو سرتيري ځای په ځای کړي چې د جنرال ايوانوف د شخصي ساتونکو ترنامه لاندې په ځانګړي موټر کې د ده سره يوځای ګرزېدل. د تره کي ساتونکو قاسم او ببرک ته دنده ورکړ شوې چې امين د تره کي دفتر ته د ننوتلو په مهال کې د مينځه يوسي.»۷۱۹

کاکړ وايي چې د ميتروخين ليکنه «چې يوازې د شوروي چارواکو او په خاص ډول د ک ج ب چارواکيو د راپوروﻧﻮ پر بنسټ تهيه شوې ده»۷۲۰ د خپل دولت د ګټو په نظر کې نيولو سره رښتيني واقعيت پټوي. د بېلګې په توګه ميتروخين په دې اړه چوپ دی چې امين وروسته له هغې ګلخانې مانۍ ته تلل ومنل چې پوزانوف په ټيلفون کې ډاډ ورکړ چې ژوند به يې خوندي وي.»۷۲۱ خو د ک. ج.ب پخوانی چارواکی الکزاندر موروزوف ليکي، چې وروسته له هغه چې پوزانوف او درې تنه جنرالان د تره کي دفتر ته لاړل «... تره کي له امين نه وغوښتل، چې دی هم په غونډه کې ګډون وکړي، خو امين په دې چې ممکن هلته ژوند يې په خطر کې شي، له ورتګ نه ډډه وکړه، خو د تره کي په ټينګار سره يې موافقه وکړه، په دې شرط، چې پوزانوف يې د ژوند د خونديتوب ضمانت وکړي. وروستي په ټليفون کې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضمانت ورکړ.»۷۲۲ نور نو د اقبال وزيري په ژبه «... نورمحمدتره کي امين ته تيليفون کوي چې پوزانوف د خپلو ملګرو سره يو ځای د ده دفتر ته ورغلی او د بريژنف پيغام يې راوړی دی خو امين د تره کي دفتر ته د ورتګ څخه ډډه کوي. په دې مهال کې پوزانوف د خپل ژباړونکي پذريعه د امين سره تيليفوني خبرې کوي او امين ته وايي چې نوموړی يې امنيت تضمينوي او که ځان مصؤن نه احساسوي د خپلو ساتونکو سره د راشي. امين د پوزانوف سره موافقه کوي او د ځان سره د ساتونکو په توګه حبيب الرحمن، مصطفی او وزير ځيرک بيايې... امين د ګلخانې ماڼی ته ننوزي او د تړون له خوا د تره کي دفتر ته بدرګه کيږي. د امين مخې ته تړون او ورپسې وزير او په وزير پسې امين او د هغه شاته مصطفی او حبيب الرحمن روان دي او دوهم پوړ ته په زينه خيږي. د تره کي ياوران هغه وخت، چې دوی په زينه راخيږي، وربانديې ډزې کوي، تړون سمدلاسه وژل کيږي، وزير سخت ټپي کيږي او امين او نور ساتونکي يې تېښتي. امين، چې وزير يې په لاسونو کې نيولی، په بيړه سره خپل موټر ته وخيږي او په چټکتيا سره د دلکشا ماڼی ته په خپل موټر کې تېښتي. د تېښتې په مهال د ګلخانې د بام څخه په امين او ساتونکو باندې د شوروي کوماندو د سرتېرو له خوا ډزې کيږي او امين دا صحنه په خپلهويني.»۷۲۳ امين له صحنې نه روغ وځي او د دفاع وزارت ته ځي.

کاکړ وايي چې دا به قصدي وي، چې د ميتروخين په ليکنه کې دغه مهمه پېښه نه ده بيان شوې. دغومره په کې ويل شوي، چې «يو څو دقيقې وروسته د تره کي د دفتر له هغه بل وره نه د ماشينګړ اواز واورېدل شو. ملګري ل. ن. ګوريلوف کرکی ته لاړ او کتل يې چې حفيظ الله امين د انګړ دېوال تر څنګه ځغستل.»۷۲۴ کاکړ وايي چې دلته هغه شی چې مهم دی هغه دا دی چې د تره کي په دفتر کې د دغې پېښې په وخت کې د پوزانوف او درې جنرالانو شتون و، چې موظف شوي وو، د امين په لاندې کولو کې له تره کي سره مرسته وکړي.

له همدې امله به و چې تره کي هغې پخلاينې ته اهميت ورنه کړ چې تېره شپه يې د صاحب جان صحرايي په منځګړتوب له امين سره کړې وه. دی هغه پلان ته ربښتينی و چې په مسکو کې د امين د منځه وړلو له پاره ايستل شوی و. لومړی تره کی له امين سره، په داسې حال کې چې اقبال وزيري ورسره په دفتر کې و په ټليفون کې وغږېد او وزيري له امين نه واورېدل، چې «د نر ترپ وي يا خرپ.» هغه دا هم ورته وويل، چې «زه خو ستا دفتر ته د درتګ په مهال په ډزو استقبال شوم، خو تاسې د سفير او د هغه د ملګرو سره راشئ، زه به دې په ګلونو استقبال کړم.»۷۲۵ په عين حال کې پوزانوف هم له امين نه په ټليفون کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وغوښتل، چې غواړي ورسره وګوري. پوزانوف بيا له خپلو ملګرو سره ورسره وليدل، په پېښه يې خواشيني ښکاره کړه او د امين له دفتر نه ووتل. دغه وخت «تره کي د ګارډ قوماندان جانداد ته امر کوي چې د دلکشا ماڼی د خاورې سره برابره کړي. خو هغه د تره کي د امر د منلو څخه ډډه کوي او ورته وايي چې هلته امين او نور ملګري دي او نشي کولای په خپلو ملګرو برید وکړي. تره کي بيا د هوايي پوځ د قوماندان مرستيال حاجي محمد ته تيليفون کړی و چې په بګرام کې د شوروي اتحاد د پراشوټ کنډک د د ده مرستې ته ورودانګي. نوموړي ورته ويلي و چې هغوی دا کار نه کوي.»۷۲۶ يوازې د خواجه رواش په هوايي ډګر کې د سياسي څانګې امر دوست محمد په هڅې سره يو جنګي ماشين راووت او په ارګ باندې يې ډزې وکړې، خو ماشين تسليم کړای شو او دوست محمد ونيول شو.

کاکړ وايي چې د تره کي پر ضد د امين کوښښونه غوځ او بريالي وو، د هغه د ټليفون د مزي په پرېکېدلو سره په خپل دفتر کې ګوښه کړل شو. د امين په قومانده وسله والې قطعې ښار ته ننوتلې او د ښار امنيت يې په لاس کې ونيوه او په افغانستان راډيو کې سروري او ملګري يې له خپلو وظيفو نه ګوښه شوي اعلام شول. په دې ډول د سپتمبر په ۱۵مه امين په واقع کې په ګوند او حکومت کې د تره کي ځای ونيوه.

د سپتمبر په سهار امين د ګوند سياسي دفتر غونډه د دلکشا په ماڼی کې جوړه کړه او غړيو ته يې د ګلخانې او د روغتون د وژنو په اړه راپور وړاندې کړ. بله ورځ د سپتمبر په ۱۶مه د مرکزي کوميټې پلېنوم جوړ شو حفيظ الله امين د ګوند د عمومي منشي په توګه وټاکل شو. انقلابي شورا هم امين د خپل سروال په توګه غوره کړ. په دې ډول امين د ګوند او دولتي سرواڵی مشروعيت ترلاسه کړ، خو هغه ته د تره کي شتون د اندېښنې وړ و.

کاکړ وايي چې درې اوونۍ وروسته د اکتوبر پر لسمه په يوې رسمي څرګندونې کې په لنډ او عادي ډول وويل شول، چې نورمحمد تره کی د هغې ناروغتيا له کبله چې ورپېښه شوې وه، مړ شو او په قول ابچکان کې په پلرنۍ هديرې کې خښ شو. دی زياتوي چې د تره کي وژنه د امين غټه تېروتنه وه، له اخلاقي او انساني کتنو نه سربېره سياسي مصلحت او د سليم عقل حکم دا و، چې تره کي په داسې حال کې چې ځلور فتنه ګر له صحنې نه وتلي او د عمومو په ذهن کې محکوم شوي او تره کي په ارګ کې بندي شوی او له بېرون سره يې اړيکې شليدلې وو، پر ځان پڼ او نه چندان فعال تره کي امين ته خطر کېدلی نه شو، البته د روحي نظره به امين ته ګرانه وه، چې تره کی وزغمي، خو دولتي لويان د ملي چارو په اجرا کې له مصلحت او سليم عقل نه کار اخلي، يا بايد کار واخلي نه له بدل او انتقام نه.۷۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوويشتم څپرکی

# د حفيظ الله امين سل او درې ورځې واکمني

امين په ۱۹۲۹ کال کې په پغمان کې زيږدلی و؛ پلار يې حبيب الله نوميده چې د پوليسو مامور و؛ د پنځوسو کلونو و، چې شورويانو وواژه. کاکړ وايي چې په معاصر افغانستان کې امين له تره کي نه وروسته دوهم غير دراني پښتون و، چې د خپل شخصي زيار او د نظامي کودتا په نتيجه کې د حکومت، دولت او ګوند سروال شو. امين د کابل د پوهنتون ليسانس او د امريکې د کولمبيا پوهنتون ماستر و، د ډاکترۍ د ډيپلوم د ترلاسه کولو له پاره يې د تيسس د ليکلو تر پولې رسولې وه چې د کابل پوهنتون رييس ډاکټر صمد حامد د هغه سکالرشيپ ودراوه . ده بيا غوښتل چې په انګلستان کې د ډيپلوم له پاره کار وکړي خو هلته ونه منل شو او بېرته وطن ته ستون شو.

امين د افغانستان د خلک ډموکراتيک ګوند عمومي منشي نورمحمد تره کي نه د ګوند د غړيتوب غوښتنه وکړه. کاکړ وايي چې د ګوند ځينو غړو سلطان علي کشتمند، ببرک کارمل، طاهر بدخشي او غلام دستګير پنجشيري په ګوند کې د هغه د غړيتوب سره مخالفت وکړ. امين سره له دې هم په ګوند کې لومړی ازميښتي او بيا پوره غړی شو چې وروسته د مرکزي کوميټې غړيتوب ته جګ شو. دی يو ځل د پغمان د خلکو له خوا د ولسي جرګې د غړي په توګه غوره شو. په ګوند کې د ده مخالفينو او په ځانګړې توګه کارمليانو په هغه پسې ډېر پروپاګند کاوه او هغه يې سخت ناسيونالست او ان فاشست ګاڼه.

کاکړ وايي چې د امين د ناسيونالېزم يوه نښه دا ده چې هغه هم د محمد داود په شان په خپلواکۍ ټينګ ولاړ و، چې د ژوند په بيه ورته تمامه شوه. د امين د ناسيوناليزم بله نښه دا وه چې هغه پر پښتونستان ولاړ و او له لوی افغانستان نه غږېده. دا هم د امين ناسيوناليزم و چې د حکومت لوړپوړي چارواکي يې د وطن له بيلو بيلو قومونو نه وو. په دې ډول چې حکومت يې د ډاکټر شاه ولي، منصور هاشمي ، سالم مسعودي، صديق عالميار، عبدالحکيم جوزجاني، دستګير پنجشيري، عبدالکريم ميثاق، محمد اسماعيل دانش او څو پښتنو ملګرو په همکارۍ چلاوه. دلته زه ليکوال دا يادونه کوم چې ډاکټر شاه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولي پښتون او په قوم ساپی دی.

کاکړ دا هم وايي چې امين په خپل لنډ سياسي توپاني ژوند کې پر خپلو کورنيو مخالفينو بريالی شو، ده د اندروپوف او د هغه د پلويانو دسيسې هم شنډې کړې. که څه هم وروسته اندروپوفيان په نظامي زور پرې بريالي شول خو هغو په خپل دغه عمل سره هم خپل ځانونه او هم شوروي اتحاد تر دې حده بې اعتبار او ناتوان کړ، چې د امين ناکامي په پای کې د دوی ناکامي هم شوه.۷۲۸

دی زياتوي چې امين د تره کي د وخت کابينه وساتله او د ګوښه کړل شويو وزيرانو او د اګسا د سروال پر ځای يې خپل ټينګ پلويان په کې د ننه کړل. فقير محمد فقير يې د کورنيو چارو وزير، انجنر محمد ظريف د مخابراتو وزير او صاحب جان صحرايي د سرحداتو د وزير په توګه وټاکل. خپل وراره او زوم يې اسدالله امين د اګسا پر ځای د کام (د کارګرو استخباراتي موسسې) سروال په توګه وټاکه.

د کاکړ په وينا د نوي حکومت اصلي محور امين او دويم کس شاه ولي د صدراعظم مرستيال او د باندنيو چارو وزير و. امين همدا چې د ګوند عمومي منشي او د انقلابي شورا سروال شو، د ۱۹۷۹ کال د سپتمبر په ۱۷مه په خپله لومړنۍ ټلويزيوني وينا کې وويل چې د دې وروسته به په وطن کې «قانونيت، مصؤنيت او عدالت» وي؛ هغه بنديان چې بې موجبه بندي شوي ازاد به شي او د دې وروسته به هېڅوک له لاسوند پرته بندي نه شي؛ د اساسي قانون د جوړولو له پاره به يو ځانګړې کميسيون وټاکل شي؛ نور به فردي حکومت نه وي او حکومت به خلکو ته مسؤليت ولري او د قانون له مخې به چليږي.

د بنديانو په اړه حکومت دوه کارونه وکړل: لومړی يې د نومبر په ۱۶مه د له منځه وړل شويو لستونه د کورنيو چارو وزارت په دېوالونو وځړول، چې بيا زر ټول شول. د دغه لستونو د ځړولو نه مقصد دا و، چې دغه وژنې د اګسا چارواکو کړې او کام به څوک له لاسوندونو پرته نه بندي کوي. دويم دا چې حکومت د وعدې سره سم په کابل کې ۸۵۰ تنه بنديان جوپه په جوپه ازاد کړل او پاتې يې د جنوري په لومړۍ ورځ د ګوند د شپاړسمې کاليزې په وياړ خوشي کول، خو په هغه وخت کې نسکور شوی و.

د دې له پاره چې حکومت د قانون له مخې وشي امين د اکتوبر په سر کې د اساسي قانون د تسويد کميسيون جوړ کړ. د کميسيون کار پای ته رسېدلی و، چې شورويانو په افغانستان ودانګل او تصويب نه شو.

اساسي موضوع د امنيت وه، چې د امين په واکمنۍ کې خرابه وه، خو نه هغومره چې مخالفانو په تېره پرچميانو او وروسته شورويانو ويل او د شوروي يرغل يې د کرارولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دليل ښودل شوی و. د امين په وخت کې د ريشخورو د فرقې نارامي وه، چې د اکتوبر په ۱۴مه پېښه شوه او هغه زر وځپل شوه. کاکړ وايي چې د دغې پېښې مشر غلام محمد فرهاد وښودل شو، خو هغه د خپل زوی سره تر دې يوه اوونۍ د مخه نيول شوی و. ويل کېدل چې فرهاد له دې کبله د دې پاڅون مشر وښودل شو، چې شورويانو ته وښودل شي چې دوی د نېشنلستانو مخالف دي.

په کابل کې د نوي حکومت په ضد د ک. ج. ب چارواکيو ورانی کاوه. دوی ځينې ګونديان هڅول، چې شوروي اتحاد ته لاړ شي، ځکه چې دلته يې د دوی په فکر، ژوند په خطر کې دی. صولت شاه او ايګور کاتکوف د دغه کار له پاره ګومارل شوي وو. صولت شاه چې د تاجکستان تاجک و، د پښتو متلونو په څېړنه کې د ډاکټرۍ شهادتنامه ترلاسه کړې وه او کاتکوف د شوروي سفارت دويم سکرتر و. صولت شاه عبدالکريم ميثاق ته ويلي و، څنګه چې يې دلته ژوند په خطر کې دی، شوروي اتحاد به ورته سياسي پناه ورکړي. ميثاق هغه ته نه يوازې د رد ځواب ورکړی و، بلکې امين يې هم پرې خبر کړی و. وزيري وايي چې کاتکوف ده ته هم دغسې بلنه ورکړې وه. امين وزيري ته ويلي و، چې کاتکوف داود پنجشيري ته د همدغه مقصد له پاره ويزه هم اخېستې وه. صولت شاه او کاتکوف بيا په ۲۴ ساعتونو کې له افغانستان نه وايستل شول. شورويانو کارمل او د هغو ملګرو ته ډاډ ورکړی وو، چې په واک به يې ورسوي. د امريکې د څو استخباراتي څانګو په يوه يادښت کې د سپتمبر په ۲۷مه ويل شوي و، چې «موږ داسې راپورونه ترلاسه کړي وو چې شورويانو د خلق ډموکراتيک د پرچم د مخالفې ډلې لويان، چې په اروپا کې پراري دي، هڅولي دي چې ډاډه اوسي چې شورويان به يې په واک راولي او که داسې ونه شول، شورويان به په نظامي کودتا لاس پورې کړي.»۷۲۹ د همدغې ډاډېنې له امله و، چې پرچميان ډېر فعال وو.

د ريشخورو د پاڅون پرته د امين په واکمنۍ کې بله غټه نارامي ليدل شوې نه ده. البته هېواد نارام و، خو امنيتي وضع مخ په ښه کېدو وه. کاکړ وايي چې د امين د واکمنۍ په سر کې په پکتيا کې يوازې خوست او ګردېز د حکومت د کنټرول لاندې وو... خو وروسته ټوله پکتيا ارامه شوه. د ګردېز، احمدزي رود، سيد کرم، احمد خېلو او ميرزکې خلکو او مشرانو لا په بيړني ډول د کابل د خلکو هغه تنکسيا له منځه يووړه، چې په سره ژمي کې د سونګ د لرګيو له امله پېښه شوې وه. کاکړ د پکتيا د والي په تاييد چې زيات وخت به د پکتيا نه کابل ته په دولتي موټر کې تلو راتلو ليکي: «زه هم د پوهنتون له څو استادانو سره له کابل نه د ننګرهار پوهنتون ته د درس ورکولو له پاره په اونۍ کې يو ځل

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شوروي تر یرغل پورې تلم، بې له دې چې د بد امنیتۍ کومه نښه مې لیدلې وي، د وطن د نورو سیمو وضع لږو ډېر همدغسې وه، یوازې د بدخشان، د پنجشېر سردرې د مخالفانو په لاس کې وې، خو مخالفان په هېڅ سیمې کې له حکومتي وسله والو ځواکونو سره مخامخ کېدلی نه شول.»۷۳۰

## له شوروي اتحاد سره اړیکې

د ثور د کودتا نه وروسته په افغان- شوروي اړیکو کې کړکېچ ډېر او ټینګ و، که څه هم دا اړیکې د ځانګړې دوستۍ په بنه ښودل کېدې. شوروي حکومت په اصل کې د ثور د کودتا سره جوړ نه و. په دې چې کودتا د پرچمیانو نه، بلکې په اساسي ډول د خلقیانو او په ځانګړې توګه د امین کار و. کاکړ وایي چې «شوروي اتحاد د کودتا په اولو ورځو کې له خلقي حکومت نه دوه امتیازونه ترلاسه کړل: یو دا چې لکه چې د مخه ویل شوي په حکومت کې یې پرچمیانو ته له خلقیانو سره برابر مقامونه وګټل.» شوروي اتحاد پرچمي لویان په تېره کارمل خپل منونکي ایجنټان ګڼل او په حکومت کې یې د هغو شته والی مهم ګاڼه. بیا وروسته چې پرچمیان د خلقیانو نه د ټول واک د خپلولو په هڅو کې پاتې راغلل او یو شمېر پرچمیان د کارمل په ګډون لکه چې د مخه ویل شوي د باندې پراري شول او یو څو نور یې په څرخي پله زندان کې بندي شول، بریژنف د کریملن په مانۍ کې له افغان پلاوي سره د «اختلاف» مسله پورته کړه، چې په زیات ګومان د پرچمیانو په اړه و. بریژنف بیا د هرات د پاڅون په وخت کې له تره کي نه، چې له یوې شپې له پاره په پټه مسکو ته تللی و، وغوښتل چې «امین د ملي دفاع د وزارت څخه ګوښه کړي.»۷۳۱ هغه همداسې وکړل خو لږ وروسته امین اول لومړی وزیر او وروسته د ملي دفاع وزیر هم شو. وروسته کله چې تره کي د هاوانا نه د راستنېدو په مهال په مسکو کې تم او د بریژنف سره کتنه درلوده پلان ورکړ شو چې امین د منځه یوسي او کارمل د دوهم کس په توګه ومني. خو تره کی د دغې دندې په پلي کولو کې پاتې راغی او خپل ژوند یې وبایله او امین د ګوند او حکومت سروال شو. په دغې پېښې سره بیا نوي کړکېچونه پیدا شول چې پای یې د امین وژنه او د خلقي حکومت نسکورېدل شول. لومړی غټ کړکېچ له دېنه راولاړ شو، چې په داسې حال کې چې له تره کي سره د شوروي درې جنرالان او سفیر پوزانوف وو، بیا په امین باندې ډزې وشوې، خو هغه له مرګ نه بچ شو. د هغې ورځې له پېښې نه زر وروسته پوزانوف او هغه درې جنرالانو له امین سره د دلکشا په مانۍ کې لنډه لیدنه وکړه او بیا د هغه ماښام په اوونیمو بجو یې د دوو نیمو ګړیو له پاره بیا ورسره ولیدل. د خبرو موضوع تره کي و. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله ورځ د سپتمبر په ۱۵مه دغو شوروپانو د شوروي اتحاد د کمونیستي ګوند د مرکزي کمیټې په لارښوونه د امین سره د غرمې په یوولسو بجو ولیدل. د هغو په وینا «موږ د عمومي منشي توب له مقام نه د تره کي د تجویز شوي ګوښه کولو پر ضد وغږېدلو، چې په انقلاب باندې به ناوړې اغېزې وکړي.»۷۳۲ خو امین ونه منله، تره کي یې ګوښه کړ او ځان یې د هغه مقام ته ورسوه.

دوه ورځې وروسته د سپتمبر په ۱۷مه جنرال پاولوفسکي، جنرال ایوانوف او جنرال ګوریلوف له امین سره د هغه په دفتر کې ولیدل او د خپل حکومت له خوا یې هغه ته مبارکي وویله، خو مبارکي توده او د زړه له کومې نه وه. پوزانوف هم په همدغه ورځ امین ته مبارکي وویله. هغه وروسته په سفارت کې خپل ډیپلوماتان سره راټول کړل او ورته وویل چې «موږ د یوه پېښ شوي واقعیت سره مخ یو. امین په واک رسېدلی دی، تره کي ونه شو کولی چې واک ته د امین د رسېدو مخه ونیسي. واقعیت دا دی چې تره کی ضعیف او لټ و، هغه د خپل قول په اندازه ښه نه و. د هغه پرعکس امین هر وخت له موږ نه مشوره اخېستلې ده. امین پیاوړی دی او موږ باید له هغه سره کار وکړو او ملاتړ یې وکړو»۷۳۳ د پوزانوف د همدغه فکر له مخې به و، چې بریژنف د خپل ګوند په سیاسي دفتر کې د سپتمبر په ۲۰مه د لومړي ځل له پاره د امین په اړه له احتیاطنه ډک ښه نظر ښکاره کړ: «موږ باید داسې وګڼو چې د افغان- شوروي اړیکو کې به کوم غټ ډول تغیر رانه شي او داسې ښکاري چې هغه به د پخوا په شان دوام وکړي. امین به د رواني وضعې او د هغو ستونزو له امله، چې د افغان حکومت به د اوږدې مودې له پاره ورسره مخامخ وي، په هماغه لور کش شي.»۷۳۴

لس ورځې وروسته بریژنف د امین او حکومت سره د همکارۍ لار ونیوله او د اکتوبر په لومړۍ نېټه یې خپل سیاسي دفتر ته څرګنده کړه، چې «امین یو څو ویناوې کړې او له هغو نه معلومېږي، چې د انقلاب د پراخولو او له شوروي اتحاد او نورو سوسیالېستي هېوادونو سره د همکارۍ د پیاوړي کولو په لور روان دی. شاوخوا یې یو شمېر [دغسې] صادق کسان او ریښتیني انقلابیان راټول دي، چې د مارکسیزم- لینینیزم په اصلونو باندې ټینګ ولاړ دي او د شوروي اتحاد په لور د ښو میلان لري او زده کړه یې زموږ په هېواد کې کړې ده.»۷۳۵

څلور ورځې وروسته بریژنف په ډاډینې سره وویل، چې «موږ وینو چې امین هغه څه کوي کوم چې ما تره کي ته ویلي و.»۷۳۶ له دغې څرګندونې نه د بریژنف مقصد دا و، چې هغه تره کي ته د اساسي قانون له مخې د حکومت کولو سپارښتنه کړې وه. هغه دا هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل چې «وضع په هېواد کې ښه شوې، خو په ځینو ولایتونو کې له هغو یاغیانو سره مقابله کېږي چې له پاکستان نه په نېغ یا نانېغ ډول او له ایران، امریکې او چین نه په نېغه مرسته ترلاسه کوي.»۷۳۷

خو د اکتوبر په ۶مه د دواړو حکومتونو تر منځ اوبه خړې شوې، په دې چې په دغه ورځ د باندنیو چارو وزیر شاولي د سوسیالیستي هېوادو د سفیرانو په وړاندې، چې یې خپل دفتر ته غوښتي وو، له پوزانوف نه شکایت وکړ، چې د افغانستان په چارو کې لاسوهنه کوي. د دې پېښې نه درې ورځې وروسته د اکتوبر په ۹مه پوزانوف، پاولوفسکي، ګوریلوف او بوګدانوف له امین سره د ماښام په ۶ بجو د هغه په دفتر کې ولیدل. د دې له پاره «چې د شاه ولي په وینا اعتراض وکړي او د هغې تردید وغواړي.» شوروي خوا ادعا کوله چې پوزانوف د سپتمبر په ۱۴مه د تره کي له دفتر نه له امین سره په ټیلیفون کې د ترجمان له لارې هېڅ خبرې نه دي کړې، خو امین د شاولي په وینا ټینګ ودرېد. د مخه مو یادونه وکړه چې د ک. ج. ب پخواني چارواکی د امین په ملاتړ وایي چې «د تره کي ټینګار ته په تسلیمېدو سره هغه موافقه وکړه، خو له پوزانوف نه یې د خپل مصؤنیت ضمانت وغوښت. وروستي په ټیلیفون کې دغه ضمانت امین ته ورکړ. »۷۳۸

له هغې وروسته و چې د ک. ج. ب پروپاګنډې ماشین په ځانګړې توګه د امین پر ضد چالان شو. د دسمبر په ۱۲مه شوروي مشرانو په افغانستان د یرغل پرېکړه وکړه. کوښښ دا شو چې امین په یو ډول له منځه یوړل شي او که دغه کار ونه شو، بیا دې په افغانستان وسله وال یرغل وشي.

## له امریکې سره اړیکې

د ۱۹۱۹ کال د خپلواکۍ د ګټلو وروسته د پاچا امان الله خان ځانګړي استازی محمد ولي واشنګټن ته په سفر تللی و، چې د دواړو هېوادو تر منځ اړیکې ټینګې کړي. خو دامریکا متحده ایالاتو حکومت دا وړاندیز ونه مانه په دې چې دوی افغانستان د برتانوي هند د نفوذ لاندې هېواد ګاڼه. په ۱۹۳۴ کال کې د امریکا متحده ایالاتو حکومت افغانستان په رسمي ډول وپېژانده. په ۱۹۴۳ کال کې یې د دوهمې نړیوالې جګړې په بهیر کې اړیکې ورسره ټینګې کړې او په کابل کې یې خپل سفیر استوګن کړ. افغان چارواکو کوښښ کاوه چې د امریکې علاقه ځان ته واړوي او د انکشافي پروژو کې دا شتمن هېواد برخه واخلي، چې د هلمند د ناوې کرنیزه انکشافي پروژه یې ځرګنده بېلګه ده. خو د شلمې پېړۍ په پنځوسمې لسیزې کې د دواړو هېوادونو باندني سیاستونه په بیلو بیلو لارو روان شول. په دغه وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې امريکې د شوروي اتحاد په چاپېر دفاعي نظامي تړونونه رامنځ ته کړل. نوی هسک شوی پاکستان په دوو دغسې پکتونو کې ګډ شو او په دې ډول يې د امريکې سره اړيکې پيدا کړې، خو افغان چارواکو د مثبت ناپيلتوب سياست غوره کړ. امريکې د پښتونستان په لانجه کې د پاکستان خوا ونيوله او د دې خنډ شوه، چې افغانستان د امريکې د وسله جوړوونکو فابريکو نه وسلې په بيه واخلي او خپل پوځ پرې پياوړی او عصري کړي. خو امريکې په نورو برخو کې په تېره د پوهنې په برخه کې يو څه مرستې وکړې.

د صدراعظم محمد داود په وخت کې د افغان- شوروي په اړيکو کې څرګند ښه والی راغی. په ۱۹۵۶ کال کې خروسچوف او صدراعظم بولګانين افغانستان ته رسمي سفر وکړ. دوی د دغه سفر په بهير کې د افغان پوځ د عصري کولو او د پرمختيايي پروژو د پلي کولو له پاره سل ميليونه ډالرو پور ومانه. د شوروي مشرانو د دغې مرستې موخه دا وه، چې افغان حکومت به امريکې ته اجازه ورنه کړي، چې هلته نظامي هډې جوړې کړي. دا کار د شوروي په ګټه و، په دې چې په افغانستان کې د امريکې د پوځي هډو په شتون کې به شوروي اتحاد اړ وی چې په منځنۍ اسيا کې متقابل ترتيبات ونيسي او بيا به يې دومره لګښتونه کولی چې د افغانستان سره تړلې مرستې به «د سمندر د يوه څاڅکي» په اندازې وې.۷۳۹ کاکړ وايي په هر حال د شوروي د مرستو او له افغانستان سره د شوروي اتحاد د ښو اړيکو پايله په افغانستان کې د کمونېستي حرکت تړوکېدل او د ثور کودتا شوه، چې د مخه يې بيان شوی دی.

د ثور د کودتا وروسته د خلقي حکومت او امريکې تر منځ اړيکې پرځای خو ساړې وې. خو د ۱۹۷۹ کال د فبرورې په۱۴مه په کابل کې د امريکې سفير اډولف ډبس د ستمي ډلې د څلورو تنو له خوا د کابل په هوټل کې يرغمل شو او د سفير په بدل کې له حکومت نه د خپل مشر بهرالدين باحث ازادول غوښتل. په داسې حال کې، چې هغه د محمد داود د جمهوريت په وخت کې د بدخشان په درواز کې د اله ګولې په تور بندي شوی او د ۱۹۷۸ کال په اوړي کې د علي اباد په روغتون کې د درملنې له پاره بستري شوی او له هغه ځايه د ملګرو په مرسته تښتېدلی او بيا نيول شوی او له منځه وړل شوی و.۷۴۰

کاکړ وايي چې اوس پوښتنه دا ده چې دغه د ډبس تښتونکو ولې د دغسې يو کس ازادول وغواړي، چې پوهېدل هغه د مخه د منځه وړل شوی و؟ دغه پوښتنه په دې هم پرځای ده، چې دغه انسان تښتوونکي د ک. ج. ب په راپورونو کې ستميان نه، بلکې ماويستان ښودل شوي دي.

په هر حال، د ميتروخين په روايت «امين د ک. ج. ب د مشاور په مشوره افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضربتي ډلې ته، چې په کلاشنیکوفونو سمباله وه او د شوروي او مرمي ضد کرتۍ یې په ځان وې، د ډزو امر وکړ. د لنډې مودې په ډزو کې، چې وشوې ډبس او دوه انسان وژونکي [تښتوونکي] ووژل شول. دریم یې ونیول شو او څلورم یې وتښتېد. ک. ج. ب بیا د دې له پاره، چې تر هغو په اغېزناک ډول ممکن وي، په پټولو لاس پورې کړ، چې په دغو عملیاتو کې خپله ونډه او د ډبس په وژنه کې خپل مسؤلیت پټ کړي. د امریکې امنیتي ماهران، چې هوټل ته ورغلي وو، پرې نه ښودل شول چې له هغې کوټې نه د ګولیو پوچاقې [نلۍ] ترلاسه کړي. دغه ګوریلایان په درې توپنګچو سمبال وو، کلاشنیکوف ته ورته یو ټوپک چې اصل یې معلوم نه و، په کوټې کې واچول شو، چې وښيي هغو په هغه سره سفیر وژلی دی. امریکایانو ته د دې له پاره چې له هغو دوو ژوندیو ګوریلایانو نه پوښتنې کولی ونه شي، وویل شول چې څلور واړه یې په ډزو کې وژل شوي دي. په واقع کې نیول شوي ګوریلایي له تښتونې نه وروسته په هغه شپه کې ووژل شو، لکه هسې چې هغه بندي ووژل شو، چې په غلطه یې ادعا شوې وه، چې تښتېدلی دی. د دې له پاره چې امریکایانو ته وښودل شي څلور جسدونه پوره شول، په افغان ورځپاڼو کې د دریو اصلي ماوستانو او یوه جعلي ماوست عکسونه خپاره شول. د اوسادچې په غوښتنه چې په کابل کې د ک. ج. ب آمر و، امین او وزیرانو یې د خواخوږۍ د څرګندونې په وخت کې امریکایانو ته وویل، چې دوی یوازې په خپل نوښت عمل کړی او شوروي مشاوران په کې دخیل نه وو. »۷۴۱

کاکړ وایي چې شونې ده چې ک. ج. ب همدا غوښتل، د دې له پاره چې د سفیر په وژل کېدو سره له امریکې سره د افغان حکومت اړیکې خرابې شي، نو ځکه د امریکایانو دغه ورانديز ونه منل شو، چې له تښتوونکو سره دې خبرې وشي. په دې ډول له امریکې سره د افغانستان اړیکې خړې پړې شوې. د امریکې حکومت له کابل نه خپل ډپلوماتان وایستل او وروسته ولسمشر جیمي کارتر د امریکې د کانګرس دغه لایحه قانوني کړه، چې په کې ویل شوي و، چې تر څو خلقي حکومت بښنه ونه غواړي او د سفیر په مرګ کې خپل مسؤلیت ونه مني، ورسره به مرسته ونه شي.۷۴۲

د ډبس له مرګ نه وروسته د امریکې سفارت او خلقي حکومت تر منځ لیدنه تر اخري کچې لږ شوه. خو د امریکې شارژدافیر امستونز سفرانچوک ته د اخطار په ډول څرګنده کړه چې «که شوروي اتحاد افغانستان ته خپل پوځ واستوي، دا به د امریکې او شوروي اړیکې ډېرې پېچلې او زیانمن[ې] کړي.»۷۴۳ خو وروسته د ایران د نوي حکومت له خوا د امریکایي ماموړانو برمته کول نور هر څه تر سیوري لاندې ونیول. د امریکې حکومت په دې فکر شو، چې په سیمې کې به «د امریکې غټ نظامي شتون مناسب وي، چې د پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د خلیج سیمې له پاره ملاتړ وښودل شي.»۷۴۴ کاکړ وايي چې د دې دا مانا کېده، چې د شوروي حکومت په افغانستان کې د عمل ازادي لري او د امریکې حکومت به يې په ضد عمل ونه کړي.

امین د خپل واکمن کېدو وروسته کوښښ وکړ چې په داسې حال کې چې افغانستان له شوروي اتحاد سره ځانګړې اړیکې لري، له نورو هېوادونو سره اړیکې ولري. ده غوښتل له ټولو هېوادونو سره انډولیز سیاست پر مخ بوزي.

د باندینیو چارو وزیر شاه ولي د سپتمبر په ۲۷ په نیویارک کې د امریکې د بهرنیو چارو وزیر «نیوسم ته ډاډ ورکړ چې د هغه حکومت خپلواک دی، د بل حکومت یا ګوند تر نفوذ لاندې نه دی.»۷۴۵ نیوسم هم وویل، چې غواړي د دواړو هېوادو تر منځ د پوهاوي او مخابرې لاره خلاصه وي او خوښ دی چې امین په همدغه ورځ زموږ شارژ دافیر خپل حضور ته بللی او هیله کوي، چې دا به د دواړو هېوادونو په اړیکو ښه اغېزه وکړي.۷۴۶

امین د اکتوبر په ۲۷مه له بلډ سره ولیدل. دا لیدنه یو ساعت اوږده شوه. امین د امریکې سره د اړیکو ښه کېدل او د افغانستان سره د امریکې مرسته وغوښتله. هغه بلډ ته ویلي و، چې دی فکر نه کوي تر ډېره مودې ژوندی وي. خو د امین د کوښښونو سره سره د امریکې حکومت له ځایه ونه ښورېد. کاکړ وايي په دغه حال کې د امین له پاره دوه لارې پاتې وې یوه دا چې شوروي لویان قانع کړي، چې د افغانستان په اداره کولو کې دی تر ټولو وړ شخص دی او بله دا چې د پاکستان سره خپلې اړیکې ښې کړي.

## د پاکستان سره اړیکې

کاکړ وايي چې افغانستان د پاکستان سره ډېر اړخیزې اړیکې لري. یو دا چې د اصلي افغانستان یوه برخه په اوسني پاکستان کې نیول شوې ده. بله دا چې د ډیورنډ د کرښې په دواړو خواو کې په عمده ډول پښتانه قومونه پراته دي او دوی د لرغوني مهال نه تر اوسه په دغو سیمو کې اوسېدلي، خو دوی په رسمي ډول د ډیورنډ په کرښې سره بیل شوي، چې په ۱۸۹۳ کې د برتانوي هند حکومت له خوا په امیر عبدالرحمن باندې تپل شوې وه.

د ۱۹۴۷ کال نه وروسته چې د هند لویه وچه په هند او پاکستان ووېشل شوه په ملګرو ملتو کې افغانستان د پاکستان د غړیتوب په اړه منفي رایه ورکړه. د ثور تر کودتا پورې د پښتونستان د مسلې په سر اړیکې ترخې وې. خو د محمد داود د ولسمشرۍ په اخیر وخت کې د افغانستان او پاکستان د اړیکو د ښه کېدلو په لور اساسي ګامونه اخېستل شوي و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاکړ وايي چې د ثور کودتا د پاکستان واکمن جنرال ضياءالحق اندېښمن کړ. په دغه وخت کې د شوروي اتحاد وزن او حيثيت تر هر بل وخت نه لوړ شوی و. ضياءالحق د سپتمبر په ۹مه د تره کي او امين سره په پغمان کې وليدل خو کتنه ګټوره نه وه او ضياءالحق د ۱۹۷۹ په می کې افغانستان د شوروي لاس لاندې هېواد وباله او وويل، چې افغانستان نور نو حايل هېواد نه دی.۷۴۷ له بلې خوا کابل د پښتونستان داعيه په عمل کې ټينګه ونيوله. د افغانستان پخوانيو حکومتونو ادعا کوله، چې پښتانه او بلوچ د ازادي ولري، چې د خوداراديت د اصل له مخې خپل سياسي برخه ليک په خپله وټاکي. امين د امو او اباسين تر منځ د افغانانو په يووالي ودرېد، تره کي او امين په دې ډول لوی افغانستان غوښته.

تره کي دغه مسله له بريژنف سره ياده کړې او ورته ويلي و، چې افغانستان بايد د هند تر سمندر پورې ورسيږي. هغه وويل چې «موږ بايد د پاکستان پښتانه او بلوڅان د امپرياليستانو په لاسونو کې پرې نه ږدو. اوس دغه امکان برابر شوی دی، د دغو قومونو تر منځ د ژغورنې جګړه شروع کړو او د پښتنو او بلوڅو سيمې په افغانستان کې ورګډې کړو.»۷۴۸ امين لا د ۱۹۷۸ کال په اګست کې پوزانوف او ګوريلوف ته څرګنده کړې وه، چې «د افغانستان سيمه بايد د عمان د خليج او د هند سمندر غاړو ته ورسيږي. موږ غواړو سمندر په خپلو سترګو ووينو.»۷۴۹ امين امريکايي ليکوال هري سن ته هم په همدغه ډول غږېدلی و، چې «تاريخ موږ ته دا سپېڅلی رسالت راکوي چې له خيبر نه اخوا خپل ځپل شوي پښتانه ورونه ترک نه کړو.»۷۵۰ هغه دا هم ويل چې «هېڅوک انکار کولی نه شي چې د افغان انقلاب او د پښتونستان موضوع سره تړلي دي.»۷۵۱

که له يوې خوا پاکستان د افغانستان له لوري په اندېښنه کې و، خو د بلې خوا افغانستان هم د پاکستان له خوا په اندېښنه کې و چې پاکستان به په پېښور کې د اسلامي ګوندونو لويان او افغان کډوال د افغانستان پر ضد ولمسوي. دواړو خواوو ته ښه موقع برابره وه چې د خپلمنځي کشالو د هوارولو په اړه سره وغږيږي.

د ۱۹۷۹ د سپتمبر په مياشت کې نورمحمد تره کي او ضياءالحق د ناپېيلو هېوادو په غونډه کې چې د کيوبا په پلازمينه هاوانا کې جوړه وه، سره وليدل. دوی د کيوبا د مشر فيډل کاسټرو په منځګړيتوب د خپلمنځي اختلافاتو د هوارولو په اړه دوه ځله خبرې اترې وکړې. په دغه خبرو کې د افغانستان د بهرنيو چارو وزير ډاکټر شاه ولي او د پاکستان د جمهور رييس سلاکار اغا شاهي هم حاضر وو. د دغو خبرو په جريان کې په لاندې ټکو هوکړه وشوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱-دواړه لوري به په خپله خاوره کې د يوه او بل د دولت ځواکونو ته د فعاليت اجازه نه ورکوي. پاکستان به د افغانستان د دولت ضد ځواکونو مشران تر څارنې لاندې نيسي او د افغانستان پر ضد فعاليت ته نه پرېښودل کيږي او افغانستان به وطن ته د مهاجرينو د بېرته ستنېدو په موخه عمومي بخښنه اعلانوي، هغوی ته به جزا نه ورکول کيږي او د عادي افغانانو په توګه به د ژوند شرايط برابروي.

۲-دواړه لوري په دې موافقه کوي چې د يو او بل پر ضد به دښمنانه تبليغات بندوي، د افغانستان حکومت به د خلق جريده پاکستان ته نه وړي، د شمشاد په غره باندې د ټلويزيون د جوړولو کار بندوي او په پاکستان کې به خپل د افغانستان خلق ډموکراتيک ګوند رنګوي.

۳-دواړه لوري هوکړه کوي چې افغانستان به د پاکستان تجارتي مالونو له پاره د حيراتان بندر له لارې او پاکستان به د افغانستان د تجارتي مالونو له پاره د کراچۍ د بندر له لارې اړينې اسانتياوې برابره وي.

۴-د دې موافقې د وروستي متن د تيارولو په موخه د افغانستان د بهرنيو چارو وزير ډاکټر شاه ولي پاکستان ته رسمي سفر کوي او بيا د پاکستان د جمهور رييس سلاکار اغا شاهي کابل ته رسمي سفر کوي او دا موافقه به کابل ته د پاکستان د جمهور رييس ضياءالحق د رسمي سفر په جريان کې د دواړو هېوادو د مشرانو له خوا لاسليک کيږي.

امين هم د پاکستان سره د اړيکو د ښه کولو له پاره د تره کي په پله ګام کېښود او د پاکستان د حکومت سره يې تماس ټينګ کړ. پاکستان هم روغ نيتي وښوده او د خبرو له پاره يې تياری څرګند کړ. امين خپل د باندينيو چارو وزارت معين شاه محمد دوست پاکستان ته د يوه پلاوي په مشرۍ واستوه چې د پاکستان د دولت او په خپله د جنرال ضياءالحق له خوا يې تود هرکلی وشو. شاه محمد دوست چې پوه شو چې دواړه لوري سوله غواړي په بيړه يې روسان د موضوع نه خبر کړل. ګروميکو د ۱۹۷۹ کال د دسمبر د اتمې په غونډه کې د خپل راپور په ترځ کې وويل: «د ډپلوماتيکو کانالونو څخه ښکاري چې امين د لوېديځ او امريکا متحده ايالاتو سره د نږدې کېدو لار لټوي. په دې اړه د امين او ضياءالحق تر منځ د وعدې کولو حقيقت دا را په ګوته کوي چې د دسمبر په پای کې ... د پاکستان د لارښود ځانګړی استازی اغا شاهي کابل ته د خبرو له پاره ځي. امين به کټ مټ د لوېديځ يا متحده ايالاتو د رابللو له پاره د دغه کانال څخه ګټه واخلي.»۷۵۲

کاکړ وايي چې د دولت، حکومت او ګوند د سروال په توګه د امين تېروتنې هم وړې نه وې، چې يوه يې د تره کي له منځه وړل و. د دې پېښې له کبله په اوومې فرقې کې پاڅون

(c) ketabton.com: The Digital Library



وشو او په ګوند کې چاود منځ ته راغی. د امین بله تېروتنه دا وه چې په رسمي دفتر کې د شوروي اتحاد سفیر په څپېړه وهل و، چې شوروي لویان یې تر دې اندازې وپارول چې په افغانستان باندې یې وسله وال تېري ته لاس واچوه، خو اقبال وزیري دا روایت ردوي. د امین بله تېروتنه دا وه چې د وروستیو پېښو پایلې یې په نظر کې ونه نیولې او د شوروي لویانو وروستي ناولې سیاست یې درک نه شو کړای.

د تره کي او امین ناکامۍ افغانستان او افغانان په ژور ډول زیانمن کړل. د دغو ناکامیو درس به دا وي، چې د افغانستان د دولتي واک خاوند باید دا زده کړي، چې خپل سیاسي مخالفان څنګه وزغمي او لا ښه دا چې په واک کې یې شریک کړي.

د خلقیانو یوه بله تېروتنه دا وه چې شوروي اتحاد د کمونیستي «ایډیالوجۍ په نامه هر څه کول، په اصل کې یې د خپل ملت له پاره کول. حکومتي سیاستونه او چلندونه په نهایت کې ملي وي، نه ایډیالوجیکي او هېڅ ملي حکومت په خپل ملک کې باندینیو ته په هر نامه، چې وي، واک نه ورکوي. البته د امین په واکمنۍ کې افغان چارواکي موظف شوي وو، چې د شوروي مشاورانو نه یوازې مشوره ترلاسه کړي.»۷۵۳

خو زما لیکوال په اند خلقیانو د تره کي د واکمنۍ په مهال او هم د امین د واکمنۍ پر مهال شورویانو ته د خپل ملک واک نه دی ورکړی لکه چې وروسته کاکړ په خپله وایي: « شوروي مشران په خلقیانو شکمن و او د هرات د پاڅون په وخت کې ان د شوروي اتحاد صدراعظم ا. کاسیګین پر دوی شکمن و او ویل یې چې دوی له موږ نه هر څه پټوي او موږ نه پوهېږو چې په افغانستان کې واقعیت څه دی. کاکړ وایي چې د کاسیګین «له دغې وینا نه څرګنده ده چې خلقي لویانو د حکومت په کولو کې له شوروي مشاورانو سره مشوره نه کوله. په اسلام اباد کې د تاس استازي هم د دغه نظر په ملاتړ ویلي و چې «امین لکه تر هغه د مخه د تره کي په شان حاضر نه و، چې مشوره ومني...»

لازمه ګڼم دلته یوه یادونه وکړم چې ما لیکوال د رحمت ربي زیرکیار په کتاب «د ناپوهۍ تیارې او د پرمختګ ډېوې د افغاني کلتور په چوکاټ کې له امیر عبدالرحمن خان نه تر اشرف غني احمدزي ۱۸۸۰ تر ۲۰۱۵ » په ۴۷۸ پاڼه کې ولوستل چې (د ۲۰۱۵ د جنوري په ۲۲ راته محمد اقبال وزیري په ټلفون کې وویل چې حفیظ الله امین شوروي سفیر په څپېړه وهلی و). زیرکیار زما نه دا پوښتنه وکړه چې ایا امین د شوروي سفیر پوزانوف په څپېړه وهلی و؟ ما ورته وویل چې حفیظ الله امین د شوروي سفیر پوزانوف په څپېړه وهلی نه و. دا پوښتنه څو ځله زما نه پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ هم کړې وه په دې چې هغه ته د امین خوریي په لندن کې ویلي و چې امین د شوروي سفیر پوزانوف په څپېړه وهلی و. ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاکړ صاحب ته وويل چې دا خبره سمه نه ده خو هغه ته دا خبره په دې دليل سمه ښکارېده چې دا خبره د امين خوريي ورته کړې وه چې د امين سره نږدې د خپلوۍ اړيکې درلودې. بيا چې زه پوه شوم چې کاکړ صاحب ته د امين د خوريي خبره سمه ښکارې بيا مې ورنه هيله وکړه چې زما نظر هم په خپله ليکنه کې منعکس کړي. نو ځکه کاکړ وايي چې اقبال وزيري دا روايت ردوي.

زه په دوو دليلونو دا خبره ردوم لومړی دا چې تر هغه ځايه چې ما امين پېژانده هغه د لوړ کلتور خاوند و. برسېره پر دې چې ده په سياست کې غټې تېروتنې هم کړې دي دومره خام سړی هم نه و چې د داسې کړو په سياسي پايلو باندې يې سر خلاص نه شي. نو زما په اند د داسې کلتور څښتن او سياسي شخصيت له پاره په بشپړه توګه ناشونې ده چې په خپل دفتر کې د شوروي سفير چې درې شوروي جنرالان ورسره ملګري وو په څپېړه ووهي. دوهم دا چې که دا پېښه شوې وای نو هغه به لږ تر لږه د شورويانو له خوا هرو مرو بربنډه شوې وای.

کېدای شي چې زيرکيار زما خبره سمه نه وي اورېدلې. هغه په خپله ليکنه کې زما نظرونه په پوره امانت دارۍ سره بيان کړي دي او ما په خپل کتاب کې د ده د ياد شوي کتاب نه ډېره ګټه پورته کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه ویشتم څپرکی

# په افغانستان باندې د شوروي اتحاد وسله وال یرغل

کاکړ د شوروي اتحاد د وسله وال یرغل نه د تنظیمواکۍ تر پیل پورې د هېواد سیاسي او ډیپلوماټیکې پېښې په یوه بل کتاب کې چې «افغان- شوروي جګړه» نومېږي، بیان کړې دي. نوموړي لومړی د روسیې لنډه تاریخي مخینه ته کتنه کوي او وایي چې «روسانو تر هر بل ولس نه زیات خپل هېواد د نورو هېوادونو په تاوان پراخ کړی، سره له دې چې دوی د دغه ملک اوسېدونکي نه دي.»۷۵۴ دی زیاتوي چې د لومړني تاریخ ( Primary Chronicle) له مخې د سلاو قومونو او نورو چې په خپلو کې سره وران وو، په ۸۶۲ زیږدیز کال د سنکندنویانو ورنګیانو روسانو ته بلنه ورکړه، چې «زموږ ملک لوی او شتمن دی، خو نظم په کې نه شته؛ تاسې راشئ او پر موږ حکومت وکړئ».۷۵۵ روسانو دغه بلنه ومنله او په نووګوراد (Novgorad) او نورو سیمو کې میشته شول. دوی وروسته په کیف کې، چې اوس د اوکراین پلازمینه ده، د لومړي ځل له پاره د حکومتي نظام بنسټ کېښود. اوس روسیه د اورال تر غرونو پورې په اروپا او د اورال د غرو نه تر ولادي واستوکه پورې په اسیا کې پراته ده.

په لرغونې زمانه کې دغه سیمه په تېره سوویلي روسیه د نورو قومونو لکه سیمریان، سیتیان، سرمه تیان، هونان، اواران، ګاتان او خزاران، په لاس کې وه. د سیتیانو او خزارانو پرته دوی ټول هندو- اروپایان او پوونده وو، چې یو په بل پسې یې دغه سیمې لاندې کړې او پر ځایي خلکو یې واک وچلاوه. سیمریان لومړنی تاریخي قوم و، چې نږدې د زر نه تر اوه سوه مخزیږدي کال پورې یې پر دغې سیمې واکمني کړې ده.

کاکړ وایي چې اولېګ (Oleg) لومړنی ورنګي روس و چې په ۸۸۲ زیږدیز کال کې یې د کیف ښار ونیو او خپله واکمني یې ورباندې پیل کړه. ورپسې د هغه ځایناستي ایګور (Igor) په روسي کیف باندې له ۹۱۳ نه تر ۹۴۵ پورې واکمني وکړه. د ایګور د مړینې وروسته د هغه کونډه اولګا (Olga) او بیا د هغه زوی سویتاسلاو (Svetaslav) واکمن شو. خو بیا د اولګا لمسی ولادیمیر نامتو واکمن تر ۱۰۱۵ کال پورې واک وچلاوه. دوی خپل پام سوداګرۍ او د لوېدیځو سلاویانو او ختیځ روم سره جګړو ته اړولی و.

د ولادیمیر په واکمني کې روسانو عیسوي دین ومانه. خو دوی د عیسویت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارتودوکس عقیده ومنله چې له کاتولیکي او پروټسټاني عیسویت نه وروسته د عیسویت لویه څانګه ده او یوازې په یوه «حقیقت» عقیده لرله، چې هغه یوازې د بخښنې دین و نه د زغم دین. کاکړ وايي چې د روسانو په عیسوي کېدلو سره د هغوي ژبه د سري لیک (Cyrilic) د الفبا له برکته د لیک ژبه شوه. د روسانو واکمني که څه هم په سوداګرۍ او جګړې په محور څرخېده سیاسي نظام یې زورواک و. مسکو چې تاتاري مغولو د ۱۲۴۰ نه تر ۱۴۸۰ پورې د دوه نیمې پېړۍ محکومیت نه سر هسک کړ د پوره زورواک نظام تر لاس لاندې شو. دا نظام وروسته له هغه نور هم زورواک شو چې د مسکو ایوان په ۱۵۴۷ کال کې د تزار لقب غوره کړ.

روسانو په ۱۸۶۱ کال کې په خپله ټولنه کې یو اساسي سمون راوړ. د تزار د فرمان له مخې سرفان په حقوقي لحاظ ازاد اعلام شول. روسیه د ستر پیتر د واکمنۍ لاندې د عصري صنعت له امله مخ په پیاوړي کېدو شوه. روسې په ۱۸۵۴-۱۸۵۶ کال کې د کریمیا جګړه کې ماتې وکړه. روسې د کریمیا د ماتې وروسته په اسیا کې خپل پرمختګ ته مخه کړه. په ۱۸۵۷ کال کې د انګرېزانو د واک پر ضد د هند د خلکو پاڅون روسان د هند په لوري تللو ته وهڅول تر څو د لوی پېتر په شان تودو اوبو ته د رسېدو خوبونه رښتیني کړي. د دغې موخې د پلي کولو له پاره د اورنبرګ د سترې پوځي اډې نه د منځنۍ اسیا د لاندې کولو له پاره پوځونه استول او د انګلیسانو سره یې ستره لوبه پیل کړه.

ستره لوبه د روسې او د لويې برېتانيې تر منځ د منځنۍ اسیا د لاندې کولو سیالي وه. روسانو په ۱۸۶۴ کال کې خپلې واکمني د خوقند، بخارا او خېوې پولې ته ورسوله او په ۱۸۶۵ کال کې یې تاشکند ونیوه. روسانو د منځنۍ اسیا دغه سیمې په ۱۸۷۷ کال کې د ترکستان د ولایت په نامه نوی تشکیل جوړ کړ. روسانو بیا د بخارا امیر مظفرالدین د یوه تړون له مخې اړ کړ چې خپل سلطنت د روسانو واکمنۍ ته وسپاري. روسې په ۱۸۶۸ کال کې سمرقند هم لاندې کړ.

روسان د امیر شیرعلي خان د دوهمې دورې په سر کې د لومړي ځل له پاره د افغانستان پولې ته ورسېدل او په دغه ډول افغانستان د روسې او د لویې برېتانیا د امپراتوریو له خوا یو چاپېر هېواد شو. په دغو پېچلو شرایطو کې روسان په منځنۍ اسیا کې د خپلې امپراتورۍ په پراخولو، انګلیسان په هندوستان کې د خپلې امپراتورۍ د خوندي ساتلو او افغان واکمنان د خپل هېواد د ساتلو په هڅه کې شول.

د افغان-انګلیس دوهمه جګړه په اصل کې د همدغو دوو امپراتوریو د متضادو سیاستونو د ټکر پایله وه. کاکړ وايي چې د هند انګلیسي وایسرا لارډ لیټن د هندوستان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوندي ساتلو له پاره د امیر شیرعلي خان نه غوښتل چې د خپل هېواد د بهرني سیاست واک د هند حکومت ته وسپاري، خو امیر شیرعلي خان د لارډ لیټن دا غوښتنه ونه منله. خو لږه موده وروسته په ۱۸۸۷ کال کې روسانو یو نابللی پوځي پلاوی د جنرال ستالیتوف په مشرۍ په ناڅاپي ډول کابل ته راولېږه چې د انګرېزانو وېره یې راوپاروله. انګرېزانو د همدې کال په نومبر کې په افغانستان باندې پوځي یرغل پیل کړ. که څه هم روسي پلاوي منلې وه چې د اړتیا په صورت کې به افغانستان ته دوه دېرش زره پوځ استوي خو هغوی نه یوازې خپله ژمنه ترسره نه کړه بلکې امیر ته یې روسي ترکستان ته د تللو اجازه ورنه کړه. خو افغانانو په پرله پسو جګړو سره په ډېره مېړانه دا یرغل په شا وتمبوه تر څو په ۱۸۸۰ کال کې سردار عبدالرحمن خان د افغانستان واکمن شو.

د امیر عبدالرحمن د واکمنۍ پر مهال د افغانستان بهرنی سیاست د هندوستان د انګلیس حکومت په لاس ورغی، خو امیر په کورنیو چارو کې په کړو او نظر کې یو خپلواک واکمن و. کاکړ وایي چې د امیر دوست محمد خان له وخت نه وروسته دا دوهم ځل و، چې د افغانستان او برتانوي هند د حکومت تر منځ دوستي ټینګه شوه، خو روسانو سره له دې په ۱۸۸۵ کال کې پنجدې لاندې کړه او وروسته په ۱۸۹۲ کال کې د پنجه له سیند نه د شمال په لور د اقسو- مرغاب سین پورې بدخشان په پوځي زور ونیو. انګرېزانو د روسې د دغه تیري په وړاندې نه یوازې په خپله څه ونه کړل بلکې د امیر نه یې په ټینګه وغوښتل چې مقابله ونه کړي. په دې ترتیب د افغان- روس اړیکې د روسې د اکتوبر د کودتا پورې خرابې وې.۷۵۶

دافغان روس اړیکې د روسې د اکتوبر انقلاب نه وروسته د پاچا امان الله په وخت کې سره ښې شوې. د دواړو هېوادو تر منځ دوه تړونونه چې یو یې په ۱۹۲۱ او بل یې په ۱۹۳۱ کې لاسلیک شول. د پاچا امان الله د ګوښه کېدو نه وروسته دغې دوستۍ خپله تودوخه د لاسه ورکړه. خو د داود خان د صدراعظمۍ پر مهال د دواړو هېوادونو تر منځ د دوستۍ او همکارۍ نوې پاڼه پرانېستل شوه. له هغه وروسته شوروي اتحاد او ورسره شوروي ډوله کمونستي فکرونو په افغانستان کې نفوذ وکړ. د ثور د پاڅون نه وروسته چې خلقیانو په بري سره سر ته رسولی و، شورویانو هڅه وکړه چې پرچمیان په واک کې شریک کړي او حفیظ الله امین چې د پاڅون اصلي قوماندان او د خلک ډموکراتیک ګوند تکړه شخص و، ترېنه وباسي چې د خپلې لارې خنډ یې باله. دوی د دې کار د پلي کولو په لار کې دسیسې وکړې خو ټولې ناکامه شوې. کله چې شورویان په خپلو دسیسو کې پاتې راغلل نو بیا یې پر افغانستان پوځي یرغل وکړ. کاکړ وایي چې اوس په دې غږېږي چې شوروي واکمنو ولې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه په افغانستان باندې د یرغل پرېکړه وکړه او یرغل یې څنګه پلی کړ. شوروي حکومت د خپل سفارت چارواکو او د ک ج ب غړو ته دنده وسپارله چې د یوې خوا د امین په سروالی له نوي حکومت سره د پخوا په شان د دوستۍ چلند وکړي او د بلې خوا د امین کړه او چلند په کره توګه وڅاري او داسې کار ونه کړي چې هغه د شوروي په اړه شکمن شي. د افغانستان د ننه داسې ځواک نه و چې د امین حکومت وګواښوي نو د دغه واقعیت له مخې د هغه د منځه وړل پر خپلواک افغانستان باندې د وسله وال یرغل له مخې شونی و. نو اندروپوف د لیکوال جګت مهتا په وینا په افغانستان باندې د «حماقت مارش» وکړ چې د هغه په نتیجه کې له ډېرو وژلو او ورانولو نه برسېره سوسیالیستي ایدیالوژۍ په بېساري ډول بې اعتباره شوه، د برژنف دوکترین د تل له پاره تر خاورو لاندې شو او د شوروي اتحاد امپراتوري له منځه لاړه.

## په افغانستان باندې د شوروي یرغل پرېکړه

اندروپوف د دې له پاره چې په افغانستان باندې د پوځي یرغل په موخه د بریژنف هوکړه تر لاسه کړي هغه ته ناسم مالومات ورکړل، لکه هسې چې په ۱۹۶۸ کال کې یې خروسچف ته د چکوسلواکیا د پاڅون په اړه ناسم مالومات ورکړي وو. کاکړ وایي د هغو دواړو اصلي ټکی دا و، چې سوسیالیزم ته د ایدیالوژیکي سبوتاژ خطر متوجه دی چې باید مخه یې ونیوله شي. اندروپوف د دې له پاره چې برېژنف د پوځي یرغل نه اندېښمن نه شي داسې وښودله چې امین او د هغه حکومت به د رښتینو انقلابي افغانانو له خوا نسکور شي او د شوروي پوځ به څنګځن رول ولري. په کابل کې د شوروي قوه بسنه کوي خو د نه لیدونکو ستونزو له پاره اړینه ده چې یوه پوځي ډله د افغان پولې ته نږدې ځای په ځای شي. په دې توګه اندروپوف، اوستینوف او ګرومیکو د ۱۹۷۹ کال د دسمبر په دولسمه نېټه په افغانستان باندې د یرغل په اړه د برېژنف هوکړه تر لاسه کړه.

وزیري وایي چې «سروري، وطنجار او ګلابزوی د بلغاریه څخه مسکو ته د کې جي بې له خوا راوستل شول او د دوی له خوا هلته ساتل کېدل. د کې جي بې اجنټانو دوی ته ویل چې که د شوروي مقاماتو څخه د پوځي مرستې غوښتنه وکړي تر څو د امین رژیم رانسکور کړي نو پوځي مرسته به ترلاسه کړي. بیا سروري او ورسره ملګري یې د پوځي مرستې غوښتنه کوي. خو د کې جي بې مؤظف کسان ورته وایي چې دلته نور افغانان شته چې کټ مټ همدا غوښتنه لري. تاسو د هغوی سره وګورئ او که جوړ راغلئ نو په ګډه به د پوځي مرستې غوښتنه وکړئ. په دې ترتیب کې جي بې دوی تیاروي چې د کارمل او د هغه د ډلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره خبرو ته کښېني.

داچې د ببرک نور ملګري مسکو ته څنګه او څه وخت راغلي دي او دوی د کې جي بي سره د پوځونو د لېږلو په اړه څه کړه وړه درلودل تر اوسه پټ ساتل کيږي خو دومره ښکاره ده چې سروري، وطنجار او ګلابزوی څخه يوازې د کمکي وسيلې په توګه کار اخېستل کېده او اصلي معامله د پرچميانو سره وه چې شايد تر ډيره پټه وساتله شي. دوی (وطنجار، سروري او ګلابزوی) په پای کې د کارمل سره دې نتيجې ته رسيږي چې په ګډه د شوروي اتحاد څخه پوځي مرسته وغواړي او د امين د نسکورېدو وروسته به دولتي چوکۍ سره وويشي او د کارمل مشري به مني.

د شوروي اتحاد څخه د پوځي مرستې د غوښتنې په خاطر غونډه جوړيږي چې لاندې کسان په کې ګډون کوي: د کې جي بي رييس اندروپوف، په کابل کې د شوروي اتحاد د سفارت لومړی سکرتر ګاوريلوف، کارمل، وطنجار، ګلابزوی او سروري. په دغه غونډه کې په اصطلاح افغاني ملګرو د روسانو په سلا د پوځي مرستې موضوع طرح او د شوروي لوري له خوا ومنل شوه. د پوځ د لېږلو وخت د دسمبر د مياشتې تر پايه اټکل شو. کارمل په دغه غونډه کې په ډېرې غوړه مالی اندروپوف ته وويل چې که شوروي پوځونه په پسرلي کې افغانستان ته تللی وای نو د افغانانو له خوا به دومره ګلان ورباندی شيندلي شوي وای چې دوی ټول به د ګلانو لاندې شوي وای.

د ۱۹۷۹ کال د دسمبر د مياشتې په اتمه نېټه په کريملن کې په افغانستان باندې د پوځي تيري په اړه غونډه کيږي چې بريژنف، اندروپوف، اوستينوف، ګروميکو او سوسلوف په کې ګډون کوي. سوسلوف د خپل راپور په ترڅ کې وايي:«ملګري ببرک کارمل دلته په مسکو کې د وطنجار، ګلابزوی او سروري سره وليدل. سره له دې چې دوی په بېلو بېلو فراکسيونو کې دي دوی ګډ دښمن سره يوځای کوي او هغه ګډ دښمن امين دی. د هغه په وړاندې دوی چمتو دي چې په ګډه عمل وکړي.»۷۵۷

بريژنف پوښتنه کوي: «دا څومره واقعي ده چې دوی زموږ د مرستې پرته واک ته راشي؟ بريژنف پرته له دې چې ځواب ته منتظر شي اوستينوف ته مخ اړوي او ورته وايي: ديميتری فيودوروويچ. پوځ د ببرک کارمل څخه ملاتړ کوي؟ ستا مشاورين څه وايي؟

فکر نه کوم ليونيد ايليچ. په پوځ کې د امين نفوذ زښته زيات دی. دوهم دا چې عملاً ټول افسران خلقيان دي اوببرک پرچمي دی»۷۵۸

بريژنف د سوسلوف څخه پوښتنه کوی:«پوستونه يي سره وويشل؟

اساسی پوستونه وطنجار، ګلابزوي، سروري او د کارمل نږدې کسان نور، اناهيتا،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجیب او وکیل نیسي. بریژنف داندروپوف څخه پوښتنه کوي: «یوري ولادیمیرویچ [اندروپوف]. داسې وضع امکان لري چې ببرک کارمل زموږ د برخې اخېستنې پرته واک ته ورسیږي؟ زما مقصد د پوځ د ننوتلو څخه دی؟

په بشپړه توګه، که موږ تشبه وکړو نو امین افغاني ستالین دی او داسې کسان لکه چې موږ پوهېږو صمیمي ملګري نه لري. ځکه زه د پېښو داسې امکان نه ردوم چې امین به لیرې کړای شي.

تاسې دا ثبوت پیدا کړو چې هغه سي ایي اې جذب کړي دی. تراوسه نه، لیونید ایلیچ.»۷۵۹

د ۱۹۷۹ کال د دسمبر په ۱۲ نېټه د کابل څخه د کې جي بې نماینده ایوانوف مسکو ته دوه راپورونه لیږي: «لومړی دا چې د پاکستان اردو ستر درستیز د دوو ورځو په موده کې د پاکستان د ځواکمنې منظمې اردو پذریعه د کابل د نیولو پلان لري...دوهم دا چې د نږدو هفتو په جریان کې د هغو ځواکونو له خوا، چې د امین په وړاندې ولاړ دي، د هغه د واکه څخه د لیرې کولو پلان لري.»۷۶۰

دا دواړه راپورونه بریژنف ته ورکړل شول او د ۱۹۷۹ کال د دسمبر د دوولسمې نیټې د ماښام د ډوډوی وروسته په نهو بجو د بریژنف په مشرئ غونډه جوړیږي چې اندروپوف، اوستینوف او ګرومیکو په کې ګډون کوي. په دې غونډه کې پرېکړه کیږي چې افغانستان ته دې د شوروي پوځونه ننوزي. د دغه راپور څخه ډېر کالونه تېریږي خو هېڅا دا سند وړاندې نه کړو چې د پاکستان اردو د کابل د نیولو پلان درلود. برعکس د ضیاء الحق په راتګ سره د افغانستان او پاکستان په اړیکو کې ښه والی منځ ته راته.»۷۶۱

په دې توګه په افغانستان باندې د شوروي یرغل پرېکړه څلورو تنو وکړه. وروسته د سیاسي دفتر غړو هغه لاسلیک کړه. د پوځ ستر درستیز د دې پرېکړې په وړاندې خپل اواز پورته کړ خو اندروپوف هغه غلی کړ.

ایوانوف لیکی:«کله چې سیاستوال زور ته لاس اچوي هغوی د سیاستوال په حیث مري...بریژنف، اندروپوف، ګرومیکو او اوستینوف د سیاسي لارښوونکو په حیث کټ مټ د دسمبر په دوولسمه نېټه مړه شول. دوی د هغې وضعې یرغمل شول چې په خپله یې منځ ته راوړې وه. سیاسي عمل ترسره شو او پوځیانو ته پرته له دې، چې دا په ستره پیمانه عملیات په لږو تلفاتو ترسره کړي، نور څه پاتې نه شول.»۷۶۲

اوستینوف د ۱۹۷۹ کال د دسمبر په دیارلسمه نېټه ستر درستیز ته دنده سپاري چې په افغانستان باندې د وسله وال تیري له پاره پوځونه تیار کړي او ګرومیکو په ملګرو ملتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د شوروي اتحاد دايمي نماينده ته شفر وركوي: «كه چېرې د امنيت په شورى كې افغانستان ته د شوروي پوځونو د ننوتلو مسله پورته كېږي د ملګرو ملتو د منشور د ۵۱ مادې له مخې، چې هر هېواد د ځانګړې او ډله ايزې دفاع حق لري، باندې تكيه وكړى.»۷۶۳

د ستر درستيز د اوپراسيون د رياست د جنوبي لوري مسؤل ډګروال بوګدانوف د دسمبر په ديارلسمه نېټه هغه وخت، چې د ده څخه پوښتنه وشوه، د خپل سيف څخه هغه نقشه راباسي چې شپږ مياشتې پخوا يې افغانستان ته د شوروي پوځ د ننوتلو په موخه جوړه كړې وه. دغه نقشه چې د سره وكتل شوه نو نوموړي «په خپلو حسابونو كې درې، څلور كندېكه تېر وتنه كړې وه.»۷۶۴

په دې ترتيب سره وينو چې په افغانستان باندې د وسله وال تيري پلان لا د ۱۳۵۸ كال د جون په مياشت كې جوړ شوى و او د دغه پلان جوړولو به هم يو ټاكلى وخت هم نيولى وي. اوس به وګورو چې شوروي اتحاد خپله پرېكړه څنګه پلې كړه.

## شوروي اتحاد د وسله وال يرغل په درشل كې

كاكړ وايي چې د ک ج ب پلان دا شو چې د مخه تردې چې د شوروي پوځ افغانستان ته ننوزي بايد امين د منځه وړل شوى وي او د هغه پر ځاى كېناستل شوى كارمل به د شوروي پوځ ته بلنه وركوي تر څو افغانستان ته د شوروي پوځ ننوتل «مشروع وګڼل» شي. د دغه پلان له مخې به امين په زهرو له منځه يوړل شي او ک. ج. ب كارمل د كودتا په كړلو سره واک ته ورسوي.

## د امين پرضد د کې جي بي ناكامه كودتا

د امين پر ضد د کې جي بې ناكامه كودتا مې په زياته اندازه د خپل كتاب «د ثور پاڅون، د کې جي بې دسيسې او شوروي يرغل» له مخې كښلې ده. اندروپوف د امين پر ضد د كودتا له پاره غواړي كارمل، اناهيتا، نور او وطنجار افغانستان ته وليږي. په دې منظور دوي د کې جي بې د لومړى رياست څخه تاشكند ته راوړل كېږي. داود جنبش د«الفا—د کې جي بې پټ پوځي ټولګى» نومي كتاب، چې د کې جي بې افسر ليكلى دى، نقل قول كوي:

«مېلمانه د ننه وبلل شول. په يوې خونې كې يو پنډ سړى د ميز شا ته ناست او په پوره زوږ له چايو نه غړپ كوي. د پنډ سړي نوم چيچيرين و.

خو د انتظار شېبه لنډه وه. د لومړى رياست استازى راغى، له روغبړ وروسته يې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو ټکو کې د هر چا دندې روښانه کړې. د هغه چا پوره ساتنه به کوی چې اوس درسپارل کیږي....د غفلت په صورت کې مو سرونه غوڅیدلی شي»۷۶۵

دکې جې بې نماینده د اسرارو د پټولو په غرض په ببرک د«بوریا»، په اناهیتا د«انیا»، په اسلم وطنجار د«ساشا» او په نوراحمد نور هم کوم روسی نومونه ږدی او تاشکند ته ورل کیږي. داود جنبش لیکي: «وایی همدلته ببرک کارمل د روسانو په سلا د امین د رژیم د نسکورېدو په هکله وینا ثبتوي. ټینګار کوم دا د جدي د شپږمې نه نږدې شپاړس ورځې مخکې خبره ده.»۷۶۶

د کودتا د کړلو په منظور هغه مسلمان کنډک، چې د نورمحمد تره کي د غولونې له پاره جوړ شوی و، د دسمبر په نهمه او دوولسمه د دووځانګړو الوتنو پذریعه بګرام ته ولېږل شو او د پراشوټ د هغه کنډک سره یو ځای شو چې لا پخوا په بګرام کې موجود و او د تره کي د ساتنې له پاره یې غوږ ونه ګراوه. مسلمان کنډک په افغاني یونیفورم کې د مسکو قوماندې ته سترګې په لاره و. د دسمبر په لسمه نېټه د بګرام په هوایي ډګر کې د تورن جنرال ګوسکوف په سمڅه کې د فضایي سپوږمی نوی ټیلیفون نصبیږي چې د مسکو څخه د امین پر ضد کودتا سیخه د اندروپوف تر قوماندې لاندې ترسره شي.

دشپې له خوا د تاشکند څخه ببرک، نور، اناهیتا او وطنجار د تو- ۱٤٤ الوتکه کې بګرام ته راورل کیږي. د دسمبر په دیارلسمه نېټه ډګروال سکوګاریف خپل دفتر ته د ځانګړې ځانګې افسران راغواړي «په هېواد کې د دولتي کودتا امکان شته. زموږ دنده دا ده چې په هېڅ پلمه اجازه ورنه کړو چې یوه الوتکه هوا ته پورته شي...د موجوده الوتکو پرته لکه چې تاسو پوهیږی دوې ورځې د مخه د شوروي څخه د «میګ الوتکو» جوپه راغله. د الوتکو ورکړه وځنډول شوه، راز راز علتونه په ګوته شول لکه اضافي پرزې یې پوره نه دي، تنظیمونه یې خرابه ده او دې ته ورته. په دغو الوتکو کې به زموږ پیلوټان کښیني، نه افغاني پیلوټان.»۷۶۷

اندروپوف غوښتل چې د ۱۹۷۹ کال د دسمبر په شپاړسمه نېټه په افغانستان کې د امین پر ضد د هغو شوروي قطعاتو پذریعه، چې هلته موجودې وې او هغو پټو لېږل شویو کوماندوګانو پذریعه چې د شوروي په سفارت کې یې ځای په ځای کړی وو، کودتا وکړي. شورویانو پلان درلود چې لومړی حفیظ الله امین او د هغه وراره اسد الله امین ته زهر ورکړي او دوی د لوبې څخه وباسي.

کاکړ وایي چې د امین د منځه وړلو له پاره د ک. ج. ب اتمې څانګې موتالین طالبوف په نامه یو اذربایجاني چې په پاړسو روان ګړېده، د صابر په نامه د امین په پخلنځي کې ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځای کړي و.۷۶۸ نو بيا يې د دغه خپل اجنټ پذريعه په منو کې زهرجن مواد پېچکاري کړي او د نورو منو د پاسه يې ايښې دي. اسدالله امين هغه منه خوري چې زهرجنه ده او سخت ناروغه کيږي، سمدلاسه يې روغتون ته وړي او په چټکتيا سره يې د روغتون څخه شوروي اتحاد ته د درملنې په پلمه ليږي. خو حفيظ الله امين زهرجنه منه نه خوري او روغ پاتې کيږي او دا دسيسه ناکاميږي.

د ۱۹۷۹ کال د دسمبر په شپاړسمه نېټه وروسته له دې، چې نوموړې دسيسه ناکاميږي، اندروپوف تورنجنرال ګوسکوف ته امر کوي چې سمدلاسه مېلمانه بېرته شوروي اتحاد ته واستوي. د فرغانې څخه ان- ۱۲ الوتکه د بګرام هوايي ډګر ته الوتنه کوي. دالوتکې انجنونه همغسې چالان او د شا باروړونکې برخه يې خلاصيږي او مېلمانه پکښې پټوي او سمدلاسه د شوروي په لور الوتنه کوي. بل سهار روسي پيلوټان هم شوروي اتحاد ته الوتنه کوي او«د ميګ الوتکې، چې د امين پر ضد کودتا کې به شوروي پيلوټانو په کار وړلې، افغانی پيلوټانو ته وسپارل شوې.»۷۶۹

کاکړ وايي چې بيا ک ج ب دغه شوروي شوي پرچميان او شوروي شوي خلقيان د بې ارادې ساه کښانو په شان تاشکند ته بېرته واستول. کاکړ وايي چې دوی په کې جې بې ډېره کړې وه او باوري وو چې دوی به په واک کوي. د دغه پلان د ناکامی وروسته دوی اړ شول چې په افغانستان باندې پوځي يرغل ته لاس واچوي.

## په افغانستان باندې د شوروي وسله وال يرغل

کاکړ وايي چې په افغانستان باندې د وسله وال بريد نه د مخه شوروي پوځي ټولګي په وړو وړو ډلو او د ک. ج. ب غړي په بيلو بيلو بڼو افغانستان ته ننوتل. يو شمېر سرحدي ساتونکي په ملکي جامو کې له وړو وسلو، وړو ماشينګنو، توپنګچو او لاسي بمونو سره د شوروي سفارت د ساتنې په نامه ورزيات شول. د ک. ج. ب اووم لمبر څانګې له عملياتي ډلې نه هم د شوروي تاسيساتو د ساتنې په پلمه، د افغانستان د باندينيو چارو د وزارت د مشاورينو په نامه کابل ته ننوتل. داسې هم يو څو ماهران کابل ته راغلل چې په دارالامان کې د امين د هستوګنځي د مخابرو ليکې تر څارنې لاندې ونيسي. د «agat» عملياتو لومړنۍ چارې د ک. ج. ب بين المللي څانګې د اتم مديريت تر څارنې لاندې پرمخ بيول کېدې. په دې ډول د دسمبر د مياشتې په بهير کې د ک. ج. ب ايجنټانو کابل شپه او ورځ تر څارنې لاندې نيولې وو. د هستوګنځي يا شوروي سفارت کې د ک. ج. ب څانګې د ۱۶۰۰ نه زيات پوځي مشاوران او چارپوهان، د هستوګنځي نه د باندې د ک. ج. ب ۶۱ غړي، په خپله د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هستوګنځي ۲۱ ايجنټان او د زينت د ټولګي لس تنه افسران د جاسوسۍ په چارو بوخت وو. پر هغه سربېره ۱۰۳ تنه ايجنټان او ۱۱۰ تنه مرستندويان (چې شايد افغان جاسوسان وي) له هستوګنځي سره په تړاو کې وو. د کابل او مسکو تر منځ مخابره په پرله پسې ډول چالانه وه.۷۷۰

په همدغه مهال هغه شوروي مشاوران او ژباړونکي چې د امين پلويان ګڼل کېدل مسکو ته په بيلو بيلو پلمو غوښتل کېدل. په دوی کې ډېر مهم د افغانستان د وسله وال پوځ د سياسي چارو د عمومي رييس مشاور جنرال زاپلاتين و چې مسکو ته وغوښتل شو. همدارنګه ډګر جنرال ديميتکوف چې بايد د جنرال ګاريلوف ځای يې نيولی وای درې اوونۍ وروسته په دې مسکو ته وغوښتل شو چې د خلقيانو لوری يې نيولی و. شوروي مشرتابه د ستر جنرال پاولوفسکي په مشرۍ پلاوی بېرته مسکو ته وغوښت چې افغانستان ته يې د شوروي پوځونو د لېږلو مخالف و.

د دسمبر په ۱۷مه يوه ډله شوروي سرتيري په دارالامان کې ځای په ځای شول چې د تاج بېګ په ماڼۍ کې د امين د نوي هستوګنځي ساتنه وکړي. د ګارډ قطعه چې نږدې دوه زره سرتيري يې درلودل د جانداد صبري په قوماندانۍ د ماڼۍ د ساتنې له پاره ځای په ځای شوي وو. داسې هم «شورويانو مسلمان کنډک په دارالامان کې د امين د ساتنې په نوم ځای په ځای کړ.»۷۷۱ چې د جدي په ۶مه يې د زينت د ټولګي سره يو ځای د امين په ماڼۍ بريد وکړ.

شورويان د ۱۹۷۹ کال د دسمبر د شپاړسمې نيټې د ناکامې دسيسې وروسته په دې پوه شول چې پرچميان په افغانستان او په ځانګړې توګه په وسله وال پوځ کې هېڅ نفوذ نه لري ا و هغه پوځي قوتونه، چې دوی افغانستان ته په بېلو بېلو پلمو د خلقيانو څخه پرچميانو ته د واک د لېږدولو په خاطر استولي وو، د امين د راپرزولو له پاره بسنه نه کوي. له دې کبله شوروي مشرتابه افغانستان ته د يو سلوشلو زرو شوروي پوځ د ننوتلو له پاره د شرايطو په برابرولو کار پيل کړ.

اندروپوف دې موخې ته د رسېدو له پاره په کابل کې خپل ځانګړي استازي جنرال ايوانوف ته دنده وسپارله چې د افغاني مقاماتو او په ځانګړې توګه امين ته ووايي چې د کې جي بي د معلوماتو له مخې د پاکستان وسله وال پوځ پلان لري چې په نورستان بريد وکړي او هغه ونيسي. خو همدغه اندروپوف د بريژنف د غولولو له پاره د همدغه ايوانوف پذريعه مسکو ته بيا د پاکستان د منظمې اردو له خوا د کابل د نيولو راپور ورکوي. د دغه پلان له مخې مجاهدين به په نورستان کې موقتي حکومت اعلان کړي. د امريکا متحده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایالات، سعودي عربستان، پاکستان، چین او نور لوېدیځ هېوادونه يې سمدلاسه په رسمیت پېژني. دا موضوع زښته جدي ده او کېدای شي د دریمې نړیوالې جګړې د پیل ټکی شي.

د پېښو د دغسې ودې د مخنیوي په موخه د مخه تر دي، چې اشرار په نورستان کې موقتي حکومت اعلان کړي، باید د افغانستان وسله وال پوځ په نورستان او بدخشان کې پوځي عملیات ترسره کړي. د نورستان د عملیاتو د ترسره کولو له پاره د اوومه او اتمه فرقې ننګرهار ته واستول شي او د بدخشان د عملیاتو د ترسره کولو له پاره د د نهرین فرقه او یو غونډ د بامیانو څخه بدخشان ته واستول شي.

دا تشه، چې د کابل څخه د پوځونو د لېږلو په نتیجه کې منځ ته راځي، شوروي اتحاد تیار دی چې د هغې د ډکولو له پاره په موقتي توګه دري کنډکونه دروا‌ستوي چې یو کنډک به په بالاحصار، بل کنډک به په بامیانو او دریم کنډک به په کیله ګي کې ځای په ځای شي. په پای کې امین پرته له دې، چې د حکومت د غړو او یا د سیاسي بیورو د غړو سره خبرې وکړي، په خپل سر يې د دري کنډکونو د رالېږلو هوکړه د شورویانو سره کړې وه. دا موضوع امین د ۱۳۵۸ کال د جدي په پنځمه نېټه د سیاسي بیورو د غونډې وروسته هغه وخت، چې بار ته د ناشتې د صرفولو له پاره د غونډې غړي ننوتل، یاده کړه او وویل چې په افغانستان کې د سوسیالیزم جوړېدل تضمین شول او دا هغه مهال و، چې شوروي پوځونه د الوتکو پذریعه د خواجه رواش هوایي ډګر ته په راتلو، پیل کړی وو.

هغه وزیري ته ویلي و چې د شوروي د دري کنډکو په راتګ خفه دی ځکه هغه د ثور د انقلاب ملي ارزښت کموي. امین شورویانو ته ویلي و چې د دغو دري کنډکونو سرتېري باید پټ وساتل شي چې افغانان يې ونه ویني که نه نیمايي افغانان به هېواد پرېږدي.

کاکړ وايي چې د روسي افسرانو د لیکنې له مخې د دسمبر په ۲۵مه په ماښام د څلوېښتم لمبر پوځ یو کنډک د امو له سین نه افغانستان ته ننوت. ورپسې ټوله شپه ټوله فرقه د شوروي د ملي دفاع وزارت لومړي مرستیال مارشال سوکولوف په قوماندانۍ تېره شوه. په بله ورځ د دسمبر په ۲۷مه د جدي په ۶مه ورته امر وشو چې په پنځه نیمو بجو ځان کابل ته ورسوي. دی زیاتوي چې په عین حال کې په دغه ورځ د پاراشوټ د فرقې واحدونه د کابل په هوايي ډګر کې او یو پاراشوټي کنډک په بګرام کې ښکته شوي وو. د دسمبر په ۲۷مه یوه موټریزه فرقه د امو د لوېدیځ نه تېره شوه او په بله ورځ يې د هرات کنټرول په لاس کې ونیو.۷۷۲

د کاکړ په وینا ک. ج. ب څو ګړۍ د مخه د زهرجن کولو لوبه پیل کړې وه. امین د

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹۷۹ کال د دسمبر په ۲۷مه د غرمې په یوه بجه د تاج بېګ په ماڼۍ کې د خپل ګوند د سیاسي دفتر غړي غونډې ته بللي و. د غونډې یوه موخه دا هم وه چې غلام دستګیر پنجشیری چې د امین په واکمنۍ کې په مسکو کې و او نوی راستون شوی و، د سیاسي دفتر غړو ته هغه څه ووايي چې په مسکو کې يې د امین او د هغه د حکومت په ګټه کړي وو. دی د زیري له قوله وايي چې مېلمانو ته لومړی ښوروا ورکړل شوه چې ډېره خوندوره او د مستو غونډې خوند يې و. ټولو د ښوروا او نورو خواړو ستاينه وکړه. حفیظ الله امین وويل «يو ښه او خاص اشپز يې راستولی دی. ډېر ښه شیان پخوي.»۷۷۳ د قوماندان جانداد په روایت هم «ډوډۍ شوروي اشپزانو پخه کړې... او ډوډۍ ته همدې شوروي اشپزانو زهر اچولي دي... »۷۷۴ یوازینی کس چې ښوروا يې ونه څښله دستګیر پنجشیری و، ځکه چې د وزیري په روایت «.... لا د مخه ویل شوي و، چې سوپ ونه خوري.» ښاغلي وزیري په ټیلیفون کې ما ته دا هم وويل چې ده په دغه ورځ په پخلنځي کې يو شوروي اشپز لیدلی و. له دغې پېښې نه وروسته خلقیان پر پنجشیري باندې شکمن شول چې «د امین د واکمنۍ په نسکورولو کې يې له شورویانو سره برخه واخېسته.»۷۷۵ امین ښه بې هوښه شوی و. د یوه روایت له مخې د روغتون نه ډاکټر ولایت او یو شوروي ډاکټر د درملنې له پاره راغلل چې وروستی بیا په ډزو کې ووژل شو.

د دسمبر په ۲۷مه د جدي په ۶مه ماښام په شپږ نیمو بجو د کابل د مخابراتو په مرکز کې چاودنه وشوه او په هغې سره د ښار ټیلیفونونه د کار نه ولوېدل. د دغه کار له پاره د شوروي اتحاد د مخابراتو وزیر درې ورځې د مخه کابل ته په دې پلمه راغلی و چې ګواکې د هغه د عصري کولو له پاره د شوروي مرستې ارزوي. خو د هغه موخه دا وه چې هغه په کره توګه په نښه او د کار نه واچوي. د ماښام په تیارې سره د خواجه رواش د هواېې ډګر نه د شوروي پنځه زره سرتېري خو د ک. ج. ب په روایت ۷۰۰ سرتېري د تاج بېګ د ماڼۍ په لوري روان شول.

اوه بجې او شل دقیقې وې چې د تاج بېګ په ماڼۍ د لوېدیځ له خوا توغوندي وويشتل شول او دغه د توغونديو باران تر دوولسو بجو پورې روان و. وروسته مالومه شوه چې د ک. ج. ب د الفا او زینت ټولګیو په افغان یونیفورم کې د کرنېل بوریانوف په قوماندانۍ د حکومت په ضد په عملیاتو پیل کړی دی. داسې هم شوروي پوځي ټولګي د څرخي پله، قرغې او د ریشخور په لور لاړل تر څو د منظم پوځي مقاومت مرکزونه يې تر څارنې لاندې نیولي وي. ځینې قوتونه د کورنیو چارو وزارت او راډیو ټلویزیون په لور هم لاړل. خو د شورویانو اصلي پام د تاج بېګ ماڼۍ په خوا و چې د حفیظ الله امین هستوګنځی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یرغل کوونکو سره سخته مقابله د جمهوري ګارډ وه، چې ډېر یې تعلیم کړي او سرپرېکړي ځوانان وو. متروخین وایي چې د دارالامان ماڼۍ که څه هم زر ونیوله شوه او امین د خپلې کورنۍ سره ووژل شو، د هغه ساتونکو دغومره سخت مقاومت وکړ چې ک. ج. ب یې هېڅ فکر نه کاوه. د ک. ج. ب د ځانګړو قواوو نه تر سلو تنو ډېر ووژل شول، او ټپي شول. په وژل شوو کسانو کې کرنېل ګریګوري بوریانوف د اتمې ځانګې قوماندان هم و، چې له مرګ وروسته د شوروي اتحاد د اتل په لقب وویاړل شو.

د کابل د راډیو او ټلویزیون ساتونکو تر هغه په مېړانه وجنګېدل چې ټول ټانکونه یې د منځه لاړل. هلته د یوه کندهاري سرتېري مقاومت د یادونې وړ دی. چې نه یې غوښتل له خپل آمر د اجازې پرته بل چا ته د ننوتلو اجازه ورکړي. څنګه چې هغه په داسې یوه ځای کې ولاړ و، چې رسېدل ورته بې له دې چې ودانۍ ته زیان ورسیږي، ګران و، یرغلګر په ځای ودرېدل او د هغو پر ځای د سټېشن یو مشاور چې پېچلوف نومېده چې کندهاري پرې باور درلوده ورنږدې شو او مرګکی وار یې پرې وکړ. په دې ډول شورویانو په همدې شپه کې د کابل واکمني ترلاسه کړه او له امین سره یې د هغه حکومت هم نسکور کړ.

شورویانو بیا د تاشکند او دوشنبې د راډیوګانو نه د ببرک کارمل د مخه ثبت شوې وینا د کابل راډیو په څپو خپره کړه. د کارمل په اواز کې وویل شول چې د امین حکومت نسکور شوی او دی د انقلابي شورا په نامه له افغانانو او په تېره د نظامي افسرانو نه غواړي چې امنیت وساتي. هغه د امین حکومت فاشستي او وینې بهونکی وښوده.

کاکړ وایي چې په دغه وخت کې کارمل په افغانستان کې نه، بلکې د شوروي اتحاد په کوم جمهوریت کې و. دا د شوروي پوځ و چې د مخه یې په افغانستان باندې تېری کړی، د افغانستان حکومت یې د امین په سرواﻟﯽ نسکور کړی او دغه پوځ دا شونې کړې وه چې د کارمل ثبت شوی اواز په افغانستان کې واوراول شي. نو په دې کې یوه زره شک هم کېدای نه شي، چې شوروي اتحاد پر افغانستان باندې وسله وال یرغل کړی، او شوروي شوی، له افغانستان نه شړل شوی او له افغان تبعیت نه بې برخې شوی کارمل یې د نوي حکومت د سروال په توګه ټاکلی و.۷۷۶ دی زیاتوي چې شورویانو دی ځکه په واک کړ چې کارمل په ۱۹۵۷ کال کې د «مارید» په نامه د ک. ج. ب اجنټي منلې وه. خو دوی په خپله اعلامیه کې په درواغو د خپلو خلکو د غولولو او نړیوالو ته په سترګو کې د خاورو اچولو په نیت وویل چې «په افغانستان کې قوتونه راولاړ شول، د امین رجیم یې په غوښته توګه له منځه یووړ.»۷۷۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خلقي لوبانو تېروتنې

د خلقیانو او پرچمیانو او په واقع کې د ټولو افغان کمونستانو اساسي تېروتنه دا وه چې دوی د افغانستان غوندې هېواد کې د کمونستي ایډیالوجۍ پر بنسټ سیاست او کړه وړه تر سره کول په داسې حال کې چې افغانان پر ملي او دیني ارزښتونو ټینګ ولاړ او د کمونیزم مخالف وو. کاکړ دا هم وایي چې څنګه چې د دغې ایډیالوژۍ خاوندان د دریمې نړۍ په ځینو هېوادونو کې واک ته رسېدلي وو، دوی هم دولتي واک ته د رسېدو له پاره دغه لار ونیوله او له دوی نه خلقیان په کودتا سره واک ته ورسېدل. په ټولیز ډول خلقیان په دې باوري وو چې شوروي ملګري یې د ګډې ایډیالوژۍ له مخې خپل ملګري دي او د نظام په ټینګولو او د هېواد په ودانولو کې به د دوی سره راز راز مرستې کوي. په دغه فکر کې دوی سخت تېروتل. د دوی د لوبانو بله تېروتنه دا وه چې دوی د خپلې ایډیالوژۍ له مخې په شوروي لوبانو باندې باور وو، پرته له دې چې هغوی یې د خپلو کړو او سیاست له مخې پېژندلي وي. د دوی بله تېروتنه دا وه چې دوی د خپل افغان کدرونو او چارپوهانو نه چې په دغه وخت کې د حکومت په ټولو څانګو کې ډېر اوپه چارو کې د مهارت او تجربې خاوندان وو، د خپلې ایډیالوژۍ د غوښتنې له مخې له ادارو نه وایستل او پر ځای بې تجربې خلقیان کېښنول.

شوروي مشران په خلقیانو شکمن و او د هرات د پاڅون په وخت کې ان د شوروي اتحاد صدراعظم ا. کاسیګین پر دوی شکمن و او ویل یې چې دوی له موږ نه هر څه پټوي او موږ نه پوهېږو چې په افغانستان کې واقعیت څه دی. کاکړ وایي چې د کاسیګین «له دغې وینا نه څرګندېده چې خلقي لوبانو د حکومت په کولو کې له شوروي مشاورانو سره مشوره نه کوله. په اسلام اباد کې د تاس استازي هم د دغه نظر په ملاتړ ویلي و چې «امین لکه تر هغه د مخه د تره کي په شان حاضر نه و، چې مشوره ومني...» له مشورې نه مقصد د شوروي اتحاد مشوره وه، په دغه مقصد چې خلقي حکومت پرچمیان په حکومت کې شریک کړي.»۷۷۸ کاکړ زیاتوي چې د امریکې د استخباراتو په یوه راپور کې راغلي چې مسکو د ۱۹۷۹ کال په اوړي کې د تره کي- امین رژیم د بدلولو په لټه کې و. په راپور کې دا هم ویل شوي چې شورویان د خلک ډموکراتیک ګوند د سیالې ډلګۍ مشران چې په اروپا کې مهاجر دي، هڅوي چې باور وکړي چې بېرته به یې په واک کړي یا به شورویان د نظامي کودتا پلان پلی کړي.۷۷۹ کاکړ وایي چې شوروي لوبان ځکه په پرچمیانو ټینګ ولاړ وو، چې پرچمي لوبان انټرنېشنلسټ کمونستان او په شورویت معتقد وو. دوی د عقیدې له مخې شوروي لوبانو ته د تابعیت غاړه ایښې وه، د بل هېڅ افغان ډلې لوبانو د بېګانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېواد لوېانو ته دغسې تابعيت نه و منلی، ځکه چې د دوی د واکمنۍ سرچينه شوروي لويان وو، نه افغان ولس. د دوی د همدغه تابعيت له امله وو چې شورويانو خلقي حکومت د دوی له پاره په خپل پوځ سره نسکور کړ.

کاکړ وايي چې شوروي اتحاد ولې په افغانستان کې دغسې حکومت په پوځي زور سره رانسکور کړ چې په اصل کې د هغه پلوي و. دا چې د دوی اصلي موخه څه وه مالومول يې يو ګران کار دی. د دې دليل دا دی چې د شوروي اتحاد ټولنه سرپټې او نظام يې زورواک و او حکومت يې اصلي موخه ښکاره کړې نه ده. د شوروي حکومت په دې اړه چې هر څه ويلي د دې له پاره ويلي چې خپل دغه يرغل له قانون سره برابر وښيي. د شوروي اتحاد حکومت ان له خپل يرغل هم انکار کړی او د افغان حکومت نسکورول يې د افغانانو کار بللی او په دې اړه يې نارښتيني دليلونه هم وړاندې کړي دي. خو د شوروي د نورو يرغلونو پرعکس د دغه يرغل په اړه دوو ټکو د څېړونکو کار اسان کړی دی. يو دا چې د شوروي اتحاد په رنګولو سره د افغانستان په اړه د هغه يو شمېر سندونه خپاره شوي او بل دا چې د افغان جنګي قوماندانانو او هم د شوروي جنرالانو او افسرانو ليکنې او مرکې راوتلې دي.

د مخه مو يادونه وکړه چې د دوی يوه ادعا دا وه چې امين د لوېديځو هېوادونو په اړه «انډوليز سياست» پرمخ بيوه چې له مخې يې شونې وه چې افغان سياست په هغه لوري واړوي چې د امريکا په خوښه وي. دا کار به د شوروي اتحاد سوويلي جمهوريتونه د خطر سره مخامخ کړي. دوهمه ادعا دا وه چې ګويا د امين حکومت د اسلامي بنسټ پالو له لوري نه د نسکورېدو تر پولې رسېدلی و. له دې امله په افغانستان کې نه يوازې سوسيالستي نظام بلکې د شوروي اتحاد سوويل هم په خطر کې دی. رښتيا دا دي چې دغه ادعا بې بنسټه او د ک ج ب پروپاګنډ و. سره له دې هم دغې ادعا د ډېرو ليکوالو په ليکنو کې انعکاس کړی دی. د حفيظ الله امين په سل ورځنۍ واکمنۍ کې هم هېواد ناارام و، خو وسله والو مخالفانو دغه توان نه درلود چې له حکومتي ځواکونو سره مقابله وکړي، دا خو لا پر ځای پرېږده چې نسکور يې کړای شي. د ډيلي په سفارت کې د امريکا شارژدافيرز په ټينګه وايي: «دغه رجيم د نسکورېدو په حال کې نه و، او ټول سفارت په دې اړه موافق و.»٧٨٠ کاکړ وايي چې په پای کې د امين په واکمنۍ کې د افغانستان امنيتي وضع په داسې حال کې وه، «... زه ، پوهاند ميرحسېن شاه، پوهاند امين (د هرات) له کابل نه د ننګرهار پوهنتون ته په اوونۍ کې يو ځل د درس ورکولو له پاره ان د شوروي تر يرغل پورې تللو، بې له دې چې د ناارامۍ کومه نښه مو په سترګو شوې وي.»٧٨١

دی زياتوي چې همدغسې وضع په ليدو سره به و، چې هغه شوروي جنرالان چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان کې یې نظامي وضع څېړلې وه، افغانستان ته د شوروي پوځ د استولو مخالف وو. د دوی مهم کسان جنرال ګوریلوف، په کابل کې د دفاع وزارت مشاور، جنرال زاپلاتین، د افغانستان د وسله وال پوځ سیاسي مشاور او جنرال پاولوفسکي وو. د لوېدیځ په لور د امین میلان شوروي لویانو ته هسې پلمه وه، دوی په اصل کې نه غوښتل چې امین پر خپلواک افغانستان باندې پر خپلواک ډول حکومت وکړي. دوی د شوروي شوي کارمل او د هغه شوروي شویو ملګرو له لارې غوښتل افغانستان د بخارا په شان د خپلې امپراتورۍ یوه برخه وګرځوي او بیا به د لاس لاندې رژیم له لارې له هغه له طبیعي زېرمو او شتمنیو نه ګټه پورته کړي او په هغو سره خپل ځای په درېدلی اقتصاد په حرکت راولي.

ګیورګي کورنېنکو د شوروي اتحاد د باندینیو چارو د وزیر لومړی مرستیال شوروي یرغل د یوې بلې موضوع سره هم تړلی ګڼي او هغه دا چې «... داسې ښکاري چې تر هغه وخته چې د دې پرېکړه وشوه چې افغانستان ته پوځ واستول شي، د شوروي اتحاد او امریکې او ناټو او نورو هېوادونو تر منځ اړیکې ستونزمنې شوې وې. په ځانګړې توګه د سالت- ۲ تړون چې د ۱۹۷۹ په جون کې کارتر او برېژنف لاسلیک کړی و، په امریکې کې په واقع کې د هغه د مخالفانو له امله په ناکامۍ محکوم و، وروسته افغانستان ورته خاتمه ورکړه. دا کوم تصادف نه و، چې وروستنۍ فیصله د ۱۹۷۹ د دسمبر په دولسم ماښام هغه وخت وشوه چې مسکو خبر شو چې د ناټو شورا پرېکړه کړې چې په اروپا کې به د امریکې د منځني واټن ویشتونکي راکټونه ځای پر ځای شي. په بل عبارت د شوروي لویانو په فکر هغه دلیلونه چې پخوا افغانستان ته د شوروي پوځ په استولو سره پر لوېدیځ باندې د منفي اغېزو له امله مهم ښکاره کېدل، سمدلاسه له اعتبار نه وغورځېدل، دغه اړیکې پخوا خرابې شوې وې بیا نو څه نه وو پاتې چې له لاسه ووځي.»۷۸۲

د حیرانۍ ځای دی چې د ناټو د پرېکړې په وړاندې د شوروي لویانو ځواب پر افغانستان د دوی وسله وال یرغل شو، په داسې حال کې چې د دغه یرغل او د ناټو د پرېکړې تر منځ تړاو نه و. سره له دې هم هغه لکه چې د مخه ویل شوي، د شوروي امپراتورۍ د لا پراخېدو له پاره یوه پلمه شوه، خو د یرغل اصلي موخه یې نه ښووله.

د یرغل رسمي موخه، هسې چې له مخه په خواره ډول یاد شوي دي، د شوروي اتحاد له سوویل نه ډاډمن کېدل، د افغانستان له لارې د امریکې د خطر شنډول، د «ثور انقلاب» د لاسته راوړنو خوندي کول، د امین د «انډولیز چلند» مخه نیول او په افغانستان کې د شوروي دوست حکومت له واکمن کېدلو سره مرسته کول ښودل شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، خو دا ټول هسې پلمې دي او د شوروي د یرغل اصلي موخه بل څه وه.

کاکړ وايي چې په افغانستان باندې د دوی اصلي موخه دا وه لکه چې د مخه یې یادونه شوې ده چې دوی د امین حکومت د دې له پاره نسکور کړ چې هغه انډولیز سیاست پرمخ بیوه او غوښتل یې افغانستان پر خپلواک ډول اداره کړي. دوی د شوروي شوي کارمل او د هغه شوروي شویو ملګرو له لارې غوښتل افغانستان د بخارا په شان د خپلې امپراتورۍ یوه برخه وګرځوي او بیا به د لاس لاندې رژیم له لارې له هغه له طبیعي زېرمو او شتمنیو نه ګټه پورته کړي او په هغو سره به خپل ځای په درېدلې اقتصاد په حرکت راولي.

د بروس ریچارډسن په وینا روسانو د نولسمې پېړۍ له نیمایي را هیسې د سووېلي او منځنۍ اسیا د ښکېلاک په هلو ځلو کې هڅه کوله افغانستان په څو ټوټو وویشي. په ۱۹۸۱ کال کې د «کاسکډ» د عملیاتو تر سیوري لاندې بریژنف ببرک کارمل ته لارښوونه وکړه چې د هېواد د وېش او د مسکو د حضور له پاره دې د کاري پلان بنسټ کېږدي. د دغه پلان له مخې هغو ډلو ته به محدوده خپلواکي ورکړل شي چې د مسکو له پلان څخه ملاتړ کوي. په ۱۹۸۹ کال کې کله چې روسي سرتیري له افغانستان څخه ووتل مسکو هڅه وکړه چې شمالي ټلوالې ته خپلې پوځي او سیاسي مرستې زیاتې کړي چې د هېواد د ولکې ترلاسه کولو له پاره د پخوانیو مجاهدینو او طالبانو سره په جګړه بوخته وه. مسکو دا مرسته ځکه کوله چې په کابل کې د خپل پلوي رژیم له لارې کولی شي د افغانستان په شمال کې د بډایو طبیعي زېرمو د لړۍ د پلټنو له پاره ښه بنسټ شي او هم به په سیمه کې د امریکا د متحده ایالاتو د سیالو اقتصادي نوښتونو د پرمختګ خنډ وګرځي په دې چې هر څوک افغانستان په لاس کې ولري هغه د قفقاز او منځنۍ اسیا د تیلو د شتمنو سرچینو دروازه هم په لاس کې لري.۷۸۳

د ریچارډسن په وینا د افغانستان د طبیعي سرچینو سره د مسکو لېوالتیا له ۱۹۲۷ کال وروسته ښودل شوې ده. عبد الصمد غوث وايي چې «په ۱۹۳۷ کال کې د هاشم خان حکومت د امریکا د انلنډ ایکسپورېشن کمپنۍ سره د افغانستان د انرژي د زېرمو د موندنې او په کار اچولو له پاره تړون وکړ چې په ۷۵ کالو کې به پلي کېږي.» د عبدالصمد غوث په وینا وروسته امریکایانو په یوه اړخیزه توګه دا تړون پرېښود او په افغانستان کې دا ګنګوسې وې چې په دې کار کې د روسانو لاس درلود خو د افغانستان په ارشیف کې داسې سند پیدا نه شو چې روسانو په دې هکله افغانانو ته څه ویلي وي. خو د بهرنیو چارو یوه لوړ رتبه مامور ده ته ویلي چې «روسانو په نېغه د امریکایانو نه غوښتي وو چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان د تېلو د موندنې او د هغو څخه د ګټې اخېستنې د چارو نه لاس واخلي»۷۸۴

په ۱۹۷۷ کال کې د ملګرو ملتونو د سیوري لاندې د طبیعي سرچینو د سروې یو راپور خپور شو چې د افغان او شوروي ځمکه پېژندونکو ګډ کار ښودل شوی و. د پوهانو له پاره د ووډ ویلسن په نړیوال مرکز کې د خپارو شویو مالوماتو له مخې ښکاره شوه چې د همدغې مودې په ترڅ کې روسي ځمکه پېژندونکو د افغانستان د طبیعي سرچینو د کمیت او کیفیت په اړه په سیستماتیک ډول له افغان دولت سره درغلنه کړې ده. شوروي سلاکارانو د ځمکې پېژندنو د پلټنو پایلې په دوو ګزارشونو کې چمتو کولې. یوه بڼه یې د ناامېدۍ په ستنه ولاړه وه او هغه افغانانو ته ورکېدله او رښتینې او کره مالوماتي بڼه یې د شوروي له پاره وه. شوروي په اقتصادي او پوځي چارو کې د افغانستان د پورونو نه په ګټې اخېستنې د طبیعي سرچینو د پرېمانه د ګډ ملتیزو پلټونکو ډلو د پرېمانه شتون سره سره افغان دولتونه اړ شول چې د افغانستان د مینرالي سرچینو د پلټنې حق له بولۍ پرته شوروي اتحاد ته وسپاري.

په ۱۹۶۳ کال کې شبرغان ته نږدې د طبیعي ګاز د موندلو پایله د ۶۰ میلو د واټن په اوږدوالي له افغانستانه د شوروي مرکزي اسیا ته د یوې نل لیکې په غځېده واوښته. له ګاز د پلورلو څخه ترلاسه کېدونکې ګټه د شوروي د پورونو او د هغو د ګټې په بدل کې شمېرل کېده، په دغو کې هغه پیسې هم شاملې وې چې شوروي د پروژو په لګښت لګولې وې. په ۱۹۸۰ کال کې شوروي افغانستان ته دا کریډېټ ورکړ چې د افغانستان د طبیعي ګاز د لېږد ګټه دې په افغانستان کې د شوروي د میشتو پوځونو د لګښت په بدل کې وشمېرل شي. له ۷۰ بیلیونو فټ مکعب ګازو تر ۱۰۵ بیلیونو کوبیک فټ پورې طبیعي ګاز په کلنۍ توګه شوروي اتحاد ته د پوځي نیواک په بیه کې ورکړل شوی دی چې د نړیوال مارکېټ له بیې څخه څو ځله ټیټه حساب شوېده. شوروي خپل میټر په خپله خاوره کې ځای په ځای کړی و او د ګاز د لېږد شمېره به یې یوازې په خپله نیوله او افغانستان دې ته اړ کړ شوی و چې د لېږدول شوي ګاز د شمېرې په اړه د مسکو د میټر شمېره ومني. مسکو د هر زر مکعب فټ ګاز په ۲، ۵ ډالره له افغانستان څخه پیروده او اروپا کې یې په ۵، ۱۰ ډالره پلوره. په دې توګه د غاز بیه په کال کې ۶۰۰ میلیونه ډالرو ته راټیټېدله. د ۱۹۸۶ کال په دسمبر کې نوي ډیلي ته له میخایل ګارباچوف سره د مل رسمي پلاوي یوه لوړپوړي چارواکي د یوې مرکې په ترڅ کې وویل: «چې په افغانستان کې جګړې مسکو ته له اره د یوه (سنټ) په بیه لګښت نه درلود ځکه چې شوروي اتحاد خپل د اړتیا وړ طبیعي ګاز او نور محصولات له افغانستانه ترلاسه کوي.»۷۸۵ سنډې ټلګراف د جون ۹ «د روسیې جګړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شتمني لوټوي» لیکوال کشر جان ایف شروډر

په ۲۰۰۴ کال کې د افغانستان بانک رییس ډاکټر اشرف غني وایي چې «د شوروي د یرغل او نیواک له امله افغانستان د ۲۴۰ بیلیونو ډالرو په کچه د خپلو اقتصادي بنسټونو په نړېدنه او د اقتصادي امکاناتو په له لاسه ورکولو کې تاوان لیدلی دی.»۷۸۶

د ۲۰۰۶ کال د جنوري په دېرشمه سرګۍ ستارچاک د روسیې د مالي چارو د وزارت مرستیال وویل: «روسیه چمتو ده چې د افغانستان د شوروي د پیر پورونه چې اټکلنه یې لس- یوولس بیلیونه ډالره کېږي تر لاندې معیارونو لاندې په مشروط ډول وبخښي: هر اقدام چې تر لاس لاندې نیول کېږي باید د پور شمېره د افغانستان له لوري تصدیق لیک سره مل وي او د پور د بخښنې هر تړون چې تر لاس لاندې نیول کېږي باید د جنګي ماتینیو (غراماتو) او جبران په اړه د افغانستان د هرې ادعا او غوښتنې لمن ورلنډه کړي چې افغانستان یې په خپله خاوره کې د شوروي سرتېرو د شتون په تړاو ولري.»۷۸۷

په مسکو کې د اګست په ۶مه نېټه (د پور بخښنې) د تړون په لاسلیک کولو ، د پور د ۸۰ په سلو کې د بخښنې منلو ته د ډاکټر احدي غاړه ایښودنه د درغلنې او زورمتۍ د غاړې ټیټولو مانا لري. د هغې تر څنګ د احدي لاسلیک د افغانستان د هغه قانوني حق لاسونه او پښې وروتړل چې د نړیوالو تړونونو او کنوانسیونونو تر سیوري لاندې له ۲۰۰ بیلیونو نه زیات اووښتی تاوان په اړه د عادلانه اقداماتو په اړه د افغانستان غوښتنه ده.۷۸۸

## دشوروي تیري په وړ اندې غبرګونونه

په افغانستان باندې د شوروي اتحاد وسله وال تیري نه یوازې په هېواد کې د ننه بلکې په نړۍ کې انګازې وکړې. دا لومړی ځل و چې شوروي د خپل کمپ نه د باندې پر یوه ناپییلي هېواد باندې د ټولو نړیوالو پرنسیپونو پر خلاف وسله وال تیری وکړ. کاکړ وایي چې د افغانستان او شوروي اتحاد تر منځ د دولتي نظام او کلتوري ارزښتونو تر منځ پوره تضاد و. په سیاسي ډګر کې دوی په بیلو بیلو لارو روان وو. شوروي اتحاد د نړۍ د سوسیالستي کمپ سروال او افغانستان د ناپییلو هېوادو غړی و. په شوروي کې د اسلام دین ځپل کېده او په افغانستان کې اسلام لمانځل کېده. شوروي اتحاد چې د ډېر لوی پوځ او پراخې امپراتورۍ په لرلو سره له امریکا نه وروسته دوهم زبرځواک و، افغانستان یې تر خپل نفوذ لاندې هېواد ګاڼه. شوروي اتحاد تر یرغل د مخه د درویشتو کلونو په بهیر کې د افغانستان په پرمختیایي پروژو کې د کریډیټونو په بڼه پولي او تخنیکي مرستې کړې وې، او د افغانستان د خلک ډموکرټیک ګوند د هغه ټینګ پلوي و، خو څنګه چې شوروي اتحاد د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانانو پر وطن تېرى کړى و، د دوى غوڅ اکثریت د یرغل په وړاندې جګ شو، او له خپل وطن، خپلواکۍ، ننګ، ناموس او دین نه دغسې ټینګه ساتنه وکړه چې نړیوال ورته ګوته په غاښ شول. ځکه د نړۍ ډېرو حکومتونو او خلکو له افغانانو سره خواخوږي وښووله او د پیسو او وسلو په ګډون یې ډېرې مرستې ورسره وکړې.

کاکړ وایي چې د مخه تر دې چې د شوروي اتحاد د یرغل په وړاندې د نړیوالو غبرګونو په اړه وغږېږي غواړي چې شوروي مشرتابه او په ځانګړې توګه ک ج ب د خپل یرغل د سپینوي له پاره خپلو خلکو او نړیوالو ته څه دلیلونه وړاندې کول. دوى «خپلو ګوندي کدرونو، د خپل سوسیالستي کمپ حکومتونو او هم د سوسیالستي هېوادونو ۳۶ کمونېستي او کارګري ګوندونو ته د خپلو سفیرانو او ایجنټانو او خپرونو له لارې رسوله چې د افغانستان ډموکراتیک جمهوریت، چې د شوروي ملګرى و، د باندینیو وسله والو باندېونو له خوا تر خطر لاندې شوى او غوښتل یې چې نه یوازې د اپرېل انقلاب لاس ته راوړنې له مینځه یوسي، [بلکې] د افغانستان ډموکراتیک حکومت هم نسکور کړي او هلته د امپریالیزم تر لاس لاندې حکومت په واک کړي او په دې ډول زموږ د سوسیالیستي هېواد امنیت هم له خطر سره [مخا]مخ کړي،»۷۸۹ امین د انقلاب مشر نورمحمد تره کي او په سلګونو انقلابیان د منځه وړي او په دې برخه کې یې د باندنیو سره لاس یو کړ. ده د یوه واړه بانډ په ملګرتوب په واقعیت کې افغانستان د لوېدیځ په لور بیوه.

شوروي لویان د خپلو خلکو سره هم رښتیني نه وو. دوى هڅه کوله چې د شوروي اتحاد خلک د یرغل او جګړې په واقعیتونو خبر نه شي او کوښښ یې کولو چې په خپرونو یې بندیزونه ولګوي. ان پر پوستې او په ټلیفوني خبرو څارنه پیل شوه. سرتېرو ته ویل کېدل چې امریکایانو په افغانستان تیرى کړى او تاسو د افغانانو سره د مرستې له پاره لېږل کېږئ. خو تعلیم کړي شورویان د باندینیو راډیوګانو له لارې لږ لږ د دغه تیري او جګړې د واقعیتونو په اړه خبرېدل. له یرغل ژر وروسته د شوروي پوهانو یوې ډلې د او. بوګومولوف په مشرى د شوروي اتحاد مرکزي کومیټې ته یو راپور واستوه چې په هغه کې یې د یرغل د ناکامۍ وړاندوینه کړې او په وړاندې یې ټینګ غبرګون ښودلى و.۷۹۰ شېوارنادزې وایي چې په شوروي اتحاد کې خلکو پر افغانستان باندې یرغل د چکوسلواکیا د یرغل په پرتله زیات منفي غبرګون وښود. دى زیاتوي چې «له ۱۹۷۹ نه وروسته اکثرو [شوروي خلکو] په نېغ یا نانېغ ډول پر افغانستان باندې یرغل محکوم کړ.»۷۹۱ سره له دې هم هېڅ د سخاروف پرته پوره زړورتیا نه لرله چې په ښکاره یې په اړه وغږېږي.

د شوروي دا یرغل د دې لامل شو چې په نړیوال کمونستي غورځنګ کې چاودون

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشي. لومړنی چاودون د ستالين د مړينې وروسته د چين کمونسټ ګوند د شوروي اتحاد د کمونېسټ ګوند لاره پرېښوده. د دغه يرغل پر ضد د ايټاليې، رومانيې او نورو کمونستي او ملي ډموکراټيکو ګوندونو د نيوکو اوازونه جګ کړل. د ختيځې اروپا په هېوادونو کې سره له دې چې د شوروي اتحاد د کنټرول لاندې و، ناراضه ډلو د شوروي يرغل په ضد فعاليتونه پيل کړل او د اولمپيک په لوبو کې يې د نه ګډون غوښتنه کوله، چې په ۱۹۸۰ کال کې په مسکو کې کېدلې. په دغه لړ کې د چکوسلواکيې د يوې ناراضه ډلې په يوه ليک کې دغه لوبې هغو لوبو ته ورته ښوولې چې په ۱۹۳۶ کال کې د نازيانو په واکمنۍ کې په برلين کې شوې وې.۷۹۲

کاکړ وايي چې په لوېديځو هېوادونو کې د شوروي يرغل په وړاندې د امريکې ولسمشر غبرګون اغېزناک و. د امريکا متحده ايالات د اوږدې مودې له پاره د نړۍ په دې برخه کې د شوروي اتحاد د نفوذ او ځواک د خپرېدو نه په اندېښنه کې و. د امريکا چاروآکو فکر کاوه چې که شوروي اتحاد خپل ځان په افغانستان کې ټينګ کړي بيا به پاکستان تر نفوذ لاندې راولي او د دې وروسته به د پارس خليج په ملکونو کې خپل نفوذ خپور کړي. په دې توګه په دغه سيمه کې د شوروي نفوذ به د ايران، عراق او کوېټ تيل چې امريکې، اروپا او جاپان ته وړل کيږي، د خطر سره مخامخ کړي. امريکا په سياسي لحاظ هم اندېښمنه شوه هغه دا چې په افغانستان کې د شوروي اتحاد فزيکي شتون به امريکه اړه کړي چې د خپل دوست هندوستان سره اړيکې نورې هم ټينګې کړي. په دغه حال کې به پاکستان تر خطر لاندې او سوسيالستي کمپ به نور هم پياوړی شي. د دغې شونتيا د مخنيوي په موخه امريکې د شوروي په وړاندې دا دريځ خپل کړ چې په افغانستان کې د هغه پوځي شتون ورته ډېر ګران او ستونزمن کړي او د پاکستان په لور د هغه د وړاندې تګ مخنيوی وکړي. خو کاکړ وايي چې امريکايان په دې فکر هم وو چې دوی شورويان له افغانستان نه ايستلی نه شي او په خپله افغانان د دې توان نه لري چې دوی د خپل هېواد نه وباسي. په دې ډول امريکايانو په افغانستان کې د شورويانو پوځي شتون او د افغانستان بايلل منل، پرته له دې هم دوی افغانستان د شوروي اتحاد د نفوذ سيمه ګڼله. په دې توګه د شوروي اتحاد د يرغل په وړاندې ځواب دفاعي و او غوښتل يې چې د دغه ستر سيال اقتصاد کمزوری کړي او د وېتنام غچ ورڅخه واخلي. د شوروي يرغل نه وړاندې کارتر په ويانا کې بريژنف ته په يوه رسمي ليدنه کې ويلي و چې «امريکې د افغانستان په ننيو چارو کې لاسوهنه نه ده کړې» او «موږ غواړو چې شوروي اتحاد همدغسې وکړي.» د اګست په مياشت کې بريژنسکي د امريکا د امنيت شورا سروال د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارټر په لاربښوونه د شوروي اتحاد سفير دوبرينين ته په افغانستان کې د شوروي اتحاد مخ په زياتېدونکې ښکېلتيا په اړه د امريکا «ټينګه اندېښنه» ښکاره کړه. سايروس وانس د امريکا د بهرنيو چارو وزير چې د شوروي اتحاد سره د نرم چلند پلوي و، بيا يې هم د سپټمبر په ۱۹ نېټه څرګنده کړه چې «امريکا په افغانستان کې د هر ډول لاسوهنې سره مخالفه ده.»۷۹۳ خو د نومبر د مياشتې نه وروسته چې ايران د امريکې چارواکي يرغمل ونيول د امريکې حکومت پام هغې خواته شو او د امين ورانديزونو ته يې پام ونه کړ چې د امريکې سره يې د اړيکو د ښه کولو له پاره کړي وو. بيا هم د ډسمبر د مياشتې په لومړيو کې په مسکو کې د امريکې سفير توماس والټسن ګروميکو ته د افغانستان پولو ته ورڅېرمه د شوروي پوځونو د خوځښتونو له امله اندېښنه ښکاره کړه.

برژنسکي د ډسمبر په ۲۶ نېټه د شوروي يرغل په اړه کارټر ته په يوه يادښت کې د امريکې د غبرګون په اړه خپلې سپارښتنې وړاندې کړې:

۱. افغان مقاومت بايد ژوندی وساتل شي نورې وسلې، پيسې او تخنيک ورته ورکړل شي.

۲. پاکستان ته ډاډ ورکړل شي چې د مجاهدينو سره مرسته وکړي. دا به اړينه وي چې موږ پاکستان ته مرستې ورکړو او د امنيت سياست يې بايد د اټومي قوې د نه جوړولو له سياست نه ازاد وي.

۳. موږ بايد چين، اسلامي هېوادونه وهڅوو چې د مجاهدينو سره مرسته وکړي.

۴. موږ بايد روسانو ته ووايو چې د دوی کړو د سالټ- ۲ ترون له خطر سره مخ کوي.

۵. موږ بايد د ملګرو ملتونو موسېسې ته د شوروي دغه کړه سولې ته د خطر په نوم وړاندې کړو.

امريکا د شوروي د بريند يرغل په وړاندې لومړی ګام دا و چې د شوروي اتحاد سره يې د نويو قونسلګريو پرانېستل ټال کړل؛ شوروي اتحاد ته يې د لوړې تکنالوژۍ او نورو ستراتيژيکو توکو صادرول ودرول؛ شوروي اتحاد د امريکا په اوبو کې نور ماهيان نه شي نيولی او امريکا به هغه اوولس ميليونه متريک غله چې له شوروي اتحاد سره يې ترون شوی و، پر هغه ملک ونه پلوري. امريکا همدارنګه په مسکو کې د راتلونکي کال د اوړي په لوبو کې د ګډون نه ډډه وکړه او نورو لوېديځو هېوادو هم همدغسې وکړل او د اولمپيک په لوبو کې يې ګډون ونه کړ.

کارټر شوروي اتحاد ته ګوتڅنډنه وکړه چې «هر باندنی ځواک چې کوښښ وکړي چې د پارس خليج کنټرول کړي هغه به د امريکې د متحده دولتونو د حياتي ګټو په وړاندې بريد

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګټل شي او دغه برید به په هرې اړینې وسیلې د نظامي ځواک په ګډون په شا ووهلی شي.۷۹۴ په دې توګه د امریکا متحده ایالاتو له یوې خوا په اقتصادي او پوځي توګه د پاکستان په پیاوړي کولو او د بلې خوا په سیمه کې د شوروي د راتلونکي وړاندې تګ د شونتیا د مخنیوي له پاره په ګړندي ډول د پوځي ځواک ځای په ځای کولو باندې لنګر واچولو.

د فرانسې حکومت په یرغل نیوکه وکړه او د برتانیې صدراعظمې مارګرېټ تاچر د شوروي یرغل محکوم کړ او پر شوروي حکومت یې غږ وکړ، چې خپل پوځونه له افغانستان نه وباسي، ټولو لوېدیځو هېوادونو نه یوازې د شوروي اتحاد تر لاس لاندې د کارمل رژیم په رسمي ډول ونه پېژانده، بلکې له کابل سره یې اړیکې وشلولې، خو هلته یې خپل سفارتونه ونه تړل او هر یوه په خپل سفارت کې ځو تنه ماموران پرېښودل، چې د افغانستان د رواني وضعې په اړه یې خبر وساتي.

په افغانستان باندې د شوروي یرغل په اړه د ملګرو ملتو موسسې کلک غبرګون وښود. د ملګرو ملتو د امنیت شورا د ۱۹۸۰ کال د جنوري په پنځمه نېټه د دوو مخالفو رایو په وړاندې په ۱۳ رایو پرېکړه وکړه چه له افغانستان نه دي باندیني پوځونه ووځي چې د شوروي اتحاد په ویټو سره رد شوه. بیا د جنوري په ۱۴ مه نېټه د ملګرو ملتو د موسسې د عمومي اسمبلې په بیړنۍ غونډه کې د ۱۸ رایو په وړاندې په ۱۵۴ رایو پرېکړه وشوه چې له افغانستان نه دې باندنی پوځ د کوم قید او شرط پرته ووځي. د ۱۹۸۰ کال د جنوري په ۲۸مه نېټه په اسلام اباد کې د اسلامي موسسې کنفرانس ګډونوالو له شوروي اتحاد نه په ټینګه وغوښتل چې خپل پوځ د افغانستان نه وباسي.

د ۱۹۸۱ کال په سر کې په نوي ډیلي کې د ناپیيلو هېوادو په غونډه کې غړو هېوادونو د شوروي اتحاد نه وغوښتل چې خپل پوځ د افغانستان نه وباسي او د هغه د ناپیلتوب درناوی دې وکړي. د همدغه کال په اوړي کې د اروپا اقتصادي ټولنې لا په ټینګه د افغانستان نه د شوروي اتحاد د پوځ د ایستلو غوښتنه وکړه. اروپايي ټولنې شوروي اتحاد ته ډاډ ورکړ چې د دوی د پوځ د وتلو نه وروسته به افغانستان د اسټریا غوندې چې په ۱۹۵۷ کال کې د هغه د پوځ د ایستلو نه وروسته یو ناپیلی هېواد شو، هغسې یو ناپیلی هېواد وي. د چین حکومت د شوروي اتحاد سره اړیکې ښه کول له افغانستان نه د هغه د پوځ په ایستلو پورې وتړل. په یو شمېر ملي، ډموکراتیکو او سوسیالستي هېوادو کې په افغانستان باندې د شوروي اتحاد یرغل په کلکه وغندل شو او په نړیوال کمونستي غورځنګ کې یو بل چاود رامنځ ته شو. د شوروي اتحاد د یرغل په وړاندې د ایټالیې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



رومانیې او نورو کمونستي او ډموکراتیکو ګوندونو د نیوکو غبرونه جګ کړل. لومړی چاود لا د مخه د ستالین د مړینې وروسته د شوروي او چین د کمونستو ګوندونو تر منځ پېښ شوی و.

شوروي اتحاد دا ټولې غوښتنې، چې د نړۍ د مطلق ډېرکي خلکو استازیتوب یې کاوه، رد کړې او په دې توګه یې د نړۍ په کچه خپل اعتبار زیانمن کړو. نو ځکه د کارمل ګوډاګي رژیم هېڅ مشروعیت ونه موند او نړیواله هوا کړکېچنه شوه؛ دیتانت د منځه ولاړ او نړیوالو افغان جنګیالیو ته د پیسو، وسلو او نورې ډول ډول مرستې په غټه کچه پیل کړې.

## د شوروي یرغل په وړ اندې د افغانانو لومړني غبرګونونه

د شوروي یرغلګر پوځ په وړاندې د افغانانو مقاومت عام و. د کاکړ په وینا د شوروي اتحاد ځلوېښتم یرغلګر پوځ چې «هغه شوروي شوي، پراري او د افغانستان د تابعیت نه محروم شوي پرچمیان، کارمل او ملګري یې او داسې هم شوروي شوي او پراري شوي خلقیان- سروري او ملګري یې» هم ورسره وو په افغانستان یرغل وکړ. که څه هم دغه شوروي شوي او پراري شوي پرچمیان او خلقیان «په افغانستان کې پیدا شوي او د افغانانو په پیسو د عصري زده کړې خاوندان شوي وو، خپلو وطنوالو ته شا کړه او دولتي قدرت ته د رسېدلو له پاره یې د شورویانو مریتوب ته غاړه کېښوده. دوی په دغه ډول د خپلو وطنوالو د حاکمیت منل شوی حق تر پښو لاندې کړ او هغو او وطن ته یې خیانت وکړ.»۷۹۵

دا یرغل هغه وخت وشو چې په افغانستان کې یو ډول جګړه روانه وه. یرغلګرو دا جګړه د ازادۍ په جګړه بدله کړه. کاکړ وایي چې دا جګړه د جهاد په کلیمه کې خلاصه شوې چې هغه په اصل کې د یرغلګرو په وړاندې د کورنۍ، وطن، ناموس، خپلواکۍ او اسلام نه ساتنه ده.۷۹۵الف جهاد په لومړیو وختونو کې د اسلام د خپرېدو له پاره کېده او اوس په ټوله اسلامي نړۍ کې د مسلمانانو د ناتوانۍ له امله دفاعي شوی دی. په دې توګه جهاد په وروستۍ مانا د یرغلګرو په وړاندې د هېواد پولې ساتل دي او جهاد په دې مانا د وطن نه ساتنه ده. په نولسمه پېړۍ کې افغانانو د پنجاب د سیکانو او بیا د انګرېزانو په وړاندې جهاد وکړ خو د افغانانو جهاد د شوروي یرغلګرو پر وړاندې ډېر ټینګ او عام و.

د ځلوېښتم لمبر پوځ ټولګي په ښارونو لکه کابل، هرات، شینډنډ، کندهار، جلال اباد

(c) ketabton.com: The Digital Library



او فيض اباد او د هغو چاپېر او داسې هم په لويو لارو کې ځای په ځای شول. په کابل کې د شوروي سرتېرو په وړاندې خلکو په فردي توګه خپل مخالفت يو ځای بل ځای وښود. د بېلګې په توګه د کوهستان د قلعه يو ځوان عبدالله د مى په مياشت کې د شوروي په يوه ګزمه کوونکي سرتېري د چاړې برید وکړ او مړ يې کړ او بيا يې د هغه يونيفورم په ځان کړ او د هغه په وسلې سره يې هغه اووه روسان هم ووژل چې په نږدې ويالې کې يې لمبل. دغسې بريدونه د راتلونکي توپان پيلامه وه.

کاکړ وايي چې د يرغلګرو په وړاندې د عامو خلکو له خوا مخالفت په ځانګړې ډول د کندهار ښار د خلکو له خوا ژر او په ډراماټيک ډول وښوول شو. له يرغل نه پنځه ورځې وروسته د کندهار خلک د يرغلګرو په وړاندې جګ شول. يرغلګر پوځ وروسته له دې چې يو څو تنه پاځونکوونکي يې ووژل، چونۍ ته پرشا شول. د ښار هټيوالو دغې پېښې ته د خپلو هټيو په تړلو غبرګون وښود. د فبروري تر لومړۍ اوونۍ اعتراضونه او پاڅونونه عام شول، په دې ډول چې ښځو او نارينه وو پر خپلو بامونو باندې په اذان کولو پيل وکړ او په داسې حال کې چې روسان او د کابل لاسپوڅې رژيم يې غانده خپلو هديرو ته يې مخه وکړه.

د هرات خلکو هم د يرغلګرو په وړاند ټينګ غبرګون وښود. د هرات خلکو د ۱۹۸۰ کال د جنوري د مياشتې په لومړۍ اوونۍ په بهير کې د ښار نارينه د روسانو په ليدلو سره ماجتونو ته لاړل او هلته يې په دعا کولو پيل وکړ او د ښار ټولې هټۍ يې وتړلې. د فراه او بلخ ښارونه هم نارام شول خو نه د کندهار او هرات په شان چې نارامي په کې پرله پسې او عامه وه.

د ۱۹۸۰ کال د فبروري په ۲۲مه د کابل خلکو په لوی پاڅون لاس پورې کړ چې په خپل اوږد هٔ تاريخ کې بې سارى و. کاکړ وايي چې د کابل پاڅون په واقع کې د ټولو افغانانو د احساس هينداره وه، ځکه چې په کابل کې د افغانستان د ټولو سمتونو او قومونو خلک اوسېدل. د پاڅون نه د مخه د رژيم امنيتي چارواکو «اټکل دوه سوه کسان چې په هغو کې خلقيان هم وو، په دې نامه ونيول چې خلک پاڅون ته هڅوي.»۷۹۶

د کابل په تاريخي ښار کې د توپان لومړۍ نښه د ماښام پر مهال د الله اکبر نارې وې چې له بامو پورته او په ټول ښار کې يې انګازې وکړې. د حوت په دريم سبا په زرګونو کابليانو له زاړه ښار نه په يوه لوی پاڅون لاس پورې کړ، له نورو برخو-دشت برچي، پل خشتي، محمد جان خان واټ، سالنګ واټ، جمال مينې، بيني حصار او قلعه فتح الله نه هم په زرګونو افغانان راووتل. د دغو ډلو د هرې يوې سره په لار کې په زرګونو افغانان يوځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدل. د حاجي يعقوب په څلور لاري کې يو شمېر ښځو د شوروي ضد شعارونه ورکول، خو هغوی زر تيت کړای شوې. حکومتي پوځي ټولګي چې په سړکونو کې ځای په ځای شوي وو، «د سالنګ په واټ کې د پاځوونکوونکو سره مخامخ شول، ځينو خلقيانو له دې نه ډېره وکړه چې د پاڅوونکو پر ضد عمل وکړي.»۷۹۷ پاڅون کوونکي بې وسلې او په سوله ييز ډول په وړاندې تلل. امنيتي ځواکونو د لاريون کوونکو د ټيټولو له پاره لومړی د لوړ غږ وسيلو او بيا د هوايي ډزو نه کار واخېست، خو اغېز يې ونه کړ، نو بيا يې په پاڅون کوونکو سيخې ډزې وکړې چې د لومړۍ ليکې کسان په مځکه ولوېدل، نورو د هغو بيرغونه جګول او مارش ته يې د ډزو په حال کې تر څه وخته دوام ورکاوه. خو دوی نور نه شو کولی چې مارش ته دوام ورکړي او د غاړې په تنګو کوڅو کې خواره کېدل او څه درنګ وروسته بيا ورتلل. په پای کې دوی د پل خشتي جومات ته پناه يووړه خو هلته هم ډزې وشوې. د پاڅون کوونکو د خوربدلو وروسته امنيتي ځواکونو بيا هوايي ډزې د دې له پاره پيل کړې چې خلکو ته وښيي چې دوی له اول نه همداسې کول.

امنيتي ځواکونو په پاڅون کوونکو په پل سوختې او ميروېس ميدان کې ډزې وکړې چې هلته د دوی نه ډېر کسان شهيدان شول او نور تيت شول. په همدې مهال د پاڅون کوونکو بله ډله د قلعه شهدا نه راووتله او ده بوري له لارې د سيلو په لور پر مخ لاړه هلته نور د مخه خواره شوي پاڅون کوونکي ورسره يوځای شول. دوی په ګډه د خوشال مينې د پوليسو منځی چور کړ. څارونديانو نه يوازې د دوی په وړاندې د کړو وړو نه ډډه وکړه بلکې پرې يې ښوول چې د دوی وسلې تر لاسه کړي دغه مهال د شوروي سرتيري په زغرورو موټرو کې را دمخه شول او د پاسه چورلکې الوتلې. د غرمې په شاوخوا کې په خوشال مينه کې د بمونو چاودنو انګازې وکړې. شوروي زغرورو موټرو او چورلکو ډزې پيل کړې او په دې ډول روسانو په لومړي ځل د مځکې او هوا نه پر افغانانو وسلې وچلولې.

د لاريون کوونکو بله لويه ډله د چنډول نه راووتله او د څارندوی له ناحيې نه يې وسلې چور کړې. دغه پاڅون زر وځپل شو. په باغ عليمردان کې هم خلک پاځېدل او د پوليس له ناحيې نه يې وسلې تر لاسه کړې. د هغی يوې ډلې ان تر ارګ پورې ځان ورسوه چې د سر د زيات زيان د ورکولو وروسته پر شا شوه.

کاکړ وايي چې رژيم د دغه لوی پاڅون په ورځ د غرمې پر مهال د تلويزيون په خپرونې کې پوځي حکومت اعلام کړ او د خلکو غونډې يې ناقانونه وبللې او د څلورو کسانو نه د زياتو کسانو يوځای ګرځېدل يې ناقانونه وبلل. کاکړ زياتوي چې د پنځو زرو افغانانو نه چې امنيتي ځواکونو بندي کړي وو، يو شمېر يې د يو څو امين پلوه خلقيانو په ګډون له

(c) ketabton.com: The Digital Library



محکمې پرته زندی شول.۷۹۸

د کاکړ په اند د روغ عقل غوښتنه دا وه چې روسانو باید دغه پاڅونونه د ټولو افغانانو د نیت او ارادې هنداره ګڼلې وای او د نیواک په سیاست یې د سره نظر کړی وای، لکه چې د هند انګرېزي حکومت یوه پېړۍ د مخه په ورته حال کې همدغسې کړي وو. خو شورویانو د زور او پوځ نه کار واخېست. دی زیاتوي چې په همدغه وخت کې به وو، چې په افغانستان کې د شوروي پوځ لوړ قوماندان ته له مسکو نه دا هدایت ورسېد چې «د وسله وال مخالفت د تنظیمونو د منځه وړلو له پاره د افغان پوځ په ملګرتیا فعال عملیات پیل کړي.»۷۹۹

نوې امنیتي ادارې یا خاد وسله وال ایجنټانو به شکمن کسان نیول او کورونه به یې لټول. په کابل کې به دغسې شپه نه وه چې هټۍ او مغازې چور نه شي، او کورونه ونه لټول شي او د خلکو شته لوټ نه شي. روسي ګزمه والو هم هټۍ او مغازې لوټولې. کاکړ وایي چې داسې زور زیاتی پیل شو چې خلکو د خلقي حکومت ځپل هېر کړل.

د پاڅون کوونکو هېڅ ډلې تنظیم نه درلود او مارش کوونکي عادي او بې نومه افغانان وو. دوی د هغو افغانانو نه توپیر درلود چې د افغان- انګلیس په دوهمه جګړه کې د انګرېز یرغلګرو په وړاندې جګ شوي وو. په هغه وخت کې د خلکو د پاڅون سروالي داسې نومیالیو لکه جنرال محمد جان خان وردک، جنرال غلام حیدر څرخي، میر بچه خان کوهستاني، ملا مشک عالم اندړ او نورو کوله. خو د اوسنیو مارش کوونکو پاڅونونه ډېر طبیعي، له جوش او جذباتو نه ډک او نامنظم وو.

کاکړ وایي چې د دغو پاڅون کوونکو غټه ځانګړتیا له سني وروڼو سره د شیعه وروڼو ملګرتوب و په داسې حال کې چې د افغان-انګلیس په دوهمه جګړه کې په کابل کې یوازې سني افغانان جګ شوي وو. «د قزلباشو وړه برخه پرچمیان وو چې «د داخلي روسانو» په نامه یاد شول.»۸۰۰

په دې توګه نږدې ټول افغانان له دیني، ژبني، قومي او سمتي پولو نه اوښتي او د شوروي یرغلګرو په وړاندې جګړه کې په یوه زړه برخه واخېسته. د دې پاڅون اصلي انګېزه د یرغلګرو په وړاندې د ملي او اسلامي ارزښتونو ساتنه وه.

د شوروي د یرغل پر مهال د کابل پوهنتون زده کړیالان چې د ثور د پاڅون نه د مخه یې شمېر دولس زرو او د استادانو شمېر یې اته سوو ته رسېده او د ښوونځیو زده کوونکي رخصت وو. دوی د تعلیمي کال د پیل نه وروسته د شوروي یرغلګرو د نیواک په وړاندې په لاریونونو پیل وکړ. پرچمیانو د اپرېل په پنځه ویشتمه د عمر شهید په لیسه کې په څلوورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زده کوونکو او د حبیبیې په لیسه کې پر یو زده کوونکي مرګوني ګوزارونه کړي وو. په دغه وخت کې لومړی د کابل د ښوونځیو زده کوونکو په کابل کې نارامي جوړه کړې وه. په دغو نارامیو کې د کابل د ښوونځیو نجونې ډېره زړورتیا ښودله او هغوی په هغو څارندویانو ملنډې وهلې چې د دوی د اراموله له پاره استول شوي وو. دغو نجونو دوی د روس مریان بلل او نورو د پېغور په توګه پړوني پرې اچول. دغو نجونو په خپل زړورتوب اریانونکې وضع رامنځ ته کړې وه خو پولیسانو د دوی سره نرم چلند کولو او خواخوږي یې ورسره لرله. خو پرچمیانو چې له پولیسو سره یوځای وو، پر نجونو رحم نه کاوه.

د اپرېل په ۲۹مه هغه لاریون چې د پوهنتون زده کړیالانو د پوهنتون په ساحه کې په لار اچولی و لا هم خونړی و. دغو زده کړیالانو د شوروي ضد شعارونه ورکول او په لوړ اواز یې د شوروي پوځ د وتلو غوښتنه کوله. دغه لاریون چې د انجنري پوهنځي نه پیل او کله چې د فارماسي پوهنځی ته ورسېد، پرچمي وسله والو ځوانانو اول هوایي ډزې او بیا په زده کړیالانو سیخې ډزې وکړې او درې تنه یې ترېنه شهیدان کړل. د دې سره سره لاریون کوونکي مخ په وړاندې لاړل تر څو د دارالمعلمین په څلور لاري کې لس زده کړیالان د پرچمي وسله والو په ډزو ووژل شول. د پوهنتون د زده کړیالانو دغه لاریون د دغو پېښو له امله پرته له دې چې ښار ته ورسیږي تیت شو. په دې ورځې د ښوونځیو یو شمېر زده کوونکي سړکونونو ته وتلي وو، د سوریا د نجونو ښوونځی کلا بند شوی و او د حبیبیې د ښوونځي زده کوونکي د شوروي سفارت ته د اعتراض کولو له امله ورنږدې شول، پرچمیانو پرې ډزې وکړې او درې تنه یې ترې شهیدان کړل.

د می د میاشتې په دریمه بیا د پوهنتون زده کړیالانو یو ستر لاریون پیل کړ چې دا ځل ډېر منظم و او د ښار په لور روان شو. دوی چې بریکوټ ته ورسېدل پر اسانو سوارو سرتېرو سره مخامخ شول. دغو سرتېرو په لاریون کوونکو برید وکړ؛ په ډنډو یې ووهل او اوښکې بهوونکی غاز یې پرې وشینده. له پنځو سوو نه زیات یې بندیان کړل. د می په ۲۲مه وروستی لاریون چې د انجنري پوهنځي نه پیل شوی و له پیل سره سم وځپل شو. خو د ښار د ښوونځیو زده کوونکي او زده کوونکې په ټول ښار کې نارامې او پارېدلې وې. دغه ښوونځي د پولیسو له خوا کلا بند وو او زده کوونکو او په ځانګړې توګه نجونې زده کوونکې اعتصابونه په لاره اچولي وو.

د جون په دوهمه اوونۍ کې په ځینو ښوونځیو کې زده کوونکي زهرجن شول. په درې پرله پسې ورځو کې د سوریا د نجونو ښوونځي او یو شمېر نور ښوونځي زهرجن شول. د دولتي چاپځي دېرش تنه کارکران هم زهرجن شول. څو ورځې وروسته د جون په دولسمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نېټه د لسو ښوونځیو زده کوونکي او زده کوونکې زهرجنې شوې. په دغه ورځ له پنځوسو تنو نه زیات زده کوونکي د درملنې له پاره روغتونونو ته یووړل شول. دا چې دغه کار چا کولو مالوم نه شو. د کابل رژیم دغه کار د امپریالیزم او د اخوانیانو کار باله خو په کابل کې تینگه اوازه وه چې هغه د خاد کار و. یو دلیل یې دا گڼل کېده چې د زده کوونکو اوږدې نارامۍ د کابل رژیم بې اعتباره کړی او خاد غوښتل چې د دې لارې دوی ووېروي. دوهم دلیل یې دا گڼل کېده چې که په دغه کار کې د خاد لاس نه وای نو هغه به هغه کسان پیدا کړي او نیولي وای. پرچمیانو د شورویانو په ځواک سره دغه لاریونونه په وچ زور وځپل.

## د افغانستان ډموکراتیک جمهوریت یا د کارمل واکمني

کاکړ وایي چې د شوروي اتحاد د یرغل زر وروسته د شوروي شویو پرچمیانو او شوروي شویو خلقیانو نه د ببرک کارمل په سروالۍ حکومت جوړ شو. د دغه نظام بڼه هغه وه، چې مخکې وه، غټ توپیر یې دا و چې د حکومت ساحه له پخوا نه ډېره وړه شوې وه. حکومت یوازې په ښارونو کې و او اطرافي سیمې د مجاهدینو په لاس کې وې. «حکومتي تشکیلات د پخوا په شان منظم او د لوړو چارواکو القاب غټ وو، خو اعلی واک له شورویانو سره و، چې پوځ یې په افغانستان کې ځای پر ځای کړی و، د رجیم لویان یې په واک رسولي او د خپلو مشاورانو له لارې یې پرې حکومت کاوه.»۸۰۱

کاکړ وایي چې د دغې «تکاملي مرحلې» په نوي نظام کې ببرک کارمل د افغانستان د خلق ډموکراتیک گوند د سیاسي دفتر لوی منشي، د وزیرانو د شورا یاني د حکومت او دولت سروال او د پخوانۍ ویره وونکې ادارې اگسا سروال اسدالله سروري یې مرستیال و، سید محمد گلابزوی د کورنیو چارو وزیر، محمد رفیع د ملي دفاع وزیر، او نجیب الله د خاد سروال شو. گلابزوی د «مامد» په نامه او رفیع د «نیروز» په نامه د ک ج ب ایجنټان وو. سروري او نجیب الله چې ک. ج. ب والو ته په ځانگړې ډول منلي وو، په زیات گومان هم د هغې ایجنټان وو. په خپله کارمل هم په ۱۹۵۷ کال کې د ک. ج. ب ایجنټ منلې وه.

په کابل کې د شوروي اتحاد لوړ قوماندان مارشال سرگی سوکولوف و، چې یې د شوروي سفیر، د ک. ج. ب استازي او نورو په مرسته حکومت چلوه. کارمل او د رژیم وزیرانو ته د مهمو موضوع گانو په اړه د شورویانو له خوا لیکل شوې ویناوې ورکول کېدلې او دوی به هغه په هغه ډول اورولې، چې لکه په خپله یې وي. دا ویناوې د ک. ج. ب مېجر پاولوف او د ک. ج. ب د باندنیو استخباراتو څانگې یو غړي تیارولې.

د لیکوال ارنولډ په وینا «د ۱۹۷۹ کال په ختم سره د افغانستان خلق ډموکراتیک

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوند نور نو په افغانستان حکومت نه کاوه؛ د شوروي اتحاد کمونست ګوند کاوه.»۸۰۲ ګرومیکو وایي چې «ببرک له موږ نه مشوره وغوښته چې که دی کنفرانس ته د ګډون له پاره لاړ شي، موږ ورته مشوره ورکړه چې ښه دا ده چې د افغانستان د پولو نه اخوا نه شي»۸۰۳ له دغه کنفرانس مطلب د اسلامي هېوادونو د مشرانو هغه کنفرانس و، چې له یرغل نه زر وروسته په اسلام اباد کې کېده.

کاکړ وایي چې د کارمل په هسک کولو سره د شوروي مشاورانو شمېر زیات شو، تر هغه د مخه د شوروي نظامي او ملکي مشاورینو شمېر ۳۵۰۰ تنه وو. په ۱۹۸۴ کال کې د شوروي مشورینو شمېر نږدې لس زره تنو ته لوړ شو. د جراردت په وینا هېڅ وزیر د شوروي مشاورینو له مشورې پرته ان یوه وړه پرېکړه نه شي کولی. کاکړ زیاتوي چې «د باندینیو چارو واقعي وزیر شاه محمد دوست نه بلکې له ډېر وخت له پاره واسیلي سفرانچوک و.» د جراردت په وینا دغه وزارت «ټول ټلګرامونه او رسمي سندونه باید دوی ته وښودل شي او هېڅ څیز د یوه روسي د لاسلیک نه پرته استول کېدلی نه شي.»۸۰۴

اندروپوف فکر کاوه چې د پرچم او خلق تر منځ یووالی د ډاډ وړ و خو په اصل کې خلقیان او پرچمیان سره جوړ نه وو او د دوی یو موټی والی لنډ مهاله و. دوی یوازې د امین د پلویانو په ځپلو کې سره یو موټی وو. دوی اټکل دوه سوه امینیان د وزیرانو په شمول بندیان او یو شمېر یې زندی کړل. پرچمیانو هوډ درلود چې څنګه اوس دوی د شوروي پوځ په زور واک ته رسېدلي نو خلقیان او په تېره امیني خلقیان وځپي. خو پرچمیانو د دې کار وس نه درلود، یو دا چې دوی په پوځ کې د خلقیانو په کچه ځواکمن نه وو، بل دا چې سروري، ګلابزوی او وطنجار د امین د حکومت په نسکورولو کې د شوروي پوځ سره ملګرتوب کړی وو او شورویانو ته منلي وو او د کارمل زور پرې نه رسېده. ګلابزوی له کار نه ایستل شوي خلقیان په ځان راټولول اوپه خپل وزارت کې یې په دندو ګمارل. په دې ډول د کورنیو چارو وزارت د خلقیانو له پاره یو ډول پناه تون شو او ګلابزوی د دوی ژغورونکی شو. د بلې خوا پرچمیان په خاد کې ننوتل او خاد یې د شوروي مشاورینو په مرسته دومره واک ورکړ، لکه په شوروي اتحاد کې ک. ج. ب ته ورکړ شوی و. خو پوځ او څارندوی د کارمل په لاس کې نه و.

خادستانو په ټولو ښارونو او په ځانګړې توګه په کابل کې د شوروي او هم د رژیم مخالفان په ډول ډول تورونو نیول او د تحقیق په مهال یې سخت کړول. دغه رژیم د خاد له لارې زښته زیات افغانان بندي کړي او ډېر یې زندی کړي دي. کاکړ وایي چې د ۱۹۸۲ کال تر پایه چې دی یې د خپلو څو ملګرو استادانو سره د صدارت له نظارت خانې نه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



څرخي پله زندان ته بوتلو، د دغه بندیتون په اوو بلاکونو کې اټکل دېرش زره افغانان بندیان وو. د ۱۹۸۳ کال د دسمبر په ۲۳مه شپه د ۳۵۰ او ۴۰۰ تر منځ بندیان د چمتلې دښتې ته د زندی کولو له پاره یوړل شول. دی زیاتوي چې د یوه پخواني پرچمي په روایت د ۱۹۸۴ کال د می میاشتې پورې د ۱۶۰۰۰ نه تر ۱۷۰۰۰پورې بندیان په همدې دښتې کې زندی شوي دي.

که څه هم په مسکو کې سروري د خلقیانو او کارمل د پرچمیانو په استازیتوب د ګوند د یووالي په اړه ژمنه کړې وه، خو ورته رښتیني نه وو. دغه یووالی هم د ثور د کودتا د مخه یوالي غوندې ظاهري و چې د شورویانو له خوا وربانديې تپل شوی و. کارملیانو لا د مخه د خلقي لویانو پر ضد تبلیغ پیل کړی و، چې په هغه کې ډېر ماهر وو. دوی غوښتل چې خلقي لویان که څه هم یې ورسره اتحاد کړی و، بې اعتباره کړي. کارملیانو د اسدالله سروري پر ضد که څه هم په نوي رژیم کې د دوهم مقام خاوند و، ډېر تبلیغ کاوه.

کاکړ زیاتوي چې اسدالله سروري هم چې په اګسا کې د دسیسو او وژلو متخصص و، په دغه وخت کې د پرچمیانو پر ضد د کودتا په لټه کې شو. ده د زیري په مخ کې یو څو ملګرو ته وویل چې «کارمل او څو غټ پرچمیان به مړه کړو، شورویان بل څوک نه لري، بله چاره نه لري، مجبوریږي پر موږ او تاسو باندې تکیه وکړي.» کاکړ زیاتوي چې سروري د ک. ج. ب شتون په نظر کې نه و نیولی. سروري د مخه تر دې چې په هغه لاس پورې کړي د ۱۹۸۰ کال په جون کې د یوه لوړپوړي پلاوي په ملګرتوب مسکو ته وبلل شو او هلته د اندروپوف د لیدلو نه وروسته منګولیا ته د افغانستان د سفیر په توګه واستول شو.

کارمل شورویانو ته ویل چې په عمل کې د ګوند نه یوالی د خلقیانو له امله دی او ګوند به هغه وخت یو موټی شي، چې خلقیان وځپل شي لکه چې بلشویکانو منشویکان ځپلي وو. خو کارمل په دې نه پوهېده چې «بلشویکي ګوند لوی او منشویکي ګوندګی» وړوکی و او «بلشویکانو په خپل قوت کودتا کړې وه او پوځ او کارګران یې تر شا ولاړ وو، او لنین په شان یې مشر لاره.» په دې ډول د پرچم ګوندګی د بلشویک ګوند سره د پرتلې وړ نه و او «کارمل د شوروي پوځ په شتون سره له خلقیانو نه وېرېده».۸۰۵

کاکړ زیاتوي چې اوس د شوروي مشاوران او د ک.ج. ب چارواکي په ګوند او رژیم کې پوره ننوتلي وو، ورته مالومه شوې وه چې پرچمیان سربېره پر دې چې قوي نه دي، تر خلقیانو نه ډېر د ګوند د یووالي پر ضد تبلیغ او کار کوي.میتروخین لیکي چې «د ۱۹۸۲ کال په مارچ کې سوکولوف او جنرال اخرامیيف په یوه راپور کې اوستینوف ته څرګنده کړه چې نور، بریالی او ګل اغا د ګوند د یو موټي والي او ګټو پر ضد کار کوي او دوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کشتمند، نجیب الله او رفیع الله له ملاتړ نه بهره من دي. ځنګه چې د دوی نفوذ مخ په ډېرېدو دی، دغه کسان په خاص ډول خطرناک دي او دوی زیاتره وخت د شوروي مشاورانو سپارښتنې او نظریې له پام نه غورځوي او د منافقانو (phariseec) په شان ټګماري کوي.»۸۰۶ دی زیاتوي چې دغو پوځي «مشرانو نظر ورکړ چې دوی باید له موجودو کلیدي مقامونو نه ګوښه شي او د باندې واستول شي.»۸۰۷

خو په مسکو کې شوروي مشرانو د پوځي جنرالانو سپارښتنې ونه منلې او یوازې یې د ملي دفاع وزیر محمد رفیع یې مسکو ته د مسلکي کورس د لوستلو له پاره واستوه او پر ځای یې جنرال عبدالقادر وګوماره. د هغه مقررى نه اصلي مطلب دا و چې د پوځ خلقي افسران ډاډه وي او د زړه نه جنګ وکړي. جنرال قادر د عثمان په نامه د ک. ج. ب ایجنټ و. په کابل کې شوروي مشاورانو په کارمل ملنډې وهلې او ویل به یې چې «د یابو د بدلېدو وخت راغلی». له یابو نه مقصد کارمل و. خو د دې سره شورویانو بله چاره نه درلوده خو دا چې کارمل او د هغه رژیم د پیاوړي کولو له پاره خپل کوښښونه جاري وساتي. بیا نو شورویانو د خاد په پیاوړي کېدلو او نظامي کېدلو باندې نور هم لنګر واچولو.

## د شوروي یرغل او پاکستان

د کاکړ په وینا د شوروي یرغل نه د مخه یو شمېر افغانان او هم یو څو تنه تنظیمي لویان پېښور ته اوښتي وو، خو هغوی د خلقي حکومت په وړاندې د کوم حکومت له فعال او جوت ملاتړ نه بهرهمن نه وو. یوازې د امریکې ولسمشر جیمي کارټر د پاکستان د دولت مشر ضیاء الحق په هڅونې له افغان مجاهدینو سره د ۱۹۷۹ کال د جولایي په میاشت کې د پټې مرستې ورکول منلي و، چې هغه څه باندې نیم میلیونه [ډالرو] په اندازه وې او د غیر نظامي شیانو له پاره وې. امریکې نه غوښتل چې مجاهدینو ته د جوتو مرستو په ورکولو سره شوروي اتحاد وپاروي. ضیاء الحق سره له دې چې د کمونیزم ټینګ مخالف او د مجاهدینو کلک پلوي و، له خلقي حکومت سره یې د هغو په اړه خبرې رواني کړې وې او په دې اړه پرمختګ شوی و، خو هغه د شوروي په یرغل سره پر ځای ودرېدلې.

د شوروي اتحاد یرغل نوې وضع منځ ته راوړه. د امریکا ولسمشر کارتر انګېرله چې شوروي یرغل په دغه سیمه کې ستراتیژیکه وضع په خطرناک ډول اړولې ده او دغه وضع د پارس په خلیج کې د امریکا د تېلو حیاتي ګټې د شوروي د هوایي ګوزار د نښه کولو په ټاک کې روالي؛ د امریکې دوست هېواد پاکستان چې په مهم ستراتیژیک موقعیت کې پروت دی تراټي او په ایران او د منځني ختیځ په نورو هېوادونو باندې د شوروي د فشار شونتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



زياتوي.

ضياءالحق هم انديښمن و چې افغانستان به د شوروي په مرسته د پاکستان اسلامي هويت ته خطر پېښ کړي. څنګه چې ختيځ پاکستان د هند په ملاتړ لا د مخه د بنګله دېش په نامه له پاکستان نه بېل شوی و، د شوروي په يرغل سره د هېواد بشپړتيا ته انديښمن شو. ضياءالحق د پښتونستان او بلوڅو له داعيې نه په وېره کې و، چې افغانستان يې ملاتړ کاوه. له دې کبله د پاکستان دولتي مشر د امريکې د پوځي او اقتصادي مرستو د جلبولو له پاره د ستراتيژۍ او امنيت موضوع ټينګه ونيوله. په دې موضوع کې نه يوازې امريکا بلکې نور لوېديځ هېوادونه هم ورسره يوکېدل. ضياءالحق ته هغه مهال ښه موقع په لاس ورغله چې د ۱۹۸۰ کال په ټاکنو کې رونالډ ريګن په امريکا او مارګرېت تاچر په انګلستان کې بريالي شول. دوی دواړه د شوروي د وړاندې تګ او د هغه د دغه يرغل په وړاندې د فعال چلند پلويان وو. دغه وخت چې رونالډ ريګن او مارګرېت تاچر د خپلو حکومتونو سروالان شول افغانانو د شوروي پوځ او د هغه لاسپوڅي رژيم په وړاندې په بېلو بېلو بڼو مخالفت ښوولی وو او د کابل ښار او د ولايتونو د مرکزونو چاپېر سيمو پرته پر ټول افغانستان مسلط شوي وو. دوی دا مهال ښوولې وه چې د شوروي د يرغلګر پوځ په وړاندې د دوی اراده د وطن او اسلام نه د ساتنې په لار کې ټينګه او نه ماتېدونکې ده. خو نړيوال په بل فکر وو. برېژنسکي ويلي و چې «افغان جګړه به په څلورو يا پنځو مياشتو کې سره شي.» ده دا هم ويلي و چې «موږ شورويان اړ کولی نه شو له افغانستان څخه ووځي.»۸۰۸ ضياءالحق هم دا ويلي و چې دا به معجزه وي چې شوروي پوځ له افغانستان څخه ووځي. خو ضياءالحق په دې پوهېده چې افغان ځوانان به د شوروي يرغل په وړاندې که اړتيا شوه په تشو لاسونو هم جګړه وکړي.۸۰۹

ضياءالحق د افغانانو د همدې ټينګې ارادې او خپله پاکستان ته د شوروي اتحاد د خطر له امله وپتيله چې د شوروي په وړاندې خپل هېواد د مخکې کرښې دولت وګرځوي او کوښښ وکړي چې له امريکې او نورو هېوادونو نه د وسلو او پيسو مرسته تر لاسه کړي.

امريکا سره له دې چې د مقاومت د ډلو تنګ نظري يې نه غوښتله، پاکستان خپل کسان غوښتل او په دې اړه يو کړکېچ و، چې د امريکا له پاره مهم نه و. امريکا د پاکستان سره د مرستې کولو په موضوع کې ان د دغه هېواد اتومي پروګرام او هم د نشه اي توکو پروسس کول ټينګ ونه نيول. امريکې د پاکستان سره توافق وکړو چې د هغې له مخې به امريکا پاکستان ته په شپږو کلونو کې يو نيم ميليارډ ډالره پوځي مرسته او يو ميليارډ او اووه سوه ميليونه ډالره اقتصادي مرسته ورکوي، چې په هغو کې به د ايف- شپاړس

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلوبښت جنګي الوتکې هم وې. د امریکې حکومت د دې له پاره چې د شوروي په وړاندې خپل متحد پاکستان ښه پیاوړی کړي په ۱۹۸۶ کال کې دوهمه مرسته د شپږو کلونو له پاره د څه باندې ځلورو میلیاردو ډالرو مرسته ومنله. د دې مرستې برسېره امریکې پاکستان ته خپل پخواني پورونه وبخښل او ځینو نورو لوېدیځو هېوادو او عربستان او نورو عربي عماراتونو چې د پېټرو ډالرو خاوندان و د پیسو مرستې وکړې. په دې توګه په پاکستان کې د اقتصادي ودې نوې دوره پیل شوه. د بلې خوا افغان تنظیمونو ته د امریکې او عربستان د پیسو مرستې د پاکستان له لارې رسېدلې چې د هغې په پایله کې دغه تنظیمونه تر خپل نفوذ لاندې راوستل او پوځي چارواکو یې د پاکستان د خوندیتوب له پاره د ستراتژیکې ژورتیا طرح جوړه کړه. کاکړ وایي چې د مخه تر دې چې د دغو اسلامي تنظیمونو د جوړښت او د هغو د چلندونو او له پاکستان سره د هغو د اړیکو په اړه وغږېږي غواړي چې په پېښور او پېښین کې د ګڼو افغانانو هغه کوښښونه وکتل شي چې په افغانستان کې یې د ملي ارزښتونو پر بنسټ د حکومت جوړولو له پاره هاند کاوه او د اسلامي تنظیمونو مخالفانو د پاکستان د حکومت په هڅونې هغه ځنګه او ولې ناکام کړل.

کاکړ وایي چې د شوروي یرغل نه وروسته د ۱۹۸۰ کال تر پایه نږدې یو میلیون او په ۱۹۸۹ کال کې له افغانستان نه د دغه پوځ تر وتلو پورې څه باندې درې میلیونه افغانان پاکستان ته ولېږدېدل او په پېښور، کوېټه او د هغو چاپېر سیمو لکه باجوړ، مومند، ملکنډ، کرمه، شمالي وزیرستان، سوویلي وزیرستان او نورو سیمو کې هستوګن شول. داسې هم د لوېدیځو ولایتونو خلک ایران ته کډوال شول. دوی ټول د شوروي یرغلګر پوځ او د پرچم د رژیم مخالف وو. دوی په دې فکر وو چې یوازې د افغانستان خلک دغه حق لري چې ځنګه غواړي هغسې حکومت په پښو ودروي. د دغه اصل له مخې د یرغل سره مخالفت عام و. دی زیاتوي چې په واقعیت کې ټوله کشاله د واکمنۍ په چورلټ (محور) چورلېده. دا هغه وخت و چې افغانان د باندینیو ځواکونو له خوا تر فشار لاندې نیول شوي وو. د ننه شورویانو پرچمي رژیم افغانانو ته جوړ کړی او په پاکستان کې ای اس ای د ضیاء الحق په دستور سخت دریځه تنظیمونه پیاوړي کول او ملي ګوندونه او شخصیتونه یې ځنډې ته کول. په دغو شرایطو کې د پخواني پاچا محمد ظاهر پلویانو، د پخوانۍ ولسي جرګو غړو، پخوانیو نظامي او ملي چارواکو، قومي مشرانو او دودیزو دیني عالمانو د جرګې او اتفاق له لارې د اسلامي ملي حکومت په پښو درول غوښتل. د سیاسي اسلام پلویانو د اسلامي جمهوریت په نامه متمرکز ایډیالوژیکي اسلامي نظام غوښته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پېښور ممثله جرګه

افغان کډوال سمدلاسه په پېښور او کوټه کې د خپلې ملي کشالې د هوارولو له پاره لاس په کار شول. مشرانو ته يې مالومه وه چې په داسې حالاتو کې ملي کشالې په جرګو سره هوارې شوي دي. د مانجې جرګه د میرویس نیکه په نوښت جوړه شوې وه. د هغې د پرېکړې پر بنسټ افغانانو کندهار د پارس له صفویانو له ولکې ازاد کړ؛ د شېر سرخ جرګه چې ستر احمدشاه يې د مشر په توګه غوره کړ او د هغه په تدبیر ټول افغانستان خپلواک او افغان امپراتوري هسکه شوه او د پاچا امان الله لويې جرګې پرېکړو سره اماني دولتي چارې چلېدې او سمونونه پلې کېدل. په دې توګه په پېښور کې افغان لویانو د دغه غوره دود په بنسټ غوښتل چې د شوروي یرغل نه پیدا شوې ملي کشاله پرې هواره کړي.

د لومړنیو غونډو نه وروسته د جدي په ۱۵مه ګڼ شمېر قومي مشران، د پخوانۍ ولسي جرګې وکیلان او نور مخور افغانان د پېښور په ښار کې سره جرګه شول او محمد عمر ببرک زی يې د سروال او نوراحمد مصلح يې د منشي په توګه غوره کړل. دغه جرګه د لويې ممثلې جرګې په نامه یاده شوه. دغو مشرانو د مخه تنظیمي مشرانو ته په جرګه کې د ګډون بلنه ورکړ شوې وه. هغوی لومړی د ګډون نه ډډه وکړه، خو بیا کله چې د دوی نه نږدې یو نیم سل قومي مشران د اعتراض په توګه بیل او له جرګې سره یو ځای شول، دوی د ګډون د پاره تیاری وښود. په پای کې د فبروري په ۲۱مه په ۳۴ مادو کې د رایو په اتفاق یو پرېکړه لیک لاسلیک شو چې په لومړۍ ماده کې د شپږو اسلامي ډلو د یووالي غوښتنه شوې وه. په دوهمه ماده کې همدغه غوښتنه د ټولو قومونو نه وشوه. په پرېکړه لیک کې د داسې انقلابي شورا په پښو درول وغوښتل شول چې هغه به د یوه موقتي حکومت په شان کار کوي. دا هم ومنل شوه چې راتلونکی دولت دې د افغان مسلمان ولس له ارادې سره سم یو اسلامي جمهوري نظام وي. په پرېکړه لیک کې د افغانستان د ازادۍ له پاره د اتحاد په نامه د شپږو اسلامي تنظیمونو نه وغوښتل شول چې په خپلې انقلابي شورا کې د هر قوم او ولس یو استازی د غړي په توګه ومني. د دې موخه دا وه چې د ولسواکو او اسلامي تنظیمونو څخه داسې پیاوړی ځواک جوړ شي چې له یوې خوا دفاعي جګړه په اغېزناک ډول تنظیم کړي او د بلې خوا د افغان د کشالې د هوارولو له پاره پیاوړی سیاسي نظم په پښو ودروي. که څه هم دغې جرګې وړاندیزونه او تجویزونه وړاندې کړل خو نه يې کوم ډول جلاوطني حکومت په پښو ودراوه او نه يې کوم څوک د سیاسي مشر په توګه وټاکه. سره له دې انجنر ګلبدین حکمتیار د اسلامي ګوند امر د جرګې په وړاندې مخالف دریځ ونیو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره له دې هم د ممثلې لویې جرګې دوهمه دوره د ۱۳۵۹ کال د ثور د میاشتې په ۲۱مه نېټه پیل شوه. په هغې کې د افغانستان له ټولو ولایتونو او ولسوالیو نه ۹۱۴ تنو چې د کوچیانو استازي هم په کې وو، ګډون کړی وو. جرګې د عاملې کومیټې په نامه یو کمیسیون یا هیئت وټاکه چې د ممثلې جرګې اجرایوي هیئت یا حکومت حیثیت لاره. دا ځل د اسلامي اتحاد مشر عبدالرب سیاف د جرګې په مخالفت اواز جګ کړ خو بیا اړ شو چې په ښکاره د مخالفت نه لاس واخلي.

عامله کمیټه وګمارل شوه چې د جرګې د پیاوړي توب په موخه د تنظیمونو مشران او نور مخور افغانان د یوې غونډې له پاره وبولي؛ د جرګې چلوونکې ډله او د هغې سروال وټاکي چې د دولت د موقتي سروال په توګه دنده تر سره کړي. خو د اسلامي تنظیمونو ځینې لویان اندېښمن وو چې قدرت به یې له لاسه ووځي. په دې توګه سیاسي اسلام پالو جرګه تخریبوله، خو له جرګې سره د کوربه چارواکو چلند اغېزمن و، چې یې نه غوښتل له اسلامي تنظیمونو نه پرته نور افغانان کوم تنظیم ولري. خو کاکړ وایي چې په ممثلې جرګې باندې د ننه څخه د سید احمد ګیلاني د وراره له خوا کاري ګوزار وشو چې د مقررو پر خلاف یې د خپلو پلویانو په قوت د جرګې سروالي په لاس کې ونیوه. خو د ممثلې لویې جرګې ناکامي د ملي جرګو د غورځنګ پای نه و، له هغې وروسته په پېښین کې لویه جرګه جوړه شوه او په پېښور کې د قومي او سیمه ییزې جرګې تجویز وړاندې شو. د دغه تجویز له مخې چې شمس الدین مجروح یې نوښتګر و د افغانستان هر قوم او هر سمت باید ځانله اتحادیه ولري او په پای کې دې له ټولو اتحادیو نه جرګه جوړه شي. خو دغه غورځنګ په لنډ وخت کې له منځه لاړ.

## د پېښین جرګه

د پېښین جرګه په واقع کې د پېښور د جرګې دوام و. څنګه چې په پېښین کې اسلامي تنظیمونو نفوذ نه و کړی، هغه د ملي جرګې له پاره غوره شو. په ۱۹۸۱ کال کې پخواني سناتور عبدالقدوس پوپلزي او پخوانی د ولسي جرګې مرستیال عبدالاحد کرزي د افغانستان لویان جرګې ته وبلل. د اسلامي سخت دریځو بنسټ پالو د اخطار سره سره پېښین ته زیات شمېر دیني عالمان، قومي مشران، سیاستوالان، پخواني نظامي او ملکي چارپوهان او نور مخور افغانان لاړل چې په جرګې کې ګډون وکړي. دا ځل د ملي محاذ او ملي نجات جبهې له جرګې سره د پرېکړون اعلام وکړ.

د ۱۹۸۱ کال په سپتمبر کې په جرګه کې پنځه ورځې ویناوې او وړاندیزونه وشول. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جرګې اساسي موضوع د یوه ملي مشر غوره کول و. د ننګرهار مشرانو پخوانی پاچا محمد ظاهرشاه د غزا د مشرۍ له پاره وړاندې کړ. په پای کې موافقه وشوه چې په لومړي ګام کې دې د پخواني پاچا محمد ظاهرشاه په مشرۍ او د جنرال عبدالوالي په نیابت په موقتي توګه د ممثلې شورا یو هیئت جوړ شي چې په هغې کې د هر ولایت او هرې لويې ولسوالۍ نه پنځه پنځه تنه، د هزاره خلکو لس تنه غړي او د کوچیانو د مختلفو حوزو پنځه پنځه تنه غړي د دې جرګې ترتیب کوونکي غړي دي. دغه هیئت ته دنده ورکړل شوه چې پر خپلو واحدونو کې دې محلي جرګې جوړې کړي چې په پای کې له استازو نه یې یوه لویه اسلامي جرګه جوړه شي.خو د عمل په ډګر کې دغه وړاندیز هم پرمختګ ونه کړ. افغان لویانو ته ګرانه وه چې په پېښور او پېشین کې د ملي مشرۍ په اړه پرېکړه وکړي او پلي یې کړي. په دې کار کې اساسي خنډ د ضیاء الحق د پان اسلامیزم پروګرام و، چې د افغان ناسیونالیزم مخالف او د اسلامي تنظیمونو پر خوا و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دروېشتم څپرکی

# د افغان- شوروي جګړه

د مخه مو يادونه وکړه چې شوروي لويانو په افغانستان باندې وسله وال تېری وکړ او د حفيظ الله امين په مشرۍ يې خلقي حکومت نسکور کړ او د ببرک کارمل په سرواﻟﯽ يې خپل لاسپوڅی رژيم په پښو ودراوه تر څو افغانستان لاندې او د ځان تابع وګرځوي. خو افغانان پر خپلواکۍ او واکمنۍ ټينګ ودرېدل او د يرغلګر پوځ او د رژيم په وړاندې يې جګړه پيل کړه. دا جګړه يوه ډېره نابرابره جګړه وه، «په يوې خوا کې پنځلس نيم ميليوني خو د ټينګې ارادې ولس او په بلې خوا کې د نړۍ دوهم زبر ځواک حکومت و، چې د ۲۵۵ ميليونه نفوسو او درې ميليونه منظم پوځ او د ډول ډول عصري وسلو خاوند و.» د افغان- شوروي جګړې اصلي انځور کښل زيات ستونزمن او ان ناشونی دی ځکه چې د دغسې تاريخ کښلو له پاره رسمي پاڼو نه بايد هرو مرو کتنه پورته شي. خو د بده مرغه داسې پاڼې درک نه لري. يوازې د شوروي اتحاد د کمونېست ګوند ځينې هغه پرېکړې چې د افغان- شوروي جګړې په اړه وې، د هغه د شړېدلو نه وروسته ترلاسه شوې دي. د افغان- شوروي جګړه کې د افغان مجاهدينو او د يرغلګر پوځونو تر منځ ډېرې زياتې جګړه ييزې نښتې، بريدونه او جنګونه شوي دي. يوازې د دريو کلونو ۱۹۸۵-۱۹۸۷کې مجاهدينو په شوروي او رژيم پوځونو باندې تر لسو زرو نه ډېر غلچکي بريدونه (ambushes) او ۹۵۰۰ ځله يرغلونه (raids) کړي دي. له مخالفې خوا يرغلګر پوځ د ټولې جګړې په بهير کې نږدې ۲۲۰ ځله په ځانګړې توګه او د کابل د رژيم له پوځ سره په ګډه ۴۰۰ ځله غټ عمليات کړي دي.۸۱۰

### د شوروي اتحاد پوځ

د افغان- شوروي جګړې په يوه لوري کې د شوروي اتحاد د لوی درستيز د افسرانو په ويناوو د شوروي اتحاد څه باندې سل زره سرتيري وو چې د زروي وسلو نه پرته په ډول ډول نويو وسلو سنبال وو، چې د شوروي اتحاد د څلوېښتم لښکر پوځ په نوم يادېده. دغه پوځ له څلورو فرقو، پنځو غونډونو، څلورو کنډکونو او شپږو لېواګانو نه جوړ وو. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرتېرو شمېر یې د بدلون په حال کې و او یو ځل یې شمېر ۱۳۰۰۰۰ ته رسېدلی و. د هغه په جوړښت کې څلور هوایي کنډکونه او د چورلکو درې کنډکونه وو.۸۱۱ شورویانو به د افغان جنګیالو پر ضد د چورلکو نه ډېره ګټه اخېسته او افغان جنګیالي د دغو چورلکو نه ډېر په تنګ وو خو د ټانکونو نه یې د افغانستان په غرنیو سیمو کې اغېزمنه ګټه اخېستلی نه شوه.

شوروي سرتیري په عمومي ډول د ټولنیز او اقتصادي ښکته ډلو له ځوانانو نه افغانستان ته استول کېدل. برسېره پر دې جلبي مامورانو جنایتکار بندیان د بند نه ایله کول او افغانستان ته د جګړې له پاره لېږل.۸۱۲ شورویانو په خپل پوځ کې د چم ګاونډیو جمهوریتونو نه تاجکان، ازبکان او ترکمنان سرتیري نیول. په لومړي سر کې دوی ډېر وو ځکه چې شوروي مشرتابه فکر کاوه چې د دوی شتون به په افغان ازبکو، تاجکو او ترکمنو ښه اغېز وکړي. خو د دغه چلند پایله سرچپه شوه، ځکه چې دغو سرتېرو د افغانانو سره خواخوږي ښودله.

په شوروي اتحاد کې به سرتېرو ته ویل کېدل چې دوی به په افغانستان کې له امریکایي او چیني اجیرانو سره جنګېږي خو په افغانستان کې به ورته مالومه شوه چې دا دروغ و او دا به د دوی په جګړه یز مورال منفي اغېز کاوه. د شوروي سرتېرو له پاره وډکا او نېشه یي توکي بله ستونزه وه. دوی به زیات وخت خپلې روسي وسلې د خوراک او څښاک، نېشه یي توکو په رانیولو له خلکو سره مبادله کولې. د جنګ په حال کې دوی ته اسانه وه، چې د وسلې د لاسه ورکولو له پاره پلمې جوړې کړي. په شوروي پوځ کې ناروغي غټه ستونزه وه. «په افغانستان کې د شوروي سرتیري په سلو کې شپېته تنه د سختو ناروغیو له امله بستري شوي دي. د ځګر انتاني ناروغی، کولرا، شګي لوسس، امیبي ناروغی او د اوبو نه پیدا ناروغیو د څلوېښتم لمبر پوځ د لیکو لسمه برخه ورېبله.» د افغان- شوروي جګړې د جګړې اثر ژباړونکی وایي چې «د څلوېښتم لمبر پوځ له پاره ناروغي تر جنګ نه غټه ستونزه وه.»۸۱۳ بل مهم ټکی دا هم و چې شوروي سرتېرو د خپل پلارني هېواد نه ساتنه نه کوله، بلکې دوی یرغلګر وو. دوی یوازې د دې له پاره جنګېدل چې ژوندي پاتې شي.

شوروي سرتیري په افغانستان کې له دغسې ګوریلایي جنګ سره مخامخ شول چې ورسره روږدي نه وو. په اولو وختونو کې شوروي سرتیري د جګړې په وخت کې نېغ درېدل او پروت یې نه کاوه او د سر ډېر زیان یې ګاله. روسي افسران مني چې «د ۱۹۷۹ کال د دسمبر له ۲۵م نه تر یو دېرشم پورې هره ورځ په متوسط ډول نهه شپېته (۶۹) شورویان

(c) ketabton.com: The Digital Library



تلف کېدل.» له هغه وروسته د سر د زیان کچه راټیټه شوه، خو بیا هم جگه وه. «د ۱۹۸۴ کال په ډېرو خونړیو ورځو کې له څلوېښتم لمبر پوځ نه هره ورځ ۲۶ تنه وژل کېدل، یا ټپي کېدل.»۸۱۴

شورویانو په ۱۹۸۳ کال کې د وژنې بله بڼه غوره کړه هغه دا چې دوی د کلیو او بانډو خلک اړ کړل چې خپل کورونه پرېږدي. د دې له پاره چې مجاهدین له هغو د مرستې او ملاتړ نه بې برخې کړي دوی باید وځپي. د دغې موخې له پاره دوی هوایي ځواک کاروه تر څو اطرافي سیمې د خلکو نه تشې کړي. د بېلگې په توگه توپ لرونکو چورلکو یو کلی ورانوه؛ له هغه وروسته به پوځیان ورننوتل چې کنډوالې یې ولټوي او وسلې او قیمتي شیان ترلاسه کړي. په اطرافي درو کې به بیا الوتکو د چوونکو موادو تارونه ښکته غورځول، د فصلونو او باغونو د ورانولو له پاره یې د ناپالم بمونه غورځول چې بیا کرنه ونه شي. د پسو او وزو رمې به یې په چورلکو سره چې په یوه دقیقه کې به یې ۳۹ زره گولۍ وارولې وېشتل کېدې. په مځکه کې به یې ماینونه کرل. د همدغو خطرونو له امله وو چې د ۱۹۸۴ کال تر نیمایي پورې دري نیم میلیونه افغانان پاکستان ته او یو میلیون نور ایران ته کډوال شول.۸۱۵ شورویانو له خلکو نه د سیمو د خالي کولو د پروگرام له مخې ډېر پښتانه د ډیورنډ د کرښې نه اخوا په پېښور، کوېټې او د هغو چاپېر سیمو کې اوسېدل. د پښتنو کډوالو شمېر په سلو کې پنځه اتیا ته ورسېد. ځکه دوی د پښتنو سیمې تر سختو بمبارۍو لاندې ونیولې چې دوی په لړه کې واړوي.

## د کابل د رژیم پوځ

کاکړ وایې چې لکه د مخه یې یادونه کړې ده چې خلقي پوځ د شوروي یرغل په وړاندې له وطن نه دفاع ونه کړه، خو ډېرو یې وروسته د مجاهدو په پلوي دغسې پټ او ښکاره کارونه وکړل، چې د شورویانو له خوا د هېواد لاندې کول یې په شک کې کړل.۸۱۶ شوروي مشرانو فکر کاوه چې د شوروي څلوېښتم لمبر پوځ یوازې شتون به د مجاهدو له پاره د عبرت درس وي. د ۱۹۸۰ کال په جنوري کې په خپله برژنف په امریکې کې خپل سفیر دوبرینن ته ډاډ ورکړی و، چې د افغانستان کشاله به «... په دریبو یا څلورو اونیو کې هواره شي.»۸۱۷ د هغه څلورو اونیو پرځای د افغان- شوروي جگړه څه باندې نهه کاله اوږده شوه چې په میلیونو افغانان او په زرگونو شوروي پوځیان په کې ووژل شول او په پای کې شوروي اتحاد اړ شو چې خپل پوځ د افغانستان نه وباسي. شوروي مشرانو دا فکر هم کاوه چې افغان پوځ به د مخالفانو په وړاندې د جگړې اصلي بار پر غاړه اخلي. دوی په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه پوهېدل چې افغان پوځ په پرچمي رژيم کې هسې نه پاتې کېږي چې د خلقي حکومت په وخت کې و؛ پوځ په اصل کې د پرچمي افسرانو په لاس کې نه، بلکې د خلقي افسرانو په لاس کې و؛ همدارنګه د پوځ ډېر سرتيري هم د يرغل مخالف وو او د پوځي ليکو نه په يوازې او هم په ډله ييزه توګه تښتېدل. کاکړ زياتوي چې د شورويانو بله تېروتنه دا وه چې خيال يې کاوه چې مجاهدين به د دوی له پوځ نه وډار شي، خو هغوی د يرغل په وړاندې لا هم وپارېدل. ځکه چې «دوی کارمل نه يوازې سياسي دښمن بلکې د مسکو تابع ګاڼه.»۸۱۸ څنګه چې په پوځ کې د يوې خوا پرچميان بيخي لږ او هم هېڅ پرچمي افسر په يرغل کې برخه اخېستې نه وه او د بلې خوا ټولو خلقي افسرانو د يرغل ملاتړ نه کاوه او سرتيري له پوځ نه په يوازې او هم په ډله يزه توګه تښتېدل. د يرغل په مهال د بغلان ټوله فرقه تيته شوه. د ۱۹۸۰ کال په مارچ کې د ميدان ښار اټکل دوه زريز غونډ نه يوازې څلور سوه سرتيري پاتې شول او نور يې تښتېدلي وو.۸۱۹ «د کې جې بې د ارقامو له مخې د شوروي د يرغل په لومړيو څلورو مياشتو کې ۱۷۰۰۰ (اولس زره) افغان سرتيري وتښتېدل. په ۱۹۸۱ کال کې تر دېرشو زرو (۳۰۰۰۰) زيات سرتيري وتښتېدل، او په ۱۹۸۲ کال کې هم دومره شمېر وتښتېدل.»۸۲۰ جلالي دا هم وايي چې د بېلګې په توګه په يوه فرقه کې د لسو زرو جنګياليو سرتېرو پر ځای زر تنه، لوا د پرسونل ځواک په کنډک، د کنډک د ټولې په کچه و.۸۲۱ په دې توګه افغان پوځ لړېده نو شورويان اړ شول چې په خپله د جنګ ډګر ته ننوزي.

د دې وروسته د افغان پوځ په پياوړي کېدو لنګر واچول شو او د دې له پاره د خدمت وړ ځوانان په نظامي عملياتو سره په زور نيول کېدل. دغه کار د خلکو نارضايت لا نور هم زيات کړ. له دغو ځوانانو ډېر يې پېښور ته لاړل او پاتې به يې تل ځار وو او د رژيم د ځواک په ښکاره کېدو به پټېدل. خو هغوی به چې په لاس ورغلل هغه به يې بيول خو ښکاره ده چې داسې سرتيري د زړه له کومې جګړه نه کوي او په مناسب وخت کې به د پوځ له ليکو تښتېدل.

د ۱۹۸۱ کال د سپتمبر په اتمه د پرچم رژيم څرګنده کړه چې هغه افغانان دې د جلب مرکزونو ته حاضر شي چې د ۱۹۶۸ او ۱۹۷۸ تر منځ يې عسکري خدمت کړی وي او عمر يې تر پنځوسو کلونو نه ښکته وي. د جلب د دغه نوي سياست په وړاندې د خلکو غبرګون توند او چټک و. کاکړ وايي چې د اعلام په سبايي د احتياط سرتېرو له ښارونو نه په وتلو پيل وکړ او خلکو هغه په کابل کې وغندلو. په پايله کې د ښوونځيو زده کوونکو يا په سړکونو لاريونونه وکړل يا يې د خپلو کلابندو ښوونځيو په انګړونو کې غونډې وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاروواکو په دغه ورځ نږدې دوه سوه زده کوونکي بنديان کړل او ځينې يې د ټوپکو په کنداغونو ووهل. په بله ورځ په کلابند شويو ښوونځيو کې بيا د دغه سياست په وړاندې د اعتراض غونډې وشوې. نظامي کسانو د دغو اعتراض کوونکو له وهلو نه ډډه کوله خو وسله والو پرچميانو د زده کوونکو د لينګيو په لور ډزې کولې. د دغو ډزو په پايله کې يو ځو تنه ووژل شول او شپږ تنه د ټپي لينګيو له امله د جمهوريت په روغتون کې د درملنې لاندې نيول شوي وو. کاکړ وايي چې په افغانستان کې دا لومړی رژيم و چې د ښوونځيو ښځينه زده کوونکې يې په ډله ييز ډول بندي کړې دي. په زوره نيول شوو سرتېرو نه غوښتل د وطن د ساتونکو جنګياليو په وړاندې د کارمل د لاسپوڅي رژيم له پاره وجنګېږي. له دې کبله افغان پوځ خپله جنګي وړتيا له لاسه ورکړې وه. د همدغو او نورو دليلونو له مخې د افغان جنګياليو په وړاندې جګړه د شوروي سرتېرو په غاړه وه.

په دې ډول د مجاهدينو سره جګړه د شوروي سرتيرو په غاړه وه او د رژيم پوځ په هغو پورې تړلی ځنګځن ځواک و، جنرال شبرشين دا مني چې «... موږ پر هغوی [پرچمي افسرانو] خپل امرونه چلول، هغوی ته مو قومندې ورکولې؛ پر هغوی مو حکومت کاوه... [او] پر هغوی مو خپلې پرېکړې تحميلولې.»۸۲۲

## د افغان مقاومت بنسټ

جلالي وايي چې مقاومت زياتره وخت د مجاهدينو د يو شمېر ګوندونو، چې په پاکستان او ايران کې پراته وو، په څېر توصيفېږي، چې د افغانستان د ننه يې د شوروي په وړاندې جګړه پرمخ بيوله. خو د افغان مقاومت جوړښت ډېر اړخېز و. په پاکستان او ايران کې د مجاهدينو د سياسي ګوندونو اداري مرکزونه مهم وو، په دې چې دوی په نړيواله کچه د مقاومت نماينده ګي کوله، پيسې، وسلې او نورې زېرمې يې ترلاسه کولې چې په افغانستان کې د ننه د جهو ملاتړ وکړي او د مجاهدينو د جنګي ټولګيو له پاره سياسي لوری او لوژستيک تهيه کړي. اساسي جګړه ييز عمليات د ننه په هېواد کې د قوماندانانو له خوا په خپلواک ډول پلان او پلي کېدل. په پاکستان کې اوه اسلامي تنظيمونه پراته وو. دوی بيلې سياسي کړنلارې درلودې، دوی هيڅ کله خپل سياسي پوځي او مالي سرچينې سره ګډې نه کړې، بلکې دوی هر يوه په يوازې ډول د نړيوال پېژند او د مرستو لوی برخې لاسته روړلو له پاره سيالي کوله. دا د ګوندونو تر منځ ننۍ سيالۍ د جګړې د سمې لارښونې خنډ کېده، د ګډ پوځي عمل ته يې زيان اړوه او د دښمن په وړاندې يې د منظمو عملياتو مخنيوی کاوه په دې چې اسلامي تنظيمونو د جهاد د مشرۍ له پاره په خپل منځ کې جګړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولې.

د مقاومت غیر مرکزي جوړښت د دې لامل شو چې دوی پوځي عملونه هم متمرکز نه وو. د یو څو استثنا پرته، د مجاهدینو د سلګونو ډلو تر منځ عملیاتي همغږي نه وه. له دې امله دوی نه شو کولی چې لوی ځواکونه جګړې ته چمتو کړې او د ټاکلو هدفونو د په نښه کولو له پاره ګډ عمل وکړي او د هېواد په کچه سیاسي او پوځي کمپاین سازمان کړي.

کاکړ وایي چې د باندینیو تېریو په وړاندې له وطن نه دفاع د افغانانو ټینګ دود دی. دغه دود وروسته له هغې لا هم پیاوړی شو چې ګاونډیو هېوادو د دراني امپراتورۍ د منځ نه تللو نه وروسته پر افغانستان ډېر بریدونه کړي او افغانانو د منظم پوځ او د ولسي واکمن په نه شتون کې هم له خپل وطن نه په خپله ساتنه کړې ده. په نولسمې پېړۍ کې پاړسیانو په هرات باندې څو ځله پوځي بریدونه کړي او هراتیانو هغه په خپله په شا وهلي دي. کاکړ وایي چې افغانستان د افغان- انګلیس تر دوهم جنګ پورې دایمي منظم پوځ نه درلود. دا امیر شیرعلي خان و چې په خپله دوهمه واکمنۍ کې په افغانستان کې د لومړي ځل له پاره دایمي منظم پوځ جوړ کړو. هغه په افغنستان باندې د دوهم تیري پر مهال تیت شو او افسرانو یې د قومي او مذهبي مشرانو په فعال ملګرتوب او د قومي ملېشاوو په سربښندنې سره له وطن نه داسې ټینګه ساتنه وکړه چې په پای کې تیری کوونکی پر شا کېدلو ته اړ شو. د امیر عبدالرحمن په وخت کې افغانستان د غښتلي مرکزي دولت او نړدې د یو لک منظم پوځ خاوند شو. د ډیورنډ د توافق لیک نه وروسته ختیځو پښتنو د انګرېزانو په وړاندې ټینګې غزاګانې وکړې چې د وزیرستان د حاجي میرزاعلي خان غزاګانې یې ډېرې مشهورې دي. په پایله کې په افغان ولس او په ځانګړي ډول په پښتنو کې له وطن، اسلام، خپلواکۍ او ننګ ناموس نه د ساتنې دود نور هم ښه ټینګ شو. د شوروي یرغل د تیري کوونکو سرتېرو په وړاندې افغانانو په ټول وطن کې دغه دود په ځانګړې جذبې سره نړیوالو ته وښود، چې له اتومي وسلو نه پرته په ډول ډول نویو وسلو سنبال وو.

د شوروي د یرغلګر پوځ او د لاسپوځي رژیم په وړاندې نړدې د افغانستان د ټولو سیمو، قومونو، ژبو او د مذهبونو ته منسوب افغانان ودرېدل. افغان جنګیالیو ته له پاکستان نه د افغان اسلامي تنظیمونو له لارې وسلې او نور اړین توکي رسېدل. په هر ټاکلي ځای کې د دغو جنګیالیو مشري یوه یا څو قوماندانانو کوله چې بیلو تنظیمونو ته منسوب وو. افغان ځوانان چې د خپل وطن، دین او خپلواکۍ د ساتنې په هوډ ټینګ ولاړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړور، روغ، میلمه پال او د سړو او تودو سره ښه روږدي وو، د جهاد د ملا تیر جوړولو. شوروي یرغلګرو د دغو جنګیالیو سره نېغه مقابله سخته لیدله نو ځکه یې یو غیر انساني چلند غوره کړ. دوی په ارادي ډول پرېکړه وکړه چې ملکي خلک ووژني.

کاکړ وايي چې مجاهدین د خپلو خلکو د ملاتړ او ډاډینې نه خوښ وو او د جګړې په سختو شرایطو کې یې بدلې او سندرې ویلې او خپل پام یې وربانديې غلطوه. افغانان ژوندی او د جوش نه ډکه موسیقي لري. له دې امله دوی د سختو کړاوونو په وخت کې هم د غښتلې او پیاوړې روحي خاوندان او ناهیلي توب ته غاړه نه ږدي.

کاکړ وايي چې مجاهدانو ته د جهاد له پاره ښه موقع برابره وه. لومړی دا چې افغانان یو ربښتینی ولس دی چې زیاترو خلکو یې د خطر په منلو سره مجاهدینو ته پناه، ډوډی، جنګیالي او اطلاعات ورکول. دوهم دا چې دوی د خپل وطن، دین، او خپلواکۍ سره داسې مینه وه چې دوی وربانديې سرښندنې ته تیار وو. دریم دا چې زموږ د هېواد جغرافیه دا ځانګړتیا لري چې دوه- درېیمه برخه یې غرنۍ او هغه یوازې ځایي خلکو ته مالومه وه. څلورم یې پاکستان او په ځانګړې توګه د اباسین تر روده د پښتنو سیمې د دوی له پاره ښه پناه تون و، چې په کې یې دمه کولی شوه. پنځم دا چې د باندینیو هېوادو ملاتړ ورسره و، چې هم یې د وسلو او پیسو او هم یې په نړیوالو غونډو کې ملاتړ ورکولو. د امریکا متحده ایالاتونه او سعودي عربستان په دغې برخې کې تر ټولو د مخه وو.

سي ای اې د افغان جنګیالیو له پاره پاکستان ته وسلې استولې او هغه یې د مصر، ترکیې، انګلستان، اسراییل، چین او ان د هند نه رانیولې او بیا ای اس ای په خپله خوښه په افغان تنظیمونو وېشلې او هغو به خپلې وسلې په خپلو لارېو کې تر ډېورنډ کرښې پورې ۵۵ مرکزونو ته رسولې. دا وسلې بیا په قاچرو، اوښانو، او اسونو باندې د چترال نه پنجشېر او بدخشان، له پاړه چنار نه لوګر او د کابل چاپېر، له میران شاه نه لویې پکتیا، لوګر او د کابل چاپېر، له چمن نه کندهار، هلمند، نیمروز، فراه او هرات ته وړل کېدې. د ایران نه هم وسلې د زاهدان نه فراه او هرات ته لېږدېدې. خو دغه وسلې زړې او ځینې یې ان د کار نه وې. خرڅوونکو هېوادو له یوې خوا د دغو زړو وسلو نه ځان بې غمه کاوه او د بلې خوا یې ګټه هم کوله.

کاکړ وايي چې سي ای اې د غزا په ټوله موده کې د درې میلیاردو ډالرو په ارزښت وسلې د افغان جنګیالیو په نوم ای اس ای ته کراچي یا راولپنډی ته استولې دي. خو ټولې وسلې افغان جنګیالیو ته نه دي رسېدلې. له هغو وسلو نه چې نوې او پېچلې وې او پاکستان نه لرلې یوه برخه یې پوځ خپلې کړلې. پاکستان دا وسلې زېرمه کولې او ساتلې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



تنظیمونو ته یې لېږ ورکولې. کاکړ وایي چې یو دلیل یې دا و چې که تنظیمونو ته ډېرې وسلې ورکړل شي هغوی به ډېر پیاوړي او خپلواک شي او د دوی له اغېز نه به ووځي. دوهم دلیل یې دا و چې که مجاهدین د جګړې په ډګر کې ډېر پیاوړي شي شورویان به وپارېږي او په پاکستان به یرغل وکړي. ځکه ضیاء « ریګن ته شکایت وکړ چې مجاهدانو ته دغسې وسلې استولې کیږي چې تر اوسه هغه ته نه دي استولې شوې.»۸۲۳ ریګن بیا سل میله د ستینګر راکټونه پاکستان ته ورکړل.

په ۱۹۸۸ کال کې په راولپنډۍ کې د اوجړې په ستر زېرمه تون کې د اور لګېدو له امله د دېرش زره راکټونو په ګډون لس زره ټنه ډول ډول نوې وسلې د اور په لمبو کې د منځه ولاړې. په افغان تنظیمونو کې هم د وسلې نه ناوړه ګټه پورته کېدله. د ځینو تنظیمونو امیرانو وسلې دغسې کسانو ته ورکولې چې هغوی پرې سوداګري کوله. ځینو نورو وسلې زېرمه کولې چې د قدرت په راتلونکې لوبه کې ترې کار واخلي. قوماندانانو هم وسلې پلورلې.

د دې له پاره چې افغان جنګیالي د نویو وسلو په کارولو ښه وپوهېږي د دوی د روزنې په موخه په پېښور، کوېټه کې د روزنې مرکزونه جوړ شول. خو د دوی روزنکي امریکایان او چینایان نه، بلکې د پاکستان افسران وو. دا ځکه چې ای اس ای غوښتل چې مجاهدین دې د دغې لارې هم د پاکستان تر اغېز لاندې وي او د امریکایانو د نفوذ نه دې لیرې وي. په دغسې خطرناک حالت کې چې د شوروي د یرغل نه په افغانستان کې منځ ته راغلی و د هر افغان سیاستوال دنده وه چې د باندینیو هېوادو او په تېره د امریکا ملاتړ د پاکستان له لارې نه، بلکې په خپله تر لاسه کړي. خو د تنظیمونو د مشرانو سره دا وېره وه چې نومیالي افغانان لکه ډاکټر صمد حامد، ډاکټر محمد یوسف، ډاکټر عبدالقیوم او عبدالرحمن پژواک او نور د افغانستان مشران نه شي نو ځکه یې نه غوښتل چې د امریکایانو سره اړیکې ولري. د اسلامي ګوند امیر ګلبدین حکمتیار په ۱۹۸۵ کال کې په نیویارک کې د ولسمشر ریګن هغه غوښتنه ونه منله چې په څرګند ډول یې له هغه نه غوښتي و، چې ورسره وګوري. خلیلزاد وایي چې «ما په ۱۹۸۵ کال کې د ملي امنیت شورا د لوړپوړي چارواکي «والټ ریمونډ» په غوښتنه حکمتیار له ولسمشر ریګن سره د لیدنې پر اهمیت خبر کړ، هغه په ځواب کې وویل: «تاسې ولې ما ته سپینې ماڼۍ ته د تګ بلنه راکوئ، غواړئ چې د امریکا له ولسمشر سره په انځورونو کې راڅرګند شم؟» دا کار به په اسلامي نړۍ کې زما په اړه د خلکو کرکه راوپاروي.»۸۲۴ ډګروال یوسف وایي چې «حکتیار په خپل دغه قضاوت سره غټه تېروتنه وکړه او د ده دغه عمل جهاد ته زیان ورسوه او امریکا یې پر خپل دغه فکر نوره هم ټینګه کړه چې په کابل کې د دغسې کسانو واکمن کېدل به

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغومره خطرناک وي چې د کمونستانو به وي.»۸۲۵ کاکړ وايي له همدې امله به وي چې د افغانستان د کشالې په اړه د ژینو په خبرو کې افغان تنظیمونو ته برخه ورنه کړه شوه. دی زیاتوي «د حیرانۍ ځای دی چې حکمتیار سره له دې هم، د نورو تنظیمونو د امیرانو په شان، نه یوازې د امریکې له سي ای اې نه ډول ډول وسلې ترلاسه کولې، د خپلو دفترونو لګښتونه یې هم ترلاسه کول.»۸۲۶

کاکړ دا هم وایي چې د سي ای اې بله غټه مرسته دا وه چې د مصنوعي سپوږمه کیو د مالوماتو له لارې د جګړې د تصویرونو تهیه کول وو، چې د هغو له مخې یې د مجاهدینو د عملیاتو پلانونو په جوړولو او اغېزناکه کولو کې د دوی قابلیت ډېر کړی و.

مجاهدینو یوه غټه ستونزه درلوده. هغه داوه چې د دوی تر منځ بې اتفاقي او ان نښتې وې چې سرچینه یې تنظیمونه او د هغوی امیران وو. ځینې تنظیمونه او د هغوی امیران دومره توندلاري وو، چې له اعتدالي تنظیمونو سره تر پایه جوړ رانغلل. څنګه چې هېڅ ولایت د یوه تنظیم تر اغېز لاندې نه و او په هرې ولسوالۍ کې به یو یا څو قوماندانان چې بیلو تنظیمونو ته منسوب وو، فعال وو. دغه بې اتفاقي په وطن کې قوماندانانو او له هغو نه مجاهدینو ته رسېده. د دغو قوماندانانو تر منځ د سیمو د کنترول په سر سیالي روانه وه، که څه هم د ګډ دښمن پر ضد جنګېدل.

کاکړ د یو شمېر نامتو قوماندانانو نومونه د یوه لست په ترځ کې یادوي او بیا د هغوی نه درې تنو په شخصیتونو، چلندونو او سیاستونو باندې کتنه کوي. د درې تنه قوماندانان مولوي جلال الدین حقاني، عبدالحق او احمدشاه مسعود دي چې لوستونکي کولی شي د افغان- شوروي جګړه نومي کتاب کې یې ولولي. زه به دلته د کاکړ د دغې لیکنې ځینې مهم ټکي لوستونکو ته وړاندې کړم.

## قوماندان مولوي جلال الدین حقاني

جلال الدین حقاني د پکتیا د ولایت اوسېدونکی، په قوم ځدران او د مولوي محمد یونس خالص د اسلامي حزب غړی و. په لویه پکتیا کې لوی پښتانه قومونه پراته دي. لویه پکتیا مهمه پراخه سرحدي سیمه ده چې ځینې قومونه یې د ډېورنډ د کرښې دواړې خواوې ته پراته دي چې پیاوړې معنوي او حیاتي اړیکې سره لري. په خلکو کې یې تک راتګ هم زیات دی.

د دغو خلکو ژوند دودیز او د پښتونوالۍ ګډې ځانګړتیاوې لري. ژبه یې په نسبي توګه سوچه ده. په ۱۸۹۳ کال کې د هندوستان انګلیس حکومت د ډېورنډ په توافق لیک سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزیرو او مسیدو سیمې د دې له پاره د خپل نفوذ په ساحې کې ونیولې، چې د بیړنۍ اړتیا په مهال د ګوملې له لارې پوځي خوځښتونه وکړي او خپل پوځ زر کابل ته ورسوي. د شورویانو یرغل دغه سیمې او قومونه مهم وګرځول. که څه هم د لویې پکتیا زیاتره خلک د پیر سید احمد ګیلاني او صبعت الله مجددي د کورنیو مریدان دي، دوی د هغو مشران خپل مریدان ګڼي او پرې ټینګه عقیده لري خو د دغه ملي جهاد په بهیر کې په لویه پکتیا کې د خالص اسلامي حزب د حقاني له لارې هم نفوذ وکړ او تنظیم یې هلته نوم وایست.

حقاني د خټکو په اکوړه کې د حقاني مدرسه کې زده کړې کړې دي. دی د توند لارو اسلامي بنسټ پالو نه و او لا هم دی. نوموړي د خپل تنظیم له لارې ای اس ای او په خپل شخصي اعتبار او اړیکو سره د عربي اماراتونو او عربستان د بنسټ پالو سره اړیکې ټینګې کړې او له هغوی نه یې زیاتې پیسې ترلاسه کړې. د ده یوه مېرمنه هم د قطر د عربي امارت نه ده. ده د همدغه اعتبار او د لویې پکتیا د ستراتیژیکي اهمیت له امله وکړای شول چې په ژوره نومي سیمه کې د عربستان په پیسو د مځکې لاندې داسې لوی مرکزونه جوړ کړي چې په ټول وطن کې یې ساری نه درلود. د ۱۹۸۶ کال په اپرېل کې حقاني او مجاهدینو د شورویانو او کابل د رژیم ګډ برید په وړاندې ټینګ مقاومت وکړ. دغه برید د شوروي د یوه ځانګړي کوماندويي غونډ (سپیتناز) له خوا وشو چې درې اونۍ اوږد شو او په سلګونو جنګیالي په کې شهیدان شول. په پای کې شوروي ځواکونه چې جنګي الوتکو او توپ لرونکو چورلکو بدرګه کولو، په شا شول.

د جلال الدین حقاني د فعالیت بل اړخ له عقیدوي مخالفانو سره مرګکی چلند و. په دې برخه کې دی د هغو توند لارو او زغم نه منونکو بنسټپالو نه و چې بې شمېره افغانان یې په خپل دستور سره د محکمې پرته د منځه وړي دي، په دې نامه چې چپیان یا کمونستان دي یا یې له خلقي او پرچمي رژیمونو سره کار او همکاري کړې ده. کاکړ د یوه وړ باوري مشاهد په حواله وایي چې په سلګونو هغه سرتیري ځوانان هم د هغه په حکم وژل شوي دي، چې د پرچم د پوځ نه تښتېدل او د ده تنظیم ته تسلیمېدل. که څه هم دغه ځوانان د کارملي رژیم له خوا په زور نیول کېدل او هغوی بیا په مناسب وخت کې له وسلو سره تښتېدل. امریکایي لیکوال اوبالانس وایي چې د دغسې وژلو پایله هم سملاسي او د غزا په تاوان شوه. له هغه وروسته «افغان سرتېرو په دې پیل وکړ، چې تسلیم نه شي او جنګ وکړي.» په دغه کار سره «د افغان پوځ معنویاتو په پیاوړي کېدلو پیل وکړ او د کابل رژیم په یو څه رښتینتوب سره ادعا کوله چې ډېر مجاهدین ورته تسلیمېږي، په داسې حال کې چې د سرتېرو د تښتېدو اندازه یې تر ډېره حده ښکته شوه.» داسې هم له

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغو افغانانو نه ډېر یې له منځه وړل شوي دي چې له کابل او شاوخوا سیمو نه د پکتیا پر لار پېښور او نورو ځایو ته کډه کېدل.

## قوماندان عبدالحق

عبدالحق په ۱۹۵۸ کال کې د هلمند د ګرمسېر ولسوالۍ د درویشانو په کلي کې د امان الله خان جبارخېل په کور کې زیږېدلی دی، چې هلته ولسوال و. د عبدالحق غور نیکه ارسلاخان جبار خېل و چې د امیر شیرعلي خان په دوهمې واکمنۍ کې د باندینیو چارو وزیر او عصمت الله جبارخېل د کورنیو چارو وزیر و. دی پنځلس کلن و چې د خپل تره دین محمد سره چې د داود خان له حکومت سره یې جوړه نه وه، د سره رود د فقیر الله په مدرسه کې زده کړه پرېښوده او د حکومت په مخالفت پېښور ته واوښت. دی وروسته وپېژندل شو او د کابل په توقیف خانه کې بندي شو. دی بیا د ثور د پاڅون نه وروسته ازاد شو. دوی او مولوي جلال الدین حقاني په پېښور کې د مولوي محمد یونس خالص په مشرۍ د اسلامي حزب بنسټ ایښی و. مولوي خالص نوی د ګلبدین حکمتیار له اسلامي حزب نه بیل شوی و. عبدالحق د وطن په ازادولو او بیا د لویې جرګې له لارې د سیاسي نظام په جوړولو ولاړ و.

نوموړي د شوروي یرغلګرو او د هغوی د لاس پوڅي رژیم په وړاندې منظمه مبارزه پیل کړه. عبدالحق د شوروي یرغل او د هغه د لاسپوڅي پرچمي رژیم په وړاندې لومړی خپله غزا د خوست د مستر بل سیمې نه پیل کړه چې د خپلو ورونو سره هلته تللی و. بیا پرېکړه وشوه چې د ننګرهار په خوګیانیو کې جبهه پرانېستل شي. بیا نو د تورې بورې مرکز د پچیراګام ولسوالۍ د سلېمان خېلو په تنګي کې غوره شو. مولوي خالص د تورې بورې دفاعي سیستم عبدالحق او نورو ته وسپاره. له همدغې جبهې نه مجاهدینو خپل ګروپونه چپرهار، خوګیانیو، سره رود او د شینوارو سیمو، حصارک، سروبي ولسوالۍ، تور غر او جلال اباد ته خپل عملیات وغزول او عبدالحق چریکي عملیات پیل کړل. بیا په همدغه کال د ننګرهار جبهې مشري یې انجنر محمود ته وسپارله او دی د خپلو ملګرو سره په پغمان کې د شوروي زبرځواک پر ضد جبهه جوړه او جګړه یې پیل کړه. پغمان هم لرو ډېر د تورې بورې غوندې غرنۍ سیمه وه. په پغمان کې د څارندوی یو افسر عبدالحلیم د حکومتي ګرندي موټر او څه وسلو سره د عبدالحق ملګری شو. څنګه چې عبدالحق پیسو او وسلې ته اړتیا درلوده نو د خالص او دین محمد نه یې مرسته وغوښته خو هغوی غوږ ورباندې ونه ګراوه ځکه چې دوی د پغمان د جبهې د پرانېستلو سره جوړ نه وو. له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کبله ده د هغو سره پوره وشکوله او اړ شو چې په خپل ځان ډېره وکړي او خپل ملګري زیات کړي.

عبدالحق د نوښتي او رانه فکر خاوند و، په خلکو يې باور درلود او د ملګرو د موندلو وړتیا يې درلوده. د ده په فعالیتونو سره د پغمان جبهې نوم وایست. دغه مهال د عبدالحق د پلار سوداګرو ملګرو او هم خپل مشر ورور عبدالقدیر پیسې ورواستولې. دغه وخت نوموړی په سر ټپي شو او د درملنې له پاره پېښور ته لاړ. هلته مولوي خالص خپله تېروتنه ومنله او دوی سره پخلا شول. د دې وروسته د ده اړتیاوې د ګوند له خوا پوره کېدې. د دې وروسته د کابل په چاپېر یو شمېر جبهې جوړې او د هغو له پاره يې چې ګوریلایي جګړه پرمخ بوزي پوره جنګیالي درلودل.

د عبدالحق د کابل چاپېرو جنګیالیو دنده د نورو تنظیمونو د مجاهدینو په شان دا شوه چې پر لویو لارو باندې د یرغلګرو په قطارونو باندې بریدونه وکړي او د ښار د ننه په وړو وړو ډلو سره د شورویانو او هم د لاسپوڅي رژیم پیره داران په نښه کړي. په ۱۹۸۹ کال کې د قرغې د فرقې زیرمه تون هم د عبدالحق په نوښت وچاودل شو.

قوماندان عبدالحق په ځانګړې توګه د ښاري چریکي عملیاتو له امله د باندینیو ژورنالستانو له لارې نوم وایست. په ۱۹۸۵ کال کې د امریکا ولسمشر په واشنګټن او بل کال د انګلستان لومړۍ وزیرې مارګرېټ تاچر په لندن کې ورسره ولیدل. دغو لیدنو له دې سره مرسته وکړه چې امریکا په ۱۹۸۶ کال کې مجاهدینو ته د ستینګر راکټونه ورکړي ترڅو د شوروي هوایي ځواک تر زیاتې اندازې بې اغېزې کړي.

د ۱۹۸۹ کال د فبروري په میاشت کې د شوروي اتحاد پوځ د ژینېو د موافقې له مخې له افغانستان نه ووت. خو عبدالحق د نجیب الله رژیم د شورویانو لاس پوڅی ګاڼه نو د هغه پر ضد يې جګړې ته دوام ورکړ. د نجیب د رژیم د نسکورېدو وروسته کله چې د افغان اسلامي تنظیمونو نه جوړ حکومت په کابل کې واکمن شو عبدالحق د کابل د امنیه قوماندان وټاکل شو. خو ویل کیږي چې ده د مجاهدینو تر منځ د غنیمتونو او واک پر سر د جګړو سره د مخالفت پر بنسټ خپله دنده پرېښوده او ۱۹۹۲ کال کې له افغانستان نه ووت. دی په اصل کې د اسلامي بنسټ پالنې سره جوړ نه و. ده به ویل هغه څه ته چې موږ ورته اړتیا لرو «هغه پراخ بنسټه حکومت دی.»۸۲۷

قوماندان عبدالحق د پاکستان د ای اس ای سره هم جوړ نه و ځکه چې يې بنسټ پال تنظیمونه غوره ګڼل او هغه قوماندانان يې څنډې ته کول چې د افغانیت او خپل فکر له مخې يې غزا کوله. د ای اس ای هم د عبدالحق سره ورانه وه ځکه چې ده په نړیواله

(c) ketabton.com: The Digital Library



کچه ښه نوم ګټلی و: د پیاوړې ارادې او د روغ فکر خاوند و: د نرم سیاست پلوي و او تر هر څه یو خپلواک شخص و.۸۲۸ د عبدالحق نه د ای اس ای ناخوښي له دې کبله هم وه چې هغه د غزا په اړه باندینیو ژورنالستانو ته په خپلو مرکو کې کوم مالومات ورکول د ای اس ای د مالوماتو نه یې توپیر درلود. خو ډګروال یوسف غوښتل چې «ټول مجاهدان باید زما سره اړیکې ولري او زه چې د افغانستان په اړه نړیوالو ته کوم تصویر وړاندې کوم، مجاهدین باید په هماغه لار لاړ شي.»۸۲۹ کاکړ وایي چې د ای اس ای مشر حمید ګل لا «له عبدالحق څخه دا غوښتنه درلوده چې «... اروپایان او امریکایان چې مسلمانان نه دي له هغو سره ستا جلا اړیکې ساتل د جهاد په ګټه نه دي.»۸۳۰ خو عبدالحق ځان اړ نه باله چې نړیوالو ته خپل غږ د ای اس ای له لارې ورسوي او ویل به یې چې «تاسې [ای اس ای] هم دا هر څه له هغوی اخلئ، نو موږ ولې منع کوئ.»۸۳۱ دا د عبدالحق د مرګ لامل شو.

کله چې د طالبانو امارت نه د خپل زیږ چلند له کبله نارضایت عام شو، د امریکې او ملګرو ملتونو له خوا پرې بندیزونه ولګېدل او د هغه د بدلولو له پاره په نړیواله کچه تجویزونه نیول کېدل  عبدالحق په دې لټه کې شو چې امارت له د ننه څخه نسکور او په ځای یې یو پراخ بنسټ نظام په پښو ودرول شي. په دې موخه د امارت له ناراضو لویانو سره، چې شمېر یې لږ نه وو، خبرې پیل کړې.

د مخه مو یادونه وکړه چې عبدالحق په دې فکر و چې د افغانستان کشاله د پراخ بنسټه حکومت د جوړېدو په اساس هوارېدلی شي چې د قومونو د استازو، د تجربه لرونکو سیاست چلوونکو او پوهو افغانانو نه جوړ وي. دی په دې فکر هم و چې پخوانی پاچا محمد ظاهر د دغسې نظام د مشرۍ له پاره مناسب شخص دی چې د واکمنۍ تجربه لري، افغان قومونه پرې راټولېدای او د ملي پیوستون ورباندې ټینګېدای شي. د ده سره په دغه پروګرام کې ملا خاکسار د امارت د کورنیو چارو مرستیال او ملګري یوځای شول. ملا خاکسار لا د مخه د امارت ناراضي کسان په پټه تنظیم کړي وو. دغو کسانو د یو پروګرام له مخې غوښتل چې یو داسې اسلامي نظام په پښو ودروي چې د ټولو قومونو له استازو نه جوړ وي له بهرنۍ نړۍ سره اړیکې ولري او رواني جګړې ته د پای ټکی کېږدي. د عبدالحق سره عبدالسلام راکټي او ملا ملنګ هم ودرېدل.

کاکړ وایي چې دا هغه وخت و چې د امریکا د متحدو ایالاتو له خوا د ۲۰۰۱ کال د پېښې د غچ اخېستلو له پاره په افغانستان هوایي بمبارۍ رواني وې.

عبدالحق د وطن بمبارۍ زغملی نه شوې. ده لا د مخه د امریکې د ولسمشر جورج

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوش او د انګلستان د صدراعظم نه غوښتي و چې افغانستان بمباري نه کړي ځکه چې امارت د نسکورېدو په حال کې دی او دی هڅه کوي چې له ننه څخه یې نسکور کړي.۸۳۲ عبدالحق د اکتوبر په دریمه یاني د امریکې د بمبارۍ نه د مخه یو پلان جوړ کړ چې مېرمن لوسي ایډورډز د دې پلان پوره متن په خپل کتاب کې چې «د افغان کشاله هوارول» نومیږي، خپور کړی دی.

د امریکې له خوا د افغانستان بمباري کېدل د عبدالحق د پلان د پلي کولو په وړاندې اساسي خنډ و. له همدې امله ده د خپل پلان د پلي کولو له پاره د وخت نه د مخه پیل وکړ. دی د خپلو یو شمېر ملګرو سره د اکتوبر په یووشتمه له پېښور نه افغانستان ته ننوت. دی د اکتوبر په ۲۵مه د طالبانو له خوا ونیول شو او د چاراسیاب د سنګ نوشته په سیمه کې د طالبانو د کورنیو چارو وزیر عبدالرزاق په امر د اکتوبر په ۲۶مه نېټه د جمعې په ورځ ووژل شو. دی دا وخت د درې څلوېښتو کالو ځوان و. ټامسن د سي ای اې د ترهګرۍ ضد یوه پخواني چارواکي ونس کانسټرارو په حواله وایي چې ای اس ای «یو افغان قومي مشر د عبدالحق د موقعیت نه خبر کړ او دغه قومي مشر دغه خبر طالبانو ته ورسوه.»۸۳۳ دغسې ډېر افغانان لا د مخه د ای اس ای د اجنډا له مخې په پېښور او کوېټه کې ترور شوي وو او همدارنګه ملا یارمحمد ، ملا بور جان او مولوي احسان الله د جګړې په ډګر کې د شا له خوا ویشتل شوي دي. دا وژنې ای اس ای د دې له پاره کولې چې د افغان کشالې په ملي اجنډا سره هواره نه شي او یوازې یې د هغو بنسټ پالو ملاتړ کاوه چې د هغوی له لارې یې پر افغان نظامي عملیاتو باندې خپل سیاسي او ستراتژیک کنترول ټینګولی شو.

## قوماندان احمدشاه مسعود

کاکړ وایي چې احمدشاه مسعود خپلو پلویانو د حد نه ډېر ستایلی او مخالفینو د حد نه ډېر غندلی، خو دی به هڅه وکړي چې د هغه یو انډولیز او شاید افاقي انځور وکاږي. د احمدشاه مسعود کوم نیکه له پار دریا یا له ننني تاجکستان نه افغانستان ته مهاجر شوی او هلته د ده کورنۍ د نوروز خېل په نامه یادېده.۸۳۴ مسعود په یوه روایت په ۱۹۷۲ کال کې د استقلال د لیسې او په بل روایت د ابو حنیفه مدرسې نه فارغ او په ۱۹۷۳ کال کې د کابل په پولیتخنیک انستیتوت کې ومنل شو. هلته د زده کړیال حبیب الرحمن تر اغېز لاندې اخواني شو. خو په همدغه کال کې محمد داود د چنګاښ کودتا وکړه او مسکو پلوه پرچمیان یې په نظام کې شامل کړل نو ځکه ده ورسره مخالفت وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل کال د هوایي افسرانو کودتا بربنډه شوه، حبیب الرحمن بندي او مسعود پاکستان ته وتښتېد. دا هغه وخت و چې د پاکستان حکومت د افغانستان د حکومت مخالفین د افغانستان پر ضد لمسول او تر روزنې لاندې نیول او د افغانستان حکومت د پاکستان د حکومت مخالفین د پاکستان د حکومت پر ضد لمسول او روزل.

احمدشاه مسعود د پاکستان حکومت د «جنرال بابر تر څارنې لاندې پېښور ته نږدې چرات کې د کوماندو او ځانګړیو ځواکونو د ښوونکي تر لارښوونې لاندې د ترور، سبوتاژ، ړنګولو او وژلو، حملې او نورو چارو زده کړه وکړه.»۸۳۵ پوځي روزنې درې میاشتې اوږدې شوې او حکمتیار د جمعیت د تنظیم د نظامي څانګې امر او مسعود یې دوهم شخص و. مسعود بل کال له ۳۷- کسیزې اخواني ډلې سره په پنجشېر کې د داود خان د حکومت پر ضد پاڅون وکړ او نورو په بدخشان او لغمان کې هم پاڅونونه وکړل. حکومت دغه ټول پاڅونونه د خلکو په ملاتړ وځپل، ځینې یې مړه او ځینې یې بندیان او مسعود او نور یې د پاتې ملګرو سره پېښور ته بېرته لاړل.

ګروموف وايي چې مسعود مصر ته لاړ او په فلسطین کې یې د اسراییلو پر ضد جنګ کې برخه واخیسته. دی زیاتوي چې «په غالب ګومان هلته [منځنۍ ختیځ] کې د پارتیزاني جګړو مهارتونه زده کړي دي.»۸۳۶ د همدې زده کړو له کبله به وي چې مسعود وروسته په پنجشیر کې یو ماهر چریکي قوماندان شو. د ثور د پاڅون وروسته دوی ټولو ته د خلقي حکومت په بڼه یو نوی دښمن پیدا شو.

مسعود د جوزا په میاشت کې له یو شمېر ملګرو سره د نورستان له لارې د پنجشېر سردرې ته ننوت، خو د ده په وړاندې پهلوان اجمد جان یوه ستونزه وه. پهلوان احمد جان د یوې نفوذ منې کورنۍ نه و او په خپله د ښه نوم خاوند او یو پېژندل شوی شخص و. دی خلکو لا د مخه خپل ولسوال غوره کړی و. د ده په مشرۍ د پنجشېر خلکو له یو لړ نښتو نه وروسته پنجشېر تر دهانه پنجشېر پورې ونیوه، خو خلقي حکومت دوی بېرته په شا ووهل او دوی د ریوت تر دښتې پورې ورسېدل. د سهراب په وینا «په اول کې احمدشاه مسعود د پهلوان احمد جان له خوا د یوه جنګي ګروپ مشر وټاکل شو او د لومړي ځل له پاره د ریوت د دښتې سیمه او د سره غره په جګړو کې برخه واخیسته چې په دواړو جګړو کې یې له دولتي قواوو نه ماته وخوړه.»۸۳۷ کاکړ وايي چې احمدشاه مسعود د پهلوان احمد جان په شتون کې د پنجشېر جبهې سروال کېدلی نه شو نو هغه باید له ډګر نه وایستل شي.

د شوروي یرغل نه وروسته احمدشاه مسعود پهلوان احمد جان ته مشوره ورکوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې کابل ته لاړ شي او د خپلو شونتیاوو نه په ګټه اخېستو سره وسله او مادي مرسته راټوله کړي او پنجشېر ته یې راوړي. احمدشاه مسعود د ده په نه شتون کې د اخوانیانو او ملایانو غونډه جوړوي چې ګویا پهلوان احمد جان د دولت سره همکاري کوي او پرته له دې چې په دې اړه کوم سند وړاندې کړي. احمدشاه مسعود په دغه غونډه کې د ملایانو نه د پهلوان احمد جان د وژلو فتوا تر لاسه کوي او کله چې احمد جان پنجشېر ته راستنېږي د احمدشاه مسعود له خوا وژل کیږي.۸۳۸ د دغې پېښې په پایله کې احمدشاه مسعود د پنجشېر د جبهې قوماندان او بیا امر صاحب کیږي.

احمدشاه بیا د احمد جان پلویان او نور مخالفین وځپل او په دې توګه دی د پنجشېر د جبهې یوازینی نوښتګر قوماندان شو. ده د خپلې ډلې په تنظیم او د پنجشېر د جبهې په پیاوړي کولو پیل وکړ. ده د پنجشېر د خلکو ژوند چارو ته پام وکړ او کوښښ یې کاوه چې هغوی ته په پنجشېر کې د ژوند وسیلې برابرې کړي. خو په اصل کې د پنجشېر د تنګو درو کرنیز محصول لږ او هم پنجشېر په دغه وخت کې کلابند و. د امریکایي ژورنالست جراردټ په وینا په ۱۹۸۳ کال کې په پنجشېر کې د څلوېښت او پنځوس زرو تر منځ خلک له لوږې سره مخ وو او په همدغه شمېر خلک یې یا کابل یا پېښور ته کډوال شول.۸۳۹

د کاکړ په وینا په پنجشېر کې لکه په نورو ځایونو کې جګړې لومړی دفاعي بڼه درلوده چې بیا یې پارټیزاني بڼه غوره کړه. د ۱۹۸۲ کال تر اوړي پورې دغسې جنګیالي په ۲۲ ډلو چې په هره یوه کې ۳۲ تنه وو، تنظیم شول. دوی هر یو په دوه میلRPG او یو میل PK سل ټکه ماشیندار وسله وال وو. دوی د قرارګاه په نامه مرکزونو کې سره وېشل شوي وو، چې هره قرارګاه په فرعي دره کې پرته وه. په هرې قرارګاه کې یو ګوزاریز ډلګی جوړ شو چې اصلي دنده یې جګړه کول و او د نورو دنده د لوژستکي لوازم تهیه کول وو. د احمدشاه مسعود عواید هم لږ نه وو. سوداګرو نغده مرسته کوله، د محصولاتو نه عشر اخېستل کېده او په کابل کې د پنجشېر مامورینو د خپلې معاش پنځمه برخه دغې جبهې ته ورکوله. دې جبهې ته په کال کې تر نهو میلیونو ډالرو د هغو قیمتي کانو نه چې په پنجشېر کې د کانونو نه راایستل کېدل چې کالنی عاید یې د اتیا او نوي میلیونو ډلرو تر منځ و، ورکول کېدل. همدارنګه احمدشاه مسعود یو پراخ د جاسوسی جال غوړولی و چې د هغه په مرسته یې د حکومت او هم د نورو مجاهدینو د فعالیتونو په اړه مالومات ترلاسه کول. له دې کبله دی د شوروي یرغلګر پوځ او د کابل د رژیم د پوځ له لوري په پنجشېر باندې د بریدنه د مخه خبرېده او اړین ترتیب یې نیوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمدشاه په پنجشېر قانع نه و او غوښتل يې چې خپله سيمه پراخه کړي. خو په دې لار کې يې د يوې خوا د شوروي يرغلګر پوځ خنډ و چې دی يې په پنجشېر کې د ننه ځپلی شو او د بلې خوا د حکمتيار اسلامي حزب يې د ده د پراختيا په مخ کې خنډ و چې په دغه وخت کې يې د اندراب، د بګرام چاپېر سيمې او کوهستان تر چارېکارو پورې د قره باغ په ګډون تر ولکې لاندې وې. اندراب د پنجشېر له پاره حياتي ارزښت لاره، ځکه چې د دې لارې د پاکستان نه د وسلو کاروانونه ور رسېدل او له هغه نه غله هم پنجشېر ته وړل کېده. د ۱۹۸۰ کال نه تر ۱۹۸۲ کال پورې په پنجشېر باندې د شوروي او د هغه د لاسپوڅي رژيم پوځونو پنځه ځله بريدونه وکړل، خو په مقصد ونه رسېدل. له پنځم نه وروسته د جنرال ګروموف په وينا د ۱۹۸۲ کال په دسمبر کې او د نورو په وينا د ۱۹۸۳ کال په جنوري يا فبروري کې احمدشاه د يرغلګر پوځ له استازو سره اوربند لاسليک کړ، که څه هم د غزا او وطن په تاوان او د ملي ارزښتونو پرخلاف و.۸۴۰

په دغه پروتوکول کې چې په افغانستان کې د شوروي ځواکونو او «د پنجشېر د وسله وال اپوزيسيون» تر منځ لاسليک شوی، ويل شوي چې په سوويلي سالنګ او داسې هم د سالنګ- حيراتان پر لار به هېڅ وسله وال بريد نه کيږي او د شوروي خوا به د مهماتو او د سملاسي او نورو اړتيا وړ شيان تهيه کوي او خپل نظامي ټولګي به له پنجشېر نه باسي او د درې په خوله عنابه کې به د کابل د رژيم د يوه کنډک تر څنګه به يو کنډک ساتي. داسې هم د شوروي لورى به اپوزيسيون ته ۳۵۰۰۰۰ ډالر ورکوي.۸۴۱ الکساندر فيدوتوف وايي چې د هغه يوه پخواني اشنا او د کې جي بې يوه افسر ډګروال زکين قادروف راته برښنده کړه چې نومورې په خپله د تړون په لومړيو شپو ورځو کې څو څو ځله په سلګونو زره ډالره د اوربند د تړون د يوې برخې په توګه مسعود ته وروړي دي.۸۴۲

د ستيف کول په وينا په ۱۹۹۰ کال کې څرګنده شوه ... چې سي ای اې احمدشاه مسعود ته ۵۰۰ زره ډالر ورکړل چې د سالنګ لويه لار وتړي او له ترمزه څخه د کابل پر لور د توکو د رسولو لاره له خنډونو سره مخامخ کړي. خو کابل هېڅ اندېښنه نه درلودله، مسعود پيسې واخېستلې او د سالنګ د لويې لارې د تړلو په وړاندې يې هېڅ ډول ګام پورته نه کړ.۸۴۳ ( ستيف کول د پيريانو جګړه، نيويارک ۲۰۰۴ پاڼه ۸ )

روسانو د مسعود د ساتنې له پاره د شخصي ساتونکو په توګه د هوايي لوا (VDV) کوماندو يوه ډله ورولېږله او نومورې ډله د نيواک د مهال تر پايه ياني تر ۱۹۸۹ کال پورې له احمدشاه مسعود سره وه. ګروموف وايي چې «... مسعود د ځينو کوچنيو مواردو نه پرته خپلې ژمنې بشپړې سرته رسولې.» دی زياتوي چې په دغه پروتوکول سره مو «له

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمدشاه مسعود سره داسې ټينګې اړيکې پيدا کړې چې له افغانستان څخه د شوروي پوځونو د وتلو تر وخته پر خپل حال پاتې وې.»۸۴۴

دا پروتوکول چې شورويانو د احمدشاه مسعود سره په نيغ ډول لاسليک کړ بې له دې چې د کابل رژيم د هغه يو لوری وي د کابل د حکومت اعتبار نور هم لړ کړ. خو د شورويانو د دغه پروتوکول نه درې موخې درلودې. لومړی دا چې د کابل- حيراتان لار په تېره د بغلان او سالنګونو په برخه کې په امن کې شي، دوهمه دا چې د مجاهدينو تر منځ بې اتفاقي او بې باوري رامنځ ته کړي او په خپلو منځو کې يې وجنګوي، دريمه دا چې احمدشاه مسعود د شورويانو سره د همکارۍ په لور ورمات کړي تر څو شمالي افغانستان په اول سر کې په اقتصادي لحاظ په شوروي پورې وتړي او د خپلو اوږدو موخو له پاره ورڅخه کار واخلي.

د ۱۹۹۵ کال د اګست په مياشت کې د کې جي بي پخواني څارګر اناتولي سودوپلاتوف په بوستون کې د يوې مرکې په ترځ کې وويل چې «مسعود د ۱۹۸۳ او ۱۹۸۵ کلونو په منځ کې د فرونزې په پوځي اکاډمي کې زده کړې وکړې.»۸۴۵

بروس ريچارډسن وايي چې «مسعود له شورويانو سره ... له ۱۹۸۰ تر ۱۹۸۹ کلونو پورې تړونونه وکړل. مسعود د خپلو تړو[نو]الو ژمنو د ترسره کولو له پاره تل شوروي هوايي او توپچي ځواکونو ته کواردينااتونه برابرول او هغوی به د مقاومت ډلې پرې درې وړې کړې. ... د [سالنګ] د خوندي ساتلو په تړاو د مسعود پرېکړو شوروي ډلګيو ته لار پرانېسته چې خپل ځواکونه هر چېرې پلې کړای شي.»۸۴۶ لياخوفسکي هم وايي چې مسعود د ۱۹۸۰ کال د اپرېل د مياشتې له پيله له شورويانو سره تړون وکړ. ميخايل ګورباچوف د ۲۰۰۴ کال د فبروري په شپاړسمه نېټه د بي بي سي سره د يوې مرکې په ترځ کې وويل: «مسعود زموږ له پاره کار وکړ.... هغه موږ ته سالنګ پرانېستلی وساته.... هغه هېڅ چا ته اجازه نه ورکوله چې په موږ بريد وکړي.»۸۴۷

د بروس ريچارډسن په وينا د ۱۹۸۷ کال د امريکا د بهرنيو چارو د کيبلي پيغامونو د پټو افشا شويو لاسوندونو نه ښکاري چې «له روسانو سره د مسعود د تړون په اړه په واشنګټن او اسلام اباد کې د ريګن د ادارې د چارواکو تر منځ پراخه خبرې شوې او په خبرو کې انديښنې په ډاګه شوې دي. په زړه پورې خو دا ده چې مسعود په همدغه وخت کې له سي ای اې څخه خپله تنخوا هم ترلاسه کوله.»۸۴۸ بروس ريچارډسن زياتوي چې «د مشرانو د جرګې د استخباراتو د کميټې يوه غړي ما ته ويلي و چې «مسعود د استخباراتو د يوې وسيلې په توګه پېژندل کېده. ده او (سي ای اې) د راتلونکو اړتياوو له پاره يوې ګوښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ساتلی وو.»۸۴۹ دی زیاتوي چې مسعود او رباني په ۱۹۹۵ کال کې له اسامه بن لادن څخه لس میلیونه ډالره تر لاسه کړل؛ دغه ډالر مسعود رباني ته د ۱۹۹۲-۱۹۹۵ کلونو په ترڅ کې د هغو وسلو د قاچاق په بدل کې ورکړل شول چې په سومالیه کې یې محمد فرح عیدید ته وسلې ولېږلې او د امریکايي پوځیانو پر ضد وکارول شوې. دی زیاتوي چې مسعود په ۱۹۹۵ کال کې د ستېنګر توغوندي په کابل کې میشت د شمالي کوریا د سفارت له لارې په شمالي کوریا وپلورل.۸۵۰

ستر جنرال لیونید شیبارشین د کې جي بي د بهرنیو استخباراتو پخوانی مشر په خپل کتاب کې چې «د مسکو لاس» نومیږي د مسعود اروایي انځور داسې وړاندې کوي: «[مسعود] ځان خوښی، په ځان مین، توکمپال، داسې یو سړی چې پوځي پوهې او زړه ورتیا ته کلک لېواله دی، داسې یو سړی چې د خیانت وړتیا لري.»۸۵۱

## کابل د جګړې په حال کې

کابل د پلازمینې په توګه د یرغلګر پوځ او هم د کابل د رژیم له پاره ځانګړی اهمیت درلود. د شوروي اتحاد او کابل تر منځ پوځي اړیکې د بګرام او کابل د هوايي ډګرونو له لارې خوندي کېدلې او د وسلو، لو ژستیکي او نورو شیانو د راوړلو له پاره د حیراتان- سالنګ- کابل لارې ځانګړی اهمیت لاره. د دې برسېره د غزني- کندهار- هرات، کابل- جلال اباد- تورخم او داسې هم کابل- لوګر- پکتیا لارې هم مهمې وې. د کابل، ولایتي مرکزونو او ښارونو خوندیتوب د همدغو لارو په خوندیتوب پورې تړلی و او همدارنګه د هغو سرحدي سیمو په ګډون چې ستراتیژیک اهمیت یې درلود چې د حکومت د واک لاندې وي، دغو لارو اهمیت لاره.

د کابل ښار او د هغه چاپېر سیمو خوندي ساتنه د یرغلګر او کابل رژیم د پوځ پر غاړه وه. دوی له کابل نه درې امنیتي کړۍ راتاو کړې چې له نظامي پوستو، د ماین ډګرونو او نورو نه جوړې وې. خو تر ۱۹۸۵ کال پورې چې شورویانو د کابل پر چاپېر دریمه امنیتي کړۍ جوړه کړه، پر کابل باندې د توغندیو د ویشتلو مخه ونیوله شوه. دغه ستونزه په ۱۹۸۷ کال کې وروسته له هغې حل شوه چې ای اس ای له چین نه د (SBRL) سم شوی ماډل لاسته راووړ چې مجاهدینو ته یې د کابل د ویشتلو توان ورکړ.۸۵۱الف

د ای اس ای مشر جنرال اختر عبدالرحمن چې ویل یې «کابل باید وسوځي» په کابل باندې بریدونو ته لومړیتوب ورکاوه. د کابل په چاپېر کې د دریمې امنیتي کړۍ نه لیرې په پغمان، چکري، ساپي غره او چاریکار کې څلور لوی مرکزونه جوړ شول چې ورڅخه پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لویو لارو بریدونه کېدل او هم یې د کابل ښار تر فشار لاندې نیوه. په کابل کې د راکټي بریدونو لوی هدفونه د کابل هوایي ډګر، د دارالامان مانۍ، د قرغې فرقه، د شوروي سفارت، مکروریان، د ریشخور فرقه او د چهلستون مانۍ وو.

د کابل پر ضد د جګړې بل اړخ د لویو لارو پرېکول وو، چې اړین توکي ښار ته ونه رسیږي. د دغه مقصد له پاره د ښار په لور په روانو کاروانونو باندې بریدونه کېدل؛ بندونه په ماینونو سره ورانېدل؛ دغسې غیر پوځي ټولګټو پروژې د ای اس ای په دستور د دې له پاره د منځه وړل کېدل چې د شورویانو د وتلو وروسته وران شوی او ناتوان افغانستان د دوی تر لاس لاندې هېواد وي. مجاهدانو به د شوروي اتحاد یوولس زره لارۍ او تر هغو لا زیاتې د رژیم لارۍ د کاره غورځولې وې.۸۵۲

د جګړې بل اړخ په کابل ښار کې سیاسي وژنې، ترور او ورانکاري وه. مجاهدینو د ورځې له مخې په کابل کې د رژیم پر ضد داسې کارونه نه شو کولی چې زیان ورته ورسوي خو د شپې له خوا له خپلو مرکزونو نه ښار ته ننوتل؛ ګوندي کسان به یې له کورو څخه تښتول؛ امنیتي پوستې به یې بریدونه کول او د ګزمه وهونکو سره به یې نښتې کولې. د ښار په بیلو بېلو سیمو کې به د شپې د ماشینګړو، راکټونو او سپکو وسلو ډزې اورېدل کېدې.

کاکړ وایي چې په کابل ښار کې فرد وژنه د کب یا فبروري میاشتې له پاڅون نه وروسته په پراخه اندازه پیل شوه. تر سرطان یا جولایي پورې وژنې ډېرې شوې. دی وایي چې د دغو وژنو نمونې د نظامي خاد سیاسي آمر اکبري، د خاد د پنځم لمبر آمر حاجي سخي او د پخواني جنرال میر فتح هزاره او نور یادولی شو. د کانو د وزارت یو شوروي کارپوه د قوماندان عبدالحق د یوه مجاهد له خوا پاکستان ته وتښتول شو.

د ۱۹۸۲ کال په فبروري کې صایمه مقصودي د تلویزیون ویندویه ترور شوه چې د هغو پرچمیانو په وړاندې تینګه ولاړه وه چې د پښتو خبرونو په وړاندې خنډ کېدل. د هغې د ترور کېدو وروسته د پښتو نامتو سندرغاړی خان قره باغي او نامتو سندرغاړې بخت زمینه هم ترور شول. خو دا مالومه نه شوه چې دا د چا کار و. د ۱۹۸۲ کال په مارچ کې د پوهنتون رییس سعیدي په زهرو او بیا د مرکزي ځواکونو قوماندان جنرال عبدالودود هم ترور شول. بل کال د شورویانو اوه افسران او د کابل پوهنتون د ډوډۍ خوړلو په سالون کې نهه تنه شوروي استادان ووژل شول. خلقیان په ترهګرۍ سره په زیات شمېر له منځه وړل شوي دي او ویل کیږي چې دغه وژنې خادستانو د خپلو لویانو په دستور کولې.

## د جګړې مرحلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلالي وايي چې د روسيې ستر درستيز د شوروي سياسي- پوځي کمپاين په څلورو مرحلو ويشي:

لومړۍ مرحله د ۱۹۷۹ د ډسمبر نه تر ۱۹۸۰ فبروري پورې ټاکي. په دغه مرحله کې شوروي ځواکونو په افغانستان کې د اساسي ښارونو او د ارتباطي دهلېزونو ساتنه کوله تر څو د مسکو- ملاتړي حکومت په هېواد کې په پښو ودروي. د دې مرحلې په جريان کې يوازې د امنيتي دندې له پاره د څلوېښتم لښکر نږدې ۵۲ زره ځواکونه په کې شامل وو. دوی په دې مرحله کې زيات تعرضي عمليات نه کول.

دوهمه مرحله د ۱۹۸۰ کال د مارچ نه د ۱۹۸۵ کال تر اپرېل پورې کله چې ميخاييل ګورباچوف د ګوند د عمومي منشي څوکۍ نيسي. په دغه مرحله کې په زياته اندازه ګډ پوځي عمليات پلان شوي او پلي شوي دي.

دريمه مرحله د ۱۹۸۵کال د اپرېل نه د ۱۹۸۶ کال تر اپرېل پورې غزيږي. په دغه مرحله کې د شوروي يرغلګر پوځ د ځواک لوړو ته رسيږي، چې په هغه کې څلور فرقې، پنځه جلا لواوې، څلور جلا غنډونه، شپږ جلا کنډکونه چې شپږ زره ټانکونه او نور جنګي واسطې، څلور هوايي او د چورلکو کنډکونه شامل وو، چې د ټول پرسونل شمېر يې ۱۰۸۸۰۰ وو، چې په هغو کې د جنګي قطعو د جنګياليو شمېر ۷۳۰۰۰ وو.۸۵۳ دغه غوڅه او ټاکونکې مرحله وه او شورويانو هڅه کوله چې جګړه په پوځي ځواک سره وګټي او دا د نيواک تر ټولو خونړۍ کال و.

څلورمه مرحله د ۱۹۸۶ د مى نه پيل کيږي چې د ببرک پر ځای نجيب الله د ګوند مشر شو او د ۱۹۸۹ کال د فبروري په ۱۵مه د افغانستان نه د شوروي پوځ په بشپړ وتلو سره پای ته ورسېده.

خو جلالي په خپله وضع څارله او د هغې له مخې نوموړی افغان- شوروي جګړه په څلورو بيلو ستراتيژيکو مرحلو ويشي: د رژيم د بدلولو په ملاتړ د شوروي تعرضي عمليات؛ د جګړې يوه تناظري پراختيا چې شوروي ځواکونه يې په دې کې ناکامه کړل چې جګړه په پوځي توګه وګټي، ستراتيژيکي ماتې ته يې بوت؛ د شورويانو ګډه سياسي- پوځي مبارزه چې موخه يې د يوه سياسي حل له پاره د وتلو مسؤلانه ستراتيژي وه؛ د شوروي پوځي ماتې او د افغانستان نه يې وتل و.

جلالي ليکي: «کارمل د ځان د سپينوي له پاره د ننه د افغانستان د خلک ډموکراتيک ګوند کې ځان سپينوه او خپلو شوروي مشاورينو ته يې شکايت کاوه: «تر څو پورې چې تاسو زما لاسونه تړلي وي او ما نه پرېږدی چې د خلق فراکسيون چاره وکړم، تر هغه به د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان د خلک ډموکراټیک ګوند کې یووالی منځ ته رانه شي، او دولت به پیاوړی نه شي. دلته تر هغه ټینګ ارګانیک یوالی نه شي ټینګېدلی تر څو خلقیان په ګوند کې وي. دوی موږ کړولي او وژلي یو. دوی تر اوسه زموږ نه کرکه کوي. دوی د یووالي دښمنان دي»»۸۵۴

## د مجاهدینو ټاکټیکي عملیات

مجاهدین ټینګ جنګیالي وو، دوی په سختو جګړو کې د دښمن د اور لاندې پوره زړورتوب ښوده. د مجاهدینو د نامتمرکزو ټاکټیکونو ګډې بڼې چې په ځایي کچه یې پلي کولو: لومه، برید، د ګولیو او راکټونو د ویشتلو برید، ماین ایښودل، د قطارونو پرېکول او د ساتنې په پوستو باندې بریدونه وې.

په لومه یا دام کې دښمن اچول د پخوا راهیسې د افغان جنګیالیو د جګړه یز دودو یوه برخه او تاریخي ځانګړتیا ده. لومه د افغان مجاهدینو یو د خوښې ټاکټیک دی چې دوي په یوه ځای کې پټیږي، نابېره په دښمن برید کوي، اړینې زېرمې نیسي او د دښمن سره د مخه تر دې چې هغه اغېزمن غبرګون وښيي پر شا ځي او پټنځي ته راستنیږي. لومو چوپړ کاوه چې د شوروي او افغان په ارتباطي لیکو برید وکړي، اړینې زېرمې پراخې کړي او د شوروي او افغان د مانور پوځ یوه برخه اړه کړي چې د ساتنې دندې په غاړه واخلي. د افغان- شوروي جګړې د پرمخ بیولو کیلي لوژستیک و او د مجاهدینو لومو د شوروي او افغان قواوو بیا زېرمې کولو ته ګواښ جوړاوه او د شوروي پوځ شمېر یې محدود کاوه چې په هېواد کې ځای په ځای کولی شوې. مجاهدینو د جنګي قواوو کوچنیو قطارونو د ځورنې له پاره یا د زېرمو په کتارونو چې د ساتونکو د ۳۰ نه تر ۸۰ کسانو پورې رسېدې په دوو ګروپو وېشل کېدل چې یو به د جنګ ګروپ او بل به یې د ملاتړ ګروپ و، لومې اچولې. مجاهدینو هر کال څو زره لومې اچولې. د شوروي ارقامو له مخې مجاهدینو د ۱۹۸۵ کال نه تر ۱۹۸۷ کاله پورې ۱۰۰۰۰ لومې اچولې چې په منځنۍ توګه په کال کې ۳۳۰۰ کیږي. لومې په لویو سړکونو، لارو، درو او تنګو وادیو کې اچول کېدې.۸۵۵

بریدونو (raids) په اساسي توګه د دښمن په جلا شویو پوستو، او په ځایی اداري مرکزونو باندې حمله ده چې یوه نقطه ونیسي، بریالیتوب ترلاسه کړي او بیا ورڅخه بېرته ووځي. دا یو موقتي اقدام دی چې توکي ترلاسه کړې، تاسیسات ړنګ کړي او د دښمن په مورال ګوزار وکړي. د برید جوړښت د درنې وسلې په ګډون یو د جګړې ګروپ او بل د ملاتړ ګروپ نه جوړ وي. مجاهدینو د ۱۹۸۵ نه تر ۱۹۸۷ پورې په شوروي او افغان هدفونو باندې ۹۵۰۰ بریدونه کړي چې په منځنۍ کچه هر کال ۳۲۰۰ عملونه کیږي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغو بريدونو لنډ واټن او د نږدې ملاتړ د وسلې (زيات وخت هاوانونه) د برید ژوروالی لنډ کاوه او د بريدونو نه کټه يې لږوله.

د مجاهدينو د ګوليو او راکټونو ويشتل په ګارنيزونو، پوستو، هوايي ډګرونو او ښارونو باندې د ورځې چار وه. په دغو حملو کې مجاهدينو زياتره هاوانونه، راکټونه، بې پس لغته ټوپک کارول. ځينې وخت دوی غرني ټوپک او غرني توپونه کارول. ګولۍ ويشتل به د شوروي او افغان قوي ترو هدفونو باندې کېدل چې په هغې باندې بريدونه خطرناک وو. د ګوليو او راکټو ويشتل له پاره ۱۰۷ ملي متره او ۱۲۲ ملي متره يو ډزه او ډېر ډزه د چين-جوړشوي راکټونه يا مصري سکر- ۲۰ او سکر- ۳۰ راکټونه کارول. د روسانو د شمېرنې له مخې د ۱۹۸۵ د اپرېل اود ۱۹۸۶ د جنوري تر منځ ۲۳۵۰۰ راکټونه په پوځي او دولتي هدفونو باندې ويشتلي دي.

د ماينونو جګړه د مجاهدينو د جګړې يوه بنه وه. دا يوه اسانه لاره وه چې د دښمن پرسونل او په لېږدونکو وسيلو بريدونه وشي. د مجاهدينو زياتره ماينونه د ټانک ضد او د لېږدونکو وسيلو ضد ماينونه وو. دوی د ماينونو جګړه په اغېزمن ډول پرمخ بيوله.

مجاهدينو د کلابندۍ د بڼې نه هم کار اخېست. دوی به د حکومت جلا ګارنيزونونه کلابند کول. که د کلابندۍ مجاهدين ځايي وو بيا کلابندي تر نامالوم وخت پورې اوږدېدله. خو که د کلابندۍ مجاهدين به د بل ځای وو، زيات وخت ناکامېدله په دې چې مجاهدينو د ډېر وخت له پاره اړينې زېرمې نه درلودې. دوی به کلابندۍ په ټاکټيکي لحاظ پرېښودې او يا به يې هغه وخت پرېښودې چې دولتي تقويې قواوې به راورسېدې.

افغان مجاهدينو به زياتره حيرانونکي بريدونه هم کول چې دښمن په نږدې جګړه کې تباه کړي. خو په تخنيک سنبال پوځ سره دا ډول بريدونه ډېر ستونزمن وو. له دې امله د ګوزار او منډې ټاکټيک يا د خرپ او ترپ ټاکټيک د لاسبري دښمن په وړاندې کاروه. دوی په عمل کې لنډ ګوزار او اوږدې منډې ټاکټيک نه کار اخېسته.

## شوروي پوځي عمليات

په افغانستان کې د شوروي ځواکونو د شتون په جريان کې دوی ۲۲۰ خپلواک (ټول-شورويان) او ۴۰۰ ګډ (شوروي او د افغانستان ډموکراتيک جمهوريت) د سترې کچې عمليات په لاره واچول.۸۵۶ خو د سترې کچې عمليات لکه د وړې کچې د عملياتو په څېر چې ټاکټيکي جګړې وې، ډېر لږ اغېز درلود. په افغانستان کې د خپل شتون په موده کې شوروي پوځي او استخباراتي قواوو په زرګونو خپلواک د لومې اچولو، بريدونو او د کشف

(c) ketabton.com: The Digital Library



دندې ترسره کړې. د بېلګې په توګه د ۱۹۸۳ او ۱۹۸۴ کې یوازې پلان شوي او ناپلان شوي د لومو اچولو ۴۸۸۴ دندې ترسره کړې چې په هغو کې یې څه کم لس په سلو کې پایلې درلودې. په همدغه وخت کې ۴۵۰ د کشف دندې ترسره شوې وې.

شوروي ځواکونو خپلواک عملیات هغه وخت پلانول او پلي کول چې افغان پوځ د استفادې وړ نه و یا د ګډو عملیاتو له پاره پوره روزنه ورکړ شوی نه وه. خپلواک عملیات به په عمومي توګه د یوه غونډ له خوا کېدل چې هوايي او توپچي ملاتړ به ورسره و او زیاتره یې د جګړې په لومړنۍ مرحله کې کېدل. شورویان زر پوه شول چې دوی اړتیا لري د مخه تر دې چې د افغانستان نه ووزي یو اغېزمن افغان پوځ په جوړولو کې مرسته وکړي.

هغه ټاکتیکونه چې د کنډک په کچه دوی زیاتره په نېغه توګه کنټرولول د لومې اچول، د کلي کمربند او تلاشي، د قطار بدرګه او نور ځانګړي عملونه وو. لومې اچول په اساسي توګه د کوچنۍ قطعې عمل و چې یوه ټولي یا کوچني ځانګړي ګروپ یا سپیتناز ګروپ به پلی کاوه. د قطار بدرګه د جګړه یز عمل یوه نوې شېوه وه چې د ماشینګنو موټریزه قطعې له خوا پلې کېده. زیاتره وخت د ۸۰ یا ۱۰۰ لاریو قطار چې دوه او دوه نیم کیلومتره به اوږد و د ټولي په کچه د ماشینګڼو موټریزې قطعې له خوا بدرګه کېده او د پاسه به چورلکو تر پوښښ لاندې وه. برید به په لوي تره قوه ترسره کېده چې یو یا دوه موټریزه کنډکونو به په کې ګډون کاوه. شورویانو د کمربند او تلاشی عملیات د غونډ په کچه د افغان ځواکونو سره یا د هغوی په ملاتړ او د هوا نه مځکې ته کوزېدونکو قواوو سره کول.

ګډ عملیات زیاتره وخت د ډېر اړخېزو عملیاتو کمپاین وي چې په ګډه د شوروي او افغان پوځونو له خوا کیږي چې دوه درې اوونۍ او ځینې وخت زیاته موده نیسي. د دغو عملیاتو په جریان کې د شوروي او افغان ګډې قواوې پوځي عملیات کوي چې د مقاومت له خوا کنټرول شوې سیمې ونیسي، د مجاهدینو شته قواوې وځپي او بیا خپلو اډو ته ستانه شي.

لوی عملیات په یوه وخت کې په بیلو بیلو سیمو کې پرمخ بیول کیږي. د بېلګې په ډول «ګوزار-۱» په نامه عملیات چې د ۱۹۸۰ کال په نومبر کې په هېواد کې وشول چې په هغو کې ۶۴ شوروي او ۱۱۰ افغان کنډکونو برخه اخیستې وه. د ۱۹۸۱ کال د مارچ نه د مې پورې په یوه وخت کې په اوو عملیاتو کې ۳۵ شوروي او ۱۰۹ افغان کنډکونو برخه واخېسته. د غټو عملیاتو روښانه بېلګې د پنجشیر، ژورې او ستې کنډو عملیاتونه دي چې اوس به یې لنډ بیان لوستونکو ته د کاکړ او په زیاته اندازه د علي احمد جلالي د څېړنې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخې وړاندې شي.

## د پنجشیر په دره کې پوځي عملیات

پنجشیر د هسکو غرونو تر منځ یو سلو شل کیلومتره (۷۰ میله) اوږده دره ده چې په منځ کې یې ګړندی سیند بهیږي چې د هندوکش د لوړو واورینو غرو نه راوځي. د شوروي د نیواک په جریان کې د پنجشیر اډه د مقاومت له پاره غښتلی مورچل وګرزېد. دا یوه طبیعي کلا ده چې دوې دروازې لري. یوه یې په سووېل کې د پنجشیر د عنابې نه ګلبهار او کابل یا د کوهستان هموارې ته پرانېستل کیږي، بله یې په شمال کې د درو یوې غرنۍ شبکې او لارو ته پرانستل کیږي چې پنجشیر د پاکستان د اساسي سړک سره د نورستان او چترال له لارې او هم یې د لغمان او نجراب سره نښلوي اوهم یې د شمالي ولایتونو سره د خاواک د درې له لارې تړي. د درې بل اهمیت په دې کې هم دی چې د پنجشیر دره د سالنګ عمومي لارې ته، چې د شوروي پوځ د اکمالاتو شیریان جوړوي، نږدې پراته ده. د دغې درې نه په پرله پسې ډول شوروي او افغان اکمالاتي کتارونه د بریدونو لاندې راتلل. شورویانو په پنجشیر کې د دوه نیمو کالو په جریان کې شپږ ځله پوځي عملیات وکړل چې د شوروي یرغل نه څو میاشتې وروسته پیل شول. د دغو عملیاتو نه به د ۱۹۸۲ کال اساسي عملیات بیان شي:

شورویانو په ۱۹۸۲ کال کې د پنجشیر په وړاندې پراخ تعرضي عملیات پیل کړل چې دوی یې ډېر مهم ګڼي. دغه عملیات د می د ۱۵م نه د می تر ۲۸ پورې وشول چې شوروي او افغان ګډو ځواکونو په کې برخه واخېسته. په دې عملیاتو کې درې شوروي موټرېزه غونډونو او دوو هوایي کنډکونو چې جنګي او خدماتي ملاتړ هم ورسره و، ګډون وکړ. د افغان پوځ له لورې د درې فرقو نه درې غونډونو، د کوماندو د لوا ځینې قطعې، یو خپلواک پلی غونډ او د خاد ځینو قطعو برخه واخېسته او د شوروي افغان پوځ د قطعاتو ټول شمېر ۱۲۰۰۰ تنو ته رسېده.

د پنجشیر د عملیاتو پلان د شوروي یوه اوپراسیوني ګروپ له خوا چې مشري یې د ځلوېښتم پوځ درستیزوال کوله، جوړ شو. د مجاهدینو د غولولو په خاطر هغوی ته داسې احساس ورکړ شو چې اساسي برید د غوربند په دره کیږي. د عملیاتو د پلان د پټ ساتلو په موخه شورویانو افغانانو ته د اصلي پلان په اړه څه نه و ویلي په دې چې مجاهدین پرې خبر نه کړي. شورویانو افغانانو ته ویلي و چې عملیات د غوربند په دره کیږي تر څو بامیانو ته ورسېږو. افغانانو دا مالومات هم مجاهدینو ته ورکړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه عملیات د می په ۱۵م پیل او په څلورو مرحلو کې د می په ۲۸م پای ته ورسېدل.
د دغو عملیاتو لومړۍ مرحله د می ۱۵م او ۱۶م د غوربند په درې غولونکي عملیات و چې غوښتل یې دښمن تېر باسي او د عملیاتو د اصلي لوري نه یې پام واړوي تر څو مجاهدین خپلې قواوې د غوربند درې خوا ته ولېږي. په دغو دوو ورځو کې د شوروي او افغان ګډ پوځونه د بګرام له شمال نه د پنجشیر درې په خوله کې ځای پر ځای کړل.

د جګړې دوهمه مرحله د می په ۱۷م سهار په څلورو بجو پیل شوه او شپږ ورځې اوږده شوه. د دغې مرحلې په درشل کې ۱۱ د کشف ګروپونو د درې غاړو ته نفوذ وکړ او د جګړې پرته یې د درې لوړې حاکمې څوکې ونیولې چې پنجشیر ته د ننوتلو دروازه وه. په بله شپه د شوروي ۱۷۷ د موټریزه غونډ یوه کنډک بله مهمه څوکه ونیوله چې لس کیلومتره د ننه په درې کې پراته وه.

د درې په اوږدوالي کې د هوایي ځواکونو د سخت بمبارد نه وروسته چې د مقاومت په کلکو مورچلو د توپچي په کلکو ګوزارونو سره بدرګه کېدلو د شوروي دوو مخکینیو کنډکونو وړاندې تګ پیل کړ او د درې د دواړو غاړو لوړې یې ونیولې او د شوروي دریم زره پوش کنډک د روخې- بازارک په لوري روان شو چې د پلیو وړاندې تګ پوښښ کړي.

د عملیاتو د پیل نه یو ساعت وروسته د سهار په پنځو بجو یو شوروي موټریزه کنډک او یو افغان پلی کنډک د روخې او بازارک کلي ته نږدې د هوا نه ښکته شول. سره له دې چې په دې سیمه باندې له دې کبله چې دښمن هوایي مقاومت نه بې برخې کړې سخت بمبارد وشو خو مجاهدینوخپل د هوا دفاعي سیستم وساتلو او په روخه کې یې دوې چورلکې راوغورځولې. دغه کار شورویان اړ کړل چې دغه سیمه د دښمن نه د پاکولو له پاره د الوتکو او چورلکو شمېر زیات کړي چې بمبار نور هم سخت کړي. د جګړې د دوهمې مرحلې د لومړۍ ورځې په جریان کې درې شوروي او درې افغان کنډکونه چې ټول شمېر یې ۱۲۰۰ تنو ته رسېده د درې د ننه د ۴۰ او ۵۰ کیلومترو کې د هوا نه ښکته کړل چې د مجاهدینو مورچلونه کلابند کړي. کله چې شوروي او افغان قواوو د مجاهدینو سیمې او مورچلونه کلابند کړل افغان قواوې او امنیتي اجنټان سیمې ته ننوتل چې وسلې او چاودېدونکي توکي وپلټي او شکمن کسان بندیان کړي.

د دغو عملیاتو سره د مخکنیو ځمکنۍ قواوو وړاندې تګ همغږی و چې له ۷ نه تر ۱۰ کیلومترو پورې په ورځ کې وړاندې تللې. د عملیاتو په دوهمه ورځ مخکنې ځواکونه نور هم پیاوړې شول په دې چې د هوا نه یو شوروي او یو افغان کنډک په «ماتا» کې ښکته کړل چې د یوې خوا د مجاهدینو ختیځ لوري ته د وتلو مخه ونیسي او د بلې خوا د اندراب

(c) ketabton.com: The Digital Library



له درې نه مجاهدينو ته د تازه دمه مجاهدينو د راتلو مخه ډب کړي. په بله ورځ د درې په د ننه کې د هوا نه د شوروي او افغان قواوو ښکته کولو د مجاهدينو د قواوو همغږي ماته کړه. په دريمه ورځ د مي په ۱۹مه يو شوروي او يو افغان کنډک د استانې په سيمه کې ښکته شول او همدومره قوه د ماتا په چاپېر کې د هوا نه کوزه شوه. په څلورمه ورځ دوه شوروي او دوه افغان کنډکونه د اېويم په سيمه کې ښکته شول چې د درې په ۷۰ ميلۍ کې د ننه پراته ده. په دې ډول پوځ د څلورو ورځو په جريان کې ۶۵ کنډکونه په چورلکو کې د مجاهدينو د جوړښتونو شا ته کوز کړل. دغو ځواکونو د مځکني ځواکونو وړاندې تګ ته چې د ماينونو او نورو چاودېدونکو توکو نه مځکه پاکوله، لاره هواره کړه.

د دې عملياتو د دوهمې مرحلې نه وروسته د عملياتو دريمه مرحله، چې د مي له ۲۲م نه د مي تر ۲۴م پورې اوږده شوه چې د مجاهدينو نه ټوله دره پاکه شوې وه، په دې موخه پيل شوه چې د پنجشير درې وروستۍ برخه بنده کړي چې د پاکستان نه د چترال، نورستان او اندراب د درو لارې راوځي. په خپله په اېويم کې يو روسي او يو افغان کنډک د هوا نه کوز شول او د درې په پای کې يې د سرکونو او لارو سره د تماس نقطې د خپل کنټرول لاندې راوستلې، د دې سره د عملياتو دريمه مرحله پای ته ورسېده او پوځ د عملياتو څلورمې وروستۍ مرحلې ته تياری نيوه. د جون په پيل کې ګډو قواوو د پنجشير درې نه په وتلو پيل وکړ. په رخه او عنابه کې شوروي ګارنيزونونه ځای په ځای شول. د خلکو د اوسېدو په مرکزونو او د درې په شمال- ختيځه برخه کې افغان قواوې ځای په ځای شوې. په دغو عملياتو کې شوروي او افغان ځواکونو دوه سوه بنديان ونيول او هم يې ډېر سندونه ترلاسه کړل چې په هغو کې د ګوندي غړو لست چې ۵۲۰۰ نومونه د عکسونو سره په کې ثبت وو، شامل و. د ۱۱۳ تنو مجاهديو لست چې په کابل کې يې پټ فعاليت کاوه هم لاس ته ورغی چې د رژيم له خوا ونيول شول

د دې وروسته لکه چې د مخه مو يادونه کړې په ۱۹۸۳ کال کې د دواړو خواوو تر منځ د لنډ مهالي اوربند هوکړه وشوه.

## د خوست ژورې لومړي لوی عمليات

کاکړ وايي چې په افغانستان کې د غزا په ټوله دوره کې د ژورې په شان بل ټينګ مرکز نه و. ژوره د افغانستان د خوست ولايت په يوې غرنۍ سيمې کې تنګه دره ده چې د ډيورنډ د کرښې په څلور کيلومترۍ کې پراته ده. پنځلس کيلومتره اخوا يې د شمالي وزيرستان مرکز د ميران شاه ښار پروت دی. ژوره د جلال الدين په مشرۍ د خالص د اسلامي ګوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرکز و چې لومړی د مجاهدينو د روزنې ځای و، چې ورو ورو په دغسې لوی او پراخ مرکز بدل شو چې هلته د مجاهدينو د وسلو او نورو شيانو زېرمه تون وګرځېد او مجاهدين په کې روزل کېدل. په ژوره کې يولس تونلونه وکيندل شول چې ځينې يې ۵۰۰ متره اوږده وو. يو هوټل، د وسلو او مهماتو زېرمه تونونه، د ترميم ورکشاپ او يو ګاراژ، د روغتيا مرکز، د راډيو د خپرولو سټېشن، يو جومات او يو پخلنځی او د اوسېدو ځايونه يې درلودل. د جنراتور په مرسته برېښنا ورته چمتو کېده.

د ژورې د مرکز جوړښت او نوښت د اسامه بن لادن کار و. په عربستان کې د اسامه بن لادن د شرکت چارې د تونلونو کيندل او د ودانيو جوړول و. اسامه بن لادن د عربستان نه بولدزرونه، لارۍ ګانې، د خندقو د کيندلو ماشينونه او نور اړين وسايل راوړل او د ژورې مرکز تونلونه يې وکيندل. د مجاهدينو يو ۵۰۰ کسيز کنډک د دغه مرکز د ساتنې په موخه پروت و چې يو ۱۲۲ ملي متره توپ، دوه د افغان پوځ نه نيولې ټانکونه، شپږ د چينايي 12 -BM د زياتو راکټ ويشتونکې دستګاوې (MRL) او څه ماشينګنې او وړه وسله يې درلوده. مجاهدينو دلته د هوايي دفاع يو ټولی ځای په ځای کړی و چې پنځه د شوروي زيګو-۱ او څلور زيګو-۲ هوايي ضد څورلس نيم ملي متره درانه غرني توپونو سنبال و. د ژورې مرکز د مورچلونو په يوه سيستم سره يې ساتنه کېده چې د چاپېرو لوړو په سرونو جوړې وې.

د جلالي په وينا په ۱۹۸۵ کال کې شوروي او افغان پوځونو څو لوی تعرضي عمليات په لاره واچول چې دا مرکز له کاره واچوي تر څو نورو جنګي سيمو ته د مجاهدينو لوژستيکي ملاتړ کمزوری کړي. د ۱۹۸۵ د اګست په مياشت کې شورويانو او افغان حکومت پرېکړه وکړه چې د ژورې مرکز ړنګ کړي. په دې موخه د ګرديز دولسمه پلې فرقه، د ۳۷مې او ۳۸مې د کوماندو د لواګانو ځنې قطعې د ګرديز نه د ځاځيو له لارې خوست ته لاړې. په خوست کې د ۲۵مې فرقې ځنې قطعې ورسره يوځای شوې. د سپتمبر په مياشت کې دا ګډ ځواکونه د جنرال تني په قوماندانۍ په بارې چې د ژورې په شمال- ختيځ کې پروت دی، يرغل پيل کړ چې د توپچي په کلکو ګوزارونو او درانده هوايي بمبارد سره يې ملاتړ کېده. پوځ باړه ونيوله او د هغې وروسته يې د ژورې د نيولو تکل وکړ. خو د مجاهدينو ۸۰ کسيزه ډله چې د مغولګي د غونډيو په ختيځه کږه برخه کې ځای په ځای و، د افغان قواوو مخه ونيوله او د سر زيان يې ورواړه وه. په پای کې د رژيم پوځ بېرته خوست ته پر شا شو او مجاهدينو باړه بېرته ونيوله.

لږ وروسته افغان حکومت نوی يرغل له تنيو نه پيل کړ او لژه يې ونيوله او قوماندان

(c) ketabton.com: The Digital Library



مولوي احمدګل یې وواژه. مجاهدینو ۲۰ کسیز ګروپ د مني کنډو کوتل بند کړ. دوی د پلیو ځواکونو برید ودروه خو د هوايي سخت بمبارد او توپچي کلکو ګوزارونو له امله مجاهدین په شا شول او افغان پوځ وکړای شول چې د مني کنډو ونیسي. دوی تور کمر هم ونیو چې د ژورې نه یو کیلومتر واټن لري.

بیا یوه ډراماتیکه پېښه وشوه چې د جګړې سرنوشت یې وټاکه. مجاهدینو د افغان قواوو چې د غره په څوکه پراتې وې ولیدلې چې د دوی د هدف په واټن کې راځي یوازې دوه ټانکونه ور روان کړل. د ټانک په لومړي ډز سره د افغان ځواکونو د څار پوسته ړنګه شوه. بیا ټانکونو د افغان په قواوو اغېزمن ګوزارونه وکړل او افغان قواوې بېرته کوزې شوې. د شهنواز تني هڅې چې نوی یرغل وکړي ناکامه شوې کله چې د مجاهدینو تازه دمه قواوې له ارګون او جلال اباد نه راورسېدې. جنرال تني له ۴۲ ورځو نښتو نه وروسته خپل پوځ خوست ته پر شا کړ. په دغه جګړه کې ۱۰۶ تنه مجاهدین مړه او ۳۲۱ تنه ټپیان شول د رژیم د پوځ د سر زیان هم درونډ و، خو شمېر یې په یقین سره مالوم نه دی.

## د خوست د ژورې دوهم لوی عملیات

جلالي وایي چې د ۱۹۸۶ کال د اپرېل په لومړیو کې شوروي او افغان ځواکونو پرېکړه وکړه چې د ژورې په مرکز ګډ شوروي افغان عملیات ترسره کړي. دا ستر عملیات داسې پلان شوي و چې د افغان د څلورو فرقو ځینې قطعې، یوه د کوماندو لوا او یو هوایي جنګي غونډ په کې ګډون کوي. دا قواوې نږدې د ۵۴ افغان جنګي کنډکونو او ۵ موټرېزه شوروي کنډکونو نه جوړې وې چې د توپچي او هوایي ملاتړ هم ورسره و. دا قواوې په دوو ګروپو ووېشل شوې. ختیځ ګروپ د اوومې او څورلسمې پلې فرقو او د ۶۶۶م د هوایي جنګي غونډ نه جوړ و. لوېدیځ ګروپ د ۸مې او ۲۵مې فرقې نه جوړ و. د کوماندو د ۳۸م غونډ دنده دا وه چې د هوا نه په دوري غر باندې ښکته شي د عملیاتو قومانده د جنرال اعظیمي او جنرال تکاچېف په غاړه وه.

افغان قواوې چې شوروي هوایي قواوې یې پوښښ کاوه د ۱۹۸۶ کال د فبروري په ۲۸مه نېټه د ګردېز نه د ځاځي میدان له لارې خوست ته حرکت وکړ. دغه قواوې د خوست په شمال لوېدیځ کې ځای په ځای شوې. د اپرېل په دوهمه نېټه نیمه شپه افغان پوځونو دوه ساعته د توپچي او هوایي تیاری ونیو. د جلالي په وینا شپږ مي-۸ چورلکو د خوست د هوایي ډګر نه والوتې او د ۳۸م غونډ لومړی جنګي ګروپ یې ښکته کړ چې د دوري غره د مجاهدینو د درانه مقاومت سره مخامخ شو. مځکنی مارش درېدلو ته اړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قوماندې مرکز د خوست نه تنیو ته ولېږدېده. د راډیو د تماس نه ښکاره شوه چې لومړی جنګي ګروپ د ژورې شا ته پنځه کیلومتره د ننه په پاکستان کې ښکته شوی دی. دوی زر کلابند او د مجاهدینو سره په جګړه کې ونښتل. دغه وخت افغان قوماندانۍ پرېکړه وکړه چې د ۳۸ غونډ نور کوماندوګان په دوري غره باندې ښکته نه کړي بلکې د ژورې په چاپېر خلاصه سیمه کې ښکته کړي. په دې توګه د ۳۸مې لوا د ژورې په چاپېر کې په اوو جلا سیمو کې راکوز شول. لومړی ۱۵ چورلکې سهار په اوو بجو کوماندوګان ښکته کړل وروسته نورې جوپې وشوې تر څو د ټولې لوا پرسونل ښکته شو. د ځینو چورلکو د ناستې ځایونه د پاکستان پولې ته په یوه کیلومترې کې ښکته شوي وو. مجاهدینو یو شمېر چورلکې د کیناستو په حالت کې وویشتلې. مجاهدینو په څلورو کوزو شویو برخو کې په کوماندوګانو بریدونه وکړل او ډېری یې ونیول. د میران شاه نه د تقویې قواوې راورسېدې او کوماندوګان یې د شا له خو د برید لاندې ونیول. په دې توګه کوماندوګان د دواړه خواو نه په لومه کې ولوېدل ځینې مړه او ځینې ونیول شول. د ورځې تر پایه مجاهدینو د ۳۸مې لوا ۵۳۰ کوماندوګان ونیول.

په همدغه مهال کې و چې شوروي ځانګړو الوتکو د ژورې غارونه بمباري کړل. څنګه چې د دغو غارونو مخې د پاکستان د سوویل ختیځ په لور وې د شوروي الوتکې به په هغې خوا لاړې او له هغې خوا نه یې دا غارونه بمباري کول. په دغو بمباریو کې اتلس مجاهدین ووژل شول. داسې هم ځینو الوتکو یو بل غار چې یو سلو پنځوس متره اوږد و او یو سلو پنځوس تنه مجاهدین یې په داخل کې وو، بمباري کړ. که څه هم درنه بمباري روانه وه خو ایسار شوي مجاهدین د جلال الدین په ګډون د غارو نه ووتلی شول. د کوماندو یوې ډلې چې په جګه کې وو چې دوی درې ورځې سخت مقاومت وکړ چې په پای کې تسلیم شول. د قوماندو د یوه کنډک ضد جاسوسۍ مشر ۲۴ کوماندوګان منظم کړل او په امن سره یې د خپلو قواوو سره یوځای کړل.

په راتلونکو ورځو کې د شوروي او افغان پوځ له پاره وضع لا ګرانه شوه. دوی په دې کې ناکامه شول چې د خپل د منځه تللي هوایي غونډ د کوماندوګانو سره اړیکې ټینګې کړي دوی د اپرېل په ۹مه خپله لومړۍ لیکه (د ۷مې او ۱۴مې پلیو فرقو) وروسته له دې چې مهمات یې خلاص شول، خپل لومړۍ نقطې ته راستانه شوه.

د شوروي سرچینو له مخې جنرال وارېنیکوف د شوروي اتحاد د دفاع وزیر سوکولوف ته پیغام واستوه چې په هغه کې یې د قواوو افغان قوماندانۍ باندې نیوکه وکړه او پلان یې جوړ کړو چې په هغه کې د قواوو د تقویې له پاره درې افغان غونډونه، یو د افغان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړو ځواکونو کنډک، او شپږ روسي کنډکونه ورکړي. هغه د قواوو د قوماندان اعظیمي د بدلون وړاندیز وکړ او هم یې د قواوو د بیا صف بندۍ له پاره وخت وغوښت.

د اعظیمي پر ځای جنرال غفور د قواوو او د څلوېښتم پوځ درستیز وال جنرال ګریکوف د قوماندانانو په توګه وټاکل شول. جنرال ګریشن د ټولو قواوو همغږي په خپل لاس کې ونیوله. کارمل د جنرال وارنیکوف نه وغوښتل چې د دغو عملیاتو عمومي قومانده په غاړه واخلي. د شوروي دفاع وزیر وارېنیکوف ته د نوي تعرض د تیاري له پاره دولس ورځې وخت ورکړ. شوروي او افغان هوایي قواوو د دولسو ورځو د تیاري په جریان کې شپه او ورځ بمباري او توپچي ګوزارونه روان وو. د هوایي او توپچي ګوزارو د اپرېل په ۱۷م ډېر پیاوړي شول. دا مهال مجاهدینو ته نوي برتانوي بلوپایپ د هوا ضد راکټونه ورسېدل خو اغېزمن واقع نه شول. پاکستان یو څو تنه افسران ژورې ته ولېږل چې مجاهدینو ته د دې راکټو کارول ورزده کړي. دغو افسرانو په خپله ۱۳ راکټونه له یوه غره نه ګوزار کړل خو نتیجه یې ورنه کړه او یو پاکستانی کپټان او ملګري یې سخت ټپیان شول او د پاکستان یوه پوځي روغتون ته د درملنې له پاره ولېږدول شول.

د اپرېل په سهار افغان قواوو په ختیځ کې د سهار په شپږ نیمو بجو او په لوېدیځ کې د سهار په لس نیمو بجو برید پیل کړ. د مجاهدینو د سخت مقاومت وروسته افغان قواوو د مني کنډو ونیو او شوروي افغان قواوې د مني کوتل نه تېرې شوې. د لژې نه ختیځ په لور قواوې د مغولګي د غرونو خوا ته وړاندې تګ وکړ. جلال الدین هم په هوایي برید کې ټپي شو. په دغه وخت کې مجاهدینو ژوره پرېښوده او چاپېرو غرو ته جګ شول. مجاهدینو ونشو کړای چې په ژوره کې خپلې زېرمې وباسي. شوروي او افغان ځواکونه د اپرېل په ۱۹مه غرمه ژوره ته ننوتل.

افغان سرتېرو د ژورې د مرکز په لوټولو پیل وکړ. کرنېل کوتچنکو څلور ګړۍ وخت درلود چې ژوره ړنګه کړي. هغه نږدې دوه سوه د ټانک ضد ماینونه په لومړنیو غارونو کې ځای په ځای کړل او ټول یې د یوه برقي هادي سره وتړل چې ټول په یوه وخت کې وچوي. د دغه غټ چاودون په پایله کې غارونه والوتل. بیا قوتونو په وتلو پیل وکړ او یوازې استحکامچیان پاتې شول چې ماینونه وکري. دوی لږ وخت درلود او امر ورته شوی و چې د مازدیګر په پنځو بجو تنیو ته حرکت وکړي. په دې توګه دوی د ۵۷ ورځو نه وروسته یوازې د پنځو ساعتو له پاره ژوره ونیوه.

د حیرانۍ ځای دی چې دوی د زېرمه شویو وسلو سره غرض ونه کړ. مجاهدین د پوځونو د پر شا کېدلو په سبا ژورې ته ستانه شول خو د دوی نه یو شمېر ماینونو ووژل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی ماینونه پاک کړل، د غارونو تر منځ تونلونه يې بېرته ورغول او ژوره يې بېرته فعاله کړه.۲۸۱ مجاهدين په جګړه کې وژل شوي او ۳۶۳ ټپيان وو.

## د ستې د کنډو لوی عملیات

د ستې کنډو د ګردېز په دېرش کیلومترۍ کې د ځدرانو په سیمه کې د ګردېز او خوست تر منځ پروت دی چې د دواړو ښارونو تر منځ لنډه لار ورنه تېرېږي او پر چاپېر يې د دنګو ونو ځنګل دی. د ستې کنډو د ۱۹۸۱ کال را هیسې د جلال الدين حقاني او هغه مرستيال ګلزرک ځدران د قوماندانۍ لاندې د مجاهدينو په کنټرول کې و چې د خالص اسلامي ګوند پوري تړلي وو. د ژورې د عملياتو نه وروسته مجاهدينو خوست کلابند کړ. د شوروي يو افسر ای. ان ششکوف وايي چې د ۱۹۸۷ کال په مني کې ياغيانو د افغان حکومت او شوروي پوځونو سره نښتې وکړې او خوست يې په بشپړ ډول کلابند کړ، د لېږد رالېږد لارې يې پرې کړې او زموږ ځواکونو ته يې د وسلو مهماتو او خوړو شيانو رسول محدود کړل. له دې کبله لوړو چارواکو پرېکړه وکړه چې د کابل- ګردېز- خوست لارې د پرانېستلو په موخه پياوړي عمليات ترسره کړي او ياغيان وځپي. هلته يوه بله لار چې د ختيځ لوري ته په څلور ميله واټن کې پراته ده چې د سروټي تنګي نه تېرېږي او پنځلس ميله په واټن د ستې کنډو په سووېل کې د اصلي لويې لارې سره په لکه تېره کې يو ځای کېږي. په دغه سيمه کې د ځدرانو دري خپل ټبر ميشت دی.

مجاهدينو په ګردېز کې د دښمن د ځواکونو راغونډېدل ليدل. د ۱۹۸۷ کال په پای کې د شوروي قوماندانۍ د څلوېښتم پوځ د قوماندان جنرال ګروموف په مشرۍ د سترې کچې عمليات پلان او پلي کړل. په دغو عملياتو کې د شوروي ځواکونو د ۱۰۸مې او ۲۰۱مې موټريزې فرقو قطعات، ۱۰۳مه هوايي فرقه، ۵۶مه ځانګړې هوايي جنګي لوا، ۳۴۵م د پاراشوټ ځانګړی جنګي غونډ چې د نورو جنګي او خدماتو د قطعاتو ملاتړ ورسره و، ګډون کاوه. په دغو عملياتو کې د افغان ځواکونه د ۸مې، ۱۱مې، ۱۴مې، او ۲۵مې فرقو قطعات، ۱۵مه د ټانک لوا، او نور د ملاتړ قطعاتو په کې ګډون کاوه. برسېره پردې د کورنيو چارو وزارت د ځارندوی لس کنډکونو هم په کې ګډون کاوه. د دغو ځواکونو ټول شمېر ۲۴۰۰۰ وو.

د جلالي په وينا دغو عملياتو څلورو مرحلو کې وده وکړه. په لومړۍ مرحله کې د ۲۱م او ۲۷م نومبر په منځ کې د شوروي او افغان ځواکونه د ګردېز د باندې متمرکز کېدل، په داسې حال کې چې د جلال الدين حقاني او نورو قومي مشرانو سره په دې اړه خبرې روانې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې چې خوست د زېرمې د لاریو کاروان ته د سړک له لارې اجازه ورکړي. خو خبرې ناکامه شوې. په دغې مرحلې کې د شوروي او افغان ځواکونه د سروټي کوتل په وړاندې حرکت وکړ چې د هغه د نیولو په موخه موقعیت ونیسي.

مجاهدینو ټولې هڅې دې ته متمرکزې کړې وې چې د شوروي او افغان پوځونو یرغل مخه د سټي په کندو کې ونیسي. دوی دا فکر نه کاوه چې د دښمن پوځونه به د سروټي کندو ته خوځیږي. مجاهدینو هلته ماینونه کرلي نه وو او یوازې یې ځایي جنګیالي د ۳۰۰ تنو قومي اربکیو په لېږلو سره پیاوړي کړل.

مجاهدینو د سټي کندو د ساتنې په موخه د کندو په خوله کې درې د ماینونو کمربندونه چې په منځ کې یې د ۳۰۰ نه تر ۴۰۰ مترو واټن و، جوړ کړي وو. دوی په لوړو ځایو کې لس د بي ایم-۱۲ د ګڼو ډزو دستګاوې ځای په ځای کړې وې چې سړک او د کندو مخه یې د اور لاندې نیوله. دوی دلته د الوتکو ضد زیکو-۱ درنې ماشینګړې ځای په ځای وې. همدارنګه مجاهدینو ۷۵ ملي متره او ۸۲ ملي متره ده شاکې او یو شمېر PRG درلودل.

دوهمه مرحله د نومبر په ۲۸ د خبرو د ناکامېدو وروسته پیل شوه. شوروي او افغان پوځونو په سروټي کندو سملاسي یرغل پیل کړ. شورویانو د سروټي کندو نه مجاهدین په شا وتمبول او د سروټي کندو یې ونیو. شورویانو د سختې بمبارۍ وروسته د لوی سړک او سروټي کندو تر منځ یې په هسکو ځایونو د هوا نه خپلې ځانګړې قواوې ښکته کړې او مهم ځایونه یې ونیول. دغه وخت مجاهدین د خپلو کورنیو په اړه اندېښمن شول او هغوی یې له هغه ځایه وزیرستان ته وایستلې.

جنرال ګروموف د مجاهدینو د تېرایستلو له پاره د سټي په کندو په لاس جوړشوي «پاراشوټي عسکر» ښکته کړل او مجاهدینو ورباندې سخت بریدونه وکړل، په دغه وخت کې شوروي د کشف الوتکو د مجاهدینو ځایونه په نښه کړل او سخته بمباري یې ورباندې وکړه. بیا د شوروي مځکنۍ قوه په وړاندې وخوځېده مګر برید یې د مجاهدینو له خوا د ماتې سره مخامخ شو. په بله ورځ د ډسمبر په اوله نېټه شورویانو بمباري سخته کړه، او مجاهدین اړ شول خپل ځایونه خوشي کړي او په لوېدیځ لوري جګو غرو ته په شا شي. شوروي قواوې مخ په وړاندې وخوځېدې او پنځه ورځې وروسته یې د سټي کندو ونیو. په دې ډول د جګړې دوهمه مرحله پای ته ورسېده.

بیا دوې اوونۍ د حکومت د نماینده ګانو او د قومي مشرانو تر منځ خبرې په دې موخه روانې وې چې خوست ته د لوې لارې نه د اکمالاتو کاروان پرېږدي. د دغې وضعې نه شورویانو د عملیاتو د څلورمې مرحلې د تیاري له پاره ګټه پورته کړه او خپلې قواوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیاوړي کړي.

د عملیاتو څلورمه مرحله د ډسمبر په ۱۶مه پیل شوه کله چې شوروي او افغان ځواکونو خپل تعرض پیل کړ. دوی په دوو خواوو: ستې کنډو او سروټي درې نه پرمختګ پیل کړ او په لکه تیږه کې سره یو ځای شول. د هوایي پوښښ او ټینګ توپچي اور تر پوښښ لاندې ګډې مځکنۍ قواوو د ځدرانو په دره کې پر مختګ ته دوام ورکړ او مجاهدین د غرونو په لوري ووتل. همدغه وخت د افغان د کوماندو لوا او هوایي جنګي کنډک خوست ته نږدې ښکته شول چې د کلابندۍ ۲۵مې فرقې سره اړیکې ټینګې کړي. د ډسمبر په ۲۳ م سباوون د توپچي په ملاتړ شوروي ۳۴۵ جنګي هوايي غونډ د مجاهدینو په اساسي مرکز سرانا یو زوړ برید وکړ او د درنې جګړې وروسته یې ونیو.

وروسته له دې چې مجاهدین غرونو ته په شا شول شوروي انجنرانو ماینونو او نور خنډونه شنډ کړل او د نوي کال په درشل کې د لاریو کاروان چې په ټنونو زېرمې چې په هغو کې خوارکي توکي، د سونګ مواد، مهمات شامل وو د ګردېز نه خوست ته ورسېد. د ۱۹۸۸ کال د جنوري تر اتلسمې هره ورځ د دوو نه تر درې کاروانونه د ګردېز نه خوست ته تلل چې ټول یې ۲۴۰۰۰ ټنه زېرمې ولېږدولې. د جنوري په شلمه قواوې په وتلو پیل وکړ. د شوروي او افغان قواوو د ۱۲ ورځو له پاره لاره خوندي وساتله. په دغه جګړه کې نږدې سل تنه مجاهدین ووژل شول. د شوروي او افغان پوځونو د وتلو وروسته مجاهدینو د ستې کنډو بیا ونیو او خوست یې کلابند کړ.

## د کاسکېډ عملیات او د شوروي پټه استخباراتي جګړه

د ریچارډسن په وینا د ۱۹۸۱ د دسمبر په میاشت کې شوروي ولسمشر لیونید بریژنف ببرک کارمل ته وویل چې په افغانستان کې د پوځي شتون د پیاوړي کولو د بنسټ او په اتکلیز او مشروط ډول د شوروي اتحاد د سوسیالستي جمهوریتونو سره د افغانستان د یوځای کېدنې بنسټ کیږدي.۸۵۷ د خاد برید جنرال غلام صدیق میرکي چې د شوروي پلانونو په اړه یې لومړۍ درجه مالومات لرل او وروسته وتښتېد وایي چې «په افغانستان کې د دوو شتو کمونېستو ډلو، خلق او پرچم د سیالۍ او دښمنۍ له امله د بریژنف پلانونه په اسانۍ نه شول پلي کېدای. (بوروفسکي ۱۱)»۸۵۸

بریژنف د شوروي څارګرو څانګو سلاکارانو له سلا وروسته دې پایلې ته ورسېد چې د کاسکېډ د عملیاتو له لارې دې افغانستان دړې وړې کړي. (بودانسکي ۱۱) د کاسکېډ عملیات هغه پټ عملیات وو چې له مخې یې د هندوکش په شمال کې نهه غیر پښتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



میشت ولایتونه له افغانستان نه بیل او د شوروي اتحاد د سوسیالیستي جمهوریتونو له خاورو سره یوځای کړي. میرکي دا وویل چې «بریژنف کارمل ته وویل .... له افغانستانه به نهه ولایتونه بیل کړل شي او دغه ولایتونه به د کابل په ګډون د شوروي په ولکه کې ورپرېوزي. د هېواد پاتې برخه به خپل برخه لیک ته پرېښودل شي. (بوروفسکي ۱۱)»۸۵۹

په شمال کې شورویانو او د هغوی ملګرو د شمالي ولایتونو د ښارونو، کلیو او باندېو له ورانولو په کلکه ډډه کوله خو مسکو په پرله پسې او فعاله توګه نه یوازې د پښتنو په سیمو کې د خپلې واکمنۍ په وړاندې مخالفین په ټینګه ټکول بلکې د میشتو پښتنو د بقا او د هغو د شتمنیو او د ژوند او معشیت د اړونده شیانو د منځه وړلو په لاره کې تر وسې وسې هلې ځلې وکړې. (کراکوفسکي ۱۷۸)۸۶۰ د شمالي زون د سیمو د باندېو، په نورو ټولو سیمو کې د اوبو لګولو شبکې او مځکې حاصلات د منځه یوړل شول، مځکې د وګړو له شتون څخه پاکې شوې او د هېواد سوویلي برخې په رښتنې توګه په شاړو مځکو واړول شوې. (کراکوفسکي ۱۷۸)۸۶۱

شوروي اتحاد د هوایي بمبارد له لارې په سیستماتیک ډول د پښتنو سیمو ورانول او له هغو څخه د وګړو شړل وو. په دې مانا چې «ټولې پښتون میشته سیمې چې له سووېل لوېدیځو ولایتونو څخه تر سووېل ختیځو ولایتونو پورې غځېدلې دي کلکې بمبارد کړې چې په سلګونه زره وګړي یې ووژل او پاتې یې له هېواده شړلو ته اړ کړل.»۸۶۲ د پښتنو د شړلو له پاره ګڼ شمېر لارې چارې په کار ولوېدې. پرله پسې بمباریو کلي په کنډوالو واړول او شوروي چورلکو تښتېدونکي کلیوال د هوا نه قصابي کړل. یو کلی په بل کلي پسې ونړول شو، وګړي یې په ډله یز ډول ووژل شول او د دغه بې رحمه قصابیو په ترڅ کې ولسوالي په ولسوالۍ یو پر بل پسې د خاورو سره یو او د وګړو نه تشې شوې. د درمندونو د ټولولو په وخت کې پټیو او کروندو ته اور واچول شو، بڼونه او انګور باغونه له منځه ولاړل او څاروي یې ورووژل شول. د مسکو په موخو کې په دغو سیمو کې د بیا میشت کېدلو پلان نه و او له دې چې د افغانانو ژوند په کرهڼه او د اوبو لګولو په بندونو پورې تړلی دی نو د اوبو بندونه یې هم ورویجاړ کړل او مځکې یې په وچو شاړو واړولې. (کلاس ۱۳۰-۱۳۳)۸۶۳

د کاسکډ د عملیاتو دوهم پړاو دا و چې د افغان مقاومت د ډلو له منځه یو شمېر کسان د همکارۍ له پاره جلب شي. کاکړ وايي چې شورویانو د پټې اسخباراتي جګړې له لارې ډېر بریالیتوبونه ترلاسه کړل. دا پټه جګړه د کې جي بې او پوځي استخباراتو په ګډون شوروي پټو ادارو پرمخ بیوله. همدارنګه کې جي بې د خپل موډل سره سم د نجیب الله په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشرئ چې نوموړی شاید پخوا د کې جي بي له خوا د اجنټ په توګه استخدام شوی و، د کام جاسوسي اداره د خاد په جاسوسي اداره واړوله. کې جي بي د کاسکډ په ځانګړو جګړو کې نېغ رول درلود.

شورویانو نه یوازې احمدشاه مسعود د یاد پروتوکول په بنسټ د خپل نفوذ لاندې راووست بلکې دوی او د دوی لاسپوڅي رژیم کوښښ کاوه چې په ټول ملک کې د خپلو مخالفانو برسېره ان نور ځایي مشران او مخور کسان هم د رژیم په خوا واړوي. دوی دغه کار د پراخې جاسوسي جال له لارې په پیسو، زور او چل او ول سره کاوه، چې د هرات شېر اغا چونغر یې یوه څرګنده نمونه ده. د ۱۹۸۱ کال په پیل کې د شوروي د کاسکېډ افسرانو شېر اغا چونغر چې د ۲۵۰ تنو مجاهدینو قوماندان و، د رژیم پر خوا راوړاوه. کاسکېډ د سبوتاژ، تروریستي کړو، ډول ډول ورانیو او د مخالفانو د جلبولو له پاره د ک ج ب له افسرانو نه جوړ شوي ډلګۍ وې چې پراخ اختیار ورسره وو. دوی د چېکا د شوروي استخبارتي ادارې د تاکتیکونو نه کار اخېست چې په منځنۍ اسیا کې د بسمچیانو په وړاندې کار ترې اخېستی و. چونغر د پیسو او شوروي اتحاد ته د سفر او ځینو نورو امتیازاتو په بدل کې ومنله چې له کاسکېډ سره به مرسته کوي او د رژیم مخالفان به ځپي. میتروخین لیکي چې «د ۱۹۸۱ کال د اپرېل نه د ۱۹۸۲ کال تر مارچ پورې د هغه جنګیالیو د کاسکېډ له ټولګي سره په ګډه په یوویشتو لویو عملیاتو کې برخه واخیستله او په بیل ډول یې ځلوېښت مورچلیز بریدونه وکړل او د مقاومت د واحدونو ۳۱ قوماندانان له مینځ نه یووړل.» چونغر په ټولیز ډول «۲۰۵۰۰» د رژیم مخالفین له منځه وړي او اتیا تنه یې نیولي وو.۸۶۴

په ۱۹۸۲ کال کې یو شمېر نور قوماندانان د رژیم پر خوا واړول شول. په جوزجان کې قوماندانان دیر اوراز هلډي، دیر عبدالله جان او لاو عبدالله حنایي، په شمال کې سید حسېن شاه منصور، د کابل د قره باغ نه اغا رحیم خان او په هزاره جات کې د وطنپال په نامه قوماندان د کابل په لور واړول شول چې د دوی نه هم د چونغر غوندې کار واخېستل شو.

کاکړ وایي چې دغه چلندونه د انسجام د ډلې له خوا کېدل چې د کاسکېډ- ک ج ب او پوځي استخباراتو له استازو نه جوړه وه. دغه ډله په ځانګړې توګه د پکتیا او ننګرهار سرحدي قومونو ته متوجه وه او د پیسو او وسلو په بدل کې د قومي ملېشیا او پوځي پوستو د جوړولو پروګرام پرمخ بیوه. د پرچم رژیم د سرحدونو چارو وزیر فیض محمد هم پکتیا ته د دې کار له پاره ولېږه چې په ځدرانو کې د خپلو ملګرو سره یوځای ووژل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ننګرهار په خوګیانیو کې د کابل رژیم د ملک قیس او ملک محمد جان د کورنیو د خپلمنځي دښمنۍ نه په ګټې اخېستنې سره د ملک قیس ګنده وهڅوله چې د وسلو او پیسو په بدل کې ولسوالي ومني. د امان بېګ په سروالی د ملک قیس کورنۍ ورسره دغه وړاندیز ومانه، خو د امان بېګ اصلي مقصد دا و چې وسلې او پیسې ترلاسه کړي او بیا د رژیم پر ضد عملیات وکړي. دغو دواړو کورنیو په پېښور کې روغه وکړه.

## د ګارباچوف بیا جوړونه او سمونونه

په ۱۹۸۵ کال کې میخایل ګارباچوف د شوروي اتحاد لوړ واکمن شو او هغه په دې واقعیت پوه شو چې د دې وضعې نه د وتلو یوازینۍ لار د افغانستان نه د شوروي پوځ ایستل او د ننه په شوروي نظام کې د سمونونو راوستل دي.

ګارباچوف د سوسیالیستي نظام د ټولو امکاناتو څخه د ګټې اخېستلو ترنامه د نوي تفکر په رڼا کې د بیا رغونې او علنیت تر شعار لاندې د ژورو بدلونونو پلان ترلاس لاندې ونیو. شوروي اتحاد چې په افغانستان باندې د وسله وال تیري په نتیجه کې د نړۍ د خلکو تر مېنځ د یوه تیري کوونکي استعماري ځواک په توګه خپل حیثیت بایللی، ددې هېواد اقتصاد په جګړه کې ډېر کمزوری شوی او هغه د سر زیان، چې د جګړې په جریان کې د استعماري پوځ منسوبینو ته اړول شوی، د شوروي خلکو د ناراضی سبب شول. ددې وضعې نه د وتلو په موخه د شوروي اتحاد نوي مشرتابه وپتیېله چې د افغانستان د مسئلې د حل یوه داسې لاره ولټوي چې شوروي تیري کوونکی پوځ د افغانستان څخه په داسې بنه وباسي چې یوه د اوړو پزه ځانته جوړه کړي. د افغانستان څخه د شوروي پوځ د ایستلو پرابلم د شوروي اتحاد د نوي مشرتابه د بهرني سیاست په اجنډا کې مهم ځای ونیو.

ګارباچوف د شوروي پوځ د ایستلو موضوع د افغاني مشرتابه سره د خپلو مشاورینو له لارې څېړله او دوی ته یې دا ذهنیت ورکولو چې شوروي اتحاد هوډ لري چې خپل پوځ د افغانستان څخه وباسي او افغان لوری دې په خپله د انقلاب ساتنې ته ملا وتړي.

د دې مسئلې د څېړلو په وخت کې ښکاره شوه چې ببرک کارمل دې ته چمتو نه دی چې د افغانستان څخه د شوروي پوځ د وتلو سره موافقه وکړي. له دې کبله د نوي مشرتابه له خوا کارمل ته داسې اشارې ورسېدې چې نوموړی نور نه شي کولای د شوروي پوځ په زور خپل واک ته دوام ورکړي. خو داسې شواهد شته چې د شوروي مشاورینو سره د دې موضوع د څېړلو په وخت کې ډاکټر نجیب الله د شوروي پوځونو د وتلو سره سر خوځولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی. شاه محمود حصین په خپل کتاب کې، چې«بې عیبه مثلث»ېنومیږي، د صالح محمد زیري له خولې لیکي:«ډاکټر نجیب الله لکه چې د مخه د موضوع څخه خبر و، په داسې بڼه یې طرح کوله چې که د شوروي له خوا د افغانستان څخه د شوروي پوځ د وتلو موضوع طرح شي، موږ ته لازمه ده چې د هغوی د پرېکړې څخه ملاتړ وکړو.»۸۶۵

ګارباچوف په دې موخه د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي په منځګړیتوب د خبرو لار ټینګه ونیوله، چې د مخه په ۱۹۸۲ کال کې پیل شوې وې. د دوی سره دا وېره هم وه چې د دوی د امپراتورۍ نور تابع هېوادونه به هم پر خپلواکۍ غوښتنې باندې نور هم ټینګ شي. دوی د ژینو په خبرو کې هڅه کوله چې له ښکېلو خواوو سره دغسې تړون وکړي چې د هغه له مخې خپل پوځ په عزت سره له افغانستان نه وباسي او هم په کابل کې د دوی لاسپوڅې رژیم په کوم ایتلافي ډول پاتې وي. خو د ډېرو چنو وهلو وروسته یې د ۱۹۸۸ کال د اپرېل د میاشتې په څلورمه نېټه ومنله چې خپل پوځ په نهو میاشتو کې له افغانستانه وباسي. خو تر دغه وخت په شوروي اتحاد کې وضعه دومره خرابه شوې وه چې لومړی شوروي امپراتوري ړنګه شوه او ورپسې په کابل کې د دوی تابع رژیم د منځه لاړ او په ځای یې افغان اسلامي تنظیمونه په واک شول.

## د کارمل لیرې کول

په ۱۹۸۵ کال کې میخایل ګارباچوف کارمل مسکو ته وباله. په مسکو کې ګارباچوف کارمل ته وویل چې شوروي اتحاد هوډ کړی چې خپل پوځونه د افغانستان نه وباسي. کارمل د دې خبرې په اورېدو هک پک شو او خپل مخالفت یې ګارباچوف ته په دې ټکو څرګند کړ: «که تاسې اوس ووځئ بل ځل به مجبور شئ، چې یو میلیون سرتیري راولېږئ.»۸۶۶ ګارباچوف بیا د سیاسي دفتر ناسته راوبلله او پرېکړه وشوه چې ګارباچوف دکارمل ته ردې ووایي چې شوروي اتحاد خپل پوځ د افغانستان نه وباسي او کارمل دې هرو مرو په خپله د ځان نه ساتنه وکړي او شوروي به وسله ورلېږي. د ۱۹۸۶ کال د فبروري د میاشتې په ۲۵مه نېټه ګارباچوف افغانستان د ناسور ټپ وباله او د افغانستان نه یې د شوروي پوځونو په ایستلو ټینګار وکړ. کارمل په دې نه پوهېده چې شوروي لویانو دی د خپلو موخو د پلي کولو له پاره واک ته ورسوه او اوس دوی د خپلې موخې له پاره هغه له واک نه کوزولی هم شي. د ۱۹۸۶ کال د مارچ د میاشتې په ۳۰مه نېټه کارمل مسکو ته د درملنې له پاره وغوښتل شو. د درملنې وروسته هلته ده ته وویل شول چې د نړۍ او افغانستان وضع اوړي او د دې وخت رارسېدلی دی چې د عمومي منشي مقام خپل کوم یو ځوان ملګري ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېږدي. دی نور د شوروي اتحاد په کار نه و. شبرشین وايي چې په پرنسیب کې هغه هوکړه وکړه چې د خپل مقام نه لاس په سر شي، خو وويل چې اړینه ده لومړی د خپلو ملګرو سره مشوره وکړي. نوموړي د ۱۳۶۵ کال د غوايي د میاشتې په یوولسمه نېټه چې د ۱۹۸۶ کال د می د میاشتې د لومړی نېټې سره سمون کوي په شعوري توګه افغانستان ته رااستول کېږي ترڅو په شوروي اتحاد او هم په افغانستان کې نه یوازې د می د لومړی ورځې د نمانځلو په مراسمو کې ګډون ونه کړای شي، بلکه همدارنګه د ثور د انقلاب د کالیزې د نمانځنې په مراسمو کې هم ګډون ونه کړي. د ثور انقلاب د کالیزی د مراسمو په جریان کې پوځي رسم ګذشت د نجیب الله د مخې څخه تېر شو او په دې مراسمو کې څرګنده شوه چې کارمل ته نور هېڅ ډول اړتیا نه لیدل کیږي.کې جي بي والو په ده باور نه کاوه او همدا چې کارمل د می په اوله ورځ د کابل په لور روان شو د کې جي بي د نړیوالې څانګې مشر ولادیمیر ګریچکوف ورپسې رهي شو او د می په دوهمه پخوا له دې چې په دسیسې لاس پورې کړي، ورسره ولیدل او ترینه وغوښتل چې له وعدې سره سم د ګوند د مرکزي کمیټې د عمومي منشي د مقام نه استعفا وکړي. د شبرشین په وینا چې دی هم هلته و، د دغې خبرې په اوریدلو سره «د کارمل مخ تور شو» په پرتو ویلو یې پیل وکړ او چیغې یې کړې چې «ومې وژنئ، قرباني مې کړئ! زه مرګ، بندي توب او کړاو منلو ته تیار یم.» خریچکوف وویل چې سبا به بیا په دې اړه خبرې وکړو. کارمل موافقه وکړه. خو د همدغې ورځې په مازدیګر د دفاع وزیر، د کورنیو چارو وزیر او د خاد سروال کارمل سره په ګډه ولیدل او په ټینګه یې ترینه وغوښتل چې ځان ګوښه کړي. کارمل په ژورې ناهیلی سره تسلیم شو.کارمل سره له دې د ښځو د سازمان یو شمېر نجونو او ځینې نورو نږدې کسانو له خوا مظاهره تنظیموي، خو دا عمل ګټه نه کوي

په پای کې د ۱۳۶۵ کال د غوايي د میاشتې په څورلسمه نېټه د افغانستان د خلک ډموکراتیک ګوند پلنوم دایر شو، د ببرک استعفی تایید او د هغه پرځای ډاکټر نجیب الله د افغانستان د خلک ډموکراټیک ګوند د مرکزي کمیټې د عمومي منشي په توګه وټاکل شو.

ببرک کارمل د شوروي اتحاد د زاړه تفکر د پلویانو سره ټینګې اړیکې درلودې. ده د هغوی په لمسون د نجیب الله پر ضد د افغانستان د خلک ډموکراټیک ګوند د مرکزي کمیټې د عمومي منشي په توګه د ټاکنې په همهغه مهال د خپلو پلویانو په مرسته مظاهرې وکړې او مړه دوي ګارباچوف او نجیب الله شعارونه یې ورکړل او د محمود بریالي میرمنې جمیله ناهید خو لا په یوه مظاهره کې افغانانو ته دا توصیه وړاندې کړه چې افغاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشومانو ته لا په زانګو کې د ستر شوروي اتحاد دوستي په غوږونو کې زمزمه کړي. د ببرک کارمل د پلویانو مظاهره د وسله وال پوځ د منسوبینو له خوا تیت او پرک شوه.

په پای کې کارمل اړ شو چې د انقلابي شورا د ریاست نه هم لاس په سر شي او هغه و چې د ۱۹۸۶ کال د نومبر په شلمه یې خپل ګوښه لیک واستوه. په دې ډول د ده سیاسي ژوند پای ته ورسېد، ټولنیز ژوند یې محدود شو او په خپله یو عادي کس شو. بیا د درملنې په پلمه مسکو ته واستول شو تر څو نجیب الله په ډاډه زړه د هېواد چارې پرمخ بوزي.

## د ژینو خبرې

د مخه مو یادونه وکړه چې د شوروي د یرغل نه وروسته د ملګرو ملتو موسسې، اروپایي ټولنې، د ناپېیلو هېوادونو او اسلامي هېوادونو او د نړۍ نورو هېوادونو او نړیوالو موسسو له شوروي اتحاد نه وغوښتل چې خپل پوځ له افغانستان نه وباسي او د افغانستان د ناپېیلتوب او خپلواکۍ درناوی وکړي. خو شوروي نه غوښتل چې د افغان کشاله د خبرو او ډیپلوماسۍ له لارې حل شي. شوروي مشران پر خپل پوځ ډاډه و، چې په افغانستان کې به کراري راولي او د خپل اجنټ ببرک کارمل په سروالۍ به پرچمي رژیم د ختیځې اروپا شوروي ته د تابعو حکومتونو په شان حکومت کوي. ځکه دوی جګړې ته د دوام ورکولو په خاطر د سلګونو زرو انسانانو د وژلو او د افغانستان د ورانولو مسؤلیت په غاړه واخېست.

څه مهال وروسته ځینو شوروي لویانو خپله تېروتنه ومنله خو بریژنف د پخوا په شان په خپله سرزوري ټینګ و، په دې چې روسانو هغه هېوادونه چې لاندې کړي و، هېڅکله د هغو نه د پوځ ایستلو ته اړ شوي نه و. اوس بریژنف دا منلې نه شوه چې خپل پوځ له افغانستان نه وباسي. بریژنف په ۱۹۸۲ کال کې مړ شو او د هغه د مړینې وروسته د شوروي د یرغل اصلي نوښت ګر د ک ج ب مشر اندروپوف د شوروي اتحاد لوړ واکمن شو. دی چې زر په خپله تېروتنه پوه شو د ډیپلوماسۍ لار یې ټینګه ونیوله. خو له بده مرغه ناروغ اندروپوف د ۱۹۸۴ کال په جنوري کې مړ شو او ځای ناستی یې کانستانتین چرننکو د بریژنف غوندې د افغان مسلې د پوځي حل پلوي و. خو د ښه مرغه هغه ته مرګ په ښه وخت کې راورسېد.

که څه هم دغه خبرې په ۱۹۸۲ کال کې د ملګرو ملتو په منځګړیتوب پیل شوې خو شوروي اتحاد د بریژنف او چرننکو په وخت کې د ژینو خبرو ته رښتینی نه و. دوی پلمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولې او ویل یې چې د جګړې د لاملونو له منځه تلو وروسته شوروي اتحاد خپل پوځونه د افغانستان نه وباسي.

د ملګرو ملتو سرمنشي کورت والډ هایم د ۱۹۸۱ کال د فبروري د میاشتې په ۱۱مه نېټه جاویر پرېز دي کویلار په سیاسي چارو کې د خپل شخصي استازي په توګه وټاکه چې د ښکېلو هېوادو تر منځ د سولې خبرې پرمخ بوزي. دي کویلار په ۱۹۸۱ کال کال کې لومړی د اپرېل او بیا د اګست په میاشت کې سیمې ته دوه ځله سفر وکړ. ده په کابل او اسلام اباد کې له مقاماتو سره د خبرو وروسته د افغان کشالې د هوارولو له پاره د ملګرو ملتونو د ماموریت او هغه فعال رول ومنل شو. په خپله سرمنشي هم د همدې کال په مې کې مسکو ته سفر وکړ او هلته یې د همدغه پوهاوي په اړه د ګرومیکو او نورو موافقه ترلاسه کړه. دوکویلار په دې اړه په اسلام اباد کې د جنرال ضیاءالحق موافقه هم ترلاسه کړه. پاکستان د افغان کډوالو استازیتوب، او په عمومي ډول د افغانستان استازي توب په کړو کې په خپله کاوه او افغان اسلامي تنظیمونو ته یې چانس نه ورکاوه. کاکړ وایي چې «د تنظېمونو مشرانو هم د خپل هېواد د کشالې په اړه د پاکستان مخکښې منلې، او د خپل ملي حاکمیت اصل یې له نظره غورزولی و. له همدې امله و چې دوی ملي اهمیت پیدا نه کړ ... او تر پایه پورې د پاکستان د ای اس ای تر مشرۍ لاندې جنګي ډلې پاتې شوې او د هېڅ تنظیم امیر یا سروال ملي مشر نه شو»۸۶۷

د ۱۹۸۱ کال په پای کې پرېز دوکویلار د ملګرو ملتو د سرمنشي په توګه وټاکل شو او دیګو کوردوویز یې په سیاسي چارو کې خپل مرستیال وټاکه او د ۱۹۸۲ کال د فبروري په میاشت کې د افغانستان د کشالې د هوارولو له پاره د خپل خاص استازي په توګه وټاکه. اندروپوف د ۱۹۸۳ کال د مارچ په ۸مه د ملګرو ملتونو سرمنشي پرېز دوکویلار ته وویل چې جګړه د شوروي اتحاد اړیکې د لوېدیځ، سوسیالستي هېوادو، اسلامي هېوادو او د نورې پاتې نړۍ سره ترینګلي کوي او همدارنګه کورنۍ ټولنیزه او اقتصادي وده زیانمنه کوي.

په امریکا کې د نوي ولسمشر رونالډ ریګن منځ ته راتګ شوروي اتحاد اندېښمن کړ چې د افغان کشاله یې د کارتر په پرتله ډېره ټینګه ونیوله او د پاکستان له چارواکو سره یې د نویو وسلو د جنګي الوتکو په ګډون د څلورو میلیاردو ډالرو په اندازه هوکړه لیکونه لاسلیک کړل. د چېرننکو وروسته په نسبي توګه ځوان ګارباچوف د شوروي اتحاد واکمن شو او د ژینو په خبرو یې لنګر واچاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کوردوویز او د ژینو خبرې

کوردوویز یو خوځند او نوښتګر ډپلومات و او د افغانستان د کشالې د هوارۍ له پاره یې د «بیړې ډپلوماسي» غوره کړه. کوردوویز د ۱۹۸۲ کال د اپرېل په میاشت کې سیمې ته په سفر لاړ. په پاکستان کې یې د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر صاحبزاده یعقوب خان سره ولیدل. د کوردوویز د دغه سفر موخه د خبرو د څرنګوالي او کړنلارې د ټاکلو په اړه وه. کوردوویز د خبرو د «نږدې غږېدو» فارمول وړاندیز وکړ چې د ښکېلو خواوو استازي به په بیلو کوټو کې ناست وي، دوی به نه سره ګوري او دی به هغوی په خپلو کوټو کې ویني او د مقابل لوري خبرې به اوروي. دا ځکه چې پاکستان نه غوښتل چې استازی یې د کابل د استازي سره مخامخ خبرې وکړي او هغه ته رسمیت ورکړي. په کابل کې د باندنیو چارو وزیر شاه محمد دوست د کوردوویز له فارمول سره هوکړه وکړه. کوردوویز بیا تهران ته سفر وکړ او هلته د ایران د بهرنیو چارو وزیر علي اکبر ولایتي سره وغږېد. ولایتي ورته وویل چې ایران نه غواړي په خبرو کې ګډون وکړي. خو ولایتي د کوردوویز د دغه وړاندیز سره زړه نازړه هوکړه وکړه چې هغه به ایران له بحثونو نه باخبره ساتي او ایران به هر هغه نظر کوردوویز ته انتقال کړي چې د بحث لاندې موضوع ګانو په اړه یې لري.

له دغه سفر نه وروسته کوردوویز په هاوانا کې د صاحب زاده یعقوب خان او شاه محمد دوست سره ولیدل او د خبرو په اړه یې ځان نور هم ډاډه کړ. ده بیا هغه لیک چې د بحث وړ موضوع ګانو اجنډا یې بللې اول یعقوب خان او بیا نورو ته واستوه. هغه مهال چې له دوی نه یې د هوکړې ځواب ترلاسه کړ په ژینو کې یې د ۱۹۸۲ کال د جون د میاشتې ۱۵مه د خبرو نېټه وټاکله. په دې توګه په دغه نېټه د افغان کشالې په اړه د خبرو لړۍ پیل شوه او کوردوویز د ملتونو په ماڼۍ کې د ملګرو ملتونو د استازي په توګه د دواړو پلاوو کوربه توب کاوه. هر پلاوی به د ملتونو ماڼۍ ته یو په سهار او بل په ماسپښین کې جلا ورتلو، په بلې اوونۍ کې به دغه ترتیب سرچپه کېده. دواړه پلاوي به هېڅکله په یوه وخت کې په ماڼۍ کې نه و.

کوردوویز په ژینو کې د خبرو په درشل کې د شوروي اتحاد استازي ستانیسلاو ګاوریلوف سره هم ولیدل چې په کابل کې د شوروي اتحاد د سفیر مرستیال و. کوردوویز د ده له لارې چې د ګرومیکو سره یې په نېغه توګه مخابره کوله، د شوروي حکومت په سیاست ځان پوهاوه. شورویانو هیله درلوده چې د ژینو خبرې به د کابل رژیم ته یو ډول مشروعیت یا لږ تر لږه نړیوال حیثیت ورکړي.

کاکړ وایي چې د نړۍ بل زبرځواک امریکا چې په دغه وخت کې یې د افغانستان پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېښو ژور اغېز درلود د ژينو د خبرو سره چندان علاقه نه ښووله. کوردوويز وايي چې ده ته په ملګرو ملتو کې د امريکې دايمي استازي يو مرستيال جورج شارمان په رسمي ډول څرګنده کړه، چې که څه هم امريکا د خبرو له لارې د افغان کشالې د هوارولو ملاتړ کوي خو نه غواړي چې د هغې په اړه خبرو کې برخه واخلي. خو په ژينو کې د يونو په دفتر کې د امريکې استازي هرمن سواى بي (Herman Swaebe) چې د ولسمشر ريګن نږدې ملګرى و، د کوردوويز سره ومنله چې د دغې موضوع په اړه به په کرسمس کې د ريګن سره وغږيږي.

کوردوويز په ژينو کې د ۱۹۸۲ کال د جون په شپاړلسمه نېټه لومړى د پاکستان د پلاوي د مشر يعقوب خان سره وليدل او په دې توګه د ژينو خبرې پيل شوې. يعقوب خان غوښتل چې د خبرو اصلي موضوع د افغانستان نه د شوروي پوځ ايستل وي. نومړي د افغانستان په چارو کې د لاسوهنې نه انکار کاوه. خو شاه محمد دوست د هغه پر خلاف په پرله پسې ډول ويل چې که دغه لاسوهنه ودرول شي نورې موضوع ګانې به حل شي. په پاى کې د پوځ د وتلو موضوع په متن کې د اساسي ټکي په توګه ومنل شوه. که څه هم د کابل د رژيم استازي په وار وار له هغې سره مقاومت کاوه.

د ۱۹۸۲ کال د نومبر د مياشتې په ۱۱مه نېټه بريژنف مړ شو او د ک ج ب مشر يوري اندروپوف د هغه پر ځاى د کمونسټ ګوند عمومي منشي وټاکل شو. تر دغه وخته د ژينو په خبرو کې يو څه پرمختګ شوى و، خو د اندروپوف په واکمن کېدو سره د ژينو په خبرو کې د پرمختګ هيله ښه پياوړې شوه. اندروپوف اوس خپلې تېروتنې ته ځير شوى او په دغه فکر شوى و، چې خپل پوځ د ښکېلو حکومتونو په موافقې سره له افغانستان نه په عزت وباسي.

کوردوويز همدا چې د خبرو لومړى پړاو پاى ته ورسېد د افغان کشالې د هوارولو هراړخېزې پرېکړې لومړنۍ مسوده تياره کړه چې اساسي ټکي يې د پوځ ايستل، د لاسوهنې بندول، د هېوادونو د ضمانت او د کډوالو ستنېدل وو. په مسوده کې د دې نه هم يادونه شوې وه چې د پرېکړې د ټولو توکو پلي کول به په يوه وخت کې وي. د کوردوويز نه هيله کېده چې خپل کار چټک کړي خو هغه خپل تګ سيمې ته وځنډاوه. کوردوويز په نيويارک ټايمز کې د تاس د اژانس د اعلامې په حواله ولوستل چې شونې ده چې د شوروي نوى واکمن د حيثيت نه بايللو پرېکړه وکړي. د تاس دغې اعلامې هغه توده هوا ښېرته سړه کړه چې د اندروپوف په واکمن کېدو سره پيدا شوې وه. دارنګه د کراچۍ د ډان ورځپاڼې نظر ښکاره کړ چې پاکستان ته نه ښايي چې د ډراماټيک بدلون هيله وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه نوي انکشاف کوردوويز په دې فکر کړ چې د افغان کشاله اوس د زبرځواکونو په کړکېچنو اړيکو کې نغښتې ده. مسکو دی پوه کړی و چې غواړي خبرې پرمخ لاړې شي خو دا نه شي زغملی چې په ښکاره يا ان په ضمني ډول ووايي چې په هر ډول وي پرېکړه غواړي.

خو لږ مهال وروسته د ۱۹۸۳ کال د جنوري د مياشتې په ۶مه نېټه په ملګرو ملتو کې د شوروي استازي ولادمير شوستوف کوردوويز ته وويل: «له يوه ډېر لوړ ځای نه هغه ته هدايت شوی چې تا ته ووايي چې په مسکو کې د جامعې فيصلې مسودې درناوی شوی دی او دا چې د شوروي حکومت هيله کوي چې په ژينو کې به له خبرو کوونکو سره د هغه خبرې بريالی وي».۸۶۸ بيا نو کوردوويز په ډاډه زړه سيمې ته په سفر لاړ. ده په تهران کې د ايران د باندنيو چارو وزير علي اکبر ولايتي سره وکتل. علي اکبر ولايتي د پرېکړې اصلي موضوع د پوځ ايستل ياد کړو چې بايد په دوو کلونو کې سرته ورسيږي او هم يې د کډوالو د بېرته ستنېدو نه يادونه وکړه. کوردوويز بيا اسلام اباد ته لاړ او هلته يې د پاکستان د بهرنيو چارو د وزير يعقوب خان سره وليدل. هغه د پرېکړې د مسودې د څلورو ټکو سره موافقه ښکاره کړه خو ده د کوردوويز نه وغوښتل چې د پوځ د ايستل کېدلو له پاره دې د وخت چوکاټ وټاکل شي او کوردوويز ورسره ومنله. بله ورځ يعقوب خان کوردوويز ته ډاډ ورکړ چې پاکستان د پرېکړې ټول توکي منلي دي خو مشاورانو يې دا موضوع هم ياده کړه چې په پرېکړې کې دې هرو مرو د موجودو پولو د منلو يادونه وشي. خو کوردوويز وايي چې ده له دغه بحث نه وروسته لازمه نه ګڼله چې په دې اړه اوس بحث وکړي. په کابل کې شاه محمد دوست د کوردوويز جدول خوښ کړ خو د پوځ د ايستل کېدو په اړه يې د وخت د ټاکل کېدلو جدول ونه مانه. بله ورځ شاه محمد دوست د هم مهالتوب پرنسيب ومانه او د وروستۍ پرېکړې نه دېرش ورځې وروسته يې د ټولو توکو د پلي کولو سره هوکړه وکړه. کوردوويز وروسته په شوروي سفارت کې له ګاوريلوف سره د ډوډۍ خوړلو په مهال خبرې وکړې. ده هغه ته وريادہ کړه چې د مخه په ژينو کې د پوځ د ايستلو د وخت د چوکاټ په اړه څرګند پوهاوی منځ ته راغلی و. ګاوريلوف هم د دوست په شان د پوځ د ايستلو د وخت د ټاکلو د موضوع سره مخالفت وکړ خو په پای کې يې وويل چې په دې اړه به له مسکو سره مشوره وکړي.

کوردوويز د ملګرو ملتو د سرمنشي پرېز دې کويلار په ملګرتيا مسکو ته سفر وکړ. شوروي حکومت د ملګرو ملتو سرمنشي په رسمي ډول مسکو ته بللی و. اندروپوف دې کويلار ته وويل چې د ملګرو ملتونو له لارې د افغانستان په چارو کې د لاسوهنې مخالف دی خو په همدغه وخت کې يې د ډيپلوماسۍ له لارې د افغانستان د کشالې په اړه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوردوویز کوښښونه مثبت وارزول او یو ځل بې بیا په ټینګه وویل چې که لاسوهنې ودرولې شي «ګرانه به نه وي د اړوندو موضوع ګانو په اړه د شوروي پوځ د وتلو په ګډون موافقه وشي.»۸۶۹ ده دا هم وویل چې په افغانستان کې د پوځ پاتې کېدل به دغه پایلې ولري. لومړی هغه ډېر لګښت غواړي؛ دوهم د ننه په شوروي اتحاد کې ستونزې پیدا کوي؛ دریم د امریکې د متحده ایالاتو، دریمې نړۍ او اسلامي نړۍ سره د کشالو لامل کیږي؛ څلورم د ټولو هغو هېوادونو سره چې له دغې موضوع سره علاقه لري هرو مرو پرابلمونه جوړوي.نو دی له زړه نه غواړي چې «دغه حال ته د پای ټکی کیږدي.»۸۷۰

له هغه وروسته کوردوویز د جامعې پرېکړې په بشپړولو بوخت شو. خو پاکستان په دغه وخت کې نوې کشاله پیدا کړه هغه دا چې د کوردوویز نه یې وغوښتل چې د پرېکړې په وروستي متن کې دې د ډیورنډ کرښه نړیواله پوله وښودله شي. کاکړ وایي چې د کابل رژیم «حاضر و چې د دغې موضوع پر سر سوداګري وکړي، خو چې پاکستان یې په رسمي ډول وپېژني.»۸۷۱ کوردوویز وایي چې شاه محمد دوست راته وویل چې «... لکه هسې چې د اګست په وړاندیزونو کې ښودل شوي، دغه موضوع په رښتیا د خبرو موضوع کېدلی شي. خو په مستقیم ډول د دواړو حکومتونو تر منځ او یوازې د پرېکړې له ختم نه وروسته.»۸۷۲ په دې توګه پرچمیان حاضر وو چې د پاکستان له لوري د دوی د رژیم د رسمي پېژندلو په بدل کې د ډیورنډ کرښه د نړیوالې پولې په توګه ومني. خو پاکستان دغه سوداګري ونه منله.

بله موضوع د وروستۍ پرېکړې پلي کول و. په پای کې ومنله شوه چې د پرېکړې ضمانت به د امریکا او شوروي اتحاد پر غاړه وي په دې ډول چې امریکا به مجاهدینو ته خپله مرسته دروي او شوروي به ژمنه کوي چې خپل پوځ له افغانستان نه وباسي. له هغې وروسته د پرېکړې لومړنۍ لیکنه په اوولسو مخونو کې بشپړه شوه.

د دې سره سره د ۱۹۸۳ کال د اپرېل د میاشتې د ژینو په غونډه کې ګاوریلوف د مسودې د ځینو ټکو په اړه نارضایت ښکاره کړ. ګاوریلوف لا ویل چې «... مسکو له دغې مسودې نه ناهیلی دی.»۸۷۳ او باید د نه لاسوهنې فقره دې په ټینګه بیان شي. کوردوویز وایې چې دی زر پوه شو چې د کابل استازو څه نه شو ویلی ځکه چې ګاوریلوف ته د مسکو نه لارښوونه رسېدلې نه وه. که څه هم ګاوریلوف په رسمي ډول د خبرو استازی نه و خو بیا د دغې موضوع په اړه د افغانانو پر ځای دی د کوردوویز سره خبرې کوي او افغان استازي غلي دي. دا د حیرانتیا خبره نه ده ځکه چې ګاوریلوف په ژینو کې د دې د پاره ناست و چې افغانانو ته لارښوونه وکړي چې په غونډه کې څه ووایي او څه نه ووایي. ما لیکوال ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغان د پلاوي یو غړي په هالنډ کې وویل چې دوی ته د شوروي نماینده لارښوونه کوله او په خپله یې څه نه شول کولی. په هر حال له هغه وروسته و چې شاه محمد دوست د مسودې په اړه نظر ښکاره کړ او کوردوویز د استازو د نظرونو په رڼا کې مسوده بیا وکتله او هڅغه یې د متن په چوکاټ کې په څلورو حقوقي برخو ووېشله او د نوي متن مسوده د اپرېل په پنځلسمه تیاره شوه. په ډله یزو خپرونو کې د کوردوویز دا وینا چې د مسودې متن ۹۵ سلنه بشپړه شوې په دې ډول خپره شوې وه چې ګویا د پرېکړې ۹۵سلنه بشپړه شوې ده. وضع بحراني کېده او د ملامتۍ ګوته کوردوویز ته نیول کېده. کوردوویز د ژینو د خبرو د پیل کېدو درې ورځې د مخه ژینو ته لاړ چې د ښکېلو خواوو له استازو سره یې د مخه لیدلي وي. خو په دغه وخت کې د شوروي استازی ګاوریلوف د زړه د درېدو له امله مړ شو او پر ځای یې واسیلي سفرانچوک ژینو ته ورغی. کوردوویز د یعقوب خان او سفرانچوک د لیدو وروسته په دې فکر شو چې «... په مسکو کې کومه سخته پېښه شوې ده.»۸۷۴ د پېښې یوه نښه دا وه چې سفرانچوک په پاکستان تور ولګاوه چې د نه لاسوهنې په فقره کې له ډاډ ورکولو نه تېر شوی دی او پاکستان د نه لاس وهنې په اړه باید په رسمي ډول ژمنه وکړي. د سفرانچوک په لارښوونه به و چې شاه محمد دوست د پوځ د ایستلو د وخت د ټاکلو په موخه د خبرو په اړه په ټینګه انکار وکړ. کوردوویز د دغې اوږېدلې هوا په لامل نه پوهېده. خو وروسته ښکاره شوه چې اندروپوف سخت ناروغ شوی او ګرومیکو پوه شو چې د تلې بله خوا درنېږي نو خپل دریځ بدلوي. کوردوویز د ۱۹۸۳ کال په اګست کې خپله پرېکړه څرګنده کړه او وویل چې په خبرو کې د پرمختګ چانس نه لیدل کېږي. د ۱۹۸۴ کال د فبروري په میاشت کې اندروپوف مړ شو او پرځای یې بل عمر خوړلی کنستانتین چرننکو واکمن شو او د کوردوویز ماموریت نور هم ستونزمن شو.

ضیاءالحق چې د اندروپوف د جنازې له پاره مسکو ته تللی و، له چرننکو سره د لیدنې غوښتنه وکړه، خو هغه ورسره ونه لیدل. شورویانو په افغانستان کې خپل پوځي عملیات سخت کړل. د شوروي اتحاد دغو عملیاتو واشنګټن هم اغېزمن کړ او ریګن د ۱۹۸۵ کال د مارچ په میاشت کې خپل ملي مصونیت ته پوره واک ورکړ چې په ټولو شتو وسیلو سره هاند وکړي چې شوروي ځواکونه له افغانستان نه وایستل شي.۸۷۵ د واشنګټن پوست ورځپاڼې خبر وکړ چې افغان مجاهدینو ته د سي ای اې پټه مرسته د لومړي ځل له پاره د وېتنام د جګړې وروسته په بېساري ډول زیاته شوه.

د ۱۹۸۵ کال د مارچ د میاشتې په لسمه نېټه د چرننکو د مړینې خبر خپور شو او پر ځای یې میخایل ګورباچوف د شوروي لوړ واکمن شو او نوې پاڼه واوښته. ضیاءالحق چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چرننکو د جنازې له پاره مسکو ته تللی و، هلته یې پنځوس دقیقو له پاره د ګورباچوف سره وکتل. ضیاءالحق په اسلام اباد کې وویل چې «زه د هغه [ګورباچوف] په وینا له سره باوري شوم، چې شوروي اتحاد د ملګرو ملتو نو تر څارنې لاندې په نامخامخ خبرو سره د سیاسي حل ملاتړ ته ژمن دی.»۸۷۶

ګورباچوف دغه یرغل تېروتنه ګڼله خو بیا هم د ګورباچوف په واکمنۍ کې د ژینو خبرې پېچلې او اوږدې شوې ځکه چې شوروي واکمن اندېښمن و، چې د پوځي ځواک په بې اعتبار کېدلو سره به په اسیا او ختیځې اروپا کې د هغه تر لاس لاندې هېوادونه له خپلو ملکونو نه د شوروي پوځونو ایستل وغواړي.

کوردوویز د می د میاشتې په ۲۵مه نېټه سیمې ته د خپل سفر په یون کې اسلام اباد ته ورسېد او د پاکستان د چارواکو سره د خبرو زر ورته مالومه شوه چې په پاکستان کې د ژینو د خبرو په اړه کوم بدلون نه دی راغلی او دوی د شورویانو له لوري نه ښې علامې ته سترګې په لاره وو. کوردوویز په کابل کې د شاه محمد دوست سره د می په ۲۸مه ولیدل او کوښښ یې کاوه چې د مسودې نه د پوځ وتل وباسي. خو کوردوویز ته په کابل کې د شوروي استازي کوزیروف په یوه جلا لیدنه کې ډاډ ورکړ چې ګورباچوف هوډ کړی چې پرېکړه دې د ملګرو ملتونو په منځګړتوب وشي. په دې توګه کوردوویز او پاکستان ته هغه علامه د مسکو نه ورسېده چې دوی ورته سترګې په لار وو.

د ۱۹۸۵ کال د جون په شلمه د ژینو د خبرو څلورم پړاو پیل شو چې په پای کې د درو سندونو په اړه د څو وړو ټکو پرته هوکړه وشوه. یوازې څلورم سند چې د شوروي پوځ ایستل کېدلو په اړه و، پاتې و. د کابل او شوروي استازو غوښتل چې د پوځ ایستل کېدل د وخت په چوکاټ کې د ننه هغه وخت ومني چې پاکستان د کابل د رژیم د استازو سره مخامخ خبرې وکړي. خو مقابل لوري دا وړاندیز نه مانه ځکه چې په هغه حال کې به په کابل کې د شوروي په لاس درول شوی رژیم په رسمیت پېژندل شوی او منل شوی وی. کوردوویز شوروي استازي ته وویل چې مخامخ خبرې یوازې هغه وخت شونې ښکاري چې ببرک کارمل د خپل مقام نه ګوښه شي.لږ وروسته د ګرومیکو پر ځای د ګورباچوف نږدې ملګری شېورنادزې د باندینیو چارو وزیر شو او دا هم یوه مثبته نښه وه.

د ۱۹۸۵ کال د اګست په ۲۷مه په ژینو کې د خبرو پنځم پړاو پیل شو. دخبرو دغه دور بې نتیجې و، ځکه چې دواړه خواوې په خپلو دریځونو کلکې ولاړې وې. د شوروي لوري پوځي عملیات ډېر سخت کړل کاکړ وایي چې دا عملیات د چنګېز خان د وخت عملیاتو ته ورته و، چې په اړه یې ویل کېده چې «راغلل، وېې وژل او لاړل.»۸۷۷ خو که شورویانو جګړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سخته کړه نو امریکا او پاکستان د مجاهدینو د مقابلې وړتیا نوره هم پیاوړې کړه. مجاهدینو ته د الوتکو ضد د ستینګر راکټونه ورکړل شول چې د شورویانو هوایي بریدونه یې یو څه اندازه بې اغېزې کړل او د جنګ اړونکی ټکی شو.

کوردوویز نیویارک ته ستون شو او د ۱۹۸۶ کال د فبروري په میاشت کې د شوروي اتحاد په بلنه مسکو ته لاړ هلته یې د باندنیو چارو د وزیر شېوارنادزې سره ولیدل. شېوارنادزې د هغه د پوهاوي له یادښت سره هوکړه وکړه، په داسې حال کې د مخه کوزیروف او دوست د ژینو په خبرو کې رد کړی و. برسېره پردې شېورنادزې هغه ته دا هم وویل چې اوس اړینه ده د دغه متن د څلورم سند په اړه خبرې وشي او شوروي اتحاد حاضر دی، د پرېکړې د پلي کېدو ضمانت وکړي. کوردوویز په یوې خصوصي کتنې کې دې پایلې ته ورسېد چې پخوا له دې چې د ژینو د اووم پړاو خبرې پیل شي، کارمل به هلته نه وي.۸۷۸ د همدغې میاشتې په پنځویشتمه د شوروي اتحاد د کمونېست ګوند په ۲۷مه کنګره کې ګورباچوف وویل چې شوروي به په نږدې راتلونکې کې خپل پوځ له افغانستان نه بېرته وغواړي. کوردوویز د لومړي ځل له پاره په رښتیا باوري شو چې د دې وروسته د پوځ د ایستل کېدلو د مودې ټاکل د خبرو اساسي موضوع ده او دی د پرېکړې په لوري درومي.

کوردوویز د مارچ په میاشت کې اسلام اباد او کابل ته سفر وکړ. ده په اسلام اباد کې له ضیاءالحق سره په لیدنه کې د مخامخ خبرو موضوع یاده کړه او «هغه په ټینګه تایید کړه، چې پاکستان به هغه وخت دغه خبرې وکړي، چې ټول سندونه بشپړ شوي وي.»۸۷۹ خو په کابل کې دوست کوردوویز ته یوه لیکنه ورکړه چې د هغې له مخې به د پوځ وتل څلور کاله ونیسي، هغه په دې شرط چې د پاکستان او ایران له لورو د نه لاسوهنې ژمنې پوره شوې او په بشپړ ډول تر سره شوې وي.۸۸۰ خو دا کار ناشونی و او له دې امله به و، چې کوزیروف د کوردوویز نه وغوښتل چې دغه لیکنه یوازې د ځان سره وساتي.

کوردوویز په نیویارک کې د خپل مرستیال ریموند سومیرېنز سره څلورم سند بیا وکوت او نور یې هم سم کړ او یوازې یې د پوځ د ایستلو ځای سپین پرېښود او کله چې کوردوویز دا سم شوی متن سفرانچوک ته وښود، هغه وویل چې «عجبه ده چې هغه زموږ متن ته ورته او لا ترېنه ښه دی.»۸۸۱ سفرانچوک کوردوویز ته دا هم وویل چې «تر هغو چې د وخت رښتینی چوکاټ ترلاسه کوې، خپلو خبرو ته دوام ورکړه او دغه کار به ډېر وخت ونه نیسي.»۸۸۲

کوردوویز بیا له امریکا د باندینیو چارو مرستیال ارمه کاسټ سره په ځانګړې توګه ولیدل. هغه د نویو انکشافاتو په اړه رضایت وښود او کوردوویز ته یې وویل چې خبرو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوام ورکړه.

په ژینو کې د ۱۹۸۶ کال د می په میاشت کې د خبرو اووم پړاو پیل شو. د خبرو په بهیر کې اعلام وشو چې کارمل د خپل مقام نه ګوښه شو چې دا د کوردوویز له پاره یو ښه خبر و. دا ځل هم په خبرو کې د پوځ د ایستل کېدو چې د خبرو اساسي موضوع وه هوکړه ونه شوه. دوست د پوځ د ایستلو موضوع درې نیم کاله او یعقوب خان درې یا څلور میاشتې یادوله. له دې امله د دواړو خواوو په سلا خبرې د همدغه کال د اګست میاشتې ته وځنډول شوې.

کوردوویز ته تر اګست پورې د هر لورې نه ډول ډول نښې ورسېدلې. ګورباچوف د دې سره سره چې له یوې خوا یې د افغان لوري سره ستونزې او د بلې خوا د خپل پوځ سره کشالې درلودې، د ۱۹۸۶ کال د جولایي په اومه نېټه په ولادي واستوک کې د یوې وینا په ترځ کې څرګنده کړه چې د شوروي اتحاد شپږ کنډکه به له افغانستان نه وایستل شي. کاکړ وایي چې د دې وینا بل مهم ټکی دا و، چې د افغان سیاسي ځواکونو په ګډون له جوړ حکومت ملاتړ وښود. له سیاسي ځواکونو نه د ګورباچوف موخه په پاکستان کې اسلامي تنظیمونه، پاچا محمد ظاهر او د هغه پلویان وو. ګورباچوف په دې اړه له نجیب الله سره هم غږېدلی و او نجیب هم د رژیم د ټولو مخالفینو سره د خبرو تیاری وښود.

کوردوویز د ایسلنډ په پلازمینه ریکیاویک کې د رونالډ ریګن او د ګارباچوف د ناستې نه هم اورېدلي و، چې د اکتوبر په یوولسمه کېده. که څه هم دا غونډه په اصل کې د وسلو د کنټرول په اړه وه، خو مشاورین یې د افغان کشالې په اړه هم سره وغږېدل. یو څه وروسته د شوروي اتحاد د باندینیو چارو وزیر مرستیال کوردوویز ته وویل چې د افغان کشالې هواری د ګورباچوف په اجنډا کې لوړ ځای لري. همدارنګه شېورنادزې چې د نومبر په میاشت کې په نیویارک کې ویلي و چې دا کوښښونه به زر پای ته ورسیږي.۸۸۳

د ژینو د خبرو نهم پړاو د ۱۹۸۷ کل د فبروري د میاشتې په ۲۵مه پیل شوې. دا ځل د افغانستان استازي توب وکیل کاوه چې نوی د باندینیو چارو وزیر ټاکل شوی و. وکیل د شوروي پوځ د وتلو موده ۲۲ میاشتې وښودله او کوزیروف هم د هغه ملاتړ وکړ او هغه یې نه بدلېدونکی ګاڼه. خو پاکستان د پوځ د ایستل کېدو موده شپږ میاشتې ښودله. وکیل بله ورځ اتلس میاشتو ته راښکته شو خو یعقوب خان ته دا وړاندیز د منلو وړ نه و او دی یوازې اوو میاشتو ته پورته راغی.

د ۱۹۸۷ کال د دسمبر په نهمه ریګن او ګورباچوف په رسمي ډول په واشنګټن کې سره ولیدل. د دې کتنې وروسته ګورباچوف د بې وسلې کولو د موضوع په اړه خوښي وښوده او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان په اړه یې وویل چې «موږ په دغسې پایلې پسې نه یو، چې په کابل کې دې یو شوروي پلوی حکومت وي.» او «موږ سیاسي پرېکړه کړې ده، چې خپل پوځ «په دوولس میاشتو کې» وباسو. په دغه وخت کې له افغانستان نه د شوروي پوځ ایستل د نړیوال کړکېچ زړی ګڼل کېده.

په پای کې نجیب الله کوردوویز ته وویل چې شوروي او افغانستان هوکړه کړې چې د شوروي پوځ وتل به د ۱۹۸۸ کال د می په ۱۵مه پیل شي او په نهو میاشتو کې به پای ته ورسیږي. دغه نېټه په دې ګڼې جوړه شوې چې د پرېکړې په اړه هوکړه د ۱۹۸۸ کال د مارچ تر پنځلسمې لاسلیک شي.

د ژینو خبرې د همدغه کال د مارچ په دوهمه پیل شوې او د اپرېل تر ۱۴مې وغزېدلې. خبرې څکه اوږدې شوې چې دا موضوع ګانو: په کابل کې د نوي حکومت جوړول، د وسلو د تناظر اصل، د پولې موضوع او د کابل رژیم په رسمیت پېژندل. خو په پای کې د ژینو توافق لیکونه د ۱۹۸۸ کال د اپرېل په ۱۴مه د ژینو د ملتونو په ماڼۍ کې د پاکستان د باندینیو چارو وزیر زین نوراني او د کابل د رژیم د باندینیو چارو وزیر عبدالوکیل له خوا او د ضمانت کوونکو هېوادونو په استازیتوب د امریکې د باندینیو چارو وزیر جورج شولتز او د شوروي اتحاد د باندنیو چارو وزیر شیواردنازې له خوا لاسلیک شول. د دغې غونډې مشري د ملګرو ملتو سرمنشي پرېز دي کویلار کوله او کوردوویز هم حاضر و.

شوروي اتحاد د همدغو توافق لیکونو سره سم خپل پوځ په نهو میاشتو کې له افغانستان نه وایست او جنرال ګروموف د دغه پوځ قوماندان وروستی شوروي و، چې له افغانستان نه ووت.

د ژینو په پرېکړه کې یو د وسلو د تناظر اصل او بل یې د یوه ایتلافي حکومت په اړه و. د تناظر اصل له مخې امریکا مجاهدینو ته او شوروي اتحاد به د کابل رژیم ته وسلې ورکوي یا نه ورکوي. د تناظر اصل دوه اړخونه درلودل چې مثبت تناظر له مخې به دوی خپلو خواوو ته وسلې ورکوي او د منفي تناظر له مخې به یې نه ورکوي. لومړی د مثبت تناظر اصل ومنل شو چې مانا یې د جګړې دوام و. د ۱۹۹۱ کال د دسمبر په دیار لسمه د امریکا او شوروي اتحاد ترمنځ د منفي تناظر اصل ومنل شو، چې د نوي کال د پیل نه به پلی کېږي.

بل پوهاوی دا و، چې د ژینو د پرېکړې څلور واړه خواوې به د کوردوویز د هغو شخصي هڅوسره مرسته کوي چې په افغانستان کې د یوه ایتلافي حکومت له پاره لار هواره کړي. کوردوویز ته د ډېرو افغانانو سره د خبرو اترو نه مالومه شوه چې یوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخوانی پاچا محمد ظاهر د افغانستان له پاره د يووالي سيمبول کېدلی او افغانان پر ده غونډېدلی شي. کوردوويز د همدې موخې له پاره په روم کې د هغه سره وليدل. کوردوويز هغه ته وويل چې دی سمدلاسه لويه جرګه رابللی شي. خو د کوردوويز په وينا محمد ظاهر د دغسې تاريخي کار له پاره نه فزيکي او نه فکري قوت وښود، که څه هم هغه د محمد ظاهر نه په وار وار وغوښتل چې دی کولی شي په خپل هېواد کې د ډېر بد کورني جنګ مخه ونيسي. دی دا هم وايي چې د واشنګټن په مرسته شونۍ وه چې پاکستان د هغه په خوا واوړي.۸۸۴

کوردوويز بيا په افغانستان کې د سولې له لارې د يوه مشروع پراخ بنسټه حکومت په نامه د يوه انتقالي حکومت تجويز وړاندې کړ، چې هغه به د متنافذينو يوه شورا وي چې د لويې جرګې د جوړولو له پاره لاره هواره کړي تر څو له دې لارې افغانان خپل سياسي برخليک په خپله وټاکي. د جرګې د تجويز څخه نه يوازې د افغانستان خلکو، د قومونو استازو، د ډګر قوماندانانو، ديني عالمانو، روڼ اندو، ټکنوکراتانو او نورو د لويې جرګې د تجويز په ټينګه پلوي وکړه، بلکې د نرمو اسلامي تنظيمونو مشرانو سيد احمد ګيلاني، صبغت الله مجديدي او شايد مولوي محمد نبي ملاتړ وکړ. شوروي اتحاد او امريکا اول دغه وړانديز په اړه زړه نازړه وو، خو بيا يې په پلوي نظر ښکاره کړ. پخوانی پاچا لا هم د روم نه د باندې نه تلو او ضياءالحق هم مړ شوی و. د پاکستان ای اس ای اداري هم د تنظيمي حکومت پلوي کوله. خو هسې چې فکر کېده حکمتيار د دغه وړانديز مخالف و. حکمتيار په افغانستان کې د شوروي اتحاد په سفير هم له دې امله کلکې نيوکې وکړې چې په روم کې يې د پخواني پاچا محمد ظاهر سره ليدلي و. دا نيوکې له دې امله وې چې محمد ظاهر په کابل کې شايد د کوم ډول پراخ بنسټه حکومت سروالي ومني. په دغه وخت کې کوردوويز په خپل هېواد ايکواډور کې د باندنيو چارو وزير وټاکل شو او د دغې دندې لاس په سر شو.

د کوردوويز نه وروسته د ملګرو ملتو سرمنشي پرېز دې کويلار په افغانستان کې د يوې ټولېزې سياسي پرېکړې له پاره د لارې د هوارۍ له پاره د عمومي اسمبلې په سپارښتنه د ۱۹۹۱ کال د مې په ۲۱مه يو پلان جوړ کړ چې د هغه له مخې افغانان په انتقالي دوره کې د خبرو له لارې يو پراخ بنسټ حکومت جوړ کړي او بيا دغه حکومت د ازادو او عادلانه ټاکنو ته لار هواره کړي. پرېز دې کويلار د دغه ماموريت له پاره بېنان سيوان وټاکه.

کاکړ وايي چې شوروي اتحاد پخوا له دې چې ټوټه ټوټه شي د افغان مقاومت له يوه پلاوي سره په يوې څرګندونې کې هوکړه وکړه چې په افغانستان کې دې قدرت يوه انتقالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلامي حکومت ته منتقل شي. امریکې خپل سیاست هم بدل کړ چې په افغانستان کې د یوې سیاسي پرېکړې یا د انتقالي حکومت په اړه د خبرو اترو له پاره د نجیب الله «گوښه کېدل به مخکینی شرط نه وي.» د پاکستان د باندنیو چارو وزیر د ۱۹۹۲ کال په پیل کې هم د ملگرو ملتو د پلان ملاتړ وکړ ځکه چې په منځنۍ اسیا کې د نویو هسک شویو خپلواکو جمهوریتونو سره اړیکې نیول په اقتصادي لحاظ د یوه باثباته او ارام افغانستان له لارې شونې او گټورې وې. نږدې ټولو افغان سیاسي ډلو د دغه پلان ملاتړ وکړ او دا ځل یوازې عبدالرب رسول سیاف مخالفت وکړ. دا یوزینی پلان و چې په افغانستان کې د انتقالي حکومت جوړولو له پاره ټولو کورنیو او بهرنیو ښکېلو خواوو ته د منلو وړ وه او هیله کېدله چې د دې پلان په پلي کېدو سره به د افغانستان له پاره کوم ډول حکومت په پښو ودرول شي او د کورنۍ جگړې مخه ونیوله شي. خو په همدغه وخت کې (۱۹۹۲ اپرېل) په کابل کې د کارملیانو له خوا د نجیب الله پر ضد کودتا وشوه او دغه پلان ناکام شو.

## د نجیب الله لنډه واکمني

د کاکړ په وینا د کارمل د گوښه کېدو وروسته د خاد مشر نجیب الله د گوند عمومي منشي وټاکل شو. نجیب الله د گورباچوف او شېوارنادزې په سپارښتنه په یو لړ سمونونو لاس پورې کړ. د کابل په ښار کې یې د شپې گرځېدلو بندیز، چې د ۱۹۸۰ کال راهیسې لگېدلی و، لیرې کړ؛ د بندیتون نه یې د بندیانو په خوشي کولو پیل وکړ؛ د ۱۹۸۷ کال کې یې لویه جرگه راوغوښتله او د اوو کالو له پاره د دولت د مشر په توگه وټاکل شو؛ نوی اساسي قانون جوړ شو؛ د اسلام سپېڅلی دین د افغانستان رسمي دین او سیاسي گوندونه ازاد اعلام شول؛ وروسته د افغانستان د خلک ډموکراټیک گوند د وطن گوند ونومول شو او خاد په واد (د ملي امنیت وزارت) واړول شو. خو د واد د سر چارواکي د پخوا په شان کارملي خادستان وو.

دی دا هم زیاتوي چې د واد نه پرته د افغانستان سیاسي نظام د ملي او لبرالي ارزښتونو له مخې له سره جوړ شو، خو وخت ته اړتیا وه چې مالومه شي چې هغه د ژوند په ډگر کې پلی کیږي یا یوازې د کاغذ پر مخ د تورو غونډې پاتې کیږي لکه د ۱۹۸۰ کال اساسي قانون چې یوازې په نوم و. دا مهال هم د ننه په افغانستان او هم په شوروي اتحاد کې وضع په اساسي ډول اوښتې وه. نجیب هڅه کوله چې د خلکو باور وگټي چې د خاد د سروال په توگه ترېنه پردي شوي وو. اول یې د سلطان علي کشمند پر ځای محمد حسن

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرق او وروسته فضل الحق خالقیار د صدراعظم په توګه وټاکه. نجیب الله هغه یو ډول فرعي حکومت چې د کارمل او کشمند له خوا په مزار کې جوړ شوی و او نجیب الله مسیر یې سروال و او د افغانستان د دوه ټوټه کېدو پیلامه وه، د منځه یووړ.

نجیب الله د شوروي پوځ د وتلو نه لږ د مخه خپلې نظامي قواوې د کونړ د مرکز نه وایستلې او مجاهدینو ته یې پرېښود. مجاهدینو او په ځانګړي ډول «د مولوي جمیل الرحمن پلویانو چې د وهابیانو په نامه یادېدل له خلکو سره د ژغورونکو په شان نه، بلکې د لوټمارو په شان چلند وکړ.»۸۸۵ لږ وروسته مجاهدینو په خپوه کې یوه حکومتي نظامي پوسته ونیوله، «دوه تنه افسران یې چې ورته تسلیم شوي وو، ووژل او اټکل یوویشت ښځې یې د جنګ د غنیمت په شان خپلې کړې»۸۸۶ همدارنګه د رژیم «څلور اویا تنه افسران او سرتیري تورخم ته نږدې د پاکستان چارواکو ته تسلیم شول او هغوی دوی د مولوي خالص اسلامي حزب یوه قوماندان ته وسپارل. خو وروسته پولې ته ورځېرمه د افغانستان په سیمه کې د دوی مړي ولیدل شول.»۸۸۷ دغسې پېښو د کابل د رژیم اعتبار زیات کړ. د دې وروسته د جلال اباد په ښار برید په شا ووهل شو چې د رژیم اعتبار یې لا نور هم جګ کړ.

## د جنرال تڼي کودتا

کاکړ وايي دا چې د ملي دفاع وزیر جنرال شهنواز تڼي د جمهور رییس نجیب الله پر ضد یا نجیب الله د تڼي پر ضد په کودتا پیل وکړ، په یقین سره مالومه نه ده، خو دا د تڼي په کودتا یاده شوې ده. دغه کودتا په اصل کې د خلق او پرچم د سیالیو ټوکېدلې ده. د کارمل په وخت کې که څه هم په پوځ او ملکي اداره کې امیني خلقیان ځپل شوي وو، بیا هم خلقي افسران تر پرچمي افسرانو زیات وو او دغه وخت چې رژیم د مجاهدینو سره په جګړې بوخت و، خلقیانو ته یې سخته اړتیا درلوده. له دې امله په دې ټوله دوره کې له جنرال رفیع پرته د دفاع وزیر خلقي و. «دغه حال کارمل او ملګرو ته چې رژیم یې خپل ګاڼه او د شورویانو مخلص مریدان وو، د منلو وړ نه وو.»۸۸۸ ځکه دوی د مسکو نه په الهام سره چې ک ج ب ته یې په عمل کې ډېر واک ورکړی و، خاد ته ډېر واک او اهمیت ورکاوه. خاد دوی ته ځانګړی شو او کارملي پرچمیان د خاد د څانګو امران شول.

د دغې کودتا په مهال خاد چې وروسته د واد په نامه یاد شو ډېر پیاوړی شوی و. رژیم د شورویانو په لارښوونه په راز راز نومونو وسله والې ډلې تنظیم کړې وې. خو د شوروي د وتلو وروسته قومي ملیشیاوې جوړې چې د ځینو سروالان پرچمیان وټاکل شول. دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مليشياوې د امنيتي ځواکونو په توګه په دفاع وزارت پورې نه، بلکې په دولتي رياست پورې تړلې وې خو په کړو کې د خاد يا واد تر ولکې لاندې وې چې هغو ته يې وسلې او پيسې ورکولې او دندې يې ورسپارلې. د عبدالرشيد دوستم د ازبکو مليشيا چې اول کنډک، بيا غونډ او وروسته ۵۳مه فرقه شوه چې د کابل په ګډون د هېواد په ډېرو سيمو کې عمليات وکړل چې په پراخه توګه مرګ ژوبله او لوټ يې وکړ. بله غټه مليشيا د سيد جعفر نادري وه. ده ته دنده ورکړه شوه چې د حيرتان نه تر سالنګه پورې د لارې د ساتلو له پاره فرقه جوړه کړي.۸۸۹

د رژيم بل غټ ځواک خاص ګارډ و، چې افسران يې د خاد په شان پرچميان او سرتيري يې د هغوی خپلوان او باوري کسان او زياتره يې دري ژبي د کابل، شمالي او شمالي ولايتونو اوسېدونکي وو.۸۹۰ دوی ته د دفاع وزارت او څارندوی تر منسوبانو ډېر معاش او لوړه درجه خواړه ورکول کېدل او د جنګ نه معاف وو. د دوی دنده د دولتي مقام او حکومتي مهمو ودانيو ساتل وو. پخوا دا کار شورويانو کاوه. د همدغو بېسارو امتيازونو د لرلو له امله وو، چې د دفاع او کورنيو چارو د وزارتونو نه هم د خاد باوري کسان ګارډ ته لاړل او په دې ډول د ګارډ ځانګړي ټولګي بشپړ او په لوی ځواک بدل شو.۸۹۱ نجيب الله د کابل ګارنيزون له غونډ نه قول اردو ته جګ کړی و او نبي اعظمي پرچمي يې د هغه قوماندان ټاکلی و. کاکړ وايي چې که څه هم نجيب الله کوښښ کاوه چې د شوروي پوځ د وتلو وروسته د افغان پوځ د لوړ قوماندان په توګه «خپل ځواکونه پياوړي کړي، خو دی د پرچمي توب د کړۍ نه هېڅ ونه ووت او ملي نه شو»۸۹۲ او نه يې غوښتل چې د خلقيانو باور وګټي. خلقي لويانو داسې ګڼله چې د هغه ټولې هلې ځلې د دوی د ځپلو له پاره دي. د کونړ او پکتيا نه يې پوځي ټولګي وايستل خو د کابل نه تر امو پورې غزېدلو سيمو قومي مليشياوې يې نورې هم پياوړې کړې او ان د سازا او سزا په نومونو ستمي ډوله ډلې يې په حکومت کې ګډې کړې. دې کار دا ګواښ پيدا کړ چې که شورويان ټول افغانستان تر خپل نفوذ لاندې ونه ساتلی شي نو هېواد به ووېشي او شمالي سيمې به خامخا د خپل نفوذ لاندې وساتي. د نجيب الله او شهنواز تني تر منځ اختلاف دومره ډېر و چې هر يوه پر خپلو پوځي قطعاتو کې افسران په خپله ټاکل او تبديلول. هغه پېښه چې د نجيب الله او تني تر منځ يې اړيکې لا ترخې کړې، د جنرال ولي شاه د راکټو د لوا قوماندان او د هغه د يو څو تنو ملګرو بندي کول وو، چې ګواکې د افغانستان د اسلامي حزب له خوا جذب شوي وو. د نجيب الله مشاور وايي چې « په کابل کې يو شمېر شوروي پوځيانو او ډپلوماتانو ګومان کاوه چې د کودتا سناريو په مسکو کې ک ج ب جوړه کړې وه. دغه سناريو له يوې خوا تني

(c) ketabton.com: The Digital Library



ک ج ب د کودتا له پاره او د بلې خوا یې په پټه نجیب د هغه د ځېلو له پاره د مخکې نه تیار کړې و.»۸۹۳

د نجیب پلویان وایي چې تڼۍ د همدغې ورځې (۱۹۹۰ مارچ) په سهار له دارالامان څخه چېرې چې د ملي دفاع وزارت پروت و، په ټانک کې بګرام ته په پټه تللی او د هغه ځایه یې کودتا پیل کړه. خو د تڼي پلویان دا وایي چې کودتا د دوی نوښت نه وو، بلکې وربانديې وتپل شوه. خو کاکړ وایي چې اقبال وزیري د تڼي کودتا په اصل کې د کې جې بې نوښت ګڼي. اقبال وزیري وایي چې شورویان په تېره جنرال ګروموف په دې نظر و، چې د شوروي پوځ په وتلو سره د خلق او پرچم تر منځ ټکر کېدونکی دی او دوی یو ځل بیا د هغه د واقعي کولو له پاره غلام دستګیر ته دنده وسپارله او «دستګیر پنجشیري، صالح محمد زېری، نیاز محمد مومند، شهنواز تڼی او یو شمېر نورو کسانو خلقي افسران یوې بې نتیجې کودتا ته وهڅول.» له ټکر نه موخه دا وه چې خلقي پوځ کمزوری شي، د ملګرو ملتو پروګرام شنډ شي، د نجیب حکومت ناتوان او بیا نسکور شي او دولتي واک کارملیانو او شمالي ټلوالې ته انتقال شي او شمالي سیمې د افغانستان نه بېلې او د شوروي اتحاد د دایمي نفوذ لاندې شي.۸۹۴

د کودتا ناکامي په دغومره لنډه موده کې عجبه نه ښکاري ځکه چې دواړه خواوې یو د بل د پلانونو نه ک ج ب له خوا خبرېدل او دوی غوښتل چې خلقیان وځپي او نجیب کمزوری او بیا یې د کارملیانو له خوا نسکور کړي تر څو د بینان سیوان د سولې پلان شنډ او شمالي افغانستان جلا او بیا یې د مرکزي اسیا په شوروي جمهوریتونو پورې وتړي.

په دغه کودتا کې سمدلاسه یو شمېر جنرالان او افسران ووژل شول، په سلګونو نور افسران او ملکي ګوندیان بندي شول او کابل لا نور وران شو.

د کودتا په پایله کې د ځواک انډول بدل شو او د لومړي ځل له پاره په پوځ کې پرچمي پله درنه شوه او نجیب الله او ملګرو یې د خلقیانو نه په غچ اخېستلو پیل وکړ، که څه هم اسلم وطنجار د دفاع وزیر او راز محمد پکتین د کورنیو چارو د وزیر په توګه وټاکل شول. برسېره پر دې قومي ملیشیاوې نورې هم پیاوړې شوې. حسن شرق لیکي «د تڼي د نوم لاندې د اردو د پاکونې، کمزروی او تیتولو وروسته د شمال او د هرات د ولایت قومي قوماندانان تر غاښو وسله وال کړل او تر سره پورې یې په پیسو کې ډوب کړل او د قومي ځواکونو سیخې اړیکې د شوروي جمهوریتونو د ایالتونو سره د ډاکټر نجیب په امر جوړې او د پاسپورټ پرته یې د دوی تګ راتګ شوروي اتحاد ته برابر کړ.»۸۹۵ په دغو کړو سره نجیب الله د ببرک کارمل ډله پیاوړې کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تني د ځپلو وروسته د نجیب الله ستونزې زیاتې شوې چې په پای کې یې دی د قدرت نه وغورځوه. د مجاهدینو له خوا په ۱۹۹۱ کال د مارچ په۳۱مه د خوست د فرقې او د جون په ۲۱مه په تخار کې د خوجه غار پوځي قطعې نیول، په شوروي کې د ګورباچوف پر ضد د کودتا شنډېدل، د روسانو له خوا کابل ته د کارمل بېرته لېږل، د شوروي اتحاد د باندینیو چارو وزارت او د امریکې د بهرنیو چارو د وزارت تر منځ د اګست د میاشتې هوکړه چې د هغې له مخې به یې حکومتونه د نوي کال له پیل نه افغان مجاهدینو او کابل حکومت ته وسلې نه ورکوي، همدغه کال د ډسمبر په ۲۵مه پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد د یرغل نه پوره دولس کاله وروسته په خپله پنځلس ټوټې شو او فیدرالي روسیې ولسمشر د نجیب الله په حکومت مرسته بنده کړه او د یلتسن حکومت د نجیب الله د حکومت پر ضد عمل کاوه.

دا هغه وخت و، چې د افغانستان له پاره د ملګرو ملتو ځانګړي استازي بینان سیوان د افغانستان د کشالې له ټولو ښکېلو خواوو سره هوکړه کړې وه، چې د ۱۹۹۲ کال د اپرېل په ۲۸مه به د قدرت لېږد پلی کیږي. په دې ډول چې لومړی به پنځلس کسیز کمیسیون ته واک ورکول کیږي او هغه به له هغې نېټې نه ۴۵ ورځې وروسته د ۱۵۰ مجاهدینو، قوماندانانو او د نفوذمنو افغانانو نه د ملګرو ملتونو تر لارښوونې لاندې په ژینو یا انقره کې یوه جرګه جوړوي، چې هغه یو موقتي حکومت په پښو ودروي. نجیب الله د مارچ په ۱۸مه د بینان سیوان سره په رسمي ډول منلې وه چې د دغه کمیسیون په جوړېدلو سره به له ولسمشرۍ ځان ګوښه کوي. خو کارملي ګوندیان د خپلې راتلونکې په اړه په ژور ډول اندېښمن شول. بیا دوی د بینان سیوان د پلان د مخنیوي په موخه د نجیب الله پر ضد په مزار کې د شمال ایتلاف په نوم دسیسه پلې کړه او نجیب الله د واک نه وغورزول شو او د بینان سیوان پلان شنډ شو.

## د نجیب الله د واکمنۍ پای

د جنرال تني په پرار او د خلقیانو په ځپلو سره پرچمیان د لومړي ځل له پاره په حکومت او ګوند کې یوازیني لوبغاړي شول. کارمل د نجیب الله نه د غچ اخېستلو په موخه چې د ګورباچوف په مټ یې د ده مقامونه نیولي وو، کوښښ کاوه چې د تخت نه یې کوز کړي. د نجیب په وړاندې بریالۍ کودتا د کارملیانو وه، چې لومړني کارونه یې جنرال نبي اعظیمي تر سره کړي و. که څه هم د واد مشر یعقوبي د نجیب الله پلوي و، خو د کارملي خادستانو په وړاندې څه نه شو کولی. د پوځ نوی لوی درستیز جنرال اصف دلاور و، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجيب الله د اعظيمي په سپارښتنه په دغه مقام ګومارلی و. خو هغه هم کارملي و. د وطن ګوند هم د کارمليانو د نفوذ لاندې و. کارمليانو د ازبکي مليشيا سروال جنرال عبدالرشيد دوستم په سروالی د افغانستان مرکزي حکومت د پښو وغورځاوه. دا وخت کېدای شو چې د هندوکش اخوا سيمې د شورويانو د پلان له مخې د روسانو د دايمي نفوذ لاندې تللې وای خو دغه دسيسه د لنډ وخت له پاره د تنظيمي حکومت له خوا شنډه شوه. که څه هم د بينان سيوان پلان هم ورسره له منځه لاړ.

دا په اصل کې کې جې بې وه چې دغه دسيسه يې تنظيم او د کارمليانو او ستميانو او د رباني- مسعود او د شمالي ايتلاف له لارې يې پلي کوله. فقير محمد ودان د نجيب له خولې وايي چې په مزار کې د روسيې کونسل يو ځای بل ځای دومره سفرونه کول، چې کابل يې انديښمن کړی و. نجيب الله په دې اړه د روسيې سفير ته اخطار ورکړ، چې له دغو کړو نه لاس واخلي. برسېره پر دې د حارث شاه په نامه د دوشنبې د اطلاعاتو رييس چې په بلخ کې يې د مشاور په توګه دنده سرته رسوله، د شمال ايتلاف د مشرانو سره د ارتباطي غړي په توګه فعال و.دغه وخت دوستم په کابل کې و او د نجيب الله نه يې شبرغان ته د تګ اجازه غوښته. د دې سره سره چې نجيب الله پرې باوري نه و هغه يې د وطن د ګوند د سياسي دفتر د ځينو غړو په منځګړتوب شبرغان ته د تلو اجازه ورکړه. خو دی چې جوزجان ته ورسېد د حيراتان د لوا د ياغي قوماندان جنرال مومن خوا يې ونيوله، جنرال مومن لا د مخه د فريد مزدک په تليفوني دستور له دې نه سرغړونه کړې وه، چې کابل ته لاړ شي. دوستم د نجيب الله نه دا غوښتنه هم وکړه چې جنرال اځک او يو شمېر نور قوماندانان، چې ټول د مرکزي حکومت ټينګ پلويان او د غوڅ عمل خاوندان وو او دوستم يې د وطن بشپړتيا ته ګواښ باله، له مزار نه کابل ته وغوښتل شي. نجيب الله د ګوند د اجرايه شورا په وړانديز همدغسې وکړل، خو له دوستم نه يې هم وغوښتل چې کابل ته راشي، خو دوستم له دغه امر نه د محمود بريالي، نجم الدين کاوياني، فريد مزدک او سيد اکرام پيګر په لمسون سرغړونه وکړه. زر وروسته دوستم له نجيب الله نه وغوښتل چې د «افغانستان شمالي ولايتونه د جمهوري افغانستان د فېدراسيون په توګه وپېژني او اعلان يې کړي.»۸۹۶ دا د شورويانو له خوا د افغانستان د ټوټه کولو د پلان سره سمون کاوه. نجيب الله د امنيت د خوندي کولو له پاره جنرال اځک له دوو نورو جنرالانو سره مزار ته واستوه. خو د مرکزي شورا په اجرايوي ډله کې دسيسه کوونکو نجيب الله ته وويل چې اوس د بينان سيوان پلان د پلي کېدو په درشل کې دی او په مزار کې به پوځي عمليات د هغه په مخه کې خنډ شي او که نبي اعظيمي هغې خوا ته ولېږې، دوستم به د فېدرېشن له

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتنې نه تېر شي. دغه نظر ومنل شو، جنرال اڅک او نور بېرته وغوښتل شول او جنرال اعظیمي مزار ته واستول شو. په دې توګه نجیب الله د دسیسه کوونکو د لاس نانځکه ګرځي.

که څه هم اعظیمي نجیب الله د دې له پاره مزار ته لېږلی و چې په مزار کې امنیت ټینګ کړي خو ده په مزار کې د دسیسه کوونکو پلان په ځانګړي مهارت پلی کړ. لومړی یې د دوستم ملیشاوو ته شونې کړه چې مزار ونیسي او ورپسې ځان کابل ته ورسوي او امنیت په ګډوډولو کې ونډه واخلي.

نجیب الله هڅه کوله چې د کابل وضعه ارامه وساتي او د دغه مقصد له پاره له اطراف نه پوځي ټولګي راوغواړي. په دغه لړ کې یې هغه پوځي ټولګي کابل ته وغوښتل، چې مخکې یې مزار ته استولي و. دسیسه کوونکو نجیب الله ته وویل چې دوی دوستم قانع کړی چې هغه پوځي ټولګي چې د دوستم سره بندیان دي، ازاد کړي او بېرته یې کابل ته راواستوي. په پای کې د دوی د بېرته راوړلو له پاره ۱۸ الوتکې ولېږلې شوې او کابل ته د حکومتي پوځي ټولګیو پر ځای د دوستم ملیشاوې راوړل شوې او د کابل هوایي ډګر کنټرول یې په خپل لاس کې ونیوه.

بله ورځ غلام فاروق یعقوبي د امنیت وزارت وزیر په خپل دفتر کې د فرید مزدک د ورور یارمحمد له خوا وژل کیږي او هم جنرال عبدالباقي د همدغه وزارت د پنځمې څانګې سروال ووژل شو. نجیب الله پوه شو چې ژوند یې په خطر کې دی نو بیا سیخ د ملګرو ملتو دفتر ته لاړ او د هغه ځای نه یې په تلیفون کې د بینان سیوان څخه چې دغه وخت په اسلام اباد کې و، وغوښتل چې په بیړه ځان کابل ته ورسوي. هغه د سهار په یوه بجه کابل ته راورسېد خو د دوستم ملیشیاوو د الوتکې نه د وتلو اجازه ورنه کړه. بینان سیوان د اعظیمي په مرسته نجیب ته وروستل شو تر څو نجیب د ځان سره په الوتکه کې د افغانستان نه وباسي. خو د ملي ګارډ یوه جنرال عبدالرزاق د نجیب الله د تللو مخه ونیوله. نجیب الله اړ شو چې د خپل ورور سره یو ځای د ملګرو ملتو دفتر ته ځان ورسوي او هلته د مېلمه بندي په توګه پاتې شو. په دې توګه ببرک کارمل د نجیب الله نه غچ واخېست.

په کابل کې کارملیانو او په مزار کې دوی ته اخلاصمندو قومي ملیشاوو او نورو په دغه حساس وخت کې چې باید د بینان سیوان پلان د پلي کېدو په درشل کې و، د نجیب الله پرضد د ک ج ب په مرسته کودتا تنظیم کړه، د نجیب الله واکمني پای ته ورسېده او د بینان سیوان پلان یې ناکام کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نجيب الله په ګوښه کېدو سياسي تشه منځ ته راغله. عبدالوکيل د احمدشاه مسعود سره په جبل سراج کې او محمد رفيع په لوګر کې له حکمتيار سره وکتل. هغه مهال چې طالبانو د ۱۹۹۶ کال د اکتوبر په مياشت کې کابل ونيو نجيب الله او د هغه ورور د اريانا په څلور لاري کې زندی شول.

## څلورويشتم څپرکی

# کاکړ او افغان اسلامي تنظيمونه

کاکړ وايي چې په افغانستان کې د نورو اسلامي هېوادو غوندې د سياسي اسلام غورځنګ د ټولنې د عصري کېدلو او مدني کېدلو په وړاندې غبرګون و، چې د محمد داود د صدراعظمۍ په دوره کې پيل شوی او د قانوني پاچايۍ کې ښه پراخ شو. په دواړو دورو کې اقتصادي، ټولنيزې او پوهنيزې پروژې پرمخ بيول کېدلې چې په پايله کې يې افغان ټولنه له دوديز حال نه د عصري کېدلو په لور روانه کړه. په دغه انتقالي پړاو کې د تعليم کړو افغانانو په ليکو کې له يوې خوا داسې ځوانان هم هسک شول چې د شوروي او چين د کمونستي ګوندو د ادبياتو نه اغېزمن وو او د بلې خوا نور يې اسلام پال ځوانان وو، چې د عراق د ابن تيميه د فکرونو نه اغېزمن و او غوښتل يې چې په افغانستان کې سوچه اسلامي نظام پر پښو ودروي. په دې توګه افغان ټولنه د متضادو ايډيالوژيکي اندونو ډګر شو، چې پر افغان سياست او د افغانانو پر ژوند يې ژوره اغېزه وکړه.

د مخه مو يادونه وکړه چې يو شمېر تعليم کړي ځوانان په ځانګړې توګه د قانوني پاچايۍ په ازاد چاپېريال کې د مارکس او لينن له فکرونو نه اغېزمن شوي او مسکو پلو غورځنګ يې تنظيم او پياوړی کړ. داسې هم يو شمېر نور د اسلامي سوچوالو تر اغېز لاندې تللي او په اسلامي تنظيمو کې ننوتلي وو. کاکړ وايي چې د افغانستان د شلمې پېړۍ د دوهمې نيمايي تاريخ په زياته اندازه د دغو متضادو خوځښتونو ترمنځ د مقابلې داستان دی.

افغان اسلامي غورځنګ د ټولنې او دولت د بيا تنظيم په برخه کې د عراق د ابن تيميه

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۲۶۸-۱۳۲۸) فکرونو او کړو څخه اغېزمن و، چې اساس یې قران مجید او نبوي ویناوې او د مدینې امه یا لومړنۍ سیاسي اسلامي ټولنه یې سرمشق وه. ابن تیمیه په هغه وخت کې چې مغول په اسلامي نړۍ کې لاس بري وو او د شرعیت پر ځای یې د خپل مغولي قانون یاسا نه کار اخیسته، چې د هغه یاني یاسا له مخې د نظام ستر واکمن د چنګېز خان له کورنۍ نه و، پر مغولو د «کاپر» او «مشرکو» حکم وکړ، که څه هم دوی په دغه وخت کې مسلمان شوي وو. ابن تیمیه نړۍ د دارالحرب او دارالاسلام تر منځ وېشلې وګڼله او د مرتدانو او کاپرانو پر ضد یې غزا روا باله.۸۹۷

## د اسلامي ګوندونو تاریخچه

د افغانستان د اسلامي حرکت بنسټ ایښودونکي له اطرافي سیمو څخه وو، چې په کابل کې یې په عصري تعلیمي موسسو کې زده کړه کړې وه؛ ځینو یې لوړې زده کړې په بهرنیو هېوادونو کې سرته رسولې او بیا د کابل پوهنتون د شرعیاتو په پوهنځي کې یې ښوونه کوله. دوی د قانوني پاچاهي لسیزې د ډموکراسۍ او ازادۍ هوا کې موقع ترلاسه کړه چې غونډې وکړي، ټولنې جوړې کړي او فکرونه خپاره کړي. په دغې هوا کې لومړی ملي او کیڼ اړخي ګوندونه تنظیم او فعال شول او بیا اسلامي حرکت د هغو په وړاندې هسک شو. د افغانستان اسلامي جمعیت په ۱۹۵۷ کال کې د پغمان په ابو حنیفه مدرسه کې د غلام محمد نیازي او نورو له خوا یې بنسټ کېښودل شو. دا په واقعیت کې په افغانستان کې د سیاسي اسلام د حرکت پیل و.

نیازی تازه د قاهرې د الاظهر په پوهنتون کې د لوړو زده کړو د سرته رسولو نه وروسته وطن ته راستون شوی و. سیاسي اسلامپالو تر ۱۹۶۹ پورې د عمل ډله ټاکلې وه، چې مشر یې د امیر په نامه نیازی و. دوی په قانوني پاچاهي لسیزې کې ډېر فعال شول او په ۱۹۷۳ کال کې یې یوه پټه شورا جوړه کړه، چې مشر یې برهان الدین رباني او نهایي مشر یې نیازی و. نیازی د شرعیاتو د پوهنځي سروال و او په غونډو کې یې برخه نه اخیسته. د دوی نوم اسلامي جمعیت شو خو په خلکو کې د اخوان او اخوانیانو په نامه یاد شول. دغه نوم د پاکستان له جماعت اسلامي سره اړخ لګوي. د افغان سیاسي اسلامپالو د ټولنې دولتي نظام او ډموکراسۍ په اړه د سید قطب او مودودي له نظریو نه اغېزمن وو. دوی په یوه خپرونه کې «موږ څوک یو او څه غواړو؟» ویل شوي چې زموږ موخه دا ده چې افغان خلک د ظالمانو د منګولو نه وژغورل شي او په دین کې نوی غورځنګ راوړل شي. د مسلمان ځوانانو مشر ګلبدین حکمتیار په ځانګړې توګه څرګنده کړې وه چې د دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حرکت موخه د واکمنې ډلې نسکورول او اسلامي نظام یې په ځای راوستل دي، د دې له پاره چې د ټولنې سیاسي، اقتصادي او ټولنیز اړخونه اسلامي کړي. مولف ګلزرک ځدران لا ویلي و چې «له دې امله چې اسلام... تر قیامت پورې تکمیل دی له اسلام نه وتلی بل هر ډول قانون، رسم رواج [او] طرزعمل او تخیلات د اسلام په محتوی کې نه ځاییږي.»۸۹۸

د مخه مو یادونه کړې وه چې د محمد داود په ولسمشرۍ کې د کودتا په تور د نیازي په ګډون یو شمېر بندیان شول او نور یې پېښور ته لاړل او له هغه ځای نه یې د پاکستان په هڅونې او مرستې په ۱۹۷۵ کال کې د افغانستان په ځینو ولایتونو کې پاڅونونه وکړل. خو حکومت هغه ټول وځپل او دوی بېرته پېښور ته پر شا شول. په پېښور کې دوی نه یوازې د خپلې ناکامۍ له امله بې اهمیته شول بلکې په خپلو کې سره وران او بې اتفاقه شول. په اول سر کې اسلامي جمعیت دوه ټوټې شو. رباني د جمعیت امیر پاتې شو، چې د مودودي په شان د تشدد او سختۍ پلوی نه و. د اسلامي حزب په نامه یو بل ګوند ترې ووت چې مشر یې د لنډې مودې دپاره قاضي محمد امین وقاد او وروسته ګلبدین حکمتیار شو. اسلامي ګوند تر جمعیت نه سخت دریځی و، په مرامنامه کې یې ویل شوي دي چې «د حکومت اصلاح د ټولنې او داسې هم د فرد د اصلاح له پاره مخکینۍ شرط دی.»۸۹۹ دا هم په کې ویل شوي چې په افغانستان کې «غیر اسلامي فکرونه او تمرینونه باید نه وي» ځینې لا په دې عقیده وو، چې حکمتیار له پیل نه نظر دې ته چې د افغانستان د خپلواکۍ له پاره وجنګیږي، د قدرت ګټلو له پاره جنګېده. مولوي محمد یونس خالص د همدغې موضوع پر سر ترېنه بیل شو او د اسلامي حزب په نامه یې یو بل ګوند جوړ کړ. د هغه په عقیده د افغانستان خپلواکي تر قدرت نیولو نه مهم و.۹۰۰

شوروي یرغل د دې لامل شو، چې په عمومي ډول د افغانستان اسلامي حرکت او په ځانګړې توګه اسلامي تنظیمونه د ولسواکو او وطنپالو ګوندونو په تاوان د پاکستان د ای اس ای له لارې په ځانګړې توګه د امریکې او عربستان په پیسو او وسلو پیاوړي او د جګړې او سیاست په ډګر کې مخکښان وګرزول شي. په دغه وخت کې دغه تنظیمونه په پېښور کې ځای پر ځای وو. د اسلامي ګوند د ګلبدین په مشرۍ، د اسلامي جمعیت ګوند د رباني په مشرۍ او اسلامي ګوند د خالص په مشرۍ برسېره د اسلامي انقلابي حرکت د مولوي محمد نبي په مشرۍ، ملي اسلامي محاذ د پیر سید احمد ګیلاني په مشرۍ او د ملي نجات جبهه د صبغت الله مجددي په مشرۍ تنظیم شوي وو. درې وروستي د ۱۹۷۹ کال په بهیر کې جوړ شوي وو.

د تنظیمونو د ډېروالي او د هغو د مشرانو د بې اتفاقۍ نه افغان کډوال او جهادي

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوماندانان او په عمومي ډول د یرغلګرو مخالف افغانان ناراضي او اندېښمن وو. د سعودي عربستان حکومت لا پر تنظیمونو فشار راووړ چې سره یو موټی شي او د هغو سره یې اتحاد د مرستې یو شرط وټاکه. دوی بیا د ۱۹۸۰ کال په مارچ کې د افغانستان د ازادۍ له پاره د اسلامي اتحاد په نامه سره یو موټی شول. عبدالرسول سیاف (وروسته عبدالرب رسول سیاف) یې مشر، صبغت الله مجددي یې مرستیال او مولوي نصرالله منصور یې منشي غوره شو. د اتحاد نه ګوندونه یو پر بل پسې ووتل او اتحاد سیاف ته پاتې شو او په دې توګه د اسلامي اتحاد په نامه یو بل تنظیم ډګر ته راووت. له هغه وروسته درې اعتدالي او څلور سختدریځي تنظیمونه په پېښور کې ځای په ځای وو. د دوی یوالی ستونزمن و. ډګروال یوسف لیکي: «زه په دې فکر شوم چې په سیاسي سطح کې له کوم ډول اتحاد نه پرته په نظامي ډګر کې سمونونه پلي کېدلی نه شي.» په دې اړه له تنظیمونو سره خبرې پیل شوې، خو دی وایي چې «ما دغه مشران یوازې بیل بیل لیدلی شول. دوی نه غوښتل په یوې کوټې کې له یوه بل سره کښېني.» دی دا هم وایي چې «ما له دغسې کسانو سره خبرې کولې که څه هم رښتیني مسلمانان وو، که څه هم جهاد ته ژمن وو، په شخصي- رقابتونو، تعصوبونو او نفرتونو تحریک کېدل چې زیاتره وخت یې د هغوی نظرونه خیرنول او پر کړو یې اثر کاوه.۹۰۱

دا لامل به وي چې له دوی نه هېڅ یو نه په هغه وخت کې او نه وروسته د تنظیمي واکمنۍ په دوره کې ملي مشر شو. اساسي اختلاف د اعتدالي او سختدریځو تر منځ و. اعتدالي تنظیمونه هم ملي او هم اسلامي وو خو سختدریځي د ملي ارزښتونو په ټینګه مخالف او د اسلامي ارزښتونو ټینګ پلویان وو. اعتدالي تنظیمونو پخوانی پاچا غوښته او سختدرځي یې په ټینګه مخالف وو. دوی د دې پروا نه کوله چې افغانان یوازې د هغه تر سیوري لاندې یو موټی کیدای شي. لا مهمه دا ده چې د سختدریځو تنظیمونو مشرانو د جهاد ډپلوماسي اړخ ته اهمیت نه ورکاوه، په داسې حال کې چې د افغانستان موضوع په بېساري ډول سیاسي او نړیواله شوې وه. د امریکې د باندنیو چارو یو چارواکی وایي چې «د دغه ښار [پېښور] خلک سیاسي خوا ټینګه نه نیسي. دوی فکر کوي چې که موږ رښتینې وسلې ترلاسه کړو، هغه به سیاسي کشالې هوارې کړي، خو د ټولې شلمې پیړۍ تجربه ښیي چې هر ګوریلایي جنګ په سیاست سره میدان ګټلی دی.» بیا ده وړاندیز وکړ چې د مقاومت په مشرانو باندې باید فشار واچول شي، چې «د خبرو له پاره یو پیاوړی شریک ترېنه جوړ شي.»۹۰۲ له دې امله په ۱۹۸۴ کال کې په خپله د ای اس ای مشر سختې هلې ځلې پیل کړې چې تنظیمي مشران د کوم ډول رسمي اتحاد په اړتیا قانع کړي. په دې منظور

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ای اس ای مشر په اونیو اونیو د دغو مشرانو سره خبرې وکړې، چې سره جوړه وکړي، بیا د عربستان د پاچا زوی ترکي، د سعودي عربستان د استخباراتو سروال چې هغه هم د جهاد له پاره د خپل حکومت د پیسو د مرستې څارنه کوله، د دغې کشالې د هوارولو له پاره راوغوښتل شو، خو دغو کوښښونو هېڅ پایله نه درلوده. په پای کې په خپله ضیاءالحق لاسوهنه وکړه او سر په سر ډېرې غونډې وشوې. کله چې هغو پایله نه درلوده نو د ضیاءالحق زغم پای ته ورسېد او دستور یې ورکړ چې په ۷۲ ګړیو کې دې په دې اړه یوه ګډه څرګندونه وکړي.

له دې امله و چې په ۱۹۸۵ کال کې د اوو تنظیمونو تر منځ د افغانستان مجاهدو اسلامي اتحاد په نامه اتحاد ومنل شو. د افغان اسلامي تنظیمونو دغه اتحاد د تنظیمي مشرانو په خوښه او نوښت نه، بلکې د پاکستان په نوښت او قوت وشو. دا د خلقیانو او پرچمیانو هغه اتحاد ته ورته و، چې په ۱۹۷۷ کال کې د شوروي اتحاد په نوښت او زور شوی و. دا هغسې یو اتحاد و چې په هغه کې هر تنظیم کوښښ کاوه چې خپل شتون په کې وساتي تر څو وسلې، پیسې او نور اړین شیان ترلاسه کړي. څنګه چې دا ملي اتحاد نه پلکې یوازې د اوو اسلامي تنظیمونو اتحاد و په دې چې هر یوه تنظیم ځانله مرکز، دارالانشاء او کمیټې لرلې. ضیاءالحق غوښتل چې افغانستان د شوروي پوځ د وتلو نه وروسته د پاکستان تر نفوذ لاندې هېواد وي. پاکستان لا د مخه د پېښور او پېښین ممثلې جرګې شنډې کړې وې تر څو د ملي اتحاد مخه ونیسي. هنري براډشیر لیکي: «پاکستان شاید رښتینی اتحاد هېڅ نه غوښته، شاید په دغه دلیل چې په خاوره کې به یې یو پیاوړی ځانګړی تشکیل د پښتونستان د حرکت له پاره یوه نوې بنه شي، یا د فلسطین د ازادۍ موسسې په شان شي چې په اردن او وروسته په لبنان کې پر ځان ډاډه یو بیل ځواک شو.»۹۰۳ داسې د دوی ډېر پیاوړی کوونکي سعودي عربستان هم غوښتل چې «د خپل سني اسلام ارتودوکس وهابي شکل تبلیغ وکړي.»۹۰۴

کاکړ وایي چې د پاکستان چارواکو د افغان جهاد سیاسي خوا ځانله منحصره کړه او تنظیمونه یې یوازې د جګړې په چارو کې سره متحد کړل. د تنظیمونو مشرانو د پاکستان مشرانو ته د خپلو چارو او ستونزو راپور ورکاوه، ښیي چې دوی د افغانستان په چارو کې د پاکستان د چارواکو مشري منلې وه. کاکړ زیاتوي چې همدغې ډاډینې له امله به و چې ضیاءالحق له خپل ناڅاپي مرګ نه لږ څه د مخه امریکایي مولف سلیګ هریسن سره په یوې مرکې کې ویلي و چې له اول نه د هغه موخه د کمونستي نظام د منځه وړل او پر ځای یې د یوه لاس لاندې رژیم پر پښو درول او په سوویلي اسیا کې د «ستراتیجیکي بیا صف

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړول» وو. په دې اړه د ضیاء خپل الفاظ دا دي: «مونږ د دې حق خپل کړی چې هلته [په افغانستان کې] یو ملګری رجیم ولرو، مونږ د یوه مخکیني دولت په توګه خطر ومانه او مونږ به پرې نه ږدو چې وضع د پخوا په شان وي چې هلته به د هند او شوروي نفوذ او زمونږ په خاوره ادعاګانې وي. دا به یو رښتینی اسلامي دولت وي، د اسلامي احیا یوه برخه چې یوه ورځ به د شوروي اتحاد مسلمانان هم په کې شامل وي. ته به یې بیا وویني»۹۰۵

چارلز ولسن د امریکې د استازو مجلس غړی چې ډېر کوښښ یې کړی و چې امریکا مجاهدینو ته د ستنګر راکټونو په ګډون وسلې ورکړې او په خپله هم پکتیا ته د مجاهدو عملیاتو لیدلو له پاره تللی و، په اسلام اباد کې له ضیاءالحق سره په خبرو کې دې پایلې ته رسېدلی و چې «... ضیاء نړۍ د هندوانو او مسلمانانو تر منځ د جنګ ډګر ګڼه او فکر یې کاوه چې پر حکمتیار باندې حساب کولی شي، چې د هند په مقابل کې د پان اسلامي اتحاد په چوکاټ کې کار وکړي.» هغه دا هم ویلي و چې ضیاء دغسې نقشه ورته ښودلې وه، چې په کې د دغسې کانفدرېشن طرح وه، چې په سر کې به «پاکستان او افغانستان او وروسته منځنۍ اسیا په کې شامله وي.»۹۰۶ د همدغه فکر له مخې و چې ای اس ای سخت درېځو تنظیمنو او په ځانګړي ډول د حکمتیار ګوند ته ډېرې وسلې ورکولې. په پېښور کې د سي ای اې (CIA) څانګې امر م. بېرډن وایي چې په ۱۹۸۶ کال کې د ای اس ای (ISI) مشر اختر عبدالرحمن د هغه په مخ کې په یوې غونډې کې چې د تنظیمونو ټول مشران په کې حاضر وو، د نویو وسلو په اړه په دغو الفاظو مخاطب کړل: «که له دغو وسلو څخه کومه یوه د دښمن لاس ته ورغله، یا زه واورم چې هغه پر نورو خرڅه شوه، زه به تاسو هر یو مسؤل وګڼم»۹۰۷

خو تنظیمي لویانو د ای اس ای په اشاره بې شمېره افغانان ترور کړل. ترور شوي ملي او زیاتره تعلیم کړي افغانان وو، چې د سیاسي اسلام پالو مخالف وو. په دغه ډول دغه ترور په اصل کې سیاسي او عقیدوي وو او هغه ډېر د مخه پیل شوی و.

په دوی کې ډېر د نامه او د نفوذ خاوندان افغانان لکه جنت خان غروال، عزیزالرحمن الفت، پوهاند ډاکټر سید بهاوالدین مجروح، پوهندوی ډاکټر نسیم لودین، ډاکټر سعادت شګیوال، استاد زاکر، عبدالرحیم څېن زی، حاجي عبدالطیف، ملا نسیم اخوندزاده، ډاکټر قیوم رهبر، محمد ولي کږوخېل، جنرال عبدالحکیم کټوازی، عبدالاحد کرزی او نور. دا په واقعیت کې د نامه او د نفوذ منو د وژنو دوام و، چې خلقیانو او پرچمیانو په کابل کې پرې پیل کړی و. په کابل کې ملي، ډموکرات او لبرال افغانان د انقلاب ضد په نامه او په پېښور کې له سیاسي اسلام سره د مخالفت په پلمه د منځه وړل کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پايله کې هغه تعليم کړې معتدله ډله چې له وطنپالو، خپلواکې پالو افغانانو نه جوړه وه او په اداره او سياست کې د پوهاوي، زغم او ايتلاف پلويان وو او د ملي کشالې په هوارولو کې يې اغېز او خدمت کولی شو، په کابل کې د چپي افراطيانو او په پېښور کې د مذهبي سختدريځو له خوا وځپل شول. د دغه وژنو سرچينه د شوروي اتحاد ک. ج. ب او د پاکستان ای اس ای وه. دواړو د افغانستان لاندې کولو ته سترګې نيولې او په دې اړه يې دسيسې کولې. دواړو د خپلې خوښې افراطي ډلې پياوړې کولې، د دې له پاره چې افغان ولس د دوی سرمشری منلو ته اماده کړي. د همدغه چلند بله خوا د افغان ملي هويت او د ملي خپلواکۍ د منځه وړل وو. په کابل کې کارمل غوښتل افغانستان د شوروي اتحاد شپاړلسم جمهوريت کړي او په پېښور کې ځينو سياسي اسلام پالو ويل چې «که په دغو دواړو هېوادونو [افغانستان او پاکستان] کې اسلامي نظام غلبه وکړي، مونږ غوره ګڼو چې زمونږ تر منځ ګډې پولې له منځ نه يووړلې شي او دواړه هېوادونه سره يو موټی شي.»۹۰۸

## افغان اسلامي تنظيمونه او پاکستان

کاکړ وايي چې د محمد داود په ولسمشری کې د کورنيو چارو وزير فيض محمد خپل پرچمي چارواکي د اخوانيانو ځپلو ته هڅول او ډېر يې بندي هم کړل. د دوی له ډار نه د ننګرهار د نجم المدارس استاد فضل هادي شينواری پېښور ته واوښت. دغه وخت بوټو د پاکستان لومړی وزير و. دی زياتوي چې شينواری هلته د صوبه سرحد (پښتونخوا) ګورنر محمد اسلم خټک له خوا چې يو وخت په کابل کې د پاکستان سفير و، د سرحدي پوځونو لوی مفتش او وروسته د کورنيو چارو وزير جنرال بابر ته وپېژندل شو. دوی دواړه سره جوړ راغلل او منظم يې سره ليدل. شينواری وايي چې «يوه ورځ بابر راته وويل چې د داود حکومت به په يقين سره نسکور شي. ... ده رانه وغوښتل چې د داود دوستان او دښمنان ورته وښيم. موږ خپله ستراتيجي جوړه کړه او پرېکړه مو وکړه چې ځينې کسان له افغانستان څخه وغوښتل شي.»۹۰۹ په اوله جوپه کې اته کسان د مولوي حبيب الرحمن، ګلبدين حکمتيار، برهان الدين رباني، محمد ګلاب ننګرهاری او احمدشاه مسعود په ګډون راغلل او وروسته شپېته تنه نور راواوښتل چې په هغو کې مولوي محمد يونس خالص او انجنر احمدشاه هم وو. دوی ټول د پاکستان حکومت په لګښت په پېښور کې د بېرسک چوک کې ځای پر ځای شول. دی دا هم وايي چې د افغان اخوانيانو پاکستان ته د ورتګ دغه لړۍ روانه او د «بابر په وخت کې اته سوه کسان د اټک په حصار کې تر روزنې لاندې ونيول شول.»۹۱۰ دوی په ۱۹۷۵ کال کې د بوټو د حکومت په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هځونې او مرستې د خپل وطن په ځينو ولايتونو کې وسله وال پاڅونونه وکړل. خو افغان حکومت هغه ټول وځپل او دوی بېرته پېښور ته پر شا شول. دوی هلته د شوروي تر يرغل پورې د ای اس ای او ځينو اسلامي تنظيمونو په مرسته د بې نومی په حالت کې ژوند کاوه.

دوی د شوروي اتحاد په يرغل سره په غورځنګ راوستل شول. دوی د شوروي يرغلګر پوځ او د هغه د لاسپوڅي رژيم په وړاندې د نړيوالو په مرسته په يو پياوړي ځواک بدل شول. په دې ډول دا د شوروي اتحاد يرغل و، چې د اسلامي تنظيمونو د پياوړي کېدو لامل شو.

د شوروي اتحاد د يرغل نه وروسته نړيوالو او په ځانګړې توګه امريکا او سعودي عربستان پر خپلو مالي او نورو ډول ډول مرستو سره او همدارنګه په خپله پاکستان افغان اسلامي تنظيمونه د دې له پاره پياوړي کړل، چې له يوې خوا شوروي اتحاد د خپل يرغل په مقصد کې ناکام کړي او د بلې خوا پاکستان د همدغو اسلامي تنظيمونو له لارې افغانستان تر خپل نفوذ لاندې راولي، تر څو خپل د ستراتيژيکي ژورتيا پلان خوب په کړو بدل کړي.

پخوا مو يادونه کړې وه چې افغانستان د پاکستان د جوړېدو وروسته د پښتونستان مسله د خپل بهرني سياست مهمه برخه وګرځوله او ان تردې چې د ملګرو ملتو په موسسه کې يې د پاکستان د غړيتوب پر ضد رايه ورکړه. د پاکستان چارواکو خپل بهرنی سياست دې ته متوجه کړ چې پر ايډيالوژي باندې ټينګار وکړي او د پښتنو او بلوچو هغه قومي نېشنلېزم بې اغېزې کړي چې افغانستان يې ننګه کوله. په دې ډول د پاکستان چارواکو له اسلام دين نه د سياسي ګټې کولو ته ملا وتړله او په ځانګړې توګه يې دغه دنده د ای اس ای په غاړه واچوله، چې اداره يې په ملکي جامو کې د پنجابي جنرالانو په لاس کې وه. د دې کار په پايله کې د پاکستان د پوځيانو او ملايانو او ديني عالمانو تر منځ يو ډول اتحاد رامنځ ته شو. د همدغه غټ پوځ په قوت سره خپل مخالفان د پښتنو او بلوڅو په ګډون ډېر وټکول.

کاکړ وايي چې په پای کې د همدغه ځپونکي سياست په وړاندې پښتانه او بلوڅ نېشنلستان له چپي روښانفکرانو او فعالانو سره د حکومت په وړاندې يو موټی شول. دی زياتوي چې «دغه اتحاد د خلقي حکومت په خاص ملاتړ دغومره پياوړی شوی و، چې ضياءالحق يې اندېښمن کړی و، هغه بيا له خلقي حکومت سره په دغه اړه جوړې ته نږدې شو»٩١١ چې د شوروي يرغل له امله پاتې شوه.

د ستراتيژيکي ژورتيا پلان په اصل کې د پاکستان د خوندي توب او ساتنې له پاره جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی و. څنګه چې پاکستان يو هوار ملک دی له هندوستان سره په جنګ کې ساتل کېدای نه شي. د پاکستان د پوځي ستراتيژستانو په نظر د دغسې جنګ په حال کې به د پاکستان پوځونه به افغانستان ته په شا کيږي او بيا به له دغه ځايه پرله پسې ګوريلايي جنګونو ته ملا تړي.۹۱۲ دوی فکر کوي دغه پلان هغه وخت ګټور کېدای شي چې افغانستان او حکومت يې تر خپل نفوذ لاندې وي. د اسلامي سخت دريځو تنظيمونو او په ځانګړې توګه د طالبانو نه د پاکستان ملاتړ د دې له پاره و، چې د يوه پښتون حرکت له لارې پر افغانستان باندې خپل نفوذ خپور کړي. په دې توګه دوی غوښتل چې په دې کار سره به د يوې خوا د هند په وړاندې ستراتيژيکي ژورتيا ترلاسه کړي او د بلې خوا به ايران څنډې ته کړي. خو دوی هغه وخت سخته ډکه وخوړه چې د امارت چارواکو د مولف زاهد حسېن په وينا ، نه د ډيورنډ کرښه ومنله او نه په صوبه سرحد باندې د افغانستان له ادعا نه تېر سول.۹۱۳

پاکستان د «ملي حاکميت په مانا د پښتون نېشنليزم مخالف و نو ځکه د مغولي حکومت په شان کوښښ کوي چې د ملايانو او روحانينو له لارې يې وځپي»۹۱۴ همدا لامل و چې په افغانستان باندې د شوروي وسله وال تيري وروسته يې د « ستراتيژيکي ژورتيا پلان» جوړ کړ.

«د ستراتيژيکي ژورتيا پلان د پاکستان هغه نظامي پلان دی، چې د هغه له مخې افغانستان بايد تل د پاکستان د نفوذ سيمه وي لکه هسې چې افغانستان د نولسمې پېړۍ په دوهمه نيمايي کې د برتانوي هند د نفوذ سيمه ګرځول شوې وه. په داسې حال کې، چې د برتانيي حکومت د افغانستان له لارې د تزاري روسيې د احتمالي يرغل د دفع له پاره افغانستان تر خپل نفوذ لاندې نيولی و، پاکستاني نظاميان غواړي په پاکستان باندې د هند د نظامي يرغل د دفع له پاره افغانستان تردې حده پورې د خپل نفوذ سيمه وګرزوي چې د هند د يرغل په وخت کې خپل پوځونه هلته په شا کړي او بيا له هغه ځايه ګوريلايي جنګونه پيل کړي. د دې له پاره يې بايد پښتون نېشنلېزم ځپلی او افغانستان يې تر خپل نفوذ لاندې نيولی وي.

پاکستان ته د هند له خوا خطر لکه برتانوي هند ته د روسيې خطر د وېرې زېږنده دی. پاکستاني نظاميانو د دغې وېرې له امله د ستراتيژيکې ژورتيا پلان ايستلی، لکه هسې چې انګرېزانو د روسيې له وېرې د هند د دفاع له پاره ايستلی و او په هغه يې د « علمي سرحد» نوم ايښی و. پاکستاني نظاميانو دغه پلان په افغانستان باندې د شوروي يرغل نه وروسته وايست.»۹۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغان د ملي مقاومت په مهال د افغانستان ښوونځي، اقتصادي موسسې، تاریخي او فرهنګي شتمنۍ او نورې ابادۍ د منځه وړل او د ای اېس ای په دستور د خپل نفوذ لاندې اسلامیستي ډلګیو په ذریعه د افغاني روښنفکرانو ترور او نور ورانوونکي فعالیتونه د دې ستراتیژیکي ژورتیا د پلان له مخې و. «نواز شریف د همدغه پلان له مخې د افغان منظم او په مېړنو وسلو سنبال پوځ ړنګ کړ. د جهاد په لس کلنې دورې کې ډېر افغان وتلي تکنوکراتان او قومي مشران چې د مشرۍ او حکومت کولو صفتونه یې لرل د ای اېس ای په دستور او همکارۍ د افغان اسلامیستي تنظیمونو له خوا ترور شوي نړدې ټول پښتانه وو.»۹۱۶

د پاکستان واکمنو د جهاد په لس کلنه دوره کې د امریکا متحده ایالاتو، لوېدیځو هېوادو، اسلامي هېوادو او نورو نه زیاتې پیسې او وسلې په لاس راوړې. د طالبانو د نسکورېدو وروسته پاکستان د یوې خوا له دې کبله چې، د القاعدې او طالبانو په وړاندې د امریکا متحد دی زیاتې وسلې او پیسې ترلاسه کړې، او د بلې خوا یې همدغه پیسې او وسلې د القاعدې او طالبانو د روزلو، تمویلولو او تنظیمولو له پاره وکارولې. دوی غوارې چې«د ډیورنډ د دواړو خواو پښتانه باید بېرته پاتې، ناتوان او د پاکستان تر سیوري لاندې وي. ایران خو لا ډېر د مخه د پښتنو سیاسي ناتوان کولو له پاره بېړې وهلې»۹۱۷ دي.

ضیاءالحق د نویو متحدینو د موندلو په لړ کې افغان اسلامي تنظیمونه د جهاد او اسلام په نامه د پاکستان د ساتنې پلان په چوکاټ کې رابښکېل کړل. ای اېس ای لا د مخه افغان توند لاري اسلامي تنظیمونه تر نفوذ لاندې راوستلي وو.

ضیاءالحق د ای اس ای د مشر جنرال اختر عبدالرحمن هغه دفاعي پلان سره هوکړه وکړه چې د شوروي اتحاد د یرغل د شا وهلو په موخه جوړ شوی و. ده د ضیاء نه په ټینګه وغوښتل چې پاکستان به د افغان مقاومت ملاتړ په وسلو، مهماتو، اسخباراتو، روزنې او عملیاتي سلا سره په پټه کوي. ده فکر کاوه چې دغه افغان مقاومت به نه یوازې د اسلام بلکې د پاکستان ساتنه هم وکړي.

ضیاءالحق وروسته له دې چې د امریکا، برتانیې، لوېدیځې اروپا، عربستان او نور د خلیج شتمن امارتونه، چین او نور متحدان وموندل او د هغو له پرېمانه وسلو، پیسو او ملاتړ نه ډاډه شو په دې فکر شو چې «پاکستان به یو پر ځان بسیا، باثباته او پیاوړی دولت شي، چې په اسلامي نړۍ، سهېلي اسیا او لوېدیځې اسیا کې به یو قوي دریځ ولري او د دغسې توان خاوند به شي چې په ګاونډیو هېوادونو او سیمې کې د اسلام بېرته ژوندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو حرکتونه پیاوړي کړي.» او «د نفوذ ساحه به [یې] هغه وي چې له افغانستان څخه تر ترکیې پورې د ایران او د شوروي اتحاد د منځنۍ اسیا ډېر دولتونه په کې شامل وي.»۹۱۸ ده د دغه خوب د واقعي کولو له پاره د مخه په دې پیل کړی و چې د پاکستان اسلامي دولت «یو اسلامي ایډیالوجیکي دولت» کړي. د دولت د اسلامي کولو دغه حرکت په مذهبي ګوندونو کې تیار متحدین وموندل. اسلامي جماعت او نورې مذهبي ډلې د حکومت همکارۍ ته حاضرې شوې او د لومړي ځل له پاره په حکومتي ځانګو کې یې مقامونه ونیول. ضیاء په سیاست کې د پوځ ونډه ډېره زیاته کړه. پوځ دا وخت د برتانوي ماډل پر اساس سیکولر و، خو ده ورته «نوی اسلامي لوری» ورکړ. برسېره پر دې یې د ټولنې د اسلامي کولو له پاره یو لړ کارونه وکړل.

ضیاءالحق د ټولنې د اسلامي کېدو په موخه د دیني مدرسو ډېرېدلو ته ځانګړې پاملرنه وکړه. د افغان غزا له امله په مدرسو کې دغزا مضمون ځانګړی اهمیت وموند. حکومتي سرچینو د دغو مدرسو ټول شمېر دیارلس زره او زده کوونکو شمېر یې یو میلیون او اووه لکه ښوولی دی. د افغان جهاد په بهیر کې له ۱۹۸۲ نه تر ۱۹۸۸ پورې زر نوې مدرسې پرانستل شوې، چې زیاتره یې د صوبه سرحد او بلوچستان په ولایتونو کې وې.

کاکړ وایي چې «د ضیاءالحق بل خوب د شوروي پوځ ایستل کېدو نه وروسته د افغان اسلامي تنظیمونو له لارې د جهاد او اسلام په نامه افغانستان د تحت الحمایه دولت په شان د پاکستان تر اثر لاندې راوستل و.»۹۱۹ هغه د دغې موخې د پلي کولو له پاره د ای اس ای له لارې د افغانستان له ډېرو سیاسي ډلو، ګوندونو او شخصیتونو نه هغه تنظیمونه غوره او محکښان کړل چې د ده له فکر سره موافق وو.

اسلامي تنظیمونو د څرګند جهاد تر څنګ یوه پټه جبهه خلاصه کړې وه. دغه پټه جبهه د قومي مشرانو، لبرالانو، ډموکراتو، تعلیم کړو او په عمومي ډول د هغو افغانانو پر ضد وه، چې نه یې غوښتل د دغو تنظیمونو او ای اس ای تر چتر لاندې وي. د دغو کسانو ډېر شمېر لوېدیځو هېوادو ته کډه وکړه او یو شمېر یې په پېښور او کوېټه کې ترور شول چې د مخه مو ترې یادونه وکړه.

## د تنظیم واکې پیل

کاکړ وایي چې د ۱۹۹۲ کال د اپرېل تر ۲۴ پورې اټکل شل زره وسله وال مجاهدین او قومي ملیشیا د کابل ښار ته ننوتلي او د بینان سیوان په ژبه «کابل په هر چا پورې اړه لري، خو هېڅوک پرې کنټرول نه لري.»۹۲۰ بینان سیوان چې دنده یې وه، د سیاست

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکښو افغانانو سره په ګډه کوم ډول پراخ بنسټه حکومت په پښو ودروي، اوس په دې لټه کې شو، چې افغانستان د بې امنيتۍ له ناوړو پايلو نه وژغوري. بينان سيوان د اپرېل په ۲۳مه د تنظيمونو مشران او د پاکستان صدراعظم نواز شريف يې د افغانستان د خطرناکې وضعې نه خبر کړل. نواز شريف د ۱۹۹۲ کال د اپرېل په ۲۴مه د اسلامي تنظيمونو مشران د کوم ډول پرېکړې نيولو له پاره د پېښور ګورنر هاوس ته وبلل. که څه هم د شوروي پوځ د وتلو نه وروسته د ۱۹۸۹ کال د فبرورې په ۲۳مه تنظيمي مشرانو يو انتقالي حکومت جوړ کړی و، چې سروال يې صبغت الله مجددي او صدراعظم يې عبدالرب رسول سياف و. څرنګه چې دغه حکومت انحصاري، د جلال اباد د ښار په نيولو کې پاتې راغلی او تر دغه وخته يې کوم مهم کار سرته رسولی نه و، خپل اعتبار بايللی و. بيا هم دوی دا ځل د پېښور د والي په ماڼۍ کې غونډه وکړه چې په يوه ماښام کې پيل او تمامه شوه. په دې غونډه کې چې اجنډا يې د افغانستان له پاره د حکومت تنظيم و، په ګډونکوونکو کې يې د افغانانو په پرتله پردي زيات وو. په غونډه کې د پاکستان صدراعظم نوار شريف، د پاکستان د پوځ لوی درستيز، د ای اس ای مشر، د عربستان د استخباراتو رييس، په اسلام اباد کې د عربستان سفير، په اسلام اباد کې د ايران سفير، د ملګرو ملتو استازی بينان سيوان او دوه تنه نور د پاکستان او عربستان نه او شپږو تنو افغان تنظيمونو مشرانو د حکمتيار پرته ګډون کړی و. کاکړ وايي چې «د دغې پرېکړې په متن کې د افغان او ملت نوم هيڅ ياد شوی نه دی.»۹۲۱ دغه حکومت د نهو تنو باندينيانو او شپږ تنو افغانانو له خوا تنظيم شو او دوی لوړ حکومتي مقامونه يوازې تنظيمي لويانو ته ځانګړي کړل لکه چې د دوی شخصي ملکيت وي.

کاکړ وايي څنګه چې د دغې پرېکړې اصلي نوښتګر د پاکستان صدراعظم نواز شريف و او هغه د يوه باتجربه سياستمدار په توګه په دغه طرح کې د افغانستان له پاره يوه بده راتلونکې په نظر کې نيولې وه. هغه وروسته په وياړ سره ويل چې ده د افغانستان پوځ منحل کړ.

د دغې پرېکړې له مخې حضرت صبغت الله مجددي د دوو مياشتو له پاره د افغانستان جمهور رييس په توګه وټاکل شو او بيا به دوه مياشتې وروسته د ده پر ځای برهان الدين رباني د څلورو مياشتو له پاره د جمهور رييس په توګه د واک واګې په لاس کې نيسي. د دوو مياشتو وروسته د حضرت صبغت الله مجددي د واک دوره پای ته ورسېده او برهان الدين د واک واګې په لاس کې ونيوې.

برهان الدين رباني د څلورو مياشتو وروسته د پېښور د پرېکړ پرخلاف خپل واک

(c) ketabton.com: The Digital Library



وغزاوه او د واک پر سر خپل منځي جګړې ته يې لمن ووهله. رباني په ۱۹۹۲ کال کې د افغانستان د ولسمشر په توګه خپل لومړنی سفر مسکو ته وکړ چې د خپل دولت د اقتصادي او پوځي ملاتړ له پاره د روسانو سره د افغانستان د ولس په حق ياني د جګړې د تاوان په تېرېدلو سره معامله وکړي. د مسکوسکي کمسمول د ۱۹۹۴ کال د اپرېل په ۱۳ نېټه خبر ورکړ چې په ۱۹۹۲ کال کې رباني د روسيې د اقتصادي او پوځي مرستې په بدل کې له روسيې سره د جنګي تاوان د نه غوښتنې او نه دعوې تړون لاسليک کړ.۹۲۲

په ۱۹۹۳ کال کې مسعود د ټلويزيون د غره د پاسه په سلګونو توغوندي د کابل په بې وزلو خلکو وتوغول چې د هغو په پايله کې په لسګونو زره هېوادوال ټپيان يا ووژل شول. مسعود او حکمتيار دواړو د کابل په واټونو کې د لاس په ګرېوان جګړه کې يو پر بل توغوندي ووارول، ښار يې د توکميزو بيلتونپالو او ګونديمارو ډلو په خونړيو مورچلونو ووېشه. د کابل خلک د جګړه مارو ډلو تر منځ د جګړو د اور په لمبو کې ايسار شول. سياف او هزاره ګانو يو پر بل په پوره بې رحمۍ سره بريدونه وکړل. د وحدت ګوند هزاره ګانو ته به چې هر څوک په ګوتو ورغلل په تنديو يې مېخونه ورته ټک وهل، د ښځو د بدن غړي يې ورپرې کړل او د مړو د نڅا ننداره يې جوړې کړې. د دوستم ازبکو ملېشو سيستماتيکې وژنې او جنسي تيري ترسره کړل. لوټماري د دوی د ورځې دنده ګرځېدلې وه.

د رباني- مسعود د واکمنۍ پر مهال د ښځو ځورونه هغې کچې ته ورسېدله چې د جګړ[ې] د مهال په هېڅ يو[ې] شېبې کې يې ساری نه درلود.۹۲۳

کابل بل هېڅ وخت دومره وران شوی نه و لکه چې په دغې ځلورنيم کلنې دورې کې وران شو، چې په حقه سره «شر او فساد» [دوره] ياده شوې ده.۹۲۴ «دغو افراطي تنظيمونو ، ملي اسلامي جنبش او نظارت شورا جنګ مشرانو د قدرت ګټلو او قدرت ساتلو په لوبه کې د خپل وطن په ښار کې له خپلو مسلمانو او افغانانو سره دغسې څه وکړل، چې ځناور يې په ځنګلونو کې له يوه او بل سره نه کوي.»۹۲۵ د احمدشاه مسعود ونډه د کابل په ورانې کې تر هر بل جنګ مشر نه زياته وه. دوی په دې نه پوهېدل چې ژوند روزل او ودانول هم دي.۹۲۶

په تنظيمي دوره کې هېواد په واقعيت کې په سيمو وېشل شوی و، که څه هم برهان الدين رباني، د ټول افغانستان تش په نامه سروال و. کاکړ وايي چې د هرې سيمې د ننه «د اسلامي تنظيمونو او قومي مليشاوو او د ملي اسلامي جنبش او د نظار شورا قوماندانانو او داسې هم ازادو قوماندانانو د خپلو ټوپکچيانو له لارې د خپلې خوښې حکومت چلوه. دوی ټول تر دې حده په خپل سر و، چې د اسلامي شرعيت، قانونونو او ټولنيزو مقاولو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د رسم رواج پروا نه کوله، خو دا چې د هغو په نومونو د خپلې خوښې حکومت وکړي، شته ټول کړي او خپل جنسي هوسونه یخ کړي. په دغه وخت کې د دوی پر افغاني، اسلامي او انساني میل باندې حیواني میل غلبه کړې وه او د انسان په بڼه لېوان ډېر شوي وو. په ټول ملک کې سر، مال او ناموس خوندي نه و، وطن هم د شړېدو لور ته ورکش شوی و او د ملي حکومت د جوړولو د پاره ټول» کوښښونه ناکام شوي وو. په پایله کې په میلیونونو بې دفاع او مظلومو افغانانو باندې د ناهیلی، خواشینۍ او بدبینۍ څپې خپرې وې.

د بروس ریچارډسن په وینا دا دوره د افغانستان د تاریخ تر ټولو توره بلل کېدای شي؛ په دغې دورې کې د ښځو د بدن غړي د ودانیو د دروازو په سر د جګړې د یادګار په توګه په مېخونو ځړول کېدل؛ شمالي ټلوالې د ځان د خوشاله ساتلو له پاره د مړیو د نڅاوو ننداري جوړولې او د مړیو د نڅا په سیالۍ کې د بې ګناه انسانانو په ککرو په ستګونو مېخونه ټکول او ژېتوکمیز او سکتاریستي وحشت د پښتو یا سني په ګناه وژل کېدل.۹۲۷ په ۱۹۹۷ کال کې د شمالي ټلوالې د عبدالمالک د امر پر بنسټ، محقق په لیلي دښته کې ۶۰۰۰ [پښتانه] بندیان په بېرحمۍ سره قصابي کړل.

کاکړ وایي چې رښتیا دا دي چې جنګونه ښځو ته په هر هېواد کې سخت زیان رسوي چې د اسلامي تنظیمونو یا «د شر او فساد» څلورنیم کلنه دوره یې یوه څرګنده نمونه وه. «په دغې دورې کې په زرګونه ښځې [ان د نکاحي ښځو په ګډون] د هغو ټوپکچیانو له خوا چې افراطي اسلامي تنظیمونو، ملي اسلامي جنبش او نظار شورا ته منسوب وو بې عفته شوې، تښتول شوې، په زور واده شوې او وژل شوې دي»۹۲۸

ملایان فکر کوي چې ښځې فساد کوي او د شرع په نامه باید په کورونو کې ایسارې کړي. خو رښتیا دا دي چې «د دغسې «فساد» اصلي عاملان نارینه ګان دي او دغه حقیقت نږدې هر رسېدلي نارینه ته معلوم دی.»۹۲۹

په افغانستان کې سرزورو اسلامي تنظیمونو نه یوازې حکومت خپل ځان ته منحصر کړ بلکې د واک پر سر یې په خپلو منځو کې د جګړې او افغان وژنې یو بل دور پیل کړ چې په هغه سره یې د وطنوالو سر، مال، ناموس او د وطن بشپړتیا په خطر کې واچول. افغانانو هغه نوم، حیثیت او لوړ ځای چې د ملي غزا له برکته ګټلی وو، دغو سرزورو اسلامي تنظیمونو هغه پرمځکه وواهه.

اسلامي تنظیمونو مشرانو او قوماندانانو په تېره بیا احمدشاه مسعود او د هغه شورای نظار، چې د مرکزي ځواک واګې په لاس کې وې، د کابل ښار د خلکو د سر، مال او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناموس پروا ونه کړه. د دوی نه یې په لسګونو زره ووژل، ویې کړول او د دوی کورونه، هټۍ او شتمني یې لوټ کړل، ښایسته نجونې او ښځې یې عزته شوې او ډېرې یې په زور خپلې کړې او د کابل ښار یې په کنډواله بدل کړ. په دغه شر او فساد کې ټولو اسلامي تنظیمونو او ډلو او د دوستم ډلې ونډه درلوده. دا حالت د ځیرکیار په وینا د انګرېز سیاسي متفکر تامیس هابس د «لیویتان» (نهنګ) کتاب ور په زړه کوي چې په ۱۶۵۱ کال کې یې لیکلی چې د انګلستان د کورنی جګړې په مهال یې د انسانانو تریخ ژوند انځور کړی دی. په دغه کتاب کې دغه داخلي جنګ ته طبیعي حالت ویل شوی دی چې په روانه ژبه ګڼوډي ورته هم ویلی شو. په دغه ګډوډي کې چې واکمن نه وي رامنځ ته شوی «ژوند سخت، وحشي او لنډ» وي او «ټول د ټولو پر ضد جنګیږي». ځیرکیار سم وایي چې دا ګډوډي «د ټولو جنګ د ټولو پر ضد» د یوه کلک مرکزي حکومت له لارې له منځه تلی شي.۹۳۰

د افغان- شوروي جګړې پایله دا شوه چې د برلېن دېوال ړنګ، د شوروي امپراتوري ړنګه او ساړه جګړه پای ته ورسېده. د شوروي پوځ په وتلو او د کابل رژیم په نسکورېدو سره جګړه باید پای ته رسېدلې وای، خو داسې ونه شول. تنظیمي لوبانو د پاکستان د صدراعظم نواز شریف د پلان له مخې د تنظیمي انحصاري حکومت فرمول ومانه.

اسلامي تنظیمونو د دې پرځای چې د وران شوي ملک د بیا ودانولو او د ملي سیاست په کولو بوخت شي، د واک پر سر پخپلمنځي جګړو بوخت شول. د کابل ښار چې د نیواک په دوران کې لوی شوی او په امن کې و، په کنډواله بدل شو. په ټول ملک کې د سر، مال او ناموس خوندیتوب له منځه لاړ. په دغې دورې کې ابادي هېڅ ونه شوه. پاکستان، ایران او تر څه اندازې ازبکستان په دغه ناارام حالت کې خپلې ځانګړې ډلې پیاوړې کولې او په دې ډول یې په افغانستان کې یو ډول نیابتي جګړه کوله.

په افغانستان کې سرزورو اسلامي تنظیمونو نه یوازې حکومت خپل ځان ته منحصر کړ بلکې د واک پر سر یې په خپلو منځو کې د جګړې او افغان وژنې یو بل دور پیل کړ چې په هغه سره یې د وطنوالو سر، مال، ناموس او د وطن بشپړتیا په خطر کې واچول. کابل بل هېڅ وخت دومره وران شوی نه و لکه چې په دغه څلور نیم کلنې دورې کې وران شو، چې په حقه سره «شر او فساد» نومولې شوې ده.۹۳۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځویشتم څپرکی

# کاکړ او اسلامي بنسټ پالنه

### اسلامي سلفي غورځنګ

د شوروي د یرغل نه وروسته کله چې نړیوال د افغانانو په مقاومت باوري شول امریکې د پاکستان د ای اس ای له لارې افغان مجاهدینو ته وسلې او پیسې رسولې. عربستان د امریکې په اندازه پیسې ورکولې. د ډېرو اسلامي او په تېره بیا د عربي هېوادونو نه رضاکاران هم پېښور ته تلل په دې نیت چې د ننه په افغانستان کې د مجاهدانو تر څنګ جهاد وکړي یا د خپلو کمیټو له لارې ډول ډول غیر نظامي خدمتونه وکړي. دغه رضاکاران، چې په خپلو هېوادو کې اسلامي بنسټپالو سخت دریځو ته منسوب وو، د افغان جهاد په پای ته رسېدو سره د نویو تجروبو او فکرونو خاوندان شول. عبدالله عزام، بن لادن، ایمن الظواهري او نور د القاعدې په تنظیم کې راغونډ شول، چې د خپلو واکمنو او د باندینیو د تسلط په وړاندې جهاد وکړي. دغو رضاکارو د بن لادن په مشرۍ د امارت په دوره کې د افغانستان په کورني او باندیني سیاست ژور اغېز وکړ.

له سلفي غورځنګ نه «مراد لومړنیو اسلامي اصولو ته رجوع ده.»۹۳۲ نن ورځ هغوی چې د سلفیانو په نامه ډېر یادیږي، هغه وهابیان دي. خو سلفي خوځښت دومره پراخ دی چې «... بیلې بیلې ایډیالوجیکانې، حرکتونه، د منځنیو پېړیو او د اوس مهال تشدد پال او نه تشدد پال په غېږ کې نیسي.»۹۳۳ نو ښه به دا وي چې کله یو چا ته سلفي ویل کیږي باید هغه خوځښت او بنسټ ایښودونکی یې هم څرګند وي. دا اوس په اسلامي نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تېره په عربي نړۍ کې یو پیاوړی غورځنګ دی چې اسلام ته د ننني خو زیاتره د باندینیو خطرونو نه اغېزمن شوی دی.

لومړی خطر هغه وخت رامنځ ته شو چې د چنګېز خان لمسي هلاکو په ۱۲۵۸ زیږدیز کال کې بغداد ونیو او د عباسیانو امپراتوري یې لاندې کړه. مغلو بیا د مشر په غوره کولو کې د مغولي قانون یاسا څخه کار واخېست او لوړ واکمن یې خلیفه نه، بلکې خان باله. برسېره پردې دغه خان باید یوازې د چنګېز خان له نسب نه وي. دغه چلند دیني عالمان په تېره تقی الدین احمد بن تیمیه سخت وپارول. ابن تیمیه د یوه ساتنپال عالم په توګه دغسې ژور او بنستیز نظرونه وړاندې کړل چې هغه تر اوسه انګازې کوي.

## ابن تیمیه (۱۲۶۸-۱۳۲۸)

ابن تمیمیه د بغداد له نسکورېدو نه وروسته اړ شو چې له خپلې کورنۍ سره سورېې ته کډه وکړي. کاکړ وایي چې دا ستر ساتنپال عالم په سیاسي ډګر کې د عمل خاوند و. دی د امام احمد ابن حنبل په مذهب ټینګ ولاړ و، چې د سني اسلام د څلورو مذهبونو نه یو دی. هغه نور یې حنفي، مالکي او شافعي دي. خو دغه مذهبونه په اصولو کې سره هېڅ اختلاف نه لري خو په نظري موضوع ګانو کې هر یو یې په بیلې لارې روان دی. شافعي د قانون ایستلو تخنیک په اجماع کې ګڼي، چې محمدي حدیث یې باید تایید کړي. حنبلي مذهب اجماع ردوي او قیاس ته هم ډېر لږ هغه هم د سختې اړتیا له امله مخ اړوي. حنفي مذهب د فردي نظر زغمونکی دی. خو شافعي مذهب فردي نظر د قران مجید، حدیث، اجماع او قیاس تابع ګڼي. په دې توګه حنبلي مذهب تر نورو ډېر سخت دریځه دی.

ابن تیمیه له نظرونو او کړنو څخه یو نوی ترکیب جوړ کړ او دین، دولت او ټولنه یې نور سره ونښلول. د ده نظرونو د اتلسمې او شلمې پېړۍ د نوي توب په غورځنګ باندې ژور اغېز وکړ. ده مدینه د اسلامي دولت له پاره سرمشق وګڼله. د ده په عقیده د حضرت محمد راشده خلیفه ګانو د دورې لومړنی سوچه توب ته مخ اړول د اسلامي ټولنې د تېر قدرت او سترتوب د بېرته خپلولو دپاره اړین و. دی د اسلام او غیر اسلام یاني د عقیدې او بې عقیدې ملکونو تر منځ په څرګند توپیر قایل دی. دی دولت او دین ډېر نږدې بولي خو دین او کلتور سره پوره بیل ګڼي. دی که څه هم یو پرهېزګاره صوفي و، د خپل وخت عام دودونه لکه د والیانو لمانځل، د زیارتونو او قبرونو لمانځل یې د خرافاتو په توګه وغندل. ده مغولان له دې امله په یوه فتوا کې کافران وبلل چې د شرعیت پر ځای د یاسا څخه یې کار اخېسته. د مغولو پر ضد د ده دغه فتوا سرمشق وګرزېده. په دې ډول د ابن تیمیه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر دا د مسلمانانو حق او دنده ده چې پر ضد یې جګړه او غزا وکړي.

د منځنیو پېړیو د عالم ابن تیمیه نظریې د اتلسمې پېړۍ د عربستان وهابي غورځنګ، د شلمې پېړۍ ډینامیک ایډیالوګ سید قطب، د اسلامي جهاد محمد فرک او اوسني سخت دریځي لکه اسمه بن لادن وخوځول او د هغه نظرونه یې خپل کړل. توپیر یوازې په دې کې دی چې ابن تیمیه د مغولو په وړاندې خپل عقلاني غورځنګ پیل کړ خو محمد عبدالوهاب د خپلې ټولنې معنوي او اخلاقي کمزوریو په وړاندې غبرګون وښود.

## محمد بن عبدالوهاب (۱۷۰۳-۱۷۹۱)

محمد ابن عبدالوهاب د ابن تیمیه فکري لار ونیوله. دی د خپلې ټولنې د معنوي لوېدنې او اخلاقي سستیا نه په ژور ډول اغېزمن شوی و. ده هم عامه عقیدې او دودونه د بت لمانځنې او د جهالت د دورې نښې وبللې او وغندلې. نوموړي د منځنیو پېړیو د عالمانو ډېر قانونونه بدعت وګڼل او رد یې کړل. ده د وحی شویو او سپېڅلو سرچینو پر بنسټ د اسلام د سره تعبیر کولو غږ پورته کړ او د توحید نظر یې د خپلو تعلیماتو او غورځنګ زړی وګرزاوه. دی د امام حنبل غوندې قران مجید او حدیثونه هغه یوازینۍ سرچینې ګڼي، چې د هسک څښتن حکمونه پرې درک کېدای شي. وهابیان شیعه توب بدعت ګڼي ځکه چې دغه غورځنګ د حضرت محمد د مړینې وروسته د اسلامي واکمنۍ په سر د حضرت علي په پلوی هسک شو. د شیعه کلیمه د حضرت علي د پلوي په مانا ده.

وهابیت د هغه مهال نه چې د نجد امیر محمد ابن سعود ومانه د عربستان په ډېرو برخو کې خپور شو. په ۱۸۰۳ کال کې یې د مدینې او مکې ښارونه د هغو واکمنو نه تر لاسه کړل، چې د عثماني ترکې له خوا اداره کېدل. عثماني ترکیه چې د دیارلسمې پېړۍ په پای کې د عثمان په نامه یوه ترک په وړې اسیا (اوسنۍ ترکیې) کې پیل کړې وه په اتلسمې پېړۍ کې یاني د عبدالوهاب په وخت کې دومره پراخه وه چې نني عربي ملکونه، د شمالي افریقې ملکونه، د بالقان ملکونه او مجارستان یې تر اغېز لاندې وو. ان د سوریې او د عراق ولایتونه یې وترټل. خو بیا د مصر واکمن محمد علي پاشا د عثماني خلیفه په دستور هلته ترکي او مصري پوځونه واستول او د وهابي امپراتورۍ ځواک یې مات کړ او وهابیت بېرته په نجد کې ایسار شو. وهابیت د نولسمې پېړۍ په نیمایي او شلمې پېړۍ کې بېرته هسک شو او دا ځل په ټول سعودي عربستان کې خپور شو. د شلمې پېړۍ په دوهمه نیمايي کې وهابیت د عبدالعزیز بن باز په کوښښونو د عربستان برسېره په نورو اسلامي هېوادو کې هم نفوذ وکړ. نوموړي د عربستان د واکمنې کورنۍ سره جوړه وکړه چې هغه به

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سياسي ډګر کې د هغې ملا تړي او دی به د پوهنې او تبليغ په برخه کې ازاد پرېښودل کيږي. بيا نو ده د نورو وهابي عالمانو په ملګرتيا د اسلام د ساتلو په موخه يو لړ منهيات وايستل او د هغه د پلي کولو له پاره يې مذهبي پوليسان وګمارل. د افغانستان اسلامي امارت هم د دوی په تقليد د امر بالمعروف او نهی عن المنکر پوليسان وګمارل.

وهابيت اوس نړيواله بڼه غوره کړې او د پټرو ډالرو په زور چې د عربستان واکمنه کورنۍ او د عربستان او خليج نور شتمن وهابيان يې پرېمانه لري، په مسلمانه نړۍ کې په يوه ځواک بدل شوی دی.

## په نولسمه پېړۍ کې مسلمانه نړۍ

اروپا په اصل کې په رنسانس او د سمندري لارو په موندلو سره په چټکۍ سره په مخ روانه وه. اروپا په کرنې، صنعت، سوداګرۍ، تخنيک او ساينس کې په بېړه پرمختګ کاوه. د لوېديځې اروپا کرنه د نويې پوهنې او تخنيک په پلي کولو سره تر پخوا ډېر حاصل کاوه. سوداګري نويو لارو ته بدله شوې وه. اروپايانو په تېره د پرتګال، هسپانيې، هالنډ، انګرېزانو او فرانسې سوداګرو د سمندر له لارې سوداګري پراخه کړې او ښه شتمن شوي وو. دا ټول پرمختګونه د سياسي پرمختګونو په ګډون چې د مخه پيل شوي وو، په نولسمه پېړۍ کې د صنعتي انقلاب په برکت نور هم پراخ شول.

خو د ختيځ هېوادونه په تېره مسلمانه نړۍ په پخوانيو لارو ورو ورو روان وو. د لوېديځې اروپا له سمندري ملکونو نه مسلمان هېوادونه نه يوازې په سياسي ډګر کې بلکې په کرنې، صنعت، سوداګرۍ، تخنيک او ساينس کې هم وروسته پاتې وو. په دغه وخت کې اروپايي نيواک او امپرياليزم په اسلامي هېوادونو باندې خپل وزرونه غوړولي و. ان عثماني امپراتوري مخ په ځوړ روانه وه. د بالقانو سيمې يې وار په وار د استريا- هنګري او روسې په وړاندې له لاسه ورکولې، مصر انګرېزانو ورځخه نيولی و او د هندوستان مغولي امپراتوري د انګلستان تر واک لاندې وه. په داسې حال کې چې د پارس صفوي امپراتوري لا په اتلسمه پېړۍ کې له منځه تللې وه. نو ځکه د نولسمې پېړۍ په دوهمه نيمايي کې له مسلمانې نړۍ څخه عقلاني اوازونه پورته او پاڅونونه وشول. دا هغه غبرګونونه وو چې د ننني او بهرنيو د نفوذ په وړاندې وښودل شول. په پايله کې په مسلمانو هېوادونو کې عقلاني سوچوالان او مصلحان هسک شول چې د اسلام د بېرته توب لاملونه وڅېړي او د دې حالت نه د خلاصون خوځښتونه په مخ بوځي. د دغه خوځښت سوچوالان سيد جمال الدين، محمد عبده او رشيد روا دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلیل زاد وایي چې اسلامي نړۍ د تمدن د کړکېچ په لومه کې ښکېله شوې ده. دغه وخت مسلمانان پر دې نه پوهېدل چې په پنځلسمه پېړۍ کې یې څنګه د تمدن پرتم او ځلا له لاسه ورکړه. هغه وخت اسلامي امپراتورۍ له هسپانیې نه تر هند پورې واکمني کوله او د پوهنې، پرمختګ، ساینس او فلسفې په برخه کې تر نورو وړاندې وه. د اسلامي تمدن مرکز د عثماني خلافت ډېر مخکې د عربي مشرتابه تر واکمنۍ لاندې رامنځ ته شوی و. هغه مهال هسپانیه پرمختللې ګڼ ملتي ټولنه وه چې پوهانو به یې یوناني اثار عربي ته ژباړل. هغه مهال اسلامي تمدن زده کړې او پوهنې ته پراختیا ورکوله.

وروسته اسلامي تمدن د تلپاتې ځوړتیا پړاو ته ننوت. لوېدیځ چې د بشري لوړتوب په یون کې د رنسانس او عقلانیت پر متو پیاوړی شو، نو اسلامي نړۍ یې په پرمختګ کې شا ته پرېښوده او د تل له پاره د مخکښ رول ځښتن شو. اسلامي سوچوالان او مشران د دې حالت نه د وتلو په اړه په څو برخو ووېشل شول.

۱- د موډرنیزم ملاتړو ویل چې اسلامي نړۍ باید هغه څه کاپي کړي چې له لوېدیځ سره په پرمختګ کې مرسته کوي. بېلګه یې ترکیه ده چې د سیکولریزم تګلاره یې خپله کړه. د دې تر څنګ د مصر، عراق او سوریې مشران د پرمختګ او پرتم په تر لاسه کولو کې پاتې راغلل. دغو ناکامیو خلک اړویستل چې د نورو ځوابونو په لټه کې شي.

۲- بنسټپالو انګېرله چې د اسلام نه لیرې والی د تمدن د زوال لامل دی او پرمختګ یوازې اسلام ته پر مخ ګرځونې کې دی.

۳- دودپالونکي بیا په دې اند وو، چې د ژغورنې یوازینۍ لار د اسلام او موډرنیزم ګډول دي. دوی ویل، چې اسلام د هر انسان شخصي ګروهې ته مهم دی، خو ټولنه باید د اوسنۍ نړۍ له غوښتنو سره سمه پر موډرنیزم سنباله شي. ۹۳۴

## سید جمال الدین افغان

سید جماالدین د نولسمې پېړۍ په دوهمې نیمایي کې په یو شمېر هېوادو لکه ایران، افغانستان، هند، مصر، ترکیې، انګلستان او فرانسې کې وګرځېد. نوموړی د خپلو سفرونو په یون کې د اسلامي هېوادو بېرته پاتې توب او په هغو کې د اروپایانو نفوذ ته او هم د اروپایي هېوادو پرمختګ ته ځیر شو او د خپلو کتنو او لیدنو نه یې ژورې اخېستنې وکړې. دی د اروپایي انسان پالنې (Humanism) او زیاترو ته د ګټې رسولو (Utalitarism) له فلسفو نه په ژور ډول اغېزمن شوی و. دغه فلسفې په دې فکر باندې ولاړې دي چې انسان دا ځواک لري چې د خپل ژوند چاپېر واړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سيد جمالالدين او اسلامي سمون غوښتونکو داسې عقلاني او د کړو غورځنګ پيل کړ چې موخه يې د اسلام د مخ په ځوړيتوب چاره، د هغه خطر سره مبارزه چې اروپايي امپرياليزم مسلمانو هېوادو ته پېښ کړی او د اروپايي مدنيت نه د اسلام د بيا په غورځنګ راوستلو دپاره ګټه پورته کول و. دی په اصل کې په اسلامي نړۍ کې د ننني سمونونو اړتيا ته ځير شو.

سيد جمال الدين افغان په دې نظر و چې د اسلامي ټولنې د ننني پېوستون منطق د داسې مدنيت په مفهوم کې پروت دی چې په برابری او عدالت باندې ولاړ وي. ده د اروپايي قوتونو اصلي ستنه همدغه عدالت ګاڼه او هغه يې د دوی د پېوستون لامل ګاڼه چې اروپايي هېوادونه يې په سياسي لحاظ پياوړي کړي دي. سيد جمال الدين د عقل او دماغ نه ګټه اخېستل د اسلام مرکزي ټکی وګاڼه. دی وايي چې «هغه لومړنۍ ستنه چې پر هغې د اسلام دين بنا دی دا ده چې د ربانيت د وحدت عقيده بايد د انسان دماغ روڼ کړي او دوهم له ناتوانی نه يې پاک کړي.»۹۳۵ له دې امله ده د فرد په عقلي استدلال يا اجتهاد باندې ټينګار وکړ. نو دی د دوديزو عالمانو په وړاندې ودرېد، چې ويل يې په اسلام کې اجتهاد ته اړتيا نه شته. د ده د اجتهاد دغه غورځنګ انقلابي و. برسېره پردې ده د قران مجيد د ديارلسمې سورې د يولسم ايت له مخې: «په تحقيق سره خدای تعالی د يوه قوم حال نه بدلوي، خو په هغه حال کې چې هغوی خپلو نفسونو ته بدلون ورکړي» يو بل ګام واخېست هغه دا چې دا په خپله د خلکو اراده ده چې په هغې سره خپل حال بدلولی شي او اراده خو د کړو دپاره لومړنی ګام دی. په دې توګه دغه نوښتګر سوچوالان په دې لټه کې شول چې اسلام ته د اروپايي مدنيت سره سمون ورکړي او د مدنيت په توګه يې بيا په غورځنګ کړي. خو دی «د پرنسيپ له مخې مشروطه غوښتونکی نه و. د هغه د حکومت ايډيال د اسلامي تيوري پوهان وو، چې د هغه له مخې يو عادل واکمن به د اساسي قانون واکمني مني... هر ځل دی ناهيلی کېده. داسې پېښېده چې واکمن په اصل کې عادل نه خته او نه يې هم له خپل ځان څخه پورته د قانون مراعات کاوه.»۹۳۶

سيد جمال الدين د کړو لار غوره کړه او په هر اسلامي هېواد کې به يې ځوانان د سياسي او مذهبي سمونونو له پاره هڅول. خو د ده کړو د واکمنو د چلند سره ټکر کاوه. ده په هغو واکمنو نيوکې کولې چې اروپايي پوځونه يې پرې ايښي و چې ملکونه يې لاندې کړي او باندينيو کمپنيو ته يې امتيازونه ورکړي وو، چې په اقتصاد يې ولکه وکړي. دی د په خپل سرو واکمنو مخالف و او د هغو د نسکورولو او پر ځای يې د پرهېزګارو او اصولي کسانو د کښېنولو غږ پورته کړ. د مصر واکمن خديو توفيق دی په ۱۸۷۹ کال کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هندوستان ته وشاړه، لکه چې په ۱۸۶۸ کال کې امیر شیرعلي خان د کندهار او کوېټې له لارې هند ته شړلی و. امیر شیرعلي خان سید ځکه هند ته شړلی و چې «هغه غوښتل امیر د انګرېز ضد سیاست غوره کړي. دا هغه وخت و چې د روسانو امپراتوري د افغانستان پولو ته رسېدلې وه او امیر غوښتل، چې د روس له خطر نه د افغانستان د ژغورلو دپاره د انګرېزانو روغ نیتي تر لاسه کړي.»۹۳۷

سید جمال الدین په ۱۸۸۲ کال کې په کلکتې کې یوې غونډې ته وویل: «اروپایانو اوس خپل لاسونه د نړۍ هر ګوټ ته غزولي دي. انګرېزان افغانستان ته رسېدلي دي، فرانسویانو تونس نیولی، په واقع کې د یرغل، شکاوونې او لاندې کولو دغه عملونه له انګرېزانو یا فرانسویانو څخه نه دي ولاړ شوي. دا ساینس دی، چې خپل زور او سترتوب هر چېرې ښيي. ناپوهي بله چاره نه لري، خو دا چې په عاجزي سره غاړه کښېږدي او په خپلې تسلیمۍ باندې اعتراف وکړي.»۹۳۸

سید جمال الدین افغان په ۱۸۹۸ کال کې په ترکیه کې مړ شو او مړی یې څو لسیزې وروسته کابل ته راوړل شو او د کابل پوهنتون په ساحه کې خاورو ته وسپارل شو چې هلته یو لوړ منار یې د ګور غېته نښه ده. د ده فکرونه د اسلامي عصریت زړی جوړوي او تر اوسه د مسلمانو لیکوالو له پاره د الهام شتمنه سرچینه جوړوي. د ده د پیراوانو نومیالی د مصر محمد عبده دی.

## محمد عبده (۱۸۴۹-۱۹۰۵)

محمد عبده د سید جمال الدین افغان ډېر وتلی شاګرد او فکري ملګری و. ده د مصر الاظهر په پوهنتون کې زده کړه کړې او هلته یې درس ورکاوه. د عربي پاشا په پاڅون کې د برخې اخېستلو له امله بندي شوی و. د بندیتوب نه وروسته په بیروت، انګلستان او فرانسې کې وګرزېد او بیا مصر ته ستون شو. هلته لومړی قاضي او بیا مفتي شو. ده د سید جمال الدین غونډې د اجتهاد او بدلون لار غوره کړه. د هغه په اند اجتهاد چې د تجربې، پوهې او پوهنې پر بنسټ ولاړ وي د قران مجید د رمزونو د پوهېدلو د پاره اساسي وسیله کېدلی شي. د ده په اند مسلمانان له عقل نه په ګټې اخېستنې سره له لاسه تللی اسلامي مدنیت بېرته ژوندی کولی شي. دی فکر کوي چې د اسلام مخ په ځوړتوب د عقل په پرېښودو سره وهځېد، اسلام ځای پر ځای ودرېد او د اروپایي فکر ډینامیزم مخ په وړاندې لاړ. دی دې پایلې ته ورسېد چې اوس نو اجتهاد اړین دی، چې د عقل او نص پر بنسټ سمونونه وشي او اسلامي مدنیت بېرته په غورځنګ شي. دی ړوند تقلید محکوموي او د اسلام د له سره د تعبیر کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اړتیا پوه شو تر څو د عصري ژوند غوښتنو ته ځواب وومومي. ځواب یې دا دی چې ټول هغه قوانین چې خدای تعالی ته د عبادت دپاره او عقیدې په برخه کې دي، ثابت او نه اوړېدونکي دي په داسې حال کې چې اسلامي اجتماعي قانونونه په اساسي ډول بدلون منونکي دي. عبده ویل چې مثبت بدلون یوازې د عیسوي لوېدیځ ځانګړتیا نه ده، بلکې په اسلام کې هم د منلو او ان د هڅونې وړ ده.

محمد عبده د مصر د ستر مفتي په توګه یو لړ سمونونه پلي کړل، چې په هغو کې د اروپايي جامو د اغوستلو د جواز، بانکي ګټو، د واده او طلاق په اړه مقررې وې. کاکړ وايي چې عبده «شاید لومړی سمونپال وي، چې د کورنۍ په غړو باندې یې د څلورو ښځو کولو ناوړه اغېز ته ګوته ونیوله او د عصري تفسیر په رڼا کې یې یوازې د یوې ښځې کول اسلامي اعلام کړل. هغه د النسا د سورې د ۲۹ام ایت» له مخې وايي چې مېړه هېڅکله د ښځو تر منځ عادل کېدلی نه شي.۹۳۹ له دې کبله ده دغه نظر وړاندې کړ چې اسلام په واقع کې څلور نه، بلکې یوه نکاحي ښځه روا کړې ده. قران مجید په یوه وخت کې تر څلورو ښځو پورې د ښځو په نکاح کول جایز ګڼلي خو هغه په هغه حال کې، چې مېړه د خپلو ښځو سره د برابرۍ، عدالت او بې طرفۍ سلوک وکړي حال دا چې د هغه دپاره په واقع او عمل کې شونې نه ده چې د څلورو ښځو تر منځ عدالت وکولی شي. محمد عبده په دې نظر دی چې د النسا د سورې د ۲۹ام ایت د دغه درانده شرط د ایښودلو مانا دا ده، چې اسلام په یوه وخت کې د یوې ښځې نکاح کول روا بللې دي. اوس په تونس کې د عبده د نظر له مخې یو نارینه په یوه وخت کې یوازې یوه ښځه د قانون له مخې نکاح کولی شي او په عراق کې نارینه مکلف دی د دوهمې ښځې د کولو دپاره په محکمه کې د هغې د نفقې د تامینولو توان ثابت کړي.۹۴۰ محمد عبده وايي چې «فکر د تقلید د زنځیرونو څخه ازاد کړي»۹۴۱ دی وايي چې «دین ته باید د ساینس د ملګري په توګه وکتل شي چې انسان د شته توب د اسرارو لټولو په لور» بوزي.۹۴۲ د عبده دغه ډول نظرونو د ډېرو عربي تعلیم کړو مسلمانانو او هم د عرب له نړۍ نه د باندې مسلمانانو ذهنونه په ژور ډول ځان ته جلب کړي دي.۹۴۳

## د شلمې پېړۍ نیمايي او اسلامي نړۍ

د شلمې پېړۍ په لومړۍ نیمايي او څه وړاندې په اسلامي نړۍ او په تېره په سوویلي او لوېدیځه اسیا کې یو لړ مهمې پېښې وشوې. لومړۍ پېښه دا وه چې عثماني امپراتوري د لومړۍ نړیوالې جګړې په پایله کې ټوټه ټوټه شوه او پر ځای یې یو شمېر هېوادونه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلامي اصولو له مخې نه، بلکې د ملي اصولو له مخې جوړ شول. د نوې ترکیې بنسټ ایښودونکي اتاترک د خلافت موسسه ړنګه او برسېره پر هغې یې د ترکیې نوی دولت په اسلامي کرښو باندې نه، بلکې د لوېدیځ په عصري او دنیایي کرښو یا سیکولریزم باندې روان کړ. بله دا چې په ډېرو نویو اسلامي هېوادونو په تېره بیا په مصر کې سیکولر حکومتونه په واک شول یا د فرانسې او انګرېزانو له خوا په واک راوستل شول. دغو نویو حکومتونو هم د لوېدیځ د لبرالیزم او ډموکراسی لار ونیوله. خو د دوی لبرالیزم او پارلماني ډموکراسي د منځنیو طبقو د هسکېدو یا د صنفي انحادیو او د عامه خلکو د فشار پایله نه وه. په دغه سیستم کې واک یوازې سیاسي لویانو او امرانو ته په لاس ورغی او هغو ځانونه له قانون نه لوړ ګڼل.۹۴۴ بله ټاکونکې پېښه لومړی د انګلستان او فرانسې او وروسته د امریکې په مرسته د نړیوالې زایونستي موسسې د کړنلارې له مخې په فلسطین کې د اروپایي او اسیایي یهودانو میشته کول و، چې په پای کې په ۱۹۴۸ کال کې د اسرائیلو دولت ترېنه جوړ شو، چې هغه تر اوسه پورې د نړیوال کړکېچ یوه سرچینه ده.

د دغو پېښو په غبرګون کې د اسلامي نړۍ ټینګ عصري تعلیم کړي سوچوالان وپارېدل او هغه یې اسلامي مدنیت ته خطر وګاڼه. د دغو تعلیم کړو څخه په مصر کې حسن البنا او سید قطب او په هند او پاکستان کې ابوالحسن ندوي او ابو العلی مودودي مخکښان وختل. دوی د دغه خطر په نظر کې نیولو سره د اسلامي مدنیت د بېرته نوي کېدو دپاره د نویو فکرونو په وړاندې کولو او د تنظیمونو په جوړولو سره یو نوی اسلامي غورځنګ پیل کړ.

## حسن البنا (۱۹۰۶-۱۹۴۹)

حسن البنا د ښوونځي ښوونکي په ۱۹۲۸ کال کې د اسماعیلې په ښار کې د اخوان المسلمین د تنظیم بنسټ کېښود. د دغه تنظیم کړنلاره د دودونو او نوي توب یوه ګډوله وه. دا کړنلاره د یوې خوا ځکه دودیزه وه چې د البنا په اند د مصر سیاسي او ټولنیز سمون په ملي ژوند کې د لارښود ځواک په توګه د اسلام په له سره خوځښت راوستلو پورې تړلی دی. د دې موخې دپاره یې د شریعت د بیا جاري کولو غږ پورته کړ. د هغه په اند د مصر ستونزې له دې نه راولاړې شوې چې قراني اصول په سیکولر حقوقي او سیاسي موسسو اړول شوي دي. دا کړنلاره د بلې خوا نوی والی درلود ځکه چې البنا د عبده غوندې د داسې لارې د موندلې په لټه کې شو چې د هغې له مخې مسلمانان وکولی شي د شلمې پېړۍ د تکنالوجي له پرمختګونو نه ګټه پورته کړي، بې له دې چې اسلامي ارزښتونه تر پښو لاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي. ده دلیل وړاندې کاوه چې شریعت په اساس کې د دې دپاره تنظیم شوی، چې د یوې تاریخي دورې ځانګړې اړتیاوې پوره کړي. په دې ډول د حسن البنا په اند شریعت د خبیرو انسانانو د عقل محصول دی. هغه فکر کاوه د بېرته جاري شوي شریعت په اړه به اجتهاد کیږي او له سره به یې تعبیر کیږي او په دې ډول به د عصري ټولنې له اړتیاوو سره سمون کوي. البنا د دغسې ټولنیزو سمونونو لکه د مځکو وېش، د ټولنیزو ښېګڼو پروګرامونو او د باندینیو پانګو پر ځای د وطني پانګو په کار اچولو دپاره تبلیغ کاوه. ده او پلویانو یې د دې دپاره چې هغه واټن لنډ کړي، چې مصري ټولنه یې په مذهبي او دنیایي برخو وېشلې وه، لومړني ښوونځي پرانېستل چې په هغو کې مذهبي زده کړه د ساینسي او تخنیکي زده کړې سره ګډه کړي. دوی د ټولنې محرومو کسانو ته وړیا طبي کلینیکونه او د کساد په سختو ورځو کې د ښارونو بې وزلو ته د شوروا پخلنځي پرانېستل.

اخوان د خپل جوړېدو په لومړیو لسو کلونو کې په ټول مصر کې پنځه سوه څانګې پرانېستلې او خپل غړ یې د مصر ټولو طبقو ته ورساوه. دوی د پوهنتون په زده کړیالانو، مامورانو، تخنیک پوهانو، کسبګرو او هټۍ والو کې ډېر پلویان وموندل. دوی ته د مصر په پوره خپلواکۍ باندې ټینګار هم ډېره ګټه وکړه چې د ۱۹۳۶ کال تړون یې سخت غنده، چې په هغه سره که څه هم مصر خپلواک شو خو د انګرېزانو یوه پوځ ته یې اجازه ورکوله چې د سوېس په کانال کې ځای پر ځای شي. البنا لوېدیځ ډوله پرمختګونه، د وطنپالنې، نېشنلیزم او د پارلماني ډموکراسۍ فکرونه منلي و، خو هغو ته یې مشروطه او اسلامي بڼه ورکړې وه.۸۳۵ اخوان له طبقاتي مبارزې او صنفي اتحادیو سره ټینګ مخالفت کاوه. اخوان دغسې یو موټی شوی صنفي دولت غوره ګاڼه چې په هغه کې به ټولې طبقې او ټولې بشري ډلې د یوه ځانګړي واک تر ادارې لاندې وي. اخوان د دوهمې نړیوالې جګړې وروسته د مصر په سیاست کې یو غټ ځواک وګرځېد.

حسن البنا د دوهمې نړۍ والې جګړې په پیل سره په وسله وال پوځ کې د نفوذ په موخه کار پیل کړ. برسېره پر دې یې یوه پټه (ځانګړې موسسه) جوړه کړه او غړو ته یې د وسلو کارول ښودل، چې سروال یې عبدالرحمن سیندی و. هغه زیاتره وخت د خپل لارښود د دستورونو پرخلاف کړه تر سره کول او د خپلو سرټېرو له لارې سیاسي وژنې کولې. په ۱۹۴۸ کال کې د دغو سیاسي وژنو په غبرګون کې صدراعظم فهمي النقراشي د اخوان په ځپلو پیل وکړ. هغه هم د یوه اخواني له خوا ووژل شو. د هغه په وژلو سره اخوان المسلمین منحل اعلام شو او د بل کال په فبروري میاشت کې په خپله حسن البنا هم په زیات ګومان د امنیتي قوتونو له خوا د منځه لاړ. کاکړ وایي چې اخوان بیا هېڅکله د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل بنسټ ایښودونکي غونډې د بل سروال او هغسې ځواک خاوند نه شو. خو د حسن البنا فکرونه په ډېرو اسلامي هېوادو کې سرمشق وګرزېدل او هلته هم د اخوان المسلمین په شان تنظیمونه جوړ او فعال شول.

## ابوالعلي مودودي (۱۹۰۳-۱۹۷۹)

ابوالعلي مودودي د منظمې زده کړې له کولو نه وروسته ژورنالست شو. دی په دې فکر و چې اسلامي هویت او اتحاد د هندوانو د سیکولریزم او عصري نېشنلېزم په تپل کېدو سره ګواښل کېږي. ده هم د البنا غونډې د منځنیو پېړیو د اسلامي عالمانو نظرونه کافي نه ګڼل او په دې فکر و چې د اسلامي نصوصو نوی تعبیر او د هغو پلي کول د عصر سیاسي، اقتصادي او کلتوري ننګونو ته ځواب ووايي.

مودودي په ۱۹۴۱ کال کې د جماعت اسلامي تنظیم بنسټ کېښود. د ده په اند ټول عصري مدنیت په درېو مفکورو: نېشنلېزم، سیکولریزم او ډموکراسي باندې ولاړ دی چې دا درې واړه اصول د اسلام مخالف دي. د ده په فکر نېشنلېزم که د نژاد، یا ژبې یا د اقتصادي ګټو پر بنسټ ولاړ وي، هرمرو په ضمني ډول د جګړو او تېریو لامل کېږي او یو ملت د بل پر ضد کوي. دی انسانان په دوو نېشنلېزمونو: د اسلام او عقیدې نېشنلېزم او د بې عقیدې توب یا بې لارې توب نېشنلېزم باندې وېشي.

د همدغه فکر پر اساس و، چې مودودي د هندوستان د خپلواک کېدلو په درشل کې د پاکستان نوی تاسیس شوی جمهوریت ته د میلیونونو مسلمانانو د مصیبت نه ډک هجرت ته په بې پامۍ سره کتل او مودودي تر هغه پورې چې پاکستان واقعي شوی نه و، د هندوستان مسلمانانو ته د یوه ملي واحد پلوي په ټینګه نه کوله. تر هغو د مخه اسلامي جماعت لا د مسلم لیګ او د هغه د بنسټ ایښودونکي محمد علي جناح پر ضد په ټینګه مبارزه کوله. په پای کې مودودي او د هغه تنظیم تر ۱۹۷۱ پورې په تېره د بنګله دېش له بېلېدو نه وروسته د خپل نوي ملي دولت یاني پاکستان تر شا ودرېد. مودودي نو بیا د ملي دولت منځ ته راتلل د «تاریخي حرکت طبیعي نتیجه» وګڼله او د اسلامي هېوادو سروالانو ته په یوه لیک کې څرګنده کړه، چې «له دوهم نړیوال جنګ نه وروسته له لوېدیځ نه تر ختیځه پورې خورو مسلمانانو هېوادونو د لوېدیځ د استعماري حاکمیت څخه نجات وموند.»۹۴۶

د مخه مو یادونه وکړه چې ابوالعلي مودودي چې د هند د وېش نه د مخه په ۱۹۴۱ کال کې د جماعت اسلامي تنظیم بنسټ ایښی و، په دې فکر و چې ټول عصري مدنیت په درېو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مفکورو: نېشنلیزم، سیکو لریزم او ډموکراسي ولاړ دی او هغه دا مفکورې د اسلام مخالفې ګڼلې. دی د هند د وېش نه پاکستان ته کډوال شو او هلته د واقعیتونو د فشار له امله د خپل اصلي فکر نه واوښت او د پاکستان د دولت تر شا ودرېد. سره له دې دی په دې فکر و چې اسلامي دولت «باید یوازې هغوی وچلوي چې په اسلامي ایدیالوژي باندې عقیده ولري.» او «اسلامي دولت چلوونکي باید هغوی وي چې ټول عمر یې د دغه قانون [شریعت] په رعایت کولو او نافذ کولو کې تېر کړی وي». دی دا هم وایي چې «هر هغه څوک چې دغه پروګرام مني، فرق نه کوي چې په هر نژاد او ملیت پورې اړه لري، په هغې ټولنې کې ګډون کولی شي چې دغه اسلامي دولت چلوي او هغوی چې یې نه مني، حق نه لري د دغه دولت د اساسي سیاست په جوړولو کې برخه واخلي.»۹۴۷ په دې ډول د یوه اسلامي دولت غیر مسلمان تبعه به له دولت چلولو نه بې برخې وي او د یو بل هېواد مسلمان به په کې برخه لري. د ده په فکر ښځې به د دغه اسلامي دولت په چلولو کې په طبیعي لحاظ ونډه ونه لري. د ده په اند ښځې په طبیعي لحاظ د دې وړتیا نه لري چې د کور نه د باندې په ټولنه کې فعال رول ولوبوي. په دې ډول د مودودي اسلامي دولت به د ښځو په بې برخې کولو او د نارینه وو په محدودولو سره په ترکیب کې محدود خو په وظیفه کې عالمي وي.

خو دومره باید وویل شي چې په ۱۹۶۵ کال کې ده د ښځو په اړه خپل نظر بدل کړ او خپل تنظیم یې د یوې ښځې فاطمه جناح د کاندیدۍ تر شا ودراوه.

## سید قطب (۱۹۰۶-۱۹۶۶)

د مصر سید قطب د حسن البنا په شان د ښوونځي ښوونکی و. لوړې زده کړې یې د امریکې د کالورادو په دولتي پوهنتون کې د پوهنې په څانګه کې کړې وې او د ماسټرۍ ډیپلوم یې ترلاسه کړی و. دی تر دغه وخته په فکر او سلوک کې اعتدالي و. خو له دغه وروسته سخت دریځی انقلابي شو. ده ډېر کتابونه وکښل چې د هغو نه یې معالم في الطریق او د قران مجید تر سیوري لاندې ډېر اغېزمن ثابت شوي دي. په هغه وخت کې چې په مصر، عراق او سوریې کې دین د سوسیالیزم، ناسیونالیزم، ډموکراسی او په ځانګړې توګه د مصر د ملي سوسیالیزم تر سیوري لاندې کېده، ده پر خپلو اثارو کې دغه نظر وړاندې کړ چې انسان خپلې لوړې چارې په خپله سمولی نه شي. دی خپل علاج په قران مجید کې موندلی شي. ده اسلامي نړۍ غیر اسلامي نړۍ لیدله او ویل یې چې مشرکان، منفقان، یهودان، عیسویان، سیکولر واکمنان، کمونیستي او د پانګوالی طرزونه ټول د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلام پر ضد دسیسې کوي. په دې توګه ده هم د ابن تیمیه په شان ټولنه په دوو مخالفو کمپونو د نېکۍ قوتونه، د بدۍ قوتونه، حزب الله، حزب الشیطان سره وېشله. د ده په اند منځنۍ لار نشته. خو ده دا هم ویل چې اسلامي قانون د اوسنیو خوځنده ټولنو اړتیاوې پوره کولی نه شي او باید له سره تعبیر شي، چې مانا یې اجتهاد کیږي. دی هم د مودودي غوندې د ډموکراسۍ مخالف و، چې خلک د واک سرچینه ګڼي. سید قطب د دولسمې سورې د څلوېښتم ایت (ان الحکم لله) له مخې چې «حکم یوازې په الله پورې اړه لري» دې پایلې ته ورسېد، چې خلک حق نه لري د واکمنۍ خاوندان وي.

کاکړ وایي چې سید قطب د رایې حق، ازادي او ډموکراسي تشې کلیمې ګڼلې او په دې فکر و چې پانګه وال د قانون، ډله ییزو خپرونو، پارلمان او نورو له لارې خلک تېرباسي. په پای کې دی په دې فکر شو چې خلک د حکومت په وړاندې تنظیم کېدلی نه شي او په خلکو باور کېدای نه شي، چې هغوی د ډله ییزو خپرونو په عصر کې په اسانۍ تر اغېزې لاندې کیږي. د ده په نظر چې «اسلامي ټولنه بېرته په غورځنګ شي» دولتي واک باید ترلاسه شي. څنګه چې د ټاکنو له لارې ده واک ترلاسه کولی نه شو او په دغه لار کې جمال ناصر د ده لارې خنډ و، نو دې پایلې ته ورسېد چې واک ته د رسېدو لار یوازې غزا ده. څنګه چې غزا هغه مهال اعلامېده چې اسلام او اسلامي ټولنې ته به د کاپرو له خوا خطر پېښ شو، او هغه به اول الامر له خوا اعلامېده. خو د سید قطب له پاره غزا سیاسي شوه. دی وایي چې «دښمن بې وسلې شي، تر څو اسلام ازاد وي او خپل شریعت جاري کړي.» په دې توګه د سید قطب په اند غزا به د «معتقدانو یوه ټینګه ډله» کوي چې خپل ټول ژوند یې د یوې ځانګړې موخې له پاره وقف کړې وي. دی د زندان نه د ایله کېدو وروسته د خپلو پټو انقلابي ملګرو سره په دې لټه کې شو، چې د جمال ناصر سوسیالستي حکومت په زور نسکور کړي، خو پخوا له دې چې په کودتا لاس پورې کړي، ونیول شو او د ۱۹۶۶ کال د اګست په میاشت کې زندی شو.۹۴۸

کاکړ وایي سره له دې چې سید قطب په اسلامي نړۍ کې تر مودودي او نورو نه ډېر لوستونکي لري او نظرونه او کړه یې د هغه د پلویانو له پاره سرمشق شوي دي، خو پلویان یې تر اوسه بریالي شوي نه دي چې د هغه د نظریو پر بنسټ «اسلامي نظام» په پښو ودروي. دلیل یې دا دی چې د لومړۍ اسلامي دورې دولتي نظام بېرته ژوندي کول ناشوني دي. دا ځکه چې په دغه دومره اوږدې مودې کې د ژوند په بیلو بیلو اړخونو کې ژور بدلونونه پېښ شوي دي؛ په اسلامي نړۍ کې هم نه یوازې اقتصادي او تخنیکي بلکې په ټولنیزو، حقوقي او سیاسي ساحو کې ژور بدلونونه راغلي دي. که د دغه «اسلامي نظام»

(c) ketabton.com: The Digital Library



موخه د ژوند ښه والی او د هغه دوام وي، شونې نه ده چې دغه بدلونونه د پام نه وغورځول شي او که په پام کې ونيول شي بيا به اسلامي نظام هسې نه وي چې په اول وخت کې و. برسېره پر دې پر دغه اسلامي نظام به نيوکې هم نه شي کېدای ځکه چې سرچينه به يې شرع وي. بل دا چې سيد قطب خپل «اسلامي نظام» ته د ټاکنو له لارې څخه نه بلکې د انقلاب او زور له لارې رسېدل غواړي. سيد قطب غزا هم سياسي کړې او هغې ته يې د وسله والې مبارزې رنګ ورکړی دی. کاکړ وايي چې تجروبو ښوولې ده چې په دغې لارې ژوند له منځه ځي او کړکېچ دايمي کېږي. له دغسې چلند سره پر اخلاق او قانون ولاړ انسان جوړ نه راځي. د شلمې پېړۍ په سر کې د تروتسکي د دايمي انقلاب مفکورې عمر لنډ و، داسې به د سيد قطب د اسلامي نظام مفکورې عمر به هم اوږد نه وي، ځکه چې د سيد قطب د دولتي نظام مفکوره د تروتسکي د دايمي انقلاب د مفکورې غوندې د ژونديو واقعيتونو سره په ټکر کې ده. په افغانستان کې په تنظيمي دوره کې د مودودي او سيد قطب د فکرونو او بيا د طالبانو په دوره کې د عبدالوهاب د فکر له مخې د دولت د تنظيمولو له پاره کوښښ وشو، خو دوی ټول په خپل کوښښ کې په مطلق ډول ناکام شول او ټولنه يې په ژور ډول کړکېچنه کړه، پر هغه سربېره ايران او پاکستان يې په دې قادر کړل چې د افغانستان په چارو کې په بېساري ډول دخيل شي.۹۴۹

## اسامه بن لادن، القاعده او افغان ملي جهاد

اسامه بن لادن په ۱۹۵۷ کال کې د سعودي عربستان په رياض کې زيږېدلی دی. پلار يې محمد بن لادن په اصل کې د يمن و، چې د شلمې پېړۍ په دوهمه نيمايي کې يې له خپلې کورنۍ سره يو ځای کډه کړې وه. محمد بن لادن د خپلې زياتې وړتيا او زيارونو له کبله ډېر شتمن شو. د عربستان د واکمنې کورنۍ سره يې اړيکې ټينګې کړې او د غټ نوم او اعتبار خاوند شو.

محمد بن لادن په ۱۹۳۱ کال کې د بن لادن ګروپ په نامه د ودانولو يوه کمپنۍ جوړه کړه، چې له عربستان سره يې مرسته وکړه چې خپلې سرچينې په کار واچوي. دې کمپنۍ د شلمې پېړۍ په وروستيو کلونو کې پر ودانيو برسېره د کرنې، پټرو کيمياوي او مخابراتي فعاليتونه هم کول. همدارنګه يې د اروپا او امريکا له ځينو هېوادونو سره د وړلو او راوړلو سوداګري پيل کړه. د بن لادن ګروپ وروسته له هغې چې د مدينې او مکې جوماتونه ترميم او په فلسطين کې د اقصی جومات جوړ کړ نوم وايست. ټوله پانګه يې نږدې پنځه ميليارډه ډالر اټکل شوې چې د نړۍ د شتمنو کورنيو په ډله کې راغله. محمد بن لادن د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا فیصل له خوا د ټولګټو وزارت وزیر وټاکل شو او درې کاله وروسته د الوتکې د غورځېدو په پېښه کې مړ شو.

محمد بن لادن د ډېرو ښځو او وینځو نه نږدې پنځوس زامن او لوڼه پرې ایښي دي. محمد بن لادن خپل زامن د کمپنۍ او بزنس په چارو کې بوخت کړي وو. اسامه بن لادن د محمد بن لادن اولسم زوی دی چې مور یې حمیده عالیه بېګم د سورېې څخه وه، د خپل مېړه لسمه یا یولسمه ښځه وه. هغه تعلیم کړې وه، عصري کالي یې اغوستل او مخ لوڅې وه.

اسامه بن لادن لومړنۍ، منځنۍ او لوړې زده کړې په جده کې وکړې. مشر ورور یې غوښتل چې مسلکي انجنري ولولي، خو هغه په پوهنتون کې اسلامي زده کړې غوره ګڼلې. په پوهنتون کې د هغه اسلامي عقیده د اسلامي عالمانو د زده کړو له امله نوره ټینګه شوه چې په هغو کې سید قطب او ابن تیمیه تعلیم شامل و. په دغه پوهنتون کې عبدالله عزام او محمد قطب چې د سید قطب ورور و، درس ورکاوه. عزام چې د فلسطین و د اظهر پوهنتون نه یې د ډاکټرۍ ډیپلوم لاسته راوړی و. هغه په معاصر مهال کې مسلمان ولسونه تر هر بل چا نه ډېر د کاپرو او بې ایمانو پر ضد نړیوال جهاد ته هڅولي دي. د اسامه بن لادن علاقمني د ابن تیمیه، سید قطب او د عزام د تعلیماتو سره له هغه سپکاوي له امله هم ټینګه شوې وه چې د لیکوال خالد خلیل احمد په وینا «د هغه عصر د ځوانو زامنو کلکې ماتې» بللې چې د اسرائیلو له خوا په ۱۹۴۸، ۱۹۶۷ او ۱۹۷۳ کې عربانو کړې وې.۹۵۰ اسامه بن لادن د خپل پلار سره د انجنرۍ او ودانیو چارو کې د چاودونو موادو په کارولو کې عملي کارونه هم کړي و. دی اوولس کلن و چې د مور د کومې خپلوانې سره یې واده وکړ.

## په افغان جهاد کې د اسامه بن لادن ونډه

کاکړ وایي چې اسامه بن لادن د شوروي اتحاد د پوځې یرغل نه اوولس ورځې وروسته ځان پاکستان ته ورسوه. دی دغه وخت درویشت کلن و. په پاکستان کې یې د اسلامي جماعت مشر قاضي حسېن احمد ته غټه بسپنه ورکړه، چې افغان تنظیمونو ته یې ورکړي او په خپله عربستان ته ستون شو. ده تر ۱۹۸۲ کال پورې افغانستان او پاکستان ته څو ځله لنډ سفرونه وکړل، په دې مقصد چې د جهاد سروې وکړي، د مجاهدینو اړتیاوې په ګوته کړي او په عربستان کې بسپنې ورته ټولې کړي. ده دغه بسپنې افغان تنظیمونو ته د احمدشاه مسعود په ګډون رسولې. خو د عبد الرب رسول سیاف، ګلبدین

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکمتیار او برهان الدین رباني سره د هغه اړیکې ښې ټینګې وې. د بسپنو غټه برخه سیاف ته رسېده، ځکه چې هغه د اسامه بن لادن غوندې ټینګ وهابي و. یو بل دلیل یې دا و چې ریاض د جهاد په پای کې په دې هیله و چې سیاف او د هغه په شان نور کلک سني پښتانه چې په کابل کې په واک وي د منځنۍ اسیا نویو خپلواک شویو هېوادونو کې به د ایران هغه کوښښونه شنډ کړي چې د شیعه ګرۍ د پرمختګ له پاره یې کوي.۹۵۱ نو د عربستان حکومت د ۱۹۸۹ کال د فبروري په میاشت کې د اسلامي تنظیمونو په عبوري حکومت کې د صدراعظم په توګه د سیاف د ټاکلو په لار کې ۲۶ میلیونه ډالره د پاکستان د ای اس ای له لارې په افغان مشرانو ولګول.

اسامه بن لادن اټکل د سلګونو میلیونو ډالرو بسپنې برسېره د افغان مجاهدینو له پاره د ځمکې لاندې د تونلونو او روغتیایي مرکزونو په جوړولو سره عملي مرسته هم وکړه. ده په ځانګړي ډول خوست ته نږدې په ژوره کې د قوماندان حقاني هغه مورچلې ټینګې کړې چې د غزا په پیل کې یې هلته پوځي مرکزونه جوړ کړي و. ده له ۱۹۸۶ کال وروسته د باندینیو رضاکارانو جهادي چارو ته پام واړاوه.

په افغانستان باندې د شوروي پوځي یرغل د نړۍ مسلمانان پارولي وو. له دوی نه ځینې په خپله خوښه حاضر شول چې په افغانستان کې د شوروي یرغلګرو په وړاندې وجنګېږي. په دغه مهال د عربي هېوادونو ځینې حکومتونه په دې فکر شول چې خپل په جهاد مین اسلامستان افغان غزا ته وهڅوي، شونې ده چې دوی هلته د منځه لاړ شي او د دوی د ورانونکو کارونو نه وژغورل شي. د سعودي عربستان حکومت پاکستان ته د دغو رضاکارانو د ورتګ له پاره د سفر د ټکټ بیه په سلو کې پنځه اویا لږه کړه او د پاکستان حکومت په ډېرې اسانۍ سره ویزې ورکولې. دغه رضاکاران همدا چې پېښور ته رسېدل، ځانګړو ځایونو ته په ګړندیو موټرونو کې په قدر وړل کېدل. د امریکې د سي ایی اې سروال ویلیم کسي، د پاکستان سي ای د نړۍ افراطي مسلمانان هڅول چې د افغانستان په غزا کې ګډون وکړي. خو هر چا په دې کې خپلې اجنډاوې درلودې.

د پاکستان «جنرال محمد ضیاء غوښتل اسلامي اتحاد ټینګ کړي، پاکستان د اسلامي نړۍ مشر وګرزوي او په منځنۍ اسیا کې اسلامي مخالفت په حرکت راولي. واشنګټن غوښتل وښيي چې ټوله مسلمانه نړۍ د شوروي پر ضد د افغان مجاهدانو تر څنګه جنګېږي او سعودیانو موقع وموندله چې وهابیت خپور کړي او له خپلو ناراضو افراطیانو نه ځان خلاص کړي.»۹۵۲ خو په افغان جهاد کې لږ اسلامي سخت دریځي د منځه لاړل او د غزا د بریالیتوب وروسته دوی خپلو هېوادو ته راستانه شول او د خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېوادونو دپاره یې نه اټکل کېدونکې ستونزې پیدا کړې .

د باندنیو رضاکارو د شمېر په اړه کره مالومات نه شته. احمد رشید وایي چې د ۱۹۸۲ نه تر ۱۹۹۲ پورې له ۴۳ ملکونو نه په افغان جهاد کې پنځه دېرش زره مسلمانو رضاکارو ګډون کړی وو. پوهاند مګنس رنسپارټ وایي چې اسامه بن لادن د خپلو لسو کلونو ګوریلایي تجروبو په دوره کې له اوو نه تر نهو زرو رضاکارو مسلمانو سره په تماس کې شوی دی. د سورېې یو رضاکار یې شمېر اټکل د اوه ویشتو او ۲۹ زرو پورې بولي او جراح سعد یې شمېر د دولسو او پنځلسو زرو تر منځ ښيي. د دغو رضاکارو رول د افغان په جهاد کې ډېر لږ و. یو دلیل یې دا و چې دوی په بې شمېره خیریه موسسو کې کار کاوه چې د افغان کډوالو سره مرسته وکړي. دوهم دلیل یې دا وو چې «عربانو د افغانانو په څېر د جنګ کولو روحیه نه لرله.»۹۵۳ افغان عربان د بیلو بیلو مجاهدو تنظیمونو تر څنګه په وړو ټولګیو کې جنګېدل. عربي یا نړیوال غونډ هېڅ نه و.۹۵۴ او ډېر وروسته اسامه بن لادن یوه لوا جوړه کړه چې بیا به رڼا وربانديې واچول شي.

د باندنیو رضاکارو په منځ کې ډاکټر عبدالله عزام، اسامه بن لادن او ایمن الظواهري هغه کسان وو چې دغه رضاکاران یې په لومړي سر کې د افغان جهاد دپاره او وروسته د خپلو نړۍ والو موخو دپاره تنظیم کړل. هغه مهال چې د باندینیو رضاکارو شمېر څلور سوو ته ورسېد، د پاکستان حکومت له عربستان نه وغوښتل چې کوم شاه زوی وروګستوي چې د هغو سروالي او تنظیم وکړي. عربستان اسامه بن لادن، چې له پاچايي کورنۍ او په ځانګړې توګه د عربستان د استخباراتو د سروال سره ټینګې اړیکې درلودلې، د هغو د سروال په توګه وټاکه. اسامه بن لادن د دغو رضاکارانو دپاره پېښور ته نږدې کمپ جوړ کړ چې دوی د پاکستاني او امریکايي افسرانو له خوا په کې روزل کېدل. د اسامه بن لادن په وینا دغو رضاکارانو ته وسلې امریکایانو او پیسې سعودي تهیه کولې.۹۵۵ اسامه بن لادن وایي چې «ما کشف کړه چې دا بس نه ده چې په افغانستان کې وجنګېږم. موږ باید په ټولو جبهو کې وجنګېږو، کمونیستي وي یا لوېدیځ.»۹۵۶

د افغانستان د جهاد په مهال عبدالله عزام او بن لادن په دغو ډګرونو کې کار کاوه: د باندنیو رضاکارو له پاره د روزنې کمپونه جوړول، د هغوی جلبول او تنظیمول او کله په ګډه ورسره جنګ کول، د مجاهدینو دپاره بسپنه ټولول او جهاد تبلیغول.

اعزام د افغان جهاد مغز او بن لادن د هغه مټه وه. اعزام په پېښور کې د نړۍ وال اسلامي لیګ او د اخوان المسلمین د اداري مشر و. دغه اداري د عربي رضاکارو له پاره مرکزونه وو. اعزام او بن لادن په ۱۹۸۴ کې په ګډه د مکتب الخدمات په نامه یوه اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړه کړه، چې موخه یې د رضاکارانو روزنه وه. دغې ادارې د روزنې، پوځي، لوجستیکي او خیریه څانګې لرلې. عزام یې امیر او بن لادن یې نایب امیر و او ورځنۍ چارې یې نورو تر سره کولې. دوی د سیاف په هوکړې سره د پوځي روزنې لومړي مرکزونه په ځاځیو کې جوړ کړل چې هلته نه یوازې باندنیو رضاکارو ته، بلکې افغان مجاهدانو ته هم جنګي مهارتونه ښودل کېدل. بن لادن په ۱۹۸۶- ۱۹۸۷ کې د عربي رضاکارو په اړه یوه پرېکړه وکړه چې د هغې له مخې یې یوازې د عربو رضاکارو له پاره د ننه په افغانستان کې د روزنې څو کمپونه جوړ کړل او نور باندني رضاکار هم په کې روزل کېدل چې هغه وروسته د اعزام او بن لادن تر منځ د اختلاف سبب شوه. ځکه چې اعزام غوښتل چې باندني رضاکار باید د پخوا غوندې د افغان مجاهدینو سره یو ځای وروزل شي. بن لادن دوی سره راټول کړل او د الخاصه په نامه یې یوه لوا جوړه کړه دغې لوا په خوست کې یو سخت جنګ وکړ چې ډېر عربان په کې ټپي او نور په کې ووژل شول.۹۵۷ دغې لوا په ۱۹۸۷ کال کې جلال اباد ته نږدې په یوه جګړه کې برخه واخېسته. دوه کاله وروسته په ۱۹۸۹ کال کې د شوروي پوځ د وتلو وروسته د جلال اباد په جګړه کې ونډه واخېسته چې یوازې د بن لادن د لوا نه ۱۸۷ تنه عربان ووژل شول.

## القاعده

اسامه بن لادن او د هغه څو ملګرو د عزام په سپارښتنه د ۱۹۸۸ او ۱۹۸۹ کلونو تر منځ د القاعدې په نامه یوه ټینګه جنګیالۍ ډله تنظیم کړه، چې موخه یې د دغسې یو نړۍ وال پوځ جوړول و چې مسلمانان د ځپل کېدو نه وساتي. د بن لادن په څنګ کې دغسې کسان او وړې ډلې ډېرې وې چې د افغان د بریالي جهاد له امله سخت درېځې شوې او د یوې لویې جګړې له پاره یې تیارى ښود. د بن لادن یوه ملګري ابو محمد په وینا «د القاعدې فکر د بن لادن په دماغ کې د لومړي ځل له پاره په ۱۹۸۸ کې تېر شو». خو د لیکوال ګونارتنا په وینا «د عمومي ذهنیت پرخلاف دا عزام و چې د القاعدې مفکوره یې وړاندې کړه». جهاد د القاعدې یوه غټه برخه وګڼل شوه. عزام ویلي چې «دغه دنده به په افغانستان کې له بري سره پاى ته ونه رسیږي، جهاد به د فردي وظیفې په شان پاتې شي تر څو ټول اسلامي هېوادونه موږ ته وسپارل شي، د دې له پاره چې اسلام بیا په کې جاري شي».۹۵۸ د القاعدې په لومړۍ غونډه کې ډاکټر ایمن ظواهري، ډاکټر فضل مصري، ابو عبیده، محمد هاتف ابو فرج یمني او نورو ګډون کړى و. ابو ایوب عراقي د القاعدې امیر او بن لادن د هغه نایب وټاکل شو. بن لادن بیا وروسته د ظواهري او دوو سخت درېځو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصري ډلګیو په ملاتړ د القاعدې امیر شو. لیکوال ګونارتنا د القاعدې لنډ مهاله، منځمهاله او اوږدمهاله ستراتیژي داسې ښودلې ده: «د (۲۰۰۱ کال) د سپتمبر د یولسمې د مخه د هغې سملاسي موخه له عربستان نه د امریکې پوځ ایستل، او هلته د خلافت رامنځ ته کول و. د هغې منځنۍ ستراتیجي د عربستان په ټاپو وزمه کې د مرتدو رجیمونو نسکورول او له هغو وروسته د رښتینو اسلامي دولتونو جوړول و او د اوږدې مودې ستراتیجي د یو لړ هیبتناکو اسلامي دولتونو تاسیسول و چې د امریکې ... او د هغې د متحدانو پر ضد جګړه وکړي».۹۵۹ دا خیالي ستراتیژي د شتو واقعیتونو سره ډېره نه لګوي. کاکړ رښتیا وایي چې «که د هدف ټاکلو نه مراد، هغه ته په رښتیا رسېدل وي» یو څوک دغسې موخه باید وټاکي چې هغه ته رسېدل په هغو وسیلو سره چې په لاس کې یې لري شونی وي. «خو بن لادن او د هغو ملګرو دغسې هدفونه ټاکلي چې هغو ته رسېدل ناشوني دي. د دغسې هدف یا هدفونو پایله دا کېږي چې هم دوی او هم د دوی پلویان په سختو ربړونو اخته او له نورو ډېرو نورو انسانانو سره له رښتیني او ښکلي ژوند نه بې برخې وي.»۹۶۰

په هر صورت د ۱۹۸۸ او۱۹۸۹ کلونو په بهیر کې د بن لادن غټه ستونزه د عزام سره وه. دوی د څو موضوع ګانو په سر سره وران شول. د ۱۹۸۹ کال په سر کې بن لادن د عزام نه وغوښتل چې د مصاده د روزنې کمپ دې القاعدې ته یوړل شي. خو عزام ونه منله. دوهمه موضوع چې د دوی تر منځ اختلاف یې نور هم ټینګ کړ هغه دا و چې د مکتب الخدمات مصري جنګیالیو غوښتل باندني رضاکاران په ترهګرۍ کې وروزي. خو عزام په مصر کې اوسېدلی و او هلته د ترهګرۍ په پایلو پوهېده. عزام د ترهګرۍ مخالف و ځکه چې په ترهګرۍ کې بې ګناه کسان وژل کېږي او اسلام د دې کار مخالف دی. اسلام د خپلو پیراوانو څخه نه غواړي په کاپرانو کې بل څوک ووژني خو هغوی چې جنګ کوي. ځکه چې قراني ایت وایي چې «او د خدای تعالی په لار کې له هغو سره جنګ وکړه چې درسره جنګ کوي.»۹۶۱ نو په دې توګه بن لادن او دوو مصري ډلګیو د غرو په شان چې غوښتل یې د مصادې کمپ نه د القاعدې د مرکز په توګه کار واخلي، عزام یې مخه ونیوله. اسامه بن لادن ورنه بیل شو. بن لادن د ۱۹۸۹ کال د نومبر نه د مخه عربستان ته لاړ او عزام په پېښور کې د نومبر په ۲۴مه نېټه په ګرېندي موټر کې د خپلو دوو زامنو سره یو ځای په یوې چاودنې سره ووژل شو.

د عزام د وژل کېدو نه وروسته د مکتب الخدامات یوه سخت دریځه ډلګۍ د بن لادن سره یو ځای شوه. بن لادن وروسته د الظواهري تر اغېز لاندې لاړ. ظواهري په ۱۹۷۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال کې د مصر اسلامي جهاد تنظيم کړ چې د مصر د دوو سخت دريځو ډلګيو نه يوه ډلګۍ وه. ظواهري د مصر د ولسمشر انور سادات په وژنه کې تورن شو او دوه کاله يې په بند کې تېر کړل. په ۱۹۸۴ کال کې پېښور ته لاړ. د ظواهري په کوښښ سره د اسلامي جماعت په نامه د سيد قطب په پله روانه بله ډلګۍ هم د بن لادن پر خوا ودرېده. برسېره پر دې ظواهري د بن لادن هغه ايډيالوژيکه تشه ډکه کړه چې د عزام په وژنې سره پيدا شوې وه. د ظواهري په کوښښ سره د باندنيو ډلو لويان سره نږدې شول. د القاعدې غټ غړی، ابو عبيده، د محمد هاتف په شان په اصل کې د ظواهري ملګری و، چې وروسته په ۱۹۹۶ کال کې د يوګندا د ويکټوريا په ډنډ کې ډوب شو او پرځای يې هاتف د القاعدې پوځي سروال شو. د عزام له وژل کېدو وروسته د مصر د اسلامي جماعت د مشر په توګه شېخ عمر عبدالرحمن د يوه روحاني مشر په توګه ومنل شو. ډېره موده نه وه تېره شوې چې اسامه بن لادن د ظواهري او نورو په مرسته د شيخ عمر ځای ونيو. په دې ډول بن لادن، ظواهري او محمد هاتف د يوه نوي اتحاد په پړي پورې ځانونه ونښلول او د القاعدې مخکښان شول.

اسمه بن لادن د ۱۹۸۹ کال په جولايي يا اګست کې سعودي عربستان ته ستون شو. دی اوس په عربانو کې د افغان د جهاد او هم په يمن کې د کمونېست رژيم په وړاندې د اسلامي تنظيمونو د ننګې له امله د غټ نامه خاوند شوی و. کاکړ وايي څوک چې په عربستان کې د نامه او اعتبار خاوند شي او له واکمنې کورنۍ څخه نه وي او د هغې په لارې روان نه شي په ربړونو اخته کېږي. بن لادن هم په ربړونو اخته شو. په عربستان کې د هغه پاسپورټ داسې په نښه شوی و چې که بهر ووزي بيا راستنېدلی نه شي. د دې سره سره حکومت نه غوښتل چې ويې پاروي. حکومت د دې دپاره چې دی تر اغېز لاندې راولي په مدينه کې يې ورته د حضرت محمد د جومات د پراخولو قرارداد وړاندې کړ چې په هغه کې د بن لادن نګه ګټه نوي ميليونه ډالره کېده. خو ده د قرارداد د منلو نه بښنه وغوښته. اسامه بن لادن په جوماتونو کې د امريکې په بانديني سياست نيوکې کولې چې د عربستان واکمنان يې اندېښمن کړي وو. په ۱۹۹۰ کال په اګست کې عراق په کوېټ باندې بريد وکړ او عربستان هم د خطر سره مخامخ شو. پاچا فهد د عبدالعزيز بن باز او نورو ديني عالمانو په مشوره چې ګواکې «اسلام په خطر کې شوی» د امريکې پوځ وغوښت. د کوېټ نه د عراق د پوځونو د ايستلو وروسته شل زره امريکايي سرتيري په عربستان کې ميشته شول. ځکه بن لادن وروسته د سعودي د واکمنې کورنۍ او امريکې نه پخلاکېدونکی مخالف شو. اسامه بن لادن د ۱۹۹۱ کال په اپريل کې د لنډ وخت له پاره پاکستان ته لاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د همدغه کال تر پايه پورې په افغانستان کې چېرته د دې دپاره په نامالوم ځای کې تېر کړل چې د برهان الدين رباني، ګلبدين حکمتيار او احمدشاه مسعود تر منځ جوړه وکړي خو هلو ځلو يې ګټه ونه کړه.

## اسامه بن لادن په سوډان کې(۱۹۹۲-۱۹۹۶)

دغه وخت بن لادن انديښمن و چې شايد د عربستان حکومت يې د خپلو اجنټانو له لارې ووژني نو له دې کبله له خپلې کورنۍ سره په شخصي الوتکه کې په پټه سوډان ته لاړ. هغه د سوډان د حکومت سروال حسن ترابي سره لا د مخه اړيکې ټينګې کړې وې. د سوډان واکمنو هڅه کوله چې د سوډان نه د اعتبار وړ مخکښ اسلامي هېواد جوړ کړي. دوی غوښتل چې د بن لادن په فني او پولي مرستې سره سوډان اباد کړي. بن لادن د خپلو پنځو کلونو د هستوګنې په مهال د يو بزنس مين غوندې د ودانيو، صنعت، کرنې او بانکي ساحو کې پانګې په کار واچولې او خپل ملګري او پخواني عرب رضاکاران يې په کارو وګمارل. کاکړ وايي دا چې بن لادن به په سوډان کې له القاعدې نه څومره کار اخېستی وه په يقين سره مالومه نه ده. خو په دغې مودې کې په فلپاين، اردن، يمن، تاجکستان، بوسنيا. مصر، نيويارک او نورو ځايونو کې د ترهګرۍ او چاودنو تر شلو نه ډېرې وړې او لويې پېښې وشوې چې ډېر انسانان په کې د منځه لاړل. ډېر جهادي جنګيالي، چې بوسنيا ته د غزا په موخه تللي وو، په بوسنيا کې ونيول شول او ووژل شول. په مصر کې هم جهادي جنګيالي چې د مصر د اسلامي جماعت غړي وو، خپلې موخې ته ونه رسېدل. سره له دې چې دوی په خپلو کړو سره د څو کلونو په بهير کې د اتو سوو او زرو کسانو تر منځ انسانان د مصر د پارلمان د سروال په ګډون ترور او ووژل. دوی د مصر په ولسمشر حسني مبارک د وژلو نابريالۍ هڅه وکړه. د ۱۹۹۲ کال په پيل کې د مصر حکومت د دوی په ځپلو بيا پيل وکړ. په زرګونو يې بندي کړل او نور يې د ملکه وتښتېدل. يو شمېر يې لوېديځو اروپايي هېوادو ته پناه يووړه، نور يې سوډان او افغانستان ته د روزنې کمپونو ته لاړل. دا ځل د دوی ځپل او خپلو موخو ته نه رسېدل مهم ثابت شول او مشران يې په دې فکر شول څنګه چې دوی په خپلو هېوادو کې د نږدې دښمن ياني د مرتدو رژيمونو په نسکورولو کې پاتې راغلل نو لېرې دښمن ياني امريکا او اسرائيل بايد تخريب شي.

بن لادن په ۱۹۹۴ کال کې د اصلاح او وعظ کميټه جوړه کړه چې چلوونکي يې د عربستان ناراضيان وو. دوی په خرطوم او لندن کې دفترونه پرانېستل. دوی د عربستان خلک د واکمنې کورنۍ پر ضد پارول. بن لادن د سعودي واکمنې کورنۍ ټينګ مخالف

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګڼل شو او واکمنو يې په ۱۹۹۴ کال کې د عربستان له تبعيت نه بې برخې کړ. د ۱۹۹۵ کال په نومبر کې په عربستان کې دوې چاودنې وشوې چې په لومړۍ کې چې په خوبار کې وشوه، نولس امريکايان ووژل شول او په دوهمې کې چې اوه مياشتې وروسته د نومبر په مياشت کې په دهران کې وشوه چې په هغې کې پنځه امريکايان ووژل شول او تر شپتو ډېر نور امريکايان په کې ټپيان شول. څو عربستاني ډلو د دغې چاودنې مسؤليت په غاړه واخيست او ټولو څرګنده کړه چې امريکا دې خپلې لښکرې د عربستان نه وباسي.

د ترهګرۍ د دغو پېښو له امله د امريکې حکومت په سوډان فشار راووړ چې بن لادن د ملک نه وباسي. د ۱۹۹۵ کال په پای کې په خپله ترابي او نور لوړ رتبه مامورين په دې فکر شوي وو چې د دوی هغه فکر سم ونه خوت چې غوښتل يې د سوډان نه يو سوچه اسلامي هېواد جوړ کړي. بله خبره دا وه چې د بن لادن په سر يې له عربستان سره اړيکې خرابې شوې وې. مصر هم سوډان په دې ګرم کاوه چې د هغو ترهګرو ساتنه کوي چې په حسني مبارک يې بريد کړی و. په دغه حال کې د تېلو غټو کمپنو نه غوښتل چې په سوډان کې پانګونه وکړي چې ترابي ورباندې حساب کاوه. بل د ترابي او بن لادن تر منځ ايډيالوژيکي توپير هم و هغه دا چې د ترابي سياسي اسلام د عزام غوندې و نه د ظواهري غوندې. ترابي غوښتل چې تر هر څه د مخه سياسي قدرت ټينګ کړي او بيا ټولنه اسلامي وګرزوي ځکه نوموړي بن لادن د خپلې دغې لارې په مخ کې خنډ باله.۹۶۲ د دغو دليلونو له مخې د سوډان حکومت دې پايلې ته ورسېد چې بن لادن په زياته کچه پياوړی شوی دی او بايد ځان ورنه خلاص کړي.

د سوډان حکومت په دې لټه کې شو چې افغانستان د هغه راتلونکې هستوګنځی وګرځي. په پاکستان کې يې په خپل سفارت کې دغسې يو سوډانی وګماره چې په پښتو پوهېده او هغه له پېښور نه له دريو قوماندانانو سره په دې اړه وغږېد. دغه درې کسان مولوي ساز نور، انجنر محمود او فضل حق مجاهد وو. دوی په ترتيب سره د سياف، حکمتيار او مولوي خالص تنظيمونو ته منسوب وو. همداسې بن لادن هم له خپل حساس حال له کبله په خپله هم د مولوي يونس خالص او قوماندان حقاني سره په تماس کې شوی و. په دې توګه دغو درې کسانو بن لادن ته بلنه ورکړه چې افغانستان ته کډه وکړي. «د بن لادن د تګ مخکې د سوډان دولت د لادن د الوتلو بشپړ مهالوېش د امريکا دولت ته ورکړ خو د هغه د نيولو له پاره هېڅ ډول ګام پورته نه شو.»۹۶۳ د ۱۹۹۶ کال د مې په اتلسمه دوې الوتکې د جلال اباد په هوايي ډګر کې ښکته شوې چې په هغو کې بن لادن، د هغه لس اولادونه او اټکل دېرش نارينه سرتيري وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سوډان حکومت په دې توګه د خپلو ملي ګټو په خاطر بن لادن د هېواد نه ویوست. په دغه ډول القاعدې د بن لادن په مشرۍ په پای کې په افغانستان کې دغسې چانس وموند چې خپلو موخو ته د رسېدو په خاطر د افغان خاورې نه ګټه پورته کړي.

## افغانستان او بن لادن

د کاکړ په وينا افغانستان د بن لادن د ورتګ په مهال د نظامي او سیاسي قدرت څو مرکزونه درلودل. کابل د برهان الدين رباني په مشرۍ، کندهار د محمد عمر په سروالی، جلال اباد د حاجي عبدالقدير په والي توب، او مزار د عبدالرشيد دوستم د زورواکۍ مرکزونه وو. رباني هسې په نامه ځان د ټول افغانستان سروال ګاڼه. د ملا محمد عمر د واک چلېدو ډګر په پراخېدو و او نور ټول په دفاعي حالت کې و. د ۱۹۹۶ کال په سپتمبر کې لومړی لوی ننګرهار او ورپسې کابل د امارت په لاس ورغی. امارت دغه مهال د باميان پرته، چې د کريم خليلي په مشرۍ د وحدت د ګوند په لاس کې و، د هندوکش په سوويلي افغانستان باندې واکمن و. د امارت مشرانو هڅه کوله چې ټول افغانستان تر خپل بيرغ لاندې يو موټی کړي، د نړۍ والې ټولنې له خوا په رسميت وپېژندل شي او د خپلې خوښې سلفي ډوله اسلامي شرعيت په وطن کې پلی کړي.

بن لادن په جلال اباد کې لومړی په ظاهر باغ کې بيا په هډه کې د مولوي خالص یوې ټينګې کلا او یوه مياشت وروسته د سپين غره ميلاوي ته کډه وکړه چې هلته په توره بوره کې د مقاومت په دوره کې د افغان مجاهدينو له پاره يو ټينګ زيرمه تون جوړ شوی و.

کاکړ وايي چې د طالبانو د هسکېدو نه د مخه په افغانستان کې د نا اغېزمن مرکزي حکومت له امله سياسي تشه را منځ ته شوې او د وطن پولې د هر چا پر مخ پرانيستې وې. «له څلوېښتو ملکونو نه په زرګونو اسلامي افراطيان، رټل شوي کسان، سياسي خيال اوبدونکي او ټوپکيان افغانستان ته ننوتل، د دې له پاره چې هلته جهادي ټاکټيکونه زده کړي، د وسله والو پاڅونونو له پاره وروزل شي او بيا مبارزه بېرته خپلو هېوادونو ته يوسي.»۹۶۴ کاکړ زياتوي چې طبيعي ده چې په افغانستان کې به د بن لادن د ورتګ په وخت کې له دغو جنګياليو به ډېر لږ پاتې وو. خو القاعده د همدغې مودې په بهير کې د يوه تنظيم په توګه واقعي شوه او بن لادن موقع ومونده چې له هغې نه يوه منظمه ډله جوړه کړي.

بن لادن په افغانستان کې خپله لومړۍ څرګندونه په توره بوره کې د ۱۹۹۶ کال د اګست په ۲۳مه خپره کړه. دا څرګندونه د امريکا پر ضد د جهاد اعلاميه وه. د افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تنظیمونو مشران او د طالب مشرانو هېڅ یوه دا فکر ونه کړ چې د افغانستان څخه د پردي سخت دریځي بن لادن له خوا د امریکې پر ضد د جهاد غږ پورته کول افغانان زیانمن کوي او دوی د دې نه توان او نه دلیل لري چې د امریکا ضد چلند غوره کړي. بن لادن کوم دیني عالم او مجتهد نه و، چې د جهاد صلاحیت ولري او بیا د نړۍ ټول مسلمانان جنګ کولو ته وبولي. د جهاد اعلامول چې په واقعیت کې د جګړې اعلامول کېږي د یو تن کار نه بلکې د خلکو په استازي توب د حکومتونو کار دی. بیا د داسې تن چې د خپل هېواد د تابعیت نه بې برخې شوی، له یوه بل ملک نه د ملي ګټې د ساتنې په موخه شړل شوی او په دریم هېواد کې پناه موندلې وي. دا په هغه مهال د مولوي خالص، والي عبدالقدیر او برهان الدین ملي دنده وه چې بن لادن ته یې ویلي وای چې د افغانستان په خاوره کې د خپلو سیاسي موخو له پاره د نورو هېوادونو پر ضد بیا وینا او کړه ونه کړي. خو دوی دا کار ونه کړ او برهان الدین رباني خو لا هغه ته افغان پاسپورټ هم ورکړ. بن لادن د همدغه کال په نومبر کې دوهمه مرکه په توره بوره او د ۱۹۹۷ کال په مارچ کې دریمه مرکه هم هلته وکړه.

بن لادن په دغو مرکو کې خپله لیرې کړنلاره وټاکله چې موخه یې امریکا او په نړۍ کې د هغې د ګټو او تاسیسونو ویشتل و. د ظواهري په مشرۍ د اسلامي جهاد غړي بن لادن ته لا نږدې شول او هغو د الفاروق او ابو جندال د روزنې کمپونه د هغه او د هغه د ملګرو او جنګیالیو ته ځانګړي کړل، چې د خلیج په پیسو د مصریانو له خوا چلېدل.

له هغه وخت نه چې ننګرهار طالبانو ونیو، بن لادن تر پخوا زیات د خپل مصؤنیت په اندېښنه کې شو. هلته په هغه باندې د اتو میاشتو د هستوګنې په موده کې د هغه د وژلو په موخه څلور یا پنځه واره نابریالي بریدونه وشول.

د دې سره سره چې د بن لادن او طالبانو تر منځ ایډیالوژیکي توپیر زیات و. بن لادن د نړۍ وال سخت دریځي جهادي سلفیت لار نیولې وه چې د وهابیت او سیاسي اسلام ځینې توکي په کې ګډ وو او د طالبانو مشران په محلي نوې دودیز پالنې باندې ولاړ وو. خو بیا هم ملا محمد عمر د ۱۹۹۷ کال په لومړیو کې د بن لادن نه وغوښتل چې«د خپل مصؤنیت په خاطر» کندهار ته راشي. بن لادن کندهار ته د سفر په لار کې دوه شپې په کابل کې تېرې کړې او هلته یې د کابل د شورا له سروال ملا محمد رباني او د هغه له مرستیال ملا محمد حسن سره ولیدل. بن لادن د طالبانو غورځنګ ډېر وستایلو او د کوم شرط پرته یې د پیسو او مېړو مرستې کولو ژمنه وکړه. بن لادن دا وویل چې که دی د نړۍ والې ټولنې له خوا د امارت د رسمي پېژندلو په لار کې خنډ وي، حاضر دی له افغانستان نه ووځي. ملا

(c) ketabton.com: The Digital Library



رباني ورته وویل چې که دی په افغانستان کې وي نړۍ واله ټولنه به امارت په رسمي ډول ونه پېژني. د حیرانی ځای دی چې رباني د افغانستان ملي ګټې په پام کې نه نیسي، بیا هم ټینګار کوي چې بن لادن باید دلته واوسي.

بن لادن لا د مخه قوماندان حقاني د طالبانو په لور اړولی و او د نیوزویک د یوې لیکنې له مخې هم ملا محمد عمر د بن لادن په پیسو د احمدشاه مسعود ځینې قوماندانان له هغه نه ګرزولي او هغوی په حساس وخت کې د کابل دفاعي ځایونه خوشي کړي وو.۹۶۵

په کندهار کې د بن لادن، د هغه کورنۍ او د هغه ملیشاوو ته د اوسېدلو له پاره یوه لویه مانۍ ورکړل شوه خو دی کله هلته، کله په پکتیا او ننګرهار کې اوسېده. ده په کندهار کې د امارت له مشرانو سره هم هغسې چلند غوره کړ لکه په سوډان کې یې چې له ترابي او نورو سره غوره کړی و. د امارت خزانې ته یې څو ځله پیسې ورکړې او په کندهار کې یې د عامه ابادیو ژمنې وکړې. خو د هغه مدني چارې پیل نه شوې او د ودانیو چارې سرته ونه رسېدلې ځکه چې پانګې یې په بانکونو کې د امریکې په نوښت بندې شوې وې.

افغانستان ته د بن لادن سره د هغه ټولو هغو ملګرو کډه کړې وه چې په سوډان کې ورسره وو. ابو زبیده د پخوا په شان په حیات اباد کې د القاعدې دفتر چلاوه. که څه هم د بن لادن بانکي پانګې بندې وې، د خلیج د شتمنو نه پیسې ور رسېدلې. د مصر د اسلامي جماعت او اسلامي جهاد سرتیري د جلال اباد په چاپېر کمپونو کې چې شاید درونټه او توره بوره وي روزل کېدل. د سیاف تنظیم په کونړ کې لا هم د اسلامي نړۍ رضاکاران روزل او د هغه خالدان کمپ په سرحدي سیمې کې فعال و. لنډه دا چې ټولو اسلامي تنظیمونو د رباني د رژیم په ګډون د اسلامي نړۍ رضاکارانو ته یا پناه ورکړې وه او یا یې په کمپونو کې د ترهګرۍ له پاره اسانتیاوې برابرې کړې وې.

د روزنې کمپونه په ننګرهار، کونړ او په ځانګړې توګه د پکتیا په سرحدي پولو کې پراته وو. په پکتیا کې د خوست ختیځې ته د غره په ډډه کې په ژوره کې د البدر په نامه شپږ مرکزونه وو، چې په یوه وخت کې تر شپږو سوو جنګیالیو پورې په کې اوسېدلی شول او د القاعدې غړو د هغه نه کار اخېست.۹۶۶ په هر حال د البدر په شپږو مرکزونو کې سعودیان، یمنیان، فلپایینیان، ایغوریان، کردان، اردنان، تاجکان، ازبکان او نور شامل وو. خو پاکستانیان په کې دومره ډېر وو، چې ځایي خلکو هغه ته «پنجابي غونډ» وایه.

لیکوال ګونارتنا په نظر القاعده هغه وخت چې بن لادن په سوډان کې و، واقعي شوه خو برک وایي چې القاعده د ۱۹۹۶ تر ۲۰۰۱ کال کلونو کې موجوده وه او مرکز یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان ګرزېدلی و.۹۶۷ د القاعدې سروال د امیر په نامه یادیږي. تر هغه وروسته مشورتي مجلس دی، چې غړي یې هغه وخت ایمن ظواهري، البنشیري، ابو ایوب عراقي، ډاکټر فضل مصري او نور وو. د شورا لاندې د عمل کومیټې: پوځي، مالي، اداري، فتوا او د اسلامي څېړنو او تبلیغ دي. پوځي کومیټې د روزنې د مرکزونو او پوځي چارې پرمخ بیولې. د القاعدې د سر کسانو او کمیټو تړاو له هغو سرتېرو سره دی چې په نورو هېوادونو کې دي. القاعده د دغو کړیو له لارې د نړۍ په بیلو بیلو ځایو کې فعالیت کوي. دغه کړۍ سره جلا دي ځکه چې که یوه یې له منځه لاړه شي، بله یې زیانمنه نه شي. د هرې کړۍ غړي د درو نه تر پنځلسو پورې وي. د القاعده غړیتوب په خپله خوښه دی. غړي یې د روزنې په مرکزونو کې ډول ډول تخنیکونه، چلونه، د راز راز سپکو او درنو وسلو او د چاودېدونکو موادو د کارولو زده کړه کوي. مرکز د دغو کړیو نه غواړي چې په خپله نوښت وکړي، په خپل ځای کې پلان جوړ کړي. په مرکز کې په عمومي ډول او په خارج کې د هغه واکمن غړي کله کله د پلان د پلي کولو هوکړه ورکوي او لوژستیکي شیان او پیسې ورته برابروي. غټه نمونه یې د هامبورګ کړۍ وه چې د امریکې چاودنې یې واقعي کړې.

کاکړ وایي چې د دغه اسلامي سخت دریځي غورځنګ ریښې ټولنیزې، سیاسي او اقتصادي دي چې په مذهبي بڼه بیان شوې خو اصلي ټکی هدف ته د رسېدلو لار ده چې القاعدې غړو او د هغو په شان نورو غوره کړې ده. دغه د دغسې تشدد لاره ده چې ورباندې تګ وچ او لانده ټول سوزوي. تجربو ښودلې چې په دغې لارې باندې تګ له لومړنیو خونړیو بریو نه وروسته پوره ناکامي ده. ژوندی نمونه یې په مصر کې د سید قطب په پله روان د مصر هغه دوه سخت دریځي ډلګۍ- اسلامي جهاد او اسلامي جماعت دي چې په خپل ملک، مصر کې بې اغېزې شوې دي. د دغه واقعیت په نظر کې نیولو سره القاعده او د هغې په شان نور جنګیالي تنظیمونه به څنګه وکولی شي د ملي حکومتونو په وړاندې چې د دوی په انډول پرېمانه سرچینې او ځواکونه او د خپلو ملتونو ملاتړ لري په ترهګرۍ او د پټو تشدد ناکو لارو او کړو سره خپلو ټاکلو موخو ته ورسیږي؟ هو د دوی داسې کړه به قربانیان ولري خو هغه به حکومتونه او سیاسي نظامونه نه ، بلکې بېګناه عام خلک او د مدنیت څنې برخې وي.۹۶۸

افغانستان ته د بن لادن په ورتګ سره اسلامي جنګیالي هم په ډېر شمېر ورننوتل. د اسې ښکاري چې بن لادن کندهار ته د ورتګ نه وروسته د ۱۹۹۷ تر پایه پورې د رضاکارو په تنظیمولو او روزنې د کمپونو په ټینګولو کې تېر کړی وي. بن لادن د ۱۹۹۸ کال د فبروري په ۲۳مه د البدر په کمپ کې د ژورنالستانو په وړاندې د «صلیبیونو او یهودانو پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضد د علمي جبهې» جوړېدل اعلام کړل.

د ۱۹۹۸ کال د اګست په اوومه د کینیا مرکز نایروبي او د تانزنیا مرکز دارالسلام کې د څو دقیقو په توپیر سره د امریکې د سفارتونو په مخکې غټې چاودنې وشوې چې په هغو کې ۲۱۹ تنه افریقایان او دولس تنه امریکایان ووژل شول او تر څلور زرو نه ډېر کسان ټپیان شول. د دغو چاودونو دوه ګډونوالو په نیولو سره یقیني شوه چې دا د القاعدې کار و. د امریکا حکومت دیارلس ورځې د اګست په شلمه د عرب سمندرګي نه د البدر کمپ ۷۵ توماهاک راکټونه وویشتل، ترڅو بن لادن او د هغه ملګري د منځه یوسي.

## د امارت د مشرانو او د بن لادن اړیکې

د امارت د مشرانو اړیکې د بن لادن سره د عمومي ذهنیت پرخلاف لوړې ژورې درلودې. ملا محمد عمر د بن لادن له خوا د صلیبیانو او یهودو پر ضد د اسلامي علمي جبهې اعلامولو پارولی و. د همدغه کال په اپرېل کې افغانستان ته د یوه لوړ رتبه پلوي له ورتګ نه دوه میاشتې وروسته ملا محمد عمر په کندهار کې د سعودي عربستان د استخباراتو د سروال ترکي الفیصل سره په پټه ومنله چې بن لادن عربستان ته سپاري خو چې د عربستان او افغانستان د عالمانو یو پلاوی د هغه د ایستلو له پاره یو قانوني فارمول وباسي. د امارت مشرانو د جولایي په میاشت کې عربستان ته د خپلې ژمنې له مخې یو پلاوی ولېږه او د بن لادن د عربو ساتونکو پر ځای یې افغان ساتونکي وګومارل.۹۶۹ عربستان په دې اړه زر څه ونه کړل. د خوست د ویشتل کېدو نه درې اونۍ وروسته د کندهار په هوایي ډګر کې د عربستان دوه جټ الوتکې کوزې شوې. په یوې کې ترکي الفیصل او په بلې کې کوماندوګان وو چې بن لادن به د هغې موافقې له مخې عربستان ته بیایي، چه له ملا محمد عمر سره شوې وه. خو ملا محمد عمر د خوست د پېښې له امله له خپلې خبرې نه واوښت او فیصل تش لاس عربستان ته ستون شو. خو د دې سره سره د همدغه کال په دسمبر کې ملا محمد عمر د بن لادن نه د امریکا ضد ویناوو له امله نور هم خپه شو. بیا امارت وویل چې د بن لادن نه یې غوښتي دي چې خپل سیاسي او پوځي کړه بس کړي. دوی دا وویل چې د هغه سټالایټ ټلیفونونه یې بند کړي او یوه لس کسیزه ډله یې ګمارلې چې خوځېدنې یې وڅاري. له دغو خپګانونو سره سره ملا محمد عمر نه غوښتل چې بن لادن د ملک نه وباسي.

ملا محمد عمر په دغه بې ځایه فکر و چې «که زه بن لادن وشړم دا به زما پای وي»۹۷۰ خو واقعیت پرعکس شو او د ملا محمد عمر پای ځکه شو چې بن لادن یې ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شړلو. ملا محمد عمر یو ساده سړی وخوت او بن لادن تېر ایسته.۹۷۱ په پای کې محمد عمر په یوه پراري عرب باندې دومره ټینګ ودرېد چې خپل مقام، نظام، هېواد او د خپلو وطنوالو واکمني یې په خطر کې واچول.

بن لادن محمد عمر ډېر ستایه شاید په دې چې هیله یې کوله چې د سوډان د واکمنو په شان چلند ورسره ونه کړي. کاکړ وایي چې بن لادن د ۱۹۹۸ کال د سپتمبر په پنځلسمه نېټه خپل بیعت ملا محمد عمر ته استولی و. هسې امارت د القاعدې او نور ترهګرو ډلو د روزنې کمپونه ازاد پرې ایښي وو، هغو ته د وسلو د ترلاسه کولو مخه یې نه نیوله. د وسلو غټه سرچینه د ادم خېل درې د وسلو جوړولو شخصي کارخانې وې چې د بن لادن په پیسو اخېستل کېدې او د ای اس ای په موافقه په لاریو کې کمپونو ته وړل کېدلې.۹۷۲

په امارت باندې د طالبانو له خوا د کابل د نیولو وروسته نړۍ وال فشارونه وار په وار زیاتېدل چې وروسته به ورته راوګرځم.

## اسامه بن لادن د نړۍ والې کشالې زړی

له امارت سره د نړۍ والې ټولنې او په ځانګړې ډول د امریکې چلند دوې مرحلې لري. لومړۍ مرحله یې د کابل د نیولو د مخه او دوهمه مرحله یې د کابل د نیولو وروسته موده په غېږ کې نیسي. د کابل تر نیولو د مخه هغو هېوادونو چې په افغانستان کې یې ارامي غوښتله له امارت سره روغ نیتی لاره. د امریکې د حکومت روغ نیتی له دې امله و چې طالبانو په خپلو سیمو کې بې وسلې کول پیل کړل، خپلې مخالفې جنګي ډلې او تنظیمونه یې بې اثره کول او د کوکنارو په کرلو یې بندیز لګولی و. دا هیله ورو ورو پیاوړې کېده چې د طالبانو په پوره بري سره به په ټول افغانستان کې سوله خوندي شي او افغانستان به بیا ترانزیټي او لویه لار وي. ځنګه چې د شوروي اتحاد په ټوټه کېدو سره په منځنۍ اسیا کې خپلواک جمهوریتونه هسک شول هیله کېدله چې د کسپین د سیمو ګاز او تېلو نلونه به د افغانستان له لارې چې لنډه او اسانه لاره ده د بلوچستان ګوادر بندر ته وغزول شي.

د امریکا د یونیکال او د ارجنټاین د بریداس د تېلو کمپنیو د دغو نلونو د غزولو دپاره خپلې هڅې پیل کړې وې. که څه هم د دغې پروژې سره فېدرالې روسیې او ایران مخالفت درلود خو مهمه دا ده چې د افغانستان د امارت لویان هغې ته په اهمیت قایل نه وو.۹۷۳

د بروس ریچارډسن په اند په افغانستان کې د جګړې مهم لامل تېل او سیمه یزه لاسوهنه ده. په افغانستان کې اوږدمهاله بې ثباتي ایران او روسیې ته اجازه ورکوي چې د وړاندیز شوې د نل لیکې د غزولو له پاره خپلې بدیلې لارې راوړاندې کړي چې د دوی له

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیمو نه تیرېږي. د تېلو او ګازو پراخه زېرمې د صنعتي نړۍ اړتیاوې تر کلونو کلونو پورې بسیه کوي او بیه یې تریلیونو ډالرو ته رسیږي. د دغو زېرمو د راویستلو له پاره تر ۵۰ تریلیونو بهرنۍ پانګې اچونې ته اړتیا ده. د دې برسېره د دغو زېرمو د مالیې او ګمرکي تعروفو په بڼه نیول شوې ګټه لسګونو بیلیونو ډالرو ته رسیږي او هغو هېوادونو ته ورکول کیږي چې د نل لیکې په سر خبرې اترې په بریالیتوب سره سر ته ورسوي او نل لیکه یې له خاورې نه تیریږي. روسیه او ایران دواړه لېواله دي چې دا نل لیکې د دوی په کنټرول کې وي. ځکه دوی دواړه شمالي ټلوالې ته د مرستو له لارې جګړه پراخوي او د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه کوي.

د طالبانو له خوا د کابل له نیولو وروسته د امارت په اړه د نړۍ والې ټولنې او په ځانګړي ډول د امریکې د لومړۍ دورې روغ نیتی له منځه لاړ ځکه چې د منځنۍ اسیا د تېلو او ګاز پروژه، د ښځو موضوع، د امارت انحصاري نظام او په ځانګړي ډول د اسامه بن لادن او القاعدې تروریستي کړنو په دغه بدلون کې ټاکونکی رول ولوباوه.

د ارجنټاین د بریداس کمپنۍ لا په ۱۹۹۵ کال کې له پاکستان او ترکمنستان سره منلې وه چې د ترکمنستان نه د افغانستان له لارې د بلوچستان سوي (Sui) ته چې ۸۷۵ میله واټن کیږي یو نل وغزوي چې د هغه سره د ځایي غازونو نلونه لکه د شبرغان ونښلول شي. برهان الدین رباني د ۱۹۹۶ کال په فبروري کې د دېرشو کلونو له پاره یو توافق لیک لاسلیک کړ. خو د بریداس په وړاندې دامریکا د تېلو کمپنۍ یونیکال لا د مخه پر ضد فعالیت پیل کړی و. د ترکمنستان مشر سفر مراد نیازوف د ۱۹۹۵ کال په اکتوبر کې په نیویارک کې له یونیکال او د هغې شریکې د عربستان دلتا شرکت سره د همدغه نل د غزولو توافق لیک لاسلیک کړ او له بریداس نه له خپلې موافقې نه واوښت. دې پروجې د سیمې هېوادونه او داسې هم روسیه او امریکا سیالۍ ته راکش کړل او موضوع د اقتصاد او سودا ګرۍ له چوکاټه ووتله او سیاسي او کړکېچنه شوه. په پای کې یونیکال له بریداس نه میدان وګټاته که څه هم د بریداس شرطونه اسان او ښه وو. ملا محمد غوث د ۱۹۹۷ کال په نومبر کې د یونیکال په بلنه امریکا ته سفر وکړ او د امریکا د باندینیو چارو په وزات کې یې د چارواکو نه وغوښتل چې امارت په رسمي ډول وپېژني. داسې هم یونیکال په کندهار او امریکې کې د افغان کدرونو په روزلو پیل وکړ. کاکړ وایي چې که د امارت چارواکو د نلونو پروژه د وطن له پاره ګټوره ګڼلې او د خپل امارت د پېژندلو له پاره یې له هغې نه ګټه اخېستلای له یونیکال سره به یې د موافقې لار نیولې وای. طالبانو پرېکړه وکړه چې هغوی به د یونیکال/دلتا له کنسرسیوم سره تړون لاسلیک نه کړي. په اسلام اباد کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکا د سفارت یوه لوړپوړي چارواکي د طالبانو مرکچي پلاوي ته وویل چې «تاسو به یا زموږ د سرو زرو غالۍ منئ که نه د «غالیو تر بمونو» لاندې به مو ښخ کړو.»۹۷۴ ریچارډسن وایي چې «امریکایانو هغه وخت خبرې په ټپه ودرولې کله چې طالبانو د نل لیکې د غځېدا له پاره د بریداس کمپنۍ خوښه کړه. ډېر څارونکي په دې باور دي چې که طالبانو د یونیکال د سعودي عربستان له امریکايي کنسرسیوم سره تړون لاسلیک کړی وای امریکا به هېڅکله پر افغانستان نه وای رادانګلي.»۹۷۵ خو د تېلو او غازو دا پروژه د بن لادن او القاعدې په سر شنډه شوه چې افغانستان ته یې په ډېرو اړخونو کې ګټه رسوله او د هغې په پلي کېدو سره افغانستان ته په کال کې سل میلیونه ډالر په وړیا ډول ورکول کېدل.

د افغانستان له لارې نه د نل غزولو نه د امریکا موخه دا وه چې ایران ګوښه کړي؛ د طالبانو، ترکمنستان ملاتړ به وشي او د منځنۍ اسیا په هېوادونو کې به د روسیې مخه ونیوله شي، چې د خپل نفوذ سیمه یې ګڼي. خو امریکې نه شو کولی د ازبکستان له ملګرتیا پرته چې په منځنۍ اسیا کې تر نورو پیاوړی او لوی هېواد دی او د روسیې په وړاندې درېدلی هم شو، پرمختګ وکولی شي. نو امریکا د ازبکستان سره د ښو اړیکو په جوړولو پسې لټه کې شوه. ازبکستان هم غوښتل له امریکا سره نږدې او د روسیې نه لیرې شي. په دې توګه د احمد رشید په وینا دوه ډوله ائیتلافونه مخ په هسکېدو شول. د یوې خوا امریکا د ازبکستان او ازربایجان تر شا ودرېدله او اسرائیل، ترکیه او پاکستان یې هڅول چې هلته پانګونه وکړي. د بلې خوا روسیې قزاقستان، قرغزستان او تاجکستان په خپلې قبضې کې ونیول.۹۷۶ خو اصلي خبره دا وه چې د امارت چارواکو د بن لادن او القاعدې په سر د افغانستان د بې جوړې جغرافیوي موقعیت نه ګټه ونه کړای شوه او په پای کې افغانستان بایلونکی شو.

د ۱۹۹۷ کال په سپتمبر کې طالبانو مېرمن بونینو له څو باندینیو ژورنالستانو سره د عکس اخېستلو په سر بندي او زر خوشې کړه. بونینو چې د اروپایي اتحاد د خیریه موسسو مشره وه کابل ته د بشري مرستو په موخه تللې وه. طالبانو د دې پر ځای چې د هغې درناوی وکړي بندي کړه. د بونینو دغه بندیتوب اروپایان هک پک کړل او د امارت مخالفان ډېر کړل. دوه میاشتې وروسته د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې مېرمن البرایټ طالبان «د کرکې وړ» وبلل. په ۱۹۹۹ کال کې د ولسمشر مېرمنې هېلري کلینټن په یوه وینا کې څرګنده کړه چې«کله چې ښځې د تش په نامه مذهبي پولیسو له خوا په وحشي ډول ټکولې کېږي چې یا یې مخ نه دی پټ کړی یا د تګ په حال کې په جګ اواز غږېږي، موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېږو چې مقصد یوازې جسمي وهل نه دي، دا د دغو ښځو روحي وژل دي»۹۷۷ کاکړ وايي د دې سره سره به د دغو ټولو موضوع ګانو په سر به ټکر نه و پیدا شوی که بن لادن او القاعدې کمپونه په افغانستان کې نه وای.

د مخه مو یادونه وکړه چې د کابل تر نیولو پورې امریکا د طالبانو ملاتړ کاوه او طالبان یې د ثبات خوندي کولو له پاره مهم ګڼل. مېرمن رابن رافایل د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر مرستیالې د ۱۹۹۶ کال په می کې یاني د برهان الدین رباني په وخت کې څرګنده کړه چې «افغانستان د نشه يي موادو، جرم او ترور لار ګرزېدلی چې پاکستان او د منځنۍ اسیا هېوادونه ورانولی شي او له اروپا او روسیې نه اخوا اثر لري.»۹۷۸ دوه میاشتې وروسته له هغې چې طالبانو کابل نیولی وو مېرمن رافایل د ملګرو ملتو په یوې پټې غونډې کې چې د افغانستان په اړه جوړه شوې وه وویل: «چې طالبان د هېواد تر دوه درېیمې برخې نه ډېر په لاس کې لري؛ دوی افغانان دي، دوی ځایي دي، دوی د پاتې کېدلو قوت ښودلی. د هغوی د بري رښتینې سرچینه افغانان او په تېره پښتانه دي چې نه پای ته رسېدونکی جنګ او ګډوډي تر څه حده په سولې او مصؤنیت په حتمي ډول بدلوي حتی له سختو ټولنیزو بندیزونو سره». د خبرو په پای کې یې خپل نظر ووایه چې «دا نه د افغانستان او نه دلته د هېڅ چا په ګټه ده چې د طالبان دې ګوښه کړل شي».۹۷۹ د کابل له نیولو وروسته د امریکې د باندنیو چارو وزارت څرګنده کړې وه چې کابل ته د یوه مامور په استولو سره به له امارت سره ډیپلوماټیکې اړیکې ټینګې کړي.

د ۱۹۹۷ کال په می کې د طالبانو او د هغو د یوه متحد له خوا مزار ونیول شو. په مزار کې طالبان د ۱۹۹۷ کال په می کې په نابېره ډول مات شول. طالبانو د عبدالمالک په بلنه د مزار ښار ونیو. ناخبرو طالبانو د هغه تړون په خلاف چې مشرانو یې له عبدالمالک سره کړی و، د ده د ځواکونو په بې وسلې کولو پیل وکړ. عبدالمالک د نورو ډلو په تېره د حزب وحدت په ملګرتوب د طالبانو پر ضد عملیات وکړل. هلته «د پنځه زره بندي طالبانو له منځ نه د دوه نیم او درې زرو تر منځ وژل شوي وو.»۹۸۰ د بندیانو قصدي وژنه په نړیوالو قوانینو کې منع شوې او د بندیانو ډله یزه وژنه د انسانیت په وړاندې جرم اعلام شوی دی. دغه ډله یزه وژنه د پلان له مخې په ارادي ډول تر سره شوه چې ډېرو کسانو په کې لاس درلود، چې د هغې په اړه عبدالمالک تر ټولو زیات مالومات لري. بیا زر د طالبانو ډراماټیکه ماتې د طالبانو د ځواک په اړه چې ټول افغانستان به لاندې کړي شک پیدا شو که څه هم د مزار د نیولو په لومړیو ورځو کې پاکستان، عربستان او عربي امارتونو د افغانستان امارت په رسمي ډول وپېژانده. دا شک له یوې خوا د دې لامله پیدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو چې طالبان به د هېواد په شمال کې هغسې پرمختګ ونه شي کړی لکه د هندوکش په سوویل کې یې چې د پښتنو په ملاتړ وکړ د بلې خوا دا چې ګاونډیو هېوادونه ایران، ازبکستان او روسیه په شمال کې د طالبانو مخالفې ډلې د دوی په وړاندې پیاوړې کوي او غواړي چې شمال بې ثباته کړي تر څو د امریکې د نل پلانونه ناکام کړي. دغه وخت د افغانستان په چارو کې دخیل هېوادونه هېڅ یوه په یوازې ځان خپلې موخې سر ته رسولی نه شوې نو دوی د داسې فارمول په لټه کې شول چې په هغه سره د هر یوه ګټې لړ او ډېر په کې خوندي وي. له دې کبله د ۱۹۹۷ کال په مني کې د امریکې او روسیې په نوښت د شپږو جمع دوه فارمول وایستل شو چې د هغه له مخې د افغانستان چم ګاونډیو هېوادونه چین، تاجکستان، ازبکستان، ایران او پاکستان او داسې هم امریکا او روسیه به د ملګرو ملتونو تر څارنې لاندې په افغانستان کې د پراخ بنسټه حکومت تنظیمولو له پاره کوښښ وکړي.۹۸۱ دا پروژه ناکامه شوه ځکه چې د یوې خوا د حکومت جوړول د مغرضو ګاونډیانو او باندینیو کار نه دی بلکې په خپله د هېواد د خپلو خلکو کار دی او د بلې خوا ټولې خواوې په افغانستان کې د دې فارمول له مخې د حکومت جوړولو ته ربښتینې نه وې.

برسېره پر دې دا وخت د افریقا چاودنې او په خوست د توماهاک راکټونه ویشتل شوي وو. طالبانو د هېواد په نوي سلمې برخې واکمن شوي وو. د منځنۍ اسیا هېوادونه او روسیه تر پخوا نور هم اندېښمن شوي وو. دوی د روسیې په نوښت د چین په ګډون د طالبانو په وړاندې د شانګهای په نامه یو ډول ګډه جبهه جوړه کړه تر څو تش په نامه شمالي ټلواله ته مرستې زیاتې کړي. د ۱۹۹۸ کال په اکتوبر کې د قرغستان امنیتي قوتونو یو رېل ودروه چې په هغه کې ۱۶ واګونونه له اوه سوه ټنو وسلو او کرتوسو سره موندل شول. دغه ریل چې د وسلو نه ډک و د بشري مرستو په بڼه له ایران نه تاجکستان ته روان و.۹۸۲

خو د امارت کشاله د امریکا سره وه. د امریکې حکومت د افریقا د چاودونو نه وروسته د امارت نه د بن لادن د محکمې کولو له پاره سپارل وغوښتل. ملا محمد عمر دغې ته غاړه نه ایښوده. امریکې بیا د ۱۹۹۹ کال په فبروري کې د امارت له پاره وروستۍ نېټه وټاکله چې بن لادن وروسپاري یا دې د نه سپارلو پایلې ته سترګې په لاره وي. په۱۹۹۹کال کې د پاکستان ای اس ای او سي ای اې یوه نوې کوماندویي قوه د دې له پاره جوړه کړه چې بن لادن په افغانستان کې ونیسي یا یې ووژني. خو دغه پروژه د مشرف په کودتا سره وځنډول شوه.۹۸۳

د امریکې حکومت د بن لادن په سر د بې ګټو خبرو وروسته په امارت باندې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بندیزونو د لګولو په لټه کې شوه، بې له دې چې د هغه سره یې د خبرو ور تړلی وي. امریکا د ۱۹۹۹ کال د جولایي په ۶مه نېټه له امارت سره د سوداګرۍ او مالي معاملې بندې کړې او په امریکې کې یې د امارت پانګه قلفه کړه. هندوستان لا د مخه د افغان اریانا الوتکه هند ته نه پرېښوده. همدغه کال د اکتوبر په ۱۵مه د امریکې او د روسیې په نوښت د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له خوا لا پراخ بندیزونه وایستل شول او د نومبر په ۱۴مه ولګول شول. ملګرو ملتونو له خپلو غړو هېوادونو نه وغوښتل چې د طالبانو الوتکو ته دې په خپل ملک کې د ښکته کېدلو او پورته کېدلو اجازه ورنه کړي او پانګې او مالي سرچینې یې بندې کړي. د امنیت شورا د ۲۰۰۰ کال د دسمبر په ۱۹مه په امارت باندې پخواني بندیزونه په ټینګار سره تایید کړل او پر دې یې خواشیني څرګنده کړه چې «طالبان اسامه بن لادن ته لا هم پناه ورکوي او هغه او ملګري یې پرېږدي چې د طالبانو د کنترول لاندې سیمه کې د ترهګرو د روزلو کمپونه په کار واچوي او د افغانستان نه د یوې اډې په توګه د نړیوالې ترهګري عملونو د سپانسر کولو له پاره کار اخلي.»۹۸۴ د امارت چارواکو د ملګرو ملتو غوښتنو ته پام ونه کړ، نه یې بن لادن وسپاره نه یې د القاعدې د روزنې کمپونه وتړل.

د امریکې لویان په دې فکر وو چې د امارت لویان به د پاکستان په فشار سره بن لادن دوی ته وسپاري. د ۱۹۹۹ کال د جولایي په ۴مه د پاکستان صدراعظم نواز شریف امریکا ته سفر وکړ او ولسمشر کلینټن د خبرو په ترځ کې وویل: «هغه په وار وار د پاکستان مرسته غوښتلې چې بن لادن له افغانستان نه راوباسي چې عدالت پرې جاري شي. شریف زیاتره وعدې وکړي چې همدسې به کوي خو هېڅ یې نه دي کړي. پر څای یې ای اس ای له بن لادن سره د ترهګرۍ له پاره کار کړی دی.»۹۸۵ نواز شریف د همدغه کال د اکتوبر په لومړۍ اوونۍ کې د ای اس ای سروال کندهار ته ولېږه چې د ملا محمد عمر نه وغواړي چې بن لادن امریکا ته وسپاري او د بنسټ پالو د روزنې هغه کمپونه وتړي چې د افغانستان او پاکستان په سرحدي سیمو کې فعال وو. د اکتوبر په دولسمه جنرال مشرف کودتا وکړه او د نواز شریف ټول تجویزونه ټال شول.

د امریکې حکومت له بندیزونو سره سره د ۲۰۰۰ کال د جنوري په شلمه د سوویلي اسیا په چارو کې د باندینیو چارو د وزارت مرستیال کارل اندرفرت د پروېز مشرف سره د خبرو له پاره اسلام اباد ته واستوه چې هلته د افغان له سفیر او اطلاعاتو وزیر امیر خان متقي سره هم وغږېد. د خبرو موضوع د بن لادن سپارل او د امارت سره د اړیکو عادي کول و. په همدې میاشت کې د ملګرو ملتو سرمنشي کوفي حنان فرانسس د ملګرو ملتو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان په چارو کې د خپل ځانګړي استازي په توګه وټاکه. د مارچ په میاشت کې د امارت د باندینیو چارو وزیر وکیل احمد متوکل په جده کې د اسلامي کنفرانس موسسې په غونډه کې د خبرو له لارې د افغانستان د کشالې د هوارولو ملاتړ وکړ. د ۲۰۰۰ کال د دسمبر په ۲۷مه د شپږ او دوه استازي په واشنګټن کې سره جرګه شول. په دې ډول د افغان د کشالې د هوارولو او د بن لادن د ایستو هیلې پیاوړې شوې خو دغه هیله د امریکې د ولسمشرۍ ټاکنو په مهال ځای په ځای ودرېدله.

د ۲۰۰۱ کال په پیل سره د امریکې نوي حکومت د نوي ولسمشر جورج بوش په مشرۍ د منځنۍ اسیا د انرجۍ موضوع ټینګه ونیوله. دغه وخت مسکو او پیکنګ د نلونو د غزولو په اړه داسې موافقې کولې چې په هغو سره د منځنۍ اسیا د انرجۍ زېرمې یوازې د دوی په لاس کې لوېدلې. په دغه حال کې د افغانستان له لارې د نل غزول او د شپږ او دوه فارمول اهمیت پیدا کړ.

د ۲۰۰۱ کال د فبروري په ۱۲مه په ملګرو ملتو کې د امریکا استازي نانسي سوډر برګ څرګندنه کړه چې امریکا غواړي د ویندل په غوښتنې سره د «پوهاوي دوام» ته انکشاف ورکړي. دغو هڅو نتیجه ورنه کړه. بیا په انګلستان کې د یو شمېر هېوادونو استازو د ملګرو ملتو په مشرۍ غیر رسمي غونډه جوړه شوه. هلته دا نظر ومنل شو چې په افغانستان کې دې د پخواني پاچا محمد ظاهرشاه په مشرۍ یو ائیتلافي حکومت جوړ شي. نیاز نیک د پاکستان استازي او په پاریس کې د هغه سفیر څرګنده کړه چې د امریکې د پلاوي یوه غړي ویلي و چې که طالبانو خپل دریځ په تېره د بن لادن په اړه بدل نه کړ په وړاندې به یې پوځي ځواک وکارول شي. د دې دا مانا وه چې لوېدیځ نور طالبان «د تل له پاره ترک کول.»۹۸۶ خو پخوا له دې چې طالبان د تل له پاره ترک شي، په امریکا باندې داسې غټ تروریستي برید وشو چې خیال یې نه کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپږويشتم څپرکی

# کاکړ او طالبان

د طالبانو د واکمنۍ په اړه کاکړ کتاب ليکلی چې «طالبان او اسلامي بنسټ پالنه» نوميږي چې په هغه کې کاکړ افغانستان ته د خپل سفر کتنې، د امارت نظام او تشکيلات او د سياسي اسلام په چوکاټ کې اسلامي بنسټپالنې باندې اوږده رڼا اچولې ده. اسلامي بنسټ پالنه مې د مخه په پنځويشتم څپرکي کې اوږده بيان کړې او اوس به د طالبانو په اړه وغږېږم.

د مخه مو يادونه کړې وه چې په تنظيمي دوره کې هېواد په واقعيت کې په سيمو وېشل شوی و، که څه هم برهان الدين رباني، د ټول افغانستان تش په نامه سروال و. کاکړ وايي چې د هرې سيمې د ننه «د اسلامي تنظيمونو او قومي مليشاوو او د ملي اسلامي جنبش او د نظار شورا قوماندانانو او داسې هم ازادو قوماندانانو د خپلو ټوپکچيانو له لارې د خپلې خوښې حکومت چلوه. دوی ټول تر دې حده په خپل سر و، چې د اسلامي شرعيت، قانونونو او ټولنيزو مقاولو، او د رسم رواج پروا نه کوله، خو دا چې د هغو په نومونو د خپلې خوښې حکومت وکړي، شته ټول کړي او خپل جنسي هوسونه يخ کړي. په دغه وخت کې د دوی پر افغاني، اسلامي او انساني ميل باندې حيواني ميل غلبه کړې وه او د انسان په بڼه لېوان ډېر شوي وو. په ټول ملک کې سر، مال او ناموس خوندي نه و، وطن هم د شړېدو لور ته ورکش شوی و او د ملي حکومت د جوړولو د پاره ټول»

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوښښونه ناکام شوي وو. په پايله کې په ميليونونو بې دفاع او مظلومو افغانانو باندې د ناهيلی، خواشينۍ او بدبينۍ څپې خپرې وې. دوی ژغورونکي ته سترګې په لار وو.

په ۱۹۹۴ کال کې د طالبانو، ملايانو او مولويانو نه جوړې ديني ډلې له خوا د طالبانو د حرکت په نامه يو نظامي او سياسي غورځنګ د ملا محمد عمر په مشرۍ پيل شو. دغې ډلې خلکو نږدې ټول ملک ونيو. دوی ټول د کليو او بانډو خلک وو، چې هلته د ديني مدرسو طالبان، د ماجتونو امامان او د مدرسو چلوونکي وو. دوی د عصري پوهنې يا فني او مسلکي زده کړې نه وې کړې او دولتي تجربه يې هم نه درلوده.

## ملا محمد عمر

ملا محمد عمر په خټه هوتک او د کندهار د پنجوايي ولسوالۍ د نوده په کلي کې په زيات ګومان په ۱۹۵۹ کال کې زيږېدلی دی. دی يو پرهېزګاره او ساده سړی و. کاکړ وايي چې د ده د منظمو زده کړو په اړه يې مالومات نه شته، شايد دغسې زده کړې يې هېڅ نه وي کړې، څکه چې ليکل يې په زحمت کول. ملا عمر په ځوانۍ کې د مولوي محمد نبي په مشرۍ د اسلامي انقلاب په تنظيم کې د قوماندان فيض الله اخوند زاده د مرستيال په توګه د شوروي يرغلګرو پر ضد غزا کوله او خپله ښۍ سترګه يې په غزا کې د لاسه ورکړې وه.کاکړ وايي چې په دې ډول د محمد عمر شخصيت د ملي جهاد په دوره کې د مجاهدينو سره د هغه د ناستې ولاړې په پايله کې جوړ شوی او د ده د نړۍ ليد غټه برخه د باندنيو يرغلګرو په وړاندې د وطن او اسلام نه ساتنه جوړوي. په دې کې شک نه شته چې د انګرېزانو او شورويانو په يرغلونو سره په افغانانو کې د وطنپالنې او دين جذبه دواړه يو ډېر غټ خوځوونکی ځواک ګرزېدلی، خو ملا محمد عمر دا له ياده ايستلي، چې دی او ملګري يې د اسلامي تنظيمونو په وړاندې څکه پاڅېدل، چې د هغو او په ځانګړې ډول د هغو قوماندانانو او ټوپکچيانو له خوا اسلام دين ته نه، بلکې وطن او وطنوالانو ته خطر پېښ شوی وو. تر اسلام نه د مخه هم د دغه وطن اوسېدونکو د مقدوني لوی سکندر په وړاندې د خپل وطن نه د ساتنې په موخه په بلخ کې د بېسوس او سپېتامنز په سروالی او په کونړ او باجوړ کې اسپه زيو او اسواغانه وو دغسې مقاومت وکړ چې د اسيا په وچه کې بل قوم هغسې مقاومت کړی نه وو. دا ټول د دې اصل له مخې چې د يوه چا وطن د دودونو، ژبې، تاريخ او قوميت په ګډون د هغه د ډېرو ارزښتونو سرچينه ده.۹۸۷

ملا محمد عمر د ۱۹۹۴ کال د می د مياشتې په نهمه نېټه د کندهار د مېوند له سنګسار نه د طالبانو غورځنګ پيل کړ. د دې غورځنګ لومړنۍ څرګنده پېښه دا وه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ملا محمد عمر په مشري د چاپېرو مدرسو طالبان او ملایان په دې بریالي شول، چې محمد صالح قوماندان، چې د کندهار- هرات په لار کې یې له سروېس نه پردی ښځې په خپل زور د خپل ځانګړي مقصد له پاره ښکته کړې وې، له منځ نه یوسي او ښځې ازادې کړي. ملا محمد عمر وروسته لومړی سپین بولدک او بیا کندهار ونیو. د طالبانو له خوا بیا غزني، هرات او ننګرهار ونیول شول. د ۱۹۹۶ کال په سپتمبر کې یې کابل ونیو. بیا یې په شمال کې سیمې یو پر بل پسې لاندې کړې او تر ۲۰۰۰ کال پورې نږدې ټول افغانستان په خپله ولکه کې راووست. له پخوانیو زورواکو نه برهان الدین رباني په بدخشان او احمدشاه مسعود د تخار په بهاءالدین کې ګوښه کړل شول او نور یې یا ونیول شول، یا یې له طالبانو سره جوړه وکړه یا له وطن نه د باندې ووتل.

ملا محمد عمر د کابل د نیولو د مخه د طالبانو د غورځنګ مشر او بیا امیرالمومنین غوره شو او هېواد د افغانستان اسلامي امارت باندې یاد شو.

## د افغانستان اسلامي امارت

کاکړ وایي چې د امارت اداري نظام د نورو حکومتي نظامونو په شان د ټاکلو قوانینو په اساس تنظیم شوی نه و. خو بیا هم امارت یو ډول نظام و چې مشرانو یې هڅه کوله چې د خپلې خوښې سره هغه ته داسې بڼه ورکړي چې په عربستان کې د اسلام په اولې دورې کې جاري و.

د دغه نظام په سر کې ملا محمد عمر د امیرالمومنین په توګه د لوړو امتیازونو خاوند و. د ده تر څنګه د کندهار عالي شورا شتون درلود چې ټاکلي او ثابت غړي یې نه درلودل، منظمې غونډې یې نه درلودې او نه یې ټاکلی صلاحیت درلود. په اول کې یې لس غړي درلودل چې د امارت په پراخېدلو سره یې شمېر ډېرېده. څنګه چې دوی په جبهو کې د خپلو جنګي طالبانو قوماندانې کوله نو په غونډو کې د جګړو په وخت کې ونډه نه شوه اخېستی نو ځکه په کندهار کې یوه وړه کړۍ هسکه شوې چې د ملا محمد عمر د نږدې ملګرې نه جوړه وه. دغه کړۍ د امیرالمومنین په مشرۍ د امارت واقعي حکومت و.

د کابل شورا یا اجرائیوي قوه د امارت دوهمه درجه اداره وه چې د وزیرانو په نامه ۲۷ تنه غړي درلودل. د دوی اختیار محدود و او اړ وو د کندهار د شورا د مشورې سره سم خپلې پرېکړې وکړي. خو یوازې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت پراخ اختیارات درلودل او ډېر فعال و. کاکړ زیاتوي چې کابل د کندهار په شان یوه شپږ کسیزه د څارنې شورا درلوده چې ملا محمد رباني یې مشر یاني صدراعظم و، چې نرم او اعتدالي سیاست

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې چلاوه خو مرستيال يې ملا محمد حسن اخوند تر دې کچې سخت دريځه و چې بانديني مېرمنو ته يې د روغتيا دپاره لاس نه ورکاوه.

ستره محکمه د قضايي قوې په توګه مسلې د شرعيت په اساس هوارولې خو مدني چارې د داود خان د قانونو له مخې اجرا کېدې. د امارت د سر کسان انتصابي او ټول يې ملايان نږدې ټول يې سخت دريځه او نرم دريځه لږ وو. د نرم دريځو د لړوالي لامل دا ښودل کيږي چې هغوی په جنګي جبهو کې د ای اس ای د کسانو له خوا د شا له خوا لګېدلي او د منځه وړل شوي دي لکه ملا بورجان په څرخي پله، ملا مشر په کابل، ملا يارمحمد په غزني او ملا احسان الله په مزار کې له منځه يوړل شول. ځکه د امارت سياست وار په وار مذهبي کېده. په ۲۰۰۰ کال کې ملا محمد عمر څرګنده کړه چې اصلي «موضوع د اسلام ده. د اسلام او کفر تر منځ د قدرت مبارزه روانه ده.»۹۸۸ په دې توګه د ۲۰۰۰ کال د پيل نه طالبان د نوې ايډيالوژۍ نه په ژور ډول اغېزمن شول، چې بن لادن يې په افغانستان کې څرګند پلوي و.

## اميرالمومنين

کاکړ وايي چې ملا محمد عمر ته د اميرالمومنين لقب د ديني عالمانو له خوا ورکړل شو. څنګه چې دغه لقب ده ته د ملت يا د هغه استازو له خوا نه دی غوره شوی، له دې امله دغه مقام په قانوني لحاظ د ټولنې د سروال د پاره مشروعيت نه لري او د لاندې دليلونو له مخې بې ځايه غوره شوی دی.

لومړی دا چې په دغه لقب کې د جهاد مفهوم نغښتی دی. جهاد ډېرې ماناوې لري، چې يوه يې د کاپرو په وړاندې د مسلمانانو مقابله ده هغه هم په هغه حال کې چې هغو په اسلامي هېواد باندې وسله وال تېری کړی او د اسلامي هېواد سروال د غزا اعلام کړی وي. په افغانستان کې نه په ۱۹۹۹ کې د جهاد حالت و او نه اوس شته. کاکړ زياتوي چې امير د مومنانو امير ياني قوماندان وي نه دولتي سروال. په دې ډول د يوه هېواد سروال د اميرالمومنين په نامه يادول د هغه هېواد د قوماندان کچې ته ټيټوي. بل مهم ټکی دا دی چې اميرالمومنين د ځمکې په سر د ټولو مومنانو ياني د ټولو مسلمانانو امير کيږي، نه د يوه هېواد د مسلمانانو په داسې حال کې چې اوس د ملي دولتونو په عصر کې يو کس د ټولو مومنانو امير يا سروال نه شي کېدای. امارت تر پايه د ځان په اړه له ولس يا د هغه د استازو سره مشوره ونه کړه. ملا محمد عمر د اميرالمومنين په توګه د اسلامي شرع په چوکاټ کې د ننه ملت نه، بلکې خپل ځان «د قدرت لومړنی مرجع» ګڼلو. په دې ډول په

(c) ketabton.com: The Digital Library



امارت کې واکمني فردي شوه او د ملت نه د حاکميت حق واخېستل شو. فرمانونه د اسلامي شرع په اساس د اميرالمومنين ملا محمد عمر په لاسليک ايستل کېدل او د قانونو حيثيت درلود او په نظر کې د امارت د نظام تمثيل کولو.

کاکړ وايي چې د امارت لويانو وروسته له هغه د خپل نظام او ټولنې لا اسلامي کولو ته زور ورکړ چې نظام يې په رسمي ډول ونه پېژندل شو. د دې وروسته د امارت د سر کسانو په باندنيو سخت دريځو عالمانو باندې ډېره لګول وار په وار زيات شو. د دې حکم د تاييد له پاره د باميانو د بتانو ماتول ښه بېلګه کېدای شي. په ۱۹۹۸ کال کې چې طالبانو باميان ونيو، ملا محمد عمر ژمنه وکړه، چې امارت په دې ټينګ ولاړ دی چې د افغانستان تاريخي اثار د باميانو د بتانو په ګډون خوندي وساتي. خو د دغې ژمنې پر خلاف يې د ۲۰۰۱ کال په فبروري کې د هغو د نړولو فرمان راوېست او د مارچ په مياشت کې يې ونړولې.۹۸۹ کاکړ وايي چې دغه د باميانو د بتانو نړول او داسې هم د امارت چلند له وهابيت سره سر خوري، چې د اسلامي ټولنې د لومړۍ دورې له مخې د موجودې ټولنې د سوچه کولو غوښتونکي او د فکري ودې او سمونونو مخالف ياني ډېر سخت دريځه بنسټپال خوځښت دی.

دوی هڅه کوي چې نه يوازې ټولنه د اسلامي اخلاقو له مخې سوچه کړي، بلکې د خلکو پام اخرت ته هم واړوي او د مځکې په سر له واقعي ژوند نه يې لرې وساتي. د امارت د لويانو په اند د لومړۍ امي دورې ټولنيزې او حقوقي اړيکې تلپاتې دي او وده او بدلون نه مني او په خپله امه چې څورلس سوه کاله د مخه د ۲۳ کلونو په بهير کې تنظيمه شوې وه، د کمال پولې ته رسېدلې او د مځکې پر مخ په ټولو ځايونو او نورو کلتورونوکې صدق کوي.

## امارت په عمل کې

امارت د طالبانو او ملايانو په انحصار کې و که څه هم حکومت کول يې نه مسلک، نه تخصص او نه يې په کې تجربه درلوده. دوی نورو افغانانو ته نه په حکومت کولو کې برخه ورکوله او نه يې مشوره غوښته. مقامونه هم د وړتيا او کفايت له مخې نه، بلکې د باور او سيمه ييزو کتنو له مخې ورکول کېدل. د جګړو په وخت کې د امارت ځينې لويان د وزيرانو او د هغوی د مرستيالانو په ګډون په جبهو کې د خپلو جنګي طالبانو قوماندانې کوله او د ملا محمد عمر سره د سټالايټ د ټليفون له لارې اړيکې درلودې. د امارت د عايدونو سرچينې دا وې: لومړۍ د کرنې وړ اوبو مځکو نه د يوه جريب په سر پنځوس زره افغانۍ د ماليات په نامه ټولېدې. برسېره پر دې له حاصلاتو نه يې لسمه برخه د ذکات په نامه هم اخېستل کېده او د تر لاسه کولو له پاره يې يوه بېله اداره جوړه شوې وه. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



عایدونو بله سرچینه د ګمرک او خرڅلاو محصولونه دي چې له سوداګرو او هټیوالو نه ټولېده. د کوکنارو عاید هم په دې قلم کې راته. د عایدو بله سرچینه بن لادن او د خلیج نور نامالوم شتمن عرب وو چې کچه یې مالومه نه وه. د عایدونو غټه برخه په جنګ لګېده او د هېواد د ابادولو له پاره عایدونه لږ وو.

د امارت په دوره کې هم خلک په راز راز ستونزو اخته وو. د ستونزو غټه سرچینه وزګاري او د خلکو د عایدو لږوالی و. امارت خلکو ته د کار په پیدا کولو کې پوره ناکام و، خود امارت په قلمرو کې امنیت ټینګ او د خلکو سر، مال او ناموس خوندي وو. خو څنګه چې امارت د خلکو د اړتیاوو د پوره کولو دپاره شونتیاوې برابرولی نه شوې، د قانون ماتوونکو ته یې سختې جزاګانې ورکولې، نو دغه امنیت او د قانونونو دغه مراعات واقعي نه، بلکې د زور او سختې جزا پایله وه. همدارنګه د وطن تعلیم کړي کسان د وطن نه باندې تلو ته اړ کېدل.

د بتانو نړول په اصل کې د پاکستان د حکومت او په ځانګړې توګه د ای اس ای کار و. دوی غوارې افغاني هویت او هغه مادي اثار چې تاریخي هویت یې تمثیلوي، له منځه یوسي تر څو افغانان بې هویته کړي یا یې هویت تر دې کچې کمزوری کړي چې خپل ملي شخصیت له لاسه ورکړي. د ای اس ای اغېزمنو کسانو د افغانستان ډېرې ورې بودایي مجسمې په راز راز ذریعو تر لاسه کړې، ویې پلورلې او ځانونه یې شتمن کړل. خو بیا یې اوازې خپرې کړې چې طالبانو ماتې کړې دي. د بامیان لویې مجسمې یې په خپله د امارت په لاس ماتې کړې.

د امارت مامورین «د اسلامي شرع په نامه، چې په اصل کې له نن نه څورلس سوه کلونو د مخه عربستان قوانین وو، په دوی [افغانانو] باندې» تپل کېږي.۹۹۰

کاکړ وایي چې د نارینه وو تورې یا سپینېږیرې په مخونو پورې نښتې او له زنو نه ځوړندې وې، خو دغه ږیرې د ږیرې والاوو په واک کې نه وې. د طالبانو په وخت کې «ږیرې دولتې » او سپېڅلې شوې او د ږیرو په برخه کې د خیالي سوسیالیزم د برابرۍ اصل په کړو کې پلی شوی و. کاکړ لیکي چې «طالبان به په دې خبر نه وي چې په روسیه کې د لوی پېټر په وخت کې چا چې ږیره پرېښوده، مجبور و حکومت ته محصول ورکړي. ږیرې پېژندونکي محترم محمد علم خان لوګري ته به اوس غټ مصروفیت پیدا شوی وي چې له ږیرې نه د ږیرور ولایت مالوم کړي.»۹۹۱ طالبان دنده لري چې دغه مساوات د اسلامي شرع په نامه په ځواک سره پلی کړي. «دوی ته ږیرې د افغانانو تر حیثیت نه ډېرې ارزښتناکې دي.»۹۹۲ کاکړ وایي چې په کابل کې «د امر بالمعروف یوه طالب له ما سره نرمه رویه وکړه. په وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکبر خان مېنه کې د يوه سړک تر څنګ ولاړ وم، چې يوه نري جګ ځوان وپوښتلم، چې د کوم ځای يې؟ ما خيال وکړ، چې دی د اطراف دی او مرستې ته اړه لري. نو مې وپوښته چې «ته د کوم ځای يې؟» ويې ويل:«د لغمان». ما کړه چې «زه هم د لغمان يم» بيا يې وپوښتلم چې «دا ږيره دې ولې لنډه ده؟» پوه شوم چې دی کوم موظف طالب دی، نو مې وپوښته چې «ځو کلن به يې؟» ويې ويل چې «د اتو ويشتو» بيا مې وپوښته چې تحصيل د کړی؟» ويې ويل «هو، د مدرسې» بيا مې ورته کړه چې «ښه، ايا تا ته مناسبه ده چې له ما نه چې تر تا ډېر مشر يم او تا غوندې ډېرو ځوانانو ته مې په پوهنتون کې درس ورکړی دغسې پوښتنه وکړې؟ ايا دا سپکاوی نه دی؟» هغه بيا په ډاګه کړه چې د امر بالمعروف د طالب په حيث دی دغه وظيفه په غاړه لري. وروسته مې هغه رسمي ليک وروښود، چې په اسلام اباد کې مې د امارت له سفير الحاج ملا عبدالسلام ضعيف نه تر لاسه کړی و. «د دې ليک په ذريعه محترم حسن کاکړ چې په بهر کې اوسېده اوس غواړي خپل ګران هېواد افغانستان ته ولاړ شي درمعرفي کيږي. موږ نوموړي ته توصيه کړې چې خپله ږيره د شريعت مطابق کړي. فعلاً به ورسره همکاري وکړئ».۹۹۳

داسې هم د امر بالمعروف طالبان موظف دي بالغ نارينه ګان د لمانځه په وخت کې په جمع سره لمونځ کولو ته رهبري کړي.

د کابل په ښار کې اوس ښځې ډېرې نه ليدل کيږي. هغه لږ شمېر ښځې چې ښار ته وځي په چادري کې پټې وي. په دې توګه د ښار بڼه د انساني شکل له مخې اوښتې وه. په افغانستان کې لومړی ځل د پاچا امان الله خان په وخت کې ښځې مخ لوڅې شوې او بيا د محمد داود د صدارت په مهال ښځې مخ لوڅې شوې خو مخ لوڅي په خپله خوښه وه. په دې توګه د داود خان په وخت کې مخ لوڅي ورو ورو عام شوه او ښځې د نارينه وو غوندې په ټولنيز او سياسي ډګر کې ننوتلې. د ثور د پاڅون نه وروسته د کابل په ښار کې ښځې تر هر بل وخت نه ډېرې ليدل کېدې. خو د طالبانو په وخت کې ښځو د کور نه د باندې کار او زده کړه کولی نه شوه. په دې توګه ښځې د طالبانو په وخت کې د ټولو بشري حقوقو نه بې برخې وې.

په کابل کې د عصري پوهنې ياني د عصري زده کړې په مرکزونو کې د متخصصو استادانو له خوا د سيانسي او ټولنيزو علومو، ټکنالوجی، فلسفې، هنر او ادبياتو تدريس حال هم خراب شوی و. د دغه حال يو لامل دا دی چې ديني مدرسو ته تر عصري پوهنې ډېر پام کيږي. د پوهنې ننداره او ټلويزيون هم نشته، موسيقي خو مطلقه بنده وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د طالبانو د مشر انو سره د کاکړ خبرې

کاکړ لومړی په اسلام اباد کې د افغانستان د امارت د سفیر له مولوي عبدالسلام ضعیف سره لیدلي او خپل تاثر داسې بیانوي: ضعیف ښه څرګند ګړیږي او خبرو ته ښه غوږ نیسي. خبرې یې په نرمه ژبه د ټینګ دریځو دي. په خبرو کې یې «کفري نړۍ» ډېره ویله. د ده په فکر نړۍ د کفر او اسلام تر منځ وېشل شوې ده.

سفیر وویل چې اسلام مکمل شوی دین دی او په قران مجید کې د هر څه په اړه قوانین شته، نو ځکه د ده په اند اسلامي امارت نړیوالو قوانینو ته اړتیا نه لري او که امارت دغه قوانین او منشورونه ومني، مانا به یې دا وي چې موږ د پاکستان په شان له اسلام نه اوښتي یو او نور قوانین مو په اسلامي قوانینو باندې لوړ ګڼلي دي. کاکړ وایي چې سفیر دا هم وویل چې اسلامي هېوادونه باید د ملګرو ملتو په وړاندې د اسلام ننګه وکړي. دغه ښاغلي د ملګرو ملتو د امنیت شورا د بندیزونو په اړه بې توپیري وښودله. خو نوموړي د کاکړ د دغه فکر په برابر کې چې امارت ته ښایي هغو افغانانو ته چې په لوېدیځ کې دي خپله غېږه پرانیزي، مثبت غبرګون وښود.

په کندهار کې ښاغلي ثاقب د سترې محکمې سروال هم په خپلو خبرو کې کفري نړې ډېره یادوله او داسې یې ښودله چې نړۍ ګواکې په اسلامي او کفري برخو وېشل کیږي. کاکړ وایي چې دغه وېش اوس بې ځایه او د کفر کلیمه بې ځایه کارول کیږي. که د کفر له کلیمې نه مقصد بې ایماني او یا بې دیني وي، عیسویان او یهودان په کې نه راځي، ځکه چې د دوی دینونه هم د اسلام په شان په وحدانیت ولاړ دي. که د کفر نه مراد د رښتیا پټول وي نو د رښتیا پټول د هر دین په پیروانو کې شته. بل ټکی دا دی چې په عیسوي هېوادونو کې دین په عمل او نظر کې له دولت نه بیل دی. دوی په دې نه پوهیږي چې د دغو کلیمو په کارولو سره په افغانانو کې د نورو دینونو د پیروانو په وړاندې کرکه پیدا کیږي په داسې حال کې چې په اوسنۍ نړۍ کې ولسونه په زیاتېدونکي ډول یو او بل ته اړ او سره نږدې کیږي.

ثاقب د ژبو په اړه وغږېد او ده عربي تر نورو ژبو لوړه ګڼله خو کاکړ د ژبو په اړه خپل نظر داسې وړاندې کړی و. ژبې په اساس کې د ځان د افادې او د نورو د پوهاوي وسیلې دي، ټولې ژبې انسانانو ایستلې او هېڅ یوه د بلې نه بهتره نه ده. هر څوک په خپله مورنۍ ژبه کې مطلب په کره ډول څرګندولی شي او هم نور په خپل مقصد ښه پوهولی شي. پخوانیو حکومتونو په عمومي توګه پښتو ته خدمت نه دی کړی او اوس باید پښتانه په تېره پوهان او لیکوالان د پښتو د پاره ډېر کار وکړي.

کاکړ وایي چې د ده د سفر غټ ټکی دا و چې د امارت ځینو لویانو ته وړاندیزونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي. لومړی وړاندیز یې دا و چې نړیواله ټولنه به په ټېره د بامیانو د بتانو د ړنګولو نه وروسته امارت په رسمي ډول ونه پېژني او شاید د هغه د نسکورولو یا لږ تر لږه د هغه د ناتوان کولو دپاره په ځینو ځانګړو کړو لاس پورې کړي. د بېلګې په ډول د اروپایي ټولنې له خوا د قوماندان احمدشاه مسعود بلل او هغه ته د روسیې او ایران له خوا د وسلو په استولو کې زیاتوالی راوستل او د روم او قبرس او بن ته د منسوبو ډلو تجویز شوې غونډې جوړېدل په خپلو کې د مخالفت سره سره د امارت پر ضد ایتلاف غواړي او په هغې کې د ایټالیې، جرمني، امریکې او ایران د حکومتونو کتونکي هم په کې ګډون کوي. د دغو فشارونو وړاندې امارت ته ښایي چې دغسې یو څه وکړي، چې دغه فشارونه بې اغېزې کړي. امارت دې په اداري طرز کې ځینې کېدونکي بدلونونه راولي او د ملت استازي دې په حکومت کې شریک کړي. د لوېدیځو هېوادونو نه د تعلیم کړو افغانانو نه د هېواد په ابادولو کې کار واخېستل شي. د ریړې، موسیقي او ستر په اړه هم ورسره غږېدلی و.۹۹۴ خو دغو ښاغلو د مسعود د سفر او د نړیوالې ټولنې د فشارونو نه اندېښنه ښکاره نه کړه. اضطراري لویه جرګه یې هم رد کړه. کاکړ ورته ویلي و چې د نړۍ نه د افغانستان ګوښه کېدل به افغانستان ته ډېر ګران تمام شي. د امریکا سره اړیکې ښه کول د افغانستان په ګټه دي. د امریکې حکومت د بن لادن د موضوع نه پرته د افغانستان سره اساسي اختلاف نه لري.۹۹۵ د دغې موضوع په حل او د امارت په چلند د عمومي نرموالي په راوستلو سره به د هغه او د دوی تر منځ پوهاوی او روغ نیتي راشي. د امریکې په اړه کاکړ دا هم ورته ویلي و چې له هغې سره دوستي کول د افغانستان په ګټه او مخالفت ورسره کول د افغانستان په زیان تمامیږي. امریکا د افغانستان نه لیرې پرته ده او د افغانستان خاورې ته تمه نه لري. د هغې په مرستې سره وران شوی افغانستان ابادېدلی شي او بدنیته ګاونډي حکومتونه به له افغانستان سره له احتیاط نه کار واخلي.

کاکړ دا هم ورته ویلي و چې په افغانستان کې هېڅ افغان د بتانو عبادت نه کاوه، په ټول وطن کې یو بودایي نه شته. دا بتان اوس یوازې زموږ د تېر مدنیت ښکارندوی او د ټول ملت مال و.

## د امریکې چاودنې او د امارت پای

د ۲۰۰۱ کال د سپتمر د میاشتې په یولسمه نېټه نولس ترهګرو چې پنځلس یې د سعودي عربستان تبعه وو په نیوېارک کې د نړۍ وال سوداګریز مرکز دوه غبرګونې جګې ماڼۍ او په واشنګټن کې د ملي دفاع وزارت په ماڼۍباندې درې مسافر وړونکې الوتکې، چې تښتولې وې، ووهلې. څلورمه الوتکه چې شاید موخه یې د سپینې ماڼۍ وهل و، پخوا له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې خپلې موخې ته ورسیږي د سپړلیو د مقاومت له امله د پنسلوانیا ښار ته نږدې راولوېده. په نیویارک کې هغو دنګو غبرګو ماڼیو د الوتکو په جنګولو سره رانسکورې شوې او په دغې بې سارې تروریستي پېښه کې څه باندې درې زره امریکایي ملکي کسان ووژل شول چې د نړۍ اویا ملتونو ته منسوب وو.

د امریکې ولسمشر جورج بوش د دغې ورځې په ماښام د امریکې خلکو ته په خپله وینا کې څرګنده کړه: «موږ به د هغو تروریستانو چې دغه عملونه یې کړي او د هغو تر منځ چې پناه یې ورکړې توپیر ونه کړو.» بوش بله ورځ ژورنالستانو ته څرګنده کړه چې زموږ د هېواد په وړاندې پرونۍ کړنې «د ترهګرۍ له کړو نه ډېر وو. هغه د جنګ عملونه وو.» ده زیاته کړه چې «د امریکې متحد دولتونه به د دغه دښمن د لاندې کولو له پاره له خپلو ټولو منابعو نه کار واخلي.»۹۹۶

د امریکې کانګرس د سپتمبر په ۱۴مه ولسمشر ته دغه واک ورکړ چې د هغو ملتونو، موسسو، یا کسانو پر ضد له ټول اړین او مناسب زور نه کار واخلي چې د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر یولسم برید پلان یې ایستلی، اجازه یې ورکړې یا یې پناه ورکړې ده. کانګرس د دغه کار له پاره څلوېښت میلیارده ډالر ځانګړي کړل. د امریکا خلکو د ولسمشر نه غوښ ځواب غوښته. ولسمشر جورج بوش د سپتمبر په شلمه د امارت چارواکو ته التیماتوم ورکړ چې دوی دې د امریکې چارواکو ته د القاعدې ټول هغه مشران وسپاري چې ستاسې په هېواد کې دي... سمله لاسه به د تل له پاره په افغانستان کې د ترهګرو د روزنې کمپونه وتړي. طالبان باید سمله لاسه لاس په کار شي.

د امریکې سره د ترورستانو په وړاندې د ملاتړ په موخه د ملګرو ملتو د امنیت شورا د پېښې په سبا له ټولو دولتونو وغوښتل چې په بیړه سره لاس په کار شي چې د دغو وروستیو بریدونو سپانسر کوونکي، تنظیم کوونکي او عملي کوونکي محاکمې ته وړاندې شي. ناټو په هغه ماښام کې له امریکې سره د تروریزم په وړاندې د مرستې کولو له پاره خپل تیاری وښود. د انګلستان لومړي وزیر توني بلېر د امریکې سره په دغه کار کې د پوځي مرستې اعلام وکړ او د طالبانو نه یې وغوښتل چې بن لادن وسپاري یا به هرو مرو د جګړې سره مخامخ شي. په دې ډول د امریکې په مشرۍ د لوېدیځې نړۍ له خوا په داسې حال کې چې ملګري ملتونه او د ناټو ملاتړ ورسره وو د بن لادن او القاعدې په سر د افغانستان د اسلامي اتحاد په وړاندې ائیتلاف جوړ شو.

خو د امریکې د التیماتوم په وړاندې د ملا محمد عمر ځوابونو نه داسې ښکارېده چې هغه دا التیماتوم مهم نه ګاڼه او د پایلوپه اهمیت یې سر نه خلاصېده. د دغه التیماتوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه څلور ورځې وروسته د سپتمبر په ۲۴مه ملا محمد عمر د بي بي سي سره په مرکه کې وویل چې «که امریکا وغواړي ترور او وېرول ختم شي باید د خلیج نه خپلې قوې وباسي او په فلسطین کې بې طرفي غوره کړي». بله ورځ یې وویل چې «که د امریکې حکومت د عقل اواز ته غوږ ونه نیوه او خپلې قوې یې د خلیج نه ونه ایستلې د تروریستي عمل ټول مسؤلیتونه به د هغه د مشري په غاړه وي».۹۹۷ ملا محمد عمر داسې کار وکړو چې هغه د پښتو متل را په یادوي چې ګونګټې په پچه وختلو او کشمیر یې لیدو. د امارت مشران د دې موضوع په اړه ټول په یوه خوله نه وو. وکیل احمد متوکل له ملا محمد عمر نه په ټینګه وغوښتل چې بن لادن امریکې ته وسپاري او که نه هغه به «د وژنې او بربادۍ سبب وګرزي». ملا عبدالسلام ضعیف د سپتمبر په پنځلسمه ګوتځندنه وکړه چې «که ګاونډیو یا د سیمو هېوادونو په تېره اسلامي هېوادونو د امریکې غوښتنې ته د نظامي هډو له پاره د هوکې ځواب ورکړ فوق العاده حالت به رامنځ ته شي او موږ به په دغسو هېوادونو باندې برید وکړو او سیمې به یې ونیسو».۹۹۸

په دې توګه ملا محمد عمر او سخت دریځو ملګرو یې د وطن د ملي ګټو په وړاندې د خپل وطن نه شړل شوي عرب ته ډېر ارزښت ورکړ. خو د سوډان واکمنو بن لادن د خپلو ملي ګټو د ساتلو په موخه د سوډان نه وشړلو. مشرف د پاکستان د ملي ګټو له پاره د امارت نه لاس واخېست او دا یې په ډاګه کړه چې «د پاکستان د ګټو نه بل څه لوړ نه دي» او «شرایط اوړي رااوړي خو ملي ګټې پر ځای وي،»۹۹۹ خو امارت ملي ګټو ته شا کړه او امارت په دغه ډول په ټوله نړۍ کې یوازې پاتې شو.

امارت د امریکې په سوزوونکو هوایي بمباریو سره چې د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر په اوومه پیل شوې د همغه کال په نومبر کې له منځه یووړل شو او د کاکړ په وینا په دغه ډول ملا محمد عمر هغسې چې په موټر سایکل سره واک نیولی و هماغسې یې په موټر سایکل سره واک پرېښود.۱۰۰۰ ملا عبدالسلام ضعیف هم د دې پر ځای چې د نورو هېوادو سیمې ونیسي د پاکستان واکمنو د خپلو ملي ګټو له پاره امریکایانو ته لاس تړلی وسپاره او ګوانتامو ته روان کړای شو.

## پایلیک

د افغانانو تاریخ د چم ګاونډیو د تاریخ په پرتله ډېر پېښناک او توپاني دی. په افغانستان کې د شلمې پېړۍ په بهیر کې له یوه اساسي قانون (۱۹۳۳) نه پرته چې پر ځای یې یو بل قانون (۱۹۶۴) غوره شو نور شپږ یې ټول په زور او تشدد له منځه وړل شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي. خو اساسي قانون د یوې ټولنې د نظام تمثیل کوي د هغه د منځه وړل ښيي، په دغه دوِل په افغانستان کې اوه یا اته دوله نظامونه په پښو درول شوي او بیا نسکور شوي دي. د دې نه ښکاري چې افغانان د قانون او قانوني ژوند پروا نه کوي. دولتي چارواکي چې یوه دنده یې د قانون پلي کول دي په خپله یې ماتوي. په افغانانو کې دغه میل پیاوړی دی چې تر قانون او ان د دولتي نظام نه د زورورو کسانو درناوی ډېر کیږي. د شوروي د یرغل په وړاندې د افغانانو دفاعي جګړه نړدې ټولو افغانانو، په اسلامي او لوېدیځې نړۍ کې نړدې ټولو خلکو او حکومتونو مشروع بلله. د شوروي چارواکو خپل تېری او جګړه هم مشروع بلله. په دغه دوِل دواړو خواوو د افغانانو په خاورې کې د انسانانو وژل روا وبلل چې په هغه کې لږ او ډېر یو نیم میلیون افغانان ووژل شول. په دغه نږدې لس [شل] کلن جنګ په پایله کې د انسان ژوند نور هم غیر مهم شو. د افغانانو کلتور چې د مخه نظامي و په دغه جنګ سره نور هم نظامي او نور هم مذهبي شو. په افغانستان کې سرزورو اسلامي تنظیمونو نه یوازې حکومت خپل ځان ته منحصر کړ بلکې د واک پر سر یې په خپلو منځو کې د جګړې او افغان وژنې یو بل دور پیل کړ چې په هغه سره یې د وطنوالو سر، مال، ناموس او د وطن بشپړتیا په خطر کې واچول. افغانانو هغه نوم، حیثیت او لوړ ځای چې د ملي غزا له برکته ګټلی وو، دغو سرزورو اسلامي تنظیمونو هغه پرمځکه وواهه. د ملایانو په پنځه کلنه دوره کې په دغه ورانوونکي فکر تر پخوا لا ډېر ټینګ عمل وشو چې حکومت به یوازې زورمنان کوي که څه هم په حکومت کولو به هېڅ نه پوهیږي. په دغې دورې کې د جنګ قانون حاکم شو او د افغانستان حیثیت نور هم په مځکه ووهل شو. که څه هم افغانان هېڅکله د خپل کړکېچن تاریخ په اوږدو کې د ترهګرۍ د لېږد ملاتړ نه دی کړی، ان له شوروي د لس کلنې وحشي جګړې په اوږدو کې چې همدغسې شونتیا او برحقه توجیه درلودله بیا یې هم ترهګري ته ملا ونه تړله. خو د طالبانو سیاست له امله و چې د افغانستان نوم له تروریزم سره یو ځای اخېستل کېده. د طالبانو لویه تېروتنه دا وه چې د هرات د نیولو نه وروسته یي پرېکړه وکړه چې یوازې دوی به حکومت کوي. دوی هم د سرزورو تنظیمونو د مشرانو او د پرچمي او خلقي لویانو او محمد داود په شان د دولتي واک لېوالان وو.

د نړۍ له ټولنو نه هغه بریالۍ او پرمخ لاړې چې دولتي واک یې د اساسي قانون له مخې په اجرایه، مقننه او قضایه څانګو وېشلی، دولتي لوړو څوکیو ته رسېدل د ټاکنو له لارې غوره کړل، چارواکي غوره کوونکو ته مسؤل ګرزول او افرادو ته داسې حقونه او قانوني ازادۍ منلې چې په هغو سره د خپلو ځانونو او په پای کې د ټولنې د ښېګڼو له پاره کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي. په افغانستان کې د امارت د نسکورېدلو وروسته دغسې یو اساسي قانون ایستلی چې په ملي ژوند به ښه اغېز وکړي خو چې چارواکي یې پلی او خلک یې درناوی وکړي. کاکړ زیاتوي چې د هغه په پلي کولو او د دولتي چارواکو په غوره کولو کې د وړتیا د اصل له مخې دغه شونتیاوې وار په وار ډېرېدلی شي چې قانون او موسسې ببخ ونیسي، د کودتا ګانو او جنګونو مخه ونیوله شي او امنیت او ملي پېوستون ټینګ شي. یوازې په دغسې حال کې خلک په ډاډه زړه کولی شي د مدني، صناعتي او کرنیز او داسې هم د پوهې، سیانس او تکنالوژي او د هنر او کلتور په لور په پراخ ډول مخه وکړي او وطن ودان او ژوند شتمن او ارزښتناک کړي.۱۰۰۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهم ټوک

## کاکړ او نور موضوعات

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اوويشتم څپرکی

# کاکړ او پښتو ژبه

کاکړ د پښتو په اړه دوې څېړنيزې مقالې چې يوه يې «په معاصر افغانستان کې پښتو او د هغې په هکله يو څو خبرې» او بله يې «پښتنو ته اوس حتمي شوې چې خپله پښتو او هويت وساتي» ليکلې دي او په خپلو تاريخي ليکنو کې هم يو نيم ځای د پښتو ژبې موضوع ته اشاره کړې ده. همدارنګه مې د انورالحق احدي يوه مقاله چې «د ملي ټولنې د جوړېدو اساسات» نوميږي په دې ليکنه کې هم ګټه ورنه اخيستې ده. زه هڅه کوم چې د دوی نظريې د پښتو ژبې په اړه لوستونکو ته وړاندې کړم چې د پښتو ژبې د راتلونکې ودې او په ځانګړې توګه د خپلې مورنۍ ژبې اهميت ته د پښتنو پام اړولو له پاره ډېرې مهمې دي.

کاکړ ليکي: «پښتانه به هغه وخت د لومړي ځل له پاره څرګند شوي وي، چې اريايان ډلې ډلې شول او د خپل اصلي ټاټوبي نه ولېږدېدل. اريايان د نن نه شپږ زره کاله د مخه په يوه ژبه ګړېدل، چې هيڅ څرک يې نه دی ليدل شوی، خو وروستيو د اريک په نامه ياده کړې ده.»١٠٠٢ اريايان چې سره ډلې ډلې او بيل شول، ژبې يې هم ډېرې او بيلې شوې.

د اريايي ژبو نامتو ژبپوه مارګن سټرن وايي چې« پښتو په اصل کې د اريايي د هغې شمال ختيځې ژبنۍ ډلې يوه برخه ده، چې د پاميري ژبې او د سرخ کوتل د ډبرينې ليکنې بخدي ژبې د هغې اوسنی تمثيل کوونکې دي.»١٠٠٣

د کاکړ په وينا داسې ښکاري چې د پښتو لومړي جوړونکي ساکا وي، ځکه چې پښتو هغومره چې د ساکي ژبې سره نږدې ده، له بلې ژبې سره دومره نږدې نه ده. د اريايي ژبو نامتو کارپوه جورج مارګن سټرن لا وايي چې «... پښتو بې له دې چې له ساکي ژبې سره وتړله شي بل کېدون نه لري.»١٠٠٤ کاکړ وايي چې که ساکي ژبه پاتې وای په دې اړه به څرګند حکم شوی وی خو د نالوستو او پوونده ساکاوو ژبه نه ده راپاتې. راپاتې کليمې يې هم د ګوتو په شمار دي. دوه يې هغه دي، چې اوس هم په پښتو کې هغسې ويل کيږي، چې دوه نيم زره کاله د مخه په ساکاوو کې ويل کېدلې. زرينه او تنۍ. Zarina زرينه د ساکا د کومې ځانګې واکمنه يا ملکه وه او هغه په خپلو خلکو دغومره ګرانه وه، چې له مړينې نه وروسته يې وطنوالو د هغې د سرو زرو مجسمه ودروله. زرينه يوازې د پښتو کليمه ده. تنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



(Tanais) د ساکاوو په وخت کې د منځنۍ اسیا د اوسني سردریا نوم و او اوس هغه د افغانستان په پکتیا کې د یوه پښتون ټبر نوم دی. داسې امو د ساکا د هامه ورګه لنډه شوې بڼه ده. داسې هم د لرغوني زمانې د منځنۍ اسیا په ځینو سیمو لکه خوارزم او مروه کې داسې ښارګوټي لوڅ شوي چې د کلا کلیمه یې د نامه یوه برخه یا وروستاړی جوړوي. د بېلګې په توګه تیشیک- کلا(Teshik- Kala)، ټوپرک- کلا (Toprak- Kala)، کوی- کرلګان- کلا (Koy- Krylgan- Kala)، د ژنباس- کلا (Dzhanbas- Kala) او ګیاور- کلا (Gyavr- Kala).

کلا د پښتو یوه عامه کلیمه ده چې اوس هم کارول کېږي لکه د زمان خان کلا، سره کلا، د بست کلا او نور. ژبپوه پوهاند زیار د سکه، کسي، کاسي او کاس نومونه چې په افغانستان او پښتونخوا کې ویل کېږي د ساکا د نامه بدلې شوې بڼې ګڼي.

کاکړ دا هم وایي چې ساکا او پښتانه په اصل کې لکه چې یو ټبر وي، یا پښتانه د ساکا د ټبر څانګه وي. ساکي ژبه او پښتو له اوستایي ژبې سره هم نږدې دي. د اوستا ژبه د ویدي دورې نه وروسته هسکه شوې، په داسې حال کې چې پښتو او ساکي ژبه تر هغې نه د مخه راوتلې دي.

کاکړ وایي چې «پښتنو په خپل اوږده تاریخ کې له خپلې ژبې سره بې پروایي کړې ده، که څه هم دغې ژبې د هر پښتون په روزل کېدو او د استعدادونو په انکشاف کې اساسي اثر لرلی دی... ګرامر یې پراخ، اوازونه یې ډېر او جوړښت یې ښه منظم دی... د ګرامر په برکت یې مطالب په کې دغسې دقیق او لنډ ادا کېدای شي، چې شاید په ډېرو نورو ژبو کې هغسې ادا نه شي»۱۰۰۵

کاکړ دا هم وایي چې پښتو د خپلې ودې په لومړنیو مرحلو کې له سانسکرت نه هم اغېزمنه شوې ده. سانسکرت هغه لرغونې هندي ژبه ده، چې له ویدي ژبې سره تړاو لري. دغه ژبه د مخزیږدې څلورمې کې د تعلیم کړو هندیانو ژبه وه، نورې هندي ژبې له سانسکرت نه راوتلې دي. دغې ژبې به د موریا کورنۍ د واکمنۍ په دوره کې، چې څه باندې یوه پېړۍ اوږده شوه، په پښتو اغېز کړی وي.۱۰۰۶

دی وایي چې د سامانیانو او په ځانګړې ډول د غزنویانو له دورې نه وروسته فارسي د دربار او دفتر ژبه شوه. د هندوستان د ډهلي سلطنت په دوره کې چې اول د سلطان محمود غزنوي په فتوحاتو سره تاسیس شو فارسي د دربار او سلطنت ژبه شوه. خو په خپله په فارس کې که څه هم فارسي د ملک دفتري او ملي ژبه وه، د صفوي واکمنې کورنۍ ژبه یوه ترکمني ژبه وه. په داسې حال کې چې د عثماني ترکې په واکمنې کورنۍ کې فارسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل کېده.

کاکړ دا هم وايي چې پښتانه په لرغونو وختونو کې د نورو قومونو د لیکوالو له خوا یو ځای بل ځای په نامنظم ډول ثبت شوي او ان د دوی ژبه په لرغونو مهالونو کې نه ده څېړل شوې. دی د لرغونو پښتنو شاعرانو په اړه وايي چې د دوی «شعرونه ډېر او ښه پاخه دي، دغومره پاخه چې ښيي چې ویونکي یې د لوړ فکر او احساس خاوندان و. دوی په خپلو اشعارو سره په دغې برخې کې پښتون ولس ښه شتمن کړی دی. دا به شاید د همدغو کلاسیکي اشعارو له امله وي چې پښتو یو ډېر پراخ او دقیق ګرامر لري، چې له برکته یې مطالب په کې په دغسې لنډ او دقیق ډول بیانېدلی شي، چې په نورو ډېرو ژبو کې هغسې ادا کېدلی نه شي.»۱۰۰۷ دغه شعرونه او پښتونوالي وه چې پښتانه یې د لوړ او پیاوړي کلتور خاوندان کړي وو. دی دا یادونه هم کوي چې په روښاني دوره کې د روښان پیر او د هغه پلویانو او اخوند درویزه تر منځ مشاجرو پایله دا شوه چې «د اسلام په چوکاټ کې د ننه نوي نظریات منځ ته راغلل او دغه مشاجرې چې په پښتو ژبه کېدې د هغې د ودې سبب شوې.»۱۰۰۸ دی دا هم وايي چې د هوتکو واکمنې کورنۍ په پښتو کې ویناوې او لیکنې کولې او د پښتو په پرمختګ کې یې برخه اخېستې وه. خو دا چې پښتو په معاصر مهال کې چې څنګه ښایي پرمختګ نه دی کړی، دا په اصل کې د پښتنو د بېرته پاتې والي او پښتو ته د دوی د بې پروایې له امله دي.

په افغانستان کې درانیو لومړی په هرات او وروسته په کندهار کې دولت تاسیس کړ. خو تر هغو د مخه د هرات او کندهار دواړه سیمې د صفویانو تر اثر لاندې وې او دفترونه یې په فارسي چلېدل. کاکړ وايي چې احمدشاه بابا «د حکومت چارې غیر دراني قومونو ته وسپارلې. منظم پوځ یې له غیر دراني قومونو یاني د قزلباشانو نه جوړ و، دري یې دفتري ژبه کړه او دري ویونکي افغانان یې دفتري ماموران شول.»۱۰۰۹

احمدشاه بابا لومړی د امو نه تر اباسینه خپلواک افغانستان جوړ کړ. بیا یې د خپلو نورو لښکرکشیو په پایله کې په کشمیر، پنجاب، سند، بلوچستان او پارسي خراسان یا پخوانۍ پارتیه کې د واک په خپرولو سره امپراتوري تاسیس کړه. احمدشاه دراني پاړسي دفتري ژبه کړه او پاړسیوان یې دفتري مامورین کړل. په دې ترتیب پښتنو د پارس نه سیاسي ازادي وګټله خو د کلتوري ازادي په لاس ته راوړلو کې پاتې راغلل او تر ننه د پارس د فرهنګي ښکېلاک په زنځیرونو کې پراته دي.

احمدشاه بابا که څه هم پاړسو رسمي ژبه کړه خو بیا هم خپلې مورنۍ ژبې پښتو ته بې توپیره نه و. نوموړي شاعر و او د خپل نیکه کامران خان غوندې چې «کلید کامراني»

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب یې په پښتو لیکلی دی خپل شعر په پښتو ژبه ووایه او نن یې خپلو پښتنو ته د شعر دیوان په نیکات پرې ایښی دی.

د احمدشاه بابا د واکمنۍ په اوږدو کې د «فتوای احمدشاهي» کتاب په پښتو ژبه ولیکل شو، قاضي محمدغوث، چې د خان علوم لقب ورکړل شوی و، په پښتو ژبه پر تصوف رسالې وکښلې، حافظ ګل محمد مرغزي د پښتو ژبې دریمه شاهنامه یاني احمدشاهي شاهنامه ولیکله چې یوازینۍ مالومه خطي نسخه یې اوس په برېټش موزیم کې خوندي ده، ملا پیرمحمد کاکړ د پښتو ژبې د زده کړې (درسي) لومړنی کتاب چې «معرفته الافغاني» نومیږي ولیکه. ملا پیرمحمد کاکړ دا کتاب خپل شاګرد شهزاده سلېمان ته د لنډې دوه میاشتنۍ واکمنۍ (۱۱۸۶) په دوره کې وړاندې کړی و.

ښاغلی حبیب الله رفیع وايي چې «دا اثر د دې له پاره لیکل شوی و، چې درباریان، منشیان او میرزایان د پښتو جملو جوړول او لیکل زده کړي او بیا د همدې اثر په مرسته د دفتر او دربار ټولې چارې په پښتو راواړوي څو پښتو د دفتر او دیوان ژبه شي او لکه د نورو ژبو غوندې د دربار په ملاتړ او حمایت پراختیا او پرمختګ وکړي.»۱۰۱۰ برسېره پردې احمدشاه بابا د پښتو ژبې شاعران په ځان راټول او د شعر ویلو مجلسونه به جوړېدل او په دربار کې پښتو ژبه ویل کېده.

تیمورشاه په خپل دربار کې د پښتو پرځای فارسي رواج کړه. په دې ترتیب د پارس فرهنګي ښکېلاک یقیني شو او تر ننه دوام لري. کاکړ وايي چې «د فارسي په رواجولو کې تیمورشاه دراني، د احمدشاه دراني زوی، غټ رول لوبولی دی. دی چې په مشهد کې زیږېدلی دی او د ځوانۍ دوره یې د خپل پلار د وایسرای په صفت په پنجاب او هرات یاني په ناپښتو ویونکو سیمو کې تېره کړې وه، د فارسي تر اثر لاندې تللی و. دا چې ده پایتخت له کندهار نه کابل ته یاني یوه فارسي ژبي ښار ته نقل کړ ، تر څه حده د همدغه تاثیر له امله و.»۱۰۱۱

په معاصر افغانستان کې د سدوزیو د واکمنۍ په پیل سره له هماغه اول سر نه یوه پښتنه کورنۍ په کې واکمنه شوه، دفتري ژبه یې پښتو نه، بلکې فارسي شوه. له احمدشاه دراني نه پرته چې هغه په پښتو اشعار ویلي، د هغه اخلافو په فارسي کې اشعار وویل.

د پښتو د رسمي کېدو لومړی حرکت د امیر شیرعلي خان په دوهمه واکمنۍ کې پیل شو. پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ وايي چې د امیر شیرعلي خان د مهمو سمونونو نه یو دا و چې پښتو یې د لومړي ځل له پاره د هېواد ملي او رسمي ژبه اعلان کړه.

امیر شیرعلي خان د نورو سمونونو په څنګ کې د پښتو د رسمي کولو له پاره کوښښ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا څرګندوي چې د ده ملي شعور ډېر غښتلی او قوي و. امیر غوښتل چې پښتو د یوې رښتینې ملي ژبې په توګه وده او پرمختګ وکړي او د فارسي ځای ونیسي. د دغه مقصد له پاره د پښتو کتابونو لیکل او ژباړل پیل شول، د پښتو سیند (قاموس) د لارښود په توګه حتمي شو، عسکري تعلیم نامې په پښتو ژبه برابرې شوې، واړه او لوی ماموران په القابو وویاړل شول او په پای کې د پښتو بولې (قوماندې) د افغان جنګیالیو د ګڼو صنفونو له پاره جوړې شوې. لیتوګرافي مطبعه په کابل کې په کار ولوېده او د شمس النهار اخبار په همدغې مطبعې کې چاپ شو. د قاضي عبدالقادر له خوا «قواعد پلټن پیاده» په پښتو وژباړل شو چې تشریحات یې په پاړسو و. علم قواعد لشکر د دریا خان نیازي له خوا، قواعد عسکري د محمد ابراهیم له خوا ولیکل شول. «دغه مشکور واکمن ځان ژر په داسې حال کې وموند چې ادعا وکړي چې پښتو د هغه د هېواد والو ملي ژبه شوې وه. د دغه امیر په نظر فارسي امانتي بنکې وې.»۱۰۱۲ د غوث خیبري په اند د امیر شیرعلي خان له خوا د پښتو ژبې د رسمي کولو اصلي موخه د ایران د فرهنګي ښکېلاک د ماتولو په لور یو اغېزمن ګام و.

امیر عبدالرحمن د امیر شیرعلي خان د پښتو سمون ترک کړ. د پښتو ملکي القاب ترک شول، فارسي د دفتر یوازینۍ ژبه شوه، خو د امیر شیرعلي خان د وخت پوځي القاب تر زیاتې اندازې پر ځای پاتې شول. برسېره پردې چې په دې وخت کې یو شمېر تألیفات په پښتو وشول، د ختیځو پښتنو سره د امیر مراودې او هغو ته د ده فرمانونه اولیکنې په پښتو وې. د دربار په دارالانشأ کې د پښتو ځانګړې څانګه پرانېستل شوه چې مشر یې ملا محمدخان افغاني نویس د عبدالله خان افغان نویس پلار و.

د امیر حبیب الله خان په وخت کې هم پاړسو د هېواد یوازنۍ رسمي ژبه وه او پښتو ژبه یوازې په ښوونځیو او مدرسو کې د پوهنې په نصاب کې شامله شوه خو د غبار په وینا د حبیبې په لیسه کې انګلیسي ژبه یې د پښتو په وړاندې کېښوده چې زده کوونکي د دواړو ژبو نه په خپله خوښه یوه ټاکلی شي. نور ټول مضامین په پاړسو ژبه وو. که څه هم په دولتي کچه پښتو ژبې ته پاملرنه نه ده شوې خو په ولسي کچه بیا هم لږ لږ کار کېده.

د کاکړ په وینا د امیر امان الله خان په وخت کې دپښتو د رسمي کېدو دوهم حرکت د لومړي حرکت نه چې امیر شیرعلي خان په خپله دوهمه واکمنۍ کې پیل کړی و نږدې نیمه پیړۍ وروسته په کندهار کې پیل شو. ده په کندهار کې د هغه ځای اړوندو چارواکو ته لارښوونه وکړه چې «د کندهار زده کوونکو ته دې په پښتو کې د زده کړې کتابونه برابر او د زده کوونکو شمېر دې زیات شي.»۱۰۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



امان الله خان په اساسي قانون کې د پښتو ژبې د رسمي کېدو او تعمیم ته ځای ور نه کړ که څه هم د جرګې زیات غړي پښتانه وو خو دوی د امیر په شمول د امیر شیرعلي خان غوندې قوي ملي شعور نه درلود چې د خپلې ژبې د رسمي کېدو او تعمیم په اهمیت وپوهېږي. خو امان الله د پښتو ژبې د ودې په موخه د «مرکه پښتو» اداره جوړ کړه.

د پښتو د علمي کېدو او غني کېدو له پاره لومړنی اساسي ګام د پاچا محمد نادر خان په وخت کې د «ادبي انجمن» په تاسیس سره واخېستل شو. په کندهار کې د ادبي انجمن بنسټ په ۱۹۳۲ کال کې د محمد نادر خان په اجازه د کندهار تنظیمه رییس محمد ګل خان مومند کېښود او د هغه ولایت دفترونه یې په پښتو واړول. په دې ډول د پښتو دغه حرکت د پاچا نادر خان او ورپسې د پاچا محمد ظاهرشاه د واکمنۍ په لومړیو وختو کې په قوت روان شو او د هغه له پاره په رسمي او علمي برخو کې کار کېده.

په ۱۹۳۷ کال کې د سردار محمد هاشم خان د صدارت په وخت کې کله چې محمد نعیم د پوهنې وزیر و د اصلاح په ورځپاڼه کې یو پاچایي فرمان خپور شو چې ویل یې چې پښتو دې د فارسي په څنګ کې په دولتي دفترونو کې جاري شي او د هغه له پاره د درې کلونو په موده کې پښتو دومره زده کړي چې پرې خبرې او هم لیک ولوست وکړای شي او د ولس او حکومت تر منځ مفاهمه حقیقي شي او ملي پېوستون ټینګ شي. دا حرکت د شاهي کورنۍ د نه پاملرنې له امله ناکام شو.

د پاچا ظاهر شاه په مشروطه پاچایي کې د ۱۳۴۳ کال په اساسي قانون کې «د افغانستان د ژبو نه پښتو او دري رسمي ژبې دي سربېره پردې څنګه چې پښتو د افغانستان د اکثرو خلکو ژبه ده د افغانستان د ملي ژبې په حیث منل شوې ده.» خو بیا د همدغې شاهي کورنۍ د نه پاملرنې له امله دا حرکت ناکام شو.

په دې ترتیب د شلمې پېړۍ په پیل سره دربار او واکمنې کورنۍ پښتو ورو ورو پرېښوه او دولت ورته په دفترونو کې ځای ورنه کړ. پښتو په عمل کې رسمي نه شوه. واک فونډېشن دي پایلې ته رسېدلی چې«د افغانستان امپراتوري او دولت جوړونکی پښتون قوم په کلتوري لحاظ په تاریخ کې یو ډېر زیات مسخ کېدونکی او ورک کېدونکی قوم دی.» ۱۰۱۴

د واک فونډېشن په موندنې سره په سلو کې اتو پښتنو په افغانستان کې خپله مورنۍ ژبه پرې ایښې ده. له افغانستان نه د باندې د پښتو نه لاس پر سرکېدل تر دې هم ګړندي دي. په دې ډول پښتو مخ په پرېښېدو ده او پښتانه د هویت د بحران سره مخامخ دي.

په ایران او پاکستان کې «دغه نظر څرګند دی چې څنګه چې پښتنو د افغانستان په

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړولو، ساتلو او تنظیمولو کې اساسي رول لرلی دی، پرعکس د پښتنو کمزوري کېدل به افغانستان هم کمزوری کړي چې په دې حال کې به دوی په اسانی سره وکولی شي هغه تر خپل نفوذ لاندې راولي.»۱۰۱۵ د دوی ټول کوښښونه دې ټکي ته متوجه دي چې افغانستان دې د دوی په مشری سره یو خپلواک هېواد نه وي. ټول هغه مصیبتونه چې افغانستان ته اول د شوروي په یرغل سره او وروسته د همدغو ګاونډیو هېوادونو له خوا پېښ شوي دي د همدغه نظر په اساس دي.

کاکړ وایي چې په دغو هېوادونو او په خاص ډول ایران کې دغه کوښښونه روان دي چې د هغو په موجب پښتو یا کمزورې یا ورکه شي چې څو پښتانه خپل هویت له لاسه ورکړي او افغانستان هغسې هېواد نه وي لکه چې و، یا ان چې دی. «د ایران په افراطي او حتی ځینو رسمي خلکو کې د پښتو ضد تمایل یو څرګند حقیقت دی. د ډېرو منابعو له مخې دغه افراطیون د پښتو اثار تر لاسه کوي او له منځه یې وړي. سربېره پردې چې د پښتو پر ضد تبلیغات کوي او ستمي ډوله افغانان د همدغه مقصد له پاره استخداموي او تمویلوي. د همدغو کوښښونو [له امله] د علومو په اکاډمي کې د پښتو اثار له منځه یووړل شول. پښتو ته بل خطر تر دې لا ببخکی دا دی چې پښتانه د نورو کلتورونو سره په تماس سره خپله ژبه د نورو ژبو په ګټه هېروي. داسې چې که دوی د ډېر شمېر په منځ کې یو کس دري ویونکی هم وي، دوی پښتو پرېږدي، په دري ګړېږي او یا لکه چې د دري ویونکو نه ښځه په نکاح کړي، هغې ته موقع ورکوي چې اولادونه یې دري ویونکي کړي.»۱۰۱۶ که کومه پښتانه یو دري ویونکی په نکاح کړي، دغه ښځه د دې توان نه لري چې خپل اولاد ته مورنۍ ژبه ور زده کړي.

دا لا څه کوې ما ته داسې کورنۍ مالومې دي چې مور او پلار یې دواړه پښتانه خو د اولادونو سره دري وایي چې اولادونه یې پښتو زده نه کړي.

خو خبره د یو څو ورځو او ورخطایي نه ده. څنګه چې پښتو د افغانستان د ډېرو خلکو ژبه ده، دوی د دې توان لري چې هغه له ورکېدو وژغوري، خو چې لیکوالان او د فکر خاوندان دوی د خپلې ژبې حال ته متوجه کړي بې له دې چې د وطن د نورو ژبو نه توجه واړول شي یا هغوی ته د میرې زوی په سترګه وکتل شي. د افغانستان د ټولو ژبو ویونکي افغانان او د وطن په ګټه او تاوان کې سره شریک دي. له دې امله د هغوی ژبې همغسې ور دي، لکه په خپله چې دي. د هېڅ ولس ژبه نه سپېڅلې او نه د سپکاوي وړ ده. دا په خپله ویونکي دي چې ژبې جوړوي او وده او انکشاف ورکوي، نو د هر ولس قوت د هغه د ژبې قوت دی او پرعکس په دې ډول پښتانه خپله پښتو هغه وخت په ښه ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتلی او غني کولی شي چې «په خپله قوي اوسي. ياني قوي اقتصاد ولري، د علم، پوهې او تکنالوژۍ لوړې سطحې ته رسېدلي او په مجموع کې غوړېدونکی او توليدونکی کلتور ولري.»۱۰۱۷

انورالحق احدي په خپله څېړنيزه مقاله «د ملي ټولنې د جوړېدو اساسات» کې وايي چې «ملي ټولنه هغې جامعې ته وايي چې اوسېدونکي يې د قومي، ژبني او مذهبي توپېرونو سره سره د هغې ټولنې (ټاټوبي) غړي بولي، هغې ته نهايي وفاداري ولري، او له بلې هرې ټولنې نه زيات له هغې سره کلک اجتماعي، سياسي او رواني تړون احساس کړي.»۱۰۱۸

افغانستان د ډېرو قومونو نه چې بيلې بيلې ژبې، کلتور او دودونه لري جوړ شوی دی. په داسو ټولنو کې چې متجانسې نه وي هلته د ملت جوړولو پروسه ګرانه او د ستونزو ډکه وي له دې کبله د ملت جوړونې هڅې روڼ فکر، غښتلې اراده او پرله پسې هڅې غواړي. په لوېديځو هېوادو کې سياسي وده د ځانګړې پوړيو نه تېره شوې ده: «اول دولت جوړ او ټينګ شو؛ بيا ملي ټولنه جوړه شوه او ملي وحدت منځ ته راغی؛ بيا د اقتصاد ودې ته توجه وشوه؛ بيا په سياست کې عامو خلکو ته اجازه ورکړه شوه او ډموکراسي تعميل شوه؛ او کله چې اقتصاد ښه وده وکړه بيا د ملي عايداتو عادلانه وېش مطرح شو.»۱۰۱۹

خو د دريمې نړۍ په هېوادونو کې د ملتونو د سياسي ودې يون بل ډول دی. د دريمې نړۍ په هېوادو کې لومړی دولت جوړيږي او د دولت د جوړېدو سره سم د ملت جوړولو، اقتصادي ودې، ډموکراسۍ او د ملي عايداتو د عادلانه وېش موضوعاتو باندې پرېکړې کيږي. خو دا پروسې د يو او بل سره په ټکر کې راځي او سياسي ناکراري پيدا کوي. دلته بايد دې موضوع ته ځانګړې پاملرنه وشي چې په هغو ټولنو کې چې بيل بيل قومونه ژوند کوي که هلته د ملت جوړولو جوړښت غښتلی نه وي کېدای شي چې له ډموکراسۍ نه د قومي اختلافونو د زياتېدو له پاره ګټه واخېستل شي. دغه سياسي ناکراري په خپل وار اقتصادي ودې، د ډموکراسۍ ودې او ملي يووالي ته کلک زيان رسوي.

په هغو ټولنو کې چې بيل بيل قومونه ژوند کوي د ملت جوړولو له پاره بنسټيز ټکی د ټولنې په هويت باندې موافقه ده. د ملي ټولنې په هويت کې اکثريت قوم اساسي رول لري. په دې اړه د ژبې موضوع ډېره مهمه ده. ملي ټولنه ملي ژبې ته اړتيا لري چې په هغې باندې د ټولنې ټول قومونه يو د بل سره پوهاوی راپوهاوی وکړي. له سويس او کوم بل هېواد پرته په نورو ټولو هېوادونو کې ملي ژبه د ملي ټولنې په جوړېدو کې مهم رول لري. دا د دولت دنده ده چې ملي ژبه ګام په ګام تعميم کړي چې زموږ ګاونډيان ايران، تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان يې ښې نمونې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ملي ټولنې د جوړولو دوهم بنسټیز لامل د هېواد د وګړو تر منځ قانوني مساوات دي. ان په هغو ټولنو کې چې د قومي او مذهبي لحاظه متجانسې هم وي خو تر څو پورې چې د دغې ټولنې ټولو وګړو ته برابر حقونه ورنه کړل شي، هلته ملي ټولنه نه شي جوړېدلی. لکه چې د فرانسې د انقلاب نه د مخه په اروپايي هېوادو کې ملي ټولنې نه وې جوړې شوې. په دې توګه د ملي ټولنې د جوړولو له پاره د خلکو تر منځ قانوني مساوات حتمي دي.

د دې سره سره چې قانوني مساوات د ملت جوړولو بنسټ دی خو تر څو پورې چې په ملي هويت باندې موافقه نه وي شوې قانوني مساوات نه شي کولی چې د ملي ټولنې د جوړېدو پروسه پرمخ بوزي. په غيرو متجانسو ټولنو کې چې د ملي هويت موضوع نه وي حل شوې، ډموکراسي چې د قانوني برابرۍ لوړه بڼه ده ان سياسي ناکراري منځ ته راولي او د ملي ټولنې د جوړېدو ستونزې لا ګرانوي. په دې توګه د ملي ټولنې په هويت باندې موافقه او د ملي هويت تعميم د ملي ټولنې د جوړېدو او سياسي پرمختګ له پاره لومړی اړين شرط ګڼل کيږي.

د افغانستان د دولت تیره د ستراحمد شاه بابا په لاس ایښودل شوې ده. احمدشاهي دولت که څه هم د ډېر وخت له پاره قوي دولت و، خو سدوزي واکمنو د ملت جوړولو له پاره کومه روښانه ستراتيژي نه درلوده او زما ليکوال په اند دوی د ملت جوړېدو په موضوع نه پوهېدل. د احمدشاه بابا دولت د ده د لمسيانو او د محمدزايي واکمنو په لومړيو کلونو کې ډېر کمزوری شو. زما ليکوال په اند امير شيرعلي خان په خپله دوهمه واکمنۍ کې د ملي دولت د ټينګېدو او د ملي ټولنې د جوړېدو له پاره ټينګ ګامونه واخېستل چې که د انګرېزانو له خوا په افغانستان باندې دوهمه جګړه نه وای تپل شوې نو د دې شونتيا وه چې د افغانستان د ملت جوړېدو پروسه اصلي مسير ته داخله شوې وای.

د امير عبدالرحمن خان له خوا په نسبي توګه قوي دولت جوړ شو. د امير عبدالرحمن او د هغه زوی امير حبيب الله خان دواړو د دولت جوړېدو ته پام وکړ خو د ملت جوړولو او اقتصادي ودې ته يې ځانګړې پاملرنه ونه کړه. د پاچا امان الله په واکمنۍ کې د ملت جوړولو، اقتصادي ودې او ډموکراسي پروسې يو ځای پيل شوې خو د ملت جوړولو هڅې يې نيمګړې وې او د ملي هويت په اړه يې قاطعيت او روښانتيا نه درلوده. پاچا امان الله د خلکو د قانوني برابرۍ په اړه ټينګې هلې ځلې وکړې خو څرنګه چې د ملي هويت مسله حل شوې نه وه نو د ۱۹۲۹ کال اړدوړ نه يوازې د ملت جوړولو، اقتصادي ودې او ډموکراسۍ پروګرامونه ناکام کړل، بلکې نادر خان او بيا صدراعظم محمد هاشم خان د دولت د ټينګېدو له پاره ډېرې هلې ځلې وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



احدي وايي چې د صدراعظم محمد هاشم خان دا ستراتيژي چې د اکثريت قوم او ژبه (پښتانه او پښتو ژبه) په ملي هويت کې اساسي برخه ولري عملي ستراتيژي ده خو حکومتونو د هغې په پلي کولو کې د قوي عزم نه کار نه واخيست او په پايله کې د ملت د جوړېدو په لاره کې دغه لومړنۍ ستراتيژي ناکامه شوه. د صدراعظم شاه محمود خان او محمد داود خان په دورو کې د ملت د جوړولو د پروسې پر ځای اقتصادي ودې ته زياته پاملرنه وشوه او د محمد ظاهر شاه د پاچاهۍ په دوره کې د ملت جوړولو، اقتصادي ودې او ډموکراسۍ پروسې ټولې يوځای پيل شوې. د ظاهرشاه ستراتيژۍ د ملي هويت په اړه دا شوه چې پښتو او دري به رسمي ژبې وي او پښتو به برسېره پر هغې چې رسمي ژبه ده ملي ژبه هم وي. احدي وايي چې که څه هم دا يوه معقوله ستراتيژي وه خو د پلي کولو په لاره کې يې هيڅ ډول اغېزمن ګامونه پورته نه شول. د دې سره سره چې ظاهرشاه د خلکو د قانوني برابرۍ په اړه اغېزمنې هلې ځلې وکړې، خو څرنګه چې ملي هويت پوخ نه و د دغې دورې د لبېرال ازاديو نه د قومي اختلافاتو د غښتلتيا په لاره کې ګټه پورته شوه او د ملت د جوړېدو پروژه يو ځل بيا ناکامه شوه.

د محمد داود په دوهمه دوره کې ډموکراسي د منځه ولاړه، د ملي وحدت په اړه کوم ښکاره فارمول طرح نه شو او د دولت په استحکام او اقتصادي ودې باندې ټينګار وشو. د خلقيانو په دوره کې د ملي وحدت پرځای په طبقاتي جګړې ټينګار وشو او پرچميانو قومي اختلافات تشويق کړل او غوښتل يې حکومت د قومي لړکيو په مرسته ټينګ کړي. د برهان الدين رباني په دوره کې د ملي وحدت ځای قومي جګړو ونيو.

د ملي هويت په ټاکلو کې د ژبې موضوع ډېر اهميت لري. د ډېورنډ د کرښې د تېرېدو د مخه پښتانه په افغانستان کې دومره ډېر وو چې پښتو بايد د افغانستان يوازينۍ رسمي او ملي ژبه وای. اوس هم په افغانستان کې پښتانه د شمېر له مخې د ۶۳٪ او د ژبې په لحاظ ۵۵٪ نه زيات دي په دې اساس هم بايد ملي او رسمي ژبه وي. څنګه چې پښتنو د پارس نه سياسي ازادي واخيسته خو د کلتوري ازادۍ په لاسته راوړلو کې پاتې راغلل او افغان واکمن د ملت جوړولو په پروسه کې د ژبې په اهميت نه پوهېدل نو د دوی د ناپوهۍ او بې پروايي له امله تر ډېره وخته پښتو رسمي اهميت نه درلود. کله چې د ۱۳۴۳ کال په اساسي قانون کې پښتو ته د ملي هويت په ټاکلو کې اهميت ورکړ شو، په عمل کې پښتو نه يوازې دا چې د دري په پرتله يې لومړيتوب نه درلود، بلکې په واقعيت کې دوهمه درجه او محکومه ژبه وه.

په دې ترتيب د هېواد د ملي يوالي له پاره په ملي هويت موافقه تر ټولو مهم شرط دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د ملي هویت پر موافقې برسېره د ټولنیز، سیاسي، اقتصادي، او نورو برخو کې قانوني برابري ده. په واقعیت کې دغه دوه مهم شرطونه د ملي یوالي منځ ته راتلو له پاره بنسټ جوړوي.

د احدي په اند د هېواد د ملت جوړونې په پروسه کې د هویت په ټاکلو کې باید «د افغانستان د ټولو وګړو شمېر او ځینې تاریخي واقعیتونه په نظر کې ونیسو. په دې کې شک نه شته چې د افغانستان د ټولو قومونو نه د پښتنو شمېر ډېر دی. دا هم ښکاره ده چې پښتون او افغان مترادفې کلیمې وې او وروسته د افغان کلیمه عام شموله شوه او د افغانستان ټول وګړي یې په غېږه کې ونیول. همدغه دلیل دی چې د دولت هویت تل افغان و.... زموږ په سیمه کې نور قومونه ځانګړي دولتونه لري. تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان، ایران او ترکیه ټول قومي دولتونه دي. د دغو ټولو دولتونو هویت د هر هېواد د اکثریت په قوم پورې تړلی دی. څرنګه چې په افغانستان کې پښتانه د ټولو نه لوی قوم دی، د ملي ټولنې هویت باید چې افغان وي. په دې اساس که د اول نه د افغانستان سیاسي پرمختګ د نورو ډېرو هېوادونو د انکشاف مسیر تعقیب کړی وای، پښتو باید د افغانستان یوازېنۍ ملي او رسمي ژبه وای. خو په افغانستان کې سیاسي پرمختګ له نورمال مسیر نه اوښتی دی او سره له دې چې د پښتنو نفوس په سلو کې د پنځوسو نه زیات دی ګڼ شمېر اقلیتونه د پښتو پر ځای دري زده کړي او موږ دغه واقعیت د ملي ټولنې په جوړولو کې په نظر کې ونیسو. په دې اساس ښه به دا وي چې پښتو او دري دواړه رسمي ژبې وي، خو سیاسي عدالت، تاریخي واقعیت او په هېواد کې د پښتنو اکثریت دا حکم کوي چې پښتو دې د افغانستان ملي ژبه هم وي.»۱۰۲۰

کاکړ وايي چې «په افغانستان کې له سروال نه نیولې تر کاتب او چپړاسي پورې ټول هغه کسان چې له بیت المال یاني د ملت له خزانې نه معاش اخلي په پښتو او دري ژبو باید لیک او لوست وکولی شي. پښتو دې د فارسي په څېر په نظر او عمل کې رسمي او دفتري ژبه وي او په ښوونځیو، پوهنتونونو او قضایي محاکمو کې د قانون له مخې د اکثریت په حیث ځای ولري.»۱۰۲۱

زما لیکوال په اند د پښتو ژبې د پرمختګ له پاره یوې اوږد مهاله ستراتیژي ته اړتیا ده. څرنګه چې ایران د خپلې ژبې د پرمختګ له پاره اغېزمنه ستراتیژي لري هغه دا چې د نړۍ د ژبو نه هر ډول علمي او د هنري ادب کتابونه په پارسو ژباړي. د دې لارې خپله ژبه شتمنوي او خپله هم په پارسو ژبه اثار لیکي. دوی د خپلې ژبې د پرمختګ د ستراتیژي په پلي کولو کې پوره بریالي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستان هم د ژبې اغېزمنه ستراتیژي لري هغه دا چې نړیوال مالوماتو ته د انګرېزي ژبې د زده کړې له لارې لاسرسی لري او اردو ژبې ته هم هر ډول اثار ژباړي. پاکستان هم د خپلې ستراتیژي په پلي کولو کې بریالي دي.

پښتانه اړ دي چې د نړیوالو علمي مالوماتو د لاسرسی په موخه انګلیسي ژبه زده کړي او د انګلیسي ژبې نه هرډول اثار په پښتو ژبه وژباړي او خپله ژبه شتمنه کړي. نن پښتانه ځوانان لګیا دي چې د کمپیوټر په مرسته داسې د ژباړې پروګرامونه جوړ کړي چې د انګلیسي ژبې نه هر ډول کتاب د یوې تڼۍ په کښېکښلو سره د سترګې په رپ کې وژباړل شي او ژباړه بیا د مسلکي کسانو له خوا د سمون وروسته د چاپ له پاره تیاره شي. په دې ترتیب به انګلیسي د علم د لاسته راوړو او بهرنۍسوداګرۍ ژبه، پښتو شتمنول د ملي پېژاند د ساتنې او غښتلتیا له پاره اړینه وسیله وګرځي او پښتانه باید په خپل وطن کې پښتو د زده کړې، اقتصاد او دفتر ژبه کړي.

دلته لازمه ګڼم چې د ۲۰۱۶ کال د می د میاشتې د پښتو ژبې د نړیوالې ورځې د نمانځنې سیمینار ته، چې د هالنډ د لایډن په ښار کې جوړ شوی و، د کاکړ پیغام چې د عبدالله احسان له خوا ولوستل شو هم لوستونکو ته وړاندې کړم.

«پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ ۲۱ می ۲۰۱۶

درنو دوستانو روغ او خوښ اوسی

د دغه سیمینار په جوړولو کې د ستاسو محترمانو زیار د قدر او ستاینې وړ ګڼم او برۍ او سرلوړي مو غواړم.

دا د هرپښتون دنده ده چې خپلې پښتو ته خدمت وکړي. پښتو ته خدمت په واقع کې اولس ته خدمت دی. دا د دوی حق او غوښتنه ده. خو له بده مرغه د پښتنو په اوږده تاریخ کې پښتو ته هغسې چې ښایي خدمت نه دی شوی. که پښتو استازی لرلی، د ګیلې په ډول به یې ویلي وی چې اې پښتنو! زه د ژبې په توګه د هیڅ ژبې نه کمه نه یم خو دغه تاسې یې چې زه مو له پامه غورځولې او بې قدره کړې یم. په نتیجه کې زما په بې قدرۍ سره تاسې په خپله حتی په خپل ټاټوبي کې بې قدره شوي یې. اوس نو په دغې یوویشتمې پېړۍ کې که تاسو یو څه ننګ، غیرت، پښتني احساس او سرېتوب لری ما مه بې قدره کوی. زه ډېره بې قدره شوې یم نوره مې مه پرېږدی چې بې قدره شم. یوازې زه له تاسې نه دا هیله کولی شم.

درنو دوستانو! د دغسې درنو دوستانو د دغسې شعور په لرلو سره به وي چې تاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه غونډه په هالنډ کې جوړه کړې ده سره له دې چې امکانات مو محدود دي. خو له نېکه مرغه اوس تاسو د نوو تکنالوژيکي، مخابروي وسيلو له لارې په دې اړه په پښتونخوا، کاکړستان او د ننه په افغانستان کې د پښتني کلتوري ټولنو سره پوهاوی کولی او تجويزونه نيولی شی. اوس هلته هم همدغسې ځوانان او ځوانانې هسکې شوې چې خپلې ژبې او خلکو ته يې د خدمت ملا تړلې او يو ډول غورځنګ يې پيل کړی دی چې بايد نور پښتانه ورسره مرسته وکړي چې هغه پياوړی او اغېزناک شي.

هيله ده چې تاسې به په دې اړه له مباحثې او د نظرياتو د تبادلې نه وروسته سپارښتنې او کوم ډول عملي کېدونکي تجويزونه وړاندې کړی. په خپله زما وړانديز به دا وي چې تاسې محترمان د نوو پښتو کره کتابونو يادونه او سپارښتنه وکړی په تېره بيا «پښتو د تاريخ په بهير کې» د محترم اقبال وزيري اثر او که يې لازمه ګڼی زما د «پښتون، افغان، افغانستان» اثر. د وزيري اثر د درسي کتاب په توګه ډېر موثر دی چې ګومان نه کوم چې ډېر پښتانه به ورنه خبر وي.

په پای کې د پښتو په اړه د دغسې سيمينار په تنظيمولو کې ستاسو محترمانو د زيار قدر او درناوی کوم او بخښنه غواړم چې ما په کې ګډون وکولی نه شو که څه هم ما ته مو د ګډون بلنه راکړې وه.

په درنښت»

(c) ketabton.com: The Digital Library



*اته ویشتم څپرکی*

# جان ستوارټ مل په نوي دقیقو کې

### د ازادۍ فلسفه، تجربي فلسفه، د ګټورتوب فلسفه

کاکړ په ۲۰۱۶ کال کې بل په زړه پورې کتابګوټی چې «جان ستوارټ مل په نوي دقیقو کې» نومیږي چې پاول سټراترن لیکلی او په ۲۰۰۲ کال کې خپور کړی دی. اوس به وګورو چې پاول سټراترن د هغه فلسفه څنګه بیانوي. خو د مخه تردې چې د مل د فلسفې په اړه وغږیږم لومړی به د دې کتاب د پیلامې ځینو مهمو ټکو ته چې کاکړ لیکلې ده، د لوستونکو پام واړوم.

کاکړ وایي چې د نولسمې پېړۍ برتانوي فیلوسوف جان ستوارټ مل افغانانو ته نا اشنا دی. دغه ژباړه به لومړی لیکنه وي چې په اړه یې په پښتو وړاندې کیږي. پلار یې جمز مل د ننه په کور کې د هغه روزنه او پوهنه کړې ده. جمز مل دغه کار د انګلیس د یوه نامتو فیلوسوف جان لاک (John Locke) د دغه نظر پر بنسټ کاوه چې د انسان ذهن په پیدایښت کې د «سپین کاغذ» په شان دی. د محمد صدیق روهي د څېړنې له مخې «خوشال چې د جان لاک معاصر او تقریباً همزولی دی کټ مټ همدغه مفکوره په دې ډول بیانوي: «د هلک زړه لکه سپین کوره کاغذ هسې دی هر چې پرې وکاږې هغه حرف پرې پرېوځي».»۱۰۲۲ روهي زیاتوي چې د خوشال وروسته کوم پښتون پیدا نه شو چې د هغه فلسفه وربشپړه کړي.

د جان لاک په اند پوهه یوازې د تجربې څخه راوزي او د دې مانا دا ده چې پوهه د احساس نه پرته شونې نه ده. هغه وخت چې احساسونه دماغ ته ورسیږي، هغه یې یو له بله نښلوي او فکر پرې کوي. په بله ژبه انسان اول د حواسو له لارې اطلاعات ترلاسه کوي او دماغ بیا له هغو نه د فکر کولو په پروسې سره مفهوم او علم ته رسیږي. دغه شېوه تجربوي پوهه (Empiricism) نومیږي. نورو برتانوي سوچوالو او په ځانګړې توګه ډېویډ هیوم، جورج برکلي او ستوارټ مل ورته وده ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمز مل د خپل زوی پوهنه د لرغوني یونان د تعلیماتو له مخې پیل کړه چې مدنیت یې، د وخت د نورو مدنیتونو پر خلاف، په اساس کې د عقل په پرنسیپونو ولاړ و. سټوراټ مل په درې کلنۍ کې د ریاضي او لرغوني یوناني ژبې او په اته کلنۍ کې د لاتین، الجبرې او هندسې په زده کړې پیل وکړ. په دولس کلنۍ کې د منطق او فلسفې د زده کړې له پاره تیار و. زده کړه به سهار په شپږ بجې پیل کېدله او ټوله ورځ به یې دوام کاوه. د مل کور د هغه له پاره ښوونځی و. جمز مل د خپل زوی د عقلي وړتیا ودې ته پام اړولی و او د هغه جذباتي او احساساتي اړخ او همدارنګه شعري او تخیلي خوا د نظر نه غورځولې وه. د هغه ټول کوښښ دا و چې د خپل زوی عقلي ظرفیت یې د روښانتیا د دورې پوهانو د نظریو له مخې وغوړیږي. همدارنګه ده خپل زوی هڅاوه چې د فیلسوفانو په بحثونو کې، چې نامتو اقتصاد پوه ډېوېډ ریکاردو هم په همدغې ډلې کې و، ونډه واخلي. مل هم د خپل پلار سره په دغو بحثونو کې ګډون کاوه او د سیاسي اقتصاد په اړه یې په خپله هم نظر ورکاوه.

خو د ده لوی هڅونکی نامتو فیلوسوف جرمي بنتهام و، چې د خپل نوښتي ذهن په قوت او په پرله پسې زیار سره هم نوې پروژې ایستلې، او هم یې نوې ایډیاګانې وړاندې کولې، د دغې فلسفې پر بنسټ چې د خورا ډېرو [انسانانو] خورا ډېره نېکمرغي د قانون او اخلاقیاتو بنسټ دی.

سټوراټ مل په ځوانۍ کې د بنتهام د نږدې یو میلیون یاداشتونو او وړو لیکنو نه یو منسجم اثر «د شواهدو په اړه» (On Evidence) په نامه وایست. خو مل چې د بنتهام د ګټورتوب په فلسفه کې څومره ژور کېده، هغومره پرې انتقادي کېده. ان تر دې چې ځان له یې بیله لار غوره کړه. لکه په لرغوني یونان کې ارستو د اپلاتون د ایډیا فلسفه، چې موجوده نړۍ یوه ایډیا ده، پرېښوده او د مشاهدې او تجربې لاره یې ونیوله او په نولسمې پېړۍ کې مارکس د هیګل ایډیالي فلسفه په مادي فلسفې واړوله، مل د بنتهام هغه نظر رد کړ چې خوندونه له یوه او بل نه یوازې په کمیت سره توپیر لري. مل په دې باور و چې خوندونه په کیفي لحاظ هم سره توپیر لري. مل د کېفیت خوا ټینګه ونیوله. برسېره پر هغه د هغه د ګټورتوب په فلسفه کې لبرال فکر ګډ کړ، په دې ډول چې «د خوښۍ ارزښت په هغې ټبګنې کې پروت دی چې د فرد ژوند ته ښه نفوذ وکولی شي، چې هلته هر څوک پرېښودل شي چې د خپلې خوښې نېکمرغي ولټوي او یوازینی شرط باید دا وي چې د نېکمرغۍ دا فردي ډول د نورو د نېکمرغۍ له رقم یا د ټولیز ښه والي سره ټکر ونه کړي.»۱۰۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



مل په دې ډول په عملي ژوند کې په فردي ازادۍ ټینګ ودرېد. ده باور درلود چې «فرد په خپل ځان، په خپل بدن او په خپل ذهن باندې د مطلق حاکمیت خاوند دی.» په دې ډول ستوارټ مل «ازادي غوره کړه، چې فردي موخو ته پرې ورسېږي.» مانا دا وه چې «د فرد د غوړېدلو وړ طبیعي قوت ازاد شي، د دې له پاره چې موږ ټول قادر کړي چې خپل ټول استعدادونه کشف کړو. دغسې ازادي به زموږ ټولو استعدادونو ته د تخلیق او ابتکار لامل شي. په نتیجه کې به موږ وکولی شو چې په اخلاقي، روحي او عقلاني لحاظ پرمختګ وکړو. دا به په خاص ډول دغسې ټولنه رامنځ ته کړي چې په هغو ناوړو پېښو غلبه وکړي چې مارکس یې پارولی و، خو د انقلاب د شدیدو ورانیو پرته».۱۰۲۴

د مل فکرونه د ازادۍ فلسفه (Leberalism)، د تجربې فلسفه (Empiricism) او د ګټورتوب فلسفه (Utilitarism) کې خلاصه کېدلی شي.

## ۱- د ازادۍ فلسفه

لبرالیزم هغه سیاسي، ټولنیز او اقتصادي دوکترین یا نظر ته ویل کیږي چې کلاسیک جوړښت یې په فردي ازادي، محدود حکومت، پرله پسې ټولنیز پرمختګ او ازادې سوداګرۍ ولاړ و. اوسنی لبرالیزم په فردي ازادۍ او شخصي فرصت عقیده لري، له دولت نه غواړي چې په ټولنیزې ښېګڼې او ټولنیز سیاست کې رول ولوبوي. د دواړو شکلونو مفهوم د عمل او وجدان ازادي په غېږ کې نیسي. لبرالیزم په نولسمې پېړۍ کې د منځنۍ طبقې له سوداګرو او متشابساتو د ایډیالوژۍ په شان وده وکړه. د هغه عقلي بنسټ د جان لاک په سیاسي فلسفې او د روښانتیا د دورې په انساني پرمختګ او د عقلانیت په عقیده، د ادم سمېت د ازاد مارکېټ په اقتصادي نظریو او د بنتهام او جان ستوراټ مل د ګټورتوب په فلسفې ایښودل شوی و. د لبرالیزم مرکزي ټکی فردي ازادي ده، په دې ډول چې فرد به د قانون له مخې له محدودیت او اجبار نه ازاد فعالیت کوي او له دغې لارې به هم د ځان او هم د ټولنې ګټې خوندي کوي. څنګه چې ټولنه له افرادو نه جوړه ده، که افراد پوه، فعال او د ایډیال خاوندان وي، ټولنه ډینامیکه او ابتکاري کیږي. د مل په نظر دا د ټولنې مسولیت دی چې دغسې افراد وروزي. د افرادو د اصلاح لار پوهنه ده. دا روزنه د ماشومتیا په مهال د کورنیو او وروسته د ټولنې له خوا په ډموکراتیکې شېوې سره وشي او د انسان دوستۍ مضمون باید په درسي نصاب کې شامل شي. په اصل کې دا پوهنه، پوهه او تکنالوژي ده چې د پرمختګ، نېکمرغۍ او د ښه ژوند لامل کیږي. ارسطو ویل چې مور او پلار اولاد ته ژوند ورکوي خو ښوونکی ورته ښه ژوند ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲- د امپیریزم فلسفه

امپیریزم یا د تجربې فلسفه د پوهې هغه شېوه ده چې د حواسو په شواهدو سره تاییدیږي. په لیدلو، اورېدلو، بویولو، حس کولو او څښلو سره موږ د خپل چاپېر په اړه مفکوره جوړو. په دې ډول تجربي پوهه له هغو نظریو څخه جوړیږي چې د مشاهده شویو یا حس شویو واقعیتونو پر اساس ترلاسه کیږي. په دې توګه تجربي پوهه هغه پوهه ده چې له تجربې، مشاهدې او حس کولو نه راوزي او د پوهې ټولې ادعاګانې یوازې د تجربې له لارې د اعتبار وړ کېدلی شي. کاکړ وایي د پوهې دغې فلسفې په انګریزي ویونکو ژور اغېز کړی دی او له جان لاک نه وروسته د برتانیې ډېرو سوچوالو هغې ته ډېره وده ورکړې ده.

کاکړ وایي چې په انګلستان کې د ده فکري طرز له امپیریسزم (Empiricism) یا تجربه پالې نه اغېزمن شو. د دغه فکري طرز ریښه د یونان ارستو او د اروپا رنسانس ته رسیږي. وروسته انګرېزي سوچوالو هغه ته نوره وده ورکړه او په ټولې نړۍ په تېره په انګریزي ویونکې نړۍ کې خپور او واکمن شو. کاکړ لیکي: «زه په افغانستان کې له هغه سره روږدی نه وم. په اصل کې هلته زما فکر انتقادي او تحلیلي نه و. هلته به مې چې څه لوستل هغه به مې په یادول او د ځان کول... هغه مې لږو ډېر ټول منل، یا ټول ردول... داسې خو نه وه چې لیکنې مې تحلیل کړې وي یاني دا چې هغه مې په ټوټو ټوټو ویشلي او د ټوټو په کتلو سره مې ټول متن درک کړی او د لیکونکي موخه، غوره والی او تعصب مې معلوم کړی وي او نتیجه مې ترېنه ایستلې وي. دا د شلمې پېړۍ په پنځوسمې لسیزې کې په کابل پوهنتون کې د زده کړې او درس ورکولو مسلط طرز و... دغه طرز په اصل کې د افغان کلتور ښکارندوی دی، چې دین او عنعنه یې غټ عنصرونه دي. نو زه لکه نور افغانان د دغسې غیر ډموکراتیک، غیر انتقادي او غیر تحلیلي یاني د تقلیدي کلتور او زده کړې محصول وم.»۱۰۲۵

کاکړ وایي چې د پوهې او پلټنې لارې ډېرې دي خو تجربه پالي تر نورو ډېر مروج طرز دی. دا په اصل کې د واقعیت او رښتیا میندلو تر ډېرې اندازې باوري لاره ده. د دغې طریقې لومړي ایستونکي په دې فکر وو چې د انسان په مغزو کې داسې شی نه شته او نه میندل کېدای شي چې هغه د حواسو له لارې نه وي خپل شوی او کوم هغه شی چې په حواسو سره نه وي تجربه شوی واقعي کېدلی نه شي. نو تجربه پال ټوله پوهه چې د نړۍ یا انسان په اړه وي له هغه څه څخه راباسي چې حواس یې ورته تهیه کوي. ارستو ویل چې «په دماغ کې داسې څیز نه شته خو هغه چې لومړی په حواسو کې وي.»۱۰۲۶ په اولسمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېړۍ کې انګلیسي سوچوال جان لاک د ارستو د نظر په ملاتړ دا نظر وړاندې کړ، چې «موږ د نړۍ په اړه پخوا له دې چې لیدلې مو وي... ذاتي ایدیاګانې نه لرو. که موږ یوه ایډیا ولرو چې په تجربه شوېو واقعیتونو پورې اړه ونه لري، هغه به ناسمه مفکوره وي.»۱۰۲۷ د جان لاک په نظر ماغزه چې باندیني مالومات د حواسو له لارې تر لاسه کوي، په غیر فعال ډول نه مني، پر هغو سوچ کوي، په اړه یې استدلال کوي او شک او تردید ښکاره کوي.۱۰۲۸

په دې ډول امپیریسزم په اصل کې هغه فلسفي دریځ دی چې د پوهې تیوري په غیږ کې نیسي او منځنی ټکی یې دا دی چې د نړۍ ټوله پوهه او د هغې په اړه معنی لرونکې ادعاګانې او بیانونه له تجربو او کتنو څخه راولاړیږي بې له دې چې کومې خاصې تیوري، یا نص یا کومې وینا ته رجوع وشي.

امپیریسزم تاریخ لیکنه لا کره کړې ده. د امپیریسزم په عام کېدو سره تاریخ کښونکي تر پخوا ډېر په دې باوري شوي چې یوازې ټولنیزې انساني پېښې او واقعیتونه د تاریخ بنسټ جوړوي.

### ۳- د ګټورتوب فلسفه

د نېکمرغۍ یا ګټورتوب د فلسفې اصلي پرنسیپ دا دی چې د خورا ډېرو خورا ډېره نېکمرغي د قانون او اخلاقیاتو بنسټ دی. د دغې فلسفې نوښتګر جرمي بنتهام و. مل وده ورکړه او د هغې کمي یا مقداري بڼه یې کیفي کړه. د ګټورتوب دغه پرنسیپ اوس په لوېدیځه نړۍ کې د اساسي قانوني حق په شان شوی دی.

کاکړ وایي چې مل په خپل اثر کې چې «د سیاسي اقتصاد پرنسیپونه» نومېږي د برتانیې د کلاسیکو اقتصاد پوهانو په نظرونو کې اساسي بدلون راووست. هغه دا چې په اقتصادي فعالیت کې تولید قوانین لازم کوي. یاني ازاد مارکېټ ځانله قوانین لري چې باید لاسوهنه په کې ونه شي. خو «وېش» هېڅ قوانین نه لري او شتمني همدا چې تولید شوه د ټولنې د هغې برخې احساسات او نظرونه ورته قوانین ټاکي چې تولیدوي یې. مل د شتمنۍ په وېش سره په پانګوالي نظام کې اخلاقیات ګډ کړل. ده په خپلو نظرونو سره پانګوالي نظام له بېخ نه اصلاح کړ. دا په زیاته اندازه د مل نوښتي نظرونه دي چې د نن ورځې لوېدیځه نړۍ ډموکراتیکې او د عامه ښېګڼې (Welfare) ټولنې شوې دي.

د مل په اند انسان د عقل نه برسېره نور طبیعي میلانونه هم لري چې هغه کړو وړو ته که هغه شعوري یا غیر شعوري وي، هڅوي. هانس مورګېنتا د عقلاني فلسفې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیمګړتیا داسې بیانوي:«عقلاني فلسفې د انسان طبعیت، د ټولنیزې نړۍ طبعیت او په خپله د عقل طبعیت سم پېژندلی نه دی. هغه دا نه ویني چې انسان درې بعدونه لري چې بیالوژیکي، عقلاني او روحي دي. د بیالوژیکي محرکاتو او د روحي غوښتنو په نظر کې نیولو سره هغه د انسان د ټول شته والي په حدودو کې هغه وظیفه په ناسمه توګه تعبیروي، چې عقل یې ترسره کوي.»۱۰۲۹

کاکړ وایي خو دا چې عقل په خپله څه شی دی په دې اړه کره تعریف نه دی لیدل شوی، که څه هم انسان د عقل خاوند دی او د هغه په حکم کړه ترسره کوي، یا یې باید وکړي. کله چې د ماشوم ګوته اول ځل په اور وسوځېدله، بیا د عقل په حکم له اور نه ځان ساتي. په دې ډول عقل هغه وړتیا یا قوې ته ویل کېدای شي چې انسان پرې د ځان ساتنه کوي او د ځان په خاطر بل چا ته هم خطر نه پېښوي. مورګانتا وايي هغسې چې په فزیکي نړۍ کې د عقل د قوانینو سره د بریالیتوب ضمانت کوي، داسې هم هغه په ټولنیزه نړۍ کې د عقل له قوانینو سره سمون کوي. که ټولو انسانانو د عقل حکم ومانه جګړې به چې دوی سره بیلوي، ورکې شي.

البته دغسې کړه اسانه نه دي، په تېره بیا په هغه چاپېریال کې چې عقل او عقیده سره وران وي، لکه زیاتره چې همدغسې وي. خو په سمې روزنې، سمې پوهنې او سمو ظابطو سره عقل وده کوي او انسان د بشپړتیا په لور درومي. بیا نو ویل کېدای شي چې انسان په ښې پوهنې سره قادر کېدلی شي چې ځان او نور وپېژني او د دوستۍ په روحیې سره ژوند وکړي.

کاکړ وايي چې په برتانیا کې هم لکه په لرغوني یونان کې چې د مذهبي بندیزونو په نشتوالي سره ازاد تفکر عام و، پایله یې د سترو سوچوالو لکه سوکرات، اپلاتون، ارسطو او نورو هسکېدنه وه، نومیالي سوچوالان هسک شول. مل او نورو برتانوي سوچوالانو د افرادو د وړتیاوو د غوړېدلو او د ټولنې د سمون او ښه تنظیم په اړه اساسي او نوښتي نظرونه وړاندې کړي چې له امله یې اوسني برتانویان په یوه منظمه ټولنه کې په عمومي ډول د عقل په رڼا کې ژوند کوي او خپلمنځي ستونزې او کشالې په خبرو سره هواروي. برتانویان اوس د فکري تقلید د حال نه وتلي او د ازاد فکره انسانانو سطحې ته لوړ شوي دي. برتانویانو ته پوهه او پوهنه دومره ارزښت لري چې ځېنې چارواکي یې د ښځو په ګډون له تقاعد وروسته د لوړو زده کړو کورسونه وایي.

کاکړ زیاتوي چې زموږ افغانان په دغې یوویشتمې پېړۍ کې هم جذباتي، احساساتي او مذهبي دي. تربورګلوي، غچ، دښمني او وژنه په کې دود ده. اوس لا په کې ځان وژنه او بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



وژنه هم دود شوې ده. کاکړ دې پوښتې ته چې افغانان چې تر برتانويانو اوږد تاريخ لري، ولې په دغه فکري حال کې دي؟ داسې ځواب وايي:

افغانان په پېړيو، پېړيو کې په خپله اراده يا د ټولنيز جبر له مخې مقلد او نا ازاد وو، او د عنعنو او دودونو له مخې يې تقليدي ژوند کاوه. له هغو فکرونو او نظريو سره هم نا اشنا وو، چې د نويو پرمختګونو له امله، په نورو ټولنو کې د فرد او ټولنې په اړه وړاندې کېدل، نو په ژوند کې يې اساسي بدلون پېښ نه شو. خو افغانان د حنفي مذهب او د خپل چاپېريال د واقعيتونو په رعايت سره د نونسمې پېړۍ تر نيمايې پورې په فکر او عمل کې اعتدالي او په مذهبي لحاظ د زغم خاوندان او ازاد طبع وو. له دوی سره په ملک کې ارمني عيسويان، يهودان، هندوان او سيکان اوسېدل. له هغه وروسته و، چې افغانان اول له برتانويانو سره د جنګونو او په شلمه پېړۍ کې له شوروي روسيانو سره د يوه اوږده جنګ له امله په خپلو ديني ارزښتونو نور هم ټينګ او د نامسلمانو په وړاندې حساس شول.

د قانوني پاچايي په ډموکراټيکه لسيزه کې، د افغانستان په رسمي سياست کې د لبراليزم پر اساس يو نوی څېرکی پرانيستل شو او د عصري پوهنې په پراخېدلو سره په تعليم کړو افغانانو کې فکري ازادي نفوذ وکړ. په دغه وخت کې و چې يو شمېر فعال سياسي افغانان د جرمني د مارکس، د روسيې د لينن، د جارجيا د ستالين او د چين د ماوزيتونګ د نظريو له مخې په عصري ګوندونو کې تنظيم شول او په وړاندې يې مذهبي ساتنپالان، د عراق د محمد عبدالوهاب، د هند د مولانا ابوالعلي مودودي، او د مصر د حسن البنا او سيد قطب د نظريو پر بنسټ په اسلامي تنظيمونو کې تنظيم شول. په دې ډول دوې سره پوره متضادي ډلې په سياسي ډګر کې فعالې شوې او افغان سياست سخت قطبي شو. دغه ګوندونه په يو څه استثنا يو په بل پسې په واک شول. دغو ګوندونو او تنظيمونو په واکمنۍ کې کوښښ کاوه، چې د ټولنې اساسي اړيکې له سره تنظيمي کړي، هغه هم په حکومتي زور.

د بېګانه فکرونو او ايډيالوجيګانو پر بنسټ ولاړ دغو ګوندونو او تنظيمونو خپله ايډيالوجي سپېڅلې او د متقابلې خوا ايډيالوجي پوچه او مردوده ګڼله. هري ډلې د خپلې "سپېڅلې" ايډيالوجۍ په تعميل کې د ټولنې جاري واقعيتونه په نظر کې نه نيول او په خپلې ايډيالوجۍ په جذمي ډول ټينګ درېدل. بيا نو هري خوا د واکمنۍ پر مهال خپل مخالفان ځپل او په تشدد سره يې له مينځه وړل. افغانستان په دې ډول د لومړي ځل له پاره د سره متضادو او دښمنو ايډيالوجيګانو د پلويانو تر مينځ د وژونکي مقابلې ډګر وګرځېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لبرال او ملي افغانان هم تر ډېره حده وځپل شول او د دوی په ځپلو سره متوسطه تعلیم کړې طبقه، چې د کلونو کلونو د پوهنې محصول وه، له مینځ څخه ولاړه او د هیواد سیاست په حکومت چارو کې د بې تجربې، هغه هم د افراطي او جذمي ګوندو او تنظیمونو ته منحصر شو. په نتیجه کې په افغانستان کې د سیاست په ډګر کې د تقلید او فکري مریي توب یوه نوې دوره پیل شوه.

اوس که څه هم د دغو ګوندونو او تنظیمونو د مطلقي ناکامۍ نه وروسته نوي لبرال او ډموکراټ افغانان، چې زیاتره یې تعلیم کړې، او د انتقادي روحیې خاوندان دي، د عصري پوهنې په پراخېدلو سره، هسک شوي دي، بیا هم د فرد او ټولنې د اساسي موضوعګانو په اړه نوي اساسي فکرونه نه دي وړاندې شوي، او ټولنه په اساس کې لا متحجره ده. اوس لا قومي او عقیدوي احساسات لا پیاوړي شوي او له مرکز نه د پرار میل ښکاره شوی، او ملي پیوستون هم سست شوی دی.

دا ټول له دې امله چې د ګوندونو او تنظیمونو د واکمنۍ په مهال خپل هیواد تر زیاته حده له لایقو او مجربو افغانانو نه محروم کړ، او په پرېمانه وژلو سره یې افغان ژوند هم ارزان او بې ارزښته کړ. په دغه ډول دغو ورانوونکو او وژونکو رجیمونو، سره له دې چې د سر یو څو لویان یې د پوهنتون استادان هم وو، د وژني ډېر بد میراث پرېښود.

بده یې لا داده چې دغه میراث د سرطان د مرض په شان ریښې کړې او د خپل سر وژلو نوي طریقې ایستل شوي دي. دا په خاص ډول وروسته له هغه وو چې د امریکې زبرځواک حکومت د یوه بېګانه عرب، اسامه بن لادن په سر د ۲۰۰۱ کال په اخېر کې د طالبانو اسلامي امارت په نظامي او هوایي قوت سره نسکور کړ او بیا د لوېدیځې نړۍ د ډېرو هیوادونو پوځونه هم د امریکې له لوی پوځ سره په افغانستان کې ځای پر ځای شول. په نتیجه کې د څه باندي لسو کلونو په موده کې د طالبانو د شریکو او دباندنیو پوځونو په مقابله کې له دواړو خواوو نه په زرګونو افغانان او باندنیان هم ووژل شول. امریکا په همدغه دوران کې د وران شوي افغانستان د بیا ابادولو په لار کې یوسلو درې میلیارډه ډالره ولګول، خو که دغه پیسې، چې د افغانستان له پاره خورا ډېرې وې، په رښتیا او پر ځای لګولې شوي وای، افغانستان به بیرته ودان او د افغانانو غټې ستونزې به هواري شوي وای. خو په افغانستان کې حکومت د بېساري، ډېر عام اداري فساد او د باندنیو د ناوړې مدیریت له امله وو چې دغو پیسو خلکو ته هغومره ګټه و نه کړه چې دوی یې هیله من کړي وو.

اوس (۲۰۱٦) که څه هم د امریکې او ناټو پوځونه شاوخوا لس زرو ته لږ شوي دي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلي دنده یې جګړه کول هم نه دي، بیاهم یو پراخ جنګ روان دی، او د وژلو او ترهګرۍ قربانیان افغان نظامیان او ولسي وګړي دي، دغه وژني، هغه هم د ولسي معصومو خلکو، باید افغانانو ته د زغم وړ نه دي، خو څنګه چې د پرله پسې جګړو او ترهګرۍ له امله د افغانانو ژوند ارزانه شوی دی، د سلیم عقل اواز ته وژونکي غوږ نه نیسي. اوس لا د وژني نوي شکلونه، انتحاري وژني (ځان وژنه او بل وژنه) نه یوازي د نارینه وو، بلکه د ښځو او ماشومانو [وژني] هم رواج شوي دي؛ که څه هم دا د ټولو بشري حقوقو او اسلام پر ضد عمل دی. په قرآن مجید کې د النسا د سورت په ۹۳ م آیت کې ارشاد دی چې که " څوک یو مؤمن په ارادي ډول وژني د هغه پاداش دوزخ دی، چې هلته به (د تل له پاره ) وي، او د خدای تعالی عذاب او غضب به پر هغه وي، او سخته جزا به ورته تیاره وي." لوی امام ابو حنیفه په فقه اکبر فتوا کې مؤمن دغسي مسلمان ښودلی دی: " موږ هیڅ څوک د ګناه له کبله کافر نه ګڼو، او نه موږ د هغه له عقیدې نه منکر یو."۱۰۳۰

د وژني میراث لا هم په قوت کې دی او د ختم هیله یې کمزورې ده. دا د افغان په تاریخ کې تر هر بل جنګ نه اوږد دی، او ښکاري چې هغه به په یوه او بله بڼه نور هم اوږد شي، مګر په هغه حال کې چې د سیاست د ډګر لوبغاړي د خپلو ایډیالوجي ګانو افراطي اړخونه پرېږدي او د زغم په ښوولو سره د روغې جوړې لار ونیسي. څنګه چې د دغو ډیرو ډلو مخینه د جنګ، وژني او افراطیت ده، قوي حکومتي نظام په خپله ګټه نه ویني. دوی دا هم په نظر کې نیسي چې د شورویانو او د لوېدیزو پوځونو په وتلو سره کراري په وطن کې خوندي نه شوه، او دوی په خپلو کې د جنګ یوه بله دوره پیل کړه. په داسي حال کې چې پخوا د برتانوي لښکرو په وتلو سره په وطن کې کراري شوې وه، هغه وختونه په افغانستان کې د دوی په شان تنظیمونه نه وو.

کاکړ وایي چې دغه ټول جنګونه، د کورنیو جګړو په ګډون، دغومره اثرناک شول، چې د افغانانو کرکټر او سلوک ته یې بدلون ورکړ. اوس ان ښځې او ماشومان هم په دغسي بېرحمۍ سره وژل کیږي لکه په دیارلسمه پېړۍ کې چې چنګېزیانو وژل. د دغو ټولو جنګونو، وژنو او د هیواد د ورانولو بیان نه دی شوی. امکان یې هم نه مالومیږي. یو څو وروستۍ بیلګې یې دادي:

د تېر کال (۲۰۱۵) په پای کې د کابل ښار د شاه دو شمشېره ماجت تر څنګ اتو نارینه وو، په ګډه په جوش سره د فرخنده په نامه یوه ځوانه نجلۍ ووژله. ما ته نه ده مالومه چې د افغانستان په تاریخ کې به دغسي بېرحمه وژنه، هغه هم د یوې ښځې او د ښار په مینځ کې، ارګ ته نژدې شوې وي. وروسته د غور ولایت د غلمین په ولسوالۍ کې، شاوخوا شلو سریله

(c) ketabton.com: The Digital Library



طالبانو، نولس کلنه رخشانه یو په بل پسې په تیږو وویشتله، تر څو مړه شوه. د سریله طالبانو د صحرایي محکمې په نامه یوې سریله محکمې هغه په سنګسار محکومه کړې وه، په دې چې هغې له دې څخه انکار کړی وو، چې له یوه پنځه پنځوس کلن سړي سره واده وکړي، چې پلار یې ورته په نامه کړې وه. د ۲۰۱۵ کال په نوومبر کې د زابل په ولایت کې اوه هزاره لارویان - څلور نارینه دوې ښځې او یو ماشوم ووژل شول، بې له دې چې کوم جرم یې کړی وي. ویل شوي دي چې دا د داعش ( د عراق، شام د اسلامي دولت) ته منسوب د ملایانو کار وو. په ۲۰۰۸ یا ۲۰۰۹ کې په سوات کې د راټول شویو ډیرو خلکو په مخ کې د چند په نامه د اوه لس کلنې نجلۍ په درو وهل وو په داسي حال کې چې د هغې لاس اوپښې ترلي شوي وې. هغه وخت طالبان هلته مسلط وو. د ۲۰۱٦ کال په جنوري کې د فاریاب ولایت په غورماچ کې یوه سړي د خپلي شل کلني ښځې، رېزه ګل، پزه پرې کړه او خپله یې، چیرته نژدې، د طالبانو تر لاس لاندي سیمي ته پناه یووړه.

په بله سطحه کې څو کاله وړاندي د شرعي محکمې له خوا د ښاغلي غوث زلمي په اعدام محکومېدل وو، په دې چې هغه د خلکو د پاره قرآن مجید په فارسي اړولی وو. دی بیا د کوم چا په شفاعت عفو خو له وطن نه د تل له پاره وایستل شو.

له دغو پیښو نه واضحه ده چې جنګ، هغه هم پرله پسې جنګ او وژنه، انساني صفتونه له مینځ نه وړي او انسان وژنه عامه کیږي. د افغانانو په تاریخ کې دغسي افغان وژنه عامه نه وه. دا ډېره غټه تراجیدي ده چې د افغانانو په ډېر ښکلي ملک کې دغسي کرغېړني پیښي کیږي، هغه هم په یوویشمه پیړۍ کې. چاره په کار ده، چې وخت له وخت نه تېر نه شي، او که نه د دغسي جنګ، وژني او ترهګرۍ به افغانانو ته د دغسي لویو ملي مصیبتونو لامل شي چې که خلاصون ترې نه کېدونکی نه وي، خورا ګران به وي. اساسي چاره په کار ده. د استاد محمد ظریف امین یار په نظر چاره داده چې: " ما باید در طرز تفکر خود تجدید نظر بنیادي کنیم." د اساسي چاري له پاره حتمي ده چې د افغانستان جاري واقعیتونه په نظر کې ونیول شي. افغانستان نور یو ګوښه شوی هیواد نه دی، او افغانان نور په تقلیدي ژوند قانع نه دي. په میلونونو افغانان اوس په چم ګاونډېیو هیوادونو او په لکونو نور په اروپا، امریکا او کاناډا کې پراته دي. تېر کال (۲۰۱۵) شاوخوا دوه نیم لکه افغانان په اروپایي ملکونو کې د ژوند له پاره لاړل. دننه په وطن کې عصري پوهنه، د پوهنتون په سویه، تر هر بل وخت پراخه شوې ده، او ډېر افغانان د الکټرونیکي مخابراتي وسایلو - موبایل تیلیفون، انټرنیت او تلویزیون له لاري له نړیوالو سره په زیاتېدونکې اندازه په تماس کې دي. هر ګړی د نویو مالوماتو خاوندان کیږي، تنویر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي او هڅول کېږي چې ژوند د عقل په لارښود وکړي، او له تقلیدي ژوند نه مخ واړوي. دا یو پراخ او پراخېدونکی حرکت دی، په دې چې دا د عادي افرادو حرکت دی، او افراد د هري بشري ټولني بنسټ جوړوي. اوس د افغاني ټولني چلوونکو ته حتمي ده چې د دغه حرکت له پیاوړي کېدلو سره مرسته وکړي او په خاص ډول، افغانانو ته د هر ډول پوهني زده کړه اسانه کړي. افرادو ته د ازادي او د دغي لاري نه ممکن کېږي چې خپلو استعدادونو ته، چې انکشاف ته یې ټاکلی حد نه شته، د کمال په لور انکشاف ورکړي. افراد د ښې پوهني او ازادۍ په حال کي فکري ابتکارونه کوي، او د ژوند لا ښې طریقې راباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نهه ویشتم څپرکی

# جګړه او زموږ نړۍ

کاکړ د علمي اثارو د ژباړلو په لړ کې یو بل مهم اثر چې «جګړه او زموږ نړۍ» نومیږي او جان کیګن لیکلی دی او دې مایکل هاورډ دوې مقالې هم ورسره ملې دي په پښتو وژباړه. دا اثر له یوې خوا د پښتو د علمي کېدو په لاره کې یو ګام دی او د بلې خوا زموږ د جنګ ځپلي هېواد خلکو ته، چې دا څلور لسیزې د جګړې په لمبو کې سوځي او لا دوام لري د جګړو د زیان او ورانی برسېره په تاریخي لحاظ د جګړې ځینو مهمو اړخونو او پایلو نه خبر شي.

کاکړ د خپلې پیلامې په ترځ کې وایي چې جګړې انسان او ټولنه هر چېرې او هر وخت زیانمنه کړې، دومره ډېره چې د جان سټوراټ مل په وینا «هېڅ شی د جګړې د ورانی جبران نه شي کولی». لرغونو یونانیانو ویل چې جګړه په دې بده ده چې هغه نور هم بد خلک زیږوي نظر دې ته چې له منځ نه یې وړي.

کاکړ زیاتوي چې انسانان له انسانانو سره جګړې کوي او د جنګ پایلې د انسانانو له شمېر او جنګي وسیلو سره نېغ تړاو لري. په اوسنۍ نړۍ کې چې خلک خورا ډېر شوي، هېوادونه ډېر شوي، ملي دولتونه ډېر شوي او ورسره ډول ډول وسلې د اټومي او هایدروجني بمونو په ګډون ډېر شوي دي، جګړې هم ډېرې تباه کوونکې شوې دي. په هستوي وسلو سره شونې شوې ده چې د انسان په لاس جوړ شوی نړیوال مدنیت له منځ نه یوړل شي او په خپله انسان ګرد سره نابود شي او مځکه د لمریز نظام د نورو کرو په شان له ژوند نه خالي شي.

له همدې امله پوهانو په تېره د لوېدیځې نړۍ پوهانو د جګړې او د هغې په ټولو اړخونو لیکنې کړې تر څو خلک د جګړې د پایلو نه ښه خبر وي او واکمنان په سیاست او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډپلوماسۍ کې د هغو په نظر کې نیولو سره کشالې په خبرو سره هوارې کړي. په دغه حال کې د هر انسان دنده ده چې د جګړې په مخنیوي کې په هره بڼه او کچه چې وي ونډه واخلي.

جان کیګن د جګړې په مهمو اړخونو غږېدلی، چې ډېر مهم یې د جګړې سرچینه ده. څنګه چې انسانانو د تاریخ په اوږدو کې ډېرې جګړې کړې، ځکه دغه فکر عام دی چې وایي جګړه د انسان طبیعي میلان دی. په بله ژبه د جګړې سرچینه جنګ ته د انسان طبیعي میلان دی. کانټ وایي چې «انسان د کاږه لرګي نه جوړ دی.»۱۰۳۱ تاریخ پوه جان هورګن وایي چې «جنګونه دومره ډېر ډول ډول دي، چې د هغو په اړه تاسې د هر ډول تیورۍ د منلو یا ردولو له پاره شواهد میندلی شئ»۱۰۳۲ دی زیاتوي چې د وژونکې ډلې د تشدد شواهد یوازې د تمدن له هسکېدو نه دیارلس زره کلونو د مخه ته رسیږي.

که جګړه طبیعي میلان هم وګڼل شي، هغه به داسې میل وي چې په یو حال کې نه پاتې کیږي او بدلون مومي، په دې چې ټول کاینات چې انسان یې یو ډېر کوچنی توکی دی، تل بدلون کوي. څنګه چې انسان د مځکې د کرې پر مخ تر هر بل ژوندي موجود نه د ډېرې لوړې وړتیا یاني د عقل خاوند دی، خپل طبیعي میلان یې بدلونکی دی. جان سټوسنګر وایي چې انسان ډېر داسې دودونه پرې ایښي دي چې پخوا نه پرېښېدونکي ښکارېدل. د بېلګې په توګه د کنګل په دوره کې چې خلک په سمڅو کې اوسېدل له نږدې محرم سره ملاسته پوره د منلو وړ وه، په داسې حال کې چې اوس له محرم سره جنسي عمل نږدې په عالمي کچه مردود دی. انسان خوړل او مریتوب هم روا ګڼل کېدل خو اوس دا ښکارندې ورکې شوې او د مري توب او د انسان خوړلو په شان به جګړه د انسان د مصیبتونو د کارخانې نه لیرې کړای شي.

دی زیاتوي چې داسې ښکاري چې انسانان خپل ناوړه خویونه له مصیبتونو نه وروسته پرېږدي. عقل یوازې بسیه نه کوي. موږ باید پخوا له دې چې بدلون وکړو مصیبت باید تجربه کړو. دی زیاتوي چې د لرغوني انسان د ښکاریتوب او پونده توب د ژوند په اړه هر څه چې ویل شوي دي شخصي نظرېې او تیوري ګانې دي، چې هغه هم سره ټکر کوي. د بېلګې په توګه توماس هوبس انسان د طبعیت په حال کې دغسې حیوان ښودلی چې د ټولو سره د جنګ په حال کې وي. خو ژان ژاک روسو ویلي چې انسان په طبیعي حال کې جګړه نه پېژانده او دا مدني حالت و چې جګړې ته یې وهڅوه. د هوبز نظر ډېرو پوهانو رد کړ. نومیاله انسان پېژندونکې مارګرېټ میډ وایي چې جګړه بیالوژیکي اړتیا نه، بلکې یوازې یوه موندنه (اختراع) ده. په دې چې که جګړه بیالوژیکي اړتیا وای انسان به هغه د نورو طبیعي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړتیاوو غونډې په منظم ډول کولی.

په لوېدیځې نړۍ کې د دوهمې نړیوالې جګړې نه وروسته نړیوال جنګ نه دی شوی. د اروپايي اتحادیې غړو لا ژمنه کړې چې خپلمنځي لانجې به په جګړې نه، بلکې په خبرو هواروي. زموږ په وخت کې د جګړې په وړاندې ذهنیت په ځانګړې توګه په لوېدیځې اروپا او شمالي امریکا کې ښه پیاوړی شوی دی. دا چې انسان د جګړې وړتیا لري، هغه د سولې وړتیا هم لري. په دغه حال کې ویل کېدای شي چې د وسیلو په سمون، د ژوند په ښه کېدلو، د ولسي نظامونو په عام کېدلو او په ځانګړې توګه د ژوند د ارزښت په پوهېدلو او قدر کولو سره د نړیوالې جګړې د له منځ نه وړلو یا لږ تر لږه د هغې د کمېدلو له پاره هیله کېدای شي. انسان پوه جان میولر وايي چې د نړیوالې جګړې مخ په ځوړتوب د جنګ په اړه زموږ د ډېرېدونکي مخالفت غبرګون دی.۱۰۳۳

د دغه کتاب بل بحث دا دی چې وايي «دولت جګړه رامنځ ته کړه او دولت جګړه کوي.» کیګن په دې فکر دی جګړه کول د دولت ځانګړې دنده نه وه او د وخت په تېرېدلو سره د جګړې کولو دندې یې په تېره په لوېدیځې نړۍ کې خپل درنښت له لاسه ورکړی دی. په لوېدیځې نړۍ کې اوس دغه ذهنیت پیاوړی او عام دی، چې له دولت نه د دفاعي حالت نه پرته جګړه نه غواړي، بلکې د ژوند ښه کېدل غواړي. کیګن وايي چې په تاریخ کې هم داسې نه وه، چې جګړه یوازې د دولت کار و. بې دولته هم جګړې وې او برسېره پر دې دغسې دولتونه هم وو، لکه د مصر د فرعونانو چې د پېړیو پېړیو په بهیر کې یې هم نه یرغلیز او نه هم دفاعي جګړه کړې ده. په تاریخ کې په تېره د ناپلیون د وخت نه وروسته، نړیوالې جګړې هغه وخت ډېرې شوې چې دولتونو لوی او دایمي پوځونه یې لرل.

له جګړې نه مطلب یوازې نړیواله جګړه ده. خو په ټولو جګړو کې یو ګډ ټکی شته، چې هغه د خبرو اترو او منځګړي توب له لارې پرته د فزیکي زور له لارې د یوې لانجې هوارول دي. البته هغه وخت چې خبرې پایله ورنه کړي، فزیکي زور ته لاس اچول کیږي. د جګړې وار په وار د کمېدو له پاره کیګن دا دلیلونه راوړي:

دی وايي چې ډېر مهم یې دادی چې جګړه په بشري، اقتصادي او نظامي لحاظ ډېره ګرانه تمامیږي او تیري کوونکي په جګړې سره خپلې موخې ته هم رسېدلی نه شي. هېڅ ملت چې په شلمې پېړۍ کې جګړه پیل کړې بریالی ونه ووت. د بېلګې په توګه استریا، هنګري او جرمني لومړۍ نړیواله جګړه وپاروله او په بدنامۍ سره مات شول. په دوهمه نړیواله جګړه چې هېټلر پیل کړه، جرمني په بې شرطه تسلیمۍ سره وځپل شو. عربانو چې په ۱۹۴۸ کال کې په نوي یهودي دولت یرغل وکړ، په څلورو پرله پسې جګړو سره یې د اسرایلو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندې سيمې له لاسه ورکړې. پاکستان چې غوښتل يې هند ته مخکې له مخکې جزا ورکړي، د جګړې په بهير کې په خپله دوه ټوټې شو. کاکړ وايي چې بله بېلګه يې په افغانستان باندې د شوروي اتحاد يرغل و، چې د افغانانو سره څه باندې نهو کلنو په جګړې کې ناکام او د امپراتورۍ د ټوټه کېدو يو لامل شو.

د هيلې بل وړ ټکی دا دی چې لوېديځوالو د شلمې پېړۍ د لويو جګړو نه زده کړه وکړه. ډېرو هېوادونو د لومړۍ نړيوالې جګړې ورسته د ملتونو ليګ او د دوهمې نړيوالې جګړې وروسته د ملګرو ملتونو موسسه جوړه کړه. د ملګرو ملتونو موسسې د يرغلونو او جګړو په شنډولو، د سولې په خوندي کولو، په اقتصادي او پوهنيزو ساحو کې مهم کارونه کړي دي. غړو يې ژمنه کړې چې د يرغليز جنګ په وړاندې به دغې موسسې ته ځواکونه ورکوي. د موسسې غړي په خپل سر جګړې کولو نه منع دي، خو دا چې د ځان په دفاع کې وي يا د دغې موسسې له خوا تاييد شوې وي. نن د هستوي وسلو په لرلو سره د انسان د بشپړ ورکېدو شونتيا شتون لري ځکه هم دولتونه محتاط شوي چې لانجې په خبرو سره هوارې کړي.

دی وايي چې بل مهم ټکی دا دی چې د لوېديځې نړۍ په ولسونو کې د جګړې، وژنې او زور پر وړاندې د شعور او ويښتيا پياوړي کېدل دي. ستوسنګر وايي چې د علمي شعور دغه نوی او سوکه سوکه پياوړي کېدونکی زړه سواندی کې زموږ غټه هيله پرته ده.۱۰۳۴ جان هوګن وايي چې د جګړې د مخ په ځوړتوب تر ټولو ډېره عامه شرحه د ډموکراسۍ عام کېدل دي. په ډموکراسۍ کې خلک د خپلو استازو له لارې حکومت کوي. کانټ وايي چې له دغسې ډموکراسي نظام نه د تلپاتې سولې هيله کېدای شي. د جان هوګن په وينا کانټ لومړی پوه و، چې د ډموکراسۍ او د سولې تر منځ يې د تړاو وړانديز وکړ.

ستوسنګر دا هم وايي چې دا هم د هېلې وړ نښه ده، چې زموږ په مهال کې د نړيوالو لانجو د هوارولو له پاره د ډپلوماسۍ نه ډېر کار اخېستل کيږي. د ډپلوماسۍ د بري له پاره به هغه مهال لاره هواره شي، چې د شتمنو هېوادو واکمنان کوښښ وکړي د خپلو ټولنو او پرمختلونکو هېوادو تر منځ د ژوند په کچه کې توپير لږ کړي.

بل اساسي شی چې دا بهير پياوړی کولی شي، د عصري پوهنې او ټکنالوژۍ نور عام کېدل دي. اوس دا فکر عام شوی چې پوهه، پوهنه او ټکنالوژي د وړاندې تګ او ښه ژوند له پاره اساسي شرط دی. فکري وده د وړتياوو د ودې له پاره حتمي ده. د وړتياوو دا وده ده چې انسان د پياوړي وجدان خاوند کيږي او قضاوت او کړه د عقل او تدبير له مخې کوي او د بدلون او وړاندې تګ خنډ نه کيږي. نامتو اقتصاد پوه ويلي و، چې هغه داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنه لیدلې نه ده چې غړي یې باسواد او په خپله بېرته پاتې وي. څنګه چې افراد د ټولنې بنسټ جوړوي، د هغو وده او پرمختګ د ټولنې د پرمختګ او د خلکو د نېکمرغۍ لامل کیږي.

کاکړ د خپلې پیلامې دوهمه برخه د افغانستان جګړو ته ځانګړې کړې ده او د هغو ناوړه پایلې یې وطنوالو ته روښانه کړې تر څو سولې ته وهڅول شي. دی وایي چې په افغانستان کې د تاریخ په اوږدو کې دغومره ډېرې جګړې شوې، چې په بل هېواد کې په دغه اندازه شوې نه وي. د نړۍ نامتو قوماندانان لکه سکندر، چنګېز خان، امیر تیمور او بابر دلته زموږ د خلکو سره جنګېدلي دي. سکندر چې په نړۍ کې یو بېجوړې قوماندان و، په لرغوني افغانستان کې د پښتون سپېتامنز په مشرۍ د ځایي خلکو له داسې مقاومت سره مخامخ شوی، چې د هخامنشیانو په امپراتورۍ کې ورسره مخامخ شوی نه و. سکندر د کونړ په دره کې د هغه مهال د اسپاسیانو یا د نن ورځې یوسفزیو له ټینګ مقاومت سره مخامخ شو. په دواړو سیمو کې هم د سکندر پوځ د سر ډېر زیان ولید او په خپله څو ځله ټپي شو. د ځایي خلکو دغه زړورتیا او جګړه یزې ځانګړنې به وې چې سکندر په خپله او د هغه قوماندانانو ورسره خپلوي او خېښي وکړه. که څه هم یونانیان د اپلاتون او ارستو په ګډون غیر یونانیان بربر ګڼل خو د ټارن په وینا «دا په خپله د سکندر فکر و، چې دغسې سطحې ته لوړ شي، چې د اپلاتون او ارستو له سطحې نه لوړ و.»۱۰۳۵ سکندر د یوه ځایي واکمن اوکسیارتز د لور رخشانې او د هغه قوماندان سلوکوس نیکاتور د سپېتامنز د لور اپامه سره واده وکړ. د سلوکوس نیکاتور او اپامې زوی چې انتیو کوس نومېده پاچا شو. د یونان- باختري پاچایانو دلته یوه پېړۍ واکمني وکړه.

د اتلسمې پېړۍ په پیل کې میرویس نیکه په کندهار کې د صفویانو واکمنۍ ته د پای ټکی کېښود او په کندهار کې د لومړي افغان دولت بنسټ کېښود. زوی یې شاه محمود هوتک د صفوي امپراتورۍ مرکز اصفهان یې د ګلناباد د تاریخي جګړې په ترځ کې ونیو. د ستر احمدشاه په سروالی د امو نه تر اباسین پورې ټول افغانستان د پردیو له واک نه ازاد شو. کشمیر، سند، پنجاب او فارسي خراسان د هغه د امپراتورۍ برخې شوې. ورسته د اروپایي نیواک په دوره کې په داسې حال کې چې هم اسیایي او هم د نورو لویو وچو هېوادونه د هغه د لاندې کېدلو تر خطر لاندې شول، افغانستان ته هم خطر پېښ شو. افغانستان چې له سدوزیو نه محمدزیو ته د واکمنۍ د انتقال په مهال چې امیر دوست محمد خان په کابل کې واکمن و، د برتانوي پوځ د یرغل سره مخامخ شو. افغانانو په ټینګ او کلک مقاومت په پایله کې دښمن په شا تللو ته اړ او د کابل- ګندمک تر منځ لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې له منځه یووړ. تر دې د مخه د باندنیو ګرځندویانو په لیکنو کې افغانان په ټولې اسیا کې ازاد طبع او پراخ ذهن خلک یاد شوي دي. خو د دې جګړې په پایله کې د نامسلمانو باندینیو په وړاندې حساس شول. دغه حساسیت څلوېښت کاله وروسته د برتانوي هند په بل ناکام یرغل سره نور هم پیاوړی شو. په ۱۸۹۳ کې د برتانوي حکومت له خوا په امیر عبدالرحمن باندې د ډیورنډ کرښه وتپل شوه او له هغې وروسته نږدې هر کال په ختیځو پښتني سیمو کې د برتانوي هند د یرغلګر پوځ په وړاندې د غزا په نامه جنګېدل. امیر عبدالرحمن سره له دې چې د برتانوي هند د حکومت دوست و، او باندینۍ چارې یې هم د هغوی له خوا ترسره کېدې، بیا هم هغه د هغه سیمو خلکو ته وسلې ورکولې او ځوانان یې په خپلو افسرانو سره روزلي وو. په دغه لړ کې د وزیریستان د حاجي میرزعلي خان، چې د اپي فقیر په نامه یادېده، غزاګانې ان له هند نه د انګرېزانو تر وتلو پورې او تر هغه وروسته د پاکستان پر ضد روانې وې. یو ځل انګرېزانو د هغه د نیولو په موخه څلوېښت زریز پوځ وګاروه خو د هغه په نیولو کې ناکام شول. کاکړ وایي چې د اپي فقیر د وزیریستان د یوه بل ستر قوماندان میران شاه په شان و، چې په منځنیو پېړیو کې یې د هند په وړاندې یرغلونه کول. د دغو ټولو جنګي مقابلو په پایله کې په افغانانو او په ځانګړې توګه په ختیځو پښتنو کې جنګي روحیه د دوی د کلتور برخه شوه. په ۱۹۷۹ کال کې په افغانستان باندې د شورویانو پوځي یرغل سره دغه جنګي روحیه لا نوره پیاوړې شوه. افغانانو، چې د نړیوالو پراخ ملاتړ ورسره و، شوروي اتحاد اړ کړو چې خپل پوځونه د افغانستان نه وباسي.

د افغان- شوروي جګړې پایله دا شوه چې د برلین دېوال ړنګ، د شوروي امپراتوري ړنګه او ساړه جګړه پای ته ورسېده. د شوروي پوځ په وتلو او د کابل رژیم په نسکورېدو سره جګړه باید پای ته رسېدلې وای، خو داسې ونه شول. تنظیمي لویانو د پاکستان د صدراعظم نواز شریف د پلان له مخې د تنظیمي انحصاري حکومت فورمول ومانه.

اسلامي تنظیمونو د دې پړاو چې د وران شوي ملک د بیا ودانولو او د ملي سیاست په کولو بوخت شي، د واک پر سر پخپلمنځي جګړو بوخت شول. د کابل ښار چې د نیواک په دوران کې لوی شوی او په امن کې و، په کنډواله بدل شو. په ټول ملک کې د سر، مال او ناموس خوندیتوب له منځه لاړ. په دغې دورې کې ابادي هېڅ ونه شوه. پاکستان، ایران او تر څه اندازې ازبکستان په دغه ناارام حالت کې خپلې ځانګړې ډلې پیاوړې کولې او په دې ډول یې په افغانستان کې یو ډول نیابتي جګړه کوله.

په دې لړ کې د جوماتونو ملایان او طالبان د تنظیم واکې پر ضد جګ شول او له یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لړ نښتو او جګړو وروسته یې په ۱۹۹۶ کې دغه دوره چې دوی «د شر او فساد دوره» بلله پای ته ورسوله. خو د دغه نوي اسلامي امارت لویانو هم د خلقیانو، پرچمیانو او تنظیمي ډلو په څېر واکمني خپلې ډلې ته ځانګړې کړه. د دوی غړي چې له قدري، خلاصې، کنز او قران مجید نه اخوا په نور څه نه پوهېدل او په اداري او حکومتي چارو کې یې هېڅ تجربه نه لرله. د طالبانو لویانو په لومړي سر کې وکولی شول چې وسله ټوله، امنیت ټینګ، د خلکو مال او ناموس خوندي، د کابل په نیولو سره د رباني- مسعود واک مات او د افغانستان د وېشلو شوروي پلان ناکامه کړي. د طالبانو په واکمنۍ کې د هغوی افراطي کړۍ د هغو بهرنیو تروریستانو تر اغېز لاندې راغلې چې د رباني- مسعود د واکمنۍ په وخت کې یې په هېواد کې ځاله کړې وه او د افغانستان د تابعیت تذکرې ورکړی شوې وې هېواد نور هم ناتوانه کړ. دغو ترهګرو د اسامه بن لادن په مشرۍ د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر په یوولسمه نېټه د نیویارک د ښار د نړیوالې سوداګرۍ جګې ماڼۍ رانسکورې کړې. دوی امریکا یا کوم دریم هېواد ته اسامه بن لادن د سپارلو څخه د مېلمه توب تر پلمې ډډه وکړه. د امریکا متحده ایالاتو د ملګرو ملتو او نړیوالو په ملاتړ د طالبانو واکمني رانسکوره کړه او د افغانستان د تاریخ نوې پاڼه پرانېستل شوه او د بن پروسه پیل شوه.

د بن په غونډه کې که څه هم د هغې ګډونکوونکي د خلکو واقعي استازي نه وو د زیاتو نیمګړتیاوو سره سره یې د یوه مشروع دولت د جوړېدو له پاره لار پرانېسته. د بن د پرېکړو پر بنسټ د برهان الدین رباني څخه د لنډ مهالې اداري مشر حامد کرزي ته واک ولېږدول شو، بیا لویه جرګه جوړه شوه او د لویې جرګې د پرېکړې له مخې حامد کرزی د انتقالي دورې د رییس په توګه وټاکل شو، ورپسې د اساسي قانون جرګه جوړه او اساسي قانون تصویب شو، د اساسي قانون پر اساس د ولمشرۍ ټاکنې وشوې او حامد کرزی د خلکو د پټو او نېغو رایو په بنسټ د جمهور رییس په توګه وټاکل شو، د ولسي جرګې او د مشرانو جرګې ټاکنې ترسره شوې. په دې توګه د اساسي قانون له مخې یو لېرال ډموکرات ولسمشري نظام په پښو ودرول شو او د پنځه ویشتو کلونو وروسته د ډموکراسۍ نوې دوره پیل شوه.

په دغه دوره کې د پوهنې، د بیان د ازادۍ، مخابراتو، د لارو د جوړولو، روغتیا، د دولتي اداري د جوړولو، د ښځو د حقوقو د تامین او ځینو نورو برخو کې د پام وړ کارونه سر ته رسېدلي دي. مهمه دا ده چې د امریکا د متحده ایالاتو، انګلستان، اروپایي اتحاد او ناټو سره ستراتیژیک تړونونه لاسلیک شوي دي. دا لاسته راوړنې به څو ځله نورې هم زیاتې وای که د لومړي سره ځینې تېروتنې نوای شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړیوالې ټولنې د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د یوولسمې نېټې د پېښې نه وروسته چټک غبرګون وښود او د دې وخت یې ونه موند چې د افغانستان له پاره ټاکلې ستراتیژي جوړه کړي، همدارنګه د بده مرغه په عراق باندې برید د افغانستان موضوع ته پاملرنه لږه کړه، برسېره پردې نړیوالې ټولنې د خپل سر د زیان د لږولو په موخه پخوانیو ټوپکمارانو او زورواکانو باندې تکیه وکړه او د شمالي ټلوالې په وجود کې یې په زیاته کچه د واک واګې دغو بې رحمه قوماندانانو، دړامارانو او لوټمارو ته په لاس ورکړې له دې کبله د خلکو مال، جایداد او ناموس خوندي نه دی. که څه هم هغه مهال د افغانستان خلکو او په ځانګړې توګه د کابل خلکو ډیرې نارې سورې وکړې خو د دوی غږ ته چا غوږ و نه نیو. د مایکل هاورډ په ژبه د افغان دغه نوې ډموکراسي د عمل په ډګر کې د غلو او ټګمارو واکمني شوه او اداري فساد په حیرانوونکي ډول په دغه ډول عام شو چې په افغانستان کې هېڅکله دومره عام نه و.۱۰۳۶

د ۲۰۰۶ کال نه وروسته د بهرنیو او حکومت په وړاندې د طالبانو او ملګرو ډلو له خوا ګوریلایي ډوله بریدونه زیات شول. د دې وضعې نه زموږ بدنیتو ګاونډیانو هم ګټه پورته کړه. دوی زموږ د هېواد په کورنیو چارو کې د لاس وهنې په موخه طالبان او القاعده تنظیم، وسله وال، تمویل او وروزل او د وراني په موخه یې زموږ هېواد ته راولېږل. د دغو کورنیو او بهرنیو لاملونو په پایله کې بې امني لا زیاته شوه، په دولت کې فساد لوړې کچې ته ورسېد او د نشه یي توکو د کښت، قاچاق، سوداګری او انتقال مافیا رامنځ ته شوه چې هېواد یې د سترو ننګونو سره مخامخ کړ.

د امریکا متحده ایالاتو د مشر اوباما د جمهوري ریاست په دوره کې د امریکا د متحده ایالاتو او د حامد کرزي تر منځ اړیکې ورو ورو خرابې او د کرزي د واکمنۍ په دوهمه دوره کې یې د هیواد په بیا رغونه منفي اغېز وشینده. د امریکا او ناټو پوځونو لویه برخه په ۲۰۱۴ کال کې د افغانستان نه ووتل. خو دوی لوی افغان پوځ شا ته پرېښود او د هغه د روزنې له پاره یې یوه وړه قوه پرېښوده.

په ۱۹۱۵ کال کې بیا ټاکنې وشوې او اشرف غني د زیاتو رایو په ګټلو سره ټاکنې وګټلې، خو داسې ښکارېده چې د اوباما د ادارې ځینو چارواکو نه غوښتل چې یو اغېزمن دولت دې په افغانستان کې په پښو ودریږي. دوی د جان کیرې په خوښه په افغانستان باندې د تش ملي یوالي په نامه حکومت په افغانانو وتپه. خو بیا هم د زیاتو ملي او نړیوالې ستونزو سره سره د امریکا له متحده ایالاتو سره اړیکې ورغول شو ې او نړیوالې مرستو دوام وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۲۰۱۹ کال کې بيا ټاکنې وشوې او دا ټاکنې اشرف غني وګټلې خو دا دريم ځل دی چې عبدالله عبدالله د ټاکنو پايلې نه مني. اوس له يوې خوا د طالبانو او امريکې تر منځ ترون لاسليک شوی او د بلې خوا د افغانستان د حکومت او طالبانو تر منځ د سولې خبرې د پيلېدو په درشل کې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دېرشم څپرکی

# د ډموکراسۍ و اقعي نړۍ

دا کتاب په اصل کې د مېسي (Massey) شپږ لېکچرونه دي چې د کاناډا د تورنتو د پوهنتون پوهاند س. ب. میکفرسن د ۱۹۶۵ کال د جنوري او فبروري په میاشتو کې د کاناډا د راډیو په څپو کې اورولې وې. دا لېکچرونه لومړی د کاناډا راډیو د یوې رسالې په بڼه او بیا د انګلستان د اکسفورډ د پوهنتون له خوا په ۱۹۶۶ په لړ بدلون سره چاپ شول. کاکړ دا رساله په فارسي وژباړله او په ۱۳۵۰ کال کې په کابل کې چاپ شوه. د افغانستان تاریخ په دغه مهال د کابل د پوهنتون د زده کړیالو او روښان اندو تر منځ پر دغسې موضوعاتو تاوده بحثونه روان وو. په دغه مهال کې چپي ایډیاګانو چې د خلک ډموکراتیک ګوند له خوا او د بلې خوا افراطي اسلامي نظریات چې د اسلامي تنظیمونو له خوا یې تبلیغ کېده د پوهنتون فضا توده کړې وه. کاکړ دا رساله په دغه حال کې څکه خپاره کړه چې د هغو روڼ اندو، چې د سیاسي او د دولت د اداره کولو د چارو سره علاقه لري، پام دې ته واړوي چې دغه رساله ولولي او د واقعي ډموکراسۍ نړۍ نه خبر او د افراطیت نه وژغورل شي. خو کاکړ ما ته په ټلیفون کې وویل چې اغېز یې لږ و. په دغه کتابګوټي کې لیکوال د ډموکراسۍ یو ځانګړی تعریف نه مني بلکې هغه په درې بیلو مفهومونو سره پېژني: لبرال ډموکراسي چې په لوېدیځه نړۍ کې پلې کیږي، غیر لبرال ډموکراسي چې یوه ځانګه یې د دریمې نړۍ د پرمختلونکو هېوادونو کې پلې کیږي او په پای کې د غیر لبرال ډموکراسۍ بله ځانګه چې په سوسیالستي نړۍ کې پلې کیږي. د دې کتابګوټي د لیکوال په نظر د دې درې واړو ډولونو وروستۍ موخه یوه ده هغه دا چې دوی د انسان د بشپړې وړتیا د ودې زمینه برابروي، خو هغوي دغې موخې ته د رسېدلو له پاره په بیلو لارو روان دي. دا نتیجه ګیري د هغې نظریې سره په ټکر کې ده چې ادعا کوي چې موجودې ډموکراسۍ په یوه لار یو پر بل پسې روانې دي او یوه ورځ به ټولې د یو بل سره وتړلې شي او په پایله کې به یو مفهوم ځانته ونیسي. اوس به د دغو شپږو لېکچرونو مهم ټکي لوستونکو ته وړاندې کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ډموکراسۍ زاړې او نوې پولې

د دې کتابګوټي لیکوال وايي چې د ډموکراسۍ په اړه شک شته. په اصل کې د شک اساس چې د ډموکراسۍ په اړه شته هغه په خپله د ډموکراسۍ موضوع ده په دې چې د ډموکراسۍ کلیمې څو ځله خپل مفهوم په څو لورو اړولی دی. پخوا ډموکراسي یوه بده کلیمه وه. هر نفوذمن او مهم سړی په دې پوهېده چې د ډموکراسۍ اصلي مانا د خلکو اراده یا حکومت د خلکو د ډېرکي په اراده وي. نږدې سل کاله وړاندې هوښیارو خلکو د ډموکراسۍ په اړه همدا نظر درلود.

ډموکراسي له هغې نه وروسته په وروستیو پنځوسو کلونو کې ښه وګڼل شوه. د لوېدیځې لبرال ډموکراسۍ په وړاندې انقلابونه وشول چې د پرولتاریا ډموکراسۍ یا خلقي ډموکراسۍ په نامه او د اسیا او افریقا په هېوادو کې په څو نومو یاده شوه.

ډموکراسي د لوېدیځې نړۍ د لبرال ډموکراسۍ سره باید یوه ونه ګڼل شي او غیر لبرال سیستمونه چې په سوسیالیستي او د دریمې نړۍ په هېوادونو کې شته د دې حق لري چې د ډموکراسۍ اصطلاح وکاروي. دا موضوع به په دوهم لېکچر کې نوره هم روښانه شي. بل ټکی دا دی چې د بل هر سیستم په شان لبرال ډموکراسي د قدرت یو سیستم دی یاني د هر بل سیستم په شان د دوه ګوني قدرت سیستم دی. په دې توګه ډموکراسي د قدرت د یوه سیستم په توګه یو سیستم دی چې دولت د هغه په وسیله سره په خپلو افرادو او ډلو خپل قدرت عملي کوي.

دریم ټکی دا دی چې لبرال ډموکراسي د پانګوالي له اصل سره یوځای مخته ځي. لبرال ډموکراسي یوازې په هغو هېوادو کې لیدل کېږي چې پانګه وال اقتصاد لري. هر پانګوال هېواد د څو استثنی پرته چې هغه هم د څه وخت له پاره وي د یوه لبرال- ډموکراتیک سیاسي سیستم لرونکي دي.

اوس به لومړی د ډموکراسۍ زاړې او نوې پولې له نظر نه تېرې کړو. په لوېدیځه نړۍ کې هغه وخت چې لبرال ډموکراسي او لبرال دولت منځ ته نه و راغلی د ډموکراټیکو ټاکنو حق معمول نه و. ډموکراسي له پاسه وارده شوه او اړه وه چې د هغو شرایطو سره ځان برابر کړي چې د ټولنې له خوا تهیه شوي و چې په خپله د فرد او مارکېټ د سیالۍ محصول و او په هغه کې یو لبرال دولت واک چلوه او دغه دولت د یوه سیستم له لارې د ټولنې په چوپړ کې و چې سیاسي ګوندونو په کې په ازاده او ډموکراتیکه توګه سیالي کوله. لبرال دولت په پای کې ډموکراتیک او ډموکراسي په پای کې لبرال شوه. دا د ډموکراسۍ په ماهیت کې بدلون و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سوسیالستي او هغو هېوادونو کې چې نوي ازاد شوي د لبرال پانګوالۍ او دولت په وړاندې د انقلاب په څېر ډموکراسي منځ ته راغله. د دوی په اند ډموکراسي په اصلي مانا د عامو خلکو په ذریعه اداره د اعتبار وړ ده. دلته هم د ډموکراسۍ په مانا کې هم بدلون راغی څنګه چې نوې ماشیني تکنالوژۍ تولیدي قواوي دومره زیاتې شوې چې د خلکو د راتلونکې له پاره د پرېمانۍ فکر وکړو. له دې کبله دوی ډموکراسي په اصلي مانا نه، چې حاکمیت د یوې طبقې په ګټه، بلکې حاکمیت د ټولو خلکو له پاره په مانا بولي.

د ډموکراسۍ اصلي مانا د خلکو له خوا حاکمیت دی. د ډموکراسۍ دا مانا په زیاته اندازه طبقاتي مسله وه او د هغې مانا د تر ټولو ټیټې او لوېې طبقې نفوذ او حاکمیت و. له دې کبله پوهو، شتمنو او هغو کسانو چې د متمدن ژوند لارې ته یې ارزښت ورکاوه له ډموکراسۍ نه وېرېدل او هغه یې ردوله. افلاتون د مخزېږدې پنځمې پېړۍ کې ډموکراسي د برابرۍ د نظریې په حیث رد کړه. په اوولسمه پېړۍ کې کرومول په همغې روښاتیا سره رد کړه. ان جان سټوارټ مل د نولسمې پېړۍ د لبرالیزم ستر لارښود کله چې پوه شو چې اوس باید د عوامو سره د خلکو په څېر معامله وکړو د رای ورکولو د داسې سیستم وړاندیز یې وکړ چې د هغه له مخې کارګرې طبقې نه شو کولی چې د ډېرکي د غړ څښتنه شي.

د دې کتابګوټي لیکوال وایي چې هغه لبرالي ډموکراسۍ چې موږ یې پېژنو اول لبرالې وې بیا ډموکراتیکې شوې. په بله ژبه په لوېدیځه نړۍ کې د ډموکراسۍ د ترویج کولو د مخه ټولنه او د انتخاب سیاست او ټولنه او د مارکېټ سیاست منځ ته راغی. د ازاد انتخاب اصل پرته د اداره کونکو او اداره شویو تر منځ د سیاسي اړیکو پرته د افرادو تر منځ په ټولو اړیکو کې ټولو منلی و. افراد ازاد وو چې مذهب، د ژوند شېوه، د واده شریکان، او خپل کار وټاکي.

د فردي انتخاب پر بنسټ ټولنې ځینې نیمګړتیاوې درلودې. په داسې ټولنه کې لویه نابرابري پټه وه. په دې چې شونې نه ده چې تر هغه د پانګوالي مارکېټ څښتن شو چې ځینو خلکو پانګه جمع کړې او ځینې زیات خلک یې هېڅ ونه لري او یا دومره لږ ولري چې نه شي کولی په خپلواکه توګه کار وکړي او اړ وي خپل کار نورو ته وړاندې کړي. دغه نابرابري د انتخاب په ازادي کې شامله ده. سره له دې پانګوالي سیستم تر پخوانیو نه په زیاته اندازه لوړ و. په هغه کې د جګېدو او لوېدو چانس ډېر و. په خوا هم تل نابرابرۍ شتون درلود. په هر حال نوی سیستم منځ ته راغی او فردي لبرالي ټولنه جوړه شوه چې د حقوقو د واقعي برابرۍ یې هېڅ ډموکراتیک شی نه درلود. خو لبراله وه.

د دې له پاره چې دا ټولنه اغېزمن کار وکړي د حکومت یوه معقول سیستم اړتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



احساس کېدله. داسې حکومت د سمون يا د انقلاب له لارې په اوولسمه پېړۍ کې په انګلستان، په اتلسمه پېړۍ په امريکا او په اتلسمه او نولسمه پېړۍ کې په فرانسه کې منځ ته راغی. په دې ترتيب لبرال دولت منځ ته راغی. د لبرال دولت جوهر متناوب يا د يو شمېر ګوندونو سيستم دی. دغه ډول ګوندي سيستم په خپل ځان کې کوم ډموکراتيک شی نه درلود. لومړی ځل دا سيستم په انګلستان کې منځ ته راغی سيستم ښه ټينګ او اغېزمن شو. دغه پېښه نيمه يا يوه پېړۍ د مخه دوره کې وشوه چې عمومي رايه اچونه ډموکراتيکه شي. د لبرال دولت دنده دا شوه چې دغه لبراله ټولنه چې ډموکراتيکه نه وه وساتي او وده ورکړي. د سيالۍ ګوندي سيستم دنده دا شوه چې د مارکېټ سيالي کوونکې ټولنه وساتي او حکومت د شتمنو د اکثريت په ګټه چې په خپله د مارکېټ ټولنه اداره کوي مسول وي.

دا ډېر وروسته و چې په لبرال دولت کې ډموکراټيک انتخاب رواج وموند. دا کار په اسانۍ او زر لاسته رانغی. د ننيو لبرال ډموکراټيکو په زياترو هېوادونو کې دغه تشکل د زياتو لسيزو او په ځينو هېوادو کې د نولسمې پېړۍ په وروستيو کې منځ ته راغی. ښځې چې د ټولنې نيم شمېر جوړوي اړې وې چې لا نورې هم سترګې په لاره وي تر څو د سياسي غړ ځښتنې شي.

په دې ترتيب د مارکېټ په ټولنه او لبرال دولت کې ډموکراسي وروسته ورزياته شوه. هغه وخت چې ډموکراسۍ په لبرال ډموکراتيکو هېوادو کې رواج وموند نوره د لبرال ټولنې او لبرال دولت مخالفه نه وه. ډموکراسي په دغه وخت کې د ټيټو طبقو له خوا د لبرال دولت او د مارکېټ د اقتصاد د غورځولو له پاره کوښښ نه و، بلکې د ټيټو طبقو له لوري د موسساتو د ننه او د ټولنې د سيستم د ننه ځان ته موزون ځای پيدا کول و. ډموکراسۍ خپله بڼه بدله کړه. ډموکراسۍ لبرال دولت ته د خطر پر ځای د لبرال دولت بشپړولو ته بدلون وکړ.

هغوی چې د ټاکنو حق ترلاسه کړ خپل سياسي غړ يې په زياته اندازه وکاروه. د دولت نه يې د پوهنې، روغتيا، او سوکالۍ په برخو کې خدمتونه وغوښتل. دا خدمتونه پخوا ډېر لږ وو. دوی د زياتو دولتي مقررو غوښتنه هم وکړه. لبرال ډموکراتيک دولت له دې وروسته د عامې سوکالۍ دولت شو. د دې کتابګوټي ليکوال دا هم وايي چې دا سمه ده چې لبرال ډموکراټيک دولت زيات خدمتونه کړي او پلانګذاري او کنټرول يې تر يوې اندازې پلي کړي دي. خو که لبرال دولت ډموکراتيک شوی نه وای بيا هم لبرال دولت دا کارونه کول. په دې چې حکومتونو کله چې د نارامې کارګرې طبقې چې د دولت ثبات ته خطر شمېرل کېدو، د ملاتړ د لاسته راوړلو د اړتيا احساس وکړ دا کار د جرمني ساتنپال صدراعظم بسمارک

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړ نه کوم لوی ډموکرات چې په ۱۸۸۰ کې یې د لومړي ځل له پاره د سوکالۍ د دولت اساس ایښی و.

په دې ترتیب لبرال دولت د ډموکراسۍ په زیاتولو سره خپل ذاتي منطق بشپړ کړ نه یې خپل ځان د منځه یوړ او نه یې ځان کمزوری کړ، بلکې هم یې ځان او هم یې د مارکېټ ټولنه غښتلې کړه. ډموکراسي یې لبراله او لبرالیزم یې ډموکراټیک کړ.

## د غیرلبرال ډموکراسۍ کمونیسي څانګه

د دې کتابګوټي لیکوال وایي چې موږ په لوېدیځ کې یوه بې جوړې سیاسي سیستم ته وده ورکړې چې هغه د لبرال دولت او د ډموکراټیکو ټاکنو د حق جوړښت دی. موږ باید هغه ته د لبرال ډموکراسۍ نوم ورکړو. اوس دا پوښتنه راپورته کیږي چې لبرال ډموکراسي څه شی دی؟ د مخه مو یادونه وکړه چې ډموکراسي په اول کې یوه طبقاتي مسله وه. یاني د یوې طبقې حاکمیت د خپلې ګټو د تامین له پاره. هغه انقلابي غورځنګونه چې په سوسیالستي هېوادو او په هغو ملتونو کې چې اوس خپلواکې ترلاسه کړې لږ او ډېر ډموکراسي په دې مانا پېژني. خو د مخه مو دا هم وویل چې په دغو هېوادو کې هم د ډموکراسۍ مفهوم بدل شوی او د لومړي طبقاتي مفهوم نه په یوه بشري مفهوم چې د طبقاتو نه لوړ دی بدلون کړی دی.

د ډموکراسۍ کمونسټي نظریه د ۱۸۴۰ او ۱۸۸۰ کلونو تر منځ د کارل مارکس د لیکنو نه سرچینه اخلي. مارکس په دې باور و چې انسان په اصل کې یو خلاق ازاد موجود دی. د مارکس په نظر انسان په ټولو تاریخي دورو او هم د تاریخ نه د مخه دوره کې د ځانګړو دلیلونو له مخې ونه کړای شول چې خپل اصلي ماهیت په بشپړه توګه واقعي کړي. په دې چې تولیدي قواوو کچه ټیټه وه. د تولیدي قواوو دغې ټیټې کچې انسان په اجباري کار محکوم کړی و. په هغه حال کې د دې له پاره چې کار متشکل شي د حاکمې طبقې استثمار ته لږ او ډېره اړتیا وه. خو اوس دغه حال ته اړتیا نه شته ځکه چې وروستي پانګوالي سیستم د تولیدي قواوو ظرفیت ډېر زیات پراخ کړی دی. دغه سیستم په تخنیکي لحاظ د اجباري کار نه د ټولو انسانانو د خلاصولو شونتیا منځ ته راوړې ده. انسان د دغه اجباري کار او طبقاتي ټولنې د زبېښاک نه خلاصون کولی شي د لومړي ځل له پاره انساني شي.

د اروپا پانګوالي ټولنه چې مارکس وڅېړله په ښکاره په طبقاتو وېشلې وه. د مارکس د تحلیل له مخې طبقاتي زبېښاک د طبقاتي سیستم اساسي توکی و. تر هغه چې پانګوالي نظام موجود وي یوه طبقه به د خپلو ګټو د تامینولو له پاره وسیلې کاروي او د دولت نه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



زور د وسیلې په توګه کار اخلي. له دې کبله باید د پانګوالۍ اصل له منځه یوړل شي او یوازې تولیدي قواوې چې پانګوالۍ ورته وده ورکړې وساتل شي. لیکوال وایي چې له دې نه داسې پوهېدای شو چې د مارکس په نظر د مخه تر دې چې طبقاتي زبېښاک وضع پای ته ورسیږي او انسان ازاد شي تر څو خپلې وړتیاوې په بشپړه توګه کشف کړي باید پانګوالي دولت له منځه یوړل شي او پر ځای یې پرولتاري حاکمیت ودریږي. د پرولتاریا حاکمیت به تر هغه اړین وي چې پانګوالي ټولنه په سوسیالستي ټولنه بدله شي.

مارکس د پرولتاریا د حاکمیت دوره ډموکراسي وبلله. دغه مفهوم مارکس د کمونېست په مانیفست کې چې په ۱۸۴۷ کال کې خپور کړ په بشپړه توګه روښانه کړ. د کارګرې طبقې په انقلاب کې لومړی ګام دا دی چې پرولتاریا سیاسي واک ته ورسیږي او د ډموکراسۍ مبارزه وګټي. ډموکرسي باید طبقاتي دولت وي. د هغه په مرسته د پانګوالۍ قانوني بنسټ ړنګ شي او د ټولنې ټولې تولیدي قواوې د جمع شوې پانګې په ګډون د ټولنې په چوپړ کې وکارېږي. د مارکس په اند د پرولتاریا او پانګوالانو باندې طبقاتي وېش په تاریخي لحاظ د طبقاتي وېش وروستۍ بڼه ده او هغه وخت چې د پرولتاریا دولت پانګوالي سیستم له منځه یوسي د هغې وروسته به ټولنه په دښمنو طبقو وېشلې نه وي. طبقې به د زبېښاک په اصلي مفهوم ورکیږي. طبقاتي دولت هم په دغه سرنوشت اخته کیږي.

په دې توګه مارکس فکر کاوه چې د کارګر طبقه پانګوالۍ زیږولې ده. یوازې د سیاسي قدرت په نیولو سره ځان ازادولی شي. حاکمیت یې له دې امله ډموکراتیک دی، چې د خلکو ډېره کې جوړوي او موخه یې د ټولو انسانانو بشري کول دي. دغه ډموکراسي په اول کې به طبقاتي حاکمیت وي په دې چې طبقاتي حاکمیت د پانګوالي اقتصاد په سوسیالستي اقتصاد باندې د بدلولو له پاره اړین دی. کله چې دا بدلون بشپړ او پرېماني عامه شي له هغې وروسته به طبقاتي حاکمیت ته اړتیا نه وي.

خو هر چا ته مالومه ده چې وروستي انکشافات هغسې ونه شول چې مارکس یې هیله کوله. د زیاترو پرمختللو سرمایه داري هېوادو کارګرو طبقې چې د خپل سیاسي ځواک نه خبر شول او د اغېزمن سیاسي غړ څښتنان شول، د خپل غږ نه یې د پانګوالۍ سیستم د ردولو له پاره ګټه پورته نه کړه، بلکې په دې هڅه کې شول چې خپل ځای په داخل د دې سیستم کې بهتر او سم کړي. پرولتاري انقلاب په داسې هېواد کې وشو چې څو لسیزې د مخه پانګوالي په کې رواج شوې او پرولتاریا اوس د کوچني ټاپو غوندې د بزګرانو په لوی سمندر کې پراته وو.

لنین په ۱۹۰۲ کال کې ویل چې د یوه مخکښ ګوند چې په مارکسستي ایډیالوژي سنبال

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي باید د انقلاب لاربښونه وکړي او د کاګر طبقه په ځان پسې روانه کړي. په ۱۹۱۷ کال د اکتوبر په میاشت کې کله چې حکومت چې د قانوني او لبرال پانګوالی د اصل له مخې د رنګ شوي تزاري رژیم نه ورته په نیکات پاتې و، ونه شو کولی ټولنه چې جګړې او طبقو ناارامه کړې وه اداره کړي. په دې توګه لومړنی کمونستي انقلاب د یوه مخکښ ګوند له خوا د کارګرې طبقې په نوم پلی شو. له هغه نه وروسته شوروي دولت د یوه تنګ مرکزیت د اصل له مخې د مخکښ یا کمونست ګوند له خوا کنترول کېده.

د دغه دولت موخې مارکسېستي وې. دوی غوښتل د دولت د قدرت نه د ټولنې انتقال د پانګوالی نه بې طبقاتو ټولنې ته ګټه واخلي. خو څنګه چې د انقلاب په مهال یې مادي بنسټ جوړ شوی نه و باید مادي اساس ورته جوړ شي. د شوروي سروالانو د هغه وخت نه دا اړتیا احساسوله چې سیستم ډموکراتیک کړي. شونې نه ده چې په مخکښ تل باور وشي. شوروي دولت د مارکسېستي ډموکراسۍ د اصلي مفکورې نه یو څه لرې شو. د دې پرځای چې له یوې طبقاتي ډموکراسۍ نه پیل وکړي اړ شو د مخکښ دولت نه یې پیل کړي. په لوېدیځ کې فکر کېده چې شوروي سیستم یوازې یو مطلقیت دی او د یو څو نخبه ګانو له خوا د شوروي په خلکو باندې عملي کېږي.

ایا کولی شو مخکښ دولت یو ډموکراتیک دولت وبولو؟ که ډموکراسي یوازې په دې ځانګړي مفهوم تعبیر شي چې دا د ټاکنو او حکومتونو ته واک ورکولو یو سیستم وي په هغه حال کې مخکښ دولت ډموکرات کېدای نه شي. په دې چې د خلکو له خوا نه دی ټاکل شوی.

ټول واکمن کمونستي واکمن ګوندونه ادعا کوي چې ګوندې ډموکراسي لري. خو موږ ویلی شو چې که د ګوند د ننه پوره ډموکراسي موجوده هم وي بیا هم د کلیمې په کره مانا سره ډموکرات کېدای نه شي. په دې چې په ګوند کې غړیتوب ښکاره او بې قید او شرطه نه دی. په هر حال دغه کتاب چې لیکل کېدو د کتاب لیکوال دا فکر نه شو کولی چې دا کمونستي حکومتونه به زیاتره د شلمې پېړۍ تر پایه دوام ونه کړي.

## په پرمختلونکو هېوادو کې د غیرلبرال ډموکراسۍ څانګه

مېکفرسن وایي چې د دریمې نړۍ پرمختلونکي هېوادونه زیاتره نه کمونستي او نه پانګوالي دي. ځینې یې د انقلابي مبارزې نه وروسته او ځینو یې د زور د کارولو پرته خپلواکي ترلاسه کړه. دا بدلون دومره ستر دی چې باید د انقلاب په نوم یاد شي. دا انقلاب د خلکو د منظم توده یي غورځنګ په پایله کې د خپلو لاربښوونکو په مشرۍ پلي شو. دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاربښوونکو وکولی شول چې د تودو ملاتړ د خپلو راتلونکو خیالونو له پاره وګټي او د دغو خیالونو او لیدونو یوه برخه په عمومي توګه ډموکراسي نظر و.

دا د ډموکراسۍ نظر څه شی دی؟ دا نظر د ډموکراسۍ د دوو لارو نه چې د مخه مو وڅېړلې، توپیر لري. دا نه د لوېدیځې نړۍ لبرال ډموکراسي ده او نه د مارکس او لینن له خوا طرح شوې ډموکراسي ده. دا هغه ساده ډموکراسي ده چې د صنعتي ټولنې د مخه موجوده وه. د مخه مو ولیدل چې د اصلي ډموکراسي دا مفکوره په لوېدیځ کې څنګه په لبرال دولت کې شامله شوه او څنګه یې بدلون وکړ او په لبراله ډموکراسي بدله شوه. دا مو هم ولیدل چې د اصلي ډموکراسۍ مفکوره په کمونستي تیوري کې په یوه بله بڼه بدلون وکړ. مارکس او لینن هغې ته په بشپړه توګه طبقاتي منځپانګه (مضمون) ورکړه. د غیر لبرال ډموکراسۍ د دې ځانګې د پېژندلو له پاره ښه لاره دا ده چې وګورو چې د درېمې نړۍ نویو ملتونو د مارکسېستي او لبرال تیوریو کوم شیان منلي او کوم یې منلي نه دي.

د درېمې نړۍ پرمختلونکو هېوادو مشران زیاتره په لوېدیځ کې روزل شوي او په عمومي توګه د لبرال ډموکراسۍ او مارکسستي تیوري ګانو سره بلد او اشنا دي. دوی په شعوري ډول د دواړو تیوري ګانو هغه توکې د ځان د پاره ټاکي چې د دوی په اند د اوسنیو مسایلو او د دوی د خلکو د راتلونکې د پاره د عملي کېدو وړ وي او په دې توګه دوی خپله تیوري جوړوي. دوی د لبرال ډموکراسۍ ځینې ځانګړتیاوې رد کړې. د دوی د ډموکراسۍ مفکوره د لبرال فردیت په اصل ډډه نه لګوي په دې چې د دوی په نظر برابري او ټولنه او د ننه په ټولنه کې برابري د دود په لحاظ د انفرادي ازادۍ نه زیات ارزښت لري. په پرمختلونکو هېوادو کې د خپلواکۍ مبارزه د یو ګوندي سیستم یا لږ تر لږه هغه سیستم چې د یوه برلاسي ګوندي سیستم په نامه یادېږي پرمخ لاړه. نو ځکه د دوی د پاره د لبرال ګوندي سیستم چې ملي ګوندونه د سیالۍ له مخې حکومت ټاکي او واک ورکوي د دوی د پاره پوره اساس نه درلود. د مېکفرسن په اند څنګه چې د دې هېوادونو نه یوازې د خپلواکۍ لاسته راوړل و بلکې د خپلواکۍ وروسته د ټولنې عصري کول او د تولیدي قواوو د کچې لوړول هم دي چې نردې د یوه ګوند شتون هرو مرو کوي. په پرمختلونکو هېوادو کې مذهبي، قومي او په اقتصادي لحاظ د ځینو سیمو وروسته پاتې والی کله د دې لامل کېږي چې د مرکزي حکومت او د لاسبري ګوند ملاتړ ونه کړي او د خپلو ګوندونو جوړولو هڅه وکړي. خو دا پروسې د ملت د جوړونې او پرمختګ سره ټکر کوي نو داسې مخالفتونه د دغو هېوادو ملي ګټې تهدیدوي او خیانت بلل کېږي. له دې کبله په دغو هېوادو کې ننني ذاتي فشارونه د لبرال ډموکراتیک سیستم په وړاندې موجود دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې هېوادونو کې دا فشارونه چې د یوه نالبرال دولت د منځ ته راتلو له پاره کېږي دوه لاملونه لري. لومړی دا چې د اقتصادي پرمختګ له پاره د پانګې تمرکز ته اړتیا ده. دوهم دا چې د قبیلې، کوچنۍ مذهبي ټولنو او کوچنۍ ځایي ټولنو پرځای ملت ته د پراخې وفادارۍ اړتیا ده.

په دغو هېوادو کې د پراخو پرګنو غورځنګونه د پیاوړي مخکښ ګوند په لارښوونه نوي دولتونه منځ ته راغلل. د دوی سیاسي شعور تر طبقاتي زیات ملي دی. دلته د پراخو پرګنو عمومي اراده د طبقو پرته د ځینو لوړو موخو د پاره لکه ملي خپلواکي او د اقتصاد وده په نسبتي ډول شتون لري. د ملي خپلواکي د ټینګښت او ملي اقتصاد د پیاوړتیا له پاره سیاسي شعوري ژوند ته د پراخو پرګنو جذبول دي. په دغسې حالت کې دغه سیاسي سیستم چې دا کار په ښه ډول پرمخ بیایي ډموکراتیک بللی شو.

د میکفرسن په اند د طبقاتي مبارزې مارکسستي نظر د تاریخ د محرک ځواک په توګه په خپلو هېوادو کې د تطبیق وړ نه بولي. همدارنګه دوی د مارکس دا ادعا هم نه مني چې دولت د طبقې د واک یوه اله ده. دوی د هغه د دې پایلې سره هم سر نه خوځوي چې د هغې له مخې د سیاسي قدرت سیستم چې د پانګوالی په وړاندې د انقلاب وروسته منځ ته راځي د پخوا په شان دې یو انقلابي دولت وي. دوی د دې سره هم سر نه خوځوي چې د بې طبقاتو ټولنه د طبقاتي دولت له لارې وشي.

د درېیمې نړۍ هېوادونو د پانګوالی ضد انقلابونه زیاتره د ملي انقلاب په توګه ګڼل کېږي. دوی د امپریالستي سلطې په ردولو او د پانګوالي د اصل نه ځان ازادول د طبقاتي سیستم د ټول سیاسي قدرت نه خپل ځان ازاد کوي. ځکه د انقلاب وروسته د طبقاتي دولت یوې دورې ته لاس نه اچوي. د پرولتاریا د ډیکتاتورۍ اړتیا هم نه احساسوي.

## لبرال ډموکراسي د قدرت د سیستم په څېر

د مخه مو ولیدل چې په اوسنۍ نړۍ کې د ډموکراسۍ درې ډوله فعالیت کوي. هره یوه یې د ټولنې بنې ته د ودې په یوه ځانګړې مرحله کې بدلون ورکوي او په خپله هم د هغې په ذریعه سره بدلیږي. دا یادونه مو هم وکړه چې هر حکومتي سیستم د قدرت یو سیستم دی. حکومت د خپل ماهیت له مخې یوه عملیه ده چې په هغې سره قوانین وضع کېږي او په مدني افرادو پلي کېږي. د حکومت سرچینه چې هر څه وي داسې واک ورکول کېږي په هغوی چې حکومت وربانديې کېږي په زور کنټرول کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مخه مو دا يادونه هم وکړه چې لبرال ډموکراسي د ټاکنې سياست دي او په هم هغه وخت کې د قدرت سيستم هم دی. په رښتيا لبرال ډموکراسي د حکومت او ټولنې د نورو ټولو سيستمو غونډې د قدرت دوه ګونی سيستم دی. لبرال ډموکراتيک دولت د هر بل دولت غونډې د قدرت يو سيستم دی. هغه شی چې په لږه اندازه پېژندل شوی دی لبرال ډموکراسي د قدرت د سيستم دوهم مفهوم دی. هغه هم د هر بل دولت په شان په دې سبب وجود لري چې د افرادو او داخلي ډلو د اړيکو ټولګه چې په اصل کې د قدرت اړيکې دي وساتي. البته د افرادو تر منځ ټولې اړيکې د قدرت په اړيکو نه بدليږي. د بېلګې په ډول د مينې اړيکې، د دوستۍ اړيکې د خپلوۍ اړيکې او نور.

د قدرت د اړيکو شتون او دولت ته اړتيا چې هغه پلې کړي د غير ازاد مارکېټ په ټولنو کې ښکاره ليدل کيږي. د مريتوب په نظام کې د بادار او د مريي تر منځ اړيکه د قدرت اړيکه ده او دولت چې هلته موجود و دنده درلوده چې دا اړيکې وساتي. د قدرت دا ډول اړيکه د ملکيت د ځينو حقوقي موسسو له خوا ساتله کيږي او پلې کيږي. په مريتوب کې په خپله انسان په ملکيت بدل و. په فيوډالي ټولنه کې بزګران اړ وو د ځمکو مالکانو ته په ټاکلو شرايطو کار وکړي په دې چې بزګر د ځمکې څښتن ته د کار د وسايلو د ملکيت په بدل کې يو څه ورکړي او دغه تاديه شايد د زور بنه ونيسي. د بېلګې په ډول بزګر کولی شي د ځمکې څښتن ته د ځمکې د ملکيت په بدل کې د خپل محصول يوه برخه او يا د اجارې په صورت کې يوه اندازه نغدې پيسې ورکړل شي.

په پانګوالي ټولنه کې د افرادو تر منځ اړيکې هم د قدرت اړيکې دي. په دې چې د خلکو ډېرکی شخصي ځمکه يا سرمايه نه لري چې په هغې کار وکړي او اړ دي چې د نورو په ځمکه يا پانګه کار وکړي.

## وروستۍ کچې ته د رسولو افسانه

ميکفيرسن وايي لکه چې د مخه مو وليدل لبرال ډموکراتيک دولت د لبرال دولت چې په اول کې بېخي ډموکراتيک نه و، د ټاکنو ډموکراتيک حق چې وروسته ورزيات شو تاريخي ترکيب دی. لبرال دولت د سيالو سياسي ګوندونو او ځينې ازادۍ لکه د غونډو، بيان، د خپرونو، مذهب او شخصي ازاديو ضمانت وکړ. لبرال دولت د پانګوالي ازادې ټولنې د پاره شرايط برابر کړل. سيالي د لبرال دولت او د مارکېټ د ټولنې اصل وګرزېد. دا سيالي د افرادو ترمنځ کېده. دوی ازاد وو، چې په خپله خوښه د خپلې انرژۍ او وړتيا نه ګټه پورته کړي. ځينو کسانو ته دا واک ورکړي چې هغوی حکومت وکړي او داسې قوانين او مقررې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلې کړي چې د یوې پانګوالې مارکېټ ټولنې د پاره لازم وي. لبرال انقلابونه نږدې د عامو خلکو د ملاتړ نه برخمن و.

د مخه مو دا هم وویل چې دغې سیالۍ ته د ټولنې غړي د برابرۍ په اساس داخلېدای نه شي په دې چې د پانګوالې ټولنې د ماهیت سره سم ځینې د دوی نه باید پانګه ولري او نور ورباندې کار وکړي. دوی اړ دي چې د خپل کار یوه برخه هغو ته ورکړي چې د کار وسایل یې په لاس کې دي. میکفیرسن زیاتوي چې دغه د خپل کار د یوې برخې ورکول په عمومي توګه نه احساسیږي ځکه چې د پانګوالي اقتصاد لویې تولیدي قواوې یې تر وړانګو لاندې نیسي. خو کله چې تولیدي قواوې د زوال په لوري رواني شي لکه د ۱۹۳۰ کال کې چې وې بیا دغه د خپل کار د یوې برخې ورکول احساسیږي په داسې حالاتو کې کارګران او نور زیار ایستونکي حاضریږي چې جدي سیاسي کړو ته لاس واچوي. دولت اړ کیږي چې ټولنېزې بیمې او د سوکالۍ د دولت د نورو فایدو، په عایداتو د مترقي مالیې د وضع کولو او نورو له لارې جبران کړي.اوس د سوکالۍ دولت (Welfare state) تر یوې اندازې جوړ شوی دی. خو سره له دې د مارکېټ پانګوالي ټولنه د ځینو د کار یوه برخه ځینې نورو کسانو ته لازمي کوي.

جان ستوارت مل د تېرو سلو کلونو د مخه په دې پوه شو چې د کارګر طبقه به تر زیاتې مودې پورې د خپل کار د یوې برخې ورکولو سره به جوړه رانه شي. خپله یې د دې مسلې د هوارولو ځواب ونه موند. وروسته د دې مسلې د هوارولو دپاره د ګټې تیوري (Utilitarian theory) مرستې ته راودنګل. هغه دا چې ځنګه چې د انسانانو غوښتنې اندازه نه لري نو انسانان به د خپلو غوښتنو د پوره کولو د پاره به تل لاس په کار وي دوی وړاندیز کوي چې دا مسله باید داسې هواره شي چې هر څه دې د مارکېټ د سیالۍ اقتصاد ته پرېښودل شي او دولت دې د دغه اقتصاد ملاتړ وکړي. د لبرال ډموکراسي تیورۍ له دې وروسته وروستۍ کچې ته د رسولو په تیوري بشپړه ډډه ولګوله. د ګټې تیورۍ تر نولسمې پیړۍ پورې ښه عامه شوه.

د لبرال ټولنې ډموکراتیکه تیوري سره له دې چې د مارکېټ د ګټو د اخېري کولو باندې بشپړه ډډه لګوي قانع کوونکې نه ده. لومړی دا چې یوازې په داسې حال کې چې عاید موجود وي شونې ده چې وښیو چې د مارکېټ سیالي کوونکې ټولنه خوشالۍ نهایي کولی شي. خو که تاسو د موجود وېش عادلتوب ونه ښودلی شی نو نه شی کولی چې د سیستم حقانیت هم وښیی. که د ګټو تولید د مارکېټ د طبیعي عملیې په وسیله وروستۍ کچې ته ورسیږي ثبوت هم شي دا فرضیه ایجابوي چې مارکېټ باید په بشپړه توګه د سیالۍ وي او هېڅوک او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کومه ډله ونه کړای شي نرخونه کنټرول کړي. خو دې ډېرې مودې راهیسې ګورو چې د پانګوالۍ پرمختللی اقتصاد انحصاري مرحلې ته رسېدلی او د انحصاري شرکتو پانګوال د ډېرو تولید شویو شیانو نرخونه کنټرولوي. په داسې حال کې هېڅ دلیل نه شته چې هیله وکړو چې د دغو ګډو شرکتونو پانګوال به د ټولې ټولنې ګټې وروستۍ کچې ته ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





# کاکړ او لرغونی یونان

د یونان اصلي اوسېدونکي پیلاسګین (Pelasgian) نومېدل. تر هغو د مخه د مینوس (Minos) خلکو د کرېټ په ټاپو کې یو ځلانده مدنیت درلود چې د ختیځ له مدنیتونو نه اغېزمن و. دغه مدنیت نږدې د مخزیږدې ۱۴۰۰ کې د یونان د مای سینای (Mycenae) خلکو له خوا ړنګ شو. د کرېټ مدنیت چې ښه وده یې کړې وه دوه پېړۍ وروسته د ټروی جګړې (۱۱۹۴- ۱۱۸۴مخزیږدې) په پایله کې کمزوری او بیا د ډوري قومونو (Dorians) له خوا نسکور شو. یونان ډوریانو ته په لاس ورغی چې د هندو- اروپايي ژبنۍ ډلې خلک وو. ډوریانو د یونان اصلي اوسېدونکي پیلاسیګین ونومول، چې د هېرودت په وینا په غیر یوناني ژبه ګړېدل او ایونیان (Ionians) له هغو د نسب څخه وو. ډوریانو ایونیان ونه ځپل، لاندې یې کړل او له هغو او ای اولونیانو (Ae Olians) سره یې په ګډه د یونان کلتور او مدنیت ودان کړ.

ډوریانو خپله هندو- اروپايي ژبه په ټول یونان کې خپره کړه. ایونیان د ډوریانو د فشار له امله د ایجن سمندرګي، وړې اسیا او وړو ټاپوګانو ته مخه کړه او هلته میشته شول او هغه یې ایونیا (Ionia) ونوموله. د یونیان زیاتره فکري مخکښان له همدغو ایونیانو نه هسک شوي وو.

کاکړ وایي چې د یونان اوسېدونکي، د پښتنو په شان، په ډېرو قومونو وېشل شوي او هر قوم له ځانګړو ځانګو او هره ځانګه له کورنیو نه جوړه وه. د مخزیږدې د ۷۰۰ کالو پورې زیاتره یوناني پاچایان نسکور شوي یا له واکمنۍ نه بې برخې شوي وو او یوازې یې مذهبي رسمونه ترسره کول. د دوی ځای قومي ارستوکراتو نیولی وو. ځمکې چې پخوا د یوه خېل د غړو ګډ مال و، زیاتره دغه قومي ارستوکراتو ونیولې. خو څنګه چې د یونان کرنیزې ځمکې لږې او ښېرازه هم نه وې نو ځکه د ارستوکراسۍ بنسټ ټینګ نه و. د ملک اساسي محصول د انګورو د باغونو او د زیتون د غوړیو نه ترلاسه کېده. همدارنګه یو ځای بل ځای د کانونو نه هم ګټه اخېستل کېده چې ایستل یې د مریانو کار و، چې ډېر بد ژوند یې لاره. برسېره پر دې ډېرو یونانیانو په بادي وړو کښتیو سره سمندري سفرونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوداګري کوله، چې له امله یې د مدیترانې او ایجن د سمندرګیو په غاړو کې میشت شول. دا پروسه د مخزیږدې ۵۵۰ پورې دوه پېړۍ روانه وه، چې په لوېدیځ کې د قرطه جیانو او په ختیځ کې د پارسیانو له خوا ودرول شوه. د دې سره سره اتن یو غټ سمندري ځواک و.

## د لرغونو یونانیانو دین

لرغوني یونانیان د پخواني مدنیت د نورو خلکو غوندې د طبعیت نه اخوا قووتونو په شته والي معتقد وو. د یهودانو نه پرته نور ولسونه لا په یو خدای معتقد نه وو. لرغونو یونانیانو په ډېرو خدایانو عقیده لرله، خو دوی ورته په لوړ قدرت قایل نه وو. د دوی خدایان په خپله د دوی، د مصریانو او اسیایي توکو ګډتوب وو. د یونان د دین لومړۍ مرحله هومري نومېږي ځکه چې د یونان لومړني شاعر هومر په خپل ایلیاد (Iliad) نومي اثر کې د خدایانو بیان کړی دی. د ده په وینا دا خدایان د اولمپا په غره کې اوسېدل. د دوی ستر خدای زیوس (Zeus) نومېده. ماینه یې هېرا (Hera) هم الهه ګڼل کېده. اپولو (Apollo) هم د اتن له نومیالیو خدایانو څخه و، چې له وړاندوینې، طب، موسیقي او شعر سره یې سرو کار لاره. دی د فلسفې او هنر ساتونکی ګڼل کېده. د افسانو له مخې نورو نارینه او ښځینه خدایانو له یوه او بل سره خپلوي او فامیلي ژوند لاره. د دلفي (Delphi) غونډۍ د مذهبي روحانیونو (Oracle) هستوګنځی و. د دوی کار دا و، چې د خلکو پوښتنو ته د خدایانو ځوابونه ورسوي، نو دوی هغه ډول دنده ترسره کوله لکه په هندویزم کې برهمنانو ترسره کوله. د افسانو له مخې دوی تل پاتې ګڼل کېدل او ستایل کېدل خو دوی نه هر چېرې حاضر، نه په هر څه پوه او نه تر هر څه غښتلي ګڼل کېدل. دوی دغسې ګڼل کېدل چې له انسانانو ستر دي، خو ترېنه بیل او پردي نه دي. خو د یونان دغو خدایانو ته جګړې او ناروغۍ ګانې ازموینې وې او څنګه چې هغو ته یې ځوابونه نه لرل، خلک له ژوند نه اخوا ته متمایل کېدل.۱۰۳۷ کاکړ وایي له دغې شرحې نه جوته ده، چې د یونان خدایانو د کوئ او مه کوئ په بڼه حکمونه نه دي کړي او یونانیان په مذهبي لحاظ په فکر او عمل کې مقید نه، بلکې ازاد وو چې د هغه له امله فکري مخکښانو یې وکولی شول خپل کلتور دغومره شتمن کړي، چې تر اوسه هم بصیرتونه ترې ترلاسه کېدلی شي.۱۰۳۸

## پولیس یا ښاري دولت

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرغونو يونانيانو دغسې ټولنيز او سياسي نظم وايست، چې په لرغوني نړۍ کې څه چې د انسان په تاريخ کې جوړه نه لري، چې هغه پوليس (Polis) او د هغه اداري طرز دی. پوليس ته ښاري دولت ويل شوی، خو دا يې کره او سمه ژباړه نه ده. يو عادي پوليس د ښار په شان نه او له دولت نه زيات و. په ټول يونان کې پوليس يا ښاري دولتونه يا سياسي ټولنې ډېرې وې. پوهاند هوليسټر وايي چې «د لرغوني يونان کلتور د خپلواک ښاري دولت نه پرته درک کېدلی نه شي.»١٠٣٩ نږدې په هر پوليس کې د کومې غونډۍ د پاسه يا د هغې په چاپېر کې د اسامبلې، شورا او مذهبي رسمونو د ترسره کولو له پاره ودانۍ جوړې شوې وې. تر څنګ به يې د اګورا (Agora) په نامه بازارګوټی و. دغه اکروپوليس (Acropolis) په واقع کې د پوليس سياسي، مذهبي، ټولنيز، اقتصادي او اداري مرکز و. هر پوليس ځانله اداري شېوه درلوده. پوهاند کيټو (Kitto) ليکي چې «واقعي حکومتي چارې به يو کوم پاچا ... يا د ځينو اشرافي کورنيو مشرانو ته يا د اصلي تبعه وو شورا ته چې د شتو خاوندان به وو، يا ټولو اصلي تبعه وو ته سپارل کېدلې. دغه ټول يا د هغو ځينې تعديلونه د سياسي ټولنې (polity) دغسې طبيعي بڼې وې، چې يونانيان يې په څرګند ډول له ختيځې پاچايي (Oriental Monarchy) نه چې پاچا به يې هېڅ مسؤليت نه لاره، ممتاز کاوه.»١٠٤٠

دا چې يونانيان ولې د ډېرو سياسي پوليسو پر ځای تر يوه مرکزي نظام لاندې سره راغونډ نه شول، شايد دوه لاملونه ولري: لومړی دا چې په جغرافيايي لحاظ دوی د ننه په يونان کې او هم په ټاپوګانو او د سمندرګوټو په غاړو کې اباد وو. دوهم دا چې يونان د پوليس د هسکېدلو ياني د مخزيږدې نهمې، اتمې او اوومې پېړۍ په اوږدو کې د بهرني خطر نه په امن کې و. يونانيانو پوليس ته د دولت په څېر نه، بلکې د خلکو په سترګه کتل او هر يوه يوناني ځان اړ ګاڼه چې له پوليس سره مرسته وکړي. دغه ښاري دولتونه چې واړه وو، د پوليس د ټولو غړو له خوا نه بلکې د هغه د نارينه د اصلي تبعه وو له خوا په نېغ ډول چلول کېده. ښځو، مريانو او سوداګرو د پوليس په چلولو کې ونډه نه لرله. دوی په واقعيت کې د اصلي اتباعو د اړتياوو په پوره کولو سره هغوی ته موقع ورکوله، چې د پوليس سياسي او ټولنيزې چارې د ازاد فکر له مخې پرمخ بوزي. يونانيانو سياست او سياسي ژوند په پوليس پورې تړلی ګاڼه. ارسطو ويل چې «انسان هغه حيوان دی، چې د ننه په پوليس کې ژوند کوي.»١٠٤١ په دې ډول يونانيانو فکر کاوه، چې ازاد انسان يوازې په پوليس کې اوسېدلی شي، نه د پارس په شان امپراتوري کې، چې اوسېدونکي يې منونکي، مريان او بربريان دي. ازاد فکر کول، ازاد ګرځېدل او ازاد عمل کول د ازادۍ ښخ نور ټينګوي خو په ازادۍ کې اختلاف هم هرو مرو منځ ته راځي، ځکه چې په دغه حال کې هر څوک د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل فکر له مخې ګرېږي او اړ نه دی چې د بل چا یا مقام په متابعت فکر او عمل وکړي خو چې خپل فکر رښتینی ورته مالوم شي. په دغه حال کې استعداد، فکر او خیال ښه وده کوي. په لرغوني یونان کې همداسې وشول او دغسې پاخه مفکران، ډرامه لیکونکي، شاعران، تاریخ پوهان او سیاست ماران په کې هسک شول، چې اثرونه یې تر اوسه پورې هڅونې کوي. خو څنګه چې په لرغوني یونان کې هم د ننه په پولیس کې د فردونو او ډلو او هم د پولیسو تر منځ نښتې کېدلې، تر څو چې د پولیس سیستم د مقدونېې د لوی سکندر په هسکېدلو سره له منځ نه لاړ.

## د سپارتا ښاري دولت

د یونان په ښاري دولتونو کې سپارتا او اتن ډېر مهم و. خو د دوی فردي او ټولنیز ژوند سره پوره توپیر درلود. سپارتا داسې لار ونیوله چې د اوسپنیز ډسپلین او پوځي اغېزمنتوب له پاره یې سوداګري، کلتوري نوښت او د ژوند هوساینې ته پام ونه کړ. سپارتا په سیاسي لحاظ تل ساتنپاله وه. په سپارتا کې کله چې ارستوکراتان واک ته ورسېدل پاچايي یې نسکوره نه کړه بلکې کمزورې یې کړه. د اتمې پېړۍ په پای کې سپارتا د مسینیا (Messenia) ګاونډۍ سیمه لاندې کړه، د هغې اوسېدونکي یې مریان کړل، که څه هم هغوی یونانیان وو. سپارتا یو پوځي دولت او اصلي اتباع یې منظم دایمي سرتیري شول. سپارتا تینګه وچه ټولنه شوه شته حال یې په زور ساته. سپارتا په یوه وخت کې دوه پاچایان لرل لکه چې وروسته په روم کې دوه قونسلان یا لوړ واکمنان وو. د جګړې پر مهال به یوه پاچا قوماندني کوله خو د ننه په هېواد کې د دواړو پاچایانو واک د درې څانګو: د لویانو د ارستوکراتیکې شورا، اجرائیوي شورا او د اصلي غړو د اسامبلې له خوا محدود وو. نو سپارتا یوه محدوده ډموکراسي وه چې په هغې کې نه یوازې ښځو او مریانو بلکې ډېرو اصلي غړو په کې ګډون نه شو کولی.

کاکړ وايي چې د سپارتا د اصلي غړو ژوند له زانګو نه تر ګوره پورې د دولت د روزنې او څارنې لاندې و ترڅو چې سرتیري پیاوړي، زړور، باډسپلینه، منونکي او وفاپال وي. له دې نه منع و، چې بزګري، کسب او سوداګري وکړي. دولت به اوه کلن ماشوم تر شل کلنۍ پورې تر روزنې لاندې نیوه، چې له سخت پوځي ژوند سره روږدی شي. د دغې دورې په تېرولو سره د سپارتا اصلي غړی کېده، خو لس کاله نور به یې هم په بارکونو کې تېرول، که څه هم واده به یې کړی و او له دې وروسته په کور کې اوسېدلی شو. په دې ډول د سپارتا اصلي غړو فردي خپلواک ژوند نه لاره، روح او جسم یې دواړه دولت ته ځانګړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي وو. له دې امله سپارتا په ټول يونان کې تر ټولو ښاري دولتونو نه ښه سرتيري لرل. سره له دې سپارتا له دغه ځواک نه په احتياط سره کار اخېسته. د سپارتا دغسې تنظيم شوی ژوند شېوه په ټول يونان کې ستايله کېده. خو دغه ښاري دولت د اتن پر عکس په فکري او ذهني لحاظ وچ او بې حاصله پاتې شو.پوهاند کيټو وايي چې «هغه وخت چې سپارتا مخ په ځوړ او نسکوره شوه، د انرجۍ د نشتوالي له امله نه، بلکې د مدني غړو او د ايډياګانو د نشتوالي له امله و، چې په دې کې هغه خپله ګرمه وه.»۱۰۴۲

## د اتن ښاري دولت

اتن د مخزيږدې ۹۰۰ تر ۷۰۰ پورې تر سپارتا وروسته درېيم ښاري دولت و. اتن د سپارتا پرخلاف د پاچايي، ارستوکراسي، زورواکي او ډموکراسي په تېرولو سره تحول وکړ. په همدغه وخت کې کله چې سپارتا په پلي پونيز کې په ښکېل کېدو سره په يونان کې پېژندل شوی ځواک ګرځېدلی و، د اتيکا (Attica) ټول ښاري دولتونه د کوم مشر په نوښت سره د اتيکا اتحاديې کې سره يو موټی شول او اتن يې خپل مرکز کړ. د اتن ښاري دولت په دغه اتحاد سره د پراخې سيمې خاوند شو. اتن څنګه چې سمندر ته نږدې و، سوداګری يې وده وکړه. برسېره پر دې هلته د وړو مځکه والو تر څنګ سوداګر، کسبګر ورو ورو هسک شول او اصلي اوسېدونکي يې د مدني حقوقو خاوندان شول. په دې ډول اتنيانو په هغه لومړي سر کې په سياست کې ځانګړی مهارت وښوده. د اتنيانو «نبوغ» وروسته په هغو سمونونو کې وځلېد، چې سمون پالو لويانو يې د دولت او ټولنې د ښه کولو له پاره وکړل.

د سمونونو په لړ کې د مخزيږدې په ۶۲۱ کال کې لومړی سمون د دراکو (Draco) نومي له خوا وشو چې دوديز قانونونه يې ټول او تدوين کړل. په دغه سمون سره لږ تر لږه د خپل سر او حاکمانه چلند په وړاندې يو څه مصؤنيت پيدا شو. سره له دې دا پروسه روانه وه، چې په هغې سره واړه ځمکه وال د لويو ځمکه والو پوروړي کېدل او د پورونو د نه پرېکولو په صورت کې مريان کېدل چې پايله يې دا شوه چې عام ناراضي توب يې منځ ته راوړ. په نورو ښاري دولتونو کې دا ډول ناراضي توب د انقلاب لامل کېده. خو دلته د سولون (Solon) په نامه يوه سوداګر، چې په ملک کې ګرزېدلی و او يو ډول فيلسوف، سياستمدار او شاعر و، له ناراضيانو سره خواخوږي ښکاره کړه. مخالفو ډلو هم ورته ډېر واک ورکړ. سولون په اتن کې د ناراضيانو غوښتنې بې له مقاومت او ګډوډۍ نه ومنلې. د پور په برابر کې يې مري توب لغوه کړ او مځکې يې لومړنيو څښتنانو ته ورکړې او ان هغوی يې چې د پور په بدل کې له اتن نه د باندې پلورل شوي وو، بېرته وغوښتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سولون اتنیان وهڅول چې د تاکو (د انګورو بوټي) په زیاتولو سره ځانګړې کرنه پیاوړې کړي. ده پلرونه اړ کړل چې خپلو زامنو ته کسبونه وښيي. په دې توګه کسبونو او په ځانګړې توګه کلالي دومره وده وکړه چې د یونان لوښي د مدیترانې په چاپېر سیمو او ان په مرکزي اروپا کې خرڅېدل. دا هغه وخت و، چې له لیدیا څخه په اتن کې سکه او پیسې په دوران کې لوېدلې وې.

سولون په سیاسي ډګر کې سمون پلی کړ. تر دغه وخته پورې یوازې نسب د اسامبلې د غړیتوب شرط و. سولون د هغه پرځای شتمني د غړیتوب شرط وګرځاوه. په دې ډول سوداګر یا نوې سوداګره طبقه هم لوړ اجرائیوي مقام ته رسېدلی شوه. د اسامبلې د غړو په ډېرېدلو سره یوه څلورسوه کسیزه انتخابي شورا منځ ته راغله، چې د اجرائیوي کمیټې په شان یې دنده ترسره کوله.۱۰۴۳

سولون د دغو سمونونو نه وروسته په سفر لاړ. د هغه په نشتوالي کې ناراضي توبونه زیات شول. ټوله اتیکا ناارامه او انقلابي شوه. سره له دې هم «د اتن خلک په دغه فکر وو چې ګډه ګټه له ډله یزې ګټې نه لوړه ده»۱۰۴۴ دا ځل هلته زورواکان هسک شول. له سپارتا پرته په ټول یونان کې زورواکان سیاسي واکمنان شول. خو یوناني زورواکان نږدې ټول ارستوکراتان او متمدن وو. پخوا په ټول یونان کې د پاچاپانو پرځای ارستوکراتان په واک شوي وو، اوس د هغو پرځای زورواکان واکمن شول، چې هسکېدنه یې په اصل کې د ممتازو او شتمنو او د منځنیو او ښکته طبقو د مخالفتونو او مبارزو پایله وه.

نویو واکمنانو چې ټول یې د ارستوکراتو او ممتازو کورنیو څخه وو، په خپلو سمونونو سره یې د مریو حال څه ښه کړ. دوی د ښکته او منځنیو طبقو په ملاتړ پورونه یا لغوه کړل یا لږ کړل، ډېرې ټول ګټې پروژې یې پلې کړې، مځکې یې له سره ووېشلې او د مالیاتو شېوه یې بدله کړه او د سیاسي موسسو غړي یې ډېر کړل، خو سیاسي سیستم پرځای پاتې و. دغو واکمنو زور زیاتی هم نه کاوه. دغه سمونونه د مخزېږدې د ۹۰۰ نه تر ۵۵۰ پورې پلي شول. دا هغه وخت و، چې د وړې اسیا له لیدیا نه په یونان کې د پیسو په چلند سره د سوداګرۍ ډله هسکه شوې وه او د کرنیزې ټولنې یو ډول برابرتوب له منځه تللی و. له سولون نه وروسته د اتن لوی مصلحان پېسستراتوس (Pesistratus) او کلایستینز (Cleisthenes) وو. کلایستینز د اتن قانون پوره ډموکراټیک کړ. د اتن ټول اصلي تبعه یې د اسامبلې غړي کړل، د پخوانو ارستوکراتو قومونو پوځي او سیاسي دندې یې لغوه کړې او یوازې یې تشریفاتي دندې ورته پرېښوې. د پخوانیو ارستوکراتو پیاوړو قومونو پرځای یې لس نوي قومونه تنظیم کړل، چې نسب یې د غړیتوب شرط نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسامبله د ټولو اجتماعي ډلو له غړو نه د بې ځمکو اصلي تبعه وو او کارګرو په ګډون جوړه شوه. اسامبلې عمومي سیاستونه ایستل او د یوې پنځه سوه کسیزې اجرایوي شورا ته یې د پلي کولو دنده وسپارله، چې هر کال د دغو لسو قومونو له هر قوم نه پنځوس تنه غوره کېدل. خو مشر یې هغه څوک کېده چې د حیثیت او نفوذ خاوند و. دی په شخصي ورتیا د «خلکو مشر» په نامه یادېده او تر هغو به یې مشري کوله چې د اسامبلې او شورا غړي به پرې ولاړ وو. ده رسمي مقام نه لاره.

پریکلس (Pericles) په پنځمې پېړۍ کې همدغسې مشر و، چې د یونان په «طلایي دوره» کې یې د ارستوکراتو او وګړو تر منځ انډول وساته او یو دېرش کاله یې مشري وکړه. دی داسې یو واقعبین سیاستمدار او اغېزمن ویاند و، چې چارې یې په زور سره نه، بلکې په منطق او هڅونې سره ترسره کولې. هولستر لیکي: «د فرد او ټولنې تر منځ د همغږۍ په حاصلولو کې د یونان د پولیس برې هېڅ چېرې هغومره پوره نه و، لکه په اتن کې چې له ډموکراسۍ سره د انسان د لومړۍ مهمې مقابلې په ډګر کې و.»۱۰۴۵ پریکلس وایي چې «زموږ اساسي قانون ته ډموکراسي ویل کېږي، ځکه چې هغه د څو کسو په لاس کې نه، بلکې د ډېرو په لاس کې دی... موږ د سیاست په ټولو موضوع ګانو باندې په خپله غور کوو او داسې نه ګڼو چې قول او عمل سره نه جوړېږي، بلکې داسې ګڼو چې هغه کړه له اول نه ناکام وي، چې له مباحثې او مشورې نه پرته کېږي.»۱۰۴۶

## د پلي پونیز جګړه

د پلي پونیز جګړه د مخزیږدي ۴۳۱ نه تر ۴۰۴ پورې د سپارتا او اتن په مشرۍ د دوو اتحادیو تر منځ جګړه وه چې اوه ویشت کاله اوږده شوه. د جګړې پړه په اتن اچول شوې، چې د جګړې د مخه یې امپراتوري جوړه کړې او نور دولتونه ترېنه وېرېدل. اتن د نورو په مرسته په ۴۹۰ په مراتون (Marathon)، په ۴۸۰ کال کې په سالامي (Salamis) او په ۴۷۹ کال کې په پلاتې (Plataea) کې د هخامنشي پارس لوی یرغلیز پوځونه مات کړي او د ستر اعتبار او حیثیت خاوند شوی و. اتن د جګړې وروسته په ۴۷۷ کال کې په خپلې مشرۍ سره یوه نوې اتحادیه جوړه کړې وه، چې له اتیکا نه تر ایونیا پورې د ایجن سمندرګي د غاړو او ټاپوګانو زیاتره ښاري دولتونو په کې غړیتوب درلود. دغې اتحادیې د پریکلس په زیار سره سوکه سوکه د اتن په امپراتورۍ بدله شوه. اتن له غړو هېوادو نه په راز راز پلمو عواید ټول کړي، د ایجن په سمندرګي کې په لاسبري سره خپلې سوداګرۍ ته وده ورکړې او ځان شتمن او پیاوړی کړی. د اتن د ځواک نه سپارتا ووېرېده او د یو شمېر دولتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره يې اتحاد وکړ، چې هغوی هم له اتن نه وېرېدل. پخوا مو يادونه وکړه چې هسې هم سپارتا او اتن د دولتي شېوې له مخې توپير درلود. سپارتا او اتن هر وخت سيال دولتونه وو. سپارتا او متحدين يې ډوريان او اتن او متحدان يې زياتره ايونيان وو. سپارتا کوښښ کاوه په پلي پونيز کې د اوليګارشي حکومت او اتن د پريکلس په مشرۍ هاند کاوه چې د خپلې امپراتورۍ په ښارونو کې ډموکراتې ډلې په واک کړي. په دې توګه د پلي پونيز جګړه د قدرت پر سر جګړه وه. «اتن تر خپلې ولکې لاندې د ټول يونان د راوستلو خوب ليده او سپارتا او متحدان يې ټينګ وو، چې د اتنيانو امپرياليزم پای ته ورسوي.۱۰۴۷

دغه جګړه چې اوه ويشت کاله اوږده شوه تاريخ پوه تاسيد ايز دا جګړه په خپل اثر کې د پلي پونيز جګړه په نامه په کره او افاقي ډول بيان کړې ده. د يرغل نوښت د سپارتا او د هغې د ملګرو لاس کې و. د جګړې په دوهم کال کې وبا ولګېده چې د اتن څلورمه برخه خلک د خپل مشر پريکلس په ګډون مړه شول. د پريکلس د مړينې وروسته د اتن مشري افراطيانو لاس ته ورغله او د اتن ډموکراسۍ د وګړو د حاکميت بڼه غوره کړه. د پريکلس دا خبره رښتيا شوه چې ويلي يې و چې «دی د سپارتا له طرحې نه دومره نه وېرېږي، چې د اتنيانو د تېروتنو نه وېرېږي»۱۰۴۸ دا له دې نه جوته شوه کله چې اتن د ميلوس بې پرې ټاپو ونيو نارينه يې ورته ووژل او ښځې او ماشومان يې د مريانو په شان وپلورل. د اتنيانو بله تېروتنه دا وه چې دوی د ناسمې ستراتيژۍ له مخې د خپل سمندري ځواک غټه برخه د ليرې پراتې سيراکوز سيمې په ساتنه کې له لاسه ورکړه. له هغه وروسته، چې د ايجن په سمندرګي باندې د اتن کنترول غړند شو، تر لاس لاندې دولتونه يې په وړاندې جګ شول، تر څو په پای کې د پلي پونيز مخالف سمندري ځواک ، چې د پارس په سرو زرو سره غښتلی شوی و، د اتن سمندري ځواک يې په هيلسپونټ کې تس نس کړ، اتن اړ شو چې په ۴۰۴ کال کې سپارتا ته تسليم شي. که څه هم سپارتا جګړه وګټله او په لاس لاندې سيمو کې يې د اتن په ګډون شتمن نفوذ من په واک کړل، خو په خپله يې د ټولو دولتو سره ډېر ناوړه چلند پيل کړ او هغوی يې د ځان مخالف کړل. په دې توګه سپارتا ونه شو کولی چې د اتن په شان امپراتوري جوړه کړي. اتن د سپارتا تر لاس لاندې زورواک کريتياس په مشرۍ د دېرشو ديکتاتورانو له خوا اداره کېده، چې اتنيانو يو څو مياشتې وروسته هغوی نسکور کړل او خپله اسامبله او شورا يې بېرته فعاله کړه او ډموکراسي يې ژوندۍ کړه.

## يونان د پلي پونيز د جګړې نه وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پلي پونيز د جګړې وروسته د يونان ښاري دولتي شېوه مخ په ځوړ روانه شوه او د لرغوني يونان دوره پای ته ورسېده. اتنيان هم د پلي پونيز د جګړې وروسته فردي شول او ښاري دولت ورته په دويمه درجه مهم شو. همدارنګه بريالی سپارتا هم په دې کې پاتې راغله چې تر لاس لاندې دولتونه اداره کړي. د څلورمې پېړۍ په نيمايي کې د يونان قدرت د سپارتا، تبس او اتن تر منځ بدلون کاوه، تر څو په ۳۵۹ کې په مقدونيې کې فيليپ پاچا شو. مقدونيه د يونان په شمال کې يو ډېر بېرته پاتې هېواد و. خلک يې دوړي يونانيان وو. دوی هم د سپارتيانو غوندې جنګيالي وو. پاچا فليپ په ۳۵۸ کې يوه غوڅونکې جګړه وګټله او ټول يونان يې تر ولکې لاندې شو. دوه کاله وروسته فليپ مړ شو او پرځای يې د هغه زوی سکندر په شل کلنۍ کې پاچا شو چې د مخه مو رڼا پرې اچولې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه دېرشم څپرکی

# د سوکرات، اپلاتون، ارستو، اپیکور او زینو په نظر ښه انسان

دا د هومر بالابانس د کتابګوټي ژباړه ده چې اصلي نوم يې «د ښه انسان کلاسیک ایډیال» (The Classical Ideal of the Good Man) دی. کاکړ د دې کتابګوټي ژباړه په داسې وخت کې وکړه چې په افغانستان کې نږدې څلور لسیزې خونړۍ جګړې په پایله کې افغان ټولنه د ایډیالوژیکي، اخلاقي او بې باورۍ د ژور بحران سره مخامخ ده. دی د افغان ټولنې د ټولنیز او اخلاقي نزول نه ډېر ځوربده ځکه په دې وخت به لوړ پوړو چارواکو په ځانګړې توګه هغوی چې د بهرنیو هېوادو د متو په زور په لوړو مقامونو ګومارل کېدل، د دې پر ځای چې لږ تر لږه د خپل وجدان په وړاندې خجالت وباسي د پردیو له خوا به يې د مقام ترلاسه کولو باندې ویاړ هم کاوه. ده د افغان ټولنیز او اخلاقي رغونې په موخه دا مهم کتابګوټی وژباړه. البته دا ژباړه نورې ګټې هم لري هغه دا چې د پښتو د علمي کېدو او افغانانان د لرغونو دورو د فلسفي افکارو سره اشنا کول دي.

هومر بالا بانس دا کتابګوټی هم د اوسنۍ صنعتي ټولنې هغې مهمې مسلې ته د خلکو د پام اړولو په موخه لیکلی هغه دا چې د دغې ټولنې په تحول کې انسان نه، بلکې ماده «زموږ د توجه محراق دی او د هغې محصول ساینس او تکنالوژي زموږ مادي غوښتنې په اوله درجه پوره کوي، خو په غاړو کې يې موږ که څه هم په ناخرګند ډول مومو، چې یوه نوې ورځ په ټوکېدو ده، چې هلته شخصیت یو ځل بیا مرکزي مقام ته په رسېدلو کې ښکاري.»۱۰۴۹ دی وايي چې د جګړې د بحران په فضا کې زموږ اخلاقي ارزښتونه او معیارونه د بیا ارزونې لاندې راغلي او دا هغه بحران را په زړه کوي چې د یونان فیلسوفان يې وهڅول چې د اتن او سپارتا تر منځ اوږدې دردونکې جګړې په موجودو اخلاقي معیارونو باندې بیا نظر وکړي. دی وايي چې «زما مقصد دا هم دی، چې د هغو یوناني فیلسوفانو ښوونو ته توجه وشي، چې دغې پوښتنې ته يې ځواب وایه، چې د ښه انسان خاصیتونه کوم دي؟».

په اصل کې دا دې پلې پونيز جګړه وه، چې یوناني سوچوال يې دې ته وهڅول چې ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول نوي فکرونه رامنځ ته کړي. په بل ملک کې د جګړې وروسته نوي او ژور فکرونه هغسې ځلېدلي نه دي لکه چې په اتن کې غوړېدلي دي.

بالابانس هغه سیاسي او ټولنیز چاپېریال چې یوناني فکر په کې وده وکړه په لنډه توګه داسې بیانوي: د مخزېږدې څلورمې او پنځمې پېړیو په بهیر کې چې اخلاقي فلسفې وده وکړه، د یونان مدنیت له تور سمندرګي نه د جبل طارق تر تنګې پورې غزېدلی و. هلته دا فکر عام و چې څوک له یونان څخه نه دی بربر یا پردی دی. فیلسوف ایسوکرات په دې فکر و چې اتن د هیلن کلیمه ایستلې چې نه د نژاد، بلکې د سلوک په مانا ده نو پردی هغه چا ته ویل کېده چې د اتنیانو د ژوند د اروایي شېوې نه پردی و.

سکندر د ارستو شاګرد او د هغه ځای ناستو یوناني ژبه او کلتور د نیل له سین نه تر اباسینه پورې خپاره کړل. وروسته چې رومیانو یونان ونیو هغوی په خپل وار په یونانیت (Hellenism) سره جذب شول. دوی د یونان هنر، ادب او فلسفه د خپل مدنیت بنسټ وګرزول او په شمال کې یې ان تر برتانیې پورې په خپلو مستعمرو کې مروج کړ.

په لوېدیځې اروپا کې د یو څه وخت له پاره تیاره خپره شوه، خو د قسطنطینې له نسکورېدو نه وروسته چې د کلاسیکو ښوونو څراغ، چې د بېزانس خلکو روښانه ساتلی و، د رنسانس انسان پالو ته په لاس ورغی، وړانګو یې ټوله لوېدیځه نړۍ د امریکې د وچې په ګډون روښانه کړه.

د بالابانس په وینا اتن د ډموکراسۍ زانګو وه. شورا چې قانونونه یې ایستل د ازادو یونانیانو نه جوړه وه. دا یوه نېغه ډموکراسي وه، نه تمثیلي ډموکراسي چې موږ یې په امریکا کې لرو. اتن په واقعیت کې د ټولې یوناني نړۍ سیاسي، کلتوري، اقتصادي او مذهبي مرکز و.

ازادي، ډموکراسي، د انساني حیثیت او د رښتین توب د موندلو پلټنه په یونان کې هسکه شوه. د پنځمې پېړۍ د پریکلس عصر د اتنیانو د سیاسي نفوذ او کلتوري پرمختګ ډېره لوړه هسکه وه. د پلي پونیز جګړه د هغې د مخ په ځوړتوب نښه ده. د جګړې وروسته هوښیارو کسانو د رښتین توب او راحت په پلټنه فلسفې ته مخه کړه او د اخلاقي معیارونو په بیا ارزونې پسې یې پښې لوڅې کړې، چې د جګړې او نښتو په کړکېچ کې فاسد شوي او له منځ نه تللي وو. اپلاتون په حقه و چې ویل یې دا سوکرات نه و چې د ځوانانو فکرونه یې فاسد کړي و، دا په خپله ټولنه وه چې په جنګ سره ککړه او حیواني شوې وه. هغه څه چې د منځه وړل شوي و، اوس باید له سره ودان شي. د ژوند نوې فلسفه او انساني ارزښتونه باید هسک شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سوکرات- کلاسیک ښه انسان

بالابانس د ښه انسان د ځانګړو ځانګړتیاوو له بیان نه مخکې د ښه والي او د هغو نظرونو په اړه چې ښه انسان باید څنګه وي؟ د ځینو فیلسوفانو فکرونه د هغوی عمومي ایډیاګانې وړاندې کوي او خپل بحث د سوکرات نه پیلوي چې د «ښه انسان سرمشق دی.»۱۰۵۰

ارسطو وایي «فکر کیږي چې [د] هر هنر او هرې څېړنې او داسې د هر عملي تشبث مقصد ښه والی دی، نو په دې ډول ... د ټولو څیزونو مقصد د ښه توب په لور وي.»۱۰۵۱ ارسطو په دې ډول د خپل استاد نظر تاییدوي، چې ښېګڼه د شته والي [ښه والي] دلیل دی او دا چې د ټولې پوهنې موخه د ښه والي پوهه ده.

یونانیان لومړي کسان وو چې د پوهې په موخه وپوهیدل. دوی د انسان په ارزښت او درنښت عقیده درلوده او فیلسوفان یې په دې فکر وو چې د انسان وروستۍ موخه دا ده، چې نه یوازې خپلو ځانګړو مهارتونو ته، بلکې خپلو ټولو ظرفیتونو ته وده ورکړي. اپلاتون دې پایلې ته رسېدلی و، چې هغوی چې په ښه ډول ښوونه ورته وشي، په عمومي ډول ښه انسان کیږي، ځکه چې هیڅ انسان بې له عقل نه په کار اخیستلو سره ښه کېدلی نه شي او هېڅوک بې له پوهې نه عقلي قدرت ترلاسه کولی نه شي. اپلاتون په خپلې دغې وینا سره د خپل استاد فکر منعکسوي چې ویل یې «ښېګڼه پوهه ده.» د «په ښه ډول زده کړې» کلیمو ته ښه ځیر شئ ځکه چې یونانیان زمونږ سره موافق وو، چې «لږه پوهه یو خطرناک شی دی.»۱۰۵۲

د ارسطو په نظر انسان په یوازې ځان نه، بلکې په ټولنې کې ژوند کوي. د هغه خوی او سلوک په هغو ټولنیزو دودونو، قانونونو او موسسو سره جوړیږي، چې د هغه لاندې ژوند کوي. دی وایي چې د ښه او نېکمرغه ژوند شرطونه دادي چې داسې اخلاقیات او د حکومت طرز وټاکو چې سیاست یې په پوهې او نورو مناسبو شرطونو سره تنظیم شوی وي، چې انسان قادر کړي چې ښه انسان ترې نه جوړ شي. اپلاتون په خپل «جمهوریت» نومي اثر کې د ټولنیز نظم یو پلان وړاندې کړ، چې په کې عدالت، ازادي او د انساني استعداد وده په ښه ډول تضمین شوي وي. ارسطو په خپل «سیاست» نومي اثر کې د یو شمېر ښاري دولتونو قانونونه وکتل تر څو د ښه کرکټر د ودې له پاره کوم یو ښه مناسب دی. په دې ډول د یونان اخلاقي فیلسوفان په دې فکر وو، چې د انسان وروستۍ موخه د مثبت ښه والي ترلاسه کول دي، چې هغه په خپل عقل سره وده کوي، پوهه یې تاییدوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په داسې ټولنيز چاپېريال کې چې ښه والی پرمخ بيايي.

د مخزيرې د پنځمې پېړۍ په نيمايي کې يو نوی اواز، د سوکرات اواز، واورېدل شو. سوکرات غټ انسان و، مخ يې بدرنګ و خو د ده د مخ نه زړه سونديي، پراخه خواخوږي، بې شانه ساده ګي او پوره رښتين توب د ورايه ليدل کېده. دی دومره بې وزلی و، چې د زړو جامو پرته يې بل څه نه شو اغوستی او پښې ابلې به روان و. ده باور درلود، چې د هغه لړو اړتياوو د هغه ذهن د دنيايي چارو نه ازاد کړی او په دې يې قادر کړی و، چې په روحي او معنوي شيانو سوچ وکړي.

سوکرات يوه نوې فلسفي لار وايستله هغه دا چې د ده په فکر فلسفه تر هغو لوړ ماموريت لري چې د بې روحه شيانو په اړه په رښتيا وپوهيږي. ډېره مهمه دا ده چې په دې پوه شو چې انسان په کومې خوا درومي. په دې توګه د مادې نه وانسان ته پام اړول د سوکرات د فلسفې يو اصل و. بل دا چې سوکرات جاري اخلاقي مفهومونه د دې له پاره د علمي تحليل لاندې راوستل چې د هغو رښتينې مانا مالومه شي. ده د دلفي ليکنې په پيروۍ چې «ځان وپېژنه» په دې پيل وکړ چې «انسان په انسان کې کشف کړي» او وټاکي چې انسان بايد څوک وي؟ هغه فکر کاوه چې يو څوک هغه وخت په نورو کې د ښه او بد په خواصو پوهېدلی شي کله چې هغه ښه او بد خاصيتونه په خپل ځان کې درک کړي.

سوکرات باور درلود چې د ده د وخت دوديزو اخلاقياتو د فکر په طبيعي ازادۍ باندې مصنوعي قيدونه لګولي دي. د طبيعي ازادۍ موخه د داسې رښتين توب موندل دي، چې په عام ډول د دغسې مفهومونو لکه ښېګڼه له پاره ترې ګټه اخېستل کيږي. ښېګڼه د ډېرې لوړې کچې د ښه والي د موندلو له پاره د انسان کوښښ دی. برسېره پردې سوکرات داسې ګڼله چې د انسانانو تېروتنې د هغوی د ناپوهۍ پايله وي او دا چې ښېګڼه له پوهې او له داسې مناسب پوهاوي نه لاس ته راځي، چې څه سم دي او څه ناسم دي. هر چا چې دغه توپير په څرګند ډول وکړ، هغه خپله اراده دې ته بيايي چې ښه وکړي او له بدۍ نه ځان وژغوري.

هغه شېوه، چې سوکرات د رښتيا موندلو د پاره غوره کړې وه، په دې ډول وه: هغه به د خپلو زده کوونکو نه راز راز پوښتنې کولې لکه «عدالت څه ته وايي؟» ځوابونه به ډول ډول وو. دی په دې بوخت نه و، چې خپلې عقلي ايډياګانې وړاندې کړي، بلکې په دې پسې و چې د نورو د ذهنونو نه فکرونه وباسي. بيا به سوکرات د اورېدونکو د ځوابونو له اوږده او څېړنيز تحليل نه وروسته له ډېرو ګډو ودو نظريو څخه د عدالت يوه دغسې مفکوره ايستله، چې هغه به رښتينې، افاقي او د ګډ خاصيت په لرلو سره به د شرايطو له کتنې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عالمي ډول د تطبيق وړ وه. بيا به يې له شاګردانو نه په ټينګه غوښتل، چې کوښښ وکړي هغه په خپل ژوند کې پلې کړي.

دا د اتن ځوانانو په سوچ کولو کې يوه نوې تجربه وه، په داسې حال کې چې له هغوی نه غوښتل کېدل چې د دوديزو قانونو له مخې سلوک وکړي. خو د ځوانانو په هڅولو سره چې د دغو منل شويو قانونو اعتبار د پوښتنې لاندې کېده، داسې ګڼل کېده چې سوکرات هغه واک تخريبوي، چې لويان په هغه سره د خپلو ماشومانو سلوک کنټرولوي. برسېره پردې سوکرات د يوناني موسسو اسماني سرچينې ته ګواښ کاوه. سوکرات ويل چې ښه د دې له پاره ښه نه دي ، چې خدايانو منلي، بلکې خدايانو هغه ځکه منلي چې هغه ښه دي. په دې توګه خدايانو ته د دغسې اخلاقياتو نسبت د اولمپس د خدايانو له لومړۍ مفکورې نه انحراف و.

په دې توګه په سوکرات تور ولګول شو او محکمې ته راوستل شو، چې د ۵۰۱ غړو نه جوړه وه. تور دا و چې دی ځوانان فاسدوي او مقدساتو ته سپکاوی کوي. دغسې نه زغم توب د اتن د ډموکراسۍ له تاريخي روح نه ، چې د فکر په ازادۍ او مباحثې سره خړوبېده، پوره انحراف و. خو څنګه چې اتن له سپارتا سره په اوږده جګړه کې ماته خوړلې وه او له هغې نه را پيدا شوي سياسي ټکان خلک ګډوډ او کم عقله کړي وو، د اتن شورا سوکرات د دېرشو رايو په توپير سره په مرګ محکوم کړ. کاکړ وايي چې «د حېرانۍ ځای دی چې دغسې هوښيار او ښه انسان په دغه ډول جزا محکوم شو، خو تاريخ ښوولې چې ګرانه ده له عمومي تعصب سره په عقل او [د] ناپوهۍ سره په رڼا مجادله وشي.»۱۰۵۳ ځکه چې زموږ د هر يوه له پاره ګرانه ده کله چې د يوه شي په حقانيت په پټو سترګو قانع اوسو، څوک موږ له هغه څخه واړوي او ووايو چې په غلطه يو.

## اپلاتون (۳۴۷-۳۸۴)

د اپلاتون اصلي نوم ارستوکلس او تخلص يې اپلاتون و. پلار او مور يې چې له لوړ نسب نه وو، ډېر ښه تعليم ورکړ او پوره وسيلې يې ورته برابرې کړې، چې خپل ټول عمر د فلسفې په زده کړه تېر کړي. اپلاتون لس کاله د سوکرات په شاګردی کې تېر کړل او دېرش کلن و چې د خپل استاد محکمه يې له سترګو نه تېره شوه. ده چې د اتن د عوامو په بې عدالتۍ سره پارېدلی و، د «جمهوريت» په نامه يو کتاب وليکه چې په هغه کې يې دغسې سياسي او ټولنيز ايډيالي نظام انځور کړ چې د «فيلسوف پاچايانو» له خوا به چلول کيږي، چې د هغو په واکمنۍ کې به دغسې جنايت ته هېڅ اجازه ورنه کړه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اپلاتون اول په اتن کې یو جمنازیم او وروسته په یوه بڼ کې د اکاډیموس په نامه یو فلسفي مکتب پرانېست. دا اکاډمي ډېر زر په ټوله مدیترانه کې ادبي او فلسفي مرکز شو. دا په واقعیت کې لومړی پوهنتون و چې نهه پېړۍ یې دوام وکړ. اپلاتون هلته څلوېښت کاله درس ورکړ او لیکنې یې وکړې.

اپلاتون ډېر پیاوړی منطق پوه، ستر نفوذمن سوچوال او د یوناني نړۍ لوړ خیاله شاعر و. ده اټکل دېرش ډیالوګونه پرې ایښي دي. له نیکه مرغه ټول یې ساتل شوي دي. ډیالوګ چې د دوو کسانو تر منځ خبري یا مرکه ده اپلاتون په هغو کې د سوکرات د شېوې نه کار اخېستی دی. سوکرات د پوښتلو او ځواب ورکولو شېوه کاروله. د اپلاتون ډیالوګونه د عدالت، نېکمرغۍ، ښېګڼې، ایډیالي دولت او هم د الهیاتو او د پوهې له تیورۍ نه بحث کوي. په دې توګه د اپلاتون د ایډیاوو دوکترین د کایناتو مادي او هم روحي توکي په غېږ کې ونیول.

بالابانس خپله لیکنه د اپلاتون هغه دوکتورین ته ځانګړې کړې ده چې په اخلاقیاتو پورې اړه لري. دی وایي چې دا یوه ډېره ګرانه، ژوره او پېچلې تیوري ده چې د شرح کولو له پاره د لوستونکو زغم او کره پام غواړي. دا تیوري ان په خپله اپلاتون هم د استعارو، سیمبولونو او افسانوي رمزونو نه پرته شرح کولی نه شوه. خو د اپلاتون دغه دوکتورین عملي اړخ لري، په دې چې هغه دغسې یوې اصلي نمونې ته ګوته نیسي، چې ښه انسان باید ځان ورسره موافق کړي.

بالابانس د بېلګې په توګه د ښکلا مفهوم تر کتنې لاندې نیسي. ښکلا د حواسو له لارې بیل بیل مفهوم غوره کوي، چې هغه د یوه چا په روزنې او شالید پورې اړه لري. د بېلګې په ډول شونې ده چې ښکلا په انځورګري کې هنرمن ته یو مفهوم او عام وګړي ته بل مفهوم ولري. خو ښکلا د ایډیا په شان د انسان د عندي ارزونې نه لوړه ده. خو د ښکلا اصلي نمونه یو عالمي ایډیال، یو مطلق معیار دی چې په هغه سره ښکلا په ټولو خلکو او په ټولو شیانو کې په یو شان تر ارزونې لاندې نیول کېږي. لکه ښکلا په ښځو یا ګلانو کې ځي او راځي، خو ښکلا د ایډیا په شان پرځای پاتې وي. انسان او ګلان مري د ښکلا ایډیا تلپاتې وي. په دې توګه اپلاتون وایي چې د ښکلا ایډیا یواځې یو کلیمه یا افاده یا ځانګړتیا نه ده چې په کوم انسان یا مادې کې نغښتې وي. هغه د انسان نه په خپلواک ډول وجود لري او په حواسو سره یې درک نه کېږي. درک یې د انسان په عقل یا روح سره کېږي. انسان هېڅکله اصلي نمونې ته په پوره ډول رسېدلی نه شي، خو باید د خپلې غوښتنې موخه یې وګرځوي. دی وایي «چې دا د ښکلا له ایډیال سره د حضور او ګډون له امله ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې څېزونه ښکلي کيږي.» دی زياتوي چې «هغه وخت چې يو ښکلی روح له يوه ښکلي شکل (ايډيا) سره همغږی کيږي، دواړه په دغسې قالب کې لويږي چې د هغه چا له پاره چې د ليدلو سترګې لري، تر ټولو ښکلي منظره وي.»۱۰۵۴

اپلاتون د دې شرحې پر بنسټ وايي چې ډېر لوړ ښه توب بايد له دغه ماډل سره د انسان په يوځای کېدلو او توافق کې ولټول شي. په دې توګه اپلاتون دې پايلې ته ورسېد چې روح بايد تلپاتې او نه فنا کېدونکی وي.

د اپلاتون په نظر موږ ته ښايي چې له ناڅاپي او بې هدفه نظر او د حواسو له محرکې نه لوړ واوسو او د عالي مفکورو پرنسيپونو يا قانونو په چوکاټ کې فکر وکړو چې بنسټيز او ريښتيني واقعيتونه دي. په دې ډول که موږ د انسانيت له نظر نه فکر وکړو، نظر دې ته چې د دغه يا هغه کس له نظره فکر وکړو، چې خوښيږي يا مو نه خوښيږي، موږ شايد د انسان روحي ماهيت په ښه ډول درک کړو او وبه وينو چې ټول بشريت يو دی.

## ارسطو (۳۸۴-۳۲۲)

ارسطو د شمالي يونان په ستاګيرا کې زيږېدلی و او اتلس کلنی کې د زده کړې له پاره اکاډمي ته ورغی او هلته د اپلاتون سره شل کاله پاتې شو. د اپلاتون د مړينې وروسته په وړې اسيا کې اسوس ته لاړ او هلته يې د ځان له پاره د فلسفې ښوونځی پرانېست. وروسته د مقدونيې پاچا فليپ ترېنه وغوښتل چې د هغه د ديارلس کلن زوی ښوونکی شي چې هغه وروسته لوی سکندر شو. د پلوتارک په وينا سکندر ويلي و چې د ژوند له پاره د خپل پلار او د ښه ژوند له پاره د ارسطو پوروړی دی.

سکندر چې د يونان د نيولو نه وروسته په هخامنشي امپراتورۍ ودانګل، ارسطو اتن ته ستون شو او هلته يې د ليسيم په نامه ښوونځی پرانېست. ارسطو په لومړيو وختونو کې د اپلاتون د ډوکترين پلوي کوله خو وروسته يې وويل چې «ريښتين توب اړ کړ» چې د خپل استاد تيوري پرېږدي او بله لار ونيسي. دی او زده کوونکي يې د اتن په ليسيم کې په څېړنو بوخت شول. له بده مرغه د ده د څېړنو يوازې څلورمه برخه راپاتې ده. دی لومړی فيلسوف و، چې د انساني پوهې بيلې بيلې ساحې يې په منظم ډول تصنيف کړې. د هغه اثرونه منطق، فزيک، ميتافزيک، بيالوجي، اروا پوهنه، اخلاق، سياست او بديعياتو په اړه دي.

ارسطو که څه هم د عقلاني تحليل او مجرد فکر سره علاقه درلوده، خو هغه د طبيعي پېښو د يوه لېوال کتونکي په توګه په خپلو عمومي مفکورو کې د حواسو په درک

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د ورځینیو تجربو په رول هم قایل و. د ارسطو په نظر د اپلاتون د ښکلا ایډیا یو مجرد واقعیت دی چې شته والی لرلی نه شي. د اپلاتون پرخلاف ښکلا په هغه شي کې شته چې په کې نغښتې وي. موږ ښکلا په یوې ښځې او ګل کې وینو، هغه هلته په دوی کې شته نه په مجردې نړۍ کې.

بیا نو ارسطو د جسم او روح یووالی مني او وایي چې روح زموږ په فزیکي شته والي کې ځرګندتیا مومي. دی دا وایي چې هر څوک په ځان کې دا استعداد لري تر هغه ځایه چې کولی شي ځان ایډیال یا مطلوب کمال ته ورسوي. دا چې د هغه دغه استعداد په ژوندي مقصد لرونکي یا نهایي علت- خدای، نامتحول او تلپاتې سره فعال کیږي. ارسطو دغه خوځوونکی خدای بولي او زیاتوي چې صوفیا یا دغه خوځونکی په اړه ژور سوچ د ذهن تر ټولو لوړ او تر ټولو نېکمرغه فعالیت دی.

د ارسطو په فکر د انتخاب ازادي د اخلاق له پاره اساسي شرط دی، ځکه چې ښېګڼه په هغه حال کې مانا نه شي لرلی چې یو څوک په بدې لارې د تلو اختیار ونه لري. یوازې هغه انسان ښه دی چې اختیار لري ښه یا بد وکړي او بیا ښه وکړي. یو څوک په وار وار په ښې لارې باندې تګ سره هغه خوی خپلوي چې په کولو سره یې اخلاقي کرکټر ودانیږي. «یو عادل انسان د عادلو کارونو په کولو او د اعتدال خاوند د اعتدالي کارونو په کولو سره جوړیږي.»۱۰۵۵

ارسطو وایي چې څه وخت د مخه یوې مور راته وویل، چې لور یې له درې اونیو نه وروسته پوهنځی پرېښود، ځکه چې «هغه خوښه نه وه.» ما ورته وویل هېڅوک پوهنځي ته د دې له پاره نه ځي چې خوښي یا نېکمرغي ومومي. یو څوک پوهنځي ته د دې د پاره ځي چې فکر وکړي، د سترو انسانانو ذهنونه کشف کړي، د ځان او د نړۍ په اړه چې په کې اوسي پوهه ترلاسه کړي، له نورو سره ایډیاوې شریکې او مبادله کړي د اړو هم ټولګیوالو سره مرسته وکړي او د عقلاني او اجتماعي نظره وده وکړي. نېکمرغي د دغسې کوښښونو د میوو له څکې نه پیدا کیږي. ستا لور په لومړیو دریو اونیو کې له دغو نه هېڅ یو ترلاسه نه شو کړی. زه په خپل اوږده علمي ژوند کې له دغسې محصلانو سره مخامخ شوی یم چې په اول کې یې باور نه درلو چې پوهنځی «ښه» وګڼي، خو د کال په پای کې یې ورسره «مینه» پیدا شوه. په دې توګه ارسطو وایي چې دا د ښه توب تمرین دی چې په ژوند کې د ښه توب او نېکمرغۍ لامل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اپیکور (۳۴۳-۲۷۰)

اپیکور د یوه غریب پلار او مور زوی و. هغه د اپلاتون او ارستو غوندې له ښوونکو نه زده کړه نه وه کړې. هغه لږو ډېر په خپله ځان رسولی و. لومړنی ښوونځی یې په وړې اسیا کې لوستی و او وروسته اتن ته لاړ او هلته یې د بڼ ښوونځی پرانېست. په ښوونځي کې یې نارینه او ښځې شاملې وې. دا هغه وخت و چې د پلي پونیز د جګړې وروسته یونان د مقدونیې ترلاس لاندې شوی و. اپلاتون او ارستو هم دواړه مړه وو. د هغه عقلي او اخلاقي قوت رول چې دوی یې لارښوونه کوله، نور د یونان د خلکو په ذهن اغېز نه لاره. په دغه حال کې ډېرو د اپیکور په فلسفه کې له ترخه واقعیت نه پرار او د خوند ژوند ته لار وموندله.

اپیکور د کایناتو د سرچینې او کارکولو په اړه میخانیکي شرح ومنله. د هغه په فکر کاینات د یوه غیر شخصي په خپله خوځېدونکي ماشین په څېر دي چې د دغسې عقلي خالق (Demiurgus) له خوا څخه نه ورته لارښوونه کیږي او نه اداره کیږي، لکه هسې چې اپلاتون وایي او نه له کوم عقلي «خوځوونکي» له خوا چې ارستو پرې معتقد و. د اپیکور په فکر انسان د نورو ځارویو او واده والو په شان ژوند کوي او مري او د هغه ذهن یا روح، چې د حواسو له زرو (اتومونو) څخه جوړ شوي دی، د هغه په ټول بدن کې تیت دی او له هغه سره یو ځای مري. انسان په دغسې نړۍ کې د تلپاتې توب او د جنت هیله کولی نه شي. او نه اړ دی چې د دوزخ له هیبتونو نه ووېرېږي.

د اپیکور په نظر خوند (Hedone) د نېکمرغۍ اساسي توکی ګڼل کیږي. اپیکور ښوونه کوله چې انسان په طبیعي ډول د خپلې دغې غوښتنې له مخې عمل کوي چې خوند ترلاسه کړي او له درد نه ځان وژغوري او عقل یوازې هغه وخت رول لوبوي چې د دغې موخې له پاره لار یا وسیله غوره کوي.

اپیکور یوازې په ورځنیو حسي تجروبو ډډه کوي لکه خوړل، څښل، ټنګ ټکور، جنسي عمل د یوې وسیلې په شان چې نېکمرغه ژوند ترلاسه کړي. داسې هم هغه په ژوند کې لوړ خوندونه هم د نظر څخه نه غورزول لکه د ملګرتوب خوښي، له اندېښنې او غم نه ازادي او داسې نور.

تر هغې اندازې چې د اپیکور فلسفه په دغه مقصد ایستل شوې چې موږ له طبعیت نه اخوا هیبتونو او له دنیایي اندېښنو نه وژغوري، په هغې کې ارزښت پروت دی، خو په خپله د خوند فلسفه چې د اپیکوریزم زړی دی، انسان له هغې سطحې نه ښکته کوي چې سوکرات او شاګردانو یې په کې انسان ته ځای ټاکلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زینو (اټکل ۳۶۴-۳۲۶)

زینو د قبرس په ټاپو کې زیږېدلی دی. دی شل کاله په اتن کې اوسېدلی او هلته یې په ستووا (Stoa) چې د برنډې یا دالان په مانا ده د فلسفې یو ښوونځی پرانېست. زینو د اپیکور غوندې سوکرات ستایه. دوی په هغه کې د سپماګر ذوق یو دغسې عقلاني انسان لیده چې تر وروستۍ شېبې پورې یې ارامتیا وساتله او د خپل ذهن د سولې نه یې خوند واخېسته. خو سوکرات دغسې څوک و چې حسي خوندونوته یې په خواره سترګه کتل او په خوښۍ سره ورته بې توپیره و، زینو له هغو څخه پرهېز ښېګڼه او فضیلت ګڼله.

اخلاقي ژوند د ذهني ارامتیا ژوند دی چې په انساني حسیاتو باندې په پوره کنټرول او د کایناتو له پلان یا د انسان د برخه لیک سره په سمون کې ترلاسه کېږي، چې په هغو هېڅوک کنټرول نه لري. خو هغه د تل له پاره د اسماني قدرت له خوا په عقلاني ډول اداره کېږي او دا د انسان دنده ده چې د هغه (خدای) له دغې عقلي طرحې سره سمون وکړي. انسان همدا چې خپل مقام په خدایي پلان کې ومومي او بیا د هغو په مطابقت عمل کوي، ذهني ارامتیا او ثبات ته رسېږي. دا دغه ارامتیا ده چې نېکمرغي راوړي.

ستویيزم هغه انسان ته چې له ترژاېدۍ سره مخامخ وي، مرستیال دی. د اپیکوریزم سره په اسانۍ سره سمون کېدلی شي. خو هغه وخت چې یو څوک له سختې ستونځې سره مخ وي، ستویيزم د جذباتي انډول په ساتلو کې ورسره مرسته کوي.

د یونان فیلسوفانو که سوکرات، اپلاتون، ارستو، اپیکور او یا زینو وو، ټولو د ازموینې له پاره د ښه ژوند کولو له پاره په واقعي عمل باندې ټینګار کاوه. دوی ویل چې د ښېګڼې له پاره یوازې پوهه بسیا نه کوي، بلکې په هغې باندې عمل کول دي، چې یو څوک ښه سړی کوي.

### د ښه انسان د شخصیت ځانګړتیاوې

بالابانس وایي چې اوس موږ د موضوع عملي زړي ته رسېدلي یو. د یونان فیلسوفانو د ښه انسان د شخصیت په ځانګړتیاوو بحث کړی او په لاندې ډول دي:

### ۱- اعتدال (temperance)

د اعتدال اصطلاح د حال توب، منځلاري توب یا نرمۍ انډوله ده. اعتدال د یونانیانو په فکر له هر شي نه د پرهېز په مانا نه و. شاعر هومر وایي چې «موږ له مېلمستیا، ټنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټکور، نڅا، جامو بدلولو او تاوده حمام ... سره مینه لرو. سوفوکلېس وايي چې هغه چا چې د خوښۍ احساس له لاسه ورکړی وي، لا د مخه مړ دی.»۱۰۵۶ یوناني فیلسوفانو منلې وه چې انسانان په دې چې انسانان دي او خدایان نه دي باید له حسي خوندونو څخه یو څه برخه ولري. ان اپلاتون منلې وه چې موږ باید په ګډ ژوند کې ښه ولټوو. اپلاتون ویل چې د انسان روح درې ظرفیتونه لري چې د لاس بري توب له پاره مبارزه کوي. دا درې ظرفیتونه دا دي: لېوالتیاګانې او غوښتنې چې اقناع غواړي؛ پیاوړې او نه کنټرولېدونکې انرژي چې د عمل له پاره هڅول کوي او عقلي قوه چې هغو دوو ته لارښوونه کوي او کنټرولوي یې. په دې ډول موږ په انسان کې هم مادي او هم روحي ظرفیت مومو. خو اپلاتون ویل چې پله باید د روحي ظرفیت په لوري درنه وي.

ډرامه لیکونکي اګاتون یوه مېلمستیا کړې وه او سوکرات د عزتمن مېلمه په توګه ورغی او ملګري هم ورسره وو. خواړه او شراب پرېمانه وو، خو ټول د دغه شعار سره، چې هېڅ شی له اندازې څخه زیات نه، یوه خوله وو. دا د اعتدال ښه بېلګه ده. د دغې مېلمستیا د بحث موضوع مینه (eros) وه چې یو په بل پسې پرې وغږېدل. دوی د جسمي مینې چې د جسمي ښکلا په وړاندې غبرګون دی او اسماني مینې تر منځ چې د ټولو ښکلو شیانو په وړاندې د روح له مینې پیدا کېږي توپیر وکړ. سوکرات په خپل وار وویل چې دواړه ډوله مینې مهمې دي او دواړه ماشومان زېږوي. خو هېڅوک د هغه چا عزت نه کوي چې یوازې «د انسان په شان» ماشومان زېږوي خو هغوی چې په روح سره یې ماشومان پیدا کړي، ښکلي شیان لکه عقلمني، ښېګڼه، هنر او شعر د زیارتونو او ځلو په درولو سره ابدي کېږي چې په درناوي یې جوړېږي.

ارستو د اعتدال د بیان له پاره د (mesotis) یا (metroiotis) کلیمه راوړې چې لفظي مانا یې د منځ لارې غوره کول دي. خو دا دواړه کلیمې په اصل کې د انډولیزې اندازې ایډیا ده چې موږ یې «طلايي وسیله» بولو. دغه کچه د ځله کوونکي د پوره پرهېز او داسې هم خوند ته د پوره تسلیمۍ سره جوړه نه ده. همدغه ایډیا ده چې یونانیانو په جسمي خوندونو، هنر، معمارۍ، شعر او جمناستیکونو کې رعایت کړې ده.

د انساني سلوک په ساحه کې چې زموږ د جسمي خوندونو له کنټرول سره اړه لري یوناني اصطلاح یې انګرېشیا (engratia) نومېږي. دا د دواړو افراطونو څخه د ډډې کولو ظرفیت دی چې د پرهېز او بې بندوبارۍ تر منځ د اعتدال لار ده او د داسې لارښود له خوا اداره شي چې سوچ یا عقل نومېږي.

بیا هم ازموینه ارادي انتخاب دی. انسان هرو مرو اعتدالي نه وي. هغه څوک اعتدالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي چې موقع ولري بې بندوبار شي او د بندوبارۍ وسیلې یې هم په لاس کې وي او په دغه حال کې پرېکړه وکړي چې د اعتدال لار ونیسي. اپلاتون وایي چې انسان دې «د خپل ډېر غم یا خوښۍ کنټرول وکړي او کوښښ وکړي چې په مناسب ډول سلوک وکړي.» تاسیدایدز د پریکلس له قول نه وایي چې «ځکه چې موږ د ښکلا مینان یو، بیا هم په خپلو ذوقونو کې ساده یو موږ ذهن روزو بې له دې چې سړیتوب مو له لاسه ورکړی وي.» یونانیان په اعتدال کې یو ایډیالویني او په حقیقت کې د قهرمانۍ ایډیال چې په سختۍ سره ترلاسه کېږي او کوښښ کول ورته ارزي.

په دغه دلیل او د انساني طبعیت د اخلاقي کمزورتیا او ناتوانیو په پېژندلو سره ارستو ومنله چې «ښه کېدل اسان نه دي.» یاني اعتدالي کېدل اسان نه دي. ارستو ومنله چې هغه څه چې موږ یې متعادل معیار ګڼو، یو ټاکل شوی د ریاضي ټکی نه، بلکې د زغم یوه ساحه ده چې په هغې کې هر څوک باید تر وروستۍ کچې زیار وباسي چې منځنی مقام غوره کړي. د اعتدالي انسان په شان ارستو به هغه څوک محکوم نه کړي، چې له مبارزې وروسته د اعتدال د کچې نه اوښتی وي. داسې هم هغه به د یوه ښه فزیالوجي پوه په شان هغه څوک ګرم نه کړي، چې د کومې ناروغۍ قرباني وي، یا یې په خپګان او ټینګ احساساتي حال کې عمل کړی وي. هغه وایي چې دغسې ټینګ احساسات په واقعیت کې زموږ جسمي عملیو ته بدلون ورکوي او زموږ عقلي سوچ فلجوي. څه عصري فکر! په زړه پورې ده چې دی له ښځو سره مهرباني کوي چې څنګه «هغوی ضعیف جنس» دی تر نارینه وو نه ډېر د بښنې وړ دي، ځکه چې د ښځو له پاره ګرانه ده چې کوښښ وکړي له طلایي وسیلې نه کار واخلي.

بالابانس وایي چې د ارستو په فکر د یو فرد عمر د هغه د اعتدالي یا افراطي کېدلو باندې اغېز لري. ارستو د هغو په اړه چې د عمر په قوت کې دي وایي، چې دوی د اعتدال له پاره استعداد او میل لري، په داسې حال کې چې ځوانانو او د پاخه عمر کسانو ته د افراط یا د غیر اعتدال ځانګړتیاوې منسوبوي. دی زیاتوي چې ارستو که څه هم عمومي حکمونه او شاید مبالغه کوي، د ده د دغو درې واړو ډلو د سلوک په تحلیل کې زیات رښتین توب شته.

## ۲- زړه ورتیا یا مېړانه (andria)

د ښه انسان بله ځانګړتیا مېړانه ده. یونانیانو د ټروی (Troy) د جګړې نه وروسته او په تېره د هخامنشي زورواکو پاچایانو سره د مقابلو په وخت کې په فزیکي زړه ورتیا ټینګار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاوه او مېړانه یې ستایله. د هومر د اکیلز د اتل او د مره تان، سپلامي او ترموپایلای سرتیري په ډرامو، سندرو او شعرونو کې ستایل کېدل. اپلاتون وایي چې زړه ورتیا نه یوازې په جګړې کې اړینه او د ستاینې وړ وي، بلکې له سمندري خطرونو سره په مخامخ کېدو یا د ناروغۍ په مصیبتونو یا د بې وزلۍ په سختیو یا د سیاسي مقام په خطرونو کې هم لازم او د ستاینې وړ وي.

په ټولو حالتونو کې لوړه موخه او عقلي چلند د زړه ورتیا اساسي شرطونه دي. په دغسې حالتونو کې، چې رښتینې زړه ورتیا ښووله کیږي، هغه د کرکټر له امله وي، چې په پوهې او عقل سره ورته لارښوونه کیږي. اجیران چې د جنګ کولو له پاره استخدامیږي زړه ور نه وي، که څه هم ښوونې ده چې یوه جګړه وګټي. دا ځکه چې دوی د پیسو له پاره نه د کومې داعیې یا ازادۍ له پاره جګړه کوي. هغه انسان هم چې تر ده د کمزوري سره مخامخ کیږي زړه ور نه دی. «زړه ور په اصل کې هغه انسان وي چې د خطر درک کوي او پوهیږي چې ژوند یې د خطر لاندې دی او بیا هم د مخه کیږي او غوره ګڼي چې سختۍ وګالي او حتی مرګ قبول کړي.»۱۰۵۷

خو انسان په جګړه کې د جنګیالي نه لا زیات دی. لکه چې د مخه مو یادونه وکړه چې اندریا چې لفظي مانا یې زړه ورتیا یا مېړانه ده، تر فزیکي زړه ورتیا نه ډېره ده او رښتیانۍ مېړانه د اخلاقي زړه ورتیا مفهوم لري یاني هغه زړه ورتیا چې یو څوک هڅوي چې د اخلاقي موضوع په خوا ودریږي او پرې حساب وشي.

### ۳- لوړهمتي

د اخلاقي زړه ورتیا په اړه د ښه انسان بله ځانګړتیا لوړ همتي یا د روح سترتوب دی. د ارستو په نظر هغه څوک لوړ همتی دی، چې د سترو شیانو هیله لري او مستحق یې دی. که دی یې مستحق وي، مانا یې دا ده چې دی هغسې ځانګړتیاوې لري چې قادر به یې کړي چې ترلاسه یې کړي. که ارزښت یې له هېلو نه لوړ وی د کوچني روح خاوند وي. دلته بیا هم طلایي وسیلې ته مراجعه په کار ده. ښېګڼه او رښتینوالی د لوړ همتي انسان ځانګړتیاوې دي. هغوی چې شتمن او د قدرت خاوندان وي، بې له دې چې ښه وي ښونې ده چې کبرجن او بدغوني وي، ځکه چې څوک شته لري او ښېګڼه نه لري د ناوړه غرور ښکار کیږي. ځان لوړ ګڼي بې له دې چې د لوړتوب خویونه ولري.

د ستر روح خاوند د ښکته خلکو په وړاندې اعتدالي او مودب وي. دی کوښښ نه کوي چې د خپل قوت ظرفیتونه د نورو له ظرفیتونو سره چې تر ده ناتوان دي، پرتله کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښېګڼې ځانګړتیا دا ده چې ښه وشي. د ستر روح انسان که په شتمنۍ یا عزتمنۍ، قدرت او یا بریالیتوب یا ناکامۍ کې وي ټینګ او ارام وي. دی هغه وخت چې مستحق یې وي یوازې د ښې سرچینې او په عزتمنو وسیلو سره عزت غواړي.

### ۴- مدني وفا پالي (Peitharchia)

پیتارکیا د تاسیس شوي یا قانوني مقام ته د وفا پالي یا عقیده لرلو په مانا ده یا په نورو ټکو د قانون د مشروعیت په اړه باور یا وفاپالي ده. وفاپالي د ښه انسان بله ځانګړنه ده. د دغې کلیمې ډېره ښه بېلګه زنه فون (Xenophon) په خپل انابیس (Anabasis) کې د لسو زرو د مارش په کیسه کې بیان کړې ده. لس زره یونانیان د کلییر کس (Clear cus) په مشرۍ د پارس د پاچا د زوی داریوش د ملاتړ له پاره لاړل چې د خپل ورور ارتخیرېش (Artxerxes) سره د تخت په سر جنګېده، وجنګیږي. خو سیروس په جګړه کې ووژل شو او دغه یونانیان په داسې حال کې چې قوماندان یې هم وژل شوی و، په وړې اسیا کې له خپل هېواد نه زر میله لیرې ګیر پاتې شول. دوی په خپله خوښه په یوې جرګې کې پرېکړه وکړه چې زنه فون خپل قوماندان غوره کړي، ځکه دوی په دې قانع وو چې هغه د دوی د لارښوونې له پاره تر ټولو وړ و. د زنه فون واک په دغې عقیدې بنا و، چې هغه تر ټولو ښه پوهیږي. دوی د هر یوه له مشورې نه وروسته زیاترو په هوکې سره پلان وایستل شو. دوی د خپل مشر د دغه شعار په منلو سره چې «ټول د یوه له پاره او یو د ټولو له پاره» وکولی شول چې په سره ژمي کې په غرونو باندې تګ سره چې دښمن قومونه ورباندې پراته وو، د ډېرو سختیو په ګاللو سره بریالي شي او خپل وطن ته په مصؤن ډول ستانه شول. زنه فون وویل چې «په رښتیا چې د رضا اطاعت له اجباري اطاعت نه میدان ګټي.»۱۰۵۸

ازادي د اتن د ډموکراسۍ له بنسټونو څخه وه، خو ازادي د ډموکراسۍ سره د قانون د واکمنۍ پرته خوا په خوا ژوند نه شي کولی. نو یوه یوناني ته په داسې حال کې چې ازاد ژوند وکړي، فکر وکړي، وغږیږي، تخلیق وکړي او سوچ وکړي هرو مرو به یو قانون منونکی تبعه وي. د اتن ځوانان په نولس کلنۍ کې اړ وو لوړه وکړي چې د ښار قانونونه ومني، له پلارني هېواد نه ساتنه وکړي او ژمنه وکړي چې راتلونکو نسلونو ته به داسې کامنوېلت سپاري چې «تر هغه نه چې ما ته سپارل شوی و، ووړ نه بلکې هم لوی او هم ښه وي.»۱۰۵۹

اتکل دا و چې قانونونه به عادل او معقول وي. قانون د ټولنیز قرارداد محصول و چې ولس به پرې هوکړه کوي، په دې ډول چې دوی به له ځینو حقونو څخه د هغو ګټو ګټو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بدل کې تېرېږي چې دوی یې هیله لري له دغسې ګډون نه را پیدا کېږي. هغه وخت چې چارواکي ناعادل او زورواک شي، دوی بیا په اخلاقي لحاظ اړ نه وي اطاعت یې وکړي. په واقعیت کې دا بیا د دوی حق او دنده وي، چې د بې قانونۍ په وړاندې اعتراض وکړي، تر هغه زیات دا دوی حق او دنده ده چې بدل یې کړي.

## ۵- عدالت (Dikiosyne)

عدالت د ښه انسان بله ځانګړتیا ده. اپلاتون خپل د جمهوریت اثر انساني اړیکو د عدالت د ماهیت شرح ته ځانګړې کړې ده. د دغه اثر په سر کې د یونان د جاري فارمول یادونه شوې، چې عدالت هر یوه ته د هغه د حق سپارل دي چې مانا یې په عام ذهنیت کې خپلو ملګرو ته ګټه رسول او دښمنانو ته زیان اړول دي او دا د انعام او جزا ورکولو یوه دودیزه لار ده. داسې هم عدالت په ډیالوګ کې د یوه ګډونکوونکي له خوا «د قوي په ګټه» تعبیر شوی دی، «حکومتونه قانونونه جوړوي چې د حکم چلوونکو ګټې خوندي کړي. بیا نو دوی دغه قانونونه عادل ګڼي او هغو ته جزا ورکوي چې ترېنه سرغړوي.»۱۰۶۰ داسې هم په کې ویل شوي چې دغه قانونونه ځینې وخت نه یوازې نور له خپلو شتمنیو نه بې برخې کوي بلکې دوی هم مریان کوي.

سوکرات د دغو نظریو د هېڅ یوې سره جوړ نه و. سوکرات وایي چې عدالت په اصل کې ښېګڼه او عقلمني ده او بې عدالتي بدي او ناپوهي ده. د هغه په اند: «که څوک ووایي چې دا عدالت دی چې هر یوه ته د حق وسپارل شي او که دا په دې مفهوم وي چې د هغه دوستانو ته ګټه او دښمنانو ته یې زیان ورسول شي، هغه عادل او عقلمن نه دی... ځکه چې یو څوک باید په هېڅ حال کې چا ته زیان ونه رسوي.»۱۰۶۱ ارسطو په خپل اخلاقیاتو اثر کې ډېر په ځیر سره د عدالت مفکوره او هغه شرایط چې عدالت یقیني ګرزوي سپړلي او شرح کړي دي. ارسطو منځنۍ لار غوره کړې چې د هغې له مخې عدالت «د ښه لا ډېر او د بدې لا لږ» تر سره کوي. یو څوک باید د عدالت په فکر سره وهڅېږي ان که د پوره عدالت ترسره کولو توان هم ونه لري. دی د عدالت په اړه هم عقلي پرنسیب ته مخ اړوي. د بېلګې په توګه که یو څوک چا ته په خطا یا ناپوهۍ یا په تصادفي ډول زیان واړوي، باید د تاوان جبران وکړي خو څنګه چې عمل یې اختیاري نه دی، ناعادل نه ګڼل کېږي. ارسطو د اقتصاد په ډګر کې هم وایي چې عدالت هغه وخت ترسره کېږي چې جایزې د استحقاق پر اساس ورکړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په قانون پوهنه کې د ارسطو مهمه ونډه د عدالت او انصاف تر منځ توپیر کول دي. انصاف هغه ډول عدالت دی چې د انسان په لاس له جوړ شوي قانون څخه اخوا وي. د انصاف سرچینه د کایناتو قانون یا د طبعیت قانون دي چې د بالابانس په وینا «زموږ په وختو کې د لا لوړ قانون په نامه یاد شوی دی»۱۰۶۲ قانون جوړیږي خو شونې نه ده چې هغه په داسې ډول بیان شي چې هره ځانګړې موضوع په منصفانه ډول حل کړي. له دې کبله د قانون دغه تشه وضعي قانونونه بشپړوي. هغه داسې قانون بدلوي چې د یوې عادلې پرېکړې له پاره بسنه نه کوي. سیاست او اخلاقیات سره نه بیلېدونکي دي، اخلاقیات په واقع کې د سیاست مخکینی شرط دی.

افلاتون د پلي پونیز جګړې د ناخوالو او د پایلو له امله د خپل وخت په سیاسي موسسو باندې خپل باور د لاسه ورکړ. دغو پېښو د یونان عدالت هم د ده په نظر بې اعتباره کړ. د پلي پونیز جګړې د پریکلس طلایي عصر ته د پای ټکی کېښود او داسې یې د چارواکو او عادي خلکو اخلاق فاسد کړي و. برسېره پر دې دغه ډموکراسۍ د ده استاد سوکرات په مرګ محکوم کړی و. دغو ټولو د افلاتون نظر د وخت د اساسي قانون په اړه اړولی و.

افلاتون ولیکل چې تجربو ښوولې ده چې ارستوکراسي په تیورۍ کې د ډېرو ښو او ډېرو عزمتنو حکومت دی، په پای کې د هغو ښکار کیږي چې د شتمنۍ، قدرت او پیسو جوړولو لېوال وي او هغه اولیګارشي یا د څو شتمنو او مخورو حکومت کیږي. داسې شتمن بیا د خپلو ګټو له پاره ولسونه زېبښي او په پای کې دوې طبقې هسکیږي: یوه یې د واکمنو چې واکمني کوي او بله یې د بېوزلو، چې واکمني پرې کیږي. څه وخت چې واکمنان پڼ او لټ شي او ظلمونه تر دې کچې ورسیږي چې خلک یې زغملی نه شي، ولس پاڅیږي، زېښوونکي وژني یا شړي او حکومت ترلاسه کوي. اوس د ډموکراسۍ په وخت کې ټولو مدني تبعه وو ته چې په استعداد یا اخلاقي وړتیا کې برابر یا نابرابر وي، د دولتي مقام نیولو له پاره برابر حق ورکول کیږي، ازادي محور کیږي او غوښتنې او جذبې یا پیاوړي احساسانه په عقلمنۍ باندې لاسبرې مومي، زر یا وروسته ازادي په فساد اوړي او ښېګڼه له یاد نه ایستل کیږي. افلاتون زیاتوي چې هر څوک د واکمنۍ کولو د حق ادعا کوي، که څه هم هر یو د حکومت کولو وړتیا نه لري. ان دومره وړتیا نه لري چې سم چارواکي غوره کړي، یا د رښتینیو داعیو له پاره رایه ورکړي.

افلاتون د دې د مخنیوي چاره داسې ګڼي چې حکومت یوازې داسې کسانو ته په لاس کې ورکړل شي چې د ښاري دولت د چارو په اداره کې قدرت له پوهې او ښېګڼې سره یوځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي. د اپلاتون په اند داسې کسان «فیلوسوف پاچایان» دي چې هغوی به له اخلاقي او عقلاني استعدادونو څخه برخمن وي، چې د سیاست والی په فن کې به د یوې اوږدې مودې منظمې پوهنې له پړاو نه تېر شوي او د انساني چارو په رښتینې نړۍ کې به د کلونو په بهیر کې د تجروبو خاوند شوی وي. د دې له پاره چې د ټولو شخصي ګټو په غوښتلو کې بې غرض توب یقیني شوی وي، دغه دولتي ساتونکي باید شخصي شتمني او ان فامیلي مسؤلیت هم ونه لري، په ګډه ژوند وکړي.

اپلاتون د ډېر زیات نفوسو او د لږ نفوسو د مخنیوي له پاره دغسې قانونونه غوښتل چې د کورنۍ د غړو محدود کولو او د نسل د ښه کولو له پاره وایستل شي او هغه «له ډېر ښه سره د ډېر ښه په جوړه کولو سره وي.»۱۰۶۳

بالابانس وایي چې سره له دې چې د اپلاتون اوتوپیا کمزوري ټکي لري خو دغه اثر د اتن په شان د یوه واړه ښاري دولت په اړه و چې په ژبه او کلتور کې متجانس و. موږ ته ګرانه ده چې د هغه په اصلي تېزس نیوکه وکړو هغه دا چې «تر هغو چې فیلوسوفان پاچایان کېږي ... یا هغوی چې موږ یې پاچایان یا واکمنان بولو، زده کړي چې فیلوسوفان شي او سیاسي قدرت او عقلمني په هغه یوه شخص کې راغونډ شي ... زموږ په ښارونو کې به بدي ختمه نه شي، نه، ګومان نه کوم په ټول انساني نژاد کې...»۱۰۶۴ دی زیاتوي چې اپلاتون په رښتیا د حکومت د ناوړو استفادو او خطرونو په ښوولو سره په سیاسي تیوري کې د غښ کریډت لرلو استحقاق لري.

ارستو بیا د ایډیالي دولت پرځای د دې سره ډېره علاقمني ښودلې چې د ګټې رسولو د پرنسیبونو له مخې د حکومت یو عملي سیستم ومومي، چې د ډېرو خلکو له پاره ډېر ښه والی یقیني کړي. هغه په دې موخه د یو شمېر لویو دولتونو اساسي قانونونه کتلي چې کوم یو به یې عامه ګټې په ښه ډول یقیني کړای شي.

ارستو د اپلاتون غوندې د نفوذمنو حکومت د افراطي ډول سره مخالف دی. دی «د تر ټولو ښو او تر ټولو نېکانو»، له یوې پیاوړې، معقولې منځنۍ طبقې سره چې د شتمنۍ او خوارتوب او د لوړ نسب او ښکته نسب د افراطیت ترمنځ د متعادل ځرخ په شان کار وکړي، څخه جوړه ارستوکراسي غواړي. د ده په اند په دولت کې دغسې منځنۍ طبقه د ثبات توکی ګرزي.

دی هم د اپلاتون په څېر د قانون له لارې د نفوسو د کنترول پلوي کوي خو د ښځو او ملکیت په برخه کې د اپلاتون د ګډ ژوند پلوي نه کوي. دی کورنۍ د یوې اساسي موسسې په توګه ګڼي، چې هغه د دې د غړو او دولت په ګټه ده. نوموړی دولت د کورنیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنه بولي. دی په دوو دلیلونو سره د خصوصي ملکیت د موسسې ملاتړ کوي. لومړی دا چې هغوی چې ملکیت یې شخصي وي په ښه ډول یې پاملرنه کوي. دوهم دا چې شخصي ملکیت د عدالت د پرنسیب سره سمون لري، چې انعام د وړتیا له مخې ورکوي.

اپلاتون ویل چې ښځې د نارینه وو په شان د مدني تبعه کېدو او دولتي مقام نیولو له پاره استعداد لري. دوی د فزیکي نظره توپیر لري، دوی د نارینه وو غوندې درانه کارونه نه شي کولی، خو ښځې او نارینه دواړه یو شان ذهني ځانګړتیاوې لري او که هغوی ته هم هغسې روزنه او پوهنه ورکړل شي، ښځې ان د دولت د ساتونکو مقام ته جګېدلی شي.

که څه هم په یونان کې ښځو مدني حقونه نه لرل، په حکومت کې ورته برخه نه ورکول کېده او له رسمي پوهنې نه بې برخې وې، خو د یونان ښځې په واقعي ژوند کې د نارینه وو سرپرسته وې. مایني د ملت میندې وې او د پلارواکي کورنۍ په منځ کې د دوی عزت او اطاعت کېده. میندې او لونې لومړۍ اقتصاد پوهانې وې او د کورنۍ تنظیم یا اداره د دوی په لاس وه. داسې هم ښځې په مجسمو، انځورونو او ډرامو کې تمثیل کېدلې او په اولمپس کې یې په مذهبي رسمونو کې ګډون کاوه.

مریي توب یوه پخوانۍ موسسه ده چې نښه یې د هومر تر وخت پورې رسیږي او په اتن کې یوه منل شوې موسسه وه. مریان ځینې بربریان او نور یې یونانیان او دولتي اسیران وو. مریان په ټولو دولتونو کې د هغو د څښتنانو شخصي مال وو چې د ژوبو غوندې پلورل کېدل او رانیول کېدل. د مریانو ډېر شمېر د عامه سروېس په لیکو کې استخدامېدل او دوی خپله ازادي د کوم مهم عامه خدمت په ترسره کولو یا د ښار په دفاع کې د ځانونو په ممتاز کولو کې حاصلولی شوه.

سوکرات د یوناني له خوا د یوناني د مریي کولو مخالف و او هغه یې یو لعنتي شی باله. د هغه په اند ټول یونانیان د یوه اواز او د خپلوي روح خاوندان دي. هغه فکر کاوه د ښځو په ګډون د یوه ټول ولس مریه کول په داسې حال کې چې یو څو تنه په جګړې کې سره مخامخ کیږي، غیر عادل دي.

اپلاتون فکر کاوه چې «ځینې د واک له پاره او نور د واک چلول کېدو له پاره پیدا شوي دي» او د ده په خیالي دولت کې د مریانو ښکته مقام د هغه د کار د وېش له پاره مناسب و. ده ویل چې ځینې کسان باید ډېر ښکته بدني کارونه وکړي او په دغه ډول اصلي تبعه وو ته چې، نېغه واکمني کوي، موقع ورکړي چې فکر وکړي، د رښتین توب له پاره څېړنه وکړي او د خپلو مدني چارو د کولو له پاره وخت ولري.

ارستو ویل چې «ځینې کسان د زیږېدلې د شېبې نه وروسته د تابع کېدلو له پاره او نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



د واک چلولو له پاره پيدا شوي دي.» د ده په اند کورنۍ د کسانو ټولنه ده، چې د دولت د ژوند له پاره اساس وي. داسې هم کورنۍ اقتصادي واحد دی او بايد د ژوند اړتياوې پوره کړي. مريه د کورنۍ د غړي په توګه دغسې څوک ګڼل کېده چې د ښکته ظرفيت خاوند وي، په خپلو لاسو سره کار کوي او د خپل خاوند لوړ ظرفيتونه، ذکاوت او کرکټر تکميلوي. مريه د خپل خاوند ژوندی سامان دی او په هغه پورې اړه لري. دا د کار يو ډول طبيعي وېش دی چې هم د خاوند او هم د مريي په ګټه دی. د ارستو په اند دا طبعيت دی نه انسان چې مريي ته يې په دغسې تابع حال کې ځای ور په برخه کړی دی. نو په دې ډول د ده په نظر مريي توب يوه طبيعي او عادله موسسه ده.

ارستو زر دا هم ورزياتوي چې ګرانه ده هغه نظر له پام نه وغورزول شي چې مخالف يې وړاندې کوي او دليل راوړي چې مريي توب يو غير طبيعي کار او په دې ډول يوه ناعادله موسسه ده، چې حق شايد د هغه پر خوا وي ځکه ډېر مريان په دغه حال کې دي نه په دې چې دوی د ښکته استعداد خاوندان دي، بلکې د دوديز قانون له امله چې لاسبرو ته يې حق ورکړی چې لاندې کړي مريان کړي. دی وايي چې ډېرو حقوق پوهانو دغه عمل چې زورور کمزوري خپل مريان ګرځوي، جرم ګڼلی. موږ په حقه زياتولی شو څنګه چې د لاندې شويو يونانيانانو په منځ کې چې مريان شوي وو، شايد په زرګونو دغسې کسان وو چې د اتن په کوڅو کې ګرځېدل چې د خپلو خاوندانو له ذکاوت او اخلاقي ظرفيت سره برابر يا ترېنه لوړ وو.

## ۶- عقلمني (Sophia)

د ښه انسان وروستۍ ښېګڼه عقلمني ده چې د يونان فيلسوفانو تر نورو ښېګڼو نه لوړه ګڼلې ده. هوښياري يا عقلمني له عملي عقل نه زياته وي. له فلسفي نظر نه د سوفيا او فروني سيس (Phronisis) تر منځ توپير ډېر دی. فروني سيس لېرې ليد دی. بالاابانس وايي څه وخت چې يو څوک که په فروني سيس ډول له عقلمنۍ نه کار اخلي، په دغه اړه په ژور ډول فکر کوي، چې ډېره ښه او مناسبه لار به کومه وي چې دی پرې لاړ شي؟ هغسې لار چې د ده په کې ګټه وي. د سوفيا عقلمنۍ نه په کار اخېستلو سره يو څوک د وړو او غيرو مهمو شيانو په فکر نه وي، هغه غواړي پوهه د پوهې په خاطر خپله کړي، نه د هغې د ګټې په خاطر چې په پوهې سره به يې خپله کړي. څوک چې د سوفيا له عقلمنۍ سره سر او کار لري، هغه د معنوي يا روحي شيانو په فکر وي، لکه د هغه ماهيت او سرچينه د هغه د ژوند موخه، د هغه روح، د هغه برخه ليک، د کايناتو روح او خدای تعالی. هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړي د دغو شیانو په رښتین توب پوه شي او خپل ژوند له هغو سره همغږی کړي. څه وخت چې انسان په دا ډول بوخت وي هغه د یونان د فیلسوفانو په نظر، د خدایانو ژوند ته نږدې کیږي او له ننۍ ارامۍ نه خوند اخلي.

## پایلیک

بالابانس وایي چې په دې کتابګوټي کې کوښښ وشو هغسې چې د یونان فیلسوفان پوهېدل د ښه انسان د خوی ځانګړتیاوې بیان شوې. د ده په نظر په اتن کې ښه او رښتیني انسانان وو. خو د یونان وګړو د خپلو فیلسوفانو د نظریو او ښوونو قدر ونه کړ او په لاره یې نه لاړل چې دا یو عام تاریخي واقعیت دی.

یونانیانو د نرم، حساس، د پیاوړي روح، ازاد فکر، د تکړه ویاند، سپورتي لوبغاړي ستاینه کوله. خو د دوی د ډېرو کړه وړه د غچ او بې اتفاقۍ هم وو. په سیاست کې د دوی لېوالتیا دوی په ډلو سره ووېشل، چې پای یې د ننه ښاري او د ښارونو ترمنځ جګړې وې. لویانو یې عزت ته دومره ارزښت ورکاوه چې د شخصي مقام د لاسته راوړلو له پاره یې د بري په موخه د هرې وسیلې نه که ښه او یا بده وه، کار اخېسته. دوی دا د لاسبرو حق ګاڼه چې لاندې کړي لوټ او مریي کړي.

بالا بانس وایي چې د افسوس ځای دی چې د سوکرات د مړینې نه دوه نیم زره کاله تېر شوي خو بیا هم د ده او نورو اخلاقي نظریې د وګړو په ناپوهۍ بریالۍ شوې نه دي. جګړه، بې رحمي، نژادي جګړه، بې وزلي، سیاسي فساد، حرص او ځان غوښتنه لا هم زموږ سره دي. نو یو څوک شاید ووایي چې د ښه توب ایډیال او د ښه انسان ځانګړتیاوې هغسې چې په دې لیکنې کې تر څېړنې لاندې نیول شوي د اندازې نه دغومره لوړې دي چې د عادي فناکېدونکي په ژوند کې به عملي نه شي، ځکه چې هغه نه یوازې د اخلاقي ځواک لوړه درجه، بلکې ذکاوت هم غواړي چې ډېر یې له هېڅ یوه څخه بهره من نه ښکاري.

دی زیاتوي سره له دې چې ومنله شي، چې د ښه انسان کلاسیک ایډیال یوازې لږو انسانانو ته منحصر دی دا مانا نه لري چې د هغو اعتبار او ارزښت لږ دی. یو ایډیال داسې یو شی دی چې وررسېدلو ته یې باید زیار وایستل شي. بالابانس وایي چې له ځینو تضادونو سره سره په عمومي ډول د یونان فیلسوفانو داسې حس کوله او موږ باید ورسره موافقت وکړو، چې هر انسان د خپل استعداد او ذکاوت په حدودو کې د ننه خپل ځان ته مسؤل دی چې څومره کولی شي، د ښېګنې په زینه پورته وخیږي.

انسان هم جذباتي او هم عقلي وي، که یوازې په جذبې یا احساس سره حرکت

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي، د مصیبت په لور درومي، که یوازې په عقل سره خوځیږي، سست او بې اغېزې وي، خو دا پوره شونې ده او په واقعیت کې دا اړینه ده چې د انسان عقل او احساس سره په ګډه کار وکړي او احساس د عقل په ذریعه رهنمايي شي.

## موږ ولې باید اخلاقي واوسو؟

د جمهوریت په یوه ډیالوګ کې یو چا شکایت کړی، چې که ښځې د دوی په ډله کې راوړلې شي، چې زده کړه وکړي چې د دولت ساتونکې شي دوی به د خپلې ساحې نه بهر شوې وي. ځکه په لرغونې زمانه کې د ښځې ځای د ننه په کور کې و. اپلاتون ځواب ورکوي، چې په ټولنې کې د یوه چا شخصي مقام د هغه د جنس پر بنسټ نه، بلکې باید د هغه د ظرفیت او د وړتیا د پرنسیب له مخې، وټاکل شي.

پر هغه برسېره باید په یاد ولرو چې نومیالۍ اسپه سیا (Aspacia) د پریکلس معشوقه او د سوکرات فکري ملګرې وه، ساپ هو (Sappho) بذمي شاعره وه، ایفي جینیا (Ephegenia)، ایلیکټرا (Electra) او انتي ګون (Antigone) د یونان په تراژیدیو کې مرکزي رول لوبولی دی، هیرا (Hera)، ارټې مس (Artemis) او افردیت (Aphrodite) د یونان خدایانې وې او اتېنا (Athena) د عقل الهه او د اتن ساتونکې بزرګه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دريې ديرشم څپرکی

# د انسانتوب په اړه د اخلاق پوهنې پرنسيپونه

څنګه چې د څو لسيزو جګړو په پايله کې افغاني ټولنه د فکري، اخلاقي او د بې باورۍ په بحران اخته ده، کاکړ د افغاني ټولنې د بيا رغونې په پروسه کې د هغې اخلاقي رغونه ډېره اړينه ګڼله. ځکه نوموړي د بالابانس د «دښه انسان کلاسيک ايډيال» کتاب پسې « د انسانتوب په اړه د اخلاق پوهنې پرنسيپونه» د اندريو. س. ورګا (Andrew. C. Varga) کتاب په پښتو وژباړه تر څو د افغان روڼ اندو پام دغې مهمې موضوع ته واړوي.

## د اخلاق پوهنې موضوع

د اخلاق (Ethics) د اصطلاح ريښه (Ethose) يوناني کليمه ده چې مانا يې دود ده. لرغونو يوناني فيلسوفانو درک کړه چې د بدلېدونکو دودونو (د کاليو اغوستل، فېشن کول، او د قومي خلکو له خوا د بيلو خوارکي شيانو برابرول) او د پاييدونکو دودونو (په ژمنه وفا کول، رښتيا ويل، د نورو د ملکيت او ژوند رعايت کول) تر منځ توپير شته او دا يې اړينه وګڼله چې دا توپير وځېړي. دوی د پاييدونکو دودونو څېړنه (Ethica) ونوموله چې انګرېزي اصطلاح Ethics د هغې نه راوتلی ده. د لرغوني روم فيلسوفانو د اېتوس يوناني کليمه په لاتيني کليمه (Mores) واړوله او د هغې نه انګلسي کليمه (Morality) راووتله.

کاکړ وايي چې عام ذهنيت دادی چې اخلاق پوهنه د ښه توب او بدتوب موضوع څېړي. دا لنډه وينا سمه ده خو دا نه شي ښودلی چې ښه او بد څه ته وايي؛ ايا دا مفهومونه نسبي يا مطلق دي؛ کوم اصول او پرنسيپونه لري؟ ايا د انسان کړنه په خپل ذات کې ښه يا بده ده او يا د کړنې نه د باندې لاملونه دي چې د ښه او بد پرنسيپونه ټاکي؛ هغه معيارونه کوم دي چې د هغو له مخې ښه او بد مالوم کړو.

ورګا وايي چې د انسان پوهانو او تاريخپوهانو څېړنې ښيي چې د ښه او بد موضوع ډېره پخوانۍ ده. د سلوک مقررې چې د ښې کړنې سپارښتنه کوي او بد عمل منع کوي، په لرغونو زمانو کې موجودې وې. ښه سړی هغه و چې د هسک څښتن يا خدايګوټو د قانون رعايت يې کاوه. په دې ترتيب اخلاق پوهنه د فلسفې يوه څانګه ده چې هغه «به د انساني

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړو د رښتين توب او يا غلط توب مطالعه وګڼله شي.»۱۰۶۵

کاکړ وايي چې انسان د خپل طبعيت له مخې يو ټولنيز موجود دی او اړ دی چې له نورو سره ګډ ژوند وکړي. ګډ ژوند انسان اړ کوي چې د نورو انسانانو سره اړيکې او يو نظم ولري. دی همداسې اړ دی چې نورو ته هم هغه حقوق ومني چې د ځان له پاره يې غواړي. انسان د عقلي قوې او ارادې خاوند دی نو بايد د ځينو پرنسيپونو له مخې ژوند وکړي چې ځان خوښ او نېکمرغه کړي او په دې ډول خپل طبعيت د بشپړتوب پولې ته نور هم نږدې کړي. دا ټول لازموي چې انسان بايد اخلاقي پرنسيپونه ولري او د هغو له مخې ژوند وکړي. اوس به وګورو چې اخلاق پوهنه په کوم ډول علمونو پورې اړه لري.

## مثبت او معياري علوم

موږ پوهېږو چې علمونه بيانيز يا مثبت (Positive) يا معياري (Normative) دي. مثبت علوم د شيانو او پېښو بيان کوي خو په خپلو موضوګانو باندې قضاوت نه کوي. فزيک، کيميا، بيالوژي او نور د مثبت ساينس بېلګې دي. خو نورماتيف علمونه د قانونونو، نورمونو يا معيارونو نه بحث کوي او په هغو سره د څېړنو په موضوع ګانو قضاوت کوي. نورماتيف علوم د قضاوت يا حل له پاره قانونونه باسي او دستور ورکوي. د بېلګې په توګه ښکلا پېژندنه د هغو نورمونو نه بحث کوي چې د هغو له مخې موږ په پېژندل شويو شيانو باندې قضاوت کوو چې هغه ښکلي يا بدرنګ دي. اخلاق پوهنه په نورماتيف سيانس پورې اړه لري په دې چې د اخلاقي نورمونو له مخې د هغې په موضوع قضاوت کيږي. اوس مهال د اخلاقي نورمونو د اعتبار مطالعه په (Meta- ethics) يادېږي. څنګه چې د انسان د کړو ښه توب او بدتوب د اخلاق پوهنې موضوع ده موږ اړ يو چې پوه شو چې «ښه» او «بد» څه ته وايي.

## ښه او بد

د «ښه» کليمه په دوو شېوو کارول کيږي: لومړی دا چې د «ښه» کليمه په نسبي ډول کارول کيږي. د بېلګې په توګه د وچکالی په حالت کې به بزګر ووايي چې باران ښه دی خو هغوی چې مېلې ته ځي وبه وايي چې باران بد دی. په دې ترتيب ځينې شيان او کړه ښه ګڼل کيږي چې غوره شوې موخې ته د رسېدلو له پاره وسيله وي. دوهم دا چې د «ښه» کليمه په مطلق ډول کارول کيږي. د بېلګې په توګه د منو په بڼ کې د منې يوه ونه چې ډېرې ښې منې وکړي پرته له دې چې د څښتن عايد په نظر کې ونيسو د ښې منې ونه يې ګڼو. په دې توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وخت چې یو شی خپل بشپړ ظرفیت واقعي کوي د هغه د شته والي بشپړتوب ته ښه ویل کیږي. په دې توګه د «ښه» کلیمه په نسبي یا مطلق ډول کارول کیږي اوس به وګورو چې اخلاقي ښه توب څه شی دی.

## اخلاقي ښه توب

د «ښه» اصطلاح د سپړلو وروسته موږ کولی شو چې په ځانګړې توګه یې د انسان په کړو باندې پلې کړو په دې چې د اخلاق پوهنې موضوع ښه او بد دي، چې په انسان کې موندل کیږي. هغه مهال چې موږ د انسان په اړه د «ښه» کلیمه یادوو، هغه بیلې ماناګانې لري. د بېلګې په توګه زلمی د کرکټ ښه لوبغاړی دی. زلمی د کرکټ په لوبو کې ښه مهارت لري خو دا دغه مانا نه لري چې دی به هرو مرو ښه سړی وي. داسې بېلګې شته چې د کرکټ ځینې ښو لوبغاړو د پیسو په بدل کې خپل ټیم د ناکامۍ سره مخامخ کړی او د خپل هېواد نوم یې بد کړی دی. دا بېلګه راښیي کله چې موږ یو څوک ښه سړی بولو نو هغه باید نه یوازې په خپل کسب کې ښه مهارت ولري بلکې په انسان پالنه کې هم ښه وي. دغه ځانګړی انساني ښه توب اخلاقي ښه توب دی.

هېڅوک په اخلاقي لحاظ نه ښه او نه بد زیږېدلی دی. دی د لویېدو په بهیر کې د ښو یا بدو کړو په کولو سره ښه یا بد کیږي. د دې نه داسې ښکاري چې ښه توب یا بدتوب تر څه اندازې د انسان په عمل کې نغښتی دی. له دې امله د انسان د عمل جوړښت او طبعیت د اخلاقیاتو له پاره زموږ په لټون کې اساسي اهمیت لري. د دې له پاره چې د انسان د ښه توب سرچینې یا د هغه د اخلاقي ښه توب جوړونکی لامل پیدا کړو نو باید د انسان کړنه (عمل) وسپړو او هغه ځانګړنه یې ومومو چې دی ښه کوي.

## انساني کړنه (عمل)

انسان په ځانګړي ډول د څلوربولو نه د عقل او ازادې ارادې په وړتیاوو سره توپیر لري. زموږ ځنې کړنې چې موږ یې ترسره کوو، په ځانګړتیاوو کې د حیواناتو د کړنو سره توپیر نه کوي، په دې چې عقل او ازاده اراده د هغو د رامنځته کېدلو لاملونه نه دي. د بېلګې په ډول غیر ارادي کړنې، یا هغه عملونه چې انسان پوره بلې خوا ته وګرځوي.

انسانان ډېر داسې کړه لکه خوړل، اورېدل، له درد نه تېښتېدل، یا د خوند لټول ترسره کوي چې هغه ځانګړتیاوې لري، چې حیوانات یې کوي. دا ټول داسې ښکاري چې هغه په حیواناتو او انسانانو کې سره ګډ دي، خو انساني کړه د پوهې او په ازادۍ سره د عمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو له امله له حیواني کړو نه توپیر کوي.

د حیواناتو عملونه په طبیعي غریزې یا غوښتنې سره ټاکل کیږي. خو انساني عمل هغه دی چې انسان ترېنه خبر وي او په ازادۍ یې ترسره کوي. هېڅ داسې عمل نه شته چې د مقصد په اړه یې پوهه نه وي، ځکه چې انسان کېدل په دې مانا دي چې په عقل اداره شي. داسې پوهه د ازادۍ د تمرین له پاره اساسي ده، په دې چې رښتینې ازاد انتخاب زموږ د ازادې ارادې پرته نه شته دی. هغه مهال چې موږ په انساني شېوې سره عمل کوو، لومړی موږ د خپل عمل مقصد درک کوو او بیا په ازاد ډول هغه ترسره کوو.

دا پوهه او ازادي ده چې موږ په عمل لاسبري کوي. کړنه په رښتیني ډول په خپله زموږ ده او د هغې له پاره موږ مسؤل یو. مسؤلیت د پوهې او ازادۍ نه ولاړیږي. ځکه اخلاقیات او په ځانګړې توګه ښه توب په رښتیني ډول په انساني عمل کې ځای لري. له دې نه ښکاري چې د انتخاب ازادي او د هغې نه راولاړ مسؤلیت د اخلاقیاتو مخکینی شرط دی.

د مخه مو یادونه وکړه چې ځنې کړنې لکه رښتین توب په وعده وفاکول، د دندې ترسره کول په عالمي ډول ښه یادیږي، په دې چې د پوره انساني مفکورې سره سمون لري ځکه دا ځانګړتیاوې په یوه انسان کې رښتینې انسان پالنه پیاوړې کوي. په دغو کړنو کې داسې ځانګړتیا شته چې د انسان د بشپړتوب سره مرسته کوي.

اخلاقي شېوې یا سیستمونه په دې اړه چې انسان څه مانا لري؟ بیل بیل فکرونه وړاندې کوي. ځینې فیلسوفان انسان داسې ګڼي چې معیار یا نورم جوړوي چې په هغه سره د یوې کړنې ښه توب یا بدتوب ټاکل کیږي. بیا نو په دغه مانا سره د اخلاقي نورم یا معیار مانا د انسان د کړنې سره پرتله کیږي او په دغه ډول د یوه عمل ښه توب یا بدتوب ټاکل کیږي.

موږ په ورځني ژوند کې د راز راز معیارونو د کارولو سره اشنا یو لکه د اوږدوالي، وزن، حجم، تودوښې او داسې نورو له پاره له نورو معیارو نه کار اخلو.

دا مسله چې د اخلاق معیار په کوم طبیعي واقیعت ولاړ دی د بشر د اخلاقي ژوند له پاره اساسي دی. د دغې پوښتنې ځواب چې انسان څه راز موجود دی د یوه تن د مفکورې انعکاس کوي. که انسان په عمده ډول د احساس موجود وي، بیا نو هر هغه عمل چې د احساس خوند تولیدوي په اخلاقي لحاظ ښه وي، په دې چې هغه انسان په خپل انسان توب کې بشپړ کوي. او که انسان په خپل اصل کې عقلي او ټولنیز موجود وي، بیا نو د هغه کړه چې عقلاني چلند او له خپلو ملګرو سره د همغږۍ ژوند ته وده ورکوي له اخلاقي نظر نه ښه عملونه دي، ځکه چې هغوی به په هغه کې رښتینی انسانیت پیاوړی کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې له پاره چې د اخلاقیاتو معیار وڅېړو موږ به لومړی په لویو معیارونو یا شېوو باندې رڼا واچوو.

## جبر او اختیار

د مخه تر دې چې د جبر او ازادۍ په اړه دلایل ووایو باید د ازادۍ او جبر مفهومونه روښانه شي.

## ازاده اراده:

د علیت اصل وايي چې له یوه مناسب علت نه پرته هېڅ عمل یا پایله منځ ته نه شي راتلی، او دا چې بې علته پېښې هېڅ نه شته د انتخاب د ازادۍ مانا دا نه ده چې ازاد کړه علتونه نه لري. مانا یې دا ده چې اراده د یوه عمل د علت په توګه دا توان لري چې خپل ځان وټاکي، په دې چې هغه د دې قدرت لري چې د عمل بیلې لارې غوره کړي یا دغه وړتیا لري چې په ځینو حالاتو کې د یوه عمل د کولو نه ډډه وکړي.

ازادي په عمومي ډول د جبر نشتوالی دی. خو دا یوازې د ازادۍ منفي اړخ دی. د ازادۍ مثبت اړخ دا دی چې ازادي د ازادۍ له پاره تل مقصد ته د رسېدلو په لور په نظر کې نیول شوی عمل د اجرا له پاره وي. جبر شونی دی چې فزیکي، روحیاتي یا اخلاقي وي. د فزیکي اجبار نشتوالی په خپل سر یا بې اختیاره ازادي نومېږي. د بېلګې په ډول هغه مهال چې یو مجرم په بند محکومېږي بیا هغه ازاد ګرزېدلی نه شي او له بندي تون نه وتلی نه شي. نو موږ وایو چې هغه خپله ازادي له لاسه ورکړې ده. د روحیاتي یا ذاتي اجبار نشتوالی د روحیاتي ازادۍ یا د انتخاب د ازادۍ په نامه یادېږي. دا د ازادې ارادې جوهر دی. دغه ازادي د مسؤلیت بنسټ یا سرچینه ګڼله کېږي، په دې چې دغه ازاد عمل په هر هغه شخص پورې اړه لري چې یې تر سره کړی او د کولو نه یې ډډه کولی شوه. د ذاتي جبر نشتوالی د ازادۍ منفي اړخ دی. د هغه مثبته ځانګړتیا د ارادې هغه وړتیا ده چې څه وخت د کړو ټول شرطونه موجود وي، په بیلو بیلو طریقو عمل کوي، د عمل کولو نه ډډه کوي. د یوه عمل نه په ارادي ډول ډډه کول یو ازاد انتخاب دی او هغه موږ ته منسوب کېدای شي.

د اخلاقي اجبار نشتوالی اخلاقي ازادي نومېږي. د بېلګې په توګه یو قانون چې یو ګرځندوی اړ کوي د هغو مالونو مالیه ورکړي چې یې د باندې رانیولې وو، د هغه دغه قابلیت له منځ څخه نه وړي، چې دغه مالونه پټ کړي او د ګمرک محصول ورنه کړي. خو دی په اخلاقي لحاظ اړ دی چې محصول ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډېرو انتخابونو نه د یوه غوره کول د مشخصتوب ازادي نومېږي. د بېلګې په توګه که موږ غواړو چې یو عمل وکړو، موږ زیات وخت د څو انتخابونو موقعې لرو، لکه یو مامور د خپلې دندې د پای ته رسولو وروسته کور ته راشي هغه د دمې له پاره کولی شي سینما ته لاړ شي، کولی شي ټنګ ټکور واوري، کومه لوبه وکړي او نور. په دې توګه دی کولی شي د دغو انتخابونو نه یو غوره کړي.

## جبر (Determinism):

د جبر له مخې انسان د ټولو ظواهرو سره سره بیا هم په خپلو کړو کې ازاد نه دی. د مخه مو یادونه وکړه چې د مسؤلیت او اخلاقیاتو مخکینی شرط د انتخاب یا روحي ازادي ده، جبر د داسې ازادۍ شته والی نه مني او وایي چې د ډېرو عواملو له امله اړ یو یوازې په مشخص ډول عمل وکړو.

بیالوژیکي جبر وایي: چې وراثت یاني هغه ډول بدن چې موږ یې لرو د خپلو ټولو بیالوژیکي تعملاتو او بیالوژیکي قوانینو سره زموږ ټول عملونه ټاکي. دا چې موږ څنګه چلند کوو، زموږ په بیالوژیکي جوړښت پورې اړه لري. ب. ف. سکینر وایي چې چاپېریال زموږ چلند ټاکي او د یوه ځانګړي سړي کرکټر او چلند د ټولنیز او فزیکي چاپېریال محصول دی. له دې کبله د ده په نظر مسؤلیت او اخلاقیات مانا نه لري. هېڅوک باید د خپلو کړو جزا ونه ویني. د دغه نظر له مخې انسان د چاپېریال له خوا په مهارت سره اداره کېږي او د هغه چلند یا سلوک د چاپېریال د دغو ټولو اغېزو ټولګه ده.

زیګموند فروید وایي چې بې اختیاره شعور یا لاشعور زموږ پر کړو باندې ټاکوونکی رول لري او د انتخاب ازادي هسې یو نوم دی. تحلیلي روحیات زموږ د عملونو په پټو علتونو باندې رڼا اچولی شي. روحي جبر تاییدوي چې طبیعي میل د عملونو تر ټولو پیاوړی محرک دی. انسان یوازې طبیعي میلونه بیا بیا له نظر نه تېروي او تر ټولو پیاوړی محرک د عمل بهیر فیصله کوي. که په نورو ټکو ووایو تر ټولو پیاوړې غوښتنه د انسان عملونه اداره کوي.

مذهبي جبر دا مانا لري چې هسک څښتن د کایناتو بهیر د انسان د کړو په ګډون د مخه ټاکلي دي. دا تیوري د قسمت سره یو ګنل کېږي. په دې تیوري کې دا ښکاره شوې نه ده چې د تقدیر د کارونو مسؤل څوک دی. په دې چې ټولې پېښې د قسمت په زور پېښېږي او انسان نه شي کولی د پېښو بهیر وټاکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د انتخاب شته والي ازادي

هغه کسان چې د انتخاب په ازادي عقیده لري دا نه مني چې زموږ ټول عملونه ازاد دي. شوني ده چې د چاپېریال سیستم، فزیولوژیکي جوړښت، ځینې ارثي ځانګړتیاوې، ځینې روحي میلونه او روحي یا عصبي ناروغۍ دومره پیاوړي شي چې یو شخص اړ شي د خپل عمل ازادي له لاسه ورکړي. له دې سره سره دوی عقیده لري چې انسانان په عمومي ډول په خپلو ډېرو عملونو کې ازاد او مسؤل دی، د هغو په اړه چې یې په ارادي ډول او په پوهې سره ترسره کړي دي. د ازاد انتخاب د شتون له پاره دا دلیلونه وړاندې کوي:

۱- د ازادۍ سملاسي خبرتیا: فلسفي روحیات په دې ټینګار کوي چې ټول انسانان د ازادو پرېکړو نېغ شعور لري. موږ د کړنې نه پخوا له خپلې ازادۍ نه خبرتیا لرو. موږ دا توان لرو چې د کړو تر منځ انتخاب وکړو. کله چې موږ پرېکړه کوو، نو موږ د خپلې ازادې پرېکړې په اړه فکر کوو او باوري کېږو چې زموږ پوهه سمه ده.

۲- د ازادۍ نانېغ شعور- موږ پخوا له عمل نه د فکر کولو په واقعیت پوهېږو. موږ د خپل عمل د کولو د پلوي توب او مخالفت دلیلونه تلو ځکه چې موږ پوهېږو چې په پای کې دا موږ یو چې په یوه او بل ډول پرېکړې ته رسېږو.

۳- د شخصي مسولیت عقیده- ټول رسېدلي کسان د هغو کړو مسؤلیت مني چې په خپله یې په ارادې او فکر سره ترسره کړي وي. څنګه چې موږ د خپلو کړو مسولیت منو په همدغه ډول نور هم د هغو د خپلو کړو مسول ګڼو. په ټولنې کې ژوند د مسولیت په همدغه احساس باندې ولاړ دی او له هغه نه پرته منظمه انساني ټولنه به شونې نه وي.

۴- د ازادۍ د شته والي اتفاق: په دې اړه عمومي اتفاق دی چې انسان ازاد دی. دغه عمومي اتفاق په ټولنه کې له څو واقعیعتونو نه ښکاره کیږي. څنګه چې موږ د خپلو کړو مسولیت په غاړه اخلو په نورو باندې هم موږ په دغه ډول قضاوت کوو. د بېلګې په توګه کله چې په موږ برید کیږي د قوارې په ښودلو، د عمل کولو په شېبوې او په پلان کولو باندې داسې غبرګون ښیو لکه چې ازاد وو.

۵- د عدالت ترسره کول: زموږ ټولنه په دغې عقیدې ولاړه ده، چې انسانان د خپلو کړو مسول دي. ځکه چې دوی د انتخاب کولو ازادي لري. په متمدنو ملتونو کې دا سیستم شته چې د یوه تورن د ازادۍ اندازه وګوري. که دماغي اخلال ولري د یوه غیر قانوني عمل مسول نه ګڼل کیږي. په دې توګه د ازادۍ او مسولیت اندازه یې په اسانۍ مالومیږي. او عدالت تر سره کول د دغه واقعیت له مخې کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶- ټولنیز چاپېریال او کلتوري مخینه زموږ په انتخابونو اغېز لري.

۷- موږ د یوې موخې د پوهې نه پرته، یا بې له دې چې محرک ولرو، یو رښتینی انساني عمل نه ترسره کوو. روحي جبر تاییدوي چې موږ په لازمي ډول تر ټولو لوی محرک تعقیبوو. خو دا پیاوړی محرک کوم دی؟ تر ټولو پیاوړی محرک هغه دی چې بریالی وي. موږ د خپلو محرکانو نه یو غوره کوو چې میدان یوسي. طبیعي میل اراده نه مجبوروي، خو انسان په ازاد ډول پرېکړه کوي چې د دغه یا هغه میل په پیروی کړنه وکړي.

انساني ازادي په کړنه کې تمرین کېږي چې د یوې لوړې موخې له پاره کېږي. د بېلگې په توگه که یو زده کوونکی وغواړي چې د طب ډاکټر شي نو د هغه دا پرېکړه به د دغه مقصد په لور د هغه ډېر فعالیتونه متوجه کړي. دی به اړ وي ټول هغه مضامین غوره کړي چې ورته لازم وي. څه وخت چې د ډاکټرۍ ډیپلوم ترلاسه کړي د ده هغه لومړۍ پرېکړه چې د درملنې ډاکټر شي د ده د ټول ژوند په شېوه اغېز شیندي. اوس دا پوښتنه منځ ته راځي چې ټول ازاد عملونه په برابر ډول ازاد دي او یا د ازادۍ بیلې درجې او اندازې وي او په پایله کې د مسولیت مختلفې درجې به ولري؟ دغې پوښتنې ته ځواب د شخصي اخلاقیاتو او د عدالت ترسره کولو له پاره ډېر اهمیت لري. څنگه چې عقل او اراده دواړه د یوه ازاد عمل په رامنځ ته کولو کې رول لري، خو دغه دواړه وړتیاوې د خپلو دندو په سرته رسولو کې د ځینو عواملو له امله اغېزمنې کېږي، شونې ده چې د یوه شخص د ازادۍ اندازې او مسولیت ته بدلون ورکړي.

## هغه اغېزونه چې عقلي قوه اغېزمنه کوي

زموږ په ورځني ژوند کې ځیرتوب او انحراف په بیلو درجو پېښېدلی شي. موږ دنده لرو چې څه کوو ورته ځیر شو په ټېره چې عمل مهم وي.

د دې له پاره چې زموږ د تمرکز یا ځیرتوب قوت ډېر شي د «دماغ کنټرول» تخنیکونه د ځینو تمرینونو سپارښتنه کوي. سره له دې هم داسې پېښېږي، چې یو څوک په نه ملامت کېدونکې توگه منحرف شي او چې څه کوي په پوره اندازه ورته ځیر نه شي. انحراف د یوې موضوع واضحه پوهه محدودوي، چې شونې ده مسولیت لږ کړي. د بېلگې په ډول یو موټر چلوونکی هرو مرو باید سړک او ترافیک ته پام وکړي او څه وخت چې پوه شي د ستړیا یا نورو خنډونو له امله د فکر تمرکز کولی نه شي، باید موټر ونه چلوي.

ناپوهي: ناپوهي هم د عقل قوه اغېزمنه کوي. هغه ناپوهي چې علاج یې نه کېږي په نه لاندې کېدونکې ناپوهۍ باندې یادېږي. دا هغه وخت پېښېږي چې ان موږ شک نه کوو چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه ازاد عمل د ځينو اړخونو په اړه د ناپوهۍ په حال کې يو. د بېلګې په توګه يو پوسته رسوونکی به خيال ونه کړي په هغې پوستې کې چې دی يې رسوي بم ايښودل شوی دی. په داسې ناپوهۍ به ان د ښه ځيرتوب نه وروسته هم هېڅ لاسبری ترلاسه نه کړو ځکه چې د هغې په ځينو اړخونو موږ هېڅ پوهېدای نه شو. هغه ناپوهي چې په پوره څېړنې او پلټنې به وربانديې غلبه وشي په فتح کوونکې ناپوهۍ باندې ياديږي. د ناپوهۍ د پايلو په اړه په فکر کولو سره موږ دې نتيجې ته رسېږو چې نه لاندې کېدونکې ناپوهي مسوليت له منځه وړلی نه شي خو ملامتيا به لږه کړي. په دې ډول ناپوهي به د يوه عمل پايلو ته راجع شي. په ځينو حالاتو کې به يې مسوليت لږ شي او په ځينو حالاتو کې به پوره له منځ نه لاړ شي. خو موږ دنده لرو چې د يوه ازاد عمل پايلې په نظر کې ولرو او نورو ته د شوني زيان مخنيوی وکړو.

تعصب: هم عقلي قوه اغېزمنه کوي. ځينې کسان د نژادي، ديني او نورو ځانګړتياوو له مخې خپل نظرونه جوړوي. خو څه وخت چې يو څوک پوه شي يا شکمن شي چې د هغه ځينې کړه د تعصب له مخې کيږي، هغه دنده لري چې د خپلې ناپوهۍ چاره وکړي او که نه دی به په اخلاقي لحاظ د هر هغه عمل له کبله چې نورو ته زيان اړوي مسول وي.

وېره: هم عقلي قوه اغېزمنه کوي. وارګا وايي چې وېره دغسې يوه کليمه ده چې بيلې ماناوې لرلی شي. يوه به يې د خطر يا ناوړې پېښې خبرتيا يا انتظار لرل وي. د بېلګې په توګه يو زده کوونکی وېريږي چې که په کورس کې ليکنه وړاندې نه کړي په کورس کې به بريالی نه شي. دغه وېره به دی وهڅوي چې کتابتون ته ورشي او د ليکنې د پاره څېړنه وکړي. هغه په دې توګه په ارادي او شعوري توګه زيار باسي.

## هغه لاملونه چې اراده اغېزمنه کوي

زور: اراده اغېزمنه کولی شي. زور يو فزيکي جبر دی او څه وخت چې د هغه نه د يوه چا د رضا پر خلاف کار اخېستل کيږي ازدي او مسوليت به له منځه لاړ شي. ځکه شونې ده چې فزيکي کړاو دومره سخت شي چې اراده کنټرول له لاسه ورکړي.

عادت هم کېدای شي په ارادې اغېز وکړي. عادت د يوه چلند طرح ده، چې دې ځينو دواګانو په کارولو سره د هماغه يو عمل تکرار غوښتل کيږي. د دې له پاره چې موږ يو نورمال ژوند پرمخ يوسو بايد ځينې عادتونه خپل کړو لکه لوستل، ليکل، قدم وهل، د موسيقي اورېدل او نور. له بلې خوا دا ښه څرګنده ده چې د تمباکو، الکولو، هيروينو او نورو کارول په عادت اوړي او شونې ده چې د فزيولوژيکي ډيپرېشن لامل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اخلاقیات جوړیږي یا موندل (کشف) کیږي؟

د مخه مو یادونه وکړه چې انسان د ښو یا بدو کړو په کولو سره په اخلاقي لحاظ ښه یا بد کیږي. نو اخلاقیات باید د انسان په عمل کې وکتل شي. موږ د دې څېړنې د اسانتیا له پاره د انساني عمل د ځانګړتیاوو جوړښت وسپړلو اوس باید هغه عامل وګورو چې د انسان عمل ښه یا بد ګرځوي. د انسان عمل یوازې فزیکي عمل نه دی لکه یو ډوبېدونکی کس چې له ډوبېدو څخه وژغورل شي. انساني عمل په اول سر کې یو ارادي عمل دی چې یو شي ته ځیر وي. خو اراده تر هغو چې ترسره شوې نه وي، پوره نه وي یا لړه وي، چې د پرېکړې د ترسره کولو له پاره ټینګ کوښښ شوی وي. د بېلګې په ډول اراده هغه وخت ترسره کیږي چې هغه ډوبېدونکی کس وژغورل شي.

کیمیا پوه په لابراتوار کې یو شی د دې له پاره ازمیي چې د هغه شي د ننه د عملونو او غبرګونو ځانګړتیاوې ومومي. دی په خپله قانونونه نه جوړوي بلکې په هغه شي کې د ننه قانونونه مومي.

ایا د انساني عمل په تړاو موږ ورته څه ویلی شو؟ ایا هغه عامل چې یو شی ښه یا بد کوي په خپله په عمل کې دی او که د باندې نه پرې اضافه کیږي؟ هغه معیار یا نورم کوم دی چې موږ ته وښیي چې دغه عمل ښه یا بد دی؟ کله چې موږ پیدا کېږو په خپل انسانتوب کې پوره او بشپړ نه یو. خو موږ کوښښ کوو چې د ټول ژوند په بهیر کې د دغسې کړو په کولو سره چې له دغه پوره توب سره مرسته کوي د خپل ماهیت پوره توب ترسره کړو. ټول اخلاق پوهان تر اوسه په څرګنده یا څنګیز ډول وایي چې ټول انسانان د نېکمرغه کېدلو له پاره زیار باسي. اخلاق پوهان باید د عملونو ماهیت ته ځیر شي چې انسانتوب سموي او په دغه ډول د نېکمرغۍ د کومې بڼې لامل کیږي.

ټول اخلاقي سیستمونه معیارونه یا نورمونه وړاندې کوي چې یو عمل د یوه کس انسانتوب ښه کوي. دغه سیستمونه یو د بل نه په خپلو معیارونو کې توپیر کوي.

### د اخلاقیاتو معیارونه

ورګا وایي چې موږ ټولې هغه اخلاقي تیوري ګانې یا نظرونه چې د تاریخ په بهیر کې منځ ته راغلي، کتلی نه شو. موږ به یوازې د اخلاقو هغه څلور لوی ډولونه وګورو چې د اخلاقیاتو په واقعیتونو یا استدلال ولاړ معیارونو څېړنې پورې تړاو ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړی ډله:

دا ډله باور لري چې د اخلاقي حکمونو بنسټ په جذباتو (Emotions) ولاړ دی. دوی وايي چې اخلاقي حکمونه يا د اخلاقي ارزښت حکمونه بې مانا دي. داسې شېوه نه شته چې مالومه کړای شي چې هغه رښتيني يا ناسم دي. ارزښتي قضاوتونه د جذباتو بيانونه دي. په دې د دوی تيوري ګانې جذباتي تيوري نومېږي.

د دغه تيوري لوی استازی الفرېد ايېر (Alfred Ayer) دی چې په ۱۹۱۰ کال کې زيږېدلی و. ورګا وايي چې نوموړي خپله تيوري د ويانا کړۍ (Vienna Circle) د علم پوهنې د پرنسيپونو پر بنسټ را ايستلې وه. دوی د ۱۹۲۰ لسيزې په لومړيو کلونو کې د منطقي مثبت توب فلسفه په ويانا کې مطالعه کړه او انګلستان ته د ستنېدو وروسته د دوی تيوري د مثبت پالنې (Positivism) پر پرنسيپونو ولاړه ده.

د ايېر په نظر بيانونه يوازې دوه ډوله: تجربي بيانونه او اخلاقي بيانونه دي. تجربي بيانونه په حسي تجربې او د ساينسونو په عصري متودونو سره تاييديږي چې هغه په پای کې د تجربې په پرنسيپ ولاړ وي. د ايېر په نظر اخلاقي بيانونه بې مانا دي، په دې چې هغه په هېڅ دغو طريقو سره نه تاييديږي. هغه نه رښتيا او نه غلط دي. هغه صاف ساده بې مفهومه دي. اخلاقي حکمونه يوازې زما احساسات ښيي چې زما څه ښه يا ښه نه ايسي. دغه بيانونه علمي افادې نه بلکې جذباتي افادې دي. شونې ده چې هغه هيلې او ټينګې غوښتنې وي. کله چې وايم يو شی په اخلاقي لحاظ ښه دی، زه په برابر ډول د هغه له پاره ښه ايسېدنه اعلاموم. کله چې وايم يو شی په اخلاقي لحاظ بد دی، زه يوازې د هغه له پاره ښه نه ايسېدنه څرګندوم. اخلاقي ارزښت د رښتينې نړۍ کومه برخه نه ده او په پای کې هېڅ اخلاقي سيستم رښتينی يا غلط ثابت کېدای نه شي. ځکه د دې تيوري پلويان د نه پېژند پالنې (Non Cognitivists) په نامه هم ياد شوي دي.

چارلز ستېوېنسن (Charles Stevenson) وايي چې د اخلاقي بيانونو مانا ګرد سره غير عقلي ده. موږ د خپلې ښې ايسېدنې يا بد ايسېدنې له پاره دليلونه ورکوو، ځکه چې زموږ ښه ايسېدنه يا بده ايسېدنه په منطقي شېوې سره تړلې ده. اخلاقيات د دغې ښې ايسېدنې يا بدې ايسېدنې د دغې منطقي همغږی تحليل کوي او په دې ډول زموږ د اخلاقي قضاوت له پاره يو څه دليل ورکوي.

وارګا وايي چې د جذباتي تيوري پلويان په نسبي توګه يوه وړه ډله ده، چې هغه هم د انګلو ساکسون فيلسوفان وو. دغه تيوري د ډېرو نيوکو لاندې راغله او په دغو نږدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وختو کې يې په فلسفي کړيو کې خپل نفوذ له لاسه ورکړی دی.

## دوهمه ډله: نېغ درک پالنه

دوهمه ډله په دې عقيده دي چې موږ په خپلو عملونو کې ښه او بد پېژنو خو دليل ورته ويلی نه شو چې کوم يو يې ښه او کوم يو يې بد دی. ډېر خلک په خپل انساني ژوند کې په اخلاقي لحاظ له ښه او بد څخه خبرتيا لري. نېغ درک پالان (Intuitionists) وايي چې ښه او بد په حسي يا نېغ درک سره پېژنو. دوی د اخلاقياتو په اړه کوم افاقي معيار نه وړاندې کوي.

## د طبعيت پالنې ناسم توب

جورج مور (George- e- More) دوديز اخلاقي سيستمونه تر نيوکې لاندې ونيول په دې چې زيار باسي اخلاقي ښه توب تعريف کړي. دی په دې باور دی چې د ښه مفهوم تعريف کېدای نه شي ځکه چې يو مفهوم چې په اجزا سره تحليل شي ټول تعريف ورنه جوړېږي. خو څنګه چې ښه يو ساده مفهوم دی او په برخو وېشل کېدای نه شي چې د هغو د سپړنې په اساس تعريف شي. د مور په نظر ډېر اخلاقي سيستمونه د «ښه» اصطلاح د يوه بل شي په تړاو تعريفوي. خوند پالان يې د خوند په تړاو پېژني، خير يا ګټه رسوونکي يې له ګټورتوب، نور سيستمونه يې د ځان- پوهې، ځان- اکمال يا د هسک ځښتن په تړاو تعريفوي.

## د اخلاقي مفهوم تيوري

انتوني.ا. کوپر په خپلو اثارو کې ښېګڼه يا اخلاقي ښه توب د «طبيعي مهربانۍ، يا د سخاوت عاطفې» او د کرکې او دښمنۍ «غير طبيعي عاطفو» تر منځ د توازن پايله بولي. دی وايي چې د دې له پاره چې موږ مناسب توازن ترسره کړای شو بايد د دغو عواطفو مثبت او منفي توازن وپېژنو. دی د بېلګې په توګه وايي چې «له اول وړوکتوب نه د مهربانۍ او مخالفت چلند توپير په اسانۍ کوو». لومړي ته کش کېږو او دوهم نه بېزاره کېږو. دی دغه قوه چې په هغې سره دغه توپير کوو اخلاقي حس (Moral sense) نوميږي. داسې ښکاري چې دغه اخلاقي شعور د جذب او دفعې حس وي. لکه چې ښکلا ته جذبيږي او بدرنګي دفع کوي. دغه اخلاقي شعور د اخلاقي حساسيت انعکاس دی، چې زموږ د رښتيني يا غلطې ارادي د انتخاب دليل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوزف بټلر ویل چې دا درې پرنسیپونه دي چې انسانان په اخلاقي ژوند کې تحریک کوي: د خیر رسولو پرنسیپ، د ځان مینې پرنسیپ او د ژور سوچ پرنسیپ

فرانس هوچسن تاییدوي چې موږ بې له عقلاني محاسبې نه د ښکلا نېغ درک لرو. دی دا هم وايي چې عملونه هم د اخلاقي ښکلا په شان په نېغ فهم سره درک کوو. اخلاقي شعور یو ډول داخلي شعور دی او هغه عملونه تنظیموي او کنټرولوي.

ادم سمیت د سکاټلنډ په ګلاسکو کې د فلسفې استاد و او په هغه فکري ښوونځي پورې یې اړه درلوده چې اخلاقي ښه والي ته یې ځانګړی مفهوم ورکړ. دی له مناسب یا ښه سلوک په اړه وغږېد، چې له هغه یې موخه اخلاقي ښه توب و. د ښه چلند دغه مفهوم په موږ کې یو ډول منصف یا «بې پرې مشاهد» دی. انصاف یا بې پرې توب هغه وخت ترسره کېدای شي چې که موږ خپل چلند هغسې وګورو لکه چې د بل چا وي، موږ به خپل عمل ښه یا بد وګڼو او دا به له هغو احساساتو له مخې وي، چې زموږ عملونه یې تحریک کړي دي. د دغه مناسب چلند یا انصاف حس وجدان نومول کېدای شي چې هغه د خواخوږۍ طبیعي حس دی. په دې توګه د نېغ درک پالنې د ښوونځي پلویان دې پایلې ته رسي چې موږ د ښه له پاره خواخوږي او د شر له پاره دښمني لرو. دوی په پایله کې وايي چې په انسان کې به اخلاقي شعور یا کومه قوه وي چې دغه غبرګونونه رامنځ ته کوي.

ورګا وايي چې د دې تیوري منتقدان باور لري چې د دغو عواطفو سرچینه بې له دې چې دغسې اخلاقي شعور پخوا له پخوا وګڼل شي، شرح کېدای شي. موږ په وړوکتوب کې د خپلو پلرونو، میندو، ښوونکو او ټولنې له خوا پوهول کېږو چې ځینې کړه ښه دي او ځینې کړه بد دي چې باید ورځخه ډډه وشي. زموږ د ودې په یون کې د خپلو قضاوتونو تکرار کوو. دا طبیعي ده چې موږ به له بې رحمۍ او بې عدالتۍ نه په تېره چې هغه په موږ شوې وي، زړه بدي کېږو او په مهربانۍ او روغ نیتۍ سره مجذوب کېږو.

ورګا وايي چې د یوه عمل د اخلاقي توب په اړه قضاوت په پای کې د احساس پایله نه، بلکې د عقلي دلیل محصول دی. روحیات نه دي توانېدلي چې تش په نامه دغسې اخلاقي شعور یا ځانګړې قوه ومومي چې موږ ته د ښه او بد عمل پوهه تیاره کړي.

**دریمه ډله:**

دریمه ډله هغه تیوري ګاڼې دي چې د باندینیو معیارونو وړاندیز کوي.

اخلاقي مثبت توب (Moral Positivism): دریمه ډله د اخلاقیاتو سرچینه په داسې عواملو کې لټوي چې له عمل نه د باندې وي. دغه باندیني قوتونه د مرکزي مقام یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت، د پیاوړو کسانو نفوذ یا اراده، د ډېره کي یا ټولنیز فشار نظر، د واکمنې طبقې ګټې، یا د هسک څښتن حاکمه او ازاده اراده دي، چې خپل قانونونه په ټولو انسانانو باندې پلي کوي.

دغه تیوري په ټوله نړۍ کې ډېر پلویان موندلي او نن ورځ ډېر کسان شته چې شعوري ژوند یا طبقاتي ژوند د عادت د قوې له مخې یوه ټاکلې ټولنه یا ټولنیزه شېوه د خپل اخلاقي نورم په توګه مني. څنګه چې ټولنیز خویونه بدلون مومي داسې هم د دوی په نظر اخلاقیات هم بدلون کوي. په دې توګه د دوی په اند اخلاق د بدلېدونکي عام ذهنیت یا د شرایطو په بدلون سره ټاکل کېږي.

## د ټولنیز تړون تیوري ګانې

توماس هابز وايي چې انسانان د مدني ټولنې د مخه له یو بل سره د جګړې په حال کې وو. انسان یو تیري کوونکی او د ټولنې پر ضد موجود دی او په خپل لومړي حال کې له ټولو سره د ټولو جنګ و. خو انسانان تر هر څه ډېر له مرګ نه وېرېږي، او درک کوي چې دوی په یوازې توګه خپل ځان ساتلی نه شي، مدني ټولنه جوړوي او بې له شرط څخه د حکومت واکمني ته غاړه ږدي. مرکزي واکمني مقررې او قانونونه جوړوي او په خپلو اتباعو یې مني او د ښه او بد مفهوم د لومړي ځل له پاره دود پیدا کوي.

د همدغو قوانینو له مخې ځینې عملونه مجاز او ځینې منع اعلامېږي. د دغې تیوري له مخې د ښه او بد سرچینه حکومت کېږي، چې له عمل نه د باندې وي. په دې ډول د اخلاقیاتو نورم یو مثبت عامل کېږي، چې رښتین توب او غلط توب له باندې څخه ټاکي. له دې تیوري نه ښکاري چې زور حق دی. حکومتونه قدرت لري، چې حکمونه وکړي او د عملونو رښتین توب او غلط توب وټاکي. په پایله کې اخلاقیات یا کانوېنشنونه قراردادي دي او د عمل په ماهیت سره نه ټاکل کېږي.

ژان ژاک روسو د خپل «ټولنیز تړون» په اثر کې وايي چې انساني ټولنه او هغه قانونونه چې زموږ چلند تنظیموي څنګه منځ ته راغلل. دی د هوبز پرخلاف فکر کوي چې انسانانو د طبعیت په حال کې هغه څه کول چې په طبیعي لحاظ ښه و او د یوه بل پر ضد د جنګ په حال کې نه وو.

د دې سره سره هغه دا ومنله چې انسان په طبیعي لحاظ ځان غوښتونکی دی او دغه ځان غوښتنه په ټولنیز تړون سره په اخلاقي مکلفیت واړول شوه. د ټولنیز تړون عمومي بنسټ د ټولنې د غړو عمومي اراده ده چې هغه قانونونه ومني چې د سوله یز ژوند، نظم او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټولو د ښېګڼې په خاطر پرې پلی کیږي. د طبعیت د حال نه مدني حال ته دغه بدلون د اخلاقیاتو سرچینه ده. په دې توګه سیاسي واکمني د ټولنو په غړو باندې د چلند یا سلوک قانون پلی کوي.

## د پیاوړي انسان اراده:

فریدریک نیچې د ښه او بد مفهوم سرچینه پر کمزورو باندې د پیاوړو برلاسي ته نه منسوبوي. باداران له ښه او بد نه د باندې وو، په مریانو باندې یې خپله اراده تپله، دوی د ځپل شویو د نیوکو موضوع وګرزېدل او د بادارانو عملونه یې بد وګڼل. دغه واقعیت د بادار اخلاقیاتو او مري اخلاقو سرچینه شوه.

یهودیت او عیسویت د مریانو، کمزورو، متواضعو او خورانو خوا ونیوله او د مریي اخلاقیاتو تبلیغ یې وکړ، چې موږ تر هغو لاندې ژوند کوو. د ټولنې دنده دا ده چې بادار- اخلاقیات یو ځل بیا د پیاوړو اخلاق له سره ژوندي کړي او د سوپرمن او د انساني نژاد ارستوکراسی ته وده ورکړي چې د عامه وګړو څخه جګ شي، د بشر له پاره یوه ښه راتلونکې باوري کړي. زبرانسان له ښه او بد څخه پورته او د هغه اراده قانون دی.

## ټولنیز فشار (عام نظر)

د عامه ذهنیت سروې ګانې زموږ د ژوند برخه شوې ده. دغه د عام ذهنیت سروې په سیاسي مبارزو او هم د عصري ژوند په نورو برخو کې یې نور هم اهمیت زیاتیږي. اګستې کومتې وایي چې یو مثبت سیانس د هغو خلکو جوړښت، تنظیم او وده څېړي چې په ټولنیزو ډلو کې ژوند کوي.

ورګا وایي چې ځینې ټولنپوهان چې له خپل مثبت ساینس نه فلسفې ته مخه کوي اخلاقیات د ډېره کې د ژوند د شېوې سره یو ګڼي، اخلاق به په دغه مفهوم سره مثبت ساینس شي، چې عامه ذهنیت او د ډېرکي اتفاق به ثبتوي. په پایله کې به اخلاق نسبي شي او د ټولنیزو ډلو په بدلېدونکي ذهنیت به ډډه ولګوي، د اخلاقي چلند تعبیرونه به د ذکي کسانو د رسنیو له خوا د ټولنې د کنټرولولو پایله شي.

## د هسک څښتن اراده:

ساموېل پوفندروف پروتستاني فیلسوف وایي چې یو عمل هغه وخت ښه وي، چې لوی څښتن یې همدغسې اراده کړې وي او بد هغه څه چې خدای پاک رټلي وي. د دغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیوري له مخې دا د هسک څښتن اراده ده، نه د عمل ماهیت چې د یوه عمل رښتین توب او غلط توب ټاکي. په دې حساب د ښه او بد ټاکونکی عامل یو باندنی او مثبت توکی دی.

په دې توګه پورته یادې شوې تیوریګانې په معمولي ډول د اخلاقي پوزیتویزم په نامه یادیږي، په دې چې هغوی اخلاقیات له مثبتو قوانینو یا د ټولنې له دودونو نه راوباسي.

## څلورمه ډله

په څلورمه ډله کې هغه تیوري ګانې راځي چې ادعا کوي چې د اخلاقیاتو معیار د عمل په ماهیت کې مومي او د داخلي معیارونو وړاندیز کوي.

## د عالمي توب پرنسیپ:

د دغه پرنسیپ پلویان وایي چې کوم شی چې د یوه کس له پاره ښه یا بد وي د نورو له پاره به همدغسې وي، چې په همدغسې شرایطو کې واقع وي. د بېلګې په ډول هغه وخت چې میندې او پلرونه خپلو ماشومانو ته پند کوي چې خپل ورونه یا خوېندې ټېي نه کړي، ځکه چې هغوی هېڅکله نه غواړي تاسې ټېي کړي. «مه يې ټېي کوه هغه دې نه ټېي کوي» دا اصل په دغه طلايي قانون کې افاده کیږي: «دغسې چلند ورسره وکړه چې ته غواړې هغوی يې له تا سره وکړي».

ایمانویل کانت د پوهې تیوري (Epistemological Theory) له مخې زموږ خالص عقل شی په خپل ذات کې پېژندلی نه شي، بلکې یوازې د پېښې یا د شیانو ظواهر پېژندلی شي. دی وایي چې زموږ عملي عقل یو شمېر ګڼنې (Postulates) مني په دې چې موږ بې له دې چې ځینې شیان رښتیني وګڼو، اخلاقي ژوند نه شو کولی.

د کانت په نظر یو له هغو رښتین توبونو نه چې زموږ عملي عقل يې پېژني د اخلاقي مکلفیت شته والی او عالمي خصوصیت دی. د تاریخ په بهیر کې بیلو ټولنو او کسانو د بیلو اخلاقي قوانینو پر بنسټ ژوند کړی دی، خو دوی د دغو قوانینو له سترو ځانګړتیاوو سره موافقه کړې، چې د هغو اطاعت به په عالمي توګه کیږي. په دې توګه کانت وایي چې موږ باید د یوه اخلاقي قضاوت په کولو سره دغه ظاهري حال تل په خپلو کړو باندې پلی کړو چې «که هر چا دغسې وکړه څه به پېښ شي.» یا «ایا زه هیله کولی شم چې په هغه حال کې هر څوک باید په هغه ډول عمل وکړي لکه زه چې غواړم عمل وکړم؟»

ورګا وایي چې نږدې ټول دینونه اخلاقیاتو ته د لارښود په شان د طلايي قانون وړاندیز کوي، یو څوک باید انکار ونه کړي، چې دا دغسې اسان قانون په شان دی، چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرو حالاتو کې مرسته کوي خو د عالمي توب پرنسیپ په خپل ذات کې دغې پوښتنې ته ځواب نه وايي چې ځینې عملونه ولې ښه او نور يې بد دي، په دې چې هغه د منځپانګې سپړنه نه کوي، لږ تر لږه په ځرګند ډول هغه یوازې د عالمي توب فارمول تر کتنې لاندې نیسي. خو فلسفي تیوري باید د شکل نه وړاندې لاړه شي او دغه وړتیا ولري چې د یوه مکلفیت منځپانګه وسپړي او دلیل وړاندې کړي چې د عمل یو ډول ښه یا بد دی او په پایله کې دغسې کړه ولې په عالمي ډول مجاز یا منع وګڼل شي.

## خوندپالنه (Hedonism):

هېډونیزم یا خوندپالنه یا د مزې فلسفه هغه سیستم دی، چې وايي د اخلاقیاتو معیار خوند دی. د لرغوني یونان فیلسوف ارستي پوس (Aristippus) په دې فکر و، چې یوازې خوند ښه دی. ده خوند نېکمرغي وبلله. د ده په اند ښه عمل هغه دی چې په نېغ یا نانېغ ډول د خوند احساس ورکوي او بد عمل هغه دی چې درد او ناوړه احساس زېږوي. د انسان موخه نېکمرغي ده او نېکمرغي د خوند نه راولاړېږي. په همدغه دلیل ده چې د یوه عمل اخلاقي ښه والی د هغه په ځانګړتیا یا خاصیت سره ټاکل کېږي، چې خوند وزېږوي. په دې توګه اخلاقیات د یوه عمل د ننني ځانګړتیا نه جوړ وي.

ورګا وايي چې ارستیپوس او پلویان يې تر عقلاني خوند نه زیات په حسي خوند ټینګار کوي خو عاقل انسان یاني فیلسوف به خوند له اندازې نه ډېر ونه غواړي په دې چې د هغه پایله به خوښي نه بلکې درد شي. انسان ته ښایي ځان یو څه کنټرول کړي که نه هغه به د خوند مریه وګرزي چې هغه به یوه دردناکه تجربه وي. د دې مانا دا ده: چې انسان خپلې غوښتنې محدودې کړي او د دې له پاره چې په لوړه درجه خوښي او نېکمرغي ولري، باید یو مناسب انډول وساتي.

اپیکور (Epicurus) د ارستیپوس او د هغه د پلویانو په شان د ژوند موخه په خوند کې لټوله. خو د دوی پرعکس چې د حاضر وخت په خوند يې ټینګار کاوه، اپیکور پایېدونکي خوندونه غوره ګڼل. اپیکور وايي څنګه چې حسي خوند دوام نه کوي نو له دې کبله د انسان موخه عقلاني خوند دی، چې هغه په عمده ډول د روح له ارامی، له ذهني سولې او په ټولنه کې له همغږې ژوند نه راولاړېږي. ښکنې ته د یوې وسیلې په توګه د عقلاني خوند د تولیدولو له پاره ارزښت ورکول کېږي. ځان کنټرول یوه مناسبه وسیله ده، چې د ملګرتوب او عقلاني ژوند غوندې پایېدونکي خوندونه زېږوي. په دې توګه هغه کړه چې کولی شي زموږ ذهني ارامي یا عقلاني خوند ډېر کړي، په اخلاقي لحاظ ښه کړه دي او هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



عملونه چې درد او اندېښنه منځ ته راوړي په اخلاقي لحاظ بد عملونه دي، چې د کولو نه یې باید ډډه وشي.

ورګا وایي چې د خوند پالنې پلویان خوند د ښه والي سره یو ګڼي بې له دې چې قانع کوونکي دلیلونه وړاندې کړي. دا رښتیا ده چې خوند تر یوې اندازې غوښتل کېږي خو دا سمه نه ده چې زموږ د غوښتنو هر شی به ښه وي. ډېر کړه په عالمي توګه ښه ګڼل کېږي خو سره له دې هم هغه خوند یا لږ تر لږه حسي خوند نه تولیدوي. صداقت او رښتین توب که ان په قربانۍ او سخت کار سره ترسره کېدلی شي، ښه وي. د استیپوس په پرتله د اپیکور فلسفه ډېره کره او رښه ده، په دې چې هغه د انسان روحي او عقلاني ځانګړتیاوې دواړه په نظر کې نیسي. سره له دې دی هم دغه اساسي اصل ثابتولی نه شي چې عقلاني خوند او ښه والی سره بدلېدونکي اصطلاحات دي او د یوه شي مانا لري.

## د ګټورتوب فلسفه (Utilitarianism):

د ګټورتوب فلسفه په دغه نظر ولاړه ده، چې خوند او درد یوازینی هڅونکی یا محرک دی، په دې ډول چې لومړنی یې موږ هڅوي چې عمل وکړو او وروستی مو اړ کوي چې د کړنې ډډه وکړو. د دغې تیورۍ له مخې زموږ د کړو روحیاتي سپړنه دغه واقعیت څرګندوي، چې موږ په ضروري ډول خوند لټوو او کوښښ کوو له درد نه ډډه وکړو. دغې تیورۍ ته روحیاتي هېډونیزم وایي یاني چې هغه د انسان واقعیت شرح کوي، چې دا له اخلاقي هېډونیزم نه بیل دی، چې ذاتي انسان باید خوند ولټوي. د ګټورتوب فلسفې په اتلسمې او نولسمې پېړیو کې په انګلستان کې وده وکړه.

جرمي بنتهام د پیل ټکی د روحي هېډونیزم بیان دی. د ده په نظر ټول انسانان عمل کوي، چې خوند ترلاسه کړي او له درد نه ډډه وکړي. دی وایي چې انسان ځان غوښتونکی دی هغه وخت عمل کوي چې خپله ګټه یې په کې وي. کله به دی نورو ته خدمت وکړي خو په دغه حال کې د ده هڅونکی یا محرک د نورو نه بلکې شخصي ګټه ده. دی د انسان د روحیاتو په بیان کې هم خوند له نېکمرغۍ سره یو ګڼي او دې پایلې ته رسېږي چې د اخلاقپوهنې لومړی پرنسیپ دا دی: چې د انسان رښتین توب او مطلوب مقصد نېکمرغي ده یاني د خوښۍ غوښتل او د درد نه ډډه کول دي. د بنتهام په نظر خوښي د کمیت له مخې اندازه کېږي. څنګه چې انسان د ارواپي اړتیا له مخې خوښي غواړي او له درد نه ډډه کوي د انسان د کړو موخه دا ده: چې په دغه ډول عمل وکړي چې خورا ډېره خوښي ترلاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي. ورګا وايي چې د بنتهام د تيوري مانا دا کيږي چې موږ د خوښۍ يا نېکمرغۍ د ډېرو اندازو تر منځ ازاد يو، چې انتخاب وکړو او په دغه ډول د اخلاقي قانون مانا هغه مکلفيت چې خورا ډېره نېکمرغي وغوښتل شي په پايله کې هېډونيزم له اروايي هېډونيزم څخه راوزي.

د خورا ډېرې نېکمرغۍ پرنسيپ به فرد يا ټولنې ته راجع شي. که موږ د ټولنې فکر وکړو موږ اړ يو د خورا ډېرو خلکو له پاره د خورا ډېرې نېکمرغۍ کوښښ وکړو. د ټولنې موخه د خورا ډېرو خلکو له پاره خورا ډېره نېکمرغي ده او يو ښه حکومت بايد دغه عام ښه والی ډېر کړي.

جان ستوارت مل تر دې اندازې د بنتهام تر نفوذ لاندې شو چې د ګټورتوب فلسفه د هغه دين شو. سره له دې چې ده د بنتهام اساسي نظرونه ومنل خو دغه تيوري يې اصلاح کړه. مل د بنتهام هغه نظر رد کړ چې خوندونه له يوه او بل نه يوازې په کميت سره توپير لري. مل په دې باور و چې خوندونه په کيفي لحاظ هم سره توپير لري او ځينې خوندونه د ښکته درجې او ځينې د لوړې درجې دي. دی وايي چې يو څوک ښه ګڼي «چې نارام انسان وي نظر دې ته چې قانع سرکوزی وي.»۱۰۶۶

مل د خوند له کيفي تصنيف برسېره د نېکمرغۍ په ټولنيزې ځانګړتيا هم ټينګار وکړ. يو څوک بايد د خورا ډېرو خلکو له پاره خورا ډېره نېکمرغي ولټوي. اخلاقي عمل يوازې شخصي نېکمرغي نه بلکې د ټولو له پاره خورا ډېره نېکمرغي ده. د ورګا په اند مل تاييدوي چې نېکمرغي يا خوښي خورا لوړ ښه والی او د اخلاقياتو معيار دی. مل په ضمني توګه د انسان طبعيت د اخلاقياتو د معيار په څېر ګڼي. خو له بده مرغه هغه د انساني طبعيت پوهاوی په څرګند ډول بيان نه کړ. خو دی وايي چې رښتينی انساني طبعيت د هغه له پاره د اخلاقياتو معيار دی. دی وايي چې انسان د خپل ماهيت په تقاضا مکلف دی چې عامه ښه والی پرمخ بوزي. ورګا وايي چې داسې ښکاري چې د ګټورتوب د فلسفې ټول پلويان د خوښۍ له منل شوي نورم نه په ضمني ډول خارج کيږي او انساني طبعيت ته د اخلاقياتو د معيار په شان رسيږي.

## د ځان پېژندنې تيوري ګانې

## د بالقوه استعدادونو بشپړتوب

د ځان پېژندنې په ټولو تيوري ګانو کې ګډه توکی هغه نظر دی چې د فرد له پاره اخلاقي ښه والی تر هغو چې شونې وي د پټې وړتيا وده ده. هغه د يو چا د طبعيت اکمال دی ، دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وده په همغږۍ سره د یو چا د پټ استعداد یا وړتیا غوړېدل دي، په دغه ډول چې د هغه د طبعیت ټول توکي د طبیعي خوی په ګډون په نظر کې ونیول شي.

## اپلاتون

اپلاتون خپله اخلاقپوهنه د خپل علم د تیوري د میتافزیک «له طبعیت نه اخوا» پر بنسټ جوړه کړه. د اپلاتون په نظر دا فکر یا ایډیا ده نه حسي درک، چې د شیانو جوهر په واقعي ډول درک کوي. اپلاتون منطقي ګڼله چې د مطلقې ښکلا او مطلق ښه توب له پاره حقیقت شته دی. په بیلو بیلو شیانو کې ښکلا او ښه توب د مطلق ښه توب او مطلقې ښکلا په «ایډیالي فورم» کې ګډون او انعکاس دی. په دې ډول زموږ د حسي درک جهان د واقعي نړۍ یوازې د ایډیالي فورمونو انعکاس دی. د مځکې د پاسه ټول موجودات په یوه ایډیالي فورم کې ګډون کوي. داسې هم انسان د بشریت په ایډیالي فورم کې برخه لري. زموږ عقلاني قوه موږ له عالمي فورمونو له دغې رښتیني نړۍ سره نښلوي. اپلاتون وايي چې انسان په واقع کې د خپل ذهن له لارې انسان دی. اپلاتون د خوند له اهمیت نه انکار نه کوي، په دې چې انسان د هغه په اند یوازې عقلي موجود نه دی. ښه ژوند د انسان له پاره د هغه د رښتیني طبعیت وده ده، چې هم په ډېرېدونکې توګه د بشریت ایډیالي فورم دی. ښه ژوند باید هرو مرو د ذهن او حواسو د فعالیتونو له همغږي ترکیب نه جوړ وي. د ده په نظر اخلاقي ښه توب دا دی چې له کاملې نړۍ سره د ورته کولو له پاره تر هغو چې کولی شو کوښښ وکړو، خپلو پټو وړتیاوو په ځانګړې توګه د خپلې پوهې ډېرولو ته وده ورکړو. دی د انسان په ټولنیز طبعیت ټینګار کوي او په پایله کې د هغه په اند د اخلاقیاتو معیار د انسان یو ډینامیک او ټولنیز طبعیت دی ځکه چې دی هلته وده کوي او د ټولنې په همکارۍ سره بشپړ کېږي.

دی وايي چې په ټولنې کې په همغږۍ سره ژوند کول به له انسان سره مرسته وکړي چې خپل بشپړوالي ته ورسیږي. د انسان موخه دا ده چې څومره کولی شي له بشپړ ښه توب سره ورته والی وکړي. له ډېر لوړ ښه والي سره ګډون به انسان ته نېکمرغي راولي.

## ارستو

د ارستو اخلاقیات د هغه په میتافزیک ولاړ دي، چې د اپلاتون د ایډیالي فورمونو د جلا نړۍ تیوري ردوي. سره له دې هم ارستو له اپلاتون سره په یوه نظر دی، چې دغسې حقیقت شته چې د موجوداتو د عالمي ایډیاګانو یا جوهرونو سره سمون کوي. هرو مرو به

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ربښتینی شی وي چې سره زر سره زر، اس اس او انسان انسان ګرزوي، خو د شیانو عالمي ایډیا یا جوهر په جلا ډول شتون نه لري، خو حتمي ده چې هغه واقعیت په فردي موجوداتو کې پیدا کړي. ده عالمي جوهر هسې چې په فرد کې واقعي کیږي، د موجوداتو اساسي یا اصلي فورم په نامه یاد کړ. دغه فورم به طبعیت وګڼل شي، ځکه چې هغه «طبعیت» د یوه موجود د مشخصو فعالیتونو سرچینه ده.

اصلي فورمونه جلا یا په خپل ذات کې وجود نه لري خو هغه د هماغه صنف موجوداتو په هر یوه ژوندي فرد کې جوړونکی عامل دی. د بېلګې په توګه هر سړی که احمد یا محمد یا زلمی یا بل دی یو انسان دی. د بشریت جوهر یا طبعیت لري، خو بشریت په دغه ډول بیل وجود نه لري.

د دې له پاره چې په ژوندیو موجوداتو کې د بدلون په واقعیت پوه شو د ارستو د فلسفې اصلي توکی یانې اصلي فورم به د ژوند په بیانولو کې وګورو. په تل بدلېدونکې موجود کې یو نه بدلېدونکی زړی شته، د بېلګې په توګه که د خېړی رسېدلې ونه په نظر کې ونیسو نو په هغې کې هغه څه شته چې هغه په اساسي ډول په پرګي کې و، خو هغه سره له دې هم ترې نه توپیر لري.

په ژوندیو موجوداتو یا هر ژوندي موجود په وده کې اصلي جوهر ماده جوړوي دا ننی پرنسیپ دی، چې د هغه موجود طبعیت د هغه مشخص موجود د ودې لامل کیږي ارستو وایي څنګه چې انسان په طبیعي لحاظ یو عقلي موجود دی د خپل طبیعي واقعیت د کشف کولو او پر هغه د پوهېدلو وړتیا لري. ښه انسان باید د خپل ربښتیني طبعیت له مخې ربښتین توب ولټوي او عمل وکړي. هغه عملونه چې د انسان له طبعیت سره مناسب وي، هغه موخې یا بشپړوالي ته نږدې کوي.

## سان توماس اکویناس

اکویناس په اصل کې د الهیاتو عالم و او اخلاقیاتو ته یې له مذهبي ګوټ نه کتل. اکویناس له ارستو سره موافق و چې انساني عمل د انسان له اخېري موخې سره په ارتباط لرلو سره راوتلی دی، ټول موجودات د خپل طبعیت له مخې د خپلو ظرفیتونو د واقعي کولو په لور میل لري او په پایله کې کوښښ کوي خپل طبعیت ته پوره وده ورکړي، د دې له پاره چې خپلې موخې ته ورسیږي.

انسان د یوه ازاد عقلاني موجود په څېر هڅه کوي چې نه یوازې د خپل طبعیت په زور بلکې د خپل عقل او ارادې په وسیلې سره خپلې اخېري موخې ته ورسیږي. عقل او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ازادي هغه بنسټ دی چې د انسان اخلاقيات او کړنه پرې ډېره کوي.

د ځان پېژندنې په دغو تیوري ګانو کې ګډ ټکی دادی چې انسان یو ځانګړی طبعیت لري او اخلاقيات د دوی د کړو نه جوړ دي چې د انسان سره د هغه د طبعیت د بشپړولو په واقعي کولو کې مرسته کوي.

## د حالت اخلاقپوهنه (Situation ethics):

د حالت اخلاقپوهنه د وجودي یا د شته والي فلسفې (Existentialist Philosophy) په یوه ډول بنا ده. د شته والي د فلسفې نومیالی نماینده جان پال سارتر دی. ورګا وايي چې د شته والي د فلسفې هغه ډول چې سارتر وړاندې کړی دی په الحاد بنا دی. سارتر وايي چې انسان موجودیت ته اړ شوی دی.

د طبعیت قوتونو موږ له رضایت نه پرته راوستلو. زموږ شته توب اول راځي، شته توب په ازادۍ کې. انسان کوم څه چې له ځان څخه جوړوي په خپله په هغه پورې اړه لري نه په یوه ټاکلي طبعیت کې. انسان په ازادي کې د ځان له پاره ارزښتونه ټاکي او څنګه چې دی په ژوندانه کې وړاندې ځي، دی دغه ارزښتونه د شرایطو یا د انسان د ژوند د حال له مخې بدلوي. نو په اخلاقي لحاظ ښه عمل هغه دی چې په ازادۍ کې د واقعي حال په نظر کې نیولو سره ترسره شي. د سارتر په اند د انسان عالمي حال دا دی: چې هغه د مجبوریت له مخې په دغې نړۍ کې اوسي. هغه د دې له پاره چې ژوند وکړي باید کار وکړي، اړینه ده چې دی د نورو په منځ کې ژوند وکړي او بیا مري.

جوزف فلېچر د سارتر اخلاقيات د حالت اخلاقيات نه، بلکې د «قانون ضد» یا بې قانونه اخلاقيات وبلل. هغه خپل سیستم وړاندې کړ چې په فکر یې د حالت اخلاقياتو یو رښتینی بیان دی. فلېچر وايي: داسې ښکاري چې له طبیعي قانون او له الهام نه اخوا مینه د اخلاقياتو د معیار ورستی ټاکونکی دی. په پایله کې مهمه دا ده چې جوته شي چې مینه څه شی دی؟ فلېچر هاند کوي چې د مینې د درې ډولونو په توپیرولو سره دا کار وکړي.

د فلېچر درې ډوله مینې: «مینه ورکول» (Agapee)، «ملګرتوب مینه» (Philia) او «عشقي مینه» (Eros) دي. په اخلاقي لحاظ د ښه عمل ایډیالي معیار مینه ورکول یا اګاپې دی. خو د مینې هغه دوه نور ډولونه هم زموږ په انساني چارو کې ښه ځای لري.

ورګا وايي چې د فلېچر تیوري د اخلاقياتو معیار کې د مینې په اهمیت ټینګار کړی دی. دا زړه راښکونکې ده چې وویل شي چې د اخلاقياتو معیار مینه ده او دا چې دا زموږ سوچه اخلاقي مکلفیت دی چې مینه ناک چلند وکړو. خو په فلېچر نیوکه کوونکي وايي چې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېڅ کوښښ نه دی کړی چې وښیي چې مینه څه شی دی. د دوی په فکر فلېچر دغو: ایا د مینې ونډه په کوم ډول د انسان د طبعیت سره تاکل کیږي؟ موږ څنګه پوهېدلی شو چې یو عمل په «مینې» سره ترسره شوی یا نه دی شوی؟، پوښتنو ته ځوابونه ویلي نه دي.

## د اخلاقیاتو د نورم د کتنې لندېز

د مخه مو ولیدل چې اخلاقي سیستمونه له یوه او بل نه د اخلاقیاتو د معیار له مخې چې دوی یې په ښکاره یا څنګځنیز (ضمني) ډول سپارښتنه کوي توپیر لري. خو که په ځیر سره وسپړل شي نو د دغو توپیرونو سره سره په دوی ټولو کې یو ګډ توکي ته ګوته نیولی شو. دوی ټول د انسان د ښېګڼې د پرمخ بیولو سره علاقه من دي او غواړي چې د انسان ژوند نور هم انساني لا ډېر د قناعت وړ او نور هم بشپړ شي. ورګا وایي چې داسې ښکاري چې ټول اخلاقپوهان په دې اړه چې انسان څه دی، یو څه ایډیا لري، او غواړي چې موږ د انسان د دغې ایډیا له مخې ژوند وکړو. د دوی د انسان فلسفه څرګنده نه ده خو دا هغه اساسي بنسټ دی، چې له مخې یې دوی اخلاقي تیوري ګانې وړاندې کوي، بیا نو د اخلاقیاتو مانا داسې ښکاري چې «انسان باید د خپل طبعیت په دلیل هغسې وي کوم چې دی.»۱۰۶۷ ان هغه تیوري ګانې هم چې اخلاقیات په باندینیو عواملو بنا کوي کله چې اخلاقي پوزیویټیزم خوا نیسې اړ کیږي چې د انسان په یوې ایډیا ډډه ولګوي. دوی اړ دي چې د انسان طبعیت په اخلاقي لحاظ د ښه یا بد عمل د اساس په شان تر کتنې لاندې ونیسي.

یو عادي وګړی بد عملونه د انسان د طبعیت پر ضد ګڼي او د انسان په انسان کېدلو غریږي. یو څوک باید په انساني عزت سره ژوند وکړي. هر هغه قانون یا عمل چې زموږ عزت یا زموږ انسانیت زیانمن کوي بد یا غیر انساني ګڼل کیږي.

داسې ښکاري چې زیاتره اخلاقي سیستمونه لږ تر لږه په ضمني ډول د انسان طبعیت د اخلاقیاتو معیار ګڼي او دا منطقي ده وویل شي چې د اخلاقیاتو اخلاقي معیار د انسان طبعیت دی. ورګا وایي چې مهمه دا ده چې د انسان د طبعیت په اړه پوهاوی سم وي او د انسان د طبعیت یو یا بل اړخ نه بلکې ټول اړخونه په ګډه د معیار په شان وګڼل شي. د انسان طبعیت له ټولو ترکیبي توکو سره لکه عقلانیت، ازادي، ټولنیز کرکټر، یو پر بل د ډډه کولو اړیکې او نور باید پوره وپېژندل شي. انسان یو نوښتګر، ځان بدلوونکی او د ځان څخه لوړ کېدونکی موجود دی. دی خپل طبعیت ته د خپل عقلانیت او د خپلو علمي نوښتونو او جوړونو له لارې رسیږي. انسان داسې هم د خپلې موخې په اړه ډینامیک دی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل زیار باسي چې د ځان نه پورته شي. دی په دې هېڅ قانع نه دی چې داسې نور څه نه شته چې دی وررسېدلی نه شي. د هغه هیلې پای نه لري.

## انساني طبعیت او تاریخ

ساینس د تېرو او کانونو عمر ټاکي او وايي چې هغه د میلیاردونو کلونو په بهیر کې په خپل اساس کې بې له بدلون نه په خپل حال پاتې شوي دي. خو ژوندي عضویتونه د تکامل د تیوري له مخې بدلون او وده کوي. انسان د ودې د اوږده یون پایله ده. ایا د تکامل دغه لیکه پرې شوې او عصري انسان د لومړني انسان نه توپیر کوي؟ ایا د انسان د طبعیت وده لا هماغسې روانه ده؟ دغه پوښتنه د اخلاقیاتو له پاره مهمه ده.

د انسان طبعیت د انساني چلند د رښتین توب یا ناسم والي معیار دی. لومړنی انسان او اوسنی انسان دواړه انساني موجودات دي او دوی له دې اړخ نه سره یو دي، سره له دې د دوی ترمنځ ډېر توپیر شته.

د انسان طبعیت ډینامیک دی. د اګنېس لېپ (Agnace Lepp) په اند دا د انسان طبعیت دی چې «له خپل طبعیت نه پرله پسې ډول پورته لاړ شي یا کوښښ کوي، چې پورته شي نه دا چې له طبعیت څخه ځان پوره بیل کړي.»۱۰۶۸ دی زیاتوي چې تر هغه ځایه چې موږ پوهېږو له هغه وخت نه چې انسان هوموساپین (Homo Sapien) یاني متفکر حیوان شوی له بیالوجي نظر څخه یې بدلون نه دی کړی. هغه وزرونه نه دي پیداکړي چې والوزي خو د هغه ذکاوت الوتکې، هوایي کښتۍ ګانې جوړې کړې چې له مرغیو نه چټکې الوزي. د هغه اورېدل او لیدل نور ګړندي شوي نه دي، خو ذکاوت یې تلیفون، تلویزیون او راډیو جوړه کړې چې د غوږونو او سترګو ساحه یې پراخه کړې ده. د هغه عضله نوره هم پیاوړې او کلکه شوې نه ده خو ماشینونو د هغه قوت یو میلیون کرته ډېر کړی دی. انسان د شپې تیاره رڼا کوي او نور نو د شپې او ورځې په بدلېدو محدود نه دی. دی خپل هستوګنځی تودوي او سړوي په دې چې د موسمونو د بدلېدو له اغېز نه خوندي وي. د هغه عقل او ازاده اراده د دغو ټولو بدلونونو علت دی. خو د انسان دغه دوه جوړونکي توکي په اصل کې د پخوا په شان دي له هغو نه پرته انسان نه شته دی.

موږ باید پوه شو چې له بیالوژیکي او فزیکي بدلونونو څخه اخوا نور بدلونونه هم شته دي. خپلمنځي بدلونونه انسان اغېزمن کوي او کله کله د هغه پر طبعیت باندې یو څه ورزیاتوي. د بېلګې په ډول د یوه انسان د ځانګړتیاوو ټولیزه د هغه په واده کولو سره بدلون موندلی شي، سره له دې چې په دغو حالتو کې کوم فزیکي بدلون [نه] شته. د انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړی او فردي جوهر په دغې اړیکې سره بدل شوی دی او دغه بدل شوی طبعیت د واده کړې جوړې د ډېرو کړو د رښتین توب او ناسم توب ټاکي لکه د واده توب په اړیکو کې وفا یا بې وفایي. په دې توګه انسان له هغې ورځې څخه چې په دغې کړې کې هسک شوی دی، ډېر بدلون کوي او دغو ټولو بدلونونو د هغه ځانګړي طبعیت ته یو څه بدلون ورکوي.

هغسې چې د واقعیت په اړه د انسان پوهه له یوه نسل نه بل نسل ته زیاتیږي، داسې هم د انسان د لړ ځرګندو او ډېرو پېچلو توکو په اړه یو دغه ډول پوهاوی ډېرېږي. د انسان په طبعیت کې پوهاوی یوه روان یون دی او د انسان ټول ساینسونه په دې اړه چې انسان څه شی دی، زموږ له پوهاوي سره مرسته کوي. د انسان د طبعیت لا ښه پوهه به موږ قادر کړي، چې د اخلاقیتوب په پېچلو مسلو قضاوت وکړو.

## له نورم سره د انساني عمل پرتله کول

د اخلاقي معیار له څېړلو وروسته باید د عملي مبتود د ودې مسله تر کتنې لاندې ونیسو، د دې له پاره چې اخلاقي توب یې کشف شي او په هغو سره موږ وکولی شو، انساني عمل له نورم سره پرتله کړو. په یوې ځانګړې موضوع باندې د نورم تطبیق ښه سوچ او کره قضاوت غواړي.

د دې له پاره چې دا څېړنه اسانه شي ښه به دا وي چې یو عمل د اخلاقي توب له نورم سره په خپلو ترکیبي توکو ټوټه شي. معمول دا دی چې یو انساني عمل په دغو توکو: د عمل موضوع، د عمل موخه او د عمل شرایط وویشل شي. هغه چا چې د یوه عمل اراده یې کړې وي، د پایلو اراده یې هم کړې وي. موږ به دلته په هغو پایلو وغږېږو چې ځینې یې ښې او ځینې یې بدې دي. یوه کړنه چې د موخې یا نیت له اړخ نه ښه وي که محرک یا شرایط یې بد وي بد کیږي. د بېلګې په ډول یو چا ته چې له مالي نظر نه په سخت حال کې وي ډېرې پیسې ورکول په دغه نیت چې وهڅول شي یوه ښه او عادل قانون ته رایه ورکړي د خیر له دغه عمل نه رشوت جوړیږي.

یوه شریره انګېزه د یوه عمل ښه والی د منځه وړي. د بېلګې په ډول ځینې سخت دریځي د وطن د ازادۍ په پار د ښځو او ماشومانو په ګډون عام خلک په نښه کوي. ښه نیت په بدۍ سره چې یو څوک یې عملي کوي له منځه ځي.

خو کله داسې پېښیږي چې د ډېر ښه والي له پاره بده وسیله غوره شي. د بېلګې په ډول یو لېونی غواړي یو تن ووژني. دغه تن د لېوني نه پټ شوی او لېونی ورپسې ګرځي. تا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه تن مالوم دی چې چېرته پټ شوی دی. که لېونی له تا نه پوښتنه وکړي چې هغه کس چېرته دی؟ په دغه خاص حال کې رښتيا نه ويل به د اخلاقي توب د نورم په شان د انسان د طبعيت پرخلاف تمام نه شي. د هغه لېوني بې لارې کول چې غواړي د يوه چا ژوند له منځ نه يوسي د بدی عمل نه دی او نه بايد د رښتين توب پرخلاف وګڼل شي. يو څوک د ورته قضيو په حل کولو کې د دندو د ټکر پرنسيپ ته مخ اړولی شي. هغه وخت چې د ده دنده لکه رښتيا ويل او د يوه بې ګناه سړي د ژوند ساتل په ټکر کې وي، ډېره پياوړې دنده غلبه کوي. د بېلګې په ډول داسې وګڼی چې يو مجرم د نيويارک ښار د مينهاټم په برخه کې يو بم ږدي او په ښاروال باندې غږ کوي، که د هغه دغه غوښتنه ونه منله شي، په پنځو ګړيو کې به بم وچول شي. داسې وګڼئ چې دا مجرم لاس ته ورغی او هغه د بم د ځای ښودلو نه ډډه کوي. اوس دا پوښتنه ولاړيږي چې ايا پوليس اجازه لري هغه وکړوي چې حقيقت ترېنه ترلاسه کړي؟ دلته دوې دندې سره ټکر کوي. يوه دا چې هېڅوک بايد په انساني ضد ډول ونه کړول شي، بله دا چې د ښار د څو ميلينو انسانانو ژوند وژغورل شي. هغه وخت چې دوې متناقضې دندې ترسره کېدلی نه شي، يو څوک بايد هغه ډېره مهمه غوره کړي. سره له دې هم موږ بايد ځير اوسو او زيار وباسو تر هغه ځايه چې شونې وي د رښتيني ژوند ستونزه د دواړو مکلفيتونو په ترسره کولو سره هواره کړو.

## د دوه ګون اغېز پرنسيپ:

د پخوا نه د يوه عمل د فکر شوې پايلې په قضيه کې د دوه ګون اغېز پرنسيپ زموږ سره مرسته کوي چې پرېکړه وکړو چې موږ ته اجازه راکوي دغه عمل وکړو يا ونه کړو. د دوه ګون اغېز پرنسيپ مانا دا ده چې يو عمل دوه د مخه ليدونکې پايلې لري، چې يوه يې ښه او بله يې بده ده. د بېلګې په توګه له يوه چا نه به وغوښتل شي يا به هغه اړ کړل شي، چې يوه کړنه ترسره کړي چې په خپل ذات کې ناسمه نه ده خو د نورو له خوا د خپل بد مقصد له پاره کار ترې اخېستل کيږي. د بېلګې په ډول بدماشان به د يوه بانک چارواکي ته امر وکړي چې د پيسو صندوق خلاص کړي. د پيسو د صندوق خلاصول په اصل کې بد کار نه دی، خو هغه دوه پايلې لري، چې يوه يې ښه او بله يې بده ده. که دغه چارواکی همکاري کوي د دغې همکارۍ يوه پايله به د هغه د ژوند ژغورل وي، چې دا ښه کار دی. بله پايله يې بده ده، چې هغه د بانک نه د پيسو اخېستل دي. د دې کړنې ښه پايله د هغه د ژوند ژغورنه د پيسو د غلا د ناوړې پايلې نه ښېګې ډېره ده او په دغه ډول ده بې له دې چې په اخلاقي لحاظ يې بد کړي وي، صندوق يې ورته خلاص کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اخلاقي قانون

د یوې کړنې د اخلاقي ځانګړتیا ټاکل موږ نه مکلف کوي چې یو عمل وکړو یا ونه کړو. موږ به ومنو چې اړ یو په اخلاقي لحاظ ښه کړه ترسره کړو که غواړو ښه کسان واوسو. ورګا وایي چې داسې ښکاري چې بشریت قانع دی چې ځینې کړه په مطلق ډول منع دي، په داسې حال کې چې نور په مشروط ډول مجاز ګرځول شوي دي. داسې ښکاري چې خلک د اساسي قانون په اړه یو څه ویښتیا لري، چې اړ کوي یې ښه کارونه وکړي او د بدو کارو نه ډډه وکړي. هغه اساسي قانون چې د هر ایستل شوي قانون نه د مخه راځي له لرغوني مهال نه را وروسته د طبیعي قانون (Netural Law) په نامه یاد شوی دی.

د طبیعي قانون مفهوم که څه هم د بیلو فیلسوفانو له خوا ډول ډول بیان شوی دی خو په دغو ټولو تعریفونو کې یو ګډ ټکی موندل کیږي او هغه دا چې انسان اړ دی د خپل ریښتیني طبعیت له مخې ژوند وکړي.

## د قانون مفهوم:

قانون په عمومي ډول د هغې اړتیا په مانا دی چې په یو کس باندې د دې له پاره تحمیل شوی وي چې په یوه ډول عمل وکړي.

فزیکي قانون: دا مانا لري چې یو عمل د فزیکي اړتیا له مخې وشي لکه د جاذبې قانون، د انرژۍ قانون او په عمومي ډول د طبعیت قانونه. انسان د فزیکي جسمونو په شان د طبعیت د قانونو تابع دی او ترې نه سر غړولی نه شي.

اخلاقي قانون: په ازادو انسانانو باندې اخلاقي اړتیا ټپي او مکلف کوي یې چې په یوه ځانګړي ډول عمل وکړي. اخلاقي قانون څه ډول ځواک دی؟ د دغه حکم تر شا څه قدرت دی چې ته باید ځینې کړنې وکړې او ځینې باید ونه کړې؟ دغې پوښتنې دوه ډوله ځواب ورکول کېدلی شي.

## د مثبتپال ځواب:

اخلاقي مثبتپالان تاییدوي چې د اخلاقي قانون ځواک د حکومت یا ټولنې له قوت څخه راوزي، چې قانون نافذ کوي. د اخلاقي ځواک په اساس کې د قانون جوړونکي اراده ده، چې د هغه له ځواک سره یوځای کیږي. د دې له پاره چې قانون په هغو کسانو تحمیل کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د جزا يا له ټولنې څخه د ګوښه کېدو له ډار نه ورسره موافقت کوي.

ورګا وايي چې د دغې تيوري منل يا ردول د يوه چا په نظر پورې اړه لري. خو يو څوک شايد ووايي چې د جزا ډار به کافي محرک يا ځواک وي چې خلک له قانون سره سمون ته وهڅوي. که چېرې د عزتناک ژوند له ډار نه لوړ کوم محرک نه وي، بيا به پوليس اړ وي چې د هر چا ساتنه وکړي. څنګه کېدلی شي دېرش زره پوليس د نيويارک د ښار اته ميليونه وګړي وساتي؟ څوک به قانون ساتونکي وساتي؟

دی زياتوي چې داسې ښکاري چې خلک په عمومي ډول د هغو موخو په اهميت پوهېږي چې بايد د قوانينو له لارې ترسره شي او د جزا له وېرې نه بلکې دغه پوهه ده چې خلک هڅوي چې قانونونه رعايت کړي، دا موږ دوهمې تيورۍ ته بيايي چې د هغې اخلاقي قانون يې پر موږ تحميلوي چې هغه د اړتيا د ماهيت په اړه دی.

## د وروستۍ موخې ځواب:

د اخېري موخې پلويان تاييدوي چې ځينې وجودي موخې شته چې زموږ خپل انتخاب نه دی، بلکې هغه خپل طبعيت راباندې تپلی دی. د بېلګې په ډول داسې وګڼئ چې يو څوک په ځنګله کې دی او غواړي پخوا له دې چې د شپې تروږمۍ خپور شي بايد يوې کوډلې ته ځان ورسوي، چې له سړو او د داړونکو ژويو له خطر نه خوندي اوسي. داسې وګڼئ چې د لږ مزل وروسته دغه څوک يو څلور لاري ته رسي. هلته يوه لاره کوډلې ته او درې نورې لارې نامالوم لوري ته ځي. هغه اړ دی چې د خپل هدف ته د رسېدو په موخه د کوډلې لار ونيسي. په دې چې دا په ده باندې اخلاقي ضرورت دی چې دغه کار وکړي. ورګا وايي چې د انسان ډيناميکي طبعيت چې خپل بشپړتوب غواړي د بايدتوب (Oughtness) سرچينه ده. د انسان طبعيت د بشپړېدلو په لور يو تمايل (Tendency) دی. د انسان طبعيت د خپل بشپړتوب په يون کې د خپلو پټو وړتياوو په پلي کولو کې دی. هغه عمل چې دا پروسه پرمخ بيايي هغه د ايډيال انسانتوب په لور د انسان د ځان د ودې يوه ډيناميکه کړۍ ده.

## په تاريخ کې د طبيعي قانون ايډيا:

موږ د اخېري موخې بيان وکړ چې په اساس کې يې د طبيعي قانون جوهر دی. په لرغونو کلتورونو کې دا نظر عام و، چې د ټولو قوانينو سرچينه هسک څښتن يا خدايګوټي دي. انسان د طبعيت تر قوانينو لاندې ژوند کاوه او ټولو قوانينو سپېڅلې خاصيت لاره. هر انساني قانون داسې ګڼل کېده چې له هسک څښتن نه سرچينه اخلي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



په انسان باندې د هسک څښتن په ارادې سره نافذ شوی دی. د طبیعي قانون ایډیا د انسان په لاس له ایستل شوي قانون څخه جلا په لرغوني یونان کې وټوکېدله. هیراکلیتوس (Heraclitus) په دې فکر و، چې د پرله پسې بدلېدونکې پېښې نه اخوا یو اسماني لاگوس (Lagos) شته چې هر څه په همږغۍ سره ساتي. د اپلاتون او ارستو میتافزیکي تیوري گانې اخلاقي مکلفیت د انسان له طبیعت څخه راباسي په دې چې د انسان د جوهر یا طبیعت بشپړتوب په عین حال کې د هغه موخه ده، چې دی اړ دی چې ترسره یې کړي. زینو د لومړي ځل له پاره د طبیعي قانون اصطلاح وایستله. دغه فلسفه څو پېړۍ دود وه. په سیسرو او نورو نومیالیو رومي قانونپوهانو، لیکوالو او سیاست چلوونکو یې ډېر اغېز کړی و. دغې فلسفې د یوناني فلسفو ډېر ښه توکي خپل کړي و، د هغې د ښېگڼې یا نېکۍ تیوري د طبیعي قانون د ایډیا پلي کېدل دي. ښېگڼه د انسان له عقلي طبیعت سره په موافقت کې یو ټینګ او نه لړزېدونکی چلند دی.

سان اگوستین د طبیعت په قانون ټینګ ولاړ و. د هغه په اند د طبیعت قانون ابدي قانون دی، هسک څښتن نړۍ په دغه قانون سره اداره کوي. دغه طبیعي قانون د هسک څښتن په ابدي قانون کې د عقلي موجود یاني د انسان گډون دی. دیني پوهانو (Theologians) د طبیعي قانون او هم د ابدي قانون نه دفاع وکړه.

د گټورتوب او مثبتپالنې فلسفو دغه طبیعي قانون د اخلاقي مکلفیت د سرچینې په توگه رد کړو. دوی د هغه پرځای د اخلاقي مکلفیت سرچینې گټورتوب، مثبت توب قانون، د ټولنې فشار او عام ذهنیت وگاڼه. د دوهمې نړیوالې جگړې وروسته لسیزو د طبیعي قانون د بیا ژوندي کېدلو دوکترین یو ځل بیا تجربه کړ که څه هم هغه د طبیعي قانون په شان یاد شوی نه دی. په ۱۹۴۸ کال کې د بشر د حقونو منشور چې ملگرو ملتونو وایست د انسانانو د حقونو یو لست ورکوي چې د انسان په طبیعت بنا دی او د هر مثبت قانون په وړاندې نه انکار کېدونکی اعتبار لري. رابرټ جېکسن وایي «د بشریت ځینې اساسي قوانین شته دي، چې تر هر مثبت قانون څخه د اعتبار وړ دي.»۱۰۶۹

ورگا وایي چې په دغو وختونو کې که څه هم د طبیعي قانون اصطلاح ډېره نه یادیږي خو ټولې نښې ښیي چې دغه فکر ژوندی دی او د طبیعي قانون اعتبار په ټولې نړۍ کې وار په وار په ډېرېدونکې توگه پېژندل کیږي.

## د انسان په طبیعت کې د اخلاقي قانون موندل

ورگا وایي چې طبیعي قانون په اساس کې د انسان له ډینامیکي طبیعت سره د هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړو د سرچینې په شان سمون لري، د انسان د طبعیت سپړنه باید دلته ومونډله شي. طبیعي قانون یوه اخلاقي اړتیا ده چې په یوه چا باندې د هغه د خپل طبعیت له خوا تحمیلیږي، چې باید ربښتیني ښه وکړي او د واقعي بدو نه ډډه وکړي. څنګه چې موږ د انسان د طبعیت پلټنه کوو، چې هغه له نورو طبعیتونو نه توپیر کوي. موږ باید اخلاقي اړتیا په هغو شونتیاوو کې وکورو چې انسان په ځانګړي ډول له غیر عضوي او حیواني طبعیتونو نه بیلوي. د انسان دغه ځانګړې شونتیاوې عقلي قوه (Intellect) او اراده دي.

موږ وینو چې عقلي قوه د عمل د ربښتین توب سره سر او کار لري. هغه وخت چې یو واقعیت په ښکاره سره راته وړاندې شي زما عقلي قوه هرو مرو پرې رضایت ښکاره کوي. زموږ د ارادې په عمل کې هم همدغسې اړتیا لیدل کیږي. موږ د یوې کړنې له پاره هغه مهال اراده کولی شو چې په هغه کې یو څه ښه توب وي.

ورګا وایي «څنګه چې اراده او عقلي قوه په موږ کې دوه جلا موجودیتونه دي دا د یوه شخص ظرفیتونه دي چې په هغو سره دی ربښتین توب او ښه توب لټوي. نو موږ ویلی شو، چې په موږ کې داسې یو اساسي قانون شته چې موږ اړ کوي، چې ربښتین توب وکړو او له واقعي بدي نه ډډه وکړو. خو دغه مکلفیت د فزیکي ضرورت په مانا نه کیږي ځکه چې موږ په نورمال حالاتو کې ازاد یو [چې] د بېلو ښه توبونو تر منځ انتخاب وکړو. سره له دې هم دغه ضرورت یو واقعي اخلاقي ضرورت دی، چې زموږ په طبعیت کې شته دی، ځکه چې موږ پوهېږو چې موږ مجبور یو د خپلو اساسي قابلیتونو او د عملونو او میلونو له مخې ربښتینی ښه توب غوره کړو او له واقعي بدي څخه مخ واړوو.» ۱۰۷۰

## مثبت قانون:

ربښتین توب چې په څرګند ډول وړاندې شي زموږ عقلي ځواک د هغه درک کوي. خو زموږ د طبعیت ډېر پیچلي واقعیتونه، موخې او اړیکې په اسانی نه درک کیږي او په دغه شان هغه مکلفیتونه چې د هغو نه راولاړیږي هر چا ته د منلو وړ نه وي. په پایله کې طبیعي قانون چې په اساس کې د انسان د طبعیت سره سمون لري، د ژوند په پیچلو او جزایي مسلو کې موږ ته لارښوونه نه شي کولی. سره له دې چې طبیعي قانون د مکلفیت سرچینه پاتې کیږي هغه باید د انسان په تل اوړېدونکو شرایطو کې د مثبت قانون په میکانیزم سره پلی شي.

هره ټولنه مثبت قانونونه او مقررې وباسي چې هغه په یوه مفهوم د طبیعي قانون پلي کول دي. بیا موږ ویلی شو چې طبیعي قانون موږ مکلف کوي د مشروع حاکمیت د عادلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوانينو اطاعت وکړو. د بېلګې په ډول د ترافيکي ګډوډۍ د مخنيوي له پاره مثبت قانون ايستونکې اداره بايد قانون راوباسي. د طبيعي قانون شته والی مثبت قانون نه بې لزومه کوي. هغه يې بنياد په واقعيت ږدي او د عدالت په پولو کې يې د ننه ساتي. هر هغه مثبت قانون چې طبيعي قانون نقض کوي، خپل اعتبار او مشروعيت له لاسه ورکوي، په دې چې د هغه د مکلفيت قوه له طبيعي قانون نه راوزي.

## د طبيعي قانون بدلون موندل يا بدلون نه موندل:

ورګا وايي چې که طبيعي قانون د بدلون وړ وي، اخلاقيات نسبي کيږي. که طبيعي قانون د بدلون وړ نه وي هغه په تل بدلېدونکې نړۍ کې د يوه باور وړ لارښود پرنسيپ په ډول له حد نه ډېر شخ کيږي.

د مخه مو يادونه وکړه چې د انسان طبيعت ډيناميک دی او د انسان د طبعيت د ايډيال د واقعي کولو په لور تل د پرمختګ په حال کې دی. دغه واقعيت په تاريخ کې د اخلاقي وجدان د ودې او د طبيعي قانون د ظاهري بدلون له امله دي. په عين حال کې د انسان په طبعيت کې دغسې تلپاتې توکي هم شته چې اخلاقي قانون ته تلتوب ورکوي او د نسبيت خطر له منځه وړي. يو ماشوم چې وده کوي له خپل پلار او مور سره يې اړيکې بدلون کوي. د عمر په يوه وخت کې د مور او پلار د واکمنۍ نه ځان ازادوي. د هغه په وړاندې د مور او پلار دندې هم بدلون مومي. دوی به اړ نه وي، چې له هغه وروسته د هغه ژوند خوندي کړي. انسان د تاريخ په بهير کې له ماشومتوب نه د بالغ توب پورې بدلون کړی دی.

د هغه پوهه خورا ډېره شوې ده. هغه خپل چاپېريال اړولی دی او په دې يون کې يې په خپله بدلون کړی دی. د انسان دغسې وده د هغه د طبعيت له امله وړاندې تللی او دا په ځانګړي ډول د هغه د عقل د برکته ده. د لومړي انسان ناپوهي د نسلونو په عقلي ځواک سره چې مدنيتونه او کلتورونه يې جوړ کړي دي، له منځ نه تللې ده. په دغه مفهوم د انسان بدلېدل او په پايله کې د طبيعي قانون بدلون د هغه د طبعيت سره برابر دی. ورګا زياتوي چې په عين حال کې په دې ټينګار کېدای شي چې په طبيعي قانون کې هېڅ بدلون پېښ شوی نه دی. يوازې چاپېريال بدلون کړی دی، او نه بدلېدونکی طبيعي قانون ښيي، چې اخلاقيات په نويو شرايطو کې څه دي. برسېره پر دې انسان د خپل طبعيت په اړه په ډېرېدونکې کچه پوهه پيدا کوي او په پايله کې د انساني حالت په اړه د طبيعي قانون پلي کېدنه لا هم روښانه او تر پخوا ښه پېژندل شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې ترتیب له یوې خوا د انسان اساسي ځانګړتیاوې د بدلون وړ نه دي. موږ به هېڅکله ځاروي نه شو، نو اړ یو د عقلمنو، ازادو او مسؤلو انسانانو غوندې په «عزت او مسولیت» سره ژوند وکړو. د بلې خوا انسان د بشریت په عقلاني او کلتوري ودې سره چې د تاریخ له سباوون نه یې تر اوسه کړې دی، په غوځه توګه اغېزمن شوی دی. کلتوري او عقلاني وده به په اخلاقي شعور او په هغه اخلاقي قضاوت کې غبرګون ومومي، چې د هغه په تکاملي حالت باندې یې کوي. نو موږ ویلی شو، څنګه چې د انسان طبعیت هم بدلون کوي او هم یې نه کوي، داسې هم طبیعي قانون د بدلون وړ او هم د بدلون وړ نه دی.

## د طبیعي قانون پوهه:

طبیعي قانون د حکومت له خوا جوړ شوی قانون نه دی چې په رسمي خپرونو کې خپور شي. جوړ شوي قانونونه حقوقي مقررې لري خلک د هغو په منلو مکلف دي او حکومت یې پلی کوي. خو اخلاقي قانون په فزیکي زور سره نه پلی کیږي، بلکې د انسانانو د شعوري او ازادې همکارۍ له لارې پلی کیږي.

طبیعي قانون یو ډینامیک قانون دی په دې چې هغه د شعوري او ارادي عملونو له لارې د خپل بشپړتوب په لور هدایت کیږي. د طبیعي قانون پوهه زموږ په هغې وړتیا اړه لري چې موږ خپل طبعیت وپېژنو. د انسان طبعیت یو پېچلی واقعیت دی او موږ د خپل طبعیت په ټولو جزیاتو او اړیکو نه پوهېږو. له بلې خوا موږ د خپل طبعیت سره نېغې تجربې لرو، هغه موږ ته ډېر رانږدې او په سالم ډول یې وده موندلې، او ټول کسان د انسان د مهمو وجودي موخو په اړه او داسې هم هغو ته د رسېدلو په وسیلو پوهیږي. اساسي پرنسیپ دا دی چې ښه وشي او له بدو نه ډډه وشي. دغه اساسي او لومړنی پرنسیپ په هغو مسایلو باندې چې انسان په ژوند کې ورسره مخامخ کېږي، په اسانۍ پلی کیږي.

ورګا وایي چې اخلاق پوهانو د طبیعي قانون دغه ښکاره دستورونه له لسګونو نورو ارشاداتو سره یو ګڼل. دغه دستورونه دا وو: مور او پلار ته اطاعت، مشروع قانوني مقامونو ته درناوی، په واده کې وفا پالنه، له نورو سره په خبرو او پوهاوي کې رښتینتوب، د نورو د قانوني مال رعایت، د ژمنې پر ځای کول او تقوا کول. د اخلاقیاتو په ډګر کې هم ځینې واقعیتونه ښکاره دي په داسې حال کې چې پېچلي واقعیتونه د هر چا له پاره د پوهېدو وړ نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساینس د انسان پوهه ګام په ګام زیاتوي هغه زموږ د شته والي او له نړۍ سره زموږ د طبعیت په اړه د نورو ړښتینتوبونو موندلو له پاره دوام ورکوي. د اخلاقیاتو په اړه به زموږ پوهه نوره ډېره شي. بیا نو طبیعي قانون نور هم ښکاره کېږي او تر قانون لاندې راځي.

## د طبیعي قانون بندېزونه (تحریمونه):

مثبت قانون تحریمونه یا مجازات لري. جزا په جریمه ، بندي توب، د امتیاز له لاسه ورکول، یا د مجازاتو کوم بل ډول وي. ایا داسې جزا شته چې د طبیعي قانون سره مله وي؟ وارګا وایي څرګنده ده چې داسې کومه جزا نه شته که څه هم چې طبیعي قانون به زیاتره وخت د مثبت قانون په څېر لکه غلا، وژنه او په ناحقه قسم خوړل د جزا سره عملي شي.

سره له دې هم په ځینو حالاتونو کې د طبیعي قانون له بندیز نه غږېدلی شو. هغه کړه چې د طبیعي قانون سره سمون ښیي موږ د خپل بشپړتوب موخې ته نږدې کوي. خو که موږ د هغو پر خلاف داسې کړه ترسره کړو چې موږ د خپل طبعیت د بشپړ توب له موخې نه لرې کوي، موږ جزا وینو چې هغه د انسان توب له لاسه ورکول دي. موږ په دغه مفهوم چې د بشریت له ایډیال نه لرې کېږو لږ «انسان» کېږو.

## حقوق

### بشري حقونه:

وارګا وایي چې د اخلاقي مسولیت پېژندنه د انسانانو یوه ګډه تجربه ده. هېڅوک دا ادعا نه شي کولی، چې هغه په خپل وجدان کې هېڅکله د اخلاقي قانون له قوت سره مخامخ شوی نه دی. پر هغې برسېره موږ د خپلې دندې په ترسره کولو کې اخلاقي پیاوړتیا حس کوو، چې له مناسبې وسیلې نه کار اخلو، چې په هغې سره موږ خپل مکلفیت اجرا کوو. موږ دا طبیعي ګڼو چې که موږ ته د یوه ځانګړي کار د کړلو له پاره دنده راکړل شي، نو باید د دغه کار له پاره مناسبې وسیلې راکړل شي. د بېلګې په توګه د یوه ګنډونکي له پاره هرو مرو د هغه کار له پاره مناسب مواد او وسیلې ورکړل شي. اخلاقي دنده دغه ادعا لازموي چې د دندې د اجرا له پاره مناسبې وسیلې او د عمل ازادي ورکړل شي.

ورګا وایي چې «دغه ادعا د حق په نامه یادېږي.»۱۰۷۱ څنګه چې حقونه له اخلاقي دندو سره تړلي دي، هغه د اخلاقي دندې ځانګړتیاوې سره شریکې کوي. په دې توګه یو مکلفیت پر موږباندې اخلاقي ضرورت تحمیلوي یاني موږ ته اخلاقي قوت راکوي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دندې د پلې کولو له پاره یوه اړینه وسیله ولرو.

حق د اخلاقي ځواک په توګه تعریف کېدلی شي، چې یو څوک یې مستحق وي باید ویې لري. حق د اخلاقي قوې په څېر د یوه بل چا عقل او ارادې ته په مراجعې سره چې هغه باید زموږ د حق درناوی وکړي، کار کوي.

حقوق په قانون استناد کوي او د قانون له مخې په منطقي ډول پر موږ باندې نافذ کېږي. بیل اخلاقي سیستمونه د خپل اخلاقي مکلفیت د تعبیرونو له مخې د حق د ماهیت په اړه بیل بیل پوهاوی لري. که د حکومت اراده د اخلاقي مکلفیت سرچینه وي، یا اخلاقیات په عام نظر او اتفاق بنا وي لکه مثبت پالان وایي بیا نو ټول حقوق د حکومت یا ټولنې له خوا موږ ته راکول کېږي او له هغو نه پرته نور حقونه نه وي، خو که اساسي حقوق د حکومت یا ټولنې له ارادې څخه پخوا موجود وي، بیا نو داسې اساسي حقونه شته چې د حکومت نه ازاد وي او هغه حقوقي افرادو ته د ټولنیز واک له خوا ورکول کېږي.

## د حقونو جوړښت:

ورګا وایي چې حق په قانون بنا دی او د هغه جوهر ځینو شیانو ته ادعا ده. د منلې شوې ترمینالوژۍ له مخې موږ په هر حق کې څلور توکي موندلی شو.

۱- د حق فاعل (Subject) یو کس دی چې هغه ځینې څیزونو ته ادعا لري.

۲- د حق شرط (Term) یو بل څوک دی، چې هغه مکلف دی د حق درناوی وکړي یا ادعا رفع کړي.

۳- د حق موضوع یو شی وي چې یو څوک یې ادعا کوي.

۴- د حق سند یا قباله دلیل دی، چې د حق موضوع یا شي ته د شخص ادعا پرحقه ګڼي. د بېلګې په توګه ته یو موټر په بیه رانیسې، ته د دغه موټر حق ترلاسه کوې. په دغې معاملې کې ته د حق فاعل کېږې. خرڅوونکی د حق شرط دی، په دې چې اړ دی موټر ته ستا دعوه ومني. موټر ستا د حق موضوع ده او تادیه شوې پیسې سند یا قباله ده، چې ستا حق پرې تکیه لري.

د یوه حق فاعل او شرط یوازې کسان کېږي. د حق موضوع مادي شیان لکه مځکه، کور او نور او غیر مادي شیان لکه د اختراع ایډیا او نور دي. د یوه حق سند یا قباله هغه بنسټ دی، چې د هغه حق شیان د مالک یا فاعل ادعا تاییدوي.

## طبیعي حقونه، بشري حقونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مخه مو یادونه وکړه چې طبیعي قانون تر هر مثبت قانون نه د مخه وجود لري. هېڅ مثبت قانون ته اجازه نه شته چې د طبیعي قانون له دستورونو سره ټکر وکړي. که داسې یو مثبت قانون ایستل کېږي چې د طبیعي قانون پرخلاف وي هغه به بې اعتبار او ناعادل قانون وي او باید اطاعت یې ونه شي.

د طبیعي حقونو شته والی په منطقي ډول د طبیعي قانون له شته والي نه راوزي. که موږ اړ یو چې د خپل طبعیت له امله ځینې کارونه وکړو، موږ هغو وسیلو ته هم ادعا لرو، چې په هغو سره خپل مکلفیت ترسره کوو، یا په بله ژبه موږ طبیعي حقوق لرو.

خو د طبیعي حقونو درناوی تل نه دی شوی. ډېرو سیاسي سیستمونو د خپلو حقوقي افرادو طبیعي حقونه تر پښو لاندې کړي دي. تاریخ د زېښاک ګرو او یرغلګرو ځواکونو په وړاندې د ډېرو ولسونو مبارزې د خپلو افرادو د طبیعي حقونو د پېژندلو له پاره ثبتې کړې دي. که څه هم په دغې برخې کې له لرغوني مهال نه تر اوسه پورې ډېر پرمختګونه شوي دي، خو د طبیعي حقونو ساتنه تر اوسه هم لا ډېره نابرابره ده. داسې حکومتونه هم شته چې په ارادي او منظم ډول د خپلو افرادو طبیعي حقونه تر پښو لاندې کوي. دا په دغسې حال کې چې په ۱۹۴۸ کال د ډسمبر په لسمه نېټه د ملګرو ملتونو موسسې عمومي غونډې د طبیعي قانون عالمي اعلامیه صادره کړه، چې زیاتره د طبیعي قانون د منشور په نامه یادیږي. دا منشور قانوني قدرت نه لري خو بیا هم اغېزمن دی. څنګه چې ژوند په ټولنه کې د حقونو په دوه اړخیز درناوي بنا دی نو ځکه حقونه د هغو د ماهیت له امله محدود دي. د بېلګې په توګه هر څوک د دین د ازادۍ حق لري خو دغه ازادي یوه چا ته دا قدرت نه ورکوي، چې نور اړ کړي د هغه دین ومني.

## اخلاقي قضاوت- وجدان

د وارګا په اند وجدان د یوه عمل په سم توب او ناسم توب باندې زموږ د عقلي قوې قضاوت دی. د مخه مو د اخلاقیاتو د معیار بنسټ وکتلو اوس منطقي ښکاري وګورو چې دا معیار په هغو ځانګړو مسلو باندې پلی کړو، چې هره ورځ ورسره مخامخ کېږو. د دغه معیار یا نورم د پلي کېدو پایله اخلاقي قضاوت کیږي، چې د یوې کړنې سم والی یا ناسم والی ټاکي. برسېره پردې هغه دا هم ټاکي، چې که یو عمل جایز وي باید وشي یا ترې ډډه وشي. هغه عقلي قوه چې دغسې قضاوت کوي، وجدان نومیږي. هغه په ځانګړو مسایلو باندې یوازې د ځینو هغو اخلاقي پرنسیپونه پلي کول دي، چې موږ په ماشوم توب یا د عمر په بالغه دوره کې مو زده کړي او منلي دي. د بېلګې په ډول موږ منلي چې غلا ناسم کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی. کله چې موږ په هڅه کې کولی شو په اسانه یو شی پټ کړو، خو موږ په اسانۍ حکم کوو، چې «زموږ وجدان وايي» چې شی مه پټوئ.

که پرنسیبونه ناسم وي پایلې به یې ناسمې وي. موږ د خپلې ودې په یون کې په ارادي ډول په هغو اخلاقي پرنسیپونو سوچ کوو، چې په وړوکتوب کې مو زده کړي، چې سم یا ناسم دي. موږ د خپلې ودې په یون کې دغه اخلاقي معیارونه د خپل عقلاني درک پر بنسټ ازمیو، هغه چې سم دي منو یې او هغه چې ناسم دي بدلوو. زموږ د اخلاقي پرنسیپونو د ازمویلو جریان په پای کې په ځانګړو مسلو د اخلاقیاتو د معیار پلي کول دي. په دغې لارې سره یو څوک په عقلي ډول د اخلاقي مقررو ټولګه جوړوي. دغه کړنلاره «د یوه ځا وجدان جوړېدل» نومیږي. دا د اخلاقپوهنې دنده ده چې یو څوک وجدان د عقل پر بنسټ جوړ کړي تر څو چې سمې اخلاقي پرېکړې د خپل فکر له مخې وکولی شي.

## د وجداني قضاوت سم توب:

ورګا وايي څه وخت چې موږ د وجدان دندې ازمییو باید د وجدان له ځینو مفهونو سره اشنا شو، چې د هغه له عملیاتو سره سر او کار لري.

سم وجدان: زموږ د عقلي قوې هغه اخلاقي قضاوت سم دی، چې څه وخت ټول هغه استدلال چې د اخلاقیاتو له افاقي نورم یا معیار سره ښکېل وي، بې له تېروتنې نه ترسره شي.

ناسم وجدان: د وجدان هغه قضاوت ناسم وي، چې په ناسم پرنسیپ بنا وي، یا سم پرنسیپونه په غلط ډول وکارول شي. په پایله کې به یوه کړنه په ناسمه اعلام شي، چې هغه ښه یا بده ده.

یقیني وجدان: دا مانا لري هغه څوک چې اخلاقي قضاوت کوي، معقول دلیل نه لري، په خپل قضاوت شک وکړي.

مشکوک وجدان: دا مانا لري هغه څوک چې اخلاقي قضاوت کوي، معقول دلیل لري، چې شونې ده چې د هغه د قضاوت سرچپه به رښتیا وي.

له دغو قضاوتونو نه مالومیږي چې سم وجدان یا ناسم وجدان به یقیني یا مشکوک وي. یقیني توب او سم توب یو شی نه دي. داسې به پېښه شي، چې د بېلګې په ډول موږ ته د سپورټونو په لوبو کې د یوې پېښې په واقعیت پوره باور لرو خو وروسته به چې دغه پېښه په ټلویزیون کې په ورو حرکت ښوول کیږي وبه وینو چې هغه تېروتنه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اخلاقو عندي معیار

ورګا وايي چې د فرد له پاره وجداني قضاوت د اخلاقي قضاوت کولو له پاره لارښود دی. نو ځکه وجدان د اخلاقیاتو عندي معیار یا نورم ګڼل کېدلی شي. د یوه چا له پاره به ښه یا بد د هغه د عقلي قوې له مخې وي. ان په هغو حالاتو کې هم چې یو څوک د خپل «ډېر ښه قضاوت پرخلاف» د بل چا مشوره مني. وجدان یې دغې عملي پایلې ته رسیږي چې په اخلاقي لحاظ غوره ده ، چې دغه مشوره ومني.

دی زیاتوي چې وجدان ځکه عندي معیار نومول شوی چې د یو چا قضاوت د دغو لاملونو د اغېز لاندې دی لکه د هغه عقلي وړتیا، د هغه عقلي لید، د هغه ټولنیز شالید، د هغه په تعصبونو چې پرې بریالی کېدای نه شي، او نور. دغه لاملونه د هغه قضاوت په دغه ډول اغېزمن کوي، چې له افاقي توب نه یې منحرف کوي.

داسې ښکاري چې تعصبونه او زموږ ټولنیز او کلتوري چاپېریال زموږ په پرېکړو یو څه مهم رول لوبوي. مهمه دا ده چې په عقلاني لحاظ ازاد واوسو او د اخلاقیاتو په عندي ارزونې پورې تړلي ونه اوسو، بلکې د نورو نظریو ته هم پام وکړو او تیار اوسو چې کله رښتینوالي غوښتنه کوي، ان له خپلې عقیدې څخه هم تېر شو. موږ باید ژور سوچ وکړو چې د تېروتنې نه ځان وژغورو او زیار وباسو چې افاقي قضاوت ته څومره چې شونې وي ځان ورنږدې کړو.

## د وجدان ازادي

ورګا وايي چې د فردي اخلاقیاتو خورا مهم قانون حکم کوي ، چې «د خپل باوري وجدان اطاعت تل وکړه». د فرد خورا ډېر اساسي حق د وجدان ازادي یاني زموږ هغه حق دی چې د خپل رښتیني او باوري وجدان له مخې ژوند وکړو. د دې له پاره مدني ټولنې جوړې شوې چې د فردونو د حق نه ساتنه وکړي او عامه ښېګڼې پر مخ بوزي. په دې توګه د مدني ټولنو له مهمو دندو نه یوه د وجدان ازادي ده.

خو شونې ده چې د فردونو وجدانونه سره ټکر وکړي. دلته د مدني ټولنو مقامات له دې دندې سره مخامخ کیږي چې د خپلو حقوقي فردونو د وجدانو ټکرونه رفع کړي. د دغو ټکرونو د کولو عمومي پرنسیپ دا دی، چې ډېر پیاوړی او باوري حق په کمزوري او لږ یقیني حق بریالی کیږي. که یو څوک معتقد وي چې د غوښې خوړل ناسم دي او پرېکړه کوي چې دی باید سابه وخوري. دی حق لري چې د خپل وجدان په لاره لاړ شي. خو دی حق نه لري چې نور په زور اړ کړي چې غوښه ونه خوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پای کې ورګا وايي چې «د اخلاقي قانون سترتوب موږ له خپلو ورونو سره یيوستون ته رابولي، د دې له پاره چې د هغوی ژوند نور هم ښېرازه او د ارزښت وړ وګرځوو. که موږ د نورو نېکمرغي په نظر کې ولرو، زموږ ژوند به نور هم مانا لرونکی اونور هم «انساني» وي او موږ به نور هم خپلې نهايي موخې ته نږدې شو.»۱۰۷۲

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اخځونه


۱-محمد حسن کاکړ، د پاچا امان الله واکمنۍ ته يوه نوې کتنه، ۹۷، د افغانستان کلتوري ټولنه- جرمني، پېښور۲۰۰۵

۲-محمد حسن کاکړ، زما غوره ليکنې، ۵۰- ۵۱، د افغانستان کلتوري ټولنه- جرمني، کابل ۲۰۱۰

۳-محمد حسن کاکړ، طالبان او اسلامي بنسټ پالنه، ۷۸ د افغانستان کلتوري ټولنه- جرمني، کولن۲۰۰۴

۴-کاکړ (۲۰۱۰، ۲۸۸ )

۵-کاکړ (۲۰۱۰، ۲۳۵)

۶-کاکړ (۲۰۱۰، ۲۳۵ )

۷-کاکړ (۲۰۱۰، ۲۳۶)

۸-کاکړ (۲۰۱۰، ۲۳۷)

۹-کاکړ (۲۰۱۰، ۲۳۸)

۱۰-اي. ايچ. کار، تاريخ څه ته وايي؟، پانه ه، کابل۱۹۷۰

۱۱-کار (۱۹۷۰، پاڼه د)

۱۲-کار ۱۹۷۰، ۱۱)

۱۳-کار (۱۹۷۰، ۲۰)

۱۴-کار (۱۹۷۰، ۲۱)

۱۵-کار (۱۹۷۰، ۵۱- ۵۲)

۱۶-کار (۱۹۷۰، ۶۴)

۱۷-کار (۱۹۷۰، ۹۵)

۱۸-کار (۱۹۷۰، ۱۰۷)

۱۹-کار (۱۹۷۰، ۱۰۸)

۲۰-کار (۱۹۷۰، ۱۱۳)

۲۱-کار (۱۹۷۰، ۱۲۵)

۲۲-کار (۱۹۷۰، ۱۳۴)

۲۳-کار (۱۹۷۰، ۱۳۵)

۲۴-کار (۱۹۷۰، ۱۳۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۵- کار (۱۹۷۰ ۱۴۶)

۲۶-کار (۱۹۷۰، ۱۴۹)

۲۷-کار (۱۹۷۰، ۱۵۳)

۲۸-کار (۱۹۷۰، ۱۶۸)

۲۹-کار (۱۹۷۰، ۱۷۰)

۳۰-کار (۱۹۷۰، ۱۷۶)

۳۱-کاکړ (۲۰۱۰، ۲۴۰)

۳۲-کاکړ (۲۰۱۰، ۲۴۰)

۳۳-کاکړ (۲۰۱۵، ۴۷- ۴۸)

۳۴-کاکړ (۲۰۱۵، ۴۸)

۳۵-کاکړ (۲۰۱۰، ۲۴۸)

۳۶-کاکړ (۲۰۱۰، ۲۴۸)

۳۷-کاکړ (۲۰۱۰، ۲۵۴)

۳۸-کاکړ (۲۰۱۰، ۲۵۵)

۳۹-کاکړ (۲۰۱۰، ۲۵۶)

۴۰-کاکړ (۲۰۱۰، ۲۵۶- ۲۵۷)

۴۱-کاکړ (۲۰۱۰، ۲۶۰)

۴۲-کاکړ (۲۰۱۰، ۲۶۰)

۴۳-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۱۹)

۴۴-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۲۷- ۴۲۸)

۴۵-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۳۵)

۴۶-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۳۵)

۴۷-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۳۵)

۴۸-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۳۶)

۴۹-محمد حسن کاکړ، افغان، افغانستان و افغانها و تشکیل دولت در هندوستان، فارس و افغانستان، ۲۷- ۲۸، کابل۱۹۸۸

۵۰-کاکړ (۱۹۸۸، ۲۸)

۵۱-حبیب الله تږی، پښتانه، ۳۱- ۳۲، پېښور۱۹۹۹

۵۲-تږی (۱۹۹۹، ۳۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library




۵۳-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۴۶)

۵۴-معصوم هوتک، کاکړ، رڼا او دفاع، ۹۱ د ساپي د پښتو څېړنې او پراختیا مرکز، پېښور۱۹۹۹

۵۵-محمد حسن کاکړ، پښتون، افغان، افغانستان، ا (الف)، د افغانستان کلتوري ټولنه- جرمني، کابل ۲۰۱۱

۵۶-کاکړ (۲۰۱۱، ا (الف))

۵۷-کاکړ (۲۰۱۱، ۲)

۵۸-کاکړ (۲۰۱۱، ۲-۳)

۵۹-کاکړ (۲۰۱۱، ۶)

۶۰-کاکړ (۲۰۱۱، ۶)

۶۱-کاکړ (۲۰۱۱، ۶)

۶۲-کاکړ (۲۰۱۱، ۷-۸)

۶۳-کاکړ (۲۰۱۱، ۳۲)

۶۴-کاکړ (۲۰۱۱، ۱۰۰)

۶۵-کاکړ (۲۰۱۱، ۲۷)

۶۶-کاکړ (۲۰۱۱، ۲۹)

۶۷-کاکړ (۲۰۱۱، ۳۳)

۶۸-کاکړ (۲۰۱۱، ۳۳)

۶۹-کاکړ (۲۰۱۱، ۳۳)

۷۰-کاکړ (۲۰۰۵، ۶)

۷۱-کاکړ (۲۰۰۵، ۴)

۷۲-علي احمد کهزاد، افغانسان د تاریخ په رڼا کې، ۱۱۴، د اورنګ زېب ژباړه، پېښور ۲۰۰۱

۷۳-کاکړ (۲۰۰۵، ۵)

۷۴-کاکړ (۲۰۰۵، ۵)

۷۵-کاکړ (۱۹۹۹، ۱۰۶)

۷۶-کاکړ (۱۹۹۹، ۱۱۰)

۷۷-کاکړ (۱۹۹۹، ۱۱۳)

۷۸-کاکړ (۱۹۹۹، ۱۱۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library




۷۹-کاکړ (۱۹۹۹، ۱۱۸)

۸۰-کاکړ (۱۹۹۹، ۱۱۸)

۸۱-کاکړ (۱۹۹۹، ۱۱۹- ۱۲۰)

۸۲-کاکړ (۱۹۹۹، ۱۲۰)

۸۳-جان کیګن، جنګ او زموږ نړۍ، د کاکړ سریزه، ۱۴، کابل ۲۰۱۵

۸۴-بالابانس،د سقراط، افلاتون،ارستو، اپیکور او زینو په نظر ښه انسان (۲۶-۲۷) د کاکړ ژباړه، کابل ۲۰۱۰

۸۵-بالابانس (۲۰۱۰، ۲۷)

۸۶-بالابانس (۲۰۱۰، ۲۸)

۸۷- بالابانس (۲۰۱۰، ۲۹)

۸۸-بالابانس (۲۰۱۰، ۳۱)

۸۹-کاکړ (۲۰۱۱، ۶۹)

۹۰-کاکړ (۲۰۱۱، ۱۰۴-۱۰۵)

۹۱-تړی (۱۹۹۹، ۵۱)

۹۲-تړی (۱۹۹۹، ۵۰)

۹۳-تړی (۱۹۹۹، اتلسم د هېواد مل سریزه)

۹۴-تړی (۱۹۹۹، اتلسم د هېواد مل سریزه)

۹۵-تړی (۱۹۹۹، ۲۱۹)

۹۶-تړی (۱۹۹۹، ۲)

۹۷-تړی (۱۹۹۹، ۳- ۵)

۹۸-تړی (۱۹۹۹، ۱۲)

۹۹-تړی (۱۹۹۹، ۱۸)

۱۰۰-تړی (۱۹۹۹، ۱۹)

۱۰۱-تړی (۱۹۹۹، ۲۱)

۱۰۲-تړی (۱۹۹۹، ۲۱)

۱۰۳-محمد حسن کاکړ، (۱۹۹۹، ۱۱۹-۱۲۰)

۱۰۴-کاکړ (۲۰۱۱، ۲۱)

۱۰۵-تړی (۱۹۹۹، ۳۰)

۱۰۶-کاکړ (۲۰۱۱، ۱۱۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library




۱۰۷-تږی (۱۹۹۹، ۳۰)

۱۰۸-تږی (۱۹۹۹، ۳۱)

۱۰۹-تږی (۱۹۹۹، ۳۱)

۱۱۰-تږی (۱۹۹۹، ۳۱-۳۲)

۱۱۱-تږی (۱۹۹۹، ۳۲)

۱۱۲-تږی (۱۹۹۹، ۳۸)

۱۱۳-تږی (۱۹۹۹، ۳۹)

۱۱۴-تږی (۱۹۹۹، ۴۰)

۱۱۵-تږی (۱۹۹۹، ۴۰)

۱۱۶-تږی (۱۹۹۹، ۴۰)

۱۱۷-تږی (۱۹۹۹، ۴۱)

۱۱۸- تږی (۱۹۹۹، ۴۱)

۱۱۹- تږی (۱۹۹۹، ۴۳)

۱۲۰-تږی (۱۹۹۹، ۴۳)

۱۲۱-کاکړ (۲۰۱۱، ۱۰۵)

۱۲۲-کاکړ (۲۰۱۱، ۱۰۵-۱۰۶)

۱۲۳-کاکړ (۲۰۱۱، ۱۲۱)

۱۲۴-کاکړ (۲۰۱۱، ۱۲۳-۱۲۴)

۱۲۵-تږی (۱۹۹۹، ۵۴)

۱۲۶-کاکړ (۲۰۱۱، ۱۲۶)

۱۲۷-تږی (۱۹۹۹، ۵۵)

۱۲۸-تږی (۱۹۹۹، ۵۶)

۱۲۹-تږی (۱۹۹۹، ۵۸)

۱۳۰-کاکړ (۲۰۱۱، ۱۳۵)

۱۳۱-کاکړ (۲۰۱۱، ۱۳۶-۱۳۷)

۱۳۲-کاکړ (۲۰۱۱، ۱۴۰)

۱۳۳-کاکړ (۲۰۱۱، ۱۴۰)

۱۳۴-کاکړ (۲۰۱۱، ۱۴۲)

۱۳۵-کاکړ (۲۰۱۱، ۱۴۳-۱۴۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳۶-کاکړ (۲۰۱۱، ۱۴۴)

۱۳۷-کاکړ (۲۰۱۱، ۱۴۵)

۱۳۸-کاکړ (۲۰۱۱، ۱۵۰- ۱۵۱)

۱۳۹-کاکړ (۲۰۱۱، ۱۵۱)

۱۴۰-کاکړ (۲۰۱۱، ۱۵۱)

۱۴۱-کاکړ (۲۰۱۱، ۱۵۶)

۱۴۲-کاکړ (۲۰۱۱، ۱۵۶)

۱۴۳-کاکړ (۲۰۱۱، ۱۵۶- ۱۵۷)

۱۴۴-کاکړ (۲۰۱۱، ۱۵۷)

۱۴۵-تږی (۱۹۹۹، ۲۱۲- ۲۱۳)

۱۴۶-تږی (۱۹۹۹، ۲۱۳)

۱۴۷-تږی (۱۹۹۹، ۲۱۳)

۱۴۸-تږی (۱۹۹۹، ۲۱۳)

۱۴۹-تږی (۱۹۹۹، ۲۱۳)

۱۵۰-تږی (۱۹۹۹، ۲۱۴)

۱۵۱-تږی (۱۹۹۹، ۲۱۴)

۱۵۲-تږی (۱۹۹۹، ۲۱۱)

۱۵۳-کاکړ (۱۹۸۸، ۱۰۷)

۱۵۴-تږی (۱۹۹۹، ۲۱۹)

۱۵۵-تږی (۱۹۹۹، ۲۱۹)

۱۵۶-تږی (۱۹۹۹، ۲۲۰)

۱۵۷-تږی (۱۹۹۹، ۲۲۰)

۱۵۸-تږی (۱۹۹۹، ۲۲۱)

۱۵۹-تږی (۱۹۹۹، ۲۱۶)

۱۶۰-تږی (۱۹۹۹، ۲۱۷)

۱۶۱-تږی (۱۹۹۹، ۲۱۷)

۱۶۲-تږی (۱۹۹۹، ۲۱۷)

۱۶۳-تږی (۱۹۹۹، ۲۱۷)

۱۶۴-تږی (۱۹۹۹، ۲۱۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۶۵- تړی (۱۹۹۹، ۲۱۸)

۱۶۶-کاکړ (۲۰۰۴، ۱۲)

۱۶۷-محمد اعظم سیستاني، ظهور افغانستان معاصر و احمدشاه ابدالي، ۷۷ پېښور۲۰۰۷

۱۶۸-سیستاني (۲۰۰۷، ۷۷)

۱۶۹-نصرالله سوبمن، پښتانه په هند کې، ۱۳، په بلجیم کې د استوګنو افغانانو د تفاهم، مرستې او پیوستون ټولنه، لاهور۱۳۸۰

۱۷۰-سیستاني (۲۰۰۷، ۷۸)

۱۷۱-سید بهادرشاه کاکاخیل، پښتانه د تاریخ په رڼا کې، ۴۷۰ یونیورسټي بک ایجنسي پېښور

۱۷۲-حبیب الله تړی، د مشرق په اسمان کې د مغرب ستوري، ۴۲، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، پېښور۲۰۰۶

۱۷۳-تړی (۲۰۰۶، ۴۲)

۱۷۴-غلام محمد غبار، تاریخ مختصر افغانستان، ۲۹- ۳۰

۱۷۵-کاکړ (۱۹۸۸، ۲۸- ۲۹)

۱۷۶-کاکړ (۲۰۱۱، ۱۴۸)

۱۷۷-سوبمن (۱۳۸۰، ۷۸)

۱۷۸-سوبمن (۱۳۸۰، ۷۸- ۷۹)

۱۷۹-سوبمن (۱۳۸۰، ۷۹)

۱۸۰-سوبمن (۱۳۸۰، ۵۷۳)

۱۸۱-سوبمن (۱۳۸۰، ۵۸۸)

۱۸۲-کاکاخیل (۶۴۹)

۱۸۳-کاکړ (۱۹۸۸، ۵۸)

۱۸۴-تړی (۱۹۹۹، ۱۸۸)

۱۸۵- تړی (۱۹۹۹، ۱۹۴)

۱۸۶- تړی (۱۹۹۹، ۱۹۵- ۱۹۶)

۱۸۷-تړی (۲۰۰۶، ۳۱)

۱۸۸-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۲)

۱۸۹-کاکړ (۱۹۸۸، ۶۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹۰-کاکړ (۲۰۱۰، ۶۶)
۱۹۱-کاکړ (۲۰۱۰، ۹۳)
۱۹۲-کاکړ (۲۰۱۰، ۹۴)
۱۹۳-کاکړ (۲۰۱۰، ۹۵)
۱۹۴-کاکړ (۲۰۱۰، ۹۵)
۱۹۵-کاکړ (۲۰۱۰، ۹۶)
۱۹۶-معصوم هوتک، کاکړ (۱۹۹۹، ۸۸)
۱۹۷- کاکړ (۲۰۰۴، ۴۰)
۱۹۸-کاکړ (۲۰۱۰، ۵۵)
۱۹۹-سیستاني (۲۰۰۷، ۱۵۱)
۲۰۰-معصوم هوتک، سل پګړۍ یو پړونی، ۴۲ پېښور۲۰۰۷
۲۰۱-معصوم هوتک (۲۰۰۷، ۴۲)
۲۰۲-کاکړ (۱۹۸۸، ۸۶)
۲۰۳-کاکړ (۱۹۸۸، ۸۶- ۸۷)
۲۰۴-کاکړ (۱۹۸۸، ۸۷)
۲۰۵-کاکړ (۱۹۸۸، ۸۷)
۲۰۶-سیستاني (۲۰۰۷، ۱۸۵)
۲۰۷-کاکړ (۱۹۸۸، ۹۳)
۲۰۸-کاکړ (۱۹۸۸، ۹۳)
۲۰۹-محمد ولي ځلمی، د افغانستان او روسیې د سیاسي روابطو لنډه تاریخچه، ۲۵-۲۷ کراچي۱۳۷۴
۲۰۹الف- جلالي،د افغانستان پوځي تاریخ، ۶۵ کنساس ۲۰۱۷
۲۱۰-محمد هوتک، پټه خزانه،۱۱۴، دوهم چاپ، کابل ۱۹۳۹
۲۱۱-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۱۸۰)
۲۱۲-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۲۰۲)
۲۱۳-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۱۴۰)
۲۱۴-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۱۳۶)
۲۱۵-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۱۳۲)
۲۱۶-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۱۸۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۱۷-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۱۱۴)

۲۱۸-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۱۷۲)

۲۱۹-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۲۰۴)

۲۲۰-سیستاني (۲۰۰۷، ۸۸)

۲۲۱-جلالي (۲۰۱۷، ۶۶)

۲۲۲-فیض محمد کاتب، سراج التواریخ، ۱۱، کابل۱۳۳۱

۲۲۳-جلالي (۲۰۱۷، ۶۷)

۲۲۴-کاکړ (۲۰۱۰، ۷۰)

۲۲۵-سیستاني (۲۰۰۷، ۳۲۶)

۲۲۶-احمدشاه بابا، د احمدشاه بابا دیوان، ۳۵- ۳۶، دویم چاپ، پېښور۱۹۹۵

۲۲۷-هېواد مل، په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه،۲۵۴- ۲۵۵، لاهور ۱۳۷۳

۲۲۸-هېواد مل (۱۳۷۳، ۲۵۵)

۲۲۹-هېواد مل (۱۳۷۳، ۲۶۷)

۲۳۰-روهي، ادبي څېړنې،۳۲۸، پېښور ۲۰۰۷

۲۳۱-روهي (۲۰۰۷، ۳۲۸- ۳۲۹)

۲۳۲-روهي (۲۰۰۷، ۳۳۲)

۲۳۳-الفنستون، د کابل سلطنت،۳۲۵، د کاکړ ژباړه، کابل ۲۰۰۸

۲۳۴-عزیز الدین وکیلي، د تیمورشاه دیوان، ۲۵- ۲۶، کابل۱۳۵۶

۲۳۵-اقبال وزیري، پښتو د تاریخ په بهیر کې، ۱۳۷، کابل ۲۰۱۵

۲۳۶-اقبال وزیري (۲۰۱۵، ۱۳۸)

۲۳۷- سیستاني (۲۰۰۷، ۳۵۸)

۲۳۸-سید جمال الدین افغان، تتمه البیان في تاریخ الافغان، ۴۵، د محمد رفیق ژباړه پېښور۲۰۰۷

۲۳۹-محمد ابراهیم اعطایي، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه لیکنه، ۳۸- ۳۹ کابل۱۳۸۲

۲۴۰-سیستاني (۲۰۰۷، ۳۶۰)

۲۴۱-الفنستون (۲۰۰۸، ۲۰۷)

۲۴۲-کهزاد افغان مېړني او تاریخي پېښې، ۱۳، محمد اصف صمم ژباړه، پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library




۲۰۰۱

۲۴۳-کهزاد (۲۰۰۱، ۱۳)

۲۴۴-کاکړ (۲۰۰۸، پاڼه و) د کابل سلطنت د ژباړې سريزه

۲۴۵-جلالي (۲۰۱۷، ۸۴)

۲۴۶-جلالي (۲۰۱۷، ۹۰)

۲۴۷-جلالي (۲۰۱۷، ۹۷)

۲۴۸-جلالي (۲۰۱۷، ۱۰۷)

۲۴۹-جلالي (۲۰۱۷، ۱۱۵)

۲۵۰-جلالي (۲۰۱۷، ۱۲۸)

۲۵۱-جلالي (۲۰۱۷، ۱۳۷)

۲۵۲-جلالي (۲۰۱۷، ۱۳۹)

۲۵۳-جلالي (۲۰۱۷، ۱۴۱)

۲۵۴-جلالي (۲۰۱۷، ۱۴۳)

۲۵۵-جلالي (۲۰۱۷، ۱۴۴)

۲۵۶-جلالي (۲۰۱۷، ۱۵۰)

۲۵۷-جلالي (۲۰۱۷، ۱۵۱)

۲۵۸-جلالي (۲۰۱۷، ۱۵۱)

۲۵۹-جلالي (۲۰۱۷، ۱۵۵)

۲۶۰-جلالي (۲۰۱۷، ۱۶۷)

۲۶۱-کاکړ (۱۹۸۹، ۲۰)

۲۶۲-ولي خان (۱۹۹۳، ۱۶-۱۷)

۲۶۳-طرزی، خاطرې: د يوې دورې لنډ تاريخ، ۴ جرمني ۲۰۰۷ د کاکړ ژباړه

۲۶۴-کاکړ (۱۹۸۹، ۱۲)

۲۶۵-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۵)

۲۶۶-خيبري، پښتانه د کلتوري ښکېلاک په زنځيرونو کې، ۶۹، ۲۰۰۲

۲۶۷-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۹)

۲۶۸-تړې (۲۰۰۶، ۱۲۷)

۲۶۹-کاکړ (۱۹۸۹، ۳۱)

۲۷۰-کاکړ (۱۹۸۹، ۳۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۷۱-جلالي (۲۰۱۷، ۲۰۱)
۲۷۲-کاکړ (۱۹۸۹، ۴۴)
۲۷۳-کاکړ (۲۰۰۱، ۷۳) میوند د افغانستان د تاریخ ځلی، دمقالو ټولګه
۲۷۴-طرزی (۲۰۰۷، ۲۵- ۲۶ )
۲۷۵-طرزی (۲۰۰۷، ۳۲)
۲۷۶-کاکړ (۱۹۸۹، ۸۵)
۲۷۷-کاکړ (۲۰۰۱، ۹۸) میوند د د افغانستان د تاریخ ځلی، دمقالو ټولګه
۲۷۸-کاکړ، د افغانستان سیاسي او ډپلوماتیک تاریخ،۱۶۷، لایډن ۲۰۰۶
۲۷۹-کاکړ (۲۰۰۶، ۱۶۸)
۲۸۰-جلالي(۲۰۰۱، ۱۷۳- ۱۷۴) میوند د افغانستان د تاریخ ځلی، دمقالو ټولګه
۲۸۱-جلالي (۲۰۰۱، ۱۷۶)پاسنی اثر
۲۸۲-جلالي (۲۰۰۱، ۱۷۸)پاسنی اثر
۲۸۳-جلالي (۲۰۰۱، ۱۸۴)پاسنی اثر
۲۸۴-کاکړ (۲۰۰۱، ۸۷)پاسنی اثر
۲۸۵-کاکړ (۲۰۰۱، ۸۷)پاسنی اثر
۲۸۶-کاکړ (۲۰۰۱، ۸۹)پاسنی اثر
۲۸۷-کاکړ (۲۰۰۱، ۹۱)پاسنی اثر
۲۸۸-کاکړ (۲۰۰۱، ۹۴- ۹۵)پاسنی اثر
۲۸۹-کاکړ (۲۰۰۱، ۹۹)پاسنی اثر
۲۹۰-کاکړ (۲۰۰۱، ۱۰۷)پاسنی اثر
۲۹۱-کاکړ (۲۰۰۱، ۱۰۷-۱۰۸)پاسنی اثر
۲۹۲-کاکړ (۲۰۰۱، ۱۰۹)پاسنی اثر
۲۹۳-کاکړ (۲۰۰۱، ۱۰۹)پاسنی اثر
۲۹۴-کاکړ (۲۰۰۶، ۱۷۰)
۲۹۵-کاکړ (۲۰۰۶، ۱۷۰)
۲۹۶-کاکړ (۲۰۰۶، ۱۷۱)
۲۹۷-کاکړ (۲۰۰۶، ۱۷۳)
۲۹۸-کاکړ (۲۰۰۶، ۱۷۳)
۲۹۹-د روسي او برتانوي امپراتورۍ لاسوندونه، د افغانستان د شمال لویدیځې پولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټاکل، ۵۹ کابل ۲۰۰۹ ژباړه طاهر کانی

۳۰۰-پاسنی اثر (۲۰۰۹، ۸۴)

۳۰۱-پاسنی اثر (۲۰۰۹، ۸۸)

۳۰۲-کاکړ (۲۰۰۶، ۱۷۵)

۳۰۳-زيرکيار، د ناپوهی تياري او د پرمختګ ډېوې...، ۲۳۲ کابل ۲۰۱۶

۳۰۴-کاکړ، د ښاغلي زماني او ښاغلي سيستاني د ليکنو په هکله، (۲۰۱۵، ۵۲)

۳۰۵-کاکړ (۲۰۱۵، ۵۲)

۳۰۶-کاکړ (۲۰۱۵، ۵۲)

۳۰۷-کاکړ (۲۰۱۵، ۵۲)

۳۰۸-کاکړ (۲۰۱۵، ۵۲)

۳۰۹-کاکړ (۲۰۰۶، ۹۸)

۳۱۰-کاکړ (۲۰۰۶، ۱۱۰)

۳۱۱-کاکړ (۲۰۰۶، ۱۱۳)

۳۱۲-کاکړ (۲۰۰۶، ۱۱۴)

۳۱۳-کاکړ (۲۰۰۶، ۱۱۴)

۳۱۴-کاکړ (۲۰۰۶، ۱۱۵)

۳۱۵-کاکړ (۲۰۰۶، ۱۱۵)

۳۱۶-کاکړ (۲۰۰۶، ۱۱۵)

۳۱۷-کاکړ (۲۰۰۶، ۱۱۵)

۳۱۸-کاکړ (۲۰۰۶، ۱۲۳)

۳۱۹-کاکړ (۲۰۰۶، ۱۳۸)

۳۲۰-کاکړ (۲۰۰۶، ۱۵۵)

۳۲۱-کاکړ (۲۰۱۱، ۱۹۷)

۳۲۲-کاکړ (۲۰۱۱، ۲۰۶)

۳۲۳-کاکړ (۲۰۱۱، ۲۱۴)

۳۲۴-کاکړ (۲۰۰۶، ۱۷۸)

۳۲۵-کاکړ (۲۰۰۶، ۱۷۸)

۳۲۶-کاکړ (۲۰۰۶، ۱۷۹)

۳۲۷-کاکړ (۲۰۰۶، ۱۷۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۲۸-کاکړ (۲۰۰۶، ۱۷۹- ۱۸۰)

۳۲۹-کاکړ (۲۰۰۶، ۱۸۶)

۳۳۰-کاکړ (۲۰۰۶، ۱۸۱)

۳۳۱-کاکړ (۲۰۰۶، ۱۹۰)

۳۳۲- رستار تره کی، ډيورنډ، د واحد ملت د بيلتون کرښه،۱۱۲ کابل ۲۰۰۷

۳۳۳- تره کی (۲۰۰۷، ۱۱۳)

۳۳۴-تره کی (۲۰۰۷، ۱۲۱)

۳۳۵-تره کی (۲۰۰۷، ۱۲۴)

۳۳۶-رونا (۲۰۰۷، ۱۳۴ ) پاسنۍ اثر

۳۳۷-رونا(۲۰۰۷، ۱۳۴- ۱۳۵) پاسنۍ اثر

۳۳۸-کاکړ (۲۰۰۷، ۱۵۱) پاسنۍ اثر

۳۳۹-کاکړ (۲۰۰۷، ۲۱۹) ميوند د افغانستان د تاريخ ځلی، دمقالو ټولګه

۳۴۰-کاکړ (۲۰۰۷، ۲۲۲)پاسنۍ اثر

۳۴۱-زيرکيار (۲۰۱۶، ۱۱۳)

۳۴۲-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۰- ۴۱)

۳۴۳-داود جنبش، افغانستان په شلمه پيړۍ کې، ۱۹۱ د افغانستان کلتوري ودې ټولنه جرمني ۲۰۰۰

۳۴۴-جنبش (۲۰۰۰، ۱۹۰- ۱۹۱)

۳۴۵-تړی (۲۰۰۰، ۴۹)

۳۴۶-زيرکيار (۲۰۱۶، ۱۳۴)

۳۴۷- کاکړ (۲۰۰۵، ۲۰)

۳۴۸-کاکړ (۲۰۰۵، ۲۰- ۲۱)

۳۴۹-کاکړ (۲۰۰۵، ۲۱)

۳۵۰-غبار (، ۷۱۸)

۳۵۱-نبي مصداق، افغانستان په شلمه پيړۍ کې، ۱۷۸ د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه جرمني ۲۰۰۰

۳۵۲- نيدرماير، افغانستان د هند ستره دروازه، ۷۴ د خوشال انځور ژباړه ۲۰۰۰

۳۵۳-نيدرماير (۲۰۰۰، ۷۵)

۳۵۴-تيخونوف، نبرد افغاني استالين، ۴۸ د عزيز اريانفر ژباړه، کابل۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۵۵-ادامک، د شلمې پېړۍ تر نیمایي د افغانستان د بهرنیو اړیکو تاریخ، د نثار احمد صمد ژباړه ۸۳- ۸۴ پېښور ۱۹۹۹

۳۵۶-جلالي (۲۰۱۷، ۲۷۵)

۳۵۷-ادامک (۱۹۹۹، ۸۱- ۸۲)

۳۵۸-زیرکیار (۲۰۱۶، ۱۳۹)

۳۵۹-ادمک (۱۹۹۹، ۸۴)

۳۶۰-ادامک (۱۹۹۹، ۸۹)

۳۶۱-جلالي (۲۰۱۷، ۲۷۶- ۲۷۷)

۳۶۲-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۹)

۳۶۳-کاکړ (۲۰۰۵، ۲۰)

۳۶۴-کاکړ (۲۰۰۵، ۲۲)

۳۶۵-جلالي (۲۰۱۷، ۲۸۴- ۲۸۵)

۳۶۶-جلالي (۲۰۱۷، ۲۸۲)

۳۶۷-جلالي (۲۰۱۷، ۲۸۳- ۲۸۴)

۳۶۸-جلالي (۲۰۱۷، ۲۷۹)

۳۶۹-جلالي (۲۰۱۷، ۲۷۹)

۳۷۰-جلالي (۲۰۱۷، ۳۱۰)

۳۷۱-زیرکیار (۲۰۱۶، ۱۹۰- ۱۹۱)

۳۷۲-جلالي (۲۰۱۷، ۳۱۲)

۳۷۳-جلالي (۲۰۱۷، ۳۱۲)

۳۷۴-جلالي (۲۰۱۷، ۳۱۴)

۳۷۵-کاکړ (۲۰۰۵، ۲۴)

۳۷۶-کاکړ (۲۰۰۵، ۲۴)

۳۷۷-کاکړ (۲۰۰۵، ۲۴)

۳۷۸-کاکړ (۲۰۰۵، ۲۶)

۳۷۹-سیستاني- زیرکیار (۲۰۱۶، ۱۶۶)

۳۸۰-زماني- زیرکیار (۲۰۱۶، ۲۰۷)

۳۸۱-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۲)

۳۸۲-کاکړ (۲۰۰۵، ۲۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۸۳-کاکړ (۲۰۰۵، ۲۸)

۳۸۴-کاکړ (۲۰۰۵، ۳۰)

۳۸۵-کاکړ (۲۰۰۵، ۳۲)

۳۸۶-کاکړ (۲۰۰۵، ۳۲- ۳۳)

۳۸۷-کاکړ (۲۰۰۵، ۳۳)

۳۸۸-کاکړ (۲۰۰۵، ۳۴)

۳۸۹-زيرکيار (۲۰۱۶، ۷۶۴)

۳۹۰-کاکړ (۲۰۰۵، ۳۴)

۳۹۱-کاکړ (۲۰۰۵، ۳۵)

۳۹۲-کاکړ (۲۰۰۵، ۳۶)

۳۹۳-کاکړ (۲۰۰۵، ۳۷)

۳۹۴-کاکړ (۲۰۰۵، ۳۷)

۳۹۵-کاکړ (۲۰۰۵، ۳۸)

۳۹۶-کاکړ (۲۰۰۵، ۳۸)

۳۹۷-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۳۳- ۱۳۴)

۳۹۸-تيخونوف (۲۰۱۱، اي پاڼه)

۳۹۹-تيخونوف (۲۰۱۱، ۵۹)

۴۰۰-تيخونوف (۲۰۰۱، ۶۰)

۴۰۱-تيخونوف (۲۰۱۱، ۶۹)

۴۰۲-تيخونوف (۲۰۱۱، ۷۸)

۴۰۳-تيخونوف (۲۰۱۱، ۸۳)

۴۰۴-تيخونوف (۲۰۱۱، ۸۶)

۴۰۵-تيخونوف (۲۰۱۱، ۹۷)

۴۰۶-تيخونوف (۲۰۱۱، ۶۸)

۴۰۷-تيخونوف (۲۰۱۱، ۱۶۱)

۴۰۸-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۳)

۴۰۹-کاکړ (۲۰۰۵، ۴۰)

۴۱۰-کاکړ (۲۰۰۵، ۴۴)

۴۱۱-کاکړ (۲۰۰۵، ۶۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۱۲-کاکړ (۲۰۰۵، ۵۳)
۴۱۳-کاکړ (۲۰۰۵، ۵۳)
۴۱۴-کاکړ (۲۰۰۵، ۵۵)
۴۱۵-کاکړ (۲۰۰۵، ۵۶)
۴۱۶-کاکړ (۲۰۰۵، ۵۷)
۴۱۷-کاکړ (۲۰۰۵، ۵۷)
۴۱۸-کاکړ (۲۰۰۵، ۶۰)
۴۱۹-کاکړ (۲۰۰۵، ۶۱)
۴۲۰-کاکړ (۲۰۰۵، ۶۱)
۴۲۱-کاکړ (۲۰۰۵، ۶۲)
۴۲۲-کاکړ (۲۰۰۵، ۶۲)
۴۲۳-کاکړ (۲۰۰۵، ۶۳)
۴۲۴-کاکړ (۲۰۰۵، ۶۴)
۴۲۵-کاکړ (۲۰۰۵، ۶۷)
۴۲۶-کاکړ (۲۰۰۵، ۶۷)
۴۲۷-کاکړ (۲۰۰۵، ۷۴- ۷۵)
۴۲۸-کاکړ (۲۰۰۵، ۷۷)
۴۲۹-طبیبي، خاطرات، ۱۳ ترجمه دري هادي شکور ۱۹۹۶
۴۳۰-ادامک (۱۹۹۹، ۲۳۴)
۴۳۱-ادامک (۱۹۹۹، ۳۲۵)
۴۳۲-ولي خان، باچا خان او خدایي خدمتګاري،لومړی ټوک، ۸۱ پېښور ۱۹۹۳
۴۳۳-کاکړ (۲۰۰۵، ۷۸)
۴۳۴-کاکړ (۲۰۰۵، ۸۰)
۴۳۵-کاکړ (۲۰۰۵، ۸۴)
۴۳۶-کاکړ (۲۰۰۵، ۸۵)
۴۳۷-کاکړ (۲۰۰۵، ۸۸- ۸۹)
۴۳۸-کاکړ (۲۰۰۵، ۸۹)
۴۳۹-کاکړ (۲۰۰۵، ۹۳)
۴۴۰-کاکړ (۲۰۰۵، ۹۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۴۱-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۲)

۴۴۲-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۳)

۴۴۳-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۳)

۴۴۴-ادامک (۱۹۹۹، ۱۳)، کاکړ (۲۰۱۵، ۱۳)

۴۴۵-کاکړ (۲۰۰۵، ۹۶)

۴۴۶-کاکړ (۲۰۰۵، ۹۶)

۴۴۷-کاکړ (۲۰۰۵، ۹۶)

۴۴۸-کاکړ (۲۰۰۵، ۹۸)

۴۴۹-کاکړ (۲۰۰۵، ۹۸- ۹۹)

۴۵۰-کاکړ (۲۰۰۵، ۹۹)

۴۵۱-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۰۰)

۴۵۲-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۰۱)

۴۵۳-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۰۱)

۴۵۴-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۰۱-۱۰۲)

۴۵۵-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۰۲)

۴۵۶-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۰۳)

۴۵۷-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۰۴)

۴۵۸-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۰۴)

۴۵۹-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۰۵)

۴۶۰-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۰۶)

۴۶۱-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۰۷)

۴۶۲-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۰۷)

۴۶۳-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۰۷-۱۰۸)

۴۶۴-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۰۸)

۴۶۵-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۰۸)

۴۶۶-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۰۹)

۴۶۷-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۰۹)

۴۶۸-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۰۹)

۴۶۹-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۱۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۷۰-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۸- ۲۹)

۴۷۱-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۱۱)

۴۷۲-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۱۲)

۴۷۳-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۱۲)

۴۷۴-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۱۳)

۴۷۵-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۱۵- ۱۱۶)

۴۷۶-کاکړ (۲۰۱۵، ۳۷)

۴۷۷-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۱۷- ۱۱۸)

۴۷۸-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۱۸- ۱۱۹)

۴۷۹-کاکړ (۲۰۰۵، ۱۱۹)

۴۸۰-ادامک (۱۹۹۹، ۱۳۹)، کاکړ (۲۰۰۵، ۱۴)

۴۸۱-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۴)

۴۸۲-غبار، افغانستان در مسیر تاریخ،۸۱۲، کاکړ (۲۰۱۵، ۱۴)

۴۸۳-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۵)

۴۸۴-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۵)

۴۸۵-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۷)

۴۸۶-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۷)

۴۸۷-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۹)

۴۸۸-زیرکیار (۲۰۱۶، ۲۹۴)

۴۸۹-زیرکیار (۲۰۱۶، ۲۹۴)

۴۹۰-زیرکیار (۲۰۱۶، ۲۹۵)

۴۹۱-تیخونوف (۲۰۱۱، ۳۸۰)

۴۹۲-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۳)

۴۹۳-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۳)

۴۹۴-کاکړ (۲۰۱۵، ۳۲)

۴۹۵-کاکړ (۲۰۱۵، ۳۳)

۴۹۶-کاکړ (۲۰۱۵، ۳۳)

۴۹۷-کاکړ (۲۰۱۵، ۳۳)

۴۹۸-کاکړ (۲۰۱۵، ۳۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library




۴۹۹-کاکړ (۲۰۱۵، ۳۳)

۵۰۰-زیرکیار (۲۰۱۶، ۳۵۷)

۵۰۱-تیخونوف (۲۰۱۱، ۲۸۳)

۵۰۲-زیرکیار (۲۰۱۶، ۳۵۲)

۵۰۳-زیرکیار (۲۰۱۶، ۳۵۴)

۵۰۴-زیرکیار (۲۰۱۶، ۳۵۶)

۵۰۵-زیرکیار (۲۰۱۶، ۳۵۶)

۵۰۶-کاکړ (۲۰۱۵، ۳۸)

۵۰۷-کاکړ (۲۰۱۵، ۳۷)

۵۰۸-خلیل الله، امیر حبیب الله «کلکانی»،۱۱۶- ۱۱۷، پېښور ۱۳۷۷

۵۰۹-زیرکیار (۲۰۱۶، ۲۸۲)

۵۱۰-زیرکیار (۲۰۱۶، ۲۷۸)

۵۱۱-زیرکیار (۲۰۱۶، ۳۲۵)

۵۱۲-خلیل الله (۱۳۷۷، ۱۲۷)

۵۱۳-زیرکیار (۲۰۱۶، ۲۱۲)

۵۱۴-زیرکیار (۲۰۱۶، ۲۸۱)

۵۱۵-زیرکیار (۲۰۱۶، ۲۱۲)

۵۱۶-زیرکیار (۲۰۱۶، ۲۳۷)

۵۱۷-خلیل الله (۱۳۷۷، ۱۴۲- ۱۴۳)

۵۱۸-زیرکیار (۲۰۱۶، ۳۰۳)

۵۱۹-زیرکیار (۲۰۱۶، ۳۰۴)

۵۲۰-زیرکیار (۲۰۱۶، ۳۰۴- ۳۰۵)

۵۲۱-خلیل الله (۱۳۷۷، ۱۶۲)

۵۲۲-زیرکیار (۲۰۱۶، ۱۰۳)

۵۲۳-زیرکیار (۲۰۱۶، ۱۰۲-۱۰۳)

۵۲۴-زیرکیار (۲۰۱۶، ۳۶۴)

۵۲۵-زیرکیار (۲۰۱۶، ۸۰)

۵۲۶-زیرکیار (۲۰۱۶، ۸۲)

۵۲۷-زیرکیار (۲۰۱۶، ۲۱۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library




۵۲۸-زیرکیار (۲۰۱۶، ۲۱۴)

۵۲۹-زیرکیار (۲۰۱۶، ۲۵۶)

۵۳۰-زیرکیار (۲۰۱۶، ۴۹- ۵۰)

۵۳۱-زیرکیار (۲۰۱۶، ۲۳۹)

۵۳۲-زیرکیار (۲۰۱۶، ۲۴۰)

۵۳۳-خلیل الله (۱۳۷۷، ۲۱۰)

۵۳۴-خلیل الله (۱۳۷۷، ۲۱۲)

۵۳۵-زیرکیار (۲۰۱۶، ۲۳۹)

۵۳۶-زیرکیار (۲۰۱۶، ۲۲۴)

۵۳۶الف- زیرکیار (۲۰۱۶، ۲۲۴)

۵۳۷-ادامک (۱۹۹۹، ۳۳۳)

۵۳۸-ادامک (۱۹۹۹، ۳۳۳- ۳۳۴)

۵۳۹-ادامک (۱۹۹۹، ۳۳۵)

۵۴۰-ادامک (۱۹۹۹، ۳۳۶)

۵۴۱-ادامک (۱۹۹۹، ۳۴۳)

۵۴۲-ادامک (۱۹۹۹، ۳۴۳)

۵۴۳-زیرکیار (۲۰۱۶، ۲۴۳)

۵۴۴-زیرکیار (۲۰۱۶، ۳۴۳)

۵۴۵-بهاند، افغانستان په شلمه پېړۍ کې،۲۲۲- ۲۲۳، جرمني ۲۰۰۰

۵۴۶-زیرکیار (۲۰۱۶، ۳۴۴)

۵۴۷-زیرکیار (۲۰۱۶، ۳۵۸)

۵۴۸-زیرکیار (۲۰۱۶، ۱۰۳)

۵۴۹-ادامک (۱۹۹۹، ۳۵۱- ۳۵۲)

۵۵۰- ادامک (۱۹۹۹، ۳۵۲)

۵۵۱-ادامک (۱۹۹۹، ۳۵۳)

۵۵۲-ادامک (۱۹۹۹، ۳۵۳)

۵۵۳-ادامک (۱۹۹۹، ۳۵۴)

۵۵۴-تیخونوف (۲۰۱۱، ۳۹۴)

۵۵۵-تیخونوف (۲۰۱۱، ۳۹۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۵۶-تیخونوف (۲۰۱۱، ۳۹۵)

۵۵۷-تیخونوف (۲۰۱۱، ۳۹۶)

۵۵۸-بهاند، (۲۰۰۰، ۲۲۵)

۵۵۹-بهاند (۲۰۰۰، ۲۲۶- ۲۲۷)

۵۶۰-وزیري (۲۰۰۸، ۱۲۳)

۵۶۱-ولي خان (۱۹۹۴، ۱۸)

۵۶۲-رونا (۲۰۰۷، ۱۴۰- ۱۴۱)

۵۶۳-ولي خان (۱۹۹۴، ۲۷۶)

۵۶۴-طبیبي (۱۹۹۶، ۲۹)

۵۶۵-ولي خان (۱۹۸۷، ۲۹۹- ۳۰۰)

۵۶۶-جلالي (۲۰۱۷، ۳۳۸)

۵۶۷-جلالي (۲۰۱۷، ۳۴۰)

۵۶۸-جلالي (۲۰۱۷، ۳۴۲)

۵۶۹-جلالي (۲۰۱۷، ۳۴۲)

۵۷۰-جلالي (۲۰۱۷، ۳۴۳)

۵۷۱-طبیبي (۱۹۹۶، ۶۸)

۵۷۲-محمد عزیز نعیم، مقاله (پاکس پاکستانیکا)، مجاهد ولس، د جون ګنه ۱۹۹۶

۵۷۳-کاکړ (۲۰۰۷، ۳۴)

۵۷۴-کاکړ (۲۰۰۷، ۳۲)

۵۷۵-کاکړ (۲۰۰۷، ۳۴)

۵۷۶-کاکړ (۲۰۰۷، ۳۵)

۵۷۷-کاکړ (۲۰۰۷، ۳۷)

۵۷۸-کاکړ (۲۰۰۷، ۴۹)

۵۷۹-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۵۲- ۱۵۳)

۵۸۰-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۵۳)

۵۸۱-کاکړ (۲۰۰۷، ۱۵)

۵۸۲-کاکړ (۲۰۰۷، ۱۷)

۵۸۳-ببري ګل وزیر The fakir of Ipi، ۳۰

۵۸۴-ببري ګل وزیر، پاسنی اثر ۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۸۵-کاکړ (۲۰۰۷، ۱۷)

۵۸۶-کاکړ (۲۰۰۷، ۲۰)

۵۸۷-کاکړ (۲۰۰۷، ۲۵)

۵۸۸-کاکړ (۲۰۰۷، ۲۶- ۲۷)

۵۸۹-کاکړ (۲۰۰۷، ۲۶)

۵۹۰- کاکړ (۲۰۰۹، ۴۱)

۵۹۱-کاکړ (۲۰۰۹، ۴۲)

۵۹۲-کاکړ (۲۰۰۹، ۱۶)

۵۹۳-کاکړ (۲۰۰۹، ۱۶)

۵۹۴-کاکړ (۲۰۰۹، ۱۸)

۵۹۵-کاکړ (۲۰۰۹، ۷)

۵۹۶-کاکړ (۲۰۰۹، ۴۶)

۵۹۷-کاکړ (۲۰۰۹، ۴۷)

۵۹۸-کاکړ (۲۰۰۹، ۴۷)

۵۹۹-کاکړ (۲۰۰۹، ۴۷)

۶۰۰-کاکړ (۲۰۰۹، ۴۸)

۶۰۱-کاکړ (۲۰۰۹، ۴۹- ۵۰)

۶۰۲-کاکړ (۲۰۰۹، ۵۰)

۶۰۳-کاکړ (۲۰۰۹، ۵۴)

۶۰۴-کاکړ (۲۰۰۹، ۵۴)

۶۰۵-کاکړ (۲۰۰۹، ۵۵)

۶۰۶-کاکړ (۲۰۰۹، ۵۷)

۶۰۷-کاکړ (۲۰۰۹، ۵۷)

۶۰۸-کاکړ (۲۰۰۹، ۶۰)

۶۰۹-کاکړ (۲۰۰۹، ۶۲)

۶۱۰-کاکړ (۲۰۰۹، ۶۴)

۶۱۱-کاکړ (۲۰۰۹، ۶۶)

۶۱۲-کاکړ (۲۰۰۹، ۶۸)

۶۱۳-کاکړ (۲۰۰۹، ۶۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶۱۴-کاکړ (۲۰۰۹، ۶۸)

۶۱۵-کاکړ (۲۰۰۹، ۶۸)

۶۱۶-کاکړ (۲۰۰۹، ۶۹)

۶۱۷-کاکړ (۲۰۰۹، ۷۰)

۶۱۸-کاکړ (۲۰۰۹، ۷۱)

۶۱۹-کاکړ (۲۰۰۹، ۷۳)

۶۲۰-کاکړ (۲۰۰۹، ۷۴)

۶۲۱-کاکړ (۲۰۰۹، ۷۴)

۶۲۲-کاکړ (۲۰۰۹، ۷۷)

۶۲۳-کاکړ (۲۰۰۹، ۷۶)

۶۲۴-کاکړ (۲۰۰۹، ۸۴)

۶۲۵-کاکړ (۲۰۰۹، ۸۵)

۶۲۶-کاکړ (۲۰۰۹، ۸۷)

۶۲۷-کاکړ (۲۰۰۹، ۹۱)

۶۲۸-کاکړ (۲۰۰۹، ۹۸)

۶۲۹-کاکړ (۲۰۰۹، ۹۸)

۶۳۰-کاکړ (۲۰۰۹، ۱۰۳)

۶۳۱-وزیري (۲۰۰۷، ۵۳)

۶۳۲-وزیري (۲۰۰۷، ۵۳)

۶۳۳-کاکړ (۲۰۰۹، ۱۲۴)

۶۳۴-کاکړ (۲۰۰۹، ۱۲۵)

۶۳۵-کاکړ (۲۰۰۹، ۱۲۵)

۶۳۶-کاکړ (۲۰۰۹، ۱۲۶)

۶۳۷-کاکړ (۲۰۰۹، ۱۲۷)

۶۳۸-کاکړ (۲۰۰۹، ۱۲۷)

۶۳۹-کاکړ (۲۰۰۹، ۱۲۷)

۶۴۰-فراهي، افغانستان د دیموکراسی او ...،۲۵۷- ۲۵۸، پېښور ۲۰۰۲

۶۴۱-کاکړ (۲۰۰۹، ۱۳۰- ۱۳۱)

۶۴۲-کاکړ (۲۰۰۹، ۱۳۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶۴۳-کاکړ (۲۰۰۹، ۱۳۲- ۱۳۳)

۶۴۴-کاکړ (۲۰۰۹، ۱۳۴)

۶۴۵-کاکړ (۲۰۰۹، ۱۳۴)

۶۴۶-کاکړ (۲۰۱۰، ۸۶) د ثور کودتا

۶۴۷-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۳۷)

۶۴۸-کاکړ (۲۰۱۰، ۳)

۶۴۹-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۴)

۶۵۰-وزیري، د ثور پاځون...، ۵۶- ۵۵، پېښور ۲۰۰۷

۶۵۱-وزیري (۲۰۰۷، ۵۷)

۶۵۲-وزیري (۲۰۰۷، ۵۶)

۶۵۳-وزیري (۲۰۰۷، ۵۷)

۶۵۴-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۸)

۶۵۵-کاکړ (۲۰۱۰، ۲۱)

۶۵۶-وزیري (۲۰۰۷، ۷۴)

۶۵۷-کاکړ (۲۰۱۰، ۲۳- ۲۴)

۶۵۸-کاکړ (۲۰۱۰، ۵۹- ۶۰)

۶۵۹-کاکړ (۲۰۱۰، ۶۰)

۶۶۰-کاکړ (۲۰۱۰، ۷۴)

۶۶۱-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۰۴)

۶۶۲-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۰۵)

۶۶۳-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۰۶)

۶۶۴-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۱۲)

۶۶۵-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۱۲)

۶۶۶-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۴۶)

۶۶۷-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۴۶)

۶۶۸-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۴۶)

۶۶۹-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۴۶)

۶۷۰-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۱۳)

۶۷۱-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۱۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶۷۲-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۱۳- ۱۱۴)

۶۷۳-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۴۴- ۱۴۵)

۶۷۴-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۴۵)

۶۷۵-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۴۵)

۶۷۶-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۴۵)

۶۷۷الف-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۵۹)

۶۷۷-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۶۷)

۶۷۸-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۶۸)

۶۷۹-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۷۳)

۶۸۰-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۶۱)

۶۸۱-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۶۲)

۶۸۲-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۹۶)

۶۸۳-کاکړ (۲۰۱۰، ۲۱۲)

۶۸۴-کاکړ (۲۰۱۰، ۲۱۳)

۶۸۵-کاکړ (۲۰۱۰، ۲۱۳)

۶۸۶-کاکړ (۲۰۱۰، ۲۱۵)

۶۸۷-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۲۹)

۶۸۸-کاکړ (۲۰۱۰، ۲۵۹)

۶۸۹-کاکړ (۲۰۱۰، ۲۵۹)

۶۹۰-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۲۴)

۶۹۱-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۲۹)

۶۹۲-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۳۰)

۶۹۳-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۳۰)

۶۹۴-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۳۲)

۶۹۵-وزیري (۲۰۰۷، ۱۰۷-۱۰۸)

۶۹۶-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۳۶)

۶۹۷-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۳۶)

۶۹۸-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۳۷)

۶۹۹-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۳۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۰۰-وزیري (۲۰۰۷، ۱۱۱)
۷۰۱-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۴۲)
۷۰۲-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۴۳)
۷۰۳-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۴۳)
۷۰۴-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۴۵)
۷۰۵-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۴۵)
۷۰۶-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۴۵- ۳۴۶)
۷۰۷-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۴۷)
۷۰۸-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۴۸)
۷۰۹-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۴۹)
۷۱۰-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۴۹)
۷۱۱-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۵۲)
۷۱۲-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۴۹)
۷۱۳-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۵۰)
۷۱۴-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۵۰)
۷۱۵-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۵۰)
۷۱۶-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۵۰)
۷۱۷-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۵۱)
۷۱۸-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۵۲)
۷۱۹-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۵۳)
۷۲۰-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۵۳)
۷۲۱-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۵۳)
۷۲۲-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۵۳)
۷۲۳-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۵۴)
۷۲۴-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۵۵)
۷۲۵-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۵۶)
۷۲۶-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۵۷)
۷۲۷-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۶۱)
۷۲۸-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۰۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۲۹-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۷۷)

۷۳۰-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۷۹)

۷۳۱-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۸۲)

۷۳۲-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۹۴)

۷۳۳-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۹۶)

۷۳۴-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۹۶)

۷۳۵-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۹۷)

۷۳۶-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۹۷)

۷۳۷-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۹۷)

۷۳۸-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۰۲)

۷۳۹-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۰۹)

۷۴۰-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۱۰)

۷۴۱-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۱۱)

۷۴۲-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۱۲)

۷۴۳-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۱۴)

۷۴۴-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۱۵)

۷۴۵-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۱۶)

۷۴۶-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۱۶)

۷۴۷-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۲۰)

۷۴۸-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۲۱)

۷۴۹-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۲۱)

۷۵۰-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۲۱- ۴۲۲)

۷۵۱-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۲۲)

۷۵۲-وزیري (۲۰۰۷، ۱۵۷)

۷۵۳-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۸۸)

۷۵۴-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۱)

۷۵۵-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۱)

۷۵۶-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۷)

۵۷-وزیري (۲۰۰۷، ۱۲۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۵۸-وزیري (۲۰۰۷، ۱۲۹)

۷۵۹-وزیري (۲۰۰۷، ۱۳۰)

۷۶۰-وزیري (۲۰۰۷، ۱۳۰- ۱۳۱)

۷۶۱-وزیري (۲۰۰۷، ۱۳۱)

۷۶۲-وزیري (۲۰۰۷، ۱۳۲)

۷۶۳-وزیري (۲۰۰۷، ۱۳۲)

۷۶۴-وزیري (۲۰۰۷، ۱۳۳)

۷۶۵-وزیري (۲۰۰۷، ۱۳۴)

۷۶۶-وزیري (۲۰۰۷، ۱۳۴)

۷۶۷-وزیري (۲۰۰۷، ۱۳۵)

۷۶۸-کاکړ (۲۰۱۵، ۵۱)

۷۶۹-وزیري (۲۰۰۷، ۱۳۶)

۷۷۰-کاکړ (۲۰۱۵، ۵۳)

۷۷۱-کاکړ (۲۰۱۵، ۵۴)

۷۷۲-کاکړ (۲۰۱۵، ۵۵)

۷۷۳-کاکړ (۲۰۱۵، ۵۷)

۷۷۴-کاکړ (۲۰۱۵، ۵۷)

۷۷۵-کاکړ (۲۰۱۵، ۵۷)

۷۷۶-کاکړ (۲۰۱۵، ۶۴- ۶۵)

۷۷۷-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۰۷)

۷۷۸-کاکړ (۲۰۱۵، ۷۰)

۷۷۹-کاکړ (۲۰۱۵، ۷۰)

۷۸۰-کاکړ (۲۰۱۵، ۷۹)

۷۸۱-کاکړ (۲۰۱۵، ۸۰)

۷۸۲-کاکړ (۲۰۱۵، ۹۳)

۷۸۳-ریچارډسن، افغانستان،۵۷۳، د رحمت اریا ژباړه، دعوت ۲۰۱۰

۷۸۴-وزیري د باچا خان اندونو او مبارزې ته لنډه کتنه، ۱۵۳ پېښور۲۰۰۸

۷۸۵-ریچارډسن (۲۰۱۰، ۲۵۹)

۷۸۶-ریچارډسن (۲۰۱۰، ۲۶۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۸۷-ریچارډسن (۲۰۱۰، ۲۶۱)

۷۸۸-ریچارډسن (۲۰۱۰، ۲۶۳- ۲۶۴)

۷۸۹-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۰۶)

۷۹۰-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۰۸)

۷۹۱-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۰۸)

۷۹۲-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۰۹)

۷۹۳-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۱۵)

۷۹۴-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۲۰)

۷۹۵-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۲۶)

۷۹۵الف-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۲۸)

۷۹۶-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۳۳)

۷۹۷-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۳۵)

۷۹۸-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۳۹)

۷۹۹-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۳۹)

۸۰۰-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۴۰)

۸۰۱-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۵۳)

۸۰۲-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۵۶)

۸۰۳-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۵۶)

۸۰۴-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۵۷)

۸۰۵-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۶۵)

۸۰۶-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۶۶)

۸۰۷-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۶۶)

۸۰۸-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۷۰)

۸۰۹-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۷۰)

۸۱۰-کاکړ (۲۰۱۵، ۳۱۹)

۸۱۱-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۲۲)

۸۱۲-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۲۳)

۸۱۳-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۲۶)

۸۱۴-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۲۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library




۸۱۵-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۲۸- ۲۲۹)

۸۱۶-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۲۹)

۸۱۷-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۳۰)

۸۱۸-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۳۱)

۸۱۹-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۳۲)

۸۲۰-جلالي (۲۰۱۷، ۳۷۴)

۸۲۱-جلالي (۲۰۱۷، ۳۷۴)

۸۲۲-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۳۸)

۸۲۳-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۴۸)

۸۲۴-خليلزاد، استازی، ۷۲، کابل ۲۰۱۶

۸۲۵-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۵۱)

۸۲۶-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۵۱)

۸۲۷-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۷۷)

۸۲۸-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۷۸)

۸۲۹-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۷۸)

۸۳۰-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۷۸)

۸۳۱-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۷۹)

۸۳۲-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۸۲)

۸۳۳-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۸۷)

۸۳۴-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۹۳)

۸۳۵-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۹۴)

۸۳۶-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۹۵)

۸۳۷-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۹۶)

۸۳۸-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۹۷)

۸۳۹-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۹۹)

۸۴۰-کاکړ (۲۰۱۵، ۳۰۲)

۸۴۱-کاکړ (۲۰۱۵، ۳۰۲)

۸۴۲-ريچارډسن (۲۰۱۰، ۱۱۴)

۸۴۳-ريچارډسن (۲۰۱۰، ۱۳۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library




۸۴۴-کاکړ (۲۰۱۵، ۳۰۳)

۸۴۵-ریچارډسن (۲۰۱۰، ۹۳)

۸۴۶-ریچارډسن (۲۰۱۰، ۱۰)

۸۴۷-ریچارډسن (۲۰۱۰، ۱۱)

۸۴۸-ریچارډسن (۲۰۱۰، ۱۲)

۸۴۹-ریچارډسن (۲۰۱۰، ۱۲)

۸۵۰-ریچارډسن (۲۰۱۰، ۳۱- ۳۲)

۸۵۱-ریچارډسن (۲۰۱۰، ۹۲)

۸۵۱الف-کاکړ (۲۰۱۵، ۳۲۱)

۸۵۲-کاکړ (۲۰۱۵، ۳۲۷)

۸۵۳-جلالي (۲۰۱۷، ۳۷۵)

۸۵۴-جلالي (۲۰۱۷، ۳۷۴)

۸۵۵-جلالي (۲۰۱۷، ۳۹۳)

۸۵۶-جلالي (۲۰۱۷، ۳۹۵)

۸۵۷-ریچارډسن (۲۰۱۰، ۸۱)

۸۵۸-ریچارډسن (۲۰۱۰، ۸۱)

۸۵۹-ریچارډسن (۲۰۱۰، ۸۲)

۸۶۰-ریچارډسن (۲۰۱۰، ۸۴)

۸۶۱-ریچارډسن (۲۰۱۰، ۸۴)

۸۶۲-ریچارډسن (۲۰۱۰، ۸۴)

۸۶۳-ریچارډسن (۲۰۱۰، ۸۵)

۸۶۴-کاکړ (۲۰۱۵، ۳۰۸)

۸۶۵- وزیري (۲۰۰۷، ۲۲۷)

۸۶۶-کاکړ (۲۰۱۵، ۴۲۳)

۸۶۷-کاکړ (۲۰۱۵، ۴۳۶)

۸۶۸-کاکړ (۲۰۱۵، ۴۴۷)

۸۶۹-کاکړ (۲۰۱۵، ۴۵۵)

۸۷۰-کاکړ (۲۰۱۵، ۴۵۶)

۸۷۱-کاکړ (۲۰۱۵، ۴۵۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library




۸۷۲-کاکړ (۲۰۱۵، ۴۵۷)

۸۷۳-کاکړ (۲۰۱۵، ۴۵۹)

۸۷۴-کاکړ (۲۰۱۵، ۴۶۰)

۸۷۵-کاکړ (۲۰۱۵، ۴۶۵)

۸۷۶-کاکړ (۲۰۱۵، ۴۶۷)

۸۷۷-کاکړ (۲۰۱۵، ۴۷۴)

۸۷۸-کاکړ (۲۰۱۵، ۴۷۸)

۸۷۹-کاکړ (۲۰۱۵، ۴۷۹)

۸۸۰-کاکړ (۲۰۱۵، ۴۷۹)

۸۸۱-کاکړ (۲۰۱۵، ۴۸۰)

۸۸۲-کاکړ (۲۰۱۵، ۴۸۰)

۸۸۳-کاکړ (۲۰۱۵، ۴۸۴)

۸۸۴-کاکړ (۲۰۱۵، ۵۱۱)

۸۸۵-کاکړ (۲۰۱۵، ۵۲۱)

۸۸۶-کاکړ (۲۰۱۵، ۵۲۱)

۸۸۷-کاکړ (۲۰۱۵، ۵۲۱)

۸۸۸-کاکړ (۲۰۱۵، ۵۲۵)

۸۸۹-کاکړ (۲۰۱۵، ۵۲۶)

۸۹۰-کاکړ (۲۰۱۵، ۵۲۷)

۸۹۱-کاکړ (۲۰۱۵، ۵۲۷)

۸۹۲-کاکړ (۲۰۱۵، ۵۲۸)

۸۹۳-کاکړ (۲۰۱۵، ۵۳۰)

۸۹۴-کاکړ (۲۰۱۵، ۵۳۳)

۸۹۵-کاکړ (۲۰۱۵، ۵۳۸)

۸۹۶-کاکړ (۲۰۱۵، ۵۴۴)

۸۹۷-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۷۵- ۱۷۶)

۸۹۸-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۰۷)

۸۹۹-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۰۷)

۹۰۰-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۰۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹۰۱-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۱۱)

۹۰۲-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۱۲)

۹۰۳-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۱۵)

۹۰۴-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۱۵)

۹۰۵-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۱۶)

۹۰۶-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۱۷)

۹۰۷-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۱۸)

۹۰۸-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۲۰)

۹۰۹-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۹۶)

۹۱۰-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۹۷)

۹۱۱-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۹۹)

۹۱۲-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۹۹- ۲۰۰)

۹۱۳-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۰۰)

۹۱۴-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۳۹)

۹۱۵-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۴۰)

۹۱۶-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۴۱)

۹۱۷-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۴۲)

۹۱۸-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۰۳)

۹۱۹-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۰۵)

۹۲۰-کاکړ (۲۰۱۵، ۵۶۳)

۹۲۱- کاکړ (۲۰۱۵، ۵۶۶)

۹۲۲-ریچارډسن (۲۰۱۰، ۱۸۸)

۹۲۳-ریچارډسن (۲۰۱۰، ۲۲۱)

۹۲۴-کاکړ (۲۰۰۴، ۹۳)

۹۲۵-کاکړ (۲۰۰۴، ۹۴)

۹۲۶-کاکړ (۲۰۰۴، ۹۵)

۹۲۷-ریچارډسن (، ۴۹۸- ۴۹۹)

۹۲۸-کاکړ (۲۰۰۴، ۱۰۴- ۱۰۵)

۹۲۹-کاکړ (۲۰۰۴، ۱۰۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library




۹۳۰-زيرکيار (۲۰۱۶، ۲۹۷)

۹۳۱-کاکړ (۲۰۰۴، ۹۳)

۹۳۲-کاکړ (۲۰۰۴، ۲۰۹)

۹۳۳-کاکړ (۲۰۰۴، ۲۱۰)

۹۳۴-خليلزاد، ۱۴۱(-۱۴۲، ۲۰۱۶)

۹۳۵-کاکړ (۲۰۰۴، ۲۲۵)

۹۳۶-کاکړ (۲۰۰۴، ۲۲۴)

۹۳۷-کاکړ (۲۰۰۴، ۲۲۷)

۹۳۸-کاکړ (۲۰۰۴، ۲۲۷- ۲۲۸)

۹۳۹-کاکړ (۲۰۰۴، ۲۳۲)

۹۴۰-کاکړ (۲۰۰۴، ۲۳۳)

۹۴۱-کاکړ (۲۰۰۴، ۲۳۳)

۹۴۲-کاکړ (۲۰۰۴، ۲۳۴)

۹۴۳-کاکړ (۲۰۰۴، ۲۳۵)

۹۴۴-کاکړ (۲۰۰۴، ۲۳۶)

۹۴۵-کاکړ (۲۰۰۴، ۲۳۹)

۹۴۶-کاکړ (۲۰۰۴، ۲۴۳- ۲۴۴)

۹۴۷-کاکړ (۲۰۰۴، ۲۴۷)

۹۴۸-کاکړ (۲۰۰۴، ۱۸۰)

۹۴۹-کاکړ (۲۰۰۴، ۱۸۱)

۹۵۰-کاکړ (۲۰۰۴، ۲۷۰)

۹۵۱-کاکړ (۲۰۰۴، ۲۸۱)

۹۵۲-کاکړ (۲۰۰۴، ۲۷۵)

۹۵۳-کاکړ (۲۰۰۴، ۲۷۷)

۹۵۴-کاکړ (۲۰۰۴، ۲۷۸)

۹۵۵-کاکړ (۲۰۰۴، ۲۷۹)

۹۵۶-کاکړ (۲۰۰۴، ۲۷۹- ۲۸۰)

۹۵۷-کاکړ (۲۰۰۴، ۲۸۴)

۹۵۸-کاکړ (۲۰۰۴، ۲۸۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹۵۹-کاکړ (۲۰۰۴، ۲۹۰)

۹۶۰-کاکړ (۲۰۰۴، ۲۹۰- ۲۹۱)

۹۶۱-کاکړ (۲۰۰۴، ۲۹۲)

۹۶۲-کاکړ (۲۰۰۴، ۳۰۶)

۹۶۳-ریچارډسن (۲۰۱۰، ۲۶۵)

۹۶۴-کاکړ (۲۰۰۴، ۳۱۲)

۹۶۵-کاکړ (۲۰۰۴، ۳۱۹)

۹۶۶-کاکړ (۲۰۰۴، ۳۲۴)

۹۶۷-کاکړ (۲۰۰۴، ۳۲۹)

۹۶۸-کاکړ (۲۰۰۴، ۳۳۳)

۹۶۹-کاکړ (۲۰۰۴، ۳۴۱)

۹۷۰-کاکړ (۲۰۰۴، ۳۴۳)

۹۷۱-کاکړ (۲۰۰۴، ۳۵۶)

۹۷۲-کاکړ (۲۰۰۴، ۳۵۰)

۹۷۳-کاکړ (۲۰۰۴، ۳۵۹)

۹۷۴-ریچارډسن (۲۰۱۰، ۴۵۶)

۹۷۵-ریچارډسن (۲۰۱۰، ۳۷۰- ۳۷۱)

۹۷۶-کاکړ (۲۰۰۴، ۳۶۶)

۹۷۷-کاکړ (۲۰۰۴، ۳۶۸)

۹۷۸-کاکړ (۲۰۰۴، ۳۷۰)

۹۷۹-کاکړ (۲۰۰۴، ۳۷۱)

۹۸۰-کاکړ (۲۰۰۴، ۳۶)

۹۸۱-کاکړ (۲۰۰۴، ۳۷۳)

۹۸۲-کاکړ (۲۰۰۴، ۳۷۶)

۹۸۳-کاکړ (۲۰۰۴، ۳۸۳)

۹۸۴-کاکړ (۲۰۰۴، ۳۸۴)

۹۸۵-کاکړ (۲۰۰۴، ۳۸۸)

۹۸۶-کاکړ (۲۰۰۴، ۳۹۵)

۹۸۷- کاکړ (۲۰۰۴، ۱۷۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹۸۸- کاکړ (۲۰۰۴، ۱۸۰)
۹۸۹-کاکړ (۲۰۰۴، ۱۸۷)
۹۹۰-کاکړ (۲۰۰۴، ۸۶)
۹۹۱-کاکړ (۲۰۰۴، ۹۸)
۹۹۲-کاکړ (۲۰۰۴، ۹۹)
۹۹۳-کاکړ (۲۰۰۴، ۱۰۱)
۹۹۴-کاکړ (۲۰۰۴، ۱۵۲- ۱۵۷)
۹۹۵-کاکړ (۲۰۰۴، ۱۶۰)
۹۹۶-کاکړ (۲۰۰۴، ۳۹۷)
۹۹۷-کاکړ (۲۰۰۴، ۳۹۹)
۹۹۸-کاکړ (۲۰۰۴، ۴۰۴)
۹۹۹-کاکړ (۲۰۰۴، ۳۴۱۰)
۱۰۰۰-کاکړ (۲۰۰۴، ۳۵۷)
۱۰۰۱-کاکړ (۲۰۰۴، ۴۲۰)
۱۰۰۲-کاکړ (۲۰۱۱، ۵)
۱۰۰۳-کاکړ (۲۰۱۱، ۲۴)
۱۰۰۴-وزيري (۲۰۱۵، ۲۲۷)
۱۰۰۵-وزيري (۲۰۱۵، ۲۲۶)
۱۰۰۶-کاکړ (۲۰۱۱، ۱۱۴)
۱۰۰۷-وزيري (۲۰۱۵، ۱۳)
۱۰۰۸-وزيري (۲۰۱۵، ۸۷)
۱۰۰۹-کاکړ (۲۰۱۰، ۷۰)
۱۰۱۰-روهي (۲۰۰۷، ۳۲۸- ۳۲۹)
۱۰۱۱-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۲)
۱۰۱۲-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۵)
۱۰۱۳-کاکړ (۲۰۰۵، ۶۹)
۱۰۱۴-وزيري (۲۰۱۵، ۲۰۴)
۱۰۱۵-کاکړ(۲۰۱۰، ۴۷)
۱۰۱۶-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰۱۷-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۹)
۱۰۱۸-احدي، انورالحق احدي، ملي مسلې،۲۵، پېښور ۲۰۰۱
۱۰۱۹-احدي (۲۰۰۱، ۲۵)
۱۰۲۰-احدي (۲۰۰۱، ۳۶)
۱۰۲۱-کاکړ (۲۰۱۰، ۵۲)
۱۰۲۲-روهي (۲۰۰۷، ۲۶۵)
۱۰۲۳-مل (۲۰۱۶، ۳) جان ستوارټ مل په نوي دقيقو کې، د کاکړ ژباړه، کابل ۲۰۱۶
۱۰۲۴-مل (۲۰۱۶، ۳)
۱۰۲۵-کاکړ (۲۰۰۴، ۱۲۳)
۱۰۲۶-کاکړ (۲۰۰۴، ۱۲۴)
۱۰۲۷-کاکړ (۲۰۰۴، ۱۲۴- ۱۲۵)
۱۰۲۸-کاکړ (۲۰۰۴، ۱۲۵)
۱۰۲۹-کاکړ (۲۰۱۶، ۴)
۱۰۳۰-جان (۲۰۱۵، ۲۷) جنګ او زموږ نړۍ، د کاکړ ژباړه، کابل ۲۰۱۵
۱۰۳۱-کاکړ (۲۰۱۵، ۲)
۱۰۳۲-کاکړ (۲۰۱۵، ۳)
۱۰۳۳-کاکړ (۲۰۱۵، ۶)
۱۰۳۴-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۱)
۱۰۳۵-کاکړ (۲۰۱۵، ۱۴)
۱۰۳۶-کاکړ (۲۰۱۵، ۲۲)
۱۰۳۷-بالابانس (۲۰۱۰، ۶)
۱۰۳۸-کاکړ (۲۰۱۰، ۶) هومر بالابانس
۱۰۳۹-کاکړ (۲۰۱۰، ۷)
۱۰۴۰-کاکړ (۲۰۱۰، ۷)
۱۰۴۱-کاکړ (۲۰۱۰، ۹)
۱۰۴۲-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۱-۱۲)
۱۰۴۳-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۴)
۱۰۴۴-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۴)
۱۰۴۵-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰۴۶-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۷)

۱۰۴۷-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۸)

۱۰۴۸-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۸)

۱۰۴۹-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۵)

۱۰۵۰-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۹)

۱۰۵۱-کاکړ (۲۰۱۰، ۵۰)

۱۰۵۲-کاکړ (۲۰۱۰، ۵۱)

۱۰۵۳-کاکړ (۲۰۱۰، ۶۱)

۱۰۵۴-کاکړ (۲۰۱۰، ۷۲)

۱۰۵۵-کاکړ (۲۰۱۰، ۷۹)

۱۰۵۶-کاکړ (۲۰۱۰، ۸۹)

۱۰۵۷-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۰۰-۱۰۱)

۱۰۵۸-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۰۵)

۱۰۵۹-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۰۶)

۱۰۶۰-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۰۹)

۱۰۶۱-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۱۰)

۱۰۶۲-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۱۲)

۱۰۶۳-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۱۹)

۱۰۶۴-کاکړ (۲۰۱۰، ۱۲۰)

۱۰۶۵-اندروس ورګا، د انسانتوب په اړه د اخلاقپوهنې پرنسیپونه ۸، کابل ۲۰۱۵، د کاکړ ژباړه

۱۰۶۶-ورګا (۲۰۱۵، ۶۳)

۱۰۶۷-ورګا (۲۰۱۵، ۸۲)

۱۰۶۸-ورګا (۲۰۱۵، ۱۰۷)

۱۰۷۰-ورګا (۲۰۱۵، ۱۱۱)

۱۰۷۱-ورګا (۲۰۱۵، ۱۲۰)

۱۰۷۲-ورګا (۲۰۱۵، ۱۴۴)

یادونه: په دې کتاب کې د لاندې اثارو نه هم استفاده شوې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱-عبدالحی حبیبي، د افغانستان لنډ تاریخ، د بېنوا ژباړه، کندهار۲۰۱۲

۲-اشرف غني، فصل نا تمام تاریخ افغانستان، له انټرنېټ نه

۳-اعطاءالله خان، پښتانه د تاریخ په رڼا کې، پېښور ۲۰۰۴

۴-امیر عبدالرحمن خان، تاج التواریخ، پېښور ۱۳۷۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لیکوال ژوند لیک

محمد اقبال وزیري په ۱۳۲۶ کال کې په سوویلي وزیریستان کې زیږېدلی دی. په ۱۳۳۵ کال کې د خوشحال خان په لیسه کې په دریم ټولګي کې شامل او په ۱۳۴۴ کال کې د خوشال خان د لیسې نه په لومړۍ درجه فارغ شو. په ۱۳۴۵ کال کې د کابل پوهنتون د طب پوهنځي کې شامل شو. په همدې کال کې د لوړو زده کړو له پاره شوروي اتحاد ته ولېږل شو. ده په ۱۳۵۲ کال کې خپلې زده کړې د مسکو په دولتي پوهنتون کې د فیلولوژۍ په څانګه کې پای ته ورسولې او د ماسټرۍ ډیپلوم یې لاسته راووړ او هېواد ته راستون شو. نوموړي په همدې کال کې د کابل په پولیتخنیک انستیتوت کې د روسي ژبې د استاد په توګه دنده پیل کړه.

په ۱۳۵۵ کال کې د محمد داود د واکمنۍ په مهال د سیاسي فعالیت له کبله بندي شو. د ثور انقلاب د بریالیتوب وروسته په ۱۳۵۷ کال کې د دهمزنګ د بندیتون نه خوشی شو او د افغانستان د وسله وال پوځ د سیاسي چارو د عمومي رییس په توګه وټاکل شو. په همدې کال کې د افغانستان د خلک ډموکراټیک ګوند د مرکزي کومیټې او د افغانستان د ډموکراټیک جمهوریت د انقلابي شورا غړی شو. برسېره پر دې د وطن د دفاع د عالي شورا غړی، د افغانستان د خلک ډموکراټیک ګوند د مرکزي کومیټې د تیوري د کمیسیون غړي او د افغانستان د خلک ډموکراټیک ګوند د مرکزي کومیټې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عدل د څانګې مسؤل هم شو.

د ۱۳۵۸ کال د جدي په شپږمه نېټه په افغانستان باندې د شوروي یرغل سره جوخت بیا بندي شو او د لسو کالو او درې میاشتې بند تېرولو وروسته د څرخي پله د بندیتون نه ایله شو. اوس د هالنډ په ښکلي هېواد کې د خپلې کورنۍ سره د دوردرېخت په ښار کې اوسېږي. د ده لاندې پنځه اثار د مخه خپاره شوي دي.

۱- د ثور پاڅون، د کې جي بې دسیسې او شوروي یرغل

۲- د باچا خان اندونو او مبارزې ته لنډه کتنه

۳- د چخوف داستانونه: «د سراچې کور»، «د واړه سپي مېرمن» او «نوموڵې» سپړنه (تحلیل) او ژباړه

۴- د ادبیاتو تیوري

۵- پښتو د تاریخ په بهیر کې

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**